بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فوز المبتدی

شرح

مختصر القدوری

تالیف

مولانا شاہ فیصل [illegible]

خصوصیات

1. [illegible]
2. [illegible]
3. [illegible]
4. [illegible]
5. [illegible]
6. [illegible]
7. [illegible]
8. [illegible]
9. [illegible]

فوز المبتدي

بشرح

مختصر القدوري

دوئم جلد

تالیف:- مولانا شاه فیصل

فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم، دار العلوم اسلامیه چارسده

خصوصیات

① جملة ترجمه یعنی هري جملې سره متصل د هغې ترجمه
② هره مسئله به مستقل متن کښې ذکر کول
③ د متن د هرې مسئلې دباره نقلي عقلي یا دواړه قسمه دلائل ذکر کول
④ د احادیثو تخریج کول
⑤ د حنفیانو په خپل مینځ کښې د اختلاف ذکر مع دلائل
⑥ د حنفیانو په خپل مینځ کښې د اختلاف په صورت کښې د قول راجح تعین کول
⑦ د نورو امامانو مذاهب بغیر د دلائلو نه لاندې په حاشیه کښې ذکر کول
⑧ د کتاب په اول کښې د فقه سره متعلق تاریخي مقدمه ذکر کول
⑨ د گرانو لغاتو حل
⑩ د قوسینو په مینځ کښې د قندهاري تکو اضافه کول

فیصل کتب خانه

بالمقابل مکتبه حقانیه محله جنگی پیښور قصه خوانئ پیښور

موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د کتاب نوم:- فوز المبتدی بشرح مختصر القدوری
مؤلف: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس
خورونکی فیصل کتب خانه محله جنگی

د ملاویدو پته:

د فیصل کتب خانې نه علاوه

① مکتبه رشیدیه سرکی روډ کوټه
② مکتبه عمریه چمن بلوچستان
③ صداقت کتب خانه قندهار افغانستان
④ امیر حمزه کتب خانه قندهار
⑤ دینی کتب خانه تیمرګره (پښتونخواه)
⑥ قدرت کتاب فروشی کابل ښار
⑦ انصاف کتب خانه جلال آباد
⑧ اخون زاده کتب خانه تل

خپرونکی

فیصل کتب خانه
بالمقابل مکتبه حقانیه محله جنگی پیښور قصه خوانئ پیښور
موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۲۵

بَابُ الْبَيْعِ الْفَاسِدِ

ترجمه﴾ (دا) باب د بيع فاسد (په بيان كښې) دې.

تعريح﴾ بيع په دوه قسمه ده صحيح او غيرصحيح مصنف رحمه الله د اول قسم نه فارغ شو او اوس په په دويم قسم كښې شروع كوى. اوبيع صحيح چونكه اصل ده.په دې وجه نې دا وړاندې، او بيع غيرصحيح روسته بيان كړې ده.

تعريف البيع الباطل وحكمه﴾ د بيع غيرصحيح څلورقسمونه دى. ① بيع باطل، دا د ذات او وصف دواړه اعتبارسره مشروع نه وى.لكه د معدوم بيع، يا د غيرمال مثلاً د مردار وغيره بيع شوه. دا بيع بالكل مفيد د ملك نه وى.نه د قبضې نه وړاندې،او نه د قبضې نه پس.كه يوكس د مردار په عوض باندې غلام واخستلو.او په ده ئې قبضه اوكړله.او آزاد ئې كړلو.نو غلام به آزاد نه وى.څكه چه د مردار بيع باطل ده.

تعريف البيع الفاسد وحكمه ② بيع فاسد، دا د ذات په اعتبار سره مشروع وى.خود وصف په اعتبار سره مشروع نه وى.لكه د غيرمقدورالتسليم بيع شوه.يعنى يو داخې څيز خرڅول چه ددې په سپارلو باندې قادر نه وى.لكه تختيدلې غلام يا د عقد دمقتضى خلاف شرط لګول.اومكروه داده.چه د ذات او وصف دواړه اعتبار سره مشروع وى.خو فعل منهى عنه دې سره متصل شوې وى.لكه د جمعې د اذان نه پس خرڅول. دا په قبضه كولو سره مفيد د ملك وى.كه يوكس د شراب په عوض كښې غلام واخستلو.او په ده ئې قبضه اوكړله.او دا ئې آزاد كړلو.نودا غلام به د مشترى د طرفه آزاد وى.او په ده به د غلام قيمت واجب وى.څكه چه د شراب په عوض بيع فاسد وى.

تعريف البيع الموقوف وحكمه ③ بيع موقوف، او بيع موقوف داده.چه د ذات او وصف دواړو اعتبار سره ټيك وى.خو ددې نفاذ د عاقدينو نه علاوه د يو دريم كس په اجازت باندې موقوف وى.لكه د غلام بيع د مولا په اجازت باندې موقوف وى. دا بيع، «موقوف على سبيل التوقف»، مفيد د ملك وى.

تعريف البيع المكروه وحكمه ④ بيع مكروه دا هغه ده چه د اصل او وصف دواړو په اعتبار سره صحيح وى خو دې سره يومنهى عنه څيز ملګرى شى نو دهغې په وجه په كښې كراهت پيدا شى لكه د جمعې د اذان په وخت كښې بيع كول.اودامفيد دملك ده.خو سره د كراهته.

وجه تسمية الباب بالبيع الفاسد﴾ بيع فاسد د كثرت اسباب په وجه چونكه كثيرالوقوع ده.په دې وجه عنوان كښې د فاسد لفظ ذكر كړې شو.اګرچه په دې كښې د بيع باطل،بيع مكروه، اود بيع موقوف احكام هم ذكر دى.

د بيع باطلېدلو يا فاسدېدلو معيار

إِذَا كَانَ أَحَدُ الْعِوَضَيْنِ أَوْ كِلَاهُمَا مُحَرَّمًا كله چه يوعوض يا دواړه حرام وى فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ نو بيع فاسد ده كَالْبَيْعِ بِالْمَيْتَةِ لكه د مردار په عوض بيع، أَوْ بِالدَّمِ يا د وينې په عوض سره أَوْ بِالْخَمْرِ، يا د شراب په عوض أَوْ بِالْخِنْزِيرِ، يا د خنزير په عوض

حل اللغة﴾ **الميتة:** مرداره ، **الدم:** وينه ، **الخمر:** شراب ، **الحر:** آزاد سړى

تعريح﴾ **فساد البيع اذا كان احد العوضين حراما﴾** ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائى.چه مبيع يا ثمن يا دواړه كه شرعا حرام وى.نو بيع فاسد ده.لكه مردار، يا وينه، يا شراب، يا خنزير،يا آزاد سړې ئې ثمن جوړ كړې وى.

علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی چه امام ابوالحسن قدوری رحمه الله دا ټول صورتونه بیع فاسد ګرځولی دی.حالانکه په دې کښې بعض بیع فاسد دی.او بعض باطل دی.
تفصیل ددې دادې.که مردار، یا وینه، یا آزاد سړې ئې ثمن جوړ کړلو.او کپړې وغیره څه څیز ئې مبیع جوړ کړلو.نو په دې صورتونو کښې به بیع باطل وی.ځکه چه د بیع رکن،، مبادلة المال بالمال بالتراضی،، دې. او مردار وغیره ذکرشوی څیزونه د دین سماوی په منونکو کښې دچا په نیز هم مال نه شمارلې کیږی.ځکه چه مال هغه وی.چه دې طرف ته د انسان طبیعت مائل شی.اود ضرورت د وخت دپاره ددې ذخیره کول ممکن وی. نو چونکه مردار،او وینې طرف ته نه طبیعت مائل کیږی.اونه دا ذخیره کولې شي.
اوهم دغه شان آزاد سړې هم ذخیره کولې نشی.په دې وجه به دا څیزونه مال نه وی.اوهرکله چه دا څیزونه مال نشو.نو،، مبادلة المال بالمال،، هم موجود نشو.بلکه،،مبادلة المال بغیرالمال،، موجود شو.حالانکه،، مبادلة المال بالمال،، د بیع رکن دې.نود بیع رکن معدوم شو . اود شئ رکن په معدوم کیدلوسره شئ باطلیږی.په دې وجه ذکرشوی صورتونو کښې بیع باطلیږی.

فساد بیع الخمر والخنزیر > او که شراب یا خنزیر ثمن جوړ کړې شو.نو بیع به فاسد وی.

دلیله > ځکه چه شراب اوخنزیرد ذمیانو په نیز مال شمارلې کیږی.نود،،مبادلة المال بالمال،، موندلو په وجه د بیع حقیقت اوموندې شو.خوچونکه مسلمان نه د شراب اوخنزیر په سپارلو قادر دې.او نه ئې قبضه کولو قادر دې.په دې وجه د،،غیرمقدور التسلیم،، څیز ثمن جوړولو په وجه به بیع فاسد وی.

بطلان بیع المیتة والدم والحراذا کان مبیعا - علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه لکه څنګه مردار، وینه،اود آزاد سړی د ثمن جوړولو په صورت کښې بیع باطلیږی.دغه شان که دا څیزونه مبیع جوړ کړې شو.نو بیا به هم بیع باطل وی.ځکه چه دا څیزونه هرکله مال نه دی.نومحل د بیع یعنی مبیع هم نشی کیدلې.اوهر کله چه مبیع غیرمال دې.نود بیع رکن،، مبادلة المال بالمال،، هم موجود نشو.او هرکله چه رکن د بیع موجود نشو.نو بیع به یقینا باطل وی.

صورة بطلان بیع الخمر والخنزیر > کله چه شراب یا خنزیر خرڅوی نو ددې یو صورت دا دې چه ددې په مقابله کښې به دین یعنی دراهم او دنانیر ذکر وی.نوپه دې صورت کښې بیع باطل ده.ځکه چه دا بیع نه په شرابو کښې د ملك فائده ورکوی.او نه ددې په مقابل دراهم او دنانیروکښې ملك ثابتوی.ځکه چه بیع باطل بالکل مفید د ملك نه وی.

صورة فساد بیع الخمر والخنزیر > په دې عبارت کښې د شرابو او خنزیر د خرڅ دویم صورت بیانوی هغه دا چه ددې په مقابله کښې عین وی مثلا د کپړې تان ذکر وی.نو په دې صورت کښې بیع فاسد ده.ځکه چه مشتری به د ثوب یعنی د کپړې د تهان د قیمت په عوض د کپړې دتهان مالك شی.خو عاقدآخر به د شرابو اود خنزیر مالك نه وی.

وجه الفرق بین الصورتین > په دې دواړو صورتونوکښې وجه د فرق داده.چه شراب او خنزیر د ذمیانو په نیز مال شمارلې کیږی.خو شرعا غیرمتقوم او غیرمنتفع به دې.او شرعاً غیرمتقوم ځکه دې.چه الله تعالی دې ته رجس یعنی پلیت وئیلې دې اود دې نه د ځان ساتلو حکم فرمائیلې دې.اودا ښکاره ده.چه پلیت څیز هیڅ کله معزز نشی کیدلې.بلکه دا د سپکوالی قابل وی.اود خنزیر حرمت ئې په قرآن پاك کښې بیان کړې دې اوکوم څیز چه حرام کړې شی.هغه د شریعت په نظر کښې معزز نه وی.بلکه د اهانت قابل وی.دې دواړو آیتونو نه ثابته شوه.چه شراب او خنزیر دواړه مستحق د اهانت دی.او ددې د عزت نه کولو حکم دې.
په کوم صورت کښې چه ددې په مقابل کښې د دراهمو او دنانیرو ذکرشوې دې.په هغه صورت کښې

شراب او خنزير مبيع،او دراهم او دنانير ثمن دي.او په عقدبيع کښې مبيع مقصود وي.ثمن مقصود نه وي.ثمن خود مبيع حاصلولو ذريعه او وسيله وي.ځکه چه ثمن يعنې دراهم او دنانير په ذمه واجب وي.او کوم څيز چه په ذمه کښې واجب وي.هغه غير مقصود وي.نو ثابته شوه.چه ثمن يعنې دراهم او دنانير غيرمقصود دي.او مبيع يعنې شراب او خنزير مقصود دي.او شراب اوخنزير په مقصود ګرځولو کښې ددې عزت کول لازميږي.حالانکه ددې عزت کول خلاف مامور به دي.نود شراب او خنزير متقوم کيدل،بالکليه ساقط شو.پخپله ددې په حق کښې هم،اوددې په مقابل يعنې د دراهم او دنانيرو په حق کښې هم.نو مبيع غيرمتقوم شو.اود غيرمتقوم څيز بيع باطل وي.په دې وجه به په دې صورت کښې بيع باطل وي.

که د شراب اوخنزير په مقابله کښې دکپړې تهان ذکر شو.نودا بيع فاسد ده.که پخپله ئې تهان مبيع، او شراب ثمن جوړکړی وي.او که شراب ئې مبيع،او تهان ئې ثمن جوړکړې وي.ځکه چه دا بيع مقايضه ده.او په بيع مقايضه کښې په عوضينوکښې هر يو ثمن هم کيدلې شي.او مبيع هم کيدلې شي.نو هرکله چه هر يو ثمن او مبيع دواړه کيدلې شي.نود کپړې تهان مبيع او شراب به ثمن ګرځولې شي.او هرکله چه د کپړې تهان مبيع شو.نو اعزاز د کپړې اوشو.د شرابو اونشو.ځکه چه شراب د ثمن کيدلو په وجه د کپړې حاصلولو ذريعه ده.پخپله مقصود نه ده.نو هرکله چه اعزاز د کپړې اوشو. د شرابو اعزاز اونشو.نو خلاف مامور به هم نه لازميږي.او هرکله چه د خلاف مامور به ارتکاب لازم نشو.نو بيع به باطل هم نه وي.خو چونکه شراب غيرمتقوم دي.اود مسلمان دا سپارل،او په دې باندې قبضه کول، دواړه ناجائز دي.ځکه به ددې ثمن جوړول،او ذکرکول فاسد وي.او ددې په وجه به بيع فاسد وي.اود ثوب په مشتری به د کپړې قيمت واجب وي.

الاشکال پاتې شوه داخبره چه هرکله دواړه عوضين ثمن او مبيع دواړه کيدلې شي.نو شراب ثمن او کپړې مبيع ولې جوړکړې شو؟

الجواب عنه ددې جواب دادې.چه د شرابو د مبيع جوړولو په صورت کښې بيع باطليږي.اود ثمن جوړولو په صورت کښې بيع فاسد وي.نود مسلمان تصرف په قدر د امکان، د بطلان نه د بچ کولو دپاره د فساد طرف، په طرف د بطلان باندې ترجيح ورکړې شوې ده.ځکه چه فاسد اباحت ته نيزدې وي.او په باطل کښې د اباحت هيڅ وجه موجود نه وي.

د ام الولد،مدبر،اود مکاتب بيع

وَكَذٰلِكَ إِذَا كَانَ الْمَبِيْعُ غَيْرَ مَمْلُوْكٍ دغه شان کله چې وی مبيع غير مملوک كَالْحُرِّ وَبَيْعُ أُمِّ الْوَلَدِ وَالْمُدَبَّرِ وَالْمُكَاتَبِ فَاسِدٌ لکه آزاد سړی اود ام ولد ، مدبر اود مکاتب بيع فاسد ده.

تشریح ① ام ولد هغه وينځې ته ونيلې شي.چه دې سره ددې مولا جماع کړې وي.او ددې په نتيجه کښې ددې بچې پيدا شوی وي.② مدبر هغه غلام ته وائی چه چه دده آزادی دده مولا په مطلق مرګ باندې معلق کړې وي.مثلاً داسې ئې ونيلې وي.چه ته زما د مرګ نه پس آزاد ئې.يا که زه مړ شوم.نو ته آزاد ئې.او دې ته مدبر مطلق وائی ③اويا دا چه دده آزادی دده مولا په يوخاص مرګ باندې معلق کړې وي.مثلاً داسې ئې ونيلی وي.که زه په فلانی سفر کښې مړ شوم.نو ته آزاد ئې.يا ئې داسې ونيلې وي.که زه په فلانی بيمارئ کښې وفات شوم.نو ته آزاد ئې.دې ته مدبر مقيد وائی ④ اومکاتب هغه غلام ته وائی.چه دده دپاره مولا بدل کتابت مقرر کړې وي.اود آزادولو معامله ئې ورسره کړې وي.

المراد من الفساد علامه مرغينانی رحمه الله فرمائيلی دی.د ذکرشو غلامو په بيع باندې د بيع فاسد نه مراد بيع باطله ده او دا وضاحت شارح ځکه اوکړو چه په فاسد ونيلو سره دا وهم کيږی.چه په قبضه

کولوسره په ذکرشوی غلامانوکښې د مشتری ملك ثابتیږی. حالانکه داسې نه ده.بلکه ددوی بیع بالکل مفید د ملك نه ده.اګرچه مشتری قبضه ولې نه وی کړې.اود بیع بالکل مفید د ملك نه کیدل،ددې د باطل کیدلو علامت دې.

دلیله اود بطلان دلیل دادې.چه د ام ولد دپاره د آزادیدلو استحقاق پیدا ثابت شو.یعنی ام ولد به د آزادیدلو مستحق وی.څکه چه د رسول الله ﷺ وینځې ماریه قبطیه رضی الله عنها نه کله د ابراهیم ؑ ولادت اوشو.نو نبی کریم ﷺ ته غرض اوکړې شو.(الا تعتقها) آیا تاسو به دا نه آزادوئ.نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو.(اعتقها ولدها) (۱) ددې خوی دا د آزادئ متسحق کړله.دحدیث حقیقی معنی اګرچه داده.چه ددې خوی دا آزاده کړله.خودا معنی بالاتفاق مراد نه ده.بلکه مجازی معنی (چه ددې ولد دا د آزادئ مستحق کړله) مراد ده.

نوخلاصه دا شوه چه ام ولد د آزادئ مستحقه وی.اود مدبر په حق کښې فی الحال د حریت او آزادئ سبب ثابت دې.څکه مولی یو عاقل انسان دې اوهغه د خپل غلام د مدبر کولو اعلان کړې دې اودعاقل کلام مهمل او لغو نه وی نو سبب د حریت ثابت في الحال ثابت شو.

او مکاتب پخپل ذات باندې دتصرف مستحق دې.اګرچه دا تصرف د مولا په حق کښې لازم دې.اود مکاتب په حق کښې غیرلازم دې.د مولا په حق کښې څکه لازم دې.چه کله عاجز شی. نود مولا د رضامندئ نه بغیر فسخ کولې شی.په دې وجه دده په حق کښې دا تصرف غیرلازم دې.

نو که د ذکر شوی غلامانو د بیع په وجه دمشتري دپاره ملکیت ثابت شی.یعنی مشتری د ام ولد ،مدبر،اود مکاتب مالك شی.نود ام ولد استحقاق آزادی،اود مدبر سبب آزادی،اود مکاتب پخپل ذات باندې تصرف ټول باطلیږی. څکه چه د ام ولد استحقاق آزادی ،اود مشتری دپاره ثبوت ملك په مینځ کښې،اود مدبر په حق کښې سبب آزادی،اود ثبوت ملك په مینځ کښې،اود مکاتب پخپل ذات باندې استحقاق تصرف،اود ثبوت ملك په مینځ کښې منافات دې.او قاعده ده.چه د ،،احدالمتنافیین،، د نه ثابتیدلو نه پس آخر منتفی کیږی.نو هرکله چه د مشتری دپاره ملك ثابت شی.نو استحقاق آزادی،او سبب آزادی،او استحقاق تصرف ټول باطلیږی.حالانکه دا دری واړه څیزونه باطل نه دی.بلکه ثابت دی.لکه څنګه چه وړاندې په دلیلونو سره معلوم شوی دی.او هرکله چه دا دري واړه څیزونه ثابت دی.نود مشتری دپاره به ملك ثابت نه وی.څکه چه د دوه متنافي څیزونو جمع کول محال دی.او هرکله چه د مشتری دپاره ملك ثابت نشو.نو معلومه شوه.چه دا بیع مفید د ملك نه ده.او کومه بیع چه مفید د ملك نه وی.هغه باطل وی.په دې وجه به د ذکر شوی غلامانو بیع باطل وی.

علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.که مکاتب پخپله بیع باندې پخپله راضی شو.نو په دې کښې دوه روایتونه دی. یو روایت د عدم جواز دې.او دویم روایت دجواز دې.ښکاره هم دغه ده.څکه چه عدم جواز د مکاتب د حق په وجه وو.خوکله چه ده پخپله رضامندئ سره پخپله خپل حق ساقط کړلو.نو کتابت به فسخ وی.او بیع به جائز وی.ددې تائید د صحیحینو حدیث سره هم کیږی.چه حضرت عائشه رضی الله عنها بریره مکاتبه ددې په رضامندئ سره واخستله.او آزاده ئې کړله.

دمهی ښکار کولو نه وړاندې د بیع حکم

وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ السَّمَكِ فِي الْمَاءِ قَبْلَ أَنْ يُصْطَادَ اود ښکار کولو نه وړاندې په اوبو کښې د کب بیع جائز نه ده

---

۱) تقدم تخریجه فی باب الإستیلاد_

حل اللغة> **السمك**: کب ، **يصطاد**: چه ښکارشي

تشريح> **عدم جواز بيع السمک في الماء**> ① اصولي طور دا خبره په ذهن کښې ساتئ: چه د بيع د جواز دپاره مبيع د بائع مملوك او مقدورالتسليم کيدل ضروري دی. که مبيع د بائع مملوك نه وی. يا مملوك وی. خو مقدورالتسليم نه وی. نو بيع به جائز نه وی. ② په کومو صورتونو کښې په اوبو کښې دننه د مهيانو خرڅول جائز دی. په هغه صورتونو کښې به مشتری ته خيار رويت حاصل وی. ځکه چه د مهيانو (کبانو) په اوبوکښې کتل، په اوچه باندې د کتلونه مختلف وی. يعنی په اوبو کښې دننه کتل، د اوچې کتلو دپاره کافی نه دی.

صورت د مسئلې دادې. چه د ښکار کولو نه وړاندې په درياب يا نهر کښې د مهيانو خرڅول جائز نه دی.

دليله> ځکه چه مهيان تر کومه پورې په درياب يا تالاب کښې وی. تر هغه وخته پورې دا د چا ملك نه وی. بلکه مباح وی. هرسړې دا نيولې شی. اود غيرمملوك بيع جائز نه ده. په دې وجه د مهيانو بيع په دريا يا تالاب کښې جائز نه ده.

په هواکښې د مارغانو د بيع حکم

وَلَابَيْعُ الطَّيْرِفِي الْهَوَاءِ فرمانی. اود داسې مارغه بيع جائز نه ده کومه چه په هواکښې وی

تشريح> **عدم جواز بيع الطير في الهواء**> د مارغانو يوصورت دا دې چه د ښکار کولو نه وړاندې په هواکښې خرڅ کړې شی کښې بالاتفاق بيع ناجائز ده. ځکه چه په دې صورت کښې مارغه غير مملوك دې او غير مملوك څيز خرڅول جائز نه دی

② دښکار کولو نه پس په هواکښې پريخودلو نه پس مارغه خرڅول په دې صورت کښې هم بالاتفاق بيع ناجائز ده. په رومبی صورت کښې د مارغه د غير مملوك کيدلو په وجه او په دويم صورت کښې د غيرمقدور التسليم کيدلو په وجه، ځکه چه په دويم صورت کښې د ښکار کولو په وجه مارغه د بائع مملوك شو. خود پريخودلو په وجه غيرمقدورالتسليم شوې دې.

③ مارغه پخپله ځی راځی. مثلا کونتره چه پخپله ځی او پخپله راځی. (د داسې مارغه خرڅول) په کښې بالاتفاق بيع جائز ده. ځکه چه مارغه د څه حيلې نه بغير نيول ممکن دی. البته که نيول ئې د څه حيلې نه بغير ممکن نه وی نو بيع جائز نه ده.

وَلَايجوزبَيْعُ الْحَمْلِ فِی البطن اونه جائز بيع د حمل په خيټه کښې وَلَا النِّتَاجِ اونه د حمل در حمل (بيع جائز ده)

تشريح> **عدم جواز بيع الحمل والنتاج**> اود حمل يعنی د جنين اود حمل درحمل بيع ناجائز ده. د حمل دبيع صورت دادې. چه مثلا مشتری اووئيل. ددې اوښې يا چيلۍ په خيټه کښې چه کوم بچې دې. په سلو روپو کښې ما واخستلو. بائع دا قبول کړلو. اود نتائج يعنی د حمل درحمل بيع داده. چه مشتری اووائی. چه ددې اوښې په خيټه کښې که ماده بچې وی. نو چه دا ماده بچې لوئې شی. او ددې کوم بچې پيدا شی. ما هغه واخستلو. او بائع دا قبول کړلو. د جاهليت په زمانه کښې دا عادت وو. چه يو سړی به د بل نه اوښه اخستله. په دې شرط باندې چه دا اوښه به ماسره هغه وخته پورې وی. چه ترکومه ددې بچې پيدا شی. بيا ددغه بچې بچې پيدا شی. نو هرکله چه به ددې اوښې د بچی نه بچې پيدا شولو. نو دا اوښه به بائع ته واپس کولې شوه. اودا وښه به د مالك کيدله.

دلائله ① رسول الله ﷺ دا بيع باطل اوگرځوله اود حمل،اود حمل حمل بيع نه ني منع اوفرمانيله.د ابن عمر ﷠ روايت دي (أن النبي ﷺ نهى عن بيع المضامين والملاقيح وحبل الحبلة) (۱)مضامين د مضمون جمع ده كوم چه د نرخاروى په صلب كښې وى.هغې ته مضمون وائى. ، ملاقيح، ، د ملقوح جمع ده.كوم چه د ماده په رحم كښې وى.هغې ته ملقوح وائى.بهر حال د رسول الله ﷺ د نهى په وجه ددې بيع ناجائزده. ② دويم دليل دادې.چه په دې بيع كښې دهوكه ده.ځكه معلومه نه ده.چه په خيټه كښې څه شته.او كه نه هسې د هوا په وجه خيټه پرسيدلې ده.او د دهوكې د بيع نه رسول اكرم ﷺ منع فرمائيلې ده په دې وجه دا بيع ممنوع ده.

د چيلئ په شا باندې د وړئ د بيع حكم

> **وَلَاالصُّوفَ عَلٰى ظَهْرِالْغَنَمِ** فرمائى.اود چيلئ په شا باندې وړئ اخستل هم جائزنه ده

حل اللغة **الصوف** : وړئ ، **ظهر**: شا ، **الغنم**: چيلئ

تشريح **عدم جواز بيع الصوف علي ظهر الغنم** مسئله داده.چه د چيلئ او ګډې په شا باندې د وړئ خرڅول جائز نه دى.

دلائله ① ځكه چه دا د كټ كولو نه وړاندې دخاروى د اوصافو څنې ده.او اوصاف تابع وى.او تابع چونكه مال غيرمتقوم وى.په دې وجه د متبوع نه بغير ددې بيع جائز نه ده.

② دويم دليل دادې.چه وړئ د لاندې نه راخيژى.او ددې دليل دادې.چه د چيلئ په شا باندې كه دې ته رنګ وركړئ شي.او څه ورځې دا پريخودلې شي.نو ددې پاسنئ حصه به رنګداره وى.او ددې ويختو ويخونه به په رنګ كښې رنګ شوى نه وى.ددې نه معلوميږى.چه وړئ د لاندې طرف نه راخيژى. نو په شا باندې دوړئ خرڅولو نه پس،اود كټ كولو نه وړاندې چه په وړئ كښې د كومې حصې زياتوالې كيږى.هغه به غيرمبيع وى.اود مبيع به د غيرمبيع سره داسې اختلاط اوشى.چه ددې جدا كول به ناممكن شي.اوهركله چه د مبيع غيرمبيع سره داسې اختلاط اوشى.نو بيع باطليږى.په دې وجه د چيلئ يا د ګډې په شا باندې د وړې خرڅول ناجائز او باطل دى.

په تئينو كښې د پيو د بيع حكم

> **وَلَابيع اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ** او په تهيونو كښې پئ خرڅول هم جائز نه دى

حل اللغة **اللبن** : شودے\پئ ، **الضرع** :غولانځه

تشريح **عدم جواز بيع اللبن في الضرع** مسئله داده.چه په تهيونوكښې دننه پئ خرڅول ناجائز دى.

دلائله ① دليل دادې.چه په دې كښې دهوكه ده.او دهوكه په دې وجه ده.ممكن ده.چه تهن د هوا په وجه پرسيدلې وى.او مشترى به په دې د پيو خيال كوى. حالانكه په دې كښې به پئ نه وى.بلكه هوا ده.اود دهوكې د بيع نه مدنى آقا ﷺ منع فرمائيلې ده.په دې و جه په تهيونو كښې پئ خرڅول ناجائز دى. ② دويم دليل دادې.چه د لوشلو په كيفيت كښې به جګړه كيږئ. مشترى به غواړى.چه يو يو

---

۱) غريبه الزيلعي ﷫ بهذا اللفظ ثم اخرج أحاديثاً منها حديث ابن عمر ﷠ عن النبي ﷺ انه نهى عن المضامين والملاقيح وحبل الحبلة قال والمضامين ما فى أصلاب الإبل والملاقيح ما فى بطونها وحبل الحبلة ولد ولد هذه الناقة أخرجه عبدالرزاق فى مصنفه كذا فى نصب الراية (۴/۳۲) وكذا أخرجه الطبرانى فى معجمه من حديث ابن عباس ﷠ عزاه إليه الهيثمى فى مجمع الزوائد (۴/۱۰۴) وعزاه إلى الطبرانى فى الكبيروالبزار _

ځاځکې نچوړ کړه.او بائع به غواړي چه په تهیونوکښې څه باقي پریخودل پکار دی.او،، مفضي الی المنازعه،، هم د بیع د عدم جواز دلیل دی. ③ دریم دلیل دادی.چه پی: په تهیونوکښې ځاځکې ځاځکې جمع کیږي.نوبه تهیونوکښې د پیو خرخولو.او ددې د راوښکلو په مینځ کښې به هم څه نا څه پی: پیدا کیږي.اوډ خرخولو نه پس چه کوم پی: په تهیونوکښې پیدا شوی دی.هغه غیرمبیع دی. ددې مالك بائع دی.او کوم پی: چه د خرخول په وخت په تهیونوکښې موجود وو.هغه مبیع دی.چه ددې مالك مشتري دی. اودا دواړه یعنی مبیع او غیرمبیع داسې ملاو: شو.چه یو د بل نه جدا کول متعذر دی.اود بیع غیرمبیع سره داسې ملاویدل،چه جدا کیدل متعذرشی.بیع باطلوی.په دې وجه به هم په دې صورت کښې بیع ناجائز وی.

په چت کښې د تیراو په تان کښې د ګز خرخول

وَلَا يَجُوْزُ بَيْعُ ذِرَاعٍ مِنْ ثَوْبٍ وَلَا بَيْعُ جِذْعٍ فِي سَقْفٍ او جائز نه دې بیع د یو ګز د جامې نه او نه بیع د تیر په چت کښې

حل اللغة> **جذع**: تیر . **سقف**: چت ، **ذراع**: ګز ، **ثوب**: جامه

تشریح> عدم جواز بیع ذراع من ثوب جذع في سقف> صورت د مسئلې دادی.چه تیر کوم چه په چت کښې وی.د هغې خرخول جائز نه دی.اود یو داسې کپړې نه یوګز خرخول چه ددې کټ کول مضر وی.جائز نه دی.که دواړو د کټ کولو د ځائې ذکر کړې وی.او که نه وی کړې.

دلیله> ځکه چه د ضرر نه بغیر بائع دپاره ددې سپارل ممکن نه دی.او ضرر برداشت کول مقتضی دعقد نه دی.په دې وجه به دا بیع درست نه وی.

په جال کښې د ګیرېدونکو مارغانو،ځناورو د بیع حکم

وَضَرْبَةِ الْقَانِصِ او(د) ضربة القانص (بیع جائز نه ده)

عدم جواز بیع ضربة القانص> ،، ضربة القانص،، هغه ځاروې کوم چه په یوځل جال لګولوسره حاصل شی.د،، ضربة القانص،،

دلائله> بیع په دې وجه ناجائز ده. ①چه په دې صورت کښې مبیع مجهول وی.معلوم نه ده.چه په جال کښې څومره مرغئ نیولې کیږي.اودا هم کیدلې شی.چه هیڅ یوه مرغئ: ګیره نشی. ② دویم دلیل دادی.چه په دې بیع کښې دهوکه ده.ځکه کیدې شی.چه په جال کښې دښکار په ځائې مار، لړم، یا سپې وغیره ګیر شی.

د بیع مزابنه حکم

وَلَا بَيْعِ الْمُزَابَنَةِ، فرمائی.او بیع مزابنه جائز نه ده وَهُوَ بَيْعُ الثَّمَرِ عَلَى النَّخِيلِ او مزابنه د کهجورو په وُنه باندې د میوو خرخول.بخرصه په اندازې د دې سره

حل اللغة> الثمر: میوه ، **النخیل**: د قجورې ونه ، **تمر**: قجوره ، **خرص**: اندازه

تشریح> عدم جواز بیع المزابنة> بیع مزابنه داده.چه د کهجورې په وُنه کښې لګیدلې کهجورې،د شوکیدلو کهجورو په عوض په دې طریقه خرخې کړی.چه شوکیدلې کهجورې ئې پیمانه کړلې.یا ئې وزن کړلې.او په وُنه کښې چه کومې کهجورې لګیدلې دی.د هغې اندازه اوکړی.مثلاً دا اندازه ئې اوکړله.چه په وُنه کښې لګیدلې کهجورې پنځه منه دی.نود عاقد آخر نه ددې عوض پنځه منه

شوکیدلې وزن کړی.او واخلی.دا بیع ناجائز ده (۱)

دلیله> د بیع مزابنه د عدم جواز دپاره دلیل دادې.چه بیع مزابنه او محاقله د جاهلیت د زمانې بیوع دی.رسول الله ﷺ ددې دواړو نه منع فرمائیلې ده.په صحیحینو کښې دحضرت جابر رضی الله عنه حدیث دې.(نهی رسول الله ﷺ عن المزابنة والمحاقلة) (۱)چې نبی کریم ﷺ د بیع مزابنه او بیع محاقله نه منع فرمائیلې ده ② دویم دلیل دادې.چه بیع مزابنه او محاقله په دواړو کښې اتحاد د جنس هم دې.او اتحاد قدر (کیل، پیمانش) هم دې.اود اتحاد جنس او اتحاد قدر په صورت کښې په اټکل او اندازې سره اخستل خرڅول جائز نه دی. ځکه چه په اندازه سره په اخستلو خرڅولو کښې شبه الربوا ده.او شبه الربوا داسې حرام ده.لکه څنګه چه حقیقت ربوا حرام ده.په دې وجه دا بیع جائز نه ده.لکه څنګه چه کهجورې یا غنم په زمکه پراته وی.په ونه کښې یا په وګوکښې نه وی.نو په اندازه سره اخستل خرڅول جائز نه دی.دغه شان که انګور په ونه کښې وی.نو ددې اندازه کول،اود هغه انګورو په عوض په وزن یا کیل سره خرڅول جائز نه دی.کوم چه شوکیدلې وی.ځکه چه دا هم د مزابنه او محاقله د قبیلې ځنې دي.

د بیع بالقاء الحجر.بیع ملامسه.اود منابذه حکم

وَلَا يَجُوزُ الْبَيْعُ بِإِلْقَاءِ الْحَجَرِ او جائز نه ده بیع په کاڼړی غورزولو سره وَالْمُلَامَسَةِ.او په لاس لګولو سره

تشریح> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه بیع بالقاء الحجر،بیع ملامسه، ناجائز ده.

المراد من القاء الحجر> ① بیع بالقاء الحجر داده.چه د یوجنس څوځیزونه موجود وی.او بائع او مشتری دواړه د بیع په سلسله کښې ګفتګو کوی.مثلاً یوڅو تهانونه نې ایخودلې وی. بائع د سامان ذکر اوکړلو.اود ثمن ذکر نې اوکړلو . مشتری په یو تهان باندې کاڼړې اوغورزولو.نو کوم تهان به چه په کاڼړی اولګیدلو.د هغې بیع به پوره کیدله.که ددې مالك به راضی وو.او که ناراض وو.او مشتری ته به هم د رجوع کولو اختیار نه وو.

② بیع ملامست داده.چه دوه سړی د څه سامان په باره کښې نرخ اوکړی.نو مشتری دغه سامان ته لاس یوځی. نودغه سامان به د مشتری کیدلو.که ددې مالك به راضی وو.او که ناراض وو.

دلائله> ① خو سردار دوعالم ﷺ بیع ملامست، اود بیع منابذه نه منع اوفرمائیله.د ملامست او منابذه نه په صراحت سره منع شوې ده.(۲)او بیع بالقاء الحجر چونکه ددې دواړو په معنی کښې ده.په دا وجه دا به هم دې سره لاحق کولې شی.

② دویم دلیل دادې.چه بیع د تملیکاتو د قبیلې ځنې ده.او تملیك چه کله په متردد (شکی) امر باندې معلق کړې شی.نو په دې کښې د قمار(جواریٔ) معنی پیدا کیږی.او جواری ناجائز ده.په دې وجه به بیع هم ناجائز وی.او په دې بیوع کښې د جواریٔ معنی ځکه موجود یږی.چه د بیع بالقاء الحجر مطلب دادې.چه بائع مشتری ته اووئیل. چه په کوم سامان تا کاڼړیٔ اوغورزولو.ما دغه سامان په تا خرڅ کړلو.اوس دا هم کیدلې شی.چه کاڼړیٔ په دغه سامان اوغورزیږی.اودا هم ممکن ده.چه دغه سامان په

(۱) **مذهب الشافعی** رحمه الله:- حضرت امام شافعی رحمه الله د پنځه وسقو نه په کم کښې مزابنه جائز ګرځولې ده.اود پنځه وسقو نه په زیاتی کښې نې ناجائز ګرځولې ده.او په پنځه وسقو کښې دوه اقواله دی.یود جواز،او دویم د عدم جواز.(عنایه)

۱) من حدیث جابر رضی الله عنه اخرجه البخاری فی الشرب والمساقاة باب ۱۷ رقم ۲۳۸۱ ومسلم فی البیوع رقم ۸۱ _

۱) من حدیث ابی سعید الخدری رضی الله عنه اخرجه البخاری فی اللباس باب ۲۰ رقم ۵۸۲۰ ومسلم فی البیوع رقم ۳ _

کانړي اونه لګي.اود بيع ملامست مطلب دادي.چه بائع مشتري ته اووئيل.مثلا تا کومي کپړي ته خپل لاس يوړلو.ما دغه کپړه په تا خرڅه کړله.اود بيع منابذه مطلب دادي.چه مشتري بائع ته اووئيل.چه کومه کپړه تا زما طرف ته اوغورزوله.ما هغه واخستله.نو په دي تعليق کښي چونکه د قمار معني مونډلي کيږي.په دي وجه دا بيوع ناجائز دي.

په دوه کپړوکښي د يو د بيع حکم

وَلَايَجُوزُبَيْعُ ثَوْبٍ مِنْ ثَوْبَيْنِ او په دوه کپړوکښي د يوې کپړي خرڅول جائز نه دي

تشريح> **عدم جواز بيع ثوب من ثوبين>** صورت د مسئلي دادي.چه په دوه يا درې کپړو کښي د يو خرڅول، يا اخستل ناجائز دي.

دليله> ځکه چه مبيع مجهول دي.اومجهول هم داسي چه،، مفضي الي المنازعه،، دي.ځکه چه کپړې د ماليت په اعتبار سره متفاوت وي.اود مبيع داسي مجهول کيدل چه دا،،مفضي الي المنازعه،، وي.مفسد د بيع وي.په دي وجه به په دي صورت کښي بيع فاسد وي.ځوکه بائع دا اووئيل.چه مشتري ته د يوې کپړي متعين کولو اختيار دي. يا مشتري اووئيل.چه ماته د يوې کپړي متعين کولو اختيار دي.نودا بيع استحساناً جائز ده.ددي تفصيلات وړاندي تير شوي دي.

د غلام په خرڅولوکښي بعض شرطونه اود بيع د فساد حکم

وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا اوچا چي غلام په دي شرط خرڅ کړو عَلٰى أَنْ يُعْتِقَهُ الْمُشْتَرِي چه مشتري دا آزاد کړي أَوْ يُدَبِّرَهُ يا دي مدبر کړي أَوْيُكَاتِبَهُ يا دي مکاتب کړي أَوْبَاعَ أَمَةً ياني وينځه په دي شرط خرڅه کړله عَلٰى أَنْ يَسْتَوْلِدَهَا چه مشتري دا ام ولد جوړه کړي. فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ نو په دي ټولو صورتونوکښي بيع فاسد ده.

حل اللغة> يستولد: ام ولده جوړول ، **يعتق:** آزادوي ، **يدبر:** مدبرجوړوي

تشريح> عدم جواز بيع وشرط> مسئله داده.که يوکس خپل غلام خرڅ کړلو.په دي شرط چه مشتري به دا آزادوي.يا په دي شرط چه مشتري به دا مدبر کوي.يا په دي شرط چه مشتري به دا مکاتب کوي.يا يوکس خپله وينځه په دي شرط باندي خرڅه کړله.چه مشتري به دا خپله ام ولد کوي.په دي ټولو صورتونوکښي بيع فاسد ده.

دليله> دليل دادي.چه دا بيع مع شرط ده.او د بيع مع شرط نه نبي کريم ﷺ منع فرمائيلي ده.(۱)په دي وجه به په ذکرشوي صورتونوکښي بيع فاسد وي.

القاعدة> علامه مرغيناني رحمه الله په هدايه کښي د بيع او شرط په سلسله کښي يوه قاعده بيان کړي ده.چه د هغي حاصل دي.چه د شرط څو قسمونه دي. هغه شرط د کوم چه عقد تقاضا کوي.يعني په شرط لګولو سره به هم هغه فائده حاصليږي.کومه چه په مطلق عقد سره ثابتيږي.لکه مثلا غلام ئي په دي شرط سره خرڅ کړلو.چه مشتري به د غلام مالك شي.ښکاره ده.که دا شرط ئي نه ذکرکولو.بيا به هم مشتري د غلام مالك کيدلو.په داسي قسم کښي بيع جائز ده.او شرط يوزياتي څيز دي.يعني دشرط کيدل اونه کيدل دواړه برابر دي.

السوال> که دا سوال اوکړي شي.چه رسول الله ﷺ د بيع اوشرط نه منع فرمائيلي ده.اودا حديث د خپل

۱) من حديث عبدالوارث بن سعيد ... عزاه الهيثمي رحمه الله إلى الطبراني في الأوسط مجمع الزوائد(٤/ ٨٥) _

مطلق کیدلو په وجه د بیع د عدم جواز تقاضا کوي.په دې وجه په دې صورت کښې بیع ناجائز کیدل پکار وو حالانکه تا جائز ونیلی دی؟

الجواب﴿ددې جواب دادې.چه دا په حقیقت کښې شرط نه دې.ځکه چه دې شرط د هغه څیز افاده اوکړله.چه دکوم مطلق عقد فائده ورکوی.نو ددې شرط کیدل.یا نه کیدل دواړه برابر دی.

په بیع کښې بعض شرطونه اود هغې حکم

وَكَذٰلِكَ لَوْبَاعَ عَبْدًا اوهم دغه شان که غلام نې په دې شرط خرڅ کړو عَلٰى أَنْ يَسْتَخْدِمَهُ الْبَائِعُ شَهْرًا چه بائع به ئې ده نه یوه میاشت خدمت اخلي أَوْدَارًا یا نې کور په دې شرط خرڅ کړو عَلٰى أَنْ يَسْكُنَهَا الْبَائِعُ چه بائع به په دې کښې اوسیږی مُدَّةً مَعْلُوْمَةً معلومه موده أَوْعَلٰى أَنْ يُقْرِضَهُ الْمُشْتَرِي دِرْهَمًا یا په دې شرط باندې مشتری بائع ته یو درهم قرضه ورکړی أَوْعَلٰى أَنْ يُهْدِيَ لَهُ یا په دې شرط چه مشتری بائع ته څه هدیه ورکړی.

حل اللغة﴿ **استخدم**: خدمت به اخلي، **شهر**: میاشت، **يقرض**: قرض ورکوی، **يهدي**: هدیه ورکوی

تشریح﴿ **صورة المسئلة**﴿ صورت د مسئلې دادې.که یوکس غلام په دې شرط باندې خرڅ کړلو.چه دا غلام به یوه میاشت زما خدمت کوی.یا نې کور په دې شرط باندې خرڅ کړلو.چه بائع به یوه میاشت په دې کښې اوسیږي.یا نې په دې شرط باندې خرڅ کړلو.چه بائع ته یو درهم قرض ورکړی.یا نې په دې شرط باندې خرڅ کړلو.چه مشتری بائع ته څه هدیه ورکړی.په دې ټولو صورتونوکښې بیع فاسد ده.

دلائله﴿ ① دلیل دادې.چه دا ټول شرطونه د مقتضی عقد خلاف دی.او په دې شرطونوکښې د احدالعاقدین یعنی د بائع نفع هم ده.او کوم شرط چه د مقتضی عقد خلاف وی.او په دې کښې د احدالمعاقدین نفع وی.هغه مفسد د بیع وی.په دې وجه به په دې شرطونو سره بیع فاسد وی. ② دویم دلیل دادې.چه رسول الله ﷺ بیع او قرض جمع کولو نه منع فرمائیلي ده.(۱) یعنی د داسې بیع نه ئې منع فرمائیلي ده. چه په هغې کښې شرط ذکر وی.چه مشتری به بائع ته قرض هم ورکوی.

③ دریم دلیل دادې.چه د غلام نه د خدمت اخستلو،او په کورکښې د اوسیدلو په مقابله کښې به د ثمن څه حصه وی.یا به نه وی؟ که ددې دواړو په مقابله کښې د ثمن څه حصه وی.نودا به په بیع کښې اجاره وی.او که ددې په مقابله کښې ثمن نه وی.نودا به په بیع کښې په عاریت (۔ رض) سره اخستل وی.یعنی په بیع کښې به یا اجاره داخل وی.یا به اعاره داخل وی.حالانکه مدنی آقارسول هاشمی ﷺ په یوه معامله کښې د دوه معاملو نه منع فرمائیلي ده.یعنی یوه معامله په بله معامله کښې داخلول،او دواړه جمع کولو نه ئې منع فرمائیلي ده.نو ددې حدیث نه ثابته شوه.چه د خدمت اخستلو،او په کورکښې د اوسیدلو شرط لګول فاسد دی.په دې وجه به بیع فاسد وی.

د میاشتې شروع پورې د نه سپارلو په شرط سره د بیع حکم

وَمَنْ بَاعَ عَيْنًا که یوکس عین شئ په دې شرط خرڅ کړو عَلٰى أَنْ لَايُسَلِّمَهُ إِلٰى رَأْسِ الشَّهْرِ چه دې به دا د میاشتې رومبۍ شپې پورې نه سپاری فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ نو بیع فاسد ده.

حل اللغة﴿ **يسلم**: سپاری ، **رأس**: اول

۱) من حدیث عبدالله بن عمروبن العاص ﷺ اخرجه ابوداود فی البیوع باب ۶۸ رقم ۳۵۰۴ والنسائی فی البیوع باب شرطان فی بیع رقم ۴۳۱۶ الترمذی فی البیوع باب ۱۹ رقم ۱۲۳۴ _

تشریح> **فساد بیع العین بشرط عدم تسلیمه الی راس الشهر>** مسئله: که یوکس مال عین یعنی دراهم او دنانیر نه علاوه څه متعین څیز په دې شرط سره خرڅ کړلو.چه مبیع به په رومبی تاریخ یا په آخری تاریخ درکوم نودا بیع فاسد ده.
امام قدوری رحمه الله د بیع نه پس لفظ د،، عین،، زیات کړې دې.چه مسلم فیه خارج شی څکه چه په بیع سلم کښې ،،مسلم فیه،، مبیع وی.خو عین نه وی.بلکه دمسلم الیه په ذمه کښې واجب وی.او ددې سپارل د یوې مودې نه پس کیږی.په دې وجه د مسلم فیه دپاره اجل او میعاد مناسب دې
دلیله> دلیل دادې.چه مهلت او وخت مقررول د آسانئ دپاره مشروع شوې دې یعنی میعاد څکه مشروع کړې شوې دې چه په دې موده کښې ددې څیز حاصلول آسان شی.د کوم دپاره چه وخت مقرر شوې وو نو میعاد(نیټه) د دیون یعنی د دراهم او دنانیر مناسب ده د اعیان مناسب نه ده څکه چه مال عین خو بالفعل موجود دې.او دراهم او دنانیر په مزه مزه(یعنی په لږه لږه) تلاش کولې شی نوکوم څیز چه بالفعل موجود وی.په هغې کښې د وخت مقررولو هیڅ ضرورت نشته.کنی خامخا به د،، تحصیل حاصل،، مرتکب شی.البته کوم څیز چه بالفعل موجود نه وی.په هغې کښې نیټه او مهلت ورکول فائده مند او کارآمد دی.نو هرکله چه میعاد د اعیان مناسب نه دی.نو په مبیع عین یعنی معین موجوده مبیع کښې اجل او نیټه ذکر کول باطل شو.اود میعاد شرط لګول به شرط فاسد وی.او په شرط فاسد سره چونکه بیع فاسدیږی.په دې وجه شرط سره بیع فاسدیږی.

د حمل په استثناء سره د بیع حکم

وَمَنْ بَاعَ جَارِيَةً اوچا چې خرڅه کړه یوه وینځه إِلَّا حَمْلَهَا علاوه ددې د حمل نه فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ نو بیع فاسد ده.

حل اللغة> **الجارية**: وینځه، **حمل**: د رحم بچې، **أطراف**: جمع د طرف،اندام، **يتناول**: شاملیږی

تشریح> صورت د مسئلې دادې.چه یوکس یوه وینځه خرڅه کړه.خو ددې د حمل استثناء نې اوکړله. نودا بیع فاسد ده.
دلیله> په کوم عقد کښې چه استثناء شوې وی.نودهغې یوقسم دا دې چه په هغې کښې عقد او استثناء دواړه فاسد وی.لکه د کوم څیز چه جدا خرڅول جائز نه وی.د هغې د عقدبیع نه استثناء (جدا) کول هم جائز نه دی.او حمل هم ددې قبیلې څنې دې.یعنی حمل جدا خرڅول جائز نه دی.او د حمل جدا خرڅولو عدم جواز څکه دې.چه دا د حیوان اطراف یعنی د اندامونو په مرتبه کښې دې.یعنی لکه څنګه چه د حیوان اطراف پیدائشی طور باندې حیوان سره متصل وی.دغه شان حمل هم ذی حمل سره متصل وی.اود حیوان بیع اطرافو(اندامونو) ته شامل وی.په دې وجه د اطراف استثناء د موجب عقد خلاف دې.دغه شان به د حمل استثناء هم د موجب عقد خلاف وی.او کوم څیز چه د موجب عقدخلاف وی.هغه صحیح نه وی.بلکه شرط فاسد وی.په دې وجه د حمل استثناء شرط فاسد دې.او په شرط فاسد سره بیع باطل وی.څکه به د حمل په استثناء سره بیع باطل وی.

د کپړې په کټ کولو کښې د کرتې یا کوټ جوړولو شرط سره د بیع حکم

وَمَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا اوکه یوکس کپړه په دې شرط واخستله عَلَى أَنْ يَقْطَعَهُ الْبَائِعُ چه بائع دا کټ کړی وَيَخِيطَهُ قَمِيصًا أَوْقَبَاءً ددې نه کرته یا چوغه جوړه کړی فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ نو بیع فاسد ده.

حل اللغة> **ثوب**: جامه ، **القطع**: کټ کیدل، **يخيط**: ګندی ، **قباء**: چوغه

تشریح> **فساد بیع الثوب بشرط القطع والخیطة علی البائع>** صورت د مسئلې دادې.چه یو سړی کپړه

واخستله.اودا شرط ئې اوکړو.چه بائع به دا کپړه کټ کوی.او ددې نه به کرته جوړه وی.یا به کوټ جوړه وی.نودا بیع فاسد ده.

دلائله ① ځکه چه دا شرط د مقتضی عقد خلاف هم دې.اوپه دې کښې د احدالعاقدین یعنی دمشتری نفع هم ده.او کوم شرط چه د مقتضی عقد خلاف وی.او په دې کښې د احدالعاقدین نفع وی.نودا مفسد د بیع وی.په دې وجه په دې شرط سره بیع فاسدیږی.

② دویم دلیل دادې.چه کپړه کټ کول اود ګنډلو په مقابله کښې به د ثمن څه حصه وی.یا به نه وی؟ که ددې په مقابله کښې د ثمن څه حصه وی.نو اجاره به په بیع کښې داخله شی.او که ددې په مقابله کښې د ثمن څه حصه نه وی.نو اعاره به په بیع کښې داخله شی.او یوه معامله په بله معامله کښې داخلولو نه چونکه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده.ځکه به دا عقد فاسد اوناجائز وی.(بنایه)

په پیزار کښې د تسمه لګولو شرط

اونَعْلًا اویا ئې څرمن په دې شرط واخستله عَلَی اَنْ یَحْذُوَهَا الْبَائِعُ چه بائع ددې نه پیزار(څپلئ) جوړکړی یا د پیزار تسمه جوړه کړی فَالْبَیْعُ فَاسِدٌ نو بیع فاسد ده.

تشریح **فساد بیع النعل بشرط الحذاء** صورت د مسئلې دادې.چه یوکس څرمن په دې شرط واخستله.چه بائع ددې نه پیزار جوړکړی.یا ئې پیزار په دې شرط واخستلو.چه بائع په دې کښې تسمه اولګوی.نود قیاس مطابق دا بیع فاسد ده.

دلیله القیاسي ځکه چه دا شرط د مقتضائې عقد خلاف هم دې.او په دې د مشتری نفع هم ده.

جوازه استحسانا خود خلقو د تعامل په وجه استحساناً دا جائز اوګرځولې شوه.لکه څنګه چه د رنګریز دپاره کپړه د رنګ کولو دپاره په اجاره بانديَ اَخستل قیاسا ناجائز دی.ځکه چه اجاره د منافع بیع نوم دی.او دلته کښې عین شئ یعنی د رنګ بیع ده.نودا هم دغه شان ناجائز ده.لکه څنګه چه د پیو څکلو دپاره غوا په اجرت باندې اخستل ناجائز دی.خو استحساناً د خلقو د تعامل په وجه رنګریز ته په اجرت باندې د اخستلو اجازت ورکړې شو.او هم ددې تعامل په وجه آرډر ورکول،اود یوڅیز جوړولو اجازت دې.حالانکه دا دمعدوم بیع ده.چه ددې جائز کیدل پکار نه وو.خو د خلقو د تعامل په وجه دا جائز اوګرځولې شوه.او تعامل اوعرف ته په قیاس باندې ترجیح حاصل وی.په دې وجه په دې مسئلوکښې تعامل بنیادجوړکړې شو.اود جواز فتوی ورکړې شوې ده.اګرچه قیاساً ناجائز دی.

خاص غیرمعروف ورځ د بیع دپاره مقررکول

وَالْبَیْعُ اِلَی النَّیْرُوْزِ وَالْمِهْرَجَانِ وَصَوْمِ النَّصَارٰی وَفِطْرِ الْیَهُوْدِ او بیع د نوروز، مهرجان، د نصاری د روژو،اود یهودیانو د افطار په وعده باندې فاسد ده. اِذَا لَمْ یَعْرِفِ الْمُتَبَایِعَانِ ذٰلِكَ فَاسِدٌ کله چه بائع او مشتری دا نه پیژنی

حل اللغة **نوروز**: دسپرلی اوله ورځ ، **مهرجان**؛د خزان اوله ورځ

تشریح **فساد البیع الي اجل مجهول** نیروز، د نوروز نه معرب دې.ددې تکلم د ټولو نه وړاندې حضرت عمر ﷺ فرمائیلې دې.یعنی کله چه کافرانو په دې ورځ کښې خوشحالیانې مناوولې.نو حضرت عمر ﷺ اوفرمائیل.«کل یوم لنا نوروز» ،،زمونږ دپاره هره ورځ نوروز ده،، نو روز د موسم بهار اوله ورځ ده.او،، مهرجان،، د مهرګان معرب دې.مهرګان د موسم خزان اوله ورځ ده.

صورت د مسئلې: دادې.کـه يـوکس څـه سـامان واخستلو.اود ثمـن اداکولو دپاره نې د نـوروز ورځ يـا د مهرجان ورځ مقرر کړله.يا نې دا اووئيل.چه په کومه ورځ نصارى روژې شروع کوى.په هغه ورځ به ادا کوم.يا نې دا اووئيل.چه د يهودو د افطار په ورځ يعنى ددوى د اختر په ورځ به نې ادا کوم.په دې ټولوصورتونوکښې بيع فاسد ده.

دليله> وجه د فساد داده.چه هرکله بائع او مشترى ته ددې ورځو علم نشته.نود ثمن ميعاد (نيته) مجهول شوه.او په بيع کښې نيته مجهول کيدل چه په چل ول باندې (دهوکه) مبنى ده.ځکه به د نيتې جهالت، ، مفضى الى النزاع، ،وى.اوکوم جهالت چه مفضى الى النزاع وى.هغه مفسد دبيع وى.په دې وجه به په دې صورتونوکښې بيع فاسد وى.

صورة الجواز> البته که بائع او مشترى ذکر شوې ورځې پيژنى.نو بيع به فاسد نه وى.ځکه چه په دې صورتونوکښې بائع او مشترى ته ميعاد معلوم دې.اوکه د نصارى د روژو شروع کولو نه پس، د نصارى افطار يعنى د اختر ورځ نيته مقررکړې شوه.نو بيا به هم بيع فاسد نه وى.ځکه چه په دې صورت کښې ددوى د روژو تعداد معلوم دې.يعنى د صاحب عنايهؒ د قول مطابق ددوى پنځوس روژې دى.اود ابن الهمامؒ په قول پنځه پنځوس روژې دى.نود روژو شروع کيدلو نه پس چه کله بيع اوشى.اود نصارى د اختر ورځ د ثمن اداکولو دپاره مقررکړې شوه.نو په دې صورت کښې ددوى د اختر ورځ معلوم ده.ځکه چه د بيع په ورځ دا هم معلوم ده.چه څومره روژې تيرې شوې دى.او هرکله چه د تيرو شوو روژو علم دې.نو کومې چه باقى پاتې دى.د هغې علم به هم وى.ځکه چه ددوى په مذهب کښې پنځوس يا د پنځه پنځوسو نه زياتې روژې نه وى.حاصل داچه په دې صورت کښې د نصارى د افطار ورځ معلوم ده.او هرکله چه د افطار ورځ معلوم ده.نو نيته مجهول نشوه.بلکه معلوم ده.اود نيتې معلوم کيدلو په صورت کښې بيع فاسد نه وى.په دې وجه به په دې صورت کښې بيع فاسد نه وى.

د حاجيانو راتلل يا د فصلونو مختلف وختونه نيته مقررکول

> **وَلَايَجُوْزُالْبَيْعُ،** او بيع جائز نه ده **إِلَى الْحَصَادِ** اوهم دغه شان (جائز نه ده) د فصل کټ کيدلو وخت **وَالدِّيَاسِ،** اود غوبل کولو وخت **وَالْقِطَافِ** اود انګورو شوکولو وخت، **وَقُدُوْمِ الْحَاجِّ وَالْجِزَازِ** او د حاجيانو د راتلو د وخت پورې.

حل اللغة> قدوم: دسفرنه راتلل، **الحاج:** حاجيان ، **الحصاد:** فصل کټ کول ، **الدياس:** غوبل کول ، **القطاف:** دانګورکټ کولووخت

تشريح> صورة المسئلة> صورت د مسئلې دادې.کـه يـوکس اووئيـل.چه مـادا څيزونه په لس روپۍ واخستل.په دې شرط چه ثمن به هغه وخت ادا کوم.چه کله حاجيان خلق راشى.يا نې دا اووئيل.چه ثمن به هغه وخت اداکوم.چه کله فصل کټ کولې شى.يا نې اووئيل.چه د غلې غوبل کولو لګه نن صبا د تريشرکولو په وخت به ادا کوم.يا د انګور شوکولو په وخت به ادا کوم يا د خارورو ايختـه او ورۍ کټ کولو په وخت اداکوم.په دې ټولو صورتونو کښې بيع ناجائز ده.يعنى د ثمن اداکولو دپاره دا وختونه نيته مقررول جائز نه دى.ددې وختونو د ثمن ادا کولو دپاره نيته مقررولو سره بيع فاسديږى.

دليله> دليل دادې.چه ددې څيزونو وختونه د ګرمۍ او يخنۍ په اختلاف سره مخکښې کيږى.او روستو کيږى.نو ددې څيزونو دپاره هيڅ معلوم او متعين وخت نشو.او هرکله چه دا وختونه معلوم او متعين نه دى.نود ثمن ادا کولو نيته مجهول شوه.اود نيتې مجهول کيدلو په صورت کښې بيع فاسديږى.په دې وجه به په دې صورتونو کښې بيع فاسدوى.

د وختونو لپاره مقررولو نه پس د ساقطولو حکم

فَإِنْ تَرَاضَيَا بِإِسْقَاطِ الْأَجَلِ قَبْلَ أَنْ يَأْخُذَ النَّاسُ فِي الْحَصَادِ وَالدِّيَاسِ وَقَبْلَ قُدُومِ الْحَاجِّ نو كه بائع او مشتري د خلقو د فصلونو كټ كولو، اود غوبل كولو، اود حاجيانو راتللونه وړاندې د ميعاد په ساقطولو باندې راضي شو جَازَ الْبَيْعُ(۱) نو بيع جائز ده.

حل اللغة> آجال: جمع د اجل ،نيته ، **تراضي**: خپلوكښې راضي كيدل. **إسقاط**: ساقطول. **الحصاد**: فصل ريبل

تشريح> صورة الجواز> صورت د مسئلې دادې چه يوسړې په ذكر شوي وختونوكښې يو وخت نيته مقرركړله او څه سامان ئې خرڅ كړلو.مثلا په دې شرط ئې خرڅ كړلو چه ثمن به د نوروز په ورځ، يا د حاجيانو د راتللو په وخت ادا كوي. مشتري دا منظوركړلو.بيا ددې مشروط وخت راتللو نه وړاندې بائع او مشتري دواړه ددې مشروط نيتې ساقطولو باندې راضي شو.نودا بيع جائز ده.

دليله> دليل دادې چه د نيتې مجهول كيدلو په صورت كښې بيع ځكه فاسد ده.چه ددې په وجه د بائع او مشتري په مينځ كښې د جګړې پيداكيدلو امكان دې.او جګړه به هغه وخت پيداكيږي.چه كله د نيتې پوره كيدلو وخت راشي.خوهركله چه دواړو مجهول نيته ساقط كړله.نو مفسد د بيع ثابتيدلو نه وړاندې لرې شو.او هركله چه مفسد لرې شو.نو بيع به هم جائز وي.

په بيع فاسد كښې د بائع په امر په مبيع باندې قبضه كول

وَإِذَا قَبَضَ الْمُشْتَرِي الْمَبِيعَ فِي الْبَيْعِ الْفَاسِدِ بِأَمْرِ الْبَائِعِ اوكه مشتري په بيع فاسد كښې د بائع په حكم سره مبيع باندې قبضه اوكړله وَفِي الْعَقْدِ عِوَضَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَالٌ او په ذكرشوي عقدكښې دواړه عوض مال دې مَلَكَ الْمَبِيعَ نومشتري به ددې مبيع مالك وي وَلَزِمَتْهُ قِيمَتُهُ او په مشتري به ددې قيمت واجب وي.

تشريح> القاعدة> ددې نه وړاندې چه داصل مسئلې بيان اوشي ددې خبرې خيال ساتل پكار دي.چه زمونږ په نيز په بيع كښې فاسد او باطل دوه جداجدا څيزونه دي.اود امام شافعي رحمه الله په نيز دواړه يوڅيز دي.د باطل او فاسد په مينځ كښې ددوي په نيز هيڅ فرق نشته.

فائده القيودات> ①په متن كښې د. فاسد لفظ ځكه ذكر شوې دې.چه بيع باطل بالكل مفيد د ملك نه وي.نه د قبضه نه وړاندې،اونه د قبضه نه پس.②اود ،، امربائع،، نه مراد د بائع اجازت دې.اجازت كه صراحة وي. يعنى كه بائع د قبضه كولو اجازت صراحتاً وركړې وي.نو مشتري به په قبضه كولوسره د مبيع مالك وي.كه د بائع په موجودګئ كښې ئې قبضه كړې وي.او كه په غيرموجودګئ كښې ئې قبضه كړې وي.اوكه بايع د خرڅولو اجازت دلالة وركړې وي مثلاً چه مشتري د عقد په مجلس كښې د بائع په موجودګئ كښې قبضه اوكړله.او بائع خاموش پاتې شو اوكه د بائع په غيرموجودګئ كښې ئې قبضه اوكړله نو مشتري به د مبيع مالك نه وي.ځكه چه په دې صورت كښې نه صراحة اجازت اوموندې شو.اونه دلالة اجازت اوموندې شو. ③او د دواړو عوضونو د مال كيدلو قيد ئې ځكه لګولې دې.كه يوعوض يا دواړه عوضونه غيرمال وي.نو بيع به باطل وي.لكه بيع بالحر او بيع بالدم،او بيع بالميتة.

---

(۱) القول الراجح هو قولنا هذا كذا في فتح القدير(۸۸\۶) وردالمحتار(۱۳۴\۱۴) والعناية (۸۸\۶) نقلاً عن القول الراجح (۴۷\۲)-

صورة المسئلة ﴿که مشتری د بیع فاسد په صورت کښې د بائع په اجازت سره په مبیع باندې قبضه اوکړله.او په ذکرشوی عقد کښې دواړه عوض مال وی.نومشتری به د مبیع مالك وی.او په ده به ددې قیمت واجب وی.ثمن به واجب نه وی. (۱)

دلیله ﴿ دلیل دادې.چه په بیع فاسد کښې یعنی چه کله (مبادلة المال بالمال بالتراضی) وی.خو څه شرط فاسد وی.نو په داسې بیع کښې د بیع رکن.یعنی ایجاب اوقبول د داسې سړو نه صادرکیږی.کوم چه ددې اهل دی.یعنی عاقل دی.او بالغ دی.اود بیع محل طرف ته منسوب دی.یعنی کوم څیز چه مبیع جوړشوې دې.هغه د مال کیدلو په وجه د بیع محل هم دې.نوهرکله چه د بیع رکن یعنی ایجاب اوقبول ددې د اهل نه صادرشو. اود بیع محل طرف ته منسوب دی.نود بیع په منعقد کیدلو کښې څه اشکال دې.یعنی بیع به منعقدشی.او هرکله چه بیع منعقد شوه.نومفید د ملك به وی.ځکه چه هرهغه بیع چه د هغې رکن ددې د اهل نه صادرشی.او محل طرف ته منسوب شی.هغه مفید د ملك وی.په دې وجه به دا بیع هم مفید د ملك وی. صاحب دهدایه‌رحمه‌الله فرمائی.چه د عاقدینو په اهل کیدلو،اومبیع د بیع په محل کیدلو کښې هیڅ خفاء نشته. یعنی په بائع اومشتری دواړوکښې د اخستلو،او خرڅولو لیاقت موجود دې.او محل دبیع هم دامال دې.

او خپل مینځ کښې په رضامندئ سره د مال په بدله کښې دمال مبادله کول،هم دا دبیع رکن دې.ددې مبادلې نوم ایجاب او قبول دې.او زمونږ کلام هم په داسې بیع فاسد کښې دې.په کوم کښې چه مبادلة المال بالمال اوموندې شی.یعنی په کوم کښې چه دواړه عوض مال وی.که دواړه عوض یا یو عوض مال نه وی.نودا د بیع رکن نه موجود کیدلو په وجه بالاتفاق باطل دې.ددې به مفید ملك نه کیدلوکښې د هیڅ چا اختلاف نشته.بلکه بالاجماع غیرمفید دې.حاصل داچه په بیع فاسد کښې چونکه رکن د بیع،یعنی مبادلة المال بالمال بالتراضی منسوب شوې دې.یعنی مبیع د مال کیدلو په وجه محل د بیع هم دې.په دې وجه بیع فاسد دخپل ذات په اعتبارسره مشروع شو.او بیع مشروع مفید د ملك وی ځکه به دا بیع مفید د ملك وی.

لزوم القیمة في ذوات القیم ﴿ علامه مرغینانی‌رحمه‌الله فرمائیلی دی.چه د قدوری‌رحمه‌الله قول (لزمته قیمته) یعنی په بیع فاسد کښې د مشتری په مبیع باندې د قبضه کولو نه پس که مبیع هلاك شو نو په مشتری به ددې قیمت واجب وی.دا حکم په ذوات القیم کښې دې.لکه څاروی عددیات متفاوته(یعنی مختلف قسمه) خوکه مبیع د ذوات الامثال څنې وی.لکه مکیلات موزونات،اود مشتری په قبضه کښې هلاك شی.نو په مشتری به ددې مثل واجب وی.ځکه چه د مشتری د قبضه په وجه مبیع مثلی بذات خود مضمون وی.یعنی په مثلی څیزونو کښې د ضمان په طور ددې مثل واجب وی.او که د ذوات القیم څنې وی.نو ددې قیمت به واجب وی.او په ذوات الامثال کښې مثل ځکه واجبیږی.چه صورة او معنی هلاك شوی څیز سره برابری زیاته ده.په نسبت د مثل معنوی یعنی د قیمت.نو په ذوات الامثال کښې مثل صوری واجبیږی.البته که د مثل صوری اداکولونه عاجز وی. نو بیا په دې صورت کښې هم قیمت واجبیږی

د بیع فاسد د فسخ کولوحق

وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُتَعَاقِدَيْنِ فَسْخُهُ په متعاقدینوکښې هریو ته د فساد لرې کولو اختیار شته

(۱) **مذهب الشافعي‌رحمه‌الله**:- په زیربحث مسئله کښې د امام شافعی‌رحمه‌الله په نیز په بیع فاسد کښې قبضه مفید د ملك نه ده.یعنی که مشتری په بیع فاسد کښې د بائع په اجازت سره هم قبضه کړې وی.بیا به هم د امام شافعی‌رحمه‌الله په نیز مشتری د مبیع مالك نه وی.امام مالك او امام احمد‌رحمه‌الله هم ددې قائل دی.

تشريح> **خيار الفسخ لكل واحد**> صورت د مسئلې دادې چه د فساد لرې کولو دپاره په متعاقدينوکښې هر يوکس ته د بيع فاسد فسخ کولو اختيار دې.که د قبضه نه وړاندې وی.اوکه د قبضه نه پس وی.

دليله> د قبضه نه وړاندې د فسخ کولو اختيارځکه دې.چه په مبيع فاسد باندې قبضه مفيد دملك نه وی.نود قبضه نه وړاندې فسخ کول.د مالك کيدلو نه منع کول دی.اود مالك کيدلو نه د منع کولو اختيار بائع اومشتري دواړو ته دې.يعنی بائع د ثمن مالك کيدلو نه منع کيدلې شی.اومشتري.د مبيع مالك کيدلو نه منع کيدلې شی.نو هرکله چه دواړو ته د مالك کيدلونه د منع کيدلو اختيار دې.نو دواړو ته به دفسخ کولو اختيار هم وی.

اود قبضه نه پس که فساد د عقد په صلب کښې وی يعنی په احدالبدلين کښې فساد وی.لکه يو درهم د دوه درهمو په عوض خرڅول.يا کپړې د شرابو په عوض خرڅول. نو په دې صورت کښې فساد ډير قوی دې.او فساد لرې کول دشريعت حق دې.ځکه د شريعت د حق په وجه عقدفاسد لازم نشو.اود عقد غيرلازم په عاقدينوکښې هريوکس د فسخ کولو قدرت لری.ځکه په دې صورت کښې په عاقدينوکښې هريوکس ته د فسخ اختيار ورکړې شو.

المذهبان في المسئلة> البته دومره فرق دې.چه د طرفينو رحمهما الله په نيز چه کوم يوکس هم فسخ کول اوغواړی.د خپل ملګری په موجودګۍ کښې به ئې فسخ کوی.يعنی د خپل ملګری په علم کښې به ئې راولی.نو فسخ دې کړی.

دليلهما> بيع فسخ کول او فساد لرې کول بلاشبه د شريعت حق دې.خو په فسخ کولوکښې په خپل ملګری باندې الزام هم دې.ځکه چه سړې هغه وخت عقد فسخ کولې شی.چه کله دې په دې کښې ضرر محسوس کړی.ګويا فسخ کونکی پخپل ملګری باندې د ضرر رسولو الزام لګولې دې.او په چا باندې الزام لګولو دپاره ضروری دی.چه هغه ته معلوم هم وی.په چاچه الزام لګولې شی.په دې وجه فسخ کونکې د خپل ملګری په موجودګۍ کښې فسخ کولې شی.د ملګری په غيرموجودګۍ کښې د فسخ کولواجازت نشته.

مذهب أبي يوسف رحمه الله> اود امام ابويوسف رحمه الله په نيز دده په موجودګۍ او غيرموجودګۍ دواړه حالتونوکښې فسخ کولې شی.

دليله> عقدفاسد فسخ کول،او فساد لرې کول د شريعت حق دې.اود شريعت حق ادا کولو دپاره د چاموجودګی ياغيرموجودګی شرط نه دې.په دې وجه بيع فاسد د خپل ملګری په موجودګۍ کښې هم فسخ کولې شی.او په غيرموجودګۍ کښې ئې هم فسخ کولې شی.

المذهبان في المسئلة> خود قبضه نه پس دحضرت امام محمد رحمه الله په نيز صرف هغه کس ته د فسخ کولو اختيار دې.د کوم دپاره چه دشرط نفع وی.مثلاً د قرضه ورکولو.يا د هديه ورکولو په شرط کښې د بائع نفع ده.اود مجهول نيتې په شرط کښې د مشتری نفع ده.او شرط چه د کوم کس خلاف وی.هغه ته د فسخ کولو اختيار نه وی.خودا ياد ساتل پکار دی.که،، من له الشرط،، د خپل اختيار لاندې فسخ کول اوغواړی.نود،، من عليه الشرط،، په موجودګۍ کښې به ئې فسخ کوی.

دليله> د حضرت امام محمد رحمه الله دليل دادې.چه په شرط زائد کښې په فساد پيداکيدلو سره فساد قوی نه وی.بلکه عقد قوی وی.

مذهب الشيخين> اود شيخينو رحمهما الله په نيز په عاقدينوکښې هريو ته دفسخ کولو اختيار شته.

په بيع فاسد سره اخستې څيز په بل باندې د خرڅولو حکم

فَإِنْ بَاعَهُ الْمُشْتَرِي فرمائی.که مقبوضه مبيع مشتری خرڅ کړو **نَفَذَ بَيْعُهُ** نو ددې بيع به نافذ وی

تشريح صورت د مسئلې داده.كه يوكس د شراء فاسد په طورباندې څه څيز واخستلو.بيا مشترى د بائع په اجازت سره په مبيع باندې قبضه اوكړله.او مشترى دا ديوبل كس په لاس باندې خرڅ كړلو.نود مشترى دا بيع به نافذ وى.

دليله څكه چه مشترى د بائع په اجازت سره په مبيع باندې قبضه كړې ده.او دې مالك شوې دې.او په مملوكه څيزكښې چونكه د هرقسم تصرف اختيار وى.څكه به مشترى په دې مبيع كښې د تصرف مالك وى.

سقوط حق الاسترداد پاتې شوه داخبره چه د مشترى د خرڅولو نه پس بائع اول ته د مبيع واپس اخستلوحق ولې پاتې نشو.

دلائله ①نو ددې رومبې دليل دادې.چه د بيع ثانى سره د مشترى ثانى يعنى د بنده حق متعلق دې.اود فساد په وجه بيع اول فسخ كول،د حق شرع په وجه دې.يعنى د بنده(د مشترى ثانى) حق تقاضا كوى.چه بيع نافذ كړې شى.اود شريعت د حق تقاضا داده.چه بيع فسخ كړې شى.او قاعده ده.چه حق شرع او حق عبد،د جمع كيدلو په صورت كښې حق عبد مقدم وى.څكه چه شارع يعنى الله ﷻ غنى دې.او بنده محتاج دې.او محتاج د رعايت زيات مستحق دې.په نسبت د غنى.په دې وجه به د بنده يعنى د مشترى ثانى حق مقدم وى.اود مشترى ثانى حق دا تقاضا كوى.چه بيع فسخ نكړې شى.په دې وجه به په دې صورت كښې بيع نه فسخ كيږى.او مبيع به بائع اول طرف ته نشى واپس كولې.

②دويم دليل دادې.چه بيع اول د خپل ذات په اعتبار سره مشروع ده.خود وصف په اعتبار سره غير مشروع ده.لكه چه وړاندې معلوم شوې دى.او بيع ثانى د خپل ذات او وصف دواړو اعتبار سره مشروع ده.يعنى بيع اول فاسد ده.او بيع ثانى صحيح ده.او فاسد د صحيح معارض نشى كيدلې.څكه بيع اول د فاسد په وجه بيع ثانى صحيح نشى ختمولې.او هركله چه بيع ثانى نشى ختميدلې.نود بائع اول حق استرداد (د مبيع واپسى) به هم ساقط شى.

③ دريم دليل دادې.چه په بيع ثانى باندې د مشترى اول قدرت د بائع اول د طرفه حاصل شوې دې.څكه چه مشترى د بائع اول په اجازت سره قبضه كړې ده.نود بائع اول مبيع واپس اخستل به ددې بيع ختمول وى. كومه چه پخپله دده د طرفه مكمل شوې ده.اودا باطل ده.په دې وجه به بائع اول ته د مبيع واپس اخستلو اختيار نه وى.

د آزاد اوغلام،باد ذبيحه اومردار په يو عقد سره د بيع حكم

وَمَنْ جَمَعَ بَيْنَ حُرٍّوَعَبْدٍ اوكوم كس چه غلام او آزاد يوځائې خرڅ كړل أَوْشَاةٍذَكِيَّةٍوَمَيِّتَةٍ يا ذبح كړې شوې چيلې او مرداره چيلې ئې يوځائې خرڅه كړله بَطَلَ الْبَيْعُ فِيهِمَا (١) نود دواړو بيع باطل ده

حل اللغة **جمع:** جمع كړو، **شاة:** چيلې، **ميتة:** مرداره ، **ذكية:** ذبح شوې

تشريح **صورة المسئلة** صورت د مسئلې دادې.كه يوكس آزاد او غلام يوځائې خرڅ كړل.يا مذبوحه چيلې او مرداره چيلې ئې يوځائې خرڅه كړله.نو په دواړه صورتونوكښې د دواړو بيع باطل ده.كه د دواړو ثمن ئې جدا جدا بيان كړې وى.او كه جدا جدا ئې نه وى بيان كړې.امام مالك رحمه الله هم ددې قائل دې.اود امام شافعى رحمه الله هم دا قول دې.اود امام احمد رحمه الله هم يو روايت دادې.

مذهب الصاحبين او صاحبين رحمهما الله فرمائى.كه د دواړو ثمن ئې جداجدا بيان كړې وى.مثلا داسې ئې

(١) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٨٩\٦) والكفاية (٨٩\٦) نقلاً عن القول الراجح (٤٨\٢)-

وتیلي وي چه ما آزاد او غلام یا مذبوحه چیلۍ او مرداره چیلۍ د زرو روپو په عوض واخستل.او په دې کښې د هریو ثمن پنځه سوه روپۍ دي.نو په دې صورت کښې د غلام اود مذبوحه بیع جائز ده.اود آزاد اومردار بیع به باطل وي.او که د دواړو ثمن ئې جداجدا نه وي بیان کړې.نود دواړو بیع به باطل وي.لکه څنګه چه د امام اعظم رحمه الله مذهب دې.د حضرت امام شافعي رحمه الله هم یوقول دادې.اود امام احمد هم یو روایت دادې.

وَمَنْ جَمَعَ بَيْنَ عَبْدٍ وَمُدَبَّرٍ اوچا چې غلام او مدبر جمع کړل أَوْبَيْنَ عَبْدِهِ وَعَبْدِ غَيْرِهِ یا خپل غلام اود بل چا غلام ئې جمع کړل.صَحَّ الْبَيْعُ فِي الْعَبْدِ بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ نود غلام بیع دده د حصې د ثمن په عوض جائز ده.

تشریح> الجمع بين عبده وعبد غيره> او که غلام اومدبر ئې یوځائې خرڅ کړلو.یا ئې خپل مملوك غلام اود بل مملوك غلام یوځائې خرڅ کړلو. د غلام مملوك ددې د ثمن حصې په عوض جائز ده.اود مدبر او غیرمملوك غلام بیع فاسد ده.(١)

دلیله> دلیل دادې.چه فساد په اندازه د مفسد وي.یعنې څومره چه د فاسدولو امر اوموندې شي.فساد به هم په هغه اندازه متحقق کیږي.او مفسد فقط په آزاد او مردار کښې دې.ځکه چه دا دواړه د مال نه کیدلو په وجه محل بیع نه دی.نو هر کله چه مفسد فقط په آزاد اومردار کښې دې.نو فسادبیع به هم دې سره خاص وي.غلام او ذبیحه چیلۍ طرف ته به نه متعدی کیږي.لکه څنګه چه غلام اومدبر یوځائې خرڅولو په صورت کښې د بیع فساد مدبر سره خاص وي.غلام طرف ته نه متعدی کیږي.اودا داسې ده.لکه مثلا یوکس په عقدنکاح کښې اجنبیه (پردۍ) ښځه او خپله خور جمع کړل.نود خور نکاح باطل ده.اود اجنبیه (پردۍ) ښځې صحیح ده.

حکمه اذا لم يسم ثمن كل واحد> خوکه آزاد او غلام ئې یوځائې خرڅ کړل.اود دواړو ثمن ئې جداجدا بیان نکړلو.نود دواړو بیع به فاسد وي.ځکه چه په دې صورت کښې دغلام ثمن مجهول دې.اود ثمن مجهول کیدل مفسد د بیع وي.په دې وجه به په دې صورت کښې د غلام بیع هم فاسد وي.خو چه کله ئې د دواړو ثمن جداجدا بیان کړلو.نود ثمن جهالت نه موندلو په وجه به د غلام بیع درست وي.

بيان البيع المكروه: د فاسد مرتبه چونکه د مکروه د مرتبې نه قوی ده ددې وجې ئې د بیع فاسد بیان وړاندې اوکړو او اوس د بیع مکروه صورتونه بیانوي اود فاسد او مکروه په مینځ کښې فرق هغه دې کوم چه اصولیانو ذکر کړې دې که قبح د وصف متصل په وجه وي.نو فاسد ده.اوکه قبیح د امرمجاور(لاحق امر) په وجه وي.نو مکروه ده.بیا د مکروه دوه قسمونه دی. ① مکروه تحریمی اودا حرامو ته نیزدې وي. ② مکروه تنزیهي اومکروه دا مباح ته نیزدې وي

د نجش تعریف اوشرعي حیثیت

وَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَنِ النَّجْشِ نبی کریم ﷺ د نجش نه منع فرمائیلې ده

تشریح> كراهة النجش> نجش،د نون اوجیم په فتح سره،رسول الله ﷺ د بیع نجش نه منع فرمائیلې ده.

تعریف النجش> او بیع نجش داده.چه مشتری د مبیع ثمن ددې د قیمت په اندازه لګولې دې.خو یوسړې په ثمن کښې اضافه کوي.یعنې وائي. چه زه د مشتری د بیان شوی ثمن نه د دومره زیاتي ثمن په عوض اخلم.حالانکه دده اراده د اخستلو نه وي.بلکه صرف مشتری ته دهوکه ورکول او تیزول مقصود

---

(١) **مذهب زفر رحمه الله:-** اود امام زفر رحمه الله په نیزد غلام او مدبر،اود خپل غلام اود بل کس غلام د دواړو بیع فاسد ده.

وی.چه مشتری نور قیمت هم زیات کړی.او وانخلی او دهوکه یو قبیح امر دې.کوم چه ددې بیع مجاور(پیوست) دې.اود امرقبیح چه د بیع مجاورشي.نو بیع مکروه کیږی.په دې وجه به دا بیع مکروه وی. خو که مشتری د قیمت په آندازه ثمن نه دې لګولې.او بل دویم کس څه پیسې زیاتی کړې.اود قیمت په اندازه ئې کړلو.حالانکه دې اخستل نه غواړی.نودا جائز دی.څکه چه په دې کښې دمشتری د نقصان نه بغیر د یومسلمان یعنی د بائع نفع ده.اوښکاره ده.چه په دې کښې هیڅ باك نشته.

دليله> اود دې د عدم جواز دلیل دا دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی (لاتناجشوا) [1]یعنی د بیع نجش ارتکاب مه کوئ.

وَعَنْ السَّوْمِ عَلَى سَوْمِ غَيْرِهِ اود دویم په نرخ کولو باندې نرخ (بهاؤ) مه کوئ

تشريح> **كراهة السوم علي سوم غيره**> اود یوسړی په معامله برابرولو باندې د نرخ کولو نه هم منع فرمائیلې ده.

دلائله> ① چه حدیث دې.(لايستام الرجل على سوم أخيه ولايخطب على خطبة أخيه) [2]یعنی هیڅ څوك سړې دې د خپل رور په نرخ کولو باندې نرخ (بهاؤ) نه کوی.اود خپل رور په کویژدن دې کویژدن نه کوی.د(لايستام الرجل على سوم أخيه) صورت دادې.چه دوه سړی د یوسامان په عوض باندې راضی شو.یعنی بائع په خرخولو باندې راضی شو.او مشتری په اخستلو باندې راضی شو.اوس دریم سړې راشی.او اووائی. چه زه به هم دا سامان ددې نه د کم ثمن په عوض درکړم.ښکاره ده.چه په دې صورت کښې د سامان والا نقصان دې.اوکه ده سامان والا ته اووئیل.چه زه دا سامان د زیاتی ثمن په عوض اخلم.نو په دې صورت کښې د مشتری نقصان دې.

② اوبله د دې وجې دا بیع ناجائز ده چه د،، سوم علی سوم اخیه،، په صورت کښې د ،،احدالمتعاقدین،، په زړه کښې یره اچول دی.او دوی ته ضرر رسول دی.اودا دواړه څیزونه قبیح دی.خود بیع نه جداکیدلې هم شی.څکه به ددې امورقبیحه په وجه بیع مکروه وی.

صورة الكراهة> علامه مرغینانیؒ فرمائیلی دی.چه،، سوم علی سوم اخیه،، هغه وخت مکروه وی.چه کله عاقدین په معامله کولوکښې په څه ثمن باندې راضی شوې وی.که تر اوسه پورې څوك یوطرف ته مائل شوی نه وی. او دریم کس راغې.او پیسې ئې زیاتی کړلې.نودا به،، سوم علی سوم غیره،، نه وی.بلکه دا بیع،، من یزید،، ده.یعنی نیلامی کول او بولی کولو سره خرخ کول دی.او په نیلامی کولو سره په خرخولوکښې هیڅ باك نشته.لکه چه د حضرت انس ؓ حدیث دې.(أن النبي ﷺ باع قدحاً وحلساً بيع من يزيد) یعنی رسول الله ﷺ یوه پیالۍ او یوټاټ د بیع من یزید په طریقه خرخ کړی دی.یعنی په نیلام سره ئې خرخ کړی دی.

د تلقی جلب حکم

وَعَنْ تَلَقِّي الْجَلَبِ نبی کریم ﷺ د تلقی جلب نه منع فرمائیلې ده وَهٰذَا إِذَا كَانَ يَضُرُّبِأَهْلِ الْبَلَدِ اودا حکم هغه وخت دې.چه د ښار(اوسیدونکو) خلقو ته ضرر رسیږی فَإِنْ كَانَ لَايَضُرُّ نوکه د

۱) من حديث أبي هريرة ؓ أخرجه البخاري في البيوع باب ٦٤ ومسلم في البيوع رقم ١١ وأبوداود في البيوع باب ٤٦ والنسائي في البيوع باب ١٤ ومالك في البيوع رقم ٩٦ وأحمد في المسند(٢/٢٤٢) _

۲) من حديث إبن عمر ؓ أخرجه البخاري في البيوع باب ٥٨ رقم ٢١٣٩ ومسلم في البيوع رقم ٧_

ښارخلقو ته ضرر نه رسيږي فَلَابَأْسَ بِهٖ نوپه دې کښې هيڅ باك نشته.

تشريح ﴿ **كراهة تلقي الجلب** ﴾ د تلقي جلب يو څو صورتونه دي. ① يو صورت دا چه په ښارکښې قحط وي.خوچه کله د ښار بعضو سوداګرو ته د غلې د قافلې راتللو خبرملاؤ شي.نو دوی د ښار نه بهر اوځي.اود قافلې والو نه ټوله غله واخلي.چه د خپلې خوښې په قيمت ئې خرڅه کړي.په دې صورت بيع ځکه مکروه دې.چه په دې صورت کښې د ښارخلق په قحط اود غلې نه کيدلو په وجه په ضرر او پريشانئ کښې مبتلا دی.اود سوداګرو په دې عمل سره به د ښار د خلقو په پريشانئ کښې نوره هم اضافه اوشي.اوخوك په پريشانئ کښې مبتلاکول امرقبيح دې.خودا امرقبيح داسې دې.چه دا د بيع نه جداكيدلې شي.ځکه به په دې وجه بيع مکروه وي.اوپه مذکوره صورت کښې که د ښار خلقو ته ضرر نه وي نو بيا په کښې څه کراهت نشته.

②دويم صورت دا دې چه د قافله والو نه په آرزان قيمت غله واخلي.اود ښار نرخ په دوی باندې پټ اوساتي.او دوی پخپله هم د ښار د قيمت نه ناخبره وي. په دې صورت کښې چونکه د راتلونکې قافلې په خلقو باندې نرخ پټ کړې شوې دې.او دوی ته دهوکه ورکړې شوې ده.او دهوکه ورکول امرقبيح دې.ځکه به په دې صورت کښې هم بيع مکروه وي.

د ښارئي والا د کلي والا دپاره د خرڅولو حکم

وَعَنْ بَيْعِ الْحَاضِرِ لِلْبَادِي اود کلي والا دپاره د ښار د اوسيدونکي خرڅولو نه منع (فرمائيلې شوې) ده

حل اللغة ﴿ **الحاضر**: ښاري ، **البادي**: کلي وال

تشريح ﴿ **كراهة بيع الحاضر للبادي** ﴾ ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه بيع حاضر للبادي مکروه ده.

دليله ﴾ ځکه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی.(لايبيع الحاضرللبادی)[1]د دې صورت به دا وی چه ديو ښاری سره غله ده.خودې ئې د ښار په خلقو نه خرڅوی.بلکه د کلو او بانديچو په خلق ئې خرڅوی.او ددې نه مقصدګران قيمت وصول کول وی.ځکه چه د ښارخلق د نرخ اومعاملاتو نه د خبريدلو په وجه په ګران قيمت باندې په د اخستلو نه راضی کيږي.اود کلوخلق به د خپلې سادګئ په وجه دده په چکر(دهوکه) کښې راشي. نوپه دې صورت کښې که د ښارخلق په قحط اوپه تنګئ کښې وی.او دده په دې عمل سره به د ښار اوسيدونکو ته تکليف وی. نو بيع مکروه ده.ځکه چه په دې کښې دوی ته ضرر دې

صورة عدم الكراهة ﴾ اوکه د ښار خلق په وسعت (فراخئ) کښې وی.او دده په دې عمل يعنی دکلو والو په خلقو باندې خرڅولوسره څه ضرر نه کيږي.نو په دې کښې هيڅ باك نشته.

د جُمعې د اذان په وخت دبيع حکم

وَالْبَيْعُ عِنْدَ أَذَانِ الْجُمُعَةِ د جمعې د اذان په وخت بيع مکروه ده

تشريح ﴾ د جمعې د اذان نه پس اخستل خرڅول هم مکروه دی.

دليله ﴾ ① د الله تعالى ارشاد دې. {وَذَرُوا الْبَيْعَ} چه د جُمعې اذان اوشی.نود جُمعې مونځ اوخطبې طرف ته په تلوار ورځئ.او کاروبار بندکړئ.

وجه المنع ﴾ په دې کښې قباحت دې.ځکه چه بعض وخت که د اذان نه پس ناسته يا په ولاړه اخستل خرڅول اوکړې شی.نو،، سعى الى الجمعه،، کوم چه واجب ده.په دې کښې خلل پيداکيږي.او په

---

[1] الحديث المذكور من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه البخاری في الشروط باب ١١ رقم ٢٧٢٧ ومسلم في البيوع رقم ١٢.

امرواجب کښې خلل واقع کیدل یوقبیح امر دې.نو ددې امرقبیح په وجه د جمعې د اذان نه پس اخستل خرڅول مکروه دی.البته که جامع مسجد ته په تلو تلوکښې څه معامله اوشوه.نو په دې کښې څه باك نشته.ځکه چه ددې په وجه په، ، سعی الی الجمعه، ،کښې خلل نه پیدا کیږی.

المراد من الاذان﴿ او پاتې شوه داخبره چه د اذان نه کوم اذان مراد دې.نو په کتاب الصلاة کښې تیرشوی دی.چه رومبې اذان مراد دې.په دې شرط چه اذان د زوال نه پس وئیلې شوې وی.

په ذکرشوی بیوع کښې د کراهت وجه

وَكُلُّ ذٰلِكَ يُكْرَهُ اودا ټول بیوع مکروه دی وَلَا يَفْسُدُ بِهِ الْبَيْعُ اود کراهت په وجه به بیع فاسد نه وی.

تشریح﴿ ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه تر اوسه پورې د کومو بیوع نه نهی ذکر شوه یعنی د بیع النجش نه واخله تر بیع عند اذان الجمعة پورې چه څومره بیوع ذکردی.ټول مکروه دی.او د کراهت په وجه به بیع فاسد نه وی.

دلیل عدم الفساد﴿ ځکه چه فساد یعنی قبح په داسې معنی کښې ده.کومه چه د عقد نه خارج ده. البته د عقد سره مجاوردې اوپاتې شو صلب عقد اود صحت شرائط نوپه هغې کښې هیڅ قباحت نشته.او کوم قباحت چه په خارجی مجاور معنی کښې وی.د هغې په وجه بیع مکروه کیږی.فاسدیږی نه.په دې وجه په ذکرشوی ټولو صورتونوکښې به بیع مکروه وی.فاسد به نه وی.

بَابُ الْإِقَالَةِ

ترجمه (دا) باب د اقاله (په بیان کښې) دې.

تشریح﴿ **وجه تاخیرالباب عن الباب السابق**﴿ بیع فاسد اوبیع مکروه د معصیت او ګناه په وجه واجب الرد دی.او رد د بیع د اقاله په ذریعه سره کیږی.نوځکه ئې د باب بیع الفاسد والمکروه نه پس باب الاقاله ذکر کړلو.

تشریح الإقالة﴿ اقاله د قول نه مشتق دې.او ددې همزه د سلب دپاره ده.معنی به ئې دا وی.چه، ، تیرشوی قول زائل کول، ،

علامه ابن الهمام او علامه بدرالدین عینی رحمه الله فرمائیلی دی.چه اقاله د قول نه مشتق منل غلط دی.صحیح داده.چه لفظ اقاله د قیل نه مشتق دې.یعنی عین کلمه ئې، ، یاء، ، ده.واؤ نه ده.او په دې باندې دلیل دادې.چه(قلت البیع)، ، ما بیع ختمه کړه، ،د قاف په کسره سره وئیلې شی.اود قاف کسره د اجوف یائی په صورت کښې راځی.د واوی په صورت کښې نه راځی.ځکه چه د اجوف واوی په صورت کښې فا کلمه مضموم وی.لکه(صمت)، ،ماروژه اونیوله، ،د صام یصوم نه راځی.نواقاله د باب افعال مصدر دې.چه ددې معنی د بیع ختمولو راځی.

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی {مَنْ أَقَالَ مسلما چه څوك مسلمان (په بیع باندې خپیمانه) ته دده د بیع اقاله اوکړی أَقَالَ اللّٰهُ عَثْرَتَهُ}(۱)نو الله تعالی به دده لغزش (خطایانې) لرې کړی.

۱) من حدیث ابی هریرة رضی الله عنه اخرجه ابوداود فی البیوع باب ۵۲ رقم ۳۴۶۰ وابن ماجه فی التجارات باب ۲۶ رقم ۲۱۹۹ واحمد فی المسند(۲/۲۵۲) والحاکم فی المستدرک (۲/۴۵) البیهقی فی السنن الکبری (۶/۴۴) رقم ۱۱۱۲۸ _

حل اللغة ﴿ **الإقالة**: بيع ماتول. **عثرة**: لغزش\گناه

تشريح ﴿ دغه شان د اقاله د جواز دپاره دليل د رسول الله ﷺ ارشاد دي. (مَنْ أَقَالَ مسلما أَقَالَ اللهُ عَثْرَتَهُ) يعنى كه كوم كس چې يو مسلمان سره بيع ماته كړه (چې هغه پرې خفه وی) نو الله تعالى به ددې عاقد آخر لغزشونه (گناهونه) لرې كړى.گويا په اقاله كولو باندې د الله تعالى رسول ﷺ د ثواب خبر وركړې دې.يا نې د ثواب دعا كړې ده.او دا دواړه په امر مشروع باندې مرتب كيږى.په غيرمشروع باندې نه مرتب كيږى.نو ثابته شوه.چه اقاله مشروع ده.

د اقاله شرعي حيثيت

الْإِقَالَةُ جَائِزَةٌ فِي الْبَيْعِ للبائع والمشترى بِمِثْلِ الثَّمَنِ الْأَوَّلِ اقاله په بيع كښې د بائع او مشترى دپاره د ثمن اول د مثل په عوض جائز ده.

تشريح ﴿ ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائى.چه د بيع اقاله د ثمن اول د مثل په عوض جائز ده.د اقاله په جواز باندې د ټولو مسلمانانو اجماع ده.

د ثمن اول نه د كموالي زياتوالي د شرط حكم

فَإِنْ شَرَطَا أَكْثَرَ مِنْهُ أَوْ أَقَلَّ نوكه د ړومبى ثمن نه د زياتوالى يا كموالى شرط ئې اوكړو فَالشَّرْطُ بَاطِلٌ نو شرط باطل دې وَيَرُدُّ مِثْلَ الثَّمَنِ الْأَوَّلِ او بائع به د ثمن اول مثل واپس كوی.

تشريح ﴿ **صورة المسئلة** ﴿ صورت د مسئلې دادې.كه په اقاله كښې د ثمن اول نه د زياتوالى شرط اوكړلو.يائې د كموالى شرط اوكړلو.نوداشرط باطل دې.او په بائع به ثمن اول واپس كول واجب وی.مثلا يوخيز د زر روپو په عوض خرڅ كړې شو.اوبائع په ثمن باندې او مشترى په مبيع باندې قبضه اوكړله. نواوس كه اقاله كول وی.نو په بائع به زر روپۍ واپس كول واجب وی.د زر روپو نه د كموالى يا زياتوالى شرط لګول به ټيك نه وی.لكه كه بائع د دوه سوه روپو كمولوشرط اولګولو.يا مشترى د دوه سوه روپو زياتولو شرط اولګولو .نودا شرط به باطل وی.او په بائع به فقط زر روپۍ واپس كول لازم وی.

وهي فَسْخٌ فِي حَقِّ الْمُتَعَاقِدَيْنِ دا اقاله د عاقدينو په حق كښې فسخ ده. بَيْعٌ جَدِيدٌ فِي حَقِّ غَيْرِهِمَا ددې دواړو نه د علاوه په حق كښې بيع جديد ده. فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ([1]) په قول د امام ابوحنيفه رحمه الله كښې

تشريح ﴿ **الاقالة فسخ في حق المتعاقدين** ﴿ صاحب قدورى رحمه الله فرمائى.چه د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز اقاله د متعاقدينو په حق كښې فسخ د بيع ده.او ددې دواړو نه د علاوه په حق كښې بيع جديد ده.د عاقدينو په حق كښې د بيع فسخ كولو فائده داده.چه په بائع باندې فقط د ثمن واپس كول واجب دى.اود ثمن نه د زياتوالى يا كموالى كوم شرط لګولې وو.هغه باطل دې.

دليله ﴿ كه اقاله ددې دواړو په حق كښې فسخ نه وه.بلكه بيع وه.نو څه چه دوی متيعن كړی وو.كه د ثمن اول نه زيات وو.ياد ثمن اول نه كم وو.هغه به واجب وو.څكه چه په بيع كښې عاقدين كوم ثمن متعين كړی.هم هغه واجب وی.ددې نه علاوه واجب نه وی.نو په اقاله كښې په بائع باندې د ثمن اول واجبيدل اود عاقدينو متعين شوې نه واجبيدل ددې خبرې دليل دې.چه اقاله دعاقدينو په حق كښې

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الإمام رحمه الله كذا في ردالمحتار(١٦٤\٤) والهندية (١٥٦\٣) نقلاً عن القول الراجح (٥٠\١٢)-

فسخ د بیع ده.او بیع جدید نه ده.

الاقالة بیع جدید في حق غیرهما> اقاله دغیر عاقدینو په حق کښې بیع جدید ده.ددې فائده به په دې مثال کښې ښکاره کیږی.چه یو سړی کور واخستلو.خوشفیع د حق شفعه دعوه اونکړله.خپل حق ئې پریخودلو.بیا عاقدینو اقاله اوکړله.اوکور د بائع په ملك کښې راغی:نوهم دغه شفیع که د شفعه مطالبه کول اوغوښتل.نو ده ته دا اختیارشته.یعنی شفیع شفعه طلب کولې شی.ځکه چه د شفیع په حق کښې اقاله بیع جدید ده.ګویا مشتری بائع باندې هم هغه کور خرڅ کړې دې.کوم ئې چه دده نه اخستې وو.اود بیع په صورت کښې شفیع ته حق شفعه رسیږی.په دې وجه د اقاله په صورت کښې هم شفیع ته د حق شفعه طلب کولو اختیار وی.بهرحال دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز اقاله د عاقدینو په حق کښې فسخ د بیع،اود غیر عاقدینو په حق کښې بیع جدید ده.

صورة بطلان الاقالة> خو که اقاله د بیع فسخ کول ګرځول ممکن نه وی.نو اقاله به باطل وی.مثلاً یوسړی وینځه خرڅه کړله.او مشتری په دې باندې قبضه اوکړله.بیا ددې وینځې بچې پیدا شو.اوس که ددې عاقدین اقاله کول اوغواړی.نو ټیك نه ده.ځکه چه اقاله دعاقدینو په حق فسخ د بیع ده او په مبیع کښې داسې زیاتوالې کوم چه د مبیع نه جدا وی.فسخ د بیع منع کوی.نو منفصله زیاتوالې یعنی بچې د شریعت په حق کښې د بیع فسخ کولو دپاره مانع دې.او هرکله چه د بچی په وجه فسخ د بیع ممکن نشوه.نو اقاله به باطل وی.او مخکینی بیع به پخپل حال باندې باقی وی.

دلیله> دلیل دا دې چه اقاله زوال د ملك دپاره موضوع ده.او بیع اثبات د ملك دپاره موضوع ده.او لفظ د خپل معنی د ضد احتمال نه لری.نو هرکله چه لفظ د اقاله د ابتداء بیع احتمال نه لری.نود فسخ متعذر کیدلو په صورت کښې به لفظ د اقاله په ابتداء دبیع باندې نشی محمول کولې.او هرکله چه لفظ د اقاله په بیع باندې نشی محمول کولې.او فسخ متعذر ده.نود اقاله باطلول متعین شو.

د ثمن یا مبیع د هلاکت په صورت کښې د اقاله حکم

وَهَلَاكُ الثَّمَنِ لَا يَمْنَعُ صِحَّةَ الْإِقَالَةِ اود ثمن هلاکیدل، اقاله صحیح کیدلو نه نه منع کوی وَهَلَاكُ الْمَبِيعِ يَمْنَعُ صِحَّتَهَا اود مبیع هلاکیدل ددې نه منع کوی.

تشریح> صورة المسئلة> مسئله داده.چه د عقدبیع نه پس که بائع سره ثمن هلاك شو.او عاقدینو اقاله کول اوغوښتل.نو اقاله به ټیك وی.خوکه مبیع هلاك شو.نو اقاله به ټیك نه وی.حاصل دا چه ثمن هلاکیدل،د اقاله د صحت دپاره مانع نه دې.خو مبیع هلاکیدل د اقاله د صحت دپاره مانع دې.

دلیله> دلیل دادې.چه اقاله نوم دې.د بیع لرې کولو،او بیع مبیع سره قائم وی.ثمن سره قائم نه وی.ځکه چه په عقدبیع کښې مبیع اصل وی.ثمن اصل نه وی.ثمن خو په منزله د وصف وی.هم دا وجه ده.که ثمن موجود نه وی.نو.عقدبیع بیاهم جائز وی.خوکه مبیع موجود نه وی.نو عقدبیع نه جائزکیږی.نو که مبیع موجود نه وی.نو بیع به موجود نه وی.اوهرکله چه بیع موجود نشی.نو ددې رفع کول یعنی اقاله به هم ټیك نه وی.خوکه ثمن موجود نه وی.او مبیع موجود وی.نو بیع به موجود وی.او هرکله چه بیع موجود ده.نو ددې فسخ یعنی اقاله به هم ټیك وی.

د بعض مبیع هلاکت په صورت کښې د اقاله حکم

وَإِنْ هَلَكَ بَعْضُ الْمَبِيعِ نوکه د مبیع یوه حصه هلاك شوه جَازَتِ الْإِقَالَةُ فِي بَاقِيهِ نو په باقی کښې اقاله جائز ده

تشریح> صورة المسئلة> مسئله داده.که د مبیع څه حصه هلاکه شوه.نو په باقی مبیع کښې اقاله جائز

ده.مثلاً یو من په دوه روپۍ حساب سره نې لس منه غنم په شل روپو باندې واخستل.بیا څلور منه خرج شو.او په باقي شپږ منه غنموکښې دوارو اقاله اوکړله.نوجائز ده.

دلیله دلیل دادې چه باقي مبیع یعنې شپږمنه غنموکښې بیع موجود ده.نو ددې اقاله هم جائزده.

بَابُ الْمُرَابَحَةِ وَالتَّوْلِيَةِ

ترجمه (دا) باب د مرابحه اوتولیه (په بیان کښې) دې.

تشریح د دې باب پورې دهغه بیوع بیان وو د کومو تعلق چه د بیع سره وو او ددې نه پس د هغه بیوع بیان کیږی د کومو تعلق چه د ثمن سره وی یعنې بیع مرابحه اوبیع تولیه

أقسام البیع بإعتبارالثمن د ثمن په اعتبارسره د بیع څلور قسمونه دی.په دې شرط چه د ثمن په مقابله کښې سامان وی. ① بیع مساومه: د سامان نرخ (بهاؤ) کول.په دې بیع کښې ثمن اول طرف ته قطعاً توجه نه کیږی. ② بیع وضعیه: د ثمن اول نه په کم عوض باندې بیع کول. ③ بیع مرابحه: د ثمن اول نه په زیاتی عوض باندې بیع کول. ④ بیع تولیه: د ثمن اول په مثل باندې بیع کول. (کذا قاله صاحب الکفایة)

د بیع مرابحه او تولیه تعریف اوشرعی حیثیت

اَلْمُرَابَحَةُ نَقْلُ مَا مَلَكَهُ بِالْعَقْدِ الْأَوَّلِ مرابحه داده.چه د عقداول په وجه دکوم څیز مالك شوې دې بِالثَّمَنِ الْأَوَّلِ مَعَ زِيَادَةِ رِبْحٍ دا د ثمن اول په عوض په زیات نفع سره منتقل کول.

تشریح **تعریف المرابحة** ابو الحسن قدوری رحمه الله د مرابحه او تولیه تعریف کوی.فرمانی.بیع مرابحه داده.چه مشتری د څومره قدرې ثمن په عوض د سامان اخستې دې.په دې باندې څه معلومه نفع زیاتی کړی.او په بل چا نې خرڅ کړی.مثل په زر روپۍ نې واخستلو.او بل سړی په ده اعتماد اوکړلو.او په زر روپو نې سل روپۍ زیاتی کړلې.اودا سامان نې واخستلو.نودې ته بیع مرابحه ونیلې شی.

وَالتَّوْلِيَةُ او بیع تولیه داده نَقْلُ مَا مَلَكَهُ بِالْعَقْدِ الْأَوَّلِ چه د عقداول په وجه د کوم څیز مالك شوې دې بِالثَّمَنِ الْأَوَّلِ مِنْ غَيْرِ زِيَادَةِ رِبْحٍ دا د ثمن اول په عوض د زیاتی نفع نه بغیر منتقل کول.

تشریح **تعریف التولیة** او بیع تولیه داده.چه د څومره قدرې ثمن په عوض نې اخستې دې.د نفع اخستلو نه بغیر نې هم په دومره عوض خرڅ کړی.مثلاً د زر روپو په عوض نې اس واخستلو.اوهم د زر روپو په عوض نې خرڅ کړلو. نودې ته بیع تولیه ونیلې شی.

جواز البیعان علامه مرغینانی رحمه الله فرمانیلی دی.چه دا دواړه بیع جائز دی.ځکه چه په دې دواړو بیع کښې ① اول خود جواز ټول شرطونه موجود دی. ② دویم داچه دداسې قسمه بیع ضرورت هم دې.

دلیل الضرورة دلیل دا دې چه ډیرکرته یو سړې غبی اود تجارت د معاملاتو نه ناخبره وی.نو ده ته ددې خبرې ضرورت وی.چه دې د یو پوهه او تجربه کار په فعل باندې اعتماد کوی.او خپل خان په دې خوشحالوی.چه مادا سامان هم دومره قدرې ثمن په عوض اخستې دې.د څومره قدرې ثمن په عوض چه فلانی پوهه کس اخستې وو.یا ما دومره قدرې نفع ورکړې ده.او اخستې مې دې.په دې بیوع کښې به ناخبره سړی ته د دهوکې خوړلو شبه نه وی.بلکه دغه وخت یوقسم اطمینان حاصل وی.بهرحال هرکله چه د جواز شرطونه هم موجود دی.اود خلقو عادت (اودستور) هم دادې.او ضرورت هم ددې شته دې.نو ددې په جوازکښې څه شبه ده.یقیناً دا دواړه بیوع به جائز وی.

الدلائل النقلية لجواز التولية> د بیع تولیه جواز د حدیث نه هم ثابت دې.نقل دی.چه کله نبی کریم ﷺ د هجرت اراده اوفرمائیله.نوصدیق اکبر رضی الله عنه دوه اوښان واخستل.نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل.چه په دې دواړو کښې یوماته د تولیه په طریقه راکړه.یعنی په څومره چه دې اخستې دې.په هم دومره ئې په ما راخرڅ کړه.ابوبکر رضی الله عنه اوفرمائیل.چه دا ستا دپاره د ثمن نه بغیر دې.رسول الله ﷺ اوفرمائیل.چه د ثمن نه بغیر خو به ئې وانخلم.(۱)

② او په مصنف ابن عبدالرزاق کښې د سعیدبن المسیب رضی الله عنه حدیث دې.(أن النبی ﷺ قال التولیة والإقالة والشركة فلا بأس به) یعنی د الله تعالیٰ رسول ﷺ فرمائیلی دی.چه تولیه، اقاله، او شرکت جائز دې.په دې کښې هیڅ باك نشته.

د بیع مرابحه اوتولیه عوض مثلی کیدل ضروری دی

وَلَا تَصِحُّ الْمُرَابَحَةُ وَالتَّوْلِيَةُ فرمائی.او بیع مرابحه او تولیه جائز نه ده **حَتّٰى يَكُونَ الْعِوَضُ مِمَّا لَهُ مِثْلٌ**.تردې چه ثمن داسې څیز وی.چه ددې مثل وی.

تشریح> جواز المرابحة والتولية في العوض المثلية>ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه بیع مرابحه او بیع تولیه هغه وخت جائز ده.چه کله ثمن د ذوات الامثال څنې وی.یعنی د مکیلاتو،یا موزونات، یا د عددیات متقاربه څنې وی.اوکه ثمن ذوات القیم څنې وی.مثلا کپړې، یا څاروی، یا غلام ئې ثمن جوړکړې وی.نو بیا به بیع مرابحه او تولیه جائز نه وی.

دلیله> دلیل دادې.چه وړاندې تیر شوی دی.چه په بیع مرابحه کښې او بیع تولیه کښې د خیانت اوشبه خیانت دواړو نه احتراز ممکن دې.مثلاً یو غلام ئې د زر دینار په عوض واخستلو.بیا په بل باندې د یوولس سوه دینار په عوض خرڅ کړلو.یا ئې هم د زر روپو په عوض خرڅ کړلو.نو په ړومبی صورت کښې به بیع مرابحه وی.او په دویم صورت کښې به بیع تولیه وی.ښکاره ده.چه نه په دې کښې خیانت شته.اونه پکښې د خیانت شبه شته.یا مثلاً یوغلام ئې د سل صاع غنمو په عوض واخستلو.بیا ئې دا لس دپاځه سل صاع غنمو په عوض خرڅ کړلو.یا ئې د سل صاع غنمو په عوض خرڅ کړلو.نو په ړومبی صورت کښې بیع مرابحه او په دویم صورت کښې به بیع تولیه وی.په دې کښې نه خیانت دې.اونه د خیانت شبه ده.اود ذوات القیم په صورت کښې اګرچه د خیانت نه ځان ساتل ممکن دی.خود شبهة الخیانت نه ځان ساتل ممکن نه دی.مثلاً یوکس یو غلام د اس په عوض واخستلو.بیا ئې دا غلام مرابحةً یا تولیةً خرڅ کړلو.نو مشتری ثانی یعنی حامد د هغه څیز په اداکولو قادر دې.د کوم څیز چه ده التزام کړې دې.یعنی په بیع اول کښې چه کوم ثمن وو.یعنی اس،حامد ددې په اداکولو قادر دې.او په دې صورت کښې نه خیانت دې.اونه د خیانت شبه ده.ځکه جائز دې.

---

١) غربه الزيلعى رحمه الله ثم قال وروى عبدالرزاق فى مصنفه ....عن سعيد بن المسيب رحمه الله عن النبى ﷺ قال ((التولية والإقالة سواء لا باس به)) ثم ذكرسنداً آخر فقال أخبرنا ابن جريج عن ربيعة عن النبى ﷺ حديثاً مستفاضا بالمدينة قال من إبتاع طعاماً فلا يبيعه حتى يقبضه ويستوفيه إلا أن يشرك فيه،او يوليه اويقبله ثم ذكر حديث أبى بكرصديق رضی الله عنه حيث قال فى البخارى عن الزهرى عن عروة عن عائشة رضی الله عنها وليه أنا أبابكرقال للنبى ﷺ خذ بأبى انت وامى يا رسول الله إحدى راحلتى هاتين فقال ﷺ بالثمن الحديث ليس فيه غيرذلك (كذا فى نصب الراية ٦٣/٤ _

په راس المال کښې خرچه حسابول

وَيَجُوزُ أَنْ يُضِيفَ إِلَى رَأْسِ الْمَالِ أُجْرَةَ الْقَصَّارِ وَأُجْرَةَ الصباغ والطِّرَازِ وَالنَّقْلِ وَأُجْرَةَ حَمْلِ الطَّعَامِ او په راس المال کښې د دهوبي مزدوري، اود رنګ ورکونکي مزدوري او د نقش ونګار جوړونکي مزدوري، اود ګلونو جوړونکي مزدوري، اود غلې منتقل کولو مزدوري ملاوول جائز دي.

حل اللغة ﴿ **يضيف** : ملاو کړي ، **القصار** : دهوبي ، **الطراز** : نقش اونګارکونکي ، **الصبغ** : رنګ

تشريح ﴿ **جواز اضافة بعض الاشياء الي راس المال** ﴾ ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه د بيع مرابحه اوبيع توليه کولو په وخت راس المال يعنې ثمن سره د دهوبي مزدوري ملاوول جائز دي.مثلا يو تهان ئې په سل روپۍ واخستلو.بيا ئې دهوبي ته پنځه روپۍ مزدوري ورکړله.اودا (کپړه) ئې اووينځله.نو اوس مشتري دا تهان په پنځه دپاخه سل روپۍ باندې په نفع مرابحة يا د نفع نه بغيرد پنځه دپاخه سل روپو په عوض توليه خرڅولې شي.دغه شان که په کپړه ئې ګلونه (نقش ونګار) جوړکړل.نو ددې نقش ونګار کونکي مزدوري د راس المال سره د ملاوولو اجازت دې.دغه شان د رنګريز مزدوري ملاوول جائز دي.او دغه شان د ګلونو جوړونکي مزدوري ملاوول جائز دي.مثلا يوسړي په سل روپۍ باندې کمبل يا څادر واخستلو.بيا ئې چاته لس روپۍ مزدوري ورکړله.او ددې دواړو طرفونو ته ئې ګلونه (نقش ونګار) جوړکړل.نواوس که دا سړې د مرابحه يا توليه په طريقه خرڅول اوغواړي.نود مرابحه په صورت کښې به په لس دپاخه سل روپۍ باندې نفع اخلي.اود توليه په صورت کښې به ئې د لس دپاخه سل روپو په عوض خرڅوي.اودغه شان د يوځائې نه بل ځائې ته د غلې اوړلو مزدوري (يعنې کرايه) راس المال سره ملاوول جائز دي.مثلاً يوسړي په ديوبند کښې لس منه غنم د دوه سوه روپو په عوض واخستل.بيا ئې شل روپۍ د بار زاوړلو مزدوري(کرايه) ورکړله.اودا غله ئې صبا نپور ته منتقل کړله.نو اوس که مشتري په صبا نپورکښې دا غنم مرابحة يا توليةً خرڅول اوغواړي.نود بارراوړلو مزدوري يعنې شل روپۍ راس المال سره ملاوولې شي.نود مرابحه په صورت کښې شل دپاخه دوه سوه روپۍ باندې نفع اخلي.اود توليه په صورت کښې به ئې د دوه سوه شل روپو په عوض خرڅوي.بهرحال په بيع مرابحه اوتوليه کښې راس المال سره د دهوبي،اود نقش ونګار کونکي،د رنګريز،اود ګلونو جوړونکي اود غلې منتقل کونکي مزدوري ملاوول جائز دي.

دلائله ﴿ ① دليل دادې.چه د تاجرانو په عرف کښې ددې څيزونو مزدوري(خرچه) راس المال سره ملاوول جائز دي.او عرف يو شرعي حجت دې.په دې وجه د ذکرشوي څيزونو مزدوري د راس المال سره ملاوول جائز دي.

② دويم دليل کوم چه د فقهاؤ يوه قاعده هم ده.دادې.چه کوم څيز پخپله په مبيع کښې يا ددې په قيمت کښې زياتوالې کوي.د هغې راس المال سره ملاوول جائز دي.

او کوم څيزونه چه په متن کښې ذکر دي.دا ټول هم په دې صفت کښې دي.ځکه چه رنګ، نقش ونګار، ګلونه جوړول،اود کپړې وينځلو سره په مبيع کښې زياتوالې کيږي.او په بار راوړلو سره قيمت زياتيږي.ځکه چه په ځائې بدلولو سره قيمت بدليږي.هم دا وجه ده.چه د يوڅيز قيمت يوځائې کښې کم وي.او په بل ځائې کښې زيات وي.

دا قاعده اګرچه صحيح ده.خو کله کله ددې خلاف هم کيدلې شي.يعنې داسې کيږي.چه د کوم ځائې نه غله منتقل شوې ده.هلته کښې قيمت زيات وي.اوکوم ځائې طرف ته چه منتقل شوې وي.هلته کښې قيمت کم وي.نو اوس په داسې صورت کښې به په باراوړلو سره قيمت کميږي.زياتيږي به نه.نود سوداګرو عرف بنياد ګرځول زيات مناسب او غوره دي.

د بائع دپاره د استعمال الفاظ

وَيَقُولُ قَامَ عَلَيَّ بِكَذَا او داسې به وائي.(چه دا څيز) ماته په دومره کښې پريوتي دي وَلَايَقُولُ اشْتَرَيْتُه بِكَذَا اودا به نه وائي.چه ما دا په دومره باندې اخستي دي

تشريح> مايقوله المشتري؟> ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه کوم خائې کښې راس المال يعنی ثمن سره پورتنۍ خرچه ملاوولو اجازت دي.هلته کښې به مرابحة يا توليـة خرڅولو په وخت دا وائي.چه دا څيز ماته په دومره روپو باندې پريوتي دي.خکه چه دا ونيل صداقت او رشتيا دی.خودا به نه وائي.چه مادا څيز په دومره روپو باندې اخستي دي.خکه چه دابه دروغ وی.او دروغ ونيل حرام دی.خوکه يوکس سامان په سل روپۍ باندې واخستلو.بيا ئې په دې سامان باندې ثمن زيات مثلاً پنځيشت دپاڅه سل روپۍ اوليکلې.بيا ده په ليکلی شوو باندې مرابحه اوکړله.مثلاً مشتری اوونيل.چه کوم رقم په سامان باندې ليکلې شوې دې.د لس روپو په نفع سره ئې ددې په عوض خرڅوم.يعنی يوسل پنځه ديرش روپۍ په عوض ئې خرڅوم.نودا جائز دی.په دې صورت کښې به خونه دا وائي.چه دا سامان ماته په پنځيشت دپاڅه سل روپۍ پريوتي دي.اونه به دا وائي.چه ما د يوسل پنځيشت روپو په عوض اخستي دي.خکه چه دا دواړه خبرې دروغ دی.که داسې اووائي.چه په سامان باندې يوسل پنځيشت روپۍ ليکلی شوی دی.په دې باندې لس روپۍ نفع اخلم.او خرڅومه ئې.په داسې ونيلوکښې به د دروغو نه مجرم کيږي.

په مرابحه کښې د خيانت په خبريدلو سره د بيع فسخ کولو يا نافذکولوحکم

فَإِنْ اطَّلَعَ الْمُشْتَرِي عَلَى خِيَانَةٍ فِي الْمُرَابَحَةِ بيا که مشتری په مرابحه کښې په څه خيانت باندې خبرشو فَهُوَ بِالْخِيَارِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ نود ابوحنيفه رحمه الله په نيز مشتری ته اختيار دي.که غواړي.نودا دې د پوره ثمن په عوض واخلي وَإِنْ شَاءَ رَدَّه اوکه غواړي.نودا دې واپس کړي

حل اللغة> أطلاع: خبريدل، **الترک:** پريخودل، **الإسقاط:** ساقط کول، **الثمن:** قيمت

تشريح> حکم ظهور الخيانة في المرابحة> صورت د مسئلې دادې.چه يوسړی يو څيز مرابحةً خرڅ کړلو.مثلاً دا ئې اوونيل.چه ما دا ګهړۍ په دوه نيم سوه روپۍ اخستې ده.زه پنځوس روپۍ نفع اخلم.او خرڅوم ئې.دويم کس يعنی مشتری دابيع مرابحه قبول کړله.بيا مشتری ته پته اولګيدله.چه زما بائع دا ګهړۍ دوه سوه روپۍ باندې اخستې وه.ده ماسره د پنځوسو روپوخيانت کړې دی.مشتری ته د خيانت علم يا خو د بائع په اقرار کولوسره اوشو.يعنی بائع د خرڅولو نه پس اقرار اوکړلو.چه ما دا ګهړۍ په دوه سوه روپۍ اخستې وه.او يا مشتری د خيانت دعوه اوکړله.اود بينه پيش کولو نه عاجزشو.اود بائع نه ئې د قسم مطالبه اوکړله.خوبائع د قسم نه انکار اوکړلو.نوپه دې صورت کښې به هم د بائع خيانت ثابت شی.بهرحال د بيع مرابحه نه پس که مشتری د بائع په خيانت باندې خبرشو.نود حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز مشتری ته اختيار دې.چه مشتری مبيع يعنی ګهړۍ په پوره ثمن يعنی د دوه نيم سوه روپو په عوض واخلي.يابيع ختم کړي.

وَإِنْ اطَّلَعَ عَلَى خِيَانَةٍ فِي التَّوْلِيَةِ اوکه په توليه کښې مشتری په خيانت باندې خبرشو أَسْقَطَهَا مِنَ الثَّمَنِ[1] نود خيانت مقدار دې د ثمن نه ساقط کړي.

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(١٤\١٧٤) وكنز الدقائق (٣٢٣) والقدوری (ص،٧٣) نقلاً عن القول الراجح (٢\٥٢)-

تشريح ﴿ **حكم ظهور الخيانة في التولية** ﴾ اوكه بيع توليه كښې په خيانت باندې خبرشو. مثلاً بائع اووئيل چه مادا ګهړئ په دوه نيم سوه روپئ اخستې وه. اود نفع اخستلو نه بغير ئې په دوه نيم سوه روپئ خرڅوم. دويم کس دا ګهړئ واخستله. بيا مشتري ته په تيرو شوو دوو طريقو (د بائع د خيانت اقرار يا د قسم نه انکار) په يوې طريقې سره معلومه شوه. چه ده دا ګهړئ په دوه سوه روپئ اخستې وه. اود پنځوس روپو خيانت ئې کړې دې. نود حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به مسمی مقدار يعنی په دوه نيم سوه روپو کښې د خيانت مقدار يعنی پنځوس روپئ د بائع نه واپس اخلی. اوکه ثمن ئې ادا کړې نه وی. نود خيانت مقدار دې کم کړی. باقی دوه سوه روپئ دې ورکړی.

دليله ﴾ د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې. چه د بيع توليه په صورت کښې که مقدارخيانت کم نکړې شو. نو دسره به توليه باقی پاتې نشی. ځکه چه بيع توليه د ثمن اول په عوض کيږی. او دلته کښې داسې نه ده. ځکه چه ثمن اول دوه سوه روپئ دی. اود پنځوس روپو ئې خيانت کړې دې. مشتری اول ګهړئ په دوه نيم سوه روپئ خرڅه کړې ده. نوکه مقدارخيانت يعنی پنځوس روپئ د بيع توليه په صورت کښې کم نکړې شوې. نودا بيع به د ثمن اول په عوض نه وی. او هرکله چه دا بيع د ثمن اول په عوض نشوه. نودا به بيع توليه هم نه وی. اوهرکله چه بيع توليه نشوه. نو دسره تصرف بدل شو. يعنی بيع توليه، بيع مرابحه شوه. او تصرف بدلول ناجائز دی. په دې وجه په بيع توليه کښې مقدارخيانت يعنی پنځوس روپئ کمول متعين شوې.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ: ابويوسف رحمه الله فرمائيلی دی **يَحُطُّ فِيهِمَا** او چه په مرابحه او توليه دواړوکښې دې د خيانت مقدار کم کړی.

تشريح ﴿ **مذهب ابي يوسف رحمه الله** ﴾ حضرت امام ابويوسف رحمه الله فرمائی. چه په بيع مرابحه اوبيع توليه دواړوکښې به د خيانت مقدار يعنی پنځوس روپئ کمولې شی. هم دا يوقول د امام شافعی رحمه الله دې. د امام احمد رحمه الله مذهب هم دا دې.

دليله ﴾ د حضرت امام ابويوسف رحمه الله دليل دادې. چه په لفظ مرابحه اوتوليه کښې اصل دادې. چه عقد مرابحه وی. اوکه عقدتوليه، ثمن ذکرکول اصل نه دی. هم دا وجه ده. چه په (وليتك بالثمن الأول) وئيلو سره عقدتوليه او په (بعتك مرابحة على الثمن الأول) وئيلو سره عقدمرابحه منعقد کيږی. خو شرط دا دې. چه ثمن معلوم وی. نو د عقدثانی يعنی د مرابحه او توليه د ثمن په حق کښې په عقداول باندې مبنی کيدل ضروری دی. اود خيانت مقدار يعنی پنځوس روپئ چونکه په عقداول کښې ثابت نه دی. ځکه به دا په عقدثانی کښې ثابتول هم ممکن نه وی. اوهرکله چه د خيانت مقدار په عقدثانی يعنی په مرابحه اوتوليه کښې ثابتول ممکن نه دی. نودا به د ثمن نه کمولې شی. خو دومره فرق ضرور دې. چه د خيانت مقدار په عقدتوليه کښې صرف راس المال يعنی د ثمن نه کمولې شی. او په عقد مرابحه کښې راس المال او نفع دواړو نه کمولې شی. مثلاً په ذکر شوی مثال کښې دوه نيم سوه روپئ راس المال دې. او په دې کښې پنځوس روپئ د خيانت مقدار دی. نو هرکله چه مشتری اول ګهړئ د دوه نيم سوه روپو په عوض د بيع توليه په طريقه خرڅه کړله. نو راس المال يعنی د دوه نيم سوه روپو نه به د خيانت مقدار کمولې شی. يعنی پنځوس روپئ به کمولې شی. او دوه سوه روپئ به مشتری ثانی، مشتری اول ته ورکوی. اود بيع مرابحه په صورت کښې پنځوس روپئ کوم چه د خيانت مقدار دې. د راس المال نه به کمولې شی. اوچونکه ددې پنځوس روپو نفع لس روپئ جوړيږی. ځکه به لس روپئ د نفع نه کمولې شی. اوهرکله چه پنځوس روپئ د خيانت مقدار د راس المال نه، او لس روپئ د نفع نه کمې کړې شوې. نو مشتری ثانی به په دوه سوه شلويښت روپئ باندې ګهړئ اخلی.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ: او امام محمد رحمه الله فرمانيلي دي **لَا يُحَطُّ فِيهِمَا** په دې دواړو کښې به نه کموی **يُخَيَّرُ فِيهِمَا** چه دواړو کښې مشتری ته اختيار دې.

تشريح> مذهب محمد> او امام محمد رحمه الله فرماني.چه په بيع مرابحه او بيع توليه دواړوکښې مشتری ته اختيار دې.که زړه ئې غواړی.نو مبيع به د پوره ثمن په عوض اخلي.اوکه غواړی.نو بيع دې ترک کړی.هم دا يوقول د امام شافعي رحمه الله دې.

دليله> د امام محمد رحمه الله دليل دادې.چه په عقدبيع کښې کوم ثمن بيانيږی.هم د هغې اعتبار به کولې شی. خکه چه دغه ثمن معلوم دې.حاصل داچه د ثمن معلوم کيدل ضروری دی.اود ثمن علم په بيانولو سره کيږی.نو ثمن بيانول به معتبر وی.اوهرکله چه د ثمن بيانول معتبر شو.نو عقدبيع به هغه ثمن سره متعلق کيږی.کوم ثمن چه بيان شوې دې.او پاتې شوه مرابحه يا توليه بيانول،نودا د رغبت(او شوق) زياتولو دپاره دې.يعنی د مرابحه او توليه ذکرکول داسې وصف دې.چه ددې په وجه شوق زياتيږی.لکه د مبيع سلامتيا وصف،يو مرغوب فيه وصف دې.(يعنی خلق ئې خوښوی) اود وصف مرغوب فيه فوت کيدلو سره مشتری ته د مبيع باقي ساتلو،اود ختمولو(فسخ) اختيار وی.خود وصف مرغوب فيه فوت کيدلو په وجه په ثمن کښې د خه کمولو اختيار نه وی.لکه څنګه چه د مبيع عيب دارکيدلو په صورت کښې مشتری ته اختيار وی.چه دې دپوره ثمن په عوض مبيع واخلي.يا بيع رد کړی.

منقولې يا محولې څيز د قبضه نه بغير په بل کس خرڅول

وَمَنِ اشْتَرَى شَيْئًا مِمَّا يُنْقَلُ وَيُحَوَّلُ اوکه يوکس په منقولات او محولات کښې څه څيز واخستلو **لَمْ يَجُزْ لَهُ بَيْعُهُ** نود مشتری دپاره ددې خرڅول جائز نه دی **حَتّٰى يَقْبِضَهُ** تردې چه په دې باندې قبضه اوکړی.

حل اللغة> ينقل: نقل کيدلې شی ، **يتحول:** ګرځيدې شی

تشريح> شرط جواز اشتراء بيع الشئ المنقول> مصنف رحمه الله په دې خانې کښې دا فصل خکه ذکر کړلوچه په دې کښې کوم مسائل ذکرکولی شی هغه د مرابحه او توليه د قبيلې څنې نه دی.خوچونکه دا مسئلې د مرابحه او توليه پشان يو زياتی قيد سره مقيد دی.خکه ئې دا مسائل د بيع توليه او مرابحه نه پس په مستقل فصل کښې ذکر کړی دی.

صورة المسئلة> که يوکس څه څيزمنقولې واخستلو.نو ترکومه پورې چه مشتری په دې قبضه اونکړی. مشتری دپاره ددې خرڅول جائز نه دی.يعنی که مبيع د منقوله څيزونو څنې وی.نو په دې باندې د قبضه کولو نه بغير مشتری دپاره دا په بل خرڅول جائز نه دی.د امام محمد رحمه الله په نيز د قبضه کولو نه وراندې هبه، صدقه وغيره نور تصرفات جائز نه دی.

دلائله> ① د عدم جواز دپاره دليل دادې.چه رسول الله ﷺ د غيرمقبوض بيع نه منع فرمانيلې ده.د حکيم بن حزام رضي الله عنه روايت الفاظ دادی.(**لاتبيعن شيئاحتی تقبضه**) (۱)

رسول الله ﷺ فرمانيلی دی.چه ای حکيم بن حزام!ا ته هيڅ څيز مه خرڅوه.تردې چه په دې باندې قبضه اوکړې.دا روايت او ددې پشان نور رواياتو کښې د طعام اود غيرطعام هيڅ تفصيل نشته.بلکه د غيرمقبوض بيع نه مطلقاً منع شوې ده.که مبيع طعام وی.اوکه غيرطعام وی.

۱) من حديث عبدالله بن عمر رضي الله عنهما اخرجه ابوداود في البيوع باب ٦٥ رقم ٣٤٩٩ وأحمد في المسند (١٩١/٥) والحاكم في المستدرك (٤٠/٢)_

② دويم دليل دادې.چه په بيع باندې د قبضه کولو نه وړاندې ددې په خرڅولو کښې د عقدفسخ کيدلو دهوکه ده.په دې طريقه چه مثلاً حامد د خالد نه غلام واخستلو.او په دې باندې د قبضه کولو نه وړاندې حامد په شاهد باندې خرڅ کړلو.حالانکه دا غلام خالد سره هلاك شو.نودا عقدبيع به فسخ وي.څکه کومه بيعه چه د حامد او خالد په مينځ کښې وه.هغه فسخ ده.نو ثابته شوه.چه د قبضه نه وړاندې د حامد په شاهد باندې خرڅول سراسر دهوکه ده.او په کوم بيع کښې چه دهوکه وي.هغه شرعاً ممنوع ده.څکه به دا بيع هم ناجائز اوممنوع وي.

د بيع العقار قبل القبض حکم

وَيَجُوزُبَيْعُ الْعَقَارِقَبْلَ الْقَبْضِ عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَوَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ (۱) او غيرمنقوله جائيداد د قبضه نه وړاندې خرڅول د شيخينو رحمهما الله په نيز جائزدی.

تشريح> جواز بيع العقار> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه د شيخينو رحمهما الله په نيز د غيرمنقوله څيزونو بيع د قبضه کولو نه وړاندې جائز ده.

دليله> د شيخينو رحمهما الله دليل دادې.چه د بيع رکن يعنی ايجاب اوقبول ددې د اهل يعنی د بالغ عاقل نه صادرشوي دې.اود بيع محل يعنی په مال مملوك کښې واقع شوي دې.اود قبضه کولونه وړاندې دغيرمنقوله څيزونو بيع کښې څه دهوکه هم نشته.څکه چه د غيرمنقوله جائداد هلاکيدل،نادر دی.او نادر کالمعدوم وی. ددې هيڅ اعتبار نه کيږی.نو هرکله چه ارکان د بيع ددې د اهل خلقو نه صادرشوی دی.اود بيع واقع کيدل په داسې څيز شوې ده.کوم چه د بيع محل کيدلې شی.يعنی مبيع مال مملوك دې.او څه دهوکه هم نشته.نود بيع په جواز کښې څه شبه ده.په دې وجه مونږ اووئيل.چه دغيرمنقوله جائداد بيع د قبضه کولو نه وړاندې جائز ده.

وَقَالَ مُحَمَّدٌرَحِمَهُ اللَّهُ او امام محمد فرمائي لَايَجُوزُ چه دا بيع جائز نه ده

تشريح> مذهب محمد رحمه الله> په ذکرشوې مسئله کښې دامام محمد رحمه الله مذهب دا دې چه غيرمنقول څيز هم د قبضه کولو نه وړاندې خرڅول جائز نه دی.

دلائله> ① د امام محمد رحمه الله دليل د حديث(نهى عن بيع مالم يقبض) مطلق کيدل دی.يعنی لفظ د ،،ما،، شئ منقوله او غيرمنقوله دواړو ته عام دې.دغه شان په حديث(لا تبيعن شيئاً حتى تقبضه) لفظ دشئ دواړو ته عام دې.نو ددې دواړوحديثونو نه معلومه شوه.چه د قبضه کولو نه وړاندې نه دشئ منقول بيع جائز ده.اونه د شئ غيرمنقول بيع جائز ده.

الجواب عنه> د حديث (نهى عن بيع مالم يقبض) د اطلاق جواب د شيخينو رحمهما الله د طرفه دادې.چه د کتاب الله،سنت رسول صلى الله عليه وسلم،او اجماع امت د درې واړو عموم د قبضه کولو نه وړاندې د منقول اوغيرمنقول دواړو د بيع په جواز باندې دلالت کوی. ① د الله تعالی ارشاد دې.(وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ) ② اوپه حديث کښې دی.(يا معشر التجار ان الشيطان والاثم يحضران البيع فشوبوا بيعكم بالصدقة) ای د سوداګرو ډلې! شيطان اوګناه د بيع په وخت دواړه موجود وی.نوتاسو خپلې بيع صدقه سره ملاؤ کړئ.يعنی څه صدقه کوئ. ③ او اجماع داده.چه د نبی کريم صلى الله عليه وسلم د بعثت په وخت به خلقو اخستل خرڅول کول.نبی کريم صلى الله عليه وسلم په دوی

(۱) القول الراجح هو هذا قول الشيخين رحمهما الله كذا في فتح القدير(۱۳۸\۶) والكفاية (۱۳۸\۶، ۱۳۹) والدرالمختار(۱۸۱\۴) نقلاً عن القول الراجح (۵۶\۲)-

باندې څه نکير نه دی فرمائيلې.بلکه دوی نې په دې عمل باندې ثابت اوساتل.اوهم په دې باندې د امت اجماع ده.بهرحال دا درې واړه دليلونه د خپل عموم په وجه د منقول اوغيرمنقول دواړو د بيع په جواز باندې دلالت کوی.د قبضه نه وړاندې هم او د قبضه کولو نه پس هم،

② دويم دليل قياس دې.يعنې منقوله څيزونه په غيرمنقوله څيزونو باندې قياس شوی دی.چه لکه څنګه د قبضه نه وړاندې د منقوله څيز بيع جائز نه ده.دغه شان د غيرمنقوله څيزونو بيع هم جائز نه ده.اود دواړو په مينځ کښې علت جامعه د بيع غيرمقبوض کيدل دی.

قياسه:-صاحب دهدايهؒ په هدايه کښې فرمائی.چه د غيرمنقوله جائدادونو بيع د اجاره پشان ده.يعنې لکه څنګه چه غيرمنقوله جائداد،کور،زمکه وغيره د قبضه کولو نه وړاندې اجاره باندې ورکول جائز نه دی.دغه شان ددې د قبضه کولو نه وړاندې خرڅول هم جائز نه دی.

الجواب عنه> د امام محمدؒ د قياس جواب دا دې. چه اجاره مقيس عليه جوړول ټيک نه دی.څکه چه په اجاره کښې هم هغه اختلاف دې.کوم چه په بيع کښې دې.يعنې که يوکس کور واخستلو.نومشتری دپاره په دې باندې د قبضه کولونه وړاندې دا په اجاره باندې ورکول،د امام محمدؒ په نيز ناجائز دی.اود شيخينو ؒ په نيز جائز دی.نو هرکله چه د بيع پشان اجاره هم مختلف فيه ده.نو بيع په اجاره باندې قياس کول څنګه درست دی.

الجواب التسليمي> اوکه دا اومنلې شی.چه د قبضه کولونه وړاندې اجاره بالاتفاق ناجائز ده.اوهم په دې فتوی ده.نو په دې صورت کښې به جواب داوی.چه اجاره نوم دې. د تمليك منافع، يعنې په اجاره کښې منافع معقود عليه وی.اود منافع هلاکيدل نادر نه دی.بلکه د شئ منقول پشان هلاکيدل غالب دی.حاصل داچه منافع د هلاکيدلو په احتمال کښې د منقول پشان دی.نولکه څنګه چه د قبضه کولو نه وړاندې د شئ منقول بيع جائز نه ده.دغه شان به اجاره هم جائز نه وی.

په کيل او وزن سره اخستلو نه پس د مشتری ثانی دپاره دکيل او وزن نه بغير د تصرف حکم

وَمَنِ اشْتَرَى مَكِيلًا مُكَايَلَةً فرمائی.اوکه يوکس څه مکيلی څيز په کيل سره واخستلو أَوْمَوْزُونًا مُوَازَنَةً يا ئې موزونی څيز په وزن سره واخستلو فَاكْتَالَهُ بيانې دا کيل کړو أَوِاتَّزَنَهُ يا ئې دا وزن کړو ثُمَّ بَاعَهُ مُكَايَلَةً أَوْمُوَازَنَةً بيا ئې دا په کيل يا وزن سره خرڅ کړو لَمْ يَجُزْ لِلْمُشْتَرِي مِنْهُ أَنْ يَبِيعَهُ وَلَا أَنْ يَأْكُلَهُ نود مشتری ثانی دپاره ددې خرڅول يا خوړل جائز نه دی حَتّٰى يُعِيدَ الْكَيْلَ وَالْوَزْنَ تردې چه د کيل يا وزن اعاده اوکړی.

حل اللغة> مكايلة: په تول سره ، **موازنة:** په وزن سره ، **الأكل:** خوړل ، **الإعادة:** راګرځول

تشريح> صورة المسئلة> صورت د مسئلې دادې.که يوکس څه مکيلی څيز مثلاً غنم يا اوريشې د کيل په شرط سره واخستل.مثلاًدا ئې اووئيل.چه ما دا غنم د سلو روپو په عوض په دې شرط سره واخستل.چه دا لس قفيزه دی.يائې څه موزونی څيز مثلا اوسپنه يا سره زر ئې د وزن په شرط سره واخستل.مثلاً دا ئې اووئيل.چه ما د سلو روپو په عوض دا اوسپنه په دې شرط واخستله.چه دا لس منه ده.حاصل داچه مکيلی يا موزونوی څيز ئې په اندازه سره وانخستلو.بلکه د کيل يا وزن په شرط سره ئې واخستل.بيامشتری دا کيل کړل.او وائې خستل. يا ئې وزن کړل.او واخستل.بيا په مبيع باندې دقبضه کولو نه پس مشتری دا د کيل يا وزن په شرط سره خرڅ کړل.نو مشتری ثانی ته په دې مبيع کښې د تصرف کولو اجازت دې.تردې چه مشتری ثانی دوباره کيل يا وزن اوکړی.يعنې مشتری ثانی ته د کيل يا وزن کولو نه وړاندې په مبيع کښې د تصرف اجازت نشته.چه نه ئې خرڅولې شی.اونه ئې

خورلې شي.حاصل داچه لکه څنګه مشتري اول خپل خان دپار کيل يا وزن کړې وو.دغه شان به مشتري ثاني هم خپل خان دپاره کيل يا وزن کوي.د امام شافعي،امام مالك،او امام احمدﷺ هم دا قول دې.

دلائله ① دليل د حضرت جابر ﷺ حديث دأن النبي ﷺ نهى عن بيع الطعام حتى يجري فيه صاعان صاع البائع و صاع المشتري»(۱) دې.يعني،،رسول الله ﷺ د غلې د بيع نه منع فرمائيلې ده.تردې چه په دې کښې دوه خله صاع جاري نکړې شي.يوځل د بائع صاع،او دويم ځل د مشتري صاع،، په حديث کښې د بائع نه مراد مشتري اول دې.اود مشتري نه مراد مشتري ثاني دې.يعني چه کله مشتري اول خپل خان دپاره کيل يا وزن اوکړي.نو هله نې په بل کس باندې خرخولې شي.يا نې خورلې شي.د حديث منشاء (مقصد) بالکل دا نه دې.چه په بيع واحد کښې يوځل بائع کيل يا وزن اوکړي.او په دويم ځل ددې مشتري کيل ياوزن اوکړي.ځکه چه په دې باندې د ټولو اتفاق دې.چه عقدواحد دوه خله د کيل ياوزن محتاج نه وي.

② دويم دليل دادې.چه په کيلي ياوزني څيز کښې احتمال دې.چه شايد دا دمشروط مقدار نه زيات وي.يعني چه کله مشتري اول کيل يا وزن اوکړلو.نو شايد ده پخپل کيل يا وزن کښې دهوکه خورلې وي.اوځومره قدرې مبيع نې چه مقررکړې دې.ددې نه زيات وي.اوښکاره ده.چه دا زياتوالې د بائع يعني د مشتري اول مال دې.اود بل په مال کښې چونکه تصرف کول حرام دی.په دې وجه د مشتري ثاني دپاره په دې کښې د تصرف کولو نه خان ساتل واجب دی.اودا احتمال هغه وخت لرې کيدلې شي.چه کله مشتري ثاني پخپله کيل ياوزن اوکړي.او اطمينان حاصل کړي. ددې دليل نه معلومه شوه.چه مشتري ثاني د خپل بائع يعني د مشتري اول په کيل ياوزن باندې اکتفاء اونکړي.بلکه پخپله دده دپاره هم کيل ياوزن کول ضروري دی.

په ثمن کښې قبل القبض تصرف کول

وَالتَّصَرُّفُ فِي الثَّمَنِ قَبْلَ الْقَبْضِ جَائِزٌ فرمائي.اود قبضه نه وړاندې په ثمن کښې تصرف کول جائز دی

تشريح صورت د مسئلې دادې.چه د عقدبيع نه پس په ثمن باندې د قبضه کولو نه وړاندې د بائع دپاره په ثمن کښې د تصرف کولو اجازت دې.ثمن که د،،مالا يتعين،، د قبيلې څنې وی.لکه نقود شو.اوکه د،، ماتعين،، قبيلې څنې وی.لکه مکيلی ياموزونی څيزونه شو.مثلاً که يوکس يو اوښ د سل روپو په عوض،يا نې د يو کرغنمو په عوض خرڅ کړلو.نود بائع دپاره دراهم اوغنمو په بدله کښې بل څه څيز اخستل جائز دی.

دليله دليل دادې.چه په ثمن کښې تصرف جائز کونکې څيز ملك دې.يعني مالك ته پخپل مملوك څيز کښې د تصرف اجازت وی.اود عقدبيع نه پس بائع دثمن مالك کيږي.که په دې نې قبضه کړې وی.اوکه نه وی کړې.

په ثمن يا مبيع کښې د کمی زياتی حکم

وَيَجُوزُ لِلْمُشْتَرِي اود مشتري دپاره جائز دی أَنْ يَزِيدَ لِلْبَائِعِ فِي الثَّمَنِ چه د بائع دپاره په ثمن کښې

---

۱) من حديث جابرﷺ اخرجه ابن ماجه فى التجارات باب ۳۷ رقم ۲۲۲۸ وابن أبى شيبة فى المصنف (۱۹۷/۷) والدارقطنى فى سننه (۸/۳) رقم ۲٤ والبيهقى فى السنن الكبرى (۵۱۶/۵) رقم ۱۰۷۰۰) وفى معرفة السنن والآثاررقم ۳٤۶۳ _

اضافه اوکړي **وَيَجُوزُ لِلْبَائِعِ أَنْ يَزِيدَ لِلْمُشْتَرِي فِي الْمَبِيعِ** او د بائع دپاره جائز دی.چه مشتری دپاره په مبیع کښې اضافه اوکړي **وَيَجُوزُ أَنْ يَحُطَّ مِنَ الثَّمَنِ** اودا هم جائز دی.چه دثمن نه کم کړي.

حل اللغة> **الزيادة:** زیاتیدل ، **الحط:** کمیدل ، **الإستحقاق:** مستحق کیدل

تشريح> صورة المسئلة> صورت د مسئلې دادې.که مشتری د بائع دپاره په ثمن کښې څه اضافه (زیادت) اوکړي.نو جائز ده.مثلاً یو غلام ئې په سل روپۍ واخستلو.بیا مشتری د لسو روپو اضافه اوکړله. نودا اضافه کول جائز دی.دغه شان که بائع په مبیع کښې اضافه اوکړي.یا په ثمن کښې څه کم کړي.نو بیاهم جائز دی.مثلاً یوسړی د سلو روپو په عوض یو من غنم خرڅ کړل.بیا ئې په دې کښې د لس کلو غنمو اضافه اوکړله.یا ئې سل روپۍ په ثمن کښې کمې کړې.نوجائز دی.

وَيَتَعَلَّقُ الِاسْتِحْقَاقُ بِجَمِيعِ ذَلِكَ ددې ټولو سره به استحقاق متعلق وی

تشريح> او استحقاق به په اصل او زیات شوی دواړوسره متعلق وی.نو په ثمن کښې د اضافه کولو په صورت کښې به بائع ته د مبیع منع کولو حق هغه وخته پورې حاصل وی.چه تر کومه پورې دې اصل ثمن او زیات کړې شوې ثمن وصول نکړي.او دغه شان به مشتری ته د مبیع غوښتلو اختیار هغه وخته پورې نه وی.چه تر کومه پورې دې مزید او مزیدعلیه یعنی اصل ثمن او اضافه شوې بائع ته ورنکړي. اود ثمن کمولو په صورت کښې مشتری د مابقی ثمن سپارلو نه پس د پوره مبیع غوښتلو حقدار دې. او که مبیع مستحق شو.یعنی چا د استحقاق دعوه اوکړله.او مبیع ئې د مشتری نه واخستلو.نو په ثمن کښې د اضافه کولو په صورت کښې به مشتری د بائع نه اصل ثمن او اضافه شوې ثمن دواړه واپس اخلي.اود ثمن کمولو په صورت کښې به مابقی ثمن واپس اخلي.

القاعدة> حاصل داچه زمونږ په نیز په ثمن کښې زیاتې کول،او یا کمې کول، اصل عقد سره ملاویږي. ګویا اصل عقد هم په دې زیاتوالي یا کموالي باندې واقع شوې وو.[1] [2]

دليله> دلیل دادې.چه بیع په دریو طریقو مشروع شوې ده. ① بیع خاسر په دې کښې تاوان وی. نوکه په ثمن کښې زیاتوالې اوکړې شو.نودا زیاتوالې بیع خاسرلره بیع عادل،او بیع عادل لره رابح ګرځوی. ②او په بیع رابح کښې نفع وی. اوکه د ثمن نه څه کموالې اوکړې شی نودا بیع رابح لره عادل،او بیع

[1]) القول الراجح هو هذا قول الجمهور رحمهم الله كذا في الدرالمختار(۴\۱۸۶) والبحر(۶\۱۲۱) نقلاً عن القول الراجح (۲\۵۷)-

[2]) **مذهب زفر رحمه الله:**-اود امام زفر او امام شافعي رحمه الله په نیز د زیاتوالی اوکموالی اصل عقدسره ملاوولو اعتبارکول صحیح نه دی.بلکه په ثمن کښې زیاتوالې کول به د مشتری ...... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه]

[بقیه حاشیه]د طرفه ابتداء احسان کول او هبه کول وی.یعنی د عقدبیع نه پس ګویا د شروع نه احسان شوې دې.اود مشتری د طرفه بائع دپاره هبه شوې دې.اود هبهٔ د صحت دپاره چونکه قبضه شرط ده.په دې وجه زیاتی مقدار باندې چه کله د بائع قبضه اوشی.نو هله به دا هبه صحیح وی.او که په مبیع کښې څه زیاتی کړې شو.نودا به د بائع د طرفه ابتداءً هبه وی.اوکه بائع په ثمن کښې څه کمې اوکړلو.نودا به د بائع د طرفه مشتری د ثمن یوې حصې نه بری کول وی.خکه که مشتری دا ردکړي.نودا رد کیږي.یعنی که مشتری د ثمن کمول قبول نکړي.بلکه دا واپس کړي.نود بائع په کمولو سره به نه کمیږي.بهرحال ددې دواړو حضراتو په نیز زیاتوالې اوکموالې اصل عقدسره نه یوخائې کیږي.بلکه زیاتوالې دسره (خانله) یو احسان او هبه ده.او کمول د ثمن د یومقدار نه بری کول دی.

عادل لره خاسر ګرځوی. ③او په بیع عادل کښي نه تاوان وی او نه نفع وی. اوکه په مبیع کښي زیاتوالي اوکړي شو.نودا زیاتوالي د مشتری په حق کښي بیع خاسرلره عادل،او بیع عادل لره رابح ګرځوی.اود بائع په حق کښي رابح لره عادل،او عادل لره خاسر ګرځوی.نو بائع اومشتری چه کله د عقدبیع نه پس خپل مینځ کښي په رضامندئ سره په ثمن یامبیع کښي څه اضافه اوکړله.یا ئې کمي اوکړلو.نو ګویا دوی خپل عقدبیع یو وصف مشروع نه بل وصف مشروع طرف ته بدل کړلو.یعنی خاسر ئې عادل،او عادل ئې رابح کړلو.یا یې رابح عادل کړلو.یا عادل ئې خاسر کړلو.

او بائع او مشتری ته د اصل عقد فسخ کولو اختیار دي.نود عقدبیع یو وصف نه بل وصف طرف ته د متغیرکولو اختیار به په درجه اولی وی.ځکه چه په وصف کښي تصرف کول، په أصل شی کښي د تصرف کولو نه اهون او آسان دی.

په نغد ثمن سره خرڅولو نه پس د قرض په نیته ورکول

وَمَنْ بَاعَ بِثَمَنٍ حَالٍّ مصنف رحمه الله فرمائي.اوکه یو کس څه څیز د نقد ثمن په عوض خرڅ کړو ثُمَّ أَجَّلَهُ أَجَلًا مَعْلُومًا بیا(د مشتری دپاره) ئې یو معلوم میعاد مقررکړو صَارَ مُؤَجَّلًا نودا ثمن به قرض شي.

حل اللغة ﴿ **ثمن حال**: نقدي پیسې ، **الأجل**: نیته ، **التاخير**: روستو کول

تشریح ﴿ **صورة المسئلة** ﴿ صورت د مسئلې دادي.که یوکس یوڅیز د نغد ثمن په عوض خرڅ کړلو.بیا بائع د ثمن اداکولو دپاره یو میعاد(نیته) مقررکړله.نو ددې دوه صورتونه دی.میعاد به معلوم وی.یا به مجهول وی.که میعاد معلوم دې.نودا میعاد مقررول جائز دی.اوهم دا قول د امام مالک رحمه الله دې. (۱)

دلائله ﴿ ① دلیل دادې.چه ثمن د بائع حق دې.او هر حق والا ته پخپل حق کښي د تصرف کولو اختیار وی.ځکه به بائع ته دا اختیار حاصل وی.چه دې د مشتری په حق کښي آسانتیا پیدا کولو دپاره د خپل حق مطالبه د یو معلومي مودې پورې موخر کړی.

② دویم دلیل دادې.چه د بائع ثمن ادا کولو دپاره میعاد مقررول، مشتری د معلوم میعاد راتللو پورې د ثمن مطالبې نه بری کول دی.او بائع ته چونکه دا اختیار حاصل دې.چه دې دسره د ثمن نه مشتری بری کړی.نود یومحدود وخت پورې د مطالبې نه د بری کولو اختیار به په درجه اولی حاصل وی.

حكم التاجيل الي اجل مجهول وصورتيه ﴿ اوکه میعاد مجهول وی. ① نوکه جهالت فاحشه وی.مثلاً د ثمن ادا کولو دپاره ئې د هوا چلیدلو،یا باران وریدلو پورې میعاد مقررکړلو.نودا جائز نه دې.یعنی ددې میعاد اعتبار به نه کیږی.بلکه بائع ته به هروخت د مطالبه اختیار حاصل وی.

②او که جهالت یسیره وی.مثلاً د ثمن اداکولو دپاره ئې فصل کټ کیدلو،یا غویل کولو پورې میعاد مقررکړلو.نودا جائز دې.یعنی ددې میعاد پوره کیدلو نه وړاندې به بائع ته د مطالبه حق نه وی.

دلیل دادې.چه د عقدبیع نه پس ثمن موجل کول،د کفاله په مرتبه کښي دی.او وړاندې تیرشوی دی.چه کفاله د جهالت یسیره سره صحیح کیږی.خود جهالت فاحشه سره نه صحیح کیږی.نوهم دغه شان دین ثمن په جهالت یسیره سره موجل کول درست دی.خو جهالت فاحشه سره موجل کول ټیک نه دی.که په

---

۱ ، **مذهب زفر رحمه الله**:- او امام شافعی او امام زفر رحمه الله فرمائي.چه په میعاد مقررولو سره به ثمن قرض نه وی.اګرچه میعاد معلوم دې.ددې دواړو حضراتو په نیز دمعلوم میعاد مقررولو باوجود بائع فی الحال د ثمن مطالبه کولې شي.

عقدبیع کښې اجل (نیته) شرط اوګرځولی شو.نو عقدبیع جهالت فاحشه او جهالت یسیره دواړو سره فاسدیږی.تفصیل وړاندې تیرشوې دې.

مديون ته مهلت ورکول

وَكُلُّ دَيْنٍ حَالٍّ إِذَا أَجَّلَهُ فرمائی.او هر دین معجل کله چه صاحب دین د مدیون دپاره څه میعاد مقررکړی صَاحِبُهُ صَارَ مُؤَجَّلًا؛ نوهغه مؤجل کیږی (إِلَّا الْقَرْضَ) فَإِنَّ تَأْجِيلَهُ لَا يَصِحُّ خو قرض څکه چه د دې مؤجل کول صحیح نه دی.

تشریح> عدم جواز تاجیل القرض> د قرض اخستونکي په ذمه چه څه واجب وی هغه دین دې او قرض ورکونکې چه څه ورکوی هغه قرض دې مثلاً زید عمرو ته زر روپۍ ورکړې نودا زر روپۍ د زید په حق کښې قرض دې اود عمرو په حق کښې دین دې دقرض او دین په مینځ کښې د فرق پیژندلو نه پس د متن مسئلې ته راشه

هرهغه دین چه د هغې ادا کول فی الحال په ذمه واجب وی.که په دې کښې صاحب دین د مدیون دپاره څه معلوم میعاد مقررکړی.نودا به دین مؤجل شی.دلیل وړاندې تیرشوې دی.چه دین د صاحب دین حق دې.دې خپل حق بالکلیه ساقطولې هم شی.اود مدیون د سهولت په خاطر د دین مطالبه مؤخر کولې هم شی.

خو زمونږ په نیز که د قرض اداکولو دپاره څه میعاد مقررکړې شو.نودا ټیک نه دې.بلکه د میعاد مقررولو نه پس قرضخواه(قرض غوښتونکې) د قرضداری نه فوری مطالبه کولې شی.حاصل دا که په قرض کښې څه میعاد مقرر کړې شو.نو قرضه به ټیک وی.او میعاد به باطل وی.

دلیله> دلیل دادې.چه قرضه په ابتداء کښې احسان او تبرع ده.که قرضه ورکونکی د(**أقرضتك هذه الألف**) په ځائې (**أعرتك هذه الألف**) اووئیل.نو صحیح کیږی.اوکوم کس چه د احساناتو او تبرعات اختیار نه لری.هغه ته د قرضه ورکولو اختیار هم نه وی.لکه نابالغه بچې،وصی، غلام، مکاتب.نو ثابته شوه.چه قرضه د تبرعاتو څنې ده.اود انتهاء په اعتبار سره قرضه معاوضه ده.څکه چه سرې قرضه دې دپاره ورکوی.چه ددې نه پس د: ې بدل واخلی.هم دا وجه ده.چه په قرضه اخستونکی باندې بعینه هم د هغه څیز واپس کول واجب نه وی.کوم چه ده د قرضخواه نه اخستې دې.بلکه ددې مثل واپس کول واجبیږی.ددې نه معلومه شوه.چه قرضه د انتهاء په اعتبارسره معاوضه ده.

علی اعتبار الابتداء> نود قرض ابتدائی حالت په اعتبارکولوسره خو په قرض کښې میعاد نه لازمیږی.لکه څنګه چه په اعاره(قرض) کښې میعاد نه لازمیږی.که یوکس خپل څه سامان یو میاشت پورې چاله په عاریت(قرض) باندې ورکړلو.نو په عاریت(قرض) باندې ورکونکې که اوغواړی.نو خپل سامان فوری طورباندې واپس اخستلې شی.څکه چه په عاریت(قرض) باندې ورکول تبرع (احسان) ده.او په تبرعاتو کښې جبر(زور) نه کیږی.اوکه میعاد لازم کړې شو.نودا به په معیر(په قرض ورکونکی) باندې جبر وی.څکه چه د میعاد لازمولو په صورت کښې عاریت باندې ورکونکی ته د میعاد تیریدلو نه وړاندې د مطالبه اجازت نه وی.نو لکه څنګه چه په اعاره کښې میعاد لازم نه وی.دغه شان قرضه هم چونکه تبرع ده.(احسان دې) په دې وجه به په قرضه کښې هم میعاد لازم نه وی.

علی اعتبار الانتهاء> اود انتهاء په اعتبارکولو سره میعاد مقررول صحیح نه دی.څکه چه قرضه د انتهاء په اعتبارسره د میعاد مقررولو په صورت کښې به،، بیع الدراهم بالدراهم نسیئة،، شی.اود دراهمو په عوض قرض خرڅول ربوا ده.اګرچه په دراهموکښې کمې زیاتې نه وی.اود ربوا لازمیدل د قرض د

فساد تقاضا کوي.حالانکه په شریعت د اسلام کښې قرضه ورکول مندوب اومستحب دی.اود قرضه په جواز باندې د امت مسلمه اجماع ده.نو مونږ د قرضه ابتدائي حالت اعتبار اوکړلو.اود میعاد لازمولو نه بغیر ددې د جواز قائل شو.

بَابُ الرِّبٰوا

ترجمه (دا) باب د ربوا (په بیان کښې) دې.

تشریح> المناسبة بین المرابحة والربوا> او باب الربوا ته د باب مرابحه سره خاص طور باندې مناسبت حاصل دې.چه په ربوا اومرابحه دواړوکښې په هریوکښې زیاتوالې کیږي.البته د مرابحه زیاتوالې حلال وی.اود ربا زیاتوالې حرام وی.او چونکه په اشیاؤ کښې حلت اصل دې.په دې وجه د مرابحه أحکام وړاندې اود ربوا احکام روستو بیان کړې شو.

معني الربوا لغة > ربوا ،بکسرالراء په لغت کښې د زیاتوالې په معنی ده.لکه وئیلې شی.(هذا یربوا علی هذا) دا ددې نه زیات دې.

الربوا في الشریعة > د شریعت په اصطلاح کښې ربوا ، «معاوضة مال بمال» ، کښې د هغه مالی زیاتوالی نوم دې.چه د هغې په مقابله کښې عوض نه وی.

ربوا بالاجماع حرام ده.او ددې حرمت منصوصی دې.لکه چه د الله تعالی ارشاد دې.﴿یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْکُلُوا الرِّبٰوا﴾

الزواجر لأکل الربوا > او الله تعالی د سود خوړونکی والا دپاره پنځه سزاګانې بیان کړې دی. ① تخبط: سود خور به د قیامت په ورځ د قبر نه داسې پاسې چه مخبوط الحواس به وی ② الله تعالی د سود مال ختموی ③ سود خواره دې د الله جنګ ته خان تیار کړی ④ سود حلال ګڼرل کفر دې ⑤ سود خور که د خپل سود نه منع نه شو نو دوی جهنمیان دی

تغلیظ حرمة الربوا في الحدیث > او رسول الله ﷺ په سود خوړونکو،ددې تحریر لیکونکو،او ددې په دواړو ګواهانو باندې لعنت فرمائیلې دې.لکه چه په ترمذی کښې د ابن مسعود رضی الله عنه حدیث دې.(لعن رسول الله ﷺ آکل الربوا وموکله وشاهدیه وکاتبه)

مکیلې او موزونې څیز په کمې زیاتې سره خرڅول اود ربوا علت

اَلرِّبٰا مُحَرَّمٌ رباء په هر داسې څیز کښې حرام شوې ده. **فِیْ کُلِّ مَکِیْلٍ اَوْمَوْزُوْنٍ** چه دا کیلي یا وزنی وی **اِذَا بِیْعَ بِجِنْسِهٖ مُتَفَاضِلًا** کله چه دا د خپل جنس په عوض زیاتوالی سره خرڅ کړې شي.

حل اللغة> متفاضل: یودبل نه زیات ، **مکیل:** هغه څیز چه په پیمانه سره ناپ کولې شی، **موزون:** هغه څیزچه په تله باندې وزن کولې شی

تشریح> حرمة الربوا في کل مکیل او موزون > ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه رباء په هرمکیلی او موزونی څیز کښې حرام ده.په دې شرط چه ددې د جنس په عوض کمی زیاتی سره خرڅ کړې شی.نو زمونږ په نیز د رباء علت، ،کیل مع الجنس، ،یا، ،وزن مع الجنس، ، دې.یعنی په کومو دوه څیزونوکښې چه مبادله شوې ده.هغه دواړه مکیلی وی.یا موزونی وی.خو ددې دواړو جنس یووی.اوکه دواړه عوضونه موزونی وی.جنس یو نه وی.مثلاً سره زر او سپین زر.دواړه مکیلی وی.خوجنس یو نه وی.لکه غنم او اوربشې.نو ددې دواړو په مینځ کښې ربوا او زیاتوالې حرام نه دې.علامه مرغینانی رحمه الله

فرمانیلی دی چه لفظ د قدر چونکه کیل او وزن دواړو ته شامل دې.په دې وجه دا هم ونیلې شي.چه علت د ربوا، ،قدرمع الجنس، ، دی.

فَالعِلَّةُ الْكَيْلُ مَعَ الْجِنْسِ نو علت زمونږ په نیز کیل مع الجنس وَالْوَزْنُ مَعَ الْجِنْسِ

تشریح> علة الربوا> د ربوا علت د ،،قدر مع الجنس،،د ربوا په علت کیدلو کښې اصل (عن ابی سعید الخدری ﷺ عن رسول الله ﷺ أنه قال الذهب بالذهب مثلاً بمثل یداً بید والفضل ربوا، والفضة بالفضة مثلاً بمثل یداً بید والفضل ربوا، والحنطة بالحنطة مثلاً بمثل یداً بید والفضل ربوا، والشعیر بالشعیر مثلاً بمثل یداً بید والفضل ربوا، والملح بالملح مثلاً بمثل یداً بید والفضل ربوا، والتمر بالتمر مثلاً بمثل یداً بید والفضل ربوا) (۱) دی

اختلاف الاعراب> دا حدیث د اعراب په اعتبارسره په دوه طریقو نقل دې.یوخو کلمات سته او لفظ مثل په رفع سره دی.په دې صورت کښې به مضاف مقدر وی.تقدیر عبارت به داسې وی.(بیع الحنطة بالحنطة مثل بمثل) بیع الحنطة به مبتدا وی.او مثل به ددې خبر وی.

په دویم روایت کښې داکلمات او لفظ د مثل منصوب دې.په دې صورت کښې به فعل امر بیعوا مقدر وی.تقدیری عبارت به داسې وی.(بیعوا الحنطة بالحنطة،الحدیث) دا کلمات په د بیعوا مفعول کیدلو په وجه منصوب وی.او لفظ مثلاً به حال کیدلو په وجه منصوب وی.په حدیث کښې مثلاً بمثل نه مراد دادې.چه دواړه عوض کیل یا وزن کښې برابر وی.اود یداً بید نه مراد دادې.چه په دواړه عوضونو کښې په مجلس عقد کښې قبضه اوشي.حاصل داچه اتحاد قدر اود اتحاد جنس په صورت کښې په عوضین کښې د کیل یا وزن په اعتبارسره برابری هم شرط ده.او په عوضینو باندې قبضه هم شرط دې.

توضیح العلة> علامه مرغینانی رحمه الله فرمانیلی دی.چه د ټولومجتهدینو په دې باندې اجماع ده.چه د فضل اوزیاتوالی حرام کیدلوحکم معلول دې.یعنی په علت باندې مبنی دې.که علت اوموندې شي.نو ربوا یعنی حرمت فضل به متحقق وی.کنی ددې تحقق به نه کیږی.اگرچه اصحاب ظواهر د قیاس اوعلت انکار کوی.او په حدیث کښې ذکرشوی شپږ څیزونو سره ربوا خاص کوی.خوچونکه د آئمه اربعه په نیزحکم د ربوا معلول دې.په دې وجه د ربوا د علت بیان ضروری دې.نو اوګورئ چه زمونږ په نیز د ربوا علت، ،قدرمع الجنس، ، دې.چه په حدیث کښې د ذکرشوی شپږ څیزونو نه علاوه کوم څائې کښې دا علت اوموندې شي.هلته به ربوا متحقق وی.مثلاً د چونې تبادله که د چونې سره اوشي.نو په دې کښې به فضل او زیاتوالی ته ربوا وائی.څکه چه دواړه عوض کیلی دی.اود دواړو جنس هم یو دې.اوهم دغه شان که د اوسپنې، پیتل،او قلعی(یوقسم دهات) ددې د هم جنس په عوض خرڅ کړې شي.نو یوطرف ته فضل اوزیاتوالي به ربا، شمارلې شي.څکه چه دواړه عوض وزنی کیدلو سره سره متحدالجنس هم دی. (۲)

---

(۱) من حدیث عبادة بن صامت ﷺ أخرجه مسلم فی المساقاة رقم ۸۱ وأبوداود فی البیوع باب ۱۲ رقم ۳۳۵۰ والترمذی فی البیوع باب ۲۳ رقم ۱۲۴۰ وابن ماجه فی التجارات باب ۴۸ رقم ۲۲۵۴_

(۲) **مذهب الشافعي رحمه الله>** اود امام شافعی رحمه الله په نیز د ربوا علت په مطعوماتو کښې طعم دې.او په اثمان کښې ثمن دې.چه په هرهغه څیز کښې به ربوا حرام وی.چه په هغې کښې طعم کیدل یا ثمن کیدل اوموندې شي.د مطعوم نه مراد هرهغه څیز دې.کوم چه عام طورباندې خوړلې شي.که روزی جوړه شي.یا سالن جوړشي. اوکه د تلذذ او تفکه (یعنی د خوند اومزې) په طور وی.ددې تعریف په بنیاد باندې مطعوماتو کښې میوې، غله،سبزیانې،او تولې

حاصل دا شو.چه د حدیث مقصد د اموال ربویه بیع کښې د عوضینو په مینځ کښې مماثلت شرط کیدل بیانول دی.اود مماثلت په ثابتولوکښې قدر اوجنس مؤثر وی.ځکه چه مماثلت صوری د قدر په ذریعه حاصلیږی.اومماثلت معنوی د جنس په ذریعه حاصلیږی.په دې وجه دا دواړه د رباء علت اوګرځولی شو.او طعم او ثمنیت ته په مماثلت ثابتولوکښې هیڅ دخل نشته.په دې وجه دا د رباء علت اونه ګرځولی شو.

مکیلې اوموزونې څیز برابر برابر خرڅول

فإذا: بِيْعَ الْمَكِيلُ أَوِ الْمَوْزُونُ بِجِنْسِهِ مِثْلًا بِمِثْلٍ هرکله چې کیلی یا وزنی څیز ددې د هم جنس په عوض برابر برابر خرڅ کړی. جَازَ الْبَيْعُ فِيهِ نو په دې کښې بیع جائز ده.

تشریح> جواز البیع في المکیل والموزون مثلا بمثل> هرکله دا ثابته شوه.چه زمونږ په نیز علت ربوا ،،قدر مع الجنس،، دې. نو که څه کیلی څیز ددې هم جنس کیلی څیز په عوض یاوزنی څیز ددې د هم جنس وزنی څیز په عوض برابرخرڅ کړې شی.نودا بیع جائز ده.

دلیله> دلیل دا دې چه مقتضی د بیع یعنی،،مبادلة المال بالمال بالتراضی،، هم اوموندې شو.اود بیع د جواز شرط یعنی مقدار اومعیارکښې برابری هم موجود شوه.

په مقدار او معیار کښې برابر ځکه شرط اوګرځولې شو.چه په حدیث کښې د حنطه، شعیر،تمر،اوملح نه پس د مثلاً بمثل په ځائې کیلاً بکیل نقل دی.اود ذهب او فضه نه پس،،وزنا بوزن،،نقل دی.نو معلومه شوه.چه د مماثلت نه مراد هم دا دی.چه کیلی څیز دکیل په ذریعه خرڅ کړې شی.او وزنی څیز د وزن په ذریعه سره خرڅ کړې شی.نوهرکله چه کیلی څیز ددې د هم جنس کیلی څیز په عوض برابرخرڅ کړې شو.او وزنی څیز ددې د هم جنس وزنی څیز په عوض برابربرابر خرڅ کړې شو.نودا جائز دی.ځکه چه د بیع مقتضی اود بیع د جواز شرط دواړه موجود شو.

وَإِنْ تَفَاضَلَا اوکه کمې زیاتې اوموندې شو لَمْ يَجُزْ نوجائز نه دې لِتَحَقُّقِ الرِّبَا ځکه چه ربوا متحقق ده.

تشریح> عدم الجواز عند التفاضل> اوکه تفاضل اوشو.یعنی یو عوض د بل عوض نه زیات شو.نود رباء د تحقق په وجه به دا ناجائز وی.

وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْجَيِّدِ بِالرَّدِيِّ مِمَّا فِيهِ الرِّبَا او په اموال ربویه کښې کره د کهوټه په عوض خرڅول جائز نه دی..
إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ مګر برابر سرابر

حل اللغة> الجید: ښه ، **الردئ:** خراب، **الإهدار:** لغوکول، **التفاوت:** فرق

تشریح> عدم جواز بیع الجید بالردي> او جودت(اصل اوکهره والې) چونکه ساقط الاعتبار دې.په دې وجه د اموال ربویه بیع کښې که کهره د ردی په عوض خرڅ کړې شی.نو برابر برابر خرڅول جائز وی.خو په

مصالحې داخلیږی.اود علامه بدرالدین عینی رحمه الله د قول مطابق د ثمن نه مراد دادې.چه پیدائښی طور باندې ثمن وی.لکه سره او سپین زر.یا چه ددې په ثمن کیدلو باندې خلقو اتفاق کړې وی.لکه مروجه سکه. بهرحال د امام شافعی رحمه الله په نیز د ربوا علت په مطعوماتو کښې طعم دې.او په اثمان کښې ثمن دې.او ددې شرط د جنس متحد کیدل دی.اود امام شافعی رحمه الله په نیزپه اموال ربواکښې اصل حرمت دې.خود ربوا د حرمت نه د بچ کیدلو څیز،د دواړو عوضونو په مینځ کښې مساوات او برابری ده.یعنی که د ربوا علت موجود کیدلو په صورت کښې دواړه عوضونه برابر وی.نودا عقدبه حرام نه وی.بلکه مباح او جائز به وی.

تفاضل سره خرڅول به جائز نه وي.
دليله خکه وراندې تيرشوي دي.چه په وصف کښې تفاوت معتبر نه دې.

د دواړه وصفونومعدوم کيدلو په صورت کښې دکمې، زياتي اود قرض حکم

وَإِذَاعُدِمَ الْوَصْفَانِ اوکه دواړه وصف معدوم وي الْجِنْسُ يعنى جنس وَالْمَعْنَى الْمَضْمُومُ إِلَيْهِ او کومه معنى چه ددې سره ملاؤکړې شوې ده حَلَّ التَّفَاضُلُ وَالنَّسَاءُ نوکموالې، زياتوالې او قرض دواړه حلال دي.

حل اللغة **تفاضل**: يودبل نه زياتى، **النساء**:قرض، **الإباحت**: مباح والې، **المحرمة**: حرامونکې
تشريح دا ثابته شوې ده.چه زمونږ په نيز علت ربوا دوه څيزونه دي.يو قدر او دويم جنس.عقلي طورباندې ددې درې صورتونه دي.
الصورة الاولى يوصورت دا دې چه دواړه څيزونه معدوم وي نو په دې صورت کښې به تفاضل او نساء(قرض) دواړه حلال وي.يعنى د احدالبدلين کم اود دويم زيات کيدل هم حلال دي.
دليله دليل دا دې چه په دې صورت کښې د حرمت ربوا علت موجود نشو.او په بيع کښې اصل اباحت دې.لکه چه د الله تعالى ارشاد دې.﴿وَأَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ﴾ نو هرکله چه اباحت اصل دې.اود حرمت علت موجود نه دې.نودا بيع به حلال وي.که په تفاضل سره وي.اوکه د تفاضل نه بغير وي.که په قرضو وي.اوکه په نغدو وي.په هرصورت کښې به جائز وي.

وَإِذَاوُجِدَا اوهرکله چه دواړه وصف موجود وي حُرِّمَ التَّفَاضُلُ وَالنَّسَاءُ نو کمې زياتې او قرض حرام دې

تشريح **الصورة الثانية** دويم صورت دا دې چه دواړه موجود وي يعنى متحدالقدر والجنس وي نو د دوى د يو بل سره په تبادله کښې په شرعي لحاظ سره دوه څيزونه ضروري دي يودا چه دواړه په وزن او پيمانه کښې برابر وي دويم چه دواړه لاس په لاس وي مثلاً دوه کسان غنم په غنمو بدلول غواړي نو په دې کښې کمې زياتې جائز نه دې اونه دا جائز دې چه يو کس هم د عقد په وخت کښې غنم واخلي او بل کس څه موده پس واخلي بلکه په يو مجلس کښې يوبل ته خپل خپل حق سپارل ضروري دي

وَإِذَاوُجِدَ أَحَدُهُمَا اوکه په دې دواړوکښې يو وصف موجود وي وَعُدِمَ الْآخَرُ او دويم معدوم وي حَلَّ التَّفَاضُلُ نو کمې زياتې حلال دې وَحُرِّمَ النَّسَاءُ او قرض حرام دې

تشريح **الصورة الثالثة** دريم صورت دا دې چه يو وصف موجود وي.او يو معدوم وي.نو تفاضل به حلال وي.او قرض به حرام وي.مثلاً يو کس يو هروى تهان د دوه هروى تهانونو په عوض خرڅ کړل.نو په دې صورت کښې جنس اوموندې شو.ځکه چه د دواړو عوضونو جنس يو دې.خو قدر او نه موندې شو.ځکه چه کپړه نه د مکيلاتو څخه ده.اونه د موزوناتو څخه ده.بلکه د مذروعات(ګزونو) څخه ده.نو يو تهان د دوه تهانونو په عوض خرڅول جائز دي.خو يوتهان د يوتهان په عوض په قرضوخرڅول جائز نه دي.اوکه غنم د اوربشو په عوض خرڅ کړي.نو په دې صورت کښې قدر موجود دې.خوجنس موجود نه دې.د جنس نه موجود کيدل خوښکاره دي.او قدرځکه موجود دې.چه دواړه عوضونه د مکيلاتو څخه دي.نود غنمو بيع د اوربشو په عوض په کمې زياتي سره جائز ده.خو په قرضو جائز نه ده.حاصل داشو.چه زياتوالې سره حرمت ربوا کيدل په دوه وصفونو سره دي.او په قرض حرام کيدل په يو وصف

سره دی. (١)

دليله دليل دادي چه په باب د رباء کښي يوحقيقت د ربوا وی.اويو شبهة الربوا وی.اود ربوا شبه چه کله د ربوا د حقيقت نه جدا اوموندي شی.نودا د يومحل محتاج وی.اود يوعلت محتاج وی.لکه چه حقيقت ربوا ددي دوارو محتاج وی.اودا ممکن نه ده.چه د شبة الربوا محل اوددي علت هم هغه وی.کوم چه د حقيقت ربوا محل اوعلت دي.ځکه که داسي اوشو.نوشبهة الربوا به شبهة الربوا پاتي نشي.بلکه حقيقت ربوا به شی.اود حقيقت ربوا مقارن به شی.حالانکه دا خلاف مفروض دي.په دي وجه د شبهة الربوا دپاره شبة محل اوشبة علت کيدل ضروری دی.او په کومه بيع کښي چه نساء حرام ده.په هغي کښي عوضين من وجه مال ربوا دي.ځکه چه په عوضينو کښي به يا اتحاد قدر وی.لکه د غنمو بيع د اوربشو په عوض،يا به اتحادجنس وی.لکه د هروی کپړي بيع د هروی کپړي په عوض،اودا خبره منلي شوي ده.چه د ربوا د علت نصاب دوه وصفونه يعنی د قدر اوجنس مجموعه ده.په دي وجه په دي کښي يود ربوا علت نشی کيدلي. البته شبة علت کيدلي شی.او شبهة العلت نه شبهة الحکم يعنی شبهة الربوا ثابتيږی.حقيقت ربوا نه ثابتيږی.نوهرکله چه يو عوض نقد وی.او يوعوض قرض وی.نو نقد کيدل په ماليت کښي زياتوالي پيدا کوی.لکه چه د(النقد خير من النسيئة) مقوله نه ښکاره معلوميږی.نو په نقد کيدلو سره په دي محل يعنی د نقد په عوض کښي د ربوا شبه پيدا کوی.اوشبهة الربوا د بيع دجواز نه هم دغه شان مانع دي.لکه څنګه چه حقيقت ربوا مانع دي.ځکه چه رسول الله ﷺ د ربوا او ريبه (شبهة الربوا) دوارو نه منع فرمائيلي ده.نو ثابته شوه.چه د احدالوصفين يعنی د قدر يا جنس موجوديدل نساء (قرض) حراموی.

هم ددي شبهة الربوا په وجه اموال ربويه په اندازه سره خرڅول جائز نه دی.مثلاً يوسړی د غنمو يو ډيری د غنمو د يوبل ډيری په عوض اندازه سره خرڅ کړلو.اودا دواړه ډيری په کتلوکښي برابر دی.بيا هم جائز نه دی.ځکه چه په دي کښي د زيات والی شبهه ده.ددي نه هم معلومه شوه.چه شبهة الربوا د بيع د جواز نه مانع دي.بلکه د امام زفر رحمه الله نه علاوه احناف فقهاؤ تردي پوري ونيلی دی.چه د غنمو يو ډيری د بل ډيری په عوض اندازه سره خرڅ کړی.بيا دواړه ډيری کيل کړی.او دواړه برابر شی.نو بياهم زمونږ په نيز جائز نه دی.

....

په نص کښي دکيلي او وزني څيز د هميشه والي حکم

وَكُلُّ شَيْءٍ نَصَّ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَلَى تَحْرِيمِ التَّفَاضُلِ فِيهِ كَيْلًا او رسول الله ﷺ چه په کومو څيزونوکښي د کيل په ذريعه د زياتوالي د حرمت تصريح فرمائيلي ده فَهُوَ مَكِيلٌ أَبَدًا،هغه به هميشه کيلي وی وَإِنْ تَرَكَ النَّاسُ الْكَيْلَ فِيهِ اګرچه خلقو په دي کښي کيل کول پريخودي وی. مِثْلَ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالتَّمْرِ وَالْمِلْحِ لکه غنم، اوربشي، چواري، مالګه.

حل اللغة **تحريم**: حرامول، **الترک**: پريخودل، **الناس**: خلق، **الحنطة**: غنم، **الشعير**: اوربشي، **التمر**: قجوره، **الملح**: مالګه، **التفاضل**: يوپه بل زياتی کيدل

تشريح **القاعدة الاولي** مسئله داده.چه په عهدرسالت کښي کوم څيزکيلي وو.يعنی چه رسول الله ﷺ

---

[1] **مذهب الشافعي رحمه الله**:- دحضرت امام شافعي رحمه الله مذهب دادي.چه جدا جنس قرض نه حراموی.يعنی که د دواړو عوضينو جنس يو وی.او طعم يا ثمنيت نه وی.نو ددوی په نيز قرض به هم حرام نه وی.

اوصحابه کرام﷢ به په هغې کښې په کيل سره معامله کوله.هغه به هميشه کيلي شمارلي شي.اګرچه خلقو په دې کښې په کيل سره معامله کول پريخودي وي.لکه غنم،اوربشې،چوارې،او مالګه.نو په دې څيزونو کښې به مساوات اوبرابري د کيل په ذريعه معتبر وي.د وزن په ذريعه به معتبر نه وي.که غنم د غنمو په عوض خرڅ کړې شو.او برابري د وزن په ذريعه اوکړې شوه.د کيل په ذريعه اونکړې شوه.نودا جائز نه ده.ځکه چه غنم په عهدرسالت کښې کيلي وو.ځکه به په دې کښې د قيامته پورې هم د کيل په ذريعه مساوات او برابري معتبر وي.د وزن په ذريعه به معتبر نه وي.

وَكُلُّ مَا نَصَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم عَلَى تَحْرِيمِ التَّفَاضُلِ فِيهِ وَزْنًا او په کوم څيز کښې چه رسول الله ﷺ د وزن په اعتبارسره د زياتوالي د حرمت صراحت فرمائيلي دې. فَهُوَ مَوْزُونٌ أَبَدًا هغه به هميشه وزني وي وَإِنْ تَرَكَ النَّاسُ الْوَزْنَ فِيهِ اګرچه خلقو په دې کښې وزن کول پريخودې وي مِثْلُ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ لکه سره زر او سپين زر.

تشريح﴾ القاعدة الثانية﴾ اوکوم څيز چه په عهدرسالت کښې وزني وو.يعني خلقو به په دې کښې په وزن سره معامله کوله.نوهغه به هميشه وزني شمارلې کيږي.اګرچه په دې کښې خلقو په وزن سره معامله کول پريخودې وي.لکه سره زراو سپين زر.تردې که سره زر د سرو زرو په عوض خرڅه شوه.اود کيل په ذريعه برابري اوکړې شوه.د وزن په ذريعه اونکړې شوه.نودا به جائز نه وي.

دليله﴾ ددې دليل دادې.چه عرف حجت کيدل صرف د هغه خلقو په حق کښې دې.چه دچا عرف وي.اودا چه دچا عرف نه وي.د هغوی په حق کښې عرف حجت نه وي.او نص د ټولو په حق کښې حجت وي.ددې نه هم معلومه شوه.چه نص د عرف په مقابله کښې اقوی دې.او اقوی د ادنی په وجه نشی ترک کيدلې.په دې وجه د څيزونو په مکيلي ياموزوني کيدلو کښې حديث رسول ﷺ يعني نص د خلقو د عرف اورواج په وجه نشی ترک کيدلې.او هرکله چه نص د عرف په وجه نشی ترک کيدلې.نود کومو څيزونوچه په نص يعني حديث سره مکيلي کيدل ثابت دی.هغه به ترقيامته مکيلي وي.اود کومو څيزونو چه موزوني کيدل ثابت دی.هغه به هميشه موزوني وي.د عرف او رواج په وجه به په دې کښې هيڅ تبديلي نه واقع کيږي.

په کومو څيزونو چه نص وارد نه وي د هغې حکم

وَمَا لَمْ يَنُصَّ عَلَيْهِ او په کوم څيزکښې چه نبي کريم ﷺ صراحت نه وي فرمائيلې فَهُوَ مَحْمُولٌ عَلَى عَادَاتِ النَّاسِ هغه د خلقو په عادتونو باندې محمول دی

تشريح﴾ حکم عدم المنصوص عليه﴾ ابو الحسن قدوري ﷫ فرمائي.چه د کوموڅيزونو په کيلي يا وزني کيدلو باندې نص موجود نه دې.د هغه څيزونو کيلي يا وزني کيدل به د تجارت والو په عادت باندې محمول وي.يعني که دوی د کيل په ذريعه کاروبار کوي.نوهغه څيز به کيلي شمارلې کيږي.اوکه په څه څيز کښې د وزن په ذريعه کاروبارکوي.نوهغه څيز به وزني شمارلې کيږي.

دليله﴾ ځکه چه په کومو څيزونوکښې چه د خلقو عادت واقع شوې دې.په هغې کښې د حکم په جواز باندې د خلقو عادت دليل وي.لکه چه د رسول اکرم ﷺ ارشاد دې.(مارآه المسلمون حسناً فهو عند الله حسن) حاصل دادې.چه د نص نه موجود کيدلو په صورت کښې عرف اود خلقو رواج په منزله د اجماع وي.او اجماع شرعي حجت دې.په دې وجه ديو څيز په مکيلي ياموزوني کيدلو باندې د نص نه موجود کيدلو په صورت کښې د تاجرانو عادت او ددوی عرف ته اعتبار وي.که په يوڅيز کښې دوی د کيل په

ذريعه معامله کوي.نوهغه څيز به کيلي شمارلې شي.اوکه د وزن په ذريعه معامله کوي.نو هغه څيز به وزني شمارلې شي.

مذهب ابي يوسف رحمه الله د امام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې.چه د منصوص عليه نه خلاف هم عرف معتبر وي.يعنې که د يوڅيز مکيلي کيدل منصوص وي.خو عرف ددې په وزني کيدلو باندې جاري وي.نودا به وزني شمارلې کيږي.اوکه د يوڅيز وزني کيدل منصوص وي.خو عرف ددې په مکيلي کيدلو جاري دې.نودا به مکيلي شمارلې کيږي.(١)

دليله دليل دا دې چه په عهدرسالت کښې په مکيلي څيزونوکښې په کيل کولو باندې او په موزوني څيزونوکښې په وزن کولو باندې چه کوم نص وارد شوې دې.دا دهغه زمانې د خلقو د عادت په وجه وو.نو عادت مقصود شو.بيا چه کله روسته زمانه کښې عادت بدل شو.نو ددې په مطابق به حکم ثابتيږي.يعني کله چه په عهدرسالت کښې د غنم وغيره اخستل خرڅول،په کيل سره کيدلو.نو هغه به کيلي شمارلې کيږي.

الجواب عنه زمونږ د طرفه د ابويوسف رحمه الله د دليل جواب دادې.چه هرکله رسول الله ﷺ د خپلې زمانې خلق د غنمو وغيره کښې په کيل سره معامله کولو باندې اوکتل.او نبي کريم ﷺ په دې باندې سکوت اختيار کړلو.نودا سکوت اختيارول،د نص په مرتبه کښې شو.او نص په عرف او رواج سره نه متغيرکيږي.ځکه چه عرف د نص معارض نشي کيدلې.

ثمرة الاختلاف د طرفينو اود امام ابويوسف رحمه الله په مينځ کښې به ثمره د اختلاف په دې مثال کښې ښکاره کيږي.چه يوسړي غنم د غنمو په عوض خرڅ کړل.او په دواړه عوضونوکښې په وزن سره برابري اوکړې شوه.يعني لين دين په وزن سره اوکړې شو.يا سره زر د سروزرو په عوض خرڅ کړې شو.او برابري د کيل په ذريعه اوکړې شوه.يعني لين دين په پيمانه اوکيل سره اوکړې شو. نودا صورت د طرفينو رحمهما الله په نيز ناجائز دې.اګرچه غنم په اصل کښې کيلي دي.او سره زر په اصل کښې وزني دي.او د ابويوسف رحمه الله په نيز جائز دې.ځکه چه د عرف مطابق وزني څيز د وزن په ذريعه برابر کړې شو.او کيلي څيز د کيل په ذريعه برابر کړې شو.

مسئلة الحنطة اوغنم د وزن په ذريعه برابرولو سره دا نه لازميږي.چه دا د کيل په ذريعه هم برابر وي.بلکه د کيل په ذريعه د کمي زياتي شبه باقي ده.ځکه ډيره ممکن ده.چه د يوطرف غنم لږ لامده وي.اود بل طرف غنم اوچ وي.نو يومن لامده غنم چه په کوم لوخي کښې راتلې شي.په هغه لوخي کښې يو من اوچ غنم نشي راتللې.بلکه څه غنم به باقي پاتې کيږي.دغه شان کوم سره زر چه د کيل په ذريعه برابر کړې شو.ضروري نه ده.چه دا د وزن په ذريعه هم برابر وي.حاصل دا شو.چه د اصل معيار په اعتبار سره د زياتوالي شبه ده.اوپه اموال ربويه کښې دزياتوالي او ربوا شبه دغه شان حرام ده.لکه څنګه چه حقيقت ربوا حرام ده.لکه څنګه چه غنم د غنمو په عوض او سره زر د سرو زرو په عوض په اندازه سره خرڅول ناجائز دي.

جوازه في السلم عند الطرفين اود طرفينو رحمهما الله په نيز که په مکيلي څيز کښې د وزن په اعتبار سره بيع سلم اوکړې شوه.نوجائز ده.مثلاً يو کس زر روپئ راس المال د لس منه غنمو په عوض د يومياشت په وعده باندې مسلم اليه ته ورکړلې. يعني زر روپئ پيشګي (ايډوانس) ئې مسلم اليه ته پيش کړلو.چه مسلم اليه په يوه مياشت کښې لس منه غنم ورکړي.نودا جائز دی.ځکه چه په بيع سلم کښې مساوات

---

(١) القول الراجح هو هذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في الدرالمختار(٤\٢٠٢) وفتح القدير(٦\١٥٧) والكفاية (٦\١٥٧) وشرح المجلة (١\٨٦، ٨٧) نقلاً عن القول الراجح (٢\٥٨)-

او برابري معتبر نه ده.بلكه د مسلم فيه په داسې طريقه معلوميدل معتبردي.چه په هغې سره د مسلم فيه سپارلو په وخت جګړه پيدانشي.اود غنمو د وزن مقدار بيانولوسره مسلم فيه يعنې غنم معلوميږي.په دې وجه د غنمو بيع سلم د وزن په اعتبارسره جائز اوصحيح ده.

په عقدصرف کښې په عوضين باندې د قبضه حکم

وَعَقْدُ الصَّرْفِ مَا وَقَعَ عَلَى جِنْسِ الْأَثْمَانِ او بيع صرف هغه ده.کوم چه خپل مينځ کښې د د واړو ثمن په جنس باندې واقع وی يُعْتَبَرُ فِيهِ قَبْضُ عِوَضَيْهِ فِي الْمَجْلِسِ چه په دې کښې په مجلس کښې دننه ددې په دواړو عوضونو باندې قبضه کول معتبر دی.

تشريح› په بيع صرف کښې دواړه عوضونه د نقودو د قبيلې څخې دی.کله د دواړوجنس يو وی.لکه سره زر د سرو زرو په عوض،او سپين زر د سپينو زرو په عوض.اوکله د دواړو جنس مختلف وی.لکه سره زر د سپينو زرو په عوض،يا سپين زر د سرو زرو په عوض.په رومبی صورت کښې يعنی داتحادجنس په وخت په دواړو عوضونوکښې برابری هم ضروری ده.اوپه مجلس د عقدکښې لاس پلاس قبضه کول هم ضروری دی.اود اختلاف جنس په صورت کښې برابری شرط نه ده.البته په مجلس د عقدکښې يوځائې قبضه کول ضروری دی.

دليله› په مجلس کښې يوځائې د قبضه کولو په وجوب باندې دليل دادې.د نبی کريم ﷺ ارشاد دې.(الفضة بالفضة هاء وهاء)[1] يعنی سپين زر د سپينو زرو په عوض لاس په لاس يوځائې قبضه کول دی.ابن ابی شيبه د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه دا حديث داسې روايت کړې دې.(عن رسول الله ﷺ الذهب بالذهب ربا إلا هاء وهاء والورق بالورق ربا إلا هاء وهاء والبر بالبر ربا إلا هاء وهاء والشعير بالشعير ربا إلا هاء وهاء والتمر بالتمر ربا إلا هاء وهاء) يعنی سره زر د سرو زرو په عوض سود دې.خود نقد په نقد په صورت کښې يعنی که سره زر د سروزرو په عوض برابر برابر خرڅه کړې شوه.اوپه مجلس کښې يوځائې قبضه هم اوشوه.نو ټيک ده.ګنی ربوا ده.

په ربوی څيزونوکښې د تعين او تقابض حکم

وَمَا سِوَاهُ مِمَّا فِيهِ الرِّبَا اوکوم څيزونه چه په اموال ربويه کښې د ثمن نه علاوه دی يُعْتَبَرُ فِيهِ التَّعْيِينُ په هغې کښې متعين کول معتبر دی وَلَا يُعْتَبَرُ فِيهِ التَّقَابُضُ او خپل مينځ کښې قبضه کول معتبر نه ده.

تشريح› **صورة المسئلة**› صورت دمسئلې دادې.چه نقود يعنی د سرو زرو او سپينو زرو نه علاوه په باقی اموال ربويه يعنی د مکيلی اوموزونی (څيزونو) بيع کښې د عوضين متعين کول معتبردی.په مجلس کښې قبض کول معتبر نه دی. ([2])

---

[1] من حديث عمربن الخطاب رضی الله عنه اخرجه البخاری فی البيوع باب ٥٤ ومسلم فی المساقاة رقم ٧٩ وأبوداود فی البيوع باب ١٢ والترمذی فی البيوع باب ٢٤ والنسائی فی البيوع باب ٤١ وابن ماجه فی التجارات باب ٥٠ ومالك فی البيوع رقم ٣٨ وأحمد فی المسند(٣٤/١)

[2] ، **مذهب الشافعی** رحمه الله:- د حضرت امام شافعی رحمه الله په نيزکه د مطعوم بيع د مطعوم په عوض اوکړې شوه.که په اتحاد جنس سره وی.لکه د غنمو بيع د غنمو په عوض.اوکه په اختلاف جنس سره وی.لکه د غنمو بيع د اوربشو په عوض.نوپه دې کښې متعين کول کافی نه دی.بلکه قبضه کول ضروری دی.نوکه د ،،بيع الطعام بالطعام،، په

دليله دليل دادې.چه د سرو او سپينو زرو نه علاوه هرمال متعين كيدلې شي.اوكوم څيز چه متعين وي. يعنى په متعين كولوسره متعين كيدلې شي.په هغې كښې قبضه شرط نه وي.لكه كپړا،غلام، خاروي وغيره. اوكوم څيز چه په متعين كولوسره متعين كيدلې شي.په هغې كښې د قبضې شرط كيدل په دې وجه دي.چه د بيع مقصودى فائده داده.چه په تصرف باندې قابوحاصل وي.اوچونكه په متعين كولوسره دا فائده حاصليږي.په دې وجه د قبضه كولو ضرورت نشته.

الجواب عنه د دې نه جواب دا دې كه عوضين قرض نه وي.بلكه نغد وي.او متعين وي.نود سودا گرو په عرف كښې مقبوض فى المجلس اود غيرمقبوض فى المجلس په ماليت كښې تفاوت معتبر نه وي.يعنى داسې نه ده.چه په كوم عوض باندې په مجلس كښې قبضه اوكړې شوه.ددې ماليت زيات وي.او په كوم چه دمجلس نه پس قبضه شوې وي.د هغې ماليت كم وي.بلكه په ماليت كښې دواړه برابر وي.او هركله چه داسې ده.نوكوم عوض چه مقبوض فى المجلس دې.دې ته په بل عوض باندې هيڅ فضيلت حاصل نه دې.اوهر كله چه مقبوض فى المجلس ته په غيرمقبوض فى المجلس باندې هيڅ فضيلت حاصل نه دې.نو ددې په وجه به د رباء شبه هم نه پيدا كيږي.او هركله چه د رباء شبه پيدا نشوه.نو بيع به ناجائز هم نه وي.بلكه جائز به وي.

د غنمو په اوړو اوستوانو سره د بيع حكم

وَلَايَجُوْزُبَيْعُ الْحِنْطَةِ بِالدَّقِيْقِ او غنم د اوړو په عوض خرڅول جائز نه دي وَلَابِالسَّوِيْقِ اونه د ستوانو په عوض

الحنطة : غنم ، **الدقيق** : اوړه ، **السويق** : ستوان

تشريح **حرمة بيع الحنطة بالدقيق** مسئله داده.چه زمونږ په نيز د غنمو بيع ددې د اوړو په عوض اود غنمو بيع ددې د ستوانو په عوض جائز نه ده.نه په برابرئ سره اونه په كمى زياتى سره.هم دا يوقول د امام شافعى، امام احمد اود امام ثورى رحمه الله دې. ([1])

دليله دعدم جواز دليل دا دې چه دغنمو او ددې د اوړو په مينځ كښې،اود غنمو اود ستوانو په مينځ كښې من وجه هم جنس كيدل موجود دى.او من وجه موجود نه دى.مجانست ځكه موجود دې.چه د غنمو په ميده كولو سره صرف د غنمو اجزاء متفرق كيږي.او شي؛ د اجزاؤ د تفريق په وجه دويم شي؛ نه جوړيږي.بلكه هم هغه شي؛ باقى پاتې وي.نود ميده كولو نه وړاندې چه كوم څيز وو.د ميده كولو نه پس هم هغه څيز باقى دې.

او مجانست من وجه ځكه نه دې موجود.چه د جنس اختلاف د نوم، صورت،اود معنى په اختلاف سره متحقق كيږي.لكه د غنمو او اوربشو په مينځ كښې اختلاف جنس دې.ځكه چه د دواړو نوم هم مختلف دې.صورت هم مختلف دې.او معانى اومنافع هم مختلف دى.نو په دې صورت كښې د ميده كولونه وړاندې ددې نوم غنم وو.اود ميده كولو نه پس اوړه يا ستوان شو.نوگويا ددواړو نوم مختلف دې.ځكه چه غنم اورتولې شى.او خوړلې شى.اود اوړو په مينځ كښې من وجه مجانست زائل شو.اومن وجه نه دې زائل شوې.بلكه باقى دې.نوگويا د مجانست په زائل كيدلوكښې شك واقع شو.حالاتكه د

صورت كښې د قبضه نه بغير عاقدين جدا شو.نود امام شافعى رحمه الله په نيز بيع فاسد ده.او زمونږ په نيز فاسد نه ده.

[1] مذهب مالكية: اود امام مالك رحمه الله مذهب دادې.چه د غنمو بيع ددې د اوړو اود ستوانو په عوض برابر جائز ده.هم دا د امام احمد اظهرقول دې.

مجانست موجود کيدل يقيني وو.او يقين د شك په وجه نه زائل کيږي.په دې وجه اووئيلي شو.چه مجانست زائل شو.اومن وجه زائل نشو.بلکه باقي دې.نوګويا دمجانست په زائل کيدلو کښې شك واقع شو.حالانکه دمجانست موجود کيدل يقيني وو.نود غنمو اوددې د اوړو په مينځ کښې اود غنمو اود ستوانو په مينځ کښې اتحادجنسي او اتحاد قدر دواړه موجود شو.اوهرکله چه قدر مع الجنس دواړه موجود شو.نو تفاضل اوشبۀ تفاضل دواړه به حرام وي.او په برابرئ سره به بيع جائز وي.

وكذالك الدقيق بالسويق او دغه شان اوړه د ستوانو په عوض خرخول جائز نه ده (۱)

تشريح> حرمة بيع الدقيق بالسويق> د غنمو د اوړو بيع دغنمو د ستوانو په عوض دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز نه په برابرئ سره جائز ده.اونه په کمی زياتی سره جائز ده.

دليله> د بيع الدقيق بالسويق په عدم جواز باندې دليل دا دې چه د اوړو بيع د اورتو غنمو په عوض اود ستوانو بيع د بغير ورتوغنمو په عوض ناجائز ده. او دا عدم جواز په دې وجه دې.چه دا ربوا الفضل ته مستلزم دې.او ربوا الفضل مجانست سره ثابتيږي.نو په ستوانو اود بغير اورتو غنمو په مينځ کښې مجانست ثابت شو. اوچونکه اوړه د بغير اورتو غنمو اجزاء دی.په دې وجه به د اوړو او ستوانو په مينځ کښې مجانست ثابت شي. او په اوړو او ستوانو په مينځ کښې د کيل په ذريعه مساوات او برابری کول ناممکن دی.په دې وجه د اوړو بيع د ستوانو په عوض متفاضلاً هم ناجائز ده.اومتساوياً هم ناجائز ده.

مذهب الصاحبين> په مذکوره مسئله کښې د صاحبينو رحمهما الله په نيز متساوياً او متفاضلاً په دواړه طريقه بيع جائز ده.

دليلهما> د صاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه د غنمو اوړه ددې ستوان دوه جداجدا جنسونه دی.اګرچه د دواړو اصل يعنی غنم يودی.او ددې دواړو جنس مختلف ځکه دې.چه د دواړو په مقصود کښې اختلاف دې. ځکه چه د اوړو نه روټئ پخيږی.پراټې پخيږی.اودا دواړه خبرې په ستوانو سره نه حاصليږی.او ستوان په اوبوکښې ګډولی شی.نو خوړلی شی.او په غوړو اوچينوکښې ګډوډ کولی شی.اوخوړلی شی.اودا مقصد په اوړو سره نه حاصليږی. حاصل دا شو.چه اوړه او ستوان دوه جداجدا جنسونه دی.اوهرکله چه جداجدا جنسونه شو.نو په دې کښې يود بل په عوض برابر هم جائز دی.اوپه کمی زياتی سره خرخول به هم جائز وی.ځکه چه د اختلاف جنس په صورت کښې کمی زياتی سره خرخول جائز وی.

الجواب عنه> د صاحبينو رحمهما الله د دليل جواب دادې.چه اوړه او ستوان په اعظم مقصود کيدلو يعنی په غذا کيدلو کښې دواړه شريك دی.يعنی په اوړو سره هم غذا حاصليږی.او په ستوانو سره هم غذا حاصليږی.او پاتې شو په بعض څيزونوکښې تفاوت،نودا د اتحاد جنس دپاره مضرنه دې.

نظيره> لکه اوراتۀ شوی غنم او بغير اوراتۀ شوی غنموکښې څه ناڅه تفاوت نه پس اتحاد جنس دې.او په چينجو (يا وينو) لګيدلی غنمو کښې د څه ناڅه تفاوت باوجود اتحاد جنس دې.دغه شان د ستوانو او اوړو په مينځ کښې هم د څه قدري تفاوت باوجود اتحاد جنس دې.او هرکله چه اتحاد جنس دې.نو لکه ځنګه چه د اورتوغنمو بيع د بغير اورتوغنمو په عوض،اود ښه قسم غنمو بيع د سپکو (يا وينو) لګيدلی غنمو په عوض متفاضلاً او متساوياً دواړه شان ناجائز دې.دغه شان د اوړو بيع د ستوانو په عوض متفاضلاً او متساوياً په دواړه طريقه ناجائز ده.

---

(۱) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(۱۶۵\۶) وردالمحتار(۲۰۸\۱۳) والزيلعي (۹۶\۱۴) نقلاً عن القول الراجح (۶۰\۱۲)-

د غوښې د حيوان په بدله کښې د بيع حکم

وَيَجُوزُبَيْعُ اللَّحْمِ بِالْحَيَوَانِ عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ(۱)اود ابوحينفه رحمه الله په نيزغوښه د ژوندی څناور په عوض خرڅول جائز دی.

تشريح> **حرمة بيع اللحم بالحيوان>** غوښه د څاروو په عوض د خرڅولو يوڅو صورتو نه دی.يوصورت په متن کښې ذکر دې هغه دا چه غوښه ددې هم جنس ژوندی څاروی په عوض خرڅه کړې شی.مثلاً د چيلۍ غوښه د ژوندې چيلۍ په عوض خرڅه کړې شی.نود شيخينو رحمهما الله په نيز دا صورت جائز دې.غوښه که د هغه غوښې برابره وی.کومه چه په ژوندی څاروی کښې ده.اوکه برابره نه وی.

دليلهما> د شيخينو رحمهما الله دليل دادې.چه غوښه موزونی ده.ددې اخستل خرڅول د وزن په ذريعه کيږی.او څاروې غيرموزونی دې.عام طورباندې ددې وزن نه کيږی.

عدم امکان معرفة ثقل الحيوان بالوزن> اود وزن په ذريعه د ژوندی څاروی دروندوالې معلومول هم ممکن نه دی.څکه چه دې هم کله خپل څان درنه وی.او کله سپکه وی.نودا به معلومه نشی.چه چيلۍ خپل بوج سپک کړې دې.اوکه درند کړې دې.بهرحال غوښه د چيلۍ په عوض خرڅول يو موزونی څيز دغيرموزونی څيز په عوض خرڅول دی.نود غوښې او چيلۍ په مينځ کښې اتحاد قدر اونه مونده شو.او وراندې تيرشوی دی.چه د اتحاد قدر نه کيدلو په صورت کښې بيع متساوياً او متفاضلاً دواړه شان جائز ده.اوکه تاسو غوراوکړئ.نو معلومه بشی.چه غوښه او ژوندۍ چيلۍ کښې اتحاد جنس هم نشته.څکه چه غوښه غيرحساس ده.او ژوندۍ چيلۍ حساس، متحرك بالاراده ده.اود اتحادجنس فوت کيدلو په صورت کښې هم بيع متفاضلاً جائز وی.په دې وجه د غوښې بيع ددې هم جنس ژوندی څاروی په عوض جائز ده.غوښه که د ژوندی څاروی د غوښې نه زياته وی.اوکه برابره وی.اوکه کمه وی.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: او امام محمد رحمه الله فرمائيلي دی لَايَجُوزُ جائز نه دی حتی يكون اللحم اكثرمما في الحيوان تردې چې وی غوښه زياته د هغې نه کومه چې په حيوان کښې وی فيكون اللحم بمثله نو شی به غوښه په مقابله د غوښې کښې والزيادة بالسقط او زياتی غوښه به د هغې په مقابله کښې شی کوم چې غورځولی شی لکه بنکر وغيره

تشريح> **مذهب محمد رحمه الله>** امام محمد رحمه الله فرمائی.که د چيلۍ جداکړې شوې غوښه د هغه غوښه نه زياته وی.کومه چه په ژوندې چيلۍ کښې ده.نو بيا خو جائز ده.گنی جائز نه ده.

دليله> د امام محمد رحمه الله دليل دادې.که جدا کړې شوې غوښه د ژوندې چيلۍ د غوښې نه زياته وی.مثلاً د چيلۍ جدا کړې شوې غوښه پنځوس کلو ده.او ژوندۍ چيلۍ ذبح کولو نه پس په دې کښې څلويښت کلو غوښه اووتله. نودا صورت څکه جائز دې.چه د ژوندې چيلۍ څلويښت کلو غوښه به دجدا کړې شوې څلويښت کلو غوښې په عوض شی.او باقی لس کلو غوښه به،د چيلۍ د څرمنې،او نور اجزاء مثلاً سر، خپې وغيره په مقابله کښې شی.او په دې صورت کښې به ربوا يا شبه ربوا نه پيدا کيږی.خوکه جدا کړې شوې غوښه د ژوندې چيلۍ د غوښې نه زياته نه وی.بلکه برابر وی.يا ددې نه کم وی.نو ربوا به متحقق شی.څکه که جدا کړې شوې غوښه په نسبت د هغه غوښې، کومه چه په ژوندې

(۱) القول الراجح هوهذا قول الشيخين رحمهما الله كذا في الدرالمختار(۲۰۵\۴) والبحر(۱۳۲\۶) وفتح القدير(۱۶۷\۶)نقلاً عن القول الراجح (۶۱\۲)-

چیلې کښې ده.برابر وی.نودا غوښه اود ژوندي چیلې غوښه به برابره وی.اود چیلې باقی اجزاء مثلاً څرمن، سر خپې وغیره به زیاتی پاتې شي.اوپه دې دوارو صورتونوکښې ربوا ده.په دې وجه غوښه په نسبت د هغه غوښې کومه چه په ژوندې چیلې کښې ده.که زیاتی وی.بیا خو جائز ده.ګنی جائز نه ده.

نظیره> اودا داسې شوه.لکه د کونځلو په مقابله کښې چه ددې تیل وی.یعنی که تیل زیات وی.په نسبت د هغه تیلو کوم چه په کونځلوکښې دی.نوجائز دی.ځکه چه د تیلو په مقابله کښې به تیل شي.اوکوم تیل چه زیاتی پاتې شي.هغه به ئې د بورې (ګهل) په مقابله کښې شي.ګنی که تیل په نسبت د هغه تیلو کوم چه په کونځلوکښې دی.برابر وی.یا کم وی.نوبیع به جائز نه وی.

الجواب عن النظیر> په خلاف د کونځلو.او ددې د تیلو.ځکه چه فی الحال د کونځلو په وزن کولو سره د تیلو مقدار معلومیدلې شي.چه کله تیل او بوره (ګهل) جدا جدا کړې شي.ځکه چه بوره (ګهل) یو داسې څیز دې.چه وزن کیدلې شي.مثلاً کونځلې یو کلو دی.خو چه کله ددې نه تیل اوبنکلې شو.او بوره (ګهل) اوتللې شوه.نو بوره (ګهل) شپږ سوه ګرامه وه.نو معلومه شوه.چه تیل څلورسوه ګرامه دی.په دې وجه په دې صورت کښې تیل په نسبت د هغه تیلو نه زیات بکار دی.کوم چه په کونځلوکښې دی.چه تیل د تیلو په مقابله کښې شي.او زیاتی تیل د بورې (ګهل) په مقابله کښې شي.

د لوندو کجورو د چوارو په بدله کښې د بیع حکم

وَيَجُوزُ بَيْعُ الرُّطَبِ بِالتَّمْرِ مِثْلًا بِمِثْلٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ اود ابوحنیفه رحمه الله په نیز پخې تازه کجورې د پخو اوچو چوارو په عوض برابر سرابر خرڅول جائز دی.

حل اللغة> الرطب: تازه قجوره **التمر:** چواره

تشریح> جواز بیع الرطب بالتمر مثلاً بمثل> رطب: پخو تازه چوارو ته وائی.چه په اردو ژبه کښې دې ته کجورې وائی.او ، ،تمر، ، پخو اوچو چوارو ته وائی.چه کله چواره اووئیلې شي.نوهم دا مفهوم ترې مراد وی.

صورته> مسئله داده.چه د کجورو بیع د چوارو په عوض متفاضلاً یعنی په کمی زیاتی سره بالاجماع ناجائز ده.او متساویاً یعنی برابر برابر د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز جائز ده. حضرت امام مالك،امام شافعی اوامام احمد رحمه الله هم ددې د جواز قائل دی.

دلیله> د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نقلی دلیل دادې.چه یوځلې د مدنی آقا ﷺ په خدمت کښې د خیبر رطب یعنی تازه کجورې په هدیه کښې پیش شوې.نبی کریم ﷺ چه دا اولیدلې.نو وې فرمائیل (**أوکل تمرخیبرهکذا**) آیاد خیبر ټولې چوارې داسې وی.اوګورئ نبی کریم ﷺ رطب ته تمر فرمائیلی دی.ددې نه معلومه شوه.چه رطب، تمر دی.اود تمر بیع د تمر په عوض برابر برابر جائز ده.لکه چه حدیث **التمربالتمرمثلاً بمثل والفضل ربا** یعنی د تمر بیع د تمرپه عوض برابر سرابر جائز ده.په دې شاهد دې.نو ثابته شوه.چه درطب بیع د تمر په عوض برابر برابر جائز ده.

② عقلی دلیل دادې.چه د رطب دوه صورتونه دی.یا خو رطب، تمردی.او یا غیر تمر دی.که رطب،

---

۱) من حدیث ابي هريرة رضي الله عنه وابي سعيدالخدري رضي الله عنه قال الزيلعي رحمه الله والمصنف (اى صاحب الهداية) رحمه الله إحتج بالحديث على جواز بيع الرطب بالتمر،مثلا بمثل،بناء على تسميته في الحديث تمراً وقد كشفت طرق الحديث والفاظه فلم اجد فيه ذكرالرطب والبخارى ذكرالحديث في أربعة مواضع من صحيحه في البيوع رقم ۲۲۰۱ وفي الوكالة رقم ۲۳۰۲ وفي المغازى رقم ٤٢٤٤ وفي الإعتصام رقم ۷۳۵۰) وهذا اللفظ رواه النسائي ايضاً ،نصب الراية ٨٢/٤ _

تمر دی.نود رطب بیع د تمر په عوض برابر جائز ده.لکه څنګه چه حدیث د ربوا په شروع کښې تیر شوې دې.چه(التمربالتمرمثلاًبمثل)اوکه رطب غیر تمر دی.نود رطب بیع د تمر په عوض متساویاً او متفاضلاً دواړه قسمه جائز دې.څکه چه هم ددې حدیث په آخرکښې دی.(اذا اختلف النوعان فبیعوا کیف شئتم) یعنی د اختلاف جنس په صورت کښې چه څنګه غواړئ. خرڅوئ.که متساویاً وی.اوکه متفاضلاً وی.

مذهب الصاحبین د صاحبینو رحمهما الله په نیز متساویاً یعنی د کجورو په چوارو باندې برابر برابر خرڅول ناجائز ده. (۱)

دلیلهما دلیل دادې.چه یوځلې د رسول الله ﷺ نه د،، بیع الرطب بالتمرمثلاً بمثل،، په باره کښې تپوس اوشو.چه دا جائز دی،اوکه ناجائز دی.نو نبی کریم ﷺ تپوس اوکړلو.چه آیا تازه کهجورې اوچې شی.نو کمیږی.خلقو په جواب کښې عرض کړل.چه آؤ کمیږی.په دې باندې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.که دا خبره وی.نو بیا د تازه کجورو بیع د چوارو په عوض

برابر برابر ناجائز ده.ددې حدیث نه معلومه شوه.چه بیع الرطب بالرطب برابر برابر هم ناجائز ده.

الجواب عنه د دې حدیث نه جواب دادې.چه ددې حدیث مدار په زیدبن عیاش باندې دې.او زیدبن عیاش د حدیث د امامانو په نیز ضعیف اومجهول راوی دې.په دې وجه دا روایت د مشهور حدیث په مقابله کښې قابل استدلال نه جوړیږی.

د انګورو د اوسکو په بدله کښې د بیع حکم

وَكَذَاالْعِنَبُ بِالزَّبِيْبِ اوهم دغه شان تازه انګور د اوچو انګورو په عوض،

حل اللغة **العنب**: انګور، **الزبیب**: اوسکه

تشریح **بیع العنب بالزبیب** مسئله داده.چه دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز پاخه تازه انګور د اوچو انګورو(اوسکی) په عوض د پیمانه په ذریعه برابر خرڅول جائز دی.اود صاحبینو رحمهما الله اود آئمه ثلاثه رحمهم الله په نیز نه متساویاً جائز ده.اونه متفاضلاً جائز ده.د دواړو فریقو دلیلونه وړاندې تیرشوی دی.

دلیله د امام صاحب رحمه الله دلیل دادې.چه عنب او زبیب (انګور او اوسکې) د دواړو جنس که یو وی.نو په دې کښې د یو بیع د بل په عوض د کیل په ذریعه برابرجائز ده.اوکه د دواړو جنس جدا جدا وی.نوحدیث (اذا اختلف النوعان فبیعوا کیف شئتم) په وجه ددې بیع متساویاً اومتفاضلاً په دواړه طریقه جائز ده.

دلیل الائمة د صاحبینو رحمهما الله اود آئمه ثلاثه رحمهم الله دلیل دادې.چه تازه انګور په اوچولو سره کمیږی.په دې وجه د زیدبن عیاش حدیث (أوینقص إذا جف فقیل نعم فقیل نعم فقال ﷺ لا) په وجه بیع جائز نه ده.

قول الاتفاق بین الائمة د بعض حضراتو خیال دې.چه د انګورو بیع د اوسکو په عوض متساویاً بالاتفاق ناجائز ده.دصاحبینو رحمهما الله په نیز هم اود حضرت امام صاحب رحمه الله په نیزهم.او په دې عدم جواز باندې د قیاس نه استدلال شوې دې.یعنی لکه څنګه چه اورتو غنمو بیع د بغیر اورتوغنمو په عوض په پیمانه

---

(۱) القول الراجح هو هذا قول الصاحبین رحمهما الله كذا في فتح القدير(۱۶۸\۶) وردالمحتار(۲۰۶\۴) وطلوع النيرين (۳۳۵\۱) نقلاً عن القول الراجح (۶۲\۲)-

سره برابرناجائز دی.لکه څنګه چه ورانديږ تيرشوی دی.هم دغه شان د عنب يعنی د تازه انګورو بيع په اوچو انګور يعنی د اوسکو په عوض په پيمانه سره د برابرولو باوجود ناجائز ده.

اود امام ابوحنيفهؒ ددي روايت مطابق د ،،بيع التمربالتمر،،اود ،، بيع العنب بالزبيب په مينځ کښې فرق بيانول ضروری دی.څکه چه د امام صاحبؒ په نيزبيع التمر بالرطب متساوياً جائز ده.او ددي روايت مطابق بيع العنب بالزبيب متساوياً ناجائز ده.بهرحال وجه د فرق داده.چه په رطب باندي د تمر اطلاق په حديث(اوکل تمرخيبرهکذا) سره ثابت دي.نو رطب د تمر په عوض خرڅول،تمر د تمر په عوض خرڅول دی.او تمر د تمر په عوض برابر برابر خرڅول جائزدی.نو رطب د تمر په عوض برابر برابر خرڅول به هم جائز وی.

اود زبيب اطلاق په عنب باندي چونکه په حديث سره ثابت نه دي.په دي وجه په زبيب او عنب کښې د کيل په ذريعه د برابری کولو باوجود به د تفاوت اعتبار کولي شی.او هرکله چه تفاوت معتبر دي.نو بيع به فاسد او ناجائز وی.

د زيتون يا د کونځلو د تيلو سره د بيع حکم

وَلَايَجُوزُبَيْعُ الزَّيْتُونِ بِالزَّيْتِ او زيتون د زيتون د تيلو په عوض خرڅول وَالسِّمْسِمِ بِالشَّيْرَجِ، او کونځلي ددي د تيلو په عوض خرڅول جائز نه دی حَتّٰى يَكُونَ الزَّيْتُ وَالشَّيْرَجُ أَكْثَرَ تردي چه د زيتون تيل اود کونځلو تيل د هغه تيلو نه زيات وی مِمَّا فِي الزَّيْتُونِ وَالسِّمْسِمِ کوم چه په زيتون او کونځلوکښې دی. فَيَكُونَ الدُّهْنُ بِمِثْلِهِ وَالزِّيَادَةُ بِالثَّجِيرِ چه تيل د تيلو په مقابله کښې شی.او زياتوالي د کهل(بوري) په عوض کښې شی

حل اللغة> **الزيتون**:د زيتون ميوه، **الزيت**:د زيتون تيل، **السمسم**:کونځله، **الشيرج**:د کونځلو تيل

تشريح> **حرمة بيع الزيتون بالزيت**> زيتون هغه ميوه ده.د کوم نه چه د زيتون تيل اوځی.اوشيرج هغه تيل دی.کوم چه د زيتون نه اوځی.ثجير بوري (کهل) ته وائی.

صورته> صورت د مسئلي دادي.که زيتون د د زيتون د تيلو په عوض يا کونځلي ددي د تيلو په عوض خرڅ کړي شو.اود زيتون تيل د هغه تيلو نه زيات وی.کوم چه په زيتون کښې دی.او خالص تيل د هغه نه زيات وی.کوم چه په کونځلوکښې وی.نو بيع جائز ده.

دليله> دليل دا دي چه په دي صورت کښې ربوا نه متحقق کيږی.او ربواځکه نه متحقق کيږی.چه خالص تيل به د خپل مثل هغه تيلو په عوض کښې شی.کوم چه په زيتون يا کونځلوکښې دی.اود خالص تيلو زياتی مقدار به د بوري (کهل) په مقابله کښې شی.او بوره او تيل چونکه مختلف الاجناس دی.څکه به په دي کښې څه ربوا نه متحقق کيږی.اوکوم تيل چه په زيتون يا کونځلو کښې دی.که دا د خالص تيلو نه زيات يا برابر وی.نودا بيع به جائز نه وی.څکه چه خالص تيل هم وزنی دی.

اوکوم تيل چه په زيتون يا کونځلوکښې دی.هغه هم وزني دی.څکه د قدرمع الجنس موجود کيدلو په وجه د بيع جائز کيدلو دپاره د دواړو عوضونو برابر کيدل ضروری دی.خوکوم تيل چه په زيتون ياکونځلوکښې دی.کله چه دا د خالص تيلو نه زيات شو.نو په دي صورت کښې په يوعوض کښې به څه تيل او بوره زياتی شی.اوکه د زيتون يا کونځلو تيل د خالص تيلو برابر شو.نو په دي صورت کښې به بوره زياتی شی.اود يوعوض زياتی کيدل اود بل کميدل،ددي نوم ربوا دي.نو په دي دواړو صورتونوکښې چونکه ربوا لازميږی.په دي وجه به دا دواړه صورتونه ناجائز وی.

د مختلف غوښو يو بل سره د بيع حكم

وَيَجُوْزُ بَيْعُ اللُّحْمَانِ الْمُخْتَلِفَةِ بَعْضِهَا بِبَعْضٍ مُتَفَاضِلًا او جائز دي بيع د مختلفو غوښو بعضې په عوض د بعضې نورو د يو بل نه زياتي

حل اللغة > **اللحم:** غوښه

تشريح > **جواز بيع اللحمان المختلفة فيما بينهما متفاضلا** > فرمائي.او په مختلف غوښو كښي بعض د بعض په عوض كمي زياتي سره خرڅول جائز دي.او ددې نه مراد د اوښ غوښه،د غوا غوښه او د چيلۍ غوښه ده.

القاعدة > صاحب د عنايه رحمه الله په حيواناتو(څاروو) كښي د اتحادجنس او اختلاف جنس په سلسله كښي يو قاعده بيان كړې ده.هغه داچه په زكاة كښې كه د يوڅاروى نصاب په بل څاروى سره پوره كولى شي.نو ددې دواړوجنس يو دې.لكه د غوا اود ميخې،اوكه د يوڅاروى نصاب په بل څاروى سره نه پوره كيږي.نو په دوى كښي اختلاف جنس دې.لكه چيلۍ او غوا.

صورته > اوس مسئله داده.كه غوښه مختلف الاجناس وى.مثلاً د اوښ غوښه ده.د غوا غوښه ده.اود چيلۍ غوښه ده.په دې كښي كه يو د بل په عوض كمي زياتي سره خرڅ كړې شوه.نوجائز ده.ځكه چه د غوا،اوښ اود چيلۍ جنس جداجدا دې.اود اختلاف جنس په صورت كښي چونكه په كمي زياتي سره خرڅول جائز وى.

جنسية البقر والجواميس > اود غوا او ميخې يو جنس دې.نوپه دوى كښي د يو غوښه د بل په عوض كمي زياتي سره خرڅول جائز نه دى.اوهم دغه شان د چيلۍ اود ګډې يوجنس دې.اود عربي اوښ اود بختي اوښ يوجنس دې.نود چيلۍ غوښه د ګډې د غوښې په عوض،اود عربي اوښ غوښه د بختي اوښ د غوښې په عوض كمي زياتي سره - رخول جائز نه دى.

د مختلف پيو يو بل سره د بيع حكم

وَكَذٰلِكَ أَلْبَانُ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ اوهم دغه شان د غوا او چيلۍ پئ دى.

تشريح > **جواز بيع البان البقر و الغنم فيما بينهما متفاضلا** > شيخ ابوالحسن قدورى رحمه الله فرمائي.چه اوښې،غوا اود چيلۍ په پيوكښې هم اختلاف جنس دې.نود يو پئ د بل د پيو په عوض كمي زياتي سره خرڅول جائز دى. ([1])

دليله > دليل دادې.چه غوښه او پئ فروع او اجزاء دى.او ددې اصول يعنى اوښه، غوا،او چيلۍ مختلف الاجناس دى.اود اصول اختلاف د فروع اختلاف واجبوى.نو هركله چه دا اصول يعنى اوښ، غوا،او چيلۍ مختلف الاجناس دى.تردې چه په دوى كښي ديو نصاب زكاة، د بل په ذريعه نشي پوره كولې.نو ددې فروع او اجزاء يعنى پئ او غوښه به هم مختلف الاجناس وى.اوهركله چه دا مختلف الاجناس دى.نود يو غوښه به د بل دغوښې په عوض اود يو پئ د بل د پيو په عوض كمي زياتي سره خرڅول جائز نه وى.

علامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دى.چه د اوښې ،غوا،اود چيلۍ پئ هغه وخته پورې مختلفة الاجناس دى.چه تركومه پورې په څه كاريګرئ سره په دې كښي څه تبديلي اونكړې شي.يعنى پئ وى.او كه

[1] **مذهب الشافعي** رحمه الله:- خود امام شافعي رحمه الله نه يو روايت دادې.چه په دوى كښي د يوغوښه د بل په عوض اود يو پئ د بل د پيو په عوض كمي زياتي سره خرڅول جائز نه دى.

تبدیلي اوکړي شوه.مثلاً د دړې وارو د پيو پنير جوړ کړي شو.نواوس به دا يوجنس شمارلي کيږي.اوپه کمی زیاتی سره به خرڅول جائز نه وي.اګرچه اصل یعنی پي؛ مختلفة الاجناس دی.

د مختلفو سرکو خپل مينځ کښي د بیع حکم

وَخَلِّ الدَّقَلِ بِخَلِّ الْعِنَبِ او د کجورو سرکه د انګورو د سرکې په عوض.

حل اللغة خل الدقل: دقجورې سرکه، **خل العنب**: د انګور سرکه

تشریح **جواز بیع خل الدقل بخل العنب متفاضلا** دقل: ردی او بیکاره کجورې، خل: سرکه مسئله داده.چه د کجورو سرکه د انګورو سرکې په عوض کمی زیاتی سره خرڅول جائز دی.

دليله دليل دا دې چه کله ددې دوارو اصل یعنی د کجورو او انګورو په مينځ کښې اختلاف دې.نو ددې دوارو په اوبو یعنی په سرکوکښې به هم اختلاف وي.اوهرکله چه د کجورو او انګورو په سرکوکښې اختلاف دې.نود کجورو سرکه اود انګورو سرکه دوه جداجدا جنسونه شو.

هم دا وجه ده.چه د کجورو په شیره اود انګورو په شیره کښې بالاجماع اختلاف جنس دې.او وړاندې تیر شوی دی.چه د اختلاف جنس په صورت کښې کمی زیاتی سره بیع کول جائز دی.په دې وجه د کجورو د سرکې بیع د انګورو د سرکې په عوض متفاضلا جائز دی.

د روټئ د غنمو يا د اوړو په بدله کښې د بیع حکم

وَيَجُوزُ بَيْعُ الْخُبْزِ بِالْحِنْطَةِ وَالدَّقِيقِ مُتَفَاضِلًا او روټئ د غنمو او اوړو په عوض متفاضلاً خرڅول جائز دی.

تشریح **جواز بیع الخبز بالحنطة متفاضلا** صورت د مسئلې دادې.چه زمونږ د آئمة ثلاثه په نيز روټئ د غنمو يا اوړو په عوض کمی زیاتی سره خرڅول جائز دی.په دې شرط چه په مجلس کښې عوضين باندې قبضه متحقق شی.

دليله دليل دا دې چه روټئ خو يا عددی ده.او يا وزنی ده.خو کيلی نه ده.اوغنم کيلی څيز دې.اوهم دغه شان اوړه هم کيلی څيز دې.څکه چه اوړه د غنمو جزء دې.نو هرکله چه غنم کيلی څيز دې.اودغه شان اوړه هم کيلی څيز دې.څکه چه اوړه د غنمو جزء دې.نو هرکله چه غنم او اوړه کيلی شو.او روټئ غيرکيلی شوه.نود اتحاد قدر فوت کيدلو په وجه تفاضل جائز دې.

الرواية الثانية عن ابي حنيفة د حضرت امام ابوحنيفه نه د نوادر روايت دادې.چه د روټئ بیع د غنمو په عوض يا د اوړو په عوض بالکل جائز نه ده.نه متساوياً او نه متفاضلاً.هم دا قول د امام شافعی اود امام احمد دې.

دليله ددې روايت دليل دادې.چه روټئ او غنم يا ددې په اوړوکښې چونکه يوقسم مجانست موجود دې.په دې وجه به ددې په مبادله کښې مساوات او برابری شرط وي.او په روټئ او غنمو او اوړوکښې د مساوات علم چونکه ممکن نه دې.څکه به دسره ددې مبادله جائز نه وي.خو فتوی په اولنی قول ده.یعنی فتوی په جواز ده.

الخلاصة بهرحال د بیع جواز هغه وخت وو.چه کله دواړه عوضونه یعنی روټئ، غنم او اوړه نغد وي.او که غنم او اوړه قرض وي.یعنی د روټئ ئې دې دوارو سره بیع سلم اوکړو.په دې طریقه چه روټئ راس المال جوړکړلو.او نغد ئې ورکړله.او غنم يا اوړه ئې مسلم فيه جوړکړل.او قرض ئې کړل.نو هم جائز دی.څکه چه موزونی څيز یعنی د روټئ عقدسلم يو داسې مکيلی څيز یعنی غنم يا اوړوسره کيږي.چه ددې صفت او مقدار پيژندل ممکن دی.

د غلام او مولا په مینځ کښې ربوا نشته

وَلَا رِبَا بَيْنَ الْمَوْلَى وَعَبْدِهِ او نشته سود په مینځ د مولی او د هغه د غلام کښې

تشریح> عدم الربو بين المولى وعبده> مسئله داده.که غلام، ، ماذون له فی التجارت،، وی.او په ده باندې د خلقو دومره قدرې قرضه نه وی. چه ده د رقبۀ احاطه اوکړی.نو ددې غلام او دده د مولا په مینځ کښې ربوا نه متحقق کیږی.یعنی په اموال ربویه کښې که دا دواړه په کمی زیاتی سره اخستل خرخول اوکړی.نودا به ربوا نه وی.مثلاً خالد خپل غلام ته مال ورکړلو.اود تجارت اجازت ئې ورکړلو.بیا دا غلام دوه منه غنم د یو من غنمو په غوض واخلی.نودا به ربوا نه وی.

دلیله> ځکه چه غلام اود غلام په قبضه کښې چه کوم مال دې.دا ټول دده د مولا ملك دي.نو هرکله چه غلام اوځه چه دده په قبضه کښې دی.د مولا ملك دي.نو مولا او ددې غلام په مینځ کښې به د سره بیع متحقق نه وی.اوهر کله چه بیع متحقق نشوه.نو ربوا به هم متحقق نه وی.

د مسلمان او حربی په مینځ کښې د بیع حکم

وَلَا بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْحَرْبِيِّ فِي دَارِ الْحَرْبِ او په درالحرب کښې د مسلمان او حربی په مینځ کښې ربوا نشته.

تشریح> عدم الربو بين المسلم والحربي> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه په دارالحرب کښې دمسلمان او حربی په مینځ کښې ربوا نشته. یعنی که یومسلمان امان واخلی.او دارالحرب ته لاړ شی.اود یوحربی یو درهم د دوه درهمو په عوض خرڅ کړی.نودا حلال اوجائز دی.

دلائله> ① دلیل د رسول الله ﷺ قول (لاربوا بين المسلم والحربي في دار الحرب)[1] دي.

② دویم دلیل دادې.چه په دارالحرب کښې د حربیانو مال مباح الاصل اوغیرمعصوم دې.ددې په هره طریقه د اخستلو اجازت دې.په دې شرط چه په دهوکه ئې نه وی اخستې.ځکه چه غدر او دهوکه حرام ده..

مذهب ابي يوسف> دامام شافعی او امام ابویوسف رحمه الله په نیز د مسلمان اوحربی په مینځ کښې په دارالحرب کښې ربوا وی.یعنی یو درهم د دوه درهمو په عوض خرڅول ناجائز دی.اوهم دا قول د امام مالك اود امام احمد رحمه الله دې.

دلیله> ددې حضراتو دلیل قیاس دې.یعنی که حربی امان واخلی.او په دارحرب کښې داخل شی.او دې یو درهم د دوه درهمو په عوض خرڅ کړی.نودا بالاتفاق ناجائز دی.نوهم دغه شان که مسلمان امان واخلی.او دارحرب ته داخل شی.اودې داسې کار اوکړی.یعنی یو درهم د دوه درهمو په عوض خرڅ کړی.نوهم به ناجائز وی.

حکم المستأمن> په خلاف د هغه حربی کوم چه امان واخلی.او دارالاسلام ته راشی.ځکه چه دده مال د عقدامان په وجه محفوظ شوې دې.او هرکله چه دده مال محفوظ شو.نو دده نه به د زیات اخستلو اجازت نه وی.

---

۱) غريه الزيلعي رحمه الله هذا اللفظ ثم قال وأسند البيهقي في المعرفة في كتاب السير عن الشافعي رحمه الله قال قال ابويوسف رحمه الله إنما قال ابوحنيفة رحمه الله هذا لأن بعض المشيخة حدثنا عن مكحول عن رسول الله ﷺ انه قال لا ربا بين أهل الحرب أظنه قال وأهل الإسلام قال الشافعي رحمه الله وهذا ليس بثابت ولا حجة فيه إنتهى كلامه كذا في نصب الراية ۸۴/۴ـ

باب السَّلَم

ترجمه (دا) باب د بیع سلم (په بیان کښې) دې.

تشریح> التوضیح الصرفي للفظ السلم> لفظ سلم، د تسلیم نه اخستې شوې دې.خکه چه په بیع سلم کښې راس المال په مجلس کښې دننه سپارل لازمی او ضروری دی.لفظ سلم او سلف دواړه مترادف دی.دغه شان اسلم او اسلف مترادف دی.قاله بدرالدین عینی رح ⑦اویا چه لفظ سلم یا خو د اسلم نه اخستې شوې دې.او همزه په دې کښې د سلب دپاره ده.خکه چه د رب السلم په راس المال یعنی دراهم مسلم الیه ته په سپارلو سره ددې سلامتیا زائل کول دی.یعنی رب السلم چه کله راس المال مسلم الیه ته اوسپارلو.نودا رب السلم سره سلامت پاتې نشو.

معنی السلم لغة وشرعاً> سلم په لغت کښې د یوداسې بیع نوم دې.چه په دې کښې ثمن معجل وی.یعنی فوراً ادا کولې شی.بیع سلم د فقهاؤ په اصطلاح کښې موجل د معجل په عوض اخستلو ته وائی.

رکنه>د بیع سلم رکن ایجاب او قبول دې.مثلاً یو سړې بل کس ته وائی.(أسلمت إلیك عشرة دراهم في کرحنطة یا أسلفت إلیك عشرة دراهم في کرحنطة) ما تاسره په یو کُر غنمو کښې د لس درهمو په عوض عقدسلم اوکړلو. دویم کس اووئیل.ما قبول کړلو.نو ده ته به صاحب دراهم یعنی رب السلم به وئیلې شی.او دویم کس ته به مسلم الیه وئیلې شی.او غنمو ته مسلم فیه او دراهمو ته راس المال وئیلې شی.

دبیع سلم حکم،د رب السلم دپاره په مسلم فیه کښې په موجل طور باندې ملك ثابتیدل،اود مسلم الیه دپاره فی الحال په راس المال باندې ملك ثابتیدل دی.اوشرطونه ئې روستو راروان دی

الربط بما قبله>امام قدوری مخکښې هغه بیوع بیان کړی دی.چه په هغې کښې په عوضین یا احدالعوضین باندې قبضه کول شرط نه دی.او اوس د هغه بیوع بیان کوی.په کوم کښې چه په عوضین یا احدالعوضین باندې قبضه کول شرط دی.

ثبوته من الکتاب> علامه مرغینانی رح فرمائیلی دی .چه د بیع سلم جواز په کتاب الله، سنت رسول ﷺ او په اجماع امت سره ثابت دې.کتاب الله خو دادې.چه د الله تعالی ارشاد دې.﴿یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَایَنْتُمْ بِدَیْنٍ اِلٰٓی اَجَلٍ مُّسَمًّی فَاکْتُبُوْهُ﴾ یعنی اې د ایمان خاوندانو! چه کله تاسو معامله کوئ د قرضو،د یو مقرر وخت پورې نودا لیکئ.په قول د رئیس المفسرین حضرت ابن عباس رض دا آیت د عقدسلم په جواز باندې دلالت کوی.لکه چه ابن عباس رض فرمائی.(أشهد أن الله أحل السلف المضمون وأنزل فیها أطول آیة في کتابه) او بیا ابن عباس رض هم دغه آیت تلاوت کړلو.(۱) د ابن عباس رض په دې قول کښې د مضمون نه مراد موجل دې.یا واجب فی الذمه دې.دواړه صحیح دی.خکه چه مسلم فیه موجل وی.اود مسلم الیه په ذمه کښې واجب وی.اوس به ترجمه دا وی.چه ،، گواهی ورکوم،چه الله تعالی سلم موجل یا سلم واجب الذمه حلال کړې دې.او ددې په باره کښې ئې لوئې آیت مداینت نازل کړې دې،،د حضرت ابن عباس رض ددې قول نه ښکاره ثابتیږی.چه دا آیت د بیع سلم په جواز باندې ښکاره دلیل دې.

ثبوته من السنة> د نبی ﷺ د سنت نه هم ددې جواز معلوم دې هغه دا دې (أن النبی ﷺ نهی عن بیع

۱) أخرجه الحاکم في المستدرك (۲/۲۸٦)_

ماليس عندالإنسان ورخص في السلم) (۱) يعنى رسول اكرم ﷺ د هغه څيز د بيع نه منع فرمانيلې ده.کوم چه د انسان په ملك کښې نه وي.اود سلم اجازت ئې ورکړې دې.حاصل داچه د معدوم څيز بيع ممنوع ده.خود بيع سلم اجازت ئې ورکړې دې.په داسې حال کښې چه مسلم فيه يعنى مبيع معدوم وي.

ثبوته من الاجماع> د عهد رسالت نه ترننه پورې د بيع سلم په جواز باندې د امت اجماع راروانه ده.نود بيع سلم مشروعيت په کتاب الله،سنت رسول ﷺ او په اجماع امت درې وارو نه ثابته ده.

خلافه من القياس> خو د قياس تقاضا داده.چه بيع سلم جائز نه وي.ځکه چه په بيع سلم کښې مسلم فيه مبيع وي.او مبيع معدوم دې.اود مبيع موجود غيرمملوك،ياد مبيع موجود مملوك غيرمقدورالتسليم بيع صحيح نه وي.نود معدوم بيع به په درجه اولى صحيح نه وي.ددې دليل نه ثابتيږي.چه بيع سلم جائز نه وي.خود حديث مذکور په وجه قياس پريخودلې شوې دې.

په مکيلي اوموزوني څيزونوکښې د بيع السلم حکم

اَلسَّلَمُ جَائِزٌ فِي الْمَكِيلَاتِ وَالْمَوْزُونَاتِ سلم په مکيلات او موزونات کښې جائز دې والمعدودات او په هغه څيزونو کښې چې په شمار خرڅولې شي

تشريح> ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه عقدسلم په هر کيلي او وزني څيزکښې جائز دې.

دليله> دليل دادې.چه رسول الله ﷺ فرمانيلي دي.(من أسلم منكم فليسلم في كيل معلوم و وزن معلوم إلى أجل معلوم) (۲) يعنى څوك چه په تاسوکښې عقدسلم اوکړي.نويه کيل معلوم او وزن معلوم کښې دې معلوم ميعاد پورې سلم اوکړي.ددې حديث نه معلوميږي.چه عقدسلم په مکيلات او موزونات کښې جائز دي.

وَالْمُرَادُ بِالْمَوْزُونَاتِ اود موزونات نه مراد غَيْرُ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ د دراهمو او دنانيرو نه علاوه دي.

تحريح> **المراد من الموزونات**> علامه مرغيناني رح فرمانيلي دي.چه په متن کښې موزونات نه مراد د دارهم او دنانير نه علاوه نور څيزونه دي.نوکه په دارهم يا دنانيرو کښې عقدسلم اوکړې شو.نوددې د موزوني کيدلو باوجود عقدسلم باطل دې.اوس ددې دوه صورتونه دي.يو دا چه دارهم او دنانيرو کښې عقدسلم اوکړې شو.يعنى دراهم او دنانير راس المال جوړکړې شو.اوهم دا مسلم فيهِ جوړکړې شو.نودا صورت بالاجماع ناجائز دې.ځکه چه راس المال او مسلم فيه دواړه عوضونه که دراهم دي.او که دواړه عوضونه دنانير دي.نود قدر اوجنس باوجود نساء (قرض) اومونده شو.اوکه يو عوض دراهم وي.او بل عوض دنانير وي.نود اتحاد قدر سره نساء يعنى د مسلم فيه قرض کيدل موجود شو.حالانکه په دې دواړه صورتونوکښې نساء حرام او ناجائز ده.دويم صورت دادې.چه د غنمو عقدسلم په دراهم يا دنانير کښې اوکړې شو.يعنى غنم راس المال او دراهم يا دنانير مسلم فيه جوړکړې شو.نو په دې صورت کښې هم عقدسلم ناجائز دې.

دليل عدم الجواز في الدراهم والدنانير> د عدم جواز دليل دادې.چه په دې صورت کښې دراهم او دنانير

---

۲) خرجه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم أخرج لجواز بيع السلم رواية ابن عباس (رضي الله عنهما) قال قدم النبي ﷺ والناس يسلفون في التمر السنتين والثلاث فقال من أسلف في شيء فليسلف في كيل معلوم و وزن معلوم إلى أجل معلوم وعزاه محقق نصب الراية احمد شمس الدين إلى البخاري في السلم باب ۱ ومسلم في المساقاة رقم ۱۲۷ وأبوداود في البيوع باب ۵۵ رقم ۳۴۶۳ والنسائي في البيوع باب ۶۳ والترمذي في البيوع باب ۶۸ وابن ماجه في التجارات باب ۵۹ والدارمي في البيوع باب ۴۵ وأحمد في المسند (۱/۲۱۷)۔

۱) تقدم تخريجه۔

مسلم فيه دی.حالانکه دا مسلم فيه جوړول صحيح نه دی.څکه چه مسلم فيه داسې څيز کيدل پکار دی.کوم چه مبيع وی.او په متعين کولو سره متعين کيږی.او دراهم او دنانير ثمن وی.په متعين کولو سره نه متعين کيږی.نوهرکله چه دراهم او دنانير ثمن وی.په متعين کولوسره نه متعين کيږی.نو ددې مسلم فيه جوړول به هم صحيح نه وی.او هرکله چه ددې مسلم فيه جوړول صحيح نه دی.نو په دې کښې به عقدسلم هم صحيح نه وی.

وَكَذَافِي الْمَعْدُودَاتِ الَّتِي لَاتَتَفَاوَتُ او هم دغه شان د شمار په داسې څيزونوکښې (سلم جائز دې) په کوم کښې چه تفاوت (کمې زياتې) نه کيږی كَـالْجَوْزِوَالْبِيضِ لکه هګۍ او غوزان.

حل اللغة> المعدودات: جمع د معدود کوم څيز چه شمارلې شی، **الجوز:** غوز، **البيض:** هګۍ

تشريح> جوازه في المعدودات> امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه کوم څيزونه په شمار سره خرڅولې شی.او ددې په افرادو کښې د ماليت په اعتبارسره تفاوت نه وی.لکه غوزان،او هګۍ.ددې بيع سلم هم جائز ده.

دليله> څکه چه داسې عددی څيزونه چه پخپلوکښې قريب قريب وی.د هغې مقدار هم معلوم وی.او په بيانولوسره ددې وصف هم معلوميدلې شی.او ددې سپارل هم ممکن دی.اود کوموڅيزونوچه مقدار معلوم وی.او ددې وصف بيانولې شی.او ددې سپارل ممکن وی.نود هغې بيع سلم جائز وی.څکه به د عددی متقاربه بيع جائز وی.

استواء الصغير والكبير فيه> په عددی څيزونوکښې وړوکې او غټ برابر وی.څکه چه ددې په مينځ کښې د تفاوت اعتبار نه کولو باندې د خلقو اتفاق دې.مثلاً د چرګو په هګوکښې اګرچه معمولی شان تفاوت وی.خو خلق بالاتفاق ددې تفاوت اعتبار نه کوی.يعنی داسې نه کيږی.چه د چرګې هګۍ لږه شان غټه وی.نو ددې قيمت زيات وی.اوکه لږه شان وړه وی.نو ددې قيمت کم وی.بلکه د قيمت په اعتبارسره ټول برابر وی.

په حيوان(څاروی) کښې د بيع سلم حکم

وَلَايَجُوزُالسَّلَمُ فِي الْحَيَوَانِ اود حيوان بيع سلم جائز نه ده.

تشريح> په څارووکښې د بيع سلم يوصورت دا دې چه د مطلق څاروی بيع سلم شوې وی.يعنی نه ئې ددې جنس بيان کړې وی.نه ئې عمر بيان کړې.نه ئې صفت او نه ئې ددې نوع بيان کړې وی. په دې صورت کښې بالاتفاق بيع سلم ناجائز ده.دويم صورت دا دې چه ذکرشوی څيزونه بيان شوې وی.او بيع سلم شوې وی.په دې صورت کښې زمونږ په نيز ناجائز ده. (١)

دلائله> ① نقلی دليل دادې.چه جناب رسول الله ﷺ د حيوان بيع سلم نه منع فرمائيلې ده.(١)او په لفظ د حيوان کښې ددې ټول اجناس داخليږی.تردې چه کونترې او چڼچڼرې هم داخليږی.يعنی د کونترو او چڼچڼرو پشان څناورو بيع سلم به هم ددې نص په وجه جائز نه وی.اګرچه ددې په افرادوکښې زيات تفاوت نه وی.

② عقلی دليل دادې.چه د څاروی ذکرشوی څلور صفتونه يعنی جنس، سن ، نوع او صفت بيانولونه

---

[1]) **مذهب الشافعي رحمه الله:-** ذکرشوې صورت د امام شافعی رحمه الله په نيز جائز ده.امام مالك او امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دی.

١) من حديث ابن عباس اخرجه الحاكم في المستدرك (٢/٥٧) والدارمي في سننه (٣/٧١) رقم ٢٦٨_

پس په څاروو کښې دمالیت او قیمت په اعتبارسره ډیر لوئې تفاوت باقي پاتې کیږي.اودا تفاوت د څاروو باطني امورو په وجه وي.مثلاً د اس تیز رفتار،او فرمانبرداره کیدل،د غلام هوښیار او عقلمند کیدل،د وینځې ښانسته کیدل،داسې کارونه دي.چه په دې کښې د خلقو شوق زیاتیدلو سره قیمت زیاتیږي.اود ذکرشوی کارونوپه نه موجودکیدلو سره قیمت کمیږي.هم دا وجه ده.چه ډیر کرته دوه اسونه په جنس، سن، نوع او صفت کښې برابر وي.خود باطني امورو په وجه د یو قیمت ډیرزیات اود بل کم وي.نوهم ددې باطني امورو په وجه د مسلم فیه سپارلو په وخت جګړه پیدا کیږي.او په کوم عقدکښې چه د جګړې پیدا کیدلو امکان وي.هغه عقدفاسد وي.په دې وجه مونږ اووئیل.چه دڅاروو بیع سلم ناجائز او فاسد دي.

د حیوان د اندامونو د بیع سلم حکم

وَلَا فِي أَطْرَافِهِ اودڅاروی طرفونه کښې هم (بیع سلم) جائز نه ده

تشریح> حرمة السلام في اطراف الحیوان> ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه د څاروو د سرونو او خپو بیع سلم جائز نه ده.

دلیله> ځکه چه د څاروو په سرونو او خپوکښې د غټ والي او ورکوټوالي په وجه په مالیت کښې ډیرلوئې تفاوت وي.نوګویا دا عددی متفاوت شو.ددې دپاره څه اندازه نشی لګولې کیدلې.او وړاندې تیرشوی دی.چه د عددی متفاوت بیع سلم جائز نه وي.ځکه به د څاروو د سرونو او خپو بیع سلم جائز نه وي.

قَالَ فرمائي وَلَا فِي الْجُلُودِ عَدَدًا او د څرمنو بیع سلم په شمار سره،

تشریح> حرمة السلم في الجلود عددا> ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه د څاروو په څرمنوکښې هم عدداً بیع سلم جائز نه ده.ځکه چه څرمنې عددی دی.او په دې کښې بعض څرمنې غټې او بعض وړې وي.دغه شان د بعض پلنوالې کم اود بعض زیات وي.بهرحال ددې تفاوت په وجه ددې په مالیت کښې هم ډیر لوئې تفاوت وي.او وړاندې تیرشوی دی.چه د عددی متفاوت بیع سلم د ،،مفضی الی المنازعه،، کیدلو په وجه چونکه ناجائز وي.ځکه به د څرمنو بیع سلم هم ناجائز وي.( )

عدد القید لیس احترازیا> علامه بدرالدین عیني رحمه الله په بنایه کښې لیکلي دي.چه (ولافي الجلودعدداً) کښې د عدداً قیدنه به دا نښې کنړلې.چه د څرمنو بیع سلم وزناً جائز ده.ځکه چه څرمنې عددی دی.نوهرکله چه ددې بیع سلم عدداً جائز نه دې.نو وزناً به په طریق اولی جائز نه وي.ځکه چه په عرف عام کښې د څرمنو وزن نه کیږي.

وَلَا فِي الْحَطَبِ حُزَمًا وَلَا فِي الرَّطْبَةِ جُرَزًا اود لرګو بیع سلم په ګیډو سره،اود ګیا بیع سلم په ګیډو سره جائز نه ده لِلتَّفَاوُتِ فِيهَا.ځکه چه (ددې په افرادوکښې) تفاوت وي.

حل اللغة> الحطب: لرګي، **حزم:** ګیډې، **الرطبة:** تازه ګیاه

تشریح> حرمة السلم في الحطب حزما> ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه د سوزولو د لرګو بیع سلم د ګیډو په حساب سره اود سبزیانو اود څاروو د وندې بیع سلم په شکرئ اود ګیډو په حساب سره جائز نه ده.مثلاً یو کس د سل روپو راس المال په عوض لس ګیډئ خشاك مسلم فیه مقررکړلو.یانې د سل

[1] ، مذهب مالك رحمه الله: امام مالك رحمه الله فرمائیلي دي.چه د څرمنو بیع سلم جائز ده.

روبو راس المال په عوض لس ګیډۍ سبزی یا ګیا مسلم فیه مقرر کړله.نودا ناجائز ده.
دلیله: ځکه چه په ګیډو او پنډ کښې د اوګدوالی او لنډوالی اود پیړوالی په حساب سره ډیر لوئې تفاوت وی.مثلاً یوه ګیډۍ خو هغه ده.چه په هغې کښې دوه دوه ګزه اوږده لرګی تړلی شوی دی.او یوه ګیډۍ هغه ده.چه په هغې کښې یو یو ګز اوږده لرګی تړلی شوی دی.دمالیت په اعتبار سره دا دواړه ګیډۍ ځکه برابر کیدلی شی.او دغه شان یوه ګیډۍ هغه ده.کومه چه په دوه ګزه رسۍ کښې تړلې شوې ده.او یوه ګیډۍ هغه ده.کومه چه په یوګز رسۍ کښې تړلې شوې ده.ښکاره ده.چه دا دواړه ګیډۍ په مالیت کښې برابر نشی کیدلې.نو چونکه په ګیډو او پنډ کښې تفاوت وی.ځکه به د مسلم فیه مجهول کیدلو په وجه ددې بیع سلم هم جائز نه وی.
صورة الجواز> ځوکه ګیډۍ او پنډ (بوج) معلوم شی.مثلاً مسلم الیه دهغې رسۍ اوږدوالې بیان کړی.په کومه رسۍ چه ګیډۍ او پنډ اوتړلې شی.مثلاً داسې اووائی.چه دا رسۍ یوه لیشت یا یوګز وی.نو په دې صورت کښې به د ګیډۍ او پنډ په حساب سره به هم بیع سلم جائز وی.په دې شرط چه ګیډۍ او پنډ په داسې اندازه وی.چه په دې کښې تفاوت نه وی.او که ددې باوجود تفاوت وی.نو جائز نه دې.

د مسلم فیه موجود کیدلو شرط

لَا یَجُوْزُ السَّلَمُ بیع سلم جائز نه ده حَتّٰی یَکُوْنَ الْمُسْلَمُ فِیْهِ مَوْجُوْدًا مِنْ حِیْنِ الْعَقْدِ اِلٰی حِیْنِ الْمَحِلِّ، تردې چه عقدسلم د عقد دوخت نه واخله د اداکولو د وخت پورې موجود وی

تشریح> حرمة السلم في شئ غير موجود> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه زمونږ په نیز د بیع سلم جائز کیدلو شرط دادې.چه مسلم فیه د عقد په وخت هم موجود وی.د اداکولو په وخت هم موجود وی.او ددې دواړو وختونو په مینځ کښې هم موجود وی.که مسلم فیه د عقد په وخت کښې بازار کښې نه ملاویږی.اود ادا کولو په وخت ملاویږی.یا د عقدپه وخت بازارکښې ملاویږی.خود اداکولو په وخت نه ملاویږی.یاد عقدپه وخت هم ملاویږی.اود ادا کولو په وخت هم ملاویږی.خو په مینځ کښې څه وخت دپاره بازار نه منقطع شوې وی.نو په دې درې واړه صورتونوکښې بیع سلم جائز نه ده.(١)
دلائله> ① دلیل دادې.چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.چه تاسو په میووکښې بیع سلم مه کوئ.تردې چه ددې صلاح ښکاره شی.(٢) یعنی ترکومه پورې چه میوې د نفع اخستلو قابل نه وی.ددې بیع سلم مه کوئ.ددې حدیث نه معلومه شوه.چه د عقدسلم په وخت د میوو نافع کیدلو حالت کښې کیدل ضروری دی.او هم ددې نه ثابته شوه.چه د عقد په وخت د مبیع موجود کیدل شرط دی.ځکه چه د صلاح ښکاره کیدلو نه وړاندې مبیع یعنی میوې معدوم دی.اوپه دې باندې د ټولو اجماع ده.چه د اداکولو په وخت د مبیع موجودکیدل شرط دی.
② دویم دلیل دادې.چه مسلم الیه، مسلم فیه هغه وخت سپارلې شی.چه کله دې دا حاصل کړی.اوهغه وخت نې حاصلولې شی. چه کله دا څیز په بازارکښې موجود وی.په دې وجه د مقرر میعاد په موده کښې ددې څیز برابر په بازارکښې موجود پاتې کیدل ضروری دی.چه مسلم الیه ددې په

---

١) **مذهب الشافعي رحمه الله:-** حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی.که مسلم فیه د اداکولو په وخت موجود وی.بیا هم بیع سلم جائز دې.اګرچه د عقد په وخت بازار کښې نه ملاویږی.ګویا امام شافعی رحمه الله د سلم د جواز دپاره د اداکولو په وخت د مسلم فیه موجود کیدلو اعتبار کوئ.امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دې.
٢) من حديث عبدالله بن عمر رضي الله عنهما اخرجه أبوداود في البيوع باب ٥٦ رقم ٣٤٦٧ وابن ماجه في التجارات باب ٦١ رقم ٢٢٨٤۔

سپارلو باندې قادر وي.

د ميعاد(نيټې) نه بغير د بيع سلم حکم

وَلَايَجُوْزُالسَّلَمُ او عقدسلم نه جائز کيږي اِلَّامُؤَجَّلًا مګر ميعادي (په نيټه)

تشريح﴾ جواز السلم موجلا﴾ د ميعاد نه بغير عقدسلم جائز نه دې.د امام مالك او امام احمد رحمهما الله هم دا مذهب دې.اود امام شافعي رحمه الله په نيز جائز دى.مثلاً يوکس اووئيل.چه ما ددې لس درهمو عقدسلم په يو کُر غنمو(چه ددې دا صفتونه دى) کښې اوکړله.اود فورى طور سپارلو شرط ئې اولګولو.يا ئې ميعاد مقررنکړلو.نودا عقدسلم زمونږ په نيز ناجائز دې.(۱)

دلائله﴾ ① دليل د نبى کريم ﷺ دا قول دې.(من أسلم منكم فليسلم في كيل معلوم ووزن معلوم إلى أجل معلوم)(۲) په دې حديث کښې رسول الله ﷺ چه څنګه په مسلم فيه کښې د کيل معلوم يا وزن معلوم کيدلو شرط بيان کړې دې.دغه شان ئې د ميعادى کيدلو شرط هم بيان کړې دې.ددې نه معلوميږي.چه د مسلم فيه معيادى کيدل ضرورى دى.

② دويم دليل دادې.چه بيع سلم د ناچار او غريبو خلقو د ضرورت پوره کولو دپاره مشروع شوې دې.اودا ضرورت هم هغه وخت پوره کيدلې شي.چه د مسلم فيه اداکولو دپاره څه ميعاد(نيټه) مقررکړې شي.چه مسلم اليه په دې موده کښې مسلم فيه حاصل کړي.او رب السلم ته ئې اوسپاري.اوکه مسلم اليه في الحال په مسلم فيه سپارلو باندې قادر وي.نو چونکه په دې صورت کښې مرخص (د رخصت سبب) يعنى ضرورت اونه مونده شو.په دې وجه به د حکم يعنى (لاتبع ماليس عندك) مطابق وي.حاصل دادې.چه د معدوم بيع باطل او ناجائز وي.خود غريبانو ضرورت پوره کولو دپاره دمسلم فيه معدوم کيدلو باوجود بيع سلم جائز ګرځولې شوې دې.خو چه کله مسلم اليه في الحال د مسلم فيه په سپارلو باندې قادر وي.نودا ضرورت به متحقق نه وي.او هرکله چه د بيع سلم جائز کيدلو ضرورت متحقق نشو.نو بيع سلم به هم جائز نه وي.

د معلوم اجل شرطيت

وَلَايَجُوْزُ او بيع سلم جائز نه ده اِلَّابِاَجَلٍ مَّعْلُوْمٍ مګر په معلوم ميعاد سره

تشريح﴾ الجواز في صورة اجل معلوم﴾ ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائي.چه هرکله په عقدسلم کښې دميعاد شرطيت ثابت شو.نودا بيانول هم ضرورى دى.چه د ميعاد معلوم کيدل هم شرط دى.

دلائله﴾ ① ددې دليل وړاندې تيرشوې دې.يعنى د رسول الله ﷺ قول (من أسلم منكم فليسلم في كيل معلوم ووزن معلوم إلى أجل معلوم) ② دويم دليل دادې.چه د ميعاد مجهول کيدل، ،مفضى الى المنازعه، ، وي.په دې طريقه چه رب السلم به په نيزدې موده کښې مطالبه کوي.او مسلم اليه به په لرې موده کښې د اداکولو کوشش کوي.او داسې جهالت کوم چه، ،مفضي الى المنازعه، ، وي.مفسد وي.په دې وجه دميعاد مجهول کيدل به د بيع سلم دپاره مفسد وي.لکه څنګه چه په بيع کښې جهالت د ثمن او جهالت د مبيع مفسد د بيع وي.

---

(۱) **مذهب الشافعي رحمه الله:-** اود امام شافعي رحمه الله په نيز جائز دې.

(۲) الحديث المذكور تقدم تخريجه _

قدر الاجل ﴿ پاتې شوه داخبره چه په بيع سلم کښې د ميعاد ادنى موده څه ده؟ نو په دې باره کښې علامه مرغينانى ﷫ په هدايه کښې په کښې مسئله کښې درې اقواله بيان کړې دى. ① رومبې قول دادې چه په بيع سلم کښې ادنى موده يو مياشت ده.[1] دليل يې د . . كتاب الايمان دا مسئله ده.كه يوكس قسم اوخوړلو.چه زه به ستا قرضه عاجلاً ادا كوم.بيانې د يومياشت پوره كيدلو نه مخكښې مخكښې ادا كړله.نو ددې كس قسم پوره شو.ددې مسئلې نه معلومه شوه.چه د يومياشت نه كم دعاجل په حكم كښې دې.او هركله چه ديو مياشت نه كم دعاجل په حكم كښې دې.نو يو مياشت او ددې نه زيات به د آجل په حكم كښې وى. ② دويم قول د درې ورځو دې. دليل يې دخيارشرط موده ده.③ دريم قول د نيمې ورځې نه د زيات دې. دليل يې دا دې.چه معجل هغه ته وائى.په كوم چه په مجلس كښې دننه قبضه اوكړې شى.او په كوم چه د مجلس نه روسته قبضه اوكړې شى.هغې ته مؤجل وائى.او عام طور باندې مجلس نيمې ورځې پورې باقى پاتې كيږى.د نيمې ورځې نه زياتى باقى نه پاتې كيږى.په دې وجه د اجل او ميعاد كم نه كم موده به د نيمې ورځې نه زيات وى.علامه مرغينانى ﷫ فرمائيلى دى .چه رومبې قول زيات صحيح دې.ځكه چه يوه مياشت يوه داسې موده ده.چه په دې كښې د مسلم فيه حاصلول ممكن دى.

د معين سړي په پيمانه اوګز سره د بيع السلم حكم

وَلَايَجُوْزُالسَّلَمُ بِمِكْيَالِ رَجُلٍ بِعَيْنِهِ وَلَابِذِرَاعِ رَجُلٍ بِعَيْنِهِ او بيع سلم د يو معين سړى په پيمانه،او د معين سړى په ګز سره جائز نه دې

حل اللغة ﴿ **ذراع:** ګز ، **رجل:** سړې

تشريح ﴿ **حرمة السلم بمكيال رجل بعينه** ﴿ صورت د مسئلې دادې.كه د يومعين سړى يوه ذاتى پيمانه وى.چه د هغې مقدار معلوم نه وى.يا ذاتى ګز وى.چه ددې مقدار معلوم نه وى.نو په دې پيمانه اوګز سره به بيع سلم جائز نه وى.

دليله ﴿ ځكه چه په بيع سلم كښې د مسلم فيه سپارل د ميعاد پورې مؤخر وى.او په دې موده كښې ددې مخصوص پيمانې اوګز ضائع كيدل ممكن دى.نود ضائع كيدلو په صورت كښې به د مسلم فيه سپارلو په وخت د رب السلم او مسلم اليه په مينځ كښې جګړه پيدا شى.په دې طريقه چه رب السلم به د پيمانې د غټ والى دعوه كوى.او مسلم اليه به د وړكوتې كيدلو دعوه كوى.اوكوم څيز چه جګړه پيدا كوى.مفسد د بيع وى.په دې وجه داسې مخصوص پيمانه او مخصوص ګز سره چه ددې مقدار معلوم نه وى.بيع سلم جائز نه دې.دا مسئله د كتاب البيوع په شروع كښې تيره شوې ده.په ذكرشوى دليل سره دا خبره واضح كيږى.چه ددې مخصوص پيمانې يا مخصوص ګز كه مقدار معلوم وى.نو بيع سلم جائز دې.ځكه چه د مقدار معلوميدلو نه پس كه دا لوځې او پيمانه ضائع هم شى.بيا به هم د جګړې څه امكان نه وى.دغه شان كه ددې پيمانې مقدار معلوم نه وى.خود مبيع سپارل فوراً وى.نو بيا به هم بيع جائز وى.ځكه چه په دې صورت كښې د پيمانې ضائع كيدل ډير ناآشنا دى.او هركله چه ددې مخصوص پيمانې ضائع كيدل ناآشنا دى.نو هيڅ جګړه به هم نه پيدا كيږى.

[1]) القول الراجح هو هذا قول ان الأجل أدناه شهرا كذا في فتح القدير(٦\٢١٩) والكفاية (٦\٢١٩) وردالمحتار (٤\٢٣٠) والبحرالرائق (٦\١٦٠) والزيلعي(٤\١١٥) نقلاً عن القول الراجح(٢\٧٧)-

د معين كلي په غله ياد معين ونې په ميوه كښې د بيع سلم حكم

وَلَافِي طَعَامِ قَرْيَةٍ بِعَيْنِهَا ولافي ثَمَرَةِ نَخْلَةٍ بِعَيْنِهَا اود يو متعين كلي په غله ياد متعين ونې په ميووكښې بيع سلم جائز نه دي

حل اللغة> **قرية**: كلې، **نخلة**: د قجورې ونه. **ثمرة**: ميوه،

تشريح> حرمة السلم في طعام قرية بعينها> ابو الحسن قدوري ﷫ فرمائي.چه د يو متعين كلي غله ياد متعين ونې يا د متعين باغ ميوو بيع سلم جائز نه ده. مثلاً د ديوبند غنم، ياد دهره دون اوريژې،يا د حامد د باغ د ميوو بيع سلم نودا جائز نه دی.

دليله> دليل دادې. چه كله كله ددې متعين كلي غله ياد متعين ونې په ميوو باندې آسماني آفت راځي.او دا تباه او برباد كوي.او ددې مخصوص كلي غله يا د مخصوص ونې يا د مخصوص باغ ميوې د خلقو د لاس نه منقطع كيږي.اوپه بازاركښې نه ملاويږي.اوهركله چه داخبره ده.نو مسلم اليه به د مسلم فيه په سپارلو باندې قادر نه وي.او په كوم صورت كښې چه مسلم اليه د مسلم فيه په سپارلو باندې قادر نه وي.په هغه صورت كښې بيع سلم جائز نه وي.په دې وجه د متعين كلي غله ياد متعين ونې ياد متعين باغ ميوو بيع سلم جائز نه دې.دې طرف ته رسول الله ﷺ اشاره فرمائيلې ده.نقل دی.چه دانه سئل عن السلم في ثمر فلان فقال أما من ثمر حائط فلان فلا أرأيت اذهب الله الثمر بم يستحل أحدكم مال أخيه) يعنى،،د رسول الله ﷺ نه د فلانى سرى د ميوو بيع سلم په باره كښې تپوس اوكړې شو.نو نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.چه د فلانى سرى د باغ د ميوو بيع سلم جائز نه دې.تاسو اوگورئ.كه چرې الله تعالى د فلانى سرى ميوې ضائع كړي.نو په تاسو كښې به څوك د كوم څيز په عوض د خپل رور مال حلال گڼرې؟،،حاصل د حديث دادې.چه د متعين سرى د باغ د ميوو بيع سلم جائز نه دې.ځكه كه دا متعين باغ د آسماني آفت په نتيجه كښې هلاك شو.نود خپل رور يعنى د رب السلم راس المال به د كوم څيز په عوض حلال گڼرې.يعنى هركله چه دا متعين ميوې هلاكيدلو په وجه رب السلم ته حاصل نشوې.نود مسلم اليه دپاره به راس المال څنگه حلال وي.ددې حديث نه داهم ثابتيږى.چه د يو متعين كلي غله،يا د متعين ونې ياد متعين باغ د ميوو بيع سلم جائز نه دې.

صورة الجواز> اوكه د يوكلي طرف ته نسبت كول د صفت بيانولو په غرض سره وي.مثلاً كله چه د مليح آباد آم اوونيلې شي.نو په دې سره د مليح آباد متعين مقام مراد نه وي.بلكه مراد داوی.چه د مليح آباد پشان آمونه مقصود دی.كه په مليح آباد كښې پيدا شوی وی.اوكه په بل ځائې كښې پيدا شوی وی.نوكه كلي طرف ته نسبت صرف د صفت بيانولو دپاره وی.نو په دې كښې هيڅ باك نشته.يعنى په دې صورت كښې بيع سلم جائز دې.لكه مثلاً په بخارا كښې ئې هغه غنم مسلم فيه جوړكړل.كوم چه د بخارا يو كلي،،خشمران،،طرف ته منسوب دی.او په فرغانه كښې ئې هغه غنم مسلم فيه مقرركړل.كوم چه د فرغانه كلي،، بساخ،،طرف ته منسوب دی.حاصل داچه په بخارا كښې به غنم د،،خشمران،،او په فرغانه كښې د،،بساخ،، هغې ته ونيلې شي.نوكه خشمرانى يا بساخى غنم ئې مسلم فيه مقرركړل.نو ددې نه به د هغه متعين ځايونو غنم مراد نه وی.بلكه ددې مطلب به دا وی.چه غنم بنه وی.لكه څنگه چه د خشمران اود بساخ وی.كه دا ددې ځائې وی.اوكه د بل ځائې وی.

د بيع السلم شرائط

وَلَا يَصِحُّ السَّلَمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ اود حضرت امام ابوحنيفه ﷫ په نيز عقدسلم نه صحيح كيږی إِلَّا بِسَبْعِ شَرَائِطَ خو په اووه شرطونو سره تُذْكَرُ فِي الْعَقْدِ كوم چې په عقد كښې ذكر كولې شي جِنْسٌ مَعْلُومٌ چې

جنس معلوم وی وَنَوْعٌ مَعْلُومٌ او نوع معلوم وی وَصِفَةٌ مَعْلُومَةٌ او صفت معلوم وی) وَمِقْدَارٌ مَعْلُومٌ او مقدار معلوم وی وَأَجَلٌ مَعْلُومٌ یا په دومره اندازه وزن وی.او میعاد معلوم وی.

حل اللغة> **الحنطة:** غنم، **الشعیر:** اوربشه، **جید:** ښه ، **ردی:** خراب

تشریح> الشروط السبعة لصحة السلم> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه دامام اعظم رحمه الله په نیز د بیع سلم صحیح کیدلو اووه شرطونه دی.په دې کښې پنځه شرطونه د امام صاحب او صاحبینو رحمهما الله په مینځ کښې متفق علیه دی.او باقي دوه مختلف فیه دی. ① جنس معلوم وی.مثلاً دا اووائی.چه مسلم فیه غنم وی.یا به اوربشې وی.یا به اوریژې وی. ② نوع معلوم وی.مثلاً دا اووائی.چه مسلم فیه داسې غله وی.کوم چه په اوبو سره اوبه شوې وی.یا داسې وی.چه صرف د باران په اوبو سره اوبه شوې وی.③ صفت معلوم وی.مثلاً دا اووائی.چه مسلم فیه به ښه (کره) وی.یا ردی وی.یا به اوسط درجه والا وی.④مقدار معلوم وی.مثلاً دا اووائی.چه مسلم فیه شل کُره یا شل رطله وی.یا شل قفیزه وی.یا شل منه وی.بهرحال مسلم فیه چه په کوم پیمانې یا وزن سره مقرر کړې شو.چه هغه پیمانه په خلقو کښې مشهوره او په بازارکښې مروج وی. ⑤ میعاد معلوم وی.مثلاً دا اووائی.چه مسلم الیه به شپږ میاشتې پس مسلم فیه ادا کوی.

دلیله> علامه مرغیناني رحمه الله فرمائیلی دی .چه ددې شرطونو په سلسله کښې اصل هغه حدیث دې.کوم چه وراندې روایت کړې شوې دې.یعنی«من أسلم منکم فلیسلم فی کیل معلوم ووزن معلوم إلی أجل معلوم» په دې حدیث کښې اګرچه دوه شرطونه ، ،مقدار معلوم او میعاد معلوم،، په صراحت سره ذکر دی.خو دلالةً باقي شرطونه هم ښکاره دی.او عقلي دلیل هم وړاندې تیرشوې دې.که په ذکرشوی شرطونو کښې هیڅ یو شرط او نه موندې شی.نود انجام په اعتبار سره به جګړه پیدا شی.او جګړه مفسد د بیع وی.په دې وجه د ذکرشوی شرط موجود کیدل د سلم د صحت دپاره ضروری دی.

بقیه شرائط

وَمَعْرِفَةُ مِقْدَارِ رَأْسِ الْمَالِ (۱) اود راس المال مقدار معلوم وی إِذَا كَانَ مَا يَتَعَلَّقُ الْعَقْدُ عَلَى مِقْدَارِهِ کله چه عقدسلم ددې د مقدار سره متعلق وی كَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ لکه مکیلی، موزونی وَالْمَعْدُودِ او معدودی

تشریح> شرط معرفة قدر راس المال> که د عقد تعلق د راس المال مقدار سره وی.یعنی د مسلم فیه اجزاء اود راس المال په اجزاؤ باندې منقسم وی.مثلاً راس المال د مکیلات د قبیلې څخه وی.یاد موزونات د قبیلې څخه وی.یاد معدودات متقاربه د قبیلې څخه وی.نو په کیل یا وزن یا عدد سره ددې مقدار پیژندل ضروری دی.اګرچه راس المال طرف ته اشاره شوې وی.دا د امام ابو حنیفه رحمه الله مذهب دې امام مالک،امام احمد او امام شافعي رحمهم الله هم ددې قائل دی.(عیني)

دلیله> د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه د راس المال مقدار مجهول کیدل د مسلم فیه جهالت ته مستلزم دی.په دې طریقه چه د راس المال رقم مسلسل په لږه لږه خرچ کوی.نو ډیر کرته داسې کیږی.چه د راس المال یوه حصه خرچ کولو نه پس بعض دراهم کهوټه راوځی.او هم په دې مجلس کښې نشی بدلولې.یعنی په کوم مجلس کښې چه مسلم الیه کهوټه دراهم رب السلم ته واپس

(۱) القول الراجح هو قول الإمام رحمه الله من معرفة مقدار راس المال كذا في ردالمختار(٤\٢٣٠) وكنز(٢٣١) والهندية (١٧٨\٣).

کړی دی.هم په دې مجلس کښې د رب السلم نه نور کړه دراهم ددې په بدله کښې وانخستل.نو په دې صورت کښې ئې چه څومره قدرې کهوټه دراهم واپس کړی دی.ددې په اندازه به عقدسلم فاسد وی.او چونکه د پوره راس المال مقدار معلوم نه دې.په دې وجه به دا هم معلومه نشی.چه کهوټه دراهم د راس المال کومه حصه ده.نیمه ده.یا دریمه ده.اوکه څلورمه ده.اوهرکله چه دا معلومه نشوه.نودا به هم نه معلومیږی.چه عقدسلم به څومره مسلم فیه کښې کم شو.او په څومره کښې باقی دې.او ددې نه د مسلم فیه مقدار مجهول کیدل ښکاره دی.

اود مسلم فیه مقدار مجهول کیدل بالاتفاق مفسد سلم دی.څکه به په ذکرشوی صورت کښې بیع سلم فاسد وی.اوکه د راس المال مقدار معلوم وی.نود کهوټه دراهمو په وزن سره به معلومه شی.چه بیع سلم په څومره مسلم فیه کښې کم شو.او په څومره کښې باقی دې.مثلاً د راس المال دراهم یو کلو دی.او ددې نه د څه خرچ کولو نه پس څه دراهم کهوټه اوختل.نودا کهوټه دراهم به وزن کولې شی.مثلاً که کهوټه دراهم دوه نیم سوه ګرامه وی.نو معلومه شوه.چه کهره دراهم اونیم سوه ګرامه یعنی د پوره راس المال ¾ دی.نود څلورمې حصې د مسلم فیه بیع سلم به فسخ شی.او په باقی درې حصو کښې به باقی وی.نود راس المال مقدار معلومیدلو په صورت کښې چونکه د مسلم فیه مجهول کیدل نه لازمیږی.څکه به په دې صورت کښې بیع سلم صحیح وی.اود راس المال مقدار مجهول کیدلو سره چونکه دمسلم فیه مجهول کیدل لازمیږی.په دې وجه په دې صورت کښې بیع سلم فاسد یږی.

وَتَسْمِيَةُ الْمَكَانِ الَّذِي يُوفِيهِ فِيهِ (۱) اود هغه ځائې بیانول په کوم (ځائې) کښې چه به مسلم فیه اداکوی إِذَا كَانَ لَهُ حَمْلٌ کله چه مسلم فیه دروند بوج وی وَمُؤْنَةٌ او(په دې باندې) خرچه راځی

تشریح ﴿ شرط تسمية المكان الموفي فيه ﴾ که مسلم فیه داسې څیز وی.چه دا درونډ (بوج) وی.اود یوځائې نه بل ځائې ته منتقل کولوکښې خرچه راځی.نود هغه ځائې بیانول هم ضروری دی.کوم ځائې چه به مسلم فیه ادا کوی. دا د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دې

دلیله ﴿ د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه په عقدسلم کښې چونکه د اجل او میعاد کیدل شرط دی.په دې وجه فی الحال یعنی د عقدسلم په وخت د مسلم فیه سپارل نه واجبیږی.بلکه د میعاد په پوره کیدلو باندې سپارل واجبیږی.او هرهغه څیز چه د هغې فی الحال سپارل واجب نه وی.د هغې د سپارلو دپاره د عقدځائې نه متعین کیږی.نو ثابته شوه.چه د مسلم فیه سپارلو دپاره د عقدځائې متعین نه دې.په خلاف د قرض او غصب.څکه چه په قرض او غصب کښې فی الحال سپارل واجب دی.هم دا وجه ده.چه په قرضه کښې د میعاد په مقررولو سره میعاد نه مقرریږی.بلکه قرض ورکونکې که د قرض ورکولو نه فوراً پس د قرضه واپس کولو مطالبه اوکړی.نو په قرضدار به هم په دې ځائې کښې هم په دې وخت واپس کول واجب وی.او پاتې شو غصب نو په دې کښې د غصب نه فوراً پس د شئ مغصوبه واپس کول واجبیږی.بهرحال هرکله چه په قرض او غصب کښې فی الحال سپارل واجب دی.نود قرض او شئ مغصوبه واپس کولو او سپارلو دپاره به د قرض اود غصب ځائې متعین وی.او په عقدسلم کښې چونکه فی الحال مسلم فیه سپارل واجب نه دی.په دې وجه د مسلم فیه سپارلو دپاره به د عقدځائې متعین نه وی.اوهرکله چه د مسلم فیه سپارلو دپاره د عقدځائې متعین نه دې.نود

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الإمام رحمه الله من تسمية المكان الذي يوفي فيه الثمن كذا في ردالمحتار(۱۴\۲۳۰) وكنز(۲۳۱) والهندية (۳\۱۷۸) والقول الراجح في المسئلة الثانية هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(۱۴\۲۳۱) والخانية (۲\۳۳۳) وكنز (۲۳۱) نقلاً عن القول الراجح (۲\۷۸)-

مسلم فيه سپارلو دځاې مجهول کيدلو په وجه به د انجام په اعتبار سره جګړه پيدا کيږي.خکه چه د خايونو په اختلاف سره د اشياؤ قيمتونه مختلف وي.نو رب السلم به په داسې ځاې کښې مطالبه کوي.کوم ځاې چه د مسلم فيه قيمت زيات او ګران وي.او مسلم اليه به نې داسې ځاې کښې سپاري.کوم ځاې چه د مسلم فيه قيمت کم نه کم وي.اودا د مسلم فيه صفت مجهول کيدلو پشان شو.يعنى لکه څنګه چه د مسلم فيه صفت مجهول کيدلو په صورت کښې بيع سلم جائز نه وي.نو هم دغه شان د سپارلو د ځاې مجهول کيدلو په صورت کښې به هم بيع سلم جائز نه وي.او هرکله چه د سپارلو د ځاې مجهول کيدلو سره بيع سلم جائز نه وي.نود مسلم فيه سپارلو دپاره به د ځاې بيانول هم ضروري وي.

وَقَالَ ابويوسف ومحمد لَا يَحْتَاجُ إِلَى تَسْمِيَةِ رَأْسِ الْمَالِ او صاحبين ﷬ فرمائي.چه د راس المال بيانولو ضرورت نشته إِذَا كَانَ مُعَيَّنًا کله چه دا معين وي

تشريح> عدم شرطية تعين قدر راس المال> صاحبين ﷬ فرمائي.که راس المال په اشاره سره متعين شوې وي.نو ددې مقدار بيانول ضروري نه دي.

دليلهما> په دې مسئله کښې د صاحبينو ﷬ دليل دادې.چه د راس المال مقدار پيژندلو نه مقصود په راس المال سپارلو باندې قادر کيدل دي.اودا مقصود (راس المال ته) د اشارې په ذريعه متعين کولوسره هم حاصليږي. او هرکله چه په اشاره سره مقصود حاصليږي.نود کيل يا وزن يا عدد په ذريعه د راس المال مقدار پيژندلو هيڅ ضرورت پاتې نشو.اودا د ثمن او اجرت مشابه شو.يعنى لکه څنګه چه په بيع کښې د مقدار بيانولو نه بغير ثمن طرف ته اشاره کول،او په عقداجاره کښې اجرت طرف ته اشاره کول کافي دي.دغه شان راس المال طرف ته اشاره کول کافي دي.ددې مقدار بيانول ضروري نه دي.اودا د کپړې د تهان پشان شو.يعنى که د کپړې تهان طرف ته اشاره اوکړي.اودا راس المال مقررکړي.او ددې دګزونو مقدار بيان نکړې شو.نودا جائز دي.دغه شان که مکيلي يا موزوني يا معدودي څيز په اشاره سره متعين کړي.اودا راس المال جوړکړي.نودا هم جائز دي.اګرچه په کيل يا وزن يا عدد سره ددې مقدار نه وي بيان شوې.

وَلَا إِلَى مَكَانِ التَّسْلِيمِ اونه د مسلم فيه دسپارلو ځاې بيانولو ته حاجت شته وَيُسَلِّمُهُ فِي مَوْضِعِ الْعَقْدِ اوکوم ځاې چه عقد منعقد شو.هم هلته کښې به سپارلې شي

تشريح> عدم تعين المكان الموفي فيه> اوصاحبينو په نيز د مسلم فيه د ځاې بيانول هم ضروري نه دي.بلکه هم هغه ځاې به نې سپاري.کوم ځاې چه عقدسلم واقع شوې دې.

دلائلهما> ① د صاحبينو ﷬ دليل دادې.چه عقدسلم کوم چه د مسلم فيه سپارل واجبونکې دې.دا هم په دې ځاې کښې موجود شوې دې.نو په کوم ځاې کښې چه عقدموجب التسليم اوموندې شو.هم په دې ځاې کښې به مسلم فيه سپارل واجب وي.اوهرکله چه په مکان عقد کښې دمسلم فيه سپارل واجب شو.نود مسلم فيه سپارلو دپاره د بل ځاې بيانول ضروري نه دي.لکه مثلاً يو کس په يوکلي کښې متعين غنم واخستل.نو په بائع به هم په دې ځاې کښې سپارل لازم وي.کوم ځاې چه ده خرڅ کړي دي.نو هم دغه شان کوم ځاې کښې چه عقدسلم واقع شوې دې.هم په دې ځاې کښې به په مسلم اليه باندې د مسلم فيه سپارل لازم وي. ② دويم دليل دادې.چه د مسلم فيه سپارل د ځاې محتاج وي.اود مسلم فيه په سپارلوکښې ټول ځايونه برابر دي.يو ته په بل باندې ترجيح نه وي.البته د عقدځاې ته د عقد په وجه چونکه ترجيح حاصل ده.ددې هيڅ مقابل نشته.په دې وجه دمسلم فيه سپارلو دپاره به د

عقدخاني متعين وي.اودا داسي ده.لکه څنګه چه د مونځ د وخت اول جزء د مقابل نه کيدلو په وجه د مونځ د نفس وجوب سبب وي.اودا د قرض او غصب پشان شو.يعنی لکه څنګه چه د قرضې اداکولو دپاره د قرض خاني متعين دي.اود مال مغصوبه اداکولو دپاره د غصب خاني متعين دي.دغه شان د مسلم فيه اداکولو دپاره د عقدسلم خاني متعين دي.

په عقدسلم کښې په راس المال د قبضه حکم

وَلَا يَصِحُّ السَّلَمُ او سلم صحيح نه دې حَتّٰى يَقْبِضَ رَأْسَ الْمَالِ قَبْلَ أَنْ يُفَارِقَهُ فِيهِ تردې چه هم په دې مجلس کښې د جداکيدلو نه وړاندې راس المال باندې قبضه اوکړي

حل اللغة > **يفارق**: جدا کيږي، **الکالي**: قرض، **عاجل**: في الحال، **الأجل**: نيته

تشريح > **صورة المسئلة** > صورت د مسئلې دادې.چه عقدسلم به هغه وخت صحيح وي.چه رب السلم او مسلم فيه دواړه د جداکيدلو نه مخکښې مخکښې مسلم اليه په راس المال باندې قبضه اوکړي.
حاصل داچه په مجلس د عقد کښې د عاقدينو جداکيدلو نه وړاندې د مسلم اليه په راس المال باندې قبضه کول ضروري دي.

دليله > ځکه چه راس المال د دوه حالو نه خالی نه وي.ياخوبه دا د قبيلې د نقود يعنی د دراهم او دنانيرو د جنس څنې وي.يا به د قبيلې د اعيان يعنی د خاروو او کپړو د جنس څنې وي.که اول وي.نو په دې صورت کښې د دين بدين بيع يعنی د قرض بيع به د قرض په عوض شی.ځکه چه په راس المال باندې هرکله په مجلس عقدکښې قبضه اونکړې شوه.نو راس المال هم د نقود د قبيلې څنې کيدلو په وجه دين غيرمعين شو.او مسلم فيه هم قرض يعنی د مسلم اليه په ذمه دين وي.نودا د دين بيع د دين په عوض يعنی د قرض بيع د قرض په عوض شوه.حالانکه رسول الله ﷺ د کالئ بالکالئ يعنی د قرض په عوض د قرض بيع نه منع فرمائيلې ده. نو ثابته شوه.که راس المال نقد وي.نو په دې باندې په مجلس عقدکښې قبضه کول ضروري دي.
او که دويم وي.يعنی راس المال معين څيز وي.نو په مجلس عقدکښې قبضه کول ځکه ضروري دي.چه سلم واني معجل د مؤجل په عوض اخستل.يعنی په سلم کښې راس المال معجل او فوري وي.او مسلم فيه مؤجل او قرض وي.او ددې وجه داده.چه لفظ د سلم او سلف، په اسلام او اسلاف کښې لغة د تعجيل معنی موجود ده.او چونکه په شرعی احکامو کښې د لغوی معنی رعايت کولې شی.په دې وجه د لفظ سلم او اسلام لفظی معنی متحقق کولو دپاره په احدالعوضين باندې قبضه کول ضروري دي.او چونکه داخبره منلې شوې ده.چه مسلم فيه ميعادی او قرض وي.په دې وجه دويم عوض يعنی په راس المال باندې به په مجلس د عقدکښې قبضه کول ضروري وي.

په راس المال اومسلم فيه کښې قبل القبض د تصرف حکم

وَلَا يَجُوْزُ التَّصَرُّفُ فِي رَأْسِ مَالِ السَّلَمِ اود قبضه نه وړاندې د سلم په راس المال کښې وَالْمُسْلَمِ فِيهِ قَبْلَ الْقَبْضِ اوپه مسلم فيه کښې تصرف کول جائز نه دي.

تشريح > **عدم جواز التصرف في راس المال قبل القبض** > ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه د بيع سلم په راس المال کښې د قبضه کولو نه وړاندې د مسلم اليه دپاره تصرف کول جائز نه دی.دغه شان په مسلم فيه کښې د قبضه نه وړاندې د رب السلم دپاره تصرف کول جائز نه دی.مثلاً خالد د حامد نه په دوه سوه درهم باندې د دوه منه غنمو بيع سلم اوکړله.او په دې عقدکښې خالد رب السلم اوحامد مسلم اليه دې.بيا حامد(مسلم اليه) ددې دوه سوه درهمو په عوض کښې د شاهد نه اس واخستلو.حالانکه

تراوسه پورې حامد په دې دوه سوه درهمو باندې قبضه نه ده کړې.نود حامد يعنى مسلم اليه دا تصرف په صحيح نه وى.دغه شان كه خالد يعنى رب السلم په دوه منه غنمو يعنى په مسلم فيه باندې د قبضه کولو نه بغير دا خرڅ کړل.نوبيا هم جائز نه دى.حاصل داچه د قبضه نه وړاندې نه په راس المال كښې تصرف کول جائز دى.او نه په مسلم فيه كښې تصرف جائز دې.

دليل عدم جواز التصرف في مال السلم> د اول دليل دادې.چه په مجلس كښې راس المال باندې قبضه کول د بيع سلم صحيح كيدلو شرط اود الله تعالى حق دې.او تصرف کول دا باطلوى. په دې وجه د قبضه نه وړاندې په راس المال كښې تصرف کولو ته جائز ونيلې شوى دى.

دليل عدم جواز التصرف في مسلم فيه: د دويم دليل دادې.چه مسلم فيه مبيع وى.اود قبضه نه وړاندې په مبيع كښې تصرف کول جائز نه دى.په دې وجه د قبضه کولو نه وړاندې د مسلم اليه دپاره په مسلم فيه كښې تصرف کول ناجائز دى.

په مسلم فيه كښې قبل القبض د شركت او توليه حكم

وَلَا تَجُوزُ الشَّرِكَةُ وَالتَّوْلِيَةُ فِي الْمُسْلَمِ فِيهِ او په مسلم فيه كښې شركت او توليه جائز نه ده قَبْلَ قَبْضِهِ وړاندې د قبض کولو د هغې نه

تشريح> عدم جواز التولية والشركة في المسلم فيه> مسئله: د قبضه نه وړاندې په مسلم فيه كښې نه شركت جائز دې.او نه توليه جائز ده.د شركت صورت دادې.چه رب السلم يوكس ته اووئيل.ته ماته نيم راس المال راكړه.چه ته په مسلم فيه كښې زما سره برابر شريك شې.اود توليه صورت دادې.چه رب السلم يو بل كس ته اووئيل.كه ته ماته پوره راس المال راكړې.نو پوره مسلم فيه ستا دپاره دې.

دليله> د شركت او توليې د عدم جواز دليل دادې.چه د شركت په صورت كښې په نصف مسلم فيه كښې،اود توليه په صورت كښې په پوره مسلم فيه كښې د قبضه نه وړاندې تصرف کول لازميږى.او وړاندې تير شوى دى.چه د قبضه نه وړاندې په مسلم فيه كښې تصرف کول ناجائز دى.په دې وجه په مسلم فيه كښې نه شركت جائز دې.او نه توليه جائز ده.

په جامو كښې د بيع سلم حكم

وَيَصِحُّ السَّلَمُ فِي الثِّيَابِ چه په كپړو كښې سلم صحيح دې إِذَا سَمَّى طُولًا وَعَرْضًا وَرُقْعَةً كله چه ددې اوږدوالې، پلن والې، پيړوالې او نرې والې بيان كړى

حل اللغة> الثياب: جمع ثوب،جامه، **طول:** اوږدوالې، **عرض:** پلنوالې، **مقدور:** قابل قدرت

تشريح> جواز السلم في ا لثياب> ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائى.كه د وړې كپړې اوږدوالې،پلن والې، پيړوالې او نرې والې ئې بيان كړې وى.نو ددې بيع سلم جائز دې.

دليله> ځكه چه په دې صورت كښې كپړه معلوميږى.او ددې سپارل ممكن دى.او وړاندې تيرشوى دى. چه د شئ معلوم، مقدورالتسليم بيع سلم جائز وى.ځكه به ددې كپړې بيع سلم هم جائز وى.

په ياقوت او غموكښې د بيع سلم حكم

وَلَا يَجُوزُ السَّلَمُ فِي الْجَوَاهِرِ وَلَا فِي الْخَرَزِ او په ياقوت او غمو(موتيانو) كښې بيع سلم جائز نه دې

تشريح> حرمة السلم في الجواهر> مسئله: په ياقوت او غمى چونكه عددى دى.اود ماليت په اعتبار سره ددې په افرادوكښې ډيرزيات تفاوت وى.

دليله> ځكه ددې بيع سلم جائز نه دې.

په پخو او کچه خښتوکښې د بيع سلم شرط او حکم

وَلَابَأْسَ بِالسَّلَمِ فِي اللَّبِنِ وَالْآجُرِّ او په کچه او پخو خښتو کښې بيع سلم کولو کښې هيڅ باک نشته إِذَا سَمَّى مِلْبَنًا مَعْلُومًا کله چه يوه معلومه سوانچه بيان کړې شي

تشريح> جواز السلم في اللبن والاجر> مسئله: خښتې که کچه وي.او که پخې وي.که ددې سانچه متعين شوې وي.نو ددې بيع سلم جائز ده.

دليله> ځکه چه خښتې د عدديات متقاربه څخه دي.يعنې په ماليت کښې ددې افراد متفاوت نه وي.او د عددي متقارب بيع سلم چونکه جائز وي.ځکه به د خښتو بيع سلم هم جائز وي.په دې شرط چه ددې سانچه متعين کړې شوې وي.

د بيع سلم قاعده کليه

وَكُلُّ مَا أَمْكَنَ ضَبْطُ صِفَتِهِ وَمَعْرِفَةُ مِقْدَارِهِ اوهر يو داسې څيز چه ددې صفت معلومول او ددې مقدار پيژندل ممکن وي جَازَ السَّلَمُ فِيهِ نود هغې بيع سلم جائز ده وَمَا لَا يُضْبَطُ صِفَتُهُ اود کوم څيز چه صفت نه معلوميږي وَمَعْرِفَةُ مِقْدَارِهِ او نه ددې مقدار معلوميدې شي لَا يَجُوزُ السَّلَمُ فِيهِ نو په هغې کښې بيع سلم جائز نه ده

حل اللغة> أمكن: ممکن وي، **الضبط:** حفاظت، **المنازعة:** جګړه، **تفضي:** مفضي کيږي

تشريح> القاعدة الاولي> ابو الحسن قدوري رحمه الله په دې عبارت کښې يوه قاعده بيانوي.ددې حاصل دا دې.چه د کوم څيز صفت معلومول او ددې مقدار پيژندل ممکن وي.د هغې بيع سلم به هم جائز وي.لکه مکيلات، موزونات، مزروعات او عدديات متقاربه.

دليله> دليل دادې.چه د داسې څيز په سپارلوکښې دځه جګړې امکان نشته.اوهرکله چه د جګړې امکان نشته.نو بيع سلم به هم جائز وي.

القاعدة الثانية> اود کوم څيز صفت معلومول او ددې مقدار پيژندل چه ممکن نه وي.نود هغې بيع سلم جائز نه دې.

دليله> ددې دليل دادې.چه مسلم فيه دين وي.يعنې د مسلم اليه په ذمه واجب وي.او دين يعنې کوم څيز چه د مسلم اليه په ذمه واجب وي.هغه د وصف بيانولو نه بغير مجهول او غيرمعلوم پاتې وي.اومجهول هم داسې چه، ،مفضي الى المنازعه،، وي.او داسې جهالت چه د انجام په اعتبارسره جګړه پيدا کړي.مفسد د بيع وي.په دې وجه که د مسلم فيه وصف بيان شوې نه وي.او ددې مقدار معلوم نه وي.نو ددې بيع سلم به جائز نه وي.

د شلونکو، معلم اوغيرمعلم، ځناورو د بيع حکم

وَيَجُوزُ بَيْعُ الْكَلْبِ وَالْفَهْدِ وَالسِّبَاعِ چه د سپو، پړانګ، او شلونکو ځناورو بيع جائز ده

حل اللغة> الكلب: سپې، **الفهد:** پړانګ، **السباع:** درنده،

تشريح> جواز بيع الكلب والفهد والسباع> شيخ ابوالحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه د سپي، پړانګ اود شلونکي(ماتونکي) ځناورو مثلاً د شير، زمري (او پړانګ) وغيره بيع جائز ده.

دلائله> ① د عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهما حديث دليل دې.(أنه صلى الله عليه وسلم قضى في كلب قتله رجل بأربعين درهماً) يعنې يوسړي يو سپې مړکړلو.نود الله رسول صلى الله عليه وسلم د خلوينت درهمو تاوان فيصله اوکړله. په دې

روایت کښې سپې مطلق دې.او په هلاکونکی باندې تاوان واجب کړې شوې دې.اوتاوان واجبول د سپی متقوم یعنی په قیمتی کیدلو باندې دلیل دې.اود مال متقوم بیع جائز وی.ځکه به د سپی بیع جائز وی.

السوال> خو په دې باندې اشکال دې.چه امام طحاوی رحمه الله په شرح آثار کښې دا حدیث په الا کلب صید الفاظو سره ذکر کړې دې.په دې صورت کښې د ښکاری سپی متقوم کیدل ثابتیږی.دمطلق سپی متقوم کیدل نه ثابتیږی.

الجوابان> یوجواب دادې.چه په حدیث (نهی عن بیع الکلب إلا کلب صید او ماشیة) سره د ټولو سپو د بیع جواز ثابتیږی.ځکه چه هر یو سپې د ځاروو د رمې دحفاظت صلاحیت لری.په دې طریقه چه د غلا او زمری وغیره په کتلو سره ټول سپی غاپی.او ددوی دا غپیدل ددې حفاظت کول دی.نو لفظ ماشیه لاندې ټول سپی داخلیږی.

دویم جواب دادې.چه د (کلب صید) اود (کلب ماشیة) د بیع جواز خو په حدیث سره صراحةً او عبارت النص نه ثابت دې.او ددې نه علاوه نور سپی ددې سره دلالة النص په طریقه لاحق دی.دغه شان د ټولو سپو بیع جائز کیدل ثابتیږی.

② عقلی دلیل دادې.چه مطلق سپې قابل انتفاع دې.ددې نه د حفاظت کار هم اخستلې شی.اود ښکار کارهم اخستلې شی.اوکوم څیز چه منتفع به وی.هغه مال وی.ځکه چه مال د سرې :. علاوه دهغه څیز نوم دې.کوم چه شرعاً د سرې د نفع دپاره پیدا شوی وی.نو معلومه شوه.چه مطلق سپې مال دې.اود مال بیع جائز ده.نود سپی بیع به هم جائز وی.په خلاف د مار، لړم، وغیره موذی ځناورو،چه ددې بیع جائز نه ده.ځکه چه حشرات الارض غیرمنتفع بها دی.بلکه یوقسم مضر او ضرر رسان دی.اوکوم څیز چه ناقابل انتفاع وی. هغه مال نه وی.اوکوم څیز چه مال نه وی.د هغې بیع هم جائز نه وی.په دې وجه د حشراتو د زمکې اوضرری څیزونو (لکه مارلړم وغیره) بیع جائز نه ده.

د شراب اود خنزیر د بیع حکم

ولایجوز بیع الخمر والخنزیر اود شراب اود خنزیر بیع جائز نه ده

تشریح> حرمة بیع الخمر والخنزیر> مسئله: د شرابو او خنزیر بیع جائز نه ده.

دلائله> ① د شرابو په حرمت کښې اصل د الله تعالی دا قول دې. ﴿إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ﴾ او ،، رجس،، حرام او نجس ته وائی.او په حرام څیزکښې چونکه تصرف جائز نه وی.ځکه به په شرابوکښې د بیع وغیره په ذریعه تصرف کول جائز نه وی. اود خنزیر په حرمت کښې اصل دا آیت دې. ﴿إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ﴾ نوچونکه خنزیر هم حرام دې.او په حرام څیزکښې تصرف کول ناجائز دی.ځکه به د خنزیر بیع هم ناجائز وی.

② رسول الله ﷺ د شرابو په باره کښې فرمانیلی دی ((إن الذی حرم شربها حرم بیعها وأکل ثمنها)) چه چا ددې څکل حرام ()

③ دریم دلیل دادې.چه شراب او خنزیر د مسلمان په حق کښې مال نه دې.لکه څنګه چه د ،،باب البیع الفاسد،، په شروع کښې تفصیل تیرشوې دې.او کوم څیز چه مال نه وی.د هغې بیع جائز نه وی.په دې

---

۱) من حدیث ابن عباس رضی الله عنهما اخرجه مسلم فی المساقاة رقم ۶۸

وجه د شراب او خنزير بيع جائز نه ده.

بيوع کښې د ذميانو حکم

وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ دُوْدِ الْقَزِّ او جائز نه ده بيع د چينجو د ريښمو اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ مَعَ الْقَزِّ مگر دا چې د چيچو سره ريښم هم وی

تشريح> د ريښمو بيع جائز ده اود ريښمو د چينجو بيع جائز نه دې خوکه د چينجو سره ريښم هم وی نو بيا ئې بيع جائز ده

دليله> دليل يې دا دې چې چيچې مال نه دې او چې مال نه دې نو بيع ئې هم جائز نه ده البته چې ريښم ورسره وی نو د ريښمو د تابع کيدو په وجه ددې بيع جواز لری.

وَلَا النَّحْلِ اونه ده جائز بيع د شهدو د مچۍ اِلَّا مَعَ الْكُوَّارَاتِ مگر دا چې د مچو سره د هغوی گبين هم وی

تشريح> د شهدو بيع جائز ده اود شهدو د مچۍ بيع جائز نه دې خوکه د مچۍ سره گبين هم وی نو بيا ئې بيع جائز ده

دليله> دليل يې دا دې چې مچۍ مال نه دې او چې مال نه دې نو بيع ئې هم جائز نه ده البته چې مچۍ گبين هم وی نو د گبينو د تابع کيدو په وجه ددې بيع جواز لری.

وَأَهْلُ الذِّمَّةِ فِي الْبِيَاعَاتِ كَالْمُسْلِمِينَ او ذميان خلق په بيوع کښې د مسلمانانو پشان دی.

تشريح> لغة> ذمی: هغه کافر ته وائی.کوم چه په دارالسلام کښې د مسلمانانو ماتحت اوسيږی.او جزيه وغيره ورکوی.

اهل الذمة كالمسلمين في البيع> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه ذمی خلق په اخستلو،خرخولو او په نورو معاملاتوکښې د مسلمانانو پشان دی.يعنی کوم څيزونه چه مسلمانانو دپاره حلال دی.هغه به ددوی دپاره هم حلال وی.او کوم څيزونه چه د مسلمانانو دپاره حرام دی.هغه به ددوی دپاره هم حرام وی.مثلا سود ،د خاروی بيع د خاروی په عوض په قرضو،اود يو درهم بيع د دوه درهمو په عوض په نغدو،او قرضو وغيره وغيره، دمسلمانانو دپاره حرام دی.نود ذميانو دپاره به هم حرام وی.

دلائله> ① ددې دليل د معاذ رضی الله عنه حديث دې.يعنی کله چه سرداردوعالم ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه د يمن گورنر (والی) جوړکړلو.او وې ليګلو.اوده ته ئې ډير هدايات اوفرمائيل.نو په دې کښې يو هدايت دا وو.چه معاذ ! د يمن کافران خبر کړه.چه ددوی دپاره هم هغه څيز حلال دې.کوم چه د مسلمانانو دپاره حلال دې.او په دوی باندې هغه څيز حرام دې.کوم چه په مسلمانانو باندې حرام دې.(۱) ② دويم دليل دادې.چه ذمی خلق د مسلمانانو پشان د معاملاتو مکلف دی.اود خپلو خانونو په باقی ساتلوکښې د مسلمانانو پشان د خوراك څکاك،کپړو اود کورهم محتاج دی.اودا څيزونه ښکاره ده.چه د اسبابو په محنت کولوسره به حاصليږی.او په دې سببونوکښې يو سبب بيع هم ده.په دې وجه ددوی په حق کښې به بيع هم هغه شان مشروع وی.لکه څنګه چه د مسلمانانو په حق کښې مشروع ده.

اِلَّا فِي الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ خَاصَّةً خو خاص کر په شراب او خنزير کښې فَإِنَّ عَقْدَهُمْ عَلَى الْخَمْرِ ځکه چه ددوی په شرابو باندې عقد کول داسې دی كَعَقْدِ الْمُسْلِمِ عَلَى الْعَصِيرِ لکه د مسلمانانو د انگورو په شيره

(۱) قال الزيلعي رحمه الله لم اعرف الحديث الذي أشار إليه المصنف ولم يتقدم في هذا المعنى الا حديث معاذ رضی الله عنه وهو في كتاب الزكاة وحديث بريدة رضی الله عنه وهو في كتاب السير وليس فيهما ذلك (نصب الراية ٤/١٠٦)۔

باندې عقد كول. وَعَقْدُهُمْ عَلَى الْخِنْزِيرِ او ددوى په خنزير باندې عقد كول داسې دى كَعَقْدِ الْمُسْلِمِ عَلَى الشَّاةِ لكه د مسلمانانو په چيلۍ باندې عقد كول

تشريح> **استثناء الشيئين>** د دوه څيزونو استثناء ده. ① شراب ② خنزير يعنى دا دوه څيزونه خاص طور د ذميانو دپاره حلال دى.او ددې اخستل خرڅول هم حلال دى.خود مسلمانانو دپاره حلال نه دى.په شرابو باندې د ذميانو عقد كول داسې دى.لكه د مسلمانانو د انګورو په شيره (كهل او بوره) باندې عقد كول،او په خنزير باندې ددوى عقد كول داسې دى.لكه
په چيلۍ باندې د مسلمان عقد كول.

دليله> دليل دادې.چه د عقد امان لاندې شراب او خنزير ددوى په اعتقاد كښې مال متقوم دې.او رسول الله ﷺ مونږ ته ددې خبرې حكم راكړې دې.چه مونږ ذميان ددوى په اعتقاد باندې پريږدو.نو هركله چه ذميان ددوى په اعتقاد باندې د پريخودلو حكم شوې دې.او ددوى په اعتقاد كښې شراب او خنزير مال متقوم دې.اود مال متقوم اخستل خرڅول چونكه جائز دى.څكه به ذميانو دپاره د شرابو اوخنزير اخستل خرڅول هم جائز وى.هم په دې باندې د فاروق اعظم عمربن الخطاب رضي الله عنه قول دلالت كوى.سويد بن غفله وائى.چه خليفة المسلمين عمربن خطاب رضي الله عنه تشريف راوړلو.او خپل عمال (صدقات وغيره راټولونكى) ئې راجمع كړل.چه تاسو خلق په جزيه كښې مردار، خنزير او شراب اخلئ.حضرت بلال رضي الله عنه اووئيل.آو دا خلق داسې كوى.حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل.داسې مه كوئ.البته تاسو ددې څيزونو مالكان ددې د خرڅولو واليان جوړكړئ.بيا ددوى نه (په جزيه كښې) ددې ثمن اخلئ(۱).ددې واقعې نه هم معلوميږى.چه د ذميانو دپاره د شراب او خنزير اخستل خرڅول جائز دى.

بَابُ الصَّرْفِ

ترجمه (دا) باب د بيع صرف (په بيان كښې) دې.

تشريح> **الربط بما قبله>** علامه عينى فرمائيلى دى لكه بيع صرف د بيع يوقسم دې.اود بيوع په انواعو كښې بيع صرف څكه موخر كړې شوې دې.چه په بيع صرف كښې
اود وصف ذكر روستو وى.په دې وجه د بيع صرف ذكر د بيوع په اقساموكښې د ټولو نه په آخركښې شوې دې.(بنايه ازبدرالدين عينى رحمه الله)

د بيع صرف تعريف

الصَّرْفُ هُوَ الْبَيْعُ صرف هم بيع ده إِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْ عِوَضَيْهِ مِنْ جِنْسِ الْأَثْمَانِ كله چه ددې په دواړه عوضونوكښې هر يو د ثمن دجنس څخې وى

حل اللغة> **عوضين:** تثنيه د عوض،بدله

تشريح> **تعريف بيع الصرف>** ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائى.چه بيع صرف هغه بيع ده.چه ددې دواړو عوض د ثمن د جنس څخې وى.ددې درې صورتونه دى. ① سره زر د سرو زرو په عوض ② سپين زر د سپينوزرو په عوض ③ په دې دواړو كښې يو دبل په عوض،

وجوه التسمية> ① علامه مرغينانى رحمه الله په هدايه كښې ددې عقد ، صرف نوم ايخودلو دوه وجهې بيان

(۲۵۷) اخرجه عبدالرزاق فى مصنفه فى البيوع قاله الزيلعى رحمه الله نصب الراية ۱۰۷/۴)۔

کړي دی. ① رومبۍ وجه داده.چه د صرف لغوي معنی اړول،او منتقل کیدل دی.لکه چه د الله تعالی ارشاد دي.﴿ثُمَّ انْصَرَفُوْا صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ﴾ یعنی بیا(پاسیدل) روان شو.الله تعالی ددوی زړونه اړولی دی.اوس چونکه ددې عقد دواړه عوضونه لاس پلاس منتقل کولو او اړولو ضرورت راپیښیږی.په دې وجه ددې عقدنوم صرف کیخودې شو.

②دویمه وجه داده.چه د خلیل نحوی د بیان مطابق د صرف لغوی معنی زیاتوالي دې.په دې وجه عبادت نافله ته صرف وائی.لکه چه د رسول هاشمی ﷺ فرمان دې.(من انتمی الی غیر أبیه لایقبل الله منه صرفاً ولاعدلاً) یعنی چاچه خپل پلار نه علاوه طرف ته خپل ځان منسوب کړلو.الله تعالی نه دده نفل قبلوی.او نه فرض قبلوی.په دې حدیث کښې لفظ د صرف عبادت نافله دپاره استعمال شوې دې.او عبادت نافله هم د فرضو نه یو زیاتی څیز دې.نو معلومه شوه.چه د صرف معنی زیاتوالي دې.اود عقدصرف نه مطلوب هم زیاتوالي دې.ځکه چه سره زر او سپین زر دواړه داسې څیزونه دی.چه ددې د ذات نه هیڅ نفع نشی اخستلې.ددې په خلاف غله، کپړې،او خر وغیره چه ددې د ذات نه نفع اخستې شی.په دې طریقه چه په غله باندې خیټه ډکولې شی.اود کپړې نه د ستر کار اخستې شی.او خر د سوارلۍ پکار راځی.نو هرکله چه د سرو او سپینو زرو ذات غیرمنتفع به دې.نو ددې د تجارت نه مقصود به زیاتوالي طلب کول وی.په دې طریقه چه د کره په بدله کښې کهوټه ورکړی.یاد سوانچه شوی نه بغیر په بدله کښې سوانچه شوی واخلې.ځکه که ددې دتجارت نه زیاتوالي هم مقصود نه وی.نو عقدصرف به د فائدې نه خالي وی. حالانکه دعقدکولو نه د عاقدینو مقصود څه ناڅه فائده ضرور وی.نو ثابته شوه.چه د عقدصرف نه زیاتوالي مقصود وی.اود صرف لغوی معنی هم چونکه زیاتوالي دې.په دې وجه ددې عقدنوم صرف کیخودې شو.

د سرو او سپینوزرو خپل جنس سره برابر د بیع حکم

فَإِنْ بَاعَ فِضَّةً بِفِضَّةٍ أَوْذَهَبًا بِذَهَبٍ که یوکس سپین زر د سپینو زرو په عوض یا سره زر د سرو زرو په عوض خرخ کړل. لَا یَجُوْزُ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ نو جائز نه دی.مګر برابر برابر وَإِنْ اخْتَلَفَا فِي الْجَوْدَةِ وَالصِّیَاغَةِ اګرچه په کره والي او سوانچه کولو کښې مختلف وی.

حل اللغة﴾ فضة: سپین زر، **الذهب:** سره زر، **الجودة:** کره والي، **الصیاغة:** قالب\سوانچه

تشریح﴾ صورة المسئلة﴾ مسئله داده.که یوکس سپین زر د سپینو زرو په عوض یا سره زر د سرو زرو په عوض خرخ کړی.نودا عقدبه هغه وخت جائز وی.چه د وزن په اعتبار سره دواړه عوض برابر وی.ځکه چه په کره والي یا سوانچه کولوکښې د دواړو عوضونو په مینځ کښې فرق وی.په دې طریقه چه په دې دواړو کښې یو عوض اعلی او سوانچه شوې وی.او دویم ددې په مقابله کښې دومره اعلی او سوانچه شوی نه وی.حاصل داکه دواړه عوضونه په کره والی یا سوانچه کولو کښې مختلف وی.بیا هم د عقد دجواز دپاره په دواړه عوضونوکښې برابری ضروری ده.

دلائله﴾ ① هادی عالم ﷺ شپږ څیزونه سره زر سپین زر مالګه چهواري غنم اوربشې) ذکرکولو نه پس فرمانیلی دی. (مثلاً بمثل وزناً بوزن وکیلاً بکیل یداً بید والفضل ربوا) (۱) یعنی دوه خبرې ضروری دی.یوه داچه په موزوناتو کښې د وزن په ذریعه اوپه مکیلاتو کښې د کیل په ذریعه برابری وی.دویمه داچه په مجلس عقدکښې عوضینو باندې قبضه اوکړې شی.اوکه په وزن یا کیل سره برابری اونکړې شوه.یا په

---

۱) تقدم تخریجه فی البیوع)۔

مجلس کښې قبضه اونکړې شوه.نودا به رباء او حرام وي.ددې حديث نه ثابته شوه.چه د اموال ربويه په بيع کښې د عوضينو په مينځ کښې مساوات او برابري شرط ده.② دويم حديث دادې.وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ جَيِّدُهَا وَرَدِيئُهَا سَوَاءٌ(٢)او نبي کريم ﷺ فرمائيلي دي چه ددې مالونو کره اوکهوټه برابر دي يعنی په اموال ربويه کښې کره اوکهوټه دواړه برابر دي.يعنې که يوعوض کره او بل کهوټه وي.نو بياهم مساوات ضروري دې.او کموالې زياتوالې حرام دې.ددې حديث نه معلوميږي.چه شريعت اسلام دکره او کهوټه د فرق اعتبار نه دې کړې.بلکه دواړو ته ئې مساوي درجه ورکړې ده.

په بيع صرف کښې عوضينو باندې د قبضه شرطيت

وَلَابُدَّ مِنْ قَبْضِ الْعِوَضَيْنِ قَبْلَ الْاِفْتِرَاقِ اود جداکيدلو نه وړاندې په دواړه عوضونو باندې قبضه کول ضروري ده

تشريح> **وجوب القبض قبل الافتراق**> د ټولو عالمانو اتفاق دې.چه په عقدصرف کښې دواړو عوضونوباندې دبدل په اعتبار سره د جداکيدلو نه وړاندې وړاندې قبضه کول ضروري دي.

دلائله> ① دليل منقول يعنی(يداً بيد...حديث) وړاندې تيرشوي دې.د(يداً بيد) معنی لاس پلاس.يا يوخائې ياد نغد په نغد ده.هم دې ته تقابض ونيلې شي.يعنی يو تربله قبضه کول.بهرحال لفظ(يداً بيد) په دې باندې دلالت کوي.که د سرو زرو بيع د سرو زرو په عوض يا د سپينو زرو بيع د سپينو زرو په عوض وي.يعنی عقدصرف وي.نو په عوضين باندې د جدا کيدلو نه وړاندې قبضه کول شرط دي.او② د بخاري شريف حديث دې.(لاتبيعوا منها غائباً بناجز) يعنی په اموال ربويه کښې غائب د ناجز په عوض مه خرڅوئ.يعنی د اموال ربويه بيع داسې مه کوئ.چه يو عوض په مجلس کښې موجود وي.او يوعوض موجود نه وي.ځکه چه په دې صورت کښې په مجلس کښې دننه په يو عوض خو قبضه اوشي.خو دويم عوض (کوم چه موجود نه دې) باندې قبضه نه کيږي.حالانکه په دواړه عوضونو باندې په مجلس کښې دننه قبضه کول شرط دي.ددې حديث نه هم د جدا کيدلو نه وړاندې وړاندې په دواړه عوضونو باندې د قبضه شرطيت ثابتيږي.③ دحضرت عمر ؓ قول هم ددې شهادت کوي.په موطا امام مالك ؒ کښې دا قول په دې الفاظو سره نقل دې.(قال لاتبيعوا الذهب بالذهب إلا مثلاً بمثل ولا تبيعوا الورق بالذهب أحدهما غائب والآخر ناجز وإن استنظرك أن يلج بيته فلا تنظره إلا يداً بيد هات وهات إني أخشى عليكم الربوا) (١)حضرت عمر ؓ فرمائي.چه سره زر د سرو زرو په عوض مه خرڅوئ.مګر برابر برابر.او سپين زر د سرو زرو په عوض په داسې حال کښې مه خرڅوئ.چه يو عوض موجود نه وي.او دويم موجود وي.اوکه ستانه (ستا ملګرې) ددې خبرې مهلت اوغواړي.چه دې خپل کور ته داخل شي.(اوغيرموجود عوض راوړي) نوده ته ددې مهلت مه ورکوه.البته که معامله د نغدو اود راکړه او واخله په طريقه وي.(نو هيڅ باك نشته)(او ددې مهلت نه ورکولو وجه داده چه) زه په تاسو په رباء کولو يريږم.يعنی ماته دا يره ده.چه د کوره پورې د تلو راتلو په تاخير سره چه د قبضې په ورکولو کښې کوم تاخير اوشي.هغه رباء او سود نشي.ځکه زما رائې داده.چه ده ته دومره مهلت هم مه ورکوه.ددې نه هم دا ښکاره کيږي.چه د جداکيدلو نه وړاندې په عوضينو باندې قبضه کول ضروري ده.④ عقلی دليل دادې.چه دعقدصرف په

٢) تقدم تخريجه في البيوع۔
١) اخرجه مالك في الموطا في البيوع رقم ٣٤۔

صورت کښې په یوعوض باندې قبضه کول ځکه ضروري دي.چه د قرض په عوض د قرض بیع لازم نشي.یعنی د قرض بیع د قرض په عوض لازم نشي.حالانکه د قرض بیع د قرض په عوض ممنوع ده.او په دویم عوض باندې قبضه کول ضروري دي.چه د دواړو په مینځ کښې برابري او مساوات متحقق شي.او رباء لازم نشي.ځکه چه په کوم عوض باندې قبضه اوکړې شوه.هغه خو نغد شو.او په کوم چه قبضه نه ده شوې.هغه قرض شو.اود(النقد خیرمن النسیئة) قاعده مشهور ده.چه نغد د قرض نه غوره دي.ګویا نغدو ته په قرضو باندې یوقسم فضیلت حاصل دي.اویو عوض د بل عوض نه غوره کیدل،ددې نوم رباء دې.نو چونکه په یو عوض باندې قبضه کول،او په بل باندې قبضه نه کولو په صورت کښې رباء لازمیږي.په دې وجه د مساوات او برابري پیداکولو دپاره په دویم عوض باندې هم قبضه کول ضروري دي. ⑤ بل عقلي دلیل دادې.چه په بیع صرف کښې دواړه عوضونه چونکه په ثمنیت کښې برابردي.په دې وجه یو عوض ته په بل عوض باندې هیڅ ترجیح حاصل نه ده.او هرکله چه یوعوض په بل عوض باندې افضل او غوره نه دې.نود ترجیح بلامرجح اشکال ختمولو دپاره په دواړه عوضونو باندې قبضه کول هم ضروري دي.

عموم الحکم > علامه مرغیناني ﷫ فرمائیلي دي.چه په بیع صرف کښې دواړو عوضونو باندې دقبضه کولو حکم عام دې.که دواړه عوضونه داسې وي.کوم چه په متعین کولو سره متعین کیږي.لکه سوانچه شوې څیزونه مثلاً زیورات، لوښي وغیره،اوکه دواړه عوضونه داسې وي.چه په متعین کولو سره نه متعین کیږي.لکه مثلاً دراهم او دنانیر.اوکه په دې کښې یو عوض داسې وي.چه په متعین کولوسره متعین کیږي.او یوعوض داسې وي.چه په متعین کولوسره نه متعین کیږي.دلیل دادې.چه الذهب بالذهب.....الخ حدیث مطلق دې.چه مضروب او مصوغ (یعنی سوانچه شوي او سکو) دواړو ته شامل دې.

المراد من الافتراق > علامه مرغیناني ﷫ فرمائیلي دي .چه په متن کښې پـ(قبل الافتراق)کښې د ،،افتراق،، نه مراد افتراق بالابدان دې.یعنی د عاقدینو خپل بدن سره جداکیدل مراد دي.که عاقدین د مجلس عقدنه پاسي.او دواړه په یوطرف باندې روان شي.یا دواړه په مجلس عقد کښې اوده شي.یا په دواړو باندې بې هوشي راشي.نو په دې صورتونو کښې چونکه افتراق بالابدان نه دې موجود شوې.ځکه به په ذکرشوي دې واړه صورتونوکښې عقدصرف باطل نه وي.ددې تائید د حضرت عبدالله بن عمربن الخطاب ﷺ (جان نثار رسول ﷺ،صاحبزادهٔ عمرفاروق ﷺ) د قول نه هم کیږي.د مبسوط په حواله سره علامه ابن الهمام ﷫ پوره واقعه داسې ذکرکړې ده.

ابوجبله ﷫ وائي.چه ما د عبدالله بن عمر ﷺ نه تپوس اوکړو.ما اوونیل.چه مونږ خلق ملك شام ته خو.او مونږ سره چه کوم سپین زر دي.دا په وزن کښې هم درنې دي.او رائج الوقت هم دي.او دوی سره چه کوم سپین زر دي.هغه سپك هم دي.او په بازار کښې هم ددې رواج کم دې.نو آیا مونږ خلق ددوی د سپینو زرو لس حصې د نه نیمو حصو په عوض واخلو؟ ابن عمر ﷺ اوونیل.داسې مه کوئ.البته خپل سپین زر،د سرو زرو په عوض خرخوه.او ددوی سپینو زر د سرو زرو په عوض اخله.او ددوی نه مه جداکیږه.تردې چه (خپل حق) وصول کړې.اوکه دې د چهت نه راښکته شي.نو دده سره ته هم کوزشه.

فوائدالواقعة > ددې واقعې نه یوڅو خبرې معلومې شوې. ①یوه داکه سپینو زر د سپینو زرو په عوض خرخ کړې شي.نو په دې کښې کمې زیاتې جائز نه دې.ځوکه په سپینو زرو او سرو زرو کښې لین دین اوکړې شو.نو کمې زیاتې جائز دې. ② دویمه خبره دامعلومه شوه.چه په عوضینو باندې د قبضې کولو نه بغیر جدا نشي③دریمه خبره دا معلومه شوه.چه د افتراق نه مراد افتراق بالابدان دې.ځکه چه

عبدالله بن عمر ﷺ فرمائي. كه د قبضه نه وړاندې ستا ملګرې د چهت نه زمكي ته راكوزشي.چه افتراق بالابدان اوشي.او عقد صرف باطل شي.نوته هم دده سره راكوزشه.چه افتراق بالابدان اونشي.او عقدصرف باطل نشي.بهرحال دا قول په دې خبره باندې دلالت كوي.چه د افتراق نه مراد افتراق بالابدان دې.

د سرو زرو، سپينو زرو سره تفاضلا د بيع حكم

وَإِذَا بَاعَ الذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ او كله چې سرۀ زر د سپينو زرو په عوض خرڅ كړى جَازَ التَّفَاضُلُ نو كمې زياتې جائز دې وَوَجَبَ التَّقَابُضُ اوپه مجلس كښې يو تربله (لاس پلاس) قبضه واجب ده

حل اللغة ﴿ **الذهب**: سرۀ زر_ **الفضة**: سپين زر

تشريح ﴿ **جواز بيع الذهب بالفضة تفاضلا** ﴾ صورت د مسئلې دادې.كه سره زر د سپينو زرو په عوض خرڅ كړې شو.نو په دې كښې تفاضل (يعني د يو كم كيدل اود بل عوض زيات كيدل) جائز دې.اود جواز وجه اتحاد جنس نه موجوديدل دې. ځكه چه د اتحاد جنس نه موجوديدلو په صورت كښې په كمې زياتې سره خرڅول جائز وي.البته په مجلس د عقدكښې دواړو عوضونو باندې لاس پلاس قبضه واجب ده.

دليله ﴾ ځكه چه د الله پاك رسول ﷺ فرمانيلي دي. «اَلذَّهَبُ بِالْوَرِقِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ» سره زر د سپينو زرو په عوض خرڅول ربا ده.يعني حرام دې.خو په يوځاي وركولوسره يعني لاس پلاس جائز دې. (۱)

وَإِنِ افْتَرَقَا فِي الصَّرْفِ قَبْلَ قَبْضِ الْعِوَضَيْنِ أَوْ أَحَدِهِمَا بيا كه عاقدين په عقدصرف كښې په عوضينو باندې د قبضه كولو نه وړاندې يا په يو عوض باندې د قبضه كولو نه وړاندې جدا شو بَطَلَ الْعَقْدُ نو عقد به باطل وي

تشريح ﴿ **صورة بطلان الصرف** ﴾ اوكه په عقد صرف كښې عوضين يا په احدالعوضين باندې د قبضه كولو نه وړاندې عاقدين جدا شو.نو عقد صرف به باطل وي.

دليله ﴾ ځكه چه د عقدصرف صحيح كيدل باقي ساتلو دپاره چه كوم شرط وو.يعني په عوضينو باندې قبضه كول،نودا شرط چونكه فوت شوې دې.ځكه به عقدصرف باطل وي.او چونكه د قبضه كولو نه بغير دمجلس نه د عاقدينو جدا كيدل عقدصرف باطلوي.په دې وجه عقدصرف كښې نه د خيارشرط لګول صحيح دي.اونه د ميعاد شرط لګول صحيح دي.د خيارصورت دادې.چه احدالعاقدين اونيل.چه مادا دنانير ددې دراهمو په عوض په دې شرط واخستل.چه ماته درې ورځې خيار دې.اود ميعاد صورت دادې.چه مادا دنانير ددې دراهمو په عوض په دې شرط واخستل.چه زه به ذكرشوي دراهم يوه مياشت پس دركوم.په دې دواړو صورتونوكښې دعدم جواز وجه داده چه خيارشرط چونكه د ،،من لاخيار له،، دپاره ملك ثابتول منع كوي.ځكه به په احدالعوضين باندې د ،،من لاخيارله،،ملك ثابت نه وي.او هركله چه دده ملك ثابت نشو.نو دده دپاره به په دې عوض باندې قبضه كول هم واجب نه وي.بهرحال د خيارشرط په صورت كښې قبضه مستحق يعنې واجب شوې نه ده.اود ميعاد شرط لګولوسره واجب شوې قبضه فوت كيږي.نو په خيارشرط سره قبضه نه واجبيږي.اود ميعاد شرط سره واجب شوې قبضه فوت كيږي.حالانكه په عقدصرف كښې د جدا كيدلو نه وړاندې قبضه كول شرط دي.

۱) تقدم تخريجه في الربا)_

په ثمن صرف کښې د قبضه نه وړاندې د تصرف حکم

وَلَا يَجُوزُ التَّصَرُّفُ فِي ثَمَنِ الصَّرْفِ قَبْلَ قَبْضِهِ اود بيع صرف په ثمن کښې د قبضه کولو نه وړاندې تصرف کول جائز نه دی

تشریح> صورة المسئلة> مسئله داده.چه د بيع صرف په دواړو عوضونو کښې په يوعوض کښې هم د قبضه نه وړاندې تصرف کول جائز نه دی.هم دا ابو الحسن قدوری ﷫ فرمائي.چه د بيع صرف په ثمن کښې د قبضې نه وړاندې تصرف کول جائز نه دی.او چونکه ددې په دواړو عوضونو کښې هريو ثمن وی.لهذا په دواړو کښې د قبضې نه وړاندې تصرف کول جائز نه دی.صاحب د هدايه ﷫ په هدايه کښې په دې باندې ئې يوه مسئله تفريع کړې ده.فرمائي که يوکس يو دينار د لس درهمه په عوض خرڅ کړلو.او په لس درهمه باندې ئې دقبضه کولو نه بغير ددې په عوض يو تهان د کپړې واخستلو.نود کپړې د تهان بيع فاسد ده.

دليل> خکه چه د يو دينار بيع د لس درهمه په عوض بيع صرف ده.او په بيع صرف کښې د الله تعالی د حق په وجه قبضه کول واجب دی.هم دا وجه ده.چه د عاقدينو په ساقطولو سره قبضه نه ساقطيږی. يعنی که دواړه عاقدين د بيع صرف په عوضونو باندې د قبضې په ساقطولو باندې اتفاق اوکړی.نو ددوی داتفاق په وجه قبضه نه ساقطيږی.بلکه پخپل حال به واجب پاتې وی.خکه چه د قبضې وجوب ددوی حق نه دی.بلکه د الله تعالی حق دی.اود الله تعالی حق خکه دی.چه د قبضه نه کولو په صورت کښې ربا لازميږی.او رباء حرام ده.او حرام کيدل د الله تعالی حق دی.د بندګانو حق نه دی.بهرحال ثابته شوه.چه په عقدصرف کښې د قبضه وجوب د الله تعالی حق دی.او په لس درهمو باندې د قبضې نه وړاندې ددې په عوض د کپړې تهان اخستلو کښې د الله تعالی ددې حق فوت کيدل لازميږی.اود الله تعالی حق فوت کول قطعاً ناجائز دی.په دې وجه د قبضه کولو نه بغير د لس درهمو په عوض د کپړې تهان اخستل ناجائز دی.

مذهب زفر ﷫> د قياس تقاضا داده.چه دقبضې نه وړاندې د ذکرشوی لس درهمو په عوض کپړه اخستل جائز وی.لکه خنګه چه دا د امام زفر ﷫ نه هم نقل دی.

دليل> خکه چه دراهم د متعين کولو باوجود نه متعين کيږی.نود کپړې بيع به مطلق دراهمو طرف ته واپس کيږی.که يوکس کپړه واخستله.اودا ئې د بيع صرف بدل طرف ته منسوب نکړله.بلکه مطلق دراهمو طرف ته ئې منسوب کړله.نودا جائز دی.نوهم دغه شان که د بيع صرف بدل طرف ته ئې منسوب کړې وی.نو بياهم جائز کيدل پکاروو.

الجواب> ددې جواب دادې.چه عقدصرف عقدبيع دی.خکه چه په عقدصرف کښې مبادله د مال بالمال کيږی.اوچونکه د مبادله،،مال بالمال،، نوم بيع ده.خکه به عقدصرف هم عقدبيع وی.او بيع په مبيع او ثمن دواړو باندې مشتمل وی.حالانکه دلته کښې دواړه عوضونه ثمن دی.خکه چه دينار هم د ثمن د قبيلې خنې دې.او دراهم هم د ثمن د قبيلې خنې دی.اوهيڅ يو عوض ته په مبيع جوړولو باندې څه مرجح موجود نه دې.خکه به په دواړو کښې هريو عوض من وجه مبيع وی.او،، من وجه،، به ثمن وی.لکه خنګه چه په بيع مقايضه کښې دی.يعنی په بيع العرض بالعرض کښې هريو من وجه مبيع او من وجه ثمن وی.او په مبيع باندې د قبضه کولو نه وړاندې په دې کښې تصرف کول جائز نه دی.په دې وجه د عقدصرف عوض يعنی په لس درهمو کښې د قبضه نه وړاندې تصرف کول جائز نه دی.

الاشكال > كه څوك اعتراض اوكړي.چه دعقد صرف عوض كه من وجه مبيع دي.نو من وجه ثمن هم دي. او د قبضه نه وړاندې په ثمن كښې تصرف كول جائز دي.نود عقدصرف عوض يعنې په لس درهمو كښې هم د قبضه نه وړاندې تصرف كول جائز كيدل پكار وو؟

الجواب عنه > ددې جواب دادې.چه د ثمن كيدلو تقاضا داده.چه د قبضه نه وړاندې د بيع صرف په عوض كښې تصرف كول جائز وي.اود مبيع كيدلو تقاضا داده.چه د قبضه نه وړاندې تصرف جائز نه وي.نو هركله ه په جواز اوعدم جواز كښې شك پيدا شو.نود شك په وجه به تصرف كول جائز نه وي.

د سرو او سپينو زرو څپل مينځ كښې په اندازه سره د بيع حكم

وَيَجُوزُبَيْعُ الذَّهَبِ بِالْفِضَّةِ مُجَازَفَةً او سره زر د سپينو زرو په عوض اندازې سره خرڅول جائز دي

تشريح > **جواز بيع الذهب بالفضة مجازفة** > د سرو زرو بيع د سپينو زرو په عوض اود سپينو زرو بيع د سرو زرو په عوض اندازې سره جائز ده.كه په وزن كښې دواړه عوض برابر وي.او كه كم وي.يا يو كم او بل زيات وي.ځكه چه د اختلاف جنس په صورت كښې برابري شرط نه ده.لكه ځنګه چه د عباده بن صامت رضي الله عنه حديث (اذااختلف هذه الأصناف فبيعوا كيف شئتم اذاكان يدأبيد) شاهد دي.نو هركله چه د اختلاف جنس په صورت كښې د دواړو عوضونو برابركيدل شرط نه دي.نو په اندازه او اټكل سره خرڅول به هم حرام نه وي.البته د ، ، افتراق بالابدان ، ، نه وړاندې قبضه كول شرط دي.

دلائله > ددې نقلي او عقلي دليلونه وړاندې تيرشوي دي.د نقلي دليل نه مراد (الذهب بالورق رباءإلاهاء وهاء) حديث دي.يعنې سره زر د سپينو زرو په عوض خرڅول رباء ده.خو لاس پلاس سره جائز ده.يعنې كه يو تربله قبضه اوشي.نو جائز ده.

عدم جواز بيع الذهب بالذهب مجازفة > په خلاف د دې مسئلې كه سره زر ددې د جنس يعنې د سرو زرو په عوض يا سپين زر د سپينو زرو په عوض په اندازه او اټكل خرڅ كړل.نو جائز نه دي.

دليله > ځكه چه په دې كښې د رباء احتمال دي.يعنې كيدې شي.چه يوعوض كم او بل عوض زيات وي.او وړاندې باربار تيرشوي دي.چه احتمال رباء هم د حقيقت رباء پشان حرام دي. په دې وجه د سرو زرو يا سپينو زرو بيع پخپل جنس سره اندازې سره حرام او ناجائز دي.

يوه توره په سپينو زرو ښائسته شوې په نصف نقد قيمت باندې د خرڅولو حكم

ومن بَاعَ سَيْفًا مُحَلًّى بِمِائَةِ دِرْهَمٍ او چا چې خرڅه كړه په سپينو زرو ښائسته شوې يوه توره د سل درهمو په عوض خرڅه كړله. وَحِلْيَتُهُ خَمْسُونَ درهما او ددې حليه (زيور) پنځوس درهمه دي فَدَفَعَ مِنْ ثَمَنِهِ خَمْسِينَ درهما اوده په ثمن كښې پنځوس درهمه اداكړل جَازَ الْبَيْعُ نو بيع جائز شوه وَكَانَ الْمَقْبُوضُ مِن حِصَّةِ الْفِضَّةِ نو په كوم چه قبضه شوې ده.هغه د سپينو زرو(د زيور) حصه ده وَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ ذَلِكَ اګر كه بيان كړې نې نه وي

حل اللغة > **سيف**: توره، **خمسون**: پنځوس، **اللؤلؤ**: ملغلرې، **المرجان**: دغمويوقسم

تشريح > **صورة المسئلة** > صورت د مسئلې دادې. چه يوسړي په سپينو زرو ښائسته شوې يوه توره د سل درهمو په عوض خرڅه كړله.په داسې حال كښې چه ددې زيور پنځوس درهمه دي.بيا مشتري په ثمن كښې پنځوس درهم اداكړل.اودا تصريح نې اونكړله.چه دا پنځوس درهمه د زيوراتو عوض دې.ياد تورې عوض دي.ياد دواړو عوض دي.نودا بيع به جائز وي.او هغه پنځوس درهم په كوم چه بائع قبضه كړې ده.د زيوراتو ثمن به شمارلې شي.

دليله خکه چه د زیور په ثمن باندې قبضه کول واجب دی.په دې وجه د ښکاره حال تقاضا هم دا ده.چه اول به ئې هم دا اداکړې وی.

وَكَذٰلِكَ إِنْ قَالَ او هم دغه شان که ده اوونیل **خُذْ هٰذِهِ الْخَمْسِيْنَ مِنْ ثَمَنِهِمَا** چه دا پنځوس درهمه ددې دواړو په ثمن کښې واخله.

تشريح **الصورة الثانية** اوکه مشتری په صراحت سره دا اوونیل.چه دا پنځوس درهمه د تورې اود زیور دواړو ثمن دې.نوپه دې صورت کښې به هم دا د زیور ثمن شمارلې کیږی.ګویا
مشتری دا اوونیل.چه ددې دواړو په ثمن کښې چه څومره قدرې قبضه کول واجب دی.هغه واخله.

دليله خکه چه دمسلمانانو کارونه حتی الامکان په جواز او صلاح باندې محمول کولې شی.او دلته کښې به جواز باندې محمول ممکن هم دی.په دې طریقه چه په(من ثمنهما)کښې د تثنیه ضمیر نه واحد مراد واخستلې شی.اودا اوونیلې شی.چه مشتری اګرچه (من ثمنهما) وئیلی دی.خو مراد(من ثمن الحلية) دې.او تثنیه ذکرکول او واحد مراد اخستل جائز هم دی. لکه چه د الله تعالی قول(**يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ**) کښې د ،،منهما،، ضمیر مرجع خوږ او تریو(مالګین) سمندر دې. خو موتیان (ملغلرې) او مرجان صرف د تریو (مالګین) او منثور سمندر نه راوځی.ددې نه معلومه شوه.چه په ،،منهما،، کښې د تثنیه نه مراد واحد دې.داسې نور ډیر مثالونه دی. نو هرکله چه تثنیه ونیل او واحد مراد اخستل عام او شائع دی.نود مشتری د مسلمان کیدلو د حالت رعایت به کولې شی.او دده قول (من ثمنهما) به په (من ثمن الحلية) باندې محمول کولې شی.خکه چه د مسلمان ښکاره حال دادې.چه دې د جائز کار ارتکاب کوی.د ناجائز کار ارتکاب نه کوی.اود بیع جواز په دې صورت کښې کیدلې شی.چه ذکرشوی پنځوس درهمه د زیور ثمن اوګرځولې شی.په دې وجه د(خذ هذه الخمسين من ثمنهما) ونیلو په صورت کښې به هم دا پنځوس درهمه د زیور ثمن شمارلې شی.اود زیور او تورې دواړو به نشی شمارلې.

فَإِنْ لَمْ يَتَقَابَضَا اوکه یوځائې قبضه اونکړې شوه **حَتّٰى بَطَلَ الْعَقْدُ فِي الْحِلْيَةِ** تردې چه زیورکښې به عقد باطل وی

تشريح **بطلان العقد في الحلية عند عدم القبض** ابو الحسن قدوری ﷺ فرمائی.چه په ذکرشوی دواړو صورتونوکښې یعنی د وینځې اود امیل په صورت کښې اود تورې او زیور په صورت کښې که په مجلس کښې لاس پلاس قبضه اونشوه.اوعاقدین دواړه جدا شو.نود امیل او زیور په حصه کښې به عقد باطل وی.

دليله خکه چه د امیل او زیور په حصوکښې د دواړو عوضونو ثمن یعنی د سپینو زرو کیدلو په وجه دا عقدصرف دې.اود قبضه کولو نه بغیر جداکیدلو سره چونکه عقدصرف باطلیږی.په دې وجه به په حصه د امیل اوپه حصه د زیورکښې دا عقد باطل وی.او په وینځه کښې به ټیک وی.

وَإِنْ كَانَ يَتَخَلَّصُ بِغَيْرِ ضَرَرٍ اوکه زیور د تورې نه د ضرر نه بغیر جدا شی **جَازَ الْبَيْعُ فِي السَّيْفِ** نو په توره کښې به بیع جائز وی **وَبَطَلَ فِي الْحِلْيَةِ** اود زیور بیع به باطل وی

حل اللغة **السيف**: توره. **يتخلص**: جدا کیږی، **دون**: بغیر، **الحلية**: کالی

تشريح **صورتين في بيع السيف** ① پاتې شوه د تورې معامله.نو زیور که د تورې سره په داسې طریقه باندې پیوست او لګیدلې وی.چه زیور د تورې نه جداکول د ضررنه بغیر ممکن نه وی.نود تورې بیع به

هم باطل وی.ځکه چه په دې صورت کښې د ضرر نه بغیر د تورې سپارل ممکن پاتې نشو.او په کوم صورت کښې چه د ضررنه بغیر مبیع سپارل ممکن نه وی.په هغه صورت کښې بیع باطلیږی.ځکه به په ذکرشوی صورت کښې دتورې بیع هم باطل وی.هم دا وجه ده.چه هرکله د زیور تورې نه جدا کول د ضررنه بغیر ممکن نه وی.نود خانله تورې بیع به جائز نه وی.لکه مثلاً په چهت کښې د لګیدلی تیر(ګاډر) سپارل چونکه د ضررنه بغیر ممکن نه دی.په دې وجه په چهت کښې د لګیدلی تیر خرڅول ناجائز دی.

② اوکه د زیور تورې نه جدا کول د ضررنه بغیر ممکن وی.نود تورې بیع به جائز وی.اود زیور بیع به باطل وی.ځکه چه په دې صورت کښې توره یعنی مبیع د ضررنه بغیر سپارل ممکن دی.او په کوم صورت کښې چه مبیع د.ضرر نه بغیر سپارل ممکن وی.په هغه صورت کښې بیع جائز وی.ځکه به په دې صورت کښې د تورې بیع جائز او درست وی.هم دا وجه ده.چه په دې صورت کښې د خانله تورې خرڅول جائز دی.اودا د وینځې او امیل د یوځائې خرڅولو پشان شو.یعنی که وینځه او امیل یوځائې د دوه زره مثقاله په عوض خرڅ کړی.اود قبضه کولو نه بغیر عاقدین جدا شو.نود امیل بیع به د عقدصرف کیدلو په وجه باطل وی.خود وینځې بیع به ټیك وی.ځکه چه د وینځې سپارل ممکن دی.

د سپینو زرو لوخې خرڅولو نه پس د څه ثمن باقی پاتې کیدلوکښې د بیع حکم

وَمَنْ بَاعَ إِنَاءَ فِضَّةٍ اوکه یو کس د سپینو زرو یو لوخې خرڅ کړو ثُمَّ افْتَرَقَا بیا دواړه جدا شو وَقَدْ قَبَضَ بَعْضَ ثَمَنِهِ حالانکه بائع په بعض ثمن باندې قبضه کړې ده بَطَلَ الْعَقْدُ فِيمَا لَمْ يُقْبَضْ نو په هغه حصه کښې په کوم چه بائع قبضه نه ده کړې.عقد به باطل وی وَصَحَّ فِيمَا قُبِضَ او په کوم ئې چه قبضه کړې ده.په هغې کښې به بیع صحیح وی وَكَانَ الْإِنَاءُ مُشْتَرَكًا بَيْنَهُمَا او لوخې به د بائع او مشتری په مینځ کښې مشترك وی

حل اللغة ﴿ الإناء: لوښې

تشریح﴿ صورة المسئلة﴾ مسئله داده.چه یوکس د سپینو زرو یو لوخې خرڅ کړو.بیا عاقدین جدا شو.حالانکه د جداکیدلو نه وړاندې مشتری د ثمن یوه حصه ادا کړې ده.نو څومره قدرې ثمن ئې چه ادا کړې دې.هم ددې په اندازه به بیع صحیح وی.او څومره قدرې ئې چه نه دې ادا کړې.ددې په اندازه به باطل وی.اودا لوخې به د بائع اومشتری په مینځ کښې مشترك وی.مثلاً د سل درهمو وزن لوخې ئې د سل درهمو په عوض واخستلو.بیا مشتری صرف پنځوس درهمه اداکړل.او پنځوس ئې ادا نکړل.ددې نه پس دواړه جدا شو.نود پنځوس درهمو په اندازه د لوخی بیع صحیح ده.اود پنځوسو په اندازه باطل ده.اوچونکه مشتری نصف ثمن یعنی پنځوس درهمه اداکری دی.په دې وجه به د لوخی د نصف مالك مشتری اود نصف مالك به بائع وی.

دلیله﴾ دلیل دادې.چه داعقد پوره په پوره عقدصرف دې.اود عقدصرف د بقائې جواز شرط تقابض دې.یعنی د جدا کیدلو نه وړاندې دواړو عوضونو باندې قبضه کول شرط دی.نویه څومره حصه کښې چه دا شرط موندلې شوې دې.په دومره کښې به دا عقد صحیح وی.او په څومره کښې چه دا شرط نه دې موندې شوې.په دومره کښې به دا عقد باطل وی.

وَإِذَا اسْتُحِقَّ بَعْضُ الْإِنَاءِ او کله چې د لوخی یوه حصه مستحق شوه كَانَ الْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ نو مشتری ته اختیار دې إِنْ شَاءَ أَخَذَ الْبَاقِيَ بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ که غواړی.باقی دې ددې د حصې د ثمن په عوض واخلی وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ او که غواړی.واپس دې کړی

تشریح> استحقاق بعض الاناء> صاحب د قدروي رحمه الله فرماني.چه په ذکرشوي مسئله کښې که د لوخي یوه حصه مستحق شوه.یعني د بائع او مشتري نه علاوه یو دریم کس په نیم لوخي کښې د خپل استحقاق دعوه اوکړي.اودا ثابته کړي.نو مشتري ته به اختیار وي.چه دې غیرمستحق لوخې ددې حصې د ثمن په عوض واخلي.یا نې ردکړي.

دلیله> خکه چه په لوخي کښې شرکت پیداکیدل عیب دې.او عیب هم داسې چه په دې کښې د مشتري فعل ته هیڅ دخل نشته.اود عیب په صورت کښې چونکه مشتري ته اختیار وي.خکه به په دې صورت کښې هم مشتري ته اختیار وي.

د سپینو زرو یوه ټکړه خرڅولو نه پس د بعض مستحق کیدلو مسئله

وَمَنْ بَاعَ قِطْعَةَ نُقْرَةٍاوکه یو کس د سپینو زرو یوه ټکړه خرڅه کړله فَاسْتُحِقَّ بَعْضُهَابیا ددې یوه حصه مستحق شوه أَخَذَ مَا بَقِيَ بِحِصَّتِهِ نو مابقي به ددې د حصې د ثمن په عوض اخلي وَلَاخِيَارَلَهُاو ده ته به اختیار هم نه وي

حل اللغة> قطعة : ټکړه ، **نقرة** : سپین زر

تشریح> بعض قطعة نقرة ثم استحقاقها> مسئله:که یوکس د سپینو زرو ټکړه خرڅه کړله.بیا دعاقدین نه علاوه دریم کس ددې په یوه حصه کښې خپل استحقاق ثابت کړو.نو په څومره اندازه ټکړه چه غیرمستحق پاتې شوه. مشتري به دا ددې د حصې د ثمن په عوض اخلي.او مشتري ته به د اخستلو اود نه اخستلو اختیار هم نه وي.

دلیله> خکه چه ددې ټکړې ټکړې کول مضر نه دی.او هرکله چه ټکړې کول مضر نه دی.نو په دې کښې به شرکت عیب نه شمارلې کیږي.او هرکله چه شرکت عیب نه دې.نو مشتري ته به اختیار هم حاصل نه وي.

د دوه درهمو او یو دینار،د یو درهم او دوه دینارو سره د بیع حکم

وَمَنْ بَاعَ دِرْهَمَيْنِ وَدِينَارًا بِدِينَارَيْنِ وَدِرْهَمٍاوکه یوکس دوه درهمه او یو دینار،د دوو دینارو او یو درهم په عوض خرڅ کړل جَازَ الْبَيْعُ نودا بیع جائز ده وَجُعِلَ كُلُّ واحد من الجنسين بدلا عن الاخر او په دې کښې به په دوو جنسونو کښې هریو جنس د بل په عوض کښې ګرځولې شي

تشریح> صورة المسئلة> صورت د مسئلې دادې.چه یوکس دوه درهمه او یو دینار،د یو درهم او دوه دینارو په عوض خرڅ کړلو.نو زمونږ په نیز دا بیع جائز ده.او په دواړو کښې به هریو جنس ددې د خلاف عوض ګرځولې شي.یعني دوه درهم به د دوه دینارو په مقابله کښې شمارلې کیږي.او یو درهم به د یو دینار په عوض کښې شمارلې شي.خکه که خلاف جنس طرف ته اونه ګرځولې شي.بلکه هر یو ددې د جنس مقابل اوګنړلې شي.یعني دوه درهمه د یو درهم په مقابله کښې، او یو دینار د دوه دینارو په مقابله کښې نو رباء به لازم شي.او رباء حرام او ناجائز ده.په دې وجه به دا عقد هم ناجائز وي.نود عاقدینو عقد صحیح کولو دپاره هریو جنس ددې خلاف جنس طرف ته ګرځولې شي.

دلیله> دلیل دادې.چه د دوه درهمو اود یو دینار مقابله،د یو درهم او دوه دینارو سره مطلق ده.په دې کښې هم احتمال دی.چه د مجموعي مقابله د مجموعي سره وي.اودا هم احتمال دې.چه د فرد مقابله د فرد سره وي.په مقابله د ،،فرد بالفرد،، کښې هم دوه احتماله دی.یودا چه مقابله د ،،فرد بالفرد،،من جنسه وي.یعني دوه درهم د یو درهم په مقابله کښې وي.او یو دینار د دوه دینارو په مقابله کښې وي.دویم داچه مقابله د ،،فرد بالفرد،،من غیرجنسه وي.یعني دوه درهمه د دوه دینارو په مقابله کښې

وي.او يو دينار د يو درهم په مقابله کښې وي.حاصل داچه ځنګه مقابله مطلقه د ، ،مقابله کل بالکل ، ، احتمال لري.دغه شان د ، ،مقابله فرد بالفرد ، ، احتمال هم لري.لکه ځنګه چه د مقابله جنس بالجنس کښې د مقابله فرد بالفرد احتمال دې.په دې طريقه چه دوه ديناره د دوه دينارو په عوض خرڅ کړې شو.نو بالاتفاق يو دينار د يو دينار په مقابله کښې کيدلې شي.دغه شان دلته کښې په مقابله مطلقه کښې هم د مقابله فرد بالفرد احتمال موجود دې.نو په احتمالاتِ ثلاثه کښې دوه احتماله يعنى مقابله کل بالکل او مقابله فرد بالفرد من جنسه په صورت کښې د عاقدينو تصرف باطليږي.او په مقابله فرد بالفرد من غيرجنسه په صورت کښې تصرف ټيك پاتې کيږي.نو ګويا په مقابله د فرد بالفردمن غيرجنسه کښې ده د تصرف صحيح جوړولو يوه متعين طريقه ده.اودا خبره چونکه مسلم ده.چه د عاقل بالغ سړى تصرف د صحيح کولو حتى الامکان کوشش پکار دې.په دې وجه د عاقد تصرف صحيح کولو دپاره ده عقد په دې احتمال يعنى مقابله د ، ،فرد بالفرد من غير جنسه ، ، باندې محمول کولې شي. (۱)

مثاله > د دې مثال داسې دې.لکه يو غلام د دوه کسانو په مينځ کښې مشترك وي.په دوى کښې يوکس نصف غلام خرڅ کړې وي.نودا نصف مطلق دې.دا احتمال هم شته.چه ده خپله نصف حصه مراد اخستې وي.اودا احتمال هم شته.چه د دويم ملګرى نصف حصه ئې مراد اخستې وي.او په دې طريقه بيع ناجائز وي.خود بائع دعقد تصرف صحيح کولو دپاره هم ده حصې طرف ته عقد ګرځولې شي.او په دې کښې زيات نه زيات وصف متغير کيږي.په دې طريقه چه مطلق نصف غلام مراد اخستلو په صورت کښې شيوع وو.اود بائع حصه مراد اخستلو په صورت کښې تعين دې.نولکه ځنګه چه د عقدصحيح کولو دپاره په دې مسئله کښې د وصف د تغير باوجود عقد د بائع حصې طرف ته ګرځولې شي.دغه شان د متن په مسئله کښې هم د وصف د تغير باوجود ،عقد صحيح کولو دپاره هر يو عوض خلافِ جنس طرف ته ګرځولې شي.

د يوولسو درهمو،لس درهمه او يو دينار سره د بيع حکم

وَمَنْ بَاعَ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَدِينَارٍ او که يوکس يوولس درهمه، د لس درهمو او يودينار په عوض خرڅ کړل جَازَ الْبَيْعُ نو بيع جائز ده وَكَانَتِ الْعَشَرَةُ بِمِثْلِهَا او لس درهم به د لس درهمو په عوض وي. وَالدِّينَارُ بِدِرْهَمٍ او يو دينار به د يو درهم په عوض کښې شي

تشريح > **صُورة المسئلة** > مسئله داده.که يوکس يوولس درهمه، د لس درهمو او يودينار په عوض خرڅ کړل.نودا بيع به جائز وي.اودا به ونيلې شي.چه په يوولس درهموکښې لس درهمه د لس درهمو په مقابله کښې دي.او باقى پاتې شو يو درهم،نودا د يو دينار په مقابله کښې دې.

دليله > دليل دادې.چه په حديث مشهور(الفضة بالفضة....الخ) سره ثابت دى.چه په دراهمو کښې د بيع جائزکيدلو شرط د دواړو عوضونو برابر ا و مساوى کيدل دى.او عاقدين چونکه مسلمانان دى.په دې وجه ددوى ښکاره حال ددې خبرې تقاضا کوي.چه دوى به دجائز عقد ارتکاب کړې وي.د عقد فاسد اقدام به ئې نه وى کړې.اود عقد جائز صورت هم هغه دې.کوم چه ابو الحسن قدورى رح ذکرکړې

---

(۱) **مذهب زفر والشافعي** > او امام زفر او امام شافعي رحمهما الله فرمائيلى دي.چه دا عقدجائز نه دې.هم دا اختلاف هغه وخت دې.چه کله يوکړ اوربشې او يوکړ غنم،د دوه کړه غنمو او د يوکړ اوربشو په عوض خرڅ کړې شي.نو زمونږ په نيز جائز دى.او يوکړ اوربشې د دوه کړه غنمو.او يو کړ غنم د دوه کړه اوربشو عوض ګرځولې شي. خود امام زفراو امام شافعي رحمهما الله په نيز ناجائز دى.

دي.چه لس درهمه به دلسو درهموپه عوض كېږي شي.او باقي يو درهم به د يو دينار په عوض كېږي شي.او درهم او دينار چونكه دوه مختلف جنسه دي.په دې وجه به په دې كښې مساوات او برابرى هم معتبر نه وي.ځكه چه د برابرئ كېدل د اتحاد جنس په وخت شرط وي.د اختلافِ جنس په وخت شرط نه وي.

صحيح درهم او دوه درهمه ماتې پيسې .د دوه صحيح درهمو اود درهم ماتو پيسو سره د بيع حكم

وَيَجُوزُبَيْعُ بِدِرْهَمَيْنِ صَحِيحَيْنِ او په دوه ثابت دراهمو بيع جائز ده **وَدِرْهَمٍ غَلَّةٍ بِدِرْهَمٍ صَحِيحٍ** او د يو مات درهم بيع د صحيح درهم په عوض جائز ده

حل اللغة> **صحيح**: روغ، **الغلة**: ماتې

تشريح> **صورة المسئلة**> درهم صحيح يو پوره ثابت درهم ته وائي.يعني د چينج نه بغير درهم،درهم صحيح دادې.لكه زمونږ په زمانه كښې د يوې روپۍ نوټ يا د يوې روپۍ سكه، د صحيح درهم په مرتبه كښې دي.او درهم ، ،غله، ،(د غين فتحه اود لام په شد سره) د يو درهم هغه اجزاء او ټكړو ته وائي.كوم چه په وزن او ماليت كښې د يو درهم برابر وي.لكه زمونږ په زمانه كښې د يو روپۍ چينج، اتانيز(پنځوس پيسې) څلورانيز (پنځويشت پيسې) او لس او پنځه پيسې سكې دي.مثلاً دوه اتانيزونه د يوې روپۍ ماليت برابر وي.او څلور څلور انيزونه هم د يوې روپۍ ماليت برابر وي.اود لس پيسو سكې يا د پنځو پيسو شل سكې هم د يوې روپۍ د ماليت برابر دي.هم دې چينج ته په بعض علاقوكښې ماتې پيسې او ميده پيسې وئيلې شي.او زمونږ په علاقو كښې ورته چينج يا ماتې پيسې وئيلې شي بهرحال درهم غله كهوټه درهم ته نه وائي.بلكه د يو درهم چينج او په وزن كښې د يو درهم ټكړو اواجزاؤ ته وائي.

تعريف الغلة> علامه مرغيناني ﷫ فرمائيلي دي.چه درهم غله هغه دي.كوم چه سوداګر قبلوي.خو بيت المال ئې نه قبلوي.خود بيت المال نه قبلول ددې د كهوټه كېدلو په وجه نه دي.بلكه د چينج او ميده كېدلو په وجه دي.ځكه چه د چينج او ميده پيسو حفاظت او ددې په شمارلوكښې ډېر تكليف او پريشاني راپېښيږي.زمونږ په ملك كښې هم كه په بينك كښې چينج جمع كړې شي.نود بينك والا دا نه قبلوي.بلكه په لويو او معيار(خاص) بينكونوكښې خو واړه نوټونه هم نه قبلوي.نود بينكونو چينج او ماتې پيسې نه قبلول ددې د كهوټه كېدلو په وجه نه دي.بلكه ددې په شمارلوكښې د تكليف او پريشانئ په وجه دي.

دليله> ددې د جواز وجه دا ده يعني كه يوكس يوصحيح درهم او دوه درهم ماتې پيسې، د دوه صحيح درهم او يو درهم ماتو پيسو په عوض خرڅ كړل.نودا بيع جائز ده.ځكه چه د وزن په اعتبار سره دواړه عوضونه برابر دي.اود درهم بيع ددرهم په عوض د جواز شرط هم دادې.او پاتې شو د درهم صحيح چينج نه كېدل،نودا ددې يو وصف دې.او ښه وصف دې.او ورانډې تيرشوى دي.چه په جنس سره د مقابله په وخت د ښه والي وصف وغيره اعتبار نه كيږي.لكه چه د مديني آقا ﷺ ارشاد دې.(جيّدها ورديها سواء)

د سرو او سپينو زرو د غلبې مسئله

وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الدَّرَاهِمِ الْفِضَّةَ اوكه وي په دراهمو باندې سپين زر غالب وي **فَهِيَ فِى حُكْمِ الْفِضَّةِ** نودا دراهم به د سپينو زرو په حكم كښې وي. **وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الدَّنَانِيرِ الذَّهَبُ** اوكه په دنانيرو كښې سره زر غالب وي **فَهِيَ فِى حُكْمِ الذَّهَبِ** نوهغه د سرو زرو په حكم كښې دى

فَيُعْتَبَرُ فِيهِمَا مِنْ تَحْرِيمِ التَّفَاضُلِ او په دې کښې د زياتوالې حرام کيدل داسې معتبر دی مَا يُعْتَبَرُ فِي الْجِيَادِ لکه څنګه چه په کره دراهمو کښې معتبر دی

تشريح﴿ صورة المسئلة﴾ مسئله داده.که په دراهمو کښې سپين زر غالب وی.نودا دراهم د خالصو سپينو زرو په حکم کښې دی.اوکه په دنانيرو کښې سره زر غالب وی.نودا دنانير د خالصو سرو زرو په حکم کښې دی.او په دې کښې خپل جنس سره د بيع کولو په وخت به کمې زياتې داسې حرام وی.لکه څنګه چه د خالص سرو زرو او سپينو زرو خپل جنس سره په بيع کښې کمې زياتې حرام دې.که خالص دراهم د کهوټه او ګډون شوی دراهمو کښې بعض د بعض په عوض خرڅ کړې شو.نود وزن په اعتبار سره به مساوات او برابری ضروری وی.لکه څنګه چه خالص دراهم د خالص دراهمو په عوض،او خالص دنانير د خالص دنانيرو په عوض خرڅولو په صورت کښې برابری شرط ده.

په سرو او سپينو زرو کښې د کهوټه والې د غلبې مسئله

وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ عَلَيْهِمَا الْغِشَّ او که په دواړو(سرو زرو او سپينو زرو باندې) کهوټ (ګډون) غالب وی فَلَيْسَا فِي حُكْمِ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ نودا به د غالب په اعتبار سره د دراهمو او دنانيرو په حکم کښې نه وی.فَهُمَا فِي حُكْمِ الْعُرُوضِ نو دا دواړه د سامان په حکم کښې دی

تشريح﴿ صورة المسئلة﴾ صورت د مسئلې دادې.که دراهم يا دنانيرو کښې کهوټ او ملاوټ زيات وی.او سپين زر يا سره زر مغلوب وی.نودا دراهم مغشوشه او دنانير مغشوشه، د دراهم او دنانيرو په حکم کښې نه دی.ځکه چه د غالب اعتبار کيږی.نودا دراهم مغشوشه او دنانير مغشوشه به سپين زر او سره زر نشی ګڼړلې.بلکه داسې اسباب او سامان به ګڼړلې شمارلې شی.چه په هغې کښې د سپينو زرو يا سرو زرو ګډون يا ملاوټ وی.

التفريع عليه﴾ که يوکس مغلوب سپين زر والا دراهم مغشوشه په عوض خالص سپين زر واخستل.نو په دې کښې به هم هغه صورتونه راوځی.کوم چه د تورې په زيور کښې بيان شوی دی.يعنی که په دراهم مغشوشه کښې وی.نو په دې درې واړو صورتونو کښې به بيع نه په سپينو زرو کښې صحيح وی.اونه به په هغه دهات کښې صحيح وی.کوم دهات چه په دراهم مغشوشه کښې (ملاو) دی.اوکه خالص سپين زر د هغه سپينو زرو نه زيات وی.کوم چه په دراهم مغشوشه کښې دی.نودا جائز دی.ځکه چه د دراهم مغشوشه سپين زر به خالص سپينو زرو کښې د خپل مثل په عوض شی.اوکوم سپين زر چه زيات دی.هغه به د ملاوټ اود دراهم مغشوشه د دهات په عوض کښې شی.

کهوټ ملاو شوی دراهم خپل جنس سره تفاضلا د بيع حکم

فَاذَا بِيعَتْ بِجِنْسِهَا مُتَفَاضِلًا نوکله چې کهوټ ملاو شوی دراهم ددې دجنس په عوض متفاضلاً خرڅ کړې شو جَازَ الْبَيْعُ نو بيع جائز ده

تشريح﴿ صورة المسئلة﴾ صورت د مسئلې دادې.چه داسې دراهم مغشوشه(ملاوټی دراهم) چه په دې کښې کهوټ غالب وی.که دا ددې هم جنس دراهمو په عوض کښې کمې زياتی سره خرڅ کړې شو.نوجائز دی.

دليله﴾ اود جواز وجه داده.چه داسې دراهم مغشوشه د دوه څيزونو په حکم کښې دی. ① سپين زر ② پيتل او کانسه (يوقسم دهات) نو هريو به ددې د جنس خلاف طرف ته منسوب کولې شی.يعنی د احدالعوضين پيتل به،د دويم عوض د سپينو زرو په مقابله کښې اوسپين زر به د دويم عوض د پيتلو

په مقابله کښې ګرځولې شي.اوهرکله چه داسې ده.نود دواړو عوضونو جنس مختلف کیدلو په وجه به تفاضل اوکمې زیاتې جائز وی.

د کهوټ ملاو شوی دراهمو په عوض سامان اخستلو له پس ددې د ختمیدلو مسئله

وَإِنِ اشْتَرَى بِهَا سِلْعَةً اوکه دداسې دراهم مغشوشه په عوض ئې څه سامان واخستلو ثُمَّ كَسَدَتْ بیا ددې رواج او چلن بندشو فَتَرَكَ النَّاسُ الْمُعَامَلَةَ بِهَا قَبْلَ الْقَبْضِ او د قبض کولو نه وړاندې خلقو په دې سره معامله کول پریخودله بَطَلَ الْبَيْعُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نود امام ابوحنیفه ؒ په نیز به بیع باطل وی

تشریح> صورة المسئلة> صورت د مسئلې دادې.که یو کس دداسې دراهم مغشوشه په عوض چه په هغې کښې کهوټ (کهوټ) غالب وی.څه سامان واخستلو.بیا دا دراهم ټهپ شو.یعنی ددې رواج او چلن بندشو.او خلقو په دې سره معامله کول پریخودله.نود حضرت امام ابوحنیفه ؒ په نیز به دا بیع باطل وی.

دلیله> د حضرت امام ابوحنیفه ؒ دلیل دادې.چه داسې دراهم مغشوشه چه په هغې کښې کهوټ غالب وی. د دې ثمن کیدل د خلقو په اتفاق کولو سره وو.خو چه کله خلقو په دې سره معامله کول پریخودل.نود خلقو اصطلاح او اتفاق باطل شو.اوهرکله چه د خلقو اتفاقا باقی پاتې نشو.نو عقد بیع بلا ثمن پاتې شو.او بلاثمن عقد باطل وی.څکه به په دې صورت کښې هم عقد باطل وی.او هرکله چه عقد باطل شو.نو په مشتری به مبیع واپس کول واجب وی.په دې شرط چه مبیع دده سره موجود وی.اوکه مبیع هلاك شوې وی.نو ددې قیمت به واجب وی.په دې شرط چه مبیع د ذوات القیم څنې وی.اوکه مبیع د ذوات الامثال څنې وی.نو ددې مثل واپس کول به واجب وی.لکه څنګه چه په بیع فاسدکښې هم دا حکم دې.یعنی په بیع فاسد کښې که مشتری په مبیع باندې قبضه اوکړله.نوکه مبیع موجود وی.نوهغه به واپس کوی.اوکه مبیع موجود نه وی.نو ددې مثل به واپس کوی.که د ذوات الامثال څنې وی.اوکه د ذوات القیم څنې وی.نو ددې قیمت به واپس کوی.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللَّهُ او امام ابویوسف ؒ فرمائی عَلَيْهِ قِيمَتُهَا يَوْمَ الْبَيْعِ چه په مشتری به د بیع د ورځې ددې دراهم مغشوشه قیمت واجب وی وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ: قِيمَتُهَا آخِرَ مَا تَعَامَلَ النَّاسُ[1] او امام محمد ؒ فرمائی.چه په آخری ورځ چه خلقو ددې سره معامله کړې ده.د هغې ورځې ددې قیمت به واجب وی)

حل اللغة> السلعة: سامان تجارت، **الكسادة:** د رواج بندیدل، **التسليم:** سپارل

تشریح> مذهب الصاحبين> اوامام ابویوسف او امام محمد ؒ فرمائی.چه بیع به باطل نه وی.بلکه په مشتری به ددې قیمت واجب وی.امام شافعی او امام احمد ؒ هم ددې قائل دی.پاتې شوه داخبره چه د کومې ورځې قیمت به واجب وی.نو په دې باره کښې صاحبین ؒ هم مختلف دی. حضرت امام ابویوسف ؒ فرمائی.چه په کومه ورځ عقدبیع واقع شوې ده.په هغه ورځ چه ددې دراهم مغشوشه کوم قیمت وو.په مشتری به هم دا واجب وی.

اوامام محمد ؒ فرمائی.چه آخره ورځ کله چه خلقو په دې سره معامله کول پریخودله.د هغې ورځ چه ددې څه قیمت وی.هغه به واجب وی.

دلیلهما> د صاحبینو ؒ دلیل دادې.چه مبادله د مال بالمال موجود کیدلو په وجه د ثمن سپارل متعذر

[1] القول الراجح هو هذا قول محمد ؒ كذا في فتح القدير(۲۷۷\۶) وردالمحتار(۲۷۰\۱۴) نقلاً عن القول الراجح (۸۶\۲)-

او ناممکن شو.اود ثمن سپارل چه متعذرشی.نو ددې په وجه بیع نه فاسدیږی.لکه مثلاً که یوکس د تازه کجورو په عوض څه څیز واخستلو.بیا د سپارلو نه وړاندې تازه کجورې بازارکښې منقطع شوې.یعنی ددې ملاویدل بندشو. نوددا بالاتفاق نه باطلیږی.بلکه په مشتری باندې ددې قیمت واجبیږی.اود علامه بدرالدین عینی رحمه الله د قول مطابق به د راروان کاله پورې د تازه کجورو انتظار هم نشی کولې.نوهم دغه شان به دلته کښې هم بیع باطل نه وی.او په بازار کښې د تهپ والی په وجه چه هرکله بیع باطل نشوه.بلکه بیع باقی ده.نو په مشتری به ددې دراهم مغشوشه قیمت واجب وی.

وجه قول ابي يوسف رحمه الله ﴿ خود امام ابویوسف رحمه الله په نیز به د عقد بیع د ورځې قیمت واجب وی.ځکه چه دراهم مغشوشه ضمان دداسې بیع په وجه واجب شوې دې.که چرې بیع نه وه شوې.نو په مشتری به ددې دراهم مغشوشه ضمان هم نه واجبیدلې.نو هرکله چه په مشتری باندې ددې بیع په وجه ضمان واجب شوې دې.نو هم ددې بیع د ورځې قیمت به معتبر وی.یعنی د بیع په ورځ چه د دراهم مغشوشه کوم قیمت وو.په مشتری به هم هغه واجبیږی.لکه مثلاً د شئ مغصوبه هلاکیدلو نه پس په غاصب باندې د غصب د ورځې قیمت واجبیږی.ځکه چه شئ مغصوب هم په دغه ورځ مضمون شوې دې.

وجه قول محمد رحمه الله ﴿ اود امام محمد رحمه الله په نیز چه په کومه ورځ د دراهم مغشوشه چلن بازار نه بندشوې دې.ددغې ورځې قیمت به واجب وی.ځکه چه دراهم مغشوشه نه منتقل کیدل او قیمت طرف ته راتلل په دغه ورځ واجب شوی دی.نو په کومه ورځ چه قیمت طرف ته انتقال شوې دې. د قیمت په سلسله کښې به د دغه ورځې قیمت معتبر وی.

الفائدة ﴿ کساد: (تهپ کیدل) یعنی چلن او رواج بندیدل.د امام محمد رحمه الله په نیز به کساد هغه وخت متحقق وی.چه کله په ټولو ښارونوکښې چلن بند شی.اود شیخینو رحمهما الله په نیز د کساد متحقق کیدلو دپاره دومره کافی ده.چه په کوم ښار کښې عقد واقع شوې دې.هم په دې ښارکښې چلن بند شی.(عینی)

د فلوس (پیسو) په عوض د بیع حکم

وَيَجُوزُ الْبَيْعُ بِالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ اود رانجو پیسو په عوض بیع جائز ده. **وَإِنْ لَمْ يُعَيَّنْ** اګرچه دا متعین نکړی

حل اللغة ﴿ **الفلوس**: جمع د فلس،پیسه، **النافقة**: رانج

تشریح ﴿ **جواز البيع بالفلوس النافقة** ﴾ ﴿ مسئله داده.چه د فلوس په عوض بیع جائز ده.ځکه چه فلوس داسې مال دې.چه د مقدار او وصف په اعتبارسره معلومیږی.او کوم مال چه معلوم المقدار او معلوم الوصف وی.د هغې په عوض بیع جائز وی.ځکه به د فلوس په عوض بیع جائز وی.اوس به دا فلوس د عقدپه وخت یا خو رانج وی.یا به ددې رواج تهپ وی.که دا رانج وی.نود دراهمو او دنانیرو پشان بیع کښې ددې متعین کول هم ضروری نه دی.بلکه دا په متعین کولو سره هم نه متعین کیږی.مثلاً د لس پیسو نې څه څیز واخستلو.نو ددې څیز متعین کول واجب دی.خو پیسې به نه متعین کیږی.بلکه په پیسو کښې به لس پیسې ورکوی.

دليله ﴿ ځکه چه د خلقو د اتفاق په وجه فلوس(پیسې) ثمن جوړ شوی دی.او ثمن په متعین کولو سره نه متعین کیږی.ځکه به دا فلوس هم نه متعین کیږی.

وَإِنْ كَانَتْ كَاسِدَةً اوکه ددې پیسو چلن بند وی **لَمْ يَجُزِ الْبَيْعُ بِهَا** نو ددې په عوض بیع جائز نه ده **حَتَّى يُعَيِّنَهَا**

تشریح ﴿ **عدم جواز البيع بالفلوس الكاسدة** ﴿ که دا فلوس رانج نه وی.بلکه ددې چلن بند شوې وی.نو په بیع

کښې ددې متعين کول ضروري دي.يعنې په دې صورت کښې به ددې بيع هغه وخت جائز وي.چه کله دا متعين شوي وي.

دليله> ځکه چه اوس دا فلوس سامان جوړشوې دې.اود سامان په بيع کښې سامان متعين کول ضروري وي.په دې وجه به ددې متعين کول هم ضروري وي.

د رائج فلوس په عوض بيع نه پس ددې د تهپ کيدلو مسئله

وَإِذَا بَاعَ بِالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ اوکه د رائج الوقت فلوس (پيسو) په عوض ئې څه څيز خرخ کړو ثُمَّ كَسَدَتْ قَبْلَ الْقَبْضِ بيا ددې چلن بند شو مخکښې د قبض نه بَطَلَ الْبَيْعُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به بيع باطل وي

تشريح> بطلان البيع بعد کساد الفلوس> مسئله داده.که يو کس څه څيز د رائج الوقت فلوس په عوض خرخ کړلو.بيا په دې باندې د قبضه کولو نه پس ددې چلن بند شو.نودحضرت امام اعظم رحمه الله په نيز به دا بيع باطل وي.

مذهب الصاحبين> اود صاحبينو رحمهما الله په نيز به باطل نه وي.بلکه په مشتري د تهپ شوي فلوس قيمت واجب وي.د امام ابويوسف رحمه الله په نيز به د عقدبيع د ورځې قيمت واجب وي.اود امام محمد رحمه الله په نيز به د تهپ کيدلو دورځې قيمت واجب وي.ددې اختلاف تفصيل سره د دلائلو د تيره شوې مسئلې (إذا اشترى بها سلعة فكسدت) لاندې تيرشوې دې.هلته کښې ئې اوګورئ.

د نصف درهم فلوسو په عوض اخستلو حکم

وَمَنْ اشْتَرَى شَيْئًا بِنِصْفِ دِرْهَمٍ مِنْ فُلُوسٍ اوکه يوکس يوڅيز د نصف درهم فلوس (پيسو) په عوض واخستلو جَازَ الْبَيْعُ نو بيع جائز ده وَعَلَيْهِ مَا يُبَاعُ بِنِصْفِ دِرْهَمٍ مِنْ فُلُوسٍ او په مشتري به دومره اندازه فلوس واجب وي.کوم چه د نصف درهم په عوض خرخولې شي

تشريح> صورة المسئلة> صورت د مسئلې دادې.يوکس اووئيل.چه ما دا څيز د نصف درهم فلوس په عوض واخستلو.يعنې د دومره فلوس په عوض مې واخستلو.چه ددې قيمت نصف درهم سپين زر وي.نودا بيع جائز ده.او په مشتري باندې به دومره فلوس اداکول واجب وي.چه د نصف درهم په عوض خرخيږي.اوکه دا ئې اووئيل چه دا څيز ما د يو دانق فلوس ياد يو قيراط فلوس په عوض واخستلو.يعنې د دومره فلوس په عوض مې واخستلو.چه ددې قيمت يو دانق سپين زر يا يو قيراط سپين زر وي.نودا هم جائز دي.او په مشتري باندې دومره فلوس ادا کول واجب دي.چه د يو دانق سپين زر يا د يوقيراط سپينو زرو په عوض خرخيږي.

مذهب زفر رحمه الله> په زيربحث مسئله کښې امام زفر رحمه الله فرمائي.چه په دې ټولو صورتونو کښې بيع ناجائز ده.

دليله> د امام زفر رحمه الله دليل دادې.چه مشتري د فلوس په عوض اخستل کړي دي.او فلوس د معدوداتو څخه دي.او نصف درهم، دانق او قيراط د موزوناتو څخه دي.يعنې د فلوس اندازه په شمير سره کيږي.په دانق،قيراط او نصف درهم سره نه کيږي.نود نصف درهم، دا نق او قيراط په ذکرکولو سره عدد ذکر نشو.او هرکله چه د فلوس عدد ذکر او بيان نشو.نو په دې بيع کښې د فلوس مقدار يعنې ثمن مجهول شو.اود ثمن مجهول کيدلو په صورت کښې بيع ناجائز وي.په دې وجه به په دې ټولوصورتونو کښې بيع ناجائز وي.

الجواب عنه> د دې نه جواب دادې چه کوم فلوس د نصف درهم، دانق اود قیراط په عوض خرخیږي.هغه ټولو ته معلوم دي.او مونږ مسئله هم په دې صورت کښې فرض کړې ده.چه خلقو ته دا معلومه وي.چه د نصف درهم سپینو زرو په عوض څومره قدرې فلوس خرخیږي.اود یو دانق عوض څومره قدرې.اود یو قیراط عوض څومره قدرې فلوس خرخیږي.او مسئله هم په دې صورت کښې فرض شوې ده.نود فلوس مقدار او تعداد بیانولو هیڅ ضرورت نشته.نوهرکله چه ددې علم ټولو ته دې.نود ثمن مجهول کیدل نه لازمیږي.او هرکله چه ثمن مجهول پاتې نشو.نو بیع به هم ناجائز نه وي.بلکه جائز به وي.

د یو درهم د نیم په بدله کښې فلوس.اود نیم په بدله کښې
د یو حبه (رتئ) کم نصف درهم اخستلوحکم

وَمَنْ أَعْطَى صَيْرَفِيًّا دِرْهَمًا اوکه یوکس صراف ته یو درهم ورکړو **فَقَالَ** او وې وئیل **أَعْطِنِي بِنِصْفِهِ فُلُوسًا وَبِنِصْفِهِ نِصْفًا إِلَّا حَبَّةً** چه ماته ددې دنصف په عوض فلوس اود نصف په عوض یو حبه (رتئ) کم نصف درهم راکړه **بَطَلَ الْبَيْعُ فِي الْجَمِيعِ** نو باطله ده بیع ټولو کښې

تشریح> په دې عبارت کښې دا مسئله ذکر ده چه یو سړی صراف ته یو روپۍ ورکړله.او وې وئیل.چه ته ماته ددې د نصف په عوض فلوس راکړه.اود نصف په عوض یو حبه (رتئ) کم نصف درهم راکړه. نود امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دا دې.چه په ټول کښې بیع باطل وي.

دلیله- څکه چه د پوره درهم صفقه یوه ده. او په نصف درهم کښې رباء لازمیدلو په وجه فساد قوی دې. او فساد څکه قوی دې.چه د رباء په وجه کوم فساد پیدا شوې دې.هغه مجمع علیه او متفق علیه دې. او فساد قوی چونکه په پوره عقد کښې خور دې.څکه به پوره عقد فاسد وي.ددې مثال تیرشوې دې. مثلاً هرکله چه څوك غلام او آزاد خرخ کړي.او په دې کښې د هریو ثمن بیان نکړې شو.نود آزاد په بیع کښې فساد چونکه قوی دې.په دې وجه به دا فساد بالاجماع په پوره عقد کښې خوریږي.نوهم دغه شان په متن کښې په ذکرشوې مسئله کښې هم په پوره عقد کښې فساد خور شوې دې.او په ټول کښې به عقد باطل وي.

وقالا صَحَّ الْبَيْعُ فِي الْفُلُوسِ وَبَطَلَ فِيمَا بَقِيَ او صاحبین رحمهما الله فرمائی چې فلوس کښې دا بیع جائز ده.او په مابقی کښې باطل ده.

تشریح> مذهب الصاحبین> اود صاحبینو رحمهما الله په نیز فلوس کښې دا بیع جائز ده.او په مابقی کښې باطل ده.

دلیله> څکه چه دا د نصف درهم مقابله فلوس سره کړې ده.اود نصف درهم مقابله ئې حبه (رتئ)کم نصف درهم سره کړې ده.نو فلوس سره د نصف درهم په مقابله کښې چونکه دجواز هیڅ مانع نشته.په دې وجه د فلوس په عوض د نصف درهم بیع جائز ده.اود حبه کم نصف درهم مقابله نصف درهم سره کولو کښې چونکه رباء ده.څکه به ددې بیع باطل وي.

وَلَوْ قَالَ اوکه اووئیلی شو **أَعْطِنِي نِصْفَ دِرْهَمٍ فُلُوسًا وَنِصْفًا إِلَّا حَبَّةً** چه ماته نصف درهم فلوس او حبه (رتئ) کم نصف درهم راکړه **جَازَ الْبَيْعُ** چه ماته نصف درهم فلوس او حبه (رتئ) کم نصف درهم راکړه نو بیع جائز ده

تشریح> صورة المسئلة> په دې عبارت کښې دریم صورت بیانوی چه یوکس صراف ته یو درهم ورکړو.او

وي ونيل چه ته ماته ددي درهم په عوض دنصف درهم فلوس او حبه كم نصف درهم راكړه.نودا پوره بيع جائز ده.يعنې فلوس او حبه (رتی) كم نصف، د دواړو نصف درهم بيع جائز ده.

دليله> ځكه چه په دې صورت كښې مشترى د يو درهم په مقابله كښې د نصف درهم قيمت فلوس،او حبه كم نصف درهم ذكر كړى دى.نود حبه كم نصف درهم په عوض به حبه كم نصف درهم شي.او نصف درهم او يوحبه به د برابر درهم په عوض فلوس شي.اود درهم او فلوس په مينځ كښې چونكه اختلاف جنس دې.ځكه به كمې زياتې هم جائز وى.

ولوقال اعطنى درهماصغيرا او كه اووائى چې ماته وړه روپئ راكړه **وزنه نصف درهم الاحبة** چې د هغې وزن د نيمې روپئ نه يوه رتئ كم وى **والباقى فلوسا** او باقى پيسې وى **جاز البيع** نو جائزه ده بيع **وكان النصف الاحبة** او د نيمې روپئ نه يوه رتئ كم به وى **بأزاء الدرهم الصغير** په مقابله د وړې روپئ **والباقى بأزاء الفلوس** او باقى به په مقابله د پيسو كښې وى

حل اللغة> ① صغير وړكوټې ② حبة: رتئ ③ فلوس :پيسې ④ ازاء :مقابله ،عوض

تشريح> صورة المسئلة> وړه روپئ چې د هغې وزن يوه رتئ كم نيمه روپئ وى نو يو كس صراف ته يوه روپئ وركړه او بيا ئې ورته داسې اووئيل چې په دې روپئ كښې يوه رتئ كم نيمه روپئ راكړه يعنى وړه روپئ راكړه او باقى يوه رتئ زياتى نيمه روپئ چې كومه پاتې كيږى د هغې په بدله كښې پيسې راكړه نو بيع به جائز وى

دليله> ځكه چې په دې صورت كښې به يو رتئ كم نيمه روپئ د يوې روپئ په مقابله كښې شى او يوه رتئ زياته روپئ د دې په مقابله كښې به پيسې شى نود دواړو جنس د يو بل نه جدا شو او چې جنس جدا شو نو سود نشو د دې وجې بيع جائز شوه

كتاب الرهن

ترجمه> (دا) كتاب د رهن (د مسائلو په بيان كښگيگ) ديگ.

تشريح> د كتاب الصيد او كتاب الرهن په مينځ كښې مناسبت دا دى.چه ددې دواړو مقصود مال حاصلول دى. بيا رهن مصدر دې.ددې معنى ده گانړه ايخودل.او مصدر كله كله د اسم مفعول په معنى كښې استعماليږى.نورهن كله د مرهون په معنى كښې راځى.يعنى هغه سامان كوم چه گانړه ايخودې شى.راهن هغه دې.كوم كس چه خپل مال بل سره گانړه ايږدى.مرتهن هغه دې.د چا سره چه گانړه ايخودې شى.

الرهن لغة وشرعا> د رهن معنى ده.په يو سبب د يو څيز محبوس كول (او راگيرول).او په شريعت كښې رهن وائى.د قرض په بدله كښې يو څيز محبوس كول.چه د ضرورت په وخت د قرض وصولول په رهن سره اوشى.

ثبوته من الكتاب> د كتاب الله نه د دې د ثبوت دپاره دا ايت دليل دې ﴿وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ﴾ يعنى كه په سفر كښې د قرض معامله كوئ.اود عهد ليكلو دپاره څوك ليكونكې ملاؤ نشى .نو د قرض په عوض څه څيز قرضدار له ايخودل پكار دى.په سفر كښې د رهن حاجت په نسبت د حضر(مقيم) زيات وى.ځكه چه حضر(اقامت) كښې كتابت او شهادت سره هم په آسانتيا د قرضخواه اطمينان ممكن دې.په دې وجه سفر كښې د رهن حكم اوشو.كنى حضر(اقامت) كښې د ليكونكى په موجودگئ كښې هم رهن صحيح دې. لكه څنګه چه حديث كښې موجود دى.خلاصه د كلام دا چه د

قران ددې ايت نه د رهن جواز ثابتيږي.
ثبوته من السنة سنت رسول ﷺ د بخاري اومسلم روايت دې.چه نبي كريم ﷺ د يو يهودي نه غله واخستله.او د ثمن په بدله كښې ئې خپله زغره هغه سره رهن (ګانړه) كيخودله.نو د حديث نه معلومه شوه.چه رهن جائز دې.
ثبوته من الاجماع د رهن په جواز باندې اجماع منعقد ده.
ثبوته من القياس كفالت بالاتفاق جائز دې.او ددې حقيقت دا دې.چه واجب حق د كفيل نه وصول كړې شي.نو د كفالت په وجه د صولولو په طرف كښې پوخوالې پيدا كيږي.دغه شان د رهن په وجه د حق وصولولو طرف پخيږي.نو رهن به كفالت باندې قياس كولې شي.او وئيلې به شي.چه لكه څنګه كفالت جائز دې.دغه شان رهن هم جائز دې.خلاصه دكلام داچه په ادلهٔ اربعه سره د عقد رهن جواز ثابت دې.

د رهن منعقد كيدو او قبضه كولو بيان

الرَّهْنُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ چه رهن منعقد كيږي.په ايجاب او قبول سره وَيَتِمُّ بِالْقَبْضِ او تماميږي په قبضې سره

تشريح **انعقاد الرهن** لكه څنګه چه نور عقدونه په ايجاب او قبول سره منعقد كيږي.دغه شان رهن هم ايجاب او قبول سره منعقد كيږي.او قبضې سره تماميږي.هم دا دجمهور احنافو مسلك دې.
ركنه وشرطه شيخ الاسلام خواهر زاده رحمه الله فرمائي.چه صرف او صرف ايجاب ركن دې.او قبول ركن نه دې. بلكه شرط دې.خو اصح دا دې.چه دا دواړه ركن دی.امام خواهرزاده رحمه الله فرمائي.چه رهن عقد تبرع ده.او كوم چه عقد تبرع وي.هغه صرف متبرع سره تماميږي.لكه هبه او صدقه چه عقد تبرع دی. دا صرف په متبرع سره پوره كيږي.اوقبضه ركن نه دې.بلكه لزوم د عقد رهن دپاره شرط دې. (١)
دليله ① دليل ﴿فَرِهٰنٌ مَّقْبُوضَةٌ﴾ دې دلته كښې رهن د مقبوضه كيدو په صفت سره متصف شوې دې.او كله چه د نكره وصف بيانولې شي.نو دا عام وي.لكه (مثلاً) .. لا اكلم إلا رجلاً كوفياً.. نو ددې نه دا خبره ثابته شوه. چه هر رهن به دې وصف سره مشروع وي.بيا رهان مصدر دې.چه په دې فاء داخل ده.او رهن په محل د جزاء كښې دې.اوكله چه داسې وي.نو هلته مصدر په معنى د امر وي.يعنى د رهن معامله كوئ.په داسې حال كښې چه په دې باندې قبضه كوئ.د قبضې په شرط كيدو باندې دليل عقلي رهن عقد تبرع ده.او ددې په عقد تبرع كيدو باندې دوه دليلونه دی (١) راهن باندې زبردستي جائز نه ده.چه هغه خامخا رهن كيږدی.(٢) راهن ته د رهن په بدله كښې مرتهن نه هيڅ څيز نه حاصليږي.نو د رهن امضاء (حكم جاري كول) او نفاذ ضروري دې.چه د مرتهن استحقاق ثابت شي.لكه څنګه چه وصيت هم يوه تبرع ده.د موصى له د استحقاق دپاره نفاذ ضروري دې. او هم دا نفاذ به د قبضې په ذريعه كيږي.بهرحال د رهن د جواز دپاره قبضه شرط ده.
قسمیٔ القبض اود قبضې دوه قسمونه دی.① تحقيقي ② حكمي.... تحقيقي دا دې.چه قابض دا واخلي.او خپل خان سره ئې يوسي.اودحكمي نه مراد تخليه ده.يعنى راهن دمرهون او مرتهن په مينځ كښې تخليه اوكړي. چه هلته كښې د مرتهن په قبضه كولو كښې هيڅ مشكلات نه وی.نو دلته كښې كومه قبضه شرط ده. مرغيناني رحمه الله فرمانيلي دی.چه په ظاهرالرواية كښې قبضهٔ حكمي كافي ده.يعنى تخليه كافي ده.لكه كله چه بائع د مشتري او مبيع په مينځ كښې تخليه اوكړله.نو قبضه

(١) **مذهب مالك** رحمه الله:- د امام مالك رحمه الله مذهب دا دې.چه رهن صرف ايجاب او قبول سره لازميږي.قبضه په دې كښې شرط نه ده.

اوشوه.دغه شان به دلته کښي هم کيږي .ځکه چه قبضه دواړو کښي د عقد مشروع حکم دي.نو دواړو کښي تخليه کافي ده.

مرهون باندي د مرتهن د قبضي کولو بيان

وَإِذَاقبض الْمُرْتَهِنُ الرهن نو کله چه په دې باندې مرتهن قبضه اوکړله مَحُوزًامُفَرَّغًامُمَيَّزًا په داسي حال کښي چه مرهون محوز، مفرغ او متميز وی تَمَّ الْعَقْدُ فِيهِ نو عقد به لازم وی. وَمَالَمْ يقبض او ترکومه پورې چه مرتهن په رهن باندې قبضه نه وی کړي. فَالرَّاهِنُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَسَلَّمَهُ نو راهن سره اختيار دې.که غواړی.دا دې اوسپاری وَإِنْ شَاءَرَجَعَ عَنْ الرَّهْنِ او که غواړی.د رهن نه دې رجوع اوکړی

تشريح> تکميل العقد بالقبض> کله چه مرتهن په مرهون باندې قبضه اوکړله.نو عقد رهن تمام شو.او عقد لازم شو.او ترکومه پورې چه مرتهن قبضه نه ده کړي.نو راهن ته اختيار شته.که غواړی.مرهون دې مرتهن ته حواله کړی. اوکه غواړی.نه دې ورکوی.بلکه د رهن نه دې رجوع اوکړی.

دليله> ځکه چه لزوم د عقد قبضي سره کيږی.ځکه چه مقصود د رهن قبضه کولو نه وراندې نه حاصليږی.خو د قبضي پوره کيدو دپاره امام قدوری رحمه الله دري څيزونه بيان کړی دی

رهن باندي د مرتهن د قبضي کولو حيثيت

فَإِذَاسَلَّمَهُ إِلَيْهِ او کله چه راهن مرهون (څيز) مرتهن طرف ته اوسپارلو فَقبضه) بيا مرتهن په دې باندې قبضه اوکړله دَخَلَ فِي ضَمَانِهِ نو مرهون د مرتهن په ضمان کښي داخل شو

تشريح> دخول الرهن في ضمان المرتهن> رهن باندې د مرتهن قبضه، قبضه د ضمانت ده. ز د مرهون په هلاکيدو سره قرض ساقطيږی.چه ددې تفصيل روستو راروان دې. (۱)

دلائله> ① رومبې حديث دا دې.چه رسول الله ﷺ مرتهن ته فرمائيلی وو. ذَهَبَ حَقُّكَ(۲) دده سره د رهن اس هلاکيدو نه پس ستا حق ختم شو.دا واضح دليل دې.چه رهن مضمون وی.

② دويم حديث إِذَاعَمِيَ الرَّهْنُ فَهُوَبِمَافِيهِ(۳) يعنی کله چه د رهن قيمت مشتبه شي.چه د قرض نه کم دې اوکه زيات دې.اوکه برابردې.نو رهن به د قرض برابر شمارلې کيږی.او د رهن په هلاکت سره به پوره قرضه ساقطيږی .د ،،إذاعمي الرهن،، معنى ،،إشتبهت قيمة الرهن،، ده.

③ دريم دليل د صحابه کرامو رضي الله عنهم او د تابعينو اجماع ده.چه رهن مضمون وی.اګرچه ددې حضراتو د ضمان په کيفيت کښي اختلاف دې.خو په نفس ضمان کښي هيڅ اختلاف نشته. نو د امام شافعی رحمه الله د امانت قول، د اجماع مخالف دې.او د اجماع مخالفت جائز نه دې.

---

[1] مذهب الشافعي رحمه الله:-د امام شافعی رحمه الله په نيز قبضه د امانت ده. د امام شافعی رحمه الله په نيز د مرهون په هلاکيدو سره د قرض نه هيڅ نه ساقطيږی.

[2] من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه ابن حبان في صحيحه في النوع الثالث والأربعين من القسم الثالث والحاكم في المستدرك (۲\۵۱) وقال الزيلعي رحمه الله أنه قول صاحب الهداية قالها ثلاثاً لم أجده في شي من طرق الحديث (نصب:۵\۴۲، ۴۳)_

[3] — من حديث عطاء أخرجه أبوداود في مراسيله وابن أبي شيبة في مصنفه (نصب:۵\۴۳)_

رهن د کوم څيز په بدله کښې کيږي؟

وَلَایَصِحُّ الرَّهْنُ او رهن به صحيح نه وی إِلَّا بِدَيْنٍ مَضْمُونٍ خو د دين مضمون په بدله کښې دي

تشريح> صحة الرهن بدين مضمون> رهن صرف د قرض په بدله کښې صحيح کيږي.

دليله> ځکه د رهن حکم دا دي.چه مرتهن ته په رهن باندې داسې قبضه حاصله شي.چه په دې سره هغه خپل قرض وصول کړي.او وصولولې به هله شي.کله چه د مخکښې نه د دين وجوب ثابت شوې وی.

مرهونه څيز په کوم مقدار کښې د مرتهن په ضمان کښې داخل دي؟

وَهُوَ مَضْمُونٌ بِالْأَقَلِّ مِنْ قِيمَتِهِ وَمِنَ الدَّيْنِ (١) او مرهون مضمون وی.په کم سره، د قيمت د رهن او د قرض نه ،فَإِذَا هَلَكَ فِي يَدِ الْمُرْتَهِنِ نو کله چه مرهون هلاك شو.د مرتهن په قبضه کښې وَقِيمَتُهُ وَالدَّيْنُ سَوَاءٌ او ددې قيمت او قرض برابر وی صَارَ الْمُرْتَهِنُ مُسْتَوْفِيًا لِدَيْنِهِ نو شي به مرتهن د خپلې قرضې وصول کونکې، وَإِنْ كَانَتْ قِيمَةُ الرَّهْنِ أَكْثَرَ مِنَ الدَّيْنِ فَالْفَضْلُ أَمَانَةٌ او که د رهن قيمت زيات وی.نو زياتوالې امانت دي وَإِنْ كَانَتْ قِيمَةُ الرهنِ أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ اوکه وی قيمت د رهن سَقَطَ مِنَ الدَّيْنِ بِقَدْرِهَا نو د قرض نه به ددې په اندازه ساقطيږي وَرَجَعَ الْمُرْتَهِنُ بِالْفَضْلِ او مرتهن به زياتی واپس اخلی

تشريح> توضيح الضمان> وړاندې ونيلې شوی دی.چه مرهون د مرتهن په ضمانت کښې داخل وی.اوس په دې باندې سوال پيدا کيږي.چه په څومره مقدار کښې به مضمون وی؟ نو دلته کښې ددې جواب ورکړې شوې دې.

جواب> حاصل د جواب دا دې.چه د رهن قيمت او قرض کښې چه کوم يو درهم کم وی.هغه مقدار سره به مضمون وی.نوکه د رهن قيمت دوه سوه روپۍ وی.او قرض سل روپۍ وی.نو سل روپۍ کمې دی.او د رهن قيمت زيات دې.نو په دې صورت کښې به ضمان په اندازه د سلو روپو وی.اوکه ددې په عکس وی.بيا به هم ضمان په اندازه د سلو روپو وی.نو که مرتهن سره مرهون هلاك شو.او د قرض او رهن قيمت برابر وی. نو مسئله برابر سرابر شوه.او مرتهن به د خپلې قرضې وصولونکې شمارلې کيږي.او که د رهن قيمت زيات وی.نو زياتوالې به امانت وی.اوکه قرض ادا شو.ځکه چه مرتهن په څومره مقدار سره خپله قرضه وصول کولې شي.هم په هغه اندازه مضمون وی.او دا مقدار په اندازه د دين ده.اوکه د رهن قيمت کم وی.او قرض زيات وی.نو څومره چه د رهن قيمت وی.په رهن هلاکيدو سره دومره قرضه ساقط شوه.او باقی قرض به مرتهن د راهن نه وصول کوی. ځکه چه دلته کښې مرتهن د دومره مقدار وصول کونکې شمارلې شی.څومره چه د رهن ماليت دې.

دلائله> ① نقلی دليل دا دې.چه د حضرت عمررضی الله عنه او عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما نه هم دغه شان نقل دی.ځنګه چه زمونږ مذهب دې.(٢)

② عقلی دليل دا دې.چه د مرتهن قبضه د وصولولو قبضه ده.نوڅومره مقدار چه د وصولولو وی.هم

(١) القول الراجح هو هذا قول الأئمة الثلاثة رحمهم الله كذا في الإختيار لتعليل المختار (١\٣٠٨) وملتقى (٤\٢٧٢) والدرالمختار (٥\٣٤٢) نقلا عن القول الراجح (٢\٣٢٥)۔

(٢) – أما رواية عمر رضی الله عنه فأخرجه البيهقي في السنن الكبرى (٦\٧١) رقم ١١٢٢٨) وأما رواية ابن مسعود رضی الله عنه فأخرجه فقال الزيلعي رحمه الله وقال هي غريبة (نصب :٥\٤٨)۔

هغومره ضمان واجبيدل پکار دی.ځکه چه د مرتهن دا وصولول خو حقيقي وصولول نه دی.بلکه دا وصولول شمار کړې شوی دی.اوکه حقيقي وصولول وی.نو بيا هم دا حکم دې.کوم چه مونږ بيان کړو.چه په اندازه د دين دا مضمون دې.اوباقي امانت دې.مثلاً د زيد په خالد باندې يو زر روپۍ دی.او خالد زيد ته يوه تهيلۍ چه په دې کښې دوه زره روپۍ دی.رهن ورکړله.اتفاق سره د زيد نه دا تهيلۍ هلاکه شوه.نو د زيد قرض وصول شو.او باقي زر روپۍ به امانت شمارلې کيږی.نو دلته کښې هم دغه شان کيدل پکار دی.

مذهب زفر رحمه الله > د امام زفر رحمه الله مذهب دا دې.چه د رهن کوم قيمت وی.د هغې په اندازه به مرتهن باندې ضمان وی.نو که د رهن ايخودو په ورځ د مرهون قيمت پنځلس سوه روپۍ وی.او قرض زر روپۍ وی.او رهن مرتهن سره هلاك شي.نو د مرتهن قرضه به هم ادا وی.او راهن به مرتهن نه پنځه سوه روپۍ اخلي.امام زفر رحمه الله دليل نقلي او دليل عقلي پيش کړې دې.

دلائله:- ① رومبې دليل نقلي دې.چه حضرت علي رضي الله عنه د رهن په باره کښې فرمائيلي دی.چه ،، راهن او مرتهن به د زياتوالي لين دين کوی،، يعني که قرض د رهن نه زيات دې.نو زياتوالې به د راهن نه اخستلې شي.او که د رهن قيمت زيات دې.نو زياتوالې به د مرتهن نه وصولولې شي.

الجواب عنه > د دې نه جواب دا دې چه امام زفر صاحب رحمه الله تاسو دهوکه شوی يئ.او د حديث هغه مطلب نه دې.کوم چه تاسو ګنړلې دې.بلکه مطلب دا دې.که مرهون خرڅ کړې شي.نو د کمي زياتي ورکړه راکړه به کولې شي.او په بيع کښې هم مونږ هم ددې قائل يو.او زمونږ او ستاسو بحث د مرهون په هلاکت کښې دې.او دا د حديث مراد نه دې.

که څوك دا اووائي چه تاسو سره څه دليل دې.چه حديث کښې د بيع حالت مراد دې؟ددې جواب دا دې چه زمونږ سره دليل دا دې.چه د حضرت علي رضي الله عنه نه دويم روايت دا نقل دې.چه د زياتي په سلسله کښې مرتهن امانت دار دې. (أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه (نصب:٥\٣٩٦)) ددې نه معلومه شوه.چه رومبې حديث بيع باندې محمول کړې شي.ګني د حضرت علي رضي الله عنه په اقوالو کښې به تعارض لازم شي.

② دويم دليل عقلي دې.ددې حاصل دا دې.چه لکه څنګه د رهن هغه مقدار مرهون دې.کوم چه د دين په اندازه دې.دغه شان ددې نه زيات مقدار هم مرهون دې.ځکه چه اصل او زياتوالې دواړه د قرض په بدله کښې محبوس دی. نو لکه څنګه چه د رهن هغه مقدار مضمون دې.کوم چه د دين په اندازه دې.دغه شان به هغه مقدار هم مضمون وی.کوم چه ددې نه زيات دې.مثلاً يو اس رهن دې.چه ددې قيمت پنځه سوه روپۍ دې.او قرض دوه سوه روپۍ دی.نو ټول اس مرتهن سره مرهون او محبوس دې.نو ضمان هم د پوره واجبيدل پکار دی.

الجواب عنه > د دې نه جواب دا دې چه قاعده دا ده.(الضرورة تتقدر بقدر ضرورته) نو مرتهن سره پوره اس ځکه رهن ايخودې شوې دې.چه د دوه سوه مقداره پورې اس دده سره رهن کيخودې شي.او درې سوه مقدار والا کينخودې شي.نو دا صورت ممتنع دې.نو د ضرورت په بناء باندې پوره اس کيخودې شو.خو ضرورت د ضرورت حده پورې وی.نو زياتي په رهن ايخودو کښې ضرورت وو.په دې وجه دا جائز اوګرځولې شو.او د ضمان په حق کښې هيڅ ضرورت نشته.په دې وجه به ضمان واجب نه وی.

د غير منقسم رهن حکم

وَلَايَجُوزُرَهْنُ الْمُشَاعِ او د مشاع (غيرمنقسم) رهن جائز نه دې

حل اللغة > ① **مشاع:** خور وور،ناقابل تقسيم ② **يتناول:** شامليږی[

تشريح> عدم جواز رهن المشاع> د مشاع رهن نجائز نه دي.بلکه ضروري ده.چه دا تقسيم شوي وي. ([1])

دلائله> ① زمونږ دليل په دوه طريقو دي زمونږ په نيز د رهن حکم د يد استيفاء (د وصولولو د قبضي) ثبوت دي.او د يد استيفاء ثبوت.مشاع کښې نشي حاصليدي.نو د مشاع رهن به هم جائز نه وي.(دويم دليل لاندي دي)

② دويم دليل دي.ددي حاصل دا دي.چه د رهن مقبوض کيدل شرط دی.لکه د الله تعالى فرمان(فَرِهٰنٌ مَّقْبُوضَةٌ) په دي دلالت کوی.او د رهن مقصود هم دا واضح کوی.خکه د رهن مقصود دا دي.چه مضبوطي حاصله شي.چه راهن د قرض انکار اونکړي.بهرحال د مضبوطيا او قبضي حاصلولو دپاره ضروري ده.چه مرهون برابر مرتهن سره محبوس پاتي وی.او مرتهن ته د دين اداکولو پوري د حبس استحقاق حاصل وی.او په مشاع کښې دائمی حبس د سره کيدي نشي.خکه چه دي کښې د دويم حق موجود دي.که د مشاع رهن جائز اوګرځولي شي.نو په دي کښې مهايات (او نمبري) ضروري ده.چه يوه ورځ دا مرتهن سره وی.او په بله ورځ د راهن شريك سره وی.او دا هم دغه شان ناجائز دي.لکه څنګه که راهن د غير مشاع مرهون په باره کښې صراحت سره دا اووائي.چه مرهن به يوه ورځ مرتهن سره وی.او يوه ورځ به زما سره وی.او دا ناجائز دي.نو رومبي قول به هم جائز نه وی.هرکله چه دا خبره شوه.چه مشاع کښې به دائمی حبس فوت شي. چه دا په رهن کښې ضروري دي.نو د مشاع رهن به جائز نه وی.که دا د تقسيم قابل وی.اوکه نه وی.خکه چه حبس دائمی دواړو صورتونو کښې موجود نه دي.

د کومو څيزونو رهن ايښودل صحيح نه دي

وَلَا رَهْنُ ثَمَرَةٍ عَلٰى رُءُوسِ النَّخْلِ او جائز نه دي.د هغه ميوو رهن کومي چه په ونو کښې دی د ونو نه بغير وَلَا زَرْعٍ فِي الْأَرْضِ دُوْنَ الْأَرْضِ او نه د زمکي د فصل رهن د زمکي نه وَلَا يجوز رَهْنُ النَّخِيلِ وَالْأَرْضِ دُوْنَهَا، او نه د هغه ونو رهن کوم چه زمکه کښې دی.بغير د زمکي نه

تشريح> عدم جواز رهن الثمرة علي النخيل> هرکله چه دا صورت راپيښ شي.چه مرهون غير مرهون سره داسي متصل وی.چه د اختلاط (او ګډون) نه بغير يواخي مرهون باندي قبضه ممکن نه وی.نو دا صورت به جائز نه وی.او دي ته د مشاع درجه ورکړي شوي ده.او ناجائز شمار کړي شوي ده.دا داسي قاعده کليه ده.چه په دي باندي ډير جزئيات متفرع دی.مثلاً ① کومي ميوي چه په ونو کښې لګيدلي دی.د ونو نه بغير ددي ميوو رهن جائز نه دي. ② کوم فصل چه په زمکه ولاړ دي د زمکي نه بغير ددي فصل رهن جائز نه دي. ③ کومي ونې چه په زمکه ولاړي دی.د زمکي نه بغير ددي رهن جائز نه دي

دليله> خکه چه مرهون هغه څيز سره پيدائشی متصل دي.کوم چه مرهون نه دي.نو دا د شائع په مرتبه کښې شو.

د کومو کومو څيزونو رهن صحيح دي ؟

وَلَا يَصِحُّ الرَّهْنُ بِالْأَمَانَاتِ او صحيح نه دي رهن په بدله د امانتونو کښې كَالْوَدَائِعِ پشان د ودائعو

[1] **مذهب الشافعي رحمه الله:**-د امام شافعي رحمه الله په نيز د مشاع رهن جائز دي.خکه چه د امام شافعي رحمه الله په نيز د رهن حکم دا دي.چه دا خرخيدي شي. او دمشاع بيع جائز ده.نو ددي رهن جائز دي.

وَالْعَوَارِيّ او عاريتونو وَالْمُضَارَبَاتِ او مضاربتونو وَمَالِ الشِّرْكَةِ او د شركت د مالونو.

حل اللغة ① **الودائع:** جمع د **وديعة:** امانت ② **العوارى:** جمع د **عارية:** په خواست سره يو څيز غوښتل يا وركول

تشريح **الفرق بين الامانة والوديعة** په متن كښې د امانت او وديعت الفاظ راغلى دى دنفس مسئلې د وضاحت نه وړاندې په دې دواړوكښې فرق زده كړه هغه دا چه په وديعت او امانت كښې د عموم خصوص مطلق نسبت دې.يعنى وديعت هغه دې.كوم چه په قصد سره د بل سره كيخودې شى.يعنى په دې كښې د بل په قبضه كښې وركول مقصود وى.او امانت كښې اثبات د يد ضمنى وى.مثلاً هوا شروع شوه.او دې د زيد كپړې والوخولې.او د خالد په غيره كښې ئې اوغورځولې.نو دا امانت دې.او كه زيد په قصد سره دا كپړه خالد سره ايخودې وه.نو دا وديعت دې...كذا فى النهايه..

توضيح المسئلة اوس د متن حل كولو ته راشه وړاندې تير شوى دى.چه رهن څكه ايخودې شى.چه د مرهون نه وصولى اوشى.او مرهون مرتهن سره مضمون وى.تردې كه مرهون مرتهن سره هلاك شى.نو قرض د مذكوره حكم مطابق ساقطيږى.ددې تفصيل نه دا خبره پخپله معلومه شوه.چه كوم څيز مضمون نه وى.نو د هغې په عوض به رهن ايخودل هم جائز نه وى.

دليله څكه چه هركله دلته ضمان واجب نه دې.نو په رهن سره به د كوم څيز وصولول كولې شى. نومعلومه شوه.چه كوم څيزونه د امانت په فهرست كښې راځى.د هغې په عوض رهن جائز نه دې.د امانت په فهرست كښې كوم څيزونه راځى.نو د هغې نه بعض بيان كړې شوى دى. ① زيد د بل كس سره خپل څه څيز وديعت كيخودو.او د مودع نه ئې ددې په بدله كښې رهن اوغوښتلو.نو رهن باطل دې. ② زيد خالد ته يو څيز مستعار وركړو.او ددې په بدله كښې ئې خالد نه رهن اوغوښتلو.نورهن باطل دې.څكه چه عاريت پشان د امانت او وديعت مضمون نه وى. ③ زيد خالد ته خپل څه مال مضاربت باندې وركړو.او د هغې په بدله كښې ئې د خالد نه څه رهن اوغوښتلو نو دا رهن باطل دې. ④ د زيد او خالد په مينځ كښې شركت دې.په دوى كښې يوكس د بل نه دشركت مال په عوض رهن اوغوښتلو.نو دا عقد رهن به باطل وى.هركله چه په دې ټولو صورتونو كښې عقد رهن باطل شو.نو كله چه دا مرهون د مرتهن سره هلاك شى.نو په ده به رهن احكام نه جارى كيږى.بلكه د امانت احكام به جارى كيږى.او ضمانت به واجب نه وى.

د بيع سلم د راس المال. د بيع صرف د ثمن.
او د مسلم فيه په بدله كښې د رهن حكم

وَيَصِحُّ الرَّهْنُ بِرَأْسِ مَالِ السَّلَمِ او صحيح كيږى بيع سلم د راس المال په بدله كښې وَثَمَنِ الصَّرْفِ او د بيع صرف د ثمن په بدله كښې وَالْمُسْلَمِ فِيهِ او د مسلم فيه په بدله كښې رهن صحيح دې

تشريح **صحة الرهن براس مال السلم** د بيع سلم او بيع صرف تفصيلى بيان وړاندې تير شوې دې.په بيع سلم كښې ثمن ته راس المال ، او مبيع ته مسلم فيه، او بائع ته مسلم اليه، او مشترى ته رب السلم وائى.په بيع سلم كښې د معاقدينو د جدا كيدو نه مخكښې راس المال باندې قبضه ضرورى ده او كوم چه راس المال يا مسلم فيه مقرر كړې شوې دې.د هغې بدلول جائز نه دى.دغه شان بيع صرف كښې هم د عاقدينو د جدا كيدو نه مخكښې مخكښې په ثمن او مبيع باندې قبضه شرط ده.او د ثمن بدلول جائز نه دى.هركله چه دا تفصيل په ذهن كښې كيناستو.نو اوس واورئ چه زمونږ په نيز د راس المال په عوض او د بيع صرف د ثمن په عوض او هم دغه شان د مسلم فيه په عوض كښې رهن ايخودل

جائز دی.

الاعتراض﴿البته په دې ځاې کښې دا اعتراض کیدې شی چه دا رهن جائز نه وی.ځکه چه کله ددې په بدله کښې رهن ایخودې شې.نو ددې څیزونو بدلول به لازمیږی.یعنی راس المال بل څه مقرر دې.او ددې په بدله کښې نې بل څه ورکړل.یعنی مرهون خو حق وصولول نشو.بلکه په حق کښې تبدیلی شوه.په دې وجه امام زفر رحمه الله مذکوره رهنونه ناجائز ګرځولی دی.ځکه چه د مرهون او حق په مینځ کښې مجانست نشته.نو د استیفاءِ حق په ځاې استبدال لازمیږی؟

الجواب عنه﴿نوددې جواب دا دې چه وړاندې تیر شوی دی.چه د مرهون عیَن امانت دې.او ددې مالیت مضمون دې. نو مذکوره رهن اګرچه د خپل عین په اعتبار سره غیر جنس دې.خو د خپل مالیت په اعتبار سره غیر جنس نه دې.بلکه د مجانس حق دې.او هرکله چه رهن کښې اصل مضمون مالیت دې.نو مالیت په دواړو کښې موجود دې.نو مجانست متحقق دې.او د بدلولو اعتراض غلط دې.

که د ثمن یا راس المال په بدله کښې رهن وی.

اوهم په دې مجلس کښې هلاک شی؟

فَإِنْ هَلَكَ فِي مَجْلِسِ الْعَقْدِ او که په مجلس د عقد کښې (د بیع صرف د ثمن او د بیع سلم د راس المال په عوض) رهن هلاك شی تَمَّ الصَّرْفُ وَالسَّلَمُ نو بیع صرف او بیع سلم به تمام وی وَصَارَ الْمُرْتَهِنُ مُسْتَوْفِيًا لِحَقِّهِ حُكْمًا او مرتهن به دخپلې قرضې وصولونکې وی.په اعتبار د حکم

تشریح﴿ **صورة هلاک الرهن فی مجلس العقد**﴾ په بیع صرف کښې د ثمن په بدله کښې رهن کیخودې شو.یا د راس المال په بدله کښې رهن کیخودې شو.او تر اوسه د عاقدینو مجلس نه دې بدل شوې.چه مرهون هم په دې مجلس کښې هلاك شو.نو بیع صرف او بیع سلم به تام شمارلې کیږی.چونکه د مرتهن په قبضه کښې د مرهون هلاکیدو په وجه حکماً مرتهن پخپل قرض باندې قبضه کړې ده.نو دواړه عقد تام شو.البته که د مرهون د هلاکیدو نه مخکښې دواړه جدا شو.نو اوس دواړه عقدونه، یعنی بیع صرف او بیع سلم باطل دی.

دلیله﴿ ځکه چه ثمن او راس المال باندې نه حقیقتاً قبضه شوې ده.لکه څنګه چه ښکاره ده.او نه حکماً شوې ده.ځکه چه مرهون نه دې هلاک شوې.که هلاك شوې وې.نو حکماً به قبضه شمار کیدله.

السوال﴿که دلته څوك دا اووائی چه تاسو خو وړاندې خپل او د امام زفر رحمه الله اختلاف بیان کړې دې.چه زمونږ په نیز د راس الماله په بدله کښې او د بیع صرف د ثمن په بدله کښې رهن صحیح دې.او دلته کښې تاسو فرمایئ:چه هم په دې مجلس کښې که هلاك شی.نو عقد صرف او عقد سلم تام دې.ګنی باطل دې؟

الجواب عنه﴿ مونږ جواب ورکوو چه ددې مسئلې مطلب هم دا دې.چه رهن ددې څیزونو په بدله کښې جائز دې.خو روستو به دا څیز کتلې شی.چه مرهون هم په دې مجلس کښې هلاك شوې دې.او که نه (روستو هلاك شوې دې).که هم په دې مجلس کښې هلاك شوې وی.نو عقد تام دی.ګنی نه دې.ځکه چه هیڅ قسمه قبضه نه ده شوې.ځکه چه دواړه عقدونه به باطل وی.په نورو الفاظو کښې داسې چه دا د مخکښې اجمالی مسئلې تفصیل دې.

عادل سره د رهن ایخودو حکم

وَإِذَا اتَّفَقَا عَلَى وَضْعِ الرَّهْنِ عَلَى يَدِ الْعَدْلِ .او هرکله چه دوی دواړه (راهن او مرتهن) عادل سره په رهن ایخودو باندې اتفاق اوکړی جَازَ نو جائز دی

تشريح اتفاق العاقدين علي وضع الرهن في يدالعدل که راهن او مرتهن دواړو اتفاق اوکړو.چه رهن عادل سره کيږدی.نو دا جائز دي.امام مالك رحمه الله طرف ته دا قول منسوب دي.چه جائز نه دي ولي؟ دوی فرمائی.چه د رهن د جواز دپاره ضروری ده.چه په دي باندي د مرتهن قبضه اوشي.او دلته د مرتهن قبضه نه ده شوي.بلکه د عادل قبضه ده.چه دا د راهن د قبضي قائم مقام ده.

دليله دليل دا دي.چه لکه څنګه امام د مقتديانو او د خدائي دواړو نائب وی.دغه شان دلته کښي عادل هم د راهن اومرتهن دواړو نائب دي.او دا ځکه ضروری دي.چه د رهن مقصد پوره شي.نو هرکله چه عادل د دواړو نائب شو.نو داسي به وئيلي شی.چه مرهون کښي دوه څيزونه دی.يو ددي ذات او بل ددي ماليت، نو عادل په ذات او صورت کښي د راهن نائب دي.خو په ماليت کښي د مرتهن نائب دي.او مضمون ماليت وی.صورت او عين نه وی.خلاصه د کلام دا چه هرکله د عادل په واسطه مرهون باندي دده په ماليت کښي د مرتهن قبضه ثابته شوه.نو رهن صحيح شو.او د امام مالك رحمه الله اعتراض غلط ثابت شو.

السوال په ذکر شوی صورت کښي عادل تاوان د راهن نه ولي وصول کوی؟

الجواب علامه مرغيناني رحمه الله بيان کړی دی چي عادل د عين په حفاظت کښي د راهن نائب دي.او دا بالکل داسي ده.چه زيد د خالد سره خپل وديعت کيخودو.نو خالد مودع دي.اوس خالد سره دا وديعت هلاك شو.بيا بکر په دي وديعت کښي خپل استحقاق ثابت کړو.او د خالد نه ئي تاوان واخستلو.نو خالد به تاوان د زيد نه وصول کوی. دغه شان په دي صورت کښي هم شوی دی.

راهن او مرتهن ته د يو بل د حق باطلولو حکم

وَلَيْسَ لِلْمُرْتَهِنِ وَلَا لِلرَّاهِنِ أَخْذُهُ مِنْ يَدِهِ او مرتهن او راهن ته دا حق نشته.چه مرهون د عادل د لاس نه واخلي

تشريح عدم جواز الاخذ من العدل هغه مرهون کوم چه عادل سره ايخودي شوي دي. په دوی کښي به هيڅ يوکس ته دا حق هم نه وی.چه مرهون د عادل نه واخلي.

دليله ځکه چي په دي کښي د راهن او مرهون دواړو حق دي.د رومبی په اعتبار د عين، او د دويم په اعتبار د ماليت، نو په عاقدينو کښي به هيڅ يو کس ته دا حق نه وی.چه د دويم حق باطل کړی.نو

فَإِنْ هَلَكَ فِي يَدِهِ نو که مرهون د عادل په قبضه کښي هلاك شی هَلَكَ مِنْ ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ نو د مرتهن په ضمان کښي به هلاك وی

تشريح هلاک المرهونة في يد العدل بيا که دا مرهون د عادل سره هلاك شی.نود مرتهن په ضمان کښي به هلاك وی.او د تيرشوی تفصيل مطابق به قرض ساقطيږی.

دليله ځکه چه مرهون باندي په اعتبار د ماليت د عادل قبضه د مرتهن د قبضي قائم مقام ده.او ماليت مضمون وی.

د مکيلي او موزوني څيزونو د رهن ايخودو حکم

وَيَجُوزُ رَهْنُ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ وَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ او دراهم او دنانير اود مکيل او موزون رهن جائز دي.

تشريح جوازرهن الدراهم لکه څنګه چه نور سامانونه رهن ايخودي شی.دغه شان دراهم او دنانير او مکيلي او موزوني څيزونه هم رهن ايخودي شی.

دلیله> ځکه چه د رهن مقصد د حق وصولول دی.کوم چه په دې تولو صورتونو کښې هم ثابت دې.نو معلومه شوه.چه ذکر شوی څیزونه مرهون جوړیدې شی.او دا د رهن محل دی.

الفائدة> کیلی هغه څیزونه دی.کوم چه کیل سره اخستلې شی.او ورکولې شی.لکه په اعتبار د زمانې د رسول الله ﷺ غنم وغیره.او وزنی هغه دی.چه د هغې اخستل او ورکول په وزن او تول سره کیږی.او درهم او دینار هم اګرچه وزنی دی.خو نورڅیزونه مراد دی.او دې ته نقدین، یا حجرین یا ثمنین وئیلې شی.او درهم او دینار رهن ایخودل، او ددې نه قرض نه ادا کول، د بعضو موقعو په لحاظ سره دی.مثلاً سره او سپین زر د یوکس نه دځه مقصد دپاره واخلی.مثلاً د یوکس نه د سرو زرو هار (امیل) واخلی.دده مقصد دادې.چه دا به واپس کوم.او ددې په بدله کښې درهم یا دینار رهن کیږدی.بیا د رهن په ذکر شوی صورت کښې د مرهون د هلاکیدو په صورت کښې مختلف احکام پیدا کیږی.او مختلف صورتونه به وی.

څیز د خپل جنس په بدله کښې د رهن ایخودو حکم

فَإِنْ رُهِنَتْ بِجِنْسِهَا نو که مذکوره څیزونه ئې د خپل جنس په عوض رهن کیخودل وَهَلَكَتْ نو دا هلاك شو هَلَكَتْ بِمِثْلِهَا مِنَ الدَّيْنِ نو د خپل مثل دین په عوض به هلاك وی وَإِنْ اخْتَلَفَا فِي الْجَوْدَةِ وَالصِّيَاغَةِ اګرچه دواړه پخپل کره والی (او اصلیت) کوټه والی کښې مختلف وی.

تشریح> استوآء الجودة والصیاغة: دراهم ئې مثلاً د دراهمو په بدله کښې رهن کیخودو.مثلاً سل درهم قرض دی.چه ددې په بدله کښې سل درهمه رهن کیخودې شو.او مرهون مرتهن سره هلاك شو.نو مرتهن د خپل وصولونکې شو.اګرچه دې دراهمو کښې د کره والی (اصلیت) په اعتبار سره هیڅ فرق نشته.

دلیله> بیا هم دا د امام صاحب رحمه الله فرمان دې.ځکه امام صاحب رحمه الله فرمانی.چه کله د جنس، جنس سره مقابله وی.او د هغه څیزونو خنې وی.چه هغې کښې کموالی، زیاتوالی سره سود جوړیږی.نو په دې کښې د کره والی هیڅ اعتبار نه کیږی.او نه د قیمت اعتبار کیږی.بلکه صرف د وزن اعتبار کیږی.نو مرتهن خپل حق اوموندلو.

مذهب الصاحبین رحمهما الله> خو صاحبین رحمهما الله فرمانی.چه په ذکر شوی صورت کښې به مرتهن د سل درهمو په ځانې دومره دینار رهن ایږدی.کوم چه د سلو درهمو د قیمت برابر وی.مثلاً لس دینار، اوس به لس دینار مرهون شمارلې کیږی.راهن به هغه ته سل درهمه ورکوی.او لس دیناره به اخلی.

دلیلهما> ځکه چه دا د مرهون قائم مقام دی.

وَمَنْ كَانَ لَهُ دَيْنٌ عَلَى غَيْرِهِ او د چا چې په بل کس باندې قرض وی فَأَخَذَ مِنْهُ مِثْلَ دَيْنِهِ فَأَنْفَقَهُ نو د هغه نه ئې د خپل قرض په مثل باندې واخستل او هغه ئې خرج کړل ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ كَانَ زُيُوفًا بیا ورته پته اولګیده چې هغه خو کوټه روپئ وې فَلَا شَيْءَ لَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله نو دامام ابوحنیفه په نیز دده څه نه کیږی

تشریح> مسلك ابي حنيفة> که د زید په عمرو باندې دوه زره روپئ قرض وی زید د عمرو نه دوه زره روپئ واخستې او هغه ئې خرج کړې بیا ورته پته اولګیده چې ما ترې کومې روپئ اخستې وې هغه کوټه وې اوزما چې ورته کومې وې هغه ښې وې نو دامام ابوحنیفه په نیز د زید په عمرو باندې مزید څه حق نشته د هغه نه مطالبه اوکړی.

دلیله> دلیل دا دې چې د زید په عمرو باندې څومره عدد روپئ وې هغه ئې وصول کړی دی او جنس ئې

هم يو دې باقي كړه والي او كوته والي دا صفت دې ددې څه اعتبار نشته.

وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رحمهما الله يَرُدُّ مِثْلَ الزُّيُوْفِ او صاحبين فرمائي چې د اخستونكي به ورته د كوټه پشان واپس كړي وَيَرْجِعُ مِثْلَ الْجِيَادِ او د هغه نه به د جيدو پشان واخلي

تشريح> په مذكوره صورت كښې د صاحبينو مذهب دا دې چې زيد څنګه كوټه دراهم اخستي وو هغه شان به كوټه روپۍ د چرته نه پيدا كړي او هغه به ورته واپس كړي اودعمرو نه به مطالبه اوكړي چې ما درته څنګه كره دوه ذره روپۍ دركړې وې هغه شان به ماته راكړې.

دليلهما> دليل دا دې چې په قرض وغيره كښې صرف وزن او شمار برابرول كافي نه دي بلكه د ماليت او قيمت په اعتبار سره هم برابري ضروري ده او د دې صورت هم دا دې كوم چې صاحبين وائي.

نوټ> صاحب د الجوهرة النيرة فرمائي چې د مشهور قول مطابق امام محمد د امام ابوحنيفه سره دې.

د دوو غلامانو د رهن ايخودو حكم:

وَمَنْ رَهَنَ عَبْدَيْنِ بِأَلْفٍ او چا چه د زرو (روپو) په بدله كښې دوه غلامان رهن كيخودل فَقَضَى حِصَّةَ أَحَدِهِمَا نو په دوى كښې ئې د يو حصه ادا كړله لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَقْبِضَهُ نودده دپاره به دا حق نه وى.چه په دې باندې قبضه اوكړي حَتَّى يُؤَدِّيَ بَاقِيَ الدَّيْنِ تردې چه باقي قرض اداكړي.

تشريح> رهن عبدين ثم قضاء حصة احدهما> د زيد په خالد باندې زر روپۍ دى.زيد د زرو روپو په بدله كښې خپل دوه غلامان خالد سره رهن كيخودل.په دوى كښې د يو قيمت اووه سوه روپوۍ دې.او ددويم درې سوه روپۍ دې.زيد اووه سوه روپۍ ادا كړې او درې سوه روپۍ باقي پاتې شوې.نو آيا زيد ته دا حق شته .چه دا غلام د خالد نه واخلي.دكوم قيمت چه اووه سوره روپۍ دې؟ نو وې فرمائيل.چه زيد ته دا حق نشته.كله چه د خالد پوره قرض ادا كړي .بيا به خپل دواړه غلامان اخلي.

دليله> ځكه چه رهن د پوره قرض په بدله كښې ګير دې.نو داسې به ګڼړو چه د قرض د هر هر جزء په بدله كښې ګير دې.نو تركومه پورې چه يوه پيسه هم باقي پاتې وى.زيد ته به دا حق نه وى.چه مرهون د راهن نه واخلي.او په دې كښې دا راز هم دې.چه زيد د قرض اداكولو فكر (او غم) اوكړي.ګويا چه دا په قرض ادا كولو باندې د زيد د تيزولو يو تدبير (او چل) دې.

مثاله> اوددې مثال بعينه داسې دې.چه زيد د خالد نه دوه غلامان په زر روپۍ كښې واخستل.او اووه سوه روپۍ ثمن ئې خالد ته وركړو.نو اوس به زيد ته دا حق نه وى. چه يو غلام د خالد نه واخلي.بلكه كله چه د هغه پوره ثمن ادا كړى.هله به هغه ته مبيع حواله كولې شى.

السوال والجواب> څوكه څوك داتپوس اوكړى چه دده حصه څه څيز دې؟ نو ددې جواب ئې وركړو

حَلاروحصة كل واحد منهما..) يعنى كله چه ددوى دواړو قيمت اولګولې شو.او قرض په دوى باندې تقسيم كړې شو.نو دكوم په حصه كښې چه څومره قرض راغې هم دا دهغه حصه ده.لكه څنګه چه په ذكر شوى مثال كښې د يوحصه اووه سوه او د بل درې سوه ده.

د نيتې په راتلو باندې د رهن خرخولو د وكيل جوړولو حكم

فَإِذَا وَكَّلَ الرَّاهِنُ الْمُرْتَهِنَ أَوِالْعَدْلَ أَوْغَيْرَهُمَا فِى بَيْعِ الرَّهْنِ اوكله چه راهن مرتهن، يا عادل، يا ددوى دواړو نه بغير څوك د مرهون د بيع وكيل جوړكړې وى. عِنْدَ حُلُوْلِ الدَّيْنِ د قرض ادا كولو وخت راتلو باندې، فَالْوَكَالَةُ جَائِزَةٌ نو وكالت جائز دې.

تشریح> راهن که هرخوك وكيل جوړ كړو.چه كله د قرض ادا كولو وخت راشي.نو مرهون خرڅ كړه.او قرض ادا كړه.نو چونكه دا د خپل د بيع وكيل جوړول دي.نو ددې په جواز كښې شبه نشته.
دليله> دليل دا دې چې دا خو دې د خپل مال د خرڅولو څوك وكيل جوړول دی او هر سړې بل كس د خپل مال د خرڅولو وكيل جوړولې شي نو دا صورت جائز دې

كه عقدكښې د وكالت شرط وي نو د وكيل معزول كولو حكم

فَإِنْ شُرِطَتِ الوكـالة فِي عَقْدِ الرَّهْنِ اوكه وكالت په عقد رهن كښې شرط شوې وی فَلَيْسَ لِلرَّاهِنِ نو راهن ته دا حق نشته عُزله عنها چه وكيل د هغې نه معزول كړی ،فَإِنْ عَزَلَهُ لَمْ يَنْعَزِلْ .اوكه دا نې معزول كړو.نو دا به نه معزول كيږی.

تشريح> شرطية الوكالة في عقد الرهن> كه په رهن كښې وكالت شرط كړې شو.نو اوس به دا لازم وی.نوكه راهن اوغواړی.چه وكيل معزول كړم.نونشي كولې.او كه معزول ئې كړی.نو وكيل به نه معزول كيږی.
دليله> څكه چه اوس وكالت د عقد رهن د حقوقو څنې يو حق جوړ شوې دې.چه دا د رهن د لزوم په وجه لازميږی.څكه چه د وكالت د شرط مقصد د مضبوطئ زياتوالې دې.او دويمه وجه دا هم ده.چه اوس ددې سره د مرتهن حق متعلق شوې دې.او د وكيل په معزولولو كښې د مرتهن د حق ابطال دې.چه ددې راهن ته حق نشته.
مثاله> ددې مثال بالكل داسې دې.چه مدعی د مدعی عليه نه مطالبه اوكړله.چه عدالت كښې د جواب وركولو دپاره څوك وكيل كړه. په دې سره مدعی عليه څوك وكيل جوړكړو.نو اوس به مدعی عليه ته حق نه وی.چه د مدعی د علم نه بغير وكيل معزول كړی.څكه چه ددې سره د مدعی حق متعلق شوې دې.دغه شان د رهن وكيل سره هم د مرتهن حق متعلق شوې دې.خو په دې دواړو كښې دومره فرق دې.چه د رهن په صورت كښې راهن ته د وكيل معزول كولو حق صرف هغه وخت وی.كله چه مرتهن راضی شی. او په وكيل بالخصومت كښې د مدعی رضامندی ضروری نه ده.بلكه د هغه علم ضروری دې.

د راهن په مرګ باندې د وكيل معزول حكم

وَإِنْ مَاتَ الرَّاهِنُ لَمْ يَنْعَزِلْ ايضاًاوكه راهن مړ شو.نو هم وكيل به نه معزول كيږی

تشريح> صورة موت الراهن> لكه څنګه چه په ذكر شوی دواړو صورتونو كښې وكيل نه معزول كيږی.دغه د راهن په مرګ سره هم نه معزول كيږی.
دليله> څكه چه د راهن په مرګ سره رهن هم نه باطليږی.نو حقوق د رهن به هم نه باطليږی. اود موكل په مرګ سره چه وكالت كله هم باطليږی.د وارثانو د حق په وجه كيږی.څكه چه ملكيت وارثانو طرف ته منتقل كيږی.خو دلته كښې دا هم نشې كيدې.څكه چه د مرتهن حق په وارثانو باندې مقدم دې.

وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يُطَالِبَ الرَّاهِنَ بِدَيْنِهِ وَيَحْبِسَهُ بِهِ

صورة المسئلة> د مرهون څيز د مرتهن سره موجود دې او راهن قرض نه دې ادا كړې او مرهون څيز واپس غواړی نود مرتهن حق دې چې د خپل قرض مطالبه د راهن نه اوكړی اوتر كومې پورې چې هغه قرض نه وی ادا كړې مرتهن مرهون څيز څان سره اوساتی.
دليله> وجه دا ده چې د مرتهن سره د مرهون څيز كيخودلو مقصد وثيقه وه.چې مرتهن د خپل قرض په وصولئ باندې مطمئن وی كه قرض ورته ورنكړی نو شئ مرهون به په قرض كښې واخلی اوس چې

راهن د قرض ادا کولو نه وړاندې د شئ مرهون مطالبه کوی نو دده دا مطالبه جائز نه ده د دې وجې مرتهن ته حق حاصل دې چې مرهونه ورنکړی.

(وَإِنْ كَانَ الرَّهْنُ فِيْ يَدِهٖ فَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُمَكِّنَهُ مِنْ بَيْعِهٖ حَتّٰى يَقْبِضَ الدَّيْنَ مِنْ ثَمَنِهٖ)

تشریح که چې د مرتهن سره موهونه موجوده وی نو په مرتهن باندې لازمه نه ده که راهن خپل څيز خرڅوی چې هغه ته په مرهونه باندې قدرت ورکړی چې خرڅ ئې کړی تردې چې د هغې څيز مرهون د پيسو نه خپل قرض وصول کړی

دليله دليل دا دې چې په مرهونې پورې د مرتهن حق متعلق دې نو هغه ته ترهغه وخته پورې دمرهونې خپل ځان سره د ساتلو حق شته ترڅو چې هغه ته خپل قرض نه وی ملاؤ شوې د دې وجې په مرتهن باندې لازمه نه ده چې راهن ته د خرڅ دپاره د هغه څيز ورکړی.

د راهن مرهونه څيز د مرتهن د اجازت نه بغير د خرڅولو حکم

(وَإِذَا بَاعَ الرَّاهِنُ) الرَّهْنَ بِغَيْرِ إِذْنِ الْمُرْتَهِنِ او کله چه راهن د مرتهن د اجازت نه بغير، مرهون خرڅ کړو فَالْبَيْعُ مَوْقُوْفٌ نو بيع موقوف ده

تشريح توقف بيع الراهن بغير اذن المرتهن اصول دا دې.که يوڅيز سره د يوکس حق متعلق شی.نو ترکومه پورې چه هغه کس اجازت ورنکړی. دچا چه دې څيز سره حق متعلق شوې دې.تر هغه پورې به د مالك تصرف په دې کښې نه نافذ کيږی.لکه مثلاً يو کس د خپل پوره مال وصيت اوکړو.نو چونکه دې مال سره د وارثانو حق متعلق دې.په دې وجه د دريمې حصې نه زيات کښې به د وصيت د نفاذ دپاره د وارثانو اجازت پکار وی.دغه شان مرهون سره د مرتهن حق متعلق دې.نو ترکومه پورې چه مرتهن اجازت ورنکړی.د راهن بيع به نه نافذ کيږی.بلکه موقوف به وی.اګرچه راهن پخپل ملك کښې تصرف کوی.

دليله ځکه چه توقف د مرتهن د حق په وجه وو.اومرتهن خپل حق پورته کړو.نو بيع به جائز وی.

(فَإِنْ أَجَازَ الْمُرْتَهِنُ جَازَ)نو که مرتهن اجازت ورکړو.نو بيع جائز ده

تشريح جواز البيع بالاذن او کله چه مرتهن اجازت ورکړی.نو بيع به صحيح وی.

دليله ځکه چه توقف دده د حق په وجه دې او هغه پخپل حق ساقطولو باندې راضی شو

که راهن د مرتهن دين اداکړونو د بيع حکم

(وَإِنْ قَضَاهُ الرَّاهِنُ دَيْنَهٗ جَازَ أَيْضًا)اوکه راهن د مرتهن قرضه ادا کړله نو بيا هم بيع جائز ده

تشريح جاز بيع الرهن عند اداء الدين که راهن د مرتهن قرضه ادا کړله.نوبيع جائز شوه

دليله ځکه چې د مرتهن حق مرهون سره د قرض په وجه متعلق دې.اوچې هغه قرض ادا کړو نو مانع ختم شو. په دې وجه به بيع جائز شوه.

السوال که څوك دا اووائی چه صرف د مانع په زوال سره خو مسئله نه حل کيږی.ترکومه پورې چه مقتضی موجود نه وی؟

الجواب نومونږ وايو چه مقتضی د مخکښې نه موجود ده.ځکه چه مرهون محل د بيع دې.ځکه چه دا د راهن مملوك دې.او راهن د عاقل بالغ کيدو په وجه د بيع اهل دې.نو هرکله چه مانع ختم شو.نو مقتضی به خپل کار(عمل) کوی.

د راهن په آزادولو سره مرهون غلام آزادیږي او که نه؟

(وَاِن اَعْتَقَ الرَّاهِنُ عَبْدَ الرَّهْنِ او که راهن د رهن غلام آزاد کړو نَفَذَ عِتْقُهُ نو دده عتق (آزادول) به نافذ کیږي

تشریح> نفاذ عتق الراهن الرهن - که راهن مرهون غلام خرڅ کړي.نو دده بیع موقوف وي.،، کمامر،، خو که راهن مرهون غلام آزاد کړي. نوڅه حکم دې؟ نو وي فرمائیل.چه دې کښې اختلاف دې.نو آزادونکې که مالدار وي.اوکه غریب وي.نافذ کیږي.او غلام آزادیږي.دویمه خبره دا ده.چه دواړو صورتونو کښې به جدا جدا احکام جاري کیږي.خو عتق صحیح دې.

دلیله> عتق (آزادي) مطلق جائز او نافذ ګرځولې ده.ددې دلیل دا دې.چه راهن عاقل بالغ دې.چه د شرعي احکامو مخاطب او مکلف دې.او دې خپل مملوك آزاده وي.نو د مرتهن اجازت نه ورکولو په وجه به دده تصرف لغوه نه وي. (۱)

السوال> که څوك دا اعتراض اوکړي چه مالك اګرچه راهن دې.خو دده قبضه نشته.نو عتق هم نافذ کول پکار نه دي؟

الجواب> نو جواب دادې چه قبضه د بیع دپاره ضروري وه.چه په سپارلو باندې قدرت حاصل شي.او په آزادولو کښې د سپارلو دسره ضرورت نشته.نو د قبضې نه بغیر به عتق نافذ وي.ددې دري مثالونه واوري:① زید یو غلام د بکر نه واخستلو.او اوسه پورې زید په غلام باندې قبضه نه ده کړې.چه ددې نه مخکښې ئې غلام آزاد کړو.نو عتق نافذ دې.اګرچه غلام باندې قبضه نشته.② د زید غلام اوتختیدو.او زید هغه آزاد کړو.نو عتق به نافذ وي.اګرچه غلام دده په قبضه کښې نشته.③ زید د بکر غلام غصب کړو.او بکر په دې حال کښې دې آزاد کړو.نو عتق به نافذ وي.حالانکه په دې دریو واړو مثالونو کښې په وخت د اعتاق قبضه نشته.دغه شان به مرهون هم آزادیږي.اګرچه قبضه نه وي.بهرحال دلته کښې راهن خپل ملك کښې تصرف کړې دې.او په دې کښې هیڅ شبه نشته.چه مرهون د راهن ملکیت دې.ګنې که ملکیت ئې نه وې.نو ددې ځان سره ساتل به هم صحیح نه وو.رهن صحیح کیدل پخپله د ملك د قیام تقاضه کوي.او د رهن د عارض په وجه چه مرتهن ته قبضه د استیفاء حاصله شوه.په دې سره به ملك نه زائل کیږي.

د غلام په آزادیدو سره به د مرتهن قرضه څنګه وصولولې شي؟

فَاِن كَانَ الدَّيْنُ حَالًّا که ا قرض فی الحال ادا کول واجب وي طُولِبَ بِاَدَاءِ الدَّيْنِ نو د راهن نه به د قرض ادا کولو مطالبه کولې شي

تشریح> مطالب اداء الدین من المرتهن> موجوده مسئله خو صاحب د قدوري رحمه الله بغیر د قید د مالدارئ او غریبۍ نه ذکر کړې ده خو صاحب د هدایه په دې کښې د مال او غریب تقسیم کړې دې او فرمائیلي یې دي راهن که مرهون غلام آزاد کړو.نو دې آزاد شو.خو په دې کښې ښکاره د مرتهن تاوان دې.په دې وجه به حکم ورکولې شي چه اوس اوګوره.چه راهن غریب دې.اوکه مالدار دې.که مالدار وي.بیا

---

(۱) د امام شافعي رحمه الله په دې کښې دري اقواله دي① که آزادونکې مالدار دې.نو عتق به نافذ وي.او که غریب وي.نو نه به نافذ کیږي.هم دا مرغیناني رحمه الله بیان کړې دې.② دویم قول ئې د احنافو موافق دې چه مطلق عتق نافذ کیږي. ③ مطلق عتق نه نافذ کیږي.که راهن مالدار وي.اوکه غریب وي.ځکه چه هرکله دده بیع نه نافذ کیږي.نو عتق به په درجه اولي نه نافذ کیږي.علامه مرغیناني دې دوه اقوالو ته اشاره کړې ده

اوګوره.قرض فی الحال ادا کول واجب دی.او که نیته دار(میعادی) دي.ځکه چه د هرصورت احکام جدا جدا دی. که آزدونکي مالدار وی.او قرض فی الحال ادا کول واجب وی.نو راهن نه به د دین ادا کولومطالبه کولې شی.

دلیله> ځکه که قیمت واخستلې شو.او قیمت او قرض د یو جنس ځني وی.نو د قرض په اندازه به مقاصه کیږی.او که په قیمت کښې څه زیاتی دې.نو هغه به راهن ته واپس کولې شی.نو په قیمت واجبولو کښې هیڅ فائده او نشوه.په دې وجه به د قرض ادا کولو مطالبه کولې شی.

السوال> که څوك آووائی چه د مرهون د عوض یعنی د قیمت مطالبه کول پکار دی؟

الجواب> مونږجواب ورکوو چه دلته چونکه د قرض ادا کولو وخت راغلې دې.نو اوس به د قیمت د مطالبې هیڅ فائده نه وی.

وَإِنْ كَانَ مُؤَجَّلًا او که قرض مؤجل (نیته دار) وی أُخِذَ مِنْهُ قِيمَةُ الْعَبْدِ نو د راهن نه به دغلام قیمت اخستلې شی فَجُعِلَتْ رَهْنًا مَكَانَهُ او قیمت به د غلام په ځائې رهن کولې شی حَتَّى يَحِلَّ الدَّيْنُ تردې چه د قرض ادا کولو وخت راشی

تشریح> **اخذ قیمة العبد في صورة تاجیل الدین**> او که قرض میعادی (نیته دار) وی.نو راهن نه به د غلام قیمت وصولولې شی.او د مرهون په ځائې به ایږدلې شی.او د قرض ادا کولو وخته پورې به دا قیمت رهن وی.بیا کله چه د قرض ادا کولو وخت راشی.نو که قیمت او قرض د یو جنس ځني وی.یعنی دواړه دراهم وی.یا دنانیر وی.نو مرتهن به ددې قیمت نه خپل حق وصول کړی.بیا که قیمت د قرض نه زیات وی.نو زیاتی دې راهن ته واپس کړی.اوکه کم وی.نو کمې دې د راهن نه وصول کړی.اوکه قیمت او قرض خلاف جنس وی.نو نه به وصوله وی.بلکه قیمت به خان سره ګیر ساتی.تردې چه راهن دده قرضه ادا کړی.یا قاضی د وصولولو حکم ورکړی.

دلیله> اوپاتې شو په راهن باندې د ضمان وجوب اوددې فائده نو ددې وضاحت دا دې ضمان خو ځکه واجب شو.چه ده مرهون آزاد کړې دې.او د مرتهن ید استیفاء ئې زائل کړې دې.نو دا د ضمان سبب دې.اود دې فائده دا ده.چه په دې سره به د مرتهن د قرض وصولولو دپاره مضبوطی حاصلیږی.خو دا حکم هغه وخت دې.کله چه راهن مالدار وی.اوکه دې غریب وی.نو ددې حکم دا دې.کوم چه راروان دې.

که راهن غریب وی نو غلام به پخپل قیمت کښې سعی کوی

(وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا اوکه راهن غریب وی اسْتَسْعَى الْعَبْدُ فِي قِيمَتِهِ نو غلام به پخپل قیمت کښې سعی (مزدوری) کوی فَقَضَى بِهِ الدَّيْنَ او په دې مزدورئ سره به قرض ادا کولې شی

تشریح> **صورة اعسار الراهن**> که راهن غریب وی.نو مرتهن دې آزاد شوې غلام اونیسی.او په ده دې مزدوری کوی.چه په دې مزدورئ سره د مرتهن قرض ادا شی.اوس دلته قدرتی طور باندې دوه سوالونه پیدا کیږی.چه غلام به مزدوری ولې کوی.او څومره به کوی.ددې بیان دا دې:

دلیله>مزدوری به ددې دپاره کوی.چه د راهن د غریب کیدو په وجه مرتهن د هغه نه خپل حق نشی وصولولې.نو د مجبورئ په وجه به دا غلام ګرفتارولې شی.ځکه چه د هغه د عتق نه فائده اخستونکې هم دا غلام دې.ځکه چه نفع حاصلول په اندازه د ضمان وی.یعنی د آزادئ نفع حاصلولو سره به په ده باندې قیمت واجب وی.په نورو الفاظو کښې داسې چه حاصلات او منافع د ضمان په وجه دی.

توضیح سعي العبد> اوس پاتې شوه دا خبره چه څومره مزدوری به کوی؟ نو ددې جواب دا دې.چه قیمت

او قرض کښې چه کوم يو کم وی.د هغې برابر مزدوری به په ده لازم وی.يعنې که قرض کم وی.نو د قرض په مقدار، اوکه قيمت کم وی.نو د قيمت په مقدار به مزدوری کوی.(يعنې نفع به حاصله وی).په دې وجه صاحب دهدايه رحمه الله په دې مقام کښې تفسير کړې دې .چه دا ونيلې شوی دی. (سعٰی العبد فی قيمته) دا هغه وخت دې.کله چه قيمت د قرض نه کم وی.

مرتهن به پخپل ادا شوی رقم سره راهن باندې رجوع کوی

(ثُمَّ يَرْجِعُ الْعَبْدُ)بيا به غلام رجوع کوی عَلَى الْمَوْلٰى خپل مولى ته

تشريح > رجوع الغلام علي الراهن بالقيمة > په رومبی صورت کښې چه مرهون غلام کومه مزدوری کړې ده.او د راهن قرض ئې ادا کړې دې.نو آيا دې دا قرض د راهن نه واپس اخستلې شی؟ نو فرمائی.چه اخستلې شی.کله چه راهن مالدار شی.نو واپس دې واخلی.

دليله > ځکه چه دلته کښې غلام په حکم د شريعت د مجبورئ او ضرورت په وجه د راهن قرض اداکړې دې.نود ذکرشوې قاعدې په وجه به واپسی جائز وی. (په دې مسئله کښې د مزيد د تفصيل دپاره هدايه اوګورئ) .

که راهن مرهون هلاک کړو نو څه حکم دې ؟

وَكَذٰلِكَ اِنِ اسْتَهْلَكَ الرَّاهِنُ الرَّهْنَ او هم دغه شان (به په راهن باندې ضمان واجب وی) کله چه راهن رهن هلاک کړې وی .

تشريح > حکم استهلاک راهن الرهن > که راهن مرهون هلاک کړو.نو ددې هلاکولو حکم هغه دې.کوم چه د راهن د ازادولو حکم دده په مالدارئ کښې وی.يعنې که قرض فی الحال واجب دې.نو دده نه به پوره قرض وصولولې شی.اوکه قرض نيټه دار وی.نو د مرهون قيمت به د راهن نه اخستلې شی.او دا قيمت به د (قرض ادا کولو) نيټې راتلو پورې مرتهن سره رهن وی.

دليله > ځکه چه د مرتهن حق محترم حق دې.چه ددې د هلاکولو په وجه ضمان لازميږی.او دا ضمان به مرتهن سره ځکه پروت وی.چه دا د عين مرهون قائم مقام دې.

که مرهون بل چا هلاک کړونوضامن به څوک وی؟

(وَاِنِ اسْتَهْلَكَهٗ اَجْنَبِيٌّ نو که مرهون چا اجنبی (غيرکس) هلاک کړې وی فَالْمُرْتَهِنُ هُوَالْخَصْمُ فِي تَضْمِيْنِهٖ نو د اجنبی په ضامن جوړولو کښې به مرتهن خصم وی فَيَاْخُذُ الْقِيْمَةَ نو مرتهن به قيمت اخلی فَيَكُوْنُ الْقِيْمَةُ رَهْنًا فِي يَدِهٖ او دا قيمت به د مرتهن په قبضه کښې رهن وی وَالْوَاجِبُ عَلٰى هٰذَا الْمُسْتَهْلِكِ او په دې هلاکونکی باندې به د مرهون هغه قيمت واجب وی قيمته يوم هلک کوم چه د هلاکت په ورځ ددې قيمت دې فَاِنْ كَانَتْ قِيْمَتُهٗ يَوْمَ اسْتَهْلَكَهٗ خَمْسَمِائَةٍ نو که د هلاکولو په ورځ د مرهون قيمت پنځه سوه وی وَيَوْمَ رَهَنَ اَلْفًا او د رهن په ورځ زر (روپئ) وی غَرِمَ خَمْسَمِائَةٍ نو هلاکونکې به د پنځو سوو تاوان ادا کوی وَكَانَتْ رَهْنًا وَسَقَطَ مِنَ الدَّيْنِ خَمْسُمِائَةٍ او دا قيمت به رهن وی.او په قرض کښې پنځه سوه ساقط شوې

تشريح > حکم استهلاک اجنبي الرهن > که د مرهون په ځائې د راهن نه علاوه بل چا اجنبی سرې دا هلاک کړو.نو په دې اجنبی به ضمان واجب وی.خو ددې اجنبی نه به تاوان مرتهن وصوله وی.يعنې د اجنبی نه

به مرتهن قیمت وصوله وی.او خپل ځان سره به نې رهن ایږدی.

دلیله او مرتهن تاوان ځکه ورکوی که مرهون موجود وې.نو ددې زیات حقدار به مرتهن وو.نو کوم څیز چه د مرهون قائم مقام دې.د هغې د واپس اخستلو حقدار به هم مرتهن وی.

قیمة اي یوم یجب علي المستهلک؟ اوس سوال پیدا شو.چه د اجنبی نه به څومره تاوان اخستلې شي؟ نو ددې جواب نې ورکړو.چه په کومه ورځ اجنبي مرهون هلاک کړو.دغه ورځ چه د مرهون کوم قیمت وی.دغه اومره تاوان به د اجنبی نه اخستلې شي.مثلاً د رهن ایخودو په ورځ قیمت زر روپۍ دې.او قرض هم اتفاق سره زر روپۍ دی.او د هلاکت په ورځ د مرهون قیمت پنځه سوه روپۍ دې.نو په اجنبی به صرف د پنځو سوو روپو تاوان واجب وی.او دا پنځه سوه روپۍ به مرتهن سره رهن وی.او د قرض نه به پنځه سوه روپۍ ساقطیږی.یعنی اوس راهن باندې صرف پنځه سوه روپۍ قرض پاتې.شو.چه ددې عوض اوس دا قیمت دې.کوم چه مرتهن سره ایخودې شوې دې.

که مرهون مرتهن سره هلاك شي.که د مرتهن په هلاکولو سره هلاك شوې وی.او که د آسمانی آفت په وجه هلاك شوې وی.نو د مرهون د قیمت په اندازه به قرض ساقطیږی.،،کمامر،،نو دلته اګرچه پوره مرهون هلاك نشو.بلکه نصف هلاك شو.ځکه چه پنځه سوه روپۍ مرتهن ته د اجنبی نه ملاؤ شوې دی.نو څومره قیمت چه کمولو سره هلاك شوې دې.هغه هلاك شو.او که کمې به د مرتهن په ذمه وی.نو داسې به ګڼلې شي.چه مرتهن سره د پنځو سوو روپو په اندازه هلاك شوې دې.نو دومره به دده قرض ساقطیږی.ځکه که اجنبی هلاك کړې وو.نو په هغه د هلاکت د ورځې ضمان واجبیږی.چه هغه ده ورکړو. و مرتهن باندې د قبضې د ورځې د قیمت ضمان واجبیږی.او د خلاصولو د ورځې د قیمت اعتبار کیږی ځکه چه د مرتهن قبضه د استیفاء قبضه وی.نو مرهون د مرتهن په ضمانت کښې د رهن په وخت داخل شوې دې.او اوس ددې قیمت کم شوې دې.او نیم پاتې شوې دې.نو د باقی ضمان به مرتهن باندې باقی پاتې شو.او ددې په اندازه د مرتهن قرض ختم شو.او پنځه سوه باقی پاتې شو.

د راهن په مرهون باندې جنایت مضمون دې

(وَجِنَايَةُ الرَّاهِنِ عَلَى الرَّهْنِ مَضْمُونَةٌ)او د راهن جنایت په مرهون باندې مضمون وی

حل اللغة ① **جنایة**:ګناه،جرم

تشریح **جنایة الرهن مضمونة** که مرهون باندې راهن څه جنایت اوکړو.نو راهن باندې به ددې تاوان ادا کول لازمی وی.

دلیله ځکه چه بعضو صورتونو کښې مالك د اجنبی پشان جوړیږی.او په ده باندې ضمان واجبیږی.

القاعدة ددې دپاره قاعده کلیه دا ده.که د یوکس مال سره د بل چا حق متعلق شو.نو اوس مالك د اجنبی پشان شو.نو که یوکس د مرض الموت مریض دې.هغه د خپل مال مالك دې.خو دده د مال سره د وراثانو حق متعلق شوې دې.په دې وجه د ثلث نه زیات کښې به دده تبرعات صدقه، وصیت وغیره نه نافذ کیږی.یعنی د ثلث نه زیات کښې دې د اجنبی په مثل شوې دې. دغه شان به په راهن باندې هم ضمان واجب وی

په مرهون د مرتهن جنایت په اندازه دجنایت قرض ساقطه وی

(وَجِنَايَةُ الْمُرْتَهِنِ عَلَيْهِ تُسْقِطُ مِنَ الدَّيْنِ بِقَدْرِهَا)او په مرهون باندې د مرتهن جنایت (جرم) په اندازه د جنایت دده قرض ساقطه وی

تشریح **سقوط الدین بقدر الجنایة** که مرتهن په مرهون باندې جنایت اوکړو.نو د جنایت په اندازه به

قرض ساقطیږي.یعنی کله چه قرض او ضمان د یو جنس خني وي.او که قرض مثلا مکیلي یا موزوني څیزونه وي.نو قرض به نه ساقطیږي.بلکه په مرتهن به ددې ضمان واجبولې شي.او دا ضمان به هم مرهون کولې شي.بیا کله چه راهن قرض ادا کړي.نو راهن به د مرتهن نه مرهون سره د ضمان نه واپس اخلي.

دلیله> په مرتهن باندې د ضمان د وجوب وجه دا ده.چه مرهون د راهن ملك دې.چه په ده باندې مرتهن تعدی کړې ده.نو ددې تعدی په وجه به په ده باندې ضمان واجب وي.

په راهن او مرتهن او ددوی دواړو په مال د رهن د جنایت مسئله

(وَجِنَايَةُ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ وَالْمُرْتَهِنِ وَعَلَى مَالِهِمَا هَدَرٌ (١) او په راهن او مرتهن او ددوی په مال باندې د مرهون جنایت عبث (او غیر معتبر) دې وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دې رحمه الله وَقَالَا جِنَايَتُهُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ مُعْتَبَرَةٌ او صاحبین رحمهما الله فرمائي.چه دمرهون په مرتهن باندې جنایت معتبر دې وَالْمُرَادُ بِالْجِنَايَةِ عَلَى النَّفْسِ مَا يُوجِبُ الْمَالَ او په نفس باندې د جنایت نه مراد هغه جنایت دې.کوم چه مال واجبه وي أَمَّا الْوِفَاقِيَّةُ فَلِأَنَّهَا جِنَايَةُ الْمَمْلُوكِ عَلَى الْمَالِكِ بهرحال اتفاقي مسئله،نو دا ځکه چه دا د مالك او مملوك جنایت دې أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ مَاتَ كَانَ الْكَفَنُ عَلَيْهِ آیا تاسو نه ګورئ.که غلام مرهون مړشي.نو کفن به په راهن باندې وي

تشریح> هدر الجناية علي الراهن والمرتهن> که غلام مرهون په راهن یا مرتهن باندې جنایت اوکړو.نو ددې څلور صورتونه دي ① مرهون، راهن یا مرتهن په قصد سره قتل کړو.نو په دې کښې به مرهون باندې قصاص واجب وي. ② مرهون، راهن یا مرتهن خطاء قتل کړو.نو دلته به غلام مرهون باندې هیڅ ضمان نه وي.③مرهون د راهن یا مرتهن بعض اندامونه کټ کړل.چه دې سره هغه هلاك نشو.خوبه مشقت کښې راګیر شو.په دې کښې به هم مرهون باندې هیڅ ضمان نه وي.④ مرهون د راهن یا مرتهن مال ضائع کړو.په دې کښې به هم ضمان واجب نه وي.دا تفصیل د امام ابوحنیفه رحمه الله د مذهب مطابق دې.

دلیله> د امام صاحب رحمه الله دلیل دا دې.چه مرهون دا جرم د مرتهن په ضمانت کښې کړې دې.نو ددې جرم د عیب (او بدنامۍ) نه خلاصول به د مرتهن په ذمه وي.نو یو طرف خو دې مرتهن دپاره ضمان وي.او بل طرف دې مرتهن باندې ضمان وي.په دې کښې به هیڅ فائده نه وي.په دې وجه ددې جنایت اعتبار اونکړې شو.دا خبره خو د مرتهن د نفس په جنایت کښې وه.

مذهب الصاحبین> البته صاحبین ورسره په دې صورت کښې مختلف دی چې مرهون د مرتهن په نفس باندې جنایت اوکړی دوی د جنایت اعتبار کوی.پاتې شوه دا خبره چه مرهون غلام د راهن ملك دې؟ نو ددې دلیل دا دې چه که مرهون غلام مړشی.نو ددې کفن به راهن باندې واجبیږي.نودا ددې خبرې دلیل دې.چه راهن دده مالك دې.نود شارح مقصد دا دې که د مملوك نقصان ني اوکړو.نو ضمان به واجب نه وي؟

دلیلهما> دلیل دا دې.چه دلته د مرهون په مرتهن باندې جنایت مالك باندې جنایت نه دې.ځکه چه مالك خو راهن دې.اودلته که جنایت معتبر اومنو.نو په دې کښې فائده ده.ځکه چه د جنایت په وجه به

---

(١) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (٤٨\٤) وملتقى (٣٠٠\٤) وكشف الأستار(٢٧٦\٢) نقلاً عن القول الراجح (٣٣١\٢)-

مرهون غلام مرتهن ته ملاویږی.اګرچه ددې په وجه به د مرتهن قرض خو ساقط شی.خو کله د غلام مالك جوړیدل عین مقصود وی.ځکه که هغه په دې کښې فائده اوګنړی.نو وادیخلی.اګرچه قرض به ساقط شی.خو مقصود حاصلیږی.او که هغه په دې کښې منفعت اونګنړی.نو نه دې اخلی.اونو چې کله مرتهن په جنایت کښې مرهون قبول کړی نو خبره ټیك ده او که مرتهن دا اووائی.چه ماته د جنایت تاوان پکار نه دې.نو بیا به غلام پخپل حال باندې مرهون پاتې وی.

حکم الجناية علي المرتهن عند استواء الدين والمرهون او که مرهون د مرتهن په مال باندې جنایت اوکړی.نو ددې مختلف صورتونه دی.په هغې کښې یو دا دې.چه کله د مرهون قیمت او قرض برابر وی.نو په دې صورت کښې به بالاتفاق جنایت معتبر نه وی.ځکه چه د جنایت اعتبار کولو کښې هیڅ فائده نشته.ځکه چه دې به د جنایت په وجه د غلام نه مالك کیږی. بلکه د قرض په وجه ده ته د غلام د مالیت استحقاق حاصل دې.نو د جنایت په اعتبار کولو کښې څه فائده شوه؟ حالانکه د جنایت اعتبار کولو نه بغیر مرتهن د غلام د مالیت مستحق شوې دې.او دلته کښې اصل فائده د غلام مالك کیدو کښې وه.چه دا به ده ته نه حاصلیږی.بلکه د مالیت د استحقاق په وجه به ده ته دا حق وی.چه غلام خرڅ کړې شی.چه ددې نه مرتهن خپل قرض وصول کړی.اوکه د جنایت اعتبار اوکړې شی.بیا به هم دا نتیجه راوځی. په دې کښې نور صورتونه هم دی د هغې د تفصیل دا مقام نه دې که څوك خواهش لری نو زما عاجز شاه فیصل شرح تسهیل الهدایه دې اوګوری.

د مرهونه څیز د حفاظت د اجرت مسئله

وَأُجْرَةُ الْبَيْتِ الَّذِي يُحْفَظُ فِيهِ الرَّهْنُ او د هغه کور اجرت په کوم کښې چه د مرهون حفاظت کولې شي عَلَى الْمُرْتَهِنِ دمرتهن په ذمه دې وَأُجْرَةُ الرَّاعِي عَلَى الرَّاهِنِ او د څرونکی اجرت په راهن دې وَنَفَقَةُ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ او د مرهون نفقه د راهن په ذمه ده

تشریح داصل مسئلې بیانولو نه وړاندې یوه قاعده یاده کړئ هغه دا چې چه کوم څیز د حفاظت د باب څنې وی .هغه خو د مرتهن په ذمه دې.اوکوم څیز چه د اصلاح او د باقی پاتې کیدو د باب څنې وی.هغه به د راهن په ذمه وی.نو قاعده کلیه دا ده.اوپه هرصورت کښې حکم دغه دې.که د رهن قیمت د قرض نه زیات وی.نوهم. اوکه کم وی.نو بیا هم.نو په کمره کښې چه دا ایخودې شوې وی.دا خبره د حفاظت څنې ده.او دغه شان د څوکیدار مقرر کول هم د باب د حفاظت څنې دی.

اجرة البيت علي المرتهن وړاندې دا خبره تیره شوې ده.چه مرهون مرتهن سره محبوس (ګیر) وی.نوپه کوم کور کښې چه ددې حفاظت کولې شی.د هغې کرایه به څوك ورکوی.دغه شان.د دې د راعی او د مرهون نفقه به په چا باندې وی نو د تیرې شوې قاعدې په رڼا کښې نو د کور کرایه او د څوکیدار مزدوری به مرتهن باندې واجب وی.او د څرونکی اجرت او د مرهون نفقه او کپړه ټول به د راهن په ذمه وی.

دلیله اوددې وجه داده.چه د مرهون عین د راهن ملکیت دې.او منافع د مرهون هم د راهن ملکیت دی.او ملکیت دپاره چه کوم څیز د اصلاح او د باقی پاتې کیدو دپاره وی.هغه د مالك په ذمه واجب وی.هم دا وجه ده.چه په خالص ودیعت کښې هم د اصلاح او بقاء څیزونه د مالك په ذمه وی.

السوال که څوك دا اعتراض اوکړی چه راعی(څرونکې) چه څنګه څاروې څروی.نو ددې حفاظت هم کوی.نو د څرونکی اجرت دواړو باندې کیدل پکاردی؟

الجواب نود دې جواب دا دې چه د څرونکی اصل مقصد څرول دی.چه دا د اصلاح او د بقاء د باب څنې دی.او حفاظت ضمنی څیز دې.په دې وجه به د څرونکی پوره اجرت د راهن په ذمه وی.

السوال الثاني کہ څوك دا اووائی چه ددې څه دلیل دې.چه د څرونکی اصل مقصد حفاظت نه دې؟

الجواب نوموړی د دې جواب کوو کہ یوکس د چراګاه نه څاروې پټ (غلا) کړی.نو د هغه لاس به نشی کټ کولې. کہ څرونکې محافظ وې.نو د محفوظ مقام نه د غلا کولو په وجه به لاس کټ کیدو.

د رهن زیاتیدل د راهن حق دې

وَنَمَاءُهُ لِلرَّاهِنِ او د مرهون زیاتیدل د راهن دی، فَیَکُوْنُ النَّمَاءُ رَهْنًا مَعَ الْأَصْلِ نو زیاتیدل به اصل سره رهن وی

حل اللغة ① **التمر**:قجوري ② اللبن: پی:]

تشریح **نماء الرهن للراهن** کہ په مرهون کښې د میوې، یا پی، یا وړی، یا د بچی پیدا کیدو په وجه زیاتې اوشو.نو ددې مالك به راهن وی.

دلیله ځکه چه دا ټول څیزونه دده دملك پیداوار دې.خو ددې د اصل سره به مرهون جوړولې شی.او ایخودلې به شی.ځکه چه دا یو داسې متاکد(او مضبوط) حق دې.چه لازم دې.نو که راهن دا فسخ کول اوغواړی.نو نشی کولې.او کوم چه داسې لازمی حق وی.هغه د مرهون توابع طرف ته هم سرایت کوی (او متعدی کیږی).نو دا توابع اګرچه مرهون به وی.خو مضمون به نه وی.

فَإِنْ هَلَكَ النَّمَاءُ نوکه نماء او زیاتی شوې هلاك شی. هَلَكَ بِغَيْرِ شَيْءٍ نو د څه څیز (بدل) نه بغیر به هلاك وی

تشریح **حکم هلاك النماء** نوکه مرتهن سره توابع هلاك شی.نو نه به په ده باندې ضمان واجب وی.او نه به دده قرض ساقطیږی.

دلیله ځکه چه قرض په حقیقت کښې داصل مقابل دې.د توابع په مقابله کښې د قرض هیڅ حصه نشته.ځکه چه لفظ د عقد دې ته شامل نه وو.نو دا د عقد لاندې داخلیدل، قصداً نه دی.بلکه ضمنی طور باندې دی.

کوم څیز چه تابع وی د هغې په هلاکیدو د ثمن حکم

(وَإِنْ هَلَكَ الْأَصْلُ اوکه اصل هلاك شی. وَبَقِيَ النَّمَاءُ او زیاتی شوې باقی پاتې شی افْتَكَّهُ الرَّاهِنُ بِحِصَّتِهِ نو راهن به دا(زیاتی شوې) دده د حصې په بدله کښې خلاصه وی وَیُقَسَّمُ الدَّیْنُ عَلٰی قِیْمَةِ الرَّهْنِ یَوْمَ الْقَبْضِ وَعَلٰی قِیْمَةِ النَّمَاءِ یَوْمَ الْفِکَاكِ(یعنی) قرض دې د مرهون د قبضې د ورځې په قیمت او د زیاتی شوی د خلاصولو د ورځ والا په قیمت باندې تقسیم کړې شی

تشریح **المقدمة لتوضیح المتن** د متن د تسهیل نه وړاندې په دې خبره ځان پوهه کړه چه کوم څیز چه تابع وی.ترکومه پورې چه دا صرف تابع وی.ددې په مقابله کښې ثمن نه راځی.مثلاً یوکس یوه میخه واخستله.چه دا پی ورکوی.اوسه پورې مشتری قبضه نه وه کړې.چه ددې بچې مړ شو.نو د ثمن نه به هیڅ نه کمیږی.ځکه چه مړشوې صرف تابع دې.چه ددې په مقابله کښې ثمن نه وی.خو که تابع مقصود جوړ شی.نو اوس به ددې په مقابله کښې ثمن راځی.مثلاً هم په دې ذکرشوی مثال کښې د قبض نه وړاندې میخه مړه شوه.او بچې باقی پاتې (یعنی ژوندې) دې.چه دا مشتری اخستل غواړی.نو ددې په حصه کښې چه څومره ثمن راځی.چه دا ثمن ادا کړی.نو بچې اخستلې شی.ځکه چه اوس قبض کولو سره مقصود جوړ شوې دې.

هلاك الاصل وبقاء النماء ددې تفصیل نه پس پوهه شئ.چه په رومبئ مسئلې کښې نماء (زیاتی شوې)

هلاك شوي وو.دلته ددې په عکس دې.يعنى نماء (زياتى شوې) باقي پاتې دي.او اصل هلاك شوي دې.نو چونکه اوس نماء کوم چه تابع دې.مقصود جوړ شو.ځکه چه راهن په دې باندې د قبضه کولو قصد کوی.نو ددې په مقابله کښې به مال وی.

فَمَا أَصَابَ الْأَصْلَ سُقِطَ مِنَ الدَّيْنِ بِقَدْرِهٖ نو د قرض کوم مقدار چه اصل ته اورسيږی.هغه خو ساقطيږی وَمَا أَصَابَ النَّمَاءَ او کوم مقدار چه زياتی شوی ته اورسيږی اَفْتَكَّهُ الرَّاهِنُ به نو خلاصه وی به راهن (په دې سره) زياتی شوې.

تشريح﴿ صورة المسئلة﴾ ددې صورت دا دې. چه شاکر د احمد سره د نهه سوه روپو د قرض په بدله کښې يوه ميخه رهن کيخوده.هغې بچې راوړو.د ميخې قيمت زر روپۍ دي.او اوس د بچې قيمت پنځه سوه روپۍ دي.نو د اصل قيمت د تابع د قيمت دوچند دې.اوس ميخه هلاکه شوه.او بچې باقی دې.راهن بچې خلاصول غواړی.نو ددې طريقه به دا وی.چه د دواړو په قيمت کښې دې تناسب اوګوری.يعنی په زرو او پنځو سوو کښې دې تناسب اوګوری. کله ئې چه اوکتل.نو معلومه شوه.چه زر د پنځو سوو دوچند دي.نو په دې حساب سره د قرض نه هغه مقدار کوم چه د ميخې قيمت جوړيږی.هغه دې اوشکلي شي.يعنی دومره قرض ساقط شو.او کوم مقدار چه د بچې په حصه کښې راشی.هغه دې راهن مرتهن ته ورکړی.او بچې دې د مرتهن نه راخلاص کړی.نو په ذکر شوی صورت کښې به د قرض درې حصې کولې شی.چه په دې کښې به شپږ سوه د ميخې مقابل وی.او درې سوه به د بچې مقابل وی.نو شپږ سوه د ميخې د هلاکت په وجه ساقط شوې.او درې سوه باقی دی.چه دا د بچې مقابل دی.نو راهن دې درې سوه روپۍ ورکړی.او بچې دې راخلاص کړی.

په رهن او قرض کښې د زيادت حکم

وَيَجُوْزُ الزِّيَادَةُ فِي الرَّهْنِ او په رهن کښې زيادت جائز دې وَلَا يَجُوْزُ الزِّيَادَةُ فِي الدَّيْنِ او په قرض کښې جائز نه دې عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ() د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمهما الله په نيز وَلَا يَصِيْرُ الرَّهْنُ رَهْنًا بِهِمَا او مرهون به د زياتوالی په بدله کښې رهن نه وی

تشريح﴿ صورة المسئلة﴾ يوه چيلۍ ئې رهن ايخودې وه.په لس روپۍ کښې، راهن يوه چيلۍ بله هم ورکړله.چه دا دواړه رهن کيږده.نو دا جائز دی.دا په مرهون کښې زياتوالې دې.او که مرتهن ددې چيلۍ په عوض لس روپۍ نورې هم ورکړلې.چه ددې شلو روپو په بدله کښې دا چيلۍ رهن دې.نو دا جائز نه دی.دا د طرفينو رحمهما الله مذهب دې.چه مرهون کښې زيادت جائز دې.او قرض کښې جائز نه دې. ([2])

---

[1]) القول الراجح هوهذا قول الطرفين. رحمهما الله كذا في ملتقى الأبحر(٤\٣٥٠) وردالمحتار (٥\٣٧٢،٣٧٣)-

[2]) **مذهب زفر والشافعي**:- امام زفر او امام شافعی رحمهما الله په رهن او قرض دواړو کښې زيادت ناجائز ګرځوی. حضرت مرغينانی رحمه الله فرمانيلی دی.چه د امام شافعی او امام زفر رحمهما الله ذکر شوي اختلاف په پنځو ځيزونو کښې دې. ① د مرهون زيادت زمونږ په نيز جائز دې.او ددوی په نيز جائز نه دې. ② په بيع کښې د ثمن زيادت زمونږ په نيز جائز دې.ددوی په نيز جائز نه دې. ③ په بيع کښې د مبيع زيادت زمونږ په نيز جائز دې.ددوی په نيز جائز نه دې.④ په نکاح کښې د مهر زيادت زمونږ په نيز جائز دې.ددوی په نيز جائز نه دې.⑤ په نکاح کښې د منکوحې زيادت زمونږ په نيز جائز دې.ددوی په نيز جائز نه دی.ددې صورت دا دې.چه مولا د خپلې وينځې نکاح د يو سړی سره اوکړله.په زر روپۍ مهر کښې، بيا په دې مهر کښې مولا د خپلې دويمې وينځې نکاح هم دده سره اوکړله. او خاوند قبوله کړله.نو دا جائز دی.او اوس به مهر په دواړو باندې تقسيميږی.ددې نه پس مرغينانی رحمه الله فرمائی. چه

دليلهما دليل دا دې چه وړاندې تير شوی دی.چه مرهون کښې شيوع جائز نه دې.اوکه شيوع په قرض کښې راشي.نو دا مضر نه دې.او په مرهون کښې د زيادت په وجه قرض کښې شيوع کيږی.چه دا جائز دې.او په قرض کښې د زيادت په وجه مرهون کښې شيوع راځی.چه دا جائز نه دې.په دې وجه مونږ اووئيل چه د مرهون زيادت جائز دې.او د قرض زيادت جائز نه دې.

توضيح الزيادة في الدين پاتې شوه دا خبره چه په قرض کښې زيادت سره مرهون کښې شيوع څنګه لازميږی؟ نو ددې وضاحت دا دې چه کله چه غلام په لس روپۍ کښې رهن وو.او بيا مرتهن د لسو روپو زيادت نور هم اوکړو.نو د غلام نصف غير معين حصه، د رومبی لسو روپو بدل جوړ شو.او نصف غير معين د نورو لسو روپو بدل اوګرځيدو. نو په غلام کښې شيوع پيدا شوه.او که يوې چيلۍ سره يوه بله چيلۍ هم رهن کيږدی.نو په لسو کښې مثلاً د پنځو بدل رومبۍ چيلۍ شوه.او د باقی پنځو بدل دويمه چيلۍ شوه.نو دلته په مرهون کښې شيوع نشته.خو په قرض کښې شيوع اوشوه.او د قرض شيوع مضر نه دې.بيا دا په يو مثال سره واضح کوی.چه زيد زر روپۍ د خالد نه واخستلې.او يو غلام ئې د پنځو سوو روپو په بدل کښې رهن کيخودو.نو دا جائز دې.حالانکه قرض کښې شيوع دې.خود قرض شيوع مضر نه دې.په دې وجه دا جائز دې.

وَقَالَ أَبُويُوسُفَ هوجائز او امام ابويوسف رحمه الله فرمائی.چه دا (په قرض کښې زياتوالي هم) جائز دې

تشريح **مذهب ابي يوسف** رحمه الله امام ابويوسف رحمه الله په قرض کښې هم زيادت جائز ګرځوی.

دليله دليل دا دې.چه دوی مرهون او قرض په ثمن او مبيع باندې قياس کړې دې.او وئيلې ئې دی.چه په باب د رهن کښې قرض د بيع د ثمن پشان دې.او مرهون د مبيع پشان دې.او ددې دواړو زيادت د طرفينو رحمهما الله په نيز هم جائز دې.نو دلته د رهن او قرض هم زيادت کيدل پکار دی.د دواړو په مينځ کښې علت جامعه دا دې.چه دا دواړه زياتوالي به اصل عقد سره متعلق کولې شی.لکه په بيع کښې د ثمن او مبيع زياتوالي اصل عقد سره متعلق کولې شی.لکه څنګه چه هلته کښې ضرورت دې.دغه شان دلته کښې هم ضرورت دې.چه نوره مضبوطی هم حاصله شی.او لکه څنګه چه هلته کښې امکان دې.دلته هم امکان دې.يعنی په شروع د رهن کښې دا جائز ده.چه د مرهون قيمت د قرض برابر يا کم يا زيات وی.نو که د پيوست کولو نه پس هم دا حالت راشي.نو په دې کښې هيڅ باك نشته.بهرحال دلته کښې حاجت او امکان شته.

الجواب عنه دا قياس صحيح نه دې.او په باب د رهن کښې د قرض زيادت اصل عقد سره نشي پيوست کيدې.ځکه چه اصل عقد سره پيوست کيدل د معقود عليه يا معقود به کيدې شی.او قرض نه معقود عليه دې. او نه معقود به دې.او په باب د بيع کښې د ثمن زيادت اصل عقد سره ځکه پيوست کيدې شی.چه ثمن معقود دې.او معقود عليه يعنی مبيع، او معقود به يعنی ثمن او قرض ددې دواړو نه هيڅ هم نه دی.ځکه که قرض معقود به وې.نو د عقد رهن په وجه قرض واجبيږی.حالانکه قرض د عقد رهن نه بغير واجبيږی.او د قرض وجوب مخکښې اوشو.او عقد رهن روستو وی.جائز دې.

بقاء الدين عند فسخ العقد دغه شان که په څه وجه عقد رهن فسخ شی.نو قرض اوس هم باقی پاتې کيږی.معلومه شوه.چه دا معقود به نه دې.البته د ثمن وجوب د عقد بيع په وجه کيږی.اوکه بيع فسخ شی.نو د ثمن وجوب هم ختميږی.نو ستاسو قياس د سره صحيح نشو.

مونږ په کتاب البيوع کښې دا بيان ذکرکړې دې.

يو څيز د دوو سړو د قرضو په بدله کښې د رهن ايښودو حکم

وَاِذَارَهَنَ عَيْنًا وَاحِدَةً عِنْدَ رَجُلَيْنِ بِدَيْنٍ نو که يو څيز ئې دوو سړو سره رهن کیخودو **لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا** د هغه قرض په بدله کښې کوم چه ددوی دواړو په ده باندې دې **جَازَ** نو جائز دې **وَجَمِيْعُهَا رَهْنٌ عِنْدَ كُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا** او پوره څيز به په دوی دواړوکښې هر يو سره رهن وی.**والمضمون على كل واحد منهما حصته دينه فيها** اوتاوان په هر يو کس باندې په دې دواړو راهن اومرتهن کښې هومره دې څومره چې د هغه حصه وی

تشریح> **رهن عين واحد عند رجلين>** په زيد د خالد او بکر سل روپۍ قرض دی.زيد خپله ګهړئ د سلو روپو په عوض دوی دواړو سره رهن کیخوده.نو دا رهن جائز دې.او داسې به ګڼړلې شی.چه پوره ګهړئ هر يو سره مرهون او ګانړه ده.

السوال> که څوك دا اعتراض اوکړی چه هرکله مستحقينو کښې تعدد دې.نو ددې په وجه رهن کښې شيوع پيدا شو.او دا د رهن د جواز نه مانع دې؟ نويکاردا وه چه دا جائز نه وه

الجواب> ددې جواب دا دې چه په يو محل کښې د مستحقينو تعدد شيوع نه ثابته وی.لکه (مثلاً) يو جماعت دپاره زيد باندې قصاص واجب وی.نو د مستحقينو دا تعدد به د محل شيوع نه لازموی.

السوال الثاني> اوکه دغه معترض دا اووائی چه دا نه منم چه دا شيوع نه ده څکه چه د رهن دوه کسانو ته نسبت د دوی دواړو په مينځ کښې نيم په نيمه تقسيمول ثابته وی.لکه څنګه چه د هلاکت په صورت کښې مذکوره تقسيم منلې شوې دې؟

الجواب> نو مونږ جواب ورکوو چه د جواز تلاش کولو دپاره به انقسام نه وی.بلکه مرهون به ددوی دواړو په حق کښې محبوس (قيد) شمارلې کيږی.يعنی ګويا د تقسيمولو نه بغير مرهون هر يو سره پوره دې.څکه چه ګهړئ کښې دا صورت خو د سره کيدې نشی.چه دواړو سره ګير وی.نو داسې به شمارلې کيږی.چه په دوی دواړو کښې د هريو د حق په بدله کښې ګير دې.او د هبې مقصد چونکه تمليك دې.نو که يو څيز ئې دوه کسانو ته پوره پوره هبه کړو.نو دواړه ددې مالکان جوړول نا ممکن دی.په دې وجه امام محمد رحمه الله دا جائز نه دې ګرځولې.

د يو مرتهن قرضه ادا کولو سره د مرهون حکم

فَإِنْ قَضَى اَحَدُهُمَا دَيْنَهُ که راهن دوی دواړو کښې د يو کس قرضه ورکړله **كَانَ كُلُّهَا رَهْنًا فِي يَدِ الْاٰخَرِ** نو پوره مرهون به د بل په قبضه کښې رهن وی **حَتّٰى يَسْتَوْفِىَ دَيْنَهُ** تر دې چې هغې خپله قرضه وصول کړی

تشریح> **قضاء دين احد الرجلين>** که راهن په دوی کښې د يوکس قرضه ادا کړله.نو اوس به پوره ګهړئ دويم کس سره رهن وی.

دليله> څکه چه دده سره خو دا د مخکښې نه پوره رهن منلې شوې وو.نو اوس به هم دغه شان باقی پاتې وی.تر کومه پورې چه دده قرض ادا نکړې شی.لکه (مثلاً) دوه کسانو يو څيز واخستلو.او په دوی کښې يوکس د خپلې حصې ثمن ادا کړو.نو ترکومه پورې چه دويم کس هم د خپلې حصې ثمن ادا نکړی.تر هغه وخته پورې به بائع ته حق وی.چه بيع هغه ته حواله نکړی.

وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا او چا چه غلام خرڅ کړو **عَلٰى اَنْ يَّرْهَنَهُ الْمُشْتَرِيْ بِالثَّمَنِ شَيْئًا بِعَيْنِهٖ** په دې شرط چه مشتری به د دې د ثمن په عوض کښې څه معين څيز رهن ايږدی **فَامْتَنَعَ الْمُشْتَرِيْ عَنْ تَسْلِيْمِ الرَّهْنِ** نو

مشتری د مرهون سپارلو نه منع شولَمْ يُجْبَرْعَلَيْهِ نو په ده به زبردستي نشي کولې

تشریح﴿ عدم اجبار المشتري علي تسليم الرهن﴾ چا په دې شرط باندې غلام خرڅ کړلو چې د ثمن په بدله کښې به مشتري څه متعين څيز مثلا چيلۍ ګانړه اړدي او ثمن به روستو ورکوي خو مشتري هغه څيز رهن نکړلو نو هغه به په رهن باندې نشي مجبوره کولې

دليله﴿ د عدم جبر دليل دا دې چې د ثمن په بدله کښې د رهن شرط لګول خلاف القياس دې ځکه چې دا په بيع کښې يو اضافي شرط دې او په دې کښې د بائع فائده ده اود ابوهريره (ر) نه روايت دې چې هغوی ددې نه منع فرمائيلې ده چې يوه معامله په بله معامله کښې ګډه کړې شي.ځکه چې اکثر دا مفضی الی النزاع وي او شريعت د هغه کار نه منع کړې کوم چې مفضی الی النزاع وي.

په بائع د زبردستی کولو حکم

وَكَانَ الْبَائِعُ بِالْخِيَارِ او بائع په اختيار سره دې إِنْ شَاءَ رَضِيَ بِتَرْكِ الرَّهْنِ که غواړي.په رهن پريخودو دې راضي شي.وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ الْبَيْعَ اوکه غواړي.نو بيع دې فسخ کړي

تشریح﴿ خيار البائع في اخذ الرهن وفسخ البيع﴾ په مذکوره صورت مشتري باندې زبردستي جائز نه ده.خو د بائع به څه کيږي.هغه ته هم څه اختيار شته.اوکه نه؟ نو وې فرمائيل چه هغه ته هم اختيار شته.که غواړي.د رهن نه بغير دې مشتري ته حواله کړي.او خپل ثمن دې پخپل وخت د هغه نه وصول کړي.اوکه غواړي.نو بيع دې فسخ کړي.

دليله﴿ ځکه چه په قرض بيع کولو باندې دې د رهن په وجه راضي شوې وو.نو د وصف مرغوب فيه (د خوښې صفت) د فوت کيدو په وجه به ده ته اختيار وي.

إِلَّا أَنْ يَدْفَعَ الْمُشْتَرِي الثَّمَنَ حَالًّا خو دا چه مشتري ثمن د عقد ورکړي أَوْيَدْفَعَ قِيمَةَ الرَّهْنِ فيكون رَهْنًا يا مشتري د مرهون قيمت رهن ورکړي ؛

تشریح﴿ صورة عدم خيارالبائع﴾ خو که مشتري په ځائې د رهن ثمن ادا کړي.نواوس بائع ته اختيار نشته. ځکه چه اصل حاصل شوې دې.يا مشتري د مرهون په ځائې ددې قيمت رهن کيخودو.نو اوس هم بائع ته اختيار پاتې نشو.

دليله﴿ ځکه چه مقصود حاصل دې ځکه چه عين مرهون خو امانت دې.او يد استيفاء مرتهن ته په ماليت باندې حاصليږي.او ماليت هغه قيمت دې.کوم چه ده ته ورکولې شي

په کومو خلقو سره د رهن حفاظت کول جائز دي؟

وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَحْفَظَ الرَّهْنَ بِنَفْسِهِ او مرتهن له جائز دی.چه هغه د رهن پخپله حفاظت اوکړي وَزَوْجَتِهِ او د خپلې ښځې (بی بی) په ذريعه، وَوَلَدِهِ او دخپل خوی په ذريعه وَخَادِمِهِ الَّذِي فِي عِيَالِهِ او د خپل هغه خادم په ذريعه کوم چه دده په عيال کښې دې وَإِنْ حَفِظَهُ بِغَيْرِمَنْ فِي عِيَالِهِ اوکه ده حفاظت دهغه کس نه علاوه سره اوکړو.کوم چه دده په عيال کښې نه دې أَوْأَوْدَعَهُ يا ئې دا وديعت ايخودې وي ضَمِنَ نو مرتهن به ضامن وي

تشریح﴿ حفاظة المرتهن الرهن بنفسه﴾ مرتهن باندې ضروري ده.چه د رهن حفاظت يا پخپله اوکړي.يا خپلې بی بی سره اوکړي.ياخپل خوی سره،يا هغه خادم سره اوکړي.کوم چه دده په عيال کښې وي.ګنې که د نورو په ذريعه حفاظت اوکړي.نو په مرتهن به د مرهون د هلاکت په صورت کښې د غصب پشان د

پوره قیمت ضمان واجب وی.

دلیله د دې مسئلې دلیل دا دې چې د دې رهن عین د مرتهن په لاس کښې امانت دې نو دا د ودیعت پشان شو او په ودیعت کښې په مودع باندې د ودیعې حفاظت کول ضروري وی.

المراد من العیال د عیال کیدو مدار د هغه په کور کښې اوسیدل دی.که په ده د هغه نفقه واجب وی.اوکه نه وی.لکه بی بی او دده اولاد، او دده خادم، یا دده ماهانه نوکر، ټول به دده په عیال کښې شمارلې کیږی. کوم چه د روزانه مزدور دې.هغه به عیال کښې داخل نه وی. [شامی ص۳۱۳ج۵]

مرتهن دپاره رهن کښې د تعدي حکم

وَإِذَاتَعَدَّى الْمُرْتَهِنُ فِي الرَّهْنِ اوکله چه مرتهن په رهن کښې تعدی (زیاتې) اوکړله ضَمِنَهُ نو مرتهن به ددې ضامن وی ضَمَانَ الْغَصْبِ د غصب د ضمان په طریقه بِجَمِيعِ قِيمَتِهِ ددې د پوره قیمت

حل اللغة ① **التعدی**: تجاوز کول، زیاتې کول]

تشریح **تعدی المرتهن في الرهن** که د مرتهن د طرفه رهن کښې تعدی اوموندې شوه.نو د غصب په مثل به د مرهون د پوره قیمت ضمان واجب وی.

دلیله څکه چه د رهن کوم مقدار د دین نه زیاتی دې.هغه امانت دې.خو څه اوکړې شی.چه د تعدی په صورت کښې د امانتونو هم ضمان واجبیږی.

د مرتهن، راهن سره د مرهون د عاریت ایخودو حکم

(وإذاأَعَارَالْمُرْتَهِنُ الرَّهْنَ لِلرَّاهِنِ او کله چه مرتهن مرهون، راهن ته عاریت ورکړو. فَقَبَضَهُ نو راهن په دې باندې قبضه اوکړله خَرَجَمِنْ ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ نو مرهون د مرتهن د ضمان نه اووتلو

تشریح **اعارة المرتهن الرهن للراهن** صورت د مسئلې دا دې چه راهن، مرهون د مرتهن سره کیخودو.ددې نه پس مرتهن هم دا مرهون، راهن ته عاریتاً کار (او خدمت) کولو دپاره ورکړو.چه په دې باندې راهن قبضه اوکړله.نو اوس مرهون د مرتهن د قبضې نه اووتلو.نو اوس مرهون د مرتهن په ضمانت کښې نه دې.

دلیله څکه چه اوس مرهون د راهن په قبضه کښې دې.او د راهن قبضه، قبضه د امانت ده.او د مرتهن قبضه، قبضه د ضمانت ده.چه ددې په مینځ کښې منافات دې. ددې تقاضه دا ده.چه ددې دواړو قبضو اجتماع نه وی.ګنی اجتماع د نقیضینو به لازم شی.خلاصه د کلام دا چه اوس مرهون د مرتهن په ضمان کښې نه دې.

(فَإِنْ هَلَكَ فِي يَدِالرَّاهِنِ نو که مرهون د راهن په قبضه کښې هلاک شی هَلَكَ بِغَيْرِشَيْءٍ رنو د څه څیز نه بغیر به هلاک وی.(یعنی د مرتهن قرض به نه ختمیږی).

تشریح **هلاک الرهن في يد الراهن** نوکه مرهون د راهن سره هلاک شی.نو چونکه دده سره امانت دې.نو په راهن باندې هم ضمان نشته.

دلیله دا څکه چې د مرتهن د ضمان د قبضې نه خارج شوې وو.نو په مرتهن هم ضمان نشته.البته د مرتهن قرضه پخپل حال د راهن په ذمه قائم ده.

وَلِلْمُرْتَهِنِ أَن يَسْتَرْجِعَهُ إِلَى يَدِهِ؛ او مرتهن ته حق شته.چه مرهون واپس پخپله قبضه کښې واخلی فَإِذَاأَخَذَهُ عَادَالضَّمَانُ عَلَيْهِ او کله چې مرتهن دا واپس واخستلو نو په ده باندې ضمان بیا راګرځی

تشريح جواز استرجاع الرهن من الراهن مرتهن چه کله هم اوغواړي.مرهون د راهن نه واپس اخستلي شي.

دليله ځکه چې ددې عاريت په وجه د مرتهن قبضه ختمه شوې ده.عقد رهن نه دې ختم شوې.بلکه عقد رهن قائم دې. خلاصه د کلام دا چه عقد رهن باقي دې.خو اوس حکم د ضمان نشته.اود ضمان نه کيدو وجه تيره شوې ده.

توضيح کون عقد الرهن باق د مرتهن قبضه اگرچه ختمه شوه خو عقد رهن بيا هم باقي دې يعنی که راهن اوسه پورې مرهون مرتهن ته واپس کړې نه دې.چه راهن مړ شو.او په راهن باندې د نورو خلقو قرض هم دې.چه هغوی مرهون کښې شريکيدل غواړي.ليکن حق د مرتهن به مقدم وی.او هغه به خانله د مرهون حقدار وی.د باقي قرضخواهانو به په دې کښې شرکت نه وی.ددې نه معلومه شوه.چه عقد رهن باقي دې.او ددې وجه دا ده.چه د عاريت قبضه نه لازميږي.بلکه مرتهن چه کله اوغواړي.دا دې د راهن نه واپس واخلي.په دې وجه عقد رهن باقي شمارکړې شوې دې.

د راهن د مرګ نه پس د مرتهن د قرضې او مرهون حکم

(وَإِذَا مَاتَ الرَّاهِنُ او کله چه راهن مړشي بَاعَ وَصِيُّهُ الرَّهْنَ نو دده وصی دې مرهون خرڅ کړي وَقَضَى الدَّيْنَ او قرض دې ادا کړي

تشريح حکم موت الراهن د راهن د مرګ نه پس دې وصی مرهون خرڅ کړي.اود مرتهن قرض دې ادا کړي.

دليله ځکه چه دې د راهن نائب او دده قائم مقام دې.اوکه دا کار راهن پخپله کړې وې.نو جائز وو.خود مرتهن په اجازت سره، نو هم دغه شان به دا ولايت دده قائم مقام (اونائب) ته هم ملاويږي.

که د راهن خپل وصي نه وي نو د مرهون به څه کيږي؟

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَصِيٌّ اوکه د راهن خپل وصی نه وی نَصَبَ الْقَاضِي لَهُ وَصِيًّا نو قاضی دې دده دپاره خپل وصی مقرر کړي وَأَمَرَهُ بِبَيْعِهِ او هغه ته دې د مرهون د خرڅولو حکم اوکړي

تشريح حکم صورة عدم الوصي د قاضی کار دا دې.چه دې د مسلمانانو د حقوقو پالنه (او حفاظت) اوکړي.نو که راهن مړ شي.او داه خپل وصی نه وی.نو قاضی دې دده خپل وصی مقرر کړي.او دې وصی ته حکم اوکړي.چه مرهون خرڅ کړي.او قرض ادا کړي.او دلته به د وصی په مقررولو کښې دا فائده وی.که د راهن مرحوم په چا باندې حق وی.نو وصی دې دا وصول کړي.اوکه په راهن مرحوم باندې د چا حق وی.نو وصی دې دا ادا کړي.

دليله ځکه چه قاضي د مسلمانانو د حقوقو نګران مقررکړې شوې دې کله چه هغه پخپله دحفاظت کولو نه عاجزه شي او د وصی په مقررولو کښې شفقت (او مهرباني) دا ده چه وصی هغه حق ادا کړي.کوم چه په ده باندې دده د غير دپاره دې.او دده غير دا حق وصول کړي

كِتَابُ الْحَجْرِ

ترجمه (دا) کتاب د حجر (يعنی د منع کولو په بيان کښې) دې.

تشريح الربط بما قبله د کتابت الاكراه نه پس کتاب الحجر بيانوی.ځکه چه دواړو کښې سلب د اختيار وی.خو اکراه د حجر نه زيات قوی (او مضبوط) دې.ځکه چه اکراه کښې سلب د اختيار دهغه

چا نه کیږي.د چا دپاره چه اختیار صحیح او کامل ولایت وي.نو اکراه مستحق د تقدیم دي.

معني الحجر لغة حجر(بالتثلیث) په لغت کښې مطلق بندولو او منع کولو ته واني.هم ددې نه حجر(په کسرې سره) عقل ته واني.ځکه چه عقل انسان د قبیحه (او ناکاره) کارونو کولو نه منع کوي.قال الله تعالی ﴿هَلْ فِیْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِیْ حِجْرٍ﴾ ، ، دي لذی عقل، ، هم ددې نه حطیم ته حجر واني.(لأنه منع من الكعبة

معني الحجر اصطلاحا پاتې شو د حجر اصطلاحي تعریف، نو① په نهایه او عنایه کښې دی.(هو المنع عن التصرف في حق شخص مخصوص وهو الصغير والرقيق والمجنون) چه د حجر معنی مخصوص کس یعنی صغیر، غلام، او مجنون د تصرف نه منع کول دی.خو په دې تعریف کښې په دوه وجو سره نقصان دې.[1] اول ځکه چه شریعت کښې مطلقاً د تصرف نه منع کولو ته حجر نه واني.بلکه صرف د قولي تصرف نه منع کولو ته واني.[2] دویم ځکه چه محجور علیه صرف په ذکرشوی دریو کسانو کښې منحصر نه دې.بلکه حیله باز مفتی، مطبب جاهل، او مکاری مفلس هم د صاحبینو ﷺ په نیز محجورعلیه دی.نو په مذکوره تعریف کښې د مقید اطلاق او د مطلق تقلید دې. ② دویم تعریف د صاحب د کافی دې.(ألحجر في اللغة ألمنع وفي الشرع منع عن التصرف قولا بصغرورق وجنون) په دې کښې اول محذور(محجور) خو راغلې دې.خو محذور ثانی پخپل حال باقي پاتې دې.نو③ غوره تعریف هغه دې.کوم چه معراج الدرایه کښې مذکور دې.(ثم الحجر لغة المنع مصدر حجرعليه و شرعاً منع مخصوص و هو المنع من التصرف قولاً شخص معروف مخصوص وهو المستحق للحجر بأي سبب كان)

اوس د حجر اصطلاحي مطلب دا شو.چه مخصوص کس د مخصوص تصرف یعنی د قولي تصرف نه منع کړې شي.قولي تصرفات کوم چه ژبې سره متعلق وي.لکه بیع او شراء او هبه وغیره، فعلي تصرفات کوم چه د جوارح افعال دی.لکه قتل، د مال هلاکول وغیره.نو په حجر کښې صرف قولي تصرف نه نافذ کیږي.کۀ ماشوم د چا مال ضائع کړي.نو ضمان به واجب وي.

موجب حجر اسباب ثلاثه

(**اَلْأَسْبَابُ الْمُوْجِبَةُ لِلْحَجْرِ ثَلَاثَةٌ : الصِّغَرُ، وَالرِّقُّ ، وَالْجُنُوْنُ** ،موجب حجر اسباب درې دی.د ماشوم توب عمر، غلام کیدل، لیونې کیدل، **وَلَا يَجُوْزُ تَصَرُّفُ الصَّغِيْرِ إِلَّا بِإِذْنِ وَلِيِّهِ**،نو جائز نه دې.د بچی تصرف، خو دهغه د ولی په اجازت سره، **وَلَا يَجُوْزُ تَصَرُّفُ الْعَبْدِ إِلَّا بِإِذْنِ سَيِّدِهِ**،او نه د غلام تصرف، خود هغه د آقا په اجازت سره، **وَلَا يَجُوْزُ تَصَرُّفُ الْمَجْنُوْنِ الْمَغْلُوْبِ عَلَى عَقْلِهِ بِحَالٍ**). او نه د مغلوب العقل لیوني تصرف په هیڅ حالت کښې،

تشریح **اسباب الحجر** اسباب د حجر درې دی.①اول د وړوکی عمر بچې، ②دویم رقیت او مملوکیت یعنی وینځه یا غلام کیدل، ③دریم جنون او لیونتوب،

عدم جواز تصرف الصغیر بچې ناقص العقل وي. او دې خپله نفع نقصان نه پیژني.په دې وجه شریعت کښې ددوی د قولي تصرفاتو اعتبار نشته.البته د بچی ولی یعنی دده پلار یا وصی کۀ دده د تصرف اجازت ورکړي.نو جائز به وی.ځکه چه د ولی اجازت ورکول، ددې خبرې دلیل دې.چه په ده کښې د تصرف اهلیت او لیاقت موجود دې.

عدم جواز تصرف العبد مملوك (غلام) اګرچه عاقل وي.خو دده سره چه کوم څه وي.هغه دده د آقا وي.نو د آقا د حق د رعایت په لحاظ دده تصرف هم غیر معتبر دې.چه دده د غلام منافع بې کاره نشي.او دده

سړی په قرضه کښې راګیر نشي.او د بل کس ملک نشي.خو که آقا ددې اجازت ورکړو.نو هغه د خپل حق په فوت کیدلو باندې پخپله راضي شو.

عدم جوازتصرف المجنون المغلوب> مجنون مغلوب یعنی هغه دیوانه چه هغه په هیڅ وخت کښې هم په هوش کښې نه راځي.د هغه تصرف په هیڅ حالت کښې هم صحیح نه دې.تردې که ولی د هغه تصرف جائز اوګرځوی.بیا هم صحیح نه دې. ځکه چه هغه د جنون په وجه د تصرفاتو اهل نه دې.او که هغه کله لیونی کیږی.اوکله هوښیاریږی.نو د هغه حکم د ممیز ماشوم (هوښیار ماشوم) پشان دې.

سوال> صاحب د کتاب د حجر صرف درې سببونه ذکر کړی دی.د هغې مطلب دا شو.چه د بچی، غلام، او د لیونی نه علاوه بل هیڅ څوک محجور نشته.حالانکه داسې نه ده.ځکه چه مفتی ماجن کوم چه خلقو ته باطل حیلې ښائي.او جاهل طبیب کوم چه خلقو ته ضررناك او مهلك دوایانې ورکوی.او خاروی په کرایه باندې ورکونکې چه هغه غریب وی.دا هم د محجور کیدلو سبب دې.بلکه د صاحبینو رحمهما الله په قول باندې مدیون او هغه سفیه چه د هغه بلوغ د هوښیارتوب په حالت کښې شوې وی.هغه هم محجور دې؟

جواب> دلته د اسبابوحصر د حجر شرعی معنی په اعتبار سره مقصود دې.او مفتی ماجن، جاهل طبیب، او مکاری مفلس باندې شرعی معنی نه صادقیږی.نو د مذکوره حصر نه ددوی خارج کیدل هیڅ مضر نه دی.

تنبیه> په نهایه او غایة البیان کښې دی.چه کوم کس کله هوښیار او کله لیونې کیږی.نو دې د هغه بچی پشان دې.چه هغه په ښه او بدو کښې فرق کولې شی.اوپه زیلعی کښې دی.چه هغه د عاقل پشان دې.شبلی مغشی زیلعی په دواړو قوتونو کښې تطبیق کړې دې.فرمائی.که د هوښیارتوب وخت مقرر وی.او هغه د افاقة په حالت کښې څه عقد اوکړی.نو په دې کښې د عاقل پشان د عقد د نفاذ حکم دې.او که د هغه د هوښیارتوب هیڅ معین وخت نه وی.نو په دې کښې د صغیر ماشوم پشان د توقف حکم دې.نو د زیلعی کلام په شق اول باندې محمول دې.او د نهایه او غایة البیان کلام په شق ثانی باندې محمول دې.(کذافی الطحاوی).

د محجورینو د تصرفاتو احکام

وَمَنْ بَاعَ مِنْ هٰؤُلَاءِ شَيْئًااو چا چه خرڅ کړو.ددې خلقو څنې څه څیز. اواشتراهٔاو یا یې واخستلووَهُوَ يَعْقِلُ الْبَيْعَ یا ئې واخستلو، په داسې حال کښې، چه هغه په بیع پوهیږی.وَيَقْصِدُهٗ او ددې قصد کوی.فَالْوَلِيُّ بِالْخِيَارِ،نو دده ولی ته اختیار دې.إِنْ شَاءَ أَجَازَهٗکه غواړی.دا دې نافذ کړی.إِذَاكَانَ فِيهِ مَصْلَحَةٌ،که په دې کښې څه مصلحت وی.وَإِنْ شَاءَ فَسَخَهٗ)او که غواړی.فسخ دې کړی.

تشریح> **المراد من هولاء**> د ،،هؤلاء،، نه مراد ماشوم، غلام، او مجنون دې.چه کله لیونی او کله هوښیار وی.هم دا هغه معتوه(ناقص العقل کذا فی مختارالصحاح) دې.چه د غیر د طرفه وکیل کیدې شی.او دې په بیع پوهیږی.او ددې قصد کوی. اګرچه مصلحت ته په مفسد باندې ترجیح نشی ورکولې.ددې په خلاف هغه مجنون دې.چه دهغه عقل بالکل ختم شوې وی.دلته کښې هغه مراد نه دې.ځکه چه د هغه تصرف نه صحیح کیږی.اګرچه اجازت هم ملاؤ شی.

معنی یعقل> د (یعقل البیع) نه مراد دا دې. چه هغه په دې پوهیږی.چه بیع سره ثمن حاصلیږی.او مبیع دخپل ملك نه اوځی.او شراء ددې په عکس ده.

معنی یقصد> د ،،یقصد،، نه مراد دا دې.چه هغه د حکم د اثبات اراده کوی.نو په دې سره هازل (توقی

کونکي) اووتلو.چه دهغه مقصد د بیع د حکم اثبات نه وی.

المراد من الولي﴾ د ولی نه مراد پلار، نیکه، ددوی وصی، آقا او قاضی دي.
دقول مطلب دادي.چه په مذکوره محجورینو کښي چه کوم کس داسي عقد اوکړی.کوم چه د نفع او ضرر په مینځ کښي دائر وی.او هغه په عقد پوهیږی.او ددي قصد کوی.نو دده ولی ته اختیار دي.که غواړی.عقد دي نافذ کړی.که غواړی.فسخ دي کړی.

دلیله﴾ د غلام تصرف د مولا د حق په وجه موقوف وو.په دي وجه آقا ته اختیار ورکړي شو.او د صبی او مجنون په صورت کښي توقف ددوی د حالت د فائدي لټولو دپاره وو.نو ولی به ددوی په حق کښي بهتري ګوری.او په کومه کښي چه بهتري وی.هغه به نافذ کوی.

السوال﴾ د سوال تقریر د ترجمة نه واضح دي.چه توقف صرف په بیع کښي کیږی.پاتي شو اخستل، نو په دي کښي اصل هم دا دي.چه هغه په مباشر او فاعل (اخستونکی) باندي د توقف نه بغیر نافذ کیږی. نو بیا دلته کښي اخستل اجازت باندي موقوف څنګه منعقد کیږی؟

الجواب﴾ حاصل د جواب دا دي.چه اخستل په مباشر باندي د توقف نه بغیر نافذ کیږی.دا ټیك ده.خو دا هغه وخت کیږی.کله چه دا نفاذ اوموندي شی.لکه څنګه چه د فضولی په اخستلو کښي کیږی.که فضولی سړي د یو سړی مال د بل دپاره واخلی.(او اخستل مطلق اوساتی.غیر طرف ته ئي مضاف نکړی).نو هغه د توقف نه بغیر په ده باندي نافذ کیږی.او دلته د مذکورینو د اخستلو نفاذ اونه موندي شو.د بچی او مجنون کیدلو په صورت کښي خو ځکه چه په دوی کښي اهلیت نشته.او د غلام په صورت کښي ځکه چه دده د آقا نقصان دي.ځکه چه مونږ ددوی اخستل موقوف ګرځولي دي.بیا مذکوره اشکال په قول د صاحب د نهایه د مختصر القدوری په عبارت باندي پریوځی.چه هغې کښي لفظ د ،،اِشتری،، موجود دي.او دا لفظ په بدایه متن کښي هم ثابت دي.خو د هدایه اکثر نسخي ددي لفظ نه خالي دی.نو په دي باندي مذکوره اعتراض نه واقع کیږی.

په اقوالو او افعالو کښي د اسباب ثلاثه د حجر حکم

(وَهٰذِهِ الْمَعَانِي الثَّلَاثَةُ تُوجِبُ الْحَجْرَ فِي الْأَقْوَالِ دُونَ الْأَفْعَالِ)او دا دري واړه خبري واجبوی حجر په اقوالو کښي نه په افعالو کښي،

تشریح﴾ مذکوره اسباب ثلاثه یعنی ماشوم توب، غلامی، او جنون صرف په اقوالو کښي حجر واجبوی. افعالو کښي نه واجبوی.

دلیل عدم الحجر في الافعال﴾ ځکه چه د افعالو منلو نه بغیر خلاصي نشته.ځکه چه دا محسوس او د مشاهدي په طور موجودیږی.که یوکس یو انسان قتل کړو.یا ئي د هغه لاس کټ کړو.یا ئي دچا څه څیز برباد کړو. نو قتل، کټ کول، او کوم نقصان چه ده کړي دي.هغې ته مونږ دا نشو وئیلي.چه هغه نه دی کړي.ګنی ددي نتیجه به دا وی.چه کوم کس قتل کړي شوي دي.هغه به مقتول نه وی.او د چا چه لاس کټ کړي شوي دي.هغه مقطوع الیه نه وی.او کوم څیز چه برباد کړي شوي دي.هغه هلاك شوي نه وی.حالانکه دا دخول فی السوفسطائیه او د حقائقو نه ښکاره انکار دي.

دلیل الحجر في الاقوال﴾ په خلاف د اقوالو، چه ددي د موجود کیدلو اعتبار د شرع په ذریعه کیږی.چه دا په انشاءاتو کښي بالکل ښکاره دي.ځکه چه تطلیق، اعتاق، او بیع او هبه وغیره په محل کښي حساً اثر نه کوی.بلکه دا محل شرعاً حرام ، او آزاد مملوك کیږی.پاتي شو اخبارات، لکه اقرار او شهادات وغیره، نو ددي موجب شرعاً معلوم دي.ځکه چه دا امور مخبرعنه باندي دلالت کوی.په دي کښي دا خبره جائز ده.چه دا دلالت واقع نشی.ځکه چه دي کښي پخپله د صدق او کذب احتمال شته.حاصل دا

چه په خارج کښې د تصرفات قولي وجود نه کيږي.بلکه دا صرف شرعا معتبر وي.په دې وجه ددې د عدم اعتبار مناسب دې.په خلاف د فعلي تصرفاتو، چه ددې په خارج کښې يو قسم وجود شته.لکه قتل او مال هلاکول ،.په دې وجه ددې د عدم اعتبار مناسب نه دې.

د بچي او د مجنون د عقود حكم

(وَاَمَّا الصَّبِيُّ وَالْمَجْنُوْنُ لَا تَصِحُّ عُقُوْدُهُمَا وَلَا اِقْرَارُهُمَا)او هر چې صبي او مجنون دې نو د دوی عقدونه صحيح نه دی.او نه ددوی اقرار،

تشريح> په (لايصح) کښې د عدم صحت نه مراد عدم نفاذ دې.څکه وړاندې تير شو.چه(ومن باع من هؤلاء شيئاً فالولي بالخيار) که په مذکورينو کښې يوکس اخستل يا خرڅول اوکړي.نو دا د ولي په اجازت باندې موقوف وي.نو مطلب دا شو.چه د بچي او ليوني عقدونه زمونږ په نيز نه نافذ کيږي.البته د ولي په اجازت باندې موقوف کيدو سره منعقد کيږي.بيا ددې مسئلې اعاده په اصل مذکور (هذه المعاني الثلاثة توجب الحجر عن الأقوال)باندې د تفريع په طور ده.،،فلاتکرار،،.

(وَلَا يَقَعُ طَلَاقُهُمَا)او نه د دوی طلاق واقع کيږي.(وَلَاعَتَاقُهُمَا)او نه اعتاق.

تشريح> عدم وقوع طلاق الصبي والمجنون ولاعتاقهما> د بچي او ليوني نه طلاق واقع کيږي.او نه ددوی اعتاق واقع کيږي.

دليله> د حضرت عائشة رضي الله عنها نه امام ابوداؤد ، نسائي، ابن ماجه روايت نقل کړې دې چې ،،أن رسول الله ﷺ قال: رفع القلم عن ثلاث عن النائم حتى يستيقظ و عن المبتلى حتى يبرأ و عن الصبي حتى يكبر،، نبي کريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو.چه د دريو کسانو نه قلم اوچت کړې شو.يو د اوده شوی نه ترڅو چه بيدار شی.او د ليوني نه ترڅو چه ښه شي.او د ماشوم نه ترڅو چه بالغ شی،، ددې په اسناد کښې حماد بن ابي سليمان رحمه الله د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله استاد دې.چه ددوی په حفظ کښې د ابن سعد او اعمش کلام دې.خو امام نسائي، عجلي،او يحي بن معين وغيره ثقه وئيلی دی.

وجه عدم الوقوف في الاعتاق والطلاق> آزادول خالص ضرر دې.چه دا بالکل ښکاره دې.پاتې شو طلاق نو ددې د نفع او نقصان په مينځ کښې دائر کول اگرچه ممکن دی.په دې اعتبار سره چه د بلوغ نه پس د زوجينو د اخلاقو په مينځ کښې موافقت وي.خو بچي ته د طلاق په مصلحت باندې نه في الحال علم (او پوهه) شته.او نه په مآل (راروانه زمانه) کښې شته.في الحال خو څکه نشته.چه شهوت نه لري.او په مستقبل کښې څکه نشته.چه د طلاق په مصلحت باندې خبريدل د شهوت حد ته د رسيدلو نه پس د اخلاقو د تباين او د طبعيتونو د تنافر په علم باندې موقوف دې.حالانکه بچي ته علم نشته.او دده د ولي في الحال د طلاق مصلحت نه خبريدل اگرچه ممکن دی.خو د بالغ کيدو نه پس په دوی دواړو کښې دموافقت نه کيدلو علم ولي ته هم نشي کيدې.په دې وجه طلاق يا عتاق د ولي په اجازت باندې نه موقوف کيږي.او نه د ولي پخپله کولو سره د ماشوم او مجنون طلاق او عتاق نافذ کيږي.په خلاف د نورو عقدونو يعنی د بيع او شراء، د هبة او د صدقې قبلولو، چه په دې کښې مصلحت باندې خبريدل ممکن دی.

د بچي يا د مجنون د اتلاف حكم

(فَاِنْ اَتْلَفَا شَيْئًا)او که دوی څه څيز هلاك کړو.(لَزِمَهُمَا ضَمَانُهُ)نو په دوی به ددې ضمان لازم وي.د کوم

کس چه حق هلاك كړي شوي دي.

تشريح ﴿ **لزوم الضمان علي اتلاف شئ** ﴾ كه بچې يا ليوني يو څيز هلاك كړو.نو د كوم كس حق چه هلاك شوي دي.د هغه د حق په خاطر به دواړو باندې تاوان لازم وي.

دليله ﴿ څكه چه هلاكيدلو باندې د ضمان وجوب، په قصد باندې موقوف نه دي.لكه مثلاً څوك اوده كس په يو څيز باندې راپريوځي.او هغه ضائع كړي.يا كوړ ديوال راپريوځي.او هغه په دې باندې ګواهان قائم كړې وي.نو تاوان لازميږي.

د غلام د اقوالو او افعالو حكم

(فَأَمَّا الْعَبْدُ فَإِقْرَارُهُ فِي حَقِّ نَفْسِهِ)بهرحال غلام نو دده اقرار نافذ دي.پخپله دده په حق كښې، (غَيْرُ نَافِذٍ فِي حَقِّ مَوْلَاهُ)اقرار نافذ نه دي په حق د مولا دده كښې.

تشريح ﴿ **نفاذ اقوال العبد في حقه** ﴾ ﴿ په تيرشوى قول(والصبى والمجنون لايصح) باندې معطوف دي.مطلب دا دي.چه غلام د يوڅيز اقرار اوكړي.نو هغه به پخپله دده په حق كښې نافذ وي.

دليله ﴿ څكه چه په ده كښې د اقرار لياقت موجود دي.

عدم نفاذ اقواله في حق المولي ﴾ خو د آقا په حق كښې به نه نافذ كيږي.نو كه ده دا اقرار اوكړو.چه ما د زيد : زر روپو مال ضائع كړو.نو غلام به د آزادئ نه پس ګرفتاروليي شي.او د آقا دحق په وجه به في الحال نشي نيولي.د دواړو طرفونو رعايت هم په دې كښې دي.

دليله ﴿ څكه چه دغلام د اقرار نافذ كيدل، دده د سټ يا مزدورئ سره د قرض متعلق كيدلو نه خالي نه دي.او دا په هرصورت كښې مال هلاكول دي.

(فَإِنْ أَقَرَّ بِمَالٍ نو كه ده د يو مال اقرار اوكړو.لَزِمَهُ بَعْدَ الْحُرِّيَّةِ)نو هغه به دده د آزادئ نه پس لازميږي.
ولم يلزمه في الحال او في الحال به پرې لازم نه وي.

تشريح ﴿ **حكم اقرار العبد بمال** ﴾ كه ده د يو مال اقرار اوكړو.نو په ده باندې به د ازادئ نه پس لازميږي

دليله ﴿ اودآزادئ نه پس به څكه نيولي شي.چه په ده كښې د اقرار اهليت موجود دي.او امر مانع، يعنى د آقا د حق رعايت زائل شو.

(وَإِنْ أَقَرَّ بِحَدٍّ أَوْ قِصَاصٍ او كه د حد يا قصاص اقرار ئې اوكړو.لَزِمَهُ فِي الْحَالِ)نو في الحال به لازميږي.

تشريح ﴿ **لزوم الحد والقصاص علي العبد في الحال** ﴾ او كه غلام د حد يا قصاص اقرار اوكړو.نو په دې كښې به في الحال نيولي كيږي.

دليله ﴿ څكه چه د حد او قصاص په حق كښې غلام پخپلې اصلى آزادئ باندې باقى ساتلئ شوي دي.وجه دا ده.چه حد او قصاص د سړي توب د خواصو څنې دي.او غلام د سړي كيدلو په حيثيت سره نه مملوك كيږي.بلكه د مال كيدو په حيثيت سره مملوك كيږي.هم دا وجه ده.كه آقا پخپل غلام باندې د حد يا قصاص اقرار اوكړي.نو نه صحيح كيږي.

السوال ﴿ د حد او قصاص د اقرار په نفاذ كښې هم د آقا د حق بطلان دي؟

الجواب ﴿ دا بطلان ضمنى دي.(والضمنى لايعتبر)او ضمنى ته څه اعتبار نشته

(وَيَنفُذُ طَلَاقُهُ)او دده طلاق به نافذ کيږي.

تشريح < **وقوع طلاق العبد** > د غلام طلاق ورکول به نافذ کيږي.

دلائله < ①دليل د نبی کريم ﷺ ارشاد دي چي ‹لايملك العبد والمكاتب شيئا إلا الطلاق›(۱)

②او په دې وجه هم چه په طلاق کښې غلام خپل مصلحت پيژنی.نو ده ته د طلاق لياقت حاصل دې.او په دې کښې نه د آقا د ملك ابطال دې.او نه دده منافع فوت کيدل دی.نو طلاق به نافذ کيږی.

فائده < علامه زيلعی رحمه الله فرمانی.چه مذکوره حديث د ‹لايملك العبد› الفاظو سره غريب دې.البته امام ابن ماجه رحمه الله د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت کړي دي. ‹قال: أتى النبي ﷺ رجل فقال: يارسول الله ﷺ أن سيدي زوجني أمته و هو يريد أن يفرق بيني و بينها فصعد النبي ﷺ المنبر وقال: يا أيها الناس ما بال أحدكم يزوج عبده أمته ثم يريد أن يفرق بينهما إنما الطلاق لمن أخذ بالساق›،،

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمانی.چه يو غلام په خدمت کښې حاضر شو.عرض ئې اوکړو.ایٔ د الله رسوله ﷺ ! زما آقا خپلې وينځې سره زما نکاح کړې ده.او اوس هغه زما او د هغې په مينځ کښې جدائی کول غواړی .نو نبی کريم ﷺ ممبر ته تشريف راوړلو.او وې فرمانيل: خلقو څه حال دې چه په تاسو کښې يوکس د خپل غلام نکاح خپلې وينځې سره کوی.بيا غواړی.چه دوی دواړه جدا کړی.حالانکه طلاق هم هغه کس ورکولې شي.چا چه پنډئ نيولې ده،، ددې په اسناد کښې اګرچه ابن لهيعه دې.چه دده په باره کښې خلقو کلام کړې دې.خو امام احمد او طحاوی رحمهما الله ده ته ثقه ونيلی دی.،،وكفى بهما حجة،،.

ولايقع طلاق مولاه علی امراته او ده د مالك طلاق د ده په ښځه باندې نه واقع کيږی

تشريح < **عدم وقوع طلاق المولي علي امراة العبد** > که د يو غلام واده کړې وی نو دده مولی او مالك ته دا اختيار نشته چې هغه د دې غلام ښځې ته طلاق ورکړی

دليله < د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چې ‹‹أتى النبي ﷺ رجل قال يا رسول الله ان سيدي زوجني امته وهو يريد ان يفرق بينهما قال فصعد رسول الله ﷺ المنبر فقال يا ايها الناس ما بال احدكم يزوج عبده امته ثم يريد ان يفرق بينهما انما الطلاق لمن اخذ الساق›› په دې حديث کښې دا دې چې مالك د خپل غلام ښځې ته طلاق ورکول غوښتل خو نبی کريم ﷺ هغه منع کړلو او دا ئې اوفرمائيل چې طلاق هغه کس ورکولې شی چا چې پنډئ نيولې وی يعنی نکاح ئې کړې وی نو څکه مولی د خپل غلام ښځې ته طلاق نشی ورکولې (۲)

بَابُ الْحَجْرِ لِلْفَسَادِ

ترجمه < (دا) باب د فساد په وجه د محجور کولو (په بيان کښې) دي.

تشريح < **الربط بما قبله** > ددې باب د مؤخر کولو وجه دا ده.چه وړاندې کوم اسباب د حجر وو.هغه

---

۱) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه ابن ماجه في الطلاق باب ۳۱ رقم ۲۰۸۱)۔

۲) ابن ماجه باب طلاق العبد والدارقطني كتاب الطلاق)۔

سماوي دی.او دلته چه کوم سبب د حجر دې.هغه پخپله د بنده کسب دې.او سماوي امر په تاثير کښې زيات مضبوط وی.نو هم هغه د تقديم مناسب دې.او په دې وجه هم چه په تير شوی باب کښې کوم حجر ذکر دې.هغه متفق عليه دې.او دلته چه کوم حجر دې.دا مختلف فيه دې.(و المتفق عليه احرى بالتقديم).

المراد من الفساد﴾ په عنايه او بنايه وغيره کښې دی.چه دلته د فساد نه مراد ،،سَفَه،، دې.په احکام القرآن کښې دی.چه ،،سَفَه،، په اصل کښې خفت (او کموالی) ته وائی.(يقال: سفهت الريح الشجر) هوا ونه رانبکته کړله.و منه قول الشاعر-

مشين كما اهتزت رماح تسفهت اعاليها مر الرياح النواسم

وقول آخر: نخاف أن تسفه احلامنا فنحمل الدهر مع الحامل

وجه تسمية الجاهل سفيها﴾ جاهل ته سفيه ځکه وائی.چه هغه خفيف العقل يعنی ناقص العقل وی.نو د جهل معنی هرهغه کس ته شامل ده.په چا چه د سفيه لفظ اطلاق کيږی.ترديې چه سفيه فی الدين به هغه وی.ځوك چه د دين په معامله کښې جاهل وی.او سفيه فی المال به هغه وی.ځوك چه د مال د حفاظت نه ناخبره وی.او سفيه فی الرأئ به هغه وی.چه هغه ناقص العقل وی.ماشومانو او ښځو ته سفهاء ځکه ونيلې شی.چه ددوی په عقل او تميز کښې نقصان وی.

بهرحال ،،سَفَه،، ناپوهتيا او د عقل کموالی ته وائی.کوم چه انسان ته په قهر او غصې يا فرحت او خوشحالئ سره لاحق کيږی.او دده د عقل قائميدلو باوجود د شرع موجب نه په خلاف عمل کولو، او د خواهشاتو تابعداری کولو بانديې راضی کوی.د فقهاؤ په عرف کښې ددې غالب استعمال د فضول خرچئ دپاره کيږی.کوم چه د عقل او شرع خلاف وی.نو ددې نه علاوه د نورو ګناهونو ارتکاب مثلا شراب څکل، زناکاری، د سفيه په اصطلاحی تعريف کښې داخل نه دی. علامه حموی رحمه الله فرمائی.چه په نفقه کښې اسراف يا بې مقصده خرچ کول د سفيه عادت دې. دغه شان په داسې مقصد کښې خرچ کول کوم چه ديندار عاقلان مقصد نه شماری.مثلاً ډمانو (او ګانو بجانو والا)، لوبو او تماشو کونکو ته پيسې ورکول، اوچتې الوتونکې کونترې په ګران قيمت بانديې اخستل وغيره.

بناء مسائل الحجر علي قول الصاحبين﴾ صاحب د نهايه او صاحب د بنايه رحمهما الله فرمانيلی دی.چه ددې باب ټولې مسئلې د صاحبينو رحمهما الله په قول بانديې مبنی دی.د امام ابوحنيفه رحمه الله په قول بانديې مبنی نه دی.ځکه چه امام ابوحنيفه رحمه الله د ،،سَفَه،، په وجه د حجر قائل نه دې.

په دې بانديې صاحب د نتائج رحمه الله ليکلی دی.چه دا خبره ټيك نه ده.ځکه چه ددې باب اکثرو مسئلو بانديې د امام ابوحنيفه او صاحبينو رحمهم الله اتفاق دې.مثلا ① إن أعتق عبداً نفذ عتقه ② لو دبر عبده جاز ③ لو جاءت جاريته بولد فأدعاه ثبت نسبه منه و كان الولد حراً و الجارية أم ولده ④ إن تزوج إمرأة جاز نكاحها و إن سمى لها مهراً جاز منه مقدار مهر مثلها ⑤ لو طلقها قبل الدخول وجب لها النصف ⑥ و تخرج الزكاة من مال السفيه و ينفق على أولاده و زوجته و من تجب نفقته من ذوي أرحامه ⑦ إن أراد حجة الإسلام لم يمنع منها ⑧ لو أراد عمرة واحدة لم يمنع منها ⑨ إن مرض و أوصى بوصايا في القرب و أبواب الخير جاز ذالك في ثلث ماله ⑩ ولا يحجر الفاسق عندنا إذا كان مصلحاً لماله.

مسائل الاختلافية بين ابي حنيفة وصاحبيه﴾ ددې نه پس ئې ونيلی دی.چه په دې باب کښې د امام ابوحنيفه

او صاحبینو ﷫ په مینځ کښې چه کومې اختلافی مسئلې دی.هغه صرف درې دی.چه د هغې نه دوه مسئلې په هدايه او بنايه کښې د باب په شروع کښې ذکر دی. ① يوه دا چه د امام ابوحنيفه ﷫ په نيز سفيه باندې حجر نشی کيدې.د صاحبينو ﷫ په نيز کيدې شی. ② دويمه مسئله دا ده.چه کوم هلك د،،سَفَه،،په حالت کښې بالغ شی.او پنځيشتو کالو ته اورسيږی.نو د امام ابوحنيفه ﷫ په نيز به دده مال ده ته سپارلې کيږی.اګرچه په ده کښې د عقلمندئ آثا نه وی ښکاره شوې.او د صاحبينو ﷫ په نيز ترکومه پورې چه د عقلمندئ آثارنه وی ښکاره شوې.تر هغه وخته پورې به مال نشی ورکولې. ③ او يوه مسئله صرف په هدايه کښې د باب په آخر کښې ذکر ده.او هغه دا چه د صاحبينو ﷫ په نيز به قاضی د غفلت په وجه حجر کوی.

بيا په رومبو دوارو مسئلو کښې هم د امام ابوحنيفه ﷫ قول په ذکر کښې اصل ګرځولې شوې دې.او د صاحبينو ﷫ قول ئې ددې تابع کړې دې.ددې باب صرف يوه مسئله داسې پاتې شوه.چه هغه د صاحبينو ﷫ په قول باندې مبنی ده.د امام ابوحنيفه ﷫ په قول مبنی نه ده.او هغه آخری مسئله ده.چه صرف په هدايه کښې ذکر ده.نو دا ونيل صحيح نه دی.چه ددې باب ټولې مسئلې د صاحبينو ﷫ په قول باندې مبنی دی.البته که قائل ددې په ځائې داسې ونيلی وو.چه دا باب د،،باب الحجر للفساد،، په لقب سره ملقب کول د صاحبينو ﷫ په قول باندې مبنی دی.د امام ابوحنيفه ﷫ په قول باندې مبنی نه دی.نو په يوه درجه کښې به دا صحيح وه.

په سفيه ناپوهه باندې د حجر حکم

(قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ: امام ابوحنيفه ﷫ فرمانی. لَا يُحْجَرُ عَلَى السَّفِيهِ، اذاكَانَ عَاقِلاً بَالِغاً حُرّاً چه په سفيه باندې به حجر نشی کولې خو په دې شرط چې عاقل، بالغ او ازاد وی .وَتَصَرُّفُهُ فِي مَالِهِ جَائِزٌ او دده تصرف دده په مال کښې جائز دې.وَإِنْ كَانَ مُبَذِّراً مُفْسِداً يُتْلِفُ مَالَهُ فِيمَا لَا غَرَضَ لَهُ فِيهِ وَلَا مَصْلَحَةَ اګرچه دې فضول خرچه او مفسد وی.مال برباده وی.په هغه څيزونو کښې په کوم کښې چه دده نه څه فائده شته.او نه مصلحت، مثل ان يتلفه فى البحر اويحرقه فى النار.مثلاً چې په درياب کښې يې ورلاهو کړی يا ئې په اور کښې اوسوزوی

تشريح> عدم الحجرعلی السفيه> د امام ابوحنيفه ﷫ په نيز آزاد ، عاقل، بالغ سړی باندې دده د سفاهت په وجه حجر نشی کيدلې.بلکه پخپل مال کښې به دده تصرف جائز وی.اګرچه دې داسې فضول خرچه وی.چه خپل مال په داسې کارونو کښې خرج کړی.چه هغې کښې نه دده څه مقصد وی.او نه مصلحت، مثلاً مال په درياب کښې ډوبه وی.يا ئې په اور کښې سوزوی.د سفيه د حجر په باره کښې د عبيدالله بن الحسن قول هم د امام ابوحنيفه ﷫ د قول پشان دې.او د حضرت ابراهيم نخعی ﷫ نه هم دا نقل دی.(انه قال: لايحجرعلی حر) او د محمد بن سيرين او حسن بصری ﷫ نه هم دغه شان نقل دی.(لايحجر علی حرانما يحجرعلی العبد).

دلائله> ① د امام ابوحنيفه ﷫ نقلی دليل دا دې.چه د نبی کريم ﷺ په وړاندې د حضرت حبان بن منقذ ﷛ تذکره اوشوه.چه هغوی به اکثر په اخستلو خرڅولو کښې دهوکه خوړله.نو نبی کريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو .چه ته د اخستلو نه پس داسې وايه چلالا خلابة په دې کښې به دهوکه نه وی.(

صحيحان عن ابن عمر)

② دليل دا دې چې سفيه سړې مخاطب هم دې.او عاقل هم دې.په دې كښې رومبې وصف (مخاطب كيدل) د تصرف اهليت طرف ته اشاره كوى.ځكه چه مكلف كيدل ددې تقاضه كوى.چه په استيفاء باندې تمكن (او قدرت) حاصل شي.او د تكليف د موجب مطابق عمل اوكړى.او په استيفاء به قدرت هغه وخت حاصليږى.كله چه مالونو ته رسيدل اوشي.او مالونو ته رسيدل د تمليك او تملك په ذريعه كيږى.دويم وصف عاقل كيدل دى.چه ددې په ذريعه د تميز اهليت ثابتيږى.بيا شريعت عقل د تمليك او تملك په اعتبار سره د تصرفاتو يوه لاره مقرر كړې ده.او دا ددې معنى په لحاظ سره دى.او دا معنى د عقل مند سړى پشان سفيه سړى كښې هم موجود ده.ځكه چه په ده كښې په دومره اندازه عقل موجود وى.چه د هغې په وجه الله تعالى دې مخاطب كړې دې.كه د بچى پشان دې هم بې عقله وو.نو د ايمان او شرائعو مخاطب به نه وو.نو لكه څنګه چه عقل او سلامتيا سره تصرف كونكې نه محجور كيږى.دغه شان به سفيه هم نه محجور كيږى.ګنى بنكاره ده.چه دده ولايت په زبردستئ اخستل، ګويا دې د سړى توب نه غورځول، او څاروو سره ملاوول دى.حالانكه ددې نقصان د فضول خرڅئ په نسبت ډير زيات دې.نو د معمولى ضرر (يعنى فضول خرڅې) اعلى ضرر (حجر) نشى برداشت كولې.ځكه چه مال يو زياتى نعمت دې. او د ژبې بنديز نه كيدل اصلى نعمت دې.نو سړى چه په نورو حيواناتو كومه مرتبه او فوقيت لرى.هغه د خپلو قولى تصرفاتو په اعتبار سره لرى.

استثناء مسئلة البته كه په محجور كولو كښې عام ضرر دفع كول وى.مثلاً څوك جاهل سړې طبيب جوړ شو.يا څوك بې پرواه او بې حيا سړې مفتى شي.يا څوك غريب سړې چه هغه سره څاروى وغيره نشته.هغه په كرايه باندې د وركولو ټهيكدار شو.نو دوى ټول به محجور كولې شي.لكه څنګه چه د امام ابوحنيفه رحمه الله نه نقل دى.ځكه چه دا د معمولى ضرر په ذريعه اعلى ضرر دفع كول دى.

السوال د امام ابوحنيفه رحمه الله په دې دليل باندې چې سفيه مخاطب دې او عاقل دې دا اشكال كيږى.چه دا دليل غلام سره ماتيږى.چه غلام هم مخاطب او عاقل دې.ددې باوجود هغه باندې حجر كولې شي؟

الجوابان ددې جواب په دوه طريقو دې. ① يو دا چه دلته كښې لفظ مخاطب مطلق دې.او مطلق خپل كامل فرد طرف ته واپس كيږى.او غلام كامل مخاطب نه دې.ځكه چه دده نه ډير مالى خطابات لكه زكاة، صدقهٔ فطر(سرسايه)، اضحيه (قربانى) مالى كفارات، او بعض غيرمالى خطابات مثلا حج، جمعه، د اخترونو مونځونه، شهادات وغيره ساقط دى. ② دويم جواب دا دې.چه د مخاطب نه مراد په دلالت د محل د كلام هغه دې.كوم چه د مالى تصرفاتو مخاطب وى.ځكه چه بحث د مسئلې د مالى تصرفاتو نه د حجر په باره كښې دې.لكه بيع او شراء، هبې او صدقات وغيره.په دې صورت كښې مذكوره قول چې دې مخاطب دې غلام ته شامل نه دې.ځكه چه د غلام هيڅ مال نه وى.

د بلوغت نه پس د سفيه (كم عقل) حكم

اِلَّا اَنَّهٗ قَالَ خو بيا دومره ده چې امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلى دى اِذَا بَلَغَ الْغُلَامُ غَيْرَ رَشِيْدٍ كله چه يو هلك د بې وقوف توب په حالت كښې بالغ شي. لَمْ يُسَلَّمْ اِلَيْهِ مَالُهٗ نو دده مال به ده ته نشي حواله كولې. حَتّٰى يَبْلُغَ خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ سَنَةً،تردې چه هغه د پنځيشتو كالو شي. وَاِنْ تَصَرَّفَ فِيْهِ قَبْلَ ذٰلِكَ او كه ده ددې نه وړاندې په مال كښې څه تصرف اوكړو. نَفَذَ تَصَرُّفُهٗ نو دده تصرف به نافذ وى.

تشريح عدم التسلم عند عدم الرشد عند البلوغ كوم سړې چه د بالغ كيدو نه پس هم دومره هوښيار نه وى.چه خپله نفع نقصان اوپيژنى.نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به ده ته دده مال نشى وركولې.تردې چه دى د پنځيشتو كالو شي.ددې نه پس به ده ته مال وركولې شي.كه هغه مصلح وى.او كه مفسد وى.

دليله> خکه چه آيت ﴿فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ﴾ کښې مال حواله کول د رشد (عقلمندئ) په وجود باندې معلق دی.نو ددې نه وړاندې به مال ورکول جائز نه وی.خکه چه د ممانعت علت ،،سفه،، (بې وقوفي) ده.نو ترکومه پورې چه دا علت باقي پاتې وی.تر هغه وخته پورې به ممانعت هم باقي پاتې وی. او دا د صبی (ماشوم توب) پشان شو.چه ترکومه پورې ماشوم توب باقي پاتې وی.تر هغه وخته پورې بچی ته اجازت نه وی.

فَإِذَا بَلَغَ خَمْسًا وَعِشْرِينَ سَنَةً کله چه هغه د پنځيشتو کالو شي. يُسَلِّمُ إِلَيْهِ مَالَهُ وَإِنْ لَمْ يُؤْنَسْ مِنْهُ الرُّشْدُ.نو مال به ده ته حواله کولې شي.اګرچه دده نه د هوښيار توب آثار نه وی ښکاره شوی.

تشريح> التسليم عند خمس وعشرين سنة> امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چې د پنځويشتو کالو په عمر کښې به ورته سپارلې شي اګرچې دده بې وقوفتيا ختمه شوې نه وی البته که د پنځويشتو کالو نه وړاندې ده په خپل مال کښې څه تصرف اوکړو نو هغه به نافذ وی

دلائله> ① د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې چه د بلوغ نه پس کله د عقل مندئ آثار ښکاره نشی.نو منع کول د ماشوم والی په اعتبار سره دی.چه دا د بلوغ ابتدائی زمانې زمانې پورې وی.او په اوګدې زمانې تيريدو سره ختميږی.او د اوګدې زمانې اندازه په پنځيشتو کالو سره خکه شوې ده.چه د عمر په لحاظ سره د بلوغ موده اتلس کاله ده.او بلوغ ته نيزدې زمانه د بلوغ په حکم کښې ده.چه ددې اندازه د اووه کالو نه ده.په ابتداء کښې د تميز په مودې باندې قياس کولو سره.چه دې طرف ته په حديث (مروا صبيانکم بالصلاة إذا بلغوا سبعة) کښې اشاره ده.نو ددې مودې نه پس ممانعت نه پاتې کيږی.او په دې وجه (چه ممانعت د ماشوم توب په اعتبار سره دې) امام ابوحنيفه رحمه الله اوفرمائيل.که هغه د بلوغ په وخت عقلمند شي.او بيا سفيه (کم عقل) شي.نو دده به مال نشی منع کولې.خکه چه اوس دده بې وقوفی (او کم عقل توب) د ماشوم والی اثر نه دې.

② د امام ابوحنيفه رحمه الله د دليل تقرير دا دې.چه د سفيه (بې وقوف) نه مال منع کول په طريقه د تاديب دی.يعنی علت د منع کم عقل توب سره د قصد د تاديبه دې.چه ده ته په فضول خرچئ باندې تنبيه (او خبرداري) وی.او ددې تقاضه دا ده.چه هغه محل د تاديب وی.او سفيه محل د تاديب کيدل هغه وخته پورې دې.تر کومه پورې چه د ادب قبلولو اميد وی.او ښکاره او غالب هم دا دی.چه د پنځيشتو کالو نه پس ده ته د ادب حاصليدلو هيڅ توقع نه پاتې کيږی.حالانکه بعضو وختونو کښې سړې په دومره موده کښې نيکه جوړيږی.خکه چه د هلك په حق کښې د بلوغ کم نه کمه موده دولس کاله ده.او د حمل کم نه کمه موده شپږ مياشتې ده.اوس مثلاً د دولس کالو په عمر کښې دده خوئې پيدا شو.بيا د دولسو کالو نه پس په شپږمه مياشت دده د خوی خوئې پيدا شو.نو هغه د پنځيشتو کالو په عمر کښې نيکه شو.او هرکله چه په دومره موده کښې دده فرع هم اصل شو.نو اوس هغه په اصل کيدو کښې انتهاء ته اورسيدلو.او د ادب راتلو هيڅ توقع پاتې نشوه.نو په مال منع کولو کښې هيڅ فائده پاتې نشوه.امام محمد رحمه الله دې طرف ته اشاره کړې ده.فرمائی. چه دارايت انه لوبلغ مبلغاً صار ولده قاضياً وله نافلة أكان يحجر على أبيه ويمنع المال منه هذا قبيح

السوال> د نيکه دپاره خو صرف د دوه ويشتو کالو موده کافي کيږی.مثلاً د دولس کالو په عمر کښې د بوکس په شپږمه مياشت لور پيدا شوه.چه هغه په نهمه مياشت بالغه شوه.او د واده نه پس په شپږمه مياشت ددې بچې پيدا شو.نو هغه په دوه ويشتو کالو کښې نيکه جوړ شو؟

الجواب> دلته د جد (نيکه) نه مراد جد صحيح يعنی د پلار د طرفه نيکه دې.جد فاسد يعنی د مور د

طرفه نیکه مراد نه دې.ځکه چه د مور د طرفه د نیکه هیڅ اعتبار نه کیږی.

فائده د امام ابوحنیفه رحمه الله اصل دلیل دا آیت ﴿وَاٰتُوا الْیَتٰمٰی اَمْوَالَهُمْ﴾ دې.په دې کښې مال ورکول د بلوغ نه پس مراد دی.نو د بالغ کیدو نه پس به مال ده ته حواله کولې شی.پاتې شوه د پنځیشتو کالو موده، نو دا ددې دپاره ده.چه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه نقل دی.چه کله سړې د پنځیشتو کالو شی. نو دده عقل انتهاء ته رسیږی.

سفیه به د تجارت نه منع کولې شی

> وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رحمهما الله امام ابویوسف او امام محمد رحمهما الله فرمانی. يُحْجَرُ عَلَى السَّفِيْهِ چه په سفیه به حجر کولې شی. وَيُمْنَعُ مِنَ التَّصَرُّفِ فِيْ مَالِهِ(١) او هغه به پخپل مال کښې تصرف کولو نه منع کولې شی.

تشریح- مذهب الصاحبین د صاحبینو او آئمه ثلاثه رحمهم الله په نیز به سفیه باندې حجر کولې شی.او دې به پخپل مال کښې د داسې تصرف کولو نه منع کولې شی.چه هغه د فسخ احتمال لری.لکه بیع او شراء او اجاره وغیره.البته په کومو کارونو کښې چه د فسخ احتمال نشته.هغې کښې به حجر نشی کولې.لکه طلاق او عتاق او د حدود د قصاص اقرار، او نکاح وغیره.

دلائلهما ① د صاحبینو دلیل د الله تعالی ارشاد دې. ﴿فَإِنْ كَانَ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيْهًا اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ﴾ ،،بیا که هغه کس په چا چه قرضه ده.بې عقله دې.یا ضعیف دې.یا پخپله نشی خودلې. نو اودې ښائی.کارګزار دده په انصاف سره،، ددې آیت نه صفا معلومیږی.چه سفیه باندې ددهٔ د ولی ولایت حاصل دې.په درمختار کښې دی.چه فتوی د صاحبینو رحمهما الله په قول ده.

② دویم دلیل دا دې.چه ذکر شوې سفیه پخپل مال کښې فضول خرچه دې.چه مال د عقل د تقاضې مطابق نه خرچ کوی.نو دده د خیرخواهئ په لحاظ به محجور کولې شی.

الجواب عنه خو د دې قیاس نه جواب دا دې چې سفیه باندې د حجر جواز، د مال د منع په جواز باندې قیاس کول صحیح نه دې.ځکه چه منع د مال خو په طریقه د عقوبت او د سزا په طور دی.چه دده په فضول خرچئ باندې تنبیه وی.او د مال منع کولو په نسبت محجور کولو کښې عقوبت زیات دې.نو زیات قوی څیز د خپل نه په کم او ضعیف څیز باندې قیاس کول صحیح نه دی.او دده د دویم قیاس(اعتبارا بالصبی) جواب دا دې.چه سفیه په صبی باندې قیاس کول هم صحیح نه دی.ځکه چه صبی نه پخپله معامله کښې د بهترئ د فکر کولو اهلیت نشته.او سفیه ته دا قدرت حاصل دې.ځکه چه ده ته آزادی، عقل او بلوغ ورکړې شوې دې.خو هغه پخپلې بد اختیارئ سره ددې په خلاف لاره باندې چلیږی.نو دا د قادر په عاجز باندې قیاس کول شو.چه دا فاسد دې.

> فَاِنْ بَاعَ لَمْ يَنْفُذْ بَيْعُهٗ فِيْ مَالِهٖ نوکه سفیه بیع اوکړه دده بیع به د ده په مال کښې نافذه نه وی وَاِنْ كَانَ فِيْهِ مَصْلَحَةٌ او که په دې کښې څه بهتری وی. اَجَازَهُ الْحَاكِمُ نو حاکم اجازت ورکولې شی.

تشریح- تفریع المسئلة امام قدوری رحمه الله فرمانی.چه دا تفریع د امام ابوحنیفه رحمه الله په قول باندې نشی کیدې.ځکه چه امام صاحب رحمه الله حجر ته د سره جائز نه وائی.بلکه تفریع د هغوی په قول باندې کیدې

---

(١) القول الراجح هو قول الصاحبين رحمهما الله كذا في ردالمختار(٥\١٠٣) والبحرالرائق (٨\١٤٦) ومجمع الأنهر (٤\٥٣) نقلاً عن القول الراجح (٢\٥٠)۔

شي.خوك چه حجر ته جائز وائي.نو د صاحبينو ﷫ په نيز چونكه حجر صحيح دي.په دې وجه ددوی په نيز د سفيه بيع نه نافذ كيږي.كله چه هغه د حجر نه پس خرڅ كړي.چه د حجر پوره فائده ښكاره شي.نوكه د سفيه په بيع كښې څه بهتري وي.په دې طريقه چه دا د اصل قيمت په عوض وي.يا په دې كښې نفع وي.او ثمن دده سره باقي هم وي.او حاكم ددې اجازت وركړي.نو دده موقوف بيع به جائز وي.

دليله> ځكه چه ركن د تصرف چه ايجاب او قبول دي.هغه دلته كښې موجود دې.پاتې شو ددې موقوف كيدل، نو هغه دده بهتري (او فائدې) ته په كتلو سره وو.او حاكم هم ددې فائدې د كتلو دپاره مقرر كړې شوې دې.نو هغه به دده بهتري ګوري.او اجازت به وركوي.لكه مثلاً هغه بچې كوم چه په اخستلو او خرڅولو پوهيږي.او ددې قصد كوي.نو دده ولي دده فائده ګوري.او اجازت وركوي.

د سفيه د غلام آزادولو حكم

وَإِنْ أَعْتَقَ عَبْدًا كه سفيه غلام آزاد كړو. نَفَذَ عِتْقُهُ)نو دده آزادول نافذ كيږي.

تشريح> كه سفيه د محجور كيدو نه پس خپل يو غلام آزاد كړي. (1)

الاصل عندهما> په دې باب كښې د صاحبينو ﷫ په نيز اصول دا دې.چه په كوم تصرف كښې هزل او توقه اثر كوي.هغې كښې حجر هم اثر كوي.او په كوم كښې چه هزل اثر نه كوي.هغې كښې حجر هم اثر نه كوي.وجه دا ده.چه سفيه هم د هازل په معنى كښې دې.په دې حيثيت سره چه د هازل ګفتګو د نفس د خواهش مطابق او د عقل مخالف په داسې طريقه سره وي.چه عقل مند او هوښيار خلق داسې قسمه كلام نه كوي.خو دا په قصد سره كيږي.په دې وجه نه كيږي.چه عقل كښې څه نقصان دې.او هم دا حال د سفيه دې.چه دده كلام هم داسې وي.او په عتق كښې هزل اثر نه كوي.نو د سفيه آزادول به صحيح وي.

السوال> هركله چه سفيه د هازل په مرتبه كښې دې.نو لكه څنګه چه د هازل آزادولو سره په غلام باندې سعايت نه واجبيږي.نو هم دغه شان د سفيه آزادولو سره هم واجبيدل پكار نه دي.حالانكه د صاحبينو ﷫ په نيز دلته غلام باندې سعايت واجبيږي؟

الجواب> د سفيه حجر د فائدې (او بهترۍ) په نظر سره دې.او بهتري د سعايت په وجوب كښې ده.په خلاف د هازل، چه هغه محجور نه دې.

عَلَى أَنْ يَسْعَى فِي قِيمَتِهِ)نو په غلام به واجب وي.چه هغه پخپل قيمت كښې سعايت (او مزدوري) اوكړي.

تشريح> **وجوب السعي علي العبد في القيمة**> هركله چه د صاحبينو ﷫ په نيز د سفيه آزادول صحيح شو.نو په غلام به خپل قيمت كښې سعايت واجب وي.

دليله> ځكه چه حجر خو د فائدې په غرض سره وو.او بهتري هم په دې كښې ده.چه آزادي رد كړې شي.خو آزادي رد كول متعذر دي.ځكه چه آزادي د فسخ قابل نه ده.نو دا به په دې طريقه رد كولې

---

(1) **مذهب الشافعي**: د امام شافعي او امام احمد ﷫ په نيز نه نافذ كيږي،، وهو قياس قول مالك ﷬،،

الاصل عندالشافعي:-دامام شافعي ﷬ اصول دا دې.چه د سفاهت په وجه محجور كيدل هم داسې دي.لكه د غلامۍ په وجه محجور كيدل.تر دې چه د حجر نه پس دده هيڅ تصرف نه نافذ كيږي.سوا د طلاق نه.لكه څنګه چه د غلام حكم دې.او د غلام آزادول نه صحيح كيږي.نو هم دغه شان به د سفيه آزادول هم صحيح نه وي.

شي.چه دده قیمت به واپس کولي شي.لکه که قرضداري بیمار که د مرض په حالت کښې غلام آزاد کړي.نو هغه به د قرضدارانو دپاره په پوره قیمت کښې سعایت کوي.اوکه د مریض په ذمه قرض نه وي.نو غلام به د وارثانو دپاره پخپل دوه ثلثه قیمت کښې سعایت کوي.

الروایة عن محمد> د امام محمد رحمه الله نه د سعایت د عدم وجوب روایت هم دې.(چه دې ته په مبسوط کښې د امام ابویوسف رحمه الله آخری قول ونیلی شوی دی.رومبني قول د امام محمد رحمه الله د قول پشان د سعایت د وجوب دې). وجه دا ده.چه دلته سعایت د معتق (آزادونکی) د حق په وجه واجبیږي.حالانکه په شریعت کښې ددې وجوب د غیر معتق (قرضدارانو) د حق په وجه معهود (او مطلوب) دې.لکه مثلاً چه یو شریکوال غلام آزاد کړي.نو د دویم شریکوال د حق په وجه سعایت واجبیږي.

د سفیه محجور د نکاح حکم

(وَإِنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً که محجور سفیه یوې ښځې سره نکاح اوکړله. جَازَ نِكَاحُهُ نو دده نکاح جائز ده.

تشریح> که سفیه محجور یوې ښځې سره نکاح اوکړله. دده نکاح جائز ده.([1])

دلیلهم> ځکه چه د احستلو پشان نکاح هم عقد معاوضه ده.نو د ولی د اجازت نه بغیر به جائز نه وي.مونږ دا وایو.چه په نکاح کښې هزل (ټوقه) اثر نه کوي.نو حجر به هم اثر نه کوي.او په دې وجه هم چه نکاح دده د اصلی ضروریاتو ځنې ده.

دلائله> ① ځکه چه نکاح کښې هزل (ټوقه)اثرنه کوي.د دې وجې د ده نکاح جائز ده

②ځکه چه نکاح دده د اصلی ضرورتونو ځنې ده.

(فَإِنْ سَمَّى لَهَا مَهْرًا او که ددې دپاره ئې څه مهر مقرر کړو. جَازَ مِنْهُ مِقْدَارُ مَهْرِ مِثْلِهَا)نو ددغې د مهر مثل په اندازه به جائز وي.وَبَطَلَ الْفَضْلُ)او زیاتی مقدار به باطل وي.

تشریح> **صورة تسمیة المهر**> که سفیه د خپلې ښځې دپاره مهر مقرر کړي نو په دې صورت کښې به د ده مهر د مهر مثل په برابری وي او که زیاتی وي نو هغه به باطل او ناجائز وي

دلیله> په مقدار د مهر مثل ځکه جائز دې چې دا د نکاح د ضروریاتو ځنې دې.نو بغیر د دې نه نکاح نه کیږي.او زیاتی ځکه باطل دې چه ددې هیڅ ضرورت نشته.اوغلام ده په بیانولو سره پخپله ذمه لازم کړي دې.،حالانکه په دې کښې دده بهتری نشته.نو زیاتوالي به صحیح نه وي.

وَقَالَا: فِيمَنْ بَلَغَ غَيْرَ رَشِيدٍ صاحبین رحمهما الله فرمائی.دهغه چا باره کښ چه بالغ شوې وي خو پوهه نه وي لَا يُدْفَعُ إِلَيْهِ مَالُهُ أَبَدًا چه دده مال به ده ته کله هم نشی حواله کولي. حَتَّى يُؤْنَسَ مِنْهُ رُشْدُهُ،تردې چه دده نه هوښیار توب ښکاره شي. وَلَا يَجُوزُ تَصَرُّفُهُ فِيهِ)([2])او په مال کښې به دده هیڅ تصرف جائز نه وي.

تشریح> **السوال**> په قول د صاحب د عنایه رحمه الله لفظ د،،أبد،،او،،حتی،،دواړه جمع کولو کښې تسامح ده؟

---

[1] **مذهب الائمة**> د امام مالك، امام شافعي،او د ابوالخطاب حنبلی رحمهم الله په نیز د ولی د اجازت نه بغیر جائز نه ده.

[2] القول الراجح هو قول الصاحبين رحمهما الله كذا في مجمع الأنهر(٤\٥٣) وردالمحتار(٥\١٠٥) والدرالمنتقى (٤\٥٣، ٥٤) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٥١)۔

الجواب> دا دي چه د ابد نه مراد اوګده زمانه ده.لکه څنګه چه بعضو مفسرينو په آيت ﴿وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا﴾ کښې لفظ د خلود په مکث طويل باندې محمول کړې دې.(فلاتدافع بين أبد وحق).

مذهب الصاحبين> د صاحبينو رحمهما الله او د آئمه ثلاثه رحمهم الله په نيز به مال نشى ورکولې.ترکومه پورې چه د عقل مندئ آثار ښکاره نشي.اګرچه ټول عمر تير شي.

دليلهما> د صاحبينو دليل دا دې چې د سفيه د منع کولو علت هغه سفه ده نو تر څو پورې چې سفه او بيوقوفتوب باقي وي نو ترهغه وخته پورې به ده ته د ده مال نشي ورکولې.او دې د ماشوم پشان شو نو لکه څنګه چه ماشوم ته د هغه مال نشي ورکولې دغه شان سفيه ته هم نشي ورکولې.

(وَتُخْرَجُ الزَّكَاةُ مِنْ مَالِ السَّفِيهِ)او اوښکلي به شي.زکاة د سفيه د مال نه.

تشريح> د سفيه په مال کښې به دده متوليان زکاة ورکوي

دليله> ځکه چې دا په ده باندې واجب دي. اوباقي دا خبره چې څنګه واجب دې نو د دې تفصيلي بحث به انشاء الله په هدايه کتاب الزکاة کښې راشي.الله مو ورته اورسوئ.

فَإِنْ أَرَادَ حَجَّةَ الْإِسْلَامِ که سفيه د حج اسلام اراده اوکړله.لَمْ يُمْنَعْ مِنْهَا نو ددې څخه به نشي منع کولې.

تشريح> نفس مسئله آسانه ده

دليله> ځکه چې حج په ده باندې دده د فعل نه بغير په ايجاب د الله ﷻ سره واجب شوې دې.

وَلَا يُسَلِّمُ الْقَاضِي النَّفَقَةَ إِلَيْهِ خو قاضی به د حج خرچه ده ته نه ورکوی.وَيُسَلِّمُهَا إِلَى ثِقَةٍ مِنَ الْحَاجِّ يُنْفِقُهَا عَلَيْهِ فِي طَرِيقِ الْحَجِّ يو اعتمادي حاجی ته به ئې ورکوی.چه هغه ئې د حج په لاره کې په ده باندې خرج کوی

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.

دليله> قاضی به دا کار د دې دپاره کوی چې سفيه دا نفقه بې ځايه خرج نکړي.

(فَإِنْ مَرِضَ که سفيه بيمار شو.وَأَوْصَى بِوَصَايَا فِي الْقُرَبِ وَأَبْوَابِ الْخَيْرِ او ده د قربت او د خير په کارونو کې څه وصيتونه اوکړل.جَازَ ذٰلِكَ مِنْ ثُلُثِهِ فِي مَالِهِ)نو دا به دده د دريمې برخې (حصې) مال نه جائز وی.

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.

دليله> ځکه چې دده بهتری هم په دې کې ده. ځکه چې اوس د خپل مال نه دده د منقطع کيدو حالت دې.

هلك كله بالغ كيږي؟

بُلُوغُ الْغُلَامِ بِالْاِحْتِلَامِ وَالْإِنْزَالِ وَالْإِحْبَالِ إِذَا وَطِئَ،د هلك بالغ کيدل احتلام، حامله کول، او انزال سره دی.کله چې دې وطی اوکړی.وَإِنْ لَمْ يُوجَدْ ذٰلِكَ که په دې کې يوه خبره هم او نه موندې شی.فَحَتَّى يَتِمَّ لَهُ ثَمَانِي عَشْرَةَ سَنَةً،نو چې اتلس کاله پوره شی.عندابی حنيفة امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز.

تشريح> **علام البلوغ في الغلام**> د ماشوم هلك بلوغ په دريو امورو کې يو سره کيږی :

① احتلام یعنی خوب کي صحبت کول، او منی خارجیدل.
② احبال یعنی ښځي سره وطی اوکړی.او هغه حامله کړی.
③ انزال،په دې دریو وارو کي اصل انزال دی.ځکه چې احتلام بغیر د انزال نه معتبر نه دی.او ښځه هم د انزال نه بغیر نه حامله کیږی.نو انزال اصل اوګرځیدلو.او احبال او احتلام ددې علامتونه شو.

وَبُلُوغُ الْجَارِيَةِ بِالْحَيْضِ وَالِاحْتِلَامِ وَالْحَبَلِ او د انجلی بالغ کیدل حیض، احتلام، او په حمل کیدلو سره دی. فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ که یوه خبره هم اونه موندې شی. فَحَتَّى يَتِمَّ لَهَا سَبْعَ عَشْرَةَ سَنَةً)نو کله چې اوولس کاله پوره شی.(نو دوی به بالغ وی).وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا هم د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دی.

تشریح﴾ علام البلوغ في الجارية﴿ د ماشومې انجلی بلوغ هم په دریو امورو کي یو سره کیږی : ① حیض ② احتلام ③ حبل یعنی حامله کیدل.که په دې کي یوه خبره هم اونه موندې شی.نو بیا به د عمر لحاظ کیږی.یعنی کله چې هلك د اتلسو کالو او انجلی د اوولسو کالو شی.نو د بالغ کیدلو حکم به لګولې شی.د هلك او د جینئ د بلوغ دا علامات داحکم د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دی.

دلیله﴾ د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا آیت دی. ؟﴿وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ﴾ په دې کي د اشد(پوخ عقل) نه مراد د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د تفسیر مطابق اتلس کاله نقل دی.امام ابوحنیفه رحمه الله هم دا اخستې دی. البته انجلی چونکه په عامه توګه (عام طور) باندې زر بالغیږی.په دې وجه ددې په حق کي یو کال کم کړې شوې دې.ځکه چې په کال کي دننه څلور واړه موسمونه موجود دی.چه په دې کی به یو نه یو خامخا د مزاج (او طبیعت) موافق وی.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ:صاحبین رحمهما الله فرمائی.إِذَا تَمَّ لِلْغُلَامِ وَالْجَارِيَةِ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً [1])چې کله د هلك او انجلی لپاره پنځلس کاله پوره شی.نو دوی بالغ شو.

تشریح﴾ د بلوغ علامت نه موجود کیدلو په صورت کي د صاحبینو، امام شافعی ، امام احمد او د اصحابو د امام مالك رحمهم الله په نیز د هلك او د انجلی دواړو د بلوغ موده پنځلس کاله ده.دا یو روایت د امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم دی.او فتوی هم په دې ده.

دلائلهما﴾ ① د کال په ذریعه پنځلس کاله موده د بلوغ په اره کي د صاحبینو او د امام شافعی رحمهم الله دلیل دا دی چې عام طور په دې عمر کښې هلك او جینئ بالغان کیږی

② د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی. (قال عرضت على النبي ﷺ يوم أحد و أنا ابن أربع عشرة فلم يقبلني ولم يرني بلغت و عرضت عليه يوم الخندق و أنا ابن خمس عشرة سنة فقبلني و رآني بلغت) حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی چې زه د څوارلسو کالو په عمر کښې د غزوه احد په موقع نبی کریم ﷺ ته په جهاد کښې د شرکت دپاره پیش کړې شوم.نو زه ئې قبول نکړم اوزما په باره کښې ئې د نه بالغ کیدو حکم اوکړو او د خندق په موقع چې زما عمر پنځلس کاله وو زه کله پیش کړې شوم نو زه ئې قبول کړم او زما دبلوغ حکم ئې اوکړو.

الجواب عنه﴾ د دې حدیث ځواب دا دی.چه په دې سره مدعا نه ثابتیږی.ځکه چې د قتال د اجازت حکم د قتال په توان او قدرت باندې منحصر دې.او پنځلس کاله د کوم چې تاسو اجازت ورکړې دې.

[1] القول الراجح هو قول الصاحبين رحمهما الله كذا في الكفاية (٢٠١\٨) وملتقى الأبحر(٤٦١) ورد المحتار (١٠٧\٥) والهندية (٦١\٥) والدرالمنتقى (٦٠\٤) نقلاً عن القول الراجح (٢٥٢\٢)

هغه به دې وجه وو.چه هغه دغه وخت د قتال لائق او طاقتور جوړ شوې وو.ددې نه مخکې نه وو. دا (پنځلس کاله ددې لپاره نه ووچه مذکوره حکم د بلوغ او عدم بلوغ لپاره دې د حاکم روایت کې د سمره بن جندب ﷺ الفاظ (ولوصارعته لصرعته قال: فصارعته فصرعته) هم په دې دلالت کوي.

الفائدة> د زیر ناف (نامه د لاندې) ایختو اعتبار شته اوکه نه؟ د امام احمد ﷫ په نیز دا د بلوغ علامت دې.خو زموږ په نیز ددې هیڅ اعتبار نشته.البته په شرح طحاوی کې د امام ابویوسف ﷫ نه د اصولو د روایت نه سوا ذکر دی.چه دوی ددې اعتبار کړې دې.پاتې شو د انجلی سینې راوتل. نو په ظاهرالروایة کې به په دې سره د بلوغ حکم نشی لګولې.

د بلوغت په اړه کښې د هلك او د انجلی د قول حکم

وَإِذَا رَاهَقَ الْغُلَامُ أَوِ الْجَارِيَةُ الْحُلُمَ کله چې هلك یا انجلی بلوغ ته نژدې شی. فَأَشْكَلَ أَمْرُهُمَا فِي الْبُلُوغِ او بالغ او نا بالغ کیدل مشکل شی. فَقَالَا او دواړه اووائی. قَدْ بَلَغْنَا، چې مونږ بالغان شو. فَالْقَوْلُ قَوْلُهُمَا نو د دوی قول به معتبر وی. وَأَحْكَامُهُمَا أَحْكَامُ الْبَالِغِينَ) او ددوی احکام به د بالغانو پشان وی.

تشریح> راهق مراهقة، په معنی د خوانۍ ته د نژدې کیدلو، یقال رهقه(س) رهقا، هغه دې ته نژدې شو. (و منه إذا صلى أحدكم إلى سترة فليرهقها ويقال صلى الصلاة مراهقا) ده وخت ته نژدې لمونځ ادا کړو. (حلم بضم حاء بمعنی احتلام) د دې قول مطلب دا دې.که هلك یا انجلی بلوغ ته نژدې اورسیږی.او د بلوغ په اړه کې ددوی حالت مشتبه شی. یعنی دا نه معلومیږی.چه واقعی دوی بالغ شوی دی.او که نه دی.او دوی د خپل بالغ کیدو دعوه اوکړی. نو ددوی قول به قبلولې شی.لکه که ښځه د حیض راتلو خبر ورکړی.نو ددې قول قبلولې شی.

دلیله> ځکه قاعده کلیه ده.چه کوم امر صرف د ښځې د اړخه معلومیدې شی.هغې کې د ښځې ښکاره کول د آیت؟﴿وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ﴾ په حکم قبلولې شی.نو هم دغه ډول بلوغ ته د نژدې هلك قول به هم قبلولې شی.ځکه بلوغ داسې خبره ده.چه ددې علم هم ددوی د اړخه کیداې شی.

د قرض په وجه د حجر حکم

(قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: امام ابوحنیفه ﷫ فرمائی. لَا أَحْجُرُ فِي الدَّيْنِ عَلَى الْمُفْلِسِ چه زه به د قرض په وجه حجر نه کوم. وَإِذَا وَجَبَتْ دُيُونٌ عَلَى رَجُلٍ او کله چه په یوکس باندې ډیرې قرضې واجب شی. وَطَلَبَ غُرَمَاؤُهُ حَبْسَهُ وَالْحَجْرَ عَلَيْهِ او دده قرضخواه دده قید کول یا محجور کول اوغواړی. لَمْ أَحْجُرْ عَلَيْهِ) نو زه به په ده باندې حجر نه کوم. لِأَنَّ فِي الْحَجْرِ إِهْدَارَ أَهْلِيَّتِهِ ځکه چه حجر کولو کښې دده اهلیت ختمول دی. فَلَا يَجُوزُ لِدَفْعِ ضَرَرٍ خَاصٍّ نو د خاص ضرر دفع کولو دپاره به جائز نه وی.

تشریح> حکم الحجر بسبب الدین> په دې کښې کلمه د ،،فی،، سببیه ده.لکه چه ونیلې شی. وجب القطع فی السرقة) امام صاحب ﷫ فرمائی.چه په غریب قرضدار باندې حجر نشی کیدې.اګرچه قرضخواهان ددې مطالبه اوکړی.

دلیله ﴿ څکه چه په ده باندې حجر کول، ددې اهلیت ختمول بالکلیه ختمول دی.او دده سره د څناورو پشان د سلوك كولو پشان دی.په دې وجه د خاص ضرر یعنی د قرضخواهانو د قرض ضرر لرې کولو په خاطر به داسې نشی کولې.البته قاضی به دې قید کوی.چه دې د قرض ادا کولو په سلسله کښې خپل مال خرڅ کړی.څکه چه قرضدار باندې دین اداکول واجب دی.او ټال مټول ظلم دې.نو د ظلم لرې کولو په لحاظ قاضي دې قيد كولې شي.

وَإِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ بیا که دده مال وی.لَمْ يَتَصَرَّفْ فِيهِ الْحَاكِمُ)نو حاکم به په دې کښې هیڅ تصرف نه کوی. (وَلَكِنْ يَحْبِسُهُ أَبَدًاخو دې به برابر قید ساتی.حَتَّى يَبِيعَهُ فِي دَيْنِهِ)تردې چه دې خپل مال پخپله قرضه کښې خرڅ کړی.

تشریح ﴿ **عدم تصرف الحاکم فی مال المدیون** ﴿ بیا که د مذکوره قرضدار څه مال وی.نو حاکم به هغې کښې هیڅ تصرف نه کوی.

دلائله ﴿ ① څکه چه دا هم یوقسم حجر دې.او مدیون د قرض د وجې نشی محجور کولې ② او په دې وجه هم چه دا د رضا مندئ نه بغیر تجارت دې.نو په حکم د نص به باطل وی.لکه د الله تعالی ارشاد دې. يَآيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَأْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ او تاسو خلق پخپل مینځ کښې خپل مالونه په باطله طریقه مه خورئ.مګر دا چه ستاسو په رضامندئ سره تجارت وی،، معلومه شوه.چه د رضامندئ نه بغیر کوم اخستل خرخول وی.هغه باطل دی.نو هرکله چه قاضی قرضدار باندې دده د رضامندئ نه بغیر دده مال خرڅ کړو.نو په حکم د نص به باطل وی.البته قاضی دې دا قرضدار برابر قيد كښې اوساتی.تردې چه هغه پخپله خپله قرضه كښې دا مال خرڅ كړی.چه د قرضخواهانو حق ادا شی.او د قرضدار ظلم لرې شی.

کم مدة یحبس المدیون المفلس؟ ﴿ مذکوره غریب قرضدار څومره مودې پورې قید کښې ساتل جائز دی؟

① په دې کښې مختلف اقوال دی.په بعضو کښې دوه میاشتې، ② په بعضو کښې درې، ③ او په بعضو روایاتو کښې د څلورو میاشتو نه شپږ میاشتو پورې قید ساتل نقل دی.

القول الصحیح ﴿ خو صحیح دا ده.چه ددې هیڅ حد نشته.بلکه دا د قیدی په حال باندې مبنی ده.څکه چه بعض خلق په معمولی تنبیه سره یریږی.او بعض خلق داسې زړه ور وی.چه ډیرې مودې پورې جیل کښې د ساتلو باوجود صحیح خبره نه ښائی.په دې وجه به د حاکم په رائې باندې محمول وی.هغه چه څومره مودې پورې مناسب اوګڼړی.قید کښې دې اوساتی.بیا قیدی د شرعی او غیر شرعی هیڅ ضرورت دپاره بهر ته نشی راتلې.البته د بعضو فقهاؤ په نیز د مور پلار،نیکونو، او نیاګانو، او د اولاد جنازې دپاره راوتلې شی.تردې چه فقهاؤ تصریح کړې ده.چه د رمضان میاشت، د اخترونو، جمعې، فرض مونځونو، فرض حج، او د هیڅ چا د جنازې مونځ دپاره هم بهر ته نشی راتلې.په دې شرط چه خپل څوك كفيل پيش كړی.فتوی هم په دې قول ده.

د قرضدارې په سامان او دراهمو سره د قرض ادا کولو حکم

وَإِنْ كَانَ لَهُ دَرَاهِمُ که د قرضدار قرض دراهم وی.وَدَيْنُهُ دَرَاهِمُ أَوْعَلٰى ضِدِّ ذٰلِكَاو قرض هم دراهم وی.یا ددې برعکس وی فَقَضَاهُ الْقَاضِي بِغَيْرِ أَمْرِهِ نو ادا دې کړی.قاضی دده د اجازت نه بغیر،

تشریح ﴿ **اداء الدین من الدارهم** ﴿ که د قرضدار مال او دده قرض دراهم یا دنانیر وی.نو قاضی دې د قرضدار د امر نه بغیر د دراهمو او دنانیر نه قرض ادا کړی.

دليله ځکه مسئله دا ده.که قرضخواه د خپل قرضدار هم ددې جنس مال باندې قابو (او قدرت) اومومي. د کوم جنس چه قرضه ده.نو هغه د خپلې قرضې په اندازه د قرضدار د رضامندئ نه بغير هم اخستې شي.نو هغه ته د اخستلو حق د وړاندې نه حاصل دې.نو قاضي به صرف مددګار وي.لکه مثلاً که د غائب داسې مال موجود وي.چه هغه دده د اهل او عيال د واجب نفقې د جنس ځنې دې.نو قاضي مدد کوي.او ددې مال نه نفقه ورکوي.

(وَإِنْ كَانَ دَيْنُهُ دَرَاهِمَ وَلَهُ دَنَانِيرُ او که قرض دراهم وي.او مال دنانير يا ددې په عکس وي. بَاعَهَا الْقَاضِي فِي دَيْنِهِ)نو قاضي دې دا خرڅ کړي.دده په دين کښې.

تشريح اداء الدين من الدنانير که د مديون مال دراهم وي.او قرض دنانير يا ددې عکس وي.نو دا دې خرڅ کړي.او قرض دې ادا کړي.اوکه دده مال سامان او جائيداد وي.نو دا به هم خرڅولې شي.

دليله دنانير او دراهم دواړه ثمن دی نو لکه چې داوړه يو جنس دې د دې وجې د قرضخواه چې کوم جنس کښې حق دې نو داسې شوه چې هم هغه جنس د مقروض سره موجود دې او قاضي ته د دائن نه زيات اختيار حاصل دې نو د دې وجې دينار د درهم په قرض کښې او دغه شان درهم د دينار په قرض کښې خرڅولې شي

(وَقَالَ ابويوسف ومحمد: صاحبين ﷫ فرمائي.إِذَا طَلَبَ غُرَمَاءُ الْمُفْلِسِ الْحَجْرَ عَلَيْهِ چه کله : غريب (قرضدار) قرضخواه په ده باندې حجر طلب کړي. حَجَرَ الْقَاضِي عَلَيْهِ،نو قاضي به په ده باندې حجر کوي.

تشريح مذهب الصاحبين صاحبين او آئمه ثلاثه ﷫ فرمائي.که قرضخواهان په غريب قرضدار باندې د حجر قائمولو درخواست اوکړي.نو په ده باندې حجر کولې شي.نو قاضي به دې دخرڅولو ،اودهرقسمه تصرف او اقرار کولو نه منع کوي.چه د قرضخواهانو نقصان اونشي.

وَمَنَعَهُ مِنَ الْبَيْعِ وَالتَّصَرُّفِ وَالْإِقْرَارِ حَتَّى لَا يُضِرَّ بِالْغُرَمَاءِ)[1] او دې به د بيع او تصرف او اقرار نه منع کوي.چه قرضخواهانو ته ضرر او نه رسيږي.

تشريح منع السفيه من التصرفات بيا د صاحبينو ﷫ د قول (و منعه من البيع) مطلب دا دې.چه د ثمن مثل نه د کم په عوض خرڅولو نه به نې منع کوي.که هغه نې د ثمن مثل په عوض خرڅ کړي.نو ددې نه به نې نه منع کوي.ځکه چه په دې سره د قرضخواهانو حق نه فوت کيږي.

المفتي به په اختيار، درمختار، تنوير، تصحيح قدوري،بزاريه، جوهره، قاضي خان، ملتقى، او طائى شرح کنز وغيره کښې دی.چه په نفس حجر کښې او د قرضدار په اسباب او جائيداد خرڅولو کښې فتوى د صاحبينو ﷫ په قول باندې ده.

د غريب قرضدار د مال خرڅولو حکم

(وَبَاعَ مَالَهُ إِنِ امْتَنَعَ الْمُفْلِسُ مِنْ بَيْعِهِ او قاضي دې خرڅ کړي.دده مال که غريب ددې د بيع نه منع کيږي. وَقَسَمَهُ بَيْنَ غُرَمَائِهِ بِالْحِصَصِ او دده د قرضخواهانو په مينځ کښې دې د حصو موافق تقسيم کړي.

[1] القول الراجح هو قول الصاحبين ﷫ كذا في الخانية (٤\٥٠٣) والهندية (٥ \٥٤) والمبسوط (٢١\١٧٤) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٥٣)ـ

تشريح> بيع مال المفلس> كه مفلس د خپل مال خرڅولو نه منع شي.نو د صاحبينو رحمهما الله په نيز به قاضي دا خرڅ کړي.او ثمن دې د قرضخواهانو د حصو مناسب تقسيم کړي.
دليله> ځکه چه د قرض خلاصولو دپاره مال خرڅول قرضدار باندې واجب دی.تردې چه هغه ددې په وجه قيد کولې شي.نو دده په منع کيدو باندې قاضی دده قائم مقام شو.لکه مجبوب(مقطوع الذکر) او عنين (هجرا) که ښځې ته د طلاق ورکولو نه منع شي.نو قاضی دده قائم مقام جوړيږی.او طلاق ورکوی.

د حجر په حالت کښې د قرضدارې د اقرار حکم

(فَإِنْ أَقَرَّفِي حَالِ الْحَجْرِبِإِقْرَارِمَالٍ که قرضدار په حالت د حجر کښې څه اقرار اوکړو.لَزِمَهُ ذٰلِكَ بَعْدَ قَضَاءِالدُّيُونِ)نو دا به په ده لازم وی.د قرضونو د ادا کولو نه پس.

تشريح> اقرارالمفلس بمال> بيا که مذکوره قرضدار د حجر په حالت کښې څه اقرار اوکړو.نو دا اقرار به بالفعل لازم نه وی.بلکه د قرضونو ادا کولو نه پس به لازم وی.
دليله> ځکه چه دې موجوده مال سره مخکښې د قرضخواهانو حق متعلق شوې دې.نو هغه ددوی نه د علاوه دپاره اقرار کولو سره ددوی حق نشی باطلولې.

د غريب محجور قرضدار د کور د خلقو د نفقې حکم

(وَيُنْفَقُ عَلَى الْمُفْلِسِ مِنْ مَالِهِاو خرچ کولې به شی غريب باندې دده د مال نه، وَعَلَى زَوْجَتِهِ وَاَوْلَادِهِ الصِّغَارِوَذَوِي الْأَرْحَامِاو دده په ښځه، په ورو ماشومانو، او دده په ذوی الارحامو باندې،

تشريح> النفقة علي المفلس وعياله> د مفلس (غريب) نه مراد هم دا محجور قرضدار دې.يعنی ددې مفلس، او دده د ښځې او دده د ورو بچو او د ذوی الارحامو نفقه به هم دده د مال نه ورکولې شي.
دليله> ځکه چه دده اصلي ضرورت د قرضخواهانو په حق باندې مقدم دې.او په دې وجه هم چه د نفقې حق د نورو دپاره ثابت دې.نو حجر دا نشی باطلولې.او په دې وجه چه دده حالت اصليه د قرضخواهانو په حق باندې مقدم دې.که دده د يوې ښځې سره نکاح اوکړله.نو هغه
به د خپل مهرمثل مقداره پورې قرضخواهانو سره يوشان شريکه وی.

وَإِنْ لَمْ يُعْرَفْ لِلْمُفْلِسِ مَالٌ بيا که د غريب هيڅ مال نه معلوميدو.وَطَلَبَ غُرَمَاؤُهُاو قرضخواه دده قيد کول طلب کړی.حَبَسَهُ وَهُوَيَقُولُ لَامَالَ لِي حَبَسَهُ الْحَاكِمُاو هغه هم دا وائی.چه زما سره مال نشته.نو حاکم به دې قيد کوی.فِي كُلِّ دَيْنٍ لزمهپه هر داسې ورخ کښې چه دهغې پرې لازم وی بَدَلًاعَنْ مَالٍ حَصَلَ فِي يَدِهِ چې بدل وی د داسې مال چې هغه راغلې وی دده لاس ته كَثَمَنِ الْمَبِيعِ لکه د مبيع پيسې وَبَدَلِ الْقَرْضِاو د قرض بدل وَفِي كُلِّ دَيْنٍ او په هر هغه قرض کښې اِلْتَزَمَهُ بِعَقْدٍ چې ده لازم کړی وی په عقد سره كَالْمَهْرِوَالْكَفَالَةِ لکه مهر او کفالت

تشريح> طلب الغرماء المال> که د مفلس هيڅ مال ښکاره نشو.او قرضخواه خلق دده د قيد کولو درخواست اوکړی.حالانکه قرضدار هم دا وائی.چه زما سره هيڅ مال نشته.نو حاکم به دې په هر داسې قرضه کښې قيد کوی.نو قاضی دې په دوه قسمه قرضو کښې قيد کولې شي
الدين الذي وجب بالقبض> يوه داسې قرضه چې هغه د چا د مال د قبض کولو په وجه په ده باندې لازم شوې وی لکه چې يو څيز يې خرڅ کړې وی او د هغې قيمت ئې نه وی ورکړې او يا يې د چا نه قرض

اخستي وي او د هغې بدل يعنې قرض يې نه وي ادا کړي نو په دې قسم کښې کې قرضخواه دې قيد کول غواړي نو حاکم به دې قيد کوي

دليله> څکه چې د مفلس په لاس کښې دغه مبيع راغلې ده نو دا د دې خبرې دليل دې چې د ده په لاس کښې مال شته که نور مال نه وي نو کم نه کم مبيع خو ده نو هغه به خرڅه کړي او قرض به يې ادا کړي او يا به يې په قيد کښې اوساتي

الدين الذي وجب بالعقد> او که داسې قرض وو کوم چې د عقد په وجه په ده باندې لازم شوې وو لکه د مهر قرض نو د مهر په بدله کښې بضع د ده لاس ته راځي کومه من وجه مال کښې شمارلې شي

دليله> چې واده کوي نو دا د دې خبرې دليل دې چې ده سره مال شته که مال ورسره نه وو نو د مهر اقرار به ئې ولې کولو نو څکه به قيد کولې شي دغه شان که د چا کفيل او مه وار جوړ شي که هغه پيسې درنړي نو زه به ئې درکړم نو د دې عقد کفاله په وجه دهه په ذمه باندې قرض راغلې دې او مفلس وائي چې ما سره مال نشته نو په دې صورت کښې به هم حاکم دې قيد کوي څکه چې داسې عقد کول چې د هغې په وجه په ده باندې قرض لاميږي د دې خبرې دليل دې چې ده سره مال شته

وَلَمْ يَحْبِسْهُ فِيْمَا سِوٰى ذٰلِكَ او ددې نه په علاوه کښې به ئې نه قيد کوي كَعِوَضِ الْمَغْصُوْبِ وَاَرْشِ الْجِنَايَاتِ لکه په عوض د مغصوب کښې اود جناياتو په بدله کښې. اِلَّا اَنْ تَقُوْمَ الْبَيِّنَةُ بِاَنَّ لَهٗ مَالًا: البته که گواهان قائم کړي په دې خبره چه ده سره مال شته. وَيَحْبِسُهُ الْحَاكِمُ شَهْرَيْنِ حاکم به دې دوه مياشتې قيد کړي او ثَلَاثَةَ اَشْهُرٍ او يا به يې درې مياشتې قيد کړي سَاَلَ عَنْ حَالِهٖ او تپوس به اوکړي دده د حالت فَاِنْ لَمْ يَنْكَشِفْ لَهٗ مَالٌ که چرته دده مال ښکاره نشو خَلّٰى سَبِيْلَهٗ نو دده لار به خوشې کړي (يعنې ازاد به يې کړي)

تشريح> **حبس المفلس الي شهرين>** ذکرشوې مفلس به حاکم دوه مياشتې يا درې مياشتې قيد کړي او دده د مال په باره کښې به لټون کوي که چرته دده دمال چرته درک اونه لګيدلو نو حاکم به دا مفلس ازاد کړي

دليله> دليل دا دې چې د ده قيد کول د سزا دپاره نه وو بلکه ددې دپاره وو چې د ده دمال تحقيق اوکړې شي اوهرکله چه مال معلوم نشو نو د نور قيد کولو څه فائده نشته څکه به يې د قيد نه ازاد کړي

وَكَذٰلِكَ اِذَا اَقَامَ الْبَيِّنَةَ او دغه شان حکم دې (يعنې قيد کولې به نشي) کله چې گواهان قائم کړي عَلٰى اَنَّهٗ لَا مَالَ لَهٗ په دې باندې چې د ده مال نشته

تشريح> **حکم اقامة البينة علي عدم المال>** په ذکرشوې صورت کښې که مفلس د دوو مياشتو نه وړاندې په دې خبره گواهان قائم کړل چې دده مال نشته نو په دې صورت کښې به هم دې ازادولې شي او دوو مياشتو نه به دده قيد نشي رسولې

دليله> څکه چې قيد دده د مال په باره کښې تحقيق کولو دپاره وو او هغه حالت د گواهانو په گواهئ ورکولو باندې معلوم شو

د قيد نه د وتلو نه پس د قرضخواهانو معامله او د هغې حکم

(وَلَا يَحُوْلُ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ غُرَمَائِهٖ بَعْدَ خُرُوْجِهٖ مِنَ الْحَبْسِ او نه به حائل کيږي.قاضي د قرضدار او قرضخواهانو په مينځ کښې.دده د قيد خانې نه د وتلو نه پس. وَلَا يُلَازِمُوْنَهٗ وَلَا يَمْنَعُوْنَهٗ مِنَ التَّصَرُّفِ وَالسَّفَرِ

)بلکه هغوی دې په ده پسې اولګی.خو د تصرف او سفر نه دې نه منع کوی.

تشریح﴾ عدم الحائل بین مفلس وغرمائه بعد الخروج من الحبس﴾ دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز کله چه مفلس ته د قیدخانې نه آزادی ملاؤ شی.نوحاکم به دده او د قرضخوانانو په مینځ کښې نه حائل کیږی.البته قرضخواه خلق به په ده پسې هر وخت لګیدلې وی.

دلائله﴾ ① ځکه چه دار قطنی په سنن کښې او ابن عدی په الکامل کښې د نبی کریم ﷺ ارشاد روایت کړې دې.(أن لصاحب الحق اليد و اللسان) (١) ② په صحیحینو کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې.(قال: أن النبي ﷺ رجل يتقاضاه فأغلظ له فهم به أصحابه فقال: دعوه فإن لصاحب الحق مقالاً)

الاستدلال﴾ په رومبی حدیث کښې د ،،ید،،او ،،لسان،، نه مراد په لاس سره وهل نه دی.بلکه وریسې لګیدل، او تقاضه کول مراد دی.د قدوری په بعضو نسخو کښې ،،ولا یلازمه،، د لاتې نافیه سره دې.دا غلط دې.

(وَيَأْخُذُونَ فَضْلَ كَسْبِهِ او دده زیاتی مزدوری دې اخلی.فَيُقَسَّمُ بَيْنَهُمْ بِالْحِصَصِ)(٢)او پخپل مینځ کښې دې دحصو مطابق تقسیموی.

تشریح﴾ اخذفضل الکسب وتقسیمه بینهم﴾ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی چې د مفلس په ګټه کښې کوم مال د هغه د بال بچ د خرچ نه زیاتی کیږی قرضخواهان به هغوی د مفلس نه اخلی او په خپل مینځ کښې به ئې په حصو سره تقسیموی او د تقسیم طریقه وړاندې په دې متن کښې تیره شوې ده چې « وقسمه بین غرمائه بالحصص»

دلیله﴾ په خپل مینځ کښې به یې برابر ځکه تقسیموی چې په حصو کښې برابر دی د یوپه بل باندې فوقیت اوفضیلت نشته

(وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ: صاحبین رحمهما الله فرمائی.إِذَا فَلَّسَهُ الْحَاكِمُ چه کله حاکم ده لره مفلس اوګرځولو.حَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غُرَمَائِهِ نو حائل دې شی.دده او دده د قرضخواهانو په مینځ کښې.إِلَّا أَنْ يُقِيمُوا الْبَيِّنَةَ أَنَّهُ قَدْ حَصَلَ مَالٌ مګر دا چه هغه بینه قائم کړی.چه دده په ملکیت کښې هیڅ مال نشته.

تشریح﴾ مذهب الصاحبین﴾ صاحبین رحمهما الله فرمائی. چه کله حاکم ده لره مفلس اوګرځولو.نو اوس دې هغه دده او د قرضخواهانو په مینځ کښې حائل شی.او هروخت دې تقاضه کولو ته نه پریږدی.البته که قرضخواه په دې خبره بینه قائم کړی.چه دده په ملك کښې څه مال شته.

دلیله﴾ وجه دا ده.چه د قاضی د چا په حق کښې د افلاس فیصله کول، د صاحبینو رحمهما الله په نیز صحیح دی.نو د مفلس غریبی او فقیری ثابته شوه.او هغه مالداریٔ پورې د مهلت ورکولو مستحق شو.ائمه ثلاثه رحمهم الله هم ددې قائل دی.

فاسق باندې د حجر کولو حکم

(وَلَا يُحْجَرُ عَلَى الْفَاسِقِ او حجر به نشی کولې.په فاسق باندې، إِذَا كَانَ مُصْلِحًا لِمَالِهِ کله چه هغه

---

(١) من مکحول رحمه الله أخرجه الدرالقطنی فی سننه (٤\٢٣٢)۔

(٢) القول الراجح هو(؟) قول أبي حنيفة رحمه الله كما ظهر من داب المنصف رحمه الله :ما وجدت ها الإختلاف بعد تبع سوا البحر والزيلعي ولكن لم يرجحا أحد القولين كذا قاله المفتي غلام قادر مدظله العالي انظرالقول الراجح (٢\٢ ٥٣)۔

مصلح د مال وی. وَالْفِسْقُ الْأَصْلِيُّ وَالطَّارِءُ سَوَاءٌ)او فسق اصلی او طاری (روسته پیدا شوې دواړه) برابر دی.

تشریح﴿ عدم الحجر علی الفاسق﴾ فاسق باندې حجر نشی کولې.کله چه هغه د مال په معامله کښې ټیک کار کونکې وی.که د هغه فسق اصلی وی.چه هم په دې حالت کښې بالغ شوې وی.او که طاری (یعنی روسته پیدا شوې) وی.چه د بلوغ نه پس فاسق شوې وی.(١)

دلیله﴾ دلیل د الله تعالی ارشاد دې: ،، ﴿فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ﴾ الْآيَةَ. که ته په دوی کښې هوښیار توب اوګورې.نو دوی ته ددوی مال ورکړه ،، [النساء:٦]

وجه د استدلال دا ده.چه په دې کښې لفظ د ،،رشد،، نکره واقع شوې ده.چه ددې نه مراد بالاجماع اصلاح فی المال دې.اصلاح فی الدین مراد نه دې.د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه هم دا نقل دی.په شرح طحاوی کښې دی.چه امام مالك، امام احمد، او اکثر عالمان رحمهم الله هم ددې قائل د ی.نو د ،، رشد ،، نه مراد صلاح فی الدین نشی کیدې.چه نکره مطلقه عامه نشی.ځکه چه نکره په موضع د اثبات کښې خاص وی.عام نه وی.

غریب قرضدار سره د قرضخواه د عین سامان موجود کیدو حکم

(وَمَنْ أَفْلَسَ خوك چه مفلس شو.وَعِنْدَهُ مَتَاعٌ لِرَجُلٍ بِعَيْنِهِ ابْتَاعَهُ مِنْهُ او هغه سره د یوکس سامان بعینه موجود دې.کوم چه ده دهغه نه اخستې وو.فَصَاحِبُ الْمَتَاعِ أُسْوَةٌ لِلْغُرَمَاءِ فِيهِ)نو د سامان مالك په دې (سامان) کښې د نورو قرضخواهانو برابر دې.

تشریح﴿ استواء حق صاحب المتاع وبقیة الغرماء﴾ یو سړې مفلس اوګرځولې شو.او دده سره د یو کس څه څیز بعینه موجود دې.کوم چه ده دهغه نه اخستې وو.نو زمونږ په نیز به دغه سړې د نورو قرضخواهانو سره برابر شریك وی.په دې شرط چه افلاس د قبضې نه پس وی.امام زهری،عمربن عبدالعزیز، قاضی شریح، ابن جنید، ابراهیم نخعی،او ابن شبرمه رحمهم الله هم ددې قائل دی.او محمد بن سیرین رحمه الله به هم ددې فتوه ورکوله. (٢)

دلیله﴾ دلیل دا دې.چه افلاس ددې امر موجب دې.چه هغه د عین سپارلو نه عاجز وی.حالانکه دلته کښې هیڅ مال عین د عقد په ذریعه نه دې واجب شوې.نو د افلاس په لحاظ سره به بائع ته د فسخ حق نه وی.او د عقد په وجه صرف د داسې څیز استحقاق دې.چه هغه د مشتری په ذمه وصف دې.یعنی قرضه، او هغه نقد ثمن دې.او کله چه بائع په مال عین باندې قبضه اوکړله.نو د بائع او مشتری په مینځ کښې به حکمی مبادله متحقق شی.او حقیقی معنی نه ده.نو ددې اعتبار ضروری دې.سوا دهغه موقع نه، چرته چه دا مبادله محال (ناممکن) وی.لکه څنګه چه عقد سلم کښې کیږی.ځکه چه هلته کښې استبدال ممتنع دې.(لقوله ﷺ: لا تأخذ إلا سلمك أو رأس مالك)نو مال عین ته د دین حکم ورکړې

---

(١) **مذهب الشافعی رحمه الله:**- د امام شافعی رحمه الله په نیز د سفیه پشان به په فاسق هم د زجر او سزا په طور حجر کولې شی.په دې وجه ددوی په نیز فاسق لائق د ولایت او شهادت نه دې.

(٢) **مذهب الشافعی رحمه الله:**- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه دغه سړې د خپل څیز حقدار دې.نو د بائع په درخواست به قاضی دا مشتری محجور کوی.اوس بائع عقد فسخ کولې شی.او خپل څیز واپس اخستلې شی.امام مالك، امام احمد، اوزاعی،اسحاق، ابوثور، او ابن المنذر رحمهم الله هم ددې قائل دی.

شو. (تحرز اعن الإستبدال).
د دليل خلاصه دا ده.چه کوم امر د عقد په ذريعه مستحق دي.هغه داسې وصف دې چه ثابت فی الذمه دې.او د قرض ادا کول واجب دی.چه دا د وصف په ذريعه سره نشي کيدې.په دې وجه شارع عين څيز ددې بدل اوګرځولو.نو هرکله چه ده په بدله کښې عين څيز باندې قبضه اوکړله.نو په دوی دواړو کښې مبادله متحقق شوه.مطلب دا چه دوی کښې هر يو کس دپاره د بل په ذمه يو وصف ثابت شو.او د دين ادا کولو په سلسله کښې ثبوت د مبادلې حقيقت دې.نو ددې اعتبار به ضروری وی.

كِتَابُ الْإِقْرَارِ

ترجمه> (دا) کتاب د اقرار(په بيان کښې) دې.

تشريح> **المناسبة بين الكتابين**> د مدعی دعوی کله مدعی عليه طرف ته متوجه شی.نو مدعی عليه که ددې اقرار کوی.نوخبره خلاصه شوه اوکه انکار کوی. نودا به د جګړې سبب جوړيږی.او خصومت د صلح مستدعی (او مقتضی) وی.نوځکه ني په دې پسې د صلح حکم بيان کړې دې
بيا د اقرار مقدم کولو وجه داده.چه اقرار قريب تر حق دې.ځکه چه د مدعی پخپله دعوه کښې،او د مقر پخپل اقرار کښې رشتونې کيدل غالب دی.ځکه چه عقل مند سړې پخپل خان باندې د دروغو اقرار نه کوی. چه ددې په وجه دده يا دده د مال نقصان اوشی.نو فی نفسه د رشتياؤ طرف راجح شو.او د اقرار حق قريب تر د مسلمان حال سره ځکه دې.چه د دعوې نه بغير د اقرار احکام بيانوی.

حجية الإقرار> ① اقرار يوشرعی حجت دې ددې حجيت د کتاب الله، نه هم ثابت دې. د الله تعالی ارشاد دې. ﴿وَلْيُمْلِلِ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ﴾ پکار ده.چه اوښانی (اقرار اوکړی) هغه سړې په چا چه حق (قرض) دې.که اقرار حجت نه وې.نو ددې حکم به هيڅ مطلب نه وو. ②اود صحيح احاديثو نه هم ثابت دې. نبی کريم ﷺ حضرت ماعز رضي الله عنه باندې ددوی د زنا اقرار په وجه د رجم حکم اوفرمائيلو. ③ سد امت محمديه په دې خبره باندې اجماع ده.چه په اقرار د مقر سره حدود او قصاص ثابتيږی.نو مال به په درجه اولی ثابتيږی.

د اقرار شرعی حيثيت

(وَإِذَا أَقَرَّ الْحُرُّ الْبَالِغُ الْعَاقِلُ بِحَقٍّ کله چه اقرار اوکړی.آزاد ، عاقل، بالغ د يو حق، لَزِمَهُ إِقْرَارُهُ نو دا اقرار به په ده باندې لازم وی. مَجْهُولًا كَانَ مَا أَقَرَّ بِهِ د کوم څيز اقرار ني چه کړې دې.که دا مجهول وی.أَوْ مَعْلُومًا)اوکه معلوم وی.

تشريح> **لزوم الحق بالاقرار**> کله چه څوک آزاد ، عاقل، بالغ سړې په بيداریٔ کښې خوشحالیٔ سره، يا عبد ماذون ،يا صبی ماذون، يا څوک ناپوهه د يو حق اقرار اوکړی.نو دده اقرار صحيح دې.اګرچه د مجهول حق اقرار اوکړی.

دليله> ځکه چه اقرار دپاره د مقر به مجهول کيدل مضر نه دی.

شرط الحرية> د مقر د آزاد کيدلو شرط ځکه دې.چه دده اقرار مطلقاً صحيح وی.يعنی مال وغيره ټولو ته شامل وی.ځکه چه عبد ماذون د اقرار په باره کښې،اګرچه ملحق بالاحرار دې.د عبد محجور مالی اقرار صحيح نه دې.البته د حدودو اوقصاص اقرار ني صحيح دې.وجه داده.که د عبد محجور مالی اقرار صحيح وی.نو دده په سټ به لازم وی.حالانکه دده سټ دده د مالك مال دې.په خلاف د عبد ماذون، چه هغه په مال باندې پخپله د مالك د طرفه مسلط دې.او په خلاف د حدودو او قصاص چه

دې کښې عبد محجور اصلي ازادئ باندې باقي دې.ترڅو چه په دې کښې د مولا پخپل غلام باندې اقرار کول صحيح نه دی.ځکه چه سزا د نقصان په بنياد باندې کيږي.او جنايت (جرم او نقصان) دده په مکلف کيدلو باندې مبني دې.او مکلف کيدل د آدميت (د سړی) د خواصو څنې دې.او آدميت غلامئ سره زائل کيږي.

شرط البلوغ والعقل﴾ د مقر عاقل، بالغ کيدل ځکه ضروري دی.چه ماشوم او ليونې پخپل ځان باندې د څه څيز لازمولو لياقت (او قابليت) نه لري.البته که ماشوم ماذون في التجارت وی.نو هغه د تجارت په وجه بالغانو سره ملحق (او پيوست) دې.

عدم ضرر جهالة المقربه﴾ اقرار سره متعلق جهالت د دريو حالو نه خالي نه دې.يا به مقر مجهول وی.يا مقر له، او يا مقر به.نود مقربه جهالت د اقرار په صحت کښې هيڅ مضر نه دې.ځکه چه کله کله سړی باندې حق مجهول هم لازميږي.مثلاً د يوکس مال ئې هلاك کړو.چه دهغې قيمت معلوم نه دې.يا ئې څوك زخمي کړو.او ددغه زخم جرمانه معلومه نه ده.يا په يوکس باندې د معاملاتو په حساب کښې باقي دی.چه هغه ده ته معلوم نه دی.نو لکه څنګه چه دلته حق مجهول لازم دې.دغه شان اقرار کښې هم حق مجهول جائز دې.او که مقرله مجهول وی.نودا د اقرار صحت دپاره مانع دې.ځکه چه مجهول او نامعلوم سړې مستحق کيدې نشي.

شيخ الاسلام مبسوط کښې، او امام ناطفي په واقعات کښې ذکرکړی دی.چه ددې مانع کيدل هغه وخت دی.کله چه جهالت فاحشه وی.(بأن قال هذا العبد لواحد من الناس) که جهالت فاحشه نه وی.نو مانع نه دې.(بأن قال هذا العبد لأحد هذين الرجلين)

شمس الائمه سرخسي رحمه الله فرمائي.چه اقرار به په دې صورت کښې هم صحيح نه وی.ځکه د اقرار فائده هم دا وه.چه مقر په بيان باندې مجبوره کړې شي.او مجبوره کول د حق والا په وجه کولې شي.او هغه مجهول دې.خو په کافي کښې ئې هم دې ته اصح وئيلې دی.چه په مذکوره صورت کښې به اقرار صحيح وی.پاتې شو د مقر مجهول کيدل، (بأن يقول لك على أحد ألف درهم) ځکه چه په دې صورت کښې مقضي عليه مجهول ده.

د مجهول څيز اقرار کولوحکم

(وَيُقَالُ لَهُ:او ده ته به وئيلې شي.بَيِّنْ الْمَجْهُولَ)چه مجهول بيان کړه.

تشريح﴾ بيان الجهالة﴾ که مقر د يو مجهول څيز اقرار اوکړي.نو صحيح به وی.او هغه ته به وئيلې شي.چه دا مجهول بيان کړه.

دليله﴾ ځکه چه د جهالت اجمال هم دده د طرفه واقع شوې دې.نو بيان به هم دده په ذمه وی.لکه مثلاً يو کس د خپلو دوه غلامانو په نسبت اووائي.چه په دوی کښې يو آزاد دې.نو هم ددې يو تعين دده په ذمه دې.

(فَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ که هغه ئې بيان نکړی.أُجْبِرَهُ الْقَاضِي عَلَى الْبَيَانِ)نو قاضي به دې په بيانولو باندې مجبوره وی.

أجبار المقر علي البيان﴾ اوس که هغه د بيانولو نه منع کيږي.نو قاضي به هغه په بيانولو باندې مجبوره کوي.

دليله﴾ ځکه چه دده په صحيح اقرار سره چه کوم څيز په ده باندې لازم شوې دې.ددې ذمه دارئ نه بهر کيدل هم په ده باندې لازم دی.او ددې صورت هم دا دې.چه دا بيان کړی.دا مسئله اجماعي ده.

(فَإِنْ قَالَ:نوکه ده اووئیل.لِفُلَانٍ عَلَيَّ شَيْءٌ لَزِمَهُ‌چه ما باندې د فلاني څه څيز لازم دې.أَنْ يُبَيِّنَ مَالَهُ قِيمَةٌ‌نو ده له به داسې څيز بيانول لازم وی.چه د هغې څه قيمت وی

تشریح> **اقرار شئ الذي له قيمة**> په،،«لفلان علي شئ» وئيلو کښې به بيان په داسې څيز سره ضروری وی.کوم چه قيمتی وی.اګرچه کمتر وی.

دلیله> ځکه چه لفظ د،،علی،، ايجاب او الزام دپاره وی.

حکم ما لا قیمة له> اود کوم څيز چه څه قيمت نه وی.هغه د سرې په ذمه نه واجبيږی.نو که ده دا بيان کړل.چه د غنمو يوه دانه ده.نو صحيح به نه وی.ځکه چه دا خو د اقرار نه رجوع کول دی.محيط کښې دی.که مقر دا اووائی. چه ما په حق سره د حق اسلام اراده کړې ده.نو دده تصديق به نشی کولې.(کله ئې چه مفصولاً وئيلې وی.که موصولا ئې وئيلې وی.نو تصديق به کولې شی.د آئمه ثلاثه په نيز به دواړو صورتونو کښې تصديق نشی کولې).او که مړ، يا خنزير، يا شراب ئې مراد واخستل.نود ماوراء النهر د مشائخو په نيز به تصديق نه کيږی.ځکه چه ددې څيزونو هيڅ قيمت نشته.په يوه وجه کښې امام مالك او امام شافعی رحمهما الله هم ددې قائل دی.اود عراق د مشائخو په نيز به تصديق کولې شی. اوکه دا ئې اووئيل.چه يوه پيسه مراد ده.نو تصديق به کولې شی.

(وَالْقَوْلُ فِيهِ قَوْلُهُ مَعَ يَمِينِهِ‌اوقول به قول د مقر معتبر وی سره د قسم نه إِنْ ادَّعَى الْمُقَرُّ لَهُ‌که دعوی اوکړی مقرله أَكْثَرَ مِنْهُ)زيات د هغې نه «د کومو چې مقر اقرار کړی وی»

تشریح> **الآعتبار لقول المقر**> کله چې مقر د چا دپاره د دوه زره روپو اقرار اوکړی او مقر له د د دری زرو روپو دعوی دارکوی نوپه دې صورت کښې به د مقر قول معتبر وی البته قسم به هم خوری چه د فلانی په ما باندې دومره څيز دې د دې نه زيات نه دې

دلیله> قول به د مقرځکه معتبروی چې دې د زيادت نه منکردې اوقاعده دا ده چې منکر قسم اوخوری نو د هغه قول به معتبر وی

(وَإِذَا قَالَ:که وې وئيل.له عَلَيَّ مَالٌ‌چه د هغه په ما باندې مال دې.فَالْمَرْجِعُ فِي بَيَانِهِ إِلَيْهِ‌نو ددې په بيان کښې به هغه طرف ته رجوع کولې شی.وَيُقْبَلُ قَوْلُهُ فِي الْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ)او په کم او زيات کښې به دده قول قبلولې شی.

تشریح> **الاقرار بالمال**> کله چې يو کس د بل کس دپاره د مال اقرار اوکړی نو د ده په بيان کښې به رجوع هم ده ته کيږی.او دده قول به په قليل او کثير دواړو کښې قبليږی

دلیله> ځکه چه دا که کم وی.اوکه زيات وی.بهرحال مال دې.ځکه چه مال هم هغه ته وائی.چه دې سره انسان مالداری حاصله کړی.

الاقوال في القليل والكثير> بيا شيخ الاسلام خواهرزاده پخپل مبسوط کښې ذکر کړی دی.چه په مقتضاء دقياس،يو درهم نه کم بيان هم قبلول پکار دی.ځکه چه دا هم مال دې.خو استحساناً به تصديق نشی کولې.ځکه چه عرف کښې دې ته مال نه وائی.اسبيجابی په شرح کافی کښې د«ولو قال له علی مال كان القول قوله فيه و درهم مال» ذکرکولو نه پس ليکلی دی.چه ددې نه دا وهم کيږی.چه د يو درهم نه په کم کښې به دده قول نه قبليږی.او بعضو وئيلی دی.چه قبلول پکار دی.ځکه چه دمال اطلاق په نصف او سدس درهم باندې هم کيږی.خو صحيح داده.چه قبول نکړې شی.ځکه چه کوم مال تحت الالزام

داخليږي.هغه په حکم د عادت يو درهم نه کم نه وي.شيخ ناطفي په اجناس کښې د نوادر هشام نه، د امام محمد رحمه الله د قول(لوقال لفلان علی مال له ان يقر به درهم) نقل کولو نه پس د شيخ هاروني قول ذکر کړې دې.چه د امام ابوحنيفه او امام زفر رحمهما الله په قول کښې د لس کره دراهمو نه کم کښې به تصديق نه کيږي.او امام ابويوسف رحمه الله فرمائي.چه په درې دراهمو کښې به تصديق کيږي.ددې نه په کم کښې به نه کيږي.

(فَإِنْ قَالَ :له علی اوکه وې ونيل.چې د هغه په ما باندې مَالٌ عَظِيمٌ مال عظيم دې.لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ)نود دوه سوه درهمو نه به په کم کښې تصديق نشی کولي.

تشريح> الاقرار بالمال العظيم> د مال عظيم په اقرار کښې به د زکاة د نصاب يعنی د دوه سوه درهمو نه په کم کښې به تصديق نه کيږي.

دليله> ده مال د عظيم په صفت سره موصوف کړې دې.نودا وصف نشی لغو کيدلې.بيا په شريعت کښې د زکاة نصاب مال عظيم دې.چه شريعت نصاب والا مالدار شمار کړې دې.او په عرف کښې هم دې مالدار گنړلي شي.نو ددې اعتبار به کولي شي.هم دا اصح ده.(اختيار)

الرواية الثانية> بيا دا د صاحبينو رحمهما الله قول دې.په دې باره کښې امام محمد رحمه الله په مبسوط کښې د امام ابوحنيفه رحمه الله قول نه دې ذکر کړې.په دې وجه د مشائخو روايات مختلف شوی دی.په يو روايت کښې دی.چه د غلا نصاب، يعنی د لس درهمو نه به په کم کښې تصديق نه کيږي.ځکه چه دا هم مال عظيم دې.چه ددې په غلا کولوکښې محترم اندام (لاس) کټ کولي شي.او دويم روايت هم هغه دې.کوم چه په کتاب کښې د صاحبينو رحمهما الله قول ذکر کړې شو.

(وَإِنْ قَالَ :له علی او که وې ونيل چې د ده دپاره په ما باندې دَرَاهِمُ كَثِيرَةٌ چه دراهم کثيره دی.لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ)[1] نود لسو نه په کم کښې به تصديق نه کيږي. اودا د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دی.

تشريح> الاقرار بالدارهم الكثيرة> په دې اقرار کښې چه ده د کوم جنس اموال (درهم، دينار، اوښ وغيره) ذکرکړی دی.هم ددغه جنس درې نصابه بيانولو سره به اندازه کيږي.په دې لحاظ سره چه ادنی د جمع درې دی.اود دراهم کثيره په اقرار کښې به د امام صاحب رحمه الله په نيز لس دراهم لازم وی.([2])

دليله> امام صاحب رحمه الله فرمائي.چه د لس عدد د جمع کثرت دمصداق ادنی مرتبه ده.او دجمع قلت منتهاء ده.نود لفظ په اعتبار سره هم دا اکثر شو.(لانه يقال عشرة دراهم ثم يقال احد عشر درهماً) يعنی کله چه عدد د لس نه زيات شي.نو د هغې مميز مفرد راځي.جمع نه راځي.

(فَإِنْ قَالَ دَرَاهِمُ که وې ونيل چه دراهم دی.فَهِيَ ثَلَاثَةٌ)نودا به درې وی.(إِلَّا أَنْ يُبَيِّنَ أَكْثَرَ مِنْهَا) خودا که دې ددې نه زيات بيان کړی.

تشريح> الاقرار بالدراهم> که مقر اوونيل.چه ما باندې د فلانی دراهم دی.نودا به په دريو دراهمو باندې واقع کيږي.

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(٥٠١\٤) والخانية (٢٠٤\٣) وملتقى الأبحر(٣٩٨\٣) والعناية (٣٠٨\٧) ومجمع الأنهر(٢٩١\٣) والدرالمنتقى (٢٩١\٢) نقلاً عن القول الراجح (١٩٥\٢)-

[2]) **مذهب الصاحبين:-** اود صاحبينو رحمهما الله په نيز به د زکاة د نصاب نه په کم کښې تصديق نه کيږي.ځکه چه د شريعت په نظر کښې (مالدار) نصاب والا دی.

دليله خکه چه د جمع صحيح کمتر درې دی.

په مبهم عدد سره د اقرار اندازه

(وَإِنْ قَالَ :له علي که وې ونيل چې د هغه په ما باندې كَذَا كَذَا دِرْهَمًا دومره دومره دراهم دی. لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا)نود يوولس درهمو نه په کم کښې به تصديق نه کيږي.

تشريح **الاقرار بكذا كذا درهم** که مقر، ، علی كذا كذا درهماً، ، اوونيل.نو په ده به يوولس درهمه لازم وی.او که حرف عطف سره ني كذا وكذا اوئيل.نو يوويشت درهم به لازم وی.

دليله خکه چه رومبی صورت کښې ده دوه عدد مبهم د حرف عطف نه بغير ذکر کړی دی.او ددې پشان د اقل عدد مفسر، ،احدعشر، ، دې.او که اکثر تسعة عشر (ني اوونيل).نو اقل متيقن به لازم وی.او په دويم صورت کښې حرف عطف سره ذکر کړی دی. چه ددې أدنی مثال احد و عشرون دې.نو هر وجه به ددې په مثال باندې محمول کولې شي.

(وَإِنْ قَالَ :که وې ونيل، كَذَا وَكَذَا دِرْهَمًا چه دومره او دومره دی.لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ أَحَدٍ وَعِشْرِينَ درهما)نو د يو ويشتو نه کمو روپو کښې به تصديق نه کيږي.

تشريح **الاقرار بكذا وكذا درهم** که وې ونيل.(له علی كذا درهماً) نو د معتمد قول مطابق به صرف يو درهم لازم وی.

دليله خکه چه لفظ درهماً د شئ مبهم تفسير دې.او هغه كذا دې.خکه چه دا د عدد مبهم نه کنايه دې.او ددې اقل متيقن يو دې.نو هم په دې به محمول کولې شي.خوشرف الدين ابوحفص عمروبن محمد عمر انصاری عقيلی په کتاب المنهاج کښې ونيلی دی.چه په دې صورت کښې هغه څه هم بيان کړی.هم هغه به لازم وی.

په ،،ما،،يا،،زما طرف ته،،الفاظو سره د اقرار حکم

(وَإِنْ قَالَ :که وې ونيل. لَهُ عَلَيَّ أَوْقِبَلِي چه د فلانی، ، په ما، ، يا، ، زما په طرف، ، دی.فَقَدْ أَقَرَّ بِالدَّيْنِ)نو ده د قرض اقرار اوکړو.

تشريح **الاقرار بكلمة علي او قبلي** که مقر، ،له علی كذا يا له قبلی كذا، ، اوونيل.نودا به د قرضې اقرار وی.په رومبی صورت کښې

دليله خکه چه ده په قول کښې دين اګرچه صراحةً مذکور نه دې.البته کلمه د، ،علی، ، ايجاب کښې استعماليږی.قال الله تعالی(وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ) اود ايجاب محل ذمه ده.او ثابت فی الذمه دين وی.عين نه وی.او په دويم صورت کښې خکه چه لفظ د، ،قبلی، ، ضامن کيدل ښائی. خکه چه دا د لزوم نه عبارت دې.په دې وجه د ضمانت کاغذ ته قباله، او کفيل ته قبيل وائی.

(وَلَوْقَالَ له که وې ونيل چې د هغه عِنْدِي زما سره، أَوْمَعِي يا زما په لاس، فَهُوَإِقْرَارٌبِأَمَانَةٍفِي يَدِهِ) نودا دده په قبضه کښې د امانت کيدلو اقرار دې.

تشريح **الاقرار بكلمة عندی ومعي** يعنی د مختصرالقدوری په بعضو نسخو کښې دی.چه،،قبلی،، ونيل. د امانت اقرار دې.

دليله خکه چه لفظ د، ،قبل، ،امانت او قرضې دواړو ته شامل دې.ترديې که څوک دا اووائی. چه ،،لا

حق لی قبل فلان،، نودا به دقرضې او امانت دواړو نه بری کول وی. ددې صراحت په مبسوط کښې موجود دې .نو هرکله چه په،، قبلی،، ونیلو کښې د قرضې او امانت دواړو احتمال دې.او په دې کښې امانت کمتر دې.نو اقرار به هم په دې باندې محمول کولې شی.خو اصح داده.چه مذکوره قول د قرضې اقرار دې.

د مقرله د سوال په جواب کښې د مقر بعضو الفاظو سره د اقرار حکم

(وَإن قَالَ لَهُ رَجُلٌ:یوکس ده ته اوونیل.لِي عَلَيْكَ أَلْفُ دِرْهَمٍ‌چه زما په تا باندې زر درهم دی.فَقَالَ‌ده ورته اوونیل.اتَّزِنْهَا‌دا اوتله.أَوْانْتَقِدْهَا‌یا اوشماره.أَوْأَجِّلْنِي بِهَا‌یا ددې ماته مهلت راکړه.أَوْقَدْقَضَيْتُكَهَا‌یا ما تاته درکړې دی.فَهُوَإِقْرَارٌ)نودا اقرار دې.لِأَنَّ الْهَاءَفِي الْأَوَّلِ وَالثَّانِي كِنَايَةٌ عَنِ الْمَذْكُورِفِي الدَّعْوَى ،خکه چه هاء ضمیر په اول او دویم کښې هم د هغې نه کنایه دې.کوم چه دعوه کښې ذکر دې.فَكَأَنَّهُ قَالَ:نو ګویا ده دا اوونیل.اتَّزِنْ الْأَلْفَ الَّتِي لَكَ عَلَيَّ،چه اوتله هغه زر کوم چه ستا په ما دی.حَتَّى لَوْلَمْ يَذْكُرْحَرْفَ الْكِنَايَةِ‌تردې که هغه کنایه حرف ذکر نکړی.لَايَكُونُ إِقْرَارًا‌نو اقرار به نه وی.لِعَدَمِ انْصِرَافِهِ إِلَى الْمَذْكُورِ،مذکور طرف ته د نه منصرف کیدلو په وجه، وَالتَّأْجِيلُ إِنَّمَايَكُونُ فِي حَقٍّ وَاجِبٍ،او مهلت ورکول په واجب حق کښې کیږی.وَالْقَضَاءُيَتْلُوالْوُجُوبَ‌او اداکول د وجوب نه پس کیږی.

تشریح> الاقرار بالکلمات المختلفة> یو سړی زید ته اوونیل.چه زما په تا باندې یو زر دی.زید په جواب کښې اوونیل.چه دا وزن کړه.یا ئې اوشماره. یا ددې مهلت راکړه.یا ما تاته درکړې دې.یا ما دا په فلانی باندې حواله کړې دې.نو په دې ټولو صورتونو کښې د زید د طرفه ددغه سړی دپاره د یو زر اقرار دې.خکه چه، ،اتزنها، انتقدها، ،جملو کښې هاء ضمیر هم دې زر طرف ته راجح دی.نودا دده د کلام جواب یعنی اثبات شو.انکار نشو.یا بل څه جدا کلام شو.البته که زید د ضمیر نه بغیر داسې اوونیل چه ،، اتزن یا انتقد. الخ،،نو هیڅ به نه لازمیږی.خکه چه دا جداګانه کلام دې.دده د کلام جواب نه دې پاتې شوه د میعاد مسئله، نو مهلت ورکول په هغه حق کښې کیږی.چه واجب وی.

فائده> د مسئلې قاعده کلیه داده.چه کوم کلام د جواب کیدلو صلاحیت لری.اود کلام د ابتداء کیدلو صلاحیت نه لری.نو هغه جواب ګرخیدلې شی.او کوم چه د کلام د ابتداء کیدلو صلاحیت لری.اود جواب کیدلو صلاحیت نه لری.یا د دواړو صلاحیت نه لری.نودا جدا کلام ګرخولې شی.

د مقرله میعادی اقرار،د مقرپه رد کولو سره د فی الحال واجبیدلو حکم

(وَمَنْ أَقَرَّبِدَيْنٍ مُؤَجَّلٍ‌کوم کس چه د مقرر وخته پورې د دَین اقرار اوکړو.فَصَدَّقَهُ الْمُقَرُّلَهُ فِي الدَّيْنِ او مقرله دا په دین کښې اومنلو.وَكَذَّبَهُ فِي التَّأْجِيلِ‌او په مقرره وخت کښې ئې دروغ کړو.لَزِمَهُ الدَّيْنُ حَالًّا)نو په ده به دین فی الحال لازم وی. (وَيَسْتَحْلِفُ الْمُقَرُّلَهُ عَلَى الْأَجَلِ)او په موده کښې به مقرله نه قسم اخستې شی.

تشریح> الاقرار بالدین المؤجل> یو سړی د قرض دین اقرار اوکړو.او مقرله دعوه اوکړله.چه دین قرض نه دې.فوری دې.نو په مقر به دین فوری لازم وی.اود مقرله نه به په دې خبره قسم اخستلې شی.چه د دین هیڅ موده نه وه.

دلیله> خکه چه مقر د حق غیر اقرار سره خپل خان دپاره د فوری حق دعوه کړې ده.نودا داسې شوه.لکه چه یوکس د بل دپاره د غلام اقرار اوکړی.او ورسره دا دعوه هم اوکړی.چه ما دده نه دا غلام په اجرت

باندې اخستې دي. په دې صورت کښې د مقر تصديق نه کيږي.نو دلته کښې به هم تصديق نه کيږي.د امام محمد رحمه الله په نيز،

د اقرار سره د متصل استثناء حکم

(وَمَنْ اقربدين چا چې د.قرض اقرار اوکړو واسْتَثْنَى او استثناء ئې اوکړله.مُتَّصِلًا بِإِقْرَارِهِ د خپل اقرار سره يوځائې،صَحَّ الِاسْتِثْنَاءُ نو استثناء به صحيح وي.وَلَزِمَهُ الْبَاقِي)او باقي به لازم وي.(وَسَوَاءٌ اسْتَثْنَى الْأَقَلَّ أَوِالْأَكْثَرَ،که د قليل وي.او که د کثير وي.

تشريح> الاقراربالدين والاستثناء> مقر چه د کوم څيز اقرار کړې دې.هغې کښې د بعض استثناء کول صحيح دی.په دې شرط چه متصلاً وي.که استثناء کمه وي.(کما فی قوله لفلان علىّ ألف إلا أربع مائة) اوکه زياته وي.(کما فی قوله لفلان علىّ ألف إلا ست مائة) اوس چه کوم څه باقي پاتې شی.هغه به په مقر باندې لازم وي.خود کُل استثناء کول صحيح نه ده.فاسد ده.(جوهره).ځکه چه د استثناء نه پس څه نا څه باقي پاتې کيدل ضروری دی.

دليله-د جواز دليل دا آيت دې. ﴿قُمِ الَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ۝ نِّصْفَهُ أَوِ انقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا ۝ أَوْ زِدْ عَلَيْهِ﴾،، ولاړ اوسه د شپې خو لږه شان حصه نيمه شپه يا ددې نه هم کمه کړه، لږه شان يا زيات کړه په دې باندې،،

فَإِنْ اسْتَثْنَى الْجَمِيعَ نو که د کُل استثناء ئې اوکړله.لَزِمَهُ الْإِقْرَارُ نو اقرار به لازم وي.وَبَطَلَ الِاسْتِثْنَاءُ)او استثناء به باطل وي.

تشريح> بطلان استثناء الجميع> که يوک د کُل استثناء اوکړله.مثلاً وې ونيل.،،لفلان علىّ إلا ألف درهم،،نو اقرار به لازم وي.او استثناء به باطل وي.

دليله> ځکه چه دلته کښې هيڅ باقي پاتی نشو.حالانکه د استثناء نه پس څه نا څه باقي پاتې کيدل ضروری دی.ګني د اقرار نه به رجوع کول وي.چه دا جائز نه دی.په دې وجه ئې اوفرمائيل.چه اقرار به لازم وي.او استثناء به باطل وي.

التنبيه> د کُل نه د کُل استثناء باطليدل هغه وخت دی.کله چه استثناء په لفظ د مستثنی منه سره وي.مثلاً داسې اووائی.(له علىّ عشرة إلا عشرة ، هؤلاء أحرار إلا هؤلاء ، نسائی طوالق إلا نسائی ، عبيدی أحرار إلا عبيدی) او که استثناء د لفظ مستثنی منه نه په علاوه سره وي.مثلاً داسې اووائی.(عبيدی أحرار إلا هؤلاء ، نسائی طوالق إلا هؤلاء ، نسائی طوالق إلا زينب ، وعمرة و فاطمه)(حق أنّى علىّ الکل) نودا استثناء صحيح نه ده.لکه چه صاحب دهدايه رحمه الله د خپل کتاب الزيادات په،،ابواب الايمان،، کښې ددې تصريح کړې ده. حيث قال (استثناء الکل من الکل إنما لا يصح إذا کان الاستثناء بعين ذالک اللفظ أما إذا کان بغير ذالک اللفظ فيصح کما إذا قال نسائی طوالق إلا نسائی لايصح الإستثناء ولو قال إلا عمرة و زينب و سعاد حتى أنّی على الکل صح

صاحب د نهايه رحمه الله ددې دنقل کولو نه پس فرمائيلی دی.چه دا فرق په يوه فقهی معنیٰ باندې مبنی دې.او هغه داچه استثناء تصرف لفظی ده.نو ددې بناء به په صحت د لفظ باندې وي.په صحت د حکم باندې به نه وي.آيا نه ګورې، که يو سړې خپلې ښځې ته دا اووائی.(أنت طالق ست طلقات إلا أربعاً)نو استثناء صحيح ده.تردې چه دوه طلاقونه واقع کيږي.اګرچه د حکم په رو سره د شپږو طلاقونو صحت نشته.ځکه چه د دريو طلاقونو نه زياتی خو دسره طلاق نه وي.ددې باوجود دا نشی ګڼرلې کيدې،چه

لکه ده دا اووئیل.چه (أنت طالق ثلاثاً إلا أربعاً)وجه هم داده.چه د استثناء صحت د لفظ د صحت تابع ده.د حکم د صحت تابع نه ده.

دراهم او دنانیر سره ددې د غیر د استثناء حکم

(وَإِنْ قَالَ:که وې ونیل.لَهُ عَلَيَّ مِائَةُ دِرْهَمٍ إِلَّا دِينَاراً،چه د فلانی زما په ذمه سل درهم دی.خو یو دینار، أَوْإِلَّا قَفِيزَ حِنْطَةٍ،یا مګر د غنمو یو قفیز، لَزِمَهُ مِائَةُ دِرْهَمٍ إِلَّا قِيمَةَ الدِّينَارِ،نو په ده به لازم وی.سل درهمه سوا د یو دینار نه،أَوْالْقَفِيزِ)یا (سوا) د یو قفیز د قیمت نه.(¹)

تشریح> الاقرار بمائة درهم الا دینارا> که یوسړې د دراهمو او دنانیرو نه د کیلی یا وزنی یا د غیر متفاوت عدد څیزونو استثناء اوکړی.مثلاً داسې اووانی.(له علیّ مأة درهم إلا قفیز بر أو إلا مأة جوز د استحسان په طریقه صحیح ده.

دلیله> دلیله> اول(له علیّ مأة درهم إلا دیناراً أو إلا قفیز حنطة) کښې مجانست د ثمن په لحاظ سره موجود دې.یعنی سلو درهمو سره یو دینار او یو قفیز غنم څکه هم جنس (د یو جنس) دی.چه دواړه ثمن کیدې شی.چه دا د دینارو په حق کښې خو بالکل ښکاره ده.پاتې شو مکیل او موزون، نو په دې کښې ددې اوصاف ثمن وی.مثلاً غنم یا خو د وصف بیانولو سره معلومیږی.یا دا متعین کیږی.کله چه متعین وی.نودا به مبیع وی.او کله چه ددې وصف بیان کړی.او پخپله ذمه ئې واخلی.نو غیر متعین به په ذمه کښې واجب وی.لکه څنګه چه دینار په ذمه واجبیږی.نو غیرمتعین، په ذمه واجبیدلو کښې د درهمو او دینارو پشان مکیل او موزون دې. نو په ثمن کیدلو کښې یو جنس دې.

(وَإِنْ قَالَ:که وې ونیل.لَهُ عَلَيَّ مِائَةٌ وَدِرْهَمٌ،چه د فلانی په ما باندې سل او یو درهم دې.فَالْمِائَةُ كُلُّهَا دَرَاهِمُ. نو په ده به ټول درهمونه لازم وی.

تشریح> الاقرار بالمائة وثوب> مقر اقرار اوکړو.چه زما په ذمه دده سل او بل درهم دې.نو په ده به ټول درهمونه لازم وی.یعنی یو سل یو،

دلیله> عام طور باندې لفظ د درهم د مائة بیان کیږی.څکه چه خلق درهم دوباره ونیل مشکل ګنړی.او صرف په یو څل ذکرکولو باندې اکتفاء کوی.اودا دهغه څیزونو څنې وی.کوم چه زیات استعمالیږی.اود زیات استعمال تحقق هغه وخت کیږی.کله چه د زیاتو اسبابو په وجه څیزونه په ذمه کښې زیات وی.لکه دراهم او دنانیر، مکیل او موزون.چه دا په سلم، قرض او ثمن کښې واجب فی الذمه وی.په خلاف د ثیاب او غیرمکیل او غیرموزن، چه ددې وجوب دومره زیات نه واقع کیږی.په دې وجه د ثیاب، او غیرمکیل او غیرموزون څیزونو تفسیر به په مقر باندې موقوف وی.او په دراهمو او دنانیر وغیره کښې به موقوف نه وی.

(وَإِنْ قَالَ:له علی که وې ونیل. چې د ده په ما باندې مِائَةٌ وَثَوْبٌ سل او یوه کپړه ده.لَزِمَهُ ثَوْبٌ وَاحِدٌ نو په ده به یوه کپړه لازم وی.وَالْمَرْجِعُ فِي تَفْسِيرِ الْمِائَةِ إِلَيْهِ)اود سلو په تفسیر کښې به دده طرف ته رجوع کولې شی.

(¹) القول الراجح هو قول الشيخين كذا في المبسوط للسرخسي و ردالمحتار(٥١٠\٤) ومجمع الأنهر(٤٠٧\٣) نقلاً عن القول الراجح (٢٠١\٢)-

تشريح> **الاقرار بالمائة وثوب>** كه ده اووئيل.چه دده په ما سل او يوه كپړه ده.نو په ده به د سلو تفسير كولې شى.چه د سلو نه څه مراد دې؟ درهم مراد دى.اوكه كپړې مراد دى.هم دا حكم د(له علی مأة و ثوبان) دې.

دليله> څكه چه يو سل خو مبهم دى.او يوه جامه په هغې باندې په واؤ عاطفه سره معطوف دې.د هغې تفسير نه دې. څكه چه عطف د بيان دپاره موضوع نه دې.بلكه دا خو د معطوف او معطوف عليه په مينځ كښې د مغايرت تقاضا كوى.نو لفظ د مائة پخپل ابهام باندې باقى پاتې شو.لكه څنګه چه په اول صورت يعنى، ،له علیٰ مأة و درهم ، ، دې، ،**فلابد من المصير الى البيان**، ،

اقرار سره د متصل انشاء الله حكم

(وَمَنْ أَقَرَّ بِحَقٍّ كه يوكس د يو حق اقرار اوكړو.وَقَالَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ مُتَّصِلًا) بِإِقْرَارِهِ او خپل اقرار سره ئې، ،انشاءالله، ، اووئيل.(لَمْ يَلْزَمْهُ الْإِقْرَارُ)نو په ده به اقرار لازم نه وى. وَمَنْ أَقَرَّ وَشَرَطَ الْخِيَارَ لِنَفْسِهِ او چاچه اقرار اوكړو اوځان دپاره ئې دخيار شرط اولګولو لَزِمَ الْإِقْرَارُ وَبَطَلَ الْخِيَارُ نو اقرار لازم شو او خيار باطل شو.

تشريح> **الاقرار بالمائة والاستثناء متصلا>** مسئله داده.چه يو سړى د يو حق اقرار اوكړو.او ورسره ئې انشاء هم اووئيله.نو په ده به اقرار لازم نه وى.

دليله> څكه چه د الله تعالى د مشيئت (رضا) استثناء يا خو حكم دده د منعقد كيدلو نه وړاندې باطلولو دپاره دى.لكه څنګه چه د امام ابويوسف رحمه الله مذهب دې.يا د معلق كولو دپاره دې.لكه څنګه چه د امام محمد رحمه الله مذهب دې. كه د حكم باطلولو دپاره وى.بيا خو دهيڅ ونيلو ضرورت نشته.څكه چه هغه پخپله باطل كړو.اوكه دتعليق دپاره وى.نودا هم باطل دې.څكه چه اقرار د خبر كيدلو په وجه د معلق كيدلو احتمال نه لرى.څكه چه اقرار د تيرشوى خبر وركول دى.او تعليق د راروان په لحاظ سره وى.او په دې دواړو كښې تضاد دې.څكه چه د الله تعالى دمشيئت (غوښتل) شرط داسې دې. چه دې باندې وقوف نشى كيدلې.

د كور په اقرار كښې د عمارت د استثناء حكم

(وَمَنْ أَقَرَّ بِدَارٍ چا چه اقرار اوكړو.د دار، وَاسْتَثْنٰى بِنَاءَهَا لِنَفْسِهِ او د هغې د عمارت استثناء ئې اوكړله خپل ځان دپاره، فَلِلْمُقَرِّ لَهُ الدَّارُ وَالْبِنَاءُ جَمِيعًا)نو دار او عمارت دواړه به د مقرله وى.

تشريح>**الاقرار بالدار دون البناء>** مقر ديوكس دپاره د دار اقرار اوكړو.او ددې دعمارت استثناء ئې اوكړله.نو دار او عمارت دواړه به د مقرله دپاره وى.

دليله> څكه چه ابادى او عمارت خو په دې اقرار كښې د معنى په اعتبار سره تبعاً داخل دې.داسې نه چه په اعتبار د لفظ يعنى د لفظ نه مقصود كيدلو سره داخل دې .وجه داده.چه لفظ د دار د زمكې او عمارت د دواړو نوم نه دې.بلكه صرف د زمكې نوم دې.البته كه په دې كښې عمارت وى.نو هغه هم شامليږى.خو مقصوداً نه بلكه تبعاً داخليږى.څكه چه بناء په دار كښې يو وصف دې.او وصف تبعاً داخليږى.قصداً نه داخليږى.

ددې دليل دادې.كه د دار په بيع كښې د قبضې نه وړاندې د بناء او عمارت څوك مستحق راوځى.نو د هغې په مقابله كښې ثمن هيڅ هم نه كميږى.بلكه مشترى ته اختيار وركولې شى.اوهركله چه لفظ د دار عمارت ته لفظاً شامل نشى.نو استثناء به هم صحيح نه وى.څكه چه استثناء خو په ملفوظ كښې

تصرف وي.حاصل دا چه کوم لفظ مستثنی منه دې.هغه چه د لفظ په اعتبار سره کومو څيزونو ته شامل وي.کله چه په دغه څيزونو کښې د کوم څيز استثناء اوکړی.نو صحيح به وي.او کومو څيزونو ته چه د معنی په اعتبار سره شامل وي.د هغې استثناء به صحيح نه وي.

د کور د صحن په اقرار کښې د عمارت د استثناء حکم

(وَاِنْ قَالَ اوکه وې وئيل.بِنَاءُ هٰذَا الدَّارِ لِي چه ددې دار عمارت زما دې.وَالْعَرْصَةُ لِفُلَانٍ اوانګنړ(صحن) د فلانی ده.فَهُوَ كَمَا قَالَ)نودا دده وئيلو سره موافق دهٔ.

تشريح>الاقرار بالبناء دون العرصة> يوزيد دا اقرار اوکړو چې د دې کور ابادي زما دې او د دې زمکه د فلانی ده نو دده اقرار به صحيح وي او ځنګه چې ده وئيلی دی هم دا به ټيک وی

دليله> ځکه چې ،،عرصة ،، د ميدان نه عبارت دې ابادی ته ،،عرصة،، نه وائی نو دا داسې شوه لکه چې دې داسې اووائی د دې ميدان د فلانی دپاره دې او ابآدې يې نه دې نو دا اقرار صحيح دې دغه شان مذکوره صورت هم صحيح دې

الاصلان> صاحب د ذخيره ليکلی دی.چه دلته کښې پنځه مسئلې دی.چه ددې تخريج په دوه اصولو باندې دې. ①رومبې اصل: دادې.چه د اقرار نه وړاندې دعوه کول، د روسته د اقرار صحت دپاره مانع نه وی.اود اقرار نه پس دهغه څيز د بعض دعوه کول،کوم چه د اقرار لاندې داخل شوې وی.نه صحيح کيږی. ②دويم اصل دادې.چه د سړی اقرار پخپله خپل ذات باندې دليل دې.غير باندې دليل نه دې.هرکله چه دا اصول معلوم شو.نو اوس د هرې مسئلې حکم اوګوره.

نمبرشمار	صورت د مسئلې	حکم
①	بناء هذه الدار وأرضها لفلان	زمکه او بناء دواړه به د فلانی دپاره وی.
②	أرضها لي وبناءها لفلان	د مقر د اقرار مطابق به وی.
③	أرض هذه الدار لفلان وبناءها لي	زمکه اوعمارت دواړه به دمقرله دپاره وی.
④	أرض هذه الدار لفلان وبناءها لفلان آخر	زمکه او عمارت دواړه به د رومبی مقرله دپاره وی.
⑤	بناء هذه الدار لفلان وأرضها لفلان آخر	د مقر د اقرار مطابق به وی.

په ټوکرئ کښې د چوارو اقرار سره د دواړو لازميدلو حکم

(وَمَنْ أَقَرَّ بِتَمْرٍ فِي قَوْصَرَّةٍ کوم کس چه په ټوکرئ کښې د چوارو اقرار اوکړو.لَزِمَهُ التَّمْرُ وَالْقَوْصَرَّةُ) نو په ده به چوارې د ټوکرئ سره لازم وی.

حل اللغة> قوصره: د بانړس ټوکرئ،

تشريح>الاقرار بالتمر دون القوصرة> يوکس اقرار اوکړو.چه ما باندې د فلانی دپاره په ټوکرئ (زنبيل) کښې چوارې دی. علامه مرغينانی رحمه الله فرمائيلی دی.چه امام محمد رحمه الله په اصل يعنی مبسوط کښې ددې مسئلې تفسير غصب سره کړې دې.يعنی مقر اووئيل.چه ما چوارې په ټوکرئ کښې غصب کړی (يعنی په زبردستئ اخستې) دی.نو په دې اقرار کښې د مقر په ذمه چوارې د ټوکرئ سره يعنی ظرف او مظروف دواړه لازم وی.اوکه داسې اقرار ئې اوکړو.چه ما باندې د فلانی خاروې دې.په اصطبل (يعنی بارړ) کښې.نو صرف خاروې به لازم وی.د امام محمد رحمه الله په نيز دلته به هم دواړه لازم وی.

القاعدة> په دې باره کښې قاعده کليه داده.چه کوم څيز د ظرف کيدلو صلاحيت لرى.او د هغې منتقل کول ممکن وى.نود داسې څيز په اقرار کښې به ظرف او مظروف دواړه لازم وى.لکه د کجورو اقرار په ټوکرئ کښې، د غلې اقرار په بوريا کښې.د کپړې اقرار په رومال کښې،وغيره. او که منتقل کول ممکن نه وى.لکه اصطبل وغيره، نود شيخينو رحمهما الله په نيز به صرف مظروف لازم وى.لکه څاروې وغيره، د امام محمد رحمه الله په نيز به دواړه لازم وى.اوکه دغه څيز د ظرف کيدلو صلاحيت نه لرى.نو صرف ړومبې څيز به لازم وى.لکه چه داسې اووائى.چه ما باندې يو درهم دې په درهم کښې،نوصرف ړومبې درهم به لازم وى.

(وَمَنْ أَقَرَّ بِدَابَّةٍ فِي إِصْطَبْلٍ چاچه اقرار اوکړو.د اس په باړ کښې،لَزِمَهُ الدَّابَّةُ خَاصَّةً)([1])نو لازم به وى په ده باندې صرف اس.

حل اللغة > ① **اصطبل:** د اس د تړلو ځائې، باړ،

تشريح>الاقراربالدابة في اصطبل> که يو کس دا اقرار اوکړو چې په باړ کښې کوم اس ولاړ وو هغه ما غصب کړې دې نو په ده باندې دغه دابه لازم وى

دليله> ځکه چه د شيخينو په نيز باړ مضمون بالغصب نه وى. البته د امام محمد رحمه الله په قول باندې قياس کولو سره د دواړو ضامن کيدل پکار دى

(وَإِنْ قَالَ که وې وئيل.غَصَبْتُ ثَوْبًا فِي مِنْدِيلٍ چه ما کپړه غصب کړې ده.په رومال کښې.لَزِمَاهُ جَمِيعًا)نو دواړه به لازم وى.

تشريح>الاقراربالثوب في منديل> که يو کس دا اقرار اوکړو چې ما په رومال کښې کپړه غصب کړې ده نو په ده باندې به کپړه او رومال دواړه لازم وى

دليله> ځکه چې رومال د پکړې دپاره ظرف او لوښې دې ځکه چې کپړه په رومال کښې انغستې شى نو دوراه به په ده لازم وى

وان قَالَ له اوکه وې وئيل چې د هغه دپاره عَلَىَّ ثَوْبٌ فِي ثَوْبٍ)چه ما باندې تهان دې.په کپړه کښې. لَزِمَاهُ جَمِيعًا نو دواړه په ده باندې لازميږى

تشريح>الاقراربالثوب في ثوب> که يو کس د کپړې اقرار اوکړو چې هغه په بله جامه کښې انغستې وه نو په ده باندې به دواړه کپړې لازميږى

دليله> ځکه چې رومال د کپړې دپاره ظرف او لوښې دې ځکه چې کپړه په رومال کښې انغستې شى نو دوراه به په ده لازم وى

په لسو کپړو کښې د يوې کپړې د اقرار حکم

(وَإِنْ قَالَ:که وې وئيل له علي ثَوْبٌ فِي عَشَرَةِ أَثْوَابٍ چه د هغه په ما باندې يوه کپړه ده.په لسو کپړو کښې،لَمْ يَلْزَمْهُ إِلَّا ثَوْبٌ وَاحِدٌ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ([2]) نو لازم به نه وى.مګر يوه کپړه.د امام ابويوسف رحمه الله په

[1] القول الراجح هو قول الشخين رحمهما الله كذا في ملتقى الأبحر(۳\۲۰٤) وكنز (ص،۲۸۸) وتنوير الأبصار (٤\٥٠٥) والدرالمنتقى (۳\۲۰٤) نقلاً عن القول الراجح (۲\۱۹٦)-

[2] القول الراجح هو قول أبي يوسف رحمه الله كذا في نتائج الأفكار(۷\۳۱۹) وكنز (ص،۲۸۸) والدرالمختار(٤\٥٠٥)

نیز.

تشريح﴿الاقرار بثوب واحد في عشرة اثواب﴾ يوسړی اقرار اوكړو.چه ما باندې د فلانی يوه كپړه ده.په لسو كپړو كښې،نود امام ابويوسف رحمه الله په نيز به صرف يوه كپړه لازم وي.د امام صاحب رحمه الله قول هم دادې (كافي). علامه زيلعي رحمه الله په تبيين الحقائق كښې دا د امام ابوحنيفه رحمه الله رومبې قول منلې دې.

دليله﴾ دليل دادې.چه لفظ د فی د وسط او مينځ دپاره استعماليږی.قال الله تعالى (فَادْخُلِي فِي عِبَادِي) ایْ بین عبادی، نود يو نه زيات كښې شك پيدا شو.او اصل د ذمو برائت دې.څكه چه دا د حقوقو نه خالي او عاري پيدا كړې شوې دې.نود مضبوط دليل نه بغير به دده حقوقو سره مشغولول جائز نه وي.

او په مذكوره قول،، ثوب في عشرة أثواب،، كښې د لسو كپړو مجموعه د يوې كپړې دپاره ظرف نه دې.بلكه هره كپړه مظروف ده.څكه چه هركله يوه كپړه په څوكپړو كښې راتولولې شی.نوهره يوه كپړه به د ما وراء (يعنى د علاوه) په حق كښې مظروف وي.او ظرف به صرف هغه كپړه وي.كومه چه د ټولو دپاخه ده.هركله چه د لسو كپړو يوې كپړې دپاره ظرف نه كيدل ثابت شو .نو،،فی،، په ظرف باندې محمول كول ناممكن دی.نودا متعين شو.چه ده په لسو كښې يوه كپړه اوبنكلې ده.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ:امام محمد رحمه الله فرمائی.يَلْزَمُهُ أَحَدَ عَشَرَ ثَوْبًا)چه يوولس كپړې به لازم وي.

تشريح﴿مذهب محمد رحمه الله﴾ مام محمد رحمه الله فرمائی.چه يوولس كپړې به لازم وي.

دليله﴾ څكه چه بعض ښه قسم او قيمتى كپړې په څو څو كپړو كښې راټولولې شی.نو لفظ د ،،في،، په ظرف باندې محمول كول ممكن دی.

وَمَنْ أَقَرَّ بِغَصْبِ ثَوْبٍ يو كس د كپړې غصب كولو اقرار اوكړو. وَجَاءَ بِثَوْبٍ مَعِيبٍ بيا ئې عيب دار كپړه راوړله.فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ فِيهِ مَعَ يَمِينِهِ)نو قول به هم دده (راجح) وي سره د قسم د ده نه

تشريح﴿الاقرار بغصب ثوب﴾ كه يو كس د جامې په غصب كولو اقرار اوكړو خو بيا چې يې كله جامه راوړه نو هغه عيبژنه وه او دا اووائى چې دا هم دغه شان عيبژن ما غصب كړې وه نو د ده قول به معتبر وی خو قسم به خوری

دليله﴾ څكه چې څوك يو څيز غصب كوی نو دا ضروری نه ده چې هغه دې دغيب نه خالي وی بلكه ډيره كرته يو عيبژن څيز هم غصب كولې شی نو څكه د ده قول معتبر دې

(وَكَذَلِكَ لَوْ أَقَرَّ بِدَرَاهِمَ او هم دغه شان حكم دې كه اقرار ئې اوكړود دراهمو وَقَالَ هِيَ زُيُوفٌ او وائى چې هغه كوټه وی

الاقرار بالدراهم ضيوفا﴾ كه يو كس د دراهمو اقرار اوكړی چې د فلانی كس په ما باندې دراهم دی خو بيا اووائی چې هغه كوټه دی نو په دې كښې به هم د ده تصديق كولې شی او قسم به ترې اخستې شی چې هغه كوټه وې كره روپئ نه وې

دليله﴾ څكه چې دراهم دواړه قسمه كيدې شی كره هم او كوټه هم نو هركله چې په ظاهره د ده د دعوی دپاره څه مكذب او دروغ گرزونكې نشته نو د ده قول به منلې شی

(وَإِنْ قَالَ :كه وې وئيل.له عَلَيَّ خَمْسَةٌ فِي خَمْسَةٍ چه د فلانی په ما پنځه په پنځو كښې دی.يُرِيدُ بِهِ الضَّرْبَ وَالْحِسَابَ او هغه په دې سره د ضرب او حساب قصد كوی.لَزِمَهُ خَمْسَةٌ وَاحِدَةٌ)نو صرف پنځه به لازم وی.

تشریح> الاقرار بخمسة في خمسة> یوکس اقرار اوکړو چه ما باندې د فلانی پنخه دی.په پنځو کښې،نو صرف پنخه په لازم وی.اګرچه هغه د ضرب او حساب نیت اوکړی.
دلیله> ځکه چه ضرب سره صرف اجزاء زیاتیږی.اصل مال نه زیاتیږی.نود ،، خمسة فی خمسة،، مطلب دا شو.چه په پنځو کښې د هر یو پنخه پنخه جزءه دی.نود پنځو درهمو به پنخه ویشت اجزاء وی.دا نه چه د پنځو درهمو نه به پنخه ویشت جوړیږی.لکه که د وزن په حساب سره د پنځو درهمو زر جزءه (او حصې) هم جوړې کړې شی.نو یو قیراط به هم وزن زیات نه وی.

(وَاِنْ قَالَ اوکه ده اووئیل.اَرَدْتُ خَمْسَةً مَعَ خَمْسَةٍ چه ما د پنځو سره د پنځو اراده کړې ده.لَزِمَهُ عَشَرَةٌ)نو په ده به لس لازم وی.

تشریح> ایراد الخمسة مع خمسة> که یو کس دا اقرار اوکړو چې په دې قول سره چې ،، خمسة في خمسة،، نه زما اراده وه پنخه د پنخه نورو سره نو په ده باندې به لس درهمه لازم وی یعنی که في یې د مع په معنی کښې اخستې وی
دلیله> کلمه د ،،فی،، په حقیقت کښې ظرفیت دپاره وی.او درهم د درهم دپاره په ظرف او غیرظرف کښې ددې استعمال مجازاً دې.چه دا کله په معنی د مع سره راځی.لکه(فَادْخُلِیْ فِیْ عِبٰدِیْ)ای معی عبادي)

(وَاِذَا قَالَ اوکه ده اووئیل.لَهُ عَلَیَّ مِنْ دِرْهَمٍ اِلٰی عَشَرَةٍ چه د فلانی په ما باندې د یو نه لسو پورې دی.لَزِمَهُ تِسْعَةٌ عِنْدَ اَبِیْ حَنِیْفَةَ نو په ده به نهه لازم وی.د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز.یَلْزَمُهُ الاِبْتِدَاءُ وَمَا بَعْدَهُ نو شروع او ددې نه روستنۍ به لازم وی.وَیَسْقُطُ الْغَایَةُ او غایت(انتهاء) ساقط شو.وَقَالَا:صاحبین رحمهما الله فرمائی.یَلْزَمُهُ الْعَشَرَةُ کُلُّهَا)چه پوره لس به لازم وی.

تشریح> الاقرار بقوله من درهم الي عشرة> یو سړی اقرار اوکړو.چه ما باندې د یو نه لس پورې، یا په مینځ د یو نه لس پورې دی.نود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به نهه لازم وی.
مذهب الصاحبین> دصاحبینو رحمهما الله په نیز لس لازم وی.ګویا د شروع او انتهاء دواړه حدونه به په محدود کښې داخل وی.
دلیلهما> دوی دا فرمائی.چه د دواړو حدونو موجود کیدل ضروری دی.ځکه چه د امر وجودی دپاره معدوم څیز حد نشی کیدلې.

د مقرله د غلام په عوض کښې د زر درهمو د اقرار حکم

(وَاِنْ قَالَ که وې وئیل.لَهُ عَلَیَّ اَلْفُ دِرْهَمٍ چه د فلانی په ما باندې زر درهم دی.مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ اشْتَرَیْتُه مِنْهُ د هغه غلام د ثمن کوم چه ما د هغه نه اخستې وو.وَلَمْ اَقْبِضْهُ او په هغې مې قبضه نه وه کړې.فَاِنْ ذَکَرَ عَبْدًا بِعَیْنِهٖ نو که هغه متعین غلام ذکرکړی.قِیْلَ لِلْمُقَرِّ لَهٗ نو مقرله ته به وئیلې شی.اِنْ شِئْتَ فَسَلِّمِ الْعَبْدَ که غواړې.نو غلام ورکړه.وَخُذِ الْاَلْفَ او زر درهم واخله.وَاِلَّا فَلَا شَیْءَ لَكَ عَلَیْهِ) ګنی ستا دپاره په ده هیڅ نشته.

تشریح> الاقرار باشتراء عبد> زید اقرار اوکړو.چه ما باندې د فلانی زر درهم دی.د هغه غلام د قیمت،چه هغې باندې ما تر اوسه پورې قبضه نه ده کړې.ددې یو څو صورتونه دی. مقر غلام متعین کړو.او مقرله دده تصدیق اوکړو.غلام نې ده ته حواله کړو.دا صورت په کتاب کښې ذکر . ددې حکم دادې.چه تر

باندې به زر درهم لازم وي.

دليله خکه چه کوم څيز د مقر او مقرله په خپل مينځ کښې رضامندئ سره ثابت شي.هغه داسې وي.لکه چه معائنة ثابت شوې وي.اودا خبره ښکاره ده.که دوی دواړو ددې معائنه کړې وه.چه مقر سری دده نه دا غلام په زر درهم اخستې دې.حالانکه دا غلام دده په قبضه کښې دې.نو په ده به زر درهم لازم وو.دغه شان به دلته کښې هم لازم وي.

(وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ الفًا وکه ده دا اووئيل چې د ده په مال باندې زر روپئ دی. مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ چه د يو غلام ثمن دې. وَلَمْ يُعَيِّنْهُ او غلام ئې متعين نکړو. لَزِمَهُ الْأَلْفُ نو په ده به زر(درهم) لازم وی. فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ(1) په قول د امام ابو حنيفه رحمه الله کښې

تشريح **الاقرار بالف بثمن عبد غير معين** په مذکوره صورت کښې چې مقر غلام متعين نکړی نود امام ابوحنيفه، په نيز به په مقر باندې زر درهم لازم وی.او دده دې ونيلو(چه ما تر اوسه په دې باندې قبضه نه ده کړې) ته به توجه نشي ورکولې.که ده دا متصلاً ونيلې وی.او که منفصلاً ونيلې وی.

دليله خکه چه دده دا ونيل د اقرار نه رجوع کول دی.خکه چه ده کلمه د،،علي،، استعمالولو سره د مال واجبيدلو اقرار کړې دې.اود غيرمتعين غلام په صورت کښې دده د قبضې نه انکار کول.بالکليه د وجوب منافي دی.يعنی که غيرمعين مبيع باندې قبضه نه وی.نود سره ثمن نه واجبيږی.خکه چه د مبيع مجهول کيدل،ددې ضائع کيدل واجبوی.که د مبيع جهالت دعقد مقارن وی.لکه څنګه چه د مجهول غلام اخستلو په صورت کښې کيږی.يا ددې نه پس پيدا شوې وی.لکه اخستلې شوې غلام نورو غلامانو کښې ملاؤ شو.(او ګډ وډ شو).او متعاقدينو دده شناخت هير کړو.بهرحال داسې جهالت مبيع د مستهلك (ضائع کيدلو) په مرتبه کښې کوی.خکه لکه څنګه چه د مستهلك حواله کول ناممکن دی.دغه شان مجهول سپارل هم نا ممکن دی.نودا د ثمن د وجوب نه مانع وی.نود مقر په غير معين غلام کښې د قبضه کولو نه د انکار نتيجه داده.چه ثمن دسره واجب نشو.حالانکه ده پخپل خان باندې د وجوب اقرار کړې دې.نودا د اقرار نه رجوع کول شو.اود اقرار نه رجوع کول باطل دی.که موصولا وی.او که مفصولا وی.

مذهب الصاحبين صاحبين او آئمه ثلاثه رحمهم الله فرمائي.که ده«لم اقبضه»متصلاً ونيلی وی .نوبيا

به دده تصديق کولې شي.او مال به نه لازميږی.او متصلا ئې «لم اقبضه» نه وی ونيلې نوتصديق به ئې نه کيږی.البته که مقرله د وجوب په سبب کښې دده تصديق اوکړی.چې او زما نه ئې غلام اخستې وو نوبه دې صورت کښې به هم د مقر تصديق کولې شي.اوکه مقرله په جهت د وجوب کښې د مقر تصديق اوکړو.په دې طريقه چه ده اووئيل.ما دده په لاس اسباب (غلام وغيره) خرڅ کړې وو.اود مبيع د قبضې په انکار کښې ئې دروغجن کړو.نود مقر قول به قبلولې شي.که موصول وی.او که مفصول وی.

دليلهما: د صاحبينو رحمهما الله د قول وجه داده.چه مقر له په،،علي الف،، ونيلو سره خپل خان باندې د مال د وجوب اقرار کړې دې.او په (من ثمن عبد اشتريته منه) ونيلو سره ئې يو سبب بيان کړې دې.نو که طالب (مقرله) د بيع په سبب کښې د مقر موافقت اوکړو.حالانکه صرف د سبب (بيع) په وجود سره د مشتری

---

(1) القول الراجح هو قول الإمام كذا في الدرالمنتقى (٤١٠\٣) وكنز (ص،٢٨٩) وملتقى الأبحر (٤١٠\٣) والبحرالرائق (٢٥٣\٧) والدرالمختار (٥١٢\٤) نقلاً عن القول الراجح (٢٠١\٢)-

په ذمه د ثمن وجوب نه متاكد كيږي.(ځكه چه په مبيع د قبضې نه وړاندې د ثمن وجوب شكي وی.تردي كه مبيع د بائع په قبضه كښې هلاك شی.نود مشتري د ذمې نه ثمن ساقطيږي.بلكه د قبض په ذريعه متاكد كيږي.د كوم چه مقرله مدعی دې.او مقر منكر دې.نو قول به د منكر (مقر) قبلولې شی.او مقرله په مذكوره سبب كښې مقر دروغجن كړو.نود مقر د طرفه به مذكوره بيان، بيان مغير وی.ځكه چه دده د كلام شروع (له علی الف) نه مطلقاً وجوب ثابتيږي.او په آخر د كلام سره دا احتمال راوځی.چه د عدم قبضه په تقدير سره وجوب نشته.نودا به د كلام دشروع مقتضی دپاره مغير وی.او مغير بيان موصولاً صحيح كيږي.مفصولاً نه صحيح كيږي.

(وَإِنْ قَالَ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ اوكه مقر اووئيل په ما باندې زر روپئ دی. مِنْ ثَمَنِ خَمْرٍ أَوْخِنْزِيرٍ)چه د شرابو يا خنزير ثمن دې. (لَزِمَهُ الْأَلْفُنو په ده به زر درهم لازم وی.وَلَمْ يُقْبَلْ تَفْسِيرُهُاو دده بيان به نه قبليږي.

تشريح>الاقرار بالف من ثمن خمراو خنزير> زيد اقرار اوكړو.چه ما باندې د فلانی يو زر درهم دی.كوم چه د شرابو يا خنزير قيمت دې.نود امام صاحب رحمه الله په نيز به په زيد باندې زر درهم لازم وی.(من ثمن خمر) متصلاً اووائی.اوكه منفصلاً اووائی.امام احمد اوبه اصح قول كښې امام شافعی رحمه الله هم ددې قائل دې.

دليله> وجه داده.چه(من ثمن خمر) وئيل.د اقرار نه رجوع كول دی.ځكه چه د شرابو او خنزير ثمن واجب نه دې.او شروع د كلام يعنی كلمه د،،علی،، په وجوب باندې دلالت كوی.نودا د اقرار نه رجوع شوه.چه جائز نه ده.

مذهب الصاحبين> صاحبين او امام مالك رحمهم الله په يو قول كښې، او امام شافعی او اسحاق بن راهويه رحمهما الله فرمائی.كه دده دا متصلاً وئيلې وی.نو مال به لازم نه وی.امام مزنی شافعی رحمه الله هم دا اختيار كړې دې.

دليلهما> ځكه چه دده په آخر د كلام سره دا بيان كړل.چه زما مقصد ايجاب نه دې.اودا داسې شوه.لكه چه دې د ،،له علی ألف،، نه پس ،،انشاءالله،، اووائی.جواب دا دې.چه انشاء الله وئيل تعليق دې.او دلته كښې ابطال دې.

د مقر د دراهمو د اقرار نه پس ددې د كوټه كيدلو د اقرارحكم

(وَإِنْ قَالَ كه وې وئيل.لَهُ عَلَيَّ أَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ مَتَاعٍچه د فلانی په ما باندې زر درهم دی.د اسبابو د قيمت، وَهِيَ زُيُوفٌچه هغه كوټه وې.فَقَالَ الْمُقَرُّ لَهُاو مقرله اووئيل. جِيَادٌچه كره وې.لَزِمَهُ الْجِيَادُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ (۱)نو په ده به كره لازم وی.د امام ابوحنيفه رحمه الله په قول كښې.وَقَالَا:ابويوسف ومحمد اوصاحبين رحمهما الله فرمائی.إِنْ قَالَ ذلك مَوْصُولاًكه دا ئې يوځائې ئې وئيلی وی.صُدِّقَ،نو تصديق به كولې شی.وَإِنْ قَالَهُ مَفْصُولاًاوكه دا ئې جدا ئې وئيلی وی.لَايُصَدَّقُ)نو تصديق به نشی كولې.

حل اللغة>متاع: اسباب، **زيوف:** جمع د زيف، كوټه، **جياد:**كره، ستوقه: كوټه دراهم چه په دې باندې د سپينو زرو(اوبه) پالش وی.

(۱) القول الراجح هو قول الإمام رحمه الله كذا في ملتقى الأبحر(۳\۱۰٤) وكنز الدقائق (ص،۲۸۹) والدر المختار (٤\۵۱۲) نقلا عن القول الراجح (۲\۲۰۲)-

تشريح>الاقراربالف من ثمن متاع> يو سړي اقرار اوكړو.چه ما باندې د فلاني يو زر درهم د سامان قيمت ،يا قرض دى.خو هغه كوټه وې.نو د امام صاحب رحمه الله په نيز به په ده باندې كره دراهم لازم وى.او دده دا قول چه، كوټه وې، ، دسره به نه قبليږى.كه متصلاً اووائى.او كه منفصلاً اووائى.

دليله> د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه دا د اقرار نه رجوع كول دى.خكه چه مطلق عقد صحيح سلامت بدل غواړى.او كوټه او غير مروج كيدل عيب دې.اود عيب دعوه كول، رجوع كول دى.نودا داسې شوه.لكه چه څوك دا اووائى.چه ما ستا په لاس عيب دار مبيع خرخ كړې وو.او مشترى اووائى.نه صحيح سلامت دې خرخ كړې وو.نود مشترى قول معتبر وى.خكه چه مطلق عقد هم ددې تقاضا كوى.چه مبيع عيب دار نه وى.پاتې شو ستوقه(د سپينو زرو اوبه وركړې شوى دراهم)، نودا د اثمان د جنس خنې نه دى.خكه چه دې ته دراهم وئيل مجازاً دى.حالانكه د بيع ورود په ثمن باندې كيږى.نود ستوقه (اوبه وركړې شوى دراهمو) دعوه كول د خپل اقرار نه ګرځيدل دى.

مذهب الصاحبين> د صاحبينو او د ائمه ثلاثه رحمهم الله په نيز د اتصال په صورت كښې به دده تصديق كولې شى.

دليلهما> د صاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه په لفظ د درهم كښې كره او كوټه د ټولو احتمال دې.چه كوټه ته لفظ دراهم حقيقتاً شامل دې.خكه چه دا هم د دراهم د جنس خنې دې.تردې چه په بيع صرف او بيع سلم كښې هم ددې په ذريعه ابستيفاء حاصليږى.استبدال نه كيږى.او ستوقه ته مجازاً دراهم وئيلې شى.صرف دومره خبره ده.چه د اطلاق په وخت كره مراد وى.او كله چه ده هم دې ستوقه وئيلو سره تصريح اوكړله.نودا بيان تبديل شو.او داسې شوه.لكه چه دې اووائى.(له علیّ ألف درهم إلا أنها وزن خمسة) يعنى په مطلق دراهمو وئيلو نه وزن سبعه مراد وى.خو كله چه ده وزن خمسه اووئيل.نو خپل كلام ئې متغير كړو.كوم چه د موصول كيدلو په صورت كښې مقبول وى.اود مفصول كيدلو په صورت كښې مردود وى.

حاصل د اختلاف دې خبرې طرف ته راجع دې.چه كوټه دراهم په مطلق اسم دراهم كښې داخل دى اوكه نه دى؟ نو امام ابوحنيفه رحمه الله عيب طرف ته ترجيح وركړې ده.او داخل كړې ئې نه دى.او صاحبينو رحمهما الله داخل كړې دى.خو په طريقه د توقف،(حتى كان دعوى الزيافة بعد ذكر اسم الدراهم بيان تغيير)

(وَمَنْ أَقَرَّ لِغَيْرِهِ بِخَاتَمٍ اوچا چه اقرار اوكړو.د بل دپاره د ګتمې، فَلَهُ الْحَلَقَةُ وَالْفَصُّ نو لازم به وى په ده باندې ګتمه او غمې. وَإِنْ أَقَرَّ لَهُ بِسَيْفٍ كوم كس چه اقرار اوكړو.د تورې، فَلَهُ النَّصْلُ وَالْجَفْنُ وَالْحَمَائِلُ نود مقرله دپاره به

حل اللغة > خاتم: ګتمه، **حلقة:** ګول دائره، **فص:** غمې،

تشريح>الاقراربالخاتم> كه يو كس د بل دپاره د ګوتمې اقرار اوكړوچې دا ګوتمه د فلاني ده نو په ده باندې د ګوتمې كړئ او په هغې كښې چې كوم غمې لګيدلې وى دواړه لازم دى

دليله> خكه چې خاتم هغه ګوتمې ته وائي چې په هغه كښې كړئ او غمې دواړه وى نو هركله چې دواړو ته شامل دې نو دواړه به په ده باندې لازم وى

(وَإِنْ أَقَرَّ لَهُ بِسَيْفٍ كوم كس چه اقرار اوكړو.د تورې، فَلَهُ النَّصْلُ وَالْجَفْنُ وَالْحَمَائِلُ)نود مقرله دپاره به سوكه(تيره طرف)، تيكې، او تسمه (كمربتې) ټول وى.

حل اللغة > سيف: توره، **نصل:** سوكه، (د تورې تيره طرف) **جفن:** نيام، تيكې، **حمائل:** د حماله جمع

دہ،د توري تسمه (کمربتی)،

تشریح> الاقرار بالسیف> که یو کس دا اقرار اوکړو چه د فلانی زما سره توره ده نو په ده باندې به د تورې پلک، تیغې او پټئ درې واړه لازم وی

دلیله> ځکه چې په پورته کښې دا ټول څیزونه شامل وی نو کله چې د تورې نوم واخستې شی دا به ورسره خامخا وی

(وَإِنْ أَقَرَّله بِحَجَلَةٍ چاچه د بل دپاره اقرار اوکړو د چپرکټ، فَلَهُ الْعِيدَانُ وَالْكِسْوَةُ)نو دده دپاره به لرګی او پرده وی.

حل اللغة > حجلة: چپرکټ، **عیدان:** د عود جمع ده، لرګی، **کسوة:** پرده،

تشریح> الاقرار بالحجلة> که یو کس د بل دپاره د چپرکټ اقرار اوکړو چې دا چپرکټ د فلانی دې نو په چپرکټ کښې چې کوم لرګې او پرده وی دواړه به په ده لازم وی

دلیله> ځکه چې په عرف کښې چې کله ،،حجلة،، ذکر شی نو مراد ترې لرګی او پرده دواړه وی

د حمل دپاره د اقرار حکم

(وَمَنْ قَالَ: لِحَمْلِ فُلَانَةَ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ،چه د فلانی د حمل دپاره ما باندې زر درهم دی.فَإِنْ قَالَ نوکه هغه دا اوواني.أَوْصَى لَهُ فُلَانٌ چه فلانی دده دپاره وصیت کړې وو.أَوْمَاتَ أَبُوهُ یا دده پلار مړ شوې دې.فَوَرِثَهُ چه دې دهغه وارث دې.فَالْإِقْرَارُ صَحِيحٌ)نو اقرار صحیح دې.لِأَنَّهُ أَقَرَّ بِسَبَبٍ صَالِحٍ لِثُبُوتِ الْمِلْكِ لَهُ ځکه چه ده د حمل دپاره د ملك د ثبوت د یو صالح سبب اقرار کړې دې.

تشریح> الاقرار لحمل فلان> په متن کښې چه کومه مسئله ذکرکړې شوې ده.د هغې وضاحت دادې.که یوکس د حمل دپاره اقرار اوکړی.نو د هغې درې صورتونه دی.یا به څه سبب بیانوی.او یا نه.بیا به سبب یا صالح وی.او یا غیر صالح،که سبب صالح بیان کړی.مثلاً داسې اووانی.چه د فلانئ ښځې حمل دپاره ما باندې زر درهم لازم دی.چه ددې وصیت فلانی سړی ددې حمل دپاره کړې وو.یا ددې حمل پلار مړ شوې دې.اودا روپئ ده په میراث کښې حاصل کړی دی.نودا اقرار به صحیح وی.

دلیله> ځکه چه اقرار کونکی حمل دپاره د ملك د ثبوت یو سبب صالح بیان کړې دې.چه په دې باندې عمل ممکن دې.

د مبهم اقرار حکم

(وَإِنْ أَبْهَمَ الْإِقْرَارَ اوکه اقرار ئې مبهم اوساتلو.لَمْ يَصِحَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ.[1]نو صحیح به نه وی. د امام ابویوسف رحمه الله په نیز، وَقَالَ مُحَمَّدٌ:امام محمد رحمه الله فرمائی.يَصِحُّ)چه صحیح به وی.

تشریح> ابهام الاقرار> که اقرار کونکی اقرار مبهم اوساتلو.یعنی صالح یا غیر صالح هیڅ سبب ئې بیان نکړو.نود امام ابویوسف رحمه الله په نیز به اقرار صحیح نه وی.د بعضو په قول امام ابوحنیفه رحمه الله هم ددې قائل دې.اود امام شافعي رحمه الله قول هم دادې.

دلیله> د امام ابویوسف رحمه الله دلیل دادې.چه مطلق اقرار داسې اقرار طرف ته ګرځولې شی.کوم چه د

---

[1]) القول الراجح هو قول أبي يوسف رحمه الله كذا في ملتقى الأبحر(٣\٤٠٤) و كنز الدقائق (ص،٢٨٨) والبحر (٧\٢٥٢) ولعناية (٧\٣٢٥) ونتائج الأفكار(٧\٣٢٥) نقلاً عن القول الراجح (١٢\٢٠٠)-

تجارت په سبب سره وی.لکه په عبد ماذون یا متفاوضین کښی که یو شریك څه مطلق اقرار اوکړی.نود تجارت په سبب باندې به محمول کولې شی.نود اقرار کونکی مبهم اقرار داسې شو.لکه چه ده تصریح اوکړله.چه د حمل دا مال ما باندې د تجارت په وجه لازم دې.او چونکه داسې قسمه مبهم اقرار باطل دی.نو مبهم اقرار به هم باطل وی.

مذهب محمد د امام محمد په نیز اقرار بهرصورت صحیح دې.امام مالك او امام احمد هم ددې قائل دی.اود امام شافعی اصح قول هم دا دې.

دلیله ځکه چه اقرار هم د شرعی حجتونو څخه یو حجت دې.نو ترکومه پورې چه ممکن وی.عمل کول به ضروری وی.نو د صریح کیدلو په صورت کښې به په یو صالح سبب (وصیت یا میراث) باندې محمول کولې شی.

(وَاِن أَقَرَّ بِحَمْلِ جَارِيَةٍ که اقرار ئې اوکړو د وینځې د حمل أَوْ حَمْلِ شَاةٍ لِرَجُلٍ یا د چیلۍ د حمل اقرارئې اوکړو دپاره د یوکس صَحَّ الْإِقْرَارُ نو اقرار صحیح دې.وَلَزِمَهُ)او په ده باندې لازم دې.

تشریح که یوکس دچا دپاره د حمل اقرار اوکړی.نو اقرار بالاتفاق صحیح دې.(که هغه د وینځې حمل وی اوکه د څاروی حمل وی).اګرچه اقرار کونکې ددې هیڅ سبب بیان نکړی.

دلیله ځکه چه ددې اقرار صحیح وجه ممکن ده.دا په دې طریقه کیدې شی.چه یو مړکیدونکی ددې وصیت کړې وی.او دده وارثان اقرار کوی.چه دا حمل د فلانی دپاره دې.نودا به په جواز باندې محمول کولې شی.ائمه ثلاثه هم ددې قائل دی.او امام مزنی چه د امام شافعی دا قول نقل کړې دې.چه د اقرار مطلق کیدلو په صورت کښې به صحیح نه وی.دا ددوی غیر اصح قول دې.

په مرض الموت کښې د قرضونو د اقرار حکم

(وَإِذَا أَقَرَّ الرَّجُلُ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ بِدُيُونٍ کله چه اقرار اوکړو، یوکس پخپل مرض الموت کښې،د قرضونو، وَعَلَيْهِ دُيُونٌ فِي صِحَّتِهِ او حال دادې.چه په ده باندې څه قرضې دده د صحت هم دی.وَدُيُونٌ لَزِمَتْهُ فِي مَرَضِهِ بِأَسْبَابٍ مَعْلُومَةٍ او څه قرضې داسې دی.کومې چه په ده باندې دده په مرض الموت کښې په معلومو اسبابو سره لازم شوی دی.فَدَيْنُ الصِّحَّةِ وَالدَّيْنُ الْمَعْرُوفُ بِالْأَسْبَابِ مُقَدَّمٌ) نودا د صحت او د معلومو اسبابو قرضونه به مقدم وی.

تشریح اقرار المریض بدیون فی مرض موته بیمار باندې چه کوم دین دده د صحت د زمانې وی.که د ګواهانو په ذریعه سره معلوم وی.او که په اقرار سره،که د وارث دین وی.اوکه د یو اجنبی (پردی کس).د عین اقرار وی.اوکه د دین وی.بهرحال د صحت د حالت دین مطلقا، او کوم دین چه په ده باندې په مرض الموت کښې په معلومو اسبابو سره لازم شوې وی.هغه دواړه به زمونږ په نیز، هغه دین باندې مقدم وی.د کوم چه مریض پخپل مرض الموت کښې اقرار کړې دې.سفیان ثوری او ابراهیم نخعی هم ددې قائل دی.اود قاضی حنبلی په قول د امام محمد د مذهب قیاس هم دادې.نوکه دده انتقال اوشی.نو مخکښې به دده د ترکې (مال میراث) نه د صحت دین او هغه دین اداکوی.کوم چه په مرض الموت کښې معلومو اسبابو سره لازم شوې دې.ددې نه پس چه کوم مال باقی پاتې شی.د هغې نه به هغه قرض ادا کوی.د کوم چه هغه په مرض الموت کښې اقرار کړې دې.[1]

---

[1] **مذهب الشافعی**:- د امام شافعی،امام مالك، ابوثور، ابوعبیده، امام مزنی، او په قول د ابوعبیده د مدینې د خلقو په نیز د صحت دین اود مرض دین دواړه برابر دی.

دليله دليل دادې.چه بې شکه اقرار دليل دې.خو دډې دليل کيدل، هغه وخت معتبر وی.کله چه په دې سره د بل حق نه باطليږی.اوکه دا د غير حق باطلوی.نو معتبر نه وی.لکه که يوکس يو څيز رهن کيخودلو.يا ئې په اجاره باندې ورکړو.بيا ئې اقرار اوکړو.چه دا څيز دغير دې.نود مرتهن او مستاجر په حق کښې دده اقرار نه نافذ کيږی.ځکه چه دې څيز سره د هغوی حق متعلق شوې دې.اود بيمار په اقرار کښې دا خبره موجود ده.يعنی د بل حق باطليږی.ځکه چه د صحت د قرضخواهانو حق دده مال سره متعلق شوې دې.

وجه تقديم ديون معروف الاسباب بيا د بيمارئ د حالت داسې قرضې چه ددې اسباب معلوم دی.مثلاً د بيع په وجه د يو مبيع ثمن،يا د نکاح په وجه د ښځې مهر لازم شوې دې.نو ددې د مقدم کيدلو وجه داده.چه ددې په ثبوت کښې د تهمت هيڅ امکان نشته.ځکه چه د کتلی شوی څيز د ردکولو گنجائش نه وی.ددې مثال دادې.چه قرضه د داسې مال په وجه لازم شوه.کوم مال چه ده پخپل ملکيت کښې اخستې دې.يا ده دچا مال ضائع کړو.او ددې وجوب د اقرار نه علاوه په معائنه يا د گواهئ په دليل سره معلوم شو.يا ده د يوې ښځې سره دهغې په مهرمثل باندې نکاح اوکړله.نو داسې قرضې د صحت د قرضو برابر دی.کوم يو ته به په بل باندې ترجيح نه وی.ځکه چه ددې په ثبوت کښې هيڅ تهمت نشته.

د مقدم قرضو اداکولو نه پس د مرض الموت حالت د قرضو اداکول

(فَإِذَاقُضِيَتْ)او هرکله ئې چه اداکړلې.(يعنی هغه قرضې کومې چه مقدم دی) (وَفَضَلَ شَيْءٌمِنهَا)او د هغې نه څه مال بچ شو.(کَانَ فِيمَاأَقَرَّبِهٖفِي حَالَ الْمَرَضِ)نو هغه به خرچ کولې شی.په هغې کښې د کوم چه ده د بيمارئ په حالت کښې اقرار کړې دې.

تشريح **فضل شئ بعد اداء ديون الصحة** هرکله چه مخکښې ديون يعنی د صحت ديون او هغه قرضې کومې چه د بيمارئ په حالت کښې په معلومو اسبابو سره معلومې شوې دی. خلاصې کړې شوې.اود ترکې نه څه مال بچ پاتې شو.نو دا به د قرضې ادا کولو کښې خرچ کولې شی.د کومو چه ده د بيمارئ په حالت کښې اقرار کړې دې.

دليله ځکه چه ده د بيمارئ په حالت کښې کوم اقرار کړې وو.هغه پخپله صحيح وو.(لصدوره عن أهله في محله) خود صحت د قرضخواهانو د حق په وجه دا اقرار منع کړې شوې وو. او اوس ددوی حق باقی پاتې نشو.نود بيمارئ د حالت اقراربه ښکاره کيږی.،لزوال المانع،،

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ دُيُونٌ اوکه نه وی په مقر باندې قرضونه.لَزِمَتْهُ فِي صِحَّتِهٖکوم چې په هغه باندې د هغه د صحت په زمانه کښې لازم شوی وی جَازَإِقْرَارُهٗنو دده اقرار جائز دې

تشريح وړاندې د دې خبرې بيان اوشوچې مريض په خپل مرض کښې دچا دپاره اقرار اوکړو چې مثلاً دزيد په ما باندې پنځه زره روپئ دی.نود هغه دترکې نه به اول د صحت د مودې قرض ادا کولې شی اوبيا به د مرض د مودې اقرار طرف ته راتلې شی خو اوس په دې متن کښې دا فرمائی چې زيد په مرض کښې د چا دپاره اقرار اوکړو.اوپه ده باندې د صحت د ورخو څه قرض وغيره نه وی نو په دې صورت کښې به د مقر اقرار جائز وی اوهغه به نافذ کولې شی.

دليله دليل دا دې چې په دې صورت کښې د مقر له سره بل مقابل نشته دائن اوحقدار مقابل نشته.نوځکه به د مقر اقرار صحيح وی.اونافذ کولې به شی.

وَكَانَ الْمُقِرُّلَهُ مِنَ الْوَرَثَةِ او د چا دپاره چې ئې اقرار کړې دې هغه به په وارثانو کښې شامل وي

تشريح هر کله چې د مقر له دپاره اقرار صحيح شو. نو اوس به د مقرله حصه ورانديې ورکولې شي او دهغې نه پس به وارثانو ته ميراث ملاويږي.

دليله دليل دا دې چې د چا دپاره ئې اقرار کړې دې نو دغه اقرار د دين دې او دين به د ميراث د تقسيم نه وړانديې ادا کولې شي.

وارث دپاره د بيمار د اقرار حکم

وَاِقْرَارُ الْمَرِيْضِ لِوَارِثِهِ اوکه اقرار اوکړو، بيمار د خپل وارث دپاره بَاطِلٌ باطل دې اِلَّا اَنْ يُصَدِّقَهُ فِيْهِ بَقِيَّةُ الْوَرَثَةِ) خودا چه په دې کښې باقي وارثان دده تصديق اوکړي.

تشريح اقرار مريض لوارثه که بيمار دخپل وارث دپاره دخه دين يا عين اقرار اوکړو. نو اقرار صحيح نه دې. البته که باقي وارثان هم دده تصديق اوکړي. امام احمد، ابراهيم نخعي، سفيان ثوري رحمهم الله شعبي، حکم، قاضي شريح، يحي انصاري، قاسم بن سلام، ابو هاشم، سالم، ابن اذينه رحمهم الله او په يو قول کښې امام شافعي رحمه الله هم ددې قائل دی. خو ددوی اصح قول دادې چه اقرار صحيح دې. امام مالك رحمه الله فرمائي چه کوم خاني کښې د تهمت خطره نه وي. هلته صحيح دې. گني باطل دې. لکه مثلاً د يوکس يوه لور او يو د تره خوئې دې. بيمار د خپلې لور دپاره اقرار اوکړو. نو صحيح به نه وي. ځکه چه د تهمت امکان دې. اوکه د تره د خوی دپاره ئې اقرار اوکړو. نو صحيح به وي. په شوافعو کښې رويانی هم دا اختيار کړې دې. د حسن بن صالح نه نقل دی. چه صرف د خپلې ښځې د مهر اقرار صحيح دې. باقي باطل دې. (1)

دلائله ① دليل د سنن دار قطني روايت دې. (قال رسول الله ﷺ لا وصية لوارث ولا اقرار له بدين) (2) يعنی د وارث دپاره وصيت نشته او نه د هغه دپاره په دين باندې اقرار شته

سوال دا روايت مرسل دې؟ جواب اول خو حافظ ابو نعيم په تاريخ اصبهان کښې د اشعث بن شداد خراساني لاندې دې ته مسند ونيلی دی. و سنده هکذا..... (حدثنا أبو محمد بن حيان ثنا أبو عبدالرحمن المقدسي ثنا أشعث بن شداد الخراساني ثنا يحيى بن يحيى ثنا نوح بن دراج عن أبان تغلب عن جعفر بن محمد عن أبيه عن جابر) اوکه مرسل اومنلې شي. لکه څنګه چه د اکثرو رائې هم داده. بيا هم مرسل صحيح زمونږ په نيز حجت دې.

سوال ابن معين د نوح بن دراج تکذيب کړې دې. امام ابوداؤد فرمائي. چه دې دروغجن دې. حديثونه د خانه جوړوی. د ابن حبان او حاکم بيان دادې. چه دې د ثقاتو نه هم موضوعي روايات نقل کوی. بيا مرسل مذکور صحيح څنګه شو؟

جواب جعفر فريابي د محمد بن عبدالله بن نمير نه ددې توثيق رانقل کړې دې. شيخ ابوزرعه فرمائي. چه دې د کوفې قاضي وو. او ماته اميد دې. چه په دې کښې هيڅ باك نشته. د ابن عدی رحمه الله قول دې. چه دې (مکثر الحديث) خو نه دې. خو دده حديثونه ليکلې شی. معلومه شوه. چه نوح بن دراج مختلف فيه دې. (والاختلاف غير مضر عندنا) (إعلاء السنن).

(1) مذهب الشافعي رحمه الله:- د امام شافعی رحمه الله دليل دادې چه د بيمار اقرار کول، د يو ثابت حق ښکاره کول دی.

(2) من حديث جعفر بن محمد عن أبيه اخرجه الدارقطني في سننه في كتاب الوصايا (٤/١٥٢) رقم ١٢)۔

② عقلي دليل دادي.چه د بيمار مال سره د ټولو وارثانو حق تړلي شوي دي.په دې وجه ده ته د وارثانو په حق کښې د تحفې يا وصيت وغيره احسان کولو نه ممانعت دی.

د اجنبي دپاره اقرار کولو نه پس د نسب دعوی کول

(وَمَنْ أَقَرَّ لِأَجْنَبِيٍّ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ اوکه اقرار ئې اوکړو.اجنبي دپاره. په مرض موت خپل کښې ثُمَّ قَالَ:بيا ئې اووئيل.هُوَ ابْنِي چه دا زما خوئې دې.ثَبَتَ نَسَبُهُ نو دده نه به دهغه نسب ثابت وی.وَبَطَلَ إِقْرَارُهُ،او دهغه دپاره به دده اقرار باطل وی.

تشريح﴿الاقرار لاجنبي﴾ بيمار د يو اجنبي دپاره اقرار اوکړو.او بيا د هغه د نسب مدعي شو.نو د هغه نسب به ثابت وی.او اقرار به باطل وی.په دې شرط چه ددې اجنبي نسب معلوم نه وی.او د مقِر تصديق اوکړی.او د تصديق کولو لياقت (او قابليت) لري.

ولو أَقَرَّ لِأَجْنَبِيَّةٍ اوکه د اجنبيه (ښځې) دپاره ئې اقرار اوکړو.ثُمَّ تَزَوَّجَهَا بيا ئې هغې سره نکاح اوکړله. لَمْ يَبْطُلْ إِقْرَارُهُ لَهَا)نو هغې دپاره به دده اقرار باطل نه وی.

تشريح﴿الاقرار لاجنبية﴾ اوکه بيمار د يوې اجنبيه ښځې دپاره اقرار کولو نه پس هغې سره نکاح اوکړی.نو اقرار به صحيح وی.د امام زفر رحمه الله په نيز به صحيح نه وی.

وجه الفرق بين المسئلتين﴿ وجه د فرق دادہ.چه د نسب دعوه د علوق (دنطفي د قرار) طرف ته منسوب کيږی.نو خپل خوی دپاره اقرار شو.او دا جائز نه دی.په خلاف د زوجيت (او دنکاح)،چه دا نکاح وخت طرف ته منسوب کيږی.نو اقرار اجنبيه دپاره شو.اودا صحيح دی.خوکه اجنبيه دپاره ئې وصيت اوکړو.يا ئې څه څيز تحفه کړو.بيا ئې هغې سره نکاح اوکړله.نو وصيت او هبه به صحيح نه وی.ځکه چه وصيت بعد الموت تمليك وی.او د مرګ نه پس ښځه دده وارثه ده.نو وصيت به جائز نه وی.او په مرض الموت کښې تحفه د وصيت په حکم کښې کيږی.،،على مايأتي بيانه،،

وَمَنْ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ ثَلَاثًا چاچه خپلې ښځې ته د بيمارئ په حالت کښې درې طلاقونه ورکړل.ثُمَّ أَقَرَّ لَهَا بِدَيْنٍ وَمَاتَ بيا ئې اقراراوکړو.د هغې د قرضې،او مړ شو.فَلَهَا الْأَقَلُّ مِنَ الدَّيْنِ وَمِنْ مِيرَاثِهَا مِنْهُ نو ښځې دپاره به د قرضې او ميراث نه کمتر وی.

تشريح﴿الاقرار للمطلقة في مرض الموت﴾که په مرض الموت کښې ئې ښځې ته درې څله طلاق بائن ورکړو.بيا ئې هغې دپاره اقرار اوکړو.نو په ميراث او اقرار کښې چه کوم کمتر وی.هغه به ښځې ته ملاويږی.

دليله﴿ ځکه چه دلته کښې زوجين په اقرار کښې متهم کيدې شي.په دې معنی سره چه د عدت زمانه موجود ده.او د اقرار دروازه بنده ده.نو ممکن ده.چه ده د ميراث نه زيات ورکولو دپاره طلاق باندې اقدام کړې وی.او په کمتر مقدار کښې د تهمت امکان نشته.نو کمتر مقدار به ثابت وی.خود مذکوره حکم دپاره دا شرط دې. چه مقر د عدت په دوران کښې مړ شوې وی.که د عدت نه روسته مړ شو.نو اقرار به صحيح وی.

التنبيه﴿ د مذکور حکم دپاره دا هم شرط دې.چه خاوند د ښځې په طلب باندې طلاق ورکړې وی.که د طلب نه بغير وی.نو ښځې ته به ميراث ملاويږی.خومره هم چه ددې په حصه کښې راځي.او ددې دپاره به اقرار صحيح نه وی.ځکه چه ښځه خو دده وارثه ده.او ددې خاوند زوج فار دې.په جامع،

محیط، تبیین وغیره اکثرو کتابونو کښې دا شرط ذکر دي.

د غلام دپاره د نسب اقرار کول

وَمَنْ أَقَرَّ بِغُلَامٍ او چاچه اقرار اوکړو.د داسې هلك په نسبت، يُولَدُ مِثْلُهُ لِمِثْلِهِ چه دده په شان دده نه پیدا کیدې شي. وَلَيْسَ لَهُ نَسَبٌ مَعْرُوفٌ اود هغه کوم مشهور نسب نه وی. أَنَّهُ ابْنُهُ چه دا زما خوئې دې. وَصَدَّقَهُ الْغُلَامُ او هلك دده تصدیق اوکړو. ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ نو مقر نه به دده نسب ثابتیږی. وَإِنْ كَانَ مَرِيضًا) اګرچه هغه بیمار وی.

تشریح>الاقراربالنسب لغلام> مقر اقرار اوکړو.چه فلانې بچې زما خوئې دې.نو مقر نه به دده نسب ثابتیږی.څکه چه نسب د هغه امورو څخې دې.کوم چه خاص طور باندې هم ده لازمیدونکې دې.

شروط ثبوت النسب> خود نسب د ثبوت دپاره یو څو شرطونه دی. ① دده پشان ماشوم دده نه پیدا کیدې شی.چه دې په ښکاره لحاظ سره دروغجن اونه ګرځولې شی. ② ماشوم مجهول النسب وی.که معلوم النسب وی.نو د بل چا نه دده نسب نه ثابتیدل یوه ښکاره خبره ده.

③ ماشوم دده تصدیق اوکړی.چه زه د ده خوئې یم.څکه چه دا هلك پخپله ذاتی قبضه کښې دې.څکه چه مسئله د داسې بچې په حق کښې فرض کړې شوې ده.کوم چه پخپل ذات سره تعبیر کولې شی.په خلاف د داسې بچې، چه هغه پخپل ذات سره تعبیر نشی کولې.چه هغه د خپل قابض په قبضه کښې وی.لکه څنګه چه ،،کتاب الدعوه،، کښې تیر شو.او په دې وجه هم چه د نسب په ثابتیدلو کښې بعض حقونه مرتب کیږی.لکه مثلاً د میراث ثبوت، د نفقې لزوم وغیره،او د اقرار په نسب کښې ددې حقونو الزام دې.نود مقرله د طرفه دده التزام ضروری دې.او دا به دده په تصدیق سره کیږی.

(وَيُشَارِكُ الْوَرَثَةَ فِي الْمِيرَاثِ)او هلك به وارثانو سره میراث کښې شریك وی.

تشریح>الشرکة في المیراث> هرکله چه د مذکوره شرطونو په موجودګئ کښې دده نسب ثابت شو.نو د نورو وارثانو سره به دا ماشوم هم د مقر وارث جوړیږی.او میراث به حاصلوی.

دلیله> څکه هرکله چه دده نه د هغه نسب ثابت شونو دا د میراث مشهور پشان شو.نود مړی وارثانو سره به شریك وی.

د مورپلار، اولاد، ښځې او مولا دپاره د اقرار حکم

وَيَجُوزُ إِقْرَارُ الرَّجُلِ بِالْوَالِدَيْنِ وَالزَّوْجَةِ وَالْوَلَدِ وَالْمَوْلَى) جائز دې اقرار د یو کس په باره کښې،د مور، پلار، ښځه، خوئې،اود مالك کیدلو،

تشریح>جواز الاقرار بالوالدین الخ > که یوسړې د صحت په حالت کښې یا د بیمارئ په حالت کښې بل چاته خپل پلار، یا خپله مور، یا خپل خوئې اووائی.نو(د کافی، معراج، او درمختار وغیره معتبراتو مطابق) مذکوره تیرشوی شروط ثلاثه سره دده اقرار صحیح دې.اوکه دې یوې ښځې ته خپله بی بی اووائی.نودا هم صحیح ده.په دې شرط چه① دا ښځه د بل چا بی بی نه وی. ② د بل چا په عدت کښې نه وی. ③ ددې ښځې خور، یا تروږ(د پلار یا د مورخور) د مقر منکوحه یا طلاقه کړې شوې نه وی. ④ ددې ښځې نه علاوه څلور ښځې دده په نکاح کښې نه وی.(درمختار، کافي وغیره) ⑤ دا ښځه مجوسیه یا بت پرسته نه وی.(حموی) ⑥ دا ښځه مقر باندې په رضاعت سره حرامه نه وی.(حاشیه زیلعی).

دغه شان که دې اووائی. چه فلانې سړې زما مولا عتاقه دې.نودا اقرار هم صحیح دې.په دې شرط چه

دده ولاء د غیر مقر نه ثابت نه وی.

دلیله> مطابق دلیل دادی.چه په دې کښې دداسې امر اقرار دې.کوم چه پخپله ده ته لازمیدونکې دې.او په دې کښې نسب غیر طرف ته منسوب کول هم نشته.په دې مسائلو کښې قاعده کلیه داده.چه د سړی اقرار پخپله خپل ذات باندې حجت دې.غیر باندې نه دې.

التنبیه> د مورکیدلو اقرار صحیح کیدل، لکه څنګه چه پورته تیر شو.هم دا مشهور دې.اکثر عالمان هم په دې دی.او هم دا د تحفة الفقهاء، د سراج الدین شرح فرائض اود علامه مرغینانی رحمه الله د روایت موافق دې. خوپه فرائض عتابی، ضوء السراج، او مبسوط، ایضاح، اود شیخ محبوبی د جامع صغیر په عامو نسخو کښې ددې خلاف دادی.چه د مور کیدلو اقرار صحیح نه دې.څکه چه نسب آباء (پلار، نیکه) نه کیږی.امهات (میاندو) نه نه کیږی.او په دې کښې غیرسړی یعنی د مقر پلار باندې زوجیت لازمول دی.نو اقرار به صحیح نه وی.خو صاحب د درمختار فرمائی،چه د مذکوره اقرار صحت حق دې.څکه چه په اصل کیدلو کښې مور او پلار دواړه برابر دی.نو مور د پلار پشان شوه.

په موریلار خاوند او مولی باندې د ښځې د اقرار صحت

(وَيُقْبَلُ اِقْرَارُ الْمَرْاَةِ بِالْوَالِدَيْنِ وَالزَّوْجِ وَالْمَوْلٰى)او قبلولې به شی.د ښځې اقرار د چا متعلق د مور، پلار، خاوند، اود مالك کیدلو.

تشریح> قبولیة اقرارالمرآة بالوالدین الخ > که څوك ښځه دا اقرار اوکړی.چه فلانئ ښځه زما مور ده.یا فلانې سړې زما پلار دې.یا خاوند یا مولا عتاقه دې.نو ددې دا اقرار صحیح دې.

دلیله> وجه هم داده.کومه چه پورته ذکر شوه.(لأنه أقربمایلزمه ولیس فیه تحمیل النسب علی الغیر) پاتې شوه د هغه ښځه (منکوحه) کیدل،نودا د هغه په ذات باندې ددې د اقرار د صحت نه مانع نه دې.

(وَلَا يُقْبَلُ اقرارهـا بِالْوَلَدِ)او قبلولې به نشي.اقرارد دې د خوی کیدلو.(اِلَّا اَنْ يُصَدِّقَهَا الزَّوْجُ فِيْ ذٰلِكَ)خودا که خاوند ددې تصدیق اوکړی.(نوجائز ده) (اَوْتَشْهَدَ بِوِلَادَتِهٖ قَابِلَةٌ)یا ګواهی ورکړی.دائی ددې بچی د پیدا کیدلو.

تشریح> عدم صحة الاقراربالولد للمراة> تشریح> که څوك ښځه د یو بچي په باره کښې دا اووائی.چه دا زما خوئې دې.نو ترکومه پورې چه ددې خاوند ددې تصدیق اونکړی.یا څوك دائی ددې شهادت ورنکړی.چه دا بچې ددې نه پیدا شوې دې.د هغه وخته پورې به دا اقرار نه قبلیږی.

دلیله> څکه چه دې اقرار کښې نسب په بل یعنی خاوند باندې لازمول دی.څکه چه د نسب اصل تعلق سړی سره دې.ښځې سره نه دې.

تصدیق الزوج اوشهادة القابلة> خو که خاوند د دې تصدیق اوکړی نو بیا به د دې اقرار بالولد صحیح وی.څکه چې د هغه د اقرار په قبلولو کښې د خاوند نقصان دې خو چې هغه تصدیق اوکړو نو اقرار به ئې قبلولې شی یا دا چې دائنړه د دهٔ په ولادت باندې ګواهی ورکړی څکه چې د قابلې قول په داسې صورت کښې مقبول وی د دې تفصیل په طلاق کښې تیر شوې دې

د موریلار او ولد صلبی نه د علاوه نه د نسب د اقرار حکم

(وَمَنْ اَقَرَّ بِنَسَبٍ مِنْ غَيْرِ الْوَالِدَيْنِ وَالْوَلَدِ)څوك چه د مور او پلار اود اولاد نه د علاوه د نسب اقرار اوکړی.(مِثْلُ الْاَخِ وَالْعَمِّ)لکه د رور، او تره(اقرار اوکړی). لَمْ يُقْبَلْ اِقْرَارُهٗ بِالنَّسَبِ)نودده قول به په نسب کښې نه قبلیږی.

تشريح>الاقرار بنسب غيرالوالدين> كه يوسړي د مور، پلار، او د ولد صلبي نه د علاوه د نسب اقرار اوكړي.لكه رور، تره، نيكه، نمسي وغيره، نو اقرار به نه قبليږي.ځكه چه دې كښې نسب په غير باندې لازميږي. **دليله>** ځكه چه رور به هغه وخت وي.كله چه د پلار خوني وي.او تره به هغه وخت وي.كله چه د نيكه خوني وي.

د معروف وارث په وجود كښې د غيرداړه د نسب د اقرار عدم صحت

(فَإِنْ كَانَ لَهُ وَارِثٌ مَعْرُوفٌ قَرِيبٌ أَوْبَعِيدٌ نوكه دده څوك معلوم وارث وي.كه قريبي وي اوكه لرې وي.فَهُوَأَوْلَى بِالْمِيرَاثِ مِنَ الْمُقَرِّلَهُ)نو هغه به د ميراث مستحق وي.(په نسبت) د مقرله نه.(وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ البته كه دده څوك وارث نه وي.اسْتَحَقَّ الْمُقَرُّلَهُ مِيرَاثَهُ)نو مقرله به دده د ميراث مستحق وي.

تشريح>عدم صحة الاقراربالنسب عند وجود الوارث المعروف> اوس كه د مقر څوك معلوم النسب وارث وي.كه قريبي وي.لكه اصحاب فروض،او عصبه، اوكه لرې وي.لكه ذوى الارحام، نود مقر ميراث به مقرله ته نه ملاويږي. بلكه دې مشهورالنسب وارث ته به ملاويږي.

دليله> ځكه هركله چه مقر نه د مقرله نسب ثابت نشو.نود مشهور وارث مزاحم (او مقابل) به هم نه وي.

ځكه چې يد رور،اوتره وغيره كيدلو مذكوره اقرار حقيقي وصيت نه دې.بلكه په مرتبه د وصيت دې.د حقيقي وصيت نه كيدلو وضاحت خو په هغه جزئيه سره كيږي.كه يوكس د رور كيدلو اقرار كولو نه پس د بل يوكس دپاره د خپل پوره مال وصيت اوكړو.نو موصى له ته د پوره مال دريمه ملاويږي.كه اول يعنى د روركيدلو اقرار حقيقي وصيت وې.نو مقرله او موصى له به نيم په نيمه دواړه شريك وو.

مثاله> اوپه مرتبه د وصيت كيدلو وضاحت دې جزئيه سره كيږي.كه يوكس پخپل مرض الموت كښې د يوكس په نسبت د رور كيدلو اقرار اوكړو.او مقرله د هغه تصديق اوكړو.ددې نه پس مقر دده د قرابت نه انكاراوكړو.بيا ئې د خپل پوره مال وصيت بل چا دپاره اوكړو.نودا مال به پوره دې موصى له ته ملاويږي .اوكه دده د انكار نه پس ده هيڅ چا دپاره وصيت اونكړو.نو پوره مال به بيت المال كښې داخليږي.ځكه چه د نسب د داسې اقرار نه دده رجوع كول صحيح دى.لكه ځنګه چه د وصيت نه رجوع كول صحيح كيږي.كه مذكوره اقرار د وصيت په مرتبه كښې نه وې.نو دده رجوع كول به نه صحيح كيدله.

د پلار د مرګ نه پس د رور كيدلو په اقرار سره د نسب اود ميراث حكم

وَمَنْ مَاتَ أَبُوهُ اود كوم كس چه پلار مرشو.فَأَقَرَّبِأَخٍ نو هغه د يوكس په نسبت د روركيدلو اقرار اوكړو.لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُ أَخِيهِ منه وَيُشَارِكُهُ فِي الْمِيرَاثِ) نو دده رور كيدلو نسب به د ده نه نه ثابتيږي.

تشريح>عدم صحة الاقراربالاخ> د يوكس پلار مرشو.او ده د يوكس په نسبت دا اقرار اوكړو.چه دا زما خوني دې.نود رور كيدلو نسب به خو نه ثابتيږي.

دليله> ځكه چه دا په غير باندې نسب اچول دى.البته مقرله به مقر سره د پلار په ميراث كښې شريكيږي .امام مالك، امام احمد ﷫ او اكثر اهل علم هم ددې قائل دى.

مذكوره اقرار په دوه خبرو باندې مشتمل دې. ① يو په بل باندې نسب لازمول،او مقر ته په غير باندې ددې اختيار حاصل نه دې.نودا به نه ثابتيږي. ② دويم دميراث په مال كښې اشتراك او مقر ته ددې

اختیار دي.خکه چه دا پخپل ذات باندې اقرار دې.او ده ته پخپل ذات باندې ولایت حاصل دې.نوداً مالی شرکت به حاصلیږی.ددې مثال هم موجود دې.مثلاً یو مشتری پخپل بائع باندې دا اقرار اوکړو.چه ما کوم غلام دده نه اخستي دې.هغه ده آزاد کړو.نو بائع باندې دده دا اقرار مقبول نه دې.ترڅو چه دې د بائع نه د غلام ثمن واپس نشي اخستلې.خود آزدئ په حق کښې دده دا اقرار قبلولې شي.خکه چه په حق آزادئ کښې دده دا اقرار پخپل ذات باندې اقرار دې.ترڅو چه دا غلام به مشتری باندې ازادیږی.نوهم دغه شان د نسب مذکوره اقرار به ، د میراث د اشتراك په باره کښې قبلیږی.

(كِتَابُ الْإِجَارَةِ)

ترجمه﴿ (دا) کتاب د اجارې (په بیان کښې) دې.

تشریح﴿**الربط بما قبله**﴾ د تملیك اعیان بلاعوض (یعنی د هبة) د احکامونه د فراغت نه پس د تملیك منافع بالعوض (یعنی د اجارې) احکام بیانوی.او اول یعنی هبه ئې خکه مقدم کړه.چه په هغې کښې تملیك د اعیان وی.او په دویم یعنی اجاره کښې تملیك د منافعو وی.او اعیان په منافعو باندې مقدم وی.او په اول (هبه) کښې عوض نه وی.او په دویم یعنی اجاره کښې عوض وی.او عدم په وجود باندې مقدم وی.

اقسام الاجارة﴾ د اجاره مختلف انواع دی. ① د اجارې یوه نوع داده.چه په دې کښې منفعت په ذریعه د مودې معلوم وی.لکه مثلاً د اوسیدو دپاره کورونه، او کروندې (زمینداری) دپاره زمکې په اجاره باندې اخستل. ② دویمه نوع داده.چه په دې کښې بیانولو سره منفعت معلومیږی.لکه مثلاً رنګریز د کپړې رنګ کولو یا درزی د کپړې ګنډلو دپاره اجرت باندې اخستل. ③ دریمه نوع داده.چه په دې کښې نفع تعین اواشاره سره معلومیږی.لکه قلی(بار اوړونکې مزدور) په کرایه باندې اخستل.چه هغه دا غله (غنم وغیره)دفلانی مقام پورې اورسوی.په کتاب کښې ئې چه روسته دا وئیلی دی.چه (و المنافع تارة تصير معلومة بالمدة وتارة تصير معلومة بنفسه وتارة تصير معلومة بالتعين و الإشارة)په دې سره هم ددې انواع ثلاثه بیان دې.چه ددې تفصیل روسته نیزدې راروان دې.

دلائل جواز الاجارة﴾ ① په قرآن او حدیث کښې د اجارة د صحت شهادت موجود دې.د حضرت موسی او شعیب علیهما السلام په قصه کښې د الله تعالی ارشاد دې. ﴿قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَىٰ أَن تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ﴾ ، ،فرمائی.زه غواړم.چه په نکاح درکړم تا ته یوه لور،په دې خپلو دوه لونړو کښې، په دې شرط چه ته زما نوکری اوکړې اته کاله،، احادیث او آثار هم په کثرت سره موجود دی.

② حدیث د ابوهریره ﷺ: قال رسول الله ﷺ (أعطوا الأجير أجره قبل أن يجف عرقه)[1] یعنی نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی تاسو مزدور ته د هغه مزدوری د خولې اوچیدو نه وړاندې ورکړئ

د اجارې لغوی او شرعی تعریف

(الْإِجَارَةُ: عَقْدٌ عَلَى الْمَنَافِعِ بِعِوَضٍ)اجاره داسې عقد دې.چه په منافعو باندې په عوض واقع کیږی.

تشریح﴿**تعریف الاجارة**﴾ صاحب د کتاب فرمائی.(الإجارة عقد على المنافع بعوض.....) یعنی اجاره داسې عقد

1) عن ابن عمر ﷺ اخرجه ابن ماجه فی کتاب الأحکام باب أجر الأجراء رقم ۲۴۴۳)_من حدیث ابی هریرة ﷺ اخرجه عبدالرزاق فی البیوع (۳۲۵)_

دي.چه په منافعو باندې په عوض سره واقع کیږي.په دې کښې د منافعو د قید په ذریعه د بیع داعیان نه. او د ،،بعوض،، په ذریعه د عاریت نه احتراز دې.سعدی چلپی وائی.که صاحب د کتاب د عقد په ځاني تملیك ونیلي وو.نو غوره به وو.چه په دې صورت کښې به تعریف نکاح ته نه شاملیدلو.ځکه چه نکاح کښې تملیك نه وی.نکاح خو په عوض سره د منافعو جائزکیدلو نوم دې.لکه څنګه چه علامه زیلعی رحمه الله په شرح د کنز کښې ددې صراحت کړې دې.په خلاف دکتاب والا د تعریف،چه دا نکاح ته هم شامل دې.البته که په قرینه د شهرت سره د عقد نه مراد عقد د تملیك واخستلې شی.

صاحب د نتائج فرمائی.چه د موصوف دا خبره صحیح نه ده.ځکه چه په تملیك المنافع سره هم دا خبره پاتې کیږي.هیڅ فرق نه کیږي.ځکه چه نکاح کښې یقینی طور باندې مالك کیدل دی.استباحت محضه نه وی.(یعنی عارضی ملکیت نه وی) ګنی ددې عوض به نه واجبیدلو.په دې وجه د کتابونو په ټولو متونو او شروحاتو کښې ددې تصریح موجود ده.چه نکاح شرعی د تملیك د منافعو دپاره موضوع شوې ده.او دا خبره هم معلومه ده.چه نکاح د اباحت او احلال په لفظ سره نه منعقد کیږي.ځکه چه دا الفاظ دملك متعه سبب نه جوړیږي. بلکه د کتاب النکاح په شروع کښې علامه زیلعی رحمه الله پخپله هم ددې اعتراف (او اقرار) کړې دې.چه(أن النكاح سبب لملك المتعة ولهذا لاينعقد بلفظ الإباحة....).

عدم جواز الاجارة قیاسا› که د قیاس په رو سره اوکتلې شی.نو اجاره ناجائز معلومیږي.ځکه چه دې کښې معقود علیه منفعت وی.چه د عقد کولو په وخت موجود نه وی.بلکه ددې وجود روسته کیږي.او روسته موجودیدونکې څیز طرف ته د تملیك اضافت نه صحیح کیږي.ځکه چه د کوم څیز وجود نه وی.د هغې عقد کول هم نه صحیح کیږي.هغه خو لیس بشئ وی.اود وجود نه پس د عقد د انعقاد دپاره دمعقود علیه مملکوك کیدل ضروری دی.حالانکه معدوم مملکوك کیدلو سره نه متصف کیږي.اوعقد د وجود زمانې طرف ته هم نشی مضاف کیدلې.ځکه چه معاوضاتو کښې د اضافت احتمال نه وی.

بعض حضراتو د خلاف قیاس کیدلو دا وجه بیان کړې ده.چه د عقد موجب دادې.چه معقودعلیه فی الحال اوسپارلې شی.او په اجاره کښې دا خبره نه وی.خودا وجه ځکه صحیح نه ده.چه د عالمانو په دې باندې اتفاق دې.چه د عرف د تقاضې په وجه تاخیر د تسلیم جائز دې.لکه که یو سړې د خزانې والا ځانې خرڅ کړی.چه په هغې کښې ډیر زیات سامان وی.چه هغه په یوه ورځ کښې نشی منتقل کیدې.نو په ده باندې دټول ښار ځاروی لګیا کول، او په یو وخت کښې منتقل نه واجبیږي.بلکه دومره وخت د عرف د تقاضې په وجه ورکول ضروری وی.چه په دې کښې هغه دا سامان بل ځانې ته منتقل کړی.

د اجاره صحیح کیدلو شرطونه

(وَلَا تَصِحُّ)او اجاره نه صحیح کیږي.حَتّٰى تَكُونَ الْمَنَافِعُ مَعْلُومَةً،تردې چه منافع معلوم وی.وَالْأُجْرَةُ مَعْلُومَةً)او اجرت هم معلوم وی.

تشریح›**شروط صحة الاجارة**› داجارۀ د صحت دپاره د منافعو اود اجرت معلومیدل ضروری دی. د دې نه بغیر اجاره نه صحیح کیږي.

دلائله› ① دلیل (من استاجر اجیرا فلیعلمه أجره) دا حدیث د اجرت معلومیدلو په شرط باندې په طریقه د عبارت دلالت کوی.اود منافع معلومیدلو په شرط باندې په طریقه د دلالت دال دې.ځکه چه عقد اجاره کښې معقود علیه منفعت وی.او اجرت معقود به،او عقودو کښې اصل معقود علیه وی.او معقود به د تابع په مرتبه کښې وی.نو هرکله چه حدیث نه د تابع معلومیدل شرط اوګرځولی شو.نود متبوع معلومیدل به په طریقه اولی شرط وی.دغه شان د منافعو نه خبرول، او د اجرت بیانولو دواړو په شرط باندې د حدیث نه استدلال صحیح شو.

② عقلي دليل دادي.چه په معقود عليه (منافعو) كښې او ددې په بدل (اجرت) كښې جهالت كيدل جګړې پورې رسوي.لكه څنګه چه په عقد بيع كښې، ثمن او مبيع مجهول كيدلو سره جګړې پورې نوبت رسيږي.

(وَمَا جَازَ أَنْ يَكُونَ ثَمَنًا فِي الْبَيْعِ)او كوم څيز چه ثمن كيدې شي.په بيع كښې (جَازَ أَنْ يَكُونَ أُجْرَةً فِي الْإِجَارَةِ)هغه اجرت كيدې شي.په اجاره كښې

تشريح> ما يصلح ثمنا يصلح اجرة> ①كوم څيز چه په عقد بيع كښې ثمن كيدې شي.لكه نقود، مكيل، او موزون. نو هغه په عقد اجاره كښې هم اجرت كيدې شي.

دليله> څكه چه اجرت د نفع قيمت دې.لكه څنګه چه په عقد بيع كښې د مبيع ثمن وي.نو اجرت به د مبيع په ثمن باندې قياس كولې شي.

مالايصلح ثمنا يصلح اجرة> او كوم څيز چه په عقد بيع كښې د ثمن كيدلو لائق نه دې.په اجاره كښې هغه هم اجرت كيدې شي.لكه مثلاً هغه اصلي څيزونه كوم چه د مثلي څيزونو څنې نه دي.مثلاً څاروي او عدديات متفاوته، چه دا په اجاره كښې اجرت كيدې شي.حالانكه په عقد بيع كښې ثمن نشي كيدې.

دليله> څكه چه بيوع كښې دا خبره ثابت شوې ده.چه اموال په درې قسمه وي.[1]يو ثمن محض لكه دراهم،[2] دويم مبيع محض لكه هغه اعيان كوم چه د ذوات الامثال څنې نه دي.[3] دريم هغه كوم چه ددې دواړو په مينځ مينځ كښې دي.لكه مكيلات او موزونات.

نود صاحب كتاب دا وئيل چه (قوله: و ما جاز أن يكون ثمناً في البيع جاز أن يكون أجرة....) په دې سره د غير ثمن نفي نه كيږي.څكه چه اجرت څو مالي عوض دې.نو كوم څيز چه مال وي.او عوض كيدې شي.نو هرداسې څيز اجرت هم كيدې شي.په خلاف د ثمن چه ثمن هغه ته وائي.كوم چه دچا په ذمه واجب وي.(فيختص بما يثبت في الذمة كالنقود)

د منافع معلومولو درې طريقې

(وَالْمَنَافِعُ تَارَةً تَصِيرُ مَعْلُومَةً بِالْمُدَّةِ)او منافع كله د مودې په ذريعه معلوميږي. (كَاسْتِئْجَارِ الدُّورِ لِلسُّكْنَى)لكه په اجرت باندې اخستل.كورونه لپاره د اوسيدلو، (وَالْأَرَضِينَ لِلزِّرَاعَةِ)او زمكې لپاره د زميندارئ. (فَيَصِحُّ الْعَقْدُ عَلَى مُدَّةٍ مَعْلُومَةٍ)نو صحيح كيږي عقد په موده معلومه باندې. (أَيَّ مُدَّةٍ كَانَتْ) كومه موده چې هم وي.

تشريح> د اجارة د صحت لپاره مزدورى او منفعت دواړه معلوميدل ضروري دي.د مزدورئ په معلوم كيدلو كښې خو هيڅ خفاء نشته.البته په منفعت معلوميدلو كښې څه خبره مخفي ده.په دې وجه هغه بيانوي.د منفعت معلوميدلو درې طريقې دي.اول داچه د هغې موده بيان كړې شي.چه مودې بيانولو سره د نفع مقدار معلوميدل يو لازمي خبره ده.په دې شرط چې منفعت متفاوت نه وي.مثلاً د كور په اجاره كښې دا بيانول.چه د دومره مودې پورې د رهائش (او اوسيدلو) لپاره دې.اوكه منفعت متفاوت وي.لكه زمكه ئې د زميندارئ لپاره اجاره باندې واخستله.نو د مودې معلوميدلو سره سره دا هم ضروري ده.چه په دې كښې به د كومې غلې كرونده كوي.هركله چې ئې داخبره بيان كړله.نو اوس كه موده كمه وي.اوكه زياته وي.چه څه هم معين كړې شي.اجاره به صحيح وي.

په ذخيره كتاب كښې دي.كه د اجارې دومره موده ئې معين كړله.چه دغه وخته پورې به په دوي كښې يو هم ژوندې پاتې نشي.نو اجاره به صحيح نه وي.د قاضي ابوعاصم عامري فتوى هم داده.څكه چې د

احکامو په حق کې د غالب حکم د يقين پشان دې.نو اجاره مؤبد شوه.او تابيد مبطل د اجارهٔ وی.خود امام خصاف رحمه الله په نيز جائز ده.ځکه چې اعتبار د لفظ دې.او هغه د وخت تقاضه کوی. پاتې شوه د مودې نه وړاندې په دوی کې د يوکس ژوندی نه پاتې کيدل،نو ددې هيڅ اعتبار نشته.چه مستاجر د خپل ملک کيدلو دعوه اونکړی...هو المختار للفتوی ،، د بلخ مشانخو هم دا اختيار کړې ده.نورو مشانخو د دريو کالو نه زيات هم جائز ګرځولې ده.خو په دې صورت کې به حاکم اړخ ته مرافعه کول وی. چې هغه دا ماته کړی.د فقيه ابوالليث رحمه الله فتوی هم په دې ده.

په نفس عقد سره منافع معلومول

(وَتَارَةً تَصِيرُ مَعْلُومَةً بِالعَمَلِ والتسمية)او منافع کله کله په عمل او په نوم اخستلو سره معلوميږی.كَمَنْ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا عَلَى صَبْغِ ثَوْبٍ)لکه يوکس په اجرت باندې يو سړې ددې لپاره اونيولو چه دده کپړه رنګ کړی.أَوْخِيَاطَتِ ثَوْبٍ)يا ددې د ګنډلو دپاره.أَوِاسْتَأْجَرَ دَابَّةً)يا ئې په کرايه باندې سوارلئ واخستله.لِيَحْمِلَ عَلَيْهَا مِقْدَارًا مَعْلُومًا چې بار کړی په دې باندې يو معلوم مقدار الى موضع معلوم.تريو ځائې معلومه پورې أَوْيَرْكَبَهَا مَسَافَةً مَعْلُومَةً)يا سورشی په دې باندې يو معلوم مسافه پورې.

حل لغة::صبغ: رنګ کول، **خياطة :** ګنډل،

تشريح> د منافعو معلومولو دويمه طريقه هغه عمل بيان کړې شی.دځه لپاره چې اجاره مطلوب ده.لکه دکپړې رنګ کول،او وينځل،يا زرګری ، يا په خاروی سوريدل، يا بوج اوچتول، وغيره.چه په دې سره هم منفعت معلوميږی.په دې شرط چې دا خبرې په داسې طريقه بيان کړې شی.چه روسته جګړه پيدا نشی.مثلاً په رنګ کولو کې کپړه، او ددې رنګ بيانول، چې سور مطلوب دې.اوکه زير پکار دې.دغه شان په ګنډلو کې د ګنډلو قسم بيانول،،و علی هذا القياس،،

دليله> ځکه کله چې ده کپړه،د رنګ کولو رنګ، ددې مقدار، د ګنډلو جنس،کوم شئ به چې بار کوی دهغې مقدار، او جنس اومسافه بيان کړو.نومنفعت معلوم شو. نو عقد به صحيح وی.

وَرُبَّمَا يُقَالُ:اوکله داسې ونيلې شی.الإِجَارَةُ قَدْ تَكُونُ عَقْدًا عَلَى العَمَلِ چې اجاره کله په عمل باندې عقد وی.كَاسْتِئْجَارِ القَصَّارِ وَالخَيَّاطِ،لکه دهوبی يا درزی په اجاره باندې اخستل.وَلَابُدَّ أَنْ يَكُونَ العَمَلُ مَعْلُومًا په دې کې د کار معلوميدل ضروری دی.وَذَلِكَ فِي الأَجِيرِ المُشْتَرَكِ، اودا په اجير مشترك کې کيږی.

تشريح> صاحب د کتاب د اجارهٔ کوم ويش ذکر کړې دې.هغه دريې قسمونه دی.او صاحب د اسرارقاضی ابوزيد ، او صاحب د تحفه وغيره مشانخو دوه قسمونه بيان کړی دی.او داسې ئې ونيلی دی.چه اجاره کله کله په عمل باندې واقع کيږی.لکه دهوبی يا درزی په اجاره باندې اخستل.په دې صورت کې د کار معلوميدل ضروری دی.اودا اجاره په اجير مشترك کې کيږی.او کله کله اجاره په مفعت باندې واقع کيږی.چه دا په اجيرخاص کې کيږی.په دې کې وخت بيانول ضروری دی.

اعتراض> په دې ويش باندې اعتراض کيږی.چه د کتاب الاجاره په پيل کې دا خبره تيره شوې ده.چه عقد اجاره داده.چه د منافعو په عوض کې واقع کيږی.نو ددې ويش عقد علی العمل او عقد علی المنفعت اړخ ته ځنګه صحيح کيدې شی ؟

جواب> دادي.چه ددې ویش عبارت د هیرې په وجه لیکلې شوې دې.او مراد دادې.چه اجاره کله کله د کار په نفع باندې واقع کیږي.او کله پخپله د څیزونو په نفع باندې کیږي.

(وَتَارَةً تَصِيرُ مَعْلُومَةً بِالتَّعْيِينِ وَالْإِشَارَةِ)او کله منفعت معلومیدل ضروري دی.په معین کولو یا اشاره کولو سره. كَمَنْ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا،لکه یوکس یو سړي په اجاره باندې واخستلو. لِيَنْقُلَ هٰذَا الطَّعَامَ إِلَى مَوْضِعٍ مَعْلُومٍ)؛ چي هغه دا غله یو معلوم ځائي پورې یوسی.

تشریح> **قوله**:د منافع معلومولو دریمه طریقه(قوله: بالتعیین والإشارة....) د منافعو معلومولو دریمه طریقه داده.چه ددې تعیین یا دې اړخ ته اشاره اوکړې شی.چه دا شئ فلانی ځائي ته رسول دی.

دلیله> ځکه چي کله اجیر دا شئ اوکتلو.او ځائي ئې هم اوپیژندلو.نو منفعت معلوم شو.نو عقد به هم درست وي.

د کورونو او دوکانونو په کرایه د ورکولو حکم

(وَيَجُوزُ اسْتِئْجَارُ الدُّورِ وَالْحَوَانِيتِ لِلسُّكْنَى جائز دی کورونه او دوکانونه په کرایه باندې اخستل.د اوسیدلو دپاره، وَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ مَا يَعْمَلُ فِيهَا)؛اګرچه بیان نه کی (نکړی)هغه کار کوم به چي په دې کي کوی.

تشریح> د کور او دوکان اجاره صحیح ده.اګرچه هغه کار بیان نکړي.کوم چي په دې کي کولې شي. ځکه چه په دې کې عمل متعارف رهائش او اوسیدل دی.چه دا په اختلاف د عامل سره نه مختلف کیږي.او امر متعارف د مشروط پشان دې.په دې وجه اجاره صحیح ده.

وجه القیاس> خودا استحساناً دی.د قیاس په رو سره جائز نه دی.ځکه چي کور او دوکان کي مختلف کارونه کیدلې شي.نو معقود علیه مجهول شوه.وجه د استحسان داده.

وَلَهُ أَنْ يَعْمَلَ كُلَّ شَيْءٍ)او هغه هرکار کولې شی.(إِلَّا الْحَدَّادَةَ وَالْقَصَّارَةَ وَالطَّحْنَ،مګر هنګری (لوهاری) ، دهوبی توب ، او میچن به نه کوی

تشریح> اوس مستاجر چي کوم کار غواړي کولې شی.(په دې شرط چي په دې سره عمارت او بنیادونو ته نقصان او نه رسیږي.لکه اودس یا غسل کول، خپلې کپړې وینځل، لرګی ماتول، سامان ایخودل وغیره) ځکه چي عقد مطلق دې.البته اهنګر (لوهار) ، دهوبی د رینمو کپړو، او غتبه میچن لګونکي د خلقو غلې اوړه کولو والا به نه اوسوی.

دلیله> ځکه چي دې کارونو سره عمارت کمزورې کیږي.نو عقد مذکور اګرچه مطلق دې.خو د دلالت په طور به ددې کارونو نه علاوه سره مقید وي.

د زمکي په کرایه د اخستلو حکم

(وَيَجُوزُ اسْتِئْجَارُ الْأَرَاضِي لِلزِّرَاعَةِ)او جائز دی زمکي په کرایه باندې اخستل د زمینداری دپاره،

تشریح>جواز استجار الارض للزراعة> زمکې ګروندې لپاره اجاره باندې اخستل جائز دی.

دلیله> ځکه چي زمکې سره په عامه توګه (عام طور) باندې هم دا فائده حاصلولې شی.چه په دې کي کرونده اوکړې شي.او دا فائده پخپله مقصود وي.

(وَلِلْمُسْتَأْجِرِ الشِّرْبُ وَالطَّرِيقُ، وَإِنْ لَمْ يَشْتَرِطْ)اومستاجر لپاره به وي.د اوبو برخه او لاره اګرچه ددې

شرط نې نه وي کړې.

تشريح﴿جواز الشرب والطريق للمستاجر﴾ اوس به مستاجر ته د زمکې اوبه کولو اوبه، او دې ته د ورتللو لاره هم ملاویږي. اګرچه ده په اجاره کې ددې شرط نه وي کړې.

دليله﴿ ځکه چې اجاره خو انتفاع لپاره منعقد کيږي. حالانکه د اوبو برخه او لارې نه بغير نفع حاصلول ممکن نه دي. نودا دواړه شيان به په مطلق عقد کې داخل وي.

خلاف حكم البيع في هذه المسئلة﴾ په خلاف د بيع، چې په دې سره ملك رقبه مقصود وي. في الحال نفع اخستل مقصود نه وي. تردې چې د اسپې د بچي اود جبهٔ زمکې بيع جائز ده. او اجاره جائز نه ده. نو په بيع کې به د حقوقو ذکر کولو نه بغير د اوبو برخه او لاره داخل نه وي.

(وَلَايَصِحُّ الْعَقْدُ او عقد به صحيح نه وي. حَتّٰى يُسَمِّيَ مَا يَزْرَعُ فِيهَا) تردې چې بيان کړی هغه چې د څه کرونده به کوي په دې (زمکه) کې.

تشريح﴿عدم صحة العقد من غير بيان ما يزرع فيها﴾ د زميندارئ په غرض د زمکې عقد اجاره جائزده. خودا جواز هغه وخت دې. کله چې هغه شئ بيان کړي. دکوم چې به دې په دې زمکه کې کرونده کوي.

دليله﴿ ځکه چې د زمکې اجاره کله د زراعت لپاره وي. او کله د عمارت جوړولو، وُنو لګولو، خيمې خښولو وغيره لپاره وي. بيا د کوم شئ کرونده چې کولې شي. هغې کې کمې زياتې کيږي. لکه غنم، اوربشې، جوار، اوريژې، وغيره. چه په دې کې بعض شيان زمکې لپاره نقصان ده وي. او بعض ضررناك نه وي. په دې وجه ددې تعين ضروري دې. چه روسته جګړه پيدا نشي.

(أَوْيَقُوْلَ عَلٰى أَنْ يَزْرَعَ فِيهَا مَا شَاءَ) يا ووايي چې په دې شرط چې کړی به په دې کې چې څه غواړي.

تشريح﴿صورة جواز العقد﴾ البته که هغه دا ونيلي وي. چه د کوم شئ غواړې. کرونده کوه. نو په دې صورت کې چې څه غواړي. زميندارې کولې شي.

دليله﴿ ځکه چې هرکله مالك مستاجر ته اختيار ورکړو. نود هيرې په وجه چې کومه جګړه پيدا کيدې شوه. هغه لرې شوه. د امام مالك او امام شافعي ﷫ مذهب هم دادې. (وعن شريح أنه لايصح حتى يبين ما يزرع).

د عمارت جوړولو يا وُنو لګولو لپاره د زمکې په کرايه باندې د اخستلو حکم.

(وَيَجُوْزُأَنْ يَسْتَأْجِرَالسَّاحَةَ لِيَبْنِيَ فِيهَا جائز ده حويلې (ميداني) زمکه کرايه باندې اخستل، د عمارت جوړولو، أَوْيَغْرِسَ فِيهَا نَخْلًا أَوْشَجَرًا) يا د کجورو ونې يا ميوه دارې وُنې لګولو دپاره،

حل اللغة﴿ ① **ساحه:** چوك، حويلې (ميداني) زمکه ② **بناء:** تعميرکول، آبادول، ③ **يغرس** (ض) **غرسا:** وُنې لګول. **نخل:** د کجورو وُنې،

تشريح﴿جواز استيجار الساحة للبناء﴾ که د عمارت جوړولو يا وُنو لګولو لپاره زمکه په کرايه باندې واخلي. نو صحيح ده.

دليله﴿ ځکه چې دا هم داسې منفعت دې. کوم چې په زمکه کې مقصود وي.

(فَإِذَا انْقَضَتْ مُدَّةُ الْإِجَارَةِ)یا چې کله د اجارې موده تیره شي. (لَزِمَهُ أَنْ يَقْلَعَ الْبِنَاءَ وَالْغَرْسَ)نو ضروري به وي مستاجر لپاره داچه وران کړی عمارت، او اوباسي وني، (وَيُسَلِّمَهَا فَارِغَةً)او حواله کړی خالي زمکه ،

تشریح> د اجارې موده پوره کیدلو نه روسته به مستاجر خپل عمارت ورانه وي.ونې به اوباسي.او خالي زمکه به مالك ته حواله کوي.یعنی هغه به په دې مجبوره کولې شي.اود زمکې مالك به د نقصان ضامن هم نه وي.

دلیله> د عمارت او ونو لپاره هیڅ انتهاء معلوم نه ده.نو په اجاره باقي ساتلو کې د زمکې د مالك ضرر دی.

(إِلَّا أَنْ يَخْتَارَ صَاحِبُ الْأَرْضِ أَنْ يَغْرَمَ لَهُ قِيمَةَ ذَلِكَ مَقْلُوعًا فِي مِلْكِهِ)خودا چې اختیار کړی.د زمکې مالك د ولاړ فصل قیمت ورکول او مالك کیدل، (أَوْ يَرْضَى بِتَرْكِهِ عَلَى حَالِهِ)یا راضي شي ددې پخپل حال باندې په پریښولو. (فَيَكُونَ الْبِنَاءُ لِهَذَا وَالْأَرْضُ لِهَذَا)نو عمارت به دده.او زمکه به دهغه وي.

تشریح> صورة الجواز> اوکه د زمکې مالك د وران عمارت، او اوبکلو شوو ونو قیمت ور کولو باندې راضي شي.نودا هم کیدې شي.نود قیمت ور کولو نه روسته به دې د عمارت او ونو مالك وي.اوکه مالك عمارت او ونې پخپله زمکه باندې پریږدی.نودا هم جائز ده.په دې صورت کې به زمکه د مالك وي.او عمارت او ونې به د مستاجر وي.

دلیله> ځکه چې حق خو د زمکې دمالك دې. نو هغه ته اختیار دې.چه خپل حق حاصل نکړی.

د سوریدلو او بوج راوړلو لپاره د خاروی په کرایه باندې د اخستلو حکم

(وَيَجُوزُ اسْتِئْجَارُ الدَّوَابِّ لِلرُّكُوبِ وَالْحَمْلِ)او جائز دی خاروی په کرایه باندې اخستل، د سوریدلو او بوج راوړلو دپاره،

حل اللغة> دواب: د دابة جمع ده، خاروی ، یرکب ارکابا: سوه رول، رکب (ض) رکوبا: سوریدل، لبس: اغوستل، عطب (س) عطبا: هلاکیدل، یتعداه تعدیا: تجاوز کول، عقار: جائیداد.

تشریح> إستیجار الدواب للرکوب> حیوان (خاروې) د سوریدلو او بار اوړلو لپاره اجاره باندې اخستل جائز دی.

دلیله> ځکه چې دا معلوم او مقصودی منفعت دې.

(فَإِنْ أَطْلَقَ الرُّكُوبَ)نو که سوریدل ئې مطلق اوساتل. (جَازَ لَهُ أَنْ يُرْكِبَهَا مَنْ شَاءَ)نو جائز دی دده لپاره دا چې سواره کړی چې څوك غواړی. (وَكَذَلِكَ إِذَا اسْتَأْجَرَ ثَوْبًا لِلُّبْسِ)دغه شان که کپړه ئې اجرت باندې اغوستلو لپاره واخستله. (وَأَطْلَقَ)او معین ئې نه کړه.

تشریح> حکم الرکوب عند الاطلاق> اوس که عقد مطلق وی.نو مستاجر چې څوك غواړی.سورولې شي.

دلیله> اطلاق باندې عمل کولو دپاره ځکه چې په عقد کښې مطلق رکوب ذکر شوې دې نو په دې کښې هر صورت راغلو.

(فَإِنْ قَالَ: له او که وې ونیل هغه (د خاروی مالك) ته. عَلَى أَنْ يَرْكَبَهَا فُلَانٌ چې په دې شرط چې فلاني به سوريږي. أَوْيَلْبَسَ الثَّوْبَ فُلَانٌ يا به كپړه فلاني سرې اغوندي. فَأَرْكَبَهَا غَيْرَهُ بيا نې بل څوك سواره كړل. أَوْأَلْبَسَهُ غَيْرَهُ يا نې كپړه بل چاته واغوستله. كَانَ ضَامِنًا) نو ضامن به وی. إن عَطِبَ الدابة كه هلاكه شوه سورلی؛ كپړه ضائع شوه. أوتلف الثوب اوكه خرابې شوې جامې وَكَذَلِكَ كُلُّ مَا يَخْتَلِفُ بِإِخْتِلَافِ الْمُسْتَعْمِلِ او هم داسې دی هرهغه شئ كوم چې مختلف كيږي. د استعمالونكي په اختلاف سره.

تشريح> حكم خلاف ما عينه في العقد> كه يو كس د چا نه سورلی په كرايه واخستله چې په دې باندې به فلاني متعين كس سوروم او يا يې ترې جامې په كرايه واخستلې چې دا به فلاني معين كس اغوندي. د دې نه پس هغه د معين كس نه سوا بل څوك په هغې باندې سور كړل يا يې هغه جامه د معين كس نه سوا بل چاته واغوستله او سورلی هلاكه شو يا جامې اوشليدې نو په دې دواړو صورتونو كښې به مستاجر ضامن او تاواني وی

دليله> ځكه چې خلق متفاوت وی. په سوريدلو او اغوستلو كې. نو تعيين صحيح شواو مستاجر لپاره ددې نه تجاوز كول جائز نشو.

فَأَمَّا الْعَقَارُ وَمَالَا يَخْتَلِفُ بِإِخْتِلَافِ الْمُسْتَعْمِلِ باتې شو جائيداد او هغه شئ كوم چې د استعمالونكي په اختلاف سره نه مختلف كيږي. إِذَا شَرَطَ سُكْنَى وَاحِدٍ نو كه په دې كې نې د چا اوسيدل شرط كړو. فَلَهُ أَنْ يُسْكِنَ غَيْرَهُ؛ نو دې بل څوك اوسولې شي

تشريح> حكم ما لا يختلف باختلاف المستعل> خو كه هغه پخپله سور شو. يا هغه بل څوك سواره كړل. نو ددې نه روسته بل څوك نشي سورولې.

دليله> ځكه چې اصل اطلاق سره هم دا مراد متعين شو. او په سوريدلوكې چونكه د خلقو حالات متفاوت كيږي. نو ګوياهغه په سوريدلو كې دا سرې صراحت سره بيان كړې وو. هم دا حكم د كپړې د اجارې دې.

د بوج نوعيت او مقدار ياتولو نه روسته د بل قسم بوج بار كولو حكم

(وَإِنْ سَمَّى نَوْعًا وَقَدْرًا مَعْلُومًا يَحْمِلُهُ عَلَى الدَّابَّةِ كه بيان كړی نوع او معلوم مقدار كوم چې په خاروی باندې بار كوی. مِثْلَ أَنْ يَقُولَ خَمْسَةُ أَقْفِزَةٍ حِنْطَةٍ مثلاً وې ونيل. چه د غنمو پنځه قفيزه. فَلَهُ أَنْ يَحْمِلَ مَا هُوَ مِثْلُ الْحِنْطَةِ فِي الضَّرَرِ أَوْ أَقَلَّ نو هغه بار كولې شی. داسې شئ چې هغه د غنمو پشان وی په ضرر كې، يا ددې نه كم وی. كَالشَّعِيرِ وَالسِّمْسِمِ) لكه اوربشې او كونځلې.

تشريح> جواز حمل ما يساوى في الوزن> يو سړی يو حيوان (خاروې) په كرايه باندې واخستلو. او په دې كې چې كوم بوج بار كوی. د هغې نوع او مقدار نې بيان كړله. مثلاً دا چې دوه منه غنم به بار كوی. نو هغه به دې باندې د غنمو پشان بل څه شئ مثلاً دوه منه اوربشې هم بار كولې شی. دغه شان كوم شئ چې ددې نه سپك وی. لكه كونځلې وغيره، هغه هم دوه منه بار كولې شی.

دليله> ځكه چې موجې مستاجر ته د څومره بوج اوړلو اجازت كړې دې هغه هومره بوج چې پرې مستاجر بار كړی نو دا د اجازت لاندې داخل دی. ځكه چې څه تفاوت او فرق په كښې نشته اوكه د

هغې نه کم بوج یې پرې بار کړی وی نو بیا خو د موجر هډو څه اعتراض نشی پاتې کیدې بلکه هغه به په دې زیات خوشحاله وی چې ما سر یې د څومره بوج اوړلو خبره کړې ده د هغې نه کم بوج پرې اوړی

(وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْمِلَ مَا هُوَ أَضَرُّ مِنَ الْحِنْطَةِ او ده ته دا اختیار نشته.چه بار کړی داسې شئ کوم چې د غنمو نه زیات ضررناك وی. كَالْمِلْحِ وَالْحَدِيدِ والرصاص لکه مالګه او اوسپنه، او تانبه

تشريح > عدم جواز حمل ما یثقل > خو کوم شئ چې د غنمو نه زیات نقصان ده وی.هغه نشی بار کولې.لکه اوسپنه او مالګه وغیره.

دليله > ځکه چې موجر په دې سره راضی نه دې.چې کومه خبره د هغه سره د بوج اوړلو شوې ده دهغې نه زیات بوج دهغه په سورلئ باندې بار کړې شی.

(وَإِنْ اسْتَأْجَرَهَا که حیوان (خاروې) ددې لپاره په کرایه باندې واخستلو. لِيَحْمِلَ عَلَيْهَا قُطْنًا سَمَّاهُ چې په دې به مالوچ بار کوی.چه ددې وزن نې بیان کړو. فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْمِلَ مِثْلَ وَزْنِهِ حَدِيدًا) انو هغه ته دا اختیار نشته.چه ددې په وزن اوسپنه بار کړی.

تشريح > عدم جواز حمل الحدید مکان القطن > که مستاجر د موجر سره خبره دا کړی وی چې زه به د کرایه په دې سورلئ باندې مالوچ بار کوم نو د مستاجر دپاره جائز نه ده چې هغه د مالوچو په ځائې د مالوچو د وزن برابر په هغې باندې اوسپنه بار کړی

دليله > ځکه چې دیر ځله اوسپنه زیاته ضررناکه وی.هغه داسې چې اوسپنه په یو ځائې باندې راجمع شوی وی او مالوچ په ټوله شاه باندې خواره وی بله دا چې مالوچو باندې د هغې د نرموالی د وجې شاه نه خوږیږی او په سپنه د هغې د سختوالی د وجې شاه خوږیږی نو که دا جائز نه ده چې د مالوچو په ځائې پرې اوسپنه بار کړی اوکه بار یې کړه او خاروی ته څه نقصان اورسیدو مستاجر نه به تاوان اخستلې شی

(وَإِنْ اسْتَأْجَرَهَا لِيَرْكَبَهَا که حیوان (خاروې) نې د سوریدلو لپاره په کرایه باندې نې واخستلو. فَأَرْدَفَ مَعَهُ رَجُلًا اود خان شاته نې بل څوك سواره کړل. فَعَطِبَتْ او هغه هلاك شو. ضَمِنَ نِصْفَ قِيمَتِهَا نو ددې د نصف قیمت به ضامن وی. إِنْ كَانَتِ الدَّابَّةُ يُطِيقُهُمَا که چرته خاروی د دې دواړو د اوړلو طاقت لرلو وَلَا يُعْتَبَرُ بِالثِّقَلِ) اود بوج اعتبار به نه کیږی.

تشريح > ارکاب غيره معه > د متن نه صورت د مسئلې واضح دې څه مشکل نه دې

دلايله > ① ځکه چې کله کله د سپك سوریدونکی نا پوهتیا حیوان (څاروي) خرابه وی.او کله کله د دروند سړی د هوښیارتیا د وجې سوریدل په دې باندې آسان وی. ② اوبله د دې وجې هم چې سړې وزنی شئ نه دې.نو دده وزن پیژندل ناممکن دی. نود سوارلو شمیر معتبر شو.

(وَإِنْ اسْتَأْجَرَهَا لِيَحْمِلَ عَلَيْهَا مِقْدَارًا مِنَ الْحِنْطَةِ که په کرایه نې واخستلو د غنمو د یو مقدار بار کولو دپاره. فَحَمَلَ عَلَيْهَا أَكْثَرَ مِنْهُ بیا ددې نه زیات بار کړو. فَعَطِبَتْ او هغه هلاك شو. ضَمِنَ مَا زَادَ مِنَ الثِّقَلِ) انود زیاتی بوج په اندازه به ضامن وی

تشريح > حمل ما زاد من الوزن > صورت د مسئلې دا دې که موجر مستاجر ته په اته سوه روپئ کرایه باندې څاروې ورکړو چې ته به په دې باندې مثلاً یو من غنم بار کوې او هغه پرې یو نیم من غنم بار

کړلو او خاروي هلاك شونو هغه مستاجر به د نيم من د زياتوالي په مقدار تاواني کولې شي کومې چې خلور سوه روپۍ دي

دليله خکه چې هغه په داسې زياتي بوج سره هلاك شو.د کوم چې ده ته اجازت نه وو شوې يعنې نيم من وزن او په هغه بوج سره هم د کوم چې ده ته اجازت شوې دې چې يو من غنم دي نو دا هلاکت به په دواړو تقسيمولې شي او د زياتي وزن د حصې مطابق به مستاجر تاواني کولې شي چې په مذکوره صورت کښې خلور سوه روپۍ دي

د کرايۍ خاروی د هلاکيدلو مسئله

(وَإِنْ كَبَحَ الدَّابَّةَ بِلِجَامِهَا که رائينبکلو حيوان (خاروي) ددي د واګو نه.أَوْضَرَبَهَا يا ئې دا اووهلو.فَعَطِبَتْ او هغه هلاك شو.ضَمِنَ عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ(¹) نو ضامن به وی.د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز.

تشريح> هلاك الدابة بالكبح والضرب که د مستاجر په وهلو يا په واګو راښکلو سره سوارلۍ هلاکه شوه.نود امام صاحب رحمه الله د مسلك مطابق مستاجر باندې د کل قيمت تاوان راځي.

دليله دليل دادې.چه د مالك د اړخه اجازت د سلامتيا شرط سره مقيد دې.او ده د هغې خلاف کړې دی.خکه چې د داسې وهلو او واګو راښکلو نه بغير چلول ممکن وو.وهل او واګې راښکل خو د تيز تللو لپاره وی.نو په دې کې اجازت د سلامتيا شرط سره مقيد دې.

المقيس عليه لکه څنګه چې په عامه لاره کې بوتلل جائز دی.په دې شرط چې سلامتيا سره وی.تردې که د چا نقصان اوکړی.نو ضامن به وی.

وَقَالَ:ابويوسف ومحمد صاحبين رحمهما الله فرمانی.لَايَضْمَنُ؛ چې ضامن به نه وی.

تشريح> مذهب الصاحبين صاحبين او آئمه ثلاثه رحمهم الله فرمانی.که ده داسې اووهلو.يا ئې داسې واګې راښکلې.کوم چې د دستور او عرف خلاف دی.نو تاوان به لازم وی.ګنې لازم به نه وی.

دليلهما خکه چې کوم کار متعارف وی.هغه د مطلق عقد لاندې داخل وی.نودا فعل دده په اجازت سره اوموندلې شو.نو ضامن به نه وی.

المختارللفتوی په در مختار کې دی.چه فتوی د صاحبينو رحمهما الله په قول ده.او په غاية البيان کې د تتمه په حواله سره منقول دی.چه امام ابوحنيفه رحمه الله هم دې اړخ ته رجوع کړې وه.

د اجير اقسام

(وَالأُجَرَاءُعَلَى ضَرْبَيْنِ:اجير په دوه قسمه وی.أَجِيرٌمُشْتَرَكٌ،اجير مشترك وَأَجِيرٌخَاصٌ.او اجير خاص.فَالْمُشْتَرَكُ مَنْ لَايَسْتَحِقُّ الأُجْرَةَ نو اجير مشترك هغه دې.چه هغه د اجرت نه مستحق کيږی.حَتَّى يَعْمَلَ كَالصَّبَّاغِ وَالْقَصَّارِ)تردې چې کار اوکړی.لکه د کپړې رنګ کونکې او دهوبی ،

تشريح> قسمي الاجير ① اجير په دوه قسمه وی.يو اجير مشترك، او بل اجير خاص.اجير مشترك هغه دې.چه د عمل نه روسته د اجرت مستحق کيږی.که د ډيرو کسانو کار کوی.لکه درزی ، کپړه رنګ کونکې،او دهوبی وغيره.يا د يو کس کار کوی.د تعين د وخت نه بغير،يا په تعين د وخت سره.خود عمل د تخصيص نه بغير.دا مستاجر چونکه د عامو خلقو کار کوی.په دې وجه ده ته اجير مشترك

¹) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ملتقى الأبحر (٥٢٦\٣) وردالمحتار(٢٧\٥) ومجمع الأنهر (٥٢٦\٣) والعناية (٢٩\٨)ونتائج الأفكار(٣٠\٨) نقلاً عن القول الراجح (٢٢٨\٢)

وائی.

② د اجیرخاص دوئم نوم اجیر واحد دې.دا هغه کس ته وائی.چه هغه د یو معین وخته پورې صرف د یو مستاجر کار کوی.دا خپل ځان د عقد په موده کې پیش کولو سره د اجرت مستحق کیږی.که عمل اوکړی.او که اونکړی.د دواړو احکام روسته راروان دی.

د اجیر مشترك احکام

(وَالْمَتَاعُ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ إِنْ هَلَكَ او سامان امانت وی.دده سره، که هلاك شی.لَمْ يَضْمَنْ شَيْئًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ(¹)نو ضامن به نه وی.د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز

تشریح﴿المتاع امانة في يد الاجير المشترك﴾ اجیر مشترك سره چې کوم مال او سامان وی.که هغه دده د اختیار نه بغیر هلاك شی.نود امام صاحب، په نیز به دې ضامن نه وی. دا د امام زفر او امام حسن مذهب هم دې

دلیله﴿ د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه اجیرمشترك سره شئ امانت وو.او په امانت کې ضمان نه وی. (يؤيده ما رواه الدار قطنی لا ضمان علی مؤتمن) وجه داده.چه ضمان یا خو په قصد سره د هلاکیدلو په وجه واجبیږی.یا د عقد په وجه واجبیږی.او دلته په دې دواړو خبرو کې یوه هم نه ده موجود شوې.تعدی (قصدا) خو ځکه نشته.چه اجیر ته د مستاجر په اجاره سره قبضه حاصل شوې وه.اود عقد په وجه ضمان ځکه نشی کیدې.چه عقد واردیدل عمل باندې دی.په مال عین باندې نه دی.نو مال عین مضمون بالعقد نشی کیدې.هم دا وجه ده.که دا شئ په داسې سبب سره هلاك شی.چه هغې نه بچکیدل ممکن نه دی.نو اجیر بالاتفاق نه ضامن کیږی.که مذکوره مال دده سره ضمانت کې وو.نو دې به ضرور ضامن کیدلو.

وقالا يَضْمَنُهُ

تشریح﴿مذهب الصاحبين﴾ د صاحبینو رحمهما الله او امام مالك رحمه الله په نیز او په یو قول کې د امام شافعی رحمه الله په نیز به ضامن وی.په هدایه کښې یې د دوی د مذهب مزید وضاحت داسې کړې دې البته که دا شئ په یو داسې سبب سره هلاك شی.چه ددې نه بچکیدل ممکن نه وی.لکه دده پخپل مرګ مرکیدل.یا اور لګیدل، یا د قاتل دښمن چور کول او بربادول وغیره.

دلائلهما﴿ ① دلیل دادې.چه حضرت عمر او حضرت علی رضی الله عنهما دواړو به صائغ او صباغ (یعنی زرګر،او کپړه رنګ کونکې) نه ضمان اخستلو.لکه چې حافظ بیهقی رحمه الله په طریق د امام شافعی رحمه الله د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت کړې دې. (أنه كان يضمن الصباغ والصائغ وقال لا يصلح للناس إلا ذالك).(²)

② دا د صاحبینو رحمهما الله عقلی دلیل دې.چه د اجیر په ذمه ساتنه کول واجب دی.ځکه چې هغه د ساتنه نه بغیر کار نشی کولې.ګویا چې ساتنه هم معقود علیه دې.او عقد معاوضه د معقود علیه د سلامتیا تقاضه کوی.نو کله چې مال عین په داسې سبب سره ضائع شی.چه د هغې نه بچکیدل ممکن وی.لکه

¹) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (٢٦\٣) ومجمع الأنهر(٥٤٥\٣) ورد المختار(٤٥\٥) نقلاً عن القول الراجح (٢٣٤\٢)

١) أما رواية علي رضي الله عنه فأخرجه البيهقي في السنن الكبرى (٢٠٢\٦) رقم ١١٦٦٦)وأما رواية عمر رضي الله عنه فأخرجه البخاري في الإجارة باب ١٢)_

غلا او غصب وغيره.نودا به د اجير د اړخه کمي او بې پرواهي وي.نو ضامن به وي.البته که په داسې سبب سره هلاك وي.چه د هغې نه بچکيدل ناممکن وي.مثلاً ګډ به (شپونکي) سره وزه پخپل مرګ مړه شود.يا په عامه توګه (عام طور) باندې اور اولګيدلو.يا ډاکه پريوتله.نو په دې صورت کې به ضامن نه وي.ځکه چې اوس د اجير د اړخه هيڅ بې غوري (او بې پرواهي) نشته.

الجواب عنه> ددې جواب دا دې.چه د ساتنه واجبيدل تبعاً دی.قصداً نه دی.ځکه چې د عقد وارديدل د اجير مشترك په عمل باندې دی. ساتنه معقود عليه نه دې.نو ساتنه اصلي مقصود نه دې.بلکه هغه چونکه د عمل قانمولو وسيله ده.په دې وجه تبعاً مقصود ده.په دې وجه د ساتنه په مقابله کې هيڅ اجرت نه وي.په خلاف د هغه سړي چې هغه ته وديعت اجرت باندې ورکړې شوې وی.چه هغه باندې ساتنه قصداً واجب دې.ترڅې چې ددې په مقابله کې اجرت وي.

خلاصه د بحث> د اجير مشترك په ضامن کيدلو کې د صحابه کراموؓ اختلاف دې.د بعضو په نيز ضامن کيږي.اود بعضو په نيز نه ضامن کيږي.بلکه داسې هم ده.چه د يو سړي نه مختلف روايات رانقل دی.لکه دحضرت علی ؓ نه چې څنګه د اجير مشترك ضامن کيدلو روايت دې.هم ددوی نه عدم ضمان هم رانقل دې.په دې وجه بعضو متاخرينو فقهاؤ دا فتوی ورکړې ده.چه اجير او مستاجر دواړه چې په کوم مقدار باندې غواړي.خپل مينځ کې دې صلح اوکړي.فقيه ابوالليث رحمه الله ذکر کړې دی.چه فتوی د ابو حنيفه رحمه الله په قول ده.تاج الشريعه، شيخ مرغيناني او قاضي خان رحمهم الله به هم په دې فتوی ورکوله.خو علامه زيلعي رحمه الله وغيره فرمائيلي دی.چه نن سبا فتوی د صاحبينو رحمهما الله په قول ده.ځکه چې د خلقو حالات بدل شوي دی.او د مالونو ساتنه هم په دې سره کيږي.چه د اجير نه ضمان واخستلې شی.د ائمه ثلاثه رحمهم الله قول هم دادې.

د اجير مشترك په عمل سره د هلاك شوي څيز د ضمان حکم

(وَمَا تَلِفَ بِعَمَلِهِ)او کوم چې ضائع شی.د اجير په عمل سره.كَتَخْرِيقِ الثَّوْبِ مِنْ دَقِّهِ)لکه د کپړې شليدل (د هوبي) په رابرولو (يا وهلو) سره، وَزَلَقِ الْحَمَّالِ د قلي (بار اوړونکي) خونيدل،وَانْقِطَاعِ الْحَبْلِ الَّذِي يَشُدُّ بِهِ الْمُكَارِي الْحِمْلَ د هغه رسۍ شليدل په کوم کې چې کرايه والا بوج تړي.وَغَرَقِ السَّفِينَةِ مِنْ مَدِّهَا مَضْمُونٌ). او د کشتۍ ډوبيدل ، دده په راخکلو سره.ددې ټولو څيزو به تاوان وي.

حل اللغة:تلف(س) تلفاً: بربادېدل، ضائع کيدل. **تخريق:** شلول **دق:** رابرول، وهل. **زلق (س):** خونيدل. **حمال:** قلي ، بوج اوچتونکي.**حبل:** رسۍ. **يشد شداً:** ترل.**مكاري:** خاروی په کرايه باندې ورکونکې، **حمل:**بوج، **سفينة:** کشتۍ.**مد:** راخکل.

تشريح> حكم المتلف بعمل الاجير> کوم شئ چې د اجير مشترك په عمل سره ضائع شی.هغه به ددې ضامن وی.ل که د دهوبي په رابرولو سره کپړه او شليږي.يا د مزدور په خونيدلو ، يا په کومه رسۍ چې بوج ترلې شوې وو.د هغې په شليدلو سره مال ضائع شی.يا د کشتی بان (مانړګي) په غلطه طريقه کشتۍ راخکلو سره کشتۍ ډوبه شی.او مال غرق شی.نو په دې ټولو صورتونو کې به اجير مشترك ضامن وی.امام مالك، امام احمد ، او ابن ابی ليلی رحمهم الله هم ددې قائل دی.اودا د حضرت عمر،حضرت عبيدالله بن عتبه رضی الله عنهما ، اود قاضی شريح، حسن، او حکم رحمهم الله نه هم نقل دی. (۱)

(۱) **مذهب الشافعي:**- د امام زفر او امام شافعي رحمهما الله په نيز به ضامن نه وی.دا د حضرت عطاء او طاؤس رحمهما الله

دليله دليل دادې چه اجازت کې هغه عمل داخليږي. کوم چې عقد کې داخل وي. او هغه عمل صالح دې مفسد عمل نه دې. ځکه چې عين شئ کې دده د فعل اثر کوم چې په حقيقت کې معقود عليه دې. هغه د عمل صالح په ذريعه حاصليږي. مثلاً کپړ: کې د دهوبي يا رنګ يا د بوټو اثر به هغه وخت پيدا کيږي. کله چې کار په ټيک طريقه وي. او هم دا اثر په حقيقت کې معقود عليه دې. تردې که دا اثر د اجير نه د علاوه په فعل سره حاصل وي. مثلاً درزي کپړه په بل چا او ګنډله. يا رنګ کونکي کپړه په بل چا رنګ کړله. نو اجرت واجبيږي. (په دې شرط چې پخپله د کار کولو شرط نه وي لګولې شوې). معلومه شوه چه خرابونکي کار په اجازت کې داخل نه دې.

(إِلَّا أَنَّهُ لَا يُضَمَّنُ بِهِ بَنِي آدَمَ خو هغه سړې به ضامن نه وي. فَمَنْ غَرِقَ فِي السَّفِينَةِ کوم چې کشتۍ کې غرق شي. أَوْ سَقَطَ مِنَ الدَّابَّةِ يا د کرايۍ سوارلۍ نه راپريوځي. (او مړشي) لَمْ يَضْمَنْ نو نه به ضامن کيږي

تشريح> صورة استثنائية> دا د مخکني قول (وما تلف بعمله ..... مضمون عليه) نه استثناء ده. مطلب دادې. که د اجير مشترك په فعل سره څه هلاك شي. نو هغه به ضامن وي. خو صرف د مال به ضامن وي. د انسان ضامن به نه وي. نو که کشتي بان (مانړکي) بې طريقې کشتۍ راښکله. او په دې کې څوك غرق شو. يا د کرايۍ سوارلۍ نه راپريوتلو. او مړ شو. نو اجير باندې به دده د نفس تاوان نه وي.

دليله> ځکه چې د نفس تاوان د عقد په وجه نه واجبيږي. بلکه د قتلولو يا زخمي کولو جرم سره واجبيږي. په دې وجه دا تاوان د قاتل عاقله (مددګار خاندان) باندې راځي. او کوم تاوان چې د عقد په وجه واجب وي. هغه عاقله نه برداشت کوي.

القول المرجوح> بعض حضرات فرمائي. دا د هغه کس په باره کې دې. څوك چې سوارلۍ باندې پخپله سور شي. او د سوارلۍ په شا باندې بنه مضبوط کيني. که ډير ورکوټي ماشوم وي. چه هغه پخپله نشي کيناستلې. نود هغه حکم د سامان پشان دې. خو صحيح داده. چه د لوئي او د وړوکي هيڅ فرق نشته. په هرصورت کې به اجير د انسان ضامن نه وي. ابن سماعه د امام ابويوسف رحمه الله نه هم داسې روايت کړې دې.

د ډاکټر دعلاج په وجه د بيمار يا د څاروي د ضمان حکم

(وَإِذَا فَصَدَ الْفَصَّادُ د زخمونو علاج کونکي (ډاکټر) رګ کلاؤ کړو. أَوْ بَزَغَ الْبَزَّاغُ يا د څارو معالج (ډاکټر) (څاروي ته) داغ اولګولو. وَلَمْ يَتَجَاوَزِ الْمَوْضِعَ الْمُعْتَادَ او د خپل زخمي (معتاد) ځائي نه زيات نشو. فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمَا فِيمَا عَطِبَ مِنْ ذَٰلِكَ نو په ده باندې تاوان نشته. د هغې کوم چې په دې سره هلاك شي. وَإِنْ تَجَاوَزَهُ ضَمِنَ او که تجاوز يې اوکړو نو تاواني کيږي به

تشريح> حکم عطب الحيوان بعلاج المعالج> يو جراح (د زخمونو علاج کونکي) د يو کس رګ کلاؤ کړو. ياد څارو علاج کونکي د څاروي په رګ کې داغ اولګوله. او کوم ځائي چې داغ لګولې شي. د هغې نه زيات نشو. نو ددې په وجه چې کوم هلاکت وغيره راپيښ شي. د هغې به ضامن نه وي.

دليله> د فصاد او بزاغ (د زخم علاج کونکي او څارو ته د علاج لپاره د داغ لګونکي) په ذکر شوی

نه هم نقل دی.

عمل سره د نه ضامن کیدلو وجه داده.چه زخم د زیاتیدلو نه بچ کول دده د امکان (او طاقت) نه بهر دی.ځکه چې دا د طبیعتونوپه قوت او کمزورئ باندې مبنی دی.بعض طبیعتونه په تکلیف او سختئ برداشت کولو کې قوی او مضبوط وی.او بعض کمزوری وی.نود صحیح کار قید لګول ممکن نه دی.

فائده﴾ دلته یوه عجیبه مسئله ده.او هغه دا که ختنه کونکی نائی حشفه کټ کړله.او مختون (سنت کړې شوې) ښه شو.نو په نائی باندې د پوره نفس دیت واجبیږی.لکه څنګه چې په ژبې پرې کولو کې دی. او که هغه مړشو.نو نصف دیت به واجب وی.شمس الائمه سرخسی رحمه الله پخپل مبسوط کې د امام محمد رحمه الله د نوادر په حواله ددې دا وجه ذکر کړې ده.چه کله هغه ددې نه ښه شو.نو نائی باندې به د حشفة تاوان لازم وی.او حشفه یو داسې مقصود اندام دې.چه د بدن په اندامونو کې ددې هیڅ بدل نشته.نو ددې د عوض اندازه به نفس سره کولې شی.لکه څنګه چې ژبه کټ کولو کې کیږی.او کله چې هغه ددې نه مړ شو.نود نفس هلاکیدل په دوه فعلونو (او حرکتونو) سره موجود شو.چه په دې کې یو کې دده اجازت دې.یعنی څرمن کټ کول.او دوئم فعل مضمون دې.یعنی حشفه پریکول. (فعلیه نصف بدل النفس كذالك)(بنایه)

د اجیر خاص احکام

(وَالْأَجِيرُ الْخَاصُّ الَّذِي يَسْتَحِقُّ الْأُجْرَةَ)او اجیر خاص هغه دې.چه د اجرت مستحق کیږی.(بِتَسْلِيمِ نَفْسِهِ فِي الْمُدَّةِ وَإِنْ لَمْ يَعْمَلْ)خپل ځان (د اجارې) په موده کې حاضرولو سره.اګر چې اوس نې کار نه وی کړې.(كَمَنْ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا شَهْرًا لِلْخِدْمَةِ أَوْ لِرَعْيِ الْغَنَمِ)لکه (مثلاً) په مزدورئ نې واخستلو.یوکس د یومیاشت خدمت دپاره.یا د چیلو څرولو دپاره.

تشریح﴾**الاجیر الخاص**﴾ دوئم قسم اجیر خاص دې.چه دې پخپله خپل ځان د عقد په موده کې پیش کولو سره د اجرت مستحق کیږی.که دده نه مستاجر کار اخستې وی.او که نه وی.لکه هغه سړې چې د یو میاشت پورې نې د خدمت دپاره،یا د چیلو څرولو لپاره نوکر ساتلې وی.

وجه التسمیة وعلة الاجر:اجیر خاص ته اجیر وحد هم وائی.ځکه چې دا د بل کس کار نشی کولې.ځکه چې په مقرره موده کې د ننه دده پوره منافع هم ددې یو مستاجر مستحق شو.او پوره اجرت هم ددې منافعو په مقابله کې دې.په دې وجه ته د اجرت استحقاق وی.اګرچه کار مات کړې شی.په خلاف د اجیر مشترك.که د مستاجر د قبضه کولو نه وړاندې کار مات کړې شو.نو هغه د اجرت نه مستحق کیږی.لکه د امام محمد رحمه الله نه نقل دی.که درزی د یو کس کپړه په یو درهم اجرت باندې اوګنډله.بیا د مالك قبضه کیدلو نه وړاندې یوکس ګنډل وران کړل.نو درزی به د اجرت مستحق نه وی.او په یو خاص نوکر (اجیرخاص) باندې نې اوګنډله.بیا مالك یا بل چا ګنډل خراب کړل.نو نوکر به د اجرت مستحق وی.

(وَلَا ضَمَانَ عَلَى الْأَجِيرِ الْخَاصِّ فِيمَا تَلِفَ فِي يَدِهِ)او ضمان نه وی.اجیر خاص باندې، دهغې کوم چې هلاك شی دده سره.(وَلَا فِي مَا تَلِفَ مِنْ عَمَلِهِ)او نه د هغې کوم چې هلاك شی.دده په عمل سره. (إِلَّا أَنْ يَتَعَدَّى فَيَضْمَنُ) مګر دا چې دې تعدی اوکړی یعنی قصدا هغه څیز هلاك کړی نو په دې صورت کښې به اجیر ضامن کیږی

تشریح﴾**حکم الاجیر الخاص**﴾ د اجیرخاص حکم دادې.که شئ دده په قبضه کې هلاك شی.مثلاً دده نه غلا

شي.یا ورك شي.یا ني څوك په زبردستۍ واخلي.یا دده په عمل (او حرکت) سره ضائع شي.مثلاً بیلچه یا پهاوړا سځکوره ماته شوه.یا د دهوبي نه کپړه اوشلیدله.یا غوښه په پخولو کي خرابه شوه.ووړۍ اوسوزیدله.نو په دوارو صورتونو کي به هغه ضامن نه وی.امام مالك او امام احمد رحمهما الله هم ددې قائل دی.(۱)

وجه عدم الضمان بالهلاك في قبضة الاجيرالخاص که د اجیر خاص په قبضه کي مال عین هلاك شي.نود نه ضامن کیدلو وجه داده.چه مال دده په قبضه کي امانت دې.ځکه چې دده د مستاجر په اجازت سره په دې باندې قبضه کړې ده.او امین بلا تعدی نه ضامن کیږی.علامه مرغیناني رحمه الله فرمائیلی دی چه دا د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز خو ښکاره دې.تردې چې د دوی په نیز اجیر مشترك نه ضامن کیږی.دغه شان د صاحبینو رحمهما الله په نیز هم دا حکم دې.ځکه چې د دوی په نیز اجیر مشترك ضامن ګرځول یو قسم استحسان دې.چه د خلقو مالونه محفوظ شی.ځکه چې هغوی د میاشتو شیان اخلی.اود زیات اجرت حاصلولو په غرض سره کار کوی.او په ساتنه کي اکثر بې پرواهي کوی.په دې وجه استحساناً ضامن کړې شو.چه مالونه په ساتنه پاتې شی.په خلاف د اجیرخاص.چه هغه د بل چا کار نه قبلوی.نو په دې کي ساتنه او سلامتیا غالب ده.نو دده په حق کي به اصل قیاس اخستلې شي.چه هغه ضامن نه دې.

وجه عدم الضمان علي الجیرالخاص بالهلاك بعمله او کوم شئ چې د اجیرخاص عمل (او حرکت سره هلاك شي.هغې کي د عدم ضمان وجه داده.چه کله منافع د مستاجر مملوك شوې.او مستاجر دده ته پخپل ملك کي د تصرف حکم ورکړو.نو دده حکم ورکول صحیح شو.اوس هغه د مستاجر قائم مقام شو.او دده فعل مستاجر ارخ ته منتقل شو.ګویا مستاجر دا کار پخپله کړې دې.نو مستاجر د اجیر خاص نه تاوان نشی اخستلې.

وجه الضمان في صورة التعدی البته که اجیر په قصد سره هغه څیز هلاك کړی کوم چې دده ته په اجاره ورکړې شوې وی نو په دې صورت کښې په ده باندې ضمان او تاوان شته ځکه چې تعدی د ده د طرفه شوې ده نو ضمان به پرې راځي.

(الْإِجَارَةُ تُفْسِدُهَا الشُّرُوطُ كَمَا تُفْسِدُ الْبَيْعَ)شرطونه اجاره فاسده وی.لکه څنګه چې بیع فاسده وی.

تشریح **فساد الاجارة بالشروط الفاسدة** اجاره چونکه په منزله د بیع ده.په دې وجه کومو شرطونو سره چې بیع فاسدیږی.هغې سره اجاره هم فاسدیږی.لکه شرط لګول. چې کور اوغورزیږی.بیا به هم کرایه نه ساقطیږی.یا د جرندې اوبه بندې شی.بیا به هم اجرت لازم وی.دغه شان هغه شئ په کوم نې چې اجاره کړې ده.یا د اجرت یا مودې یا د عمل مجهول کیدل وغیره.دې ټولو څیزونو سره اجاره فاسدیږی.او اجرت مثل به واجب وی.خود مسمی نه به زیات نشی ورکولې.

دلیله ځکه چې اجاره په منزله د بیع ده.آیا نه ګورې چې دا هم اقاله او فسخ کولې شی.لکه څنګه چې په بیع کښې اقاله او فسخ کولې شی

---

(۱) **مسلك الشافعي**:-او د امام شافعي رحمه الله په دې باره کي دوه قوله دی.یو دا چې د اجیر مشترك پشان به اجیرخاص هم ضامن وی.ددوی منصوص قول هم دادې.کوم چې حلیه کي ذکر دې.او بعضو شوافعو وئیلی دی.او په بل قول کي به ضامن نه وی.بیا عدم ضمان هغه وخته پورې دې.چه قصداً ئې نه وی کړې.اوکه په قصد سره داسې کړې وی.نود مستودع پشان به بلا خلاف ضامن وی.

د خدمت لپاره اخستي غلام په سفر کښې د بيولو (بوتللو) حکم

(وَمَنْ اسْتَأْجَرَ عَبْدًا لِلْخِدْمَةِ او چاچه اجاره باندې غلام واخستلو.چه دده نه خدمت واخلي. فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُسَافِرَ بِهِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ عليه ذَلِكَ فِي العقد) نو هغه په سفر کي نشي بوتللې. خودا چې هغه په ده باندې په عقد کښې د دې شرط اوکړي.

تشريح> عدم جواز السفر بالعبد المستاجر للخدمة> کوم غلام ئې چې د خدمت لپاره نوکر ساتلې وی.هغه خپل خان سره سفرکي نشي بوتلې.

دليله> خکه چې د حضر(اقامت) په لحاظ سره سفر کي مشقت زيات وی.نو مطلق عقد به دې ته کړ نه وی.په دې وجه سفر د اجارهٔ فسخ کولو عذر گرځولې شوې دې.تردې که حضر کي ئې خدمت لپاره اجاره باندې واخستلو.بيا سفر راپيښ شو.نو اجاره ختمولې شی.نو سفر کي د بيولو (بوتللو) شرط کول ضروری دې.لکه څنګه چې د کور په کرايه کي د اهنګر (لوهار) يا دهوبي ساتلو شرط کول ضروری دې.

د کيجاوې او دوه سړو سوارولو لپاره د اوښ په کرايه د اخستلو حکم

(وَمَنْ اسْتَأْجَرَ جَمَلًا يو کس يو اوښ اجاره باندې واخستلو. لِيَحْمِلَ عَلَيْهِ مَحْمَلًا وَرَاكِبَيْنِ إِلَى مَكَّةَ چې په دې باندې يوه کيجاوه او دوه سوارلي: کينوی.او مکې پورې لاړ شي. جَازَ نو دا جائز دی. وَلَهُ الْمَحْمَلُ الْمُعْتَادُ) او مستاجر ته به د عامې کيجاوې ايخودلو اختيار وی.

تشريح> استيجار البعير للحمل> يوکس يو اوښ مکې پورې د کيجاوې بار کولو اود دوه سړو سوارولو لپاره اجرت باندې واخستلو. نواستحساناً جائز دی. [1]

دليله> او وجه د استحسان داده.چه اصل مقصود خو سوارلي: ده.او هغه معلوم ده.يعنی د خلقو بوج تقريباً برابر وی.پاتې شوه کيجاوه نو هغه تابع ده.او ددې په اوګدوالی او پلن والی وغيره کي جهالت دې.نو دا په عامو کيجاوو باندې محمول کولو سره لرې کيدې شي.نو جګړې ته به نوبت نه رسيږی.دغه شان که بستره او د اغوستلو پټو (څادر) وغيره ئې نه وی خودلې.بيا هم اجاره جائز ده.اوکه اوښ والا دا شيان اوګوری.نو نوره هم بهتره ده.

(وَإِنْ شَاهَدَ الْجَمَّالُ الْمحملَ اوکه د اوښ والا کيجاوه اوکتله. فَهُوَ أَجْوَدُ) نودا زياته بهتره ده.

تشريح> استحباب الشهود> اوکه د اوښ مالك بار اوليدلو چې دا بار او بوج به اوری نو دا به ډير بهتره وی

دليله> دليل دا دې چې کله يې په خپلو سترګو باندې اوليده نو په دې سره جهالت پوره شو. د جګړې پيدا کيدو ويره به ختمه شي او د اوښ مالك به پرې زر راضي شي.

(وَإِنْ اسْتَأْجَرَ بَعِيرًا لِيَحْمِلَ عَلَيْهِ مِقْدَارًا مِنَ الزَّادِ که يو اوښ ئې د لارې د خوراك څکاك د سامان يو مقدار لپاره اجاره باندې واخستلو. فَأَكَلَ مِنْهُ فِي الطَّرِيقِ بيا ئې لاره کي ددې مقدار نه څه

---

[1] **مذهب الشافعي:**- نودا د قياس په رو سره جائز نه دی.امام شافعی او امام احمد رحمهما الله هم ددې قائل دی. خکه چې د اوګدوالی ، پلنوالی ، درُندوالی او سپکوالی هر اعتبار سره معقود عليه مجهول ده.او دا داسې جهالت دې.چه دا بعض وختونو کي جګړې پورې رسوی.خو

اوخوړل. جَازَلَهُ أَنْ يَرُدَّ عِوَضَ مَا أَكَلَ) نو څومره ئې چې خوړلې دی.هم په هغه اندازه زياتول جائز دی.

تشریح> حکم الاکل من الزاد> زيد د توښې (د لارې د خوراك څکاك د څيزونو) يو معين مقدار اوچتولو لپاره يو اوښ اجرت باندې واخستلو.بيا ئې په لاره کې څه توښه اوخوړله.نو دومره توښه نوره زياتولې شي.

دليله> ځکه چې هغه په پوره لاره کې د معين مقدار اوچتولو حقدار دې.امام شافعي رحمه الله او په يو قول کې امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دی.ددوی دوئم قول دادې چه د عرف اعتبار به کولې شي.نو که ددې رواج وی.جائز به وی.کنی جائز به نه وی.امام مالك رحمه الله هم ددې قائل دې.علامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دی.چه دتوښې نه علاوه بل څه کيلي يا وزني شئ وی.نو هغې کې هم دا حکم دې.

په شرط تعجيل او تعجيل بغيرشرط.او په استيفاء

د معقود عليه سره د اجرت د استحقاق حکم

وَالأُجْرَةُ لَاتَجِبُ بِالْعَقْدِ وَتُسْتَحَقُّ بِأَحَدِ ثَلَاثَةِ مَعَانٍ: بلکه مستحق کيږی.په دريو خبرو کې په يوې خبرې سره. إِمَّا بِشَرْطِ التَّعْجِيلِ،د پيشګئ (فوراً) ور کولو په شرط سره، أَوْبِالتَّعْجِيلِ مِنْ غَيْرِشَرْطٍ،يا د پيشګئ ور کولو د ش زرط نه بغير، أَوْبِاسْتِيفَاءِالْمَعْقُودِعَلَيْهِ)يا د معقود عليه په حاصلولو سره.

تشریح> استحقاق الاجرة باحد ثلاثة معان> زمونږ.او د امام مالك رحمه الله په نيز د نفس عقد په ذريعه د اجرت استحقاق نه کيږی.ځکه چې حکم د عقد د منفعت د وجوب نه روسته ښکاره کيږی.او په اجاره کې د عقد کولو په وخت منفعت نه موجود کيږی. نو په نفس عقد سره د اجرت مستحق کيدلو هيڅ معنی نشته.په دې وجه به اجرت امر آخر سره مقيد وی.اودا په يو څو خبرو کې يوه ده.

مسلك الاحناف رحمهم الله ① مستاجر پخپله اجرت پيشګی ورکړی.نو اوس اجرت واجبيږی.مطلب دا چې مستاجر ئې واپس نشی اخستلې. ② د اجرت پيشګی (ايډوانس) اخستلو شرط وی.په دې سره هم د اجرت مستحق کيږی.ځکه چې نفس عقد سره د اجرت مستحق کيدلو هيڅ مطلب نشته.په دې وجه به اجرت امر

آخر سره مقيد کيږی.او هغه په يو څو خبرو کې يوه ده. ③ استيفاء د معقود عليه يعنی مستاجر پوره منفعت حاصل کړی.په دې صورت کې هم د اجرت استحقاق کيږی.ځکه چې اجاره عقد معاوضه ده.او په دې دواړو کې چې کله برابری ثابت شی.نو اجرت به واجبيږی. ④ مستاجر په پوره منفعت حاصلولو باندې قادر شی.ځکه چې په يو شئ باندې قبضه بعينه ددې شئ قائم مقام جوړيږی.نو ګويا مستاجر پوره نفع حاصل کړله.بيا که د مستاجر نه دا شئ غصب کړې شو.نو اجرت به ساقطيږی.ځکه چې مذکوره قبضه فوت شوه.([1])

[1] **مذهب الشافعي:-** دامام شافعي او امام محمد رحمهما الله په نيز صرف عقد سره د اجرت ملکيت ثابتيږی.ځکه چې معدوم منافع حکماً بالفعل موجود منلې شوی دی.چه اجاره صحيح شی.په دې وجه وجه اجاره په اجرت مؤجله سره صحيح کيږی.که منافع معدومه موجود او نه منلې شی.نو تاخير سره اجرت ادا کولو په صورت کې به قرض د قرض په بدله کې شی.چه دا حرام دی.او هرکله چې دا حکماً بالفعل موجود شو.نود عقد په ذريعه د ملك ثبوت ضروری دې.ځکه چې مقتضی موجود او مانع منتفي دې.نو ددې په مقابل چې کوم

دلیله دلیل دادي.چه عقد اجاره په لږه لږه د منافع د حدوث موافق منعقد کیږي.او اجاره یو عقد معاوضه ده.چه دا د دواړو اړخه د برابرئ تقاضه کوي.نود منفعت په اړخ کي تاخیر کیدلو سره د اجرت په اړخ کي تاخیر کول هم ضروری دی.او هرکله چي منفعت حاصل کړي شو.نو په اجرت کي به هم ملك حاصلیږي.چه د دواړو اړخه برابري ثابت شي.که د فوري (پیشګی) اجرت شرط ني لګولي وي.یا ني د شرط نه بغیر حواله کړي وي.بیا به هم ملك حاصلیږي.اګرچه اوس منافع نه وي حاصل کړي.ځکه چي مساوات د حق مستاجر کیدلو په وجه ثابت شوي وو.کوم چي ده پخپله باطل کړو.

(وَمَنِ اسْتَأْجَرَ دَارًا) چي یو کور په کرایه واخستلو.(فَلِلْمُؤَجِّرِ أَنْ يُطَالِبَهُ بِأُجْرَةِ كُلِّ يَوْمٍ)نو موجر ته به هره ورځ د اجرت د مطالبي اختیار وي.

تشریح **جواز اجرة کل یوم في استیجار الدار** که په عقد اجاره کي د تعجیل یا تاخیر قید نه وي.نو موجر روزانه د کور او زمکي د کرایه مطالبه کولي شي.دغه شان د اوښ والا هر مرحله باندي د اجرت د مطالبي حقدار دي.

دلیله ځکه چي د هري ورځي اوسیدل او د هر منزل مسافه پوره کول مقصود کي داخل دی.او مستاجر دومره منفعت حاصل کړو.

(إِلَّا أَنْ يُبَيِّنَ وَقْتَ الِاسْتِحْقَاقِ فِي الْعَقْدِ)خودا چي په عقد کي ئي د استحقاق وخت بیان کړي وي.

تشریح **صورة عدم جواز مطالبة الاجر** البته که مستاجر په عقد اجاره کي د استحقاق څه وخت بیان کړي وي.نو مطالبه به هم په دغه وخت باندي کولي شي.لکه څنګه چي قرضه کي د فی الحال مطالبي اختیار وي.خو که قرضخواه مهلت ورکړي.نود مقرره وخت نه وړاندي د مطالبي اختیار نه وي.دغه شان دلته کي هم دی.

د کرایئ د اوښ د هر مرحلي د کرایه د مطالبي حکم

(وَمَنِ اسْتَأْجَرَ بَعِيرًا إِلَى مَكَّةَ)چاچه په کرایه باندي اوښ واخستلو.مکي پوري.(فَلِلْجَمَّالِ أَنْ يُطَالِبَهُ بِأُجْرَةِ كُلِّ مَرْحَلَةٍ)نو اوښ والا د هرمنزل کرایه طلب کولي شي.

تشریح **جواز مطالبة الاجرة عند کل مرحلة** نفس مسئله آسانه ده البته دلیل یي دا دي چي د هر یو ملزل مسافت پوره کول مقصود دي نو ځکه تري اجیر د هر منزل په اختتام سره د اجرت مطالبه کولي شي

(وَلَيْسَ لِلْقَصَّارِ وَالْخَيَّاطِ أَنْ يُطَالِبَ بِالْأُجْرَةِ) اود دهوبي او درزی لپاره د اجرت د مطالبي حق نه وي.(حَتَّى يَفْرُغَ مِنَ الْعَمَلِ)تردي چي فارغ شي د کار نه.

تشریح **عدم جواز مطالبة الاجرة قبل الفراغ من العمل للقصار** دهوبي او درزی به د اجرت مطالبه هغه وخت کوی.کله چي هغه د عمل نه فارغ شي. یعني دهوبي کپړه اووینځي.او درزی کپړه ورکړي.دا نشي کیدي.چه مثلاً د کوټ یو لستوڼي اوګندی.او درزی د اجرت مطالبه اوکړي.ځکه چي کوټ کي خالی د لمني ګنډل ګټور نه دی.

(إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ التَّعْجِيلَ)خودا چي وړاندي ئي شرط لګولي وي.

عوض یعني اجرت دي. هغې کي به هم حکم ثابتیږي.په دي وجه د منفعت د استیفاء نه وړاندي د اجرت نه بری کول بالاجماع صحیح دی.

تشریح> الجواز عند اشتراط التعجیل> دغه شان که درزی یا دهوبی د مستاجر په کور کي کیناستلو.او کار ني اوکړو.بیا هم د فراغت نه وراندې هغه د اجرت نه مستحق کیږی.

دلیله> د مذکوره دلیل په وجه.چه په بعض جزء کي عمل کیدل غیرمفید دی.د مستاجر په کور کي د کیناستلو او د کار کولو بیان څکه دې.چه هرکله ددہ په کور کي کیناستلو.او کار ني اوکړو.نودا کار پیوسته مستاجر ته سپارلي کیدلو.نو احتمال وو.چه هرکله مستاجر ته کار اوسپارلي شو.نو اجیر ددې د اجرت مستحق شو.خو هغه د اجرت مطالبه څکه نشي کولې.چه لا تر اوسه دده عمل د څه فاندې ور کولو نه دې.کله چي پوره نشی.

تنبیه> په نهایه او کفایه وغیره کي دی.چه مذکوره حکم (د کار نه د فارغ کیدلو نه وراندې به د اجرت نه مستحق کیږی).د عامو روایاتو کتابونه مبسوط، ذخیره، مغنی ، فخرالاسلام، قاضی خان، او د تمرتاشی شرح، د جامع صغیر، او فوائد ظهیریه خلاف دی.لکه په مبسوط کي دی. (**لو استاجر خیاطاً یخیط له فی بیت المستاجر قمیصاً و خاط بعضه فسرق الثوب فله الأجر بقدر ما خاط فإن کل جزء من العمل یصیر مسلماً إلی صاحب الثوب بالفراغ و لا یتوقف التسلیم فی ذالك الجزء علی حصول کمال المقصود**)، ، که یوکس درزی ددې کار لپاره په اجرت باندې اونیولو.چه هغه به د مستاجر په کور کي قمیص ګنډی.نو هغه لږ قمیص ګنډلې وو.چه کپړه غلا (پته) شوه.نو ده چي څومره قمیص ګنډلې وو.د هغې د اجرت به مستحق وی.څکه چي د هر جزء نه په فراغت باندې کار د کپړې مالك ته اوسپارلې شو.او ددې جزء کار سپارل، په پوره مقصود حاصلیدلو باندې موقوف نه دی ، ،دغه شان په قاضی خان کي دی. (**ولهذا لو استاجر خیاطاً لخیط له فی منزلة کلما عمل عملاً یستحق الأجرة بقدرة**) او د ذخیره په فصل ثانی کي دی. (**و فی الإجارة التی تنعقد علی العمل و یبقی له أثر فی العین لا یجب علیه أیضاً الأجر إلا بعد إیفاء العمل کله إلا أن یکون العمل للخیاط و الصباغ فی بیت صاحب المال یکون الجواب فیه کالجواب فی الجمال علی قوله الآخر یجب علی المواجر إیفاء الأجر بقدر ما استوفی من المنفعه....**) خو په تجرید کي ددې مسئلې حکم داسې ذکر دې.لکه څنګه چي دلته په کتاب کي ذکر دې.نو ممکن دد.چه امام قدوری رحمه الله په دې حکم کښې د صاحب تجرید ابوالفضل کرمانی رحمه الله اتباع کړې وی.نن صباد فتوی زیات موافق هم داحکم دې.

نان بائی د اجرت کله مستحق کیږی؟

> **وَمَنِ اسْتَأْجَرَ خَبَّازًا** چا چي په اجرت باندې نان بائی واخستلو. **لِيَخْبِزَ لَهُ فِي بَيْتِهِ قَفِيزَ دَقِيقٍ بِدِرْهَمٍ** چي هغه ددہ لپاره ددہ په کور کي ډوډئ پخې کړې.د یو قفیز اوړو نه په یو درهم باندې، **لَمْ يَسْتَحِقَّ الْأُجْرَةَ** نو هغه به د اجرت نه مستحق کیږی. **حَتَّى يُخْرِجَ الْخُبْزَ مِنَ التَّنُّورِ** ترد دې چي راوباسی ډوډئ د تنور نه.

حل اللغة> خباز: نان بائی ، **خبز (ض) خبزاً**: ډوډئ پخول، **قفیز**: د ناپ تول د یوې پیمانې نوم دې، **دقیق**: اوړه،

تشریح> عدم استحقاق الاجرة فی مسئلة التخبیز> ددې قول مقصد دا بیانول دی.چه د عمل نه فراغت د کوم امر په ذریعه کیږی.مسئله داده.چه یو سړی د روټو پخولو والا ددې لپاره اجیر کړو.چه هغه زما په کور کي کیني.او یو قفیز اوړه د یو درهم په عوض پاخه کړی.

دلیله> څکه چي په خالی تنور کي ډوډئ لګولو سره د اجیر کار نه پوره کیږی.بلکه کله چي ډوډئ اولګوی.اود تنور نه ني راوباسی.بیا به کار پوره کیږی.او اوس به هغه د اجرت مستحق وی.دا هغه

وخت دی.کله چې ډوډۍ صحیح سلامت د تنور نه راوباسي.او که هغه تنور کې اوسوزیدلې.یا د راوښکلو نه وړاندې د هغه د لاسه په اور کې پریوتلې.نو هغه لپاره به هیڅ اجرت نه وي.ځکه چې سپارلو نه وړاندې د هلاکیدلو په وجه دده عمل ضائع شو.مبسوط کې دی.چه د روټو پخولو والا به ددې مال هم ضامن وي.ځکه چې دا جرم دده کار نه شوې دې.

بټیاره د اجرت کله مستحق کیږي؟

(وَمَنْ اسْتَأْجَرَ طَبَّاخًا لِيَطْبُخَ لَهُ طَعَامًا لِلْوَلِيمَةِ او چا چې په اجرت باندې یو بټیاره د ولیمې پخولو لپاره واخستلو. فَالْغُرْفُ عَلَيْهِ) نو په لوخي کې اچول د هغه په ذمه دی.په عرف اعتبار کولو سره.

طباخ: پخونکې،باورچی ، **يطبخ (ف،ن) طبخا:** پخول، **طعام:** خوراك، **وليمة:** د واده روټۍ، **عوف:** په لوخو کې راویستل،

تشریح> متي يستحق الطباخ الاجرة؟> یو کس باورچی ددې لپاره په اجاره باندې واخستلو.چه هغه د ولیمې خوراك پوخ کړي.نو د کټوۍ نه سالن(ترکاری) او د دیګ نه پلاؤ وغیره راوښکل، پیالۍ او تبالونه ډکول، د باورچي په ذمه واجب دي.

دلیله> ځکه چې عرف هم په دې جاري دې.او کوم شئ چې معروف وي.هغه په منزله د مشروط وي.نو ګویا باورچي سره دا شرط لګولې شوې وو.چه هغه به پخوي.او په لوخو کې به نې راوباسي.البته که خوراك خاص وي.مثلاً یو خاص دیګ نې پخ کړې وي.نود راوښکلو ذمه داری به باورچي باندې نه وي.په ایضاح، محیط، او مغني کې هم داسې دي.

(وَمَنْ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا لِيَضْرِبَ لَهُ لَبِنًا او چا چې په اجرت باندې واخستلو یو سړې د خښتو جوړولو دپاره، اسْتَحَقَّ الْأُجْرَةَ نود اجرت مستحق به وي. إِذَا أَقَامَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، کله چې دا اودروي.د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز.

حل اللغة> لبن: کچه خښتې، يشرجها تشريجاً: لاندې باندې یو بل د پاسه ایخودل،(پرۍ کول)،طین: ختې،

تشریح> یو سړي د خښتو جوړولو والا د خښتو جوړولو لپاره په مزدورۍ اونیولو.نود امام ابوحنیفه او د آئمه ثلاثه رحمهم الله په نیز چې کله د خښتو جوړونکې خښتې اوباسي.او ویدروي.نو هغه د اجرت مستحق کیږي.د اودرولو نه مراد دادې.چه په سوانچه سره د جوړولو نه روسته اوچولو لپاره اودروي.(مضمرات).

دلیله> دلیل دادې.چه د خښتو سوانچه کولو او اودرولو سره کار پوره شو.او لاندې باندې پرۍ کول دا یو زیاتی کار دې.لکه چې د سوانچه کولو د ځائې نه د کوره پورې منتقل کول، چې دا اجیر په ذمه نه دی.وجه داده.چه د یو بل د پاسه ایخودلو(او پرۍ کولو) نه وړاندې ددې خښتو نه نفع اخستل ممکن ده.په دې طریقه چې کوم ځائې کې کور وغیره جوړیږي.هلته کې نې یوسي.په خلاف د اودرولو نه وړاندې،ځکه چې د اودرولو نه وړاندې دا د خوړې وړې لوندې ختې پشان ده.چه ددې نه نفع اخستل ناممکن ده.نو ددې اودرول ضروري دی.او په خلاف د روټۍ، چې دا د تنور نه راوښکلو نه وړاندې د نفع قابل نه ده.په دې وجه ډوډۍ د تنور نه راوښکل د نان بائي په ذمه واجب دی.چه په دې باندې خښتې نشي قیاس کولې.ځکه چې دا د یو بل د پاسه ایخودلو نه وړاندې هم د نفع اخستلو قابل دی.

(وَقَالَ ابويوسف ومحمد: او صاحبین رحمهما الله فرمائي. لَا يَسْتَحِقُّهَا چې د اجرت به نه مستحق کیږي. حَتَّى

يُشْرَجُه)()اتردې چې ددې پرئ اودروي.

تشريح﴾مسلك الصاحبين﴿ د صاحبينو رحمهما الله په نيز په خبنتو اوخکونکي باندې لاندې باندې د يو بل د پاسه پرئ كول هم ضروري دى.چه دا دده د كار تتمه ده.

دليلهما﴿ خکه چې ددې نه وراندې ددې د خرابيدلو خطره وى.نودا د تنور نه د دودئ اوبشکلو پشان شو.چه ددې نه بغير اجير د اجرت نه مستحق كيږي.خکه دا خطره ده.چه دودئ په تنور كې اوسوزى.ددې نه علاوه عرف هم دادې.چه د خبنتو پرئ كولو كار هم مزدور كوي.

د جدا جدا ورانئونو په شرط کښې اجرت ياتولو سره.

بوشرط پوره كول او د اجرت حكم

(وَإِذَا قَالَ لِلْخَيَّاطِ كله ئې چې درزى ته اووئيل.إِنْ خِطْتَ هَذَا الثَّوْبَ فَارِسِيًّا كه تا دا كپړه په فارسى طريقه باندې اوگندله.فَبِدِرْهَمٍ نو يو درهم به وى.وَإِنْ خِطْتَهُ رُومِيًّا او كه په رومى طريقه دې اوگندله.فَبِدِرْهَمَيْنِ نو دوه درهمه به وى.جَازَ نودا جائز دى.وَأَيَّ الْعَمَلَيْنِ عَمِلَ اسْتَحَقَّ الْأُجْرَةَ)اوس چې په دې كې كوم كار اوكړى.هم د هغې د اجرت مستحق به وى.

تشريح﴾استحقاق الاجرفي صورة الخيار في امرين﴿ په عمل كې ترديد سره اجرت كې ترديد صحيح دې.مثلاً مستاجر درزى ته اووائى.كه ته قباء (كوټ) فارسى طريقه باندې اوگندې.نو اجرت به يو درهم وى.او كه په رومى طريقه باندې اوگندې.نو اجرت به دوه درهمه وى.نو دا جائز ده.اوس ئې چې هغه په كومه طريقه باندې اوگندى.هم د هغې د اجرت به مستحق وى.

دليله﴿ په دې كې قياس بيع باندې دې.او د قياس علت ارتيا دفع كول دى.نو لكه څنګه چې په دوه يا دريو كپړوكې د يو بيع جائز ده.او په څلورو كې د يو بيع جائز نه ده.دغه شان به اجاره كې هم كيږي.خکه چې دريو څيزونو كې ادنى ، اوسط او اعلى موجود وى.چه په دې سره ارتيا لرې كيږي.نو ددې نه زياتى به د ارتيا نه بغير جائز نه وى.صرف دومره خبره ده.چه بيع كې خيار شرط ضرورى دې.لكه څنګه چې كتاب البيوع كې تير شو.او اجاره كې دا شرط نشته.وجه داده.چه اجاره كې اجرت د عقد په ذريعه نه واجبيږي.بلكه كله چې كار پوره شي.نو هغه وخت واجبيږي.او كله چې كار پوره شو.نو پخپله معلومه شوه.چه معقود عليه هم دادې.په خلاف د بيع، چې په دې كې د ثمن وجوب نفس عقد سره كيږي.نو په دې كې به معقود عليه مجهول وى.اودا جهالت به داسې وى.چه د خيار ثابتولو نه بغير به جګړه نه لرې كيږي.

د نن او صبا په شرط. جدا جدا اجرت ياتولو سره

نن يا صبا كار ختميدل او د اجرت حكم

وَلَوْقَالَ:او كه وې وئيل.إِنْ خِطْتَهُ الْيَوْمَ كه نن دې اوگندله.فَبِدِرْهَمٍ نو يو درهم به وى.وَإِنْ خِطْتَهُ غَدًا اوكه صبا دې اوگندله.فَبِنِصْفِ دِرْهَمٍ نو نصف درهم به وى.فَإِنْ خَاطَهُ الْيَوْمَ نو كه هم نن ئې اوگندله.فَلَهُ دِرْهَمٌ نو يو درهم به وى.وَإِنْ خَاطَهُ غَدًا او كه صبا ئې اوگندله.فَلَهُ أَجْرُ مِثْلِهِ نو اجر مثل به

---

[1] القول الراجح هو قول الصاحبين كذا بدائع الصنائع (٤\٢٠٥) والزيلعي (٥\١١٠) والهندية (٤\٤٣١) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٢٥)

وي. عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَلَا يُجَاوِزُ بِهِ نِصْفَ دِرْهَمٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ(). د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به د نصف درهم نه نه زياتيږي.

تشريح> ذكر شوي بيان خو د عمل ترديد سره د اجرت وو. كه د اجرت ترديد د وخت ترديد سره وي. نو دا هم صحيح ده. لكه چې مستاجر داسې اووائي. كه ته نې نن اوګنډې. نو يو درهم به ملاوېږي. اوكه صباله دې اوګنډله. نو نصف درهم به ملاوېږي. اوس كه هغه نن هم اوګنډي. نو يو درهم به ملاوېږي. او كه صباله نې اوګنډي نو (هم به يو درهم ملاوېږي).

مسلك ابي حنيفة> د امام صاحب رحمه الله په نيز به اجرمثل ملاوېږي. اجر مسمى به نه ملاوېږي. خو اجرمثل به د نصف درهم نه زيات نه ملاوېږي. دا د ابوحنيفه رحمه الله نه يو روايت دې. چه ابو الحسن قدوري رحمه الله ذكر كړې دې. او امام كرخى رحمه الله هم دا اختيار كړې دې. او په جامع صغير كې دى. چه د نصف درهم نه كم اود يو درهم نه به زيات نشي وركولې. خو ړومبې روايت زيات صحيح دې.

دليله> د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې. چه د صبا ذكركول حقيقت كې تعليق لپاره دى. او د نن ورځ ذكركول توقيت باندې نشي محمول كولې. ګني د وخت او عمل د اجتماع په وجه به عقد فاسديږي. څكه كه د عقد لحاظ اوكړې شي. نو هغه اجير خاص جوړيږي. اوكه د كار لحاظ اوساتلې شي. نو هغه اجيرمشترك ګرځيږي. حالانكه په دوى دواړو كې فرق دې. ددوى په لوازمو كې د فرق كيدلو په وجه. څكه چې عمل ذكركول د اجرت د عدم وجوب موجب دې. تركومه پورې چې هغه عمل اونكړي. او ذكر د وخت د اجرت دوجوب موجب دې. كله چې هغه موده كې پخپله خپل خان پيش كړي. او تنافى د لوازمو په تنافى د ملزوماتو باندې دلالت كوي. بهرحال وخت ذكر كولو سره موده مقصود نه ده. او هركله چې دا خبره ده. نو دوه تسمنې به نن ورځ كې جمع نشوې. بلكه به صبا ورځ كې جمع شوې. نو ړومبې شرط به صحيح وى. او اجر مسمى به واجب وى. او شرط ثانى به فاسد وى. او اجرمثل به واجب وى. چه دا به د نصف درهم نه زيات نشي وركولې. څكه چې د دويمې ورځې مقرره اجرت هم دا نصف درهم دې.

د صاحبينو رحمهما الله مسلك

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: الشَّرْطَانِ جَائِزَانِ صاحبين رحمهما الله فرمائى. چه دواړه شرطونه جائز دى. وايهما عمل استحق الاجرة) او په دواړو كښې چې يې كوم يو اوكړو نو د اجرت مستحق كيږي

تشريح> د صاحبينو رحمهما الله په نيز دواړه شرطونه جائز دى. نو په كومه ورځ نې چې اوګنډي. هم د هغې مسمى اجرت به ملاوېږي. يعنى كه نن نې اوګنډي. نو يو درهم او كه صبا له نې اوګنډي. نو نصف درهم به ملاوېږي.

دليلهما> د صاحبينو رحمهما الله دليل دادې. چه نن ورځ ذكر كول د جلتئ په غرض توقيت لپاره ده. (څكه چې دا حقيقت دې). اود صبا ذكركول تعليق لپاره دى. (يعنى د اضافت لپاره دې. څكه چې اجاره تعليق نه قبلوي). نو په هره ورځ كې دوه تسمنې نه جمع كيږي. او په دې وجه هم چې په جلتئ او روسته كولو كې هر يو داسې امر دې. چه دا په لحاظ د اغراض مقصود وى. نودا اختلاف دغرض نوعى اختلاف په درجه كې شو. يعنى ګويا فارسى او رومى د دوه مختلفو ګنډلو پشان دې. نو عقد به صحيح وى.

---

[1] القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (٢٥\٣) ومجمع الأنهر(٥٥٠\٣) وردالمحتار(٤٥\٥) نقلاً عن القول الراجح (٢٣٥\٢)

د مختلف نوعیت کاروبار یا سفر په وجه کرایه کښې د فرق کولو حکم

(وَلَوْقَالَ: إِنْ سَكَنْتَ فِي هٰذَا الدُّكَّانِ عَطَّارًا که وې وئيل. که تا په دې دوکان کې عطار ډېره کړو. فَبِدِرْهَمٍ فِي الشَّهْرِ نو يو درهم ماهواری ده. وَإِنْ سَكَنْتَهُ حَدَّادًا او که اهنګر (لوهار) دې کينولو. فَبِدِرْهَمَيْنِ نو دوه درهمه ماهواری ده. جَازَ نودا جائز ده. وَأَيَّ الْأَمْرَيْنِ فَعَلَ اسْتَحَقَّ الْمُسَمّٰى فِيهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. په دې کې چې کوم کوی. هم د هغې د اجر مسمی به مستحق وی. د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز، وَقَالَا: صاحبين رحمهما الله فرمائي. الْإِجَارَةُ فَاسِدَةٌ، چې اجاره فاسد ده.

تشریح>مسلک ابي حنيفة> د کور او عامل، په مسافه او بوج کې ترديد کولو سره هم د اجرت ترديد صحيح دې. مثلاً داسې اووايي: ①که په دې دوکان کې دې اهنګر (لوهار) اوساتلو. نودا کرايه به وی. او که عطار دې اوساتلو. نودا به وی. ②يا اصل حيوان (خاروې) که کوفه پورې بوځې. نودا کرايه به وی. اوکه اوسط پورې ئې بوځې. نودا کرايه به وی. ③يا که په دې غنم بار کوې. نو اجرت به دا وی. او که اوريشې بار کوې. نو دا کرايه به وی. په دې ترديداتو کې چې کوم شئ موجود شی. د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به هم د هغې اجرت واجب وی.

دليله> د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې. چه ده مستاجر ته دوه مختلف او صحيح عقدونو کې اختيار ورکړې دې. نو لکه څنګه چې انفرادی حالت کې عقد صحيح دې. دغه شان به مجموعی حالت کې هم صحيح وی. او مونږ مختلف عقدونه څکه ګرځولی دی. چه د مستاجر پخپله اوسيدل، او اهنګر (لوهار) اوسول. دواړه مختلف دی. په دې وجه مختلف عقد کې اهنګر (لوهار) اوسول نه داخليږی.

مسلک الصاحبين> د صاحبينو رحمهما الله او د آئمه ثلاثه رحمهم الله په نيز به د سره عقد جائز نه وی. لکه څنګه چې ددې مسئلې په نورو مثالونو کې ددې په نيز عدم جواز دې.

دليلهما> د صاحبينو رحمهما الله د قول وجه داده. چه په ذکر شوی صورتونو کې معقود عليه مجهول ده. او اجرت هم په دوه څيزونو کې يو دې. او هغه هم مجهول دې. او جهالت موجب د فساد وی. په خلاف د رومی يا فارسی ګنډلو، چې په دې کې د اجارة فساد څکه نشته. چه اجرت به خو د کار کولو واجب وی. او دغه وخت به جهالت لرې کيږی. په خلاف د هغه مسئلو کوم چې ذکر شوی دی. چه ددې به جدا کولو او حواله کولو سره به اجرت واجبيږی. نو جهالت به باقی پاتې وی. د صاحبينو رحمهما الله په نيز دلته کې قاعده کليه داده. (ان الأجر متى وجب بالتسليم من غير عمل ولا يدرى عند التسليم أيهما يجب يفسد العقد).

د کور د اجاره احکام

(وَمَنِ اسْتَأْجَرَ دَارًا كُلَّ شَهْرٍ بِدِرْهَمٍ يو کس په کرايه باندې کور واخستلو. هره مياشت په يو درهم باندې. فَالْعَقْدُ صَحِيحٌ فِي شَهْرٍ وَاحِدٍ نو عقد صرف به يو مياشت کې صحيح وی. وَفَاسِدٌ فِي بَقِيَّةِ الشُّهُورِ، او په باقی مياشتو کې به فاسد وی. إِلَّا أَنْ يُسَمِّيَ جُمْلَةَ شُهُورٍ مَعْلُومَةٍ)، البته که ټولې مياشتې معين اوښائي.

تشریح>صورة المسئلة> يو کس يو کور د يو درهم ماهوار کرايه باندې واخستلو. نو اجاره به صرف يو مياشت کې صحيح وی. او په باقی مياشتو کې به فاسده وی. البته کې دې پوره مياشتې بيان کړی. مثلاً داسې اووائي. چه د لسو مياشتو لپاره هره مياشت د يو درهم په عوض اخلم. نو په ټولو کې به صحيح وی. څکه چې پوره موده معلومه شوه. د مودې په باره کې امام شافعی رحمه الله هم دا فرمائی. او شيخ

اصطخري او امام احمد ﷫ هم دا اختيار كړې دي.خود امام شافعي ﷫ اصح قول دادي.چه اجاره باطل ده.د امام مالك ﷫ په نيز اجاره صحيح ده.هره مياشت تيريدلو باندې به د اجرت مستحق وي.
دليله> صرف يوه مياشت كې د اجاره صحيح كيدلو وجه داده.چه كله كلمه د ،،كل،، په داسې څيزونو داخله وي.چه دهغې هيڅ انتهاء نه وي.نو ددې په عموم باندې د عمل متعذر كيدلو په وجه فرد واحد اړخ ته ګرځولې شي.او يوه مياشت معلومه ده.نو اجاره به په يوه مياشت كې صحيح وي.بيا د كومې مياشتې په پيل كې چې مستاجر لړ شان ايساريږي.هغې كې به هم اجاره صحيح وي.ترڅو چې د مياشتې ختميدلو نه وړاندې موجر، مستاجر ددې كور نه نشي ويستلې.ددې دصحيح كيدلو وجه داده.چه د ايساريدلو په وجه د دواړو رضامندي اومونډې شوه.

د اجاره فاسديدلو شرطونه

(فَاِنْ سَكَنَ سَاعَةً مِنَ الشَّهْرِ الثَّانِي بيا كه ايسار شو.مستاجر په دويمه مياشت كې هم يو ساعت (ګهنټه) صَحَّ الْعَقْدُ فِيهِ نو په دې كې به هم عقد صحيح وي.وَلَمْ يَكُنْ لِلْمُؤجِرِ اَنْ يُخْرِجَهُ اِلَى اَنْ يَنْقَضِيَ الشَّهْرُ اوس موجر دې نشي ويستلې.ترڅو چې مياشت تيره شي.وَكَذٰلِكَ حُكْمُ كُلِّ شَهْرٍ يَسْكُنَ فِي اَوَّلِهِ يَوْمًا اَوْ سَاعَةً) ادغه شان د هر هغه مياشتې حكم دې. چې دهغې په پيل كې مستاجر يوه ورځ يا يو ساعت استوګنه اختيار كړي.

تشريح> د عبارت نه مسئله واضحه ده څه اشكال پكښې نشته
دليله> دا عقد ځكه صحيح كيږي چې د اجير او مستاجر دواړو په رضا سره په دويمه مياشت كښې اوسيدل راغلي دي نو څه حرج په كښې نشته
نوټ> ابو الحسن قدوري ﷫ چې په مختصر كې لفظ د ساعة (يوه ګهړۍ) ذكر كړې ده.هم دا قياس دې.او بعض متاخرين مشائخ دې اړخ ته مائل دي.ظاهرالرواية دادې.چه د دويمې مياشتې په اوله شپه او ورځ كې متعاقدينو كې هر يو ته به د اجارې فسخ كولو اختيار وي.ځكه چې د يوې ګهړۍ (ګهنټې) اعتبار كولو كې حرج دې.

واذااستأجرداراشهرابدرهم او كله چې په كرايه سره واخلي يو كور د يوې مياشتې دپاره په يوه روپۍ فسكن شهرين نو دې په كښې دوه مياشتې اوسيدل فعليه اجرة الشهر الاول نو په ده باندې د اولنۍ مياشتې كرايه ده ولاشئ عليه من الشهر الثاني او په ده باندې د دويمې مياشتې د كرايه څه نشته

تشريح> استيجار الدار شهراً> صورت د مسئلې دا دې كه زيد د عمرو نه يو كور د يوې مياشتې دپاره په يوه روپۍ كرايه باندې واخستل خو زيد په هغې كښې دوه مياشتې اوسيدل نو په دې صورت كښې په ده باندې صرف د اولنۍ مياشتې كرايه لازم ده د دويمې مياشتې پرې نه ده لازم
دليله> ځكه چه د اجير او مستاجر په مينځ كښې صرف د يوې مياشتې د كرايه خبره شوې ده نو مستاجر چې په كښې دوه مياشتې تيرې كړې دا به په عارية باندې حمل وي چې اجير مستاجر په دغه كور كښې مفت پريخودې دې خو بيا هم غوره دا ده چې مستاجر ورته د دويمې مياشتې كرايه وركړي

(وَاِذَا اسْتَأجَرَ دَارًا سَنَةً بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ كله نې چې كرايه باندې كور واخستلو.د پوره كال دپاره.په لس درهم كې جَازَ وَاِنْ لَمْ يُسَمِّ قِسْطَ كُلِّ شَهْرٍ مِنَ الْاُجْرَةِ) نو دا جائز ده.اګرچه د ماهانه اجرت قسط بيان نكړي.

تشریح> استیجار الدار سنة> دغه شان که د پوره کال لپاره کور په کرایه باندې واخلی.اود پوره کال کرایه ذکر کړی.د هرې میاشتې کرایه بیان نکړی.بیا به هم اجاره صحیح وی.
دلیله> ځکه چې د هرې میاشتې قسط بیانولو نه بغیر هم پوره موده معلومه شوه.نودا داسې شوه.لکه چې د یو میاشت لپاره کور کرایه باندې واخلی.اود هر ورځې کرایه بیان نکړی.نودا جائز دی.

د حمام اود حجام د اجرت مسئله

(وَيَجُوزُ أَخْذُ أُجْرَةِ الْحَمَّامِ وَالْحَجَّامِ)جائز دی د حمام او ښکر لګونکی اجرت اخستل.

تشریح> په دې قول کې دوه مسئلې دی.یو د حمام د اجرت د جواز، او بله د حجام د اجرت د جواز.نو رومبئ یعنی د حمام په باره کې د عالمانو اختلاف دې.ځکه چې د حمام په مذمت کې ((الحمام بیت الشیطان))، ((الحمام شر بیت)) وغیره حدیثونه نقل دی.په دې وجه بعضو عالمانو د حمام اجرت حرام ګرځولې دې.او بعضو عالمانو په مردانه او زنانه حمام کې فرق کړې دې.نو سرو لپاره ئې حمام ته تلل جائز ګرځولی دی.اود ښځو لپاره ناجائز.

ځکه چې ① ابوداؤد، ترمذی، او ابن ماجه د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت کړې دې. (أن رسول الله ﷺ نهى الرجال والنساء عن دخول الحمام ثم رخص للرجال أن يدخلوا في الميازر) نبی کریم ﷺ سړی او ښځې حمام ته د تللو نه منع اوفرمائیل.بیا ئې سړو ته د داخلیدلو اجارزت ورکړو.په لنګ تړلو کې،، ② اود سنن ابوداؤد روایت دې. (دخل على عائشة رضي الله عنها نسوة من أهل الشام فقالت ممن أنتن؟ قلن من أهل الشام قالت لعلكن من الكورة التي تدخل نساءها الحمامات قلن نعم قالت أما اني سمعت رسول الله ﷺ يقول مامن امرأة تخلع ثيابها في غير بيتها إلا هتكت ما بينها وبين الله) ،، حضرت عائشه رضي الله عنها له د ملك شام څه ښځې راغلې.حضرت عائشه رضي الله عنها پوښتنه اوکړو.د کوم ځائې یئ؟ هغوی اووئیل د ملك شام.حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل.چه شاید تاسو دهغه ځائې یئ.کوم ځائې چې ښځې حمام کې داخلیږی.هغوی اووئیل.آو.حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل.خبردار، ما د نبی کریم ﷺ نه دا فرمان اوریدلې دې.چه کومې ښځې خپلې کپړې د خپل کور نه سوا بل ځائې اوباسی.هغوی خپله پرده شله وی.کومه چې دده او د الله ﷻ په مینځ کې ده،،
خود عامو عالمانو په نیز صحیح داده.چه دواړه قسمه حمامونو کې هیڅ باك نشته.ځکه چې ښځو ته هم د حیض او نفاس وغیره نه د لامبلو (او غسل کولو) ضرورت راپیښیږی.پاتې شو مذمت نودا په دې وجه دې.چه بربنډ لامبی.که پرده اوکړی.یا لنګ اوتړی.نو هیڅ باك نشته.لکه چې حافظ بزار او طبرانی د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه مرفوعاً روایت کړې دې. (إحذروا بيتاً يقال له الحمام قالوا يا رسول الله ﷺ انه يذهب بالدرن وينفع المريض قال فاستتر) بهرحال ذکر شوی روایات په دې دلالت کوی.چه پردې سره حمام ته تلل جائز دی.اودا ښکاره ده.چه کله حمام ته داخلیږی.نو اجرت به ورکول لازمی وی.نودا د حمام په اجرت باندې هم دلالت شو.اودا ثابته شوه.چه د کور او دوکان پشان د حمام په اجرت کې هم هیڅ باك نشته.
قول بعض العلماء> بعضو حضراتو وئیلی دی.چه په حمام کې څومره قدرې اوبه وغیره صفا کولې شی.او هلته څومره اندازې پورې قیام کولې شی.د هغې مقدار مجهول دې.نود عمل مجهول کیدلو په وجه به اجاره جائز نه وی.

الجواب> علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې ددې جواب ورکړې دې .چه قیاس ددې تقاضه کوی.خو چونکه په خلقو کې هم داسې مشهوره شوې ده.اود خلقو تلل راتګ د اجازت او منع کولو نه بغیر په دې جاری دې.په دې وجه قیاسی دلیل نه معتبر کیږی.خکه چې قیاس باندې عمل ورانډې کیږی.او په دې باندې د مسلمانانو اجماع ده.دلیل دا حدیث دې. قَالَ: عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ(مَا رَآهُ الْمُسْلِمُونَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ حَسَنٌ)(۱)د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دې.چه کوم مسلمانانو غوره اوګنړلو. هغه د الله تعالی په نیز هم غوره دې.

د خاروی د مال کولو د اجرت حکم

(وَلَا يَجُوزُ أَخْذُ أُجْرَةِ عَسْبِ التَّيْسِ) اوجائز نه دی ، نر په ماده د اچولو اجرت اخستل.

حل اللغة>عسب(ض)خیجول، اچول،**تیس**:ځنګلی چیلې (سیرلې)،

تشریح>حرمة اجرة عسب التیس> علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې د،،عسب التیس،، تفسیر په،،وهوأن یواجره،، سره کولو باندې دا خودلې ده.چه کلام کې مجاز دې.چه تیس ونیلو سره مطلق فحل مراد اخستې شوې دې. لکه مثلاً (د خاروی په پزه کې مهار اچولې شی.چه هغې ته مرسن (پیزوان) وائی.نو د مرسن (پیزوان) ذکر کولو سره مطلق پزه مراد اخستلې شی. (یقال عسب(ض)الفحل الناقة عسباً) په دې معنی چه،، نر په ماده اچول،، اوس ددې فعل اجرت اخستل جائز دی اوکه نه؟

قائلین الحرمة> خو حضرت علی ، ابوهریره، براء ابن عازب رضی الله عنه وغیره د صحابه کرامو یو جماعت، او امام اوزاعی ، ابو ثور، ابو سلیمان، امام ابوحنیفه، امام شافعی ، او ابن المنذر رحمهم الله وغیره د اکثرو فقهاؤ په نیز مذکوره اجرت اخستل جائز نه دې.

دلائلهم> ① خکه چې بخاری ، ترمذی ، ابوداؤد ، او نسائی دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړې دې. (أن النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن عسب الفحل) او په مسند بزار کې د ابوهریره رضی الله عنه حدیث دې. (أن النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن ثمن الکلب وعسب التیس) ② او دویم حدیث دا دې إِنَّ مِنَ السُّحْتِ عَسْبَ التَّيْسِ}(۲)یعنی په ماده باندې نر اچولو اجرت حرام دې

قائلین الجواز> نو ابن ابی اوفی او امام مالک رحمه الله ددې جواز اړخ ته تلی دی.په دې شرط چې اجاره د معلومو خیجولو (مال کولو) او معلوم مودې باندې وی.د حضرت حسن او ابن سیرین رحمهما الله نه هم رخصت منقول دې.حضرت عطاء رحمه الله فرمائی. (لا تعطه علی طراق الفحل أجراً إلا أن لا تجد من یطرقك) د حضرت قتاده رضی الله عنه قول هم دادې.سحنون د ابن وهب نه نقل کړی دی.دوی فرمائی.چه ما د عبد العزیز بن ابی سلمه نه ددې په باره کې پوښتنه اوکړو.نو هغوی اوفرمائیل. (لا بأس بذالك) ابن القاسم فرمائی.چه امام مالک رحمه الله ددې د جواز قول خکه کړې دې.چه هغوی په دې باندې د مدینې والا خلقو

---

۱)من حدیث قال الزیلعی رحمه الله غریب مرفوعاً ولم اجده إلا موقوفاً علی ابن مسعود رضی الله عنه وله طرق ثم رمزه إلی مسند احمد(۱\۳۷۹)_

۱) قال الزیلعی رحمه الله غریب بهذا اللفظ ثم ذکرحدیث ابن عمر رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن عسب الفحل وعزاه إلی البخاری وغیره (أی اخرجه البخاری فی الإجارة باب ۲۱ وأبوداود فی البیوع باب ٤٠ رقم ۳٤۲۹ والترمذی فی البیوع باب ٤٥ رقم ۱۲۷۳ والنسائی فی البیوع باب ۹٤ رقم ٤۳٥٦ واحمد فی المسند (۱٤\۲) والحاکم فی المستدرك (۲\٤۲)_

عمل موندلي دي.چه دا ددوی په نیز دلیل دی.

دلیلهم> ابن الجوزی ﷫ په کتاب التحقیق کي ددوی لپاره د ترمذی او نسائی د انس ﷜ د حدیث نه استدلال کړي دي. (أن رجلاً من كلاب سأل النبی ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال یا رسول الله ﷺ انا نطرق الفحل فنكرم فرخص له في الكرامة)،، د قبیله کلاب یو سړي د نبی کریم ﷺ نه د نر په ماده باندي د اچولو د اجرت په باره کي پوښتنه اوکړو.نو نبی کریم ﷺ منع اوفرمائیله.هغه اوونیل.ای د الله رسوله ﷺ! مونږ نر خیجوو، او انعام حاصله وو.نو هغوی ﷺ هغه ته د انعام اخستلو اجازت ورکړو،،

الجواب عنه: خو د دي حدیث جواب دادي.چه په دي کي د کرامت په طور د تحفي اخستلو رخصت دی.او په کرامت او اجرت کي فرق دي.چه اجرت مشروط فی العقد وی.او کرامت خالص تبرع ، احسان او مهربانی وی.

په امامت،اذان، او په تعلیم د فقه او د قرآن باندي د اجرت حکم

(وَلَا یجوزالِاسْتِئْجَارُعَلَى الْأَذَانِ والاقامة وَتَعْلِيمِ الْقُرْآنِ وَالْحَجِّ)او نه اجاره اخستل په آذان اوپه اقامت او په خودلو د قرآن او په او حج باندي،

تشریح> په آذان اوپه اقامت او په خودلو د قرآن او په حج باندي اجاره اخستل جائز نه ده.د عدم جواز قائلین حضرت عطاء، طاوس، ضحاك، زهری ، حسن ابن سیرین، ابراهیم نخعی ، شعبی ،او د احنافو ﷭ ټولو هم دا قول دي.اود امام احمد ﷫ نه هم دا قول دلیل سره ثابت دي.لكه چي حاوی حنابله کي دی. (ولایصح الإستیجار علی الأذان و الإقامة و الإمامة و تعلیم القرآن و الفقه و النیابة في الحج).

القاعدة> په دي باب کي قاعده کلیه داده.چه هرهغه نیکی کومه چي مسلمانانو سره خاص وی.زمونږ په نیز هغي باندي اجاره اخستل جائز نه ده.البته که هغه د ملت اسلام سره خاص نه وی.نو(اجاره اخستل) جائز ده.لكه مثلاً یو مسلمان سړي د یو ذمی سره د تورات په تعلیم باندي عقد اجاره اوکړی.نو جائز ده.ځكه چي د تورات تعلیم د ملت اسلام سره خاص نه دي.([1])

دلائله> : ① (إقرؤا القرآن ولا تأكلوا به) (احمد ، اسحاق بن راهویه، ابن ابی شیبه، عبدالرزاق، عبد بن حمید ، ابو یعلی موصلی ، طبرانی عن عبدالرحمن بن شبل ﷜، بزار عن عبدالرحمن بن عوف ﷜، ابن عدی عن ابی هریره ﷜) ترجمه:،،نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو.قرآن بنایه.او ددي عوض مه خوره،،

② (إن من آخر ما عهد إلي رسول الله ﷺ أن اتخذ مؤذناً لا يأخذ على الأذان أجراً) (اصحاب سنن اربعه، احمد، حاکم عن عثمان بن ابی العاص ﷜)

③ حدیث د مغیره بن شعبه ﷜ (قلت یارسول الله ﷺ اجعلني امام قومي، قال قد فعلت ثم قال صل بصلاة أضعف القوم ولا تتخذ مؤذناً يأخذ على الأذان اجراً) (بخاری في تاریخه)

④ حدیث د عباده بن صامت ﷜: (قال علمت ناساً من اهل الصفة القرآن فاهدىٰ إلي رجل منهم قوساً فقلت لیست

[1] **مذهب الشافعي:**-د امام شافعی ﷫ په نیز هرهغه نیکئ باندي اجرت اخستل صحیح دي.کوم چي اجیر باندي متعین یعنی عین واجب نه وی.د امام ابوالخطاب روایت کي امام احمد، ابوثور، او ابوقلابه ﷭ هم ددي قائل دی.

بمال وأرمی بھانی سبیل الله فسألت النبی ﷺ عن ذالك فقال: إن أردت أن يطوقك الله طوقاً من نار فاقبلها)(

ابوداؤد، ابن ماجه، حاکم)، حضرت عباده رضی الله عنه فرمائی.چه ما اهل صفه کي بعضو خلقو ته قرآن اوخودلو.هغوی کي يو سړی ماته په هديه کي يو کمان (لينده) راکړله.ما خيال اوکړو.چه دا مال نه دي.ددې نه به جهاد کي کار اخلم.بيا مې ددې باره کي د نبی کريم ﷺ نه پوښتنه اوکړو.نبی کريم ﷺ اوفرمائيل. که ته غواړې.چه الله تعالی ستا په سټ کي د اور يو طوق واچوی.نو قبول ئې کړه،،

⑤(قال رسول الله ﷺ من قرأ القرآن يتأكل به الناس جاء يوم القيامة ووجهه عظم ليس عليه لحم)(بيهقي في شعب الايمان)

⑥ عقلی دليل دې.چه کله څه فعلی قربت واقع شی.نو دا د عامل د اړخه د ثواب کار شو.قال الله تعالی (وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ) په دې وجه کارونو کي د عامل د اهليت او لياقت اعتبار دې.يعنی دا چې هغه مثلاً د اذان يا امامت لائق وی.او څکه چې په دې کارونو کي د عامل نيت شرط دې.کار شرط نه دې.نو دده لپاره به په دې کارونو باندې اجرت اخستل جائز نه وی.لکه په لمونځ او روژه باندې اجرت اخستل بالاتفاق ناجائز دی.

⑦ صاحب د هدايه په هدايه کښې دوئم عقلی دليل دا پيش کړې دې.چه تعليم يو داسې شئ دې.چه دا د معلم په قدرت او اختيار کي نشته.خودا هغه وخت وی.کله چې شاګرد هم ذهين او پوهه وی.او د تعليم قابل وی.نو استاد په اجاره سره د داسې خبرې التزام اوکړو.چه ددې پوره کول دده په اختيار کي نه دی.نو اجاره به صحيح نه وی.

تنبيه> د علامه مرغينانی رحمه الله پيش کړې دوئم عقلی دليل باندې صاحب د نتائج الافکار دا بحث کړې دې.که د معلم د عدم قدرت نه مراد دا وی.چه د تعليم په کار کي دده هيڅ دخل هم نشته.بيا خودا نه منو.څکه چې خودل او لوستل صرف د معلم کار دې.چه په دې کي د طالب علم هيڅ دخل نشته.دده کار خو صرف پوهيدل او يادول دی.او که ددې نه مراد دا وی.چه د تعليم اثر او ددې فائده ښکاره کيدلو کي د طالب علم دخل هم دې.په دې معنی چې کوم وخته پورې هغه د معلم لوستلې شوې قبول نکړی.او معلم چې د کومې خبرې هغه ته تلقين کړې دې.په هغې پوهه نشی.تر هغه وخته پورې د هغه د تعليم هيڅ اثر او فائده نه ښکاره کيږی. نودا منو.خو معلم چې د کومې خبرې التزام کړې دې.هغه پخپله د خپل فعل التزام دې.چه په دې باندې هغه قادر دې.د طالب علم د کار التزام ئې نه دې کړې.او پخپل فعل باندې اجرت اخستلو سره هيڅ شئ مانع نه دې.

السوال> ممکن ده چې څوك اووائی.چه پخپله وئيل او بل ته خودل دا يو ذات سره تعلق ساتی.او مختلف بالاعتبار دی.لکه څنګه چې بعضو کتابونو کي ذکرکړې شوی دی.نو خبره هم هغه شوه.چه تعليم باندې اجرت اخستل، په هغه تعلم (او لوستلو) باندې اجرت اخستل دی.چه هغه د غير فعل دې؟

الجواب> دادې.اول خودا چې پخپله وئيل او بل ته خودل د يو ذات نه نه منلې کيږی.او که اومنلې شی.نو تغاير اعتباری کافی دې.څکه چې تعليم او تعلم په ډيرو احکامو کي مختلف دی. (فليكن في أخذ الأجرة عليه كذالك).

الفتوی في زماننا علی الجواز> د اصولو او دلائلو په لحاظ سره په قرباتو اود نيکئ په کارونو اجرت اخستل اګرچه اجرت اخستل جائز نه دې.لکه چې وړاندې ذکر کړې شو.خو نن صبا فتوی هم په دې

ده.چه په اذان، امامت، تعلیم د قران او تعلیم د فقه وغیره باندې اجرت اخستل جائز دی.او ددې وجه داده.چه د متقدمینو په زمانه کې اول خو هر سړی ته پخپله د دین حاصلولو اړخ ته پوره شوق وو.دوېمه داچه د خلفاء او امراء (حاکمانو) د اړخه هم وظائف (او تنخواه ګانې) مقرر وې.اونن صبا نه هغه شوق شته.نه عطیات او وظائف شته.که په نن صبا زمانه کې ددې اجازت ورنکړې شی.نود حفظ قرآن سلسله به منقطع او د علم حاصلولو دروازه به بنده شی.په دې وجه متاخرین د بلخ مشائخو اجرت اخستل مستحسن ګرځولی دی.او هم په دې فتوی ده.په تتمة الفتاوی کې دی.چه شیخ شمس الائمه سرخسی رحمه الله په باب الاجارة الفاسده کې ذکر کړی دی.چه د بلخ مشائخو د مدینې د خلقو قول اختیار کړې دې.چه په تعلیم د قرآن باندې اجرت اخستل جائز دی.نو مونږ هم ددې د جواز فتوی ورکوو.د فقیه ابواللیث رحمه الله مشهور قول دې.چه درې شیان به نې ناجائز ګڼړل.او ددې فتوی به نې ورکوله.چه په هغې کې یوه په قرآن باندې د اجرت اخستلو مسئله هم ده.خو بیا د قرآن تعلیم ضائع کیدلو په یره نې ددې اجازت ورکړو.(رسائل ابن عابدین)

بیا اوومې صدئ پورې دا اجازت صرف د قرآن د تعلیم حده پورې وو.لکه چې د علامه مرغینانی رحمه الله چې د شپږمې صدئ دې.او صاحب د کنز چې د اوومې صدئ دې.ددوی د رائې نه معلومیږی. ددې نه روسته صاحب د وقایه رحمه الله (متوفی سن ۷۴۷ھ) په تعلیم د فقه باندې اجرت جائز اوګرځولو. تردې چې روسته په امامت او اذان او هر قسمه دینی تعلیم لپاره اجرت اخستل صحیح او جائز اوګرځولی شو.

په رسائل ابن عابدین کې دی.چه اصحاب تخریج او ترجیح په اذان او اقامت باندې د اجرت د جواز فتوی په دې یقین سره ورکړې وه.چه امام ابوحنیفه رحمه الله او ددوی اصحاب هم ددوی په دور کې ژوندی وې.نو هغوی به هم دا وئیلې.او د خپل مخکنی قول نه به نې رجوع کوله.په روضهٔ زند ویسی کې دی.چه زمونږ شیخ ابومحمد عبدالله بن الفضل خیز اخزی مفتی بخاری به فرمائیل.چه زمونږ په زمانه کې امام، مؤذن او معلم له اجرت اخستل جائز دی.په نهایه کې دی.چه دغه شان به په تعلیم د فقه باندې هم د اجرت اخستلو د جواز فتوی ورکولې شی.

د ګانو او نوحه کړو او د ګناهونو په آلاتو د اجرت حکم

(وَلَا يَجُوْزُ الْاِسْتِئْجَارُ عَلَى الْغِنَاءِ وَالنَّوْحِ) او جائز نه دی.اجاره اخستل په ګانو او نوحه کولو باندې،

حل اللغة﴾ غناء: د غنی خنې دې.په معنی د ګانې سره.او غناء د غنی (س) خنې په معنی د مالدارئ سره، اوغناء د غنی (س) بالمکان خنې په معنی د اقامت کولو. **نوح:** (ن) په مړی باندې ژړل.او واویلا کول،

تشریح﴾ عدم جواز الاستیجار علي الغنا﴾ دلوبو اوګانو وئیلو.په مړی باندې د ژړا ، د دولکې ، طنبل، او باجه وغیره دباجو غږولو لپاره اجاره باندې اخستل جائز نه دی.بلکه اجاره باطل ده.هیڅ اجرت به واجب نه وی.زمونږ آئمه ثلاثه، امام مالك، امام احمد ، او ابوثور رحمهم الله هم دا قول دې.(د امام شافعی او ابراهیم نخعی رحمهما الله په نیز اجاره جائز ده.خو مکروه ده).

دلیله﴾ دا اجاره په ګناه ده.اود عقد اجاره په ذریعه شرعاً معقود علیه سپارل واجب وی.حالانکه سړی باندې د داسې شئ وجوب جائز نه دې.چه د هغې په وجه هغه شرعاً ګناهګار وی.ګنی ددې ګناه نسبت به شریعت اړخ ته کیږی.چه دا باطل دې.شیخ الاسلام اسبیجابی رحمه الله په شرح کافی کې لیکلی دی.چه د هیڅ لهو، لعب او شعرخوانئ وغیره اجاره جائز نه ده.بالاتفاق به هیڅ اجرت واجب نه وی.

په مشترکه څیز کښې د اجاره حکم

(وَلَا يَجُوزُ إِجَارَةُ الْمُشَاعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ(¹)او جائز نه ده د غیرمقسوم اجاره د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز.
وَقَالَا:او صاحبین رحمهما الله فرمائي.

تشریح> د امام ابوحنیفه، امام زفر،او امام احمد رحمهم الله په نیز د مشاع یعني د مشترك څیز، د ویش نه بغیر چا ته اجاره باندې ورکول جائز نه دی.که د ویش قابل وی.لکه زمکه او سامان وغیره.او که د ویش قابل نه وی.لکه غلام وغیره.

صورته> د عقد اجاره مشاع صورت دادې.چه په کور کې یوه برخه اجاره باندې ورکړی.چه دا ویش شوې نه وی.یا په مشترکه کور کې خپله برخه د شریکوال نه علاوه بل چاته اجاره باندې ورکړی.څکه چې شریك ته اجاره باندې ورکول بالاجماع جائز دی.اود شریك نه علاوه بل چا ته اجاره باندې ورکول د صاحبینو رحمهما الله وغیره په نیز جائز دی. (وكذا إذا اجر نصف عبداً و نصف دابة من غير الشريك)

دلیله> د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه د اجارهٔ مقصد د عین شئ نه نفع حاصلول وی.او ددې خبرې په مشترك شئ کې هیڅ تصور نشته.څکه چې ددې حواله کول ممکن نه دی.څکه چې د حواله کولو تکمیل قبضهٔ سره کیږی.او قبضه امرحسی دې.چه ددې راتګ معین شئ باندې کیږی.حالانکه مشاع شئ غیر معین دې.نو غیر مقسوم شئ جدا سپارل غیرمتصور دی.

مذهب الصاحبین> اود صاحبینو، امام مالك،او د امام شافعي رحمهم الله په نیز اجاره مشاع علی الاطلاق جائز ده.

دلیلهما> د صاحبینو رحمهما الله دلیل دادې.چه د اجارهٔ مدار په منفعت دې.او کوم شئ چې مشاع (غیرمقسوم) دې.هغې کې منفعت موجود دې.هم دا وجه ده.که مستاجر په دې کې رغانش کوی.نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز اجر مثل واجبیږی.که په یو مشاع شئ کې منفعت نه وو.نو اجاره به نه منعقد کیدله.لکه څنګه چې په ارض سبخه (جبه زمکه) کې چې نه منعقد کیږی.بیا غیر مقسوم سپارل هم ممکن دی.په دې طریقه چې جدائي کړی.یا وار مقررکړی.نودا داسې شوه.لکه چې خپل شریکوال یا دوه سرو ته اجاره ورکړی.نو په دې کې د تخلیه (خپل قابو لرې کولو) حکم داسې شو.لکه چې ددې حکم په بیع کې وی.چه جدا کول سپارل منلی شوی دی.

القول المفتي به> په تبیین شرح کنز کې دی.چه د اجاره مشاع مسئله کې فتوی د صاحبینو رحمهما الله په قول ده.خو په فتوی صغری کې دی.چه په مزارعه، معاملهٔ اووقف کې خلقو کې د رواج په وجه فتوی د صاحبینو رحمهما الله په قول ده.اود اجاره مشاع په مسئله کې فتوی د امام ابوحنیفه رحمه الله په قول ده.په حقائق کې دا هم دی.چې شیخ نسفی ، برهان الائمه محبوبی ، او صدر الشریعه هم په دې باندې اعتماد کړې دې.

بچی ته د پیو ورکولو لپاره د ښځې په اجرت د نیولو حکم

(وَيَجُوزُ اسْتِئْجَارُ الظِّئْرِ بِأُجْرَةٍ مَعْلُومَةٍ) او شوده ورکونکې ښځه په معلوم اجرت سره اجاره باندې نیول جائز دی.

تشریح> شوده ورکونکې ښځه په معلوم اجرت سره اجرت باندې اخستل جائز دی.څکه د الله تعالی

¹) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(۳۳\۵) والخانية (۲۳\۳) ومجمع الأنهر(۵۳۶\۱۳) نقلاً عن القول الراجح (۲۳۱\۲)

ارشاد دي. ﴿فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ که دوی ستاسو لپاره شوده ورکړي.نو تاسو هغوی ته اجرت ورکړئ، ،ددې نه معلومه شوه.چه اجاره جائز ده.او د نبی کریم ﷺ په زمانه کي هم او ددې نه وړاندې هم دا دستور(او رواج) جاری وو.چه ددې نه نبی کریم ﷺ هیڅ منع نه وه فرمانیلې.

الاصل في الظئر اللبن ام المنافع؟ د شوده ورکونکي ښځې په اجاره کي معقود علیه ددې شوده شوده دی او که ددې منافع؟ په دې باره کي د مشائخو اختلاف دې.بعض فرمائی.چه معقود علیه ددې منافع وی.یعنی د بچی خدمت کول،ده د کارونو پالنه او ساتنه وغیره کول دی.پاتې شو شوده نو هغه تابع کیږی.او مستحق جوړیږی.لکه څنګه چي کپړې کي رنګ وی.صاحب د ایضاح، صاحب د ذخیره، امام محمد اود امام شافعی رحمهما الله بعض اصحاب او حافظ الدین صاحب دکافی رحمهما الله هم دا قول اختیار کړې دې.او بعضو وئیلی دی.چه عقد اجاره په حقیقت کي پیو باندې واقع کیږی.پاتې شو د بچی خدمت کول،نو هغه ددې تابع دی.هم دا وجه ده.که د پیو څکونکي بچی ته د وزه شوده اوڅکولې شی.نو هغه د اجرت نه مستحق کیږی.محقق شمس الائمه سرخسی رحمه الله هم دا اختیار کړې دې.او صاحب د نهایه او علامه عینی رحمهما الله هم دې ته صحیح وئیلی دی.

ترجیح القول الاول علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښي فرمائیلي دی.چه د اصول فقه زیات نژدې قول رومبنې دې.چه اجاره اصل کي خدمت باندې واقع کیږی.او شوده تابع دی.څکه چي عقد اجاره بالقصد په اتلاف د عین باندې نه واقع کیږی.او شوده هم یو عین شئ دې.نو ددې په څښلو باندې اجاره نشی کیدې.لکه څنګه چي دکوربه غولې (صحن) باندې اجاره نه کیږی.بلکه انتفاع باندې کیږی.که اجاره په پیو وی.نو داسې به وی.لکه چي یوه غوا د پیو لپاره اجاره باندې واخلی.څکه چي دا جائز نه دی.پاتې شو د چیلو پیو ور کولو سره د اجرت نه مستحق کیدل، نو ددې وجه په راتلونکي قول (لأنهالم تأت بعمل مستحق عليها) کي راروانه ده.

د خوراك اود کپړې په عوض د پیو لپاره د نیولو حکم

(وَيَجُوزُ بِطَعَامِهَا وَكِسْوَتِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ[1])او جائز ده ددې (رضاعی مور) د خوراك او کپړو په عوض استحساناً ، د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز.

تشریح: مسلك ابي حنيفة د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز په دلیل د استحسان مرضعه (شوده ورکونکي ښځه) د خوراك او کپړو په عوض اجرت باندې اخستل جائز دی.امام مالك او امام احمد رحمهما الله هم ددې قائل دی.لکه چي په حاوی حنابله کي دی. (ويصح استيجار الظئر بطعامها وكسوتها ولها الوسط)

دليله د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه دا جهالت د جګړې سبب نه دې.څکه چي د بچی محبت او شفقت په وجه مرضعه (شوده ورکونکي ښځې) باندې خوراك او کپړو کي د فراخۍ کولو عام عادت دې.نو داسې شوه.لکه په ډهیری کي یو قفیز خرڅول، چي په دې کي هم هیڅ منازعت نه راپیښیږی.بلکه بائع چي د کوم اړخه غواړي.ورکړی.په خلاف د ډوډۍ او سالن د پخولو د اجارې،چه په دې کي اجرت مجهول کیدلو سره جګړې پورې نوبت رسیږی.

مسلك الصاحبين د صاحبینو او امام شافعی رحمهما الله په نیز جائز نه دی.د قیاس تقاضه هم داده.څکه چي اجرت مجهول دې.نو داسې شوه.لکه چي ښځه د ډوډۍ او خوراك پخولو لپاره اجرت باندې واخلی.او

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في العناية (٨\٤٦) والزيلعي (٥\١٢٧) ومجمع الأنهر(٣\٥٣٦) والدرالمنتقى (٣\٥٣٧) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٣٢)_

اووانـي.چـه هـره ورځ لـس سـيره اوره او لـس سيره غوښـه پخـه وه.چـه ددې اجـرت خـوراك او كپـره شوه.حالانكه دا جائز نه دى.

د مستاجر دپاره خاوند د وطى منع كولو حق نشته

(وَلَيْسَ لِلْمُسْتَأْجِرِاو مستاجر ته ددې حق نشته.أَنْ يَمْنَعَ زَوْجَهَا مِنْ وَطْئِهَا)، چې ددې ميره منع كړي.ددې سره د صحبت كولو نه.

تشريح> مستاجر د پيو وركونكې ميره د وطى كولو نه نشى منع كولې.

دليله> ځكه چې وطى د هغه حق دې.او دا مستاجر نشى ختمولې.امام شافعي او امام احمد رحمهما الله هم ددې قائل دى.(د امام مالك رحمه الله په نيز ميره ته د مستاجر د رضامندئ نه بغير د وطى كولو اختيار نشته).

صورة جواز فسخ الاجارة> نو كه ميره ته د خپلې ښځې د نوكرئ (بچى ته په اجرت شوده وركول) معلوم نه وى.نو هغه د خپل حق د ساتنه په خاطر اجاره فسخ كولې شى.البته (مستاجر) پخپل كور كې د وطى كولو نه منع كولې شى.ځكه چې دا د مستاجر حق دې.

(فَإِنْ حَبِلَتْ بيا كه هغه حامله شى.كَانَ لَهُمْ أَنْ يَفْسَخُوا الْإِجَارَةَ إِذَا خَافُوا عَلَى الصَّبِيِّ مِنْ لَبَنِهَا)، نو دوى ته د اجارې ختمولو حق دې.كله چې هغوى ته د بچى متعلق خطره وى.ددې په پيو سره.

تشريح> كه مستاجره وينځه اميدواره شوه نو د دوى دپاره دا جائز دى چې عقد اجاره فسخ كړى كه دا ويره ورسره وى چې د ماشوم شوده به پوره نشى.

دليله> ځكه چې د حاملې شوده د بچى لپاره نقصان ده وى.په دې وجه دوى ته د فسخ كولو اختيار وى.كله چې شوده وركونكې بيماره شى.

(وَعَلَيْهَا أَنْ تُصْلِحَ طَعَامَ الصَّبِيِّ)او په دې باندې لازم دى.د بچى غذا صحيح كول،

تشريح> دليله> ځكه چې كتور عمل ددې په ذمه لازم دې حاصل داچه په كومه خبره كې نص وارد نه وى.هغې كې د عرف اعتبار كولې شى.په داسې معاملاتو كې ،نو دكومې خبرې چې عرف جارى وى.لكه د بچى كپړې وينځل،دده دخوراك اصلاح كول وغيره.نودا به د پيو وركونكې په ذمه وى.پاتې شو خوراك، نو دا به د بچى په پلار وى.

(وَإِنْ أَرْضَعَتْهُ فِي الْمُدَّةِ بِلَبَنِ شَاةٍاوكه دې د اجارې په موده كې د چيلئ شوده وركړل.فَلَا أَجْرَةَ لَهَا)انو ددې لپاره به هيڅ اجرت نه وى.

تشريح> نفس مسئله واضحه ده

دليله> ځكه چې كوم كار په دې واجب وو.يعنى شوده وركول. هغه دې اونكړو. ځكه چې دا خو په خوله كې اچول دى.شوده وركول نه دى.

كاريګر كوم څيز د اجرت لپاره منع كولاي شى؟

(وَكُلُّ صَانِعٍ لِعَمَلِهِ أَثَرٌ فِي الْعَيْنِ هر هغه كاريګر چې د هغه دفعل اثر په شئ كې ښكاره وى كَالْقَصَّارِ وَالصَّبَّاغِ فَلَهُ أَنْ يَحْبِسَ الْعَيْنَ لكه دهوبى او كپړه رنګ كونكئ عين شئ د خپل كار نه د فراغت نه روسته منع كولې شى.بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنْ عَمَلِهِ پس د فارغيدو نه د عمل خپله نه حَتَّى يَسْتَوْفِي

الْأُجْرَةَ تردي چې واخلي پوره اجرت.

تشریح: د کوم اجیر د کار اثر چې په عین شئ کي موجود وی.لکه د کپړې رنګ کونکې،او دهوبي وغیره. داسې اجیر د مزدورئ وصولولو لپاره شئ منع کولي شي.

دلیله: ځکه معقود علیه هغه وصف دې.کوم چې کپړه کي قائم دې.نو اجیر د خپل کار بدله حاصلولو لپاره د منع کولو حقدار دې.لکه څنګه چې مبیع کي حکم دې.چه کوم ثمن نقد مقرر کړې شوې دې.د هغې وصولولو پورې بائع دا منع کولې شي.په یوه وجه کي امام شافعي رحمه الله هم ددې قائل دې.(امام زفر، امام احمد رحمهما الله او په یو قول کي د امام شافعي رحمه الله په نیز ددې اختیار نشته)

کاریګر کوم څیز د اجرت لپاره نشي منع کولاې؟

(وَمَنْ لَيْسَ لِعَمَلِهِ أَثَرٌ فِي الْعَيْنِ او هر هغه کاریګر چې د هغه د فعل اثر په عین شئ کي ښکاره نه وی. فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْبِسَ الْعَيْنَ لِلْأُجْرَةِ نو هغه نشي منع کولې عین شئ د اجرت په وجه كَالْحَمَّالِ وَالْمَلَّاحِ)لکه بوج اوچتونکې،او مانړګی (کشتی بان)

تشریح: د کوم اجیر د کار اثر چې په عین شئ کي نه وی.لکه چې بوج اوچتونکی (قلی) په شا باندې یا په خاروی باندې بوج بار کړو.یا مانړګی (کشتی بان) په کشتئ کي بار کړو.او سامان ئې اورسولو.چه د هغه د رسولو هیڅ اثر په دې مال کي قائم نه دې.نو د داسې اجیر لپاره د منع کولو حق نشته.

دلیله: ځکه چې دلته کي معقود علیه نفس عمل دې.چه د عین شئ سره قائم نه دې.او ددې منع کول غیر متصور دی.علامه مرغیناني رحمه الله فرمائیلي دی.چه کپړه پریمخل (وینځل) د قلي (بار اوړونکي) مثال دې.یعني که دهوبي صرف کپړه اووینځله.او هیڅ شئ ئې استعمال نکړو.نو هغه د اجرت لپاره کپړه نشي منع کولې.او که استري وغیره ئې اوکړله.نو منع کولې شي.ځکه چې د استرئ اثر قائم وی.

د صانع باندې پخپله د عمل کولو شرط لګول

(وَإِذَا شَرَطَ عَلَى الصَّانِعِ أَنْ يَعْمَلَ بِنَفْسِهِ کله ئې چې شرط اوکړو کاریګر باندې پخپله د کارکولو. فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَسْتَعْمِلَ غَيْرَهُ)نو هغه لپاره دا اختیار نشته.چه په بل چا باندې کار اوکړي.

تشریح: که مستاجر د کاریګر په ذمه دا شرط اولګولو.چه هغه به کار پخپله کوی.نو کاریګر ته به دا اختیار نه وی.چه هغه په بل چا باندې کار اوکړي.

دلیله: ځکه چې په کوم امر باندې عقد اجاره مقرر شوې ده. هغه دادې.چه کار یو خاص محل سره متصل وی.نو هغه هم ددې مستحق دې.لکه که مستاجر یو حیوان (څاروې) د یو خاص منفعت د سوریدلو لپاره اجاره باندې واخستلو.نو هم ددې خاص منفعت استحقاق وی.تردې که موجر یو داسې حیوان (څاروې) ورکړو.چه هغه صرف د بار اوړلو په کار راتلې شي.نو مستاجر باندې به هیڅ لازم نه وی.ځکه چې هغه د سوریدلو مستحق شوې وو.نو لکه څنګه چې د منفعت تخصیص صحیح کیږي.هم دغه شان د کوم محل نه چې دا منفعت حاصل وی.د هغې تخصیص به هم صحیح وی.

بغیر د څه قید نه کاریګر ته د جوړولو دپاره یو څیز ورکول

(وَإِنْ أَطْلَقَ لَهُ الْعَمَلَ اوکه عمل ئې مطلق اوساتلو. فَلَهُ أَنْ يَسْتَأْجِرَ مَنْ يَعْمَلُهُ)نو هغه نوکر ساتلې شي.هغه څوک چې هغه دا کار اوکړي.

تشریح> اوکه مستاجر ددې لپاره عمل مطلق اوساتلو.یعنې ددې پخپله د کولو شرط نې او نه لګولو.نو کاریګر په بل باندې کار کولې شي.
دلیله> ځکه چې دده په ذمه د کار استحقاق دې.چه دا په دواړه طریقه پوره کیدلې شي.چه پخپله نې اوکړی.یا نې په بل چا اوکړی.لکه څنګه چې د قرض اداء کول دی.چه پخپله نې اداکړی.یا نې د خپل وکیل په ذریعه ادا کړی.دواړه شان جائز دی.

د درزي او د کپړو د مالك په منځ کښې د اختلاف مسئله

(وَإِذَا اخْتَلَفَ الْخَيَّاطُ وَالصَّبَّاغُ وَصَاحِبُ الثَّوْبِ کله چې اختلاف اوکړو.درزی او رنګریز او د کپړو مالك، فَقَالَ صَاحِبُ الثَّوْبِ اوونیل دکپړو مالك، أَمَرْتُكَ أَنْ تَعْمَلَهُ قَبَاءً چې ما د قباء (کوټ) جوړولو حکم درکړې وو.وَقَالَ الْخَيَّاطُ درزی اوونیل.قَمِيصًا چې د قمیص حکم دې راکړې وو.أَوْقَالَ: صَاحِبُ الثَّوْبِ لِلصَّبَّاغِ یا د کپړو مالك رنګ کونکی ته اوونیل.أَمَرْتُكَ أَنْ تَصْبُغَهُ أَحْمَرَ چې ما د سور رنګ کولو ونیلی وو.فَصَبَغْتَهُ أَصْفَرَ تا زیړ رنګ ورکړې دې.فَالْقَوْلُ قَوْلُ صَاحِبِ الثَّوْبِ)نود کپړې د مالك قول به معتبر وی.مَعَ يَمِينِهِ سره د هغه د یمین نه (فَإِنْ حَلَفَ او کله چې هغه قسم اوخوړلو.فَالْخَيَّاطُ ضَامِنٌ)نو درزی به ضامن وی.

تشریح> مالك درزی ته اوونیل.چه ما د قباء (کوټ) ګنډلو لپاره ونیلی وو.تا کمیص ګنډلې دې.یا نې رنګ کونکی ته اوونیل.چه ما کپړه د سور رنګ کولو لپاره ونیلی وو.تا زیړ رنګ ورکړې دې.اجیر وائی.چه تا څنګه ونیلی وو.ما هم هغه شان کړی دی.نود مالك قول به معتبر وی.امام مالك، امام شافعی ،او ابوثور ﷺ هم ددې قائل دی.
دلیله> ځکه چې اجیر ته د عمل د اجازت ثبوت د مالك د اړخه کیږی.تردې که هغه د اصل اجازت انکار اوکړی.نو هم دده قول قبلیږی.نو په صفت د اجازت کې به هم دده قول قبول وی.امام احمد ،ابن لیلی او په یو قول کې د امام شافعی ﷫ په نیز د اجیر قول به قبول وی.او بعضې شوافعو یو دریم قول هم ذکرکړې دې. چه د دوه بیع کونکو پشان به دوی دواړه هم قسم خوری.اود قسم نه روسته به داجیر نه ضمان او مالك نه اجرت ساقطولې شي.

(وَإِنْ قَالَ: صَاحِبُ الثَّوْبِ که د کپړې مالك اوونیل.عَمِلْتَهُ لِي بِغَيْرِ أَجْرٍ چې تا ما لپاره مفت کار کړې دې.وَقَالَ الصَّانِعُ کاریګر اوونیل.بِأَجْرٍ اجرت باندې دې راکړې دې.فَالْقَوْلُ قَوْلُ صَاحِبِ الثَّوْبِ) عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ مَعَ يَمِينِهِ نود کپړې دمالك قول به معتبر وی سره د قسم

تشریح> مسلك ابي حنيفة> مالك اوونیل.چه تا ماله دا کار مفت کړې دې.اجیر وائی.نا په اجرت مې کړې دې.د امام ابوحنیفه او بعضو شوافعو ﷺ په نیز به دمالك قول معتبر وی.
دلیله> ځکه چې هغه دده د کار قیمتی کیدلو نه منکر دې.ځکه چې تقویم به د عقد په ذریعه کیږی.او دلته کې د سره عقد نشته.حالانکه دې بلا اجرت د عمل مدعی دې.وعمل بلا اجرت خالص مدد وی.او مالك د ضمان یعنې د اجر د وجوب منکر دې.او کاریګر ددې دواړو خبرو مدعی دې.او قول د منکر قول وی.نو کاریګر له پکار دی.چه هغه پخپله دعوه باندې ګواهی قائم کړی.د امام شافعی ﷫ په نیز د کاریګر قول معتبر وی.

(وَقَالَ أَبُويُوسُفَ:امام ابویوسف ﷫ فرمائی.إِنْ كَانَ حَرِيفًا لَهُ)أَيْ خَلِيطًا لَهُ که دا سرې د کاریګر

هم پیشه او شریکوال وی. (فَلَهُ الْأَجْرَةُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ حَرِيْفًا لَهُ فَلَا أَجْرَةَ لَهُ)نو دده لپاره به اجرت وی.ګنی نه به وی.

تشریح> مسلک ابي يوسف> امام ابویوسف رحمه الله فرمائي.که کاریګر د مالك هم پیشه او شریکوال وی.یعنی په دوی کي لين دين او اجرت سره معامله کيږي.نو اجرت به ملاويږي.ګنی نه به ملاويږي.

دليله> ځکه مځکي چي ددوی په مينځ کي کومه معامله وه.هغه ددې خبرې تائيد کوی.چه دا معامله به هم ددوی د معمول (او عادت) مطابق اجرت باندې واقع شوې وی.

(وَقَالَ مُحَمَّدٌ:امام محمد رحمه الله فرمائي.إِنْ كَانَ الصَّانِعُ مبتذلا لِهٰذِهِ الصَّنْعَةِ بِالْأُجْرَةِ که کاریګر په دې پیشه کي اجرت باندې کار کولو سره مشهور وی.فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ)نو هم دده قول به معتبر وی.مع يمينه انه عمله بأجرة چي هغه دا جامې د ده دپاره په اجرت سره جوړې کړی دی

تشریح> مسلک محمد> امام محمد ،امام مالك او امام احمد رحمهم الله فرمائي.که کاریګر ددې پیشې دوکان کلاؤ کړې وی.او په اجرت باندې کار کولو کي مشهور وی.نو دده قول به معتبر وی.ګنی د مالك قول به قبلولې شی.

دليله> ځکه چي هرکله ده دوکان ددې کار لپاره کلاؤ کړې دې.نو په ښکاره نظر دا په اجرت باندې د صراحت قائم مقام دې.

الجواب> قیاس هم هغه دې.کوم چي امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائيلي دی.ځکه چي مالك منکر دې.اود صاحبينو داستحسان جواب دادې.چه ښکاره حال صرف د دفع کولو لپاره کافي وی.په دې سره استحقاق نه ثابتيږي.او دلته کي کاریګر ته د خپل استحقاق ثابتولو اړتيا دې.نو داسې دليل راؤړل پکار دی.چه هغې سره استحقاق ثابت شی.او هغه شرعي ګواهي ده.مفتي به قول

فائده: په درمختار کي دی.چه فتوی د امام ابوحنيفه رحمه الله په قول ده.او په تبيين، تنوير، محيط او شرح شاهان وغيره کي دی.چه فتوی د امام محمد رحمه الله په قول ده.په نهايه، کفايه، اوغايه کي د شيخ الاسلام رحمه الله فتوی هم د امام محمد رحمه الله په قول باندې منقول ده.

په اجاره فاسده کښې د مثل اجر وجوب

(وَالْوَاجِبُ فِي الْإِجَارَةِ الْفَاسِدَةِ أُجْرَةُ الْمِثْلِ او په اجاره فاسده کي اجر مثل واجبيږي.لَا يُجَاوِزُ بِهِ الْمُسَمّٰى) چي دا د بيان شوی مقدار نه نه زياتيږي.

تشریح> اجاره چونکه په منزله د بيع ده.په دې وجه کومو شرطونو سره چي بيع فاسديږي.هغې سره اجاره هم فاسديږي.لکه شرط لګول، چي کور اوغورزيږي.بيا به هم کرايه نه ساقطيږي.يا د جرندي اوبه بندې شی.بيا به هم اجرت لازم وی.دغه شان هغه شئ په کوم نې چي اجاره کړې ده.يا د اجرت يا مودې يا د عمل مجهول کيدل وغيره.دې ټولو څيزونو سره اجاره فاسديږي.او اجرت مثل به واجب وی.خود مسمی نه به زيات نشی ورکولې.

مسلک الشافعي> د امام زفر او امام شافعي رحمهما الله په نيز به اجرت مثل ورکولې شی.اګرچه مسمی زيات وی.

دليله> دا حضرات دې په بيع فاسد باندې قياس کوی.چه په دې کي د مبيع قيمت واجبيږي که هر څومره وی.مونږ وايو.چه منافع پخپله متقوم نه وی.بلکه د عقد په وجه متقوم کيږي.او په عقد کي پخپله متعاقدينو اجر مسمی باندې اتفاق کولو سره زياتوالي ساقط کړو.په دې وجه به زياتي مقدار

ساقط الاعتبار وی

الجواب عنه امام زفر او امام شافعي ﷺ چې اجاره په بیع فاسد باندې قیاس کړې ده. ددې جواب دادې.چه دا صحیح نه ده.ځکه چې بیع او اجاره کې فرق دې.او هغه داچه بیع کې مال عین مبیع وی.او مال عین پخپله قیمتی شئ دې.نود بیع اصل مقتضا داده.چه هم دا قیمت واجب وی. ځوکه متعاقدینو د قیمت نه علاوه د ثمن په څه مقدار باندې اتفاق اوکړو.نود قیمت نه به منتقل کیږی.او ثمن به واجب وی.په دې شرط چې عقد صحیح وی.که عقد فاسد وی.نو هم دا اصلی قیمت به واجب وی.په خلاف د اجارۀ، چې په دې کې منافع خرخولې شی.چه دا پخپله قیمتی نه وی.بلکه د خلقو د اړتیا په وجه شریعت دا قیمتی کړی دی.نو که متعاقدینو څه صحیح مقدار مقرر کړې وی.نو هم هغه به واجب وی.اوکه د دواړو څه صحیح فیصله شوې خبره نه وی.نو ددوی مقرر شوې مقدار به معتبر نه وی.بلکه چې کوم قیمت وی.هم هغه به لازم وی.بیا په کوم مقدار چې دوی اتفاق کړې دې.هغې باندې رضامندی موجود ده.نو که عقد صحیح وو.نو هم په دغه اندازه به ملاویدلو.او فاسد اجاره چونکه په صحیح باندې قیاس دې.نو په دې کې به هم ددوی د رضامندئ نه زیات نه ملاویږی.بهرحال که اجر مثل کم وی.نو هم دا به ملاویږی.ګنې د مقرر شوی مقدار نه به زیات نه ملاویږی.

په عقد اجاره سره د اجرت وجوب

(الْأُجْرَةُ لَا تَجِبُ بِالْعَقْدِ) اجرت نه واجبیږی په نفس عقد سره.

تشریح **عدم الاجرة بالعقد** په دې عبارت کې د اجرت د نفس وجوب نفی ده.یا د وجوب اداء نفی ده.په دې باره کې د شارحینو اقوال مختلف دی.تاج الشریعة فرمائیلی دی.چه د وجوب اداء نفی مراد ده.یعنی د نفس عقد په ذریعه د اجرت ادائیګی نه واجبیږی.پاتې شوه د نفس اجرت وجوب، نودا په نفس عقد سرد ثابتیږی.ددې په خلاف د صاحب د کفایه ﷫ رائې داده.چه د نفس وجوب نفی مراد ده.د وجوب اداء نفی مراد نه ده.اودا ئې اجمال او تفصیل دواړو طریقو سره بیان کړې دې.اجمالاً ئې داسې بیان کړې دې.چه په اجرت کې که یو غلام مقرر وی.او درې واړه خبرو کې د یوې خبرې موجود کیدلو نه وړاندې موجر دا غلام آزاد کړی.نودا نه آزادیږی .که د اجرت نفس وجوب ثابتیدلو.نود موجر آزادول به صحیح وو.لکه څنګه چې د بیع په صورت کې کیږی.او تفصیلاً ئې داسې بیان کړې دې.چه اجاره یو عقد معاوضه ده.نو په دې کې به د دواړو ارخه د برابرئ اعتبار کولې شی.حالانکه د معقود علیه (یعنی د منفعت) د ارخه مساوات اونه مونده شو.نه په نفس وجوب کې او نه په وجوب اداء کې .نو هم داسې به د عوض په ارخ کې هم نه موندلې کیږی.

د مستاجر په قبضې سره د اجرت حکم

(وَإِذَا قَبَضَ الْمُسْتَأْجِرُ الدَّارَ) کله چې مستاجر په کور قبضه اوکړله.(فَعَلَيْهِ الْأُجْرَةُ وَإِنْ لَمْ يَسْكُنْهَا)نو په ده باندې اجرت واجب دې.اګرچه په هغې کې نه اوسیږی.

تشریح **وجوب الاجرة بعد القبض** کله چې کرایه دار د کرایه په کور باندې قبضه اوکړله.نو په ده باندې اجرت واجب شو.اګرچه هغه په دې کې رهائش اختیار نکړی.

دلیله ځکه چې دعین منفعت سپارل غیر متصور دی.نو د منفعت محل (یعنی د کرایه کور) سپارل د منفعت سپارلو قائم مقام کړې شو.ځکه چې د منفعت محل سپارلو سره د منفعت حاصلولو قابو ثابتیږی.نو کور سپارل ګویا منفعت سپارل شو.

فائده صاحب د نهایه ﷫ وغیره ذکرکړی دی.چه دا مسئله په یو څو قیوداتو سره مقید ده. ① په

منفعت حاصلولو باندې قابض وی.که په دې باندې قابض نه وی.په دې طریقه چې مالك یا بل څوک اجنبی دې منع کړو.یا مالك كور په داسې حال كې اوسپارلو.چه هغه ددې په اسبابو كې بوخت دې.نو اجرت به نه واجبیږی.

② اجاره صحیحه وی.ځکه چې په اجاره فاسد کې د اجرت د وجوب لپاره حقیقت د استیفاء شرط دې. صرف په موده کې د استیفاء په قابو سره اجرت نه واجبیږی.لکه چې په تتمه فتاوی کې دی.((لا یجب الأجرة فی الإجارة الفاسدة بالتمکن من إستیفاء المنفعة وإنما تجب بحقیقة الإستیفاء)

③ په ذخیره او شرح اقطع کې دی.چه د مستاجر د اړخه قبضه هغه ځائې کې وی.د کوم په حق کې چې عقد واقع شوې وی.تردې که د کوفه پورې ئې سوارلې په اجاره واخستله.او مساجر په دې باندې قبضه اوکړله. او په بغداد کې ئې اوساتله.تردې چې دومره موده تیره شوه.چه په دې کې کوفې ته رسیدلې شی.نو اجرت به نه واجبیږی.او که دا ئې خپل خان سره کوفې ته بوتلله.او په دې باندې سور نشو.نو اجرت به واجب وی.(د امام شافعی او امام احمد رحمهما الله په نیز به دواړو صورتونو کې اجرت واجب وی).

④ د منفعت په استیفاء باندې د اجاره په موده کې قابض کیدل.که د نن ورخ کوفې ته تللو لپاره ئې سوارلې په اجرت باندې واخستله.او د نن ورځې تیریدلو نه روسته ئې سوارلې واخستله.او کوفې ته لاړو.او سور نشو.نو اجرت به واجب نه وی.

(فَإِنْ غَصَبَهَا غَاصِبٌ مِنْ يَدِهِ)یاکه دا مستاجر نه یو غاصب غصب کړلو.سَقَطَتْ الْأُجْرَةُ)نو اجرت به ساقطیږی.

تشریح> کوم صورت چې ذکر شوې دې.که په دې کې عین مستاجره دمستاجر نه یو غاصب غصب کړو.نود مستاجر د ذمې نه به اجرت ساقطیږی.

دلیله> ځکه چې د کرایه والا شئ حواله کول،د نفع حواله کولو قائم مقام ځکه ګرخولی شوی دی.چه ده په نفع باندې قبضه حاصل وی.هرکله چې دا ختم شو.نو سپارل هم ختم شو.او عقد فسخ شو.نو اجرت به هم ساقطیږی.اوکه د اجارې په یوه موده کې یو جزء غصب کړې شو.نو د څومره مودې پورې چې غصب اومونډې شو.هم په دغه اندازه به اجرت هم ساقطیږی.ځکه چې د عقد فسخ کیدل ددې مودې په بعض جزء کې دی.

د کرایه د کور دعیب په وجه د اجارې فسخ کولو حکم

وان وَجَدَ بِهَا عَيْبًا اوکه وې موندلو په دې باندې داسې عیب اوموندلو.يَضُرُّ بِالسُّكْنَى چې دا داوسیدلو لپاره نقصان ده دې.فَلَهُ الْفَسْخُ)نو ده ته د فسخ کولو اختیار شته.

تشریح> یوکس یوکور په اجاره واخستلو.بیا ئې په دې کې داسې عیب اوموندلو.چه دا د اوسیدلو لپاره ضررناك دې.نو مستاجر ته به د عقد فسخ کولو اختیار وی.

دلیله> ځکه چې معقود علیه منافع دی.او هغه په لږه لږه موجود کیږی.نودا عیب د قبضه نه وړاندې پیدا شو.نو ده ته به اختیار حاصل وی.لکه څنګه چې بیع کې کیږی.بیا که مستاجر منفعت حاصل کړو.نو هغه عیب سره راضی شو.په دې وجه د احنافو، امام مالك، امام احمد او د امام شافعی رحمهم الله په بنکاره قول کې به دده په ذمه پوره عوض لازم وی.لکه څنګه چې بیع کې دی.که اخستونکی عیب سره راضی شی.نو پوره ثمن به واجب وی.او که د عقد اجاره ماتولو نه وړاندې موجر داسې اصلاح اوکړله.چه په دې سره عیب ختم شو.نو مستاجر ته به د فسخ اختیار نه وی.ځکه چې ددې سبب ختم شوې دې.او هغه

ددې اخستونکي جوړ شوې دي.

مستاجر ځيز کښې د عيب په پيدا کيدو عقد فسخ کيدل

(وَإِذَا خَرِبَتِ الدَّارُ أَوِ انْقَطَعَ شِرْبُ الضَّيْعَةِ أَوِ انْقَطَعَ الْمَاءُ عَنِ الرَّحَى کله چې کور وران شي.يا د اوبه خور د زمکې يا د جرندې اوبه بندې شي.انْفَسَخَتِ الْإِجَارَةُ)نو اجاره به فسخ کيږي.

تشريح> عقد اجاره په يو څو امورو سره فسخ کيږي.

د اجاره فسخ کولو پروميې صورت> يو داسې عيب پيدا شي.چه هغې سره منفعت فوت شي.چه ددې تصريح په وراندې صفحه باندې تير شوې دې.لکه کور ورانيدل، د جرندې يا د زمکې د فصل د اوبو بنديدل وغيره.

دليله> ځکه دا داسې دی.لکه د قبضې نه وړاندې مبيع فوت شي.نو بيع فسخ کيږي.يا لکه په اجاره باندې اخستې شوې غلام مړ شي.آئمه ثلاثه ﷺ هم ددې قائل دی.

په متعاقدينو کښې د يو په مرګ سره د عقد فسخ کيدل

(وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الْمُتَعَاقِدَيْنِ کله چې متعاقدينو کې يو کس مړشو.وَقَدْ عَقَدَ الْإِجَارَةَ لِنَفْسِهِ او حال داچه اجاره ده دخپل ځان لپاره ترلې وه.انْفَسَخَتِ الْإِجَارَةُ)نو اجاره به فسخ کيږي.

تشريح> که په موجر او مستاجر کې يوکس مړشي.چه هغه عقد اجاره د خپل ځان لپاره کړې وی.(د بل چا د اړخه وکيل يا وصی نه وو) نو د احنافو، شعبی ، ثوری ،ابوسليمان او د ليث بن سعد ﷺ په نيز اجاره فسخ کيږي.

دليله> که موجر مړ شي.نو اجاره به ځکه فسخ کيږي.چه د مرګ نه روسته شئ دده د وارثانو شو.اوس که مستاجر ددې نه نفع حاصله وی.نود غير د ملك نه به منتفع کيدل لازميږي.او دا جائز نه ده.اوکه مستاجر مړشي.نو ځکه به فسخ وی.چه په دې صورت کې د غير ملك نه د اجرت اداکول لازميږي.اودا هم جائز نه ده.

(وَإِنْ كَانَ عَقَدَهَا لِغَيْرِهِ اوکه د بل چا لپاره ئې ترلې وی.لَمْ تَنْفَسِخْ)نو نه به فسخ کيږي.

او که اجاره د غير لپاره وی.مثلاً يو وکيل د موکل لپاره کړې وه.يا وصيت کونکی د يتيم لپاره کړې وه.يا عقد کونکې متولی د وقف وو.نو په دواړو عقد کونکو کې د يو په مرګ سره اجاره نه فسخ کيږي.

دليله> ځکه چې په دې صورت کې د ملك غير نه منتفع کيدل يا اجرت اداکول نه لازميږي.د آئمه ثلاثه، ابن سيرين، اياس بن معاويه، عثمان بتی ، اود ابوثور ﷺ په نيز اجاره په يو حال کې هم نه فسخ کيږي.بلکه وارث به قائم مقام وی.ځکه چې ددوی په نيز منافع د اعيانو پشان دی.او اجاره عقدلازم دې. (فلاتنفسخ بالموت).

په اجاره کښې د خيار شرط لګول

(وَيَصِحُّ شَرْطُ الْخِيَارِ فِي الْإِجَارَةِ)او صحيح ده.په اجاره کې شرطِ خيار، كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه څنګه چې په بيع کښې جائز دې

تشريح> زمونږ په نيز اجاره کې خيارشرط کول صحيح دی.نو که موجر يا مستاجر لپاره

خیار شرط وی.نو هغه ددې په وجه اجاره فسخ کولې شي. (۱)

وجه الجمع او په بیع او اجاره کې جامع وجه ارتیا دفع کول دی.چه دوه درې ورځې سوچ او فکر اوکړی.چه خساره (اوتاوان) اونشی.اوکه په اجاره کې بعض معقود علیه فوت شی.نو بالاتفاق د خیار عیب په وجه واپس کولې شی.نو دغه شان به د خیار شرط په وجه هم واپس کولې شی.په خلاف د بیع، چې په بیع او اجاره کې فرق دې.او هغه داچه بیع کې پوره واپس کول ممکن دی.اجاره کې ممکن نه دی.په دې وجه بیع کې د کُل واپسی شرط کرې شوه.اجاره کې شرط نکرې شوه.

په عذرونو سره د اجاره فسخ کولو حکم

(وَتُنْفَسِخُ الْإِجَارَةُ بِالْأَعْذَارِ)او فسخ کولې به شي اجاره د عذرونو په وجه.

تشریح که عقد اجاره شوې وی نو د څه عذر په وجه عقد اجاره فسخ کیږی (۲)

دلیله دلیل دادې.چه ددې شئ په ټولو نفعو باندې قبضه نشی کیدې.حالانکه هم دا معقود علیه دی.نو اجاره کې عذر داسې شو.لکه په بیع کې د قبضة نه وړاندې عیب وی.نود عذر په وجه فسخ کولې شی.ځکه چې د عقد ماتولو دجواز چې کوم سبب دې.هغه په بیع او اجاره دواړو کې موجود دې.او هغه سبب دادې.چه عاقد د عقد د موجب موافق معامله نشی کولې.مګر په دې طریقه چې داسې زیاتی ضرر اوچت کړی.چه دهغې استحقاق د عقد په ذریعه نه دې شوې.او زمونږ په نیز د عذر هم دا معنی ده.که عاقد اجاره باقی اوساتی.نو ددې به داسې نقصان لازمیږی.کوم چې په ده باندې عقد اجاره سره نه لازمیږی.

تنبیه شیخ ابن العز رحمه الله په دې مقام باندې دا اعتراض کړې دې.چه په عذرونو او د متعاقدینو په مرګ سره اجاره فسخ کیدل، یو داسې خبره ده.چه په دې نه څه دلیل موجود دې.نه قول د صحابی ، او نه اجماع،بلکه صرف د عیب په وجه د بیع په فسخ باندې قیاس دې.خوصرف د موصوف دا اعتراض ډیر زیات کمزورې دې.ځکه چې شرعی ادلة اربعة څنې قیاس یو مستقل دلیل دې.چه ددې تحقق د حکم شرعی د اثبات لپاره کافی دې.چه زمونږ په دلائلو کې موجود دې.

د مال ضائع کیدو یا د فقیر کیدو په عذر سره د اجاره فسخ کولوحکم

(كَمَنْ اسْتَأْجَرَدُكَّانًا فِي السُّوقِ کله که څوک دوکان په کرایه باندې واخستلو.په بازار کې .لِيَتَّجِرَفِيهِ چې په دې کې تجارت اوکړی.فَذَهَبَ مَالُهُ بیا دده مال لاړلو.وَكَمَنْ آجَرَدُكَّانًا أَوْدَارًا دغه شان کله چې یو کس دوکان یا کور کرایه باندې ورکړو.ثُمَّ أَفْلَسَ بیا هغه فقیر شو.فَلَزِمَتْهُ دُيُونٌ لَايَقْدِرُعَلَى قَضَائِهَا إِلَّا مِنْ ثَمَنِ مَا آجَرَ او د هغه په ذمه دومره قرض راغلې.چه هغه دې نشی اداکولې.خو په کرایه باندې د ورکړی شئ په قیمت سره،فَسَخَ الْقَاضِي الْعَقْدَ نو فسخ دې کړی قاضی عقد ، وَبَاعَهَا فِي الدَّيْنِ)او خرڅ دې کړی دا په قرض کې .

تشریح یو سړی په بازار کې یو دوکان په کرایه واخستلو. چې په دې کې تجارت اوکړی.بیا د هغه مال هلاك شو.نو هغه به لازماً اجاره فسخ کوی.دا خود مستاجر د عذر مثال دې.د موجر دعذر مثال دا

---

(۱) **مسلك الشافعي:**-د امام شافعی رحمه الله په نیز عقد اجاره کې خیارکیدل صحیح نه دی.

(۲) **مسلك الائمة:**-د آئمه ثلاثه او ابوثور رحمهم الله په نیز صرف د عیب په وجه فسخ کول جائز دی.

دي.چه ده خپل دوکان یا کور کرایه باندې ورکړو.بیا فقیر شو.او په ده باندې دومره قرض راغلې.چه ددې اداکول ددې نه بغیر ممکن نه دی.چه کوم شئ ده په کرایه باندې ورکړې دې.هغه خرڅ کړي.اود هغې په قیمت ئې ادا کړي.نودا صحیح عذر دې.نو قاضی به اجاره فسخ کوي.او دده دوکان یا کور به قرضه کې خرڅ وی.

دلیله> ځکه چې د عقد په مقتضاء باندې چلیدلو کې دده په ذمه داسې زیاتي ضرر لازمیږی.د کوم چې دې عقد سره مستحق شوې نه وو.او هغه زیاتی ضرر دادې.چه قرضه ادا نکړی.نو ګرفتارولې به شی.او قید کې به اچولې شی.په دې شرط چې نور مال وی.او کله کله په نور مال نه کیدلو باندې دده تصدیق نه کیږی.

د سفر ضرورت راپیښیدو په عذر سره د کرایه د خاروی اجاره فسخ کولوحکم

(وَمَنِ اسْتَأْجَرَ دَابَّةً یوکس یو حیوان (څاروی) په کرایه باندې واخستلو. لِيُسَافِرَ عَلَيْهَا چې په دې باندې سفر اوکړی. ثُمَّ بَدَا لَهُ مِنَ السَّفَرِ بیا دده رائې بدله شوه. فَهُوَ عُذْرٌ)نو دا عذر دې. (وَإِنْ بَدَا لِلْمُكَارِي اوکه په کرایه باندې د تلونکی رائې بدله شوه. فَلَيْسَ ذَلِكَ بِعُذْرٍ)نو دا عذر نه دې.

تشریح> په جمهره او جمل وغیره کې دی.چه بدا (ن) بدوا ، بداءً: په معنی د ښکاره کیدلو دې. او ،، بدالی فی هذا الأمر،، هغه وخت ونیلې شی.کله چې رومبئ رائې بدله شی . (فلان ذو بدوات) فلانې سرې مختلف رایو والا دې.یعنی دده په رایو کې مضبوطی نشته.

قوله: ثم بدا له من السفر ددې مطلب دادې ،، بداله صلاح خلاف ما قصده من السفر،، یعنی مخکې چې د سفرکومه اراده وه.د هغې خلاف غوره ښکاره شوه.نود ،،بدا،،فعل فاعل محذوف نه دې.بلکه په دلالت د محل د کلام فاعل مضمر دې.نو ددې ارخ ته د ضمیر راګرځیدل صحیح دی. (کما فی قولهم إن کان غدا فلتئی إن کان ما نحن فیه غدا فاتنی) د کتاب ددې عبارت مطلب اود مسئلې حکم ژبارې نه واضح دې.

دلیله> ځکه که هغه په موجب د عقد باندې چلیږی.نو ده ته به زیاتی ضرر لازم شی.ځکه کیدې شی.چه هغه حج ته ځی.او ددې وخت تلې وی.یا د قرض دار په لټون کې ځی.خو هغه حاضر شو.یا ئې تجارت لپاره تلل غوښتل.خو هغه فقیر شو.نو ځکه ده دپاره د دې عذر د وجې عقد اجاره فسخ کول جائز دی

كِتَابُ الشُّفْعَةِ

ترجمه> دا کتاب د شفعة په بیان کې دې.

تشریح> په کتاب الاجاره او کتاب الشفعة کې مناسبت دا دې چې په اجاره کښې هم د اجارې د انعقاد دپاره څه شرطونه دی او دغه شان د دې فسخ هم د څه عذرونو د وجې راځی هم دغه شان د شفعې د ثبوت دپاره هم څه شرطونه دی او د څه عذرونه هم داسې دی چې د هغې په وجه شفعه فسخ کیږی د دې نه علاوه په دواړو کښې هم د غیر د حق ثابتولو کښې اشتراك دې.

تعریف الشفعة> علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې فرمائیلی دی .چه شفعه د شفع نه مشتق ده.او ددې معنی ملاوول دی.اوس سوال دا پیدا کیږی.چه دلغوی او اصطلاحی معنی په مینځ کې څه مناسبت دې.نوددې جواب دا دې.چه د ملاولو معنی دشفعة په اصطلاحی معنی کې هم موجود ده.ځکه چې په شفع کې شفیع مبیع د خپلې زمکې سره یوځائې کوی.د شفع اصل معنی ده.(ضم مثله إلیه) یعنی یوځیز دخپل مثل سره ملاوول.مرغینانی رحمه الله د اختصارد امله صرف په ملاوولو باندې اکتفاءکړې ده د شفعة

اصطلاحی تعریف دا دي. ھی تملك البقعة بما قام علی المشتری بالشرکة أو الجوار

په شفعه کښې ترتیب

الشُّفْعَةُ وَاجِبَةٌ فرمائیلی دی. امام قدوری رحمه الله چې شفع ثابته ده لِلْخَلِيطِ فِي نَفْسِ الْمَبِيعِ د شريك في المبيع دپاره، ثُمَّ لِلْخَلِيطِ فِي حَقِّ الْمَبِيعِ بيا په حق المبيع کې د شريك دپاره، كَالشِّرْبِ وَالطَّرِيقِ لكه شرب او لاره، ثُمَّ لِلْجَارِ او بيا د ګاونډی دپاره.

حل اللغة ﴿١﴾ **الخليط**: شريکوال ﴿٢﴾ **الطريق**: لاره، ﴿٣﴾ **الجار**: ګاونډی

تشریح **اقسام الشفیع** شفعه چونکه د اتصال په بنا (بنیاد) ملاویږی. او په اتصال کې درې فریق ګڼ دی. ﴿١﴾ چې په عین مبیع کې شریك وی. ﴿٢﴾ اول شرکت وو او اوس ویش شوی دی. البته په اوبو او لاره کې شرکت باقی دی. ﴿٣﴾ چه یود بل ګاونډی وی دا درې واړه امام قدوری رحمه الله بیان کړی دی. (١)

فائدة العبارة مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې فرمائی. چه د امام قدوری رحمه الله قول (للخليط الخ) د دوو خبرو فائده ورکوی. یوه دا چې په درې واړو ته د شفعة حق ملاویږی. دا بیله خبره ده. چه اقوی موجود وی. نو ضعیف محروم وی. دویمه د دوی په مینځ کې د شفع د استحقاق ترتیب هم هغه دی. کوم چې ذکر کړی شوی دی. یعنې شریك فی نفس المبیع د ټولو نه مقدم دی. او وروسې شریك فی حق المبیع د اول نه کمزوری او د آخری نه قوی دی. او ګاونډی د ټولو نه ضعیف دی. بهرحال د قدوری رحمه الله د کلام نه نفس ثبوت او ترتیب ثابت شو.

دلائله ﴿١﴾ قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ الشُّفْعَةُ لِشَرِيكٍ لَمْ يُقَاسِمْ (٢) شعفه د شریك دپاره ده ترڅو چې تقسیم شوی نه وی

﴿٢﴾ قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {جَارُ الدَّارِ أَحَقُّ بِالدَّارِ وَالْأَرْضِ يَنْتَظِرُ لَهُ وَإِنْ كَانَ غَائِبًا إِذَا كَانَ طَرِيقُهُمَا وَاحِدًا} (٣)

او نبی کریم ارشاد دی د کور ګاونډی زیات حقدار د کور دی او د زمکې دی. او انتظار به کولای شی ده ته اګرکه غائب وی خو په دې شرط چې د دواړو لاره یوه وی

﴿٣﴾ قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {الْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ قِيلَ يَارَسُولَ اللَّهِ مَا سَقَبُهُ؟ قَالَ شُفْعَتُهُ}

---

[١] **مسلك الشافعي**:- امام شافعی د جوار د امله د شفعة د حق نه انکار کړی دی. ځکه چې هغوی صرف د شریك فی المبیع لپاره د شفعة قائل دی. بیا نې یو حدیث پیش کړی دی. چه شفعه په داسې زمکه کې ده. چه په هغې کې ویش نه وی شوی. او کله چې حدود واقع شی. او لارې جلا شی. نو بیا شفعه نشته. بهرحال د دې حدیث نه په ظاهره هم دا صفا معلومیږی. چه چې د نفس جوار د امله بغیر شرکته شفعه نشته،

١) قال الزيلعي رحمه الله غريب وأخرجه مسلم (أى في المساقاة رقم ١٣٤) عن عبدالله بن إدريس ... عن جابر رضي الله عنه قال قضى رسول الله ﷺ بالشفعة في كل شركة لم تقسم ربعة أو حائط لا يحل له أن يبيع حتى يؤذن شريكه فإن شاء أخذ وإن شاء ترك فإذا باع ولم يؤذنه فهو أحق به (نصب: ٤\٤٢٢)ـ

٢) قال الزيلعي رحمه الله هو مركب من حديثين فصدره من حديث قتادة رضي الله عنه أخرجه مسلم في المساقاة رقم ١٣٥ وأبوداود في البيوع باب ٧٣ رقم ٣٥١٣ والنسائي في البيوع باب ٨٠) وآخره من حديث جابربن عبدالله رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الجار أحق بشفعة جاره ينتظرها وإن كان غائباً إذا كان طريقهما واحد أخرجه أحمد في مسنده (٤\٣٨٨) نصب: ٤\٤٢٢- ٤٢٣)ـ

اود نبی ﷺ ارشاد دي چې ګاونډی دخپلې حصې زيات حقداردې، نو پوښتنه اوشو يا رسول الله ﷺ حصه څه شئ دي؟ نو نبی ﷺ اوفرمائيل. د ده شفعه ده

ارشاد دې قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ الْجَارُ أَحَقُّ بِشُفْعَتِهِ(١) او دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دې چې ګاونډی د شفعې زيات حقدار دې

احاديث وراندې تيرشو چې شفيع په درې قسمه دي.نوځکه به د شفعة د ثبوت لپاره درې احاديث بيانوو. ① دهغه شريك لپاره دشفعة ثبوت.چه هغه لا ويش نه وی کړي.② د کور ګاونډی د زمکې زيات حقدار دې.دده به انتظارکولې شی.اګرچه غائب وی.خوبه دې شرط چې د دواړو لاره يوه وی.ددې حديث نه د شريك فی حق المبيع لپاره شفع ثابته شوه. ③ ګاونډی دخپل سقب زيات حقداردې.اوبه يو روايت کې دی.چه (الجار أحق بشفعته)

دشفعه په ترتيب باندې دحديث نه استدلال

المراد من الخليط والشريك> د شريك ،خليط او شفيع نه څوك مراد دی؟ څوك چې په نفس مبيع کې شريك وی.دهغه نه ئې په شريك سره تعبيراوکړلو.اوڅوك چې د مبيع په حقوقوکې برخه داروی.دهغه نه ئې په خليط سره اؤد ګاونډی نه ئې په شفيع سره تعبيراوکړلو.

دلائل الترتيب في الشفعة> ① وراندې تيرشو.چه دا کلام د دوو خبرو لپاره مفيد دې.ثبوت او ترتيب،دا دوئم څيزدلته بيانوی.قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ (الشَّرِيكُ أَحَقُّ مِنَ الْخَلِيطِ وَالْخَلِيطُ أَحَقُّ مِنَ الشَّفِيعِ)(٢)د نبی ﷺ ارشاد دې. چې شريك د خليط نه زيات حقدار دې.اوخليط د شفيع نه زيات حقدار دې.

په دې باندې استدلال داسې کولې شی چه شريك د خليط نه زيات مستحق دې.اوخليط د شفيع نه زيات مستحق دې.

② عقلی دليل دا دې چې په مبيع کې دچا شرکت وی.دا اتصال د نورونه زيات قوی دی.ځکه چې دا اتصال دمبيعې په هريوجزء کې دې.اوددې نه روسته دحقوقو اتصال د جارداتصال نه قوی دې.ځکه چې دا اتصال دملك په منافعو کې اتصال دې.اودا يومسلم اصول دې.چه د سببد قوت په وجه باندې ترجيح حاصليږی.اود سبب قوت په اول کې زيات دې.بيا په دوئم کې نود شفعة په ملاويدوکې به هم دا ترتيب جاری کيږی.

شريك فی المبيع به په جار مقدم وی

وَلَيْسَ لِلشَّرِيكِ فِي الطَّرِيقِ وَالشِّرْبِ وَالْجَارِ شُفْعَةٌ اونشته په لاره او په شرب کې د شريك لپاره اودجار لپاره شفعه،مَعَ الْخَلِيطِ دخليط سره،

حل اللغة> ① **خليط** :شريك،

٣) من حديث أبي رافع مولى النبي ﷺ أخرجه البخاري في الشفعة باب ٢ وأبوداود في البيوع باب ٧٣ رقم ٣٥١٦ والنسائي في البيوع باب ١٠٩ من المجتبى وفي السنن الكبرى (١٦\٤) رقم ٦٣٠٠)ـ

١) قال الزيلعي رحمه الله غريب وذكره ابن الجوزي في التحقيق وقال إنه حديث لا يعرف وإنما المعروف ما رواه سعيد بن منصور .... قال الشعبي قال النبي ﷺ الشفيع أولى من الجار والجار أولى من الجنب ثم قال قال الزيلعي رحمه الله هذا الحديث رواه عبدالرزاق في مصنفه عن ابن المبارك ...عن شريح قال الخليط أحق من الشفيع والشفيع أحق من الجار والجار أحق ممن سواه (نصب:٤٢٦\٤)ـ

تشریح امام قدوری فرمائی چه شریك فی المبیع موجود وی.نو شریك فی الحقوق اوجارته به شفعه نه ملاویږی.ددې دلائل وړاندې تیرشوی دی.

داولنی مستحق خپل حق پرېښولو صورت

(فَإِنْ سَلَّمَ الْخَلِيْطُ که پرېږدی هغه (شریك فی الرقبه) فَالشُّفْعَةُ لِلشَّرِيكِ فِي الطَّرِيقِ نوشفعه د لارې د شریك لپاره ده.،فَإِنْ سَلَّمَ اوکه هغه هم دستبرداره ی.أَخَذَهَا الْجَارُ)نواخلی به دا ګاونډی

تشریح د شفعاو په مینځ کې هم هغه ترتیب دې.کوم چې مونږ بیان کړلو.خوکه شریك فی الرقبه نه وی.نوشریك فی الطریق دااخستې شی.اوکه هغه نه وی.نوبیا ئې جاراخستې شی.او صاحب د هدایه په دې مقام کې د جارتفسیرکړې دې.چه دا هغه څوك دې.چه دده کور د دارمشفوعه په شا باندې وی.اودهغې دروازه په بله کوڅه کې وی.

دلیله که د څه کسانوبه چا باندې دصحت دوخت قرض وی.اودڅه کسانو پرې د مرض الوفات د وخت قرض وی.نوداولنی قرض خواه حق مقدم دې.یعنی دمړی د میراث نه به اول د اولنی قرض ادا کولې شی.که دهغه نه زیاتی شی.نوبیا به د نورو قرض خواهانو قرض ادا کولې شی.خوکه اولنی کس خپل حق معاف کړی.نوبیابه دټولونه وړاندې دبل فریق حق ادا کولې شی.بعینه هم دغه شان د شفعه په مسئله کې هم،ځکه چې سبب د شفعه دهر یو لپاره ثابت دې.خود شریك فی الرقبه حق مقدم دې.نوچه هغه خپل حق نه اخلی.نونورو ته به شفعه ملاویږی.دا د ظاهر روایت دلیل دې.

روایة ابي یوسف امام ابویوسف رحمه الله فرمائی.چه دپلارد اړخه انا چې موجود وی.نود مورد اړخه انا محرومه وی.ځکه چې دمورد اړخه دنیا مورمحجوبه ده د پلارد اړخه انا د وجې،برابره ده چې دپلارد اړخه انا په خپله میراث اوړی اوکه نه اوړی.دغه شان د شریك فی الرقبه دوجود په وخت کې به نور نفر محجوب وی.اوهغوی به په هرحال کې محجوب وی.برابره ده که شریك فی الرقبه خپل حق اخلی اوکه نه اخلی.

دشفعه حق کله.څنګه اوولې ثابتیږی؟

وَالشُّفْعَةُ تَجِبُ بِعَقْدِ الْبَيْعِ اوشفعه واجبیږی په عقددبیع باندې

تشریح وړاندې په تفصیل سره تیرشو..چه د شفعه سبب اتصال دې.او دې شرط بیع ده.که اتصال وی خو بیع نه وی.نو نه ثابتیږی.

توضیح الباء صاحب د هدایه په دې مقام کښې فرمائی چې په (بعقد البیع) کې باء د سبب لپاره نه ده.ګنی بیا به دا لازم شی.ه بیع سبب د شفعه دې.حالانکه سبب اتصال دې.بیا دلته یو سوال پیدا کیږی.چه د بیع نه روسته شفعه ولې ثابتیږی.نو وې فرمائیل چې کور په اصل کې د مالك ملکیت دې.د هغه نه دې نشی رد کولې.البته دا که مالك د خپل کور نه اعراض اوکړی.او بل چا ته ئې ورکول غواړی.او خرڅ ئې کی.نو دده اعراض کول په پوهه کې راځی.ځکه چې دې بیع ته اماده شو.نودا اعراض ښکاره کوی.اوکله چې اعراض موجود شو.نو بیا شفعه ثابتیږی.ددې امله مونږ وایو.چه شفعه به د بیع نه روسته ثابتیږی.هرکله چې د شفع دارومدار د بائع په اعراض باندې دې.نو د هغه د اړخه د بیع موجود د شفعه د ثبوت لپاره کافی دې.نو که بائع د بیع اقرار اوکړو.او مشتری انکار کوی.نو شفیع ته به شفعه ملاومیږی.ځکه چې د بائع د اقرار په وجه دده اعراض موجود شو.او هم دا اعراض د شفعه شرط دې.

دطلب اشهاد او طلب مواثبه حيثيت

(وَتَسْتَقِرُّ بِالْإِشْهَادِ) اوشفعه پخيږي په طلب اشهاد باندې

حل اللغة ① **تستقر**: پخيږي ② **الاشهاد**: ګواه جوړول

تشريح د شفعې سبب خو اتصال دې.او شرط ئې بيع ده.خو ددې دواړو باوجود که شفيع بغير دځه عذر نه چوپ پاتې شو.نو شفعة به ورته نه ملاويږي.بلکه چې څنګه ورته معلومه شي.نو مواثبه ضروري ده.او بيا د احتياط لپاره په دې باندې ګواهان قائمول او بيا طلب خصومت يعنی د قاضی عدالت ته تللل او د شفعې طلب کول.اوددې مطالبو په مينځ کې هم ترتيب دې.دکوم تفصيل چې اوس راځي.

دليله شفعة حق ضعيف دې.کوم چې په اعراض سره باطليږي.نو ضروري شوه.چه داسې دليل موجود شي.په کوم چې دده اعراض نه کول ثابت کړې شي.او هغه طلب اشهاد دې.اوس به ددې نه دا معلومه شي.چه شفيع د شفعې نه اعراض نه دې کړې.بلکه رغبت ئې کړې دې.

جاري شفيع به د مشفوعه کله مالک جوړيږي؟

(وَتُمَلَّكُ بِالْأَخْذِ) او کور مملوک ګرځي په اخستلو سره إِذَا سَلَّمَهَا الْمُشْتَرِي کله چې اوسپاري.مشتري هغه ده ته، أَوْحَكَمَ بِهَا حَاكِمٌ) يا حاکم ددې حکم اوکړي.

حل اللغة ① **تملک**: مالک جوړيږي ② **ينتقل**: نقل کيږي

تشريح امام قدوري رحمه الله فرماني.چه داتصال او بيع باوجود او د اشهاد باوجود تراوسه پورې شفيع ددې کور مالک نه دې.بلکه د مالک جوړيدو لپاره دوه صورتونه دی.يا چې مشتری شفيع ته هغه کور حواله کړي.يا قاضی فيصله اوکړي.په دواړو صورتونو کې چې کوم صورت هم موجود شي.نو شفيع به د دغې مالک جوړيږي.

دليله څکه چې مشتري دده د کور مالک شوې دې.اود هغه ملکيت تامه دې.د هغه کور چې د هغه دملکيت نه اوباسي.نو دده لپاره په خوشحالۍ سره د هغې سپارل دی.يا د حاکم فيصله ده.

نظيره که يوکس چاته خپل کور هبه کړو.او قبضه ئې ورله هم ورکړله.او اوس واهب هغه کور د موهوب له نه واپس اخستل غواړي.نو ددې دوه صورتونه دی.چه يا ئې موهوب له په خپلې رضا او خوشالۍ سره واپس کړي.اويا د حاکم په فيصلې سره.بعينه هم دغه صورت دلته هم دې.چه يا ئې خو مشتري په خپله شفيع ته ورکړي او يا دحاکم فيصله اوشي.

د شفعه طلب او مطالبه

(وَإِذَا عَلِمَ الشَّفِيعُ بِالْبَيْعِ) اوکله چې شفيع ته د بيع علم اوشو. أَشْهَدَ فِي مَجْلِسِهِ ذٰلِكَ عَلَى الْمُطَالَبَةِ) نو هم په خپل دغه مجلس کې به په مطالبه باندې ګواهان جوړ کړي.

تشريح کله چې شفيع ته دا معلومه شوه.چه زما ګاوندی خپل کور په فلانی باندې خرڅ کړلو.نو چې څنګه ورته معلومه شي.ده لپاره ضروري ده.چه طلب مواثبه اوکړي.يعنی چې دا ووايي چې فلانی په فلانی باندې خپل کور خرڅ کړې دې.حالانکه زه ددې شفيع يم.په شفعه کې به دغه کور زه اخلم.چونکه دا طلب عجلت او فوريت غواړي.نوځکه د دې نوم طلب مواثبه کيخودې شو.ددې امله که ده د علم نه روسته هم طلب مواثبه اونکړله.نودده شفعه به باطله شي.ددې دليل وړاندې تير شوې دې.

دليله> قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {الشُّفْعَةُ لِمَنْ وَاثَبَهَا} [1] نبي ﷺ فرمائيلي دي چې شفعه د هغه چا لپاره ده چې طلب مواثبه اوکړي يعني شفعه د هغه لپاره ده.چه ددې طلب مواثبه اوکړي.

طلب اشهاد به په کوم ځائي کښې کوي

ثُمَّ يَنْهَضُ مِنْهُ يا دې ددې يعنى دمجلس نه پاسي (فَيُشْهِدُ عَلَى الْبَائِعِ.اويه بائع دې گواهان قائم کړي. إِنْ كَانَ الْمَبِيعُ فِي يَدِهِ) که مبيعه د هغه په قبضه کې وه (أَوْعَلَى الْمُبْتَاعِ او يا دې مشترى سره گواهان قائم کړي. أَوْعِنْدَ الْعَقَارِ اويا زمکې سره.، فَإِذَافَعَلَ ذَلِكَ نو هرکله چې ده داسې اوکړل اسْتَقَرَّتْ شُفْعَتُهُ) نو د ده شفعة پخه شوه

تشريح> يعنى کله چې شفيع د علم په مجلس کې طلب مواثبه اوکړله.نو ده لره پکار دى.چه اوس بهرته راوځي.او طلب اشهاد اوکړي.نوکه مبيعه د بائع په قبضه کې وه.د هغه په حضور کې دې گواهان قائم کړي.اويا دې د مشترى سره گوان قائم کړي.اود مبيعة سره هم گواهان جوړولې شي.

دليله> د مبيع سره خو ځکه چې حق هم په هغې کې دې.اود بائع او مشترى سره ځکه چې دغه دواړه خصم جوړيدې شي.البته که مبيعه ئې مشترى ته حواله کړې وه.نو اوس دې اجنبي شوې دې.نه دده ملکيت پاتې شواونه ئې قبضه،نو اوس ده سره اشهاد هسې عبث دې.بهر حال ددې دواړو طلبونو نه روسته شفعه مضبوطيږي.خومملوك به نه وى.ددې تفصيلي بحث وړاندې تير شوې دې.

د طلب اشهاد په تاخير د شفعه د سقوط يا عدم سقوط حکم

وَلَمْ تَسْقُطْ او شفعه نه ساقطيږى بِالتَّأْخِيرِ ددې طلب د روسته کولو په وجه . عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله [2] دابوحنيفه رحمه الله په نيز،

حل اللغة> ① **التاخير**:وروستوالي ② **تسقط**: ساقطيږى

تشريح> **مسلک ابي حنيفة>** وړاندې تيرشو.چه د طلبينو نه روسته په شفعه کې مضبوطتيا پيدا کيږى.نو امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى.او دامام ابويوسف رحمه الله هم يو روايت دا دې.چه په طلب خصومت کې په تاخير سره شفعه نه باطليږى.

دليله> دا دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دې.د کوم په باره کې چې مونږ ځه بيان کړې دې.دوى فرمائى.چه اصول مقرره دا دى.چه حق کله ثابت شى.نو هغه نه ختميږى.البته دا که صاحب حق ئې ساقط کړى.نو دا بيله خبره ده.اويه توهماتو سره اسقاط نه کيږى.بلکه د صاحب حق زبانى صراحت پکاردې.په ټولوحقوق کې هم دا اصول دى.نو په حق شفعه کې به هم دا اصول جارى کيږى.

مسلک ابي يوسف> اود امام ابويوسف رحمه الله دوئم قول دا دې.چه کله شفيع ته معلومه شى.چه قاضى په فلانۍ ورځ په خپل عدالت کې کينى.اوده ته ځه عذر نه وو.او ددې باوجود ده طلب خصومت اونکړلو.نو شفعه باطله شوه.ځکه چې دا په اعراض بانديې دلالت کوى.او په نه اخستلوباندې.تاخير مسقط دې اوکه نه دا اختلاف په هغه وخت کې دې.کله چې تاخير بغيرد عذر نه وو.اود عذر د امله نه

[1] قال الزيلعي رحمه الله غريب واخرجه عبدالرزاق في مصنفه من قول شريح إنما الشفعة لمن واثبها وكذالك ذكره القاسم بن ثابت السرقسطي في كتاب غريب الحديث في باب كلام التابعين وهو آخرالكتاب (نصب:٤\٤٢٨)_

[2] القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله لكن الفتوى اليوم على قول محمد رحمه الله لأنه أوفق لهذا الزمان كذا في الكفاية (٨\٣١٠) ومجمع الأنهر (٤/١٠٦) ور المختار (٥/١٥٩) نقلاعن القول الراجح (٢/١٧٠)-

تاخیر په اتفاق سره شفعه نه ساقطوی.

مسلک محمد< امام محمد اوامام زفر رحمه الله فرمائی.که بغیر د څه عذر نه یې یوه میاشت روستو والېږ نې اوکړلو نوشفعه باطلیږی.

دلیله< که چیرته د هیڅ مودې پورې د خصومت په تاخیر سره شفعه باطله نشی.نو په دې کې مشتری ته ضرر دې.دلیل دا دې. چې هغه به هیڅ کله په دې کې تصرف نشی کولې.ځکه چې هغه ته به ویره وی.چه شفیع به زما تصرف ختم کړی.نو ضروری شوه.چه په دې کې څه وخت مقرر کې شی.نو مونږ یوه میاشت مودة مقرر کړه.چه ددې نه وړاندې وړاندې تاخیر به مسقط نه وی.اویوه میاشت تاخیربه مسقط وی.ځکه چې په هدایه کتاب الایمان کې د یوې میاشتې نه کمه مودة قلیل اویوه میاشت یا ددې نه زیاتې کثیرشمارلې شوې ده.

جوابه< د دې جواب دا دې که شفیع غائب وی.نوچه کله هم هغه ته معلومه شی.نوهغه ته شفعه ملاویږی.حالانکه ضرر په هغه صورت کې هم موجوددې.نوهرکله چې د شفیع د سفر په صورت کې مشتری ضرر برداشت کوی.نوچه شفیع په حضرکې وی.په هغې کې نې هم برداشت کړی.ځکه چې د سفر او حضر په مینځ کې د مشتری په حق کې څه فرق نشته،

په کومه زمکه کښې د شفعې حق حاصلیږي او په کومه کښې نه حاصلیږی؟

(وَالشُّفْعَةُ وَاجِبَةٌ فِي الْعَقَارِ اوشفعه ثابت ده.په زمکه کې ، وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا يُقْسَمُ)اګرچه دا د هغه څیزونو څنې وی.چه د هغې ویش نشی کیدې. كَالْحَمَّامِ وَالرَّحَى وَالْبِئْرِ وَالدور الصغار او هغه (کوم چې د ویش قابل نه وی لکه) غسل خانه، د اوبو جرنده، او کوهی او واړه کورونه

حل اللغة< ① **الحمام**: دګرمو اوبوغسل خانه② **البئر**: څاه ③ العقار: زمکه

تشریح< ددې ځاې نه دا خبره بیان کړې شوې ده.چه زمکه کې شفعه واجبیږی. بیا ددې زمکې دوه صورتونه دی

① چې دا د ویش قابله وی.مثلاً د څلور سوو ګزو پلاټ دې.چه نیم په نیمه ویش کړې شو

② دا چې د ویش قابل نه وی.مثلاً یوه تنګه غسل خانه ده.چه ددې ویش اوکړې شی.نو د چا په حق کې هم دا د انتفاع قابل نه پاتې کیږی.دغه شان تنګ وړوکې کوهې، او دغه شان واړه کورونه او هم دغه شان د اوبو جرنده ده.هرکله چې د زمکې دوه صورتونه معلوم شو.[1]

دلیله< قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {الشُّفْعَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ عَقَارًا أَوْرَبْعٍ} [2] دلیل د نبی کریم ﷺ فرمان دې.شفعه په هر شئ کې ده،که زمکه وی.او که کور وی.نو دا حدیث عام دې په دې کښې د قابل تقسیم او غیر قابل تقسیم څه قید نشته نو د دې اطلاق دلیل د شفعې د ثبوت دې

په ماڼونو او ګڼو کښې د شفعې حکم

وَلَا شُفْعَةَ فِي الْبِنَاءِ وَالنَّخْلِ إِذَا بِيعَ بِدُونِ الْعَرْصَةِ شفعه نشته په آبادئ او ونو کې ،کله چې د زمکې نه

[1] په دې دویم صورت کی د امام شافعی رحمه الله اختلاف دې. د امام شافعي رحمه الله په نیز به شفعه نه ملاویږی.

[2] ١) قال الزيلعي رحمه الله روى إسحاق بن راهويه رحمه الله في مسنده ....عن ابن عباس رضي الله عنهما عن رسول الله ﷺ قال الشريك شفيع والشفعة في كل شئ إنتهى وروى الطحاوى في تهذيب الآثار(وهو في في شرح الآثار للطحاوى رحمه الله (٢\٢٦٨) حدثنا .... عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قضى رسول الله ﷺ بالشفعة في كل شئ (نصب:٤\٤٣٦)_

بغير خرڅ کړې شي (وَلَا شُفْعَةَ فِي الْعُرُوضِ وَالسُّفُنِ) په سامانونو اوکشتوکې شفعه نشته.

حل اللغة ﴿① العروض،سامان② السفن:جمع د سفینة کشتۍ ③ النخل: قجورې

④ البناء: ابادي

تشریح ﴿ **عدم الشفعة في البناء** ﴾ شفعې لپاره دا اصول مقرر دې.چه دا په غیرمنقوله څیزونو کې چلیږی.لکه زمکه او باغونه وغیره، او په غیر منقوله څیزونو کې نه چلیږی.

دلائله ﴿① قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {لَا شُفْعَةَ إِلَّا فِي رَبْعٍ أَوْ حَائِطٍ} (۱) د نبی کریم ﷺ فرمان دې شفعه نشته خو په کور یا په دیوال کې په دې کښې د شفعې حصر په زمکه او په دیوال کښې او دا دواړه څیزونه داسې دی چې غیر منقول دی نو د دې نه په علاوه کښې به شفعه نه وی او په متن کښې چې کوم څیزونه ذکر شوی دی هغه ټول د حدیث د حصر نه خارج دی نو شفعه په کښې نشته

② او د دې وجې په کښې شفعه نشته چې دې کې د شفعې علت نه موندلې کیږی.او هغه (علت) همیشه لپاره متصل کیدل او قائم کیدل دی.او په غیر منقول کې اتصال نشته.لکه څنګه چې ښکاره ده.

السوال التقدیری ﴾ سوال دا کیدې شی که یوکس د بالاخانې مالك دې.او بل څوك د لاندینی چت مالك دې.نو پورتنی چت (بالاخانې) والا سره چونکه زمکه نشته.نو پکار دا ده.چه دا منقول اومنلې شی.او په دې کې شفعه جاری نکړې شی. حالانکه په دې کې شفعه ملاویږی؟

الجواب عنه ﴾ د دې نه جواب دا دې چې د بالاخانې په وجه به شفعه ملاویږی.او بالاخانه به هم شفعه کې ورکولې شی.څکه چې بالاخانې ته قائم والې حاصل دې.لکه څنګه چې نن صبا په ښاریو کې ددې زیات رواج دې.نو په دې کې د قائم پاتې کیدو د حق موجود کیدو په وجه به دا د زمکې په درجه کې شمارلې شی.او په دې کې به شفعه جاری کولې شی.که لاندینی چت خرڅ شو.پورتنی چت والا به په دې کې شفعه کوی.د متصل کیدو په وجه، یعنی د ګاونډ توب په وجه، او که د پورتنی چت لاره په لاندینی کورکې وی.نو بیا به بالاخانې والا ته د مبیع په حقوقو کې د شریکیدو په وجه شفعه ملاویږی.

ذمی لپاره د شفعې حق شته اوکه نه؟

> (وَالْمُسْلِمُ وَالذِّمِّيُّ فِي الشُّفْعَةِ سَوَاءٌ) او مسلمان او ذمی په شفعه کې برابر دی.د (روایاتو د) وَلِأَنَّهُمَا يَسْتَوِيَانِ فِي السَّبَبِ وَالْحِكْمَةِ او څکه چې دا دواړه په سبب او حکمت کې برابر دی. فَيَسْتَوِيَانِ فِي الِاسْتِحْقَاقِ نو په استحقاق کې به هم برابر وی.

تشریح ﴾ شفعه چې لکه څنګه مسلمان ته ملاویږی.ذمی ته به هم ملاویږی.

دلائله ﴿① یو د دې وجې چې روایاتو کې عموم دې.چه په دې کې د مسلمانانو تخصیص نشته.

② او بله دا چې سبب او حکمت موجود دې.نو بیا شفعه هم ملاویدل پکار دی.یعنی هرکله چې د قائم پاتې کیدو اتصال موجود دې.او د ګاونډی د ضرر لرې کولو حکمت موجود دې.چه په دې کې مسلمان او ذمی کې هیڅ فرق نشته.نو بیا به په استحقاق کې هم فرق نه وی.

تائید هذا القول ﴾ هم دا وجه ده.چه لکه څنګه شفعه سړی ته ملاویږی.ښځې ته به ملاویږی.او لکه څنګه چې غټ ته ملاویږی.بچی ته به هم ملاویږی.او لکه څنګه چې عادل ته ملاویږی.باغی (او نافرمانه) ته

---

۱) من حدیث جابر اخرجه البزار فی مسنده)–

به هم ملاویږي.او لکه څنګه چې ازاد ته ملاویږي.غلام ته به هم ملاویږي.خو غلام ته به هغه وخت شفعه ملاویږي.کله چې په ده کې داخستلو او خرڅولو اهلیت موجود وي.او دا به هغه وخت وي.کله چې دې ماذون في التجارة وي.یا مکاتب وي.د حق پرست امام اطاعت کونکی ته عادل او دده نه بغاوت کونکی ته باغی وائي.

په عوض کښې ملاویدونکې زمکه کښې د شفعې حق ثته اوکه نه؟

(وَإِذَامَلَكَ الْعَقَارَبِعِوَضٍ هُوَمَالٌ اوکله چې مشتری د زمکې مالك جوړ شو.په داسې عوض سره چې هغه مال دې. وَجَبَتْ فِيهِ الشُّفْعَةُ)نو په دې زمکه کې به شفعه ثابتیږي.

تشریح شفعه بیع سره ثابتیږي.نو بیع کیدل پکار دی.یا داسې شئ (کیدل پکار دی) چې په هغې کې د زمکې په بدله کې مالي معاوضه ورکړې شوې وي.ګنې شفعه به نه ثابتیږي.

دلیله څکه چې دلته شریعت دا شرط لګولي دې.چه مشتری د کوم مال په بدله کې مالك جوړ شوې دې.شفیع به هم د هغې مثل ادا کوي.او ددې مالك به جوړیږي.دا بله خبره ده.چه بیا په مثل کې عموم دې.که دا عوض د ذوات القیم څنې وي.نو ددې عوض مثل به د هغې قیمت وي.او که د ذوات الامثال څنې دې.نو ددې مثل به د هغې پشان هغه شئ وي.کوم چې عرف کې د هغې مثل شمارلې کیږي.ګنې که مشتری د مالي عوض نه بغیر مالك جوړ شي.نو شرط او نه موندې شو.نو شفعه به نه جاری کیږي.

په کومو کورونو کښې د شفعې حق نه حاصلیږي؟

(وَلَاشُفْعَةَ فِي الدَّارِالَّتِي يَتَزَوَّجُ الرَّجُلُ عَلَيْهَا او په هغه کور باندې شفعه نشته.په کوم کې چې سړې نکاح کوي. أَوْيُخَالِعُ الْمَرْأَةَ بِهَا یا د کوم په ذریعه چې ښځه خلع کوي. أَوْيَسْتَأْجِرُ بِهَا دَارًا یا د کوم په ذریعه چې سړې کور أَوْغَيْرَهَا یا ددې نه علاوه اجاره باندې اخلي. أَوْيُصَالِحُ بِهَا عَنْ دَمِ عَمْدٍ یا دکوم په ذریعه چې د قتل عمد نه مصالحت کوي. أَوْيُعْتِقُ عَلَيْهَا عَبْدًا)یا په کوم باندې چې غلام آزاد وي.

حل اللغة ①**یتزوج**:واده کوي②**یخلع**:خلع کوي

تشریح وړاندې په رومبنۍ مسئله کې دا اصول تیر شوې دې.چه کوم خاني د مال تبادله مال سره وي.هلته به شفعه ملاویږي.چه شفیع مثل صوری یا مثل د قیمت ورکړې شي.او چرته چې مبادلة المال بالمال نه ورکولې کیږي.هلته به شفعه نه وي.څکه چې دې کې موضوع الته کول او د مشروع امر خلاف کول لازمیږي.

دلیله څکه چې شفعه مشروع شوې ده.په مبادلة المال بالمال کې ، او د شفعې مشروعیت موضوع ده.په مبادلة المال بالمال کې ، نو امام قدوری رحمه الله دلته پنځه داسې جزئیات بیان کړی دی.چه په دې کې د مبادلة المال بالمال نه کیدو په وجه به شفعه نه ملاویږي

① یو سړی د نکاح په وخت مهرله یو کور مقرر کړو.نو په دې کې به شفعه نه ملاویږي.څکه چې د کور عوض محترم بضع ده.چه دا متقوم مال نه دې.

② ښځه د کور په بدله خپل میره سره خلع اوکړې.نو شفعه به نه ملاویږي.څکه چې دلته هم د کور عوض د خپلې بضعې خلاصی ده.چه دا مال نه دې.

③ یوکس د خپل کور په بدله کې یو کور یا بل څه شئ کرایه باندې واخستلو.نو په دې صورت کې به شفعه نه ملاویږي.څکه چې کور یا د بل څه شئ منافع مال نه دې.

④ په یوکس باندې قصاص واجب وو.هغه د مقتول وارثانو سره د یوکور په بدله کې مصالحت

اوکړو.نو شفعه به نه ملاویږی.ځکه چې قصاص مال نه دی.⑤یوکس خپل غلام ته اووئیل.چه فلانی کور ماته راکړه.او ته آزاد ئې.هغه دا کور ورکړو.نو په دې کې به شفعه نه وی.ځکه چې آزادی مال نه دی.[1]

(أَوْيُصَالِحُ عَنْهَا بِإِنْكَارٍ اوسکوت‌یا ده د کور متعلق مصالحت کړې وی.انکار یا په خاموشئ سره، فَإِنْ صَالَحَ عَنْهَا بِإِقْرَارٍ وَجَبَتْ فِيهِ الشُّفْعَةُ)نو که دکور متعلق اقرار سره مصالحت اوکړی.نو په دې کښې شفعه به ثابتیږی.

تشریح> صورت دمسئلې دا دې چې الطاف الرحمن په برهان باندې دعوه اوکړله.چه په کوم کور کې برهان مقیم دې (اوسیږی).دا زما دې.دا په غلطه طریقه په دې باندې قابض دې.برهان د جګړې نه د بچ کیدو لپاره زر روپئ مطیع الرحمن ته ورکړلې.او مصالحت ئې اوکړو.او دواړه راضی شو.او جګړه ختمه شوه.اوس ناظم په دغه کور کې د شفعې دعوه اوکړله.په کوم کور کې چې برهان اوسیږی.او دکوم متعلق چې ده یو زر روپئ ورکړلې.او مصالحت ئې اوکړو.نو اوس سوال دا دې.چه ناظم ته به شفعه ملاویږی.اوکه نه؟ نو دلته ددې دوه جوابونه ورکړې شوی دی.او ددې حاصل دا دې.چه ددې مدار د مصالحت په کیفیت باندې دې.او ددې درې صورتونه دی

① برهان اقرار کړې وی.چه آو کور د الطاف الرحمن دې.او بیا ئې په زر روپئ باندې مصالحت کړې وی.نو په دې صورت کې به ناظم ته شفعه ملاویږی.ځکه چې دا ښکاره بیع ده.او دا ښکاره ده.چه ملك د مدعی وو.مدعی علیه د زر روپو په بدله کې ملك حاصل کړې دې.

② برهان د مدعی د ملکیت انکار اوکړو.خو بیا هم دجګړې د شر لرې کولو لپاره ئې زر روپئ ورکړې.او مصالحت ئې اوکړو.نو اوس به شفعه نه ثابتیږی . ځکه برهان دا وائی.چه ددې کور د مخکې نه زه مالك راروان یم.نو د بیع معنی او نه موندې شوه.

③ برهان دده د ملکیت نه اقرار کړې وی.او نه ئې انکار کړې وی.نو اوس به هم شفعه نه وی.ځکه دې کې احتمال شته.چه ده زر روپئ ځکه ورکړې وی.که مدعی ګواهان پیش نکړل.نو ما له به قسم خوړل ضرورې وی. او شریف خلق د خپل وس مطابق د قسم خوړلو نه ځان ساتی.اګرچه د رشتیاو قسم ولې نه وی.او دا احتمال هم شته.چه ده د جګړې ختمولو لپاره زر روپئ ورکړې وی.ځکه چې شریف خلق د جګړې نه پخپل وس سره ځان ساتی.بهرحال دده زر روپئ ورکول، او مصالحت کول، ددې خبرې دلیل نه دې.چه ده د مدعی د ملکیت اقرار اوکړو.نو دا به د انکار په درجه کې وی.او شفعه به نه ثابتیږی.مسئله پوره شوه.

دویمه مسئله د زید او د عمرو د یو شئ متعلق جګړه ده.زید وائی.چه زما شئ دې.او عمرو په دې باندې قابض دې.اوس عمرو د زید سره مصالحت اوکړو.او په مصالحت کې ئې زید ته خپل کور

[1]) **مسلك الشافعي**:-حنفیانو مذکوره شیان قیمتی مال نه دې ګڼړلې.په دې وجه ئې انکار اوکړو.او امام شافعی رحمه الله دا شیان متقوم مال ګڼړلې دې.په دې وجه دوی په دې ټولو څیزونو کې د شفعې قائل دی.او فرمایي.چه لکه څنګه د سامان په بدله کې د بیع په صورت کې د مثل صوری په ځائې قیمت واجبیږی.دغه ډول په دې څیزونو کې که مثل متعذر دې.نو قیمت خو واجب کیدې شی.نو د بیع بالعوض په مثل به په دې کې هم شفعه ثابتیږی.البته که یوکس چا ته یوکور هبه کړو.نو په دې کې به دامام شافعی رحمه الله په نیز هم شفعه نه وی.ځکه چې دې کې بالکل (دسره) عوض نشته.چه ددې د تقوم او عدم تقوم په باره کې بحث اوکړې شی.

ورکړو.نو اوس به په دې کور کې شفعه وی او که نه؟ نو ددې جواب ني ورکړو.چه دلته دوه صورتونه دی:

① جګړه د بل شئ په باره کې ده.او مصالحت ني په کور ور کولو سره کړې دې.نو ښکاره ده.چه دا کور د زيد د حق عوض دې.نو مالي مبادله اوموندې شوه.نو شفعه به ثابت وی.

② هم ددې کور په باره کې جګړه ده.نو عمرو زيد ته هم دا کور ورکړو.او مصالحت ني اوکړو.نو اوس د بيع معنی او نه موندې شوه.نو شفعه به هم نه وی.حاصل د کلام دا چې دلته د شفعې د ثبوت مدار د زيد په ګمان باندې دې.که هغه کور د خپل حق د جنس څخه او نه ګنړی.نو شفعه شته.ګنی نشته.دويمه مسئله ختمه شوه.

دليله> څکه چې هرکله هغه د کور په باره کې انکار سره مصالحت اوکړو. نوکور د هغه په قبضه کې پاتې شو. . نوهغه دا ګمان کوی.چه کور دهغه د ملکيت نه زائل شوی نه دې.او هم دغه شان کله چې هغه سکوت سره (بغير د څه اقرار او انکار نه) دکور په باره کې صلح اوکړله. څکه احتمال شته.چه هغه مال خرچ کړې وی.د خپل قسم په فديه کې ،او د خپل خصم د شور او ځغو ختمولو دپاره، لکه څنګه چې کله هغه صراحت سره انکار کړې وی.

فائده> د ،،يصالح عنها،، مطلب دا وی.چه د کور په باره کې جګړه ده.او بل يو شئ ني ورکړو.او مصالحت ني اوکړو.

په شفعه کښې د قاضی کردار

(وَإِذَا تَقَدَّمَ الشَّفِيعُ إِلَى الْقَاضِي اوچه شفيع قاضی ته راشی فَادَّعَى الشِّرَاءَ پس د شراء دعوی وکړی. وَطَلَبَ الشُّفْعَةَ او شفعه طلب کړی. سَأَلَ الْقَاضِي الْمُدَّعَى عَلَيْهِ عنها نو قاضی به د مدعی عليه يعنی مشتری نه د هغې په باره کښې پوښتنه اوکړی. فَإِنْ اعْتَرَفَ بِمِلْكِهِ نو که هغه دده د ملکيت اعتراف اوکړی. ،الَّذِي يُشْفَعُ بِهِ د کوم د امله چې هغه شفعه طلب کوی.نو ډير ښه ده. وَإِلَّا كَلَّفَهُ بِإِقَامَةِ الْبَيِّنَةِ) ګنی قاضی به هغه (شفيع لره) به د ګواه قائمولو مکلف کړی. .

تشريح> د دعوه لپاره ثبوت پکار دې.نو کله چې شفيع د قاضی عدالت ته اورسی.اود شراء دعوه اوکړی. شفعة طلب کړی.نوقاضی به د مشتری نه تحقيق اوکړی.چه آيا هلته واقع ددې مملوك کور شته.د کوم د امله چې دې د شفعه دعوه کوی يا نه کوی.که مشتری ددې خبرې اقرار وکړی.نو صحيح ده.ګنی قاضی به شفيع ته اووائی.چه په خپل ملکيت باندې ګواهان قائم کړه.

که څوك سوال اوکړی چې د ثبوت لپاره ولې دا کافی نه ده.چه هغه کور د شفيع په قبضه کې دې؟ نوجواب دا دې چې اوکافی نه دې څکه چې په قبضه کې احتمال شته.چه په خواست سره وی.يا په کرايه باندې وی.نو امر محتمل د استحقاق ثابتولو لپاره کافی نه دې.

دليله> مرغينانی رحمه الله په هدايه کښې فرمائی.چه قاضی ته کله شفيع لاړ شی.نو د ټولو نه وړاندې به د شفيع نه دا پوښتنه اوکړی.چه په کوم کور کې ته شفعة دعوه کوی.دا کوم ځائې دې.په کوم ښار يا کلی کې او محله کې دې.و ددې حدود اربعه څومره اوږد او څومره پلن دی .؟که چې شفيع دا دعوه کوی.چه په دې کې زما حق دې.اوکله چې يو کس د يو کور په باره کې دا دعوه اوکی.چه زه ددې مالك يم.نو هلته به د هغه نه د هغې دمحل وقوع او د هغې د حدود اربعه پوښتنه کولې شی.نو دغه شان به د شفيع نه هم پوښتنه کولې شی.

د شفیع د ګواهانو د عاجزۍ صورت

فَإِنْ عَجَزَ عَنِ الْبَيِّنَةِ که شفیع د ګواهانونه عاجز شو. اِسْتَحْلَفَ الْمُشْتَرِيَ نو قاضي به د مشتری نه قسم واخلي. بِاللّٰهِ مَا يَعْلَمُ (چه د هغې الفاظ به دا وی) په الله قسم ماته علم نشته. أَنَّهُ مَالِكٌ لِلَّذِي ذَكَرَهُ مِمَّا يَشْفَعُ بِهِ) چې دې مالك دې د هغه شئ د کوم چې ده ذکر وکړو. یعنی د دې کور د کوم چې دې شفیع جوړیږی

تشریح> کله چې قاضي شفیع نه د ملك په ثبوت باندې ګواهان طلب کړل. او هغه عاجز شو. نود هغه دعوه ثابته نشوه. البته که شفیع مطالبه اوکی. نود هغه په طلب به قاضی د مشتری نه قسم واخلی. چه تا ته علم شته که نه چې دې د دې کور مالك دې. نو هغه به قسم اوخوری. دکومې طریقه چې په کتاب کې ذکر ده. اوس دلته دوه خبرې دی. قسم په دوه قسمه وی. یوه علی البتات او یو علی العلم، د علی البتات مطلب دا دې. چه په یقین سره قسم اوخوری. اود علی العلم مطلب دا دې. چه زما په علم کې داسې دی. حقیقت حال الله تعالی ته معلوم دې. او اصول دا دی. چه کله یو سړې د بل په فعل وغیره باندې قسم خوری. نو هغه قسم علی العلم وی. اوکه په خپل فعل یا په خپل څیزباندې قسم خوری. هغه قسم علی البتات وی. نو چونکه دلته مشتری په داسې شئ باندې قسم خوری. کوم چې د بل په قبضه کې دې. نو دا به حلف علی العلم وی. حلف علی البتات به نه وی.

دلیله> دلیل دا دې چې شفیع په مشتری باندې د ثبوت شفعۀ دعوه کړې ده. نو که مشتری اقرار کړې وو. چه دده استحقاق شته، نو په مشتری لازم دی. چه هغه ته خپل حق ورکړی. نوځکه به د شفیع د اړخه مشتری په دې صورت کې قسم خوری. ځکه چې د مدعی د دعوه نه روسته اقامت د ګواهانو د مدعی فریضه ده. اوکه دې د ګواهانود قائمولو نه عاجز شی. نو ددې دوه صورتونه دی. ① چه مدعی علیه اقرار اوکړی. ② د عدم اقرار په صورت کې قسم لازمی دې. نو ځکه به دلته د قاعده مطابق په مدعی علیه باندې یمین لازمی وی.

د مشتری د قسم نه انکار. او د شفیع په ګواهانو قائمولو سره د شفیع د ملك ثبوت

فَإِنْ نَكَلَ عَنِ الْيَمِينِ نو که دا مشتری د قسم نه انکار اوکړی. أَوْقَامَتْ لِلشَّفِيعِ بَيِّنَةٌ یا د شفیع لپاره بینه قائم کړې شی. سَأَلَهُ الْقَاضِي بیا به قاضی د مدعی علیه (مشتری) نه پوښتنه کوی. هَلْ ابْتَاعَ أَمْ لَا، چې آیا ده اخستې دې اوکه نه؟ فَإِنْ أَنْكَرَ الْإِبْتِيَاعَ نو که مشتری د اخستلو انکار اوکړی. قِيلَ لِلشَّفِيعِ نوشفیع ته به وئیلې شی أَقِمِ الْبَيِّنَةَ. چه بینه قائم کړی.

تشریح> په مخکنۍ مسئله کې د مشتری په ذمه قسم واجب کړې شوې وو. نو که هغه انکار اوکړی. یا شفیع ګواهان قائم کړی. په دواړو صورتونو کې که هر یو وی. د شفیع ملکیت به په هغه کور کې ثابتیږی. د کوم په وجه چې هغه د شفعې مستحق جوړیږی. هرکله چې خبره ددې ځائې پورې ثابته شوه. نو اوس به قاضی د مشتری نه پوښتنه کوی. چه فلانی خپل کور په رشتیا خرڅ کړې دې اوکه نه؟ که هغه اقرار اوکړی. نو صحیح ده. ګنی د انکار په صورت کې په شفیع باندې ګواهان قائمول ضروری دی.

دلیله> ځکه چې د شفعې د ثبوت شرط بیع دې،، کما مر،، نو د بیع د ثبوت لپاره حجت پکار دې. او حجت هم دا دې. کوم چې ذکر شو. یعنی د مشتری اقرار یا (دده د انکار په صورت کې) بیا د شفیع د اړخه ګواهان قائمول.

که شفیع د ګواهانو نه عاجز شي نو قاضي به د مشتري نه په کومو الفاظو سره قسم اخلي؟

(فَإِنْ عَجَزَعَنْهَا نوکه عاجز شی.شفیع د ګواهانو قائمولو نه، اسْتَحْلَفَ الْمُشْتَرِي بِاللَّهِ مَا ابْتَاعَ نو قاضي به د مشتری نه قسم اخلي.(چي ددي الفاظ به دا وی) په خدائي قسم! ده نه دي اخستي، أَوْبِاللَّهِ مَا اسْتَحَقَّ عَلَيْهِ فِي هَذِهِ الدَّارِ شُفْعَةً مِنَ الْوَجْهِ الَّذِي ذَكَرَهُ)یا په خدائي قسم! د شفیع استحقاق نشته (په ما باندي) په دې کورکي د شفعي په دې طریقه کومه چي ده ذکرکړې ده.

حل اللغة ① **عجز**:عاجزه شو② **ابتاع**:خرڅ کړي ③ **استحلاف**:قسم ورکول

تشریح که شفیع په اخستلو باندي ګواهان قائم نکړې شی.نو مشتری نه به قسم اخستلي شی.بیا دلته امام قدوری رحمه الله د قسم دوه جملي استعمال کړی دی. ① چي په دې کي د اخستلو نفی ده. ② چي په دې کي د شفیع د استحقاق نفی ده.ددې دواړو په باره کي مرغیناني رحمه الله په هدایه کښي فرمائیلي دی.چه کوم خائي د بیع نفی شوې ده.نو دا د سبب نفی ده.چه دې ته هغوی ››حلف علی السبب‹‹ وئیلي دې.او کوم خائي چي د استحقاق نفی ده.نو په هغې کي د حاصل سبب نفی ده.چه دې ته هغوی ››حلف علی الحاصل‹‹ سره تعبیر کړې دې.

دویمه خبره مرغیناني رحمه الله دا بیان کړې ده.چه دلته د مشتری نه دده په ذاتی فعل باندي قسم اخستلي شی.او د هغه شئ په باره کي قسم اخستلي شی.کوم چي دده په قبضه کي دې.د بل په فعل باندي قسم نه دې.په دې وجه د مذکوره قاعدي موافق دا ››حلف علی العلم‹‹ نه وی.بلکه ››حلف علی سبیل البتات‹‹ وی.یعنی قطعی قسم به وی.

شفیع لپاره په مجلس د قاضي کښي ثمن حاضرول ضروري دي اوکه نه؟

(وَتَجُوزُ الْمُنَازَعَةُ فِي الشُّفْعَةِ او په شفعه کي منازعت جائز دي. وَإِنْ لَمْ يُحْضِرِ الشَّفِيعُ الثَّمَنَ إِلَى مَجْلِسِ الْقَاضِي اګرچه شفیع د قاضی په مجلس کي ثمن حاضر نکړی. »وإِذَاقَضَى الْقَاضِي بِالشُّفْعَةِ بیا هرکله چي قاضی د شفعي فیصله اوکړله. لَزِمَهُ إِحْضَارُ الثَّمَنِ)نو شفیع له لازم دی.چه ثمن حاضر کړی.

تشریح شفیع لپاره ضروری نه ده.چه ثمن راواخلی.او د قاضی په مجلس کي حاضر شی.یعنی د ثمن راوړلو نه بغیر منازعات او خصومات (مقدمې) جائز دی.البته کله چي د قاضی فیصله اوشوه.نو اوس ثمن حاضرول لازمی دی.

هذه ظاهر الروایة په دې باندي مرغیناني رحمه الله په هدایه کي فرمائی.چه د مبسوط روایت ظاهر هم دې حکم ارخ ته اشاره کوی.یعنی مبسوط کي دا مسئله صراحت سره داسي ذکر نه ده.البته هلته د عبارت نه هم دا خبره ښکاره کیږی.چه د ثمن حاضرولو نه بغیر منازعت جائز دي.څکه د مبسوط عبارت داسي دې چي (للمشتري أن يحبس الدار حتى يستوفي الثمن منه أو من ورثته ان مات)

دلیله د ظاهر الروایة دلیل دا دې.چه د قاضی د فیصلي نه وړاندې شفیع باندې ثمن ادا کول واجب نه دی.نو هرکله چي د ثمن ادا کول شرط نه دی.نو ثمن اخستل او راوړل (او د قاضی مجلس ته حاضرول) به هم شرط نه وی.

روایة عن محمد امام محمد رحمه الله فرمائی.چه د ثمن حاضرولو نه بغیر به قاضی فیصله نه کوی.او د امام

محمد رحمه الله نه حسن رحمه الله هم دغه شان روايت کړې دې.

دليله> د امام محمد رحمه الله دليل دا دې.چه کيدې شي.شفيع مفلس وي.نو که فيصلې لپاره ثمن حاضرولو ته شرط اوواېو.نو فيصله به په ثمن حاضرولو باندې موقوف شي.چه د مشترى مال هلاک نشي.چه دکور فيصله خو شفيع لپاره اوشوه.او تر اوسه پورې هغه ثمن ادا کړې نه دې.نو هغه به په انتظار کې ناست وي.هم دا هلاکت سره تعبير کړې شوې دې.

د خيار عيب او خيار رويت په وجه د مشفوعه کور واپس کول

وَلِلشَّفِيعِ او د شفيع دپاره جائز دی أَنْ يَرُدَّ الدَّارَ چې واپس کړی کور بِخِيَارِ الْعَيْبِ وَالرُّؤْيَةِ په خيار عيب يا خيار رويت سره

تشريح> کله چې په شفعه کښې شفيع ته يو کور ملاؤ شي خو د هغې نه روسته ده ته په هغې کښې عيب ښکاره شي نو که ده دا ونيلې وي چه زه په شفعه کښې دا کور اخلم خو په دې شرط چې ماته به دريځې اختيار وي يا په دې شرط چې زه به کور وينم که څه عيب په کښې وو نو بيا به يې نه اخلم نو که عيب په کښې پيدا شو شفيع هغه کور واپس کولې شي

دليله> د واپس کولو اختيار ورته ځکه شته چې شفعه په حقيقت کښې اخستل دی او لکه څنګه چې په عام خرخولو اخستلو کښې خيار عيب او خيار رويت شته دغه شان به په شفعه کښې هم وي

شفيع د بائع سره کله مخاصمت کولې شي؟

(وَإِنْ أَحْضَرَ الشَّفِيعُ الْبَائِعَ او کله چې شفيع (حاکم سره) بائع حاضر کړو. وَالْمَبِيعُ فِي يَدِهِ حالاتکه مبيع د بائع په قبضه کې دې. فَلَهُ أَنْ يُخَاصِمَهُ فِي الشُّفْعَةِ نو شفيع ته حق شته.چه هغه د شفعې په باره کې بائع سره مخاصمت اوکړی. وَلَا يَسْمَعُ الْقَاضِي الْبَيِّنَةَ او قاضی به ګواهان نه آوری. حَتَّى يَحْضُرَ الْمُشْتَرِي تر دې چې مشتری حاضر شی. فَيَفْسَخُ الْبَيْعَ بِمَشْهَدٍ مِنْهُ بيا به قاضی د مشتری په موجودګۍ کې بيع فسخ کوی. وَيَقْضِي بِالشُّفْعَةِ عَلَى الْبَائِعِ او د شفعې فيصله به بائع باندې کوی. وَيَجْعَلُ الْعُهْدَةَ عَلَيْهِ او ذمه داری به هم هغه ته ورسپاری.

حل اللغة> ① اي يخاصم:چه جګړه اوکړی ② ينفسخ:فسخ کيږی ③ حضور:حاضريدل

تشريح> که مبيع تر اوسه پورې د بائع په قبضه کې وی.نو شفيع لپاره جائز دی.چه بائع سره خصومت اوکړی. او هم دا د قاضی وړاندې حاضر کړی.خو چونکه ملکيت د مشتری دې.په دې وجه ترکومه پورې چې هغه مجلس ته رانشی.قاضی به ګواهان نه اوری.بلکه د هغه (مشتری) د راتلو نه روسته به ئې اوری.بيا به د مشتری په وړاندې بيع فسخ کوی.او د شفعې فيصله به کوی.او په ذکر شوی صورت کې به فيصله په بائع وی.او هم هغه به ددې ذمه دار وی.

دليله> د بائع او مشتری دواړو حاضريدل ضروری دی.وجه ددې دا ده.چه د قاضی فيصله دا ثابتوی.چه شفيع لپاره ملکيت هم وی.او قبضه هم وی.حالاتکه قبضه د بائع ده.او ملک د مشتری دې.که په دوی دواړو کې د يوکس په غيرموجودګۍ کې فيصله اوکړې شی.نو ،،قضاء على الغائب،،به لازميږی.او دا جائز نه ده.

فائده> ،،قبضه مستحقه،، يعنی ،،قبضه معتبره،، د مالکانو د قبضې په شان يعنی د مودع او مستعير قبضه نه ده.،،مشهد،، مصدر ميمی دې.د شهود او حضور په معنی کې دې.ذمه داری سپارلو ګه

واني. يعنى كه په دې (مبيع) كې د چا استحقاق ثابت شي. نو د ثمن ضمان به په بائع وي. ځكه چې ثمن باندې قبضه كونكې هم هغه دې.

د عدم اشهاد په وجه د شفعې باطليدل

وَإِذَا تَرَكَ الشَّفِيعُ الْإِشْهَادَ او كله چې شفيع اشهاد (ګواهان قائمول) پريښول حِينَ عَلِمَ بِالْبَيْعِ كوم وخت چې هغه ته د بيع علم اوشو وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى ذَلِكَ.. حالانكه هغه په دې قادر وو. بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ نو دهغه شفعه به باطليږي.

حل اللغة ① **يتحقق**: ثابتيږي ② **الاعراض**: د ډډه كول

تشريح د امام قدوري رحمه الله په كلام كې د اشهاد نه مراد طلب د اشهاد او طلب د تقرير نه دې. بلكه طلب مواثبه ده. اوس د عبارت مطلب باندې پوهه شئ: شفيع ته د بيع علم اوشو. او هغه په طلب مواثبه باندې قادر دې. ددې نه عاجز نه وي. ددې باوجود هم هغه طلب مواثبه اونكړله. نو چونكه دا د اعراض دليل دې. په دې وجه د هغه شفعه باطل شوه.

اود (هويقدر) قيد ئې ځكه لګولې دې چې هركله شفيع د قدرت باوجود د شفعې طلب پرېږدي. نو دغه وخت به اعراض وي. ګنې د عجز په صورت كې به د شك په وجه اعراض نه ثابتيږي. او بيا به شفعه نه باطليږي.

دليله ځكه چې ده د طلب شفعې نه اعراض اوكړو او اعراض ځكه متحقق كيږي چې ده سره د شفعې اختيار وي او دې په شفعه باندې قادر وي او د دې باوجود په خپله شفعه كولو ګواهان مقرر نكړل نو معلومه شوه چې دې د شفعې كولو نه اعراض كوي

كه ګواهان قائمول ئې پريښودل، نو د شفعې حكم

وَكَذَلِكَ إِنْ أَشْهَدَ فِي الْمَجْلِسِ اوهم دغه شان (شفعه باطليږي) كه ده په مجلس كې اشهاد (طلبه مواثبه) اوكړو وَلَمْ يُشْهِدْ عَلَى أَحَدِ الْمُتَعَاقِدَيْنِ .او په متعاقدينو كې ئې په هيڅ يوكس ګواهان قائم نكړل. وَلَا عِنْدَ الْعَقَارِ) اونه زمكې سره.

تشريح د طلب د دريو اقسامو بيان وړاندې تير شوې دې. نو امام قدوري رحمه الله فرمائي. چه د طلب مواثبه نه روستو كه ده طلب اشهاد (ګواهان قائمول) پريخودل. بيا به هم شفعه باطليږي.

په يو عوض باندې مصالحت كولو باندې شفعه پريښودو سره حق د شفعې ختميږي

وَإِنْ صَالَحَ مِنْ شُفْعَتِهِ عَلَى عِوَضٍ اخذه او كه پخپلې شفعې سره ئې په يو عوض باندې صلح اوكړله چې هغه يې واخستلو بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ نو دده شفعه باطله شوه وَيَرُدُّ الْعِوَضَ اوعوض به واپس كوي.

تشريح صورت د مسئلې دا دې چې يو شفيع مشترى سره مصالحت اوكړو. چه زه په زر روپۍ خپل حق د شفعې پريږدم. نو مشترى شفيع ته زر روپۍ وركړې نو اوس څه حكم دې؟ نو وې فرمائيل. چه شفعه هم باطل شوه. او كومې زر روپۍ چې ملاو شوى دى. د هغې واپس كول هم ضرورى دى. ځكه چې دا رشوت دې. او دا حرام دې. ولې؟

دليله ځكه چې په حق دشفعې كې شفيع ته دومره حق دې. چه هغه عوض وركړى. او د مشفوعه كور مالك جوړ شي. يعنى هغه لپاره صرف دمالك جوړيدو حق شته. داسې خبره نه ده. چه په مشفوعه كور كې د شفيع څه داسې حق دې. چه هغه په دې كور كې ثابت شوې وي. په نورو الفاظوكې داسې چې

شفیع ددې کور مالك نه دې جوړ شوې.(بلکه) صرف جوړېدې شي.او د مالك جوړېدو نه وړاندې به هغه د څه شي عوض اخلي.نومعلومه شوه.چه صرف د شفعې د حق عوض اخستل صحیح نه دی.

د شفیع په مرګ سره حق د شفعې باطلیږي

وَإِذَامَاتَ الشَّفِيعُ او کله چې شفیع مړ شو بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ نو د هغه شفعه باطله شوه

تشریح> که شفیع مړ شو.او اوسه پورې قاضی دده لپاره د شفعې فیصله نه وه کړې.نو دده شفعه به باطلیږي.([1])

صاحب د هدایه فرمائیلی دی چه د شفیع په مرګ سره به شفعه هغه وخت باطلیږي.کله چې شفیع د بیع نه روستو د قاضی د فیصلې نه مخکې مړ شي.او که د قاضی د فیصلې نه روسته مړشی.نو اوس به د شفیع وارثانو ته حق د شفعې ملاویږي.

دلیله> شفیع چې دکوم کور په وجه شفعه طلب کړې.نو ضروري ده.چه شفیع د بیع د وخت نه ددې کور مالك وي.او دا ملکیت کم ازکم د قاضی فیصلې پورې باقي پاتې کیدل پکار دی.نو چونکه د شفیع په مرګ سره به دده ملکیت زائل کیږي.نو د ملك باقي پاتې کیدل او نه موندې شو.په دې وجه شفعه باطل شوه.او پاتې شو وارثان، نو اګرچه د قاضی دفیصلې په وخت د هغوی ملکیت موجود دې.خو په وخت د بیع د هغوی ملکیت نه وو.په دې وجه به وارثانو ته شفعه نه ملاویږي.

د مشتري په مرګ سره حق د شفعې نه باطلیږي

وَإِنْ مَاتَ الْمُشْتَرِي لَمْ تَسقط الشفعة او که مشتری مړ شو.نو شفعه نه ساقطیږي

تشریح> که مشتری مړ شو.نو د شفعې حق نه ساقطیږي

دلیله> نو چونکه مستحق شفیع موجود دې.او د شفعې سبب پیوسته متصل کیدل او قائم کیدل موجود دی.چه په دې کې هیڅ فرق نه دې شوې.نو دلته به شفعه نه باطلیږي.مشتری مړ شو.او دده په ذمه قرض دې.نو دده د قرض ادا کولو لپاره به کور نشي خرڅولې.بلکه کور به شفیع ته ملاویږي.اوکوم رقم چې د شفیع نه ملاو شي.هغې سره به قرض (د مشتری مړي) ادا کولې شي.

د مشتري او د بائع وکیل شفیع جوړېدې شي اوکه نه؟

وَوَكِيلُ الْبَائِعِ إِذَابَاعَ وَهُوَالشَّفِيعُ او د بائع وکیل کله چې خرڅ کړي.او هم هغه شفیع وي. فَلَاشُفْعَةَ لَهُ نو هغه لپاره شفعه نشته.

تشریح> زیدبکر وکیل جوړ کړو.چه بکر دده کور خرڅ کړي.بکر خرڅ کړو.اتفاق سره شفیع هم بکر دې.نو اوس به بکر ته شفعه نه ملاویږي.او که زید بکر د یوکور اخستلو لپاره وکیل جوړ کړو.اوهغه واخستلو.او اتفاق سره شفیع هم بکر دې.نو په دې صورت کې به بکر ته حق دشفعې ملاویږي.

دلیله> ځکه که د بیع (خرڅولو) په صورت کې شفعه ملاو شي.نو داخبره لازمیږي.چه خوك بیع کوي.یا د چا لپاره چې بیع کوي.هم هغه دا ماتوي. ځکه د بیع نتیجه ده ورکول، اود شفعې انجام دې اخستل،او په اخستلو او ور کولو کې منافات دې.نو په بیع او شفعه کې منافات دې.نو ځکه شفعه ساقطیږي

---

[1]) د امام شافعي رحمه الله په نیز به دده شفعه په میراث کې دده وارثانو ته ملاویږي.

د بائع د اړخه د تاوان ذمه واري اخستلو والا

پخپله شفيع دې نو د شفعې څه حکم دې ؟

وَكَذٰلِكَ لَوْضَمِنَ الشَّفِيْعُ الدَّرْكَ عَنِ الْبَائِعِ او هم دغه شان كه ضامن شو څوك سړې د بائع د اړخه د تاوان (او نقصان)، يعنى شفعه ورله نشته

تشريح مشترى يو كور اخستل غواړى.خو هغه ته په دې كې څه تردد دې.چه كيدې شى په دې كې څوك د استحقاق دعوه اوكړى.يا بل څوك د تاوان او نقصان په صورت كې رامخكې شى.خو زيد د بائع د اړخه ضمانت واخستلو.او مشترى ته ئې اووئيل.چه ته بې فكره شه.واتې خله.كه څه د تاوان خبره مخې ته راغله.نو زه دهغې ضامن يم.چه دا كور به تا ته حواله كوم.يا بالفرض كه د كور در كولو نه عاجز شم.نو ددې قيمت به تاته حواله كوم.او اتفاق سره هم دا زيد ددې كور شفيع هم دې.نو اوس به زيد ته شفعه نه ملاويږى.

دليله ځكه چې هم د دې زيد د اړخه بيع پوره شوې وه.او هم دده د اړخه به ددې ماتول لازميږى.

وَوَكِيْلُ الْمُشْتَرِيْ إِذَا ابْتَاعَ وَهُوَ الشَّفِيْعُ او د مشترى وكيل چې كله واخلى. فَلَهُ الشُّفْعَةُ نو هغه لپاره شفعه شته.

اوكه د مشترى وكيل اخستل اوكړى نو په دې صورت كښې د ده شفعه نه ساقطيږى بلكه ثابته ده

دليله ځكه د شراء مقصد هم اخستل دى.او د شفعې مقصد هم اخستل دى.نو په شراء او شفعه كې منافات نشته.په دې وجه دا قانون كلى (قاعده كليه) مقرر شوه.په نورو الفاظو كې داسې چې شفعه كې اخستل يو قسم شراء ده. او په شراء او شفعه كې منافات نشته نو شفعه نه ساقطيږى

فائده په پورتنى عبارت به هله پوهه شئ چې دا زده كړئ چې د بيع او شراء (د خرڅولو او اخستلو) څلور صورتونه ذكر دى① بيع ② د مالك لپاره بيع ③ شراء④ مالك لپاره شراء.د رومبى صورت تفصيل دا دې.چه د بائع وكيل د موكل د اړخه جوړ شى.او خرڅ كړى.او دوئم صورت دا دې.چه مضارب هغه كور خرڅ كړى.كوم چې هغه په مال مضاربت سره اخستې وو.او رب المال د هغې شفيع دې.نو رب المال ته به شفعه نه ملاويږى.او دريم صورت دا دې.چه مشترى يو كس د كور اخستلو لپاره وكيل جوړ كړې وى.او څلورم صورت دا دې.چه مضارب په مال د مضاربت سره څه مال اخستې وى.او رب المال د هغې شفيع وى.نو رب المال ته به شفعه ملاويږى.هركله چې دا څلور واړه صورتونه په ذهن كې كيناستل.نو اوس پوهه شئ.

په هبه شوې زمكه كښې د شفعې حق شته اوكه نه؟

وَمَنْ بَاعَ بِشَرْطِ الْخِيَارِ او چا چې خرڅ كړو.د خيار شرط سره، فَلَا شُفْعَةَ لِلشَّفِيْعِ نو شفيع لپاره شفعه نشته. فَإِنْ أُسْقِطَ الْبَائِعُ الْخِيَارَ وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ نوكه بائع خيار ساقط كړو.نو شفعه به ثابت وى. لِأَنَّهُ زَالَ الْمَانِعُ عَنِ الزَّوَالِ ځكه هغه شئ زائل شو.كوم چې دملك زوال منع كونكې وو.

تشريح وړاندې تير شوى ووكه بائع ته خيار وى.نو مبيع د بائع د ملكيت نه نه خارجيږى.اوكه مشترى ته خيار وى.نو مبيع د بائع د ملك نه خارجيږى.بيا د مشترى په ملكيت كې به راځى.او كه نه؟ په دې كې د امام ابوحنيفه اوصاحبينو ﷺ اختلاف دې.بهرحال هركله چې دا تفصيل معلوم دې.نو اوس واورئ! بائع يو كور خرڅ كړو.او خپل ځان لپاره ئې د خيار شرط اولګولو.نو چونكه مبيع د بائع په ملكيت كې دې.نو اوس به شفيع ته حق د شفعې نه رسيږى.البته كله چې بائع خيار ساقط كړى.او بيع

نافذ کړی.نو اوس به شفعه ثابتیږی

دلیله ځکه چې کوم شئ مانع وو.هغه زائل شو.او مبیع د بائع د ملکیت نه اووتلو.نو اوس به شفیع ته شفعه ملاویږی.

د مشتری د خیار شرط په صورت کښې د شفعې حق شته

وَإِنِ اشْتَرَى بِشَرْطِ الْخِيَارِ وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ اوکه مشتری په خیار شرط سره واخستلو.نو شفعه به ثابتیږی.

تشریح په مخکښې مسئله کې د بائع د خیار ذکر وو.او په دې کې د مشتری د خیار ذکر دې.او وړاندې معلومه شوې ده.چه د مشتری د خیار په صورت کې د بائع نه ملکیت اوځی.معلومه شوه.چه په دې صورت کې به شفعه ملاویږی.

دلیله ځکه چې د شفعې مدار د بائع د ملکیت زوال باندې دې.بهرحال کله چې مشتری خپل ځان لپاره خیار واخستلو.نو هغه ته اختیار شته.چه په دریو ورځو کې دننه که غواړی.نو بیع دې رد کړی.اوکه غواړی.نو بیع دې لازم او نافذ کړی.خو که په دریو ورځو کې دننه شفیع دا کور په شفعه کې واخلی.نو اوس به بیع پخپله لازم وی.ځکه چې اوس مشتری د بیع په رد کولو باندې قادر پاتې نشو.

په شراء فاسد سره خرڅ شوی کور کښې د شفعې حکم

(وَمَنِ ابْتَاعَ دَارًا شِرَاءً فَاسِدًا او چا چې خرڅ کړو.کور په شراء فاسد سره، فَلَا شُفْعَةَ فِيهَا نو په دې کې شفعه نشته.

تشریح د بیع فاسد بیان په تفصیل سره د په کتاب البیوع کې تیر شوی دې.بهرحال که یوکس په چا باندې خپل کور خرڅ کړو.خو د شرط فاسد لګولو په وجه بیع فاسد شوه.نو اوس به په دې کې شفیع ته شفعه نه ملاویږی

دلیله ځکه چې دلته دوه صورتونه دی.یا خو مشتری قبضه کړې ده او یا ئې نه ده کړې.که قبضه ئې نه ده کړې.نو اوس هم دا کور د بائع په ملکیت کې دې.چه دلته به د وړاندې تیر شوی اصولو مطابق د سره شفعه نه ملاویږی.او که مشتری قابض شوی دې.اوس به هم شفعه نه ملاویږی.ځکه چې دلته شریعت دا حکم ورکړی دې.چه دا بیع فسخ کړه.چه د بیع د فساد شرط لرې شی.او که شفعه ئې ورکړله.نو فساد به په ځائې د لرې کیدو نور هم پوخ شی.په دې وجه به شفعه نه ملاویږی.

د فسخ حق، ختمیدو باندې د شفعې حق ملاویږی

وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُتَعَاقِدَيْنِ الْفَسْخُ او په متعاقدینو کښې هریو کس ته د فسخ کولو اختیار شته فَإِنْ سَقَطَ الْفَسْخُ وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ نو که د فسخ حق ساقط شو.نو شفعه به ثابت وی.

تشریح په بیع فاسده کښې په متعاقدینو کښې هریو کس ته د فسخ اختیار شته خو که د فسخې کولو حق او اختیار یې خپله ختم کړل نو بیع لازم شوه اود بیع په لزوم سره شفعه هم ثابته شوه

دلیله شفعه ځکه ثابته شوه چې د شفعې عدم ثبوت د بیعې د فساد په وجه وو او هرکله چې فساد ختم شو نو مانع لرې شو او د مانع په لرې کیدو سره شفعه ثابته شوه

د شرابو یا خنزیر په بدله کښې د کور اخستلو

په صورت کښې ذمی شفیع لپاره څه حکم دې ؟

(وَإِذَا اشْتَرَى الذِّمِّيُّ دَارًا بِخَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ او کله ئې چې واخستلو د ذمی نه د شراب یا خنزیر په بدله کې

کور، وَشَفِيعُهَا ذِمِّيٌّ او ددې کور شفيع ذمی دې. أَخَذَهَا بِمِثْلِ الْخَمْرِ وَقِيمَةِ الْخِنْزِيرِ)نو دا به د شرابو په مثل او د خنزير د قيمت په بدله کې اخلی.

تشريح> د يو ذمی کور دې.چه دا بل ذمی د شرابو يا خنزير په بدله کې واخستلو.او د کور شفيع هم ذمی دې.

دليله> شفعه د مسلمان او ذمی ټولو لپاره عام ده.او د ذميانو لپاره د شرابو حکم زمونږ لپاره د سرکې د حکم پشان دې.او هغوی لپاره د خنزير حکم زمونږ لپاره د چيلئ د حکم پشان دې.بهرحال ذمی شفيع به د شرابو په صورت کې د شرابو مثل ورکوی.او دا کور به اخلی.او د خنزير په صورت کې به د خنزير قيمت ورکوی.او کور به اخلی.ځکه چې شراب د ذوات الامثال څنې دی.او خنزير د ذوات القيم څنې دې.او په ړومبی کې مثل او دوئم کې د قيمت حکم دې.

که شفيع مسلمان وی نو د شرابو او خنزير قيمت به ورکوی

(وَإِنْ كَانَ شَفِيعُهَا مُسْلِمًا اوکه د کور شفيع مسلمان وی. أَخَذَهَا بِقِيمَةِ الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ)نو شفيع به دا د شرابو او خنزير د قيمت په بدله کې اخلی.

تشريح> که ددې کور شفيع مسلمان وی.نو هغه ته به هم شفعه ملاوېږی.خو هغه به په دواړو صورتونو کې د شرابو يا خنزير قيمت ورکوی.

دليله> پاتې شو په خنزير کې قيمت ورکول، نو دا خو ښکاره ده.او پاتې شوه مسئله د شرابو، نو چونکه مسلمان نه په شرابو قبضه کولې شی.او نه بل ته ورکولې شی.نو د مسلمان په حق کې شراب د غير مثلی په حکم کې دی.نو شراب غير مثلی شو.او په غيرمثلی کې قيمت ورکولې شی.په دې وجه به دې کې هم قيمت ورکولې شی.

په هبه کښې شفعه نشته

وَلَا شُفْعَةَ فِي الْهِبَةِ او نشته شفعه په هبه کښې إِلَّا أَنْ تَكُونَ بِعِوَضٍ مَشْرُوطٍ مگر دا چې هغه د مشروط عوض سره وی

که زيد بکر ته کور ورکړو چې دا تاته زما د طرفه هبه دې نو په دې باندې عمرو شفعه نشی کولې البته که زيد بکر ته اووائی چې دا کور تا ته هبه کوم خو په دې شرط چې ته ماته فلانې څيز يا دومره روپئ راکړې نو په دې صورت کښې د عمرو دپاره شفعه ثابتيږی

دليله> په غير مشروطه هبه کښې شفعه ځکه نه ثابتيږی چې شفعه د بيعې په بنياد سره راځی او دلته بيع نشته بلکه هبه او د شرط په صورت کښې شفعه ځکه ثابتيږی چې په ظاهره دا هبه ده خو په حقيقت کښې دا بيع ده ځکه چې د هبه په عوض کښې څه څيز نه وی اود بيع په عوض کښې ثمن يا بل څيز کيدې شی نو هرکله چې په حقيقت کښې بيع شوه نو شفعه به ثابتيږی.

د ثمن په مقدار کښې د شفيع او مشتری د اختلاف مسئله

وَإِذَا اخْتَلَفَ الشَّفِيعُ وَالْمُشْتَرِي فِي الثَّمَنِ اوکله چې شفيع او مشتری په ثمن کې اختلاف اوکړی. فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِي)نو قول به د مشتری معتبر وی.

تشريح> صورت دمسئلې دا دې چې د مشتری او شفيع په مينځ کې د ثمن د مقدار په باره کې اختلاف پيدا شی.مشتری دا وائی.چه ما دا کور په دوه زره (درهمو) اخستې دې.او شفيع وائی.چه تا په يو زر (درهمو) اخستې دې.نو د مشتری قول به معتبر وی.

دليله خکه اصول دا مقرر دي.چه مدعي فريضه ده.گواهان قائمول، او د مدعى عليه فريضه ده.د مدعي (د گواهانو نه) د عاجز کيدو په صورت کي قسم خوړل.نو دلته مدعي شفيع دي.او مدعى عليه مشتري دي.نو يا خو دي شفيع گواهان راولي.گني سره د قسم نه به د مشتري قول معتبر وي.

که شفيع او مشتري دواړه گواهان قائم کړي نو څه حکم دي ؟

فَإِنْ أَقَامَا الْبَيِّنَةَ او که (مشتري او شفيع) دواړو بينه قائم کړل. فَالْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الشَّفِيعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ() نو د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمه الله په نيز به د شفيع گواهان معتبر وي.

تشريح **مسلک الطرفين** په رومبي صورت کي د مشتري قول معتبر وو.خو که دواړو گواهان قائم کړل.نو د طرفينو رحمهما الله په نيز به د شفيع گواهان معتبر وي.او د امام ابويوسف رحمه الله په نيز به د مشتري (گواهان معتبر وي).

دلائلهما رحمهما الله ① دليل دي.چه د شفيع گواهان معتبر دي.د مشتري نه دي.اگرچه د شفيع گواهان د يو زر (درهمو) گواهي ورکوي.او د مشتري (گواهان) د دوو زرو (درهمو گواهي ورکوي).ددي باوجو ددوی دواړو په مينځ کي هيڅ تعارض نشته.بلکه تطبيق ممکن دي.چه مخکي د بائع او مشتري په مينځ کي په دوه زره کي معامله (او عقد) شوي وو.او بيا بائع زر (درهم) کم کړي وي.يا ئي دوباره په دوئم خل په يو زر (درهمو) بيع کړي وي.نو هرکله چي دوه بيعي دلته منلي کيدي شي.او شفيع ته دا اختيار شته.چه په کومه کي هغه ته نفع ده.هغه صورت دي اختيار کړي.نو هغه ته اختيار شته.چه دکوم بيع په سبب سره غواړي.دا کور دي په شفعه کي واخلي.

② بيا د طرفينو رحمهما الله د ارخه عقلي دليل پيش شوي دي.د هغي حاصل دا دي.چه د گواهانو کار لازمول دي.نو د چا په گواهانو کي چي لازمول وي.د هغه گواهان به معتبر وي.اوس مونږ اوکتل.چه لازمول د شفيع په گواهانو کي دي.د مشتري په گواهانو کي نه دي.خکه که مشتري په دوو زرو باندي بيع ثابته کړله.نو شفيع دا کولي شي.چه دي شفعه پريږدي.مشتري په دا باندي هيڅ نه لازموي.او که شفيع په زر (درهمو) باندي بيع ثابته کړي.نو په مشتري به دا لازمه وي.چه کور هم په دي قيمت باندي ورکړي.نو معلومه شوه.چه لا زمونکی د شفيع گواهان دي.د مشتري نه دي.نو کوم چي لازمونکي وي.د هغه اعتبار به کولي شي.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: الْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الْمُشْتَرِي او امام ابويوسف رحمه الله فرمائيلي دي.چه د مشتري گواهان به معتبر وي.

تشريح **مسلک ابي يوسف** دامام ابويوسف په نيز د مشتري گواهان معتبر دي

دليله د گواهانو کار دا دي.چه کوم شئ ثابت شوي نه وي.هغه ثابت کړي.په داسي صورت کي ددي لحاظ ساتلي کيږي.او په کوم کي چي د اثبات ارخ زيات وي.د هغي اعتبار کولي شي.او دا خبره د مشتري په گواهانو کي شته.خکه چي هغوی د زيادت ثابتونکي دي.نو د هغوی اعتبار به کولي شي.

د ثمن په مقدار کښي د بائع او مشتري د اختلاف مسئله

وَإِذَا ادَّعَى الْمُشْتَرِي ثَمَنًا أَكْثَرَ او کله چي مشتري د زيات ثمن دعوه اوکړله. وَادَّعَى الْبَائِعُ أَقَلَّ مِنْهُ او

[1]) القول الراجح هوهذا قول الطرفين . رحمهما الله كذا في الخانية (۴۵۳/۴) ونصب الراية (۲۴۷/۵) والدرالمختار (۱۰۶/۵) نقلاعن القول الراجح (۲۷۲/۲)

بائع د هغې نه د کمو دعوه اوکړله. وَلَمْ يَقْبِضِ الثَّمَنَ حالانکه بائع په ثمن باندې قبضه نه ده کړې. أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِمَا قَالَهُ الْبَائِعُ نو شفيع به کور هم په دې مقدار سره اخلي.کوم چې بائع وائي. وَكَانَ ذَلِكَ حَطًّا عَنِ الْمُشْتَرِي)او دا به د مشتري (د ذمې) نه کمول وي.

حل اللغة ⟨ ① **ادعي**:دعوی اوکړه ② **حطًّا**:کمول يا کميدل

تشريح ⟨ تر اوسه پورې بائع په ثمن باندې قبضه نه ده کړې.او بائع په زر روپۍ خرڅول بيانوي.او مشتري په دوه زره روپۍ ښائي.نو داسې به ګڼړلې شي.چه شفيع څه ثمن کم کړو.او دا کمی به د شفيع په حق کې هم ښکاره کيږي.نو شفيع به د بائع د قول اعتبار کوي.او د ثمن په کم مقدار باندې به مشفوعه کور اخلي.

دلائله ⟨ ① ځکه چې حقيقت کې يا بائع په حقه دې.يا مشتري په حقه دې.په رومبی صورت کې خو د بائع قول معتبر منلو کې هيڅ کلام نشته.او په دوئم صورت کې به دا په ثمن کمولو باندې محمول کولې شي.نو په دواړو صورتونو کې به د بائع د قول اعتبار کولې شي.

② داعقلي دليل دې چې شفيع ته د شفعې ملاويدو وجه د بائع ايجاب دې.يعنی د بائع د ايجاب په وجه شفيع ته حق د تملك حاصل شوې دې.نوهرکله چې خبره هم دا ده.نوترکومه پورې چې د بائع (د ثمن) مطالبه باقي ده.هم دده قول به معتبر وي.

که بائع په ثمن باندې قبضه اوکړله نو هغه پښان د اجنبي دې

وَإِنْ كَانَ قَبَضَ الثَّمَنَ اوکه بائع په ثمن باندې قبضه کړې وي. أَخَذَهَا بِمَا قَالَ الْمُشْتَرِي نو شفيع به هغه مقدار سره (کور) اخلي.کوم چې مشتري ښائي. وَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَى قَوْلِ الْبَائِعِ او د بائع قول ارخ ته به التفات نشي کولې

حل اللغة ⟨ ① **لم يلتفت**:نه به شي کتلې

تشريح ⟨ تراوسه پورې چې کوم کلام (او تقرير) شوې وو.په هغه صورت کې وو.چه بائع په ثمن باندې قبضه نه وي کړې.اوکه بائع په ثمن قبضه اوکړه نو د مشتري قول به معتبر وي.

دليله ⟨ ځکه چې کله بائع په ثمن باندې قبضه کړې ده.نو اوس هغه د اجنبي پشان شو.او د مينځ نه بالکل اووتلو.بلکه اوس خو اختلاف د مشتري او شفيع په مينځ کې باقي پاتې شو.او وړاندې مسئله تيره شوې ده.چه کله د مشتري او شفيع په مينځ کې اختلاف وي.نو د مشتري قول به معتبر وي.نو که په مذکوره صورت کې شفيع اخستل غواړي.نو د مشتري د قول مطابق ثمن ادا کولو سره اخستلې شي.

وَإِذَا اجْتَمَعَ الشُّفَعَاءُ اوکله چې جمع شي شفعه کونکي فَالشُّفْعَةُ بَيْنَهُمْ عَلَى عَدَدِ رُؤُسِهِمْ نو شفعه د دوی په مينځ کښې د سرونو په برابرۍ ده وَلَا يُعْتَبَرُ بِاخْتِلَافِ الْأَمْلَاكِ او اعتبار نشته اختلاف د ملکيتونو ته

که شفعه کونکي په يوه درجه کښې په يوه شفعه کښې شريك شي نو هريو ته د خپل سر په بدله کښې شفعه ملاويږي د حصې د کمی زياتی اعتبار به نه وي مثلاً که په يو کور کښې درې کسان شريکان دی د يو په کښې نيم د دويم په کښې دريمه حصه او د دريم په کښې شپږمه حصه ده او په دې کښې د نيمې حصې مالك خپله حصه خرڅه کړه نو باقي د ثلث او د سدس حصې شفعاؤ ته به برابر حصه ملاويږي

داسي نه ده چې د ثلث واله ته به د سدس والا دوچنده ملاويږي ([1])

دليله> د دې دليل دحضرت شعبی اثر دې دوی فرمائی «الشفعة علی رؤوس الرجال وكذلك قال ابراهيم» ([2]) يعنی شفعه د سرونو په اعتبار سره ده اودغه شان ابراهيم رحمة الله هم فرمائيلی دی

د سامان،يا د كيلی يا وزنی څيز په بدله كښې

د كور اخستلو په صورت كښې به شفيع څه ادا كوی؟

وَمَنِ اشْتَرَى دَارًا بِعَرَضٍ او چا چې يو كور واخستلو.د څه سامان په بدله كې ، أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِقِيمَتِهِ) نو شفيع به دا كور د هغې د قيمت په بدله كې اخلی

تشريح> مشتری كور د څه شئ په بدله كې اخستې دې.كه د ثمن په بدله كې دې.نو ددې تفصيل خو تير شو. اوكه د سامان په بدله كې دې.يعنی د سرو زرو او سپينو زرو نه علاوه د بل څه سامان په بدله كې دې.نو ددې سامان دوه صورتونه دی:① دا سامان د ذوات القيم څنې دې.② او كه د ذوات الامثال څنې دې. په ړومبی صورت كې به شفيع ددې سامان قيمت وركوی.او دا كور به اخلی.او په دوئم صورت كې به ددې مثل وركوی.

دليله>څكه چې شريعت شفيع دا حق وركړې دې.چه هغه د مشتری د ملكيت د هغه د رضامندئ نه بغير مالك شی.خو هغه چې د كوم شئ په بدله كې ملكيت حاصل كړې دې.هم هغه شئ هغه ته ملاويدل پكار دي.نو تركومه پورې چې كيدې شی.د مثل ور كولو پوره رعايت (او لحاظ) ساتل پكار دی.نوكه په مثل صوری ور كولو باندې قدرت وی.نو مثل صوری دې وركړی.ګنی مثل معنوی دې وركړی.د مثل صوری مطلب مثل دې.يعنی په ذوات الامثال كې ، او د مثل معنوی مطلب قيمت دې.يعنی ذوات القيم كې ،كه يوكس د چا سامان ضائع كړی.هلته هم دا حكم دې.

د زمكې په مقابله كښې زمكه اخستل

وَإِنِ اشْتَرَاهَا بِمَكِيلٍ أَوْمَوْزُوْنٍ أَخَذَهَا بِمِثْلِهِ

تشريح> كه چا مشفوعه كور په كيلی څيز يا په وزنی څيز سره واخستل مثلاً په پټرولو سره چې دا كيلی څيز دې يا په اوسپنه سره چې دا وزنی څيز دې نو شفيع به ددې مثل وركړی او كور به واخلی .

دليله> دليل دا دې چې كيلی او زونی څيزونه د ذوات الامثال څنی دی او ددې مثل پيدا كيږی.نو ددې په مثل به وركړی اوكور به واخلی.

(وَإِنْ بَاعَ عَقَارًا بِعَقَارٍ او كه زمكه ئې د زمكې په بدله كې خرڅه كړله. أَخَذَ الشَّفِيعُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِقِيمَةِ الْآخَرِ)نو اخلی به شفيع په دې دواړو كې هر يو د دوئم د قيمت په بدله كې .

تشريح> دلته دا بيان كوی چې عددی متقارب په ذوات الامثال كې شمار كړې شوې دې.كه يوكس خپله زمكه خرڅه كړله.او د هغې په بدله كې ئې خپله زمكه وركړله.او ددې دواړو زمكو شفيع شته.نو هغوی به څه قيمت وركوی.او دا زمكه به اخلی؟ نو وې وئيل.چه د بائع د زمكې شفيع به ددې په بدله

---

[1] امام شافعی رحمه الله فرمائی چې هريو ته به د هغه د حصې په عوض شفعه ملاويږی نو په مذكوره مثال كښې به صاحب د ثلث ته د صاحب سدس دوه چنده شفعه ملاويږی

[2] مصنف عبدالرزاق (۸ | ۸۵)-

کي د مشتري د زمکې قيمت ورکوی.او د مشتري د زمکې شفيع به ددې په بدله کي د بائع د زمکې قيمت ورکوی.

دليله> ځکه چې زمکه د ذوات القيم څخې ده.په دې وجه به ددې قيمت ورکوی.او هر شفيع به دا اخلی.

په زيات قيمت سره د خبرېدو په وجه د شفعې پرېښودو اعتبار نشته

وَإِذَا بَلَغَ الشَّفِيعَ أَنَّهَا بِيعَتْ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ فَسَلَّمَ الشفعة او کله چې شفيع ته داخبر اورسېدو .چه کور په زر درهم کي خرخ کړې شوې دې.نو هغه د شفعې نه بيزاری ښکاره کړله. ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهَا بِيعَتْ بِأَقَلَّ مِنْ ذَالِكَ أَوْ بِحِنْطَةٍ أَوْ شَعِيرٍ يا هغه ته معلومه شوه.چه کورد دې نه په کم کي خرخ شوې دې. قِيمَتُهَا أَلْفٌ أَوْ أَكْثَرُ فَتَسْلِيمُهُ بَاطِلٌ وَلَهُ الشُّفْعَةُ يا د غنمو په بدله،يا د اوربشو په بدله خرخ شوې دې.چه ددې قيمت زر(درهم) يا ددې نه زيات دې .نو دده بيزاری باطل ده.او هغه لپاره شفعه شته.

حل اللغة> ① **درهم**: روپۍ ② **اقل**:کم ③ **حنطة** :غنم ④ **شعير**:اوربشې ⑤ **تسليم**:سپارل

تشريح> شفيع ته چا خبر ورکړو.چه کور په زر درهم کي خرخ شوې دې.حالانکه معامله داسې نه ده.بلکه په حقيقت کي بيع په پنځه سوه درهم کي شوې ده.او په رومبی خبر اورېدو سره شفيع ثمن زيات ګنړلې وو.نو بيزاری ئې اختيار کړې وه.نو دهغه شفعه به نه باطلېږی.اوکه هغه ته ئې خبر ورکړو.چه کور په زر درهم کي خرخ شوې دې.حالانکه هغه د غنمو يا اوربشو يا د بل څه مکيلی او موزونی يا عددی متقارب په بدله کي خرخ شوې دې.خو ددې مکيلی او موزونی يا عددی متقارب قيمت زر درهم دې.او شفيع په رومبی خبر اورېدو سره د شفعې نه بيزاری اختيار کړې وه.(او د شفعې نه ئې انکار کړې وو).اوس معلومه شوه.چه معامله داسې ده.نو بيا هم ددې بيزاری باطل ده.او دده د شفعې حق پخپل حال قائم دې.

دليله> ځکه چې هغه رومبی صورت کي د ثمن د زياتوالی په وجه بيزاری ښکاره کړې ده.اوپه دوئم صورت کي د بيزارئ وجه دا کيدې شی.چه زر درهم ملاويدل مشکل دی.او غنم او اوربشې وغيره ورکول دده لپاره آسان دی.خاص کر د زميندارو خلقو لپاره روپۍ ورکول لږ مشکل دی.او غله ورکول آسان دی.

وَإِنْ بَانَ أَنَّهَا بِيعَتْ بِدَنَانِيرَ قِيمَتُهَا أَلْفٌ .چه کور د دنانيرو په بدله کي خرخ کړې شوې دې.چه ددې قيمت زر (درهم) دې. فَلَا شُفْعَةَ لَهُ(1) نو شفيع لپاره شفعه نشته.

حل اللغة> ① **دنانير**:اشرفی ② **متحد**:يو ③ **الف**:زر

تشريح> که شفيع ته مخکې معلومه شوه.چه کور په زر درهم کي خرخ شوې دې.نو هغه د شفعې نه بيزاری اختيار کړله.بيا روستو معلومه شوه.چه کور د دنانيرو په بدله کي خرخ شوې دې.چه ددې قيمت زر درهم يا زيات دې.نو شفعه به نه ملاويږی.

دليله> ځکه چې د ثمنيت په حق کي جنس متحد دې.په دې وجه خو زکاة کي يو د بل سره ملاوولې شی.نو دغه شان به شفعه به نه وی

[1]) القول الراجح هوهذا قول علماءنا الثلاثة رحمهم الله كذا في مجمع الأنهر (١٢٠/٤) ونصب (٢٦٠/٥) وردالمحتار (١٧٠/٥)نقلاً عن القول الراجح (٢٧٤/٢)۔

د مشتري شریف یا بدعمله کیدو په وجه د شفعي پرېښودو یا نه پرېښودو مسئله

وَإِذَا قِيلَ لَهُ إِنَّ الْمُشْتَرِيَ فُلَانٌ فَسَلَّمَ الشُّفْعَةَ او کله چې اوونیلی شو شفیع ته، چې مشتري فلانې دې.نو هغه د شفعې نه بیزاري اختیار کړله. ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ غَيْرُهُ بیا معلومه شوه.چه مشتري د هغه نه علاوه دې. فَلَهُ الشُّفْعَةُ نو هغه له شفعه نشته.

تشريح> که شفیع ته مخکې معلومه شوه.چه مشتري فلانې کس دې.چه دا ښه (شریف) سړې دې.نو هغه خپل حق د شفعې پرېښودو.بیا معلومه شوه.چه دا خو فلانی بدمعاش اخستې دې.چه هغه به همیشه ما پریشانه کوی.نو شفیع ته به شفعه ملاویږی.

دليله> ځکه چې په ګاونډی ګاونډی کې فرق وی.کیدې شی چې دې په اولنی ګاونډی راضي وو ځکه دې شفعه پرېښوده خوچې کله ورته معلومه شوه چې کور هغه کس واخستل د کوم ګاونډیتوب چې دې نه خوښوی نو ځکه به دده شفعه دوباره ثابته وی

وکیل بالشراء د شفیع مقابل دې

وَمَنِ اشْتَرَى دَارًا بِغَيْرِهِ اوچا چې واخستلو یو کور د خپل ځان نه علاوه دپاره، فَهُوَ الْخَصْمُ فِي الشُّفْعَةِ نو هم دې به د شفیع خصم وی.

تشريح> اصول دا دې.چه په بیع کې وکیل اړخ ته حقوق د عقد راجع وی.نوکه یوکس د بل چا وکیل جوړ شو.او کور نې واخستلو.او تر اوسه پورې نې موکل ته حواله نکړو.نو شفیع وکیل سره خصومت کولې شی.او شفعه اخستې شی.

دليله> ځکه چې شفعه کې اخستل هم د عقد بیع یو حق دې.او حقوق وکیل اړخ ته راجع کیږی.

(إِلَّا أَنْ يُسَلِّمَهَا إِلَى الْمُوَكِّلِ خو دا چې وکیل دا کور موکل ته اوسپاری.

البته که وکیل موکل ته سپارلې دې.نو اوس به مخاصمت وکیل سره نه کیږی.

دليله> ځکه چې نه دهغه قبضه پاتې شوه.اونه ملکیت پاتې شو.ځکه چې وکیل او موکل ، د بائع او مشتري په درجه کې دی.نوکوم حکم چې هلته کې وو.هم هغه به په وکیل او موکل کې وی.

شفیع سره مولبنتی یوګز ځائې نه خرڅولو سره د شفیع شفعه ساقطیږی

وَإِذَا بَاعَ دَارًا إِلَّا مِقْدَارَ ذِرَاعٍ او کله نې چې خرڅ کړو کور، خو ددې نه د یو ګز په مقدار(نې خرڅ نکړو) فِي طُولِ الْحَدِّ الَّذِي يَلِي الشَّفِيعَ د هغه پولې (او حد) په اوګدوالی کې کوم چې شفیع سره ملاو شوې دې. فَلَا شُفْعَةَ لَهُ نو هغه لپاره به شفعه نه وی

حل اللغة> ① ذراع: ګز ② مقدار: اندازه ③ الانقطاع: ختمیدل

تشريح> بائع او مشتري چې کوم کور خرخول غواړی.د هغې په ګاونډ کې ډیر بدمعاش سړې آباد دې.که هغه د شفعې دعوه اوکړله.نو ټولو ګاونډیانو ته به تکلیف اورسوی.نو بائع له پکار دی.چه خپل واړه کور مشتري باندې خرڅ کړی.خو د کوم اړخه چې دا کور د شفیع کور سره مولبنتی (ملاو شوې) دې.د هغه ځائې نه دې د یو ګز په اندازه پوره پوله (حد) پرېږدی.یعنی دا دې نه خرڅوی.نو اوس به دا (بدمعاش) ګاونډی په دې کور کې د شفعې مستحق نه وی.

دليله> ځکه چې څومره برخه خرڅه شوې ده.د هغه برخې (حصې) دده ملکیت سره اتصال نشته.او کله چې بائع باقی د مشتري په لاس خرڅوی.بیا به هم شفیع ته شفعه نه ملاویږی.ځکه چې شفیع صرف

ګاونډی دې.او مشتری شریك دې.او وړاندې تیر شوی دی.چه شریك په ګاونډی باندې مقدم وی.

نیم کور د ثمن په بدله کښې اخستلو نه روسته

باقي برخه اخستلو سره د شفعې د سقوط صورت

وَإِذَا بَاعَ مِنْهَا سَهْمًا بِثَمَنٍ ثُمَّ ابْتَاعَ بَقِيَّتَهَا اوکله نې چې واخستله د کور يوه برخه د ثمن په بدله کې ،بيا نې واخستله د کورباقي برخه فَالشُّفْعَةُ لِلْجَارِ فِي السَّهْمِ الْأَوَّلِ دُونَ الثَّانِي)نو ګاونډی لپاره په مخکني برخه کې شفعه شته.په دويمه (روستني) برخه کې نشته.

حل اللغة ﴿۱﴾ **السهم**: حصه

تشریح﴿ مشتری د یوکور یوه برخه واخستله.بیا ئې په دوئم ځل باقي کور واخستلو.نو اوس شفیع صرف په مخکني برخه کې د شفعې دعوه کولې شی.

خکه چې شفیع خو ددې دواړو (حصو) ګاونډی دې.خو مشتری په دویمه برخه کې شریك دې.او شریك په ګاونډی باندې وړاندې وی.

کور د ثمن په بدله کښې اخستلو نه روسته په

عوض کښې کپړو ورکولو سره دشفعې د سقوط

وَإِذَا ابْتَاعَهَا بِثَمَنٍ او کله چې یې کور واخستلو د ثمن په بدله کې ،، ثُمَّ دَفَعَ إِلَيْهِ ثَوْبًا عِوَضًا عَنْهُ بیا نې بائع ته د ثمن په بدله کې کپړه ورکړله. فَالشُّفْعَةُ بِالثَّمَنِ دُونَ الثَّوْبِ نو شفعه به د ثمن په بدله کې وی.د کپړې په بدله کې به نه وی.

تشریح﴿ مثلاً د کور قیمت درې زره درهم دی.او کور د شل زره درهمو په عوض خرڅ کړې شو.او بیا د شل زرو درهمو په بدله کې یو څو جوړه کپړې واخستلې شوې.چه ددې قیمت درې زره درهم دې.نو په دې سره شفعه ساقطیدې شی.خکه که شفیع شفعه کې کور اخستل غواړی.نو شل زره درهم ور کولو سره اخستلې شی.د کپړو په بدله کې ئې نشی اخستلې.

دلیله﴿ خکه چې د کپړو د لین دین مسئله، دا د بائع او مشتری په مینځ کې جدا عقد دې.اصل عقد سره ددې هیڅ تعلق نشته.نو د کور ثمن شل زره درهم دی.درې زره درهم یا کپړې نه دی.نو په دومره ګران اخستلو باندې به زړه ورتیا نشی کولې.

شفعه ساقطولو لپاره د حیلې کولو حکم

وَلَا تُكْرَهُ الْحِيلَةُ فِي إِسْقَاطِ الشُّفْعَةِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رحمه الله (۱) او د امام ابویوسف رحمه الله په نیز شفعه ساقطولو کې حیله مکروه نه ده.

حل اللغة ﴿۱﴾ **اسقاط**: ساقطول

تشریح﴿ د شفعې په ساقطولو کښې دامام ابویوسف په نیز حیله کول مکروه نه ده یعنی امام ابویوسف رحمه الله یې د کراهت نه بغیر جائز ګنړی.

دلیله﴿ دامام ابویوسف رحمه الله دلیل دا دې که د شفیع حق ثابتیدو نه روسته دا لرې کولې شو.بیا به خو

---

[1]) القول الراجح هوهذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في الدرالمختار (۱۷۳/۵) ونتائج الأفكار(۱۴۷/۸) نقلاً عن القول الراجح (۲۷۶/۲)_

د شفیع ضرر شمار کیدو.او دلته اوسه پورې د شفیع حق د سره ثابت شوې نه وو.چه دهغې د ثابتیدو امکان ختم کړې شو.نو دا به ضرر او ظلم څنګه وي.

وقال محمد تکره رحمه الله او امام محمد رحمه الله فرمائي چې مکروه ده.

د امام محمد رحمه الله اختلاف دې.امام محمد رحمه الله دې ته مکروه وائي.

دلیله> د شفعې ثبوت ددې لپاره شوې دې.چه د شفیع ضرر لرې کړې شي.او که مونږ حیله اختیار کړو.او دده حق ساقط کړو.نو ګویا مونږ د خلقو ضرر لرې نکړو.په دې وجه دا فعل مکروه دې.

که مشتری په مشفوعه کور کښې څه تعمیر اوکړي نو شفیع لپاره څه حکم دې ؟

(وَإِذَا بَنَى الْمُشْتَرِي اوکله چې مشتری کور جوړ کړو أَوْ غَرَسَ.یا نې ونې اولګولې. ثُمَّ قُضِيَ لِلشَّفِيعِ بِالشُّفْعَةِ بیا شفیع لپاره د شفعې فیصله اوکړې شوه. فَهُوَ بِالْخِيَارِ، إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِالثَّمَنِ نو شفیع اختیار سره دې.که غواړي.دا زمکه دې د ثمن په بدله کې واخلي. وَقِيمَةِ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ مقلوعین او آبادی او ونې ویستلې شوې دې د قیمت په بدله کې واخلي، وَإِنْ شَاءَ كَلَّفَ الْمُشْتَرِي بِقَلْعِهِ)او که غواړي.مشترې دې ددې د اوښکلو مکلف کړي.

حل اللغة> ① **غرس:** بوټي اوکرل ② **البناء:** آبادي ③ **القلع:** ویستل،ختمول

تشریح> مشتری کور واخستلو.په دې کې نې آبادی جوړه کړله.یا نې باغ اولګولو.بیا شفیع لپاره قاضی د شفعې فیصله ورکړله.نو په ظاهرالروایة کې اوس شفیع لپاره دوه حکمونه دي: ① که هغه غواړي.نو ددې زمکې ثمن او د آبادۍ او ونو قیمت دې ورکړي.او دا دې واخلي. ② او که غواړي.نو مشتری ته دې اووائي.چه خپله آبادی دې ورانه کړه.او ونې دې اوباسه.

دلیله> اصول دا دې.که په یو شئ کې د چا حق وي.او حقدار خوك مسلط (مقرر) کړې نه وي.چه په دې کې څه تصرف اوکړي.او څوك (پخپله) تصرف اوکړي.نو د هغه تصرف ماتولې شي.هرکله چې دا اصول مقرر دې.نو اوس اوګورئ.چه دا د شفیع حق دې.او شفیع مشتری ته حکم نه دې ورکړې.چه دلته کور جوړ کړي.او هغه جوړ کړو.نو ددې قاعدې مطابق به د هغې د ورانولو حکم ورکولې شي.دا د طرفینو مسلك دې.

مسلك ابي یوسف> دا د امام ابویوسف رحمه الله قول نقل کړې شوې دې.چه مشتری ته به د اوښکلو تکلیف نشي ورکولې .بلکه شفیع ته به صرف دوه اختیاره ملاویږي: ① د آبادۍ او ونو قیمت ورکړي.او د زمکې ثمن ورکړي.او مشفوع (کور) واخلي. ② شفع پرېږدي.

د شفیع د اخستلو نه روستو څوك مستحق راوځي نو څه حکم دې ؟

وَإِنْ أَخَذَهَا الشَّفِيعُ فَبَنَى اوکه واخستله دا زمکه شفیع،بیا نې آبادی اوکړله. أَوْ غَرَسَ یا نې ونې اولګولې. ثُمَّ اسْتُحِقَّتْ بیا دا زمکه مستحق اوختله. رَجَعَ بِالثَّمَنِ نو شفیع به ثمن واپس اخلي.

تشریح> مشفوعه زمکه شفیع واخستله.په دې کې نې کور جوړ کړو.یا نې باغ اولګولو.اوس یوکس ددې زمکې د استحقاق دعوه اوکړله.او قاضی د مستحق لپاره فیصله اوکړله.نو زمکه به د مستحق وي.او شفیع ته به ونیلې شي.چه خپله آبادی ورانه کړه.یا ونې اوباسه.او یونې سه.د آبادۍ قیمت یا ددې د ورانولو نقصان به هغه ته نه ملاویږي.بلکه هغه ته به صرف ثمن ملاویږي.چه دا به د بائع نه د اخستلو په صورت کې بائع ادا کوي.او د مشتری نه د اخستلو په صورت کې به نې مشتری ادا کوي.او

شفیع ته به د آبادئ وغیره قیمت نه د مستحق د اړخه ملاویږی.او نه به د بائع د اړخه ملاویږی.

دلیله> دا ځکه چې هرکله د شفعې په بنیاد باندې شفیع زمکه واخستله او بیا بل کس دعوی اوکړه چې دغه زمکه د هغه ده او هغه خپله دعوی ثابته کړه نو معلومه شوه چې په اول کښې د شفعې په بنیاد ده ته دا زمکه ملاو شوې وې نو دې د شفعې مستحق نه وو.بغیر د حقه ده ته ملاو شوې ده نو اوس به دې د بائع یا مشتری نه د آبادئ اود ونو تاوان نه اخلی

د شفیع د اخستلو نه روستو څوک مستحق راوځي نو څه حکم دې ؟

وَاِنْ اَخَذَهَا الشَّفِيْعُ فَبَنٰى اوکه واخستله دا زمکه شفیع.بیا ئې آبادی اوکړله. اَوْغَرَسَ یائې ونې اولګولې. ثُمَّ اُسْتُحِقَّتْ بیا دا زمکه مستحق اوختله. رَجَعَ بِالثَّمَنِ نو شفیع به ثمن واپس اخلی. وَلَا يَرْجِعُ بِقِيْمَةِ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ او رجوع به نه کوی (شفیع) د آبادئ او ونو د قیمت په سلسله کې.

تشریح> مشفوعه زمکه شفیع واخستله.په دې کې ئې کور جوړ کړو.یا ئې باغ اولګولو.اوس یو کس ددې زمکې د استحقاق دعوه اوکړله.او قاضی د مستحق لپاره فیصله اوکړله.نو زمکه به د مستحق وی.او شفیع ته به وئیلې شی.چه خپله آبادی ورانه کړه.یا ونې اوباسه.او یونې سه.د آبادئ قیمت یا ددې د ورانولو نقصان به هغه ته نه ملاویږی.بلکه هغه ته به صرف ثمن ملاویږی.چه دا به د بائع نه د اخستلو په صورت کې بائع ادا کوی.او د مشتری نه د اخستلو په صورت کې به ئې مشتری ادا کوی.او شفیع ته به د آبادئ وغیره قیمت نه د مستحق د اړخه ملاویږی.او نه به د بائع د اړخه ملاویږی.

دلیله> اوکه دا استحقاق د بیعې په باب کښې راشی نو په هغې کښې به په بائع د آبادئ او د ونو کرلو تاوان راځی خو د شفعې په صورت کښې به نه راځی وجه د فرق دا دې چه د بائع او مشتری په مسئله کې بائع مشتری ته دهوکه ورکړې ده.او بائع مشتری په دې باندې تصرف کولو باندې مقرر کړې وو.په دې وجه به بائع اړخ ته رجوع کړی.خو د شفیع په مسئله کې شفیع ته مشتری هیڅ دهوکه نه ده ورکړې.او نه مشتری شفیع مقرر کړې دې.بلکه مشتری خو مجبوراً دا زمکه شفیع ته حواله کړې ده.په دې وجه رومبی صورت کې رجوع صحیح ده.او په دوئم صورت کې صحیح نه ده.

مسلک ابي یوسف> دې مسئله کې امام ابویوسف رحمه الله فرمائی.چه شفیع به خپل نقصان د بائع یا مشتری نه پوره کوی.یعنی د بائع نه داخستلو په صورت کې به نقصان د بائع نه وصولوی.او د مشتری نه د اخستلو په صورت کې به نقصان د مشتری نه وصولوی.

دلیله> ځکه چې شفیع په دوی دواړو کې د یو نه ملکیت حاصل کړې دې.نو شفیع او د چا نه چې شفیع اخستې ده.دوی دواړه به د بائع او مشتری په درجه کې راکوزولې شی.او مشتری به د مبیع د استحقاق په صورت کې بائع اړخ ته رجوع کوی.نو هم دغه شان به شفیع هم رجوع کوی.

د کور ورانیدو،یا د آبادئ خرابیدو په صورت کښې شفیع لپاره څه حکم دې ؟

وَاِذَا انْهَدَمَتِ الدَّارُ او هرکله چې کور وران شو. اَوِاحْتَرَقَتْ بِنَاؤُهَا یا ددې آبادی اوسوزیدله. اَوْجَفَّ شَجَرُ الْبُسْتَانِ بِغَيْرِ عَمَلِ اَحَدٍ یا.د باغ ونې اوچې شوې. د چا د فعل نه بغیر. فَالشَّفِيْعُ بِالْخِيَارِ نو شفیع ته اختیار دې. اِنْ شَاءَ اَخَذَهَا بِجَمِيْعِ الثَّمَنِ)که غواړی.دا دې واخلی.په پوره ثمن سره،

حل اللغة> ① **انهدمت**:اونړیدو② **الدار**:کور③ **احترق**:اوسوزیدو④ **جف**:اوچه شوه⑤ **شجر**: ونه⑥ **بستان**: باغ

تشریح> ورانډې د دې بیان شوې دې چې وصف د موصوف تابع دې.او دا اصول مقرر دې. چې

ترکومه پورې وصف مقصود جوړ نشی.د وصف په مقابله کې به ثمن نه راځي.يعنى د وصف په زیاتوالی سره به ثمن کې زیاتوالې نه راځي.او د وصف په کموالی سره به ثمن کې کمې نه راځي.او په آبادئ کې اور لګیدو سره دديې سوزیدل، او د آبادئ غورزیدل، یا د باغ د ونو اوچیدل، دا د کور او باغ اوصاف دی.

دلیله﴾ ځکه چې دا د کور او باغ تابع دی.او په دیرش بیګه (یعنی اتیا مرلې) زمکه کې د پنځلسو بیدل (او غرقیدل) یعنی په دریاب کې ملاویدل، دا د وصف کمې نه دې.بلکه د اصل او ذات کمې دې.ځکه چې د زمکې په ذات کې کمې واقع شوې دې.بهرحال رومبې تابع دې.او په دوئم صورت کې پنځلس بیګه (څلویښت مرلې) زمکه د نورې پنځلس بیګه زمکې تابع نه ده.د رومبی د وصف کیدو دلیل دا دې.که یوکس کور واخستلو.او د عمارت ئې په دې کې هیڅ ذکر اونکړو.بیا به هم عمارت په بیع کې داخل وی.دغه شان د زمکې اخستلو کې به ونې داخل وی.معلومه شوه چې دا اوصاف دی.

(وَإِنْ شَاءَتَرَكَ)اوکه غواړی.پرې دیږدی.

تشریح﴾ په مذکوره صورت کښې شفیع ته لکه څنګه د کور د اخستلو اختیار دې دغه شانورته د کور د نه اخستلو اود پریخودو اختیار هم شته

دلیله﴾ ځکه چې شفیع ته دا حق حاصل دې چې کله مال ورکوی اود خپل مال په بدله کښې د یو کور مالك کیږی نو اوس د دہ خوښه ده که کور نه اخلی او پیسې نه ورکوی نو په ده باندې څه جبر او زور نشته

مشتری آبادی ورانه کړی نو شفیع لپاره څه حکم دی ؟

وَإِنْ نَقَضَ الْمُشْتَرِي الْبِنَاءَاوکه مشتری آبادی ورانه کړله. قِيلَ لِلشَّفِيعِنو شفیع ته به ونیلې شی. إِنْ شِئْتَ فَخُذِ الْعَرْصَةَ بِحِصَّتِهَا،که ته غواړې.نو خالی ځائې (زمکه) ددې د برخې (حصې) په بدله کې واخله. وَإِنْ شِئْتَ فَدَعْاوکه غواړې.نو پریږده.

حل اللغة﴾① **العرصة**:میدان،خالی زمکه

تشریح﴾ که مشتری پخپله خپل فعل سره عمارت مات کړو.نو شفیع ته به اوونیلی شی که غواړې نو صرف میدان په خپل قیمت سره واخله او دکه غواړې نو کور پریږده د شفعې نه دستبردار شته که مشتری عمارت مات کړو.نو شفیع ته اوس دوه اختیاره دی① که غواړی.شفعه دې پریږدی.② اوکه اخستل غواړی.نو د عمارت نه علاوه ددې ځائې او زمکې چې کوم قیمت جوړیږی.د هغې په بدله کې شفیع دا اخستلې شی.

دلیله﴾ او دا ځکه اوس عمارت مقصود شو.ځکه چې مشتری د عمارت ماتولو قصد کړې دې.نو اوس به د وصف په مقابله کې ثمن راځی.یعنی هرکله چې د ثمن څه برخه ساقط کړې شوه.نو اوس شفیع غواړی.چه دکور ملبه او متیرئیل واخلی.حالانکه هرکله چې دا د کور نه جدا کړې شو.نو ملبه اوس د جدا کیدو په وجه د تابع جوړیدو نه خارج شوه.نو د کور چه کومه ملبه ده.شفیع دا اخستل غواړی.نو نشی اخستلې.

(وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ النَّقْضَ)او شفیع ته دا حق نشته.چه ملبه واخلی.

تشریح﴾ او د کور ورانولو نه پس شفیع ته دا حق نشته چې هغه ملبه واخلی

دلیله ځکه چې هر کله د کور د عمارت څيزونه د زمکې نه جدا شو نو اوس دغه ملبه د زمکې تابع باندې شوه بلکه مقصود بالذات اوګرځیده

په زمکه کښې شفیع لپاره د وونو او میوو حکم

(وَمَنِ ابْتَاعَ أَرْضًا وَعَلَى نَخْلِهَا ثَمَرٌ او چا چې زمکه واخستله.او د هغې په ونو باندې میوه ده. أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِثَمَرِهَا)نو شفیع به دا سره دهغې د میوو اخلي.

حل اللغة ﴿١﴾ **نخل**:د قجورو ونه﴿٢﴾ **ثمر**:دقجورې میوه ﴿٣﴾ **ارض**:زمکه

تشریح مشترې یوه زمکه واخستله.چه هغې کې څه ونې دی.او په دې ونو کې میوې هم لګیدلې دی.نو دا میوې به شفیع اخلي یعنی میوې به د شفیع وی. که په بیع کې د میوو ذکر شوې وی.ځکه چې د ذکر نه بغیر میوې په بیع کې نه داخلیږی.

دلیله اودا کومه مسئله چې ذکر شوې ده.دا د استحسان په بنا (بنیاد) ده.ګنی د قیاس تقاضه خو دا ده.چه شفیع ته میوې ملاو نشی.ځکه چې میوې د ونو او زمکې تابع نه دی.او د نه تابع کیدو دلیل دا دی.چه میوې د ذکر نه بغیر بیع کې نه داخلیږی.نو ددې مثال داسې شو.لکه په کور کې ایخودې شوې سامان، لکه چې بوکس کور خرخ کړو.او په دې کې فریج او د ګیس چولها وغیره ایخودې شوی دی.نو دا به په بیع کې داخل نه وی.

د شفیع لپاره د فیصلې په صورت کښې به دده لپاره خیار رویت وی اوکه نه؟

وَإِنْ جَذَّهُ الْمُشْتَرِي سَقَطَ عَنِ الشَّفِيعِ حِصَّتُهُ که مشترې میوه اوشوکوله نود شفیع نه به د هغې په حصه باندې ساقط شی.

تشریح که زید د عمرو نه یو باغ واخستل بل طرف ته بکر په زید باندې شفع اوکړه چې دا باغ زما حق دې ځکه چې ما سره نزدې دې.خو د بکر د شفعې کولو نه وړاندې زید د باغ میوه اوشکوله .نو اوس په دې صورت کښې بکر ته دا حق حاصل نه دې چې هغه د زید نه د میوې مطالبه اوکړی.بلکه د بکر د شفعې حق د میوې نه ساقط شو.

وَإِذَا قُضِيَ لِلشَّفِيعِ بِالدَّارِ اوکله چې شفیع لپاره د کور فیصله اوکړې شوه. وَلَمْ يَكُنْ رَآهَا حالاتکه هغه دا کتلې نه وو. فَلَهُ خِيَارُ الرُّؤْيَةِ نو شفیع لپاره خیار رویت شته. فَإِنْ وَجَدَ بِهَا عَيْبًا او که هغه په دې کور کې عیب اوموموی. فَلَهُ أَنْ يَرُدَّهَا بِهِ نو هغه لپاره په دې سره د هغې د واپس کولو حق شته. وَإِنْ كَانَ الْمُشْتَرِي شَرَطَ الْبَرَاءَةَ مِنْهُ)اګرچه مشترې د عیب نه د برات شرط لګولې وی.

حل اللغة ﴿١﴾ **وجد**:مومی

تشریح که څوك دا سوال اوکړی چې خیار رویت ملاویدل پکار نه دی.کله چې مشترې دا کتلې وی.او اخستې نې وی؟نو جواب دا دې چې د مشترې رویت به د شفیع رویت نه وی.ځکه چې مشترې د شفیع نائب یا د هغه وکیل نه دې.نو مشترې به (په کتلو سره) د شفیع خیار نه باطلوی.

دلیله لکه څنګه چې بیع کې خیار رویت اوخیار عیب ملاویږی.نو په شفعه کې به هم ملاویږی.ځکه چې شفیع ګویا دا د مشترې نه اخلي.نو د اخستلو احکام به دلته کې جاری کیږی.که په اخستلو کې بائع د عیب نه د برات شرط اولګوی.بیا هم خیار عیب نه ساقطیږی.دغه شان به دلته کې هم وی.

په قرض سره د اخستلو په صورت کښې شفيع لپاره څه حکم دې ؟

﴿وَإِذَا ابْتَاعَ بِثَمَنٍ مُؤَجَّلٍ او کله ني چې خرڅ کړو، قرض ثمن سره، فَالشَّفِيعُ بِالْخِيَارِ، إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِثَمَنٍ حَالٍّ نو شفيع ته اختيار شته.چه دا په نقد ثمن سره واخلي. وَإِنْ شَاءَ صَبَرَ او که غواړي.نو صبر دې اوکړي. حَتَّى يَنْقَضِيَ الْأَجَلُ تردې چې موده تيره شي. ثُمَّ يَأْخُذُهَا بيا دې شفيع دا واخلي﴾

تشريح﴿ بائع خپل کور مشتری باندې مثلاً په دوه زره روپۍ خرڅ کړو.او د ثمن ادا کول ني قرض مقرر کړل. شفيع د شفعې دعوه داخل کړله.

اوس سوال دا دې.چه شفيع به دا اخلی.په دوه زره روپۍ دې، خو ادا کول به اوس (فی الحال) لازم وی.يا د ادا کولو هغه وخت متعين دې.کوم چې د بائع او مشتری په مينځ کې مقرر شوي دې؟نو جمهورو احنافويه نيز ده ته دواړه قسمه اختيار دې که في الحال ورکوی او که په نيته ورکوی.

دليله﴿ دليل دې.چه اجل (نيته وار او قرض کيدل) وصف نه دې.دا خو شرط سره ثابتيږی.او شرط د بائع او مشتری په مينځ کې دې.د شفيع او بائع، يا د شفيع او مشتری په مينځ کې نه دې.او بائع چې په قرض ور کولو باندې د مشتری نه راضی شو.ددې نه دا نه لازميږی.چه شفيع ته هم په قرض ور کولو باندې راضی شو.ځکه چې د خلقو حالات مختلف دی.چه څوك اخلاقی وی.او څوك بد اخلاقه وی.څوك توانګر دې.او څوك غريب دې.د رومبی نه وصولول آسان دی.او د دوئم نه مشکل دی.

که شريکانو زمکه ويش کړله نو د شفعې حق به نه ملاويږی

﴿وَإِذَا اقْتَسَمَ الشُّرَكَاءُ الْعَقَارَ او کله چې شريکانو زمکه ويش کړله فَلَا شُفْعَةَ لِجَارِهِمْ بِالْقِسْمَةِ.نو د ويش په وجه ددوی د ګاونډی لپاره شفعه نشته.﴾

تشريح﴿ شريکانو خپله زمکه ويش کړله.نو ښکاره ده.چه دا بيع نه ده.او مبادله مالی نه ده.بلکه خپلې برخې (حصې) تقسيمول او جدا جدا کول دی.چه دې ته افراز ونيلې شی.نوکه يو ګاونډی د تقسيمولو په وخت د شفعې دعوه اوکړی.نو هغه ته به شفعه نه ملاويږی.

دليله﴿ ځکه چې شرط د شفعې نه دې موجود شوې.(چې هغه شرط بيع دې).او په ويش کې د زمکې او آسمان فرق دې.په بيع کې زبردستی جائز نه دې.بلکه خپل مينځ کې رضامندی شرط ده.او په ويش کې زبردستی جائز ده.يعنی که په شريکانو کې يو کس د ويش مطالبه اوکړی.او دوئم شريك انکار اوکړی.نو په منکر باندې به زبردستی کولې شی.او هغه به په ويش باندې مجبوره کولې شی.

د شفيع شفعه پريښودو سره دوباره د شفعې حق نه ملاويږی

﴿وَإِذَا اشْتَرَى دَارًا او کله چې مشتری يو کور واخستلو فَسَلَّمَ الشَّفِيعُ الشُّفْعَةَ .نو شفيع د شفعې نه بيزاری (او جدائی) اختيار کړله. ثُمَّ رَدَّهَا الْمُشْتَرِي بِخِيَارِ رُؤْيَةٍ أَوْ شَرْطٍ أَوْ بِعَيْبٍ بِقَضَاءِ قَاضٍ بيا مشتری دا کور د خيار رؤيت يا خيار شرط يا د عيب په وجه د قاضی په فيصلې سره واپس کړو. فَلَا شُفْعَةَ لِلشَّفِيعِ)نو شفيع لپاره شفعه نشته.﴾

تشريح﴿ زيد د بکر نه يو کور واخستلو.خالد ته حق د شفعې ملاويدو.خو هغه د شفعې اخستلو نه انکار اوکړو.نو اوس دهغه شفعه باطل شوې ده.اوس زيد دا کور واپس کوی.يا د خيار رؤيت په وجه، يا د خيار شرط په وجه، يا دعيب په وجه، او کله ني چې د عيب په وجه واپس کړو.نو قاضی په فيصلې سره ني واپس کړې دې.بهرحال کله چې په دې دريو وارو صورتونوکې په يو صورت کې کور

مشتری ته واپس راغي.نو خالد بیا د شفعې دعوه اوکړله.یعنې د بکر نه، نوخالد انکار اوکړو.او اوس خالد د زید نه دا په شفعه کې اخستل غواړي.او دې واپسۍ ته د بیع درجه ورکوي.او شفعه طلب کوي.نو آیا خالد ته به شفعه ملاویږي؟

دليله دلیل دا بیانوي چې دا بیع نه ده.بلکه د رومبې بیع مکمل فسخ کول دي.نو هرکله چې شرط مکمل فوت شو.نو د شفعې ملاویدو څه سوال دې.یعنې دلته مبیع اجنبي ته نه دې راغلې.بلکه بائع مخکې هم ددې مالك وو.او اوس هم ددې مالك دې.ګویا چې د بائع په ملك کې استمرار (تسلسل) دې.او د استمرار په صورت کې شفعه نه ملاویږي.او یو شئ پخپل مخکنې حالت باندې د واپس کولو په صورت کې شفعه نه ملاویږي.بلکه شفعه د عقد د انشاء په صورت کې ملاویږي .او د عقد انشاء دلته نشته.بیا هرکله چې مشتري په دې مذکوره صورتونو کې مبیع واپس کړو.نو هم دا حکم دې.که د قبضې نه نې مخکې واپس کړي.اوکه د قبضې نه روستو (یو حکم دې).

وان ردها بغير قضاء قاض او که واپس یې کړو کور بغیر د قضا د قاضي نه اوتقایلا او یا دواړو د بیعې اقاله اوکړه فللشفيع الشفعة نو د شفیع دپاره شفعه شته

تشريح په ماقبل کښې چې د کور د واپسۍ کومه مسئله وه نو هغه د قاضي د فیصلې نه پس وو.اوکه د قاضي د فیصلې نه بغیر بائع د مشتري نه کور واپس واخستلو یا دواړو د بیعې اقاله اوکړه نو په دې صورت کښې به د شفیع حق شفعه نه ساقطیږي بلکه هغه به هم هغه شان د شفعې حقدار وي

دليله ځکه چې دلته واپسي د قاضي په فیصله سره نه ده شوې بلکه بائع او مشتري په خپل مینځ کښې په رضا مندئ سره کور واپس کړې یا اقاله د عقد کړې ده نو د دوی دا فیصله د بیعې فسخه ده خو دا صرف په دوی باندې اثر کونکې ده په شفیع باندې نه ده ځکه چې شفیع دریم فریق دې د دوی ولایت په هغه باندې نه ثابتیږي

كِتَابُ الشِّرْكَةِ

ترجمه و تشريح (داکتاب) د شرکت (په بیان کې) دې.

تشريح ما قبل سره ربط د دې نه وراندې کتاب الشفعه وه په هغې کښې هم بعضې مسئلې د شرکت سره متعلق وې د دې وجې یې په شفعه پسې د کتاب الشرکة انعقاد اوکړو.

ثبوته ① اود شرکت ثبوت دقرآن اوحدیث نه ثابت دې الله تعالی فرمائی«فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ»

② حضرت ابوهریره ﷺ فرمائي.چه نبی ﷺ فرمائیلي دی. چې الله تعالی فرمائیلي دی.کله چې دوې (دوه) شریکان دیوبل سره په شریکه معامله کوي.نوزه د دوی په مینځ کې دریم یم.خوچه کله په دوی کې یودبل سره خیانت اوکړی.نو زه تري بهر شم.ددې روایت ابوداود کړې دې.

الشِّرْكَةُ على ضَرْبين: شِرْكَةُ أَمْلَاكٍ، وَشِرْكَةُ عُقُودٍ. فَشِرْكَةُ الْأَمْلَاكِ: الْعَيْنُ يَرِثُهَا رَجُلَانِ أَوْ يَشْتَرِيَانِهَا

ترجمه و تشريح فرمائي (ابو الحسن قدوري ﷺ) شرکت په دوې (دوه) قسمه دې.شرکت املاك او شرکت عقود ،نوشرکت املاك (دا دې چه) مال وي. چې په میراث سره نې یوسې دوې (دوه) نفر (مثلاً زید نه یوکور پاتې شو.اودې مړ شو.اودده دوې (دوه) خامن وی.نودغه کور د میراث په

ذریعه ددې دواړو په مينځ کښې شريك شو) او يا ئې واخلي دا دواړه نفر (د يوبائع نه څه څيزمثلاً لس مرلې زمکه واخلي) نودا دواړه مشتريان په دغه مبيعه کې شريکان شول)

(فَلَا يَجُوزُ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ فِي نَصِيبِ الْآخَرِ إِلَّا بِإِذْنِهِ، وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي نَصِيبِ صَاحِبِهِ كَالْأَجْنَبِيِّ)

ترجمه و تشريح نو جائز نه دی لپاره د يو د دواړو چې تصرف اوکړی په برخه د بل کښې مګرپه اجازت دهغه سره اوهرواحد د دواړو نه په برخه د خپل انډيوال کښې پشان د پردی دې.

امثاله ① لکه څنګه چې هبه کړې شی دوو کسانو ته يو شی (نود هبه په ذريعه دوی د دغه موهوبه مالکان شول) ②او يا مالکان شی دا دواړه نفر دهغه شی په غلبه راتلو سره (مثلاً دوې [دوه] نفر د حربيانو په مال باندې غالب شی.اوپه هغې باندې قبضه اوکړی.نودوی په دې مال کې شريکان شول)

د شرکت عقود رکن او شرط

(وَالضَّرْبُ الثَّانِي: شِرْكَةُ الْعُقُودِ)

ترجمه و تشريح او دوئم قسم (دشرکت) شرکت عقود دې.او ددې (شرکت عقود) رکن ايجاب او قبول دې.

مثاله اودا (ايجاب او قبول) دا دې.چه ووايې يوپه دواړو شريکانو کې زه تاشريکوم په فلانی او فلانی عقد کې اوهغه بل ووايې ما قبول کړې دې (دا شرکت)

دشرکت په څلوروقسمونوکې شرکت مفاوضه

(هِيَ عَلَى أَرْبَعَةِ أَوْجُهٍ: مُفَاوَضَةٍ، وَعِنَانٍ، وَشِرْكَةُ الصَّنَائِعِ، وَشِرْكَةُ الْوُجُوهِ. فَأَمَّا شِرْكَةُ الْمُفَاوَضَةِ أَنْ يَشْتَرِكَ الرَّجُلَانِ فَيَتَسَاوَيَانِ فِي مَالِهِمَا وَتَصَرُّفِهِمَا وَدِينِهِمَا)

حل اللغة ① **يفوض**:سپاری ،حواله کوی ② **المساواة**:برابری

ترجمه و تشريح بيا دا (شرکت) په څلورقسمه دې.شرکت مفاوضه،شرکت عنان اوشرکت صناع او شرکت الوجوه، نو هر چې شرکت مفاوضه دې.نوهغه دا دې.چه شريك شی دوې [دوه] نفر اوبرابر وی په مال او تصرف او دين خپل کې (يعنی د دواړو مال هم يوهومره وی.اودواړه ته تصرف هم يوشان حاصل وی. او دواړه د يو ملت او دين پيروکاروی)

دليلها څکه چې دا (شرکت مفاوضه) يوشرکت عامه دې.په ټولو تجارتونوکې سپاری په کې هريوشريك په شريکانوکې عمل د شرکت خپل انډيوالان ته مطلقاً (يعنی څه قيد په کې نه لګوی.چه فلانې شی به اخلی اوفلانی به نه اخلی اوفلانی سره به کاروبار کوی اوفلانی سره به نه کوې.اوپه دې شرکت مفاوضه کې مساوات څکه ضروری دې)څکه چې دا (لفظ د مفاوضه) د مساوات د قبيلې څنې دې اوأصلاح نه راخی د خلقو چې خلق واړه په يوه مرتبه کې وی.نوبيا څوبه هرسړې څان ته سرداروائی.اود بل خبره به نه منی.نودمعاشرې کارونه به نه چليږی) اونه پاتې کيږی سرداری چې وی سرداران جاهلان يعنی برابر(يعنی چې د يوقوم سرداران او مشران جاهلان وی.نويه هغوی کې به جنګ جګړې او کشالې وی) نوضروری شوه برابری (په شرکت مفاوضه کې) په اول او په آخرکې اودا (مساوات) به وی په مال کې او مراد ددې (مال نه چې مساوات په کې ضروری دې) نه هغه دې چې صحيح کيږی شرکت په هغې کې (لکه روپۍ او اشرفۍ وی.يعنی دا شيان (څيزونه) به ددوی په مينځ کې برابر وی)
اونشته اعتبار زيادت لره په هغه څه کې نه صحيح کيږی شرکت په هغې کې (لکه سامان او قرضونه

شول.نوکه دیوکس په خلقو باندې قرضونه وی. اوهغه ئې لا وصول کړی نه وی. نوعقد مفاوضه نه باطلیږی)

دليل المساواة في التصرف اودغه شان (ضروری دې مساوات) په تصرف کې (چه په عقد مفاوضه کې به هریوکس ته یوشان اختیارحاصل وی.دا نه چې یوته به مکمل اختیار وی.چه څه خرڅوی اوڅه اخلی اوچا سره معامله اوچا سره نه کوی.اوپه بل باندې قیودات وی.چه ته به فلانې شی نه اخلې.اود فلانی سره به معامله نه کوې) څکه که چیرته مالك شی یود شریکینو نه د یوتصرف اومالك نه وی بل (ددغه تصرف) نو فوت به شی برابری (په عقد مفاوضه کې اوبرابری خو شرط ده اوپه انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځی)

دليل المساواة في الدين اودغه شان (ضروری ده برابری) په دین کې لکه چې مونږ به ئې بیان کړو انشاء الله تعالی (په بیان د اشتراط د برابرئ کې په دې څیزونوکې) اودا شرکت (مفاوضه) جائز ده زمونږ (داحنافو) په نیز د امله د استحسان نه

دافرادو په اعتبارسره د شرکت مفاوضه صحت اوعدم صحت

(فَيَجُوزُ بَيْنَ الْحُرَّيْنِ الْمُسْلِمَيْنِ الْبَالِغَيْنِ الْعَاقِلَيْنِ

ترجمه و تشريح فرمائی (ابو الحسن قدوری رحمه الله) نوجائزده (مفاوضه) په مینځ د دوو آزادو کسانوکې چې دواړه مسلمانان وی دواړه بالغان وی دواړه عاقلان وی.

دليله د دې دپاره چې په دواړو کښې په تحقیق سره مساوات او برابری راشی

(وَلَا يَجُوزُ بَيْنَ الْحُرِّ وَالْمَمْلُوكِ وَلَا بَيْنَ الصَّبِيِّ وَالْبَالِغِ)

ترجمه و تشريح اوجائز نه ده (مفاوضه) په مینځ د آزاد او غلام کې اونه په مینځ د ماشوم او بالغ کې د لمله د نشتوالی د برابرئ نه (په مینځ ددې کسانوکې)

دليله څکه چې آزاد بالغ مالك وی د تصرف او کفاله اوغلام نه وی مالك د یوڅیز په دې دواړوکې (که تصرف دې اوکه کفالت دې) مګرپه اجازت دمولی او ماشوم مالك نه دې د ذمه واړئ اخستلو اونه مالك دې د تصرف کولو مګرپه اجازت د ولی (نو معلومه شوه.چه د اصیل اومملوك او دغه شان دماشوم اوبالغ په مینځ کې مساوات نشته. او د مفاوضه لپاره مساوات شرط دې)

دکافراومسلمان په مینځ کې دمفاوضه عدم صحت

(وَلَا بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْكَافِرِ)[1]

ترجمه و تشريح فرمائی (امام قدوری رحمه الله) اونه ده جائز(مفاوضه) په مینځ د مسلمان او کافرکې اودا (عدم جواز قول دامام ابوحنیفه اومحمد رحمهما الله دې [2])([3])

دليلهما د طرفینو رحمهما الله لپاره دلیل دا دې.چه نشته برابری په تصرف کې څکه چې ذمی که په راس المال

[1]) القول الراجح هوهذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في الخانية (٤٩٤\٤) وردالمحتار(٣٧٠\١٣) والهندية (٣٠٧\٢) نقلاً عن القول الراجح (٥١٢\١)-

[2]) **مسلك ابي يوسف**:- اوفرمائی امام ابویوسف رحمه الله جائز ده برابری په مینځ ددې دواړو کې په وکالت او کفالت کې (اوکه امام ابوحنیفه رحمه الله دا وائی.چه د کافراومسلمان په مینځ کې خو برابری نشته.

[3]) القول الراجح هوهذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في الخانية (٤٩٤\٤) وردالمحتار(٣٧٠\١٣) والهندية (٣٠٧\٢) نقلاً عن القول الراجح (٥١٢\١)-

باندې شراب یاخنزیران واخلي.نودا صحیح ده.اوکه واخلي دا (شراب او خنزیران) مسلمان نو نه صحیح کیږي

په وکالت او کفالت سره دمفاوضه دانعقاد صحت

(وَتَنْعَقِدُ عَلَى الْوَكَالَةِ وَالْكَفَالَةِ)

ترجمه و تشریح فرمائي(ابو الحسن قدوري ﷫) او منعقد کیږي (عقدمفاوضه) په نوم دوکالت او کفالت سره

دليل جواز الشركة في الوكالة (څکه چې په شریکینو کې هرواحد دبل نه وکیل اودهغه ذمه واروی) هرچه وکالت دې (یعنی هرچه منعقد کیدل د مفاوضة په وکالت سره دی) نود امله د حاصلیدو د مقصود کوم چې شرکت دې په مال کې (څکه چې دبل چا په مال کې تصرف جائزنه دې مګرپه ولایت او په وکالت سره اوولایت خو نشته نووکالت ثابت شو.نوهریوشریك دخپل اندیوالان دارخه وکیل شو) لکه چې مونږ بیان کړې دی (په دې قول سره **لیکون مایستفاد بالتصرف مشترکابینهما**)

دليل جواز الشركة في الوكالة اوهرچه کفالت دې(یعنی صحت د مفاوضه په نوم د کفالت سره دې) د امله د تحقق د مساوات نه (کوم چې د مفاوضه معنی ده) په هغه څه کې چې وی د مقتضیاتو د تجارت نه اوهغه (متقضات) متوجه کیدل د مطالبه دی دې دوارو شریکانو ته (یعنی په عقد مفاوضه کې دهرشریك نه مطالبه کولې شي.مثلاً چې یوشریك د زید نه څه شی قرض اخستې وی.نوزید دبل شریك نه مطالبه کولې شي.نوهرشریك دبل لپاره په هغه مال کې کفیل شو.کوم چې د تجارت په وجه په ده لازم شوې وی. لنډیز دا چې په مفاوضه کې د وکالت او کفالت معنی پرته ده.څکه چې هرشریك دبل لپاره وکیل اوکفیل دې. نو ددې امله عقد مفاوضه په لفظ د وکالت او کفالت دواړو باندې منعقد کیږي)

(وَمَا يَشْتَرِيهِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَكُونُ عَلَى الشَّرِكَةِ إِلَّا طَعَامَ أَهْلِهِ وَكِسْوَتَهُمْ)

حل اللغة ① **الكسوة**:لباس،د اغوستې څیزونه ② **الادام**:ترکاری

ترجمه و تشریح فرمائي(ابو الحسن قدوري ﷫) اوهغه چې اخلي ئې هریوکس د دوی (شریکینو) څخې نو وی به شرکت (یعنی ددغه څیزاخستل به په شریکه وی) مګرخوراك د اهل دده(شریك) اوجامې د هغوی (یعنی که دا شیان (څیزونه) یوشریك واخلي. نودا به په شریکه کې نه حسابیږي.اوداستثنائی څیزونو نه سوا د نور هر قسم څیزاخستل به په شریکه کې حسابیږي)

دليله څکه چې مقتضی د عقد (مفاوضه) برابری ده اوهریوکس ددواړو شریکینو نه قائم مقام دخپل اندیوالان دې په تصرف کې (چه بیع شراء وغیره دی) اودی اخستل دیوکس د شریکینو نه پشان د اخستلو د دواړو (یعنی چې یوکس اخستل اوکړی.نودا داسې ده لکه چې دواړو واخستل) مګر(دیو اخستل د دواړو اخستل نه دی) په هغه څه کې چې استثناء ئې اوشوه په کتاب (قدوری) کې (طعام اوکسوت د اهل دی)

دليل الاستثناء اودا (مستثنی منه) استحسان دې.څکه چې ددې (څیزونو) استثناء شوې ده د شرکت مفاوضه نه (یعنی ددې څیزونو اخستل په شرکت مفاوضه کې داخل نه دی) د امله د ارتیا نه، (څکه چې څوك چې عقد مفاوضه کوی.نودده شریکوال ته دا پته وی.چه دخپل بال بچ لپاره د خوراك څکاك انتظام کول ده لپاره ضروري دی.اودا معلومه وی.چه په شریکینو کې یوهم په عقد مفاوضه کې دا قصد نه وی کړې.چه په دې عقد سره به زما اوزما د بال بچ نفقه هم زما په شریك وی) څکه چې روزانه

پیښیدونکي حاجت (خوراك څکاك ته) معلوم دي واقع کیدل د دي. (اودي شیان (څیزونه) ته د هريوکس ارتیا هم مختلف وی.څوك يوشان جامي خوښوي او څوك بل شان.څوك يوشان خوراك خوښوي اوڅوك بل شان)

دمفاوضینو په قرض کي اشتراك

(وَمَا يَلْزَمُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الدُّيُونِ بَدَلًا عَمَّا يَصِحُّ فِيهِ الِاشْتِرَاكُ فَالْآخَرُ ضَامِنٌ لَهُ)

ترجمه و تشريح فرمائي(ابو الحسن قدوری رحمه الله) اوهغه چي لازم شی په هر يوکس د مفاوضينو باندي قرضونه په بدل کي دهغه څه چي صحيح کيږی په هغي کي اشتراك (يعنی په مفاوضينوکي که يوکس دچا نه څه څيز قرض واخستلو.اودا قرض عقدني په داسي څيزکي اوکړلو.چه د عقد مفاوضت د اصولومطابق وی) نوبل (مفاوض) به ذمه وار وی دهغي (قرض)

دليله د امله د مساوات (کوم چي دعقد مفاوضه دمقتضياتوځني دي.په مينځ د مفاوضينوکي ،يعنی هريوبه مفاوضينو کي مديون دي.دا نه چي چا قرض اخستي دي. هغه مديون دي.اوبل مفاوض خلاص دي.ځکه چي کاروبارد دوارو شريك دي.نوچه کوم قرض راخي.هغه به هم په دوارو وی)

مثاله اومن جمله دهغه څه نه چي صحيح کيږی په کي اشتراك هغه اخستل، (يعنی که يومفاوض څه څيزواخستلو.نوپه دغه اخستلوکښي دواړه شريك دی) خرڅول (که يومفاوض څه څيزخرڅ کړلو.نودا داسي شوه چي بل مفاوض هم خرڅ کړي دي) اواستجاره (يعنی چي په کرايه باندي يوڅيز واخلي.نودهغه څيزمالك په مفاوضينوکي دهريونه دکرايه مطالبه کولي شي.دغه شان که يوڅيزني چاته په کرايه ورکړلو.نوهرواحد په مفاوضينوکښي دهغه کس نه دکرايه مطالبه کولي شي.چاته چي ني په کرايه ورکړي وی)

مثال القسم الثاني اومن جمله د دوئم قسم نه (چه مفاوضه په کي نه صحيح کيږی) جنايت دي (که په مفاوضينو کي يوکس بل لره چا په خطاء سره قتل کړلو.نوکفاره به صرف په قاتل مفاوض باندي وی.په بل به نه وی) اونکاح شوه (نوکه په مفاوضينوکي يوکس ديوي ښځي سره نکاح اوکړله.نومهربه صرف په ناکح مفاوض باندي وی.په بل به نه وی) اوخلع (که په مفاوضينوکي يوه ښځه وی.اوهغه دخپل خاوند سره خلع اوکړی.نوبدل خلع به صرف په هغي باندي وی.په بل مفاوض به نه وی) اوصلح دقتل عمد او نفقه نه (که په مفاوضينوکي ديو کس يودريم کس په قصد سره قتل کړلو..اوبيا نې دمقتول اولياؤ سره په ديت باندي صلح اوکړله.يا د يومفاوض نه ښځه دمور کره مروره ناسته وی.اودي دخپلي سخرګنۍ سره صلح اوکړی.چه زه به ورته په هره مياشت کښي مثلاً پنځه زره روپۍ ورکوم.نودا د قتل عمد دصلح بدل اودنفقه دصلح بدل به صرف په دغه صالح مفاوض باندي وی)

په کوم مال سره شرکت مفاوضه باطليږی

(فَإِنْ وَرِثَ أَحَدُهُمَا مَا لَا يَصِحُّ فِيهِ الشَّرِكَةُ أَوْ وُهِبَ لَهُ وَوَصَلَ إِلَى يَدِهِ بَطَلَتِ الْمُفَاوَضَةُ وَصَارَتْ عِنَانًا)

ترجمه و تشريح فرمائي(ابو الحسن قدوری رحمه الله) که چيرته په ميراث کي يوړلو يودشريکينو نه مال چي صحيح کيږی په هغي کي شرکت (لکه دراهم ،اشرفۍ شوی) اويا هبه کړي شو ده ته (داسي څيزچه صحيح کيږی په هغي کي شرکت) او يا راغلو لاس دده ته (په بله څه ذريعه د ملکيت باندي يوڅيز چي په هغي کي شرکت صحيح کيدلی) نوباطله شوه مفاوضه او اوګرځيدلو شرکت عنان

دليله د امله د ختميدو د برابری نه په هغه څه کي چي صلاحيت لری چي شی راس المال ځکه چي دا (مساوات) شرط دي په دي (عقد مفاوضه) کي په (حالت د) ابتداء کي اوپه (حالت د) بقاء کي اودا

(شرکت مفاوضه عنان گرځي) خکه چې دغه بل (شريک) شريک نه دې ده (وارث موهوب له) سره په هغه څه کې چې رسيدلې دی ده (وارث اوموهوب له) ته د املـه د نشتوالي د سبب (دملکيت) نه (چې وراثت او هبه ده) په حق دده (شريک) کي (يعنې پـه کـوم سبب بانـدې چې وارث اوموهوب لـه د ميراث اوموهوبه څيزمالک شوي دې.دغه سبب د شريک په حق کې موجود نه دې.يعنې هغه تـه پـه وراثت يا په هبه سره څه نه دی حاصل شوي)

په سامان کې د شرکت مفاوضه په صحت کې اختلاف

(وَلَا تَنْعَقِدُ الشَّرِكَةُ إِلَّا بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ وَالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ)

حل اللغة ① **الفلوس**:رائجې سيکې ② **العروض**:سامان

ترجمه و تشريح دا فصل دې(په بيان دهغه څه کې چې پـه شرکت مفاوضه کې راس المال جوړ کړې شي) اونه منعقد کيږی (شرکت مفاوضه) مگرپه روپو،اشرفواو رائجوسيکو کې،([1])

دلائله ①دليل دا دې.چه دا (شرکت في العروض) مفضي دې گټې دهغـه شي تـه چې ضامن نه دې (مفاوض) دهغې خکه چې شان دا دې.کله چې خرڅ کړی هريوکس د شريکينو نه راس المال خپل (مثلاً زيد يومن غنم وو.اودعمروهم يومن غنم وو) اوزياتی شو پـه يوبـل بانـدې قيمت نوهغه چې مستحق کيږی ئې يوپه شريکينو کې د زيادت په مال د صاحب خپل کې د داسې څيزد گټې چې مالک ئې نه دې (دغه شريک يعنې په اصل کې خود يومن غنمو قيمت اتلس سوه روپئ وې.خو زيد خپل غنم په دويشت سوه روپئ خرڅ کړل. او عمروپه دوې [دوه] زره.نواوس د زيد د راس المال گټه څلور سوه روپئ شوې اودعمرو دوې [دوه] سوه.چه مجموعه ئې شپږ سوه روپئ شوې.نوکه په شپږو سوو کې درې سوه روپئ عمروته ورکړې شي.په دې کې سل روپئ ده تـه دخپـل انـډيوالان دغنمو گټه مـلاؤ شوه. او (مستحق شو د داسې څيزد گټې) چې ضامن نه دې (دهغې څيز،يعنې که دغه غنم دخرڅولونه وړاندې هلاک شوی وو.نوپـه دې عمـرو بانـدې دهغـې تـاوان نـه وو.اودا جائزنـه ده.چـه يوسړې دې گټـه خوری اودتاوان نه دې خلاص وی)

② (بل دليل په دې باندې چې په عروضو کې شرکت مفاوضه نه صحيح کيږی.دا دې.چه) اوخکه چې اول تصرف په عروضو کې خرڅول دی. (يعنې چې يوکس سره سامان وی.نودې په دغه سامان باندې څه اخستلې نشی.بلکه اول به دغه سامان خرڅوی.اوچه پيسې ورته راشی.بيا بـه پـه هغـه پيسو بانـدې بل څيزاخلي) او(اول تـصرف) پـه نقـودوکې (چـه دراهـم اواشـرفئ دی) اخـستل دی. (چـه سړی سـره روپئ وی.نودغه روپئ دې خرڅولې نشی.بلکه په دې به بل څيزاخلي)

جواز الشرکة بالفلوس النافقة اوهرچه رائجې سيکې دی(نوپه دې باندې عقدمفاوضه صحيح کيږی) خکه چې دا (سيکې) چليږی (پـه بـازارونوکـې) پـشان د چليـدو د اثمـانو (چـه دراهـم او اشـرفئ دی) نوملحق کړې شوې (سيکې) په دې(اثمانو) پورې،

(وَلَا يَجُوزُ فِيمَا سِوَى ذَٰلِكَ إِلَّا أَنْ يَتَعَامَلَ النَّاسُ بِهِ كَالتِّبْرِ) وَالنُّقْرَةُ فَتَصِحُّ الشَّرِكَةُ بِهِمَا،

حل اللغة ① **التبر**:د سرو زرو توټې ② **النقرة**:د سپينو زرو توټې

ترجمه و تشريح فرمائي(ابو الحسن قدوری رحمه الله) اوجائزنه دې شرکت (مفاوضه) په هغه څه چې سوا

[1] **مذهب مالک**:- فرمائي امام مالک رحمه الله صحيح کيږی (شرکت مفاوضه) په سامان کې اوتولی (لکه پیش او وزنی (لکه غوبنه شوه) څيزونو کې ، هم خوپه دې شرط چې وی (دغه سامان) ديوجنس نه

وى ددې (مذكورو څيزونو) نه،البته دا چې كاروباركوى خلق سرو زرو او سپينو زرو په تكړو باندې نوصحيح كيږى شركت (مفاوضه) په دې دواړو (چه كانړى اوويلې شوې تانبه ده)
دليله اودا (تكړې په متعين كولوباندې نه متعين كيږى) ددې امله چې معلومه شوې ده چې دا (سره اوسپين زر) پيدا شوى دى ثمن په اصل خلقت كې ، (يعنى دا دواړه فطرتى طورثمن دى.كه سكې ترې جوړې شوى وى او كه نه وى) مګردا ده.چه اولنې روايت (چه دا په تعين سره متعين كيږى) زيات صحيح دې.څكه چې دا (سره اوسپين زر) اګرچه پيدا شوى دى لپاره دتجارت په اصل خلقت كې خو ثمنيت (په دې كې) خاص دې په هغه قسم پورې (يعنى سره اوسپين زراګرچه خلقى طورثمن دى.خوددې ثمنيت هله ښكاره كيږى.چه سكې ترې جوړې شى.اوكه سكې ترې نه وى جوړې شوى.نوبيا دا ثمن نه دى) څكه چې په دغه وخت كې (چه سكې ترې نه وى جوړې شوې) نشى لګولې په بل څيزكې په ظاهره، (يعنى عام طوريه خلقوكې دا رواج دې.چه د سپينوزرودراهم اود سرو زرو دنانيرد ثمن په طور استعمالوى . نو د اولنى روايت په بناء چې نقره كې د راس المال جوړيدو صلاحيت نشته،چه ترڅو ترې سكې نه وى جوړې شوې)
خودومره ده كه جارى وى تعامل د خلقو په استعمال ددې دواړو(تكړې د سرو او سپينوزرو) په استعمال باندې ثمن (يعنى كه په خلقوكې ويلې شوې سرو او سپينو زرو په تكړو باندې كاروبارجارى وى. نوبيا دا ويلى شوى سره او سپين زرهم ثمن ګرځى) نوګرځى تعامل (د خلقو) پشان د سكې (يعنى لكه څنګه چې د سرو او سپينو نه سكې جوړې شى.نوهغه ثمن ګرځى.نودغه شان كه په خلقوكې د ويلى شوى سرو اوسپينو زروپه تكړوباندې د كاروباركولورواج وى.نودا رواج دې ته دثمنيت درجه وركوى.نوپه دې صورت كې) ګرځى (نقره) ثمن او صلاحيت لرى چې شى راس المال (په شركت مفاوضه كې)

په سامان كې د شركت مفاوضه دجوازحيله

(وَإِنْ أَرَادَ الشَّرِكَةَ بِالْعُرُوضِ بَاعَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفَ مَالِهِ بِنِصْفِ مَالِ الْآخَرِ، ثُمَّ عَقَدَ الشَّرِكَةَ)

ترجمه و تشريح فرمائى(صاحب دقدورى ﷫) اوكله چې اراده اوكړى دشركت په سامان كې نوخرڅ به كړى هريوكس دواړو(شريكينو) څنى نيم مال خپل په نيم مال د بل سره اوبيا به عقد شركت اوكړى اودا (دكوم صورت بيان چې ابو الحسن قدورى ﷫ اوكړلو) شركت ملك دې (شركت مفاوضه نه ده)
دليله دليل هغه دې كوم چې مونږ وړاندې بيان كړو چه سامان صلاحيت نه لرى چې شى راس المال دشركت (مفاوضه) اومطلب ددې (مسئلې چې هريوكس به په خپل نيم مال باندې دبل نيم مال واخلى. اوبيا به شريك شى) كله چې وى قيمت د سامان د دواړو برابراوكه چيرته وى په مينځ د دواړو (دمالونوپه قيمت كې) فرق (چه د يومال ارزان وى.اودبل ګران وى) نوخرڅ به كړى صاحب د كم قيمته سامان په اندازه دهغه مقدار چې ثابت شى په هغې باندې شركت (پوشان)
ضروري تشريح صورت دمسئلې به داسې وى. ديو شريك دسامان قيمت څلور سوه دې.اودبل دسامان قيمت صرف سل روپۍ دې. نو د سل روپو خاوند به دخپل سامان څلورحصې چې قيمت ئې اتيا روپۍ جوړيږى. هغه به د څلور سوه روپو ماليت واله په پنځمه برخه باندې خرڅ كړى.هغه هم اتيا روپۍ جوړيږى.څكه چې د څلورسوو پنځمه برخه اتيا دى.نوپه دې طريقه به دسلو روپو دخاوندد خپل مال څلورحصې كومې چې د څلورو سوو روپود خاوند دپنځمې برخې سره برابر دى.په دې كې به دواړه شريك شى. او د څلورو سوو روپوماليت خاوندته به څلورحصې سالمې پاتې شى.اوكمه چې كومه

کیږي. هغه به هم په دې حساب وی.مثلا که سل روپۍ نې اوګټلې.نواتیا روپۍ خود خلوروسوومالیت واله خانله مستقلې شوې.اوپه شلو روپو کې ورسره دسلوروپومالیت واله کس شریك شو.

دشرکت عنان تعریف

(وَأَمَّا شِرْكَةُ الْعِنَانِ فَتَنْعَقِدُ عَلَى الْوَكَالَةِ دُونَ الْكَفَالَةِ)

ترجمه و تشریح> فرمائی(صاحب دقدوری رحمه الله) اوهرچه شرکت عنان دې.نومنعقد کیږي په وکالت باندې نه په کفالت باندې(یعنی په شرکت عنان کې که یوشریك بل ته اووائی.چه ته زما د اړخه وکیل ئې.اوزه ستا داړخه وکیل یم.نودا صحیح کیږي.که دا اووائی.چه ته به زما ذمه وارئې.اوزه به ستا ذمه واریم.نودا نه صحیح کیږي) اودا (شرکت عنان) دا دې.چه شریك شی دوې [دوه] نفر په یو قسم د جامویا دخوراك په شی کې .اویا شریك شی په عامو سوداګانو کې (څه تخصیص په کې نشته.که څرڅه وی)اودوی ذکر اونه کی (اونکړی)دکفالت (چه یوکس به دبل د معاملې ذمه وار وی)

دلیله> اومنعقد کیدل ددې (شرکت عنان) په وکالت سره (یعنی چې هریوکس دبل نه وکیل جوړ شی.نویه دې باندې شرکت عنان صحیح کیږي) د امله د حاصلیدو د مقصود (د شراکت، یعنی دشرکت مقصود دا وی.چه هسې خودبل په مال کې تصرف جائزنه دې.خود وکالت په ذریعه باندې جائز ګرځی) لکه څنګه چې مونږ بیان اوکړلو ددې (په اول دکتاب کې په دې قول سره چې ،،وشرطه أن یکون التصرف المعقود علیه عقد الشرکة قابلاً للوکالة لیکون مایستفاد بالتصرف مشترکاً بینهما فیتحقق محکمه المطلوب)

دلیل عدم انعقاد الشرکة العنان بالوکالة> اونه منعقد کیږي (شرکت عنان) په کفاله سره (یوشریك بل ته اووائی.زه ستا ذمه واریم) څکه چې لفظ (دعنان) راوتلې دې د ډډې کولو نه ونیلی شی (دعربوپه محاوره کې) عن له یعنی اعراض ئې ترې اوکړلو.اودا (اعراض) خبرنه ورکوی دکفاله نه (یعنی دعنان معنی اعراض ده.چه یوکس دبل نه ډډه اواعراض اوکړی.اودکفاله معنی ذمه واری قبلول دی.چه یو کس دبل ذمه وارجوړ شی.نود دواړوپه معنی کښې تضاد دې.څکه شرکت عنان په لفظ دکفاله سره نه صحیح کیږي) اوحکم دتصرف کولو(په مال دیوبل کې) نه ثابتیږي.په خلاف دمقتضی د لفظ (څکه چې دکفاله دلفظ تقاضا خوذمه واری قبلول دی.اودا معنی شرکت عنان نه قبلوی.څکه چې په هغې کې دیوبل ذمه واری قبلول نه وی)

په شرکت عنان کې مال اومنافعود برابرئ حکم

(وَيَصِحُّ التَّفَاضُلُ فِي الْمَالِ)

حل اللغة> ① **التفاضل**:زیاتیوالې

ترجمه و تشریح> اوصحیح کیږي زیادت په مال کې (په شرکت عنان کې ،چه دیوراس المال زیات وی اود بل کم وی)

دلیله> د امله دحاجت نه دې (شرکت عنان) ته (څکه بعضې کاروبارداسې وی.چه په یواځې نه کیږي.نوسړې خان سره بل کس شریك کړي.خوبیا داسې نفر هم کم پیدا کیږي.چه د دواړو سره سرمایه اوراس المال یوشان وی.بلکه یوکس به دکمې سرمایه مالك وی.اوبل به د زیاتې.نوکه دیوکس راس المال زیات وی.دا جائزدې.څکه) نه دې دتقاضا دلفظ (دعنان) څنې برابری (په راس المال کې ،یعنی دعنان لفظ دا تقاضا نه کوی.چه راس المال دې د دواړو شریکانوبرابر وی.لکه څنګه چې د مفاوضه لفظ دا تقاضا کوله.چه دمفاوضینوراس المال دې برابروی)

(وَيَصِحُّ أَنْ يَتَسَاوَيَا فِي الْمَالِ وَيَتَفَاضَلَا فِي الرِّبْحِ)

ترجمه و تشريح اوصحيح كيږي (شركت عنان) چې دواړه شريكان برابر وي په راس المال كې اوزيات وي ديويل نه په ګټه كې ، (مثلاً د دواړو شريكانوراس المال دوې [دوه] دوې [دوه] زره روپۍ وي.اوګټه يوته يوه برخه ملاويږي اوبل ته دوې [دوه] حصې) ([1])

دلائله ① دليل قول دنبي ﷺ دې. {الرِّبْحُ عَلَى مَا شَرَطَا، وَالْوَضِيعَةُ عَلَى قَدْرِ الْمَالَيْنِ} ([2])"چه ګټه به په هغه اندازه وي. چې مقرر ئې كړى دوې [دوه] شريكان.اونقصان به په اندازه د دواړومالونو وي.اونبي ﷺ تفصيل نه دې كړې. (په مينځ د برابرئ اوتفاضل كښې.بلكه مطلقاً ئې فرمائيلى دى.چه ګټه څنګه مقرر كړي.هم هغه شان به وي) اوبله دا چې ګټه لكه څنګه مستحقه ګرځي په مال سره (چه سړي ته ګټه څكه ملاويږي.چه دده مال وي) نودغه شان مستحقه ګرځي په عمل سره (يعني يوسړي ته ګټه څكه ملاويږي.چه دده د اړخه عمل وي.اګرچه مال دده نه وي) لكه څنګه چې په مضاربت كې وي. (ګټه دواړو ته ملاويږي.كه مالك دمال وي اوكه مضارب وي. حالانكه دمضارب د اړخه صرف عمل وي.مال خود رب المال وي)

② (اوددې امله هم په ګټه كې تفاضل جائزدى.چه) كله وي يودشريكينو نه زيات هوښيار او يا تجربه كار(په كاردتجارت كې) اوزيات وي په كاركولوكې (مال ويستې شي) اوقوى وي. (نوكارزيات كوي.اودغه صفات دده په ملګرى كې نه وي) نونه راضى كيږي (موصوف په دغه صفتونو) په برابرى باندې (په ګټه كې ،بلكه دې د زياتې ګټې مطالبه كوي) نوپيښ شو حاجت تفاضل ته (چه يوته دې زياته ګټه وركړې شي.څكه كه زياته ګټه ورته نه وركوي.نوهغه شركت نه كوي.اوپه ده كې دومره استعداد نه وي.چه دې په خپل مال په خپله ګټه اوكړي)

په څيني مال كې دشركت عنان جواز

(وَيَجُوزُ أَنْ يَعْقِدَهَا كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِبَعْضِ مَالِهِ دُونَ بَعْضٍ) لِأَنَّ الْمُسَاوَاةَ فِي الْمَالِ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ فِيهِ إِذِ اللَّفْظُ لَا يَقْتَضِيهِ

ترجمه و تشريح فرمائي (ابو الحسن قدوري رحمه الله) اوجائزدى چې اوكړى دا (شركت عنان) هرواحد دشريكينو نه په بعضې مال خپل نه بعضې (يعنى په شريكينوكې كه يوكس خپل واړه مال نه بلكه بعضې مال په شركت عنان كې خرج كړي.نودا جائزدى)

دليله څكه چې مساوات په مال كې په نه دې شرط په دې (شركت عنان) كې ،څكه چې لفظ دعنان تقاضا نه كوي ددې (مساوات)

(وَلَا يَصِحُّ إِلَّا بِمَا بَيَّنَّا) أَنَّ الْمُفَاوَضَةَ تَصِحُّ بِهِ

ترجمه و تشريح اونه صحيح كيږي (شركت عنان) مګرپه هغه څه چې مونږ بيان كړلو (يعنى چې په دراهمو دنانيرو او رانجو سيكو باندې صحيح كيږي)، اومفاوضه صحيح كيږي په دې (دراهم اودنانيرو) باندې.

---

[1]) **مذهب الشافعي**:- اوفرمائى امام زفراوشافعي رحمهما الله جائز نه دې چه راس المال دې برابر وي.اوپه ګټه كې دې كمې زياتې وي)

[2]) قال الزيلعي رحمه الله قلت غريب جداً ويوجد في بعض كتب الأصحاب من قول علي رضي الله عنه (نصب:۳\۴۷۶)۔

دليله > دهغه امله نه كومه چي مونږ ذكركړي ده (چه په دې كې كتهه د هغه څه ده چي مضمون نه دې)

(وَيَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِكَا وَمِنْ جِهَةِ أَحَدِهِمَا دَنَانِيرُ وَمِنَ الْآخَرِ دَرَاهِمُ)

حل اللغة > ① **بيض**: سپين ② **سود**: تور ③ **الخلط**: ګډون

ترجمه و تشريح > اوجائزدى چي شريك شى دوى (دوه) نفر اووى د يوداړخه اشرفئ اودبل داړخه روپئ اودغه شان (جائزدي شركت عنان) چي وى د يود اړخه سپينې روپئ اودبل داړخه توري روپئ ، (١)

هم د مشتري نه به دقيمت مطالبه كولاي شي

(وَمَا اشْتَرَاهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِلشَّرِكَةِ طُولِبَ بِثَمَنِهِ دُونَ الْآخَرِ)

ترجمه و تشريح > فرماني (ابو الحسن قدورى رحمه الله) اوهغه څيزچه واني اخلي هريوكس د دوى (شريكينو نه) نومطالبه به كولاى شي دقيمت دهغې (مشتراة هم دهغه نه) نه دبل (شريك) نه (چه مشترى نه وى)

دليله > دهغه امله چي مونږ بيان كړه چي دا (شركت عنان) متضمن دي وكالـه لره نه كفاله لره، (نومشترى چي كوم شى واخستلو په دې كي دې دخپلې برخې په خپله اخستونكي دي. اودشريك په برخه كي دهغه نائب دي. اوذمه وارنه دي. بلكه ذمه وارى دهريوبه خپل خان باندي ده) او وكيل هم دي اصل دي په حقوقوكي ، (يعنى هم وكيل مطالبه كوى دهغه چا نه چي په چا باندي حق وى. موكل مطالبه نه كوى)

په اخستي شوى څيزكې دشريك نه دهغه خپله برخه اخستل

(ثُمَّ يَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْهُ)

ترجمه و تشريح > فرماني (ابو الحسن قدورى رحمه الله) بيا به رجوع كوى په خپل شريك باندي په برخې خپلې دهغې (ثمن) نه مطلب ددې (عبارت) دا دي چه كله وركړي دى (بائع ته) دخپل مال نه ،

دليله > خكه چي دي (مشترى) وكيل دي د اړخ دهغه (شريك) نه په برخه دهغه (شريك) كي ، نوهركله چي ده (مشترى) وركړې نقدې پيسې (بائع ته) دخپل مال نه نورجوع به كوى په هغه (خپل شريك) باندي (مثلاً په سل روپئ ئې يو شى واخستلو .او خپلې سل روپئ ئې وركړي.نوپنځوس روپئ به دخپل شريك نه واخلى)

داخستلونه وړاندې دټول يا ديوشريك دمال هلاكت

(وَإِذَا هَلَكَ مَالُ الشَّرِكَةِ أَوْ أَحَدُ الْمَالَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَشْتَرِيَا شَيْئًا بَطَلَتِ الشَّرِكَةُ)

ترجمه و تشريح > فرماني (ابو الحسن قدورى رحمه الله) اوكله چي هلاك شى مال دشركت (ټول اويا يود دوومالونونه (يعنى ديوشريك مال هلاك شى) وړاندې د دې نه چي دوى اخستې وې په هغې باندي څه څيز، نوباطل شو شراكت

---

(١) **مذهب الشافعي**:- اوفرمانى امام زفر او شافعى رحمهما الله چي جائزنه دى (هرصورت د صورتينو نه) اودا اختلاف بناء دې په شرط كولودخلط اوعدم خلط باندې (يعنى دا چي په شركت كي خلط دمالونود شريكينو شرط دې اوكه نه دې) خكه چي په نيز ددوى دواړو (امام زفراوشافعى رحمهما الله) دا (خلط) شرط دې. (كه مالونه نه وى خلط شوي.شركت نه صحيح كيږى) اونه متحقق كيږى دا (خلط دمالونو په مختلف الجنس څيزونوكي (لكه دراهم اودنانيرشوپه دې كي ګډون اوخلط نشى راتلى)

دلیله ﴿ ځکه چې معقود علیه (په کوم څیزباندې چې شرکت کیږی) په عقددشراکت کې مال دې. (اوچه معقود علیه فوت شی.نوعقد باقی پاتې نشی) ځکه چې مال متعین کیږی په دې (شرکت) کې په متعین کولوسره، (اګرچه نه متعین کیږی په ټولو معاوضاتوکې .یعنی په عام طوردراهم اودنانیرنه متعین کیږی. خوپه شرکت کې متعین کیږی.مثلاً چې دوې [دوه] شریکان په متعینودراهمو اودنانیروکې دشرکت عقد اوکړی.نوهم په دغه دراهمو اودنانیروکې به شرکت صحیح کیږی.اوددوی په تعین سره په دراهمو اودنانیروکې تعین راځی.نو لنډیز دا شوه.که دغه متعین دراهم هلاك شی.نوشرکت باطل شو) لکه څنګه چې متعین کیږی مال په هبه اوپه وصیت کې (یعنی کوم دراهم چې نې یوکس ته هبه کړی وی.نوموهوب له هم دهغه دراهمو مستحق دې.دغه شان په وصیت کې چې نې دکومو متعینو دراهمو وصیت دچا لپاره اوکړلو.نوهم هغه دراهم به موصی له ته ملاویږی.نوکه دغه متعین هبه شوې دراهم یا وصیت شوې دراهم که هلاك شی.نوموهوب له اوموصی له د هغې په عوض کې د نورو دراهمو داستحقاق مطالبه نشی کولی)

دیوشریك مال اخستل اودبل مال هلاکیدل

(وَإِنِ اشْتَرَى أَحَدُهُمَا بِمَالِهِ وَهَلَكَ مَالُ الْآخَرِ بَعْدَ الشِّرَاءِ فَالْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا عَلَى مَا شَرَطَا)

ترجمه و تشریح ﴿ اوکه واخستلویوپه شریکینوکې په مال خپل باندې (یوڅیز) اوهلاك شومال دبل شریك) وراندې داخستلو نه نواخستې شوې څیزبه وی په مینځ ددوی دواړوکې په هغه برخه چې شرط کړی وی دوی دواړو (دا اخستې شوی څیزبه ددوی په مینځ کې مشترك وی)

دلیله ﴿ ځکه چې ملك (په مشتراة) باندې په کوم وخت کې چې واقع کیدلو نو واقع شوې دې مشترك په مینځ د دې دواړوکې د امله دقیام دشراکت نه په وخت داخستلوکې نونه بدلیږی حکم (دشراکت) په هلاکت دمال دبل روسته ددې (شراکت نه په وخت د اخستلوکې .مثلاً زیداوبکردوې [دوه] دوې [دوه] زره روپۍ یوځاې کړلې.اوعقدشرکت نې اوکړلو.ددې شرکت نه روسته زیدپه خپلودوو زرو روپو کمپیوټر واخستلو.اودبکردوې [دوه] زره روپۍ چا غلا کړې.نودغه کمپیوټربه ددواړوپه مینځ کې په شریکه وی.ځکه چې دا دعقدشرکت نه روسته اخستې شوې دې.نود دواړوملك پرې مشترکه طور راغلو.اودبکردوې [دوه] زره روپۍ چې غلا شوې.هغه هم دشریکې نه غلا شوی دی صرف دهغه نه دی غلا شوې)

دیوشریك دبل نه خپله برخه قیمت اخستل

(وَيَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْ ثَمَنِهِ)

ترجمه و تشریح ﴿ فرمائي (ابو الحسن قدوری رحمه الله) اورجوع به کوی (دغه مشتری) په شریك خپل باندې په برخه دخپلو روپو (مثلاً که په سل روپۍ نې دغه څیزاخستې وی.نوپنځوس به دخپل شریك نه اخلی)

دلیله ﴿ ځکه چې ده (مشتری شریك) اخستې دې نصف دده څیز(کوم چې نې واخستلو) په وکالت دهغه (شریك خپل.چه دهغې په اخستلوکې دخپل شریکوال وکیل شو) او نقدقیمت نې ورکړلو دمال خپل نه (اووکیل چې کله دموکل لپاره خپلې پیسې اولګوی.هغه به دموکل نه اخلی) اویقیناً مونږ ددې بیان کړې دې (په تیرو شوومسائلوکې)

دشرکت لپاره دمالونواختلاط شرط نه دې

قَالَ (وَتَجُوزُ الشَّرِكَةُ وَإِنْ لَمْ يَخْلِطَا الْمَالَ)

حل اللغة ﴿ ① **الربع**: کټه ② **تعین**: معین کول

ترجمه و تشریح فرمائی(ابوالحسن قدوری)اوجائز دې شرکت اګرچه یوځائې کړې نې نه وی مال (1)

دلائله ① دلیل دا دی.چه شرکت په ګټه کې منسوب دې عقد(شرکت) ته نه مال ته (اوهرهغه څیزنسبت کولای شی هغې ته نوهغه اصل وی) ځکه چې عقدته شرکت ونیلی شی. (مال ته نشی ونیلې) نوضروری دې وجود د معنی ددې اسم (دشرکت) په دې (عقد) کې ، (نوهرکله چې اصل چې عقد دې هغه موجود وی.نوثابتیږی به حکم په فرع کې چې ګټه ده) نونه شو خلط (دمالونو) شرط (په صحت د شرکت کې)

②(دوئم دلیل داحنافو دا دی.اودا د اولنی دلیل لپاره یو قسم شرح ده) اوبله دا چې دراهم او دنانیر نه متعین کیږی (یعنی کله چې په دې باندې یوڅیزواخستې شی.نوداستحقاق په حق کې نه متعین کیږی) نونه حاصلیږی ګټه په راس المال باندې بلکه حاصلیږی په تصرف سره (چه شریکین په مال کې تصرف کوی.نوددغه تصرف په وجه دوی ته ګټه ملاویږی) اوبله دا چې دې (مشتری شریك) په نیم (اخستې شوې څیز) کې اصیل دې. (یعنی دڅیز نیمه برخه نې دخپل ځان لپاره اخستې ده) اوپه نیمه برخه کې (د خپل شریك دارخه) وکیل دې.اوهرکله چې ثابت شو شرکت په تصرف کې بغیرد خلط (دمالونو) نه نو ثابتیږی به (شرکت) په هغه شی کې چې حاصل شوې وی.په دې (تصرف) سره اوهغه ګټه ده.بغیر ددې (خلط) نه (یعنی هرکله چې په راس المال کې دشرکت نه بغیرپه ګټه کې شرکت راځی. نو دغه شان چې راس المال موجود وی.خوخلط شوې نه وی.هم به په ګټه کښې شرکت وی)

(وَلَاتَصِحُّ الشَّرِكَةُ إِذَا شُرِطَ لِأَحَدِهِمَا دَرَاهِمُ مُسَمَّاةٌ مِنَ الرِّبْحِ)

حل اللغة ① **مسماة**:نامد ارشوې

ترجمه و تشریح فرمائی(ابو الحسن قدوری رحمه الله) اوجائزنه دې شرکت کله چې شرط کړې شی دیود شریکینو لپاره روپۍ معلومې د ګټې نه (مثلاً چې دا اووائی.کومه ګټه چې اوشی.په هغې کې به سل روپۍ د زید وی)

دلیله ځکه چې دا داسې شرط دې.چه واجبوی ختمول د شرکت.ځکه چې کیدې شی چې دا (ګټه) اونشی مګرپه اندازه دمقررشوې ګټې د یود شریکینو لپاره (یعنی کیدې شی.چه ټوله ګټه سل روپۍ اوشی.نودغه سل روپۍ به زید واخلی.اوبل شریك ته به نې هیڅ هم پاتې نشی.اودا خبره د عقدشرکت د مقتضی نه منافی ده. ځکه چې دشرکت تقاضا دا ده.چه په ګټه کې به شریکین شریك وی.اوچه په ګټه کې شریك نشو.نوشرکت رانغلو) اونظیر ددې (مسئلې موجود دې) په مزارعت کې ، (مثلاً چې دوې [دوه] نفر په پټی کې په شریکه یو څیزاوکری.اودا شرط اولګوی.چه کوم فصل اوشی.نوپه هغې کې به د سرنه سل منهٔ د زید وی.نوپه مزارعت کې دا شرکت ناجائزدې.ځکه چې کیدې شی.په دغه پټی کې واړه فصل سل منهٔ راوخیژی. نو یوته به برخه ملاوشی.اوبل به محرومه پاتې شی.اودا خبره د شرکت د مقتضیانو نه خلاف ده.نولکه څنګه چې په باب د مزارعت کې داسې شرط لګول ناجائزدی.دغه شان ـه په باب د شرکت عنان کې هم ناجائز وی)

په شرکت مفاوضه اوعنان کې به بضاعت سره مال ورکول

(وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُتَفَاوِضَيْنِ وَشَرِيكَيِ الْعِنَانِ أَنْ يُبْضِعَ الْمَالَ)

حل اللغة ① **يبضع**:خرچ کوی ② **معتاد**:د عادت او رواج مطابق

1) **مذهب الشافعي**:- اوفرمائی امام زفراوشافعی رحمهما الله جائزنه دې شرکت (بغیرد یوځائې کولودمالونونه)

ترجمه و تشريح ﴿ فرمائی (ابو الحسن قدوری رحمه الله) اوجائزدی لپاره دهريوکس د متفاوضين او دشريکينو دشرکت عنان چې په بضاعت سره ورکړي مال (چاته،يعني چې چاته اووائي.دا مال واخله.ته پرې کاروبار کوه.خوچه کومه ګټه کيږي.هغه به زما وي.ستا به په ګټه کې برخه نه وي)

دلائله ﴿ ① خکه چې دا (بضاعت) رائج شی دی په عقد شرکت کې

② اوبله دا چې جائزدی دده (شريك) لپاره چې په اجرت سره ورکړي خوك لپاره دعمل (يعنی د شريك لپاره دا جائزدی.چه دګټې لپاره په يوکس باندې په اجرت اومزدوریٔ کاراوکړي.اودشريکې د پيسو نه مزدوری ورکړي) اوحاصلول دګټې بغيرد بدلې (اومزدوریٔ) نه کم دی د دې (اجرت ورکولو) نه ،نومالك به وی ددې (ابضاع په طريق اولی سره يعنی هرکله چې شريك ته ددې اختيارشته.چه په شريك کاروبارکې دګټې کولو لپاره بل کس په اجرت اونيسی.اوهغه ته پيسې ورکړي.نوددې خوبه خامخا مالك وی.چه يوکس ته دګټې کولو لپاره دشريکې پيسې ورکړي.اوهغه ترې مزدوری اوحصه هم نه اخلي.خکه چې دا خوسراسر فائده ده)

(وَيَدْفَعُهُ مُضَارَبَةً)؛

ترجمه و تشريح ﴿ فرمائي(ابو الحسن قدوری رحمه الله) اوورکوی دې (يودشريکينونه مال شرکت) په مضاربت سره (بل ته)

دليله ﴿ خکه چې دا (مضاربت) کم دې (په مرتبه کې) د شرکت نه نومتضمن به وی (شرکت) دې (مضاربت) لره (يعنی دشرکت عقددمضاربت نه په درجه کې پورته دې.خکه چې په دې کې د شريکينومال اوعمل وی.اوپه مضاربت کې صرف د رب المال سرمايه وی.اودمضارب عمل وی.نوپه عقدشرکت کې دا صلاحيت شته.چه ددې په ضمن کې شريك بل چا سره مضاربت اوکړي)

الرواية النادرة ﴿ اودامام ابوحنيفه رحمه الله نه روايت دې چې شان دا دې.نه دې جائزده (شريك) لپاره دا (مضاربت) خکه چې دا (مضاربت) يو شان شرکت دې (نوپه مرتبه کې دعقدشرکت نه کم نشو.اوچه دهغې نه کم نشو.نوعقدشرکت مضاربت لره متضمن نه ده) او زيات صحيح قول اول دې (چه شريك مضاربت کولې شي) اودا (روايت د جواز) روايت د اصل (مبسوط) دې.

دليل رواية الاصل ﴿ خکه چې شرکت مقصود نه دې بلکه مقصود حاصلول د ګټې دې. (چه ګټه اوشي.اوچونکه شرکت دګټې کولو لپاره ذريعه ده.نوخکه خلق شرکت کوی)

نظيره ﴿ لکه خنګه چې (جائزدی دشريك لپاره دا چه) اونيسی يوکس په مزدوریٔ سره (اودهغه په کاروبارکې کارواخلی) بلکه په طريقه اولی سره به جائز وی(د شريك لپاره مضاربت کول) خکه چې دا (مضاربت) ګټه ده بغيرد تاوان نه په ذمه د رب المال کې (يعنی مضارب د رب المال نه دخپل عمل خه مزدوری خو نه اخلی بلکه هغه خود رب المال په مال کې کاروبارکوی.اودهغې نه خپله هم ګټه خوری.اورب المال ته هم ورکوی.اوچه خوك په مزدوریٔ سره اونيسی.نوهغه ته خو دشرکت د مال نه اجرت ورکوی نوهرکله چې استيجارجائز شو نومضاربت خوبه په طريق اولی سره جائز وی)په خلاف د شرکت خکه چې دې (شريك) مالك نه دې ددې (شرکت يعنی چې دوی (ادوه) نفر په يوکاروبارکې شريك شي. نو يوشريك بل کس سره په دغه مال کې شرکت نشی کولې) خکه چې يوخيزخپل تابع نشی کرخولې دخپل خان پشان شی (يعنی چې دوی ادوه) شيان (خيزونه) په مرتبه کې يوشان وی.نوپه هغې کې يوخيزبل لره دخپل خان تابع نشی کرخولې .اودلته کې هم يوشرکت بل شرکت خپل تابع نشی کرخولې.يعنی يو شرکت بل شرکت لره نشی متضمن کيدې)

(وَيُوَكِّلُ مَنْ يَتَصَرَّفُ فِيهِ) ويرهن ويسترهن ويستاجر الاجنبي عليه ويبيع بالنقد والنسيئة

ترجمه و تشريح > فرماني (ابو الحسن قدوري رحمه الله) او (يوشريك) وكيل جوړولي شي هغه خوك چي تصرف كوي په دې (مال دشركت) كې اودا چې په گانړه وركړى يا په گانړه واخلي او په دې باندې اجنبي كس په كرايه واخلي او په نقد او په قرض يې خرڅ كړي

دليله > ځكه چې وكيل مقرركول په اخستلو او خرڅولو كې مقتضيات د تجارت دى. (چه تجارت وى.نوسرى واړه كارونه په خپله نشي كولې بلكه په كارونوكې به ديوكار لپاره يوكس خپل وكيل مقرركړى.اوديل كار لپاره به بل كس خپل وكيل مقرركړى) اوشركت منعقد شوى دې لپاره د تجارت

استثناء مسئلة الوكالة بالشراء > په خلاف د وكيل نيولونه صرف داخستلو لپاره ځكه چې دې مالك نه دې چې وكيل مقرر كړي بل كس (يعني كه يوكس ني صرف د اخستلو لپاره وكيل مقرر كړى وى.اودنورو تصرفاتواجازت ورته نه وى شوى.نودا وكيل بالشراء بل خوك د كاروبار لپاره وكيل نشي مقرر كولې) ځكه چې دا يوه خاصه معامله او عقد دې.طلب كوي (موكل) دده (وكيل) نه حاصلول دمعين څيز نوتابع به نشي گرځولې (په دې خاص عقد د وكالت بالشراء كې) پښان ددې (عقد ،يعني چې يوكس صرف د يو شي داخستلو لپاره وكيل مقرركړې شي. نو دغه وكيل بل خوك ددغه شي داخستلو لپاره وكيل نشي مقرر كولې.ځكه د اولني كس سره عقدوكالت شوى دې.نودا عقد وكالت صلاحيت نه لري.چه بل چا سره دوكالت عقد اوكړى.ځكه يوڅيزدخپل خان نه پورته اوبرابرڅيزلره نشي متضمن كيدې.كه متضمن كيږى.نودخپل خان نه د كم شي لره متضمن وى)

ديوشريك دبل شريك په مال د قبضې حيثيت

(وَيَدُهُ فِي الْمَالِ يَدُ أَمَانَةٍ)

ترجمه و تشريح > فرماني (ابو الحسن قدوري رحمه الله) اوقبضه دده (شريك) په مال (دشريك) كې قبضه دامانت ده (يعني د شريك مال ده سره بطورامانت دې)

دليله > ځكه چې ده (شريك) قبض كړې دې مال په اجازت د مالك (چه شريك دې) نه (نې دې اخستې) په طريقه د بدل (لكه څنگه چې په بيع كې وى.مشترى د بائع نه يوڅيز واخلي. خودهغې په بدل كې ثمن وركړى بلكه ده خو تري ددې لپاره اخستې دې.چه په دې به په شريكه كاروباركوو.اوكته به ني په خپل مينځ كي تقيسموى) اونه (نې دې اخستې) په طريقه په وثيقه (لكه څنگه چې په رهن كې مرتهن د راهن نه مال واخلي.خوددې لپاره چې د مرتهن ورسره قرض وى.هغه قرض تري په آسانتيا سره وصول كړې شي.بلكه دلته خود شركت لپاره تري ده مال اخستې دې)نواوگرځيدلو(دا مال د شركت) پښان دامانت.

دشركت صنائع تعريف

(وَأَمَّا شِرْكَةُ الصَّنَائِعِ) فَالْخَيَّاطِينَ وَالصَّبَّاغِينَ يَشْتَرِكَانِ عَلَى أَنْ يَتَقَبَّلَا الْأَعْمَالَ وَيَكُونَ الْكَسْبُ بَيْنَهُمَا فَيَجُوزُ ذَلِكَ)

حل اللغة > ① **الخياطين**:جمع د خياط د درزى ② **الصباغين**:جمع د صباغ،رنگساز

ترجمه و تشريح > فرماني (صاحب د قدوري ﷫) اوهرچه شرکت دصنائع دي. نو چې دوې [دوه] درزيان وي يا دوې [دوه] رنګسازيان وي. چه شريك شي په دې باندې چې اخلي کارونه اووی به ګټه په مينځ د دواړو کې په شريکه وي. نوجائزدې دا شرکت (¹)

دليله > دليل دا دې. چه مقصود ددې (شرکت صنائع) نه ګټه ده اودا (ګټه) ممکن ده په وکيل جوړولوسره (چه هريوکس دبل لپاره کاراخستلوکې وکيل شي) ځکه چې دې هرکله وکيل شي په نصف کې او اصيل په نصف کې نو ثابت شو شرکت په مال ګټلي شوي کې اونشي شرط کولې په دې (شرکت صنائع) کې اتحاد د عمل (بلکه که يوکس پاېکالي جوړوي. اوبل کس قميص جوړوي. نوهم شرکت جائزدي)

دېود اخستي کارپه بل باندې لزوم

(وَمَا يَتَقَبَّلُهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الْعَمَلِ يَلْزَمُهُ وَيَلْزَمُ شَرِيكَهُ) فان عمل احدهما دون الآخر فالكسب بينهما نصفان

حل اللغة > ① **التاقبل**: ورکونکې

ترجمه و تشريح > فرماني (ابو الحسن قدوري ﷫) اوهغه چې واني خلي هرواحد د شريکينونه دڅه کارنه (مثلاً يوکس ورته د جامو جوړولو لپاره کپړه ورکړله) نولازميږي په ده (اخستونکي باندې کول دغه کار) اوپه شريك دده (اخستونکي) باندې نو که عمل اوکړو يو کس په دواړو کښې او بل اونکړو نو کسب به د دواړو په مينځ کښې نيم نيم وي

ثمرته > تردې چې هرواحد دواړو (شرکينو) څخه مطالبه کولای شي دده نه دکار (يعنی دا ضروری نه ده. چه چاته ئې کپړه ورکړې وي. هم دهغه نه دجامومطالبه اوکړي. بلکه که د بل انديوالان نه ئې اوکړي. نوهم کولې شي) اومطالبه اوکړي د مزدورئ (يعنی په شريکينوکې چې هريوکس د مستاجرنه د مزدورئ مطالبه اوکړي. نوکولې شي)

هذا حکم الاستحسان > اودا (لزوم د عمل په هرواحد د شريکينو څخه) بنکاره دې په شرکت مفاوضه کې، (ځکه چې په دې کې هرشريك دبل د اړخه په نصف عمل کې وکيل وي. اوپه نصف کې اصيل وي) اوپه سوا ددې (شرکت مفاوضه) کې (چه شرکت عنان دې جواز د دې لزوم دعمل) استحسان دې.

دليله > اووجه داستحسان دا ده. چه مقتضی د ضمان دې. (يعنی ضمان په هرواحد د شريکينو باندې راځي. داسې نه ده چې کوم شريك د عقد سره مباشروي. صرف په هغه باندې ضمان اوتاوان راځي) ولې ته نه ګورې هغه چې واني اخلي هريوکس د دې دواړو شريکينوځنی نه څه کار، نومضمون دې په بل باندې (يعنی که کاريوشريك واخلي. خومطالبه د جامې د واپسئ دهريونه کولې شي)

وحکم القياس > **ترجمه و تشريح** > اوقياس خلاف دې ددې نه (چه عقددې يواوکړي. اولزوم د عقد دمقتضياتو دې په بل راځي) ځکه چې شرکت (په شرکت عنان وغيره کې) واقع شوې دې مطلق (دذکردکفاله نه يعنی په شرکت عنان وغيره کې دا ذکربه کې دا ذکربه وي. چه هرواحد بل ته اوواني. ته زما د عمل ذمه وارنې. اوزه ستا دعمل. اوکفاله د شرکت عنان د مقتضيانوځنی هم نه ده. چه ذکردې نه وي. اوبيا دې په کې هم کفاله مراده وي) اوکفاله. مقتضياتودشرکت مفاوضه ده. (يعنی شرکت مفاوضه داسې عقددې. که دعقدپه وخت کې دا تصريح هم اونکړي. چه ته به زما دعمل کفيل ئې اوزه به ستا نوبيا هم

¹) **مذهب الشافعي**:- اوفرماني امام زفراوشافعي ﷫ چې جائز نه دې (شرکت صنائع)

په دوی کي هرواحد دبل دعمل کفيل اوذمه وار دي.څکه چي دمفاوضه تقاضا دا ده.چه هرشريك دي دبل د عمل ذمه واروی. نوځکه ني اووئيل.چه ديودعمل د مقتضياتو لزوم چي په بل راځي.دا په شرکت مفاوضه کي قياس دي.او په شرکت عنان کي استحسان دي)

دشرکت وجوه تعريف

(وَأَمَّا شَرِكَةُ الْوُجُوهِ فَالرَّجُلَانِ يَشْتَرِكَانِ وَلَا مَالَ لَهُمَا عَلَى أَنْ يَشْتَرِيَا بِوُجُوهِهِمَا وَيَبِيعَا فَتَصِحُّ الشَّرِكَةُ عَلَى هَذَا)

حل اللغة ① **وجاهة**:مقام،شهرت

ترجمه و تشريح فرماني(ابو الحسن قدوری ﷫) اوهرچه شرکت وجوه دي. (نوصورت ددي به دا وی.چه) دوي [دوه] نفر شريك شي اونه وی راس المال ددوی لپاره (اوشريك شي) په دي شرط چي دوی به اخستل کوی په خپل مخ مروت باندي اوخرڅول به کوی نوصحيح کيږي دا شرکت اوددي امله (چه دوی به خپل مخ مروت باندي اخستل اوخرڅول کوی)

وجه التسمية نومول شو دا شرکت په دي (شرکت الوجوه) باندي (يعنی وجوه جمع دوجه ده. اووجه مخ ته واني) څکه چي اخستل نه کوی په قرضو باندي مګرهغه څوك چي وی دهغه مخ مروت په خلقوکي (نو خلق پري اعتماد کوی.او پوره شي ورته ورکوی)

هرواحددبل نه وکيل دي

(وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَكِيلُ الْآخَرِ فِيمَا يَشْتَرِيهِ)

ترجمه و تشريح فرماني(ابو الحسن قدوری ﷫) اوهريوکس ددي دواړو (شريکينو)څخنی وکيل دبل دي په هغه څه کي چي ني اخلي.

دليله څکه چي تصرف په بل باندي جائزنه دي مګرپه وکالت اويا په ولايت سره، (يعنی چي سړي دبل لپاره يوڅيزواخلي.يا ني خرڅ کړي.نوهله جائزوی.چه دا متصرف دهغه وکيل وی.اويا ني ولي وی) اونشته ولايت (په دي شرکت وجوه کي ديوشريك په بل باندي) نومتعين شو وکالت (لپاره د جواز د تصرف)

په مشتراة اوګټه کي دبرابري جواز

(فَإِنْ شَرَطَا أَنْ يَكُونَ الْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ فَالرِّبْحُ كَذَلِكَ، وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَفَاضَلَا فِيهِ، وَإِنْ شَرَطَا أَنْ يَكُونَ الْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا فَالرِّبْحُ كَذَلِكَ)،

ترجمه و تشريح که شرط کړلو(په شرکت وجوه کي دواړو شريکانو) چي اخستي شوي شی به په مينځ ددوی کي نيم په نيمه وی.نو ګټه به هم دغه شان وی(نيم په نيمه) وی.(نوجائزدي دا شرط) اوجائزنه دي چي زيات وی يوپه بل باندي په دي (ګټه) کي ،اوکه دواړه شرط اولګوی چي وی به اخستي شوي څيزبه مينځ د دوی کي دري برخي (يوه برخه به ديوشريك وی اودوي [دوه] برخي به دبل شريك وی) نوګټه به هم دغه شان وی(د يوي برخي والـه ګټه به يوه برخه وی.اود دووحصو والا ګټه به دوي [دوه] برخي وی)

دليله دا (د لزوم د برابري په ګټه کي) څکه چي ګټه استحقاق ددي نه راځي.مګرپه مال سره اويا په عمل سره اويا په ضمان کي (اووضاحت ددي دا دي) نو(په مضاربت کي) رب المال مستحق ګرځي ددي (ګټي) په مال سره (څکه چي دده مال په کي لګيدلي وی) اومضارب مستحق ګرځي ددي (ګټي)

په عمل سره (يعنى مضارب د رب المال په مال كي تجارت كوى.اوددغه تجارت په وجه دي د گټي مستحق گرځي) اواستاذ هغه چي ښائي هنر خپل شاګرد ته په نيمه باندي (دا استاذ دګټي مستحق گرځي) په ضمان سره (يعنى په شركت الوجوه كي كه يوكس يودرزى ته كپړه راوړه.چه ددي نه جامي جوړي كړه.اودغه درزى دغه كپړه خپل شاګرد ته وركړى.چه ددي نه جامي جوړي كړه.اوګټه به نيمه وى.نويه دي صورت كي چي دا استاذ د نيمي ګټي مستحق ګرځى.په دي وجه چي دي ددغه جامو جوړولو ذمه وار دي.كه دغه كپړه ضائع شى.نواستاذ باندي به تاوان راځى.نوهركله چي پري تاوان راځى.نوګټه به هم اخلى. ځكه چي غنم په مقابله دغرم كي وى)

عدم الجواز فيما سواه > **ترجمه و تشريح** > اومستحق نه ګرځى يوكس (دګټي) په هغه چي سوا وى ددي (دري څيزونو نه چي مال ،عمل اوضمان دي) ولي ته نه ګوري ځوك چي ووايي بل ته ته تصرف كوه په مال خپل كي په دي شرط چي ګټه دهغي به زما لپاره وى.نودا جائزنه ده.د امله د نشتوالي ددي څيزونوپه دي عقدكي يعنى كوم كس چي د ګټي شرط لګوى.نونه خوددغه ګټي په تجارت كي دده مال شته.اونه دي كاركوى.اونه دي ضامن دي. نو ځنګه به دي د ګټي مستحق جوړ شى)

په اصطياد اواحتطاب كي دشركت صنائع عدم جواز

(وَلَا تَجُوزُ الشَّرِكَةُ فِي الِاحْتِطَابِ وَالِاحْتِشَاشِ وَالِاصْطِيَادِ، وَمَا اصْطَادَهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَوِ احْتَطَبَهُ فَهُوَ لَهُ دُونَ صَاحِبِهِ)،

حل اللغة > ① **الاحتطاب**:لرګى جمع كول ② **الاصطياد**:ښكار كول

ترجمه و تشريح > اوجائزنه دي شركت په لرګوجمع كولوكي اوپه واښو جمع كولو كښي اوپه ښكاركولوكي اوهغه چي ښكاراوكړى دهغي هريوكس ددي شريكينو ځنى يا ئي لرګى جمع كړلو نودغه (ښكاراولرګى) دده (ښكاركونكي اولرګى جمع كونكي) لپاره دي نه لپاره د انديوالان دده

دليله > ځكه چي شركت متضمن دي معنى د وكالت لره (چه هرشريك دبل لپاره وكيل وى) اووكيل مقرر كول په مباح مال كي باطل دي،ځكه چي امرد موكل په دي (حاصلولودمباح څيز) صحيح نه دي او وكيل مالك وى ددي (حاصلولودمباح څيز) بغيرد حكم دده(موكل) نه نو صلاحيت نه لرى يوكس چي شى نائب دهغه (خپل ملګرى) نه (لنديز دا چي شركت متضمن دي معنى د وكالت لره،اوپه دي څيزونوكي وكالت ځكه نه صحيح كيږي.چه هرواحد ددي مالك دي.چه يو مباح څيزدخان لپاره حاصل كړى.اګرچه چا ورته حكم نه وى كړي.نوهركله چي دي په خپله ددغه مباح شى د حاصلولو مالك دي.نوشركت ته ارتيا څه پاتي شو.ځكه چي شركت خوسري ددي لپاره كوى.چه ګټه راته آسانه شى)

دخچراودمشك دخاوندانوپه اوبوكي دشركت حكم

(وَإِذَا اشْتَرَكَا وَلِأَحَدِهِمَا بَغْلٌ وَلِلْآخَرِ رَاوِيَةٌ يَسْتَقِي عَلَيْهِمَا الْمَاءَ وَالْكَسْبُ بَيْنَهُمَا لَمْ تَصِحَّ الشَّرِكَةُ، وَالْكَسْبُ كُلُّهُ لِلَّذِي اسْتَقَى الْمَاءَ، وَعَلَيْهِ أَجْرُ مِثْلِ الْبَغْلِ)،

حل اللغة > ① **البغل**:قچر

ترجمه و تشريح > فرماني(ابو الحسن قدورى رحمه الله) اوكله چي دوي [دوه] نفر شريك شي.اوديودشريكينو لپاره خچروى اودبل لپاره مشك وى.چه راوباسى په هغي باندي اوبه،اوګټه به په مينځ د دواړوكي وى(يعنى چي دوي [دوه] نفر په خپل مينځ كي دا فيصله اوكړى.چه په دي مشك كي به اوبه جمع كوو.اوپه خچربه ئي بازارته اوړو.اوچه كومي پيسي ملاويږى.هغه به د دواړو په مينځ كي

په شريکه وي) نو نه صحيح کيږي شرکت (په ګټه کې) او ګټه تو له دهغه چا لپاره ده چې او به ني راو يستي دي.او به ده (مستسقي) باندې کرايه دمثل د قچر

وجه فساد الشركة ﴿ او هرچه فساد دشرکت دې.د امله د منعقد کيدو ددې (شرکت) په محفوظ کولود مباح څيزاو هغه (مباح څيز) او به دي. (او وړاندې په تفصيل سره تير شو.چه په مباح څيزکې شرکت نه صحيح کيږي)

وجه وجوب الاجر ﴿ او هرچه وجوب د مزدورئ دې (دقچر د مالك لپاره که مستسقي دمشك خاوند وي.او د مشك د خاوند لپاره که مستسقي د قچر مالك وي.نو مزدوري پرې څکه واجبيږي) چې مباح څيزکله چې او ګرځي ملك لپاره د محفوظ کونکي او هغه (محفوظ کونکي په دې مقام کې) مستسقي دې.او يقينا ده (مستسقي) واخستې منافع د ملك دغير او هغه (ملك دغير) قچر دې (که مستسقي مالك د مشك وي) او يا مشك دې(که مستسقي مالك د قچر وي) په عقد فاسد سره(څکه چې په مباح څيزکي د شرکت عقد فاسد وي) نو لازميږي په ده (مستسقي) باندې مزدوري دهغې (قچر يا مشك)

په شرکت فاسده کې دګټې د وېش معيار

(وَكُلُّ شَرِكَةٍ فَاسِدَةٍ فَالرِّبْحُ فِيهِمَا عَلَى قَدْرِ الْمَالِ، وَيَبْطُلُ شَرْطُ التَّفَاضُلِ)

ترجمه و تشريح ﴿ او دا يوه قاعده ده.چه) هر شرکت چې فاسد وي.نو ګټه به په هغې(شرکت فاسده) کې په اندازه د مال وي. (چه دچا څومره مال وي.نو دهغې په مناسبت سره به هغه ګټه اخلي) او باطل به وي شرط د زيادت (يعني که په شريکينو کې ديو لپاره د زياتي ګټې شرط کيخودې شوې وي.نو دغه د تفاضل شرط به باطل وي.بلکه هر يوته به دهغه دمال په تناسب سره ګټه ملاويږي)

دليله ﴿ څکه چې ګټه په دې (شرکت فاسده) کې تابع وي د مال نو اندازه کولې به شي (ګټه) په اندازه د مال سره (نو چه څومره مال وي.دهغې په تناسب سره به ګټه وي)

نظيره ﴿ لکه څنګه چې ګټه تابع وي د تخم په مزارعت کې (يعني په پټي کې چې کوم تخم کرلې شي نو مثلا چې د يو کس يو سير تخم وي.او دبل کس دوې [دوه] سيره تخم وي.نو کوم پيداوار چه اوشي. په هغې کې به د دوې [دوه] سيرهٔ تخم مالك لپاره دوې [دوه] برخې وي.او د يو سير تخم مالك لپاره به يوه برخه وي) او زيادت (دګټې) استحقاق راتلو دهغې (زيادت) په مقرر کولو سره (چه د عقد په اول کې دتفاضل شرط اولګولې شي) او فاسد شو عقد (دشرکت) نو باقي پاتې شو استحقاق (دګټې) په اندازه د راس المال باندې (يعني که دشرکت دعقد په وخت کې دا شرط اولګولې شي.چه يو شريك ته به زياته ګټه ملاويږي.نو دا جائز ده.خو چونکه دلته عقد فاسد شو.نو که په اول کې دتفاضل شرط هم لګولې شوې وي.نو هغه باطل شو څکه چې عقد فاسد شو.نو اوس به ګټه د شرکت دعام قانون مطابق تقسيمولې شي.يعني چې دچا څومره مال وي.دهغې په اندازه به هغه ته ګټه ملاويږي)

د شرکت په مرګ يا په ارتداد سره د شرکت بطلان

(وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ أَوِ ارْتَدَّ وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ بَطَلَتِ الشَّرِكَةُ)

ترجمه و تشريح ﴿ او کله چې مړشي يو د شريکينو څخه او يا مرتد شي او لاړ شي دار الحرب ته نو باطل شو شرکت شي **دليله** ﴿ څکه چې دا (شرکت) متضمن دې وکالت لره او ضروري دې دا (وکالت) ددې لپاره چې ثابت شي شرکت لکه څنګه چې وړاندې تير شو. (يعني ګټه هله کيږي.چه شرکت راشي.او شرکت هله راځي.چه يو کس دبل په مال کې تصرف اوکړي.او دبل په مال کې تصرف کول نه دې جائز مګر په وکالت او په ولايت سره،او دلته دشريکينو په مينځ کې خو ولايت نشته.نو متعين شو وکالت) او وکالت باطليږي

په مرګ سره اودغه شان چې لاړشي سرې دارالحرب ته په حالت دارتداد کې (یعنی مرتد شي) خکه چې دا (ارتداد) پشان د مرګ دې (یعنی ارتداد حکمي مرګ دې.هم دا وجه ده.چه کله سړې مرتد شي.نودده میراث دده په مسلمانانو وارثانوباندې تقسیمولې شي.حالانکه دې ژوندې وی.خکه چې ارتداد دحکم په اعتبارسره مرګ دې. نو لکه څنګه چې د حقیقي مرګ نه روسته میراث تقسیمولې شي.دغه شان د ارتدادنه روسته چې دا حکمي مرګ دې.هم میراث تقسیمولې شي)

د شریک دمال نه د زکاة ورکولوعدم جواز

وَلَيْسَ لِوَاحِدٍ مِنَ الشَّرِيكَيْنِ أَنْ يُؤَدِّيَ زَكَاةَ مَالِ الْآخَرِ إِلَّا بِإِذْنِهِ،

ترجمه و تشریح> اونه دی جائز لپاره دیود شریکینوچه ادا کړی زکاة دمال دبل (شریك)

دلیله> خکه چې دا (ورکول د زکاة دشریك خپل) نه دې دجنس دتجارت څنی(یعنی دتجارت د مقتضیاتونه دا نه دی.چه دمال شرکت زکاة دې هم ورکوی.بلکه دا دهریوکس ذاتي مسئله ده.دشرکت سره ئې څه تعلق نشته)

فَإِنْ أَذِنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِصَاحِبِهِ أَنْ يُؤَدِّيَ زَكَاتَهُ. فَإِنْ أَدَّى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فَالثَّانِي ضَامِنٌ عَلِمَ بِأَدَاءِ الْأَوَّلِ أَوْلَمْ تَعْلَمْ، عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.(١)

ترجمه او تشریح> که چیرته اجازت کړې ووهریوکس ددواړو نه خپل شریکوال ته چې ادا کوی زکاة د مال دده (آمر) نوادا کړوهریو د دواړو شریکینو نه (یعنی یوکس خپل زکاة په خپله هم ادا کړو.اودهغه وکیل هم ادا وکیل چې شریك دې.هغه هم ادا کړو) نو دوئم (چه ماموردې) ادا کونکې ذمه وار دې که هغه ته د اول (آمر) دادا کولو علم وی اوکه نه،په نیزدامام ابوحنیفهﷺ

وَقَالَا: إِنْ لَمْ يَعْلَمْ لَمْ يَضْمَنْ

ترجمه و تشریح> اوصاحبین ﷺ وائي..که د اول (آمر) د ادا کولو علم ورته نه وی.اوادا ئې کړی.نو په دوئم (مامور) به ذمه واری نه راخي (اوکه پته ورته وی.چه زما شریکوال دخپل مال زکاة ادا کړې دي.اوبیا هم دې دهغه دمال زکاة ورکړی.نوپه دې صورت کې ضامن دې)

صورة الاداء معا> اودا (وجوب د ضمان په بل شریك باندې) په هغه صورت کې چې ورکړې ئې وی زکاة په تعاقب سره (یعنی یوکس اول زکاة ورکړې وی اوبل شریك دهغه نه روسته ورکړې وی) هرچه هغه صورت چې ادا کړی (هریوکس زکاة) په یوخائې (وراندې روسته په کې نه وی) نوضامن دې هریوکس د شریکینونه د برخې دخپل شریکوال (یعنی دده په خائې چې دده اندیوالان زکاة ورکړې وی.نودې به ورته دخپل مال دحصې زکاة ورکوی)

كِتَابُ الْمُضَارِبَةِ

ترجمه> (دا) کتاب د مضاربت (په بیان کې) دې.

تشریح> چونکه مضاربت یو قسم شرکت دې د دې وجې صاحب د قدوریؒ د کتاب الشرکة نه روسته مضاربت احکام بیانوی.

معني المضاربة لغة وشرعا> مضاربت په لغت کې د ،،ضرب فی الارض،، نه مفاعله ده.معنی ئې ده.په

(١) القول الراجح هوهذا قول الإمام ﷺ كذا في التنوير(٣\٣٨٥) وشرح الوقاية (٢\٣٤٩) وكز (ص،٢٠٤) وشرح عقود (ص،٨٣) نقلاً عن القول الراجح (١\٥١٨)-

زمکه ګرځيدل،او ګشت کول.دي عقد ته مضاربت ځکه وائي.چه مضارب د نفع حاصلولو لپاره په اکثره زمکه ګرځي ،او پخپل سعی او کوشش سره د نفع مستحق کيږی.اهل حجاز دې ته مقارضه او قراض هم وائي.ځکه چې د قرض معنی قطع (پريکول) ده.او صاحب مال خپل څه مال کټ کوی.او مضارب ته ئې ورکوی.

د مضاربت تعريف

(الْمُضَارَبَةُ عَقْدٌ) مضاربت داسې عقد دې.(عَلَى الشَّرِكَةِ بِمَالٍ مِنْ أَحَدِ الْجَانِبَيْنِ) چې دا د يو اړخه مال سره شرکت باندې واقع کيږی.(وَعَمَلٍ مِنَ الْآخَرِ)> او نفع د يو اړخه مال اود دوئم اړخه کار کيدلو سره مستحق کيږی.

تشريح> په اصطلاح د شرع کې مضاربت هغه عقد ته وائی.په کوم چې د يو د اړخه مال وی.اود دوئم د اړخه عمل وی.او په نفع کې دواړه شريك وی.د چا د اړخه چې مال وی.هغه ته رب المال اود چا د اړخه چې عمل وی.هغه ته مضارب وائی.او کوم مال چې ورکړې شی.هغې ته مال مضاربت وائی.د ذکر شوی صورت نه بغير مضاربت نه کيږی.ترديې که د پوره نفع شرط د رب المال لپاره وی.نو مضارب به مستبضع وی.(بضاعت کونکې) يعنی عقد مضاربت به نه پاتې کيږی.بلکه عقد بضاعت به وی.او مضارب به د رب المال په حق کې محسن شمارلې کيږی.اوکه کل نفع مضارب لپاره شرط وی.نو دا به مست قرض وی.ګويا ده د رب المال نه مال د قرض په طور اخستې دې.

(وَلَاتَصِحُّ الْمُضَارَبَةُ إِلَّابِالْمَالِ الَّذِي بيناان الشركة تَصِحُّ بِهِ)اومضاربت نه صحيح کيږی.خو په هغه مال سره په کوم چې مونږ بيان کړل چې په کوم سره چې شرکت صحيح کيږی.

تشريح> مضاربت دهغه مال نه صحيح کيږی.په کوم سره چې شرکت صحيح کيږی.اودا د شيخينو رحمهما الله په نيز دا دې. چه راس المال دراهمو او دنانير وی.

د مضاربت شرطونه

(وَمِنْ شَرْطِهَا د مضاربت د شرطونو نه دا هم دې.أَنْ يَكُونَ الرِّبْحُ بَيْنَهُمَا مُشَاعًا چې نفع په دې دواړو کې مشترك وی.لَايَسْتَحِقُّ أَحَدُهُمَا منه دَرَاهِمَ مُسَمَّاةً) چې په دوی کې هيڅ څوك د نفع متعين دراهمو نه مستحق نه وی.

تشريح> د مضاربت د صحت لپاره د دواړو په مينځ کې د نفع عام او شائع کيدل.مثلاً نيم په نيمه يا دريمه برخه کيدل شرط دی.مطلب دادې.چه په دوی کې يوکس لپاره په نفع کې د معلومو دراهمو استحقاق پکار نه دې.

دليله> ځکه چې په داسې شرط سره ددوی په مينځ کې شرکت ختميږی. حالانکه د شرکت کيدل ضروری دی.

د مضاربت بعض نور شرطونه

وَلَابُدَّ أَنْ يَكُونَ الْمَالُ مُسَلَّمًا إِلَى الْمُضَارِبِ او ضروری ده.چه مال مضارب ته اوسپارلې شی.وَلَايَدَ لِرَبِّ الْمَالِ فِيهِ) چې په دې کې د مالك قبضه نه وی.

تشريح> د مضاربت د صحت لپاره دا هم ضروری ده.چه مضارب ته راس المال پوره طور باندې اوسپارلې شی.اود رب المال په دې کې هيڅ قسمه قبضه د تصرف نه وی.

دليله خکه چې مال د مضارب په قبضه کې امانت وي.نو لکه څنګه چې مال د وديعت مودع ته حواله کول ضروري دي.دغه شان مضارب ته راس المال سپارل ضروري دي.

د مضاربت بعض نور شرطونه

(فَإِذَا صَحَّتِ الْمُضَارَبَةُ مُطْلَقَةً کله چې مضاربت مطلق اوساتلې شي. جَازَ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَبِيعَ وَيَشْتَرِيَ نو جائزدي ، مضارب لپاره اخستل او خرخول، وَيُسَافِرَ سفر کول، وَيُبْضِعَ بضاعت باندې ورکول، وَيُوَكِّلَ او وکيل کول،

تشريح ددې ځائې نه د هغه امورو بيان دې.کوم چې مضارب لپاره جائز يا ناجائز دي.نوکه عقد مضاربت يو مکان يا زمان (يو ځائې يا يو مودې) پورې او يو خاص تصرف سره مقيد نه وي.بلکه مطلق وي.نو مضارب لپاره هغه واړه امور جائز دي.کوم چې د تاجرانو (او سوداګرو) رواج (او عادت) وي.لکه لاس په لاس، يا په قرض اخستل خرخول (د آئمه ثلاثه په نيز بې اجازته قرض نشي خرخولې)، سفر کول، د بضاعت په طريقه مال ورکول، وکيل کول،

دليله .خکه چې دا واړه امور د سوداګرو په نيز عام عادت دې.اود تاجرانو په سلسله کې ددې ضرورت واقع کيږي.اود مضاربت مقصد هم دادې.چه نفع حاصل شي.اودا تجارت نه بغير نه کيږي.نو مذکوره عقد به د تجارت ټولو اقسامو ته شامل وي.

د مضارب لپاره بل کس ته مضاربت باندې د مال ورکولو حکم

(وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَدْفَعَ الْمَالَ مُضَارَبَةً اونه دی جائز د ده دپاره چې ورکړي چاته مال په مضاربت سره إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ رَبُّ الْمَالِ فِي ذَالك مګر دا چې اجازت ورکړي.هغه ته مالك، په دې کښې أَوْيَقُولَ لَهُ اعْمَلْ بِرَأْيِك) يا اووائي.چه د خپلې رائې مطابق کار کوه.

تشريح مضارب ته دا اختيار نشته.چه بل کس ته مضاربت باندې مال ورکړي. مګردا چې د رب المال د اړخه ددې صريحي اجازت وي.يا دې پخپلې رائې سره د کار کولو اختيار مند وي.

دليله وجه داده.چه دواړه مضاربتونه قوت کې برابر دي.او شئ خپل مثل ته متضمن نه وي.نو د رومبي مضاربت په ضمن کې به دوئم مضاربت نه راځي.

سوال يو مستعير، مستعار شئ بل کس ته عاريت باندې، مستاجر بل کس ته اجاره باندې ورکولې شي.او عبد مکاتب خپل غلام مکاتب کولې شي.او عبد ماذون خپل غلام ته اجازت ورکولې شي.حالانکه دا واړه په قوت کې د يو بل مثل دی ؟

جواب دلته خبره هغه تصرف کې ده.کوم چې د نيابت په طور وي.او ذکرشوی تصرفات د ماليت په حکم سره دی.د نيابت په حکم سره نه دی.خکه چې مستعير د منفعت مالك، او مکاتب د قبضې په لحاظ سره آزاد شو.په خلاف د مضارب، چې هغه د نيابت په طريقه عمل کوی.خکه چې مضاربت کې د وکالت معنی وی.او وکيل چې د کوم کار لپاره وی.هغې کې دوئم کس نشي وکيل کولې.دغه شان مضارب بل کس نشي مضارب کولې.په خلاف د وديعت ايخودلو، يا د بضاعت ورکولو،چه دا جائز دی.خکه چې دوی کې هر يو د مضاربت نه کم دې.نو هغه به دې ته ګډ وی.

(وَإِنْ خَصَّ لَهُ رَبُّ الْمَالِ التَّصَرُّفَ فِي بَلَدٍ بِعَيْنِهِ که تخصيص اوکړو.مالك د تصرف،په يو خاص ښار أَوْفِي سِلْعَةٍ بِعَيْنِهَا يا متعين اسبابو کې .لَمْ يَجُزْلَهُ أَنْ يَتَجَاوَزَعَنْ ذَٰلِكَ)نو مضارب ته ددې نه تجاوز کول جائز نه دی د د هغې خخه

تشريح> كه رب المال د تجارت لپاره يو خاص ښار يا يو خاص اسباب (سامان) متعين كړو.نو مضارب لپاره ددې خلاف كول جائز نه دي.
دليله> ځكه چې مضارب كوم چې مال كې د تصرف كولو مالك كيږي.هغه د رب المال په سپارلو سره كيږي.او رب المال سپارل دې ذكر شوي امورو سره خاص كړي دي.چه دا د فائدې نه خالي نه دي.ځكه چې تجارت په اختلاف د ځايونو او سامانونو سره مختلف وي.په دې وجه مضارب ته ددې سپارلو خلاف كول جائز نه وي.

د معين وخت تيريدلو نه روسته د مضاربت حكم

(وَكَذٰلِكَ إِنْ وَقَّتَ الْمُضَارَبَةَ ومدة بِعَيْنِهَا جاز) دغه شان كه مضاربت لپاره ئې محدود وخت متعين كړو.او موده معينه نو دا جائز ده (وبَطَلَ الْعَقْدُ بِمُضِيِّهَا)نو د مودې په تيريدلو سره به عقد باطليږي.

تشريح> د ترجمې نه مطلب ښكاره دې
دلائله> ① ځكه چې دا توكيل دې.نو كوم (مودې) سره ئې چې موقت كړې دې.هم هغې پورې به وي.او توقيت مفيد هم دې.
② اوځكه چې دا د يوې زمانې قيد دې.نود نوع اود مقام د قيد پشان به وي.

مضارب لپاره د رب المال د قريبي رشته دار نه د اخستلو حكم

(وَلَيْسَ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَشْتَرِيَ اب رب المال ولا ابنه ولا مَنْ يُعْتَقُ عَلَيْه)او مضارب ته دا اختيار نشته.چه واخلي پلار د رب المال او نه ځوئې د هغه او نه هغه څوك چې آزاديږي په هغه

تشريح> كه يو غلام د رب المال ذى رحم محرم وي.يا ده قسم خوړلې وي.كه زه فلانې غلام واخلم.نو هغه آزاد دې.نو مضارب لپاره داسې غلام اخستل جائز نه دي.
دليله> ځكه چې د مضاربت عقد د نفع حاصلولو لپاره دې.او نفع حاصلولو هغه وخت كيدې شي.كله چې بار بار تصرف وي.اود ذكر شوي غلام په اخستلو كې دا خبره متصور نه ده.ځكه چې دا رب المال باندې آزاديږي.
توضيحه> يعنې په دې وجه چې د ذكرشوي اخستلو په صورت كې تصرف ناممكن دې.مضاربت كې د داسې شئ اخستل نه داخليږي.كوم چې قبضه سره ملكيت كې راشي.لكه د شرابو اخستل چې دا د مسلمان په ملكيت كې نه راځي.دغه شان د مردار په عوض دځه شئ اخستل،چه دا بيع باطل ده.ترڅو چې كوم شئ د مردار په عوض اخستې دې.هغه قبضې سره هم ملكيت كې نه راځي.په خلاف د بيع فاسد،چه دا د مضاربت لاندې داخليږي.ځكه چې كوم شئ ئې د بيع فاسد په طور اخستې دې.دا د قبضې نه روسته خرڅولې شي.نو نفع حاصلول كوم چې اصل مقصد دې.هغه به حاصله شي.

(فَإِنِ اشْتَرَاهُمْ)كه مضارب دوى واخستل (كَانَ مُشْتَرِيًا لِنَفْسِهِ)نو خپل ځان لپاره به اخستونكې وي.(دُوْنَ الْمُضَارَبَةِ)مضاربت لپاره به نه وي.

تشريح> كه غلام هم دغه شان غلام واخستلو.كوم چې رب المال باندې آزاديږي.نودا اخستل به مضاربت باندې نه وي.بلكه دې به خپل ځان لپاره اخستونكې وي.
دليله> ځكه كوم اخستل چې داسې وي.چه مشترى باندې د هغې نافذ كول ممكن وي.نو هغه مشترى باندې نافذ كيږي.لكه مثلاً وكيل بالشراء كه د مؤكل د حكم خلاف اوكړي.نو اخستل به هم په ده باندې نافذ وي.

د نفع په صورت کښې د رب المال د قريبي رشته دار اخستلو حکم

(وَإِنْ كَانَ فِي الْمَالِ رِبْحٌ که په مال کي نفع وی. فليس لَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ مَنْ يَعْتِقُ عَلَيْهِ)نو مضارب لپاره داسې سړې جائز نه دې.کوم چې ده باندې آزادېږی.

تشريح> که په مال کي نفع وی.نو مضارب له داسې غلام اخستل هم جائز نه دی.کوم چې د مضارب د ارخه آزاد شی.لکه مثلاً هغه غلام کوم چې د مضارب ذی رحم محرم وی.

دليله> ځکه چې دې کي دمضارب برخه آزادېږی.اود صاحب مال برخه به يا فاسدېږی.(د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز) يا به هغه هم آزاده وی.(د صاحبينو رحمهما الله په نيز).په دې باندې معمولی شان تشريح سره داسې پوهه شه.چه هرکله مال مضاربت کي نفع شريکه ده.نو په دې کي د مضارب هم برخه ده.او هرکله چې ده خپل پلار يا زوې وغيره ذو رحم محرم واخستلو.نو هغه به دده د ارخه آزاد وی.خو په دومره اندازه څومره چې ده کي د مضارب برخه ده.اوس د صاحبينو رحمهما الله په نيز به باقی هم ازاده وی.ځکه چې ددوی په نيز اعتاق کي تجزی نه کيږی.يعنی عتق کي ټکړې نه جوړيږی.اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز، چونکه عتق قابل تجزی دې.په دې وجه به مالك ته اختيار وی.چه غواړی آزاد دې کړی.اوکه غواړی.غلام باندې دې مزدوری کوی.اوکه غواړی.مضارب نه دې تاوان واخلی.(که هغه توانګر وی).بهرحال غلام ددې قابل پاتې نشو.چه خرڅ کړې شی.نود مالك برخه ضائع شوه.اودا د مضارب د اخستلو په وجه اوشو.نو دده اخستل به جائز نه وی.

(وَإِنْ اشْتَرَاهُمْ او که ده داسې خلقو اخستل. ضَمِنَ مَالَ الْمُضَارَبَةِ)نود مال مضاربت به ضامن وی.

تشريح> صاحب د قدوری فرمائی که مضارب دغه کسان واخستل کوم چې د رب المال په ملکيت کښې نه راځی بلکه آزادېږی نو په دې صورت کښې به مضاربت تاوان په مضارب باندې وی

دليله> ځکه چې دې د غلام خپل ځان لپاره اخستونکې شو.نود مضاربت د مال ور کولو به ضامن وی.

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي الْمَالِ رِبْحٌ اوکه په مال کي نفع نه وی. جَازَ أَنْ يَشْتَرِيَهُمْ نو ددوی اخستل جائز دی.

تشريح> مذکوره حکم هغه وخت دې.کله چې په مال د مضاربت کي نفع ښکاره نه وی.نو مذکوره غلام مضاربت لپاره اخستل صحيح دی.د نفع ښکاره کيدلو نه مراد دادی.چه د غلام قيمت راس المال نه زيات وی.

دليله> ځکه چې هرکله د غلام قيمت د راس المال برابر يا ددې نه کم وی نو په دې غلام کي به د مضارب ملکيت ښکاره نه وی.بلکه غلام به راس المال سره بوخت وی.نو که راس المال په پيل کي زر درهم وی.بيا لس زره شی.ددې نه روسته مضارب هغه غلام واخلی.کوم چې ده باندې آزادېږی.او دده قيمت زر يا ددې نه کم وی.نو هغه به په ده باندې نه آزادېږی.

(فَإِنْ زَادَتْ قِيمَتُهُمْ بَعْدَ الشِّرَاءِ بيا که ددوی قيمت د اخستلو نه روسته زيات شی. عَتَقَ نَصِيبُهُ مِنْهُمْ)نو دهغې برخه به آزاده شی دهغوی نه.

تشريح> يعنی کوم وخت چې مضارب قرابتدار غلام اخستې وو.هغه وخت دده قيمت د راس المال برابر وو.خو روسته دده قيمت زيات شو.نو د مضاربت د برخې (حصې) په اندازه غلام آزاد وی.

دليله> ځکه چې دې د خپل قرابت دار مالك شو.

(وَلَمْ يَضْمَنْ لِرَبِّ الْمَالِ شَيْئًا)او دې به د رب المال لپاره دهيڅ شئ ضامن نه وی.

تشريح﴾ خو مضارب باندې به د رب المال د برخې (حصې) ضمان نه وي.
دليله﴾ ځکه چې د ملکيت په وخت غلام د مضارب په حرکت سره نه دې آزاد شوې.بلکه د مضارب د اختيار نه بغير د قيمت زياتيدلو په وجه آزاد شوې دې.نو غلام به د رب المال د برخې (حصې) په قيمت کې سعايت کوي. (لأنه احتسبت ماليته عنده)
صورته﴾ ددې مسئلې صورت دادې.چه مثلاً د يوې ښځې ميړه په تيره شوې زمانه کې د زيد وينځې سره نکاح کړې وه.چه د هغې نه يو هلك پيدا شو.او هغه د خپلې مور پشان د زيد غلام وو.بيا دې سړي مذکوره آزادې ښځې سره نکاح اوکړله.او دغه ښځې د زيد نه د خپل ميړه خونې واخستلو. او هغه دده مالکه شوه.ددې نه روسته د ښځې انتقال اوشو.او هغې خپل ميړه او يو رور پريښولو .نو ترکه به دواړو کې نيم په نيمه مشترك وي.نود هلك نيمه برخه د رور په ملکيت کې او نيمه د ميړه په ملکيت کې راغلله.خو هلکه چونکه د ميړه خونې دې.په دې وجه هغه په ملکيت کې راتلو سره فوراً پخپل پلار باندې آزاد شو.اوس به پلار د خپلې ښځې د رور لپاره د هيڅ شئ ضامن نه وي.ځکه چې آزادول دده اختيارى فعل نه دې.بلکه ميراث کوم چې خدائى حکم دې.د هغې په وجه ملکيت ثابت شو.او په ملکيت ثابتيدلو سره به دې حکماً آزاد وي.نو پلار په دې دواړو خبرو کې بې قصوره دې.

(وَيَسْعَى الْمُعْتَقُ لِرَبِّ الْمَالِ فِي قِيمَةِ نَصِيبِهِ مِنْهُ)او غلام به رب المال لپاره دده برخې (حصې) په اندازه قيمت کې سعايه (مزدوري) کوي.

تشريح﴾ غلام به د رب المال د حصې په قيمت کښې سعى کوي.او بيا به غلام پوره آزاد شي.مثلاً مضارب په پنځه زره روپئ ئې غلام اخستې وو.او د هغې قيمت شپږ زرده روپئ شو.نو په زرو روپو کښې به پنځه سوه نفع د رب المال شي.او پنځه سوه نفع به د مضارب شي.نو اوس د مضارب چې کومه حصه ده.هغه به آزده شي.نو د غلام په قيمت کښې چې شپږ زره روپئ دى.په دې کې به د پنځه سوو حصه آزاده شي.باقى د پنځه نيم زرو روپو حصه به د رب المال وي.نو غلام به پنځه نيم زره روپئ اوګټي او رب المال ته به يې ورکړي.او بيا به هغه پوره آزاد شي.
دليله﴾ او غلام به سعى ځکه کوي.چې د رب المال ماليت د ده سره بند شو.دآزادئ په وجه نو لازماً به غلام د رب المال ماليت هغه ته پوره کوي.

د رب المال د اجازت نه بغير دمضارب په مضاربت باندې د مال ورکولو حکم

(وَإِذَادَفَعَ الْمُضَارِبُ الْمَالَ مُضَارَبَةً عَلَى غَيْرِهِ)کله چې مضارب چاته په مضاربت باندې څه مال ورکړي.(وَلَمْ يَأْذَنْ لَهُ رَبُّ الْمَالِ فِي ذَلِك)حالانکه ده ته رب المال ددې اجازت نه وو ورکړې.(لَمْ يَضْمَنْ بِالدَّفْعِ)نو صرف په ور کولو سره به ضامن نه وي.(وَلَا بِتَصَرُّفِ الْمُضَارِبِ الثَّانِي)اونه د مضارب ثانى په تصرف کولو سره،(حَتَّى يَرْبَحَ)تردې چې نفع حاصل کړى.(فَإِذَارَبِحَ)نو هرکله چې ده نفع حاصله کړله.(ضَمِنَ الْمُضَارِبُ الْأَوَّلُ الْمَالَ لِرَبِّ الْمَالِ)نو اول مضارب به د رب المال لپاره د مال ضامن وي.

تشريح﴾ مضارب د رب المال د اجازت نه بغير بل يو کس ته مضاربت باندې مال ورکړو.نو مضارب اول باندې به صرف په مال ورکولو سره ضمان نه لازميږى.بلکه هله به په ده باندې ضمان راځي چې مضارب اول په کښې عمل هم اوکړى او ګټه هم اوکړى که ګټه ئې نه وي کړې نو بيا پرې هم ضمان نه لازميږى.او

چې کته او کړی نو بیا پرې ضمان لازمیږی.امام حسن د امام ابوحنیفه نه دا روایت کړې دې.[1]

دلیله امام صاحب رحمه الله (په دلیل کې) فرمائی.چه د عمل نه وړاندې مال ورکول ایداع دہ.او د عمل نه روستہ ایضاح دہ.او مضارب لپاره په دواړه طریقه د ورکولو حق دې.نو نه به ایداع سره ضامن کیږی.او نه په ایضاح سره.نو هرکله چې مضارب ثانی ته نفع حاصل شی.هغه وخت به ضامن وی.ځکه چې اوس به مال کې د مضارب ثانی شرکت ثابت شو.

مسلک الصاحبین:- او صاحبین فرمائی چې په مذکوره صورت کښې که مضارب ثانی ته نفع حاصله شی اوکه حاصل نشی.ظاهر الروایة هم دادې. (قیل وبه یفتی).[2]

دلیلهما د مضارب ورکول په حقیقت کې ایداع دہ.مضاربت لپاره به دا هغه وخت وی.کله چې د مضارب ثانی د اړخه عمل اوموندې شی.

د نیمې نفع د مضارب په دریمه برخه باندې
بل کس د مضاربت لپاره ورکولو حکم

(واذادفع الیه مضاربة بالنصف مالك مال د نصف نفع په مضاربت باندې ورکړو. فاذن له أن یدفعها مضاربة نو بل کس ته ئې په مضاربت باندې د ورکولو اجازت ورکړو. فدفعها بالثلث جاز نو هغه بل چاته په دریمه برخه د نفع په مضاربت باندې مال ورکړو.نو دا جائز دہ. فإن كان رب المال قال
له نو که مالك مضارب اول ته دا ونیلی وی. على أن ما رزق الله فهو بیننا نصفان چې کومه نفع الله ﷻ درکوی.هغه به مونږ دواړو کې په نیمه وی. فلرب المال نصف الربح نو مالك لپاره به نیمه نفع وی. وللمضارب الثاني ثلث الربح او دونم مضارب لپاره به دریمه برخه نفع وی. وللأول السدس) او مضارب اول لپاره به شپږمه برخه وی.

تشریح مضارب د رب المال په اجازت دونم سړی ته په مضاربت بالثلث باندې مال ورکړو.حالانکه رب المال مضارب اول سره دا فیصله کړې وه.چه کومه نفع الله ج درکړی.هغه به زمونږ په مینځ کې نیم په نیمه وی.نو رب المال ته به ددې شرط په وجه د کل نفع نصف ملاویږی.او مضارب ثانی ته به یو ثلث (دریمه) ملاویږی.ځکه چې مضارب اول دده لپاره د کل نفع یو ثلث مقرر کړې وو.اوس باقی پاتې شو.یو سدس (شپږمه)،نو دا به مضارب اول ته ملاویږی.مثلاً مضارب ثانی ته شپږ درهمه نفع اوشوه.نو درې درهمه به رب المال ته ملاویږی.او دوه به مضارب ثانی ته.او یو به مضارب اول ته ملاویږی.

دلیله ځکه چې دونم مضارب ته مضاربت باندې مال ورکول صحیح شو.د مالك د طرفه،د هغه د اجازت په وجه،او مالك خپل ځان لپاره د کل نفع د نصف شرط لګولې دې.نو اول لپاره صرف نیمه پاتې شوه.نو دده تصرف به صرف هم دده برخې (حصې) اړخ ته ګرځولې شی.اوده په دې برخه کې د کل نفع د دریمې په اندازه دونم مضارب لپاره شرط کړې دې.نو دده لپاره د کل دریمه شوه.نو د شپږمې برخې (حصې) نه سوا هیڅ باقی پاتې نشو.

---

[1] د امام زفر رحمه الله په نیز صرف په مال ورکولو سره ضمان نه لازمیږی.که مضارب ثانی عمل اوکړی.او که اونکړی.دا یو روایت د امام ابویوسف رحمه الله نه هم دې.او آئمه ثلاثه رحمهم الله هم ددې قائل دی.

[2] القول الراجح هو قول الصاحبین رحمهما الله كذا في ردالمحتار(٤\٥٤٣) وملتقى الأبحر(٣\٤٥٣) وبدائع الصنائع (٦\١٤٥) وخلاصة الفتاوى (٤\١٨٩) ومجمع الأنهر(٣\٤٥٣) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢١٠)

(وَإِنْ كَانَ قَالَ عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَكَ اللَّهُ او مالك دا ونيلي وي.چه كومه نفع تاته الله تعالى دركړي فَهُوَ بَيْنَنَا نِصْفَانِ هغه به مونږ دواړو کي نيم په نيمه وي. فَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي الثُّلُثُ نو مضارب اول لپاره به د کل نفع دريمه وي. وَمَا بَقِيَ بَيْنَ رَبِّ الْمَالِ وَالْمُضَارِبِ الْأَوَّلِ نِصْفَانِ) او باقي به د مالك او مضارب اول په مينځ کي نيم په نيمه وي.

تشريح اوكه مالك مضارب اول ته په خطاب كي داسې اوونيل.چه (ما رزقك الله فهوبيننا نصفان) چې كومه نفع الله تعالى تاته درنصيب كړي.هغه زمونږ په نيز نيم په نيمه ده.يا ئې داسې اوونيل.چه (ما ربحت لي هذا من شئ ما كسبت فيه من كسب، ما رزقت من شئ ما صار لك فيه من ربح، فهوبيننا نصفان) او باقي مسئله پخپل حال وي.نو مضارب ثاني ته به يو ثلث ملاويږي.او باقي دوه ثلثه به د مضارب اول او رب المال په مينځ كي نيم په نيمه تقسيميږي.نو په دې صورت كي به درې واړو ته دوه دوه درهمه ملاويږي.

دليله ځكه چې دلته رب المال د ځان لپاره د نفع ددې مقدار نيم مقرر كړې دې.كوم چې مضارب اول ته حاصل شي.او هغه دلته كي دوه ثلثه دي.نو رب المال ته به ددې نصف يعني يو ثلث ملاويږي.په خلاف د ړومبۍ مسئلې، چې هغې كي رب المال ځان لپاره دكل نفع نصف مقرر كړې وو.او په دوئم صورت كي چې كوم څه نفع مضارب اول ته نصيب شوه.د هغې نيم شرط دې.نو په دواړو صورتونو كي چې كوم فرق دې.هغه هم دادې.

(فَإِنْ قَالَ عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَ اللَّهُ تَعَالَى اوكه رب المال دا ونيلي وي.چه كوم څه الله دركړي. فَلِي نِصْفُهُ د هغې نيم زما دې. فَدَفَعَ الْمَالَ إِلَى آخَرَ مُضَارَبَةً بِالنِّصْفِ نواول (مضارب) دوئم ته په مضاربت سره په نيمه نفع مال وركړو فَلِلثَّانِي النِّصْفُ نونيمه به د دوئم مضارب لپاره وي. وَلِرَبِّ الْمَالِ النِّصْفُ او د رب المال لپاره به نيمه نفع وي وَلَا شَيْءَ لِلْمُضَارِبِ الْأَوَّلِ) او مضارب اول لپاره به هيڅ نه وي.

تشريح اوكه رب المال مضارب اول ته اوونيل.چه كوم څه الله ﷻ دركړي.د هغې نصف زما دې.يا ئې دا اوونيل.چه كوم څه زيادت اوشي.هغه زما او ستا په مينځ كي نيم په نيمه دې.او باقي مسئله پخپل حال وي.نو نيمه نفع به د رب المال وي.او نيمه به د مضارب ثاني وي.او مضارب اول ته به هيڅ نه ملاويږي.

دليله ځكه چې ده خپله نصف نفع مضارب ثاني ته وركړله.او مالك على الاطلاق زياتيدلو كي نصف خپل ځان لپاره شرط كړې دې.نود مضارب اول، مضارب ثاني لپاره د نصف شرط كول به د اول (مضارب) پوه برخې (حصې) اړخ ته راجع كيږي.نو دوئم مضارب لپاره به د نيمې نفعې د شرط په بناء، نيمه نفع وي.او مضارب اول به مفت كي اوځي.

(فَإِنْ شَرَطَ لِلْمُضَارِبِ الثَّانِي ثُلُثَيِ الرِّبْحِ اوكه د مضارب ثاني لپاره ئې (په دريو كي) د دوه برخو نفع مقرر كړله. فَلِرَبِّ الْمَالِ نِصْفُ الرِّبْحِ نو نيمه نفع به د مالك وي. وَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي نِصْفُ الرِّبْحِ او نيمه به د مضارب ثاني دپاره وي. وَيَضْمَنُ الْمُضَارِبُ الْأَوَّلُ لِلثَّانِي مِقْدَارَ سُدُسِ الرِّبْحِ مِنْ مَالِهِ) او ړومبې مضارب به دوئم ته د نفع شپږمه برخه د خپل ما نه وركوي.

تشريح اوكه مضارب اول مضارب ثاني لپاره د نفع د دوه ثلث (په دريو كي د دوه حصو) شرط

اوکړو.نو نیمه نفع به د رب المال وی.او نیمه به د مضارب ثانی وی.اوس به مضارب اول، مضارب ثانی ته د نفع یو سدس د خپل اړخه ورکوی.ځکه چې ده د دوئم مضارب لپاره داسې شئ شرط کړې دې.چه د هغې مستحق رب المال دې.نو د رب المال په حق کې به دده شرط نه نافذ کیږی.

دلائله ① ځکه چې دې کې د رب المال حق تلفی لازمیږی.خو چونکه ده (په دریو کې) د دوه برخو نفع نوم اخستې دې.اودا تسمیه (نوم اخستل) پخپله صحیح دی.ځکه چې مسمی مقدار په داسې عقد کې معلوم شوې دې.د کوم چې دې مالك دې.او حال داچه مضارب اول د مضارب ثانی لپاره ددې خبرې ضمانت اخستې دې.چه هغه به ده ته ددې شرط موافق نفع ورسپاری.نو ددې ضمانت پوره کول به هم په ده لازم وی.

② او په دې وجه هم چې مضارب اول، مضارب ثانی ته د یوعقد په ضمن کې دهوکه ورکړې ده.کوم چې د استحقاق سبب وی.نو مضارب ثانی به دده نه د نفع شپږمه برخه نوره اخلی.

د معزولئ او د وېش بیان اود مضاربت لپاره د وکالت حکم

(وَإِذَامَاتَ رَبُّ الْمَالِ أَوِالْمُضَارِبُ کله چې مضارب یا رب المال کې د یو کس انتقال اوشی.بَطَلَتِ الْمُضَارَبَةُ)نو مضاربت باطلیږی.

تشریح اوکه رب المال یا مضارب مړشی.نو مضاربت باطلیږی.ځکه چې د مضارب دعمل نه روسته مضاربت د توکیل په حکم کې وی.لکه څنګه چې په پیل د باب کې ذکر شو .وکالت د موکل یا وکیل په مرګ سره باطلیږی.او مضاربت هم د وکالت پشان دې.نو مضاربت به هم باطلیږی.او وجه په اصل کې داده.چه مضارب په مال کې تصرف کوی.نود رب المال په اجازت سره ئې کوی.لکه څنګه چې دوکیل تصرف د موکل په اجازت سره کیږی.او هرکله چې د رب المال انتقال اوشو.نو دده اجازت هم ختم شو.نود غیر په مال کې به د هغه د اجازت نه بغیر تصرف جائز نه وی.دغه شان د مضارب په مرګ سره هم مضاربت باطلیږی.

دلیله ځکه چې مضاربت په منزله د توکیل دې.اود وکیل مرکیدل وکالت هم باطلوی.او وکالت د وکیل وارثانو طرف ته نه منتقل کیږی.نوهم دغه شان به مضاربت هم نه منتقل کیږی.

ملحوظه د شیخ اتقانی او علامه عینی رحمهما الله وغیره په نیز د مضاربت توکیل کیدل،د اصل کلی په طریقه نه دی.بلکه په یو څو مسئلو کې د مضاربت او توکیل دواړو حکم مختلف دې.

① رومبۍ مسئله داده.کومه چې شیخ الاسلام علاء الدین اسبیجابی رحمه الله په شرح کافی کې د ،،باب شراء المضارب وبیعه،، لاندې ذکر کړې ده.چه مضارب یو غلام واخستلو.او بیا د عیب په وجه ئې دا واپس کول اوغوښتل.نو خرڅونکی دده نه د قسم مطالبه اوکړله.چه دې په دې عیب باندې راضی شوې نه وو.او بله دا چې دکوم وخت نه مضارب دا اخستې دې.د هغه وخت نه تر اوسه پورې ئې دا غلام د خرڅولو لپاره نه دې پیش کړې.او مضارب د قسم خوړلو نه انکار اوکړو.نو غلام به مضاربت باندې باقی پاتې وی.ځکه چې زیات نه زیات هم داده.چه دا معامله ابتدائی وی.اوکه ده دا په ابتداء کې اخستې وو.نو صحیح کیدله.هم دغه شان دعیب په وجه د غلام واپس کولو په صورت کې به هم صحیح وی.دغه شان که ده د عیب اقرار اوکړو.بیا به هم د مضاربت په معامله غلام په ده لازم وی.په خلاف د وکیل، چې دې د شراء مالك نه دې.نو دده اقرار به صحیح نه وی.

② دویمه مسئله داده.کومه چې په شرح کافی کې د ،،باب المضارب یدفع المال مضاربةً،، لاندې ذکر ده.چه یوسړی مضارب ته د مضاربت بالنصف په طور زر درهم ورکړل.او وې ونیل. (إعمل فیه برأیك)،،

یعنی په دې کې پخپله مرضۍ تجارت کوه، ،مضارب دغه مال بل کس ته د مضاربت بالثلث په طور ورکړو .هغه کار اوکړو .او نفع ئې حاصل کړله.نو دوئم مضارب لپاره به دریمه برخه نفع وی.او مضارب اول لپاره به شپږمه برخه اود رب المال لپاره به نصف نفع وی.اوس که مضارب ثانی هم دا مال یو دریم کس ته په مضاربت باندې ورکړی. حالانکه مضارب ثانی ته دا ونیلی شوی وو.چه (اعمل فیه برأیك)نو وکیل ثانی بل څوك وکیل نشی جوړولې.ځکه چې د وکیل اول ته ولایت د توکیل په اجازت سره ملاؤ شوې دې.او اجازت خاص طور باندې هم دده په حق کې دې.نودا اجازت به د غیریه حق کې نه ثابتیږی.په خلاف د مضارب، چې ده ته دا ولایت د عقد شرکت په وجه حاصل شوې دې.ځکه چې ده ته د (اعمل فیه برأیك) ونیلو په وجه علی الاطلاق د تجارت اجازت اوشو.نود تجارت د ټولو اقسامو مالك شو. (وهذا نوع تجارة فملك التفویض إلی غیره)

③ دریمه مسئله داده.چه هرکله وکیل ته د څه اخستلو نه وړاندې ثمن ورکړې شو.او هغه د اخستلو نه روسته دده سره هلاك شو.نو وکیل به د خپل مؤکل نه دوباره ثمن اخلی.اوس که دا هم هلاك شی.نو بیا به د مؤکل نه نه اخلی.په خلاف د مضارب چې دې په رب المال باندې بار بار رجوع کوی.تردې چې ثمن بائع ته اورسیږی.وجه داده.چه وکیل خپل ځان لپاره تصرف کوی.په دې وجه ذمه داری هم په ده عائد (لازم) کیږی.خو ده چونکه ثمن د مؤکل په حکم سره ادا کړی دی.په دې وجه دې رجوع کولې شی.او هرکله ده یو ځل رجوع اوکړله.نو کوم څه چې په ده باندې مؤکل لپاره واجب وو.هغه ئې واخستل.اود مؤکل ذمه بری شوه.نو ددې نه روسته رجوع نشی کولې.په خلاف د مضارب، چې دې مال خپل ځان لپاره نه اخلی. بلکه مضاربت لپاره ئې اخلی.

④ څلورمه مسئله داده.چه مضارب په مال مضاربت سره څه سامان واخستلو.او رب المال دې د مضاربت نه معزول کړو.نو دده معزول کول به ګټور نه وی.اګرچه مضارب ته ددې علم اوشی.په خلاف د وکیل،چه که ده ته د معزولۍ علم اوشی.نو دې معزول کیږی.وجه داده.چه په ذکرشوی حالت کې حق د مضاربت دې اسبابو سره تړلې شوې دې.چه نفع حاصل شی.چه ددې حقدار مضارب هم دې. اود وکیل هیڅ حق ددې سره متعلق نه دې.

⑤ پنځمه مسئله داده.که رب المال مرتد شی.او دارالحرب ته لاړ شی.ددې نه روسته مسلمان شو.او واپس راغی.نو دې پخپل حال مضارب پاتې وی.په خلاف د وکالت، چې هغه د مرتدکیدلو نه نه پاتې کیږی.لکه چې عنقریب (نیزدې) راروان دی.

د رب المال د مرتد کیدلو حکم

(وَإِذَا ارْتَدَّ رَبُّ الْمَالِ عَنِ الْإِسْلَامِ)اوکه رب المال د اسلام نه واوړیدلو.العیاذ بالله (وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ)او په دارالحرب کې ملاؤ شو. بَطَلَتِ الْمُضَارَبَةُ)بیا هم مضاربت باطل شو.

تشریح> که رب المال، ،معاذالله، ، مرتد شی.او دارالحرب ته لاړشی.(او قاضی د هغه د دارالحرب کې د ملاویدلو حکم اوکړی).بیا به هم مضاربت باطل وی.

دلیله> ځکه چې ددې په وجه دده املاك زائل کیږی.او وارثانو طرف ته منتقل کیږی.او دده هرقسمه وینځې او مدبر غلام آزادیږی.نودا دده د مرګ په مرتبه کې شو.

د مضارب د معزول کیدلو صورتونه

(وَإِنْ عَزَلَ رَبُّ الْمَالِ الْمُضَارِبَ که رب المال مضارب معزول کړو. وَلَمْ يَعْلَمْ بِعَزْلِهِ او هغه د خپل خان معزول کولو خبر اونشو. حَتَّى اشْتَرَى وَبَاعَ تردې چې هغه اخستل او خرخول اوکړل. فَتَصَرُّفُهُ جَائِزٌ) نود هغه تصرف جائز دي.

تشریح> د مضارب د معزول کیدلو دوه صورتونه دي. ① رب المال مضارب معزول کړو. خومضارب ته د خپل خان معزول کیدلو خبر نه وي. هغه اخستل او خرخول اوکړي. ② رب المال مضارب معزول کړو. په داسې حال کې چې راس المال نقدي (دراهم یا دنانیر) وي.

مسئله> که رب المال مضارب معزول کړو. او مضارب ته د خپل خان معزول کیدلو خبر اونشو. تردې چې هغه اخستل او خرخول اوکړل. نو د هغه تصرف جائز دي.

دلیله> خکه چې هغه د رب المال د اړخه وکیل دي. او وکیل قصداً معزول کول دده په علم باندې موقوف وي. نو مضارب به هم د علم کیدلو نه بغیر نه معزول کیږي. خکه چې دا عزل قصدی دي. چه دا په علم باندې موقوف وي. چه ددې دلیل شرعي اوامر او نواهي دي. د عزل قصدي قید ددې لپاره دي. که یو سړي د غلام اخستلو لپاره وکیل کړو. بیا موکل هغه غلام پخپله خرخ کړو. نو وکیل معزول کیږي. که هغه ته علم وي. اوکه نه وي.

(وَإِنْ عَلِمَ بِعَزْلِهِ اوکه هغه ته د خپل خان معزول کیدل معلوم وي. وَالْمَالُ عُرُوضٌ فِي يَدِهِ په داسې حال کې چې مال اسباب دي. د ده په لاس کښې فَلَهُ أَنْ يَبِيعَهَا نو هغه خرخولې شي. وَلَا يَمْنَعُهُ الْعَزْلُ مِنْ ذَلِكَ) معزول کیدل به ددې نه مانع نه وي.

تشریح> کله چې رب المال مضارب قصداً معزول کړو. او مضارب ته خبر اوشو. نو اوس د دوه حالو نه خالي نه ده. ① یا به خو دده سره مال مضاربت اسباب وي. ② یا به نې خرخ کړې وي. او واړه به نقد شوې وي. نوکه اسباب وي. نو مضارب ته اختیار دي. چه اسباب خرخ کړي. دده معزول کیدل به د اکثرو اهل علمو په نیز د بیع نه مانع نه وي.

دلیله> خکه چې نفع کې دده حق ثابت شوې دي. چه دا به په ویش سره ښکاره کیږي. او ویش په جدا کولو باندې مبنی دي. یعنی په دې چې کل مال به هغه وخت نقد وي. کله چې اسباب خرخ کړې شي. نو ددې دخرخولو اود مال نقد کولو اختیار دي. (نو په دې مسئله کې د مضاربت حکم د وکیل خلاف دي). بیا کله چې د رب المال د مضارب معزول کول، دده د خرخولو نه مانع نشو. نو مضارب نقد یا قرض چې څنګه غواړي. خرخولې شي. تردې که رب المال د قرض خرخولو نه منع کړو. نو دده منع کول به هیڅ ګټور نه وي.

(ثُمَّ لَا يَجُوزُ بیا ددې په قیمت سره څه شی اخستل جائز نه دي. أَنْ يَشْتَرِيَ بِثَمَنِهَا شَيْئًا آخَرَ) چې د دې په پیسو باندې بل څیز واخلي.

تشریح> هرکله چې اسباب خرخ کړي. او مال (قیمت) نقد شو. نو اوس د اسبابو په قیمت بل څه شی اخستل جائز نه دي.

دلیله> خکه چې د اسبابو خرخولو اړتیا د راس المال د معرفت لپاره وو. په دې وجه معزول کیدلو اثر اونکړو. اود نقد کیدلو نه روسته دا اړتیا ختم شو. نواوس به معزول کیدل خپل اثر کوي. او روسته به اخستل جائز نه وي.

د راس المال د نقدیت په موجودګۍ کښې د معزول کولو په صورت کښې د تصرف حکم

(فَإِنْ عَزَلَهُ او که په داسې حال کې یې معزول کړو. وَرَأْسُ الْمَالِ دَرَاهِمُ أَوْ دَنَانِيرُ چې راس المال دراهم یا دنانیر(نقد) دی. وَقَدْ نَضَّتْ لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَتَصَرَّفَ فِيهَا)نو اوس په دې کې تصرف کول جائز نه دی.

تشریح﴾ او که رب المال مضارب په داسې حال کې معزول کړو. چه سامان خرڅ شوې وو.او واړه نقد شوې وو.نو په دې کې به مضارب ته د تصرف اختیار نه وی.

دلیله﴾ ځکه چې اوس د معزول په موثر کیدلو کې د مضارب د حق باطل کیدل نه دی.نو د تصرف هیڅ ضرورت نشته.

د رب المال او مضارب جداکیدلو بیان

(وَإِذَا افْتَرَقَا که دواړه جدا شو. وَفِي الْمَالِ دُيُونٌ په داسې حال کې چې مال کې قرض وی. وَقَدْ رَبِحَ الْمُضَارِبُ فِيهِ او مضارب په دې کې نفع حاصله کړله. أَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ عَلَى اقْتِضَاءِ الدُّيُونِ)نو قاضی به مضارب ددې قرضونو په طلب کولو باندې مجبوره کوی.

تشریح﴾ که رب المال او مضارب دواړه د عقد فسخ کولو نه روسته جدا شی.او مال مضاربت دواړو باندې قرض وی.او مضارب ته په تجارت کې نفع حاصل شوې وی.نو مضارب به د قرضدارانو نه په قرض وصولولو باندې مجبوره کولې شی.

دلیله﴾ ځکه چې مضارب د اجیر پشان دې.او نفع د اجرت پشان ده.نو دې به په عمل پوره کولو باندې مجبوره کولې شی.

(وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ رِبْحٌ لَمْ يَلْزَمْهُ الِاقْتِضَاءُ)او که مضارب لپاره نفع نه وی.نو ده باندې تقاضا کول لازم نه دی.

تشریح﴾ او که دده ته نفع حاصل نشوه.نودې به نشی مجبوره کولې.

دلیله﴾ ځکه چې دې صورت کې مضارب متبرع او محسن دې.او متبرع باندې جبر نشی کیدلې.بلکه دده ته به دا ونیلی شی.چه ته د قرض وصولولو لپاره رب المال وکیل جوړ کړه.چه د هغه حق ضائع نشی.ځکه چې کوم سړې د کومې معاملې عقد کوی.د هغه معاملې حقوق هم دې عاقد طرف ته راجع کیږی.نو دده وکیل جوړول یا وکالت قبلول ضروری دی.چه د مالك حق ضائع نشی.

(وَيُقَالُ لَهُ او مضارب ته به ونیلی شی. وَكِّلْ رَبَّ الْمَالِ فِي الِاقْتِضَاءِ) چې تقاضی لپاره رب المال وکیل کړی.

تشریح﴾ مضارب ته به اوونلیی شی چه ته د قرض د مطالبې دپاره رب المال وکیل کړه.هغه به د قرضدارو نه د قرض مطالبه کوی.

دلیله﴾ ځکه چې د عقد حقوق عاقد ته راجع کیږی.نودا ضروری ده چې رب المال به وکیل جوړ کړی.او رب المال به وکالت قبول کړی.د دې دپاره چې د رب المال حق ضائع نشی.

د مضاربت په مال کښې د مال هلاکیدلو حکم

(وَمَا هَلَكَ مِنْ مَالِ الْمُضَارَبَةِ کوم څه چې د مضاربت د مال نه هلاك شی. فَهُوَ مِنَ الرِّبْحِ نو هغه به د نفع

نه هلاك وي. دُونَ رَأسِ الْمَالِ) د اصل رقم نه به (هلاك) نه وي.

تشريح﴾ كه د مال مضاربت څه برخه ضائع شي. نو دا به د نفع نه جدا كولې شي. په دې سلسله كې اصل دادې چه رب المال ته د راس المال رسيدلو نه وړاندې نفع نه ښكاره كيږي. صاحب د عنايه او علامه زيلعي رحمهما الله به دې باره كې دا حديث نقل كړې دې. (قال النبي ﷺ مثل المؤمن كمثل التاجر لا يسلم ربحه حتى يسلم له رأس ماله فكذا المؤمن لا يسلم له نوافله حتى تسلم له عزائمه (أو قال فرائضه)). ، نبي كريم ﷺ ارشاد فرمائيلې دې چه د مؤمن مثال داسې دې لكه سوداګر چې دده نفع صحيح سلامت نه وي. تركومه چې دده اصل نفع صحيح سلامت نه وي. نو هم دغه شان مؤمن دې چه دده نوافل صحيح سلامت نه وي. تركومه پورې چې دده فرائض صحيح سلامت نه وي ، ،

دليله﴾ هلاكت د نفع نه د حسابولو دليل دادې چه راس المال اصل دې. او نفع تابع ده. ځكه چې د راس المال وجود د نفع نه بغير ممكن اومتصور دې. خو ددې عكس ممكن نه دې. او د اصل د حصول نه وړاندې د تابع هيڅ اعتبار نه كيږي. نو هركله چې د اصل نه څه ضائع شو. نو ددې تكميل به په تابع سره كولې شي. او هلاكت به تابع ارخ ته ګرځولې شي. (لإستحالة بقائه بدون الأصل) لكه چې په نصاب د زكاة كې د شيخينو رحمهما الله په نيز هلاكت د عفو مقدار ارخ ته راجع كولې شي.

(فَإِنْ زَادَ الْهَالِكُ عَلَى الرِّبْحِ كه هلاك شوې مال د نفع نه زيات شي. فَلَا ضَمَانَ عَلَى الْمُضَارِبِ فِيهِ) نو په مضارب باندې به په دې كښې تاوان نه وي. لِأَنَّهُ أَمِينٌ ځكه چې هغه خو امانتدار وو.

تشريح﴾ اوكه دومره مال هلاك شي. چه د نفع نه هم زيات وي. نو په مضارب به ددې هيڅ تاوان نه وي.

دليله﴾ ځكه چې هغه امين دې. نو ضامن نشي كيدلې. ځكه چې په شيئ واحد كې ددې دواړو په مينځ كې منافات دې.

(وَإِنْ كَانَا يَقْتَسِمَانِ الرِّبْحَ او كه دوې دواړه نفع تقسيموي. وَالْمُضَارَبَةُ عَلَى حَالِهَا حالاتكه مضاربت پخپل حال باقي پاتې شي. ثُمَّ هَلَكَ الْمَالُ بَعْضُهُ أَوْ كُلُّهُ بيا بعض يا واړه مال هلاك شو. تَرَادَّا الرِّبْحَ نو دواړه به نفع واپس كوي. حَتَّى يَسْتَوْفِيَ رَبُّ الْمَالِ رَأْسَ الْمَالِ تردې چې مالك پوره رقم وصول كړي.

تشريح﴾ كه رب المال او مضارب عقد مضاربت باقي ساتي. او نفع تقسيموي. بيا بعض مال يا پوره مال ضائع شو. نو نفع به واپس كولې شي. او راس المال به پوره كولې شي.

دليله﴾ ځكه چې د راس المال وصولولو نه وړاندې نفع تقسيمول نه صحيح كيږي. ددې مطلب دادې چه د قسمت او ويش نه وړاندې د ملك موقوف فائده كيږي. يعني كوم څه چې راس المال لپاره اوښكلې شوي دي. كه هغه د فسخ په وخت باقي پاتې شي. نو په دې كې چې هر يو كس كوم څه اخستي دي. هغه به د هغه ملك شي. ګني قسمت به باطل وي.

نو هركله چې هغه مال ضائع شو. كوم چې مضارب سره د امانت په طور وو. نو دا ښكاره شوه. چه كوم څه رب المال او مضارب خپل مينځ كې ويش سره وصول كړي وو. هغه د راس المال او اصل رقم ځنې نه دي. د نفع نه نه دې. ځكه چې د اصل نه بغير د تابع باقي پاتې كيدل غير متصور دي. نو مضارب چې كوم څه د نفع په خيال باندې وصول كړي دي. هغه به ددې ضامن وي. ځكه چې ده دا د راس المال دحصې نه خپل ذات لپاره واخستل. او كوم څه چې رب المال وصول كړي دي. هغه به دهغه په راس المال كې حسابولې شي.

دي مسئلې مثال دادې.چه د يوسړي انتقال اوشو.چه دده په ذمه څه قرض دې.او دده څه ترکه هم شته.وارثانو د ترکې نه د قرض په اندازه مال جدا کړو.او باقي ئې دخپلو برخو مطابق ويش کړو.ددې نه روستـه هغـه مال کـوم ئـې چـې د قرضونو لپاره جدا کړې وو.هلاك شو.نود وارثانو ويش به باطل وی.اود قرض ادا کولو لپاره به ترکه واپس کول ضروري وي.او که وارثانو کي دده څوك قرضخواه هم وي.نو د هغه د قرض برخه به حسابولي شي. (لأن الورثة لايسلم لهم شئ إلا بعد قضاء الدين)(تبيين)

فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ بيا که څه بچ پاتی شو.كَـانَ بَيْنَهُمَـانو هغه به په دوی کي مشترك وی.

تشريح> که څه ګټه باقي پاتې شوه.نو هغه به د رب المال او مضارب په مينځ کښې مشترکه وی.

دليله> ځکه چې زياتی ګټه ده.اوپه عقد مضاربت کښې ګټه نيمه د رب المال وی اونيمه د مضارب وی.که په نيمه باندې يې خبره کړې وی.

وَإِنْ نَقَصَ مِنْ رَأْسِ الْمَالِاو که کمې اوشوپه راس المال کښې.لَمْ يَضْمِنْ الْمُضَارِبُ)نو مضارب باندې به تاوان نه وی.

تشريح> اوکه په عقد کښې تاوان اوشو.نو په مضارب باندې څه تاوان نشته.

دليله>په مضارب باندې ځکه تاوان نشته.چې هغه امين دې.اوپه امين باندې تاوان نه وی.که مال هلاك شي.

(وَإِنْ كَـانَا اقْتَسَمَا الرِّبْحَاوکه دواړو نفع ويش کړله.وَفَسَخَا الْمُضَارَبَةَاو مضاربت ئې مات کړو.ثُمَّ عَقَدَاهَـاددې نه روسته ئې بيا عقد مضاربت اوکړو.فَهَلَكَ الْمَالُاوبعضهاو مال هلاك شويا د هغې څه حصه .لَمْ يَتَرَادَّا الرِّبْحَ الْأَوَّلَ)نو رومبئ نفع به نشی واپس کولې.

تشريح> اوکه د نفع تقسيمولو نه روسته ئې عقد مضاربت فسخ کړو.ددې نه روسته ئې د سره بيا مضاربت اوکړو.او مال هلاك شو.نو اوس به مخکنئ نفع نشي واپس کولې.

دليله> ځکه چې رومبي عقد مضاربت پوره شوې دې.او دوئم جديد عقد دې.نو په دوئم مضاربت کي د مال ضائع کيدل ددې مقتضی نه دی.چه د رومبی مضاربت ويش مات شي.

مضارب لپاره په نقد او قرض سره د اخستلو او خرخولو حکم

(وَيَجُوزُ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَبِيعَ بِالنَّقْدِ وَالنَّسِيئَةِ) او جائز دی مضارب لپاره دا خرڅ کړی.او واخلی.په نقد او قرضو.أَنَّ كُلَّ ذَٰلِكَ مِنْ صَنِيعِ التُّجَّارِځکه چې دا هرڅه د تاجرانو(او سوداګرو) د طريقې (او د افعالو) څني دی.فَيَنْتَظِمُهُ إِطْلَاقُ الْعَقْدِنو عقد اطلاق به دې ته ګډ وی.

تشريح> کله چې عقد مضاربت اوشي نو د مضارب دپاره جائز دی که بيع شراء په نقدو کوی اوپه قرض باندې

دليله> ځکه چې په قرض او په نقدو باندې خرخول اخستل دواړه تاجران کوی.نو هرکله چې عقد مضاربت مطلقاً شوې وی.اودا قيد په کښې نه وی ذکرشوې چه په نقدو به کاروبار کوی په قرضو به نه کوی.نو مضارب د اطلاق د وجې په دواړه طريقو کاروبار کولې شي.

صورة استثنائية> وړاندې خو ذکر اوشو.چې مضارب له په قرض خرخول جائز دی.خو که ده په قرض کي داسې ميعاد قبول کړو.په کوم چې سوداګر خلق نه خرخوی.مثلاً د لس کاله په ميعاد باندې ئې خرڅ

کړو.نودا به جائز نه وی.ځکه چې مضارب ته د داسې امورو اختیار دې.کوم چې د سوداګرو خلقو په نیز عام طور باندې مشهور وی.او په اوګد میعاد باندې خرخول د تاجرانو په نیز مشهور نه دی.نود مالك اجازت به دې ته شامل نه وی.

د مال مضاربت د غلام یا وینځې د نکاح حکم

(وَلَا يُزَوِّجُ عَبْدًا وَلَا أَمَةً مِنْ مَالِ الْمُضَارَبَةِ)او نکاح به نه کوی.د مال مضاربت نه دغلام یا وینځې،

تشریح> مضارب ته ددې اختیار نشته.چه د مال مضاربت یو غلام ته د نکاح اجازت ورکړی.یا وینځه د چا په نکاح کې ورکړی.

دلیله> دلیل دادې.چه دا واړه منو.خودا تجارت نه دې.او عقد مضاربت د تجارت د توکیل نه علاوه په بله طریقه ګټې کولو ته شامل نه دې.نود وینځې نکاح کول داسې شو.لکه د مضاربت غلام مکاتب کول.یا دا د مال په عوض آزادول، چې په دې سره هم مال حاصلیږی.خو چونکه دا تجارت نه دې.په دې وجه مضاربت کې داخل نه دې.نو دغه شان به د وینځې په نکاح ورکول به هم نه داخلیږی.

كِتَابُ الْوَكَالَةِ

ترجمه> (دا) کتاب د وکالت (په بیان کې) دې.

تشریح> **المناسبة بین الشهادة والوکالة >** وکالت هم د مضاربت د احکامونه دې. د دې وجې یې د مضاربت نه پس د وکالت کتاب راوړل.

معنی الوکالة> وکالت د واؤ په کسره او فتحه دواړو سره وئیلې کیږی.

① معنی نې ده وکالت د توکیل اسم هم دې.د توکیل معنی ده.خپل عجز او په بل باندې اعتماد ښکاره کول. ② دغه شان د سپارلو په معنی هم راغلې دې ③اودا هم وئیلی شوی دی.چه د وکالت معنی ،، ساتنه کول،، دی.

تعریف الوکیل> وکیل د فعیل په وزن باندې د مفعول په معنی کې مستعمل دې.وکیل هغه کس ته وائی.چه هغه کار پوره کړی.کوم کار چې هغه ته سپارلې شوې دې. د فقهاؤ په اصطلاح کې وکالت دا دې.چه یوسړې په یو مخصوص او معلوم تصرف کې دونم سړې خپل قائم مقام مقرر کړی.

سببه> د وکالت سبب هم هغه دې.کوم چې د بیع د مشروعیت سبب دې.یعنی (تعلق البقاء المقدور بتعاطیها) د ژوند بقاء خپل مینځ کې لین دین سره متعلق ده.او چونکه خپل مینځ کې لین دین لپاره تصرف اکثر نورو ته سپارلې شی.په دې وجه وکالت مشروع کړې شو.

رکنه> اود وکالت رکن لفظ ،، وکلت،،(ما وکیل کړو) او ددې مترادف الفاظ دی.د وکالت شرط دادې.چې موکل د کوم کار لپاره وکیل جوړکړې دې. موکل پخپله هم د هغې مختار دې.

حکمه> او په مجازکې د وکالت حکم دادې.چه وکیل ته د هغه کار تصرف حاصلیږی.کوم کار چې موکل هغه ته سپارلې دې.

صفته> د وکالت صفت دادې.چه وکالت یو جائز عقد دې.موکل او وکیل دواړوکې هر یو ته د بل د رضامندئ نه بغیر د معزول کولو حق دې.یعنی موکل وکیل د هغه د رضامندئ نه بغیر معزول کولې شی.

دلالته> د عقد وکالت جواز د قرآن، حدیث، اجماع، او قیاس څلور واړه دلیلونه سره ثابت دې.

ثبوته من الكتاب الله تعالى د اصحاب كهف په واقعه كي فرمائي. ﴿فَابْعَثُوا أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ فَلْيَنظُرْ أَيُّهَا أَزْكَىٰ طَعَامًا فَلْيَأْتِكُم بِرِزْقٍ مِّنْهُ﴾ اصحاب كهف د خوب نه د پاسيدو په وخت اوونيل، اوس اوليگئ خپلو كي يوكس په دې روپئ ور كولو سره په دې ښاركې بيا دې اوگورئ چې كوم خوراك پاك (حلال) دې.نو راودې ورئ تاسو لره د هغې نه خوراك،،دې حضراتو يوكس ته روپئ وركړلې.د حلال خوراك اخستلو، او راوړلو ذمه دارى ئې ورته اوسپارله.او هم دا وكالت دې.قرآن پاك دا د څه نكير نه بغير بيان كړې دې.او قاعده ده.چه قرآن پاك د تير شوى امت سره متعلق حكم د نكير نه بغير بيان كړي.نو هغه حكم زمونږ لپاره هم مشروع وى.نو ثابته شوه.چه وكالت زمونږ لپاره هم مشروع دې.

ثبوته من السنة او د حديث نه د وكالت جواز په دې طريقه ثابت دې.چه رسول الله ﷺ حكيم بن حزام او عروه بارقى رضي الله عنهما د قربانئ حيوان (څاروى) اخستلو لپاره وكيل كړل.(ترمذى) او عمرو بن اميه ئې د ام حبيبه بنت ابى سفيان رضي الله عنها د قبول نكاح لپاره وكيل مقرر كړو.او حضرت رافع رضي الله عنه ئې د حضرت ميمونه رضي الله عنها د قبول نكاح لپاره وكيل مقرر كړلو.

ثبوته من الإجماع د اجماع نه په دې طريقه ثابت دې.چه د رسول الله ﷺ د عهد نه واخله تر ننه پورې د وكالت په جواز باندې د امت اجماع او تعامل جارى دې.

ثبوته من القياس قياس او عقلى دليل سره په دې طريقه ثابت دې.چه ډير خله انسان د اوږد سفر كولو په وجه د خپل مال د ساتنه كولو نه عاجز وى.اوكله د اخستلو خرڅولو د صلاحيت نه كيدلو په وجه د اخستلو او خرڅولو نه عاجز وى.كله د ډيرو مشاغلو په وجه د اخستلو خرڅولو نه عاجز وى.اوكله د كمزورئ او بوډاتوب په وجه عاجز وى.نو دا ټولو عوارض د وكالت د جواز تقاضا كوى.نو ددې وجوه او عوارضو په وجه وكالت مشروع كړې شو.

په كوم عقد كښې وكالت صحيح دې ؟

(كُلُّ عَقْدٍ جَازَ أَنْ يَعْقِدَهُ الْإِنْسَانُ بِنَفْسِهِ) هر هغه عقد كوم چې انسان پخپله منعقد كوى. (جَازَ أَنْ يُوَكِّلَ بِهِ غَيْرَهُ) د هغې لپاره بل كس وكيل جائز دى.

حل اللغة ① **يعقد**: اوترى ،اوكړى ② **يوكل**: وكيل جوړ كړى

تشريح **القاعدة** د وكيل مقررولو په سلسله كې ابو الحسن قدورى رحمه الله دا قاعده بيان كړله.چه انسان كوم عقد پخپله منعقد كولې شي.د هغه عقد لپاره بل كس وكيل مقررول هم جائز دى.

وجه عدم ذكر عكس الصورة امام قدورى رحمه الله دا اونه وئيل.چه كوم عقد پخپله نشى منعقد كولې.د هغې لپاره وكيل مقررول جائز نه دى.ځكه بعض عقود داسې دى.چه انسان ته پخپله د هغې د منعقد كولو اجازت نشته.خو د هغې لپاره وكيل مقررول جائز دى.لكه د يو مسلمان څوك ذمى د شراب اخستلو او خرڅولو وكيل جوړول، نو د امام صاحب رحمه الله په نيز جائز دى.خو پخپله د مسلمان لپاره د شرابو اخستل خرڅول جائز نه دى.

دليله ① ددې دليل دا دې. چې انسان كله د حالاتو او عوارضو په وجه د كار كولو نه عاجزه وى.مثلاً د اخستلو خرڅولو تجربه نه وى. يا د خپلې مرتبې او منصب په وجه اخستل خرڅول نشى كولې.يا د بوډاتوب په وجه بازار ته د تللو توان ئې نه وى.بهرحال پ داسې حالاتوكې چونكه د بل د وكيل جوړولو ارتيا وى.په دې وجه د ارتيا لرې كولو لپاره د دوئم سرى د وكيل جوړولو اجازت وركړې شوې دې.

په حقوقو كښې د وكيل بالخصومة حكم

(وَيَجُوْزُ التَّوْكِيلُ بِالْخُصُوْمَةِ فِي سَائِرِ الْحُقُوْقِ وَاثْبَاتِهَا) او په ټولو حقوقو كښې وكالت بالخصومت جائز دې.او د دې د ثابتولو دپاره

حل اللغة﴿ ① **الخصومة**:جګړه ② **سائر**:ټول

تشريح﴿ **جواز الوكالة في سائر الخصومات**﴾ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه په ټولو حقوقوكښې د مقدمه دائر كولو او د دعوې په سلسله كښې وكيل جوړول جائز دى.

دلائله﴿ ① دليل حاجت دې.ځكه چې هرسړې په صحيح طريقه د مقدمو چلولو او د عدالت د كښېنه پورته (او قسما قسم) طريقو نه خبر نه وى.نو ددې ارتيا لرې كولو لپاره هم د مقدماتو په سلسله كښې وكيل جوړول جائز دى.

② اود بيهقي د تخريج مطابق دا خبره ثابته ده.چه حضرت علي رضي الله عنه په خصومات او مقدماتوكښې د پيروى كولو لپاره خپل رور عقيل بن ابى طالب وكيل مقرر كړو.ځكه چې عقيل ډير ذكى (ذهين) او حاضر جوابه وو.د حضرت عقيل د بوډاتوب نه روسته ئې عبدالله بن جعفر وكيل مقرر كړو.ځكه چې دا هم خواه ذكى سړې وو.نو د حضرت علي رضي الله عنه په خصوماتو كښې عقيل.او د عقيل نه روسته عبدالله بن جعفر رضي الله عنه وكيل مقررول(۱) ددې خبرې دليل دې.چه د خصوماتو وكيل جوړول جائز دى.

وَيَجُوْزُ بِالْاِسْتِيْفَاءِ او جائز دې وكيل جوړول لپاره د حاصلولو اِلَّا فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ مكرنه دې جائز په حدودو او قصاص كښې فَاِنَّ الْوَكَالَةَ لَا تَصِحُّ بِاسْتِيْفَائِهَا مَعَ غَيْبَةِ الْمُوَكِّلِ عَنِ الْمَجْلِسِ.چه د حدودو او قصاص حاصلولو لپاره د مجلس نه د موكل په غائب والى كښې وكالت جائز نه دې.

حل اللغة﴿ ① **الاستيفاء**:د بل نه خپل حق حاصلول

تشريح﴾ داحنافو رحمهم الله په نيز د حقوقو ادا كولو او وصولولو لپاره وكيل كول هم جائز دى. سوا د حدود اوقصاص نه.يعنى د حدودو او قصاص وصولولو لپاره وكيل كول جائز نه دې.كه د قاضي په عدالت كښې موكل موجود نه وى.نو وكيل ته دحد يا قصاص وصولولو اختيار نه وى.(۱)

دليله﴾ ① دليل دادې.چه حدود او قصاص د عقوباتو ځنې دى.اوعقوبات د شبهاتو په وجه ساقطيږى.او په عدالت كښې د موكل نه موجودكيدلو په صورت كښې قاتل د قصاص نه د برى كولو او معاف كولو شبه موجود ده.يعنى دا امكان موجود دې.كه موكل په عدالت كښې موجود وې.نو هغه به پخپله قاتل د قصاص نه برى كړې وو.او معاف كړې وو.بلكه دا امكان بنكاره او غالب دې.ځكه چې د آيت وَاَنْ تَعْفُوْا اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى اود فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ په وجه قاتل او مجرم معاف كول شرعاً مستحب دى.نو هركله چې د موكل د ارخه د قاتل د معاف كولو شبه موجود ده.او د شبه په وجه عقوبات يعنى حدود او قصاص ساقطيږى.نود موكل په غيرموجودګئ كښې ددې شبه په وجه د هغه وكيل ته د حدودو

---

(۱)من اثر عبدالله بن جعفر اخرجه البيهقي في السنن الكبرى(۱۳٤/٦) رقم (۱۱٤۳۷)۔

۱ **مذهب الائمة**:- اوامام شافعي ، امام مالك، او امام احمد رحمهم الله فرمائي.چه د موكل په غيرموجودګئ كښې وكيل لپاره حدود او قصاص وصولول جائز دى.اوكه موكل په عدالت كښې موجود وى.نو د ائمه اربعه اتفاق دې.چه وكيل حد او قصاص وصولولې شى.خود موكل په غيرموجودګئ كښې د احنافو په نيز د حدودو او قصاص وكيل لپاره وصولول جائز نه دى.او د ائمه ثلاثه رحمهم الله په نيز جائز دى.(عينى)

او قصاص وصولولو حق حاصل نه وي.

دخصومت په توکیل کښې د مخالف فریق د رضا مندۍ حکم

وَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى: لَايَجُوزُالتَّوْكِيلُ بِالْخُصُومَةِ إِلَّا بِرِضَاءِ الْخَصْمِ او امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي.چه د خصم د رضامندۍ نه بغیر د خصومت وکیل جوړول جائز نه دی. إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْمُوَكِّلُ مَرِيضًا خو دا چي مؤکل بیمار وی. أَوْغَائِبًا مَسِيرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا یا د دري ورځو یا د زیات مودې مسافه باندې غائب وی.

حل اللغة ① **الخصم**: جګړه کونکې، فریق مخالف ② **مسيرة**: فاصله

تشريح امام قدوری رحمه الله فرمائي.چه د خصم د رضامندۍ نه بغیر د خصومت وکیل جوړولو په جواز کي د فقهاؤ اختلاف دی.امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي.چه د خصم د رضامندۍ نه بغیر د خصومت وکیل جوړول ناجائز دی.که مؤکل مدعی وی.اوکه مدعی علیه وی.سړې وی.اوکه ښځه وی.پرده نشین وی اوکه غیرپرده نشین وی.باکره وی.اوکه ثیبه وی.یعني که مدعی د مدعی علیه د رضامندۍ نه بغیر خصومت (جواب ورکولو) لپاره وکیل جوړ کړو.نو بیا هم ناجائز ده.البته که مؤکل بیمار وی.یا د دري ورځو یا د دري ورځو نه زیات مودې مسافه باندې غائب وی.نو دهغه لپاره د خصم د رضامندۍ نه بغیر وکیل جوړول جائز دی.د بیمارۍ نه مراد نفس ناروغی (ناروغی «بیماری») او مطلقاً ناروغی (ناروغی «بیماری ») ده.بعض حضرات فرمائي.داسې بیمار ده.چه هغه بیمارۍ سره په خاروی باندې سوریدل، اود قاضی مجلس ته حاضریدل،او د تکلیف یا نقل وحرکت سره د مرض زیاتیدلو خطره وی.

دلائله ① دلیل دادې. چې د صاحبینو رحمهما الله دا وئیل.چه د خصومت لپاره وکیل کول دمؤکل خالص پخپل حق کي تصرف کول دی.مونږه دا خبره نه منو.ځکه چې مثلاً مدعی علیه باندې مدعی لپاره جواب ورکول د مدعی حق دې.او مدعی علیه باندې واجب دې.په دې وجه مدعی ، مدعی علیه د قاضی په مجلس کي حاضروی.نوهرکله چې جواب ورکول د مدعی حق دې.نو جواب ورکول خالص د مدعی علیه حق پاتې نشو.اوس که مدعی علیه جواب ور کولو لپاره څوك وکیل جوړوی.نو دا وکیل کول د مدعی علیه خالص پخپل حق کي تصرف کول نه دی.بلکه د مدعی په حق کي هم تصرف دې.نود وکیل کولو لپاره به دمدعی رضامندی ضروری وی.د مدعی د رضامندۍ نه بغیر د مدعی علیه د اړخه وکیل مقررول جائز نه دی.دا دلیل به صرف په دې صورت کي منطبق کیږی.کله چې د مدعی علیه داړخه وکیل مقررکړې شوې وی.لکه څنګه چې خادم په مثلاً وئیلو سره ددې وضاحت کړې دې.

② دوئم دلیل دادې.چه مونږه دا خبره منو.چه وکیل کول خالص د مؤکل په حق کي تصرف دې.خود انسان خالص خپل حق کي تصرف کول هغه وخت صحیح کیږی.کله چې په دې تصرف سره بل سړی ته ضرر نه رسیږی.او که بل کس ته ضرر رسیږی.نو د هغه د رضامندۍ نه بغیر به تصرف کول جائز نه وی.دلته کي هم داخبره ده.یعنی چې کله مؤکل د خصومت لپاره څوك وکیل جوړوی.نو په دې وکیل کولو سره دده مقصدخپل خصم ته ضرر رسول وی.ځکه چې د خصومتونو په سلسله کي د خلقو حالتونه متفاوت وی.بعض خلق داسې ذهین او چالاکه وی.چه هغوی غلط خبره هم صحیح ثابتوی.او بعض داسې نابلده او چټل ذهن والا (غبی) وی.چه هغوی صحیح خبره هم صحیح نشی ثابتولې.نو ډیره ممکن ده.چه مؤکل د خصومت لپاره داسې ذکی (ذهین) او چالاکه سړې وکیل مقرر کړی.چه په دې سره دده مقصد خصم ته ضرر رسول وی. نو که مونږ دا اووایو.چه د خصومت لپاره وکیل جوړول جائز دی.او دا وکالت لازمیږی. یعنی د خصم په رد کولو سره نه ردکیږی.نو په دې سره به دده خصم ته ضرر

رسيږي.او هركله چې د موکل خصم ته ضرر رسيږي. نو د خصومت لپاره وکيل کول به د خصم په رضامندۍ باندې موقوف وي.د رضامندۍ نه بغير به دا توکيل نه لازميږي.

وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ:يَجُوْزُ التَّوْكِيْلُ بِغَيْرِ رِضَاءِ الْخَصْمِ()او صاحبين فرماني.چه د خصم د رضامندۍ نه بغير وکيل جوړول جائز دي

تشريح﴾ مذهب الصاحبين﴿ صاحبين فرماني.چه د خصم د رضامندۍ نه بغير وکيل کول جائز نه دي.هم دا قول د امام شافعي دی.او امام مالك او امام محمد هم ددې قائل دی.

توضيح صاحب الهداية﴿ صاحب دهدايه فرماني.چه د حضرت امام صاحب او دصاحبينو په مينځ کښې د توکيل بالخصومت په جواز کې هيڅ اختلاف نشته.بلکه په لزوم کې اختلاف دې.يعنی که موکل د خصم د رضامندۍ نه بغير څوك د خصومت وکيل جوړ کړو.نو دا وکيل کول د امام صاحب او د صاحبينو دريو واړو په نيز جائز دی.خو په لزوم کې اختلاف دې.يعنی د امام صاحب په نيز به دا توکيل لازم نه وي.بلکه د خصم په رد کولو سره به ردکيږي.او د خصم د رد کولو نه روسته که وکيل د قاضی په عدالت کې خصومت پيش کوی.نو په خصم به د قاضی په عدالت کې نه حاضريدل لازم وی.او نه به جواب ورکول لازم وی.او د صاحبينو په نيز به دا توکيل لازم وی.يعنی د خصم په رد کولو سره به دا توکيل نه ردکيږي.بلکه په خصم به دا لازم وی.چه د قاضی په عدالت کې حاضر شي.او د وکيل د پيش کړی خصومت جواب ورکړي.

د صاحب دهدايه په دې تقرير چې اختلاف په لزوم کې دې.د قدوري د عبارت(**لايجوز التوكيل بالخصومة**)د (**لايلزم**) په معنې کې شو.يعنی جواز ونيلو سره لزوم مراد اخستې شوې دې.او د عبارت ترجمه داده.چه امام صاحب اوفرمانيل.چه د خصم د رضامندۍ نه بغير به توکيل بالخصومت لازم نه وي.خودا چې موکل بيمار وی.يا درې ورځې يا د درې ورځو د مسافه نه زيات غائب وی.او صاحبين فرماني.چه د خصم د رضامندۍ نه بغير هم توکيل بالخصومت لازميږي.بهرحال د امام صاحب په نيز د خصم رضامندی نه بغير توکيل بالخصومت نه لازميږي.بلکه د خصم په رد کولو سره ردکيږي.مگر داچه موکل بيمار وی.يامسافر وی.د صاحبينو په نيز د خصم د رضامندۍ نه بغير توکيل بالخصومت لازميږي.د خصم په رد کولو سره نه ردکيږي.

دليلهما:دصاحبينو دليل دادې.چه وکيل جوړول خالص پخپل حق کې تصرف دې.څکه چې موکل د خصومت وکيل جوړکړې دې.يا د جواب ور کولو وکيل کړې نې دې.او خصومت خالص د موکل حق دې.او پخپل خالص حق کې تصرف کول د بل چا په رضامندۍ باندې موقوف نه وی.نود خصومت لپاره وکيل کول به هم د خصم په رضامندۍ باندې موقوف نه وی.لکه څنگه چې د قرضو وصولولو لپاره وکيل جوړول د قرضدارانو په رضامندۍ باندې موقوف نه وی.څکه چې د موکل دقرضو وصولولو لپاره وکيل جوړول خالص پخپل حق کې تصرف دې.نودا توکيل به د قرضدارانو په رضامندۍ باندې موقوف نه وی.او د قرضو ادا کولو لپاره وکيل جوړول د قرضخواهانو په رضامندۍ باندې موقوف نه دی.څکه چې د قرضو ادا کولو لپاره وکيل جوړول خالص د موکل حق دې.نودا وکيل جوړول به د قرضخواهانو په رضامندۍ باندې موقوف نه وی.

---

[1]) القول الراجح هو قول الصاحبين كذا في ردالمحتار(٤\٤٤٦) وتقريرات الرافعي (٢\٢١٥) والهندية (٣\٦١٥) والبحرالرائق (٣\٦١٥) وتبيين الحقائق (٤\٢٥٥) نقلاً عن القول الراجح (٢\١٤٩)

وجه الجواز في المريض والغائب> پاتې شوه داخبره چې د امام صاحب رحمه الله په نيز كه موكل بيمار وي.يا مسافر وي.نوهغه لپاره د خصم د رضامندئ نه بغير وكيل جوړول ولې جائز دی ؟ نو ددې جواب دادې.كه موكل (مدعى عليه) بيمار وي.نود بيمارئ په وجه هغه باندې جواب وركول واجب نه وي.اوكه مسافر وي.نود غائب والى په وجه جواب وركول واجب نه دې.اوهركله چې په دوى باندې دځا لپاره جواب وركول واجب نه دى.نو دوى په وكيل جوړولو سره خالص پخپل حق كې تصرف كړې دې.او په دې سره ئې مدعى ته د ضرر رسولو اراده هم نه ده كړې.نود بيمار او مسافر لپاره وكيل جوړول كې ځائې د ضرر رسولو اراده نشته.او خالص پخپل حق كې تصرف دې.نو ددوى دا تصرف به د خصم په رضامندئ باندې موقوف نه وي.بلكه دده د رضامندئ نه بغير به جائز وي.

دوكالت نور شرطونه

وَمِنْ شَرْطِ الْوَكَالَةِاو د وكالت په شرطونو كې (يو شرط) دادې. أَنْ يَكُونَ الْمُوَكِّلُ مِمَّنْ يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ چې موكل داسې سړې وي.كوم چې د تصرف اختيار لرى. وَيَلْزَمُهُ الْأَحْكَامُاو په هغه باندې احكام لازميږي.

تشريح> په دې عبارت كې مصنف رحمه الله د وكالت يو شرط ذكر كړې دی.چه موكل داسې سړې وي.چه هغه ته پخپله د تصرف اختيار حاصل وي.اود هغه په ذمه احكام لازميږي.

دليله> دليل دادې.چه وكيل د نائب كيدلو په وجه ولايت،صرف د موكل د اړخه حاصلوي.او د موكل د اړخه تصرف باندې قادركيږي.او كوم كس چې پخپله په يو شئ باندې قادر نه وي.هغه بل كس ته څنګه قدرت وركولې شي.نود موكل پخپله هم تصرف باندې قادركيدل ضروری دی.چه بل يعنى وكيل ته په دې باندې قدرت وركړې شي.

امام قدوری رحمه الله د موكل صاحب تصرف كيدل، او د هغه په ذمه احكام لازميدل، په موكل كې يو شرط شماركړې دې.خو علامه ابن الهمام رحمه الله (صاحب فتح القدير) په موكل كې دوه شرطونه شمار كړی دی. ① موكل صاحب تصرف وي.يعنى د تصرف اختيار هغه ته حاصل دې. ② د هغه په ذمه احكام لازميږي.دا دوئم شرط د صبى محجور او عبدمحجور(چاته چې د تجارت وغيره اجازت نه وي) نه احتراز دې.څكه چې ددوى په ذمه احكام نه لازميږي.كه دوى دواړو څه شئ واخستلو.نو دوى به د هغې مالك نه وي.يعنى عقد شراء به ددوى په ذمه لازم نه وي.نو هركله چې دوى دواړه د خپل اخستې شوی شئ نه مالك كيږي.نو د يوشيز اخستلو خرڅولو لپاره به ددوى دواړو وكيل كول څنګه صحيح وي ؟ بهرحال د متن ذكرشوې عبارت دواړه شرطونه (په موكل كې) وي.يا د دواړو مجموعه يو شرط (موجود) وي.

السوال> دلته يو اشكال دې.هغه دا چې په موكل كې دا شرط لګول،، چې موكل پخپله هم د تصرف اختيار لرى ،،دا د صاحبينو رحمهما الله د قول په بناء باندې صحيح دې.څكه چې د صاحبينو رحمهما الله په نيز د مسلمان د خمر او خنزير د بيع يا شراء لپاره د ذمې وكيل كول جائز نه دی.خود امام صاحب رحمه الله په نيز دا شرط صحيح نه دې.څكه چې دامام صاحب رحمه الله په نيز مسلمان لره د خمر بيع اوشراء لپاره ذمي وكيل كول جائز دی.حالانكه مسلمان (موكل) پخپله ددې تصرف مالك نه دې.يعنى مسلمان ته شرعاً ددې د خرڅولو اخستلو اجازت نشته.دغه شان محرم (په حالت د احرام كې) حلال يعنى غيرمحرم دشكار د بيع وكيل جوړولې شي.خو موكل پخپله ددې مالك نه دې.

الجواب> د حضرت امام صاحب رحمه الله په قول باندې ددې جواب دادې.چه د موكل د تصرف مالك كيدلو نه مراد دادې.چه موكل د اصل تصرف مالك وي.اګرچه بعض ځائې كې د نهى د عارض په وجه

تصرف کول ممنوع دی.نود اصل په اعتبار سره مسلمان لپاره د شرابو اخستل خرڅول جائز دی.لکه چې د نهی نه وړاندې د شرابو اخستل خرڅول جائز وو.اګرچه د نهی د عارض یعنی د الله ﷻ اود رسول الله ﷺ منع کولو سره د شرابو اخستل خرڅول مسلمان لپاره ممنوع شوی دی.دغه شان محرم د اصل په اعتبار سره د اخستلو خرڅولو مالك دې.اګرچه د نهی د عارض یعنی د رسول الله ﷺ په منع کولو سره ممتنع شوې دې.بهرحال هرکله چې مسلمان د اصل په اعتبار سره د شرابو اخستلو خرڅولو مالك دی.او محرم د ښکار د اخستلوخرڅولو مالك دې.نود مؤکل مالك تصرف کیدل ثابت شو.

وَالْوَكِيلُ مِمَّنْ يَعْقِلُ الْبَيْعَ اودا شرط هم دې.چه وکیل داسې سړې وی.چه په خرڅولو پوهیږی. وَيَقْصِدُهُ)او د هغې قصد کوی.

حل اللغة ① **یعقل**:پوهیږی ② **یقصد**:قصد کولې شی

تشریح په دې عبارت کې د دوئم شرط ذکر دې چې د کوم چې په وکیل کې موجود کیدل ضروری دی. دا دې.چه وکیل داسې سړې وی.چه دعقد معنی او مفهوم باندې پوهیږی.یعنی په دې پوهیږی.چه بیع سالب ده.او شراء جالب ده.یعنی د بیع په وجه مبیع نه د بائع ملك مسلوب کیږی.او د شراء په وجه مشتری لپاره ملك مبیع حاصلیږی.اوغبن یسیراوغبن فاحش نه خبروی.اووکیل ددې عقدقصدکوی.یعنی په عقد کولوکې هزل کونکې نه وی.بلکه قصد کونکې وی.

دلیله دلیل دادې.چه په عبارت بیانولو او کلام کولو کې وکیل د مؤکل قائم مقام وی.نو په وکیل کې د عبارت بیانولو اهلیت او لیاقت کیدل ضروری او شرط دی.او دعبارت بیانولو اهلیت د عقل مجیز په ذریعه کیږی.په دې وجه د وکیل عاقل کیدل ضروری دی.نو که وکیل غیر عاقل ماشوم وی.یا مجنون وی.نو دا توکیل باطل دې.ځکه چې ددوی دواړو په کلام سره هیڅ حکم نه متعلق کیږی.

د آزاد ،عاقل، بالغ او ماذون لپاره د وکیل جوړولو حکم

وَإِذَا وَكَّلَ الْحُرُّ الْبَالِغُ أَوِ الْمَأْذُونُ مِثْلَهُمَا جَازَ:اوازاد ، بالغ، یا ماذون خپل مثل وکیل جوړکړو.نو جائز دې.

تشریح که آزاد ، بالغ، یا عبدماذون له فی التجارة، یا یو داسې ماشوم چې هغه د بیع او شراء په معنی باندې پوهیږی.او ماذون له فی التجارة د خپلې درجې څوك سړې وکیل کړو.نو دا وکیل کول صحیح دی.صاحب د عنایه رحمه الله فرمائی.چه هرکله خپل هم مثل وکیل کول جائز دی.نو دخان نه د ښه حالت انسان وکیل جوړول به په درجه اولی جائز وی.که یو آزاد ، عاقل، بالغ څوك داسې محجور(غیر ماذون له) ماشوم وکیل کړو. چې د بیع او شراء په معنی پوهیږی.یا ئې محجور علیه (غیرماذون له) غلام وکیل کړو. نو دا وکیل کول جائز دی.خو ددوی دواړو سره به حقوق د بیع نه متعلق کیږی.بلکه د هغوی مؤکلینو سره به متعلق کیږی.

دلیله د وکالت صحیح کیدلو دوه شرطونه دی.یو داچه مؤکل د تصرف مالك وی.او احکام په ده باندې لازمیږی. دوئم داچه وکیل د عقد معنی او مفهوم نه خبر وی.او د عبارت بیانولو اهل وی.او دلته کې الحمدلله دواړه شرطونه موجود دی.ځکه چې مؤکل آزاد ، عاقل، بالغ، کیدلو په وجه د تصرفاتو مالك هم دې.او په ده باندې احکام عقد هم لازمیږی.

(وَإِنْ وَكَّلَ صَبِيًّا مَحْجُورًا يَعْقِلُ الْبَيْعَ وَالشِّرَاءَ اوکه ده محجور ماشوم چې په بیع شراء باندې پوهیږی. أَوْ عَبْدًا مَحْجُورًا یا غلام محجور وکیل جوړکړو. جَازَ نو جائز دې

تشریح او وکیل صبی عاقل دې.او صبی عاقل د عبارت بیانولو اهل وی.د صبی عاقل تصرف د هغه

د ولي په اجازت سره نافذ کيږي.نو هرکله چې صبي عاقل د عبارت بيانولو لياقت لري.او د وکيل کيدلو هم دا ضروري ده.نود صبي عاقل وکيل کيدل صحيح او جائز دي.اوپاتې شو غلام،نو هغه هم د تصرف مالك دې.او پخپل ذات باندې د تصرف حق لري.هم دا وجه ده.که غلام پخپل ځان باندې دچا لپاره اقرار اوکړي.نو د آزاديدلو نه روسته به هغه باندې دا مال لازميږي.اود غلام پخپل ځان باندې د قصاص او حدودو اقرار کول صحيح دي.بهرحال غلام پخپل ذات باندې د تصرف اهل دې. اګرچه د مولا په حق کې د تصرف مالك نه دې.اود مؤکل د اړخه ځوك غلام وکيل کول دهغه د مولا په حق کې تصرف نه دې.ځکه چې د توکيل صحت د وکيل عبارت او اهليت سره متعلق کيږي.او په دې دواړو خبروکې غلام د سړی کيدلو په حيثيت سره په اصل حريت باندې باقي دې.يعنې په دې دواړو خبروکې غلام د آزاد پشان دې.نو هرکله چې غلام پخپل ذات باندې د تصرف مالك دې.او توکيل د مولا په حق کې تصرف هم نه دې.نود غلام وکيل کول صحيح دی.

﴿وَلَا يَتَعَلَّقُ بِهِمَا الْحُقُوقُ﴾او ددوی دواړو سره به حقوق نه متعلق کيږي. ﴿وَيَتَعَلَّقُ بِمُوَكِّلِيهِمَا﴾[1]البته ددوی مؤکل سره به متعلق کيږي.

تشريح البته دومره خبره ده.چه په صبي او غلام باندې هيڅ ذمه داری نه لازميږي.په صبي باندې ځکه،چه د عدم بلوغ په وجه دده لياقت او اهليت ناقص دې.او غلام باندې ځکه چې دده مولا ته به ضرر وی.نود مولا د حق په وجه د مولا نه ضرر لرې کولو لپاره به په غلام باندې هم هيڅ ذمه داری نه راځي.بهرحال هرکله چې صبي او غلام باندې هيڅ ذمه داری نه راځي.نو ددوی دواړو سره به حقوق نه متعلق کيږي.بلکه ددوی دواړو مؤکلانو سره به حقوق متعلق وی.

مذهب ابي يوسف د حضرت امام ابويوسف رحمه الله نه روايت که د اخستلو په وخت مشتری ته د بائع (د وکيل بالبيع کيدو) حال معلوم نشو.چه هغه آزاد، عاقل، بالغ دې.اوکه نه دې.بيا روسته معلومه شوه.چه بائع صبي دې. يا مجنون دې.يا عبد محجورعليه دې.نو په دې صورتونوکې مشتری ته د عقد بيع فسخ کولو اختيار وی. ځکه چې مشتری د عقد شراء معامله په دې ګمان کړې وه.چه ددې عقد واړه حقوق به عاقد (وکيل بالبيع) سره متعلق وی.خوکله چې ددې خلاف ښکاره شوه.او پته اولګيدله.چه ددې عقد حقوق عاقد (وکيل بالبيع) سره متعلق نه دی.بلکه د هغه مؤکل سره متعلق دی.نود وصف مرغوب فيه فوت کيدلو په وجه د هغه رضامندی مختل شوه.او هرکله چې رضامندی مختل شوه.نو هغه ته به اختيار حاصل وی.که فسخ کوی.او که باقي ئې ساتي.لکه مشتری که د اخستلونه روسته د مبيع په عيب باندې خبر شو.نو مشتری ته د خيارعيب لاندې د فسخ کولو پوره پوره اختيار دې.

د وکيل خپل ځان طرف ته عقد منسوب کولو سره د حقوقو حکم

﴿وَالْعُقُودُ الَّتِي يَعْقِدُهَا الْوُكَلَاءُ عَلَى ضَرْبَيْنِ﴾هغه عقود کوم چې وکيلان منعقد کوی.په دوه قسمه دي. ﴿كُلُّ عَقْدٍ يُضِيفُهُ الْوَكِيلُ إِلَى نَفْسِهِ﴾هرهغه عقدکوم چې وکيل خپل ځان اړخ ته منسوب کوی ﴿مِثْلَ الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ وَالْإِجَارَةِ﴾.لکه خرڅول اخستل او اجاره. ﴿فَحُقُوقُ ذَلِكَ الْعَقْدِ تَتَعَلَّقُ بِالْوَكِيلِ دُونَ الْمُوَكِّلِ﴾نو د دغې عقد حقوق وکيل سره متعلق کيږي. مؤکل سره نه (متعلق) کيږي.

[1] القول الراجح هو ظاهر الرواية كذا في نتائج الأفكار(۱۵\۷) وردالمحتار(۴۴۷\۴) والهندية (۵۶۲\۳) نقلاً عن القول الراجح (۱۴۹\۲)۔

حل اللغة ① **يضيف**:اضافت کوی،نسبت کوی

تشریح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.کوم عقد چې وکیل منعقد کوی.د هغې دوه قسمونه دی. ① بو هغه عقد کوم چې وکیل سره متعلق کیږی. ② دوئم هغه عقد د کوم حقوق چې مؤکل سره متعلق کیږی د رومبی قسم لپاره قاعده داده.چه کوم عقد وکیل خپل خان ارخ ته منسوب کړی.اود هغه منسوب کول صحیح وی.او مؤکل ارخ ته منسوب کولو نه بې نیازه (عاجزه) وی.لکه بیع او اجاره.نو د هغه عقد حقوق به وکیل سره متعلق وی.او مؤکل سره به متعلق نه وی.یعنی د هغه عقد د حقوقو ذمه داری به وکیل باندې عائد کیږی.په مؤکل به نه عائد کیږی.مثلاً وکیل اوونیل.چه ما ستا په لاس دا شئ خرخ کړې دې.نو د مبیع سپارل د وکیل په ذمه دی.علامه ابن الهمام رحمه الله په دې قاعده باندې نقض وارد کړې دې.فرمائی که وکیل صبی محجورعلیه وی.یا عبد محجور علیه وی.نو ددوی دواړو د عقد حقوق مؤکل سره متعلق کیږی . اگرچه عقد وکیل خپل خان ارخ ته منسوب کوی.لکه څنګه چې په مخکښې مسئله کې تیر شو.([1])

دلیله دلیل دادې.چه په دې قسم کې عقد کونکې حقیقتاً هم وکیل دې.او حکماً هم وکیل دې. حقیقتاً وکیل ځکه عاقد دې.چه عقد کلام سره قائم کیږی.او کلام کونکې وکیل دې.مؤکل نه دې.نو عقد کونکې وکیل شو.مؤکل نشو.اود وکیل عبارت یعنی د وکیل کلام صحیح هم دې.خود وکیل کلام صحیح کیدل د دلیل په وجه نه دی.بلکه د یوعاقل سړی کیدلو په وجه دې.یعنی د عاقل سړی کیدلو په وجه دده لپاره د ایجاب او قبول اهلیت هم موجود دې.نو دا عقدبه د وکیل د ارخه واقع کیږی.اووکیل به عاقد وی.او په دې قسم کې وکیل حکماً عاقد ځکه دې.چه وکیل مؤکل ارخه د عقد منسوب کولو نه مستغنی دې.که وکیل د مؤکل د ارخه صرف سفیر او قاصد وو.نو هغه به عقد مؤکل ارخ ته منسوب کولو نه مستغنی نه وو.لکه قاصد چې مرسل د ارخ ته د عقد منسوب کولو نه مستغنی نه دې.او وکیل بالنکاح مؤکل ارخ ته د عقد نکاح منسوب کولو نه نه مستغنی کیږی .او هرکله چې داسې ده.یعنی وکیل په دې قسم کې حقیقتاً هم عاقد دې.او حکماً هم عاقد دې.نو هغه به دعقد دحقوقو په سلسله کې اصیل وی.او هرکله چې وکیل د عقد حقوقو په سلسله کې اصیل دې.نو حقوق د عقد به هم هغه سره متعلق وی.او هم هغه ارخ ته به واپس کیږی.

(فَيُسَلِّمُ الْمَبِيعَ چې وکیل مبیع اوسپاری. وَيَقْبِضُ الثَّمَنَ او ثمن باندې قبضه اوکړی. وَيُطَالَبُ بِالثَّمَنِ إِذَا اشْتَرَى،او کله نې چې اخستې وی.نو دده نه به د ثمن مطالبه کولې شی. وَيَقْبِضُ الْمَبِيعَ او په مبیع باندې قبضه اوکړی . وَيُخَاصِمُ فِي الْعَيْبِ او د عیب په سلسله کې به وکیل سره مخاصمه کولې شی.

تشریح وکیل د حقوقو په سلسله کې اصیل وی.په دې وجه صاحب دقدوری رحمه الله په متن کښې فرمائی.که وکیل بالبیع دې .نو هغه به مبیع مشتری ته حواله کوی.او په ثمن به قبضه کوی.او که وکیل بالشراء دې.د هغه نه به د ثمن مطالبه کولې شی.او هغه به پخپله بیع باندې قبضه کوی.اوکه وکیل بالبیع دې.او مشتری د مبیع په عیب باندې خبر شو.نو مشتری به دده عیب په سلسله کې وکیل سره گفتگو (خبرې اترې) کوی.اوکه وکیل بالشراء دې.او د مبیع په عیب باندې خبر شو.نو ددې

[1] **مذهب الشافعي** حضرت امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه د عقد حقوق مؤکل سره متعلق کیږی.یعنی د عقد د حقوقو ذمه داری مؤکل باندې عائد کیږی.په وکیل باندې نه عائد کیږی.امام مالك او امام احمد رحمهما الله هم ددې قائل دی.

عیب په سلسله کې به وکیل سره خبرې کوي.موکل سره به نه کوي.
دلیله﴾ دلیل دادې.چه ذکر شوی واړه شیان د عقد دحقوقو ځنې دی.او د عقد ټولو حقوق وکیل اړخ ته واپس کیږي.نو ذکرشوی واړه شیان به وکیل اړخ ته واپس کیږي.او وکیل به ددې ذمه دار وي.

د وکیل خپل موکل طرف ته د عقد منسوب کولو سره د حقوقو حکم

وَكُلُّ عَقْدٍ يُضِيفُهُ إِلَى مُوَكِّلِهِ اوهرهغه عقد چې وکیل ئې خپل موکل اړخ ته منسوب کوي. كَالنِّكَاحِ وَالْخُلْعِ وَالصُّلْحِ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ لکه نکاح، خلع، او صلح عن دم العمد. فَإِنَّ حُقُوقَهُ تَتَعَلَّقُ بِالْمُوَكِّلِ نو ددې حقوق موکل سره متعلق کیږي دُونَ الْوَكِيلِ.وکیل سره نه متعلق کیږي. فَلَا يُطَالَبُ وَكِيلُ الزَّوْجِ بِالْمَهْرِ نود میره د وکیل نه به د مهر مطالبه نشی کیدلې. وَلَا يَلْزَمُ وَكِيلَ الْمَرْأَةِ تَسْلِيمُهَا او د ښځې په وکیل به ښځه سپارل نه لازمیږي.

حل اللغة﴾ ① **لايطالب**:مطالبه نشی کولې ② **تسليم**:سپارل،حواله کول

تشريح﴾ دوئم قسم یعنی د کوم عقد حقوق چې موکل سره متعلق کیږي.د هغې لپاره قاعده داده.چه هرهغه عقد د کوم چې وکیل موکل اړخ ته منسوب کولو نه نه مستغنی کیږي.بلکه موکل اړخ ته منسوب کول ضروري وي.نو د هغې حقوق به موکل سره متعلق کیږي.وکیل سره به نه متعلق کیږي.یعنی د عقد د ټولو حقوقو ذمه دار به موکل وي.او وکیل به ذمه دار نه وي.مثلاً نکاح، خلع وغیره او صلح عن دم العمد ددې حقوق موکل اړخ ته واپس کیږي.وکیل اړخ ته نه واپس کیږي.
المسائل التي تتعلق بهذه القاعدة﴾ که په عقد نکاح کې څوك سړې د میره د اړخه وکیل وي.نود مهر مطالبه به دخاوند (موکل) نه کولې شي. د وکیل نه به نشی کولې.اوکه د ښځې د اړخه وکیل وي.نود ښځې سپارل به وکیل باندې لازم نه وي.بلکه ښځه باندې به پخپله خپل ځان سپارل لازم وي.او په عقد خلع کې که د ښځې د اړخه وکیل شو.نود بدل خلع مطالبه به د وکیل نه نه کیږي.بلکه د ښځې نه به کولې شي.اوکه د میره د اړخه وکیل شو.نو د بدل خلع د مطالبې حق به میره ته وي.وکیل ته به نه وي.دغه شان په صلح عن دم العمد کې که د مقتول د اولیاؤ د اړخه وکیل شو.نو قاتل نه به د بدل صلح (قصاص) د مطالبې حق وکیل ته نه وي.بلکه د مقتول اولیاؤ ته به وي.اوکه د قاتل د اړخه وکیل شو.نود بدل قصاص مطالبه به د قاتل نه کولې شي.د وکیل نه به نشی کولې.په دې عقود کې حقوق موکل سره ځکه متعلق کیږي.چه په دې عقود کې وکیل صرف سفیر او معبر وي.او سفیر هغه کس ته وائی.څوك چې د بل کلام نقل کړي.او د هغې حکایت اوکړي.او کوم کس چې د بل کلام نقل کوي.هغه باندې د بل کلام احکام نه لازمیږي.لکه مثلاً که خالد د شاهد هغه کلام نقل کړو.په کوم کلام سره چې شاهد، حامد باندې تهمت لګولې وو.ددې کلام نقل کولو په وجه خالد نه قاذف (تهمت لګونکې)شمارلې کیږي.اونه په خالد باندې دقذف احکام (حد قذف وغیره) لازمیږي.نوهم دغه شان په ذکر شوی عقود کې چونکه وکیل صرف سفیر اود موکل د کلام ناقل دې. په دې وجه د ذکر شوی عقود د احکامو او حقوقو ذمه دار به وکیل نه وي.بلکه موکل به وي.
دليلها﴾ او په ذکر شوی عقود کې د وکیل سفیرمحض کیدلو دلیل دادې.چه وکیل موکل اړخ ته د عقد منسوب کولو نه مستغنی نه دې.بلکه دا به وائی.چه زما موکل تا سره نکاح کړې ده.اوکه وکیل نکاح خپل ذات اړخ ته منسوب کړله.مثلاً ښځې ته ئې اووئیل.چه ما تا سره نکاح اوکړله.نودا به د وکیل نکاح وي.د موکل به نه وي.او هرکله چې د وکیل نکاح شوه.نودا د وکالت د حکم نه خارج شو.حالانکه زمونږ کلام په وکالت کې دې.بهرحال هرکله چې په دې قسم کې عقدموکل اړخ ته منسوب کول

ضروري دی.او خپل ځان ارخ ته د منسوب کولو اجازت نشته.نو معلومه شوه.چه په دې عقودوکې د وکیل حیثیت صرف د سفیر اود موکل کلام نقل کونکي دې.ددې نه زیات څه حیثیت نې نه دې.او هرکله چې داخبره ده.نو په دې قسم ثانی کې د وکیل حیثیت داسې دې.لکه څنګه چې په قسم اول کې د قاصد حیثیت دې.او د قسم اول لاندې تیر شو.چه د رسالت په صورت کې احکام رسول (قاصد) ارخ ته نه واپس کیږی.بلکه مرسل ارخ ته واپس کیږی.نو دغه شان په قسم ثانی کې احکام وکیل ارخ ته نه واپس کیږی.بلکه موکل ارخ ته واپس کیږی.

موکل لپاره د مشتري نه د مطالبې کولو حکم

(وَإِذَا طَلَبَ الْمُوَكِّلُ الْمُشْتَرِيَ بِالثَّمَنِ)اوکه موکل د مشتری نه د ثمن مطالبه اوکړله.(فَلَهُ أَنْ يَمْنَعَهُ إِيَّاهُ)نو مشتری لپاره موکل د ثمن ور کولو نه د منع کولو اختیار شته.

تشریح> که یوسړی څوك وکیل بالبیع مقرر کړو.بیا وکیل په یوکس هغه سامان خرڅ کړو.د کوم د خرڅولو چې وکیل جوړ شوې وو.نو که موکل د مشتری نه د ثمن مطالبه اوکړله.نو مشتری ته دا اختیار شته.چه هغه د ثمن ور کولو نه انکار اوکړی.

دلیله>څکه زمونږ په نیز حقوق د عقد، عاقد یعنی وکیل ارخ ته واپس کیږی.اوموکل د عقد او د حقوق عقد په سلسله کې بالکل اجنبی دې.څکه به موکل ته دمشتری نه د ثمن د مطالبې اجازت نه وی.او هرکله چې موکل ته د ثمن د مطالبې اجازت نشته.خو ددې باوجود هغه مطالبه کولې شي.نو مشتری ته حق دې.چه هغه د ثمن ور کولو نه انکار اوکړی.لکه مثلاً هیڅ څوك به اودس کونکی ته سلام نه کوی.خو که ددې باوجود چا سلام اوکړو.نو اودس کونکی (متوضی) ته حق دې.چه هغه جواب ورنکړی.

(فَإِنْ دَفَعَهُ إِلَيْهِ)بیا که مشتری موکل ته ثمن ورکړو.(جَازَ)نو جائز دې.(وَلَمْ يَكُنْ لِلْوَكِيلِ)او وکیل ته دا اختیار نشته.(أَنْ يُطَالِبَهُ ثَانِيًا)چې هغه دوباره مشتری نه د ثمن مطالبه اوکړی.

تشریح>ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.که د موکل په مطالبه کولو مشتری موکل ته ثمن ورکړو.نودا هم جائزدی.او په دې صورت کې به وکیل لپاره مشتری نه د دوباره ثمن غوښتلو حق نه وی.خودا خیال ساتل پکار دی.که یوکس بل څوك د عقد تصرف وکیل کړو.نود موکل قبضه کول به صحیح نه وی.خو چونکه عقد صرف په قبضه سره جائز کیږی.نو په عقد صرف کې قبضه د ایجاب او قبول په مرتبه کې ده.نوکه د وکیل لپاره قبول حق ثابت وی.اوموکل قبول کړی.نودا ناجائز دی.دغه شان که د قبضه حق وکیل لپاره ثابت وی.او موکل قبضه اوکړی.نودا به هم ناجائز وی.

دلیله> اود عقدصرف نه علاوه په نورو بیوع کې د موکل د قبضې صحیح کیدلو دلیل دادې.چه ثمن په کوم چې موکل قبضه کړې ده.د موکل حق دې.او هغه موکل ته اورسیدلو.او هرکله چې داسې ده.نو اوس د موکل نه اخستل، او بیا موکل ته په ور کولو کې هیڅ فائده نشته.یعنی چې دا حکم ورکړې شي.چه مشتری د موکل نه واخلی.اووکیل ته ورکړی.بیا نې وکیل موکل ته ورکړی.په دې کې هیڅ فائده نشته.چه کوم مقصود وو، هغه حاصل شو.یعنی موکل ته د هغه حق رسیدلې دې.چونکه په کوم ثمن چې موکل قبضه کړې ده.هغه هم د موکل حق دې.

وکیل بالشراء ته د جنس او صفت بیانلو حکم

(وَمَنْ وَكَّلَ رَجُلًا بِشِرَاءِ شَيْءٍ)اوکه یوکس څوك سړې د څه شئ اخستلو لپاره وکیل کړو.(فَلَابُدَّ مِنْ

تَسْمِيَةِ جِنْسِهِ وَصِفَتِهِ أَوْجِنْسِهِ وَمَبْلَغِ ثَمَنِهِ)نود هغه شئ جنس او صفت، يا د هغې جنس او آخرى قيمت بيانول ضروري دى.

حل اللغة﴾ ① **تسمية**:نوموول (نامدار)كول،نوم اخستل ② **مبلغ الثمن**:آخرى قيمت

تشريح﴾ ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.كه يوسړى بل څوك د يو غير معين شئ اخستلو وكيل كړو. نو موكل لپاره ضروري دى.چه دهغه شئ جنس بيان كړى.يعنى دغلام يا وينځې ذكر اوكړى.او دهغې صفت بيان كړى.مثلاً دا اووائي.چه هغه تركي وى.يا هندى وى.وغير ذالك،يا موكل د هغې جنس بيان كړى.او د هغې د ثمن مقدار بيان كړى.مثلاً دا اووائي.چه د پنځه سوه روپو يوغلام واخله.او راوله.موږ د غيرمعين شئ قيدځكه لګولې دې.كه د يو معين شئ اخستلو وكيل كړې ئې وى.نود هغې د جنس اوصفت بيانولو هيڅ اړتيا نشته.

دليله﴾ دليل دادې.چه د كوم كار لپاره وكيل جوړكړې شوې دې.د هغې تكميل هغه وخت ممكن دې.كله چې هغه كار معلوم وى.او هغه كار به په جنس او صفت بيانولو سره يا جنس او د هغې قيمت بيانولو سره معلوميږى. نود هغې جنس او صفت، يا د هغې جنس او قيمت بيانول ضروري دى.

إِلَّاأَنْ يُوَكِّلَهُ وَكَالَةً عَامَّةً خودا چې هغه په وكالت عامه سره وكيل كړى. فَيَقُولَ:او اووائي. اِبْتَعْ لِي مَارَأَيْت) چې زما لپاره هغه شئ واخله.كوم چې تاته مناسب ښكارى.

تشريح﴾ ځكه دوكالت عامه په طور ئې وكيل كړې وى.مثلاً داسې ئې ونيلى وى.چه كوم شئ مناسب معلوميږى.زما لپاره واخله.او راوړه.نو په دې صورت كښې به نه جنس بيانول ضروري وى.اونه به صفت بيانول ضروري وى.

دليله﴾ ځكه چې موكل معامله د وكيل رائې ته سپارلې ده.نو وكيل چې كوم شئ اخلى.د موكل د حكم تعميل كونكې به وى.

القاعدة﴾ علامه مرغيناني رحمه الله فرمانيلى دى.چه د وكالت د باب په سلسله كې قاعده داده.چه په وكالت كې استحساناً جهالت يسيره (معمولي جهالت) برداشت كولې شى.يعنى كه څه معمولي شان خبره معلومه شى.نو وكالت صحيح پاتې كيږى.مثلاً وصف مجهول وى.او موكل اوونيل چه يو غلام واخله.او راوله.نو استحساناً د وصف مجهول كيدلو باوجود به وكالت صحيح وى.اګرچه قياساً صحيح نه وى.او پاتې شو جهالت فاحشه، مثلاً موكل اوونيل.چه يوځاروې واخله او راوله.نودا به په وكالت كې بالكل نشى برداشت كولې.نه قياساً او نه استحساناً. د جهالت يسيره برداشت كولوكې وجه د قياس داده.چه ،،توكيل بالبيع والشراء،،به په نفس بيع او شراء باندې قياس كولې شى.ځكه چې وكيل بالبيع د موكل د ارخه دبائع پشان وى.او وكيل بالشراء د موكل د ارخه د مشترى پشان وى.او په بيع او شراء كې جهالت بالكل نه برداشت كيږى.نه جهالت فاحشه،او نه جهالت يسيره.نوهم دغه شان وكالت بالشراء والبيع كې به هم مطلقاً جهالت نه برداشت كيږى.

وجه الإستحسان﴾ وجه د استحسان داده.چه د توكيل مدار په توسع باندې دې.ځكه چې توكيل په حقيقت كې پخپل كار كې د بل نه كومك طلب كول دى.او د جهالت يسيره په اعتبار كولو كې يو قسم حرج دې.حالانكه شريعت اسلام حرج لرې كړې دې.لكه فرمائي. (لاحرج فى الدين) نود حرج لرې كولو لپاره به وكالت كې جهالت يسيره برداشت كولې شى.

وكيل لپاره د عيب په وجه د واپس كولو حكم

وَإِذَا اشْتَرَى الْوَكِيلُ اوكه وكيل (يو څيز) واخستلو. وَقَبَضَ الْمَبِيعَ او په هغه څيزتې قبضه اوكړله. ثُمَّ اطَّلَعَ عَلَى عَيْبٍ بيا په عيب باندې خبر شو. فَلَهُ أَنْ يَرُدَّهُ بِالْعَيْبِ مَا دَامَ الْمَبِيعُ فِي يَدِهِ)نود هغه لپاره د عيب په وجه دهغې د واپس كولو اختيار دې.په دې شرط چې مبيع د هغه په قبضه كې وي.

تشريح كه وكيل بالشراء د مؤكل د حكم مطابق څه شئ واخستلو.او په هغې ئې قبضه اوكړله.بيا د مبيع په څه عيب باندې خبر شو. نود دې يو صورت دا دې چې مبيع د وكيل په قبضه كې وي.نو په دې صورت كې وكيل د خيارعيب لاندې د مؤكل د اجازت نه بغير دا مبيع بانع ارخ ته واپس كولې شي.

دليل ځكه چې د عيب په وجه مبيع واپس كول،د عقد د حقوقو څخه دي.اود عقد واړه حقوق وكيل ارخ ته واپس كيږي.نووكيل ته به د عيب په وجه بانع ارخ د مبيع واپس كولو اجازت وي.

فَإِنْ سَلَّمَهُ إِلَى الْمُوَكِّلِ نوكه وكيل مبيع مؤكل ته اوسپارلو. لَمْ يَرُدَّهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ نو وكيل د عيب په وجه هغه نشي واپس كولې.خود مؤكل په اجازت سره،

تشريح اوپه دې متن كې د دوئم صورت بيان دې چې وكيل مبيع مؤكل ته سپارلې وي.نو وكيل ته به د مؤكل د اجازت نه بغير بانع ارخ ته د مبيع واپس كولو اختيار نه وي.

دليل ① ځكه مؤكل ته د مبيع په سپارلو سره د وكالت حكم پوره شوې دې.او هركله چې د وكالت حكم پوره شوې دې.نو وكالت ختم شو.او وكيل يو اجنبي سړې شو.او هركله چې وكيل اجنبي شو.نو هغه ته به د مؤكل د اجازت نه بغير د مبيع واپس كولو هيڅ اختيار نه وي

② چې هركله مبيع مؤكل ته اوسپارلې شو.نو په هغې باندې د مؤكل حقيقي قبضه ثابت شوه.اوس كه وكيل دا بانع ارخ ته واپس كوي.نو په دې سره به د مؤكل حقيقي قبضه باطلول لازميږي. حالانكه د قابض د اجازت نه بغير هيڅ سړې ته د هغه د قبضې باطلولو اجازت نشته.نو ثابته شوه.چه په دې صورت كې وكيل ته د مؤكل د اجازت نه بغير بانع ارخ ته د مبيع واپس كولو اختيار نشته.

په عقد صرف او سلم كښې د وكالت حكم

(وَيَجُوزُ التَّوْكِيلُ بِعَقْدِ الصَّرْفِ وَالسَّلَمِ)اود عقد صرف او سلم لپاره وكيل كول جائز دي.

تشريح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه د عقد صرف او سلم لپاره وكيل كول جائز دي.يعنی كه يوكس د عقد صرف يا عقد سلم منعقد كولو څوك وكيل كړو.نو جائز دي.

دليل مؤكل عقد صرف او عقدسلم پخپله د منعقد كولو مالك دې.اود باب وكالت په اول كې تير شوی دی چه انسان كوم عقد پخپله منعقدكولې شی.د ارتيا لرې كولو لپاره د هغې لپاره بل كس هم وكيل كولې شی.نو هركله چې مؤكل عقد صرف او عقدسلم پخپله منعقد كولې شی.نو ددې لپاره به د وكيل كولو مالك هم وي.

د قبضې نه وړاندې د وكيل د جدا كيدو حكم

فَإِنْ فَارَقَ الْوَكِيلُ صَاحِبَهُ قَبْلَ الْقَبْضِ نوكه وكيل د قبضه نه وړاندې خپل انديوالان نه جدا شو. بَطَلَ الْعَقْدُ)نو عقد به باطل وي.

تشريح كه عقد صرف يا عقدسلم كونكې وكيل او دده هغه انديوال چاچه دده سره عقد صرف يا عقد سلم كړې دې.د قبضه كولو نه وړاندې دواړه جدا شو.نودا عقد به باطل وي.

دليله> ځکه چې د عقد صرف صحيح کيدلو شرط دادې.چه په مجلس د عقد کې دواړو عوضونو باندې قبضه متحقق شي.اود عقد سلم صحيح کيدلو شرط دادې.چه په مجلس د عقد کې په راس المال باندې د مسلم اليه قبضه متحقق شي.نو هرکله چې وکيل او دوئم عاقد د قبضه کولو نه بغير د مجلس نه جدا شو.نود عقد صرف او عقد سلم صحيح کيدلو شرط اونه موندې شو.اوهر کله چې د صحت شرط اونه موندې شو.نو عقد صرف او عقد سلم به باطل وي.

وَلَايُعْتَبَرُمُفَارَقَةُالْمُوَكِّلِ)اود موکل جداکيدل معتبر نه دی.

حل اللغة> ① **المفارقة**:جدا کيدل

تشريح> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه د قبضه کولو نه وړاندې به د مجلس عقد نه د موکل د جدا کيدلو اعتبار نه کيږی.

دليله> ځکه چې موکل عاقد نه وی.او د عقد په وجه د قبضه مستحق عاقد وی.او عاقد وکيل دې.نو په بدل صرف به د وکيل قبضه صحيح وی.د موکل به نه وی.وکيل د هغه خلقو څخه وی.دچا سره چې حقوق د عقد متعلق کيږی.لکه بالغ، عبد ماذون له في التجارة.اوکه د هغه خلقو څخه وی.دچا سره چې حقوق د عقد نه متعلق کيږی.لکه نابالغ، او عبد غير ماذون له.اود قبضه مالك عاقد ځکه وی.چه په عقد صرف کې قبضه د عقد ،او عبد غير ماذون له تتمه او تکمله وی.نو دچا نه چې عقد صرف صادر شی.د هغه د اړخه به قبضه هم صحيح وی.او په ذکر شوی صورت کې چونکه عقد صرف د وکيل نه صادر شوې دې.ځکه به قبضه هم د وکيل صحيح وی.او هرکله چې قبضه د وکيل صحيح ده.نو د مجلس عقد نه به هم دده جداکيدل معتبر وی.د موکل جدا کيدل به معتبر نه وی.

په موکل باندې د وکيل د رجوع کولو حکم

وَاِذَادَفَعَ الْوَكِيلُ بِالشِّرَاءِالثَّمَنَ مِنْ مَالِهٖاوکه وکيل بالشراء د خپل مال نه ثمن ورکړو.وَقَبَضَ الْمَبِيعَاو په مبيع ئې قبضه اوکړله.فَلَهٗاَنْ يَّرْجِعَ بِهٖعَلَى الْمُوَكِّلِنو وکيل لپاره جائز دی. چې هغه د موکل نه ثمن واپس واخلي.

تشريح> صورت د مسئلې دادې.که وکيل بالشراء د خپل مال نه ثمن اداکړو.او په مبيع باندې ئې قبضه اوکړله. نودا ثمن اداکول به د وکيل د اړخه تبرع نه وی.بلکه وکيل ذکر شوې ثمن د موکل نه واپس اخستې شی.امام مالك، امام شافعی ، او امام احمد رحمهم الله هم ددې قائل دی.

دليله> دليل دادې.چه دا د وکيل او موکل په مينځ کې حکماً مبادله ده.په دې طريقه چې وکيل د بائع پشان دې.او موکل د مشتری پشان دې.

علامتي كون المبادلة حكمية> ①اود مبادله حکمی علامت دادې.که د وکيل او موکل په مينځ کې د ثمن په مقدار کې اختلاف اوشو.نو ددوی دواړو نه به قسم اخستې شی.او تحالف (د فريقينو نه قسم اخستل) د مبادلې د خواصو څخه دی.نوکه د بائع او مشتری په مينځ کې د ثمن په مقدار کې اختلاف شو.او دواړو سره بينه نه وی.نو د دواړو نه به قسم اخستلې شی.که يوکس د قسم خوړلو نه انکار اوکړو.نود هغه خلاف به فيصله ورکولې شی.که دواړو قسم اوخوړلو.نو قاضی به دا بيع فسخ کوی.نو په دې صورت کې د دواړو نه قسم اخستل، ددې خبرې علامت دې.چه د وکيل او موکل په مينځ کې حکماً مبادله منعقد شوې ده.

② اوکه موکل د مبيع په څه عيب باندې خبر شو.نو هغه ددې عيب په وجه مبيع وکيل اړخ ته واپس کولې شی.او دعيب په وجه مبيع واپس کول، دا هم د مبادلې د خواصو څخه دې.بهرحال د وکيل او

مؤکل په مینځ کي مبادله حکمی اوموندي شوه.او ددي مبادلي لاندي وکيل مؤکل ته مبيع سپارلي دي.نو هرکله چي د مبادلي لاندي وکيل مؤکل ته مبيع ورکړي دي.نو وکيل ته به د مؤکل نه د ذکر شوی مبيع د ثمن اخستلو اختيار هم حاصل وی.

وکيل سره د مبيع هلاکيدو حکم

فَإِنْ هَلَكَ الْمَبِيعُ فِي يَدِهِ قَبْلَ حَبْسِهِ نوکه د وکيل په قبضه کي مبيع هلاك شو.د وکيل د منع کولو نه وړاندي.هَلَكَ مِنْ مَالِ الْمُوَكِّلِ نو دا به د مؤکل د مال نه هلاك وی.وَلَمْ يَسْقُطِ الثَّمَنُ)او ثمن به نه ساقطيږی.

تشريح< ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.که وکيل بالشراء د خپل مال نه ثمن اداکړو.او په بيع ئي قبضه اوکړله.او مبيع د وکيل د قبضي نه هلاك شو.حالانکه وکيل د ثمن په وجه مبيع خپل خان سره منع کړي (ساتلي) هم نه وو.نودا مبيع به د مؤکل د مال نه هلاك وی.يعنی د مؤکل مال تلف شو.د وکيل نشو.تردي چي ثمن به د مؤکل د ذمي نه نه ساقطيږی.اود وکيل د رجوع حق به باطل نه وی.بلکه وکيل ته به د مؤکل نه د خپل ورکړي شوی ثمن واپس اخستلو اختيار وی.

دليله< مبيع باندي د وکيل قبضه داسي شوه.لکه د مؤکل قبضه.نو هرکله چي وکيل د خپل ثمن په وجه مبيع منع نکړو.نود وکيل په قبضه کولو سره حکماً مؤکل قابض شو.او د وکيل په قبضه کي د مبيع هلاکيدل داسي دی.لکه د مؤکل په قبضه کي هلاکيدل.اود مؤکل په قبضه کي د هلاکيدلو په صورت کي د وکيل حق رجوع نه ساقطيږی.نو په دي صورت کي هم د وکيل، مؤکل ارخ ته د رجوع بالثمن اختيار نه ساقطيږی.

② علامه بدرالدين عينی رحمه الله په عينی شرح هدايه کي يو دليل دا ليکلي دي.چه مبيع د وکيل په قبضه کي امانت وی.ځکه چي وکيل په مبيع باندي خپل خان لپاره قبضه نه ده کړي.بلکه دمؤکل په اجازت سره ئي مؤکل لپاره قبضه کړي ده.او هرکله چي د مؤکل په اجازت سره ئي د مؤکل لپاره قبضه کړي ده.نو دا قبضه به د امانت په طور وی.اود تعدی نه بغير امانت هلاکيدلو سره امين باندي تاوان نه واجبيږی. ځکه به په دي مسئله کي هم وکيل باندي هيڅ تاوان نه واجبيږی.او هرکله چي د امين کيدلو په وجه وکيل باندي هيڅ تاوان نه واجبيږی.نو وکيل چي کوم ثمن بائع ته ورکړي دي.وکيل هم هغه ثمن د مؤکل نه واپس اخستي شی.د مؤکل د ذمي نه هغه ثمن نه ساقطيږی.

د وکيل ثمن قبض لپاره د مبيعي منع کولو حکم

وَلَهُ أَنْ يَحْبِسَهُ او وکيل ته اختيار دي.چه هغه مبيع منع کړی.حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الثَّمَنَ)تردي چي خپل ثمن وصول کړی.

حل اللغة< ① **يحبس**:بندوی ② **يستوفي**:پوره پوره حاصلوی

تشريح< د ثمن وصولولو نه مخکي مخکي وکيل مبيع خپل خان سره ساتلي شی.که وکيل بائع ته ثمن ورکړي وی.او که نه وی ورکړي.بهرحال مؤکل نه د ثمن وصولولو په خاطر وکيل ته د مبيع منع کولو اجازت دي. [1]

دليله< د وکيل او مؤکل په مينځ کي حکماً بيع وی.يعنی وکيل بالشراء حکماً بائع وی.او مؤکل

---

[1] **مذهب زفر رحمه الله**< حضرت امام زفر رحمه الله فرمائی.چه وکيل ته خپل خان سره د مبيع ساتلو هيڅ حق حاصل نه دي.امام مالك، امام شافعی ، او امام احمد رحمهم الله هم ددي قائل دی.(عينی)

مشتری وی.او په کتاب البیوع کې تیر شوی دی.چه بائع ته د ثمن وصولولو نه وړاندې د مبیع منع کولو اختیار وی.نو دلته کې به هم وکیل ته (چې حکماً بائع دې) د ثمن وصولیدلو نه وړاندې د مبیع منع کولو حق حاصل دې.

وکیل مبیع منع کړه او هلاکه شوه نو د ضمان به په څه وی؟

فَإِنْ حَبَسَهُ که وکیل مبیع خان سره اوساتلو. فَهَلَكَ فِي يَدِهِ بیا دا هلاك شو. د هغه په قبضه کښې كَانَ مَضْمُونًا ضَمَانَ الرَّهْنِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابویوسف رحمه الله په نیز به ضمان د رهن پشان مضمون وی.

تشریح د حضرت امام ابویوسف رحمه الله په نیز که وکیل بالشراء د مؤکل نه د ثمن وصولولو په خاطر مبیع خپل خان سره اوساتلو.اومبیع د وکیل په قبضه کې هلاك شو.نو مبیع د شئ مرهونه پشان مضمون وی.یعنی لکه څنګه چې د شئ مرهونه د هلاکیدلو په صورت کې د قیمت او دین نه کوم کم شی.هغې سره مضمون وی.مثلاً د شئ مرهونه قیمت پنځوس روپۍ دې.اود مرتهن د راهن په ذمه دین (قرض) شپیته روپۍ دی.نو شئ مرهونه به قیمت سره مضمون وی.یعنی د پنځوس روپو به مرتهن باندې ضمان واجب وی.او چونکه د مرتهن د راهن په ذمه شپیته روپۍ قرض دې.په دې وجه هغې نه پنځوس روپۍ تاوان اوبنګلو نه روسته به مرتهن د راهن نه لس روپۍ واپس اخلی.او که د شئ مرهونه قیمت شپیته روپۍ وی.او د راهن په ذمه دین پنځوس روپۍ وی.نو شئ مرهونه به دین سره مضمون وی.یعنی د شئ مرهونه په تاوان کې به د راهن په ذمه د مرتهن دین ساقطیږی.او راهن ته به د مرتهن نه د زیاتی هیڅ قسمه رقم مطالبې حق نه وی.څکه چې باقی د لس روپو مقدار مرتهن سره امانت دې.اود امانت هیڅ تاوان نه واجبیږی.په دې وجه به مرتهن باندې لس روپۍ تاوان واجب نه وی.
دغه شان په ذکر شوې مسئله کې د وکیل د قبضې نه د مبیع هلاکیدلو په صورت کې د مبیع د قیمت او ثمن نه کوم کم شی.هغې سره به مضمون وی.مثلاً وکیل بالشراء بائع سره پنځلس روپۍ ثمن باندې معامله کړې ده.اود هلاك شوی مبیع قیمت لس روپۍ دې.نو مبیع به قیمت سره مضمون وی.یعنی د مؤکل په ذمه به وکیل لپاره ثمن یعنی پنځلس روپې واجب وی.او مؤکل لپاره به په وکیل باندې د مبیع تاوان لس روپۍ واجب وی.نود ثمن نه د تاوان لس روپۍ اوبشکلو نه روسته به وکیل د مؤکل نه پنځه روپۍ واپس اخلی.اوکه ثمن لس روپۍ وی.او د مبیع قیمت پنځلس روپۍ وی.نو مبیع به ثمن سره مضمون وی. یعنی د وکیل په مؤکل باندې د لس روپو مقدار ثمن واجب دې.او مؤکل لپاره وکیل باندې د مبیع تاوان، د ثمن مقدار یعنی لس روپۍ واجب دی.نو نه به وکیل،مؤکل ارخ ته څه رجوع کوی.اونه به مؤکل، وکیل ارخ ته څه رجوع کوی.بهرحال دوکیل په قبضه کې د مبیع هلاکیدلو په صورت کې د امام ابویوسف رحمه الله په نیز به مبیع د شئ مرهونه د ضمان پشان مضمون وی.
دلیله دحضرت امام ابویوسف رحمه الله دلیل دادې.چه د وکیل په قبضه کې هلاك شوې مبیع د مؤکل نه د ثمن وصولولو لپاره د منع کولو په وجه مضمون شوې دې.څکه چې د منع کولو نه وړاندې مضمون نه وو.لکه څنګه چې وړاندې تیر شوی دی.چه د منع کولو نه وړاندې که مبیع د وکیل په قبضه کې هلاك شی.نو هغه د مؤکل د مال نه هلاکیږی.او وکیل باندې د هغې ضمان نه راځی.بهرحال د ثمن وصولولو په خاطر د وکیل خپل خان سره د مبیع ساتلو په وجه مبیع مضمون شوې دې.او بعینه هم دا د رهن معنی ده.یعنی لکه څنګه چې د قرض وصولولو لپاره مرتهن شئ مرهون خپل خان سره ساتی.دغه شان د ثمن وصولولو لپاره وکیل مبیع خپل خان سره ساتی.حاصل داچه هلاك شوې مبیع د شئ مرهونه پشان دې.نودا مبیع به د ضمان رهن پشان مضمون وی.او د ضمان رهن پوره تفصیل د امام ابویوسف

رحمه الله د مذهب لاندې تيرشوې دې.

وَضَمَانَ الْبَيعِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ ()اود امام محمد رحمه الله په نيز به ضمان د بيع پشان مضمون وى.

تشريح﴾ اود امام محمد رحمه الله په نيز د مبيع د ضمان پشان مضمون وى.يعنى لكه څنګه چې مبيع د بائع په قبضه كې هلاك شى.نود مشترى د ذمه نه د هغې ثمن ساقطيږى.د مبيع قيمت كه د ثمن نه كم وى.اوكه زيات وى.دغه شان كله چې د وكيل د قبضې نه مبيع هلاك شو.نود مؤكل د ذمه نه به ثمن ساقطيږى.كه د مبيع قيمت د ثمن نه كم وى.اوكه زيات وى.اوهم دا قول د امام ابوحنيفه رحمه الله دې.

دليلهما﴾ دطرفينو رحمهما الله دليل دادې.چه د وكيل او مؤكل په مينځ كې چونكه حكماً عقد بيع منعقد كيږى. څكه به وكيل په منزله د بائع وى.او مؤكل به په منزله د مشترى وى.او بائع ته د خپل ثمن وصولولو لپاره د مبيع منع كولو حق وى.نود وكيل مبيع منع كول به هم د مؤكل نه د ثمن وصولولو لپاره وى.او مبيع كه د بائع سره هلاك شى.نود مشترى د ذمې نه ثمن ساقطيږى.كه ثمن د قيمت نه زيات وى.او كه كم وى. دغه شان كله چې مبيع وكيل سره هلاك شو.نود مؤكل د ذمې نه ثمن ساقطيږى.كه ثمن د قيمت نه زيات وى.اوكه كم وى. بهرحال ددې دليل نه ثابته شوه.چه د طرفينو رحمهما الله په نيز وكيل سره هلاك شوې مبيع به د ضمان بيع پشان مضمون وى.

الإعتراض﴾ علامه ابن الهمام او صاحب دعنايه رحمهما الله د طرفينو رحمهما الله په ذكر شوى دليل باندې كړې دې.كه واقعى وكيل د بائع په مرتبه كې دې.نود مبيع هلاكيدلو په صورت كې به هرصورت كې په ده باندې ضمان واجبيدل پكار وو.كه وكيل مبيع خپل خان سره ساتلو.اوكه نه ساتلو.څكه (په دواړه صورتونوكې) كه مبيع بائع سره هلاك شى.نو هغه په بائع باندې مضمون وى.يعنى د بائع د مال نه هلاك شمارلې كيږى.اګرچه بائع دا نه وى منع كړې.هم دا وجه ده.چه د مشترى د ذمې نه ثمن ساقطيږى.نو هركله چې وكيل د بائع په مرتبه كې دې.نو دده سره د مبيع د هلاكت په صورت كې په ده باندې هم مبيع مضمون كيدل پكار وو.يعنى مبيع د وكيل د مال نه هلاكت شمارل پكار وو.كه وكيل دا منع كړې وو.اوكه منع كړې نې نه وو.حالانكه وړاندې ونيلى شوى دى.كه وكيل مبيع نه وى منع كړې.او هغه دده سره هلاك شو.نودا به د مؤكل د مال نه هلاك وى.يعنى د مؤكل د ذمې نه به ثمن ساقط نه وى ؟

الجواب﴾بيا ئې جواب دا كړې دې چې هركله وكيل خپل خان سره مبيع اوساتلو.نودا خبره متعين شوه.چه وكيل په مبيع باندې خپل خان لپاره قبضه كړې وه.او هركله چې وكيل په مبيع باندې خپل خان لپاره قبضه كړې وه.نو دده بائع كيدل يقينى شو.او هركله چې د وكيل بائع كيدل يقينى شو.نود مبيع هلاكيدلو په صورت كې به وكيل باندې يقيناً ضمان لازم وى.يعنى د مؤكل د ذمې نه به ثمن ساقطيږى.او هركله چې وكيل خپل خان سره مبيع اونه ساتلو.نود وكيل قبضه كول به د مؤكل لپاره وى.او وكيل به د قاصد مشابه وى.او دده سره د مبيع هلاكيدل به د امانت هلاكيدل وى.او د امانت په هلاكيدلو سره امين باندې ضمان نه واجبيږى.نو ددې مبيع ضمان به په وكيل باندې واجب نه وى.بلكه په مؤكل به واجب وى.يعنى د مؤكل د مال نه به هلاك وى.اود مؤكل د ذمې نه به ثمن ساقط نه وى.

د يو وكيل په غير موجودګئ كښې د دوئم وكيل د تصرف حكم

(وَإِذَاوَكَّلَ رجلَيْنِ اوهركله چې ده دوه نفر وكيلان كړل فَلَيْسَ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ فِيمَاوُكِّلَا بِهِ

[1]) القول الراجح هوقول الطرفين وقال ابويوسف يضمن ضمان الرهن كذا في العناية (٣٨\٧) والبحرالرائق (١٥٦\٧) ومجمع الأنهر(٣١٩\٣)والخانية (١٦٢\٣) نقلاً عن القول الراجح (١٥١\٢)

دُونَ الۡآخَرِ) نو په دوی کي يو لپاره د دوئم نه بغير دا اختيار نشته.چه دې په هغه شئ کي تصرف اوکړي.دکوم چي دواړه وکيلان جوړ کړې شوی دی.

عدم جواز تصرف أحدالوکيل ﴿صورت د مسئلې دادې.چه يوسړی دوه سړی په يو کلام سره وکيلان کړل.مثلاً دائې اووئيل.چه دا دواړه د خپل غلام خرڅولو،يا خپلې ښځې سره د خلع وکيلان کړل.نو په دوی دواړو وکيلانو کي به يوکس ته د دوئم د رائې نه بغير په دې شئ کي د تصرف اختيار نه وی.په کوم شئ کي چي دواړه وکيلان جوړ کړې شوی دی.مرغينانی رحمه الله فرمائيلي دی.چه دا حکم په داسې تصرف کي دې.په کوم کي چي رائې ته اړتيا راپيښيږی.لکه خلع، بيع وغيره.چه يو څو رائې سره اتفاق راشي.او مضبوطي حاصله شي.

دليله ﴿هرکله موکل دوه سړی وکيلان کړل.نو ددې مطلب دادې.چه موکل ددوی دواړو په رائې باندې راضی شوې وو.صرف د يو په رائې باندې نه وو راضی شوې.او هرکله چې موکل د دواړو په رائې باندې راضی شوې وو.نود يو وکيل په تصرف باندې به موکل راضی نه وی.او هرکله چې موکل په دې باندې راضی نه دې.نو صرف يو وکيل ته به د تصرف اختيار نه وی.بلکه د دواړو رائې يوځائې کول به ضروری وی.

د خصومت دوه وکيلانو کښې د يو په
غير موجودګئ کښې د دوئم دد تصرف حکم

(إِلَّاأَنۡ يُوَكِّلَهُمَا بِالۡخُصُومَةِ)خوکه دا دواړه د خصومت وکيلان کړی (نو تصرف کولې شی).

تشريح ﴿ **صورة نفاذ تصرف أحدالوکيلين في الخصومة** ﴿په دې ځائې کي ابو الحسن قدوری د هغه صورتونو بيان کوی په کومو کي چې يوکس دوه سړی وکيلان جوړ کړې وی.نو په دوی کي يو وکيل ته د دوئم وکيل د رائې نه بغير د تصرف حق حاصل نه دې.خو يو څو صورتونه داسې دی.چه هلته کي د دوه کسانو د وکيل جوړولو باوجود د يو کس تصرف جائز اوکافی دې.هغې کي يو صورت دادې.چه يوکس د قاضی په عدالت کي دمقدمه پيش کولو لپاره دوه سړی وکيلان کړل.خو په دوی کي يو وکيل د دوئم نه بغير مقدمه پيش کړله.نودا جائز ده.

دليله ﴿د مقدمه پيش کولو په وخت دقاضی په مجلس کي د خلقو اجتماع معذر ده.[1] ځکه چې د ډيرو خلقو يوځائې کيدلو سره به شور، شغب وی.حالانکه د قاضی مجلس د شور شغب نه محفوظ ساتل ضروری دی.او د قاضی مجلس د شور شغب نه محفوظ ساتل ځکه ضروری دی.چه د مقدمه پيش کولو نه مقصود حق ښکاره کول دی.اود شور شغب په وجه دا مقصود نه حاصليږی.[2] دويمه وجه داده.د شور،شغب په وجه د قاضی د مجلس هيبت ختميږی.حالانکه ددې باقی ساتل ضروری دی.نوهرکله چې يوکس د مقدمه پيش کولو لپاره دوه سړی وکيلان کړل.حالانکه هغه ته معلومه ده.چه ددوی دواړو جمع کول متعذر دی.ګويا هغه په دوی کي د يوکس په مقدمه پيش کولو باندې راضی شو.اوهرکله چې موکل د يو په مقدمه پيش کولو باندې راضی شو.نو په دوی کي صرف د يو وکيل د قاضی په عدالت کي مقدمه پيش کول به صحيح او جائز وی.

أَوۡبِطَلَاقِ زَوۡجَتِهِ بِغَيۡرِعِوَضٍ)ياد عوض نه بغير خپلې ښځې ته د طلاق ورکولو، لپاره ئې دواړه وکيلان کړی.(أَوۡبِعِتۡقِ عَبۡدِهِ بِغَيۡرِعِوَضٍ يا د عوض نه بغير خپل غلام آزادولو، لپاره ئې دواړه وکيلان کړی. أَوۡ بِرَدِّوَدِيعَةٍعِنۡدَهُ يا دده سره د وديعت په واپس کولو لپاره ئې دواړه وکيلان کړی. أَوۡقَضَاءِدَيۡنٍ عَلَيۡهِ) يا کومه قرضه چې په ده موجود ده.د هغې د ادا کولو لپاره ئې دواړه وکيلان کړی.

تشريح ② دوئم صورت دادې.چه دوه سړی ددې خبرې وکيلان کړی.چه هغوی دواړه د عوض نه بغير دده ښځې ته طلاق ورکړی.په دې صورت کې به هم په دوی کې خانله يو وکيل ته د طلاق ور کولو اختيار وی. ③ دريم صورت دادې.که دوه سړی ئې بغير د عوض نه د خپل غلام آزادولو وکيلان کړل.نو بيا هم په دوی کې يو وکيل لپاره آزادول جائز دی.

④ څلورم صورت دادې.که يوکس سره دچا وديعت وی.او دا سړې د وديعت واپس کولو لپاره دوه سړی وکيلان کړی.نو صرف يو وکيل دا وديعت واپس کولې شی.

⑤ پنځم صورت دادې.چه په موکل کومه قرضه ده.د هغې د ادا کولو لپاره موکل دوه سړی وکيلان کړل.نو په دوی دواړوکې يو وکيل قرضه ادا کولې شی.

دليلها په دې څلور واړه صورتونوکې د رائې او مشورې هيڅ اړتيا نشته.بلکه توکيل صرف د موکل کلام اداکول دی.يعنی طلاق، عتاق، وديعت اداکول،او قرض اداکولوکې د وکيل کار بس صرف دومره دې.چه دموکل کلام ادا کړی.اوپه کلام ادا کولو کې يو او دوه دواړه برابر دی.خکه چې په معنی کې هيڅ اختلاف نشته.نو لکه څنګه چې دوه سړی د موکل د کلام ترجمانی کوی.دغه شان به يوکس هم کوی.په دوی دواړوکې هيڅ فرق نشته.

د وکيل لپاره بل کس وکيل جوړولو حکم

(وَلَيْسَ لِلْوَكِيلِ او وکيل ته داحق نشته. أَنْ يُوَكِّلَ فِيمَا وُكِّلَ بِهِ) چې په کوم کار کې هغه وکيل جوړ کړې شوې دې.په هغې کې بل څوك وکيل کړی.

تشريح **عدم جوازتوكيل الوكيل غيره** وکيل په کوم کار کې وکيل جوړکړې شوې دې.دا وکيل په دغه کار کې بل څوك وکيل نشی جوړولې.

دليله خکه چې موکل وکيل ته په دې کار کې تصرف سپارلې دې.د کوم چې دې وکيل جوړکړې شوې دې.او ددې تصرف لپاره بل څوك وکيل کول هغه ته نه دی سپارلی شوی.نو هغه له به بل څوك وکيل کول هم جائز نه وی.اود توکيل عدم جواز خکه دې.چه موکل صرف د وکيل په رائې باندې راضی شوې دې.اود خلقو رائې مختلف وی.نو دده په رائې باندې راضی کيدلو سره دبل په رائې باندې راضی کيدل نه لازميږی.او هرکله چې داسې ده.نو د وکيل د خپل ځان نه علاوه بل څوك ددې کار لپاره وکيل کول به هم ناجائز وی.

((إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ الْمُوَكِّلُ)خودا چې موکل ده ته اجازت ورکړی. (أَوْيَقُولَ لَهُ اعْمَلْ بِرَأْيِكَ)يا موکل وکيل ته اووائی.چه پخپله رائې باندې عمل اوکړه.

تشريح **صورة جوازتوكيل الوكيل** خو که موکل خپل وکيل ته ددې خبرې اجازت ورکړی.نو وکيل ته دې دا اووائی.چه ته پخپله رائې باندې عمل اوکړه.نو په دې صورت کې به هم دده لپاره وکيل کول جائز وی.

دليله خکه چې دې صورت کې تصرف علی الاطلاق د وکيل رائې ته سپارلې شوې دې.نود موکل اجازت او حکم لاندې د وکيل خپل ځان نه علاوه بل څوك وکيل کول به هم صحيح وی.مرغينانی رحمه الله فرمائيلی دی.چه په ذکرشوی دوه صورتونوکې د وکيل توکيل کول جائز دی.

الوكيل الثاني من الموكل الثاني دون الأول خو دوئم وکيل به د موکل د اړخه وکيل وی.د رومبی وکيل د اړخه به نه وی.خکه به وکيل اول ته د وکيل ثانی د معزول کولو اجازت نه وی.اود وکيل اول په مرګ سره به وکيل ثانی نه معزول کيږی.البته د موکل په مرګ سره به دواړه معزول کيږی.مرغينانی رحمه الله

فرمائیلی دی چه ددې مسئلې مثال په ادب القاضی کې د باب التحکیم نه وړاندې د ..فصل اخر،، لاندې تیرشوې دې.

د موکل د اجازت نه بغیر د وکیل ثانی د جوړولو او د تصرف حکم

(فَإِنْ وَكَّلَ بِغَيْرِ إِذْنِ مُوَكِّلِهِ اوکه وکیل اول د موکل د اجازت نه بغیر دوئم وکیل جوړکړو. فَعَقَدَ وَكِيلُهُ بِحَضْرَتِهِ نود ړومبی وکیل وکیل (یعنی وکیل ثانی) د ړومبی وکیل په موجودګۍ کې عقد اوکړو جَازَ).نو جائز دې.

تشریح> **جوازتوکیل الوکیل غیره في حضورالمؤکل>** که وکیل د خپل موکل د اجازت نه بغیر څوک په دې معامله کې وکیل جوړ کړو.په کوم کې چې پخپله دې وکیل جوړکړې شوې دې.او وکیل ثانی د اول وکیل په موجودګۍ کې عقد اوکړو.نودا عقد به جائز او نافذ وی.

دلیله> خکه د موکل مقصود دا وو.چه د وکیل اول رائې موجود وی.او په ذکرشوی صورت کې د وکیل اول رائې موجود شوه.نو هرکله چې د وکیل اول رائې موجود شوه.نود موکل مقصود حاصل شو.او هرکله چې د موکل مقصود حاصل شو.نود وکیل ثانی منعقد شوې عقد به هم جائز وی.

(وَإِنْ عَقَدَ بِغَيْرِ حَضْرَتِهِ اوکه وکیل ثانی د وکیل اول په غیرموجودګۍ کې عقد اوکړو فَأَجَازَهُ الْوَكِيلُ الْأَوَّلُ جَازَ نو اولنی وکیل دا جائز اوګرځوله نو جائز ده.

تشریح> **عدم جوازالعقدفي غیبة المؤکل>** اوکه وکیل ثانی د وکیل اول په غیرموجودګۍ کې عقد اوکړو.نودا عقد به جائز اونافذ نه وی.

دلیله> خکه چې په دې صورت کې د وکیل اول رائې موجود نه ده.اوهرکله چې د وکیل او رائې فوت شوه.نو د موکل مقصود حاصل نشو.او هرکله چې د موکل مقصود حاصل نشو.نو عقد به هم جائز نه وی.

صورة جوازالعقد> خوکه د وکیل ثانی د عقد خبر وکیل ته اورسیدلو.او وکیل اول ددې عقد اجازت ورکړو.نودوکیل اول د رائې متحقق کیدلو په وجه به دا عقد جائز او نافذ وی.

د وکالت نه د وکیل معزوله کول

(وَلِلْمُوَكِّلِ أَنْ يَعْزِلَ الْوَكِيلَ عَنِ الْوَكَالَةِ)موکل ته اختیار دې.چه خپل وکیل د وکالت نه معزول کړی.

تشریح> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.موکل ته اختیار دې.چه هغه خپل وکیل د وکالت نه معزول کړی.

دلیله> خکه چې وکالت د موکل حق دې.او هر صاحب حق ته د خپل حق ختمولو اختیار وی.نو موکل ته به هم د خپل حق وکالت ختمولو او باطلولو پوره پوره اختیار وی.

صورة عدم جواز العزل> البته که وکالت سره د بل چا حق هم معلق وی.نو موکل ته به د هغه بل سړی د رضامندۍ نه بغیر د وکالت ختمولو اختیار نه وی.مثلاً د قاضی په عدالت کې د مدعی په درخواست باندې مدعی علیه د خصومت وکیل ورکړې وی.نود مدعی د رضا مندۍ نه بغیر به مدعی علیه لپاره ددې وکیل معزول کول جائز نه وی.خکه چې دې وکالت سره د مدعی حق متعلق دې.په دې طریقه چې مدعی به د قاضی په مجلس کې وکیل حاضروی.او هغه سره به مخاصمه کوی.او هغه باندې به حق ثابتوی.نو که مدعی علیه دا وکیل معزول کړو.نود مدعی حق به باطل شی.حالانکه د صاحب حق د

رضامندئ نه بغير د هغه حق باطلول جائز نه دی.نو په دې صورت کې د مدعی علیه خپل وکیل د مدعی د رضامندئ نه بغیر معزول کول به هم صحیح نه وی.

د معزول کیدلو خبر نه رسیدو پورې د وکالت او تصرف حکم

(فَإِنْ لَمْ يَبْلُغْهُ الْعَزْلُ نو که وکیل ته د معزول کولو خبر اونه رسیدلو. فَهُوَعَلَى وَكَالَتِهِ نو هغه به پخپل وکالت باندې پاتې وی. وَتَصَرُّفُهُ جَائِزٌ حَتَّى يَعْلَمَ) او د هغه تصرف به جائز وی.تردې چې هغه ته معلومه شی.

تشریح مرغینانی رحمه الله د مذکوره مسئلې لپاره دلیل بیان کړې دې.چه د وکیل په معزول کولوکې په دوه وجو سره د وکیل ضرر دی. ① یودا چې کله مؤکل وکیل معزول کوی.نودې د هغه ولایت باطلوی.اود هغه تکذیب کوی. ګویا مؤکل د وکیل په دعوه کې تکذیب کوی.او داسې وائی.چه زما د معزول کولو په وجه دده ولایت باطل شوې دې.اود یو انسان د هغه په قول کې تکذیب کول دا دهغه په حق کې ښکاره ضرر دې.نو ثابته شوه. چې وکیل د اطلاع نه بغیر معزول کول وکیل په ضرر کې مبتلاکول دی.

② دویمه وجه داده.چه حقوق د عقد وکیل اړخ ته واپس کیږی.لکه وکیل که د اخستلو وکیل وی.نو هغه د مؤکل د مال نه ثمن اداکوی.اوکه وکیل بالبیع وی.نو وکیل به مبیع سپارلو.اوس که وکیل معزول کړې شو.او هغه ته د خپل معزول کیدلو علم اونشو.او ددې معزول کیدلو اعتبار هم اوکړې شو.نود عزل نه روسته چې دده د اړخه کوم تصرف هم کیږی.هغه به پخپله د وکیل لپاره واقع کیږی.اود ثمن ادا کولو په صورت کې به د ثمن ضامن وی.اود مبیع سپارلو په صورت کې به د مبیع ضامن وی.او ددې ضمان په وجه به وکیل په ضرر کې اخته کیږی.بهرحال وکیل ته د اطلاع ور کولو نه بغیر که د وکیل معزول کیدلو اعتبار اوکړې شی.نو وکیل به په دوه وجو سره ضرر کې مبتلاکیږی.او شرعاً ضرر لرې کولې شی.نود وکیل مذکوره ضرر لرې کولو لپاره وکیل ته د اطلاع ور کولو نه بغیر د هغه معزول کول به معتبر نه وی.

د موکل په مرګ، لیونتوب او مرتد کیدو د وکالت حکم

(وَتَبْطُلُ الْوَكَالَةُ بِمَوْتِ الْمُوَكِّلِ او وکالت باطلیږی.د مؤکل په مرګ سره، وَجُنُونِهِ جُنُونًا مُطْبِقًا او دده همیشه طور باندې مجنون کیدلو سره، وَلِحَاقِهِ بِدَارِالْحَرْبِ مُرْتَدًّا) اودده په مرتد کیدلو سره چې دارالحرب ته لاړشی.

تشریح ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمانی.چه په یو څو صورتونو کې وکالت باطلیږی. ① یودا چې مرګ واقع شی.

② دونم داچه مؤکل شپه ورځ خلیریشت ګنتې مجنون پاتې شی.

③ دریم داچه مؤکل مرتد شی.او دارالحرب ته لاړشی.او هلته کې رهائش اختیار کړی.

دلیله توکیل یو غیرلازم تصرف دې.ځکه چې لزوم د هغه شئ نوم دې.د کوم وجود چې د دواړه ډلو په رضامندئ باندې موقوف وی.حالانکه په توکیل کې داسې نه ده.بلکه مؤکل او وکیل دواړوکې هریو ته د وکالت فسخ کولو اختیار دې.چه هغه خپل ځان د وکالت نه منع کړی.او مؤکل لپاره دا اختیار دې.چه هغه وکیل د وکالت نه منع کړی.بهرحال توکیل غیرلازم تصرف دې.اود غیرلازم تصرف د بقاء او دوام لپاره هم هروخت د مؤکل موجود پاتې کیدل ضروری دی.او ذکر شوی عوارض یعنی مرګ،

جنون مطبق، او مرتد کېدلو په وجه د موکل امر باطلیږي.په دې وجه دې عوارضو سره وکالت هم باطلیږي.

شرطية الجنون بالمطبق> مرغیناني رحمه الله فرمائیلي دي.چه مصنف د قدوري رحمه الله جنون د مطبق قید سره مقید کړې دې. یعنې داسې جنون وي.چه شپه ورځ هروخت موجود پاتې وي.ځکه چې لږشان جنون چې دځه وخته پورې وي.او بیا ختمیږي.هغه د اغماء او بې هوشۍ په مرتبه کې وي.اود موکل د بې هوشۍ په وجه وکالت نه باطلیږي.

حدالإطباق> مرغیناني رحمه الله فرمائیلي دي.چه د جنون مطبق حد د حضرت امام ابویوسف رحمه الله په نیز یوه میاشت دې.اودا ئې په دې قیاس کړې دې.که څوك د رمضان یوه میاشت مجنون پاتې شو.نود هغه د ذمې نه د رمضان روژه ساقطیږي.ځکه چې هرکله چې هغه د عباداتِ الهی د خطاب اهل نه دې.نود دنیاوی معاملاتو اهل به هم نه وي.او هرکله چې دده اهلیت ختم شو.نو توکیل به ئې هم باطلیږي.

الرواية الثانية عن أبي يوسف رحمه الله> دحضرت امام ابویوسف رحمه الله نه یو روایت دادې.چه د جنون مطبق حد یو ورځ اوشپه ده.یو روایت دادې.چه دجنون مطبق حد د یو ورځ او شپې نه زیات دې.یعنې که موکل د یو ورځ او شپې نه زیات په جنون کې مبتلا پاتې شو.نود هغه وکالت به باطل وي.او وجه ددې داده.چه پیوسته یوه ورځ شپه د مجنون پاتې کېدلو په صورت کې پنځه واړه مونځونه دده د ذمې نه ساقطیږي.نو په دې موده کې مجنون پاتې کېدونکې سړې د مړي پشان دې.او هرکله چې دا مجنون د مړي پشان شو.نود وکالت اهل (او قابل) به هم نه وي.او هرکله چې د وکالت اهل پاتې نشو.نود هغه وکالت به هم باطل وي.امام محمد رحمه الله فرمائي.چه د جنون مطبق حد او موده یو کال دې.ځکه چې د پوره یو کال مجنون پاتې کېدونکې سړي نه واړه عبادتونه مونځ، روژه، زکاة، ساقطیږي.نود جنون مطبق حد احتیاطاً د یو کال مودې سره اندازه کړې شوې دې.

د وکالت باطلېدو ځينې صورتونه

(وَإِذَاوَكَّلَ الْمُكَاتَبُ رجلاوکله چې مکاتب یو سړي وکیل کړلو.ثُمَّ عَجَزَبیا دې عاجزه شو.أَوْالْمَأْذُونُ لَهُیا ماذون له وکیل کړلو.فَحُجِرَعَلَيْهِبیا هغه محجور شو.أَوْالشَّرِيكَانِیا دوه شریکانو وکیل کړو.فَافْتَرَقَابیا دوی جدا شول.فَهَذِهِ الْوُجُوهُ كلهاتُبْطِلُ الْوَكَالَةَعَلَى الْوَكِيلِنودا ټول وجوه وکیل باندې وکالت باطلوي.عَلِمَ أَوْلَمْ يَعْلَمْ) وکیل ته علم وي.اوکه نه وي.

تشريح> که مکاتب یوکس وکیل کړو.او بیا مکاتب د بدل کتابت ادا کولو نه عاجز شو .یعنې بیا رقیق (غلام) شو.یا عبد ماذون له یوکس وکیل کړو.بیا مولا ده لره د تجارت نه منع کړو.یا په دوه شریکانوکې یوکس څوك وکیل کړو.بیا دوی دواړه (شریکان) جدا شو.یعنې شرکت باقي پاتې نشو.نو په دې ټولو صورتونوکې به وکالت باطل وي.وکیل ته که ددې څيزونو علم وي.اوکه نه وي.

دليله> ځکه مونږ وړاندې ذکرکړي دي.چه د وکالت بقاء د موکل د حکم په بناء باندې موقوف ده.او په مذکوره صورتونوکې دموکل حکم باطلیږي.یعنې د عبد ماذون له حکم د حجر (یعنې د تجارت نه د بندېدلو) په وجه،اود مکاتب حکم د عجز په وجه.او په شریکینوکې د یوکس حکم د افتراق (او جداکېدلو) په وجه باطلیږي.

استواء العلم والجهل> او په دې صورتونوکې د وکیل په علم او عدم علم کې فرق ځکه نه دې شوې.چه په دې صورتونو کې د وکیل معزول کېدل، امرحکمي او غیراختیاري دي.یعنې په دې صورتونوکې د معزول کېدلو نه بغیر وکیل معزول کیږي.اود وکیل علم (او خبرېدل) عزل قصدي او ارادي لپاره شرط

دی.د عزل حکمی لپاره شرط نه دی.یعنی که مؤکل بالقصد او بالاختیار خپل وکیل معزول کړی.نود معزول کیدلو لپاره د وکیل خبریدل ضروری دی.اوکه د مؤکل د اختیار او ارادې نه بغیر وکیل معزول شو.نود وکیل خبریدل ضروری دی.بهرحال په ذکر شوی صورتونوکي د وکیل عزل حکمی او غیراختیاری دی.نودا معزول کیدل به د وکیل په حکم باندې موقوف نه وی.بلکه وکیل به بهرحال معزول کیږی.هغه ته که ددې علم وی اوکه نه وی.لکه مثلاً یو سړي وکیل بالبیع وی.او بیا مؤکل هم هغه شئ پخپله خرڅ کړی.دکوم د خرڅولو نې چې وکیل کړې وو.نو وکیل به معزول وی.که هغه ته معلومه وی.اوکه معلومه نه وی.ځکه چې د مؤکل ددې شئ د خرڅولو نه روسته د وکیل د تصرفاتو محل باقی پاتې نشو.نود وکیل وکالت به هم نه پاتې کیږی.

د وکیل په مرګ یا لیونتوب باندې د وکالت حکم

(وَإِذَامَاتَ الْوَكِيلُ اوکله چې وکیل مړشی. أَوْجُنَّ جُنُونًا مُّطْبِقًا یا دہ ته جنون مطبق اوشی. بَطَلَتِ الْوَكَالَةُ)نو وکالت به باطل وی.

تشریح> په تیرو شوو صفحاتو کې هغه عوارض بیان کړې شوی وو.کوم چې د مؤکل د اړخه وکالت باطلونکی وو.اوس دلته د هغه عوارضو بیان دې.کوم چې د وکیل د اړخه وکالت باطلوی.لکه فرمائی.که وکیل مړشو.یا ده ته جنون مطبق اوشو.نو وکالت به باطلیږی.

دلیله> دلیل دادې.چه د وکیل په مجنون کیدلو،او مرګ نه روسته دده مامور کیدل او وکیل کیدل صحیح نه دی.حالانکه دوکالت د صحت لپاره دا خبره ضروری ده.چه د وکیل مامور کیدل برابر صحیح باقی وی. نو هرکله چې د جنون مطبق او مرګ نه روسته د وکیل مامور کیدل صحیح پاتې نشو.نو وکالت به هم نه پاتې کیږی.بلکه باطل به وی.نو په حکم د وکالت به دده تصرف کول جائز نه وی.

البته که دې د دارالحرب نه دارالاسلام ته مسلمان راواپس شو.یعنی که وکیل مرتد دوباره مسلمان شو.او د دارالحرب نه دارالاسلام ته واپس راغئ.نو په حکم د وکالت به دده تصرف جائز وی.

وَإِنْ لَحِقَ بِدَارِالْحَرْبِ مُرْتَدًّا اوکه وکیل مرتد شو او لاړل دار حرب ته لَمْ يَجُزْلَهُ التَّصَرُّفُ نو جائز نه دې د ده دپاره تصرف کول إِلَّا أَنْ يَعُوْدَ مُسْلِمًا مګر دا چې بیرته مسلمان راواپس شی.

تشریح> **مذهب محمد**> مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه دوباره مسلمانیدل او واپس راتګ په صورت کې د وکیل تصرف جائز کیدل د حضرت امام محمد رحمه الله مذهب دې.

دلیله> د حضرت امام محمد رحمه الله دلیل دادې.چه وکالت د تصرف د اطلاق او اجازت نوم دې.ځکه چې وکالت د مانع او رکاوټ لرې کولو نوم دې.یعنی وکیل ته د مؤکل په معاملاتوکې د تصرف کولو نه شرعاً ممانعت وو.خو کله چې مؤکل وکیل جوړکړو.او ممانعت ئې لرې کړو.نو وکیل لپاره اجازت حاصل شو.اود تصرف کولو لپاره د وکیل لاس کلاؤ شو.او پاتې شو وکیل نو دې د داسې معانیو په وجه تصرف کوی.کومې معانې چې دده دذات سره قائم دی.یعنی دده آزاد، عاقل، بالغ کیدل.حاصل داچه په ذریعه د وکالت د مؤکل د اړخه وکیل ته د تصرف کولو اجازت هم حاصل شو.او وکیل د حریت، عقل او بلوغ په وجه د تصرف کولو اهل هم دې.خو وکیل د یو عارض په وجه تصرف کولو نه عاجز شوې وو.او هغه عارض د وکیل دار الحرب ته تلل وو.ځکه چې په دارالاسلام او دارالحرب کې تباین دی.نود تباین دار په وجه وکیل د تصرف کولو نه عاجز شو.خو کله چې مرتد وکیل مسلمان شو.او دارالاسلام ته واپس راغئ.نو عجز عن التصرف زائل شو.اود مؤکل د اړخه اجازت برابر قائم

دي.نو هركله چې د موکل د اړخه اجازت قائم دې.او عجز زائل شو.نو وکيل به تيرشوی وکالت باندې واپس کيږي.اوډ وکيل په حيثيت به موکل لپاره د تصرف اجازت وي.

مذهب أبي يوسف> د امام ابويوسف رحمه الله په نيز باطل شوې وکالت نه واپس کيږي.اګرچه وکيل دوباره مسلمان شي.او واپس راشي.(¹)

دليله> د حضرت امام ابويوسف رحمه الله دليل دادې.چه وکالت د تصرف نوم نه دې.بلکه د تصرف نافذولو د ولايت نوم، وکالت دې.ځکه چې وکيل ته د اصل تصرف لياقت حاصل دې.نو وکيل د موکل په مال کې د تصرف لياقت لرې.خو هغه لپاره دا تصرف جائز نه دې.اوډ تصرف نافذولو ولايت هغه وخت حاصليږي.کله چې هغه ددې تصرف مالك وي.نو هرکله موکل ځوك وکيل کړو.نو وکيل ددې تصرف مالك شو.بيا کله چې وکيل دارالحرب کې ګډ شو.نو هغه مړو سړوکي ګډ شو.او کله چې وکيل په مړو سړوکي ګډ شو.نود هغه ملك باطل شو.ځکه چې مړ سړې د مالك جوړيدلو اهليت نه لرې.او هرکله چې د وکيل ملك باطل شو.نود هغه ولايت هم باطل شو.يعنی د تصرف نافذولو ولايت پاتې نشو.او باطل شوې شئ نه واپس کيږي.نو ځکه به د تصرف نافذولو ولايت نه واپس کيږي.او مسلمانيدل او دارالاسلام ته واپس راتګ و سره به د وکيل مخکني وکالت نه حاصليږي.لکه چې په ام ولد او مدبر کې دده ملکيت نه واپس کيږي.يعنی که مذکوره وکيل مرتد شو.او دارالحرب کې ګډ شو.يعنی قاضي دهغه دحربی کيدلو حکم ورکړو.نود هغه ام ولد وينځه او مدبر غلام آزاد شول.ځکه چې مدبر او ام ولد د مولا په مرګ سره آزاديږي.اوډ مولا په دارالحرب کې شامليدل هم د مرګ برابر دی.ځکه به دوی دواړه آزاديږي.اوس که مذکوره مرتد وکيل مسلمان شو.او دارالاسلام ته راواپس شو.نو دده ام ولد او مدبر به دوباره دده په ملکيت کې نه راځي.دغه شان به دده وکالت هم نه راواپس کيږي. يعنی ده ته به د تصرف نافذولو ولايت نه حاصليږي.

د وکيل جوړولو نه روسته پخپله کار کولو سره د وکالت حکم

(وَمَنْ وَكَّلَ آخَرَ بِشَيْءٍ که يوکس بل ځوك دځه کار وکيل کړو. ثُمَّ تَصَرَّفَ بِنَفْسِهِ فِيمَا وَكَّلَ بِهِ بيا د کوم کارنې چې وکيل کړې وو.هغه نې پخپله اوکړو. بَطَلَتِ الْوَكَالَةُ)نو وکالت باطل شو.

تشريح> صورت د مسئلې دا دې.که يو سړي بل ځوك دځه کار لپاره وکيل کړو.بيا د کوم کار لپاره نې چې وکيل کړې وو.موکل هغه پخپله اوکړو.نو وکالت باطل شو.

صوره> مرغيناني رحمه الله فرمانيلی دی.چه د قدوری دا متن ډيرو صورتونو ته ګډ دې.مثلاً ① دخپل غلام آزادولو لپاره نې وکيل کړو.بيا موکل دا پخپله آزاد کړو. ② د خپل غلام مکاتب کولو لپاره نې وکيل کړو.بيا موکل پخپله دا مکاتب کړو. ③ ددې خبرې لپاره نې وکيل کړو.چه دې يوې معينې ښځې سره د موکل نکاح اوکړي.خو موکل پخپله دغه ښځې سره نکاح اوکړله. ④ د يو معين شئ اخستلو لپاره نې وکيل کړو.بيا موکل دغه شئ پخپله واخستلو. ⑤ (د موکل) خپلې ښځې ته د طلاق ور کولو لپاره نې وکيل کړو.بيا موکل پخپله هغې ته درې طلاقه ورکړل.يا نې يو طلاق ورکړو.اوډ هغې عدت تير شو. ⑥ (د موکل) خپلې ښځې سره د خلع کولو لپاره نې وکيل کړو.بيا موکل پخپله هغې ته خلع ورکړله. نو په دې ټولو صورتونوکې به وکالت باطل وي.او وکيل ته به په حکم د وکالت په

---

¹) القول الراجح هو قول أبي يوسف رحمه الله كذا في نتائج الأفكار(۱۳۸\۷) والعناية (۱۳۸\۷) وردالمحتار (۲٦٤\٤) والبحر(۱۹۰\۷) نقلاً عن القول الراجح(۱٦۷\۲)

دې کارکي د تصرف کولو اختيار نه وي.دکوم چې دې وکيل جوړ کړې شوې وو.

دليله> په تولو صورتونوکي د وکالت باطليدلو دليل دادې.چه کله مؤکل پخپله تصرف اوکړو.نو وکيل لپاره تصرف کول متعذر شو.ځکه چې د مؤکل د تصرف کولو نه روسته د وکيل تصرف کول تحصيل حاصل ته مستلزم دی.حالانکه تحصيل دحاصل ممتنع دې.بهرحال وکيل باندې تصرف کول متعذر شو.نو وکالت باطل شو.ځکه چې د وکيل د تصرف کولو نوم وکالت دې.

وکيل بالبيع والشراء د کومو خلقو سره عقد کولې شي؟

(وَالْوَكِيلُ بِالْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ لَا يَجُوزُ لَهُ د وکيل بالبيع او وکيل بالشراء لپاره جائز نه دی. أَنْ يَعْقِدَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله مَعَ أَبِيهِ وَجَدِّهِ وولده وولد ولده وزوجته وعبده ومكاتبه ([1])چې هغه د خپل پلار سره نيکه سره اولاد سره نمسو سره ښځې سره غلام سره مکاتب سره ، عقد اوکړي.([2]) يا هغه سړي سره عقد اوکړي.چه د هغه ګواهي دده په حق کې قبول نکړې شي. په نيزد امام ابوحنيفه رحمه الله

تشريح> صورة الإختلاف> دادې واضحه وې.چه داامام صاحب او صاحبينو رحمهم الله په مينځ کې په متن کې ذکر شوې اختلاف په هغه وخت دې.کله چې وکالت مطلق وې.او مؤکل اوونيل. (بع من شئت)،،دچا په لاس چې غوارې خرڅوه ،يعنی مؤکل عموم مشيت سره وکالت مقيد کړې وې. نو په دې صورت کې ذکرشوی خلقو سره د وکيل اخستل خرڅول بالاتفاق جائز دی.

مذهب أبي حنيفة رحمه الله > ① د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دا د امام شافعي رحمه الله يو قول دې.او په يو روايت کې امام مالك او امام احمد رحمهما الله هم ددې قائل دی.که يو سړی بل څوك د خرڅولو يا اخستلو،يا د دواړو وکيل کړو. نو وکيل نه خپل پلار او نه نيکه سره عقد کولای شي .او نه هغه قرابت دارانو (رشته دارانو) سره، دکومو په حق کې چې د ده ګواهي نه قبليږي.لکه دهغه خوې،نوسې، ښځه، غلام مکاتب.

دليله> د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه دا خبره منو،چه توکيل مطلق دې.خود تهمت ځايونه د وکالتونو نه مستثنی وي.يعنی وکيل چې د کوم کس سره په معامله کولو متهم کيږي.د مؤکل د اړخه هغوی سره د معامله کولو اجازت نه وي.او په ذکر شوې مسئله کې هم دا مقام د تهمت دې.يعنی پلار نيکه سره معامله کولوکې وکيل متهم دې. يو په دې وجه چې د پلار، نيکه، او خوی په مينځ کې د يو بل په حق کې ګواهی نه قبليږي. ځکه چې ددوی په مينځ کې منافع خپلوکې متصل دی.ځکه چې په عامه توګه (عام طور) باندې پلار د خوی د مال نه،او زوې د پلار د مال نه نفع اخلي.نود پلار مال من وجه د خوی مال شو.اود خوی مال من وجه د پلار مال شو.اوهرکله چې داسې ده.نود وکيل د خپل پلار نيکه په لاس خرڅول من وجه پخپل ځان خرڅول دی.او وړاندې تير شوی دی.چه پخپل لاس خرڅول

ناجائز دی.نود وکيل د خپل پلار، نيکه وغيره په لاس خرڅول به هم ناجائز وی.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَجُوزُ بَيْعُهُ مِنْهُمْ بِمِثْلِ الْقِيمَةِ او صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه ددې خلقو په لاس د

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في شرح عقود (ص،۳۳) وكنز (ص،۲۷۱) وملتقى (۳\۲٤۳) نقلاً عن القول الراجح (۲\۱٥۹)_

[2]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في شرح عقود (ص،۳۳) وكنز (ص،۲۷۱) وملتقى (۳\۲٤۳) نقلاً عن القول الراجح (۲\۱٥۹)_

وکيل په پوره قيمت باندې خرڅول جائز دی. (إِلَّا فِي عَبْدِهِ أَوْمُكَاتَبِهِ)خود خپل غلام يا مکاتب په لاس خرڅول جائز نه دی.

تشريح> مذهب الصاحبين> صاحبين رحمهما الله په نيز په مذکوره مسئله کې وکيل لپاره مثل قيمت باندې دغه خلقو سره اخستل خرڅول جائز دی.البته خپل غلام او مکاتب سره په مثل قيمت باندې اخستل خرڅول کول، ناجائز دی.

دليلهما> دصاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه دلته کې توکيل مطلق دې.يعنی مؤکل مطلقاً د خرڅولو يا اخستلو وکيل کړې دې.اوددې پابند ئې نه دې جوړکړې.چه د فلانی سره د عقد کولو اجازت دې.او فلانی سره اجازت نشته.نو هرکله چې توکيل مطلق دې.او مطلق پخپل اطلاق باندې جاری کيږی.نودا توکيل به هرسړی ته ګډ وی.يعنی وکيل پورتنو خپلوانو سره بيع او شراء کولای شی اګرچه دده په حق کې د هغوی ګواهی نه قبليږی او ددوی نه علاوه نورو خلقو سره به هم د عقد کولو اجازت وی.

د وکيل بالبيع په قليل او کثير او سامان سره د بيع کولو حکم

(وَالْوَكِيلُ بِالْبَيْعِ يَجُوزُ بَيْعُهُ بِالْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ [1])شيخ ابوالحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د وکيل بالبيع د ثمن قليل، ثمن کثير سره جائز دی.

تشريح> جوازالتصرف للوکيل مطلقاً> ①دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز که يوسړی بل کس وکيل بالبيع مقرر کړو.مثلاً د خپل غلام خرڅولو ئې وکيل بالبيع کړو.نو وکيل لپاره جائز دی.چه هغه دا غلام د لږ (کم) ثمن په عوض خرڅ کړی.يا ئې د زيات ثمن په عوض خرڅ کړی.او يائې دځه سامان مثلاً غلې يا خاروی په عوض خرڅ کړی.

دليله > دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه توکيل بالبيع مطلق دې.يعنی هيڅ شئ سره مقيد نه دې.او مطلق د تهمت د ځائې نه علاوه کې خپل اطلاق باندې جاری کيږی.نو دلته کې به هم توکيل بالبيع خپل اطلاق باندې جاری کيږی.يعنی په کوم چې د بيع اطلاق صحيح وی.توکيل به هغې ته ګډ وی.نو غبن فاحش سره بيع، او د سامان په عوض بيع هم يو قسم بيع ده.توکيل به دې بيوع ته هم ګډ وی.او هرکله چې توکيل دې بيوع ته ګډ دې.نوغبن فاحش سره بيع کول اود سامان په عوض بيع کولو سره د مؤکل د حکم مخالفت نه کيږی.نو وکيل لپاره غبن فاحش سره بيع کول به هم جائز وی.اود سامان په عوض بيع کول به هم جائز وی.

وَقَالَا: لَا يَجُوزُ بَيْعُهُ بِنُقْصَانٍ لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِي مِثْلِهِ،او صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه دده په داسې نقصان سره خرڅول کوم چې خلق د هغې په مثل سره نه اوچتوی.جائز نه دی.

تشريح> مذهب الصاحبين> صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه وکيل لپاره نه غبن فاحش سره خرڅول جائز دی.او نه د دراهمو او دنانيرو نه علاوه دځه سامان په عوض خرڅول جائز دی.غبن فاحش دادې.چه په دې کې په عامه توګه (عام طور) باندې خلق نه دهوکه کيږی.او په کوم کې چې په عامه توګه (عام طور) باندې خلق دهوکه کيږی.هغه غبن يسير دې.نود صاحبينو رحمهما الله په نيز په دومره اندازه کم قيمت کې خرڅول د کوم په عوض چې عام خلق نه خرڅوی. جائز نه دی.البته غبن يسير يعنی معمولی شان نقصان سره خرڅول جائز دی.

---

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الدرالمختار(٤\٥٣٤) وملتقى (٣\٢٢٤) والدر المنتقى (٣\٢٢٤) ومنحة الخالق (٧\١٦٧) نقلاً عن القول الراجح(٢\١٥٩)۔

دليلهما> دموكل د ارخه وكيل بالبيع لپاره د خرڅولو امر مطلق دې.او امر مطلق متعارف سره مقيد وي.يعنى كومه طريقه چې په خلقو كې متعارف وي.امر مطلق هم هغې سره مقيد وي.ځكه چې تصرفات د ضرورتونو او حاجتونو لرې كولو لپاره مشروع شوي دي.او هركله تصرفات د ضرورتونو او حاجتونو لرې كولو لپاره مشروع دي.نو تصرفات به هم ددې ضرورتونو موقعو سره مقيد وي.او متعارف يعنى مروج داده.چه په بيع كې ثمن برابر وي.او بيع د نقود يعنى د دراهمو او دنانيرو په عوض وي.نود موكل په امر مطلق سره د خرڅولو امر كول په متعارف طريقه يعنى د ثمن مثل اود نقود په عوض د خرڅولو امر كول دي.او هركله چې د موكل دا امر د ثمن مثل اود نقود په عوض د خرڅولو امر كول شو.نو وكيل لپاره به ددې امر خلاف غبن فاحش سره يا د سامان په عوض خرڅول جائز نه وي.

د وكيل بالشراء په مثل قيمت يا غبن يسير سره د اخستلو حكم

(وَالْوَكِيلُ بِالشِّرَاءِ يَجُوزُ عَقْدُهُ بِمِثْلِ الْقِيمَةِ اود وكيل بالشراء ته د مثل قيمت په عوض، عقد كول جائز دى. وَزِيَادَةٍ يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِي مِثْلِهَا اود داسې زياتوالى په عوض، چې دهغې په مثل كې خلق دهوكه كيږي. وَلَا يَجُوزُ بِمَا لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِي مِثْلِهِ) اود داسې زياتوالى په عوض چې د هغې په مثل كې خلق دهوكه نه خوري. جائز نه ده.

تشريح> صورة المسئلة > كه يوكس څوك سړې د څه شئ اخستلو وكيل كړو.مثلاً وې وئيل.چه زما لپاره يو غلام واخله.نو ددې وكيل بالشراء لپاره د مثل قيمت په عوض يعنى د دومره ثمن په عوض كوم چې د قيمت برابر وي.اخستل ناجائز دى.اود غبن يسير زياتوالى سره هم اخستل جائز دى.البته د غبن فاحش زياتوالى سره اخستل ناجائز دى.يعنى غبن يسير سره د اخستلو په صورت كې اخستل به موكل باندې لازم وي.او غبن فاحش سره د اخستلو په صورت كې به اخستل وكيل باندې لازم وي.خودا حكم هغه وخت دې.كله چې د بنار خلقو ته ددې اخستلى شوى شئ هيڅ قيمت معلوم نه وي.خو كه قيمت معلوم وي.نو وكيل لپاره نه غبن فاحش سره اخستل جائز دى.اونه غبن يسير سره اخستل جائز دى. بهر حال د قيمت نه معلوميدلو په صورت كې غبن فاحش سره اخستل ناجائز ځكه دى.چه په دې كې تهمت متحقق دې.په دې طريقه چې وكيل دا شئ خپل خان لپاره اخستې وي.خوكله چې په دې كې خساره (او تاوان) محسوس شو.نودا ئې موكل باندې وراچولې وي.يعنى دا ئې وئيلى وي.چه ما دا شئ موكل لپاره اخستې دې.اود داسې تهمت په صورت كې عقد وكيل باندې نافذ كيږي.موكل باندې نه نافذ كيږي.نو ثابته شوه.چه غبن فاحش سره عقد شراء كول وكيل لپاره ناجائز دى.خوكه ددې باوجود وكيل بالشراء واخستلو.نودا اخستل به پخپله وكيل لپاره وي.موكل لپاره به نه وي.هم ددې دليل په وجه (كوم چې تيرشو).

دليله> عامة المشائخ فرمائى.كه يوسړې د معين شئ اخستلو وكيل وي.اوهغه د دغه معين شئ غبن فاحش سره واخستلو.نودا اخستل به موكل باندې نافذ وي.او په وكيل به نافذ نه وي.ځكه چې په دې صورت كې وكيل نشى متهم كيدلې.ځكه چې وكيل ته ددې شئ خپل خان لپاره د اخستلو اجازت نه وي.نو په دې صورت كې به دا احتمال نه پيدا كيږي.چه وكيل بالشراء په دې صورت كې متهم دې.نو په دې صورت كې به د غبن فاحش باوجود اخستل جائز وي.يعنى په موكل به نافذ او لازم وي.

د غبن فاحش تعريف

(وَالَّذِي لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِيهِ اوكوم تاوان چې خلق نه اوچتوى.هغه دې. لَا يَدْخُلُ تَحْتَ تَقْوِيمِ

الْمُقَوِّمِينَ،کوم چې د اندازه لګونکو د اندازې لاندې داخل نه وي.

تشريح> **الغبن الفاحش>** په دې عبارت سره غبن فاحش تعبیر کړې دې.اود غبن فاحش تعریف ئې کړې دې.چه غبن فاحش د داسې تاوان نوم دې.کوم چې د د تجارت د ماهرینو په اندازه کې داخل نه وي.یعنی کوم خلق چې د تجارت مالکان دی.هغوی کې څوك سړې د دومره مال په عوض اندازه نه کوي.بهرحال هرکله چې (لایتغابن الناس فیه) غبن فاحش دې.نو ددې مقابل(لایتغابن الناس فیه) به غبن یسیر وي.او هرکله چې د غبن فاحش تعریف(مالایدخل تحت تقویم المقومین) دې.نود غبن یسیر تعریف(مایدخل تحت تقویم المقومین) وي.یعنی داسې تاوان کوم چې د تجارت د ماهرینو په اندازه کې نه راځي.هغه غبن یسیر دې.

دليله> (چې ذکر شوې مقدار غبن یسیر،او ددې نه زیات غبن فاحش دې) دادې.چه غبن هغه وخت زیات وي.کله چې د سړي تجربه کمه وي.او کله چې تجربه زیاته وي.غبن کم وي.اود تجربې قلت او کثرت، د تصرف قلت او کثرت سره کیږي.یعنی په تصرف او زیات تجارت سره تجربه زیاتیږي.اود تصرف او تجارت په کموالی سره تجربه کمه وي.اودا خبره ښکاره ده.چه په سامان کې تجارت زیات واقع کیږي.او په زمکه وغیره غیرمنقوله جائدادکې تجارت کم واقع کیږي.او په څاروو کې د تجارت وقوع اوسط درجې وي.بیا چونکه لس درهمه داسې نصاب دې.چه ددې په سرقه سره قطع د ید کیږي.په دې وجه د غبن یسیر په تفسیر کې لس درهمه اصل ګرځولې شوی دی.او یو درهم داسې مال دې.چه ددې په وجه انسان په قیدخانه کې اچولې شي.هم دا وجه ده.چه د تنګئ او بخل په موقعوکې (تجارت کې) یو درهم نه بې پرواهی نه کیږي. یعنی بائع د ثمن مقررکیدلو نه روسته یو درهم پرېښول جائز نه ګڼري.اونه مشتری د یو درهم زیاتی ورکول جائز ګڼري.

د پوره غلام د خرڅولو د وکیل دنیم غلام خرڅولو حکم

وَإِذَاضَمِنَ الْوَكِيْلُ بِالْبَيْعِ اوکله چې د خرڅولو وکیل ضمه وار جوړ شی اَلثَّمَنَ د قیمت د مبیعې عَنِ الْمُبْتَاعِ فَضَمَانُهُ بَاطِلٌ نو د دې ضمان باطل دې.

تشريح> یو سړې د یو څیز د خرڅولو دپاره وکیل جوړ شو.بیا ده دغه څیز په چا باندې خرڅ کړلو.اوپخپله د قیمت ذمه وار جوړ شي.چې ته بې فکره اوسه زه ستا قیمت ادا کوم.نو دا ضمه واری باطله ده.

دليله> دلیل دا دې چې ځکه د وکیل سره مبیع بطور امانت وه.اوهرکله چې هغه د قیمت ادا کولو ذمه وار جوړ شو نو هغه به د ضمانت په طور شي.اود ضمانت او امانت په مینځ کښې تضاد دې.نود دې وجې ضامن جوړیدل باطل دی.

(وَإِذَاوَكَّلَهُ بِبَيْعِ عَبْدِهٖ او کله ئې چې د خپل غلام د خرڅولو وکیل جوړ کړو. فَبَاعَ نِصْفَهُ نو وکیل نیم غلام خرڅ کړو جَازَعِنْدَأَبِي حَنِيفَةَرَحِمَهُ اللَّهُ) .نود حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز جائز دی.

تشريح> د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز یوسړی بل کس د خپل غلام خرڅولو وکیل کړو.اود پوره یا نیم خرڅولو قید سره ئې مقید نکړو.نو وکیل نیم غلام خرڅ کړو.نو دابیع جائز ده.اوددې نفاذ به په موکل باندې وی.

دليله> د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه د موکل کلام، یعنی دغلام خرڅولو حکم مطلق

دي.نه په دې کي د پوره غلام خرخولو قيد دي.اونه د نيم غلام خرخولو قيد دي.او(المطلق يجرى على إطلاقه) لاندې مطلق پخپل اطلاق باندې جاري کيږي.نو ددې اطلاق پيش نظر به وکيل ته د پوره غلام خرخولو اجازت وي.اود نيم غلام خرخولو به هم اجازت وي.او هرکله چې د نيم خرخول جائز دي.نو دده نيم غلام خرخول به جائز وي.او ددې نفاذ به په موکل باندې کيږي.

توضيح> که مذکوره وکيل پوره غلام د نصف ثمن په مقدارعوض باندې خرخ کړي.مثلاً د زر روپو غلام دپنځه سوه روپو په عوض خرخ کړي.نود حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز جائز دي.نو هرکله چې د امام صاحب رحمه الله په نيز پوره غلام د نصف ثمن په مقدار عوض باندې خرخول جائز دي.نو نيم غلام د نصف ثمن په عوض خرخول به په درجه اولی جائز وي.ځکه چې نيم غلام د نيم ثمن په عوض خرخول.او د نيم غلام خان سره ساتلوکي دموکل زياته نفع ده.په نسبت ددې چې پوره غلام د نصف ثمن په عوض خرخ کړې شي.ځکه چې په رومبی صورت کي به موکل ته نصف ثمن هم حاصل شي.او نيم غلام به هم هغه سره پاتې وي.او په دوئم صورت کي به نصف ثمن هم حاصل شي.خود غلام هيڅ برخه به دده سره باقي پاتې نشي.نو رومبي صورت موکل لپاره انفع (زياته نفع ورکونکي) وي.او دوئم صورت به نافع نه وي.بيا هرکله چې په غير انفع صورت کي (پوره غلام د نصف ثمن په عوض) بيع جائز ده.نو انفع صورت (د نصف ثمن په عوض) کي به بيع په درجه اولی جائز وي.

فائدة قيد عنده> د (يجوزعنده) قيد ئې ځکه اولګولوچه د صاحبينو رحمهما الله په نيز دا ناجائز دی.ځکه چې پوره غلام د نصف ثمن په عوض خرخولوکي غبن فاحش دې.او غبن فاحش سره خرخول د صاحبينو رحمهما الله په نيزناجائز دی.لکه څنګه چې وراندې تير شوی دی.

د پوره غلام اخستونکی د وکيل د نيم غلام اخستلو حکم

(وَإِنْ وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ عَبْدٍ او که د غلام اخستلو وکيل ئې کړو.وَاشْتَرَى نِصْفَهُ نو وکيل نيم غلام واخستلو . فَالشِّرَاءُ مَوْقُوفٌ نودا اخستل به موقوف وي. فَإِنْ اشْتَرَى بَاقِيَهُ بيا که وکيل باقي نيم غلام هم واخستلو. لَزِمَ الْمُوَكِّلَ)نودا اخستل به موکل باندې لازم وي.

تشريح> يوسړي څوك د غلام اخستلو وکيل کړو.نو وکيل نيم غلام واخستلو .نودا اخستل به بالاتفاق موقوف وي.يعنی که وکيل د غلام باقي برخه هم واخستله.نودا اخستل به موکل باندې لازم او نافذ وي.اوکه د غلام باقي برخه ئې وانخستله.نودا اخستل به موکل باندې لازم نه وي.

دليله> دليل دادې.چه د غلام د يوې برخې (حصې) اخستل کله کله د موکل د حکم پوره کولو ذريعه واقع کيږي. مثلاً يو غلام يوڅو کسانو ته په ميراث کي ملاؤ شوې وي.نودا يو څو سرې به ددې غلام مالکان وي.اوس که وکيل دا غلام اخستل غواړي.نو وکيل به دا برخه حصه کوی.او د ټولو مالکانو نه به ئې اخلي.بهرحال هرکله چې د موکل د نيم غلام بيع رد کولو نه وراندې د غلام باقي برخه هم واخستله. نو ښکاره شوه.چه د نصف اول اخستل د موکل د حکم پوره کولو ذريعه واقع شوې وه.او وراندې تير شوی دی.چه په کوم صورت کي د نيم غلام بيع د موکل د حکم پوره کولو ذريعه واقع کيږي.په هغه صورت کي د بيع نفاذ موکل باندې کيږي.نود اخستلو په صورت کي هم هرکله چې د نصف اول اخستل د موکل د حکم پوره کولو ذريعه واقع شوه.نودا شراء به موکل باندې نافذ وي.ځکه دا داسې شوه.ګويا وکيل پوره غلام اخستې دې.

د يو درهم لس رطله غوښه اخستلو لپاره وكيل جوړول

وَإِذَاوَكَّلَهُ بِشِرَاءِعَشَرَةِأَرْطَالِ لَحْمٍ بِدِرْهَمٍ اوكه يو سړي چا د يو درهم په عوض د لس رطله غوښې اخستلو وكيل كړو. فَاشْتَرَى عِشْرِينَ رِطْلًا بِدِرْهَمٍ مِنْ لَحْمٍ يُبَاعُ مِنْهُ عَشَرَةُ أَرْطَالٍ بِدِرْهَمٍ يا وكيل د يو درهم په عوض شل رطله داسې غوښه واخستله. چه د يو درهم په عوض لس رطله خرڅيږي. لَزِمَ الْمُوَكِّلَ مِنْهُ عَشَرَةٌ بِنِصْفِ دِرْهَمٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ،(¹)نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز موكل باندې به دې كې د نصف درهم په عوض لس رطله غوښه لازم وي.

حل اللغة﴿①**ارطال**: جمع د رطل، يو خاص پيمانه ده ② **لحم**: غوښه

تشريح﴿ صورت د مسئلې دادې. كه يوسړي بل كس د يو درهم په عوض دلس رطله غوښې اخستلو وكيل كړو. نوهغه داسې غټه او تازه غوښه واخستله چې د يو درهم به لس رطله خرڅيږي. خو وكيل پخپل لياقت سره د يو درهم شل رطله اخستې ده. نوپه دې صورت كې اختلاف دې.

①حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي. چه د نيم درهم په عوض د لس رطله غوښې اخستل په موكل باندې لازم او نافذ كيږي. او د لس رطله اخستل به وكيل باندې نافذ وي.

دليله﴿ موكل وكيل ته د لس رطله غوښې اخستلو حكم كړې دې. او ددې نه د زياتي حكم ئې نه دې كړې. او د موكل خيال وو. چه لس رطله غوښه به د يو درهم په عوض كې ملاؤ شي. خود هغه د ګمان خلاف مطلوبه لس رطله غوښه په نصف درهم كې ملاؤ شوه. او وكيل د موكل د حكم مخالفت اوكړو. د لس رطله غوښې په ځائې ئې شل رطله غوښه واخستله. نود لس رطله غوښې اخستل چونكه د موكل د حكم مطابق دي. په دې وجه به ددې نفاذ موكل باندې وي. اود لس رطله زياتي اخستل چونكه د موكل د حكم خلاف

دي. په دې وجه به ددې نفاذ به پخپله په وكيل باندې وي. په موكل به نه وي.

وَقَالَا او صاحبين رحمهما الله فرمائي. يَلْزَمُهُ الْعِشْرُونَ بِدِرْهَمٍ) چې د يو درهم په عوض به شل رطله غوښه لازم وي.

تشريح﴿ **مذهب الصاحبين** رحمهما الله﴿ په پورتنۍ مسئله كې صاحبين رحمهما الله فرمائي. چه د پوره شل رطله اخستل به د يو درهم په عوض موكل باندې لازم اونافذ وي.

اختلاف النسخ﴿ خوعلامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دي. چه د قدوري رحمه الله په بعض نسخوكې د امام محمد رحمه الله قول امام ابوحنيفه رحمه الله سره ذكر دې. امام ابويوسف رحمه الله سره نه دې ذكرشوې. او پخپله امام محمد رحمه الله د مبسوط په كتاب الوكالت كې هيڅ اختلاف نه دې ذكركړې. خود قدوري د نسخو په اعتبارسره چې هركله د امام محمد رحمه الله قول مضطرب دې. نو اصلي اختلاف د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمهما الله په مينځ كې باقي پاتې شو. ددې رعايت ساتلو سره

دليله﴿ د هغه نسخې په اعتبار سره چې امام ابويوسف رحمه الله په دې مسئله كښې ځانله دې. امام محمد د امام ابوحنيفه سره دې. نو د امام ابويوسف دليل دا دې. چې موكل د غوښې اخستلو په سلسله كې وكيل ته د يو درهم خرچ كولو حكم وركړې دې. يعنې د موكل مقصد دا وو. چه وكيل د يو درهم غوښه واخلي. او راوړي. او خيال ئې دا وو. چه د يو درهم په عوض به لس رطله غوښه راخي. په دې وجه د يو

(¹) القول الراجح هوهذا قول الإمام رحمه الله كذا في كنز (٢٦٩) وتنوير الأبصار(٤\٤٤٩) ونتائج الأفكار(٧\٣٩) نقلاً عن القول الراجح (٢\١٥٣)

درهم په عوض لس رطله غوښه اخستلو وکیل نې جوړکړو.خو وکیل د یو درهم په عوض شل رطله غوښه واخستله.نو په دې سره وکیل د مؤکل په حق کې فائده رسولې ده.یعنی په داسې کولو سره وکیل د مؤکل په دې حکم کې مخالفت نه دې کړې.بلکه د مؤکل خیال د نفس الامر خلاف اوختلو.او هرکله چې وکیل د مؤکل ددې حکم مخالفت نه دې کړې.بلکه د مؤکل د عمل مطابق نې عمل کړې دې.نود وکیل پوره اخستل به د یو درهم په عوض (شل رطله) مؤکل باندې لازم او نافذ وی.

تمثیله او دا داسې شوه.لکه چې یوسړی خپل غلام د یو زر درهم په عوض خرڅولو څوك وکیل کړلو.خو وکیل دا د دوه زره درهمو په عوض خرڅ کړو.نودا خرڅول بالاتفاق د مؤکل په حق کې جائز دی.ځکه چې دلته کې هم د مؤکل مقصد یو زر درهم حاصلول نه دی.بلکه غلام خرڅول مقصود دی.البته د مؤکل خیال دا وو.چه دا غلام د یو زر درهم مالیت دې.حالانکه د مؤکل دا خیال د نفس الامر مطابق نه وو.نولکه څنګه چې دلته کې دا بیع د دوه زره درهمو په عوض مؤکل باندې نافذ کیږی.دغه شان د متن په مسئله کې شل رطله غوښه د یو درهم په عوض مؤکل باندې لازم وی.

الجواب د تمثیل جواب دا دې.چه هرکله یو سړی د زر روپو په عوض د خپل غلام خرڅولو وکیل کړو.خو وکیل هغه د دوه زره روپو په عوض خرڅ کړو.نو زر روپۍ زیاتی به مؤکل لپاره ځکه وی.چه زر روپۍ د مؤکل د ملك بدل دې.نودا به هم مؤکل لپاره ملك وی.او وکیل به ددې زیاتی روپو مستحق نه وی.

توضیح صاحب الهدایة علامه مرغینانی فرمائیلی دی.که وکیل د یو درهم په عوض شل رطله داسې غوښه واخستله.کوم چې په عامه توګه (عام طور) په دې نرخ خرڅیږی.نو په دې صورت کې به بالاجماع ددې غوښې خپل ځان لپاره اخستونکې وی.ځکه چې په دې صورت کې وکیل د مؤکل د حکم مخالفت کړې دې.په دې طریقه چې د مؤکل حکم داسې غټې تازه غوښې ته ګڼلے وو.کومه چې د یو رطل په عوض شل رطله خرڅیږی.خوده داسې بې کاره غوښه اخستې ده.کومه چې د یو درهم شل رطله خرڅیږی.نو په دې صورت کې د مؤکل مقصد حاصل نشو.او هرکله چې د مؤکل مقصود حاصل نشو.نودا اخستل به مؤکل باندې نافذ نه وی.بلکه په وکیل به نافذ وی.

د معین څیز اخستلو وکیل جوړول

وَلَوْوَكَّلَهُ بِشِرَاءِشَيْءٍبِعَيْنِهِ که مؤکل د یو معین شئ اخستلو وکیل جوړکړو. فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَشْتَرِيَهُ لِنَفْسِهِ نو وکیل لپاره جائز نه دی.چه وکیل هغه د خپل ذات لپاره واخلی.

تشریح صورت د مسئلې دادې.که یوکس بل سړې د یو معین شئ اخستلو لپاره وکیل کړو.نو وکیل لپاره د دې متعین شئ خپل ځان لپاره اخستل جائز نه دی.تردې که وکیل دا متعین شئ خپل ځان لپاره واخستلو.نو بیا به هم دا اخستل مؤکل لپاره وی.وکیل لپاره به نه وی.که وکیل د عقد شراء په وخت خپل ځان لپاره د اخستلو نیت اوکړی.اوکه خپل ځان لپاره د اخستلو صراحت اوکړی.مثلاً دا اووائی.چه ای خلقو! تاسو ګواه اوسئ.چه دا شئ ما دخپل ځان لپاره اخستې دې.خودا حکم هغه وخت دې.کله چې مؤکل د عقد شراء په وخت موجود نه وی.اوکه مؤکل د عقد شراء په وخت موجود وی.او وکیل خپل ځان لپاره د اخستلو صراحت اوکړی.نو په دې صورت کې به اخستل وکیل لپاره وی.

دلائله ① په اصل مسئله باندې دلیل دادې.چه د متعین شئ اخستلو په سلسله کې مؤکل په وکیل باندې اعتماد کړې دې.خو وکیل دا متعین شئ ځان لپاره اخستلو کې مؤکل ته دهوکه ورکړې ده.او مؤکل یو مسلمان دې.او مسلمان ته دهوکه ورکول جائز نه دی.نود وکیل به دا متعین شئ خپل ځان

لپاره اخستل جائز نه وي.

②دوئم دليل دادې.چه هرکله وکيل دا متعين شئ خپل خان لپاره اخستې دې.حالانکه د وکالت په حکم کې موکل لپاره اخستلو باندې مامور وو.نوګويا دې خپل خان وکالت نه معزول کړل غواړي.حالانکه د موکل په غيرموجودګئ کې وکيل ته د خپل خان معزول کولو اجازت نه وي.لکه څنګه چې موکل ته د وکيل په غيرموجودګئ کې د هغه د معزول کولو اجازت نه وي.څکه چې معزول کول،يا معزول کيدل فسخ د عقد ده.او فسخ د عقد د بل انړيوالان د علم نه بغير نه صحيح کيږي.نود وکيل خپل خان معزول کول به د موکل په غيرموجودګئ کې صحيح نه وي.

صورة استثنائية﴿ البته که موکل موجود وي.او وکيل ددې شئ خپل خان لپاره د اخستلو صراحت کړې دې.نو په دې صورت کې د وکيل خپل خان معزول کول چونکه دموکل په موجودګئ کې دی.څکه به دا صحيح وي.او ددې متعين شئ اخستل به د وکيل لپاره وي.موکل لپاره به نه وي.

د غيرمعين غلام اخستونکي د غلام اخستلوحکم

(وَإِنْ وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ عَبْدٍ بِغَيْرِ عَيْنِهِ:اوکه موکل د عبد غير معين اخستلو وکيل کړو.فَاشْتَرَى عَبْدًا نو وکيل يو غلام واخستلو.فَهُوَ لِلْوَكِيلِ إِلَّا أَنْ يَقُولَ نو هغه به د وکيل وي.خو که داسې اووائي.نَوَيْتُ الشِّرَاءَ لِلْمُوَكِّلِ چې ما د موکل لپاره د اخستلونيت کړې دې.أَوْ يَشْتَرِيَهُ بِمَالِ الْمُوَكِّلِ يا نې د هغه د مال نه واخلي.

تشريح﴿ صورت د مسئلې دادې.که يوسړی بل څوک د غير معين غلام اخستلو وکيل کړو.بيا وکيل يو غلام واخستلو.نودا اخستل به وکيل لپاره وي.او وکيل به ددې غلام مالك وي.خوکه وکيل دا اووائي.چه ما د موکل لپاره د اخستلو نيت کړې وو.يا وکيل دا غلام د موکل په مال سره واخلي.نو په دې دواړو صورتونو کې به دا غلام د موکل وي.

دليله﴿ د دې عرفي دليل دې هغه چې عرف په دې جاري دې.چه عقد خپلو دراهمو اړخ ته منسوب کونکې خپل خان لپاره اخستونکې وي.اود موکل دراهمو اړخ ته منسوب کونکې موکل لپاره اخستونکې وي.نو ددې عرف په وجه ړومبی صورت کې به عقد شراء موکل لپاره وي.او په دوئم صورت کې به وکيل لپاره وي.

وکيل بالخصومة وکيل بالقبض کيدی شي که نه ؟

(الْوَكِيلُ بِالْخُصُومَةِ وَكِيلٌ بِالْقَبْضِ)عِنْدَ أَبِي حنيفة وأبي يوسف ومحمد رحمهم الله وکيل بالخصومت وکيل بالقبض هم وي.په نيز د امام ابوحنيفه ،امام ابويوسف او امام محمد

تشريح﴿ **الوکيل بالخصومة وکيل بالقبض**﴾ د جمهورو احنافو رحمهم الله په نيز اود امام شافعي رحمه الله يو قول هم دا دې که يو سړی په بل سړي باندې د قرض دعوه اوکړله.او مدعی د خصومت او مقدمه چلولو لپاره څوک وکيل کړو.نوکه په مدعی عليه باندې قرضه ثابته شوه.نو وکيل بالخصومت به ددې قرض د وصولولو اوپه دې باندې د قبضه کولو وکيل وي

دليله﴿ که يوسړې د څه شئ مالك جوړکړې شو.نو هغه ددې د مکمل کولو او انتهاء ته د رسولو مالك شو.نود خصومت وکيل د خصومت پوره کولو او انتهاء ته د رسولو وکيل به وي.اود خصومت تکميل په قبضه سره کيږي.يعني د قرضه په سلسله کې د خصومت وکيل تر کومه پورې چې په قرضه باندې قبضه اونکړي.تر هغه وخته پورې به د هغه خصومت مکمل نه وي.او هرکله چې د قرض خصومت د قبضې نه بغير نه مکمل کيږي.نو کوم سړې چې د خصومت وکيل وي.هغه به په قرضه باندې د قبضه

کولو وکیل هم ضرور وی.که موکل هغه لره د قبضې وکیل کړې وی.اوکه نه وی.

مذهب زفر اوداما م زفر په نیز دغه شان د امام شافعي ظاهری قول هم دادې.د امام مالك او امام احمد مذهب هم دادې.چه وکیل بالخصومت وکیل بالقبض نشی کیدې.

دليله په خصومت او قبضه کې تغایر دې.ځکه چې خصومت هغه قول دې.کوم چې دحق اظهار لپاره ونیلې کیږی.او قبضه فعل حسی ده.او موکل د وکیل په خصومت کولو باندې راضی شوې دې.د هغه په قبضه کولو نه دې راضی شوې.ځکه چې خصومت لپاره داسې سړې منتخب کولې شی.چه هغه ډیر چالاکه او حاضر جوابه وی.او د قبضې لپاره د امانت دار سړی انتخاب کولې شی. نو کوم سړې چې د خصومت صلاحیت لری. خلق په عامه توګه (عام طور) باندې د هغه په امانت او دیانت باندې نه راضی کیږی.نو ثابته شوه.چه موکل د وکیل په خصومت باندې راضی دې.خود هغه په قبضه کولو باندې راضی نه دې.او هرکله چې موکل د وکیل بالخصومت په قبضه باندې راضی نه دې.نو وکیل بالقبضه به هم نه وی.

الفتوى علي قول زفر مرغیناني فرمانیلی دی.()چه نن صبا فتوی د امام زفر په قول ورکولې شی.ځکه چې نن صبا په وکیلانو کې خیانت زیات شو.او ډیر خله داسې کیږی.چه د یو وکیل په خصومت باندې اعتماد او اطمینان کیږی. خود هغه په مال وصولولو باندې اطمینان نه کیږی.نو په داسې صورت کې دې د خصومت وکیل کولې شي. خود قبضې وکیل نشی جوړولې.بهرحال هرکله چې دا خبره ده.نو فتوی به هم دا وی.چه د خصومت وکیل به صرف د خصومت وکیل وی.او قرضه باندې د قبضه وکیل به نه وی.

دامام ابوحنيفه په نيز وكيل بالقبض به وكيل بالخصومة هم وی

(وَالْوَكِيلُ بِقَبْضِ الدَّيْنِ يَكُونُ وَكِيلًا بِالْخُصُومَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ)()اوپه قرضه باندې د قبضه کولو وکیل به د امام ابوحنیفه په نیز د خصومت وکیل هم وی.

تشريح **وكيل قبض الدين يكون وكيل الخصومة** ① دامام ابوحنیفه په نیز د قرض په قبضه کولو لپاره چې کوم سړې وکیل وی. هغه به د خصومت وکیل هم وی.تردې که قرضدار د وکیل بالقبض خلاف په دې خبره بینه قائم کړل.چه موکل قرضه وصول کړې ده.یا موکل قرضدار د قرض نه بری کړې دې.نود امام صاحب په نیز به دا بینه قبلولې شی.

دليله موکل وکیل ددې خبرې وکیل جوړکړې دې.چه د قرضدار په ذمه کومه قرضه ده.د هغې په مقابله کې چې وکیل په کوم باندې قبضه کوی.د هغه مقبوض به مالك جوړیږی.اودا نې ځکه اوونیل.چه دیون او قرض بامثالها ادا کولې شی.او باعیانها نشی اداکولې.ځکه چې دا وصف دې.چه د قرضدار په ذمه ثابت وی.او په وصف باندې قبضه ناممکن ده.نو بعینه په دین او قرضه باندې قبضه کول به هم ناممکن وی.ددې مثال دادې.چه خالد شاهد ته سل روپۍ قرض ورکړو.نو شاهد قرضدار دغه روپۍ خرچ کړې.نو اوس په قرض کې بعینه هم هغه روپۍ نشی وصول کیدلې.او هرکله چې دغه روپۍ نشی وصول کیدلې.نو مجبوراً به قرضدار د هغې مثل ادا کوی.او کله چې قرضدار د قرض

[1]) القول الراجح هو قول زفر والفتوی علیه الیوم (کذا في نتائج الأفكار(١٠٠\١٧) والكفاية (١٠٠\١٧) وردالمحتار (٤٥٨\٤)

[2]) القول الراجح هوهذا قول الإمام الأعظم كذا في كر(ص،١٩٤) وملتقى الأبحر(٢٤٢\٢) وتنويرالأبصار (٤٥٨\٤) نقلا عن القول ا لراجح (١٦٢\٢)

مثل اداکوی.نو معلومه شوه.چه وکیل د اصل قرض په خاني د هغې په مثل باندې ملکيت حاصلوی.نو گویا موکل دی د ملك حاصلولو لپاره وکیل کړې دې.

الإعتراض> خوپه دې باندې اعتراض کیږی.چه هرکله عین قرضه نشی وصولیدلې.نودا ونیل به څنګه صحیح وی.چه قرضخواه خپله قرضه وصول کړې ده.حالانکه هم دا ونیلې شی ؟

الجواب> ددې جواب دادې.چه د قرض په مثل کوم شئ ورکړې شوې دې.هغه د مثل کیدلو په وجه د عین حق مساوی او برابر دې.او هرکله چې وصول شوې شئ د عین حق مساوی او برابر دې.نودا من وجه د عین حق وصولول او ګنړلې شو.او هرکله چې دا من وجه د عین حق وصولول اوګرخولی شو.نودا ونیل به هم صحیح وی.چه قرضخواه خپله قرضه وصول کړې ده.

مذهب الصاحبين ②او صاحبین فرمانی.چه قرضه باندې د قبضه کولو وکیل د خصومت وکیل نشی کیدلې.او هرکله چې وکیل بالقبض د خصومت وکیل نشی کیدلې.نودا وکیل به د قرضدار خصم او مدعی علیه هم نه وی.اوهرکله چې دا وکیل خصم او مدعي علیه نه دې.نو دده خلاف د قرضدار د اړخه پیش کړې شوی بینه به هم نه قبلیږی.د امام ابوحنیفه د حسن بن زیاد یو روایت هم دادې.اود امام شافعی اصح قول هم دادې.اود ظاهرالروایة مطابق امام محمد هم ددې قائل دې.

دلائلهما> ①دلیل دادې.چه د دین قبضه اود خصومت په مینځ کې تغایر دې.او هرکله چې ددې دواړو په مینځ کې تغایر دې.نو وکیل بالقبض به وکیل بالخصومت نه وی.

② دونم دلیل دادې.چه د کوم سړی دیانت او امانت قابل اعتماد وی.هغه لپاره دا ضروری نه ده.چه هغه به د مقدمې پیروی هم کولې شی.یعنی ډیر خلق په امانت او دیانت کې قابل اطمینان وی.خود مقدماتو په چلولو کې بالکل بې رائی (ناقابله) وی.نو په داسې صورت کې که موکل د وکیل د دین په قبضه باندې راضی شو.نو په دې سره د وکیل د خصومت او مقدمې پیروی کولو باندې راضی کیدل نه لازمیږی.او هرکله چې داسې ده.نو وکیل بالقبض به وکیل بالخصومت نه وی.

د قاضی په وړاندې د وکیل بالخصومة پخپل موکل باندې د اقرار حکم

(وَإِذَا أَقَرَّ الْوَكِيلُ بِالْخُصُومَةِ عَلَى مُوَكِّلِهِ عِنْدَ الْقَاضِي) اوکه وکیل بالخصومت خپل موکل باندې د قاضی په وړاندې څه اقرار اوکړو.(جَازَ إِقْرَارُهُ عَلَيْهِ) نود وکیل اقرار به موکل باندې جائز وی.(وَلَا يَجُوزُ إِقْرَارُهُ عَلَيْهِ عِنْدَ غَيْرِ الْقَاضِي) (عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ اسْتِحْسَانًا)[1] نو په ده باندې د قاضی نه علاوه د بل چا په مخ کښې دده اقرار جائز دې د طرفینو په نیز باندې استحسانا.

تشریح> **مذهب الطرفين**> د طرفینو په نیز که دخصومت وکیل د خپل موکل خلاف د قاضی په عدالت کې اقرار اوکړو.نود وکیل دا اقرار د موکل خلاف جائز دې.وکیل که د مدعی وی.نود وکیل د اقرار مطلب دا دې. چې مدعی یعنی موکل پخپل مال باندې قبضه کړې ده.اوکه د مدعی علیه وکیل وی.نود اقرار مطلب دا دې.چه وکیل پخپل موکل یعنی مدعی علیه باندې د مال د وجوب اقرار کړې دې.اوکه د قاضی دعدالت نه علاوه بل څه خانې کې ئې اقرار اوکړو.نودا اقرار ناجائز دې.اودا حکم د طرفینو په نیز استحسان دې.خو وکیل چې کله د غیرقاضی په وړاندې اقرار اوکړی.نو هغه به د

[1]) القول الراجح هو قول الطرفين كذا في الدرالمختار(٤\٤٥٩) ومجمع الأنهر(٣\٣٤٤) والبحر الرائق (٧\١٨١)

وکالت نه اوخي.او وکیل ته به مال نشي ورکولي.یعني که وکیل د مدعی د اړخه وي.اود غیرقاضي په وړاندې ددې خبرې اقرار اوکړي.چه مدعی په مال باندې قبضه کړې ده.نودا استحساناً اګرچه دا اقرار جائز نه دی.خو وکیل به د وکالت نه خارجیږي.او مدعی علیه باندې د مال ثابتولو په صورت کې به وکیل ته دا مال نشي ورکولي.ځکه چې د وکیل د خیال مطابق مدعی پخپله دعوه کې دروغجن دې.نوهرکله چې د مدعی په باره کې د وکیل دا خیال دې.نودا دمدعی وکیل څنګه کیدې شي ؟ اوهرکله چې مدعی وکیل پاتې نشو.نو ده ته به په مال باندې د قبضه کولو اجازت هم نه وي.

دلیلها ﴾ وجه د استحسان داده.چه توکیل چې توکیل بالخصومت بالاجماع قطعي طور باندې صحیح او جائز دې.او توکیل بالخصومت ځکه صحیح دې.چه توکیل هرهغه شئ ته ګډ دې.د کوم چې بلاشبه مؤکل مالك دې.یعني که مؤکل ته د کوم فعل اختیار نه وي.نود هغه کار لپاره وکالت جائز نه وي.نو دلته به دې وکالت کې هر داسې فعل داخل دې.د کوم چې مؤکل ته اجازت دې.او مؤکل ته صرف د جواب اجازت دې.یعني مؤکل اقرار هم کولې شي. اوانکار هم کولې شي.متعین طور باندې د اقرار یا انکار اجازت نه دې.بلکه د هر یو اجازت دې.بهرحال هرکله چې مؤکل ته د اقرار او انکار دواړو اجازت دې.نو وکیل بالخصومت ته به هم د مؤکل نائب کیدلو په وجه د اقرار او انکار د هر یو اختیار حاصل وي.او توکیل بالخصومت نه مطلقاً جواب مراد اخستل جائز دی.اود خصومت او مطلق جواب په مینځ کې طریق د مجاز هم موجود ده.په دې طریقه چې خصومت سبب دې، د جواب. او سبب ونیل او مسبب مراد اخستل د مجاز د طریقو څخه یوه طریقه ده.دا به روسته بیان کړو.نودا توکیل بالخصومت به مجازاً د مطلق جواب توکیل اړخ ته ګرځولې شي.چه د مؤکل کلام قطعي طور سره صحیح او جائز شي.

وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رحمه الله يَجُوْزُ إِقْرَارُهُ عَلَيْهِ او امام ابویوسف رحمه الله فرمائي چې د وکیل اقرار په موکل باندې جائز دې عِنْدَ غَيْرِ الْقَاضِيْ بغير د عدالت د قاضي کښې

تشریح ﴾ **مذهب ابي یوسف رحمه الله** ﴾ حضرت امام ابویوسف رحمه الله فرمائي.چه د وکیل اقرار دده په مؤکل باندې جائز دې.اګرچه وکیل د قاضي د مجلس نه په علاوه مجلس کې اقرار اوکړي.یعني د قاضي مجلس او دغیر قاضي مجلس دواړو صورتونو کې د وکیل اقرار دده د مؤکل په خلاف جائز نه دی.هم ددې قائل امام مالك، امام احمد او ابن ابي لیلی رحمهم الله دی.هم دا د ابویوسف رحمه الله رومبې قول دې.اوهم دا د قیاس تقاضه هم ده.

د قرضداري د وکیل د وکالت تصدیق کول

(وَمَنْ إِدَّعٰى که یو سړي دعوه اوکړله.أَنَّهُ وَكِيْلُ الْغَائِبِ فِيْ قَبْضِ دَيْنِهٖ چې زه د فلاني غائب د اړخه د هغه د قرض وصولولو وکیل یم.فَصَدَّقَهُ الْغَرِيْمُ نو قرضدار د هغه تصدیق اوکړو. أُمِرَ بِتَسْلِيْمِ الدَّيْنِ إِلَيْهِ)نو قرضدار ته به حکم ورکولې شي.چه قرضه دې وکیل ته اوسپاري.

تشریح ﴾ **صورة المسئلة** ﴾ یوسړي مثلاً شاهد دعوه اوکړله چه زه د فلاني غائب مثلاً د حامد د اړخه د هغه د قرض وصولولو وکیل یم.نو قرضدار د وکالت ددې مدعی د قول تصدیق اوکړو.نو دې قرضدار ته به حکم ورکولې شي.چه مذکوره قرضه د وکالت دې مدعی ته ورکړي.ځکه چې قرضدار کوم څه اداکوي.هغه دده ذاتي مال دې.

دلیله ﴾ ځکه چې دیون بامثالها اداء کولې شي.باعیانها نشي اداکولې.نو هرکله چې هغه دده ذاتي مال دې.نو دده د وکالت د مدعی تصدیق کول، ګویا خپل ذات باندې هغه لپاره د مال اقرار کول دی.او

کوم سړي چې پخپل ذات باندې د کوم سړي لپاره دځه شئ اقرار کوي.نو هغه ته حکم ورکولې شي.چه هغه مقربه شئ مقرله ته اوسپاري.نو دې قرضدار ته به هم حکم ورکولې شي.چه قرضه د وکالت مدعی ته اوسپاري.

(فَإِنْ حَضَرَ الْغَائِبُ بيا كه غائب موكل حاضر شو.فَصَدَّقَهُ جَازَ وَإِلَّا دَفَعَ إِلَيْهِ الْغَرِيمُ الدَّيْنَ ثَانِيًا)اود وكيل د قول تصديق ئې اوكړو.(نو ډيره ښه ده)گنې قرضدار به هغه ته دوباره قرضه ادا كوي.

تشريح﴾ بيا كه غائب يعنی قرضخواه حاضر شو.اود وكيل د قول تصديق ئې اوكړو. او دا ئې اووئيل.چه آؤ دا سړې زما وكيل دې.نو صحيح ده.اوكه قرضخواه د وكيل د قول تصديق اونكړو.نو قرضدار به قرضخواه ته دوباره قرضه ادا كوي.

دليله﴾ ځكه چې هركله قرضخواه د وكالت انكار اوكړو.نود قرض خواه حق وصولول ثابت نشو.اود وكالت په انكار كې د قرضخواه قول مع اليمين معتبر وي.نود قرضخواه قول به معتبر وي.او هركله چې د قرضواه قول معتبر دې.نود وكالت مدعی ته قرضه ادا كولو سره به د قرضخواه د حق وصولول نه ثابتيږي.او هركله چې د قرضخواه د حق وصولول ثابت نشو.نود مدعی وكالت اړخ ته اداكول به هم فاسد وي.او قرضدار باندې به قرضه اداكول واجب وي.او هركله چې قرضدار باندې قرضه اداكول واجب دی.نو په ده به واجب وي.چه قرضخواه ته دوباره قرضه اداكړي.

(وَيَرْجِعُ بِهِ عَلَى الْوَكِيلِ إِنْ كَانَ بَاقِيًا فِي يَدِهِ)او كه مال د وكيل په قبضه كې باقي وي.نو قرضدار به هغه مال د وكيل نه واپس اخلی.

تشريح﴾ اوس هغه مال كوم چې قرضدار اول د وكالت مدعی ته وركړې وو.كه د وكالت مدعی سره موجود وي.نو قرضدار به هغه مال د وكالت مدعی نه واپس اخلی.

دليله﴾ ځكه چې د وكالت مدعی ته مال وركولو سره د قرضدار غرض دا وو.چه د قرضدار ذمه به بری شي.حالانكه د قرضدار ذمه بری نشوه.نو هركله چې د قرضدار ذمه بری نشوه.او مال د وكالت مدعی سره موجود دې.نو قرضدار ته به ددې خبرې اختيار وي. چې هغه د وكالت د مدعی قبضه ختمه كړي.اود قرض مال هغه نه واپس واخلی.

حكم المسئلة عند ضياع الدين﴾ اوكه هغه مال د وكالت دمدعی نه ضائع شو.نو قرضدار به د وكالت مدعی نه هغه مال واپس نه اخلی.

دليله﴾ ځكه چې قرضدار د وكالت دمدعی د قول تصديق كولو سره ددې خبرې اقرار كړې وو.چه د وكالت مدعی په قرضه وصولولو كې په حقه دې.او كوم سړې چې په حقه وي.او قبضه اوكړي.هغه نه مقبوض شئ واپس نشي اخستلې.په دې وجه به د وكالت مدعی نه مذكوره مال واپس نشي اخستلې.زيات نه زيات دا وئيلی شي.چه قرضخواه ته په دوباره وركولو سره قرضدار مظلوم شوې دې.نو مونږ جواب وركوو.چه قرضدار بلاشبه مظلوم دې.خو ده ته په نورو باندې د ظلم كولو اختيار نشته.نود مال هلاكيدلو نه روسته به قرضدار ته د وكالت مدعی يعنی شاهد نه د مال واپس اخستلو اختيار نه وي.

د مودع د وديعت د قبض د وكيل تصديق كول

(وَإِنْ قَالَ كه يوسړي اووئيل.إِنِّي وَكِيلٌ بِقَبْضِ الْوَدِيعَةِ چې زه په وديعت باندې د قبضه كولو وكيل يم.فَصَدَّقَهُ الْمُودِعُ)او مودع د هغه تصديق اوكړو.لَمْ يُؤْمَرْ بِالتَّسْلِيمِ إِلَيْهِ نو مودع ته به حكم نشی وركولې.چه هغه دې وكيل ته وديعت اوسپاري.

تشریح تعریف المودع والودیعة مودَع ،،بفتح الدال،، هغه سړی چاسره چې د ودیعت مال ایخودلې شوې وی.یعنی امین او مودِع ،،بکسرالدال،،دودیعت مال ایخودونکې یعنی دمال مالك.

صورة المسئلة یوسړی مثلاً عبدالله خپل مال عبدالرحمن سره د ودیعت په طور باندې کیخودلو.بیا یو دریم سړی مثلاً شاهد په مودَع باندې دعوه اوکړله.چه زه د مودِع د اړخه د ودیعت په دې مال باندې د قبضه کولو وکیل یم.اومودَع دده تصدیق هم اوکړو.نو مودع ته به دا حکم نشی ورکولې.چه هغه مدعی ته د ودیعت مال اوسپاری.

دلیله:ځکه چې مودَع سره کوم د ودیعت مال دې.هغه د مودِع ملك دې.او مودَع ددې اقرار کونکې هم دې.نو د مودَع د وکالت د مدعی تصدیق کول په حقیقت کې د غیر یعنی د مودِع په مال باندې د وکالت د مدعی لپاره د قبضې د حق اقرار کول دی.اود غیر په مال باندې د قبضې د حق اقرار کول ټیك نه دی.او هرکله چې دا اقرار صحیح نه دې.نو مودَع به دا حکم هم نشی ورکولې.چه هغه د ودیعت مال د وکالت مدعی ته حواله کړی.او قرضدار ته به حکم ورکولې شی.چه هغه د قرض مال د وکالت مدعی ته ورکړی.ځکه چې دیون او قرض بامثالها اداکولې شی.باعیانها نشی اداکولې.نود قرضدار تصدیق کول به د وکالت د مدعی لپاره قرضه باندې د قبضه کولو د حق اقرار کول وی.په غیر یعنی قرضخواه باندې به نه وی.نو هرکله چې د قرضدار اقرار پخپله دده په ذات باندې دې.نودا اقرار به صحیح وی.او هرکله چې په دې صورت کې اقرار صحیح دې.نو قرضدار ته دا حکم ورکول به هم صحیح وی.چه هغه د قرض مال د وکالت مدعی ته اوسپاری.

كِتَابُ الْكَفَالَةِ

ترجمه (دا) کتاب د کفالت (د احکامو په بیان کې) دې.

تشریح الربط بما قبله په وکالت او کفالت په هر یو کښې د یو بل نه مدد اخستې شی.د دې وجې یې د کتاب الوکالة نه پس کتاب الکفالة ذکر کړو.

معني الكفالة لغة دکفالت لغوی معنی ضم او ملاوول دی.لکه چې د الله تعالی ارشاد دې. ﴿وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا﴾ یعنی حضرت زکریا علیه السلام د حضرت مریم علیها السلام کفیل شو. یعنی حضرت زکریا علیه السلام حضرت مریم علیها السلام پخپل پرورش کې ملاو کړله.

معني الكفالة شرعا اهل شرع د کفالت دوه تعریفونه کړی دی. ① یودا چه(ضم الذمة إلی الذمة في المطالبة) یعنی یوه ذمه د بلې ذمې سره په مطالبه کې ملاوول.

② دوئم دا چه(ضمة الذمة إلی الذمة في الدین) یعنی یوه ذمه د بلې ذمې سره په دین کې ملاوول. علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه رومبې قول زیات صحیح دې.ځکه چې د دوئم تعریف مطابق کفالې لپاره دین ضروری دې.حالانکه کفاله چې څنګه د مال درست ده.دغه شان د نفس کفاله هم صحیح ده.او په کفاله بالنفس کې مال نه وی.نود دوئم تعریف په بنا (بنیاد) باندې کفاله بالنفس د کفالې د تعریف نه خارجیږی.حالانکه کفاله بالنفس هم کفاله ده.

د کفالت قسمونه

الْكَفَالَةُ ضَرْبَانِ: د كفاله دوه قسمونه دى كَفَالَةٌ بِالنَّفْسِ كفاله بالنفس وَكَفَالَةٌ بِالْمَالِ اوكفاله بالمال وَالْكَفَالَةُ بِالنَّفْسِ جَائِزَةٌ نو كفاله بالنفس جائز ده وَالْمَضْمُونُ بِهَا إِحْضَارُ الْمَكْفُولِ بِهِ اوبه دې سره چې دكوم شئ كفالت كيږي.هغه دمكفول به حاضرول دى.

حل اللغة> ① **الإحضار**- حاضرول

تشريح> قسمي الكفالة> ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائي.چه د كفالې دوه قسمونه دى.
① كفاله بالنفس ② كفاله بالمال.زمونږ په نيز كفاله بالنفس جائز ده.اوپه كفاله بالنفس كې چې د كوم شئ كفاله كيږي.هغه نفس مكفول به حاضرول دى.يعنې صرف د هغه كس د ذات حاضرولوضامن او كفيل دې.(١)

دلائله> ① دليل دادې.رسول هاشمى صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دى. (ألزعيم غارم) (٢) يعنې كفيل ضامن دې.دا حديث د خپل اطلاق په وجه كفالې د دواړو قسمونو د مشروعيت فائده وركوى.
② د كفاله بالنفس په كفاله بالمال باندې قياس كول دى.يعنې لكه څنګه چې دكفاله بالمال ارتيا راپيښيږي.دغه شان دكفاله بالنفس ارتيا هم راپيښيږي.اوپه كفاله بالنفس كې د كفاله معنى ثابتول هم ممكن دى.په دې طريقه چې لكه څنګه كفيل خپله ذمه د مكفول عنه ذمې سره د مال په مطالبه كې ملاوولې شي.دغه شان د مكفول بنفسه حاضرولو په مطالبه كې هم ملاوولې شي.نوهركله چې په كفاله بالنفس كې د كفاله معنى هم موجود ده. اود كفاله بالنفس ارتيا هم راپيښيږي.نود كفاله بالنفس جائز كيدلو كې څه شبه پاتې كيږي.

د كفالت منعقدكيدلو الفاظ

وَتَنْعَقِدُ او كفاله بالنفس منعقد كيږي إِذَا قَالَ تَكَفَّلْتُ بِنَفْسِ فُلَانٍ أَوْبِرَقَبَتِهِ أَوْبِرُوحِهِ أَوْبِجَسَدِهِ أَوْبِرَأْسِهِ كله چې كفيل ووايي چې زه د فلانى د نفس،يا د فلانى د رقبې، يا دده د روح،يا دده دجسم،يا دده د سر كفيل شوم

تشريح> د كفالې د انواعو او اقسامونه د فراغت نه روسته دلته كې د هغه الفاظو ذكر دې. كوم الفاظ چې په كفاله كې استعماليږي.اوپه كومو الفاظو چې كفاله منعقدكيږي.په دې سلسله كې قاعده داده.چه په كومو الفاظوسره د انسان پوره بدن تعبيركولې شي.كه حقيقتاً وي. لكه لفظ د نفس، جسد، روح وغيره. او كه عرفاً وي.لكه لفظ د رقبه راس او وجه. په دې سره به كفاله منعقد كيږي.مثلاً يوكس اووئيل.چه زه د فلانى د نفس يا دده د سټ يا دده د روح يا دده د جسم يا دده د سر يا دده د بدن،يا دده د مخ كفيل شوم.نو په دې الفاظو سره به كفاله منعقدكيږي.

دليله> څكه چې دا واړه الفاظ داسې دى.چه په دې سره حقيقتاً يا عرفاً پوره بدن تعبير كولې شي.اود پوره بدن كفالت چونكه صحيح دې.په دې وجه د ذكرشوى د بدن اندامونو اړخ ته په كفالت منسوب

---

[1]) **مذهب الشافعي رحمه الله**:-د حضرت امام شافعى رحمه الله ضعيف قول دادې.چه كفاله بالنفس جائز نه ده.او ددوى بنكاره قول زمونږ د مذهب موافق دې.

(١) من حديث أبي أمامة رضي الله عنه أخرجه أبوداود في البيوع باب ٨٨ رقم ٣٥٦٥ والترمذي في البيوع باب ٣٩ وابن ماجه في الصدقات باب٩ واحمد في المسند(٢٦٧/٥) والدارقطني في سننه (٤٠/٣) والبيهقي في السنن الكبرى (١٤٦/٦) رقم ١١٤٧٤)

کولو سره کفاله صحیح کیږی.لکه څنګه چې په کتاب الطلاق کې تیرشوی دی.که د ذکرشوی د بدن اندامونو اړخ ته طلاق منسوب کړې شو.نو طلاق واقع کیږی.نوهم دغه شان دلته کې هم د ذکرشوی د بدن اندامونو اړخ ته کفالت منسوب کولو سره کفاله درست کیږی.

أَوْبِنِصْفِهِ أَوْبِثُلُثِهِ یا دهغه د نیمې حصې زه کفیل شوم یا دهغه د دریمې حصې زه کفیل شوم.نودا هم جائز ده

تشریح> اوکه کفاله جزء شائع یعنی غیرمعین جزء اړخ ته منسوب کړې شوه.مثلاً دانې اوونیل. چه زه د فلانی نصف یا ثلث یا د یو جزءکفیل شوم.نودا کفالت هم درست دې.

دلیله> څکه چې یو نفس د کفاله په حق کې متجزی او منقسم کیږی نه.نو جزء شائع او غیرمعین جزء ذکرکول داسې دی.لکه کُل بدن او نن صبا نفس ذکرکول.

په..ضمنته.. لفظ سره د کفالت منعقد کیدلوحکم

وَكَذَاإِن قَالَ اوهم دغه شان که وې ونیل ضَمِنْتُه چه زه ددې ضامن شوم

تشریح> امام ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه په لفظ(ضمنته)، ،زه د فلانی د نفس ضامن شوم،، ونیلو سره هم کفاله منعقد کیږی.

دلیله> څکه چې د لفظ ضمان ادا کولو نه ورانديې د عقدکفاله د موجب صراحت شوې دې. اوعقد چونکه د موجب په تصریح سره منعقد کیږی.څکه په لفظ د ضمان سره کفاله منعقد کیږی.لکه څنګه چې عقدبیع په لفظ د تملیك سره منعقد کیږی.څکه چې تملیك د عقدبیع موجب دې.

أَوْهوعلی یا وې ونیل.چه هغه ما په خپل خان لازم کړو.

تشریح> اوکه وې ونیل. (هو علی)،، ماپخپل خان باندې لازم کړو،،یعنی چې کله دده حاضرول مطلوب وی.نوزه به دې حاضروم.دې سره هم کفاله منعقد کیږی.

دلیله> څکه چې لفظ د ،،علی،، د التزام صیغه ده.او په کفاله کې هم چونکه د مطالبې التزام کیږی.په دې وجه په لفظ د ،،علی،، سره کفاله منعقد کیږی.

أَوإِلَيَّ یا یې اوونیل چې هغه زما په اړخ دې.

تشریح> اوکه وې ونیل. (هو إلی) یعنی،،دا زما په اړخ دې،،نو په دې سره هم کفاله منعقد کیږی.

دلیله> څکه چې لفظ د ،،الی،، په دې مقام کې د ،،علی،، په معنی کې دې.او په لفظ د ،،علی،، سره کفاله منعقدکیږی.څکه به په لفظ د ،،الی،، سره منعقدکیږی.او لفظ د ،،الی،، د ،،علی،، په معنی کې کیدل د حدیث نه هم ثابت دی.څکه چې د رسول الله ﷺ ارشاد دې. (من ترك مالا فلورثته ومن ترك كلاً او عيالاً فإلي[1]) یعنی،،چاچه مال پریښولو .نودا دده د وارثانو لپاره دې.اوچا چې یتیم اولاد یا د پرورش محتاج رشته دار پریخودل.نو ددوی ذمه داری په ما ده.یعنی زه ددوی کفیل یم.،اوګورئ.د الله رسول ﷺ ،،الی،، د ،،علی،، په معنی کې استعمال کړې دې.

---

(۱) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه البخاري في الفرائض باب ۲۵ رقم ۶۷۶۳ ومسلم في الفرائض رقم ۱۷ وأبوداود في الخراج والإمارة والفيء باب ۱۵ رقم ۲۹۵۵ وأحمد في المسند (۳۵۶/۲) ـ

أَنَازَعِيمٌ بِهِ أَوْقَبِيلٌ بِهِ(یا یې اوونیلچې زه دده د ضمانت زعیم یم.یا قبیل یم

حل اللغة ① **زعیم**–ضامن-② **الزعامة**–ضمانت-

تشریح اوکه (أنا زعیم یا أنا قبیل) ئې اوونیل. بیا به هم کفاله منعقد کیږی.

دلیله ځکه چې زعامت هم د کفالت په معنی کې مستعمل دې.لکه چې په حدیث(الزعیم غارم) کې وارد شوی دی.اود قبیل معنی هم کفیل راځی.هم دا وجه ده.چه چك یا دستاویز ته قباله ونیلې شی.ځکه چې انسان څه هم په دستاویز(خط) کې لیکی.هغه واړه پخپل خان باندې لازم کوی.او پخپل خان باندې لازمونکی ته کفیل وائی.په دې وجه د (أنا قبیل) د (أنا کفیل) په معنی کې دې.

په کفالت بالنفس کښې د متعین وخت په شرط سره د مکفول په حاضرولو حکم

فَإِنْ شَرَطَ فِي الْكَفَالَةِ تَسْلِيمُ الْمَكْفُولِ بِهِ فِي وَقْتٍ بِعَيْنِهِ بیا که په کفاله بالنفس کې ئې په معین وخت کې د مکفول به د سپارلو شرط اوکړو لَزِمَهُ إِحْضَارُهُ نو په کفیل به د مکفول حاضرول لازمی وی إِذَا طَالَبَهُ بِهِ فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ په دې شرط چې مکفول له په دغه وخت کې د کفیل نه مطالبه اوکړی. فَإِنْ أَحْضَرَهُ نو که کفیل هغه حاضر کړو.(نو ډیره ښه ده) وَإِلَّا حَبَسَهُ الْحَاكِمُ ګنی حاکم به دې قید کړی

حل اللغة ① **إحضار**–حاضرول-② **الحبس**–بندیز

تشریح صورت د مسئلې دادې.که په کفاله بالنفس کې په یومعین وخت کې د مکفول بنفسه سپارلو شرط اوکړې شو.نو په کفیل به هم په دغه معین وخت کې د مکفول بنفسه سپارل لازم وی.په دې شرط چې مکفول له د کفیل نه هم په دې وخت کې مطالبه اوکړی.چه کفیل دا ادا کړی.د څه چې ده التزام کړې دې.نوکه کفیل مکفول بنفسه په وخت معین کې اوسپارلو.نو فبها ،کفیل به بری الذمه شی.اوکه کفیل مکفول بنفسه حاضرنکړې شو.نوحاکم به په رومبی ځل کفیل نه ګرفتاروی.او جیل خانه کې د اچولو حکم به نه کوی.

دلیله ځکه چې کفیل د یو واجبی حق ادا کولو نه منع شوې دې.اود واجبی حق ادا کولو نه منع کیدونکې د شریعت په نظر کې ظالم دې.اود ظالم سزا حبس او قید دې.په دې وجه به په دې صورت کې کفیل قید کولې شی.

د مکفول له په مخاصمې د قدرت په ځائې کښې د مکفول به حاضرولو حکم

وَإِذَا أَحْضَرَهُ اوکه کفیل هغه (مکفول بنفسه) په داسې ځائې کې اوسپارلو وَسَلَّمَهُ فِي مَكَانٍ يَقْدِرُ الْمَكْفُولُ لَهُ عَلَى مُخَاصَمَتِهِ کوم ځائې کې چې مکفول له ته دهغه سره د خصومت قدرت شته بَرِئَ الْكَفِيلُ مِنَ الْكَفَالَةِ نو کفیل به د کفالې نه بری شی.

حل اللغة **مصر**–ښکار-**یخاصم**–جګړه کوی-**التسلیم**–سپارل-**یقدر**–قادریږی

تشریح صورت د مسئلې دادې.که کفیل مکفول بنفسه راوستلو.او په داسې ځائې کې ئې مکفول له ته اوسپارلو .کوم ځائې چې مکفول له دده سره مخاصمه اومحاکمه کولې شی.مثلاً په ښارکې دننه ئې اوسپارلو.نو کفیل به بری وی.که مکفول له دا قبول کړی.اوکه قبول ئې نکړی.

دلیله ځکه چې د کفاله بالنفس نه مقصود د قاضی په عدالت کې مخاصمه اومحاکمه ده.نو هرکله چې کفیل په داسې ځائې کې اوسپارلو. کوم ځائې مکفول له، مکفول بنفسه سره مخاصمه اومحاکمه

کولې شي.نو مقصود حاصل شو.او مقصود په دې وجه هم حاصل شو.چه کفیل صرف یوځل سپارل خپل ځان باندې لازم کړی وو.او یوځل ده اوسپارلو. بهرحال د کفالة مقصود حاصل شوې دې.اوهرکله چې د کفالة مقصود حاصل شو.نوکفیل به بری وی.

فائده د صاحبینو رحمهما الله په نیز دکفیل،مکفول بنفسه په داسې ښار کې سپارل معتبر دی.په کوم ښارکې چې دې کفیل شوې وو.اود حضرت امام صاحب رحمه الله په نیز دا شرط نه دې.بلکه په کوم ښارکې ئې چې هم اوسپاری.معتبر به وی. (کذا في اشرف الهدایه)

د قاضي په مجلس کښې د سپارلو د شرط په وخت بازارکښې د سپارلو حکم

وَإِذَا تَكَفَّلَ اوکه په دې شرط باندې کفیل شو عَلَى أَنْ يُسَلِّمَهُ فِي مَجْلِسِ الْقَاضِي چې دې به هغه د قاضی په مجلس کې سپاری فَسَلَّمَهُ فِي السُّوقِ بَرِئَ بیا دې سری هغه په بازار کې اوسپارلو.نو بری شو

حل اللغة ① السوق-بازار

تشریح **مسئله** که یو کس په دې شرط کفیل شو.چه زه به مکفول بنفسه د قاضی په مجلس کې سپارم. خوده دا په بازارکې مکفول له ته اوسپارلو.نوکفیل به بری وی.

دلیله ځکه چې د مکفول له مقصود یعني قدرت علی المحاکمه حاصل دې.ځکه چې مکفول له دې قاضی له بوتلې شي.او دده سره مخاصمه اومحاکمه کولې شي.

قول عدم البراة متاخرینو عالمانو ونیلی دی.چه زمونږ په زمانه کې د قاضی د مجلس نه علاوه په بازار وغیره کې سپارلو سره کفیل نه بری کیږی. ([1])

دلیله ځکه چې نن صبا د فسق وفجور اود فساد زمانه ده.نوکه کفیل د قاضی د مجلس نه علاوه په بازاروغیره کې مکفول بنفسه، مکفول له ته حواله کړو.اومکفول بنفسه شور جوړ کړو.او خپل مظلومیت ئې ښکاره کړو.نو خلق به دده په خلاصولو کې دده کومك اوکړی.اود مکفول له به په دې باره کې هیڅ کومك اونکړی.چه مکفول بنفسه د قاضی په عدالت کې حاضر کړی.چه مکفول له د خپل حق په سلسله کې دده سره مخاصمه اوکړی.نوهرکله چې دا خبره ده.نود مکفول بنفسه حاضرول به د قاضی مجلس سره مقید کول ګټور وی.او هرکله چې د قاضی مجلس سره مقید کول مفید دی.نود قاضی په مجلس کې د حاضرولو شرط سره د قاضی د مجلس نه علاوه بل ځائې کې حاضرول به معتبر نه وی.او په دې سره به کفیل نه بری کیږی.

په یو ډګر یاځنګل کښې د سپارلو حکم

وَإِنْ كَانَ فِي بَرِّيَّةٍ اوکه کفیل مکفول بنفسه په یو میدا ن (اوځنګل) کې اوسپارلو لَمْ يَبْرَأْ نو کفیل نه بری کیږی

تشریح صورت د مسئلې دادې.که کفیل مکفول بنفسه په یو ډګر یا ځنګل کې مکفول له ته اوسپارلو.نو بالاتفاق به کفیل د کفالې نه بری نه وی.

دلیله ځکه چې په داسې غیرآباد ځائې کې مکفول له،مکفول بنفسه سره مخاصمه نشی کولې.اوهرکله چې مکفول له، مکفول بنفسه سره په مخاصمه کولو باندې قادرنه دې.نود کفالې نه چې

[1]) القول الراجح هو هذا قول المتاخرين كذا في فتح القدير(٦\٢٨٩) والبحرالرائق (٦\٢١١) والعناية (٦\٢٨٨) والدرالمختار(٤\٢٨٦) نقلاً عن القول الراجح (٢\٨٩)-

څه مقصود وو. یعنی په مخاصمه باندې قادرکیدل،هغه به هم نه حاصلیږی.او هرکله چې مقصود حاصل نشو.نو کفیل به د کفالې نه هم بری نه وی.

د کفیل بالنفس ضامن کیدلو کښې د ضمان مسئله

وَاِذَامَاتَ الْمَكْفُوْلُ بِهٖ بَرِئَ الْكَفِيْلُ بِالنَّفْسِ مِنَ الْكَفَالَةِ اوکله چې مکفول به مړ شو نو کفیل بالنفس د کفاله نه خلاص شو. وَاِنْ تَكَفَّلَ بِنَفْسِهٖ اوکه یوکس د یونفس په دې شرط باندې کفیل شو عَلٰى اَنَّهٗ اِنْ لَّمْ يُوَافِ بِهٖ فِىْ وَقْتِ كَذَا که په فلانی وخت کښې نې دې حاضر نکړو فَهُوَضَامِنٌ لِمَاعَلَيْهِ نودې دهغه ضامن دی.کوم څه چې په مکفول بنفسه باندې دی وَهُوَاَلْفٌ او هغه زر درهم دی فَلَمْ يُحْضِرْهُ فِى الْوَقْتِ بیا هغه په دغه وخت کې مکفول بنفسه رانه وستلو لَزِمَهٗ ضَمَانُ الْمَالِ نو په کفیل به د مال ضمان لازم وی.

تشریح> صورت د مسئلې دادې.چه خالد د حامد لپاره د شاهد د اړخه کفیل بالنفس شو.یعنی خالد د شاهد حاضرولو کفیل شو.اوده دا اووئیل.که مامکفول بنفسه یعنی شاهد فلانی وخت پورې حاضرنکړې شو.نو په مکفول بنفسه یعنی شاهد باندې چې څه واجب دی.یعنی زر روپۍ،ددې زه ضامن یم.څه اتفاق سره کفیل یعنی خالد مکفول بنفسه یعنی شاهد هغه وخت پورې پیش نکړې شو.نو کفیل به مکفول له یعنی حامد لپاره د زر روپو ضامن وی.

دلیله> دلیل دادې.چه په دې صورت کې کفاله بالمال د مکفول بنفسه یعنی د شاهد حاضرولو په شرط باندې معلق ده.اودا شرط، شرط متعارف دې.او کفاله په متعارف شرط باندې معلق کول درست دی.نو هرکله چې د کفاله بالمال نه حاضرولو شرط باندې معلق کول صحیح دی.او شرط اوموندې شو.نوپه کفیل به مال ضمان اداکول لازم وی.

وَلَمْ يَبْرَأْ عَنِ الْكَفَالَةِ بِالنَّفْسِ اود کفاله بالنفس نه به بری نه وی

تشریح> په ذکرشوې مسئله کې د کفالت بالمال نه بری شو خو ددې باوجود به د کفاله بالنفس نه نه بری کیږی.بلکه د مکفول بنفسه حاضرول به په ده باندې علی حاله واجب وی.(۱)

دلیله>.دلیل دادې.چه کفاله بالمال او کفاله بالنفس دواړو کې هیڅ منافات نشته.ځکه چې د دواړو مقصد یو دې.ځکه چې کفاله بالمال هم د مکفول له د اعتماد لپاره وی.او کفاله بالنفس هم د اعتماد لپاره وی. نو هرکله چې په دواړو کې هیڅ منافات نشته.بلکه دواړه جمع کیدې شی.یعنی یوکس کفیل بالنفس او کفیل بالمال دواړه کیدې شی.نوکفاله بالمال به کفاله بالنفس نه باطلوی.او هرکله چې د کفاله بالمال په وجه کفاله بالنفس باطل نشوه.نو کفیل په مال ضمان ادا کولو باندې دکفاله بالنفس نه څنګه بری کیدې شی؟

په حدود او قصاص کښې دکفالت حکم

وَلَاتَجُوْزُ الْكَفَالَةُ بِالنَّفْسِ فِى الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ عِنْدَ اَبِىْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ (۱) اود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز په حدود او قصاص کې کفاله بالنفس جائز نه ده او ددې مطلب دادې.چه د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز (په چاچه د حد یا قصاص دعوه اوکړې شوه)

۱) **مذهب الشافعي رحمه الله**:- په زیربحث مسئله کې امام شافعي رحمه الله فرمائی.چه دا کفاله بالمال صحیح نه ده.

مذهب ابي حنيفة رحمه الله > ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي چه د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په حدود اوقصاص کي کفاله بالنفس جائز نه ده.ددې عبارت نه د صاحب د قدروی رحمه الله مراد دادې چه په کوم کس باندې د حد يا قصاص دعوه اوکړې شوه.که دده نه مدعی د کفيل بنفسه مطالبه اوکړله.يعنی د يو داسې کفيل مطالبه ئې اوکړله. کوم چې په ده باندې د حد ثابتولو لپاره د قاضي په مجلس کي دده د حاضرولو ضامن وی.خوده د کفيل ور کولو نه انکار اوکړو.نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به دې د کفيل په ور کولو باندې نشي مجبوره کولې.نود (لاتجوز الکفالة بالنفس) معنی به دا وی.چه (لايجوز إجبار الکفالة) يعنی په چاچه حد يا قصاص واجب دې.په کفيل ور کولو باندې دده مجبوره کول جائز نه دی.هم دا د امام احمد رحمه الله قول دې.او يو قول د امام شافعي رحمه الله دې.

دلائله > ① دليل (لا کفالة في حدّ.....) حديث دې.يعنی په هيڅ حد کي کفاله نشته.اودا حديث مطلق دې.نه په دې کي د هغه حدود ذکر دې.کوم چې خالص د الله تعالی حق دی.اونه د هغه حقوق ذکر دې.په کوم کي چې د بنده حق وی.نو معلومه شوه.چه په حدودکي بلاتفصيل کفاله نشته.که حد قذف وی.او که قصاص ياحدود خالصة لله وی.او ددې حديث په باره کي د خصاف رائې داده.چه دا د حضرت شريح کلام دې.د رسول الله صلى الله عليه وسلم کلام نه دې.خو صدرالشهيد رحمه الله داحديث رسول اکرم صلى الله عليه وسلم پورې مرفوع کړې دې.

②دوئم دليل دادې.چه دثبولو حدود بنا (بنياد) په ساقطولو دې.دثبولو حدود حکم دادې.چه دا د شهادت په وجه ساقط کړې شی.اود کومو څيزونو بنا (بنياد) چې په ساقطولو وی.دابه په کفيل اخستلو باندې مضبوطول څنګه واجب وی.يعنی کوم حق چې په شبه سره ساقطيږی.په دې کي پخپله مضبوطی نشته.اوپه کوم حق کي چې پخپله مضبوطی نه وی.په هغې کي کفاله سره مضبوطی پيدا کول څنګه لازميدې شی.نومعلومه شوه.چه په حدود کي د کفاله په ذريعه مضبوطی پيدا کول واجب نه دی.

مذهب الصاحبين > صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه په کوم کس د حدقذف دعوه شوې ده.دې به په کفيل ور کولو باندې مجبوره کولې شی.يعنی که دا کس د کفيل ور کولو نه انکار اوکړی.نو په کفيل بنفسه ور کولو باندې دده مجبوره کول جائز دی.هم دا د امام مالک رحمه الله قول دې.اود امام شافعي رحمه الله يوقول هم دادې.

دليلهما > د صاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه په حد قذف کي د خپل خان نه شرم لرې کولو لپاره د مقذوف يعنی د بنده حق دې.اود حد مشروع کولو نه مقصود خلق د تهمت نه بندول او عالم د فساد نه خالی کول دی.څکه حد قذف د الله تعالی حق هم دې.بهرحال په حدقذف کي د بنده حق ثابت دې.هم دا وجه ده.چه د حدقذف لرې کولو لپاره د مقذوف دعوه کول شرط دی.که حدقذف د مقذوف يعنی د هغه سړی حق نه وې.په کوم چې تهمت لګولې شوې دې.نود حدقذف جاری کولو لپاره به دده دعوه کول شرط نه وو.نود دعوه شرط کيدل ددې خبرې علامت دې.چه حدقذف د بنده يعنی د مقذوف حق دې.او مدعی يعنی مقذوف کله کله ددې خبرې محتاج وی.چه دې خپل ګواهان او مدعی عليه يعنی قاذف راجمع کړی.خو مدعی عليه قاذف خپل خان پټوی.نوپه داسې صورت کي د مدعی عليه يعنی د قاذف نه د وکيل بنفسه اخستلو ارتيا راپيښيږی.چه دې د قاضي په مجلس کي د قاذف حاضرولو ضامن وی.نو ددې ارتيا په لحاظ سره د مدعی يعنی د مقذوف د شرم لرې کولو حق ثابتولو لپاره قاذف په کفيل بنفسه ور کولو باندې مجبورولې شی.لکه څنګه چې په نورو حقوق کي مدعی عليه په کفيل بنفسه ور کولو باندې مجبورولې شی.

[1]) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (۱۲۹\۲) والهندية (۲۵۸\۳) نقلاً عن القول الراجح (۹۲\۲)-

صاحبین ﷫ فرمائي.چه په قصاص کي هم قاتل د کفیل بالنفس په ورکولو باندې مجبورولی شي.او علامه مرغیناني ﷫ په دلیل کي فرمانیلی دی.چه قصاص خالص د بنده حق دې.حالانکه داسې نه ده.بلکه صحیح خبره داده.چه په قصاص کي د بنده حق هم موجود دې.اود الله تعالی حق هم موجود دې.البته د بنده حق غالب دې.قصاص د بنده حق ځکه دې.چه بنده یعنی د مقتول ولی که قصاص معاف کول اوغواړي.نو معاف کولې شي.اوکه دې د قاتل نه د قصاص عوض اخستل اوغواړي.نو عوض هم اخستې شي.نو بنده یعنی د مقتول ولی ته د قصاص معاف کولو اود عوض اخستلو حق حاصلیدل،ددې خبرې دلیل دې.چه قصاص دده حق دې.اود الله تعالی حق ځکه دې.چه د قصاص په وجه عالم ته د فساد نه نجات ملاویږي.لکه چې قرآن پاك اعلان کوی. ﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ﴾ او عالم ته د فساد نه نجات ورکول ښکاره دی.چه دا د الله تعالی حق کیدې شي.د بنده حق نشی کیدې.بهرحال په قصاص کي چونکه د بنده حق غالب دې.اود حقوق العباد ثابتولو لپاره مدعی علیه په کفیل بالنفس ورکولو باندې مجبورولې شی.ځکه په قصاص کي هم قاتل د کفیل بالنفس په ورکولو مجبورولې شي.ددې په خلاف هغه حدود کوم چې خالص د الله تعالی حق دې.لکه حد زنا او حد شرب خمر،چه په چا باندې حد زنا یا حد شرب خمر واجب وی.دې به په کفیل بالنفس ورکولو باندې مجبورولې شی.اګرچه مدعی علیه یعنی په چاچه حد زنا یا حد شرب خمر واجب دې.که دې په خوشحالئ سره کفیل ورکول اوغواړي.بیا به هم کفیل نشی اخستلې.په حدزنا او حدشرب خمر کي کفیل بالنفس نه د زنا او شرب خمر باندې د شهادت قائمیدلونه روسته اخستې شي.اونه د شهات قائمیدلو نه وړاندې.د شهادت قائمیدلو نه وړاندې ځکه چې د شهادت قائمیدلو نه وړاندې صرف د دعوې په وجه مدعی علیه باندې د قاضی په مجلس کي حاضریدل واجب نه دی.نو کفیل باندې به دده حاضرول څنګه واجب وی.او هرکله چې په کفیل باندې مدعی علیه حاضرول واجب نه دی.نو کفاله بالنفس به څنګه واجب وی.اود شهادت قائمیدو نه روسته کفاله بالنفس ځکه جائز نه ده.چه د شهادت نه روسته اود ګواهانو د تعدیل نه وړاندې مدعی علیه (په چاچه د زنا یا دشرب خمر دعوه شوې ده) قید کولې شی.او په قید کولو سره مضبوطی او وثیقه حاصلیږي . یعنی په قید کولو سره د مدعی علیه خپل ځان پواره اود قاضی په مجلس کي د نه حاضریدلو احتمال ختمیږي.اوهرکله چې دا احتمال پاتې نشو.نود کفاله هیڅ اړتیا نشته.ځکه چې د کفاله بالنفس مقصد هم دادې.چه کفیل مدعی علیه د قاضی په مجلس کي پیش کړی.اودا مقصد چونکه د کفاله نه بغیر نه حاصلیږي.ځکه به د کفاله هیڅ اړتیا هم نه وی.او هرکله چې په دې صورت کي کفاله بې ضرورته شوه.نو کفاله به هم جائز نه وی.

الجواب> د دې دلیل نه جواب هغه مرفوع حدیث دې.کوم چې وړاندې تیرشو.چې «لا کفالة في حد» دا حدیث مطلق دې.هرقسم حد ته شامل دې.که قصاص وی که بل څه

د کفالت بالمال حکم

وَأَمَّا الْكَفَالَةُ بِالْمَالِ فَجَائِزَةٌ او پاتې شوه کفاله بالمال،نودا هم جائز ده مَعْلُوْمًا كَانَ الْمَكْفُوْلُ بِهٖ أَوْ مَجْهُوْلًا که مکفول به معلوم وی.اوکه مجهول وی إِذَا كَانَ دَيْنًا صَحِيْحًا په دې شرط چې دین صحیح وی مِثْلُ أَنْ يَقُوْلَ تَكَفَّلْتُ عَنْهُ بِأَلْفِ درهم مثلاً دا اووائی.چه زه دده د اړخه د یو زر روپو کفیل شوم أَوْ بِمَا لَكَ عَلَيْهِ یا دهغه مال کوم چې ستا په ده باندې دې أَوْ بِمَا يُدْرِكُكَ فِي هٰذَا الْبَيْعِ یا دهغه مال کوم چې په تا باندې په دې بیع کي راشي.

تشريح> فاضل مصنف رحمه الله وړاندې د كفاله دوه قسمونه بيان كړي وو. ① كفاله بالنفس ② كفاله بالمال، د كفاله بالنفس ټولو احكامونه د فراغت نه روسته اوس كفاله بالمال ذكركوى.ارشاد فرمانى.چه كفاله بالمال جائز ده.مكفول به مال د مقدار په اعتبار سره معلوم وى.او كه مجهول وى.په دې شرط چې دين صحيح وى.د امام مالك او امام احمد رحمهما الله هم دا قول دې.اود امام شافعى رحمه الله قديم قول هم دادې.

دلائله> ① دليل د الله تعالى دا قول دې﴿وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ﴾ حضرت يوسف عليه السلام اعلان كړې وو.چه كوم كس ورك شوې كټورې راوړى.د هغه لپاره به د يو اوښ بوجهـ غله وى.او زه ددې كفيل يم.دلته ما مكفول بها﴿وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ﴾ (د غلې نه بارشوې اوښ دې) اود اوښ بوجهـ د اوښ په مختلف كيدو سره بدليږى.يعنى كه اوښ كمزورې وى.نو په ده چې كومه غله بـاركولې شـى.دا به كمه وى.اوكه طاقتور وى.نو په ده به غله په زيات مقدار كې باركيږى.نو حضرت يوسف عليه السلام چې د كومې غلې كفيل شوې دې.هغه غله د مقدرا پـه اعتبـار سره مجهول ده.او قرآن پـاك كـه يوحكم د تيرشوى امتونو بيان كړى.او په دې باندې څه نكير اونكړى.نودا زمونږ لپاره هم حجت وى.په دې وجه به دا آيت د مكفول به د مقدار مجهول كيدلو باوجود ، د كفالې په جواز باندې زمونږ لپاره حجت وى.

② دوئم دليل دادې.چه نبى كريم ﷺ فرمانيلى دى. ﴿الزعيم غارم﴾ كفيل ضامن دې.په دې كې عموم دې.نه د مكفول بـه معلوميدل ذكـر دى.اونـه مجهـول كيـدل ذكـر دى.پـه دې وجـه بـه كفالـه پـه دواړو صورتونوكې ټيك وى.

③ دريم دليل كوم چې علامه مرغينانى رحمه الله بيان كړې دې.چه د كفاله بنا (بنياد) په توسع باندې دې.څكه چې كفاله ابتداء تبرع او خالص احسان دې.اودكوم شئ بنا (بنياد) چې په توسع باندې وى.هغه معمولى جهالت برداشت كوى.څكه به كفاله هم د مكفول به معمولى جهالت برداشت كوى.

④ څلورم دليل دادې.چه د كفاله بالدرك په جواز باندې دټولو اتفاق او اجماع ده.حالاتكه په كفاله بالدرك كې دټولو نه زيات جهالت وى.څكه كله چې كفيل مشترى ته اووئيل.كه يوكس په مبيع باندې د استحقاق دعوه اوكړه.اودا ئې واخستلو.نو ستا د ثمن ضامن زه يم.په دې كې خو اول ضمان مجهول دې.څكه كه مبيع مستحق شو.نو ضامن به وى.ګنى ضامن بـه نـه وى.دويمه دامعلومه نه ده.چه پوره مبيع به مستحق كيږى.او كه يوه برخه به مستحق وى.بهرحال ضمان بالدرك او په كفاله بالدرك كې دمكفول به مجهول كيدلو باوجود ددې په جواز باندې د ټولو امامانو اجماع ده.او اجماع يو شرعى حجت دې.نو كفاله بالدرك چې په دې كښې د ټولو نه زيات جهالت دې.هركله چې دا جائز دې.نو نور صورتونه چې په دې كې كم جهالت دې.په درجه اولى به جائز وى.

د مكفول له د مال مطالبه كول

وَالْمَكْفُوْلُ لَهٗ بِالْخِيَارِ اِنْ شَآءَ طَالَبَ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْاَصْلُ اومكفول له ته اختيار دې.كه غواړى د هغه سړى نه دې مطالبه اوكړى.په چا چې اصل قرضه ده وَاِنْ شَآءَ طَالَبَ الْكَفِيْلَ او كه غواړى.د كفيل نه دې مطالبه اوكړى

تشريح> ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمانى.چه په كفاله بالمال كې مكفول له ته اختيار وى.چه دې د قرض مطالبه د اصيل يعنى مكفول عنه نه اوكړى.ياد كفيل نه اوكړى.يا په يووخت دواړو نه اوكړى.

دليله> دليل دادې.چه كفاله په مطالبه كې د يوې ذمې بلې ذمې سره د ملاوولو نوم دې.يعنى د كفيل ذمه اصيل يعنى د مكفول عنه ذمه سره ملاويږى.اود كفيل ذمه د اصيل ذمې سره ملاوول ددې خبرې

تقاضا کوی. چې ړومبۍ ذمه یعنې د اصل ذمه باقي شي.او ددې خبرې تقاضا نه کوی.چه د اصيل ذمه د مطالبې نه بری شي.ځکه که د اصيل ذمه د مطالبې نه بری شي.نو ضم يعنې يوه ذمه د بلې ذمې سره ملاوول به نه متحقق کيږي.اوهرکله چې د يوې ذمې بلې ذمې سره ملاوول متحقق نشو.نوکفاله به هم متحقق نه وی.حالانکه مسئله دکفاله په صورت کې فرض شوې ده.نو ثابته شوه.چه دکفاله موجب

يعنې (ضم الذمة إلى الذمة في المطالبة) داصيل په ذمه موجود پاتې کيدلو تقاضاکوی.دده د ذمې بری کيدو تقاضا نه کوی.

مشروط سره د کفالت معلق کولوحکم

وَيَجُوزُ تَعْلِيقُ الْكَفَالَةِ بِالشُّرُوطِ او کفاله په شرطونو باندې معلق کول جائز دی مِثْلُ أَنْ يَقُولَ مَا بَايَعْتَ فُلَانًا فَعَلَيَّ مثلاً داسې اووائی.که تا د فلانی سړی سره اخستل خرخول اوکړل أَوْمَا ذَابَ لَكَ عَلَيْهِ اوکوم څه چې ستا لپاره په فلانی سړی باندې راوژتل. فَعَلَيَّ نو هغه په ما دی أَوْمَا غَصَبَكَ فلانا فَعَلَيَّ يا فلانی چې کوم څه ستا نه غصب کړل.هغه په ما دی.

تشريح> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه کفاله په شرط باندې معلق کول جائز دی.مثلاً دائې اووئيل.که تا د فلانی سړی نه اخستل خرخول اوکړل.نو زه ددې ذمه واريم.يا ئې دا اووئيل.چه کوم څه ستا په ده واجب وی.زه د هغې ذمه وار يم.يعنې که ستا په ده څه واجب شو.نوزه ددې ذمه دار يم.يائې دا اووئيل.چه فلانی سړی ستا څه مال غصب کړو.نو ددې کفيل زه يم.

دليله> او په دې باره کې اصل د الله تعالى قول وَلِمَنْ جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ دی.يعنې کوم کس چې د بادشاه کټوری راوړی.دده لپاره د يواوښ بوجهه غله ده.او زه ددې کفيل يم.ددې آيت نه دوه خبرې معلومې شوې.

① يوه خودا چې يو اوښ غله چې ددې مقدار مجهول دې.اوکم و زيات کيدې شي.ددې کفاله جائز ده.

② دوئم داچه کفاله معلق ده.يعنې که کوم کس دا کټوری راوړی.نو زه به دده لپاره کفيل يم.اوکه رائې نوړی.نو زه دده لپاره کفيل نه يم.ددې آيت نه معلومه شوه.چه مکفول به که مجهول وی.نو بياهم کفاله جائز ده.اوکه کفاله په شرط باندې معلق کړې شوه.بيا هم جائز ده.

د کفيل د ضامن کيدلو نه روسته د زر درهمو ثابتيدلو حکم

وإذاقَالَ تَكَفَّلْتُ بِمَا لَكَ عَلَيْهِ نوکه کفيل اووئيل.چه کوم څه ستا په ده باندې دی ما د هغې کفالت اوکړو فَقَامَتِ الْبَيِّنَةُ بِأَلْفٍ عَلَيْهِ ضَمِنَهُ الْكَفِيلُ بيا ئې ګواهان قائم کړل.چه په ده باندې يو زر دی.نوکفيل به د يو زر ضامن وی

تشريح> صورت د مسئلې دادې.چه يوسړی بل کس ته اووئيل.چه کوم مال ستا په ده باندې دې.زه د هغې کفيل يم.يعنې مکفول به مجهول دې.خو ددې باوجود يو سړې کفيل شو.بيا د ګواهانو په ذريعه ثابته شوه.چه په مکفول عنه باندې د مکفول له زر درهم دی.نو کفيل به ددې زرو درهمو ضامن وی.

دليله> دليل دادې.چه په ګواهانو سره کوم شئ ثابتيږی.هغه په مشاهده سره د ثابتولو پشان دې. اوکفيل که ددې مقدارمشاهده کړې وه.کوم چې په مکفول عنه باندې واجب دې.او ددې کفيل شوې وو.نو په ده به هغه مقدار لازميدلو.کوم چې په مکفول عنه باندې دې.نوهم دغه شان چې کله په ګواهانو سره يو مقدار ثابت شو.نوددې مقدار کفيل کيدل به هم صحيح وی.

وَإِنْ لَمْ تَقُمِ الْبَيِّنَةُ اوكه گواهان نې قائم نكړل فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْكَفِيلِ مَعَ يَمِينِهِ فِي مِقْدَارِ مَا يَعْتَرِفُ بِهِ كفيل قول به د هغه شئ په مقدار كښې د كوم چې هغه اقرار كوي.قسم سره به قبول وي

تشريح> اوكه په مقدار باندې گواهان قائم نشو.او مكفول له او كفيل د مقدار په سلسله كې اختلاف اوكړو.مثلاً مكفول له اووئيل.چه زما په ده باندې دوه زره درهم دي.او كفيل اووئيل.چه نه بلكه زر درهم دي.نو په داسې صورت كې به د كفيل قول مع اليمين معتبر وي.

دليله> ځكه چې كفيل خپل ځان باندې د زياتوالي منكر دې.اود زياتوالى د مدعى سره د بينه نه موجود كيدلو په صورت كې چونكه د منكر قول مع اليمين معتبر وي.په دې وجه به دلته هم دمنكر يعني دكفيل قول معتبر وي.

فَإِنْ اعْتَرَفَ الْمَكْفُولُ عَنْهُ بِأَكْثَرَ مِنْ ذَٰلِكَ نوكه مكفول عنه ددې نه د زيات اقرار اوكړو لَمْ يُصَدَّقْ عَلَى كَفِيلِهِ نو په كفيل به دده د قول تصديق نشى كولې

حل اللغة> ① **الإعتراف**-اقرار-② **أكثر**-زيات-③ **يصدق**-تصديق كوى

تشريح> اوكه مكفول عنه دكفيل د اقرار مقدار نه د زياتي اعتراف اوكړو.نو په كفيل به دده د قول تصديق نشي كولي.يعنى په كفيل به هغه مقدار واجب نه وي دكوم چې مكفول عنه اقرار كوي.البته پخپله به د مكفول عنه د ذات په حق كې ددې تصديق كولى شى.

دليله> د كفيل په حق كې به تصديق ځكه نه كيږي.چه د مكفول عنه دا اقرار په غير باندې اقرار دې.او په غير باندې اقرار كولو سره په غير باندې هغه وخت لازميږي.چه كله اقرار كونكى ته په دې غير باندې ولايت حاصل وي.حالانكه مكفول عنه ته په كفيل باندې هيڅ ولايت حاصل نه دې.نو هركله چې مكفول عنه ته په كفيل باندې هيڅ ولايت حاصل نه دې.نود مكفول عنه د اقرار په وجه به په كفيل باندې هيڅ لازم نه وي.

د مكفول عنه د حكم او بغير د حكم نه د كفالت مسئله

وَيَجُوزُ الْكَفَالَةُ بِأَمْرِ الْمَكْفُولِ عَنْهُ او كفاله جائز كيږي.د مكفول عنه په حكم سره هم وَبِغَيْرِ أَمْرِهِ او دده دحكم نه بغير هم

تشريح> ابو الحسن قدوري رحمه الله فرماني.چه كفاله د مكفول عنه په حكم سره هم جائز ده.اودده دحكم نه بغير هم جائز ده.يعنى كه مكفول عنه يوكس ته حكم اوكړو.چه ته زما د اړخه ضامن شه.يا زما د اړخه كفيل شه.نودا جائز دى.اوكه د حكم نه بغير يوكس كفيل شو.نوهم جائز دى.

دلائله> ① د رسول الله ﷺ قول (الزعيم غارم... الحديث) دې.يعنى،، كفيل ضامن دې،،اودا عام دې.نو ددې حديث اطلاق او عموم ،،كفاله بامره،، او ،،بغيرامره،، د دواړو په جواز باندې دلالت كوى.

② دونم دليل دادې.چه كفاله خپل ځان باندې د مطالبې لازمولو نوم دې.او پخپل ځان باندې مطالبه لازمول د خپل ذات په حق كې تصرف دې.اود خپل ذات په حق كې چې كوم تصرف وى.هغه لازم وى.په دې شرط چې په دې تصرف سره غير ته ضرر نه رسيږي.او دلته كې د متصرف يعنى د كفيل غير، مكفول له او مكفول عنه دى. اود كفيل په تصرف سره دوى دواړو ته هيڅ ضرر نه رسيږي.بلكه د مكفول له په دې كې سراسر نفع ده.په دې طريقه چې د كفاله نه وړاندې مكفول له ته صرف د مكفول عنه نه د مطالبې اختيار وو.اود كفاله نه روسته د مكفول عنه نه علاوه د كفيل نه هم د مطالبې اختيار حاصل شوي دې.او په دې كې د مكفول له نفع ښكاره ده.اوپه كفاله سره د مكفول عنه هم څه

ضرر نشته.ځکه چې مکفول عنه به کفیل ته حکم کړي وي.یا به ئې کفیل ته حکم نه وي کړي.که مکفول عنه کفیل ته حکم نه وي کړي.نود کفیل د دین ادا کولو نه روسته د مکفول عنه نه د رجوع کولو اختیار نه وي.اوهرکله چې په دې صورت کې کفیل ته د مکفول عنه نه د رجوع کولو شرعاً هیڅ اختیار نشته.نو په دې صورت کې د مکفول عنه څه نقصان هم نشته.اوکه مکفول عنه کفیل ته حکم کړي وي.نوپه دې صورت کې د دین ادا کولو نه روسته اګرچه کفیل ته د مکفول عنه د رجوع کولو اختیار دې.خود حکم کولو په وجه مکفول عنه په دې باندې راضي شوې دې.اوپه کوم ضرر چې انسان راضي شي.هغه ضرر نه شمارلې کیږي.په دې وجه به په دې صورت کې هم مکفول عنه ته هیڅ ضرر نه لاحق کیږي.نو ثابته شوه.چه کفاله پخپلو دواړو قسمونو ، یعنی بأمره او بغیرأمره سره جائز ده.

د مکفول عنه په حکم سره د کفیل کفالت کول

فَإِنْ كَفَلَ بِأَمْرِهِ نوکه کفیل د مکفول عنه په حکم سره کفالت اوکړو رَجَعَ بِمَا يُؤَدِّي عَلَيْهِ نو کفیل چې کوم څه ادا کړل.هغه به د مکفول عنه نه واپس اخلي

حل اللغة ⟨ ① **الإمر** –حکم- ② **أدى** –ادا کړو-

تشریح ⟨ صورت د مسئلې دادې.که کفیل د مکفول عنه په حکم سره کفالت کړي وي.نو کفیل چې کوم مال د مکفول له په مطالبه سره اداکوی.دې به د مکفول عنه هم دا مال واپس اخلي.په دې شرط چې دوه خبرې اوموندې شي.

① یوه داچه مکفول عنه داسې سړې وي.چه دده امر صحیح وي.نوکه مکفول عنه صبي محجور یا عبدمحجور وي.نوکفیل ته به د اداکړې شوی مال د مکفول عنه نه د واپس اخستلو اجازت نه وي.

② دوئم داچه د امرکونکې مکفول عنه کلام په لفظ ،،عنی،، باندې مشتمل وي.مثلاً داسې اووائي.(كَفّل عنّي أضمن عنّي لفلان) یعنې ته زما د اړخه د فلانې لپاره کفیل شه.یا ضامن شه.که مکفول عنه دا اوونیل.چه ته د فلانې لپاره ددې یو زر ضامن شه.کوم چې په ما باندې دی.نو په دې صورت کې به کفیل ته د ادا کولو نه روسته د واپس اخستلو اجازت نه وي.بهرحال که کفیل د مکفول عنه په حکم سره کفالت کړي وي.نوکفیل مال مکفول به ادا کولو نه روسته د مکفول عنه نه واپس اخستې شي.

دلیله ⟨ دلیل دادې.چه کفیل د خپل غیرقرضه دده په حکم سره اداکړې ده.اوکوم کس چې دخپل غیر قرضه دده په حکم سره اداکړي.چونکه ده ته د قرضدار نه د واپس اخستلو اختیار وي.په دې وجه کفیل بأمره ته د مکفول عنه د اړخه د ادا شوی مال دین واپس اختیار وي.

وَإِنْ كَفَلَ بِغَيْرِأَمْرِهِ اوکه کفیل د مکفول عنه د حکم نه بغیر کفالت کړي دې لَمْ يَرْجِعْ بِمَا يُؤَدِّي نو کوم څه چې اداکوی.دې هغه واپس نشی اخستې

حل اللغة ⟨ ① **یودي** –ادا کوی- ② **متبرع** –احسان کونکې-

تشریح ⟨ اوکه کفیل د مکفول عنه د حکم نه بغیر کفالت اوکړی.نوکفیل د مکفول عنه د اړخه څه هم اداکړی.ده ته به د مکفول عنه نه د واپس اخستلو اجازت نه وي.امام شافعی رحمه الله هم ددې قائل دې.او یو روایت د امام محمد رحمه الله دی.

دلیله ⟨ دلیل دادې. چې د کفاله بغیرأمره په صورت کې کفیل،د مکفول عنه د اړخه په قرضه اداکولوکې مکفول عنه باندې احسان او تبرع کونکې دې.آو احسان کونکی ته دخپل احسان واپس اخستلو شرعاً اجازت نه وي.په دې وجه دکفاله بغیرأمره په صورت کې که کفیل د مکفول عنه د اړخه

قرضه اداکړله.نو ددې واپس اخستلو اختيار به نه وي.

د قرضه اداکولو نه وړاندې د کفیل د مال د مطالبې حکم

وَلَيْسَ لِلْكَفِيلِ أَنْ يُطَالِبَ الْمَكْفُولَ عَنْهُ بِالْمَالِ قَبْلَ أَنْ يُؤَدِّيَ عَنْهُ اود مکفول عنه د طرفه د قرضې اداکولو نه وړاندې کفیل ته د مکفول عنه نه د مال د مطالبې اختيار نشته

تشریح> مسئله داده.چه ترکومه پورې کفیل د مکفول عنه د طرفه قرضه ادانکړي.هغه وخت پورې کفیل ته د مکفول عنه نه دمال د مطالبې حق نه وي.

دليله> دليل دادې.چه موجب للرجوع د کفیل مالك کيدل دي.يعنې کفیل ته مکفول عنه طرف ته د رجوع کولو اختيار هغه وخت وي.چه کله کفیل د قرضې مالك شي.حالانکه د اداکولو نه وړاندې کفیل د قرضې مالك نه وي.نوهرکله چه د اداکولو نه وړاندې کفیل د قرضې مالك نشو.نوموجب للرجوع هم اونه موندې شو.اوهرکله چه د رجوع واجبونکې څيز يعنې دکفیل مالك کيدل اونه موندې شو.نود اداکولو نه وړاندې به کفیل ته د مکفول عنه د قرضې مال اخستلو اختيار هم نه وي.

د مال په سلسله کښې د کفیل او مکفول عنه راګيرول

فَإِنْ لُوزِمَ بِالْمَالِ نوکه د مال په سلسله کښې کفیل لازم اونیولې شو كَانَ لَهُ أَنْ يُلَازِمَ الْمَكْفُولَ عَنْهُ نود کفیل دپاره جائز دی.چه هغه مکفول عنه لازم اونيسي حَتّٰى يُخَلِّصَهُ تردې چه مکفول عنه ده ته خلاصي ورکړي.

تشریح> مسئله داده.که مکفول عنه د خپلې قرضې وصولولو دپاره کفیل پسې (لازم) وينختلو.يعنې هر وخت کفیل پسې شاته لګيدلې وو.نو کفیل ته اختيار دی.چه دې د مکفول عنه پسې اولګي.يعنې کفیل مکفول عنه پسې ګرځي.تردې چه مکفول عنه دکفیل لمنه پريږدي.يعنې مکفول عنه، کفیل په دې مصيبت کښې مبتلاکړې دی.نو ددې مصيبت نه خلاصول به هم په مکفول عنه باندې واجب وي.

دليله> کفیل ته څه پريشاني هم لاحق کيږي.دا د مکفول عنه په وجه لاحق کيږي. په دې وجه مکفول عنه باندې واجب دی.چه دې کفیل خلاص کړي.يعنې د مکفول له قرضه اداکړي.اوکه مکفول عنه کفیل خلاص نکړې شو.نو کفیل ته به د مکفول عنه سره هم د هغه معاملې کولو اختيار وي. کومه معامله چه مکفول له کفیل سره کوي.

د مکفول عنه برې کول يا دين وصولولو سره د کفیل برې کيدل

وَإِذَا أَبْرَأَ الطَّالِبُ الْمَكْفُولَ عَنْهُ اوکله چې مکفول له مکفول عنه برې کړلو أَوِاسْتَوْفٰى مِنْهُ يا مکفول له د هغه نه خپل حق وصول کړو بَرِئَ الْكَفِيلُ نو کفیل برې شو

تشریح> مسئله داده.که مکفول له، مکفول عنه برې کړلو.يا ئې دمکفول عنه نه خپل دين وصول کړلو.نو کفیل به هم برې وي.ځکه چې مکفول عنه برې کول د اصيل برې کول دي.

دليله> ځکه چې اصل دين هم په ده وي.اود اصيل برې کول مستلزم دی.د کفیل برې کولو ته.په دې وجه اصيل يعنې د مکفول عنه برې کولو سره کفیل هم برې کيږي.او ابراء د اصيل، ابراء دکفیل ته ځکه مستلزم ده.چه دصحيح قول مطابق دين په اصيل يعنې مکفول عنه باندې واجب وي.په کفیل باندې واجب نه وي.په کفیل خوصرف مطالبه واجب وي.نو هرکله چې د مکفول له برې کولو په وجه د مکفول عنه نه دين ساقط شو.نوپه مکفول عنه باندې د دين مطالبه هم نه پاتې کيږي.اوهرکله چې په

مکفول عنه باندې د دين مطالبه پاتې نشوه.نود کفاله معنی، ،ضم الذمة الی الذمة فی المطالبة،، د نه موجود کیدلو په وجه کفیل باندې به هم مطالبه نه پاتې کیږي.

وَإِنْ أَبْرَأَ الْكَفِيلَ اوکه مکفول له کفیل بری کړو لَمْ يَبْرَأِ الْمَكْفُولُ عَنْهُ نو ددې نه به مکفول عنه به بری نه وی

تشريح> اوکه مکفول له کفیل بری کړلو.نو اصیل یعنی مکفول عنه به د قرض نه نه بری کیږي.

دلائله> ① ځکه چې کفیل د مکفول عنه تابع دې.او مکفول عنه تابع نه دې.نوکه د کفیل په بری کیدلو سره اصیل بری کړې شي.نود اصیل به د خپل تابع، تابع کیدل لازم شي.حالانکه دا قلب موضوع ده.په دې اوونیلی شو.چه د کفیل په بری کیدلو سره به اصیل نه بری کیږي.

②دونم دلیل دادې.چه په کفیل باندې صرف مطالبه واجبیږي.اصل پورې نه واجبیږي.او په اصیل باندې د قرض باقی کیدل هغه وخت هم جائز دی.کله چې کفیل بالکل نه وی.لکه د کفاله نه وړاندې اصیل باندې قرضه موجود وه.یا کفیل مړشو.نود اصیل نه قرضه نه ساقطیږي.نوهم دغه شان په اصیل به هغه وخت هم قرضه پاتې وی.کله چې کفیل د مطالبې نه بری کړې شوې وی.نو ثابته شوه.چه دکفیل په بری کیدلو سره اصیل یعنی مکفول عنه د دین نه نه بری کیږي.

د کفالت نه بري کولوشرط سره د معلق کولو حکم

وَلَا يَجُوزُ تَعْلِيقُ الْبَرَاءَةِ مِنَ الْكَفَالَةِ بِالشَّرْطِ اود کفاله بری کول په شرط باندې معلق کول جائز نه دی

تشريح> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمانی.چه دکفالې نه بری کیدل په هیڅ شرط باندې معلق کول جائز نه دی.مثلاً مکفول له اوونیل. (إذا جاء غداً فأنت بريء من الكفالة) که صباله ورځ راغله.نو ته د کفالې نه بری ئې.دا جائز نه دی.

دليله> دلیل دادې.چه د کفاله نه بری کیدل اسقاط محض نه دې.بلکه په دې کې تملیك یعنی د مالك کولو معنی ده.په دې طریقه چې دکفاله په وجه مکفول له د کفیل نه د مطالبې کولو مالك وو.خوکله چې کفیل بری کړې شو.نو ګویا کفیل د مطالبې مالك کړې شو.او تملیکات یعنی مالك کول په شرط باندې معلق کول ناجائز دی.نود کفالې نه بری کول به هم په شرط باندې معلق کول ناجائز وی.لکه څنګه چې په نورو براءتونوکې شرط باندې معلق کول ناجائز دی.

د کوم حق استیفاء چې دکفیل نه ممکن نه وی د هغې د کفالت حکم

وَكُلُّ حَقٍّ لَا يُمْكِنُ اسْتِيفَاؤُهُ مِنَ الْكَفِيلِ اود کوم حق چې د کفیل نه وصولول ممکن نه وی لَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ بِهِ دهغې کفاله صحیح نه ده كَالْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ لکه حدود او قصاص

حل اللغة> ①الإستيفاء-وصولول

تشريح> ابو الحسن قدوری رحمه الله د قاعدې په طور اوفرمانیل.هرهغه حق چې د کفیل نه ددې حاصلول شرعاً صحیح نه وی.د هغې کفاله ټیك نه ده.مثلاً د نفس حد اونفس قصاص کفاله جائز نه ده.

دليله> دلیل دادې.چه په کفیل باندې حد یا قصاص واجبول متعذر او ناممکن دی.ځکه چې په کفیل باندې د حد یا قصاص وجوب به یا اصالة وی.او یا به نیابة وی.اول د خلاف مفروض کیدلو په وجه باطل دې.ځکه چې مسئله دا فرض کړې شوې ده.چه دداسې جرم ارتکاب چې ددې په وجه حد یا قصاص واجب وی.کفیل نه دې کړې.بلکه بل کس کړې دې.نو هرکله چې د جرم ارتکاب د کفیل نه

علاوه بل کس کړي دي.نو په کفيل باندي حد يا قصاص ځنګه واجب کيدي شي.او په کفيل باندي نيابة هم حد يا قصاص نه واجبيږي.ځکه چي په سزاګانوکي نيابت نه جاري کيږي.او په سزاګانو کي نيابت ځکه نه جاري کيږي.چه د سزامقصد مرتکب د جرم، جرم نه منع کول دي.او نائب ته په سزا ور کولو سره دا مقصد نه حاصليږي.په دي وجه په حد او قصاص يعني سزاګانوکي دا نيابت هم نه جاري کيږي.نو هرکله چي په کفيل باندي د حد اوقصاص وجوب نه اصالة کيدي شي.اونه نيابة کيدي شي.نو ثابته شوه.چه د نفس قصاص کفيل کيدل صحيح نه دی.

د مشتري د ارخه د ثمن د کفالت حکم

وَاِذَاتَكَفَّلَ عَنِ الْمُشْتَرِيْ بِالثَّمَنِ اوکه د مشتري د ارخه د ثمن کفيل شو جَازَ نو جائز دی

تشريح> مصنف رحمه الله اوفرمائيل.چه د ثمن کفيل کيدل جائز دي.

دليله> دليل دادي.چه ثمن دين صحيح دي.اود کفيل نه ددي وصولول هم ممکن دی.نود نورو ديونو او قرضونو پشان ددي کفاله به هم جائز وی.

د بائع د ارخه د مبيع دکفالت حکم

وَاِنْ تَكَفَّلَ عَنِ الْبَائِعِ بِالْمَبِيْعِ اوکه د بائع د ارخه يو سړي د مبيع کفيل شو لَمْ تَصِحَّ نو صحيح نه ده.

تشريح> صورت د مسئلي دادي.که څوک سړي د بائع د ارخه د مشتری لپاره د عين مبيع کفيل شو.مثلاً کفيل مشتری ته اووئيل.که مبيع هلاك شو.نو ددي ضامن زه يم.نودا کفاله جائز نه ده.

د نفس مسئلي د تقرير نه ورانـدي زده کړه داخبره چي اعيـان مضمونه په دوه قسمه دی ①يودي مضمون بغيره د دي صورت به دا وی چي د بيع صحيح په صورت کي مبيع د بائع په قبضه کي وی دا د ثمن په عوض کي مضمون وی.يعنی بائع د مبيع ضامن د ثمن په عوض کي وی.او لکه شئ مرهون د مرتهن په قبضه کي وی نودا د قرض په عوض مضمون وی.که شئ مرهونه د مرتهن په قبضه کي هلاك شو.نو ددي په بدله کي د راهن په ذمه ددي د قيمت په اندازه قرضه ساقطيږي.حاصل داچه په بيع صحيح کي مبيع اوشئ مرهونه د خپل ذات نه علاوه دوئم شئ يعنی د ثمن او قرض په عوض مضمون وی.

② دوئم قسم مضمون بنفسه دي د دي صورت به داوی چي د بيع فاسد په صورت کي د مشتری په قبضه کي مبيع او هغه شئ په کوم چي د اخستلو لپاره قبضه شوي ده.يعنی د کوم کس اراده چي د اخستلو ده.ده د بائع په اجازت يوځيز باندي قبضه کړي ده.چه ددي نرخ دواړو بيـان کړي دي.او مشتری اووئيل.که د کور خلقو خوښ کړو.نو زه به ئي ستا نه واخلم.نودي شئ ته به،، مقبوض علی سوم الشراء،، ونيلي شي.اود غاصب په قبضه کي شئ مغصوب،د مشتری په قبضه کي مبيع،او مقبوض علی سوم الشراء،، مضمون بنفسه دی.په ذکرشوی صورتونوکي د شئ موجود کيدلو په صورت کي عين شئ واپس کول واجب وی.او د هلاکيدلو په صورت کي ددي قيمت کوم چي ددي قائم مقام دي.واجبيږي.

دليله> ددي تمهيد نه روسته په متن کي د ذکرشوی صورت دليل دا دي.چه د بائع د ارخه د مبيع کفيل کيدل، په دي طريقه چي کفيل مشتری ته اووائی.که مبيع بائع سره هلاك شو.نو ددي د بدل ذمه وار زه يم.ناجائز ځکه دی.چه مبيع داسي عين دي.چه مضمون بغيره دي. يعنی د ثمن په عوض د بائع په ضمانت کي دي.او زمونږ په نيز د اعيـان مضمونه بغيرها کفاله جائز نه ده.په دي وجه د بائع د ارخه د مشتری لپاره د مبيع کفيل کيدل به هم ټيك نه وی.

د بوج اوړلو د خاروي د کفالت حکم

وَمَنْ اسْتَأْجَرَ دَابَّةً لِلْحَمْلِ اوکه یوکس د بار اوړلو لپاره حیوان (خاروی) په کرایه باندې واخستلو فَإِنْ كَانَتْ بِعَيْنِهَا که حیوان (خاروی) معین وی لَمْ تَصِحَّ الْكَفَالَةُ بِالْحَمْلِ نود بار اوړلو کفالت صحیح نه دی

حل اللغة ① الدابة-خاروی-② الحمل-بار-

تشریح صورت د مسئلې دادې.که یوکس یو معین حیوان (خاروی) د بار اوړلو لپاره په کرایه باندې اونیولو.اویو سړې د مستاجر لپاره هم په دې معین خاروی باندې د بار اوړلو کفیل شو.نود بوج اوړلو دا کفاله به جائز نه وی.

دلیله دلیل دادې.چه دې په معین خاروی باندې د بوج اوړلو نه عاجز دې.اوکفیل چې د کوم کار کولو نه عاجز وی.د هغې کفاله جائز نه وی.په دې وجه په معین خاروی باندې د بار اوړلو کفاله به هم جائز نه وی.اوکه حیوان (خاروی) غیرمعین وی.نود باراوړلو کفاله جائز ده.ځکه چې په دې کفاله سره واجب د بوج اوړل دی.اوکفیل خپل ذاتی خاروی باندې په بار اوړلو او رسولو باندې قدرت لری.ځکه به داکفاله صحیح وی.

وَإِنْ كَانَتْ بِغَيْرِ عَيْنِهَا اوکه حیوان (خاروی) غیر معین وی جَازَتِ الْكَفَالَةُ نو کفاله جائز ده

تشریح اوکه حیوان (خاروی) غیرمعین وی.نود باراوړلو کفاله جائز ده.

دلیله ځکه چې په دې کفاله سره واجب د بوج اوړل دی.اوکفیل خپل ذاتی خاروی باندې په بار اوړلو او رسولو باندې قدرت لری.ځکه به داکفاله صحیح وی.

د مکفول له په مجلس کښې د کفالت قبلولو شرط

وَلَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ اوکفاله نه صحیح کیږی إِلَّا بِقَبُولِ الْمَكْفُولِ لَهُ فِي مَجْلِسِ العقد[1] خو په مجلس د عقد کې د مکفول له په قبلولو سره

مذهب الصاحبين صورت د مسئلې دادې.که کفاله بالمال وی.اوکه کفاله بالنفس وی.په دواړوکې د طرفینو رحمهما الله په نیز د کفالې صحیح کیدلو شرط دادې.چه مکفول له په مجلس د کفاله کې دا قبول هم کړی.که مکفول له په مجلس د کفاله کې کفاله قبول نکړله.نوکفاله به صحیح نه وی.هم دا یو قول د امام شافعی رحمه الله دی

دليلهما د طرفینو رحمهما الله دلیل دادې.چه په عقدکفاله کې د تملیک معنی موجود ده.په دې طریقه چې د عقدکفاله په ذریعه کفیل، مکفول له پخپل ځان باندې د مطالبې مالك جوړوی.اوپه کوم شئ کې چې د تملیك معنی وی.هغه په مالك جوړونکی او مالك جوړیدونکی دواړو سره قائم وی.نو عقدکفاله به کفیل او مکفول له دواړو سره قائم وی.نوهرکله چې عقدکفاله کفیل او مکفول له دواړو سره قائم ده.نو په عقدکفاله کې به د کفیل ایجاب اود مکفول له قبول دواړه ضروری وی.حالانکه په ذکرشوی صورت کې صرف د کفیل ایجاب موجود دې.نودا به په ماوراء د مجلس باندې موقوف نه وی.ځکه چې د طرفینو په نیزشطرعقد یعنی د عقد یوجزء په ماوراء د مجلس باندې موقوف نه وی.البته دومره خبره

---

[1] القول الراجح هو هذا قول الطرفين كذا في الدر المختار(٤\٢٩٩) وردالمحتار(٤\٢٩٩) وجامع الوجيز (٦\١٦) والبحر (٦\٢٣١) نقلاً عن القول الراجح (٢\٩٤)۔

ضرور ده.كه د كفيل ايجاب كوم فضولي د مكفول له د اړخه په مجلس كي قبول كړو.بيا مكفول له د خبر په رسيدلو باندې اجازت وركړو.نودا بالاتفاق جائز دى.اوكه په مجلس كي هيڅ يو فضولي هم قبول نكړو.نود مكفول له اجازت به هيڅ ګټور نه وى.حاصل دادې.چه د طرفينو رحمهما الله په نيز د كفاله صحيح كيدلو لپاره د كفيل د ايجاب نه روسته هم په دې مجلس كي قبلول شرط دى.كه مكفول له قبول كړى.اوكه دده د اړخه ني څوك فضولي قبول كړى.اوكه فضولي قبول كړو.نو مكفول له ته په خبر رسيدلو باندې به دده په اجازت باندې موقوف وى.

مذهب ابي يوسف رحمه الله > د حضرت امام ابويوسف رحمه الله نه دوه روايتونه دى.

الرواية الاولي > يو روايت دادې.كه مكفول له په مجلس د كفاله كي موجود نه وى.نود كفاله جواز به دده په اجازت باندې موقوف وى.يعني مكفول له ته چې په كوم مجلس كي د كفالي خبر اورسيدلو.كه ده هم په دې مجلس كي اجازت وركړو.نو كفاله به جائز وى.اوكه اجازت ني ورنكړو.نو كفاله به جائز نه وى.امام مالك او امام أحمد رحمهما الله هم ددې قائل دى.اوهم دا يو قول د امام شافعي رحمه الله دې.

دليلها > د امام ابويوسف رحمه الله د رومبى روايت دليل دادې.چه عقد د ايجاب او قبول د مجموعي نوم دې.نو په عقدكفاله كي به هم د كفيل د ايجاب نه روسته د مكفول له قبلول ضروري وى.چونكه د امام ابويوسف رحمه الله په نيز شطرعقد يعني قبول په ماوراء د مجلس باندې موقوف كيدې شي.لكه څنګه چې د فضولي في النكاح په بيان كي په كتاب النكاح كي تيرشوى دى.په دې وجه د مكفول له قبلول او اجازت وركول به هم په ماوراء د مجلس باندې موقوف وى.يعني مكفول له كه د عقدكفاله په مجلس كي موجود نه وى.نو په كوم مجلس كي چې ده ته خبر اورسي.په هغې به موقوف وى.نوكه ده په دغه مجلس كي اجازت وركړو.نو كفاله به درست وى.اوكه اجازت ني ورنكړو.نو كفاله به ټيك نه وى.

الرواية الثانية > دوئم روايت دادې.چه دكفاله صحيح كيدلو لپاره د مكفول له قبلول او دده اجازت وركول شرط نه دى.يعني كفاله به يواځې د كفيل په قول سره منعقد كيږى.د مكفول له قبلول شرط نه دى.

دليلها > د امام ابويوسف رحمه الله د دوئم روايت دليل دادې.چه عقدكفاله د كفيل خپل ځان باندې د مطالبې د لازمولو د تصرف نوم دې.اوهر هغه تصرف كوم چې پخپل ځان باندې لازم كړې شي.په دې كي لازمونكې مستقل او خودمختاره وى.په دې كي د بل چا ارتيا نه وى.لكه څنګه چې اقرار كونكې د شئ مقربه په اقرار كولو كي مستقل وى.د مقرله د قبلولو هيڅ ارتيا نه وى.اولكه څنګه چې نذركونكې د شئ منذور خپل ځان باندې لازمولوكي مستقل وى.دچا د قبلولو ارتيا نه وى.دغه شان به كفيل هم خپل ځان باندې مطالبه لازمولوكي مستقل او خودمختار وى.په دې كي به د مكفول له د قبلولو هيڅ ارتيا نه وى.

د رومبئ مسئلي نه مستثنى مسئله

اِلَّافِي مَسْأَلَةٍ وَاحِدَةٍ مصنف رحمه الله فرمائى.سواء د يوې مسئلي نه وَهِيَ أَنْ يَقُولَ الْمَرِيضُ لِوَارِثِهِ (او هغه داده.چه مريض خپل وارث ته ووايي تَكَفَّلْ عَنِّي بِمَا عَلَيَّ مِنَ الدَّيْنِ چې ته زما د اړخه ددې قرض كفيل شه كومه چې په ما باندې ده فَكَفَلَ بِهِ مَعَ غَيْبَةِ الْغُرَمَاءِ نوهغه د قرضخواهانو د غيرموجودګئ باوجود دده كفيل شو جَازَ نو جائز دى.

حل اللغة > ① **الدين**:قرض-② **الغرماء**-قرضخواهان-③ **غيبة**-غيرموجودګى-④ **المريض**-رنځور

تشریح وړاندې تیر شوی دی.چه د طرفینو ﷫ په نیز د مکفول له د قبلولو نه بغیر کفاله نه صحیح کیږی.خو یوه مسئله داسې ده.چه په دې کې د کفاله د صحت لپاره د طرفینو ﷫ په نیز هم د مکفول له په مجلس کې دننه قبلول شرط نه دی.اوهغه مسئله داسې ده.چه بیمار قرضدار خپل وارث ته اوونیل.چه ته زما د اړخه د هغه قرض کفیل شه.کومه چې په ما واجب ده.نو وارث دده د اړخه ددې قرض کفیل شو.حالانکه قرضخواه موجود نه دې.نودا کفاله استحساناً جائز ده.

دلیله وجه د استحسان دوه دی. ① یوه داچه د بیمار مدیون قول (تکفّل عنی بما علی من الدّین) د وصیت په معنی کې دې.یعنی د (تکفل عنّی) مطلب دې. (اقضوا دیونی) زما دیون اداکړئ.اوکله چې وارثانو (تکفلنا بها) اوونیل.نو ددې مطلب دادې.چه دوی اوونیل.چه مونږ به ستا ټوله قرضه اداکوو.نوهرکله چې دا کفاله د وصیت په معنی کې ده.نود قرضخواهانو به په مجلس کې دننه قبلول هم شرط نه وی.ځکه چې د وصیت صحیح کیدلو لپاره ددې خلقو قبلول شرط نه دې.د چا لپاره چې وصیت شوې وی.اوچونکه دا کفاله د وصیت په معنی کې ده.په دې وجه کوم خلق چې مکفول له دی.که ددوی نومونه نې نه وی اخستې.او دوی مجهول وی.نوبیا هم دا کفاله درست ده.حالانکه وړاندې تیرشوی دی. چې د مکفول له مجهول کیدل کفاله فاسدوی.اودا وصیت چونکه د کفاله په معنی کې دې.په دې وجه مشائخ وائی.چه دا کفاله به هغه وخت صحیح وی.کله چې د مرګ په وخت د ذکرشوی بیمار سره ترکه د مال موجود وی.چه وصی یعنی وارث دده دا وصیت نافذ کړی.اوکه دده سره مال نه وی.نو دده د وارثانو نه به دده قرضه نشی وصولولې.حالانکه د کفاله لپاره دا شرط نه دې.چه د مکفول عنه سره مال موجود وی.نو ثابته شوه.چه دا کفاله په حقیقت کې کفاله نه ده.بلکه د وصیت په معنی کې ده.اوهرکله چې کفاله د وصیت په معنی کې ده.نو په مجلس کې دننه د مکفول له قبلول به شرط نه وی.ځکه چې د وصیت صحیح کیدلو لپاره د موصی لهم قبلول شرط نه وی.

② د استحسان دویمه وجه داده.چه په دې مسئله کې مریض، د مکفول لهم د یو اړتیا په وجه قائم مقام دې.اوهغه اړتیا د مریض ذمه د قرض نه فارغ کیدل دی.اوپه دې قائم مقام کیدلو کې د مکفول لهم نفع هم ده.په دې طریقه چې ددوی قرضه به وصول شی.نودا داسې شوه.لکه که مکفول لهم پخپله حاضروو.اود مریض وارث مثلاً دده خوی ته نې وئیلې وو.چه ته د خپل مورث یعنی د خپل پلار د اړخه زما د اړخه کفیل شه.نودا کفالت به صحیح وو.نوهرکله چې مریض د مکفول لهم قائم مقام شو.اودا ئې اوونیل.نو بیا به هم کفاله صحیح وی.

د دوه قرضدارو د یوبل کفیل جوړیدل اود رجوع کولو حکم

وَاِذَاکَانَ الدَّیْنُ عَلَی اثْنَیْنِ که قرضه په دوه کسانو باندې وی وَکُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا کَفِیْلٌ ضَامِنٌ عَنِ الْاٰخَرِ او په دې دواړوکې هریوکس دخپل اندیوالان د اړخه کفیل ضامن دې فَمَا اَدّٰی اَحَدُهُمَا نو په دې دواړوکې چې کوم یوکس څه اداکړل لَمْ یَرْجِعْ عَلٰی شَرِیْکِهٖ هغه د خپل شریك نه واپس نشی اخستې حَتّٰی یَزِیْدَ مَا یُؤَدِّیْهِ عَلَی النِّصْفِ تردې چې څه اداکوی.که د نصف نه زیات شی. فَیَرْجِعُ بِالزِّیَادَةِ نودې به زیاتی واپس اخلی.

تشریح صورت د مسئلې دادې.که قرضه په دوه کسانو وی.مثلاً دوه سړو مشترك طور باندې د زر درهمو په عوض یو غلام واخستلو.یا مشترك طور باندې دواړو سړو یو زر درهم قرض واخستل.او په دې دواړو کې هر یوکس د خپل شریك د اړخه کفیل شو.نو په دې دواړوکې که یو څه رقم اداکړو.نوده

نه به د خپل شریك د واپس اخستلو اختیار نه وي.خو كه اداكړي شوي رقم د نصف نه زیات وي.نودې زیاتي مقدار دحپا شریك نه واپس اخستلې شي.مثلاً یوشریك بائع ته یا قرضخواه ته شپږ سوه درهم ادا كړل نودي د خپل شریك نه سل درهم واپس اخستلې شي.

دليله دلیل دادې.چه په دواړو شریكانوكي هر یو په نصف درهمو یعنی پنځه سوه درهموكي اصیل دې.او په نصف یعنی نورو پنځه سوه كي كفیل دې.یعنی په شریكینوكي هریو باندې پنځه سوه درهم د كفالت په حق سره واجب دي.اوكوم دراهم چې په حق د اصالت سره واجب دي.اوكوم چې په حق د كفالت سره واجب دي. ددې په مینځ كي په حقیقت كي هیڅ معارضه نشته.ځكه چې كوم دراهم په حق د اصالت سره واجب دي.هغه اقوی دي.او كوم چې په حق د كفالت سره واجب دي.هغه ددې په مقابله كي اضعف دي ځكه چې كوم په حق د اصالت سره واجب دي.هغه قرض دي.اوكوم چې په حق د كفالت سره واجب دي.د هغي صرف مطالبه واجب ده.په كفیل باندې دین نه واجبیږي.اودا خبره منلې شوې ده.چه د دین د مطالبې په مقابله كي دین اقوی وي.او مطالبه د دین، د دین تابع وي.ځكه چې مطالبه د دین، د دین نه بغیر ممكن نه ده.نو كفاله یعنی د دین مطالبه تابع شوه.او اصالت یعنی دین متبوع شو.او متبوع به په نسبت د تابع اقوی وي.په دې وجه كوم دراهم چې په حق د اصالت سره واجب دي.یعنی قرض دي هغه اقوی دي.اوكوم چې په حق دكفالت سره واجب دي.یعنی صرف مطالبه د دین ده.هغه اضعف دي.او په اضعف كي په حقیقت كي هیڅ معارضه نه وي.ځكه چې د معارضه لپاره دواړو ارخ ته په قوت او ضعف كي برابر یدل ضروری دي.نو ثابته شوه.چه د ,,ما علیه بحق الاصالة،،اود ,,ما علیه بحق الكفالة،،په مینځ كښي هیڅ معارضه نشته.اوهركله چې د ,,ما علیه بحق الاصالة،،اود ,,ما علیه بحق الكفالة،،په مینځ كښي هیڅ معارضه نشته.نو په شریكانوكي چې كوم یوكس نصف یعنی پنځه سوه درهمو پورې چې كوم درهم اداكوي.هغه به اقوی یعنی,,ماعلیه بحق الاصالة،، ارخ ته گرځولې شي.اودا به وئیلې شي چه ده هغه دراهم اداكړې دي.كوم چې په ده باندې قرض دي.اوهركله چې ده خپله قرضه اداكړې ده.نوده ته د خپل شریكوال نه د واپس اخستلو اختیار نه وي.حاصل دا شو.چه په اداكولو كي به ,,ما علیه بحق الاصالة،، یعنی قرض ته په,,ما علیه بحق الكفالة،،باندې ترجیح حاصل وي. او پنځه سوه پورې به د قرض اداكول شمارلې كیږي د ,,ماعلیه بحق الكفالة،، ادائیگی به نشي شمارلې.اود پنځه سوه نه په زیاتوكي من كل وجه هیڅ معارضه نشته.ځكه چې د پنځه سوه نه په زیاتی په ده باندې بحق اصالة واجب نه دي.بلكه د پنځه سوه نه زیاتی بحق كفالت واجب دي.اوهركله چې د پنځه سوه نه زیاتی بحق كفالت واجب دي.نود پنځه سوه نه د زیاتو د كوم مقدار چې اراده كوي.هغه به بحق كفالت شمارلې كیږي.یعنی دا به وئیلې شي.چه ده د كفیل كیدلو په وجه دا زیاتی مقدار د خپل شریك د ارخه اداكړې دي.او كفیل چې هركله د مكفول عنه د ارخه مال اداكړي.نو كفیل ته د مكفول عنه نه د واپس اخستلو اختیار وي.په دې شرط چې د مكفول عنه په حكم سره كفیل شوې وي.په دې وجه په دې مسئله كي اداكونكي شریك ته دا اختیار وي.چه دې د پنځه سوه نه زیاتی د خپل دوئم شریكوال نه واپس واخلي.

د یوكس دوه كفیلان جوړیدل اودا دواړه
د یوبل كفیل كیدل او د رجوع كولو حكم

وَإِذَا كَفَلَ اثْنَانِ عَنْ رَجُلٍ بِأَلْفٍ عَلَى أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَفِيلٌ عَنْ صَاحِبِهِ اوكه دوه سري د یو سړي د ارخه د زرو روپو كفیلان شو.په دې شرط باندې چې په دې دواړوكي هریو د خپل اندیوال د ارخه كفیل دې فَمَا أَدَّى أَحَدُهُمَا نوكوم چې په دې دواړوكي یوكس ادا كړي رَجَعَ بِنِصْفِهِ عَلَى شَرِيكِهِ

د هغې نصف د خپل انډيو الان نه واپس اخستلې شي قَلِيْلًا كَانَ أَوْكَثِيْرًا كه دا لږ وي.اوكه ډېر وي.

تشريح> صورت د مسئلې دادې.چه دوه سړی د يو كس د اړخه په دې شرط زرو روپو كفيلان شو.چه په دې دواړو كې به هريو د بل د اړخه هم كفيل وي.نو په دواړه كفيلانوكې چې يوكس څه اداكړي وي.هغه ته د خپل انډيوال نه د نصف واپس اخستلو اجازت دې.كه اداكړې شوې رقم لږ وي. اوكه زيات وي.مثلاً حامد او خالد د شاهد دارخه د زرو درهمو په دې شرط باندې كفيلان شو.چه حامد به د خالد د اړخه او خالد به دحامد د اړخه هم كفيل وي.نوكه حامد مكفول له ته د شاهد د اړخه زر روپۍ اداكړل.نو حامد ته به د خپل انډيوال يعنى خالد نه ددې نصف يعنى پنځه سوه روپۍ واپس اخستلو اختيار حاصل وي.

توضيح المسئلة> علامه مرغينانى رحمه الله فرمائيلى دى چه د صحيح قول مطابق ددې مسئلې مراد دادې.چه په دواړه كفيلانوكې هريو اصيل يعنى د مكفول عنه د اړخه هم د پوره مال كفيل دې.اود خپل انډيوال د اړخه هم د پوره مال كفيل دې.او مطالبه متعدد ده.په دې طريقه چې دواړه كفيلانوكې هريو ددې مطالبې التزام كړې دې.كوم چې د مكفول له د اړخه په مكفول عنه يعنى مديون باندې وو.او د دوئم د هغه مطالبې التزام ئې كړې دې.كوم چې د كفالې په وجه كفيل باندې وو.نو په دواړه كفيلانوكې هر يو باندې دوه دوه كفالې جمع كيږي. ① كفاله عن الاصيل ② كفاله عن الكفيل......او موجب د كفالې چونكه د مطالبې التزام دې.او په كفيل باندې هم مكفول له لپاره مطالبه كيږي.په دې وجه د كفيل د اړخه كفيل كيدل،هم دغه شان صحيح دى.لكه څنګه چې د اصيل (مديون) د اړخه كفيل كيدل صحيح دى.اولكه څنګه چې محتال عليه كوم شئ خپل ځان باندې لازم كړې وو.د هغې په بل باندې حواله كول صحيح دى.دغه شان د كفيل دارخه كفيل كيدل هم صحيح دى.

بهرحال هركله چې دا معلومه شوه.چه په دواړه كفيلانوكې هريو د اصيل يعنى د مديون د اړخه هم د پوره مال كفيل دې.اود خپل انډيوال يعنى د دوئم كفيل د اړخه هم د پوره مال كفيل دې.نو په دې دواړو كفيلانوكې چې يوكفيل څه اداكوى.دا به په مشترك طور باندې د دواړو د اړخه اداكيږي.مثلاً يو كفيل مكفول له ته دوه سوه درهم اداكړل.نودا دوه سوه درهم به د دواړه كفيلانو د اړخه ادا وى.يعنى دا به ونيلې شى.چه دې كفيل سل درهم د كفاله عن الاصيل په وجه اداكړى دى.او سل درهم ئې د كفاله عن الكفيل په وجه اداكړى دى.

دليله> او دليل دادې.چه دلته كې واړه په تولـه كفالـه ده.يعنى د كفاله عن الاصيل په وجه چې كوم واجب دى.هغه هم بحق كفاله واجب دى.اود كفاله عنه الكفيل په وجه چې كوم واجب دى.هغه هم بحق كفاله واجب دى.

د مال كتابت د كفالت حكم

وَلَا تَجُوْزُ الْكَفَالَةُ بِمَالِ الْكِتَابَةِ اود مال كتابت كفاله جائز نه ده. سَوَاءٌ حُرٌّ تَكَفَّلَ بِهِ أَوْعَبْدٌ كه دده كفالت آزاد اوكړى.او كه غلام،

تشريح> صورت د مسئلې دادې.چه د مولا لپاره د مكاتب د اړخه د مال كتابت كفيل كيدل جائز نه دى.كه كفيل آزاد وى.اوكه غلام وى.ابو الحسن قدورى رحمه الله مال كتابت اوونيل.او بدل كتابت ئې اونه ونيل.ځكه چې د مال كتابت لفظ بدل كتابت ته ګډ دې.او هرهغه دين ته ګډ دې.كوم چې د مولا په مكاتب باندې وى. لنډيز داچه د مكاتب د اړخه د مولا لپاره نه د بدل كتابت كفيل كيدل جائز دى.اونه

د هغه دين كفيل كيدل جائز دى.كوم چې د مولا په مكاتب باندې وى.د بدل كتابت كفاله خوځكه ناجائز ده.چه بدل كتابت داسې دين دې.كوم چې غيرمستقر او غيرثابت وى.

دلائله ① او غيرثابت ځكه دې.چه بدل كتابت د منافى يعنى د رقيت باوجود ثابت شوې دې.يعنى غلام كيدل او په ده باندې د مولا قرضه كيدل دواړوكې منافات دې.په دې طريقه چې په مكاتب كه د بدل كتابت يو درهم باقى وى.نو بيا به هم دې غلام وى.او مولا چونكه خپل غلام باندې د مال نه مستحق كيږى.لكه څنګه چې په مخكښې مسئله كې تيرشوى دى.په دې وجه د قياس تقاضا داده.چه په مكاتب باندې د بدل كتابت واجبول صحيح نه وى.خود الله تعالى د قول ﴿فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا﴾ په وجه قياس ترك كړې شوې دې.اود منافى يعنى د رقيت باوجود په مكاتب باندې بدل كتابت ثابت شوې دې.اوكوم شئ چې منافى سره ثابت وى.هغه غيرمستقر وى.يعنى من وجه ثابت وى.او من وجه ثابت نه وى.نو ثابته شوه.چه بدل كتابت غيرمستقر دې.يعنى من وجه ثابت دې.او من وجه ثابت نه دې.اوهركله چې بدل كتابت غيرمستقر دې.نود كفاله صحيح كيدلو په حق كې به ددې دين كيدل نه بنكاره كيږى.ځكه چې كفاله د دين مستقر صحيح كيږى.د دين غيرمستقر كفاله نه صحيح كيږى.

② د بدل كتابت د غير مستقر كيدلو دوئم دليل دادې.كه مكاتب خپل ځان د بدل كتابت ادا كولو نه عاجز كړى.نو بدل كتابت به ساقطيږى.حالانكه دين مستقر يا خو په ادا كولو سره ساقطيږى.اويا د دائن په برى كولو سره ساقطيږى.او دلته كې په دواړه خبروكې يوه خبره هم نه موندلې كيږى.نو بدل كتابت به دين غير مستقر وى.بهرحال په ذكرشوى دواړه دليلونو سره د بدل كتابت غيرمستقر كيدل ثابت شوى دى.اود دين غيرمستقر كفاله نه جائز كيږى.لهذا د بدل كتابت كفاله به هم جائز نه وى.

د مړي د قرضخواهانو لپاره د كفيل جوړيدلو حكم

وَإِذَامَاتَ الرَّجُلُ اوكه يو سړي مړ شو وَعَلَيْهِ دُيُونٌ حالانكه په ده باندې قرض دى وَلَمْ يَتْرُكْ شَيْئًا او ده هيڅ مال نه دې پريښودې فَتَكَفَّلَ رَجُلٌ عَنْهُ لِلْغُرَمَاءِ بيا د مړى د اړخه يو سړې د قرضخواهانو لپاره كفيل شو لَمْ تَصِحَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ (¹) نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دا كفاله صحيح نه ده.

حل اللغة ① **الرجل**-سړى-② **الترك**-پريخودل-③ **الغرماء**-جمع د غريم،قرضخواه-

مذهب ابي حنيفة رحمه الله صورت د مسئلې دادې.چه يوسړې چې په ده باندې د خلقو قرضه ده.مفلس (فقير) مړشو.يعنى ده په تركه كې هيڅ مال پرې نخودلو.او نه دده د اړخه وراندې نه څوك كفيل موجود دې.بيا ددې مړى د اړخه يوكس كفيل شو.هغه سړې كه د مړى وارث وى.اوكه اجنبى وى.نو په داسې صورت كې د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز كفاله صحيح نه ده.

دليله د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې. چې د دين او قرض كفيل كيدلو شرط دادې.چه قرضه د اصيل (مكفول عنه) په ذمه ثابت او قائم وى.حالانكه دلته يعنى د مفلس مړى په ذمه دين ثابت نه دې.بلكه ساقط دې.اود مړى د ذمه نه دين ځكه ساقط دې.چه دين په حقيقت كې مال نه وى.بلكه فعل ادا يعنى د قرض اخستلو،اود مال مالك كولو،اود سپارلو د فعل نوم دين دې.او دين چونكه د فعل ادا نوم دې.په دې وجه دين وجوب سره متصف كيږى.لكه چې وئيلې شى. (دين واجب) لكه چې (الصلاة

---

¹) القول الراجح هو هذا لقول الإمام رحمه الله كما ظهر من داب المصنف رحمه الله وايضاً من صنع صاحب الملتقى كذا في القول الراجح (۹۶\۲)-

واجبه) ونيلي شي.ځکه چې واجبيدل يا مستحب کيدل د فعل صفت وي.د اعيان صفت نه وي.او وجوب د افعالو صفت ځکه وي.چه وجوب ددې فعل خاص کولو نوم دې.کومه چې ددې خبرې تقاضا کوي چه فاعل به په ده باندې د خلل واقع کولو په صورت کې د ګناه او مذمت مستحق وي.او دا خبره په افعالو کې متصور کيږي.خو په اعيانو کې نه متصورکيږي.ځکه چې اعيان د بنده ګانو د قدرت لاندې نه داخليږي.نود بنده ګانو د اړخه ددې په حاصلولو کې خلل واقع کول هم نه متصور کيږي.او په ذکرشوي مسئله کې د فعل ادا اود مال مالك کولو د فعل نه علاوه هيڅ فعل داسې نشته.چه وجوب سره موصوف کړې شي.نو ثابته شوه.چه دين د مال نوم نه دې بلکه د فعل ادا يعنې د مال مالك کولو اود سپارلو نوم دين دې.نوهرکله چې ثابته شوه.چه دين په حقيقت کې د فعل نوم دې.نودا فعل به د قدرت محتاج وي.ځکه چې د قدرت نه بغير د فعل وجوب، تکليف عاجز او تکليف مالا يطاق دې.حالانکه د عاجز مکلف کول، او انسان د داسې څيزونو مکلف کول، کوم چې دده په قدرت او توان کې نه وي محال دی بهرحال فعل ادا د قدرت محتاج دې.او دلته کې قدرت موجود نه دې.ځکه چې مفلس مړې نه خو پخپله په فعل ادا باندې قادر دې.اونه خپل خليفه او نائب سره قادر دې.بذات خود نه قادرکيدل خو ښکاره دي.او خليفه او نائب سره نه قادرکيدل ځکه دي.چه ده څه داسې کفيل نه دې جوړکړې کوم چې دده د اړخه اداکړي.

او پاتې شو وارث،نو ده ته د مفلس مورث د مرګ په وخت، د دين ادا کولو دشريعت د اړخه هيڅ امر نه کيږي.نوهرکله چې مديون يعنې مفلس مړې نه پخپله فعل اداباندې قادر دې.اونه د خپل نائب يعنې کفيل سره قادر دې.اونه خپل وارث سره قادر دې.نودې د فعل ادا نه بالکل عاجز شوې دې.او هرکله چې مديون يعنې مفلس مړې د فعل ادا نه عاجز دې.نود نتيجې په طور د قرضخواه دده نه دين وصولول هم فوت شو.اوکله چې د قرضخواه خپل دين وصولول فوت شو.نو ضرورة د دنياوي احکامو په اعتبار سره د مړي د ذمې نه دين ساقطيږي.او هرکله چې د دنياوي احکامو په حق کې دمفلس مړي نه دين ساقط شو.نو دده کفاله به هم درست نه وي.ځکه چې د دين نه بغير کفاله نه صحيح کيږي.نو ثابته شوه.چه د مفلس مړي د اړخه کفاله نه صحيح کيږي.

وَعِنْدَهُمَا:تَصِحُّ او صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه صحيح ده

مذهب الصاحبين> اود صاحبينو رحمهما الله په نيز صحيح ده.د امام مالك، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله هم دا قول دې.

دليلهما> دليل دادې.چه دا سړې دداسې دين صحيح کفيل شوې دې.کوم دين چې د مکفول عنه يعنې د مړي په ذمه کې ثابت دې.اود داسې دين صحيح کفاله کومه چې د مکفول عنه په ذمه ثابت وي.بالاتفاق صحيح وي.نودا کفاله به هم صحيح وي.د مړي په ذمه چې کوم دين دې.هغه صحيح ځکه دې چې مسئله په دين صحيح کې فرض شوې ده.او ثابت او قائم ځکه ده.چه د مړي په ژوند کې د قرضخواهانو د حق په وجه مړي باندې دين واجب شوې وو.او کوم دين چې واجب وي دا هغه وخت پورې نه ساقطيږي.ترکوم وخته پورې چې درې خبروکې يوه خبره اونه مونډلې شي. ① ياخو صاحب حق يعنې قرضخواه، قرضداري برى کړي. ② يا من عليه الحق يعنې قرضدار قرض اداکړي.③ ياد کوم سبب په وجه چې دين واجب شوې وو.هغه سبب فسخ شي اود قرضدارى دمرګ په وجه درې وارو خبروکې هيڅ خبره نه ده مونډلې شوې.ځکه چې مسئله په دې صورت کې فرض کړې شوې ده.چه نه خو قرضخواه قرضدار د قرض نه برى کړې وي اونه قرضدارى قرضه اداکړې وي.اونه د قرض د وجوب سبب فسخ شوې وي.نو هرکله چې د قرض ساقطونکې ذکرشوې درې واړه خبروکې هيڅ يوه خبره اونه

مونديږ شوه. نود مړی د ذمې نه به قرض نه ساقطيږی.او هركله چې د مړی د ذمې نه قرضه ساقط نشوه.نو معلومه شوه.چه د مړی په ذمه قرضه ثابت او قائم ده.اود قرض ساقطونكى ذكرشوی درې واړه خبروكې چونكه هيڅ يوه خبره نه ده موجود شوې.په دې وجه د آخرت په احكاموكې د مړی په ذمه قرض پاتې كيږی.نو دنياوی اعتبار سره به هم د مړی په ذمه قرضه پاتې وی. د مړی په ذمه د دنياوی احكامو په حق كې د قرض په ثبوت باندې يو دليل دادې.كه يوسړی د مړی قرضه تبرعاً اداكړله.نودا اداكول صحيح دی.نوكه مديون مفلس د مرګ په وجه د قرض نه بری كيدلو.او دده په ذمه قرض نه پاتې كيدلو.نود قرضخواه لپاره به تبرعاً د قرضه اداكونكی نه د قرض مال اخستل حلال او صحيح نه وو.

الجواب د مفلس مړی د اړخه تبرعاً دين اداكول صحيح كيدل،ددې خبرې دليل نه دې.چه د مفلس مړی په ذمه دين ثابت نه دې.ځكه چې تبرع (احسان) كول په دې موقوف نه وی.چه د مكفول عنه په حق كې دين موجود وی.بلكه په دې موقوف وی.چه پخپله د تبرع كونكی يعنی د كفيل په حق كې دين موجود وی.كه خالد اووئيل.چه د حامد په شاهد باندې زر روپۍ قرض دی.او زه ددې كفيل يم.اومكفول عنه يعنی شاهد انكار اوكړو.نودا كفاله به درست وی.او په كفيل يعنی په خالد به زر روپۍ ادا كول واجب وی.حالانكه دلته كې دين بالكل موجود نه دې.نو معلومه شوه.چه د تبرع كولو لپاره د مكفول عنه په ذمه دين ثابتيدل ضروری نه دی.اوهركله چې د تبرع كولو لپاره د مكفول عنه په ذمه دين ثابتيدل ضروری نه دی.نود مفلس مړی د اړخه تبرعاً دين ادا كولو صحيح كيدل به ددې خبرې دليل نه وی.چه د مفلس مړی په ذمه دين ثابت دې.اود صاحبينو رحمهما الله د دوئم مستدل (**وكذايبقى اذا كان به كفيل اومال**) جواب دادې.چه قدرت د فعل اداشرط دې.كه مكفول عنه بذات خود قادر وی.اوكه د خپل نائب او خليفه په ذريعه قادر وی.نوكه د مړی د مخكې نه كفيل موجود وی.يا د مړی متروكه مال موجود وی.نو مړې يعنی مكفول عنه اګرچه پخپله په ادا د فعل باندې قادر نه دې.خود خپل خليفه يعنی كفيل يا د مال متروكه په ذريعه په فعل ادا باندې قادر دې.په دې طريقه كه د مخكې نه كفيل موجود وی.نو دين به دكفيل نه وصولولې شی.اوكه كفيل موجود نه وی.بلكه مال متروكه موجود وی.نود تركه دمال نه به دين وصولولې شی.نوهركله چې په دې دواړو صورتونوكې قدرت اوموندې شو.نوپه مفلس مړی باندې به په دې دواړو صورتونوكې دين (فعل ادا) ثابت وی.او په كوم صورت كې چې نه د وراندې نه د مړی كفيل وی.اونه دده سره مال موجود وی.نو په دې صورت كې به مړې نه بذات خود قادر وی.اونه به د خپل خليفه په ذريعه قادر وی.اوهركله چې مړی ته به هيڅ طريقه قدرت حاصل نشو.نو دده په ذمه به دين ثابت نه وی.بلكه دين به ساقط وی.اود دين ساقط كفاله نه صحيح كيږی.په دې وجه په دې صورت كې به كفاله درست نه وی.

كِتَابُ الْحَوَالَةِ

ترجمه (دا) كتاب د حواله (په بيان كې) دې.

تشريح لكه ځنګه چې په كفاله كې كفيل خپل خان باندې هغه شئ لازموی.كوم چې په اصيل باندې واجب وو.دغه شان په حواله كې محتال عليه باندې هغه شئ لازمولې شی.كوم چې په محيل باندې واجبيږی.اود دواړو مقصد توثق او اعتماد دې.يعنی د كفاله مقصد مكفول له ته اطمينان وركول دی.او په حواله كې محتال له ته اطمينان وركولې شی. هم ددې مناسبت په وجه نې كتاب الحواله په كتاب الكفاله پسې روستو ذكر كړلو

وجه تقديم الكفالة< اوحواله چونكه د اصيل براءت ته متضمن ده.په دې وجه دا په منزله د مركب ده.اوكفاله چونكه براءت د اصيل ته متضمن نه وي.په دې وجه دا په منزله د مفرد دې.او مفرد چونكه په مركب باندې مقدم وي.په دې وجه كفاله مقدم او حواله مؤخر كړې شوې ده.

معني الحوالة< حواله د زوال او نقل په معنى باندې دلالت كوي.هم ددې نه تحويل دې.يعنى يو شئ د يو محل نه بل محل ارخ ته منتقل كول.

تعريف الحوالة شرعاً< په اصطلاح د شريعت كې حواله وائي.د مديون د ذمه نه د ملتزم ذمې ارخ ته مطالبه منتقل كول.بيا بعض مشائخ وائي.چه دحواله په پوره كيدلو سره چې لكه څنګه محيل د مطالبې نه برى كيږي. دغه شان د قرض نه هم برى كيږي.او بعض وائي.چه صرف د مطالبې نه برى كيږي.د قرض نه نه برى كيږي.په حواله كې څلور لفظونه وئيلې شي. ① محيل، مديون ② محتال له، دائن قرضخواه ③ محتال عليه، هغه كس چې حواله ئې قبول كړې ده.④ محتال به، هغه مال كوم چې قبول كړې شوې دې. يعنى نفس دين.....

قسمي الحوالة< د حواله دوه قسمونه دي.يو قسم حواله مطلقه ده دا دې ته وائي چې په دې كې هيڅ قيد نه وي. بيا دحواله مطلقه دوه قسمونه دي.

① ميعادى ② غيرميعادى يعنى فى الحال.

او دوئم قسم حواله مقيده ده دا دې ته وائي چې محيل يعنى مديون خپل مديون ارخ ته مطالبه منتقل كړي.مثلاً د خالد په حامد باندې يو زر روپئ دي.اود حامد په شاهد باندې پنځلس سوه روپئ دي.نو حامد شاهد ته اووئيل.چه ته زما په قرضه كې زر روپئ خالد ته وركړه.نودې ته حواله مقيده وئيلې شي.

د حواله شرعي حيثيت

الحوالةُ جَائِزَةٌ بِالدُّيُونِ ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائي.اود قرضو حواله جائز ده.

حل اللغة< ① **الديون** –جمع دين،قرض-

تشريح< شيخ ابوالحسن قدورى رحمه الله فرمائي.چه د قرضونو حواله جائز ده.اوپه جواز باندې نقلي او عقلي دواړه قسمه دليلونه موجود دي.

دلائله< ①نقلي دليل د ابوهريره رضي الله عنه حديث دې.د صحيحينو الفاظ دادي. (**مطل الغني ظلم وإذا أتبع أحدكم على ملئ فليتبع**)[1] يعنى د مالدار ټال مټول كول ظلم دې.او كله چې په تاسو كې څوك توانګر پسې اولګولې شي.نو اتباع دې اوكړي.يعنى محتال له دې حواله قبول كړي.

② عقلي دليل دادې.چه محتال عليه پخپل ځان باندې داسې شئ لازم كړې دې. چې ددې په سپارلو باندې قادر دې.او داسې شئ لازمول چې ددې په سپارلو باندې قادر وي.صحيح ده.په دې وجه د كفاله پشان حواله به هم صحيح وي.

وجه التخصيص بالديون< پاتې شوه داخبره چې حواله ديون سره ولې خاص كړې شوې ده؟ نو ددې جواب دادې.چه د حواله معنى نقل او تحويل دې.او تحويل په ديون كې ممكن دې.خو په اعيان كې ممكن نه دې.څكه چې دين غيرمعين وي.نودا محتال عليه هم اداكولې شي.او عين چونكه متعين وي.په دې وجه دا هم هغه اداكولې شي.چه دچا سره موجود وي.نو ثابته شوه.چه حواله د ديونو جائز ده.اود اعيانو

---

(۱) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه أحمد في المسند(۲/۴۶۳) وابن أبي شيبة في مصنفه والطبراني في معجمه الوسط_

حواله جائز نه ده.صاحب د کفایه رحمه الله هم دا خبره پخپل علمی اندازکي داسي بیان کړي ده.چه حواله کوم چي په نقل باندې دلالت کوی.ددې نه مراد نقل شرعی دې.او دین وصف شرعی دې.نو نقل شرعی به په هغه شئ کي موثر وی.کوم چي شرعاً ثابت وی.نو دین کوم چي وصف شرعی دې.او شرعاً ثابت دې.دا به د نقل شرعی نه منتقل کیږی.او پاتي شو عین،نودا چونکه حسی دې.په دې وجه به د نقل شرعی نه نه منتقل کیږی.بلکه نقل حسی ارخ ته به محتاج وی.ددې نه هم ثابته شوه.چه حواله په دین کي جائز ده.خو په اعیانو کي حواله جائز نه ده.

د حواله لپاره د رضامندئ شرطیت

وَتَصِحُّ الْحَوَالَةُ بِرِضَا الْمُحِيلِ وَالْمُحْتَالِ وَالْمُحْتَالِ عَلَيْهِ فرمائی.اوحواله د محیل، محتال له،اود محتال علیه په رضامندئ سره صحیح کیږی.

تشریح> ابو الحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه د حواله د صحت لپاره د محیل، محتال، اود محتال علیه رضا مندی شرط ده.د محتال له رضامندی شرط کیدلو کي د هیڅ چا اختلاف نشته.

دلیل رضاء المحتال له> او ددې دلیل دادې.چه قرضه د محتال له حق دې.او قرضه د حواله په ذریعه منتقل کیږی هم.خود خلقو په ذموکي تفاوت دې.ځکه چي بعض خلق په قرض ادا کولو کي ډیرګره (ایمانداره) وی.او بعض دهوکه بازه (او بي ایمانه) قسم خلق تـال متول کوی.نوکه د محتال له رضامندی شرط نه وی.نو ډیر ځله محتال له په ضرر کي اخته کیږی.په دې طریقه چي محتال له داسي کس مقرر کړي وی.چه ډیر انتهائی نادیدکه (دهوکه باز) او بدمزاج وی.نو په داسي صورت کي چونکه د محتال له لپاره خپل قرض وصولول سخت مشکل وی.په دې وجه د حواله د صحت لپاره د محتال له رضامندی شرط ګرځولي شوي ده.

دلیل رضاء المحتال علیه> او پاتي شو محتال علیه،نو که د محیل په محتال علیه باندې قرضه نه وی.نود محتال علیه رضامندی بالاجماع شرط ده.اوکه د محیل په محتال علیه باندې قرضه وی.نو زمونږ په نیز په دې صورت کي هم د محتال علیه رضامندی شرط ده.

دلیل دادې. چي حواله د محیل د ارخه محتال علیه باندې قرضه لازمول دی.او لزوم د التزام نه بغیر نه کیږی.ګنی هر سړې چي د بل په ذمه څه غواړی.لازموی به.په دې وجه محتال علیه باندې قرضه لازمولو لپاره ضروری ده.چه دې پخپله خپل ځان باندې لازم کړی.اوهرکله چي محتال علیه پخپله خپل ځان باندې قرضه لازم کړله.نود محتال علیه رضامندی اوموندلي شوه.نو معلومه شوه.چه په محتال علیه باندې قرضه لازمولو لپاره دده رضامندي هم شرط ده.

دلیل رضاء المحیل> او پاتي شو محیل، نو امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه د حواله صحیح کیدلو لپاره د محیل رضامندی هم شرط ده.لکه ځنګه چي په متن کي په دې قول سره ذکرشوي ده **(وتصح الحوالة برضا المحیل)**

د امام ابوالحسن قدوری رحمه الله د دې روایت دلیل دادې.چه بنه (او دینداره) خلق دا نه خوښوی.چه ددوی بوج په بل چا وی.بلکه ډیر ځله شرم محسوسوی.په دې وجه محیل یعنی د قرضدار رضامندی هم ضروری ده. ② دوئم دلیل دادې. چي امام ابوالحسن قدوری رحمه الله د محیل رضامندی هغه وخت شرط ګرځولي دې.کله چي دمحیل په محتال علیه باندې قرضه وی.او دغه وخت د محیل رضامندی ځکه ضروری ده.چه په دې صورت کي محتال علیه نه د محیل مطالبه ساقطیږی.اوهرکله چي په دې صورت کي د محیل مطالبه ساقطیږی.نو ددې حواله صحیح کیدلو لپاره به د محیل رضامندی شرط

وي.حاصل داچه د حواله ابتداء كله د محيل نه كيږي.اوكله د محتال عليه نه.اول احاله ده.او ثاني احتيال دي.او احاله فعل اختياري دي.چه بغير د ارادې او رضامندئ نه ممكن نه ده.هم دا د ابوالحسن قدوري رحمه الله د روايت دليل دې.او احتيال د محيل د ارادې نه بغيرصرف د محتال عليه په اراده سره مكمل كيږي.هم دا د زيادات د روايت دليل دې.

د حواله پوره كيدلو سره د محيل بري كيدل

وَاِذَاتَمَّتِ الْحَوَالَةُ بَرِءَ الْمُحِيْلُ مِنَ الدُّيُوْنِ اوكله چې حواله پوره شوه.نو محيل د پورونو نه بري كيږي.

حل اللغة ﴿١﴾ **تمت**-پوره شوه-﴿٢﴾**برئ**-خلاص شو-

تشريح صورت د مسئلي دادې.چه د محتال له او محتال عليه قبلولو سره هركله حواله پوره شوه.نو محيل به د قرض نه بري كيږي.

دليله دليل دادې.چه په لغت كي حواله د منتقل كولو په معنى كي راځي. اوهم ددې نه حوالة العراس، د ونې منتقل كولوپه معنى كي راځي.نود حواله په ذريعه قرض منتقل كول ضروري شو. او هركله چې قرضه د محيل د ذمې نه منتقل شوه.نود محيل په ذمه كي به باقي نه پاتې كيږي.او هركله چې د محيل په ذمه كي قرضه پاتې نشوه.نو محيل بري شو.

مذهب زفر رحمه الله امام زفر رحمه الله فرمائي.چه محيل به نه بري كيږي.

دليله د دوى دليل په كفاله باندې قياس دې.او وجه د قياس دا ده.چه په حواله او كفاله دواړوكي هريو عقد توثق (اعتماد) دې.يعنى د مضبوطوالي لپاره د كفاله پشان حواله هم كولې شي.نو لكه څنګه چې په كفاله كي اصيل يعنى مكفول عنه نه بري كيږي.دغه ډول په حواله كي هم اصيل يعنى محيل نه بري كيږي.

الجواب عنه پاتې شوه كفاله.نو ددې لغوي معنى د ضم (ملاوول) راځي.نو په كفاله كي ،،الذمة الى الذمة،، معتبر ده.اودا اصول ثابت شوي دي.چه احكام شرعيه د خپلې لغوي معنى موافق وي.نود حواله لغوي معنى په اعتبار سره محيل د قرض او مطالبې نه بري كيږي.اود كفاله د لغوي معنى په اعتبار سره مكفول عنه باندې قرضه او مطالبه باقي كيږي.

توئ يعني د تلف كيدلو بعض صورتونه

وَالتَّوٰى عِنْدَاَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ بِاَحَدِالْاَمْرَيْنِ اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز هلاكيدل د دوه خبرو نه يوه ده. اِمَّااَنْ يَّجْحَدَالْحَوَالَةَ وَيَحْلِفَ او هغه داچه يا محتال عليه د حواله انكار اوكړي.او قسم اوخوري. وَلَا بَيِّنَةَلَهُ عَلَيْهِ اَوْيَمُوْتَ مُفْلِسًا اود محتال عليه خلاف محيل او محتال له سره بينه نه وي.يا محتال عليه فقير مرشي

حل اللغة ﴿١﴾ **يجحد**-انكار كوي-﴿٢﴾**يحلف**-قسم خوري-﴿٣﴾**يموت**-مر كيږي-

تشريح ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي.چه د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په دوه خبروكي د يوې خبرې په ذريعه توا متحقق كيږي.

﴿١﴾ محتال عليه د حواله انكار اوكړي.او قسم اوخوري.اود محتال عليه خلاف نه محيل سره بينه موجود وي.او نه محتال له سره بينه موجود وي.

﴿٢﴾ يا محتال عليه مفلس شي.او مرشي.يعنى نه ده څه مال پريښودې وي.اونه ئې په چا باندې خپله قرضه پريښودې وي.اونه ئې خپل خان باندې د محتال عليه لپاره كفيل پريښودې وي.

دليله دليل دادي.چه په دواړه صورتونوکي محتال له د خپل حق وصولولو نه عاجز دي.په ړومبی صورت کي ځکه چي محتال له د محتال عليه نه په مطالبه کولو باندي قادر پاتي نشو.او په دوئم صورت کي داسي ذمه باقي نشوه.چه ددي سره د محتال له حق متعلق وی.بهرحال په حقيقت کي توی (هلاکيدل) هم دادی.

وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ او هلاکيدل په حقيقت کي هم دا دی.او صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه دا دوه عمله دی. وَوَجْهٌ ثَالِثٌ وَهُوَ أَنْ يَحْكُمَ الْحَاكِمُ بِإِفْلَاسِهِ حَالَ حَيَاتِهِ او يوه دريمه وجه ده.او هغه داده.چه د محتال عليه په ژوند کي حاکم دده د فقيرئ حکم ورکړی.

حل اللغة ① **إفلاس**-غريب کيدل-② **حياة**-ژوند

مذهب الصاحبين چه محتال له د خپل حق د حاصولونه عاجز شي نو د صاحبينو په نيز د دي دريم صورت دا هم دي چي حاکم د محتال عليه ژوند کي دده د افلاس (غربت) حکم ورکړی.يعنی دا اعلان اوکړی.چه فلانئ سړي مفلس ثابت شو.اوس به په ده باندي د هيڅ چا مطالبه مسموع نه وی.نو په دي صورت کي چونکه محتال له د خپل حق وصولولو نه عاجز دي.په دي وجه به په دي صورت کي هم توی متحقق کيږی.

بناء الاختلاف خودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د قاضی په حکم ور کولو سره افلاس نه متحقق کيږی. [1]اود صاحبينو رحمهما الله په نيز د قاضی په حکم ور کولو سره دي مفلس متحقق کيږی.

دليله د امام صاحب رحمه الله دليل دادي.چه مال تلونکي راتلونکي شئ دي.يو سړي سحر مالداره وی.او ماښام ته غريب کيږی.اوکله ددي برعکس کيږی.نو حاکم چي د چا د غربت حکم کړي دي.ديره ممکن ده.چه په خپل ژوند کي توانګر شی.

د محتال عليه د قول قبلولو صورتونه

وَإِذَا طَالَبَ الْمُحْتَالُ عَلَيْهِ الْمُحِيلَ بِمِثْلِ مَالِ الْحَوَالَةِ اوکه محتال عليه د محيل نه د مال حواله دمثل مطالبه اوکړله. فَقَالَ الْمُحِيلُ أَحَلْتَ بِدَيْنٍ لِي عَلَيْكَ نو محيل اووئيل.چه ماد خپلي هغه قرض په عوض کومه چي په تا باندي وه.حواله کړي وه. لَمْ يُقْبَلْ قَوْلُهُ نود محيل قول به قبول نه وی.خو په حجت سره(به قبول وی). وَكَانَ عَلَيْهِ مِثْلُ الدَّيْنِ او په محيل به د قرض مثل واجب وی.

تشريح صورت د مسئلي دادي.چه محتال عليه د محيل د ارخه د قرض ادا کولو نه روسته د محيل نه د قرض په مقدار د مال مطالبه اوکړله.نو محيل اووئيل.چه زما په تا کوم قرض وو.ما ددي په عوض حواله کړي وه.يعنی ما دا وئيلي وو.چه زما په تا کوم قرض دي.د هغې نه زما هغه قرضه اداکړه.کومه چي د محتال له په ما باندي ده.نو په دي صورت کي که محيل بينه پيش کړل.نود محتال عليه حق رجوع به باطل شي.اوکه محيل بينه پيش نکړي شو.نود محتال عليه قول به مع اليمين معتبر وی.او په محيل به دومره مقدار واجب وی.خومره مقدار قرضه چي محتال عليه اداکړي ده.

دليله دليل دادي.چه د محيل نه د قرض واپس اخستلو سبب دادي.چه محتال عليه د محيل د ارخه دده په حکم سره قرضه اداکړی.او دلته کي دا سبب موجود دي.نو هرکله چي سبب د رجوع موجود

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٣٥٢\٦) وردالمحتار(٣٢٦\٤) نقلاً عن القول الراجح (١٠٤\٢)-

دي.نو محتال عليه ته به محيل ارخ ته د رجوع اختيار حاصل وي.البته دومره خبره ده.چه محيل به محتال عليه باندې د خپلې قرض دعوه کوی.او محتال عليه ددې منکر دې.او مدعی سره د بينه نه موجود کيدلو په صورت کې چونکه د منکرقول معتبر وی.خکه به دلته کې هم د منکر يعنی د محتال عليه قول معتبر وی.خوکه دا اووئيلی شي.چه د محتال عليه حواله قبلول، د محتال عليه دده د قرض اقرار کول دی.کومه چې د محيل په محتال عليه باندې واجب ده؟ نو ددې جواب دادې.چه حواله چونکه کله د قرض نه بغير هم کيږی.په دې وجه د حواله په قبلولو سره د قرض اقرار کول نه لازميږی.

په حواله شوی مال کښې د محيل او محتال له اختلاف

وَإِذَا طَالَبَ الْمُحِيلُ الْمُحْتَالَ بِمَا أَحَالَهُ بِهِ او که محيل د محتال له نه د هغه مال مطالبه اوکړله.کوم چې ده ته حواله کړې وو. فَقَالَ إِنَّمَا أَحَلْتُكَ لِتَقْبِضَهُ لِي نومحيل اووئيل.چه ما تاته خکه حواله کړې وو.چه ته ئې زما لپاره قبول کړې. وَقَالَ الْمُحْتَالُ بَلْ أَحَلْتَنِي بِدَيْنٍ لِي عَلَيْكَ او محتال له اووئيل.نا بلکه تا ما ته هغه قرض حواله کړې وو.کوم چې زما په تا باندې وو. فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُحِيلِ مع يمينه نود محيل قول به قبول نه وی.سره د قسم د هغه نه

تشريح> صورت د مسئلې دادې.چه هرکله محتال عليه، محتال له ته قرضه اداکړله.نو محيل د محتال له نه ددې قرض مطالبه اوکړله.او وې وئيل.چه ما ددې قرض وصولول په دې وجه ستا په حواله کړې وو.چه ته دا قرضه زما لپاره وصول کړې.او قبضه ئې کړې.او محتال له اووئيل.چه داسې نه ده.بلکه زما چې کومه قرضه په تا باندې وه.د هغې وصولول دې زما په حواله کړی وو.نو په دې صورت کې به د محيل قول مع اليمين معتبر وی.مثلاً خالد د شاهد نه قرضه وصولول د حامد حواله کړل.نو خالد محيل، شاهد محتال عليه او حامد محتال له شو.نو خالد د حامد نه مطالبه اوکړله.چه د کوم مال وصولول ما ستا په حواله کړی وو.هغه مال ماته اوسپاره.خکه چې ما خکه حواله کړې وو.چه ته ئې زما لپاره قبضه کړې.او حامد اووئيل.چه داسې نه ده.بلکه تا هغه قرضه زما په حواله کړې وه.کومه چې زما په تا باندې وه.نود خالد يعنی د محيل قول به مع اليمين معتبر وی.

دليله> دليل دادې.چه محتال له په محيل باندې د قرض مدعی دې.او محيل ددې نه منکر دې.اوهرکله چې مدعی سره بينه موجود نه وی.نود منکر قول معتبر وی.په دې وجه په دې مسئله کې به د منکر يعنی د محيل قول مع اليمين معتبر وی.

د سفاتج تعريف

وَيُكْرَهُ السَّفَاتِجُ فرمانی.او سفاتج (هندی) مکروه ده. وَهِوَقَرْضٌ اسْتَفَادَ بِهِ الْمُقْرِضُ أَمْنَ خَطَرِ الطَّرِيقِ او سفتجه داسې قرضه ده.د کوم په ذريعه چې قرضه ورکونکې د لارې خطره لرې کوی.

حل اللغة> ① **استفاد**-حاصل شوې وی-② **سقوط**-ساقط کيدل-③ **خطر**-ويره-④ **الطريق**-لار

تشريح> د سفاتج واحد ، ، سُفتجه ، ، د سين ضمه اود تاء فتحه ده.دا لفظ د فارسی نه معرب دې.ددې اصل سُفته دې.د محکم شی لپاره وئيلې شی.دې ته هندی وئيلې شی.د سفتجه صورت دادې.چه حامدخالد ته په دې شرط باندې مال قرض ورکړو.چه خالد دده لپاره يو تحرير فلانی ښار ته اوليکی.مثلاً حامد خالد ته په ديوبند کې مال په دې شرط باندې قرض ورکړو.چه خالد د حامد لپاره يو تحرير بمبئ ته اوليکی.کوم خانې کې چې د خالد کاروبار دې.چه حامد تحرير اوښائی.اوهم دومره قدرې مال په بمبئ کې وصول کړی.بهرحال سُفتجه مکروه ده.خکه چې قرضه ورکونکی قرضه

ورکړله.اود لاري خطره ئې لرې کړله.يعنې د ډيپښور نه کراچۍ ته په رقم اوړلوکې چې کوم خطرات وو.د هنډۍ په صورت کې هغه خطرات لرې شو.

دليله او ددې خطراتو لرې کيدل هم د قرض ورکونکي لپاره يوه نفع ده.اوداسې قرضه چې په هغې کې د قرضه ورکونکي لپاره نفع وی.نا جائز ده.ځکه چې رسول الله ﷺ د داسې قرض نه منع فرمائيلې ده.کومه چې په نفع باندې مشتمل وی. (١) نو معلومه شوه.چه سُفتجه (هنډی) کم ازکم مکروه ده.

كِتَابُ الصُّلحِ

ترجمه (دا) کتاب د صلح (په بيان کې) دې.

تشريح **الربط بين الكتابين** په کفالت او حواله کښې بعضې وخت د اختلاف په صورت کښې د صلحې ضرورت پيښيږی.د دې وجې د کتاب الحواله نه پس ئې کتاب الصلح راوړل.

معني الصلح لغة وشرعاً صلح په لغت کې د مصالحت د مصدر اسم دې.کوم چې د صلاح (چې د فساد ضد دې) يعنې د استقامتِ حال نه مشتق دې.نو لغوی معنی ددې ذاتی حسن باندې دلالت کوی.په شريعت کې صلح هغه عقد ته وائی.کوم چې رافع د نزاع او قاطع د خصومت وی.يعنی کوم عقد چې جګړه ختمه کړی.هغې ته صلح وائی.په څه چې صلح واقع وی.هغې ته مصالح عليه او چا سره چې صلح وی.هغه ته مصلح عنه او څوک چې صلح کوی.هغه ته مصالح وائی.مثلاً زيد په خالد باندې د يو کور دعوه اوکړله.خالد اووئيل.چه ما نه سل درهم واخله.اود کور دعوه پريږده.نو سل درهم مصالح عليه دی.او کور مصالح عنه دې.او خالد مصالح دې.

د صلح اقسام او شرعی حيثيت

(الصُّلْحُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَضْرُبٍ:صلح په درې قسمه ده. صُلْحٌ مَعَ إِقْرَارٍ،صلح اقرار سره، وَصُلْحٌ مَعَ سُكُوتٍ،صلح خاموشۍ سره، وَهُوَ أَنْ لَا يُقِرَّ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ،او هغه داده.چه مدعی عليه نه اقرار اوکړی.وَلَا يُنْكِرَ،او نه انکار اوکړی.وَصُلْحٌ مَعَ إِنْكَارٍ،او صلح مع انکار،

تشريح لکه څنګه چې پورته معلومه شوه.چه صلح خپل مينځ کې هغه عقد ته وائی. د کوم په ذريعه چې د دوه مختلفينو په مينځ کې اصلاح واقع کيدو ارخ ته رسائی اوشی.ددې مختلف انواع دی.

① يو نوع هغه صلح ده.کومه چې د مسلمانانو اود اهل حرب په مينځ کې واقع شی.قال الله تعالى ﴿وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ﴾،،اوکه دوی مائل شی صلح ارخ ته نو ته هم مائل شه دې ارخ ته او اعتماد کوه په الله باندې،،

② دونم نوع هغه صلح ده.کومه چې د اهل عدل او اهل بغی په مينځ کې واقع وی.قال الله تعالى ﴿وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا﴾اوکه په مسلمانانو کې دوه ډلې خپل مينځ کې په جنګ شی.نو په دوی کې روغه(صلح) اوکړئ،،

③ دريمه نوع هغه صلح ده.کوم چې د مخالفت (او ناچاقۍ) د يرې په وخت د زوجينو(ښځه خاوند) په مينځ کې واقع شی.قال الله تعالى ﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا﴾ ،،اوکه څوک ښځه يريږی.د خپل ميړه د جنګ کولونه، يا د زړه اوختلو نه،نو هيڅ ګناه نشته په

(١) من حديث علي رضي الله عنه اخرجه عبدالحق في احكامه وابوالجهم في ،،جزئه المعروف ،،وابن عدى في الكامل (٢٦٨/١)۔

دوارو.چه اوکړی خپل مینځ کي صلح، او صلح بنه غوره شئ دې،،

۞ څلورمه نوع هغه صلح ده.کومه چې د اموالو په سلسله کي د اختلاف کونکو په مینځ کي واقع شی.په دې باب کي هم ددې نوع بیان دې.ددې نوع درې قسمونه دی.

① **صلح مع الاقرار**﴾ صلح مع الاقرار داده.چه مدعی د مدعی علیه د دعوې اقرار اوکړی.دده سره په څه اندازه مال باندې صلح اوکړی.چه هغه خپله دعوه پریږدی.دا صلح په مرتبه د شراء په اقل وی.

② **صلح مع الانکار**﴾ صلح مع الانکار داده.چه مدعی علیه د دعوه نه منکر وی.او په صلح کولو باندې راضی وی.ګویا چې په ده باندې د انکار په وجه قسم عائد شو.نو هغه د قسم په بدله کي دا مال ورکړو.او صلح ئې اوکړله.

③ **صلح مع السکوت**﴾ د صلح مع السکوت تفسیر پخپله صاحب کتاب ذکر کړې دې.چه مدعی علیه نه اقرار اوکړی.اونه انکار اوکړی.صاحب د عنایه ﷺ فرمائی.چه د صلح په ذکر شوی انواع ثلاثه کي منحصر کیدل ضروری دی.ځکه چې خصم به د دعوه په وخت یا سکوت اختیاروی.یا به څه جواب ورکوی.او جواب د دوه حالونو نه خالی نه دې.یا به نفیاً وی.او یا به اثباتاً وی.

وَكُلُّ ذٰلِكَ جَائِزٌ او دا درې واړه جائز دی.

تشریح﴾ زمونږ په نیز د صلح ذکر شوی درې واړه قسمونه د قرآن او حدیث په رڼړا کي جائز دی.امام مالك او امام احمد ﷺ هم ددې قائل دی.

دلیله﴾ د نبی کریم ﷺ ارشاد دې.چې «كُلُّ صُلْحٍ جَائِزٌ فِيمَا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ اِلَّا صُلْحًا اَحَلَّ حَرَامًا اَوْ حَرَّمَ حَلَالًا»[1] چې د مسلمانانو په مینځ کي هره صلح جائز ده. سوا د هغه صلح نه، کوم چې حرام حلال کړی.یا حلال حرام کړی.

د صلح د اقسام ثلاثه تفصیلی احکام

(فَاِنْ وَقَعَ الصُّلْحُ عَنْ اِقْرَارٍ) که واقع شی صلح په اقرار سره.(اُعْتُبِرَ فِيهِ مَا يُعْتَبَرُ فِي الْبِيَاعَاتِ) نو په دې کي به دهغه څیزونو اعتبار کولې شی.د کومو چې د خرڅولو په څیزونو کي کیږی.(اِنْ وَقَعَ عَنْ مَالٍ بِمَالٍ) که صلح د مال نه د مال په بدله کي واقع شی.

تشریح﴾ که صلح په مال سره د مال په مقابله کي د مدعی علیه په اقرار سره واقع وی. نودا صلح به د بیع په حکم کي وی.

دلیله﴾ ځکه چې دې کي معنی دبیع یعنی د متعاقدینو په حق کي مبادلة المال بالمال موجود ده.نو په دې کي به د بیع احکام جاری کیږی.

① مثلاً د عقار په صورت کي شفع واجبیدل.د عیب په وجه واپس کول.د خیار شرط او خیار رویت حاصلیدل.په جهالت بدل سره د عقد صلح باطلیدل،د تسلیم په بدل باندې قادرکیدل وغیره.نو که صلح د یو کور په بل کور سره اوشوه.نو په دوارو کورونو کي به حق شفعه حاصل وی.

② اوکه بدل صلح مثلاً غلام وی.او په ده کي څه عیب اوموندې شی.نو دده واپس کول به جائز وی. اوکه د صلح په وخت ئې مصالح علیه اونه لیدلو.نو د کتلو نه روسته ئې واپس کولې شی.

1) من حدیث أبي هريرة ﷺ اخرجه أبوددود في الأضحية باب ۱۲ قم ۲۴۹۳۔

④ دغه شان که په صلح کي يو کس خپل ځان لپاره دري ورځو پوري خيار شرط اخستل اوغواړي.نو هغه به ددي حقدار وي.

د مال نه د منافعو په عوض د صلح حکم

(وَإِنْ وَقَعَ عَنْ مَالٍ بِمَنَافِعَ)او که د مال نه د منافعو په بدله کي واقع شي.فَيُعْتَبَرُ بِالْإِجَارَاتِ)نو په اجاراتو سره به اعتبار کولي شي.

تشريح> اوکه صلح مع اقرار د مال د اړخه د منافعو په بدله کي واقع شي.نو ددي اعتبار به په اجاره سره کولي شي.

دليله> ځکه چي دي کي د اجاره معنی يعنی د منافعو تمليك د مال په بدله کي موجود دي.او په دي کي هيڅ شك هم نشته.چه عقودو کي صرف د معانيو اعتبار کيږی.لکه چي هبه په شرط د عوض بيع وی.او کفاله په شرط د اصيل د براءت حواله وی.او حواله په شرط د مطالبي د اصيل کفاله وی.نو هرهغه منفعت چي ددي استحقاق په عقد اجاره سره کيږی.د هغي استحقاق په عقد صلح سره هم کيږی.،،و ما لا فلا،،

نو که زيد عمرو باندي د څه شئ دعوه اوکړله.او عمرو ددي اقرار اوکړو.بيا عمرو زيد سره يو کاله پوري د اوسيدلو،يا سوارلئ باندي د سوريدلو،يا د خپلي کپړي داغوستلو،يا د خپل غلام نه د خدمت حاصلولو،يا پخپله زمکه کي په فصل کرلو باندي صلح اوکړله.نو ددي حکم د اجاري پشان دي.چه لکه څنګه اجاره کي د نفع حاصلولو موده مقررول شرط دی.

د صلح مع انکار اود صلح مع سکوت بيان

(وَالصُّلْحُ عَنِ السُّكُوتِ او صلح مع سکوت، وَالْإِنْكَارِ فِي حَقِّ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ لِافْتِدَاءِ الْيَمِينِ وَقَطْعِ الْخُصُومَةِ او صلح مع انکار د مدعی عليه په حق کي د قسم فديه ورکولو،او د جګړي ختمولو په طور وی.وَفِي حَقِّ الْمُدَّعِي لِمَعْنَى الْمُعَاوَضَةِ)او د مدعی په حق کي د معاوضه په مرتبه کي وی.

تشريح> که صلح د مدعی عليه په سکوت، يا دده په انکار سره وی.نودا به د مدعی په حق کي معاوضه او د مدعی عليه په حق کي به د نزاع قطع کولو اود قسم فديه ور کولو په مرتبه کي وی.د مدعی په حق کي معاوضه ځکه ده.چه دي پخپل خيال کي د خپل حق عوض اخلی.او د مدعی عليه په حق کي د قسم فديه کيدل ځکه دی.که صلح نه واقع کيدله.نو مدعی عليه باندي به قسم لازميدلو.او جګړه به ختميدله.نود مدعی عليه په انکار سره دا خبره ښکاره شوه.چه دي د صلح په طور کوم څه ورکوی.هغه د جګړي ختمولو په غرض سره ورکوی.ممکن ده.چه څوك دا اعتراض اوکړی.چه هرکله عقد يو منفعت سره متصف شو.نو بيا به دا دوئم صفت سره څنګه متصف کيږی.

(وَإِذَا صَالَحَ عَنْ دَارٍ کله چي ئي په کور سره صلح اوکړله.لَمْ يَجِبْ فِيهَا الشُّفْعَةُ)نو په دي کي به شفع نه واجبيږی.

تشريح> د مسئلي وضاحت دادي.چه يوسړي په بل باندي د کور دعوه اوکړله.او مدعی عليه ددي انکار اوکړو.يا هغه خاموش پاتي شو.بيا دده څه (شئ يا مال) ورکړو.اود کور په معامله کي ئي صلح اوکړله.نو په دي کورکي به شفع واجب نه وی.

دليله> ځکه چي مدعی عليه دا د خپل اصلی حق په وجه باندي اخلی.دا نه چي هغه نه ئي (د بيع په ذريعه) اخلی.البته مدعی ضرور دا پخپل اعتقاد کي معاوضه ګنړی.خود مدعی دا اعتقاد مدعی

علیه باندې لازم نه دي. (لأن المرء إنما يؤخذ بما في زعمه ولا يلزمه زعم غيره)
اوکه مدعی د مال دعوه اوکړله.او مدعی علیه یو کور ورکړو.او صلح ئې اوکړله.نو په دې کې به شفعه واجب وی.ځکه چې مدعی دا د خپل مال عوض ګڼړي.او اخلی یې.نو دده په حق کې معاوضه شوه.نو شفعه به واجب وی.اګرچه مدعی علیه دا دروغ ګڼړي.آیا نه ګوري که څوك سړې دا اووائی. چه ما دا کور فلانی نه اخستې دې.او فلانې منکر دې.نو شفیع دا په شفعه کې اخستې شی.دغه شان که دا دعوه ئې اوکړله.چه ده خپل کور د فلانی په لاس خرڅ کړې دې.او هغه انکار اوکړی.بیا هم شفیع شفعه کې اخستلې شی. ، ،لأن زعمه حجة في حق نفسه ، ،

وَإِذَا صَالَحَ عَلٰى دَارٍ او که چې په کور باندې صلح اوکړی وَجَبَتْ فِيْهَا الشُّفْعَةُ نو په دې کښې شفع واجبیږی.

تشریح> دمسئلې وضاحت دا دې چې مدعی دعوی اوکړه چې په تا باندې زما یو لاکهه روپئ دی مدعی علیه چپ پاتې شو یا ئې انکار اوکړو اوبیا ئې د یو لاکهه روپو په ځائې کور ورکړو او صلح ئې اوکړه نو په دې کور کښې به شفعه واجب وی.

دلیله> ځکه چې مدعی د یولاکهه روپو په عوض کښې په کور باندې قبضه خپل حق ګڼړی نو دا داسې شوه لکه چې مدعی په یولاکهه روپئ باندې دا کور واخستل او د بیع په صورت کښې شفعه واجبیږی.نو دغه شان به دلته هم واجبیږی.

د صلح مع اقرار نه روسته د مستحق راوتلو حکم

(وَإِذَا كَانَ الصُّلْحُ عَنْ إِقْرَارٍ که چې صلح مع اقرار وی. فَاسْتُحِقَّ بَعْضُ الْمُصَالَحِ عَنْهُ او څه مصالح عنه د بل چا ثابت وی. رَجَعَ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ بِحِصَّةِ ذٰلِكَ مِنَ الْعِوَضِ)نو مدعی علیه به ددې په اندازه بدلې نه واپس اخلی.

تشریح> که مدعی علیه د مدعی د دعوې اقرار اوکړو.او صلح ئې اوکړله .بیا مصالح عنه یعنی د کوم شئ د ارخه ئې چې صلح کړې وه.په هغې کې څه برخه یوکس خپل استحقاق ثابت کړو.او مدعی علیه نه ئې واخستلو.نو مدعی علیه به ددې برخې (حصې) په مقدار خپل عوض واپس اخلی.

دلیله> ځکه چې صلح مع اقرار په حقیقت کې د بیع پشان معاوضه مطلقه ده.اود معاوضه حکم هم دادې.چه د استحقاق په وخت رجوع په قدر د مستحق وی.ددې مثال دادې.چه زید د یوکور دعوه اوکړله.کوم چې د عمرو په قبضه کې دې.او عمرو د اقرار نه روسته زید سره په سل درهمه باندې صلح اوکړله.بیا نصف کور د بل چا راؤ وتلو.نو عمرو به زید نه پنځوس درهمه واپس اخلی.

(وَإِنْ وَقَعَ الصُّلْحُ عَنْ سُكُوتٍ أَوْ إِنْكَارٍ او که صلح مع سکوت یا مع انکار واقع شی. فَاسْتُحِقَّ الْمُتَنَازَعُ فِيْهِ بیا د متنازع فیه حقدار پیدا شی. رَجَعَ الْمُدَّعِي بِالْخُصُوْمَةِ وَرَدَّ الْعِوَضَ)نو مدعی به حقدار نه جګړې او عوض واپس کوی.

تشریح> اوکه صلح مع سکوت یا مع انکار وی.بیا متنازع فیه د بل چا راؤ وتلو.مثلاً دعمر په قبضه کې یو کور دې.زید د هغې دعوه اوکړله.چه دا زما دې.عمرو ددې انکار اوکړو.یا خاموش پاتې شو.بیا هغه سل درهمه ورکړل.او صلح ئې اوکرله.ددې نه روسته دا کور د بل چا راؤ وتلو.نو زید چې د عمرو نه کوم سل درهم اخستی وو.هغه به هغه ته واپس کوی.او مستحق سره به خصومت کوی.

دلیله> ځکه چې عمرو زید ته سل درهمه ځکه ورکړی وو.چه جګړه ختمه شی.او دده سره مصالح عنه

بلا خصومت باقي پاتې شي.او هرکله چې دا د بل چا مملوك راوُ وتلو.نو دده مقصد حاصل نشو.اودا هم بېکاره شوه.چه عمرو سره د زيد خصومت په ناجائزه وو.نو هغه به سل درهمه واپس اخلي.او زيد به مستحق سره جګړه کوي.ځکه چې هغه اوس د مدعى عليه قائم مقام دې.

وَإِنْ اسْتُحِقَّ بَعْضُ ذٰلِكَ اوکه د بعض برخې (حصې) حقدار راوُخی. رَدَّ حِصَّتَهُ وَرَجَعَ بِالْخُصُوْمَةِ فِيْهِ نو ددې په اندازه به هغې کې جګړې واپس کوي.

تشريح﴾ اوکه د متنازع فيه څه برخه مستحق راوُ وتله.نو د صلح په عوض کې به هم د هغې په اندازه واپس کوي.او هم په دغه اندازه کې به مدعى مستحق سره خصومت کوي.

دليله﴾ ځکه چې په دومره برخه کې د مدعى عليه مقصد حاصل نشو.

د تعين نه بغير کور کښې د خپل حق دعوه کول

(وَإِنْ ادَّعٰى حَقًّا فِيْ دَارٍ يوکس په يو کور کې دعوه اوکړله. وَلَمْ يُبَيِّنْهُ او ددې تعين نې اونکړو. فَصُوْلِحَ مِنْ ذٰلِكَ عَلٰى شَيْءٍ نو ده سره په څه څيز صلح اوکړې شوه. ثُمَّ اسْتُحِقَّ بَعْضُ الدَّارِ بيا (يوکس) د بعض کور حقدار راوُ وتلو. لَمْ يَرُدَّ شَيْئًا مِنَ الْعِوَضِ نو مدعى به په عوض کې هيڅ هم نه واپس کوي.

تشريح﴾ مدعى په يوکور کې د خپل حق دعوه اوکړله.او دا نې بيان نکړو.بيا نې دعوې نه صلح اوکړله.ددې نه روسته د کور په څه برخه کې استحقاق راوُ وتلو.نو مدعى به بدل صلح کې هيڅ نه واپس کوي.

دليله﴾ ځکه چې هرکله ده په کور کې څه ځائې متعين نکړو.نو کيدې شي.چه دده دعوه د کور په باقي برخه کې وی.په خلاف ددې کله چې استحقاق په پوره کور کې ثابت وی.چه مدعى به پوره عوض واپس کوی.ځکه چې دې صورت کې به بدل صلح دځه شئ په مقابله کې نه وی.نو مدعى عليه به خپل پوره عوض واپس اخلي.

د اموالو د دعوې په بدل کښې د صلح حکم

(وَالصُّلْحُ جَائِزٌ مِنْ دَعْوَى الْأَمْوَالِ)او صلح جائز ده.د اموالو د دعوې نه.

تشريح﴾ د صلح د مقدماتو، شرائطو، او انواعو نه روسته هغه شيان بيانوی.د کوم د اړخه چې صلح جائز ده.اود کوم د اړخه چې صلح جائز نه ده.که مدعى د مال دعوه اوکړی.نود مال د دعوه د اړخه صلح کول جائز دی.

دليله﴾ ځکه چې دا صلح د بيع په معنى کې ده. (على ما مرفى أول كتاب الصلح) نود کوم شئ بيع چې جائز ده.د هغې د اړخه صلح هم جائز ده.

(وَالْمَنَافِعِ)اود منافعو د دعوې نه.

تشريح﴾ د منفعت د دعوه د اړخه هم صلح کولې شي.مثلاً زيد د عوی اوکړله.چه فلانی سړی زما لپاره په دې کور کې د يوکاله پورې د اوسيدلو وصيت کړې دې.وارثانو هغه ته څه مال ورکړو.او صلح نې اوکړله.نو صلح جائز ده.

دليله﴾ ځکه چې د عقد اجاره په ذريعه منافع مملوك کيږی.نود صلح په ذريعه هم مملوك کيږی.

وَجِنَايَةِ الْعَمْدِ وَالْخَطَاِ)او صحيح ده.د جنايت عمد او جنايت خطاء دعوې نه.

تشريح د جنايت نفس (يعني د قتل) دعوه اود جنايت مادون النفس (لكه د لاس كټ كولو) د دعوي د ارخه هم صلح صحيح ده.كه جنايت قصداً وي.اوكه په غلطئ سره وي.نو كه قاتل د مقتول بعضو اولياؤ سره دمال په لالچ يا عاجزئ سره صلح اوكړله.نو ددوی په قصاص پريښولو سره به باقي خلقو ته هم د قصاص اختيار نه وي.او صلح به جائز وي.اوكه قتل خطاء وي.نو په دې كي به صلح په ديت سره وي.

دليل الصلح عن جناية العمد په رومبی يعنی د عمد په صورت كي صلح خكه صحيح ده.چه د الله تعالى ارشاد دې. (فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ) ، بيا چاته چې معاف كړې شی دده د رور د ارخه څه هم،نو تابع داری كول پكار دی.د دستور موافق،او اداكول پكار دی.په ښه طريقه، حضرت عبدالله بن عباسؓ الالفاظ فرمائی.چه دا آيت د صلح په باره كي نازل شوې دې.معنی داده. (من أعطي له، من دم أخيه المقتول شيء وذالك بالصلح) يعنی كه د مقتول وارثان د صلح په طور د مال په څه مقدار باندې راضي شو.او د قصاص نه منع شو.نو قاتل له پكار دی.چه هغه معاوضه ښه په حسن سلوك او خوشحالئ سره اداكړی.

دليل الصلح عن جناية الخطاء دوئم يعنی قتل خطاء نه د صلح جائز كيدلو وجه داده.چه د جنايت خطاء موجب مال دې.يعنی ديت او صلح عن المال بلا اشكال جائز ده.نو دا صلح به په مرتبه د بيع كي شی.البته دومره خبره ضرور ده.چه په دې صلح كي د ديت د مقدار نه زيات مقررول جائز نه دی.خكه چې د ديت مقدار شرعاً محدود مقرر دې.چه دا نشي باطلولې.په خلاف د قصاص،چه په دې سره كومه صلح اوشوه.په دې كي د ديت مقدار نه زيات هم جائز دې.خكه چې قصاص مال نه دې.ددې تقوم خو صرف خپل مينځ كي اتفاق سره كيږي.په تقدير شرعی سره نه كيږي.

(وَلَا يَجُوْزُ مِنْ دَعْوَى حَدٍّ)او جائز نه ده صلح كول.د حد د دعوې نه.

تشريح د حد دعوې نه صلح جائز نه ده.

دليله خكه چې دا د الله تعالى حق دې.د بنده حق نه دې.او د بل د حق بدله اخستل جائز نه دی.نو كه يوكس زنا كار، غل، يا شراب خور او نيولو.او حاكم له ئې د بيولو (بوتللو) اراده اوكړله.او ماخوذ (نيولی شوی) په څه مال باندې صلح اوكړله.چه هغه دې پريږدی.نو دا صلح جائز نه ده.تردې چې نيولی شوی (ماخوذ) كوم مال وركړې دې.هغه به واپس اخلی.دغه شان كه يوكس په بل چا باندې د تهمت دعوه اوكړله.او مدعی عليه په څه دراهمو باندې صلح اوكړله.چه هغه دې معاف كړی.نو صلح باطل ده.

په ښځه د سړی د نكاح دعوه اود ښځې په انكار كښې په مال د صلح حكم

(وَإِذَا ادَّعَى رَجُلٌ عَلَى امْرَأَةٍ نِكَاحًا)كله چې دعوه اوكړله.يو سړی په يوه ښځه د نكاح.(وَهِيَ تَجْحَدُ) حالانكه هغه د نكاح انكار كوی.(فَصَالَحَتْهُ عَلَى مَالٍ بَذَلَتْهُ حَتَّى يَتْرُكَ الدَّعْوَى)بيا ښځې صلح اوكړله.په څه مال وركولو.چه هغه دعوه پريږدی.(جَازَ)نو صلح جائز ده.(وَكَانَ فِي مَعْنَى الْخُلْعِ)اودا د خلع په معنی كي ده.

تشريح يو كس په غير منكوحه ښځه باندې د نكاح دعوه اوكړله.او ښځه منكره ده.خو ښځې څه مال وركړو.او صلح ئې اوكړله.نودا صحيح ده.اوس دا صلح به ددې سړی په حق كي د خلعې په معنی كي وی. (لأن أخذ المال من ترك البضع خلع)او د ښځې په حق كي به د جګړې ختمول او د قسم فديه وی.بيا

مشائخو ونیلی دی. که سرې پخپله دعوه کې دروغجن وی.نو هغه لپاره د دیانت په طور دا مال اخستل حلال نه دی.بلکه د صاحب نهایه رحمه الله د قول مطابق واړه صورتونه په کومو کې چې مدعی دروغجن وی.هغې کې هم دا حکم دې.

دلیله خکه چې د سرې د گمان مطابق دده د اړخه خلع جوړه شوه. او ښځې د اړخه جګړه ختمولو په غرض سره مال خرچ کولو سره صحیح کول ممکن دی.

حکم اذا کان المدعي کاذبا مشائخو ونیلی دی. چې سرې لپاره د دیانت په طور مال اخستل حلال نه دی.. کله چې دې پخپله دعوه کې دروغجن وی.

(وَإِذَا ادَّعَتْ امْرَأَةٌ عَلَى رَجُلٍ نِكَاحًا اوکه دعوه اوکړله.ښځې په یو سرې باندې د نکاح. فَصَالَحَهَا عَلَى مَالٍ بَذَلَهُ لَهَا نو سرې په څه مال ور کولو سره صلح اوکړله. لم یجز)نو جائز نه ده.

تشریح اوکه مدعی ښځه وی.او سرې څه ورکړی.او صلح اوکړی.نو دا جائز نه ده.

دلیله خکه چې د سرې ورکړې شوې مال د دعوه پرېښودلو لپاره ده.اوس که ددې دعوې پرېښول د ښځې د اړخه جدایئ لپاره اوګرځولې شی.نو په جدایئ کې سرې مال نه ورکوی.بلکه ښځه ورکوی.خکه چې په دې جدایئ سره د سرې په فائده کې هیڅ نه راځی.بلکه د ښځې ذات ته ددې د میړه نه خلاصې ملاویږی.اوکه جدایئ لپاره او نه ګرځولې شی.نو بیا ددې مال په بدله کې هیڅ شئ نشته.(جوهره)

تنبیه د قدوری په بعضو نسخوکې د ،،لم یجز،، په ځائې ،،جاز ،،دی.د صلح ناجائز کیدلو وجه خو پورته ذکر شوې ده.اود جواز وجه دا ده.چه سرې کوم مال ورکړې دې.هغه د ښځې په مهر کې زیاتوالې اوګرځولې شی.ګویا ده مهر زیات کړو.په اصل مهر باندې نې خلع اوکړله.نو اصل مهر ساقط شو.او زیاتوالې پخپل حال پاتې شو.د شیخ انزاری رحمه الله بیان دې.چه ما د سن ۵۲۵ هـ لیکلې شوې نسخه کې عدم جواز هم لیدلې دې.

(وَإِنْ ادَّعَى رَجُلٌ عَلَى رَجُلٍ که په یوکس باندې دعوه اوکړله. أَنَّهُ عَبْدُهُ چې هغه دده غلام دې. فَصَالَحَهُ عَلَى مَالٍ أَعْطَاهُ هغه څه مال ورکړو. جَازَ او صلح نې اوکړله.نو جائز ده. وَكَانَ فِي حَقِّ الْمُدَّعِي فِي مَعْنَى الْعِتْقِ عَلَى مَالٍ)اودا د مدعی په حق کې د مال په بدله کې د آزادولو په حکم کې دی.

تشریح یوسرې په یو مجهول الحال سرې باندې دعوه اوکړله.چه دا زما غلام دې.او هغه څه مال ورکړو.او صلح نې اوکړله.نو صلح صحیح ده.اوس به دا د مدعی په حق کې د مال په بدله کې آزادی ګرځولې شی.

دلیله خکه چې د مدعی د ګمان موافق دده په حق کې په دې طریقه صلح صحیح جوړول ممکن دی.ګویا دا مال مبادله نه ده.هم دا وجه ده.چه په داسې حیوان باندې صلح صحیح ده.چه د هغې وصف بیان کړی.او یوې مودې پورې نې پخپله ذمه اخستې وی.که مبادله وې.نو صلح به نه صحیح کیدله.اود مدعی علیه په حق کې دا صلح د جګړې ختمولو په معنی کې وی.خکه دده ګمان دادې.چه زه اصلی آزاد یم.بیا به صلح جائز وی.خو مدعی ته به ولایت نه ملاویږی.البته که هغه ګواهان قائم کړی.نو ولایت به ملاویږی.

په صلح کښې د عقد مداینت په وجه د واقع شوي خبر حکم

(وَكُلُّ شَيْءٍ وَقَعَ عَلَيْهِ الصُّلْحُ) هر هغه شئ چې په هغې صلح واقع شي. وَهُوَ مُسْتَحَقٌّ بِعَقْدِ الْمُدَايَنَةِ او هغه د عقد مداينت په وجه واجب وي. لَمْ يُحْمَلْ عَلَى الْمُعَاوَضَةِ نو هغه په معاوضه باندې نشي محمول كولې. وَإِنَّمَا يُحْمَلُ عَلَى أَنَّهُ اسْتَوْفَى بَعْضَ حَقِّهِ بلكه په دې به محمول كولې شي. چه مدعي خپل څه حق واخستلو. وَأَسْقَطَ بَاقِيَهُ او باقي ئې ساقط كړو.

تشريح: دا ددې باب قاعده كليه ده. چه په كوم شئ باندې صلح واقع شي. او هغه د عقد مداينت (مثلاً په قرض د خرڅولو، يا د قرض وركولو) په سبب سره واجب وي. نودا صلح به په هغې باندې محمول كولې شي. چه مدعي خپل څه حق وصول كړو. او څه ئې ساقط كړلو. په معاوضه به نشي محمول كولې. چه د عوضينو په كمي زياتي سره سود لازم نشي. په دې قاعده باندې صاحب د نتائج دا اعتراض كړې دې. چه ددې قاعدې كليت د (لم يحمل على المعاوضة) په لحاظ سره خو منلې شوې ده. خود (وإنما يحمل على أنه) په لحاظ سره نه منلې كيږي. ځكه چې په كوم شئ باندې صلح واقع شي. او هغه د عقد مداينت په سبب سره واجب وي. كه هغه په قدر، وصف كې د مدعي د حق مثل وي. لكه مثلاً د يوكس په ذمه زر كره درهم وي. او هغه په زر كره درهمو باندې صلح اوكړي. نودا به د عين حق په استيفاء باندې محمول كولې شي. چه په دې باندې د هيڅ شئ اسقاط نشته. په بدائع او تحفه وغيره ډيرو معتبرو كتابونو كې ددې تصريح موجود ده. په دې وجه وقايه كې داسې وئيلي دي. (وصلح على بعض من جنس ماله عليه أخذ لبعض حقه وحط لباقيه لا معاوضة) خو ددې جواب ډير آسان دې. او هغه دا چه دلته كې ګفتګو په معتاد طريقه باندې ده. او عادت دادې. چه صلح به عامه توګه (عام طور) باندې مدعا نه په اصل باندې كيږي. ددې په مثا باندې نه كيږي. ځكه چې مثل حق باندې صلح كولو كې هيڅ فائده نشته.

تنبيه: صاحب د نهايه رحمه الله فرمائي. چه په ذكر شوي قاعده كې د مستحق بعقد المداينه نه روسته د (ولا يمكن حمل على بيع الصرف) قيد اضافه كول هم پكار ده. ځكه كه صلح په بيع صرف باندې محمول كړې شي. نو معاوضه به وي. اوكه هم ددې جنس خنې وي. كوم چې د عقد مداينه په سبب سره واجب دې. نو كتلې به شي. كه هغه مؤجل وي. نو صلح به باطل وي. ګنې باطل به نه وي. خو صاحب دنتائج فرمائي. چه ده ته هيڅ ارتيا نشته. ځكه چې ذكر شوي قول (وهو مستحق بعقد المداينة) هغه خارجوي. د كوم چې په بيع صرف باندې محمول كول ممكن وي. ځكه چې د اهل شرع به نيز چې دكوم په بيع صرف باندې محمول كول ممكن دی. هغه مستحق بعقد مداينه خنې نه دي. اوكوم چې مستحق بعقد مداينه دې. هغه د هغې خنې نه دې. كوم چې په بيع صرف باندې محمول كول ممكن وي.

د خپل حق نه د كم په عوض باندې د صلح كولو حكم

كَمَنْ كَانَ لَهُ عَلَى رَجُلٍ أَلْفُ دِرْهَمٍ جِيَادٌ لكه چې د يوكس په بل باندې زر كره درهم دي. فَصَالَحَهُ عَلَى خَمْسِمِائَةٍ زُيُوفٍ، هغه په پنځه سوه كوټه باندې صلح اوكړله. جَازَ نو جائز ده. (وَلَوْ صَالَحَ عَلَى أَلْفٍ مُؤَجَّلَةٍ كه صلح ئې اوكړله په زرو (درهمو) متعين مودې پورې. جَازَ نو جائز ده. وَصَارَ كَأَنَّهُ أَبْرَأَهُ عَنْ بَعْضِ حَقِّهِ او دا داسې شوه لكه چه دخپل بعضې حق نه برى شو وَكَأَنَّهُ أَجَّلَ نَفْسَ الْحَقِّ) ګويا

هغه نفس حق مؤخر کړو.

تشریح د مذکوره قاعدې په لحاظ سره که یوکس د زر درهمو د اړخه په پنځه سوه درهمو باندې صلح اوکړله.یا د زر کره درهمو د اړخه نې پنځه سوه کوټه درهمو باندې صلح اوکړله.یا زر درهم غیرمیعادی وو .او په زر میعادی باندې نې صلح اوکړله.نو صلح جائز ده.

دلیله وجه داده.چه د عاقل بالغ تصرف چې څومره پورې ممکن وی.صحیح کول ضروری دی.او دلته د معاوضې په طور باندې ددې تصحیح ممکن نه ده.ځکه چې سود لازمیږی.نودا به اسقاط ګرځولې شی.ګویا ده په ړومبی صورت کې بعض حق یعنی پنځه سوه درهم ساقط کړل.او په دوئم صورت کې فوری طور واجبیدل ساقط شو.یعنی نفس حق نې مؤخر کړو.ګنې دراهم ددې د مثل په عوض قرض ګرځول لازمیږی.چه دا جائز نه دی.

(وَلَوْصَالَحَهُ عَلَى دَنَانِيْرَاِلٰى شَهْرٍ که صلح نې اوکړله په د ینارونو باندې، د یو میاشت په مهلت سره، لَمْ يَجُزْ)نو جائز نه ده.

تشریح که د غیر میعادی زر درهمو د اړخه په زر دینار میعادی باندې صلح اوکړله.نو داجائز نه ده.

دلیله ځکه چې د عقد مداینه په سبب سره دنانیر واجب نه دی.نو جلتی د حق په تاخیر باندې نشی محمول کیدلې.معاوضه باندې به محمول کولې شی.او هرکله چې معاوضه وی.نودا صلح به بیع صرف وی.او بیع صرف کې دراهم د دنانیرو په عوض کې قرض ګرځول جائز نه دی.

(وَلَوْكَانَتْ لَهُ اَلْفٌ مُؤَجَّلَةٌ که د یوکس زر (درهم) میعادی وی.فَصَالَحَهُ عَلٰى خَمْسِمِائَةٍ حَالَّةً او هغه فوری (نغد) په پنځه سوه باندې صلح اوکړی.لَمْ يَجُزْ)نو جائز نه ده.

تشریح دغه شان که د زر میعادی درهمو د اړخه په پنځه سوه نغدو درهمو باندې صلح اوکړله.نودا هم صحیح نه ده.

دلیله ځکه چې اجل یعنی میعاد د مدیون حق دې.نو نصف معجل د اجل عوض شو.اود اجل عوض اخستل حرام دی.ځکه چې د جودة (کره والی) پشان اجل هم یو وصف دې.نو لکه څنګه چې د جودة عوض اخستل جائز نه دی.دغه شان د اجل عوض اخستل به هم جائز نه وی.

(وَاِنْ كَانَ لَهُ اَلْفٌ دِرْهَمٍ سُوْدٌ که د یوکس زر تور درهم وی.فَصَالَحَهُ عَلٰى خَمْسِمِائَةٍ بِيْضٍ اوهغه په پنځه سوه سپینو درهمو باندې صلح اوکړی.لَمْ يَجُزْ)نو جائز نه ده.

تشریح که د زر تورو درهمو د اړخه په پنځه سوه سپینو درهمو باندې صلح اوکړله.نودا هم صحیح نه ده.

دلیله ځکه چې د زر تورو درهمو معاوضه پنځه سوه درهم شو. سره د زیاتوالی د وصف نه.او په معاوضه د نقدینو کې د وصف اعتبار نه کیږی.نو سود لازم شو.او سود حرام دې.

د صلح د وکیل د حق بیان

(وَمَنْ وَكَّلَ رَجُلًا بِالصُّلْحِ عَنْهُ او چاچه یو کس د صلح کولو وکیل کړو.د خپل طرفه.فَصَالَحَهُ او هغه د ده صلح اوکړله.لَمْ يَلْزَمِ الْوَكِيْلَ مَا صَالَحَهُ عَنْهُ نو لازم به نه وی.وکیل باندې هغه مال په کوم نې چې صلح کړې ده.اِلَّا اَنْ يَضْمَنَهُ خودا چې وکیل د هغې ضمانت اوکړی.وَالْمَالُ لَازِمٌ لِلْمُوَكِّلِ)او مال به دموکل په ذمه وی

تشریح﴾ یوسړی بل څوك د خپل اړخه د صلح وكيل كړو.هغه صلح اوكړله.نو په كوم مال چې صلح اوشوه.هغه به دوكيل په ذمه نه وی.بلكه دموكل په ذمه به وی.خوداچه وكيل ددې ضمانت اوكړی.

د فضولی د صلح كولو حكم او ددې بعض صورتونه

فَإِنْ صَالَحَ عَنْهُ عَلٰى شَئٍ بِغَيْرِ أَمْرِهٖ كه يوكس دده د اړخه دده د حكم نه بغير په يو څيز باندې صلح اوكړله فَهُوَ عَلٰى أَرْبَعَةِ أَوْجُهٍ:نودا په څلور قسمه ده.إِنْ صَالَحَ بِمَالٍ كه صلح ئې اوكړله د مال په عوض،وَضَمِنَهٗ او پخپله ضامن شو.تَمَّ الصُّلْحُ)نو صلح پوره شوه.

تشریح﴾ يو فضولی سړی د بل د اړخه د هغه د حكم نه بغير صلح اوكړله.نو ددې څلور صورتونه دی.
① فضولی دمال په بدله كې صلح اوكړله.اود بدل صلح پخپله ضامن شو.په دې صورت كې صلح پوره شوه دليله﴾.څكه چې مدعی عليه ته كوم شئ حاصل دې.هغه براءت دې.اود براءت په حق كې مدعی عليه او اجنبی دواړه برابر دی.نو اجنبی سړې اصيل
جوړيدلې شی.كله چې هغه ددې ضامن شی.
نظيره﴾لكه مثلاً د ښځې د اړخه په خلع اخستلو كې يو فضولی كه د خلع د مال ضمانت واخستلو.نو جائز دې.اودا ددې اجنبی مصالح د اړخه د مدعی عليه په حق كې تبرع او احسان وی.لكه مثلاً كه هغه د مدعی عليه قرضه د احسان په طور اداكړی.نو جائز ده.خو كه مذكوره صلح د مدعی عليه په حكم سره وی.نو دې به د هغه په حق كې متبرع نه وی.بلكه د ضمانت باوجود به مال واپس اخلی.

(وَكَذٰلِكَ لَوْقَالَ صَالَحْتُكَ عَلٰى أَلْفِيْ هٰذِهٖ دغه شان كه فضولی اووئيل.چه ما پخپلو دې زر (درهمو) أَوْعَلٰى عَبْدِيْ هٰذَا يا په دې غلام باندې تا سره صلح اوكړله.صَحَّ الصُّلْحُ نو صلح به صحيح وی.وَلَزِمَهٗ تَسْلِيْمُهَا اليه)او په دده به هغه ته سپارل لازم وی.

تشریح﴾ د بدل صلح نسبت ئې خپل مال اړخ ته اوكړو.مثلاً داسې ئې اووئيل.چه ما تا سره په دې خپلو زر درهمو يا پخپل دې غلام باندې صلح اوكړله.په دې صورت كې به هم صلح صحيح وی.او په فضولی به دا زر درهم يا دا غلام سپارل لازم وی.
دليله﴾ څكه چې هركله هغه د صلح نسبت خپل ذاتی مال اړخ ته اوكړو.نو ددې د سپارلو التزام ئې اوكړو.نو صلح صحيح شوه.

(وَكَذٰلِكَ لَوْقَالَ دغه شان كه دده اووئيل.عَلٰى أَلْفٍ چې ما په زر(درهمو) باندې صلح اوكړله.وَسَلَّمَهَا)او زر(درهم) ئې دده ته اوسپارل.

تشریح﴾ اوكه دده اووئيل چې ما په زرو درهمو باندې صلح اوكړه او زر درهمه ئې اوسپارل .نو په دې صورت كې به هم صلح صحيح وی.
دليله﴾ څكه چې د مدعی مقصود دا وو.چه دده ته عوض اورسيږی.او هغه دده ته اورسيدلو.

د فضولی د صلح پنځم صورت او ددې حكم

(وَلَوْقَالَ صَالَحْتُكَ عَلٰى أَلْفٍ اوكه وې وئيل.چه ما په زر(درهمو) باندې صلح اوكړله. ولم يسلمها اليه او هغه ته ئې زر روپئ ورنكړې.فَالْعَقْدُ مَوْقُوْفٌ نو عقد به موقوف وی.فَإِنْ أَجَازَهُ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ كه مدعی عليه اجازت وركړو.جَازَ نو جائز به وی.وَلَزِمَهُ الْأَلْفُ،او په دده به زر(درهم) لازم وی.وَإِنْ لَمْ يُجِزْهُ اوكه

اجازت نې ورنکړو. بَطَلَ) نو باطل به وي.

تشريح> اوکه د بدل صلح ضامن شو. نه ئې خپل ذاتي مال ارخ ته نسبت اوکړو. نه ئې مدعی ته اوسپارلو. بلکه مطلق ساتلو سره ئې داسې اوونيل. چه ما په زر درهمو باندې صلح اوکړله. نو په دې صورت کې به صلح موقوف وي. که مدعی عليه دا جائز اوساتله. نوجائز به وي. ګني جائز به نه وي.

دليله> وجه داده. چه عقد کې اصل مدعی عليه دې. مطلب دادې. چه د جګړې ختمولو فائده هم ده ته حاصليږي. خو خپل ذات ارخ ته نسبت کولو سره فضولی هم اصيل جوړيږي. او هرکله چې په موجوده صورت کې ده خپل ارخ ته نسبت اونکړو. نو هغه اصيل نشو. بلکه مطلوب يعنی د مدعی عليه د ارخه عقد کونکې شو. نو صلح به دهغه په اجازت باندې موقوف وي. بيا دا د بعض مشائخو په اختيار باندې دی. بعضو ونيلی دی. چه په قول مذکور باندې هم د،، صالحتُ على ألفٍ،، په مرتبه کې دې. چه مصالح باندې به نافذ وي. توقف خو صرف په دې قول کې دې،، صالح فلاناً،،

د شراکت په صورت کښې د اخستې قرضې په اداکولو کښې د صلح بيان

وَإِذَا كَانَ الدَّيْنُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ کله چې قرضه د دوه شريکانو وي. فَصَالَحَ أَحَدُهُمَا مِنْ نَصِيبِهِ عَلَى ثَوْبٍ او په دوی کې يوکس د خپلې برخې (حصې) د ارخه کپړه باندې صلح اوکړي. فَشَرِيكُهُ بِالْخِيَارِ، نو دده شريك ته اختيار دې. إِنْ شَاءَ اتَّبَعَ الَّذِي عَلَيْهِ الدَّيْنُ بِنِصْفِهِ، که غواړي. هم ده پسې دې اولګی په چا چې قرضه ده. د خپلې نيمې برخې (حصې) دپاره، وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ نِصْفَ الثَّوْبِ او که غواړي. خپله نيمه کپړه دې واخلی. إِلَّا أَنْ يَضْمَنَ لَهُ شَرِيكُهُ رُبُعَ الدَّيْنِ) البته که ضامن وي دده لپاره دده شريکوال د څلورمې برخې (حصې) د قرض،

تشريح> قرضه دواړو شريکانو په مينځ کې مشترك ده. په دوی کې يو مشترك د خپلې برخې (حصې) د ارخه په يوه کپړې باندې صلح اوکړله. نو دونم شريك ته به اختيار وي. که غواړی نيمه کپړه دې واخلی. اوکه غواړی. اصل مديون نه دې خپله برخه طلب کړی. خو که شريك مصالح دده لپاره د څلورمې برخې (حصې) دين ضامن شی. نو بيا به د دونم شريك په کپړه کې حق نه پاتې کيږی.

صاحب دنهايه او شيخ اتقانی ونيلی دی. چه دا د،، فشريكه بالخيار،، نه استثناء ده. صاحب د عنايه رحمه الله هم پخپل قول (فإنه لا خيار لشريكه في اتباع الغريم) سره دې ارخ ته اشاره کړې ده. او هم دې ته صاحب د کفايه رحمه الله احسن ونيلی دی. مطلب دادې. چه غيرمصالح شريك ته مذکوره اختيار دې. خودا چې دده شريك د څلورمې برخې (حصې) د دين ضامن شی. چه په دې صورت کې به ده ته اختيار نه وی. خود کافی د تقرير اود صاحب د کفايه رحمه الله ښکاره صراحت دادې. چه دا د (إن شاء أخذ نصف الثوب) نه استثناء ده. ځکه چې هرکله شريك دده لپاره د څلورمې برخې (حصې) د دين ضامن شو. نو اوس ده ته په نيمه کپړه کې د شرکت ولايت پاتې نشو. اودا هم ممکن ده. چه (إن شاء اتبع الذي عليه الدين بنصفه) نه استثناء وی. ځکه چې هرکله شريك هغه لپاره د نيم مقبوض ضامن شو. نو اوس ده ته د نيم دين واپس اخستلو ولايت پاتې نشو،، بل يرجع برُبعه،،

تشريح> علامه مرغينانی رحمه الله فرمائيلی دی. چه په دې باب کې قاعده داده. چه کومه قرضه په دوه شريکانو کې مشترك وی. او په دوی کې يو شريك څه برخه وصول کړی. نو دونم شريك ته اختيار وی. که غواړی. هغه دې وصول شوې برخه کې شريك شی. اوکه غواړی. اصل مديون نه د خپلې برخې (حصې)

مطالبه اوکړی.په وصول شوي برخه کي د شريکيدلو اختيار ځکه دي.چه ده په وصولولو کي زياتوالی واخستلو. په دې معنی کي نغدو ته په قرضو باندې يو قسم زياتوالی دی.ځکه چي د قرض ماليت آخر کار د وصولولو په لحاظ سره دی.نو کوم شريکوال چي اوسه پورې نه دی وصول کړی.د هغه په برخه کي ګويا ماليت نشته.او وصول کړی بالفعل د هغه ماليت حاصل کړو.نود شرکت باوجود هغه زيات حاصل کړو.اودا زياتوالي چونکه اصل حق ارخ ته راجع دی.نو داسې شوه.لکه چي مشترکه وينځې نه بچي يا مشترك ونې نه ميوې پيدا شي.چه په دې کي هر شريکوال د مشارکت حق لري.

(وَلَوِاسْتَوْفَى نِصْفَ نَصِيبِهِ مِنَ الدَّيْنِ که په دې کي يوکس خپله نيمه قرضه وصول کړله.كَانَ لِشَرِيكِهِ أَنْ يُشَارِكَهُ فِيمَا قَبَضَ)نو دده شريك مقبوض کي شريك کيدې شی.(ثُمَّ يَرْجِعَانِ عَلَى الْغَرِيمِ بِالْبَاقِي)بيا دواړه شريکان باقی قرض مقروض نه وصول کړی.

تشريح> اوکه يو شريك خپله برخه د دين وصول کړله.نو دوئم کس به په دې وصول شرې دين کي شريك وی.اود باقی دين مطالبه به دواړه په يو خاني مديون نه کوی.

دليله> ځکه چي هرکله مقبوضه مقدار کي دوی دواړه شريك شو.نو باقی مانده دين به خامخا د دواړو په شرکت باندې پاتې وی.

د يو شريکوال د دين په بدله کښي د سامان اخستلو حکم

(وَلَوِاشْتَرَى أَحَدُهُمَا بِنَصِيبِهِ مِنَ الدَّيْنِ سِلْعَةً که واخستلو په دوی کي يوکس پخپلې برخې (حصې) دين سره څه سامان،كَانَ لِشَرِيكِهِ أَنْ يُضَمِّنَهُ رُبْعَ الدَّيْنِ)نو دده شريکوال دده نه د څلورمې برخې (حصې) تاوان اخستلې شی.

تشريح> که يو شريکوال دخپلې برخې (حصې) دين په عوض مديون نه څه شئ واخستلو.نو دوئم شريکوال که غواړی.هغه نه دې د څلورمې برخې (حصې) دين تاوان واخلی.کله چي دوی دواړه برابر شريکان وی.اوکه غواړی.اصل مديون نه دې مطالبه اوکړی.لکه څنګه چي روسته راروان دی.

دليله> د څلورمې برخې (حصې) دين تاوان خو ځکه اخستلې شی.چه اخستونکي شريکوال خو پخپل حق باندې د مقاصه په وجه پوره طور باندې قابض شو.يعنی هرکله چي ده د نصف دين برابر قيمت شئ واخستلو.نو ددې د نرخ نيمې قرض سره بدله اوشوه.ځکه چي د بيع مدار په پوره نرخ لګولو باندې دی.

د مال سلم په دوه شريکانو کښي د يوکس پخپلې حصې سره د صلح کولو حکم

(وَإِذَاكَانَ السَّلَمُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ که د سلم مال دوه شريکانو کي مشترك وی.فَصَالَحَ أَحَدُهُمَا مِنْ نَصِيبِهِ عَلَى رَأْسِ الْمَالِ او يو شريك پخپلې برخې (حصې) راس المال باندې صلح اوکړله.لَمْ يَجُزْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رحمهما الله. نودا جائز نه ده.د طرفينو رحمهما الله په نيز.

تشريح> دوه سړو يو ځاني يو کر غنمو کي عقد سلم اوکړو.او سل درهم راس المال مقرر شو.او هريو د خپلې خپلې برخې (حصې) پنځوس پنځوس درهم ورکړل.ددې نه روسته يو رب السلم د خپل نصف کر غنمو په بدله کي پنځوس درهمو باندې مسلم اليه سره صلح اوکړله.او هغه درهم ئې واخستل.يعنی راس المال نه ئې خپله برخه واخستله،او سلم ئې پريښولو .نود طرفينو رحمهما الله په نيز دا صلح جائز نه ده.

دليلهما > د طرفينو رحمهما الله دليل په دوه وجو باندې دې. رومبۍ وجه داده چه په دې صلح کې په دين قبضې نه ورانديې ويش لازميږي. اود دين ويش د قبضې نه وړاندې باطل دې. نو صلح به جائز نه وي. ددې تشريح داده چه د مذکوره صلح د جواز دوه صورتونه دي. يا به خو خاص کر ددې شريك په برخه کې جائز وي. يا د دواړو په برخو کې به په نيمه کې جائز وي. په رومبي صورت کې د دين د قبضې نه وړاندې ويش لازميږي. ځکه چې دده خاص برخه په تميز او تعين سره کيږي. او تميز د ويش نه بغير نه کيږي. اوکه د دواړو په برخه کې جائز وي. نود دوئم شريك اجازت ضروري دې. اوهغه اونه موندې شو.

وَقَالَ أَبُوْيُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ امام ابويوسف رحمه الله فرماني. يَجُوْزُ الصُّلْحُ)

مذهب ابي يوسف رحمه الله > د امام ابويوسف رحمه الله په نيز جائز ده.

دليله > ځکه چې هغه پخپل خالص حق کې تصرف کړې دې. نو لکه څنګه چې په نورو ديونو کې صلح جائز ده. دغه شان به دلته کې هم جائز وي. دا دليل خو په قياس د دين دې. دوئم په قياس د عين دې چه که دواړو يو غلام واخستلو. بيا يو شريك پخپله برخه کې اقاله اوکړله. نو جائز ده. نو په دين او عين دواړو باندې قياس صحيح دې.

په مشترك ترکه کښې يو وارث له برخه ورکولو سره د اوبکلو حکم

(وَإِذَا كَانَتِ التَّرِكَةُ بَيْنَ وَرَثَةٍ کله چې ترکه په يو څو وارثانو کې مشترك وي. فَأَخْرَجُوا أَحَدَهُمْ مِنْهَا بِمَالٍ أَعْطَوْهُ إِيَّاهُ بيا دوى جدا کړي. ددې نه يو کس ته په مال ور کولو سره، وَالتَّرِكَةُ عَقَارٌ أَوْ عُرُوضٌ اودا ترکه زمکه يا اسباب (سامان) وي. جَازَ نو جائز دى. قَلِيلًا كَانَ مَا أَعْطَوْهُ إِيَّاهُ کوم چې دوى ده ته ورکړي دي. که هغه کم وي. أَوْ كَثِيرًا) اوکه زيات وي.

تشريح > که د يوکس انتقال اوشي. او هغه په ترکه کې څه سامان يا زمکه پريږدي. او وارثان يو وارث ته څه مال ورکړي. اود ميراث نه ئې خارج کړي. نو تخارج صحيح دې. که هغه مال کم وي. کوم چې وارثانو هغه ته ورکړې دې. اوکه زيات وي. ځکه چې دا صلح د بيع په طور صحيح جوړول ممکن دى. او بيع په دواړو صورتونو کې صحيح کيږي. که ثمن کم وي. اوکه زيات وي.

دلائله > ① او د بيع په طور صحيح کول ځکه متعين دى. چه دې ته براءت نشي ونيلي کيدې. ځکه چې اعيان غير مضمون نه براءت نه صحيح کيږي.

② د تخارج په جواز کې د حضرت عثمان رضي الله عنه اثر موجود دې. چه دوى تماضر بنت، اصبغ اشجعيه د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ښځې ته په مصالحت ددوى د اتمې برخې (حصې) د څلورمې نه اتيا زره ديناره باندې جائز اوساتله.

تماضر بنت اصبغ اشجعيه، د عربو بادشاه د امرئ القيس د نسل نه يوه شاعره ښځه وه. چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې ئې ايمان راوړلې وو. دوى صلى الله عليه وسلم حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته ددوى سره د نکاح کولو اجازت ورکړو. نوهغوى د تماضرې سره نکاح اوکړله. او ددوى د بطن نه صرف يو هلك ابوسلمه پيدا شو. لکه چې ابن سعد په طبقات کې د حضرت ابن عمر رضى الله عنهما نه روايت کړې دې. (قال بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه في سبع مائة إلى دومة الجندل في شعبان سنة ست من الهجرة فدعاهم إلى الإسلام فأبوا ثلاثا ثم أسلم رأسهم الأصبغ بن عمرو الكلبي، فبعث عبدالرحمن إلى النبي صلى الله عليه وسلم فأخبره فكتب إليه أن تزوج تماضر بنت الأصبغ فتزوجها و رجع بها، و هي أم أبي سلمة بن عبدالرحمن لم تلد له غيره) خو تماضر نازك مزاجه او لږ

بد اخلاقه وه.حضرت عبدالرحمن هغې ته دوه طلاقونه ورکړی وو.اودا په عدت کې وه.کله چې حضرت عبدالرحمن رضی الله عنه بیمار شو.نو دریم طلاق ئې ورکړو.او ددې د عدت تیریدلو نه روسته د هغوی انتقال (وفات) اوشو.خو حضرت عثمان رضی الله عنه دا فرار اوګرځولو.او میراث ئې ورکړو.دا هم ممکن ده.چه انتقال ددوی په عدت کې واقع شوې وی.اود حضرت عثمان رضی الله عنه د قضاء فیصله د عدت نه روسته وی.ځکه چې روایت کې دا الفاظ دی. (فلما مرض عبدالرحمن طلقها الثالثة فورثها عثمان رضی الله عنه منه بعد انقضاء العدة) ددې مطلب دادې.چه د میراث حکم ئې د عدت تیریدلو نه روسته ورکړې وو.اګرچه د حضرت عبدالرحمن رضی الله عنه انتقال ددوی په عدت کې شوې وو.

ددې نه معلومه شوه.چه د حضرت عبدالرحمن څلور بیبیانې دی.اود بیبیانو حق اتمه برخه وی.کومه چې تولې بیبیانې برابر تقسیمه وی.نو هرکله چې تماضر د اتمې څلورمه اومونده.نو معلومه شوه.چه بیبیانې څلور وې.لکه د ابن سعد په ذکر شوی روایت کې ددې تصریح هم موجود ده.،،وترك ثلاث نسوة،، وارد دې.او په یو روایت کې د څلورمې ښځې برخه یو لاکھ ذکر شوې ده.الفاظ دادی. (فأخرجت بمائة ألف وهی احدی الأربع) په دې کې تطبیق داسې ممکن دې.چه د تماضر سره څلور دی.او د تماضر په اوبنکلو سره په ترکه کې چې دچا شرکت پاتې شو.هغوی هم درې وې.

د سرو زرو او سپینو زرو په ترکه کښې د برابرئ حکم

فَإِنْ كَانَتِ التَّرِكَةُ فِضَّةً اوکه ترکه سپین زر وی. فَأَعْطَوْهُ ذَهَبًا او هغوی سره زر ورکړی. أَوْ ذَهَبًا یا سره زر وی. فَأَعْطَوْهُ فِضَّةً او هغوی سپین زر ورکړی. فَهُوَ كَذٰلِكَ) بیا هم دغه شان ده.

تشریح› که د مړی په ترکه کې سپین زر وی.او وارثان ددې په عوض کې سره زر ورکړی.یا په ترکه کې سره زر وی.او دوی په عوض کې سپین زر ورکړی.بیا هم دغه حکم دې.چه عوض کم وی.اوکه زیات وی.وارد جائز دی.

دلیله› ځکه چې دا یو جنس ددې د خلاف جنس په عوض خرخول دی.نو په دې کې به برابر معتبر نه وی.

(وَإِنْ كَانَتِ التَّرِكَةُ ذَهَبًا وَفِضَّةً اوکه ترکه سره زر او سپین زر وی. وَغَيْرَ ذٰلِكَ او ددې نه علاوه هم وی. فَصَالَحُوهُ عَلٰى ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ او هغه صرف سپین زر یا سره زر باندې صلح اوکړی. فَلَابُدَّ أَنْ يَكُونَ مَا أَعْطَوْهُ أَكْثَرَ مِنْ نَصِيبِهٖ مِنْ ذٰلِكَ الْجِنْسِ نو ددوی ورکړې شوې مال زیات کیدل ضروری دی.دده د هغه برخې (حصې) نه کوم چې ددې جنس ښنې دې. حَتّٰى يَكُونَ نَصِيبُهٗ بِمِثْلِهٖ چې دده برخه د هغې برابره شی. وَالزِّيَادَةُ بِحَقِّهٖ مِنْ بَقِيَّةِ الْمِيرَاثِ او زیاتی مقدار د هغه حق په مقابل کې شی.کوم چې په باقی میراث کې دې.

تشریح› اوکه په ترکه کې سره زر، سپین زراو اسباب دواړه وی.او وارثان مذکوره وارث ته صرف سره زر یا سپین زر ورکړی.او خارج ئې کړی.نودا تخارج به صحیح نه وی.ترکومه پورې چې هغه سپین یا سره زر کوم چې وارث ته ورکړې شوې دی.د هغه مقدار نه زیات نه وی.کوم چې وارث ته ددې جنس برخې (حصې) نه رسیدونکې دی.مثلاً مذکوره وارث ته میراث نه لس درهمه او څه اسباب رسیږی.نود تخارج صحت لپاره ضروری ده.چه د لس درهمو نه په زیات باندې صلح اوشی.چه لس درهمه د لس درهمو په عوض کې شی.او زیاتی درهم د اسبابو په عوض کې شی.

دليله› اوكه داسې اونسي نو سود به لازم شي ځكه كه عوض دده د برخي (حصې) نه كم وي.اوكه ددې برابر وي.ځكه چې دوارو صورتونو كې د معاوضې په طور جائز كول مشكل دي.ځكه چې سود لازميږي.

سوال› دا څه ضروري ده.چه معامله د معاوضې په طريقه وي.دا هم كيدې شي.چه د براءت طريقې سره وي.ګويا هغه د باقي نه بري كړو؟

جواب› د براءت طريقې سره جائز نشي ګرځولې كيدې.ځكه چې تركه مال عين دې.اود اعيانو نه بري كول باطل دي.ځكه چې د اسقاط عمل په ديونو كې كيږي.اعيانو كې نه كيږي.په ذخيره او شرح هدايه كې هم داسې ذكر دي.

د مړي نه روسته د هغه په مال کښې په کومو صورتونو کښې صلح جائز ده؟

(وَإِذَا كَانَ التَّرِكَةُ دَيْنًا عَلَى النَّاسِ كه په تركه كې دين وي خلقو باندې فَأَدْخَلُوهُ فِي الصُّلْحِ او دوى يوكس په صلح كې داخل كړي.عَلَى أَنْ يُخْرِجُوا الْمُصَالِحَ عَنْهُ په دې شرط چې صلح كونكې به خارجوى د دين نه.وَيَكُونَ الدَّيْنُ لَهُمْ او واره د ين به ددوى وى.فَالصُّلْحُ بَاطِلٌ)نودا صلح باطل ده.

تشريح› كه د مړي په تركه كې خلقو باندې څه قرضونه دى.او دده وارثان يو وارث په دې شرط باندې خارج كړي.چه ديون به باقي وارثانو لپاره وي.نودا تخارج صحيح نه دې.

دليله› ځكه چې هركله خارج وارث ديون باقي وارث لپاره پريخودل.نو لكه چې دده باقي وارثان د خپلې برخې (حصې) ديونو مالك جوړكړو.حالانكه د مديون نه علاوه بل څوك د دين مالك جوړول باطل دي.

(فَإِنْ شَرَطُوا أَنْ يَبْرَأَ الْغُرَمَاءُ مِنْهُ اوكه دا شرط ئې اوكړو.چه صلح كونكې قرضداران د خپلې برخې (حصې) نه بري كړي.وَلَا يَرْجِعُ عَلَيْهِمْ بِنَصِيبِ الْمُصَالِحِ او دده دحصې لپاره هيڅ يو وارث قرضدارانو باندې رجوع نه كوى.فَالصُّلْحُ جَائِزٌ)نو صلح جائز ده.

تشريح› اوكه وارثان ددې خبرې شرط اوكړي.چه مصالح د خپلې برخې (حصې) دين نه قرضداران بري الذمه كړي.او د تركې اعيان نه په مال باندې صلح اوكړي.نو صحيح به وي.

دليله› ځكه چې په دې ابراء كې د دين مالك هم هغه كس جوړكړې شوې دې.په چاچه دين دې.او دا صحيح ده.نو دده د برخې (حصې) په اندازه به مديون نه دين ساقطيږي.

كِتَابُ الْهِبَةِ

ترجمه› (دا) كتاب د هبة (په بيان كې) دې.

تشريح› په صلح كښې كه ضرورت پيښ شي نو مدد كولې شي.دغه شان هبه هم يو قسم مدد دې.دا وجه د ربط شوه د ماقبل سره

الهبة لغة› هبه اصل كې د ،،وهبَ يهبُ،، (ض) مصدر دې.د اول نه واؤ حذف كړې شوې دې.او آخر كې هاء د تانيث زياته شوې ده.لكه د،، وعدَ يعدُ،، نه عدة دې.لغت كې هبه دې ته وائي.چه بل ته داسې شئ وركړې شي.كوم چې دده لپاره نافع وي.كه مال وي.اوكه غير مال وي.قال الله تعالى فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وقال الله تعالى يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ هدا كله متعدى وى په لاس سره، لكه ،،و هبة له،،

او کله بنفسه وي.لکه (وهبتكه حكاه أبوعمرو) (قاموس) او كله من سره وي.لکه ،، وهبة منك ،، په ډيرو احاديثو سره دا استعمال ثابت دي.لکه چې وقائق د نووی رحمه الله کي دی.

الهبة شرعا> په شريعت کښې هبة چا ته يو څيز بطور تمليك بلا عوض ته واني.

په تعريف کښې د قيوداتو فوائد> په تمليك عين سره اباحت او عاريت اووتلو.اود بلاعوض قيد سره اجاره او بيع اووتله.خودا تعريف وصيت باندې صادقيږي.په دې وجه ابن کمال د تمليك حال قيد هم زيات کړې دی.

د واهب موهوب له او موهوبه تعريف> هبه کونکی ته واهب واني.چاته چې هبه کړې شي.هغه ته موهوب له.او کوم شئ چې هبه کړې شي.هغې ته موهوب او موهوبه واني.ددې جمع مواهب ده.

الفرق بين الهبة والصدقة والهدية> هبه، صدقه، هديه، عطيه اګرچه واړه قريب المعاني الفاظ دی.البته صدقه او هديه په دې معنى دواړه متغاير دی.چه کوم شئ محتاج ته د تقرب الى الله په غرض ورکړې شي.هغې ته صدقه واني.او يوڅيز چا ته د هغه د تقرب او محبت په غرض ورکړې شي.هغې ته هديه واني.په دې وجه حديث د ابوهريره رضي الله عنه کي راغلي دی. (هوعليها صدقة ولنا هدية)

(الهبة تَصِحُّ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ)او صحيح کيږي.ايجاب او قبول

تشريح> کله چې د واهب د اړخه په ،، وهبت ، نحلت،، وغيره الفاظو سره ايجاب وی. اود موهوب له د اړخه قبول وی.نودا هبه منعقد کيږي.

دليله> ځکه هبه هم يو قسم عقد دې.او عقد ايجاب او قبول سره منعقد کيږي.

وَتَتِمُّ بِالْقَبْضِ او په قبض کولو سره تماميږي.

او کله چې د موهوب له د اړخه مجلس کي قبضه ثابت شي.نو هبه مکمل کيږي.ځکه چې هبه کي موهوب له لپاره ملك ثابتيږي.اود ملك د ثبوت لپاره قبضه کيدل ضروري دی.ابراهيم نخعي ، سفيان ثوري ، حسن بن صالح، امام شافعي ، امام احمد ،او اکثر فقهاء او تابعين رحمهم الله ددې قائل دی.البته د امام احمد رحمه الله نه يو روايت دا هم دې.که هبه عين شئ وی.نود قبضه نه بغير هم صحيح کيږي.البته په مکيل او موزون کي د قبضې نه بغير نه صحيح کيږي. (۱)

دلائله> ① دليل دا ارشاد دې.(لاتجوز الهبة حتى تقبض) (۲) ددې نه مراد دادې.چه د هبه ملکيت نه ثابتيږي.ځکه چې د هبې نه جائزکيدل خود قبضې نه بغير ثابت دی.خودا حديث غريب دې.حافظ عبدالرزاق دا د ابراهيم نخعي رحمه الله قول نقل کړې دې.په دې سلسله کي غوره استدلال د عائشه رضي الله عنها حديث دې.چه ددې تخريج امام طحاوی رحمه الله په شرح آثار کي ، حافظ بيهقي په سنن کي او امام مالك رحمه الله په موطا کي کړې دې. (قالت أن أبابكر الصديق رضي الله عنه كان نحلها جاد عشرين وسقا من ماله بالغابة فلما حضرته الوفاة قال والله يابنيه ما من الناس أحب إلي غنى بعدي منك ولا أعز علي فقرا بعدي منك وإني كنت نحلتك جاد عشرين د

---

(۱) مذهب مالك:- د امام مالك رحمه الله په نيز د ة. ضې نه وراندې ملك ثابتيږي. ابوثور رحمه الله ، او په قول قديم کي امام شافعي ، او ابن ابی ليلى هم ددې قائل دی.

۱) قال الزيلعي رحمه الله غريب ورواه عبدالرزاق من قول النخعي رحمه الله رواه في آخر الوصايا من مصنفه فقال أخبرنا ...عن إبراهيم قال لا تجوز الهبة حتى تقبض والصدقة تجوز قبل أن تقبض (نصب الراية ۴\۲۹۹)ـ

سفأقلوكنت جددتيه و احترتيه كان لك وإنما هواليوم مال وارث وإنما هوأخواك وأختاك فاقتسموه على كتاب الله،،.حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي.چه حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د غام مقام کي خپل باغ نه دي ته د کجورو ونې هبه کړې وې.چه په دې کي شل وسقه کجورې راوتلې.کله چې ددوی د وفات وخت رانیزدې شو.نودوی اوفرمائيل.لورې ! هيڅ څوك نشته. چې د هغه مالداره پاتې کيدل ماته د خان نه روسته خوښ وی.ستا نه زيات،اونه د يوکس غريب پاتې کيدل ماته د خان نه روسته ناخوښه دی.ستا نه زيات.ما تا ته د شل وسقه کجورو ونې هبه کړې وې.که تا دهغې نه کجورې کټ کړې وې.او په هغې دې قبضه کړې وه.نو هغه ستا مال جوړيدلو.اوس خو هغه واره د وارثانو مال دې.او هغه وارثان ستا دوه رونړه او دوه خويندې دی.نو هغه د الله د کتاب موافق ويش کړئ،،

④ د قبضې د شرط کيدلوعقلي دليل دې.چه هبه خو يوه د احسان معامله ده.اوس که د قبضې نه وړاندې موهوب له لپاره ملك ثابت کړې شي.نو واهب باندې به لازم وی.چه هغه فوراً موهوب شئ ده ته اوسپاری.حالانکه هغه ددې التزام نه دې کړې.نو واهب باندې يوه داسې خبره لازم کړې شوه.دکوم چې هغه التزام نه دې کړې.اودا موضوع د تبرعاتو خلاف ده.(په خلاف د معاوضاتو په کافی او بعض شروحاتو کي هم دغه شان ذکر دی.

په مجلس کښې د واهب د اجازت نه بغير د موهوب له د قبضه کولو حکم

فَإِنْ قَبَضَ الْمَوْهُوبُ لَهُ فِي الْمَجْلِسِ بِغَيْرِ إِذْنِ الْوَاهِبِ نوکه قبضه کړو.موهوب له په مجلس کي ، د واهب د اجازت نه بغير، جَازَ)نو جائز دی. وَإِنْ قَبَضَ بَعْدَ الِافْتِرَاقِ اوکه د جدا کيدلو نه روسته ئې قبضه کړو.لَمْ تَصِحَّ نو نه صحيح کيږی اَلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ الْوَاهِبُ فِي الْقَبْضِ خودا چې اجازت ورکړې وی.ده ته واهب د قبضه کولو،

تشريح> که موهوب له د مالك د حکم نه بغير په مال موهوب باندې هم په دې مجلس کي قبضه اوکړله.په کوم کي چې د هبه عقد اوشو.نودا استحساناً جائز دی.اوکه د هبې د مجلس نه دجدا کيدلو نه روسته ئې قبضه اوکړله.نو جائز نه دی.خو هغه وخت کله چې واهب ده ته اجازت ورکړی.[1]

دليله> دليل دادې.چه لکه څنګه بيع کي قبول وی.دغه شان هبه کي قبضه وی.په دې حيثيت چې دهبه حکم يعنی د ملك ثبوت قبضه باندې موقوف ده.حالانکه د هبې نه د واهب مقصد هم دادې.چه د موهوب له ملکيت ثابت کړی.نود واهب د اړخه ايجاب کيدل،ګويا قبضه باندې مسلط کول شو.چه ددې مقصود حاصل شی،،،فکان إذناً دلالة،،

په کومو الفاظو سره هبه منعقد کيږی؟

(وَتَنْعَقِدُ الْهِبَةُ بِقَوْلِهِ وَهَبْتُ وَنَحَلْتُ وَأَعْطَيْتُ)او هبه په دې وئيلو سره منعقد کيږی.چه ما هبه کړو،درکړو،عطاء کړو..

تشريح> په کومو الفاظو چې هبه منعقد کيږی.هغه دا دی،،وهبتُ، نحلتُ، اعطيتُ،،

---

[1] **مذهب الشافعي:-** امام شافعی رحمه الله فرمائي چه د قياس تقاضا داده.چه دواړو صورتونو کي جائز نه وی.يعنی د واهب د اجازت نه بغير چې کومه قبضه ده کړې ده.که هغه په مجلس د عقد کي وی.ياد مجلس نه د جداکيدلو نه روسته وی.په دواړو صورتونو کي جائز کيدل پکار نه دی.

دلائله﴿ ① قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {أَكُلَّ أَوْلَادِكَ نَحَلْتَ مِثْلَ هٰذَا؟}(۱) نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو، آیا تا هر اولاد ته ددې مثل ورکړې دې، ،
② دویم دلیل دا دې چې په دې کې رومبې لفظ یعنی ، ، وهبتُ، ، د هبه په معنی کې صریح دې.او دوئم لفظ یعنی ، ،نحلتُ، ، په معنی کې مجازاً استعمالیږی.لکه چې د نبی کریم ﷺ ارشاد دې. (أکل أولادك نحلت)

وَأَطْعَمْتُكَ هٰذَا الطَّعَامَ اواوخوړلو ما په تا باندې دا خوراك،

تشریح﴿ په لفظ د(أطعمتك هذا الطعام) سره د هبې د انعقاد وجه داده.چه د لفظ ، ،اطعام، ، نسبت کله داسې شئ ارخ ته وی.کوم چې پخپله خوړلې کیږی.لکه غله، غنم،کجورې،دودئ وغیره، نو په دې سره دعین شئ تملیك مراد وی.نو مطلب دا شو.چه ما ته ددې شئ مالك کړې.او دې ته هبه وائی.

وَجَعَلْتُ هٰذَا الثَّوْبَ لَكَ او دا کپړه ما هم ستا کړله،

تشریح﴿ په دې عبارت کښې لفظ لام دپاره د تملیك دې.یعنی ما دا جامه ستا تملیك اوګرځولو او ته مې د دې مالك جوړ کړې.نو هبه ثابته شوه.ځکه چې د تملیك مختلف اسباب دی یو په کښې هبه هم ده.

وَأَعْمَرْتُكَ هٰذَا الشَّيْءَ او د واره عمر لپاره دا شئ ما تاته درکړو.

تشریح﴿ دریم لفظ یعنی (أعمرتك هذا الشئ) وئیلو سره هم هبه منعقد کیږی.
دلیله﴿ د نبی کریم ﷺ ارشاد دې. {فَمَنْ أَعْمَرَ عُمْرَى فَهِيَ لِلْمُعَمَّرِ لَهُ وَلِوَرَثَتِهِ مِنْ بَعْدِهِ}(۲) د دې حدیث نه ثابته شوه چې کله دا عمری معمرله لپاره اوګرځولې شوه.نود دا د ملکیت دپاره شو.او هغه ئې مالك کړو.او هم دا هبه ده.

وَحَمَلْتُكَ عَلَى هٰذِهِ الدَّابَّةِ اوته مې په دې سوارلئ باندې سور کړې.إِذَا نَوَى بِالْحُمْلَانِ الْهِبَةَ)کله ئې چې نیت کړې وی.پوه سوررولو سره د هبه کولو،

تشریح﴿ څلورم لفظ یعنی حمل (سوررولو) سره هم هبه منعقد کیږی
دلیله﴿ دلیل دا دې چه د حمل د لفظ حقیقی او لغوی معنی ارتکاب یعنی سوررول دی.نوپه دې معنی به دا عاریت وی.خوپه دې کې د هبه هم احتمال دې.لکه چې وئیلی شی. (حمل الأمیر فلاناً علی فرس) او ددې نه مراد داوی.چه امیر فلانې د اس مالك کړو.نو کله ئې چې دهبې نیت اوکړو.نوهم په دې معنی به محمول کولې شی.

په ..کسوتك هذا الثوب.. سره د هبې حکم د هبه مشاع بحث

(وَلَا تَجُوزُ الْهِبَةُ فِيمَا يُقْسَمُ او جائز نه ده.هبه په قابل ویش څیزونو کې .إِلَّا مَحُوزَةً مَقْسُومَةً خودا چې د حقوقو نه

۱) من حدیث نعمان بن بشیرؓ أخرجه البخاری فی الهبة باب ۱۲ ومسلم فی الهبات رقم ۹ والترمذی فی الأحکام باب ۳۰ والنسائی فی النحل باب ۱ وابن ماجه فی الهبة باب ۱ ومالك فی الأقضیة رقم ۳۹ وأحمد فی المسند(۲۶۸\٤)
۲) من حدیث جابرؓ أخرجه مسلم فی الهبات رقم ۲۱ وأبوداود فی البیوع باب ۸٦ والترمذی فی الأحکام باب ۱۵ والنسائی فی العمری باب ۳ وابن ماجه فی الهبات ۳ ومالك فی الأقضیة رقم ٤۳ وأحمد فی المسند(۳٦۰\۳)

فارغ او ویش شوې وی.وَهِبَةُ الْمُشَاعِ فِيْمَا لَا يُقْسَمُ جَائِزَةٌ) اود غیر ویش شوی هبه په هغه کې کوم چې نشي تقسیمیدلی.جائز ده.

تشریح> په دې قول کې د هبه مشاع بیان دې.چه دا یو اهم (او ضروری) بحث دې.چه دا جائز ده اوکه نه ده؟ د بحث د تشریح نه وړاندې یو څو شیان ذهن کې کینول پکار دی.

① اول داچه د (ما یقسم او ما لا یقسم) نه څه مراد دی ؟ نو پوهیدل پکار دی.[1] چې هر هغه شئ چې د هغې لپاره تبعیض (ټکړې ټکړې کول) مضر وی.او د هغې په مالیت کې نقصان اچوی.هر داسې څیز،، ما لا یقسم،، دې.لکه دراهم او دنانیر.او کوم چې ددې نه علاوه دی.هغه،، ما یقسم،، دی.[2] بعضو په دې کې داسې فرق کړې دې.چه کوم شیان د ویش نه روسته بالکل قابل انتفاع پاتې نشي.لکه یو غلام، یا یو خاروې. یا کومه انتفاع چې د ویش نه وړاندې کیدې شوه.هغه فوت شي.لکه وړوکې کور، وړوکې حمام، او د اوبو جرنده وغیره.نو داسې شیان،، ما لا یقسم،، دی.او ددې نه علاوه،، ما یقسم،، دی.(۳) د فرق دریمه وجه داده.چه هر داسې شئ کوم چې په دوو کې مشترك وی.او په دوی کې یو کس ویش غواړي. دوئم نه غواړي.او قاضی د ویش نه غوښتونکي په ویش باندې مجبوره نکړی.هر داسې څیز،، ما لا یقسم،، دې.او ددې نه ما سوا،، ما یقسم،، دی.

② دویمه دا چې په قابل ویش څیزونو کې د هبه مشاع (غیرمقسوم) د عدم جواز مطلب دادې.چه ملك نه ثابتیږی.دا مطلب نه دې.چه هبه باطلیږی.نو په قابل ویش څیزونو کې د مشاع عقد هبه به جائز وی.خو ملکیت به هغه وخت ثابتیږی .کله چې ویش اوکړی.او جدا نې کړی.اودا محوز (ویش شوې) وی.یعنی دې سره د واهب هیڅ تعلق پاتې نشي.

③ دریم داچه د شیوع اعتبار د هبې په وخت دې.دعقد په وخت نه دې.تردې که د مشاع هبه نې اوکړله.بیا ئې ویش سره جدا کړو.او وې سپارلو.یا ئې نیم کور هبه کړو.اود سپارلو نه وړاندې ئې باقی نیم هم هبه کړو، او وې سپارلو.نو هبه به جائز وی.

④ څلورم دا چې هبه کې چونکه قبضه منصوص ده. په دې وجه به د قبضې د کمال په طریقه کیدل شرط وی.لکه په لمونځ کې استقبال د قبلې چونکه په نص سره مشروط دې.څکه کامل استقبال ضروری دې.تردې چې صرف د حطیم استقبال به کافی نه وی.هرکله چې دا خبرې په ذهن کې کیناستلې.نو اوس مخکښې متن ته اوګورئ. (۱)

المراد من محوزة> په دې کې ،،محوزة نه مراد دادې.چه د واهب د ملك او دده حقوقو نه فارغ وی.ددې قید په ذریعه په ونه باندې لګیدلې میوې د ونې نه بغیر ،د ګډو په شا باندې وړئ، او په زمکه باندې ولاړ فصل د زمکې نه بغیر هبه کولو نه احتراز اوشو.څکه چې دې صورتونوکې موهوب شئ محوز(مقسوم) یعنی په کمال طریقه مقبوض نه دې.څکه چې دا خو د واهب ملك سره متصل دې.

اود ،،مقسومة،، قید سره د مشاع نه احتراز دې.که په ونه کې لګیدلو میوو باندې ئې قبضه اوکړله.او هغه د موهوب له او او دده د غیر (بل کس) په مینځ کې مشترك وی.نو هبه به جائز نه وی.نود عبارت مطلب دا شو.چه په کومو څیزونو کې د تقسیمیدلو صلاحیت دې.او واهب داسې شئ هبه کول اوغواړي.نو که هغه محوز وی.یعنی د واهب د ملك اود هغه د حقوقو نه فارغ وی.او ویش شوې وی.نود

---

[1] **مذهب الشافعي:**- امام شافعی ، امام مالك او امام احمد ﷭ فرمائی.چه موهوب شئ که قابل ویش وی.او که نا قابل ویش وی.په دواړو صورتونو کې هبه مشاع جائز ده.

هغې هبه صحيح ده.اوکه محوز او ويش شوې نه وي.نو هبه به صحيح نه وي.او کوم شيان چې قابل د ويش نه وي.يعنی د تقسيمولو نه روسته د انتفاع قابل پاتې نشي.نو په داسې څيزونو کې هبه مشاع يعنی هبه غيرمقسوم جائز ده.

دلائله ① دليل دادې.چه ذکر شوی اثر(لاتجوز الهبة حتى تقبض) او حديث د عائشه رضي الله عنها (کوم چې په تيرو شوو صفحاتو کې تير شو) کې قبضه منصوص عليه ده.نو کامله قبضه به شرط وي.او په مشاع او غيرمقسوم شئ کې د کمال قبضه صلاحيت نشته.خو په دې طريقه چې ددې سره دوئم شئ ملاؤ کړې شي. (لأن الثابت من وجه دون وجه لايكون ثابتاً مطلقاً وبدون الإطلاق لايثبت الكمال) حالانکه هغه دوئم شئ موهوب نه دې.نو په قابل ويش څيزونو کې به مشاع هبه جائز نه وي.

② دويم دليل دادې.چه عقد هبه تبرع او خالص احسان وي.اوس که د غيرمقسوم هبه جائز اوګرځولې شي.اودا اوونيلې شي.چه د موهوب له ملکيت ثابت شو.نو ښکاره ده.چه واهب لپاره به دا شئ تقسيمولې شي.او ورکولې به شي.نود موهوب له ملکيت تجويز کولو سره د واهب په ذمه يو زياتی شئ يعنی د تقسيمولو خرچه لازم شوه.دکوم چې ده التزام نه وو کړې.دده مقصد خو صرف احسان کول وو.

د غير مقسوم حصې د هبې حکم

(وَمَنْ وَهَبَ شِقْصًا مُشَاعًا که يوکس يو غيرمقسوم ټکړه هبه کړله. فَالْهِبَةُ فَاسِدَةٌ)نو هبه فاسد ده.

تشريح که يوکس د مشترك شئ يوه غيرمقسوم ټکړه هبه کړله.نودا هبه به فاسد وي.يعنی د محوز او مفرز(يعنی د ويش اوجدا) کولو او سپارلو نه وراندې به ملك نه ثابتيږي.(ګنی فی نفسه هبه جائز ده.

دليله دليل دا دې چه قابل ويش څيزونو کې هبه هغه وخت جائز ده.کله چې محوز او مفرز(جدا شوې) وي.

(فَإِنْ قَسَّمَهُ بيا که دا ويش کړی.وَسَلَّمَهُ او اوسپاری.جَازَ)نو جائز به وي.

تشريح بيا که هغه دا ويش کړی.او اوسپاری.نو هبه به جائز وي.

دليله ځکه چې د هبې پوره کيدل د قبضې په ذريعه کيږي.اود قبضې په وخت هيڅ شرکت نشته.نو ګويا دده د غيرمشترك هبه کړې ده.

فائده که په مذکوره صورت کې موهوب له په مشاع باندې قبضه اوکړله.او دا شئ هغه سره هلاك شو.نو ضامن به وي.اوکه نه؟ ابن رستم ذکر کړی دی.چه موهوب له به ضامن وي.او قبضه به مفيد د ملك نه وي.امام طحاوی رحمه الله هم دا اختيار کړې دې.او عصام ذکر کړی دی.چه قبضه به مفيد د ملك وي.او موهوب له به ضامن نه وي.بعض مشائخو هم دا اختيار کړې دې. .كذا في فتاوی قاضي خان. .(بنايه، کفايه)

(وَلَوْ وَهَبَ دَقِيقًا فِي حِنْطَةٍ که اوړه ئې هبه کړل.کوم چې په غنمو کې دی. أَوْ دُهْنًا فِي سِمْسِمٍ يا تيل کوم چې کونځلو کې دی. فَالْهِبَةُ فَاسِدَةٌ نو هبه فاسد ده. فَإِنْ طَحَنَ بيا که اوړه کړی. وَسَلَّمَ او حواله ئې کړی. لَمْ يَجُزْ) بيا به هم جائز نه وي.

حل اللغة **شقصاً**: د يو شئ ټکړه، **مشاع**: غيرمنقسم، **دقيق**: اوړه، **حنطه**: غنم، **دهن**: تيل، **سمسم**: ونځلي، طحن(ف) **طحناً**: ميده کول،(اوړه کول).**سمن**: غوړی ، **لبن**: شوده ، **ضرع**: تي، **صوف**: وړی، **ظهر**:

شا(ملا) **زرع:** فصل، **نخل:** د کجورې ونه

تشريح> اوکه يوکس هغه اوره کوم چې په غنمو کې دی.يا تيل کوم چې په کونځلو کې دی..هبه کړل.نودا هبه فاسد ده.اوس که غنم اوړه کړی او اوړه هغه ته اوسپاری.يا کونځلو نه تيل اوباسی.او تيل هغه ته حواله کړی.بيا به هم جائز نه وی.

دليله> ځکه چې د هبې په وخت اوره، تيل او کچ موجود نه وو.معدوم (غيرموجود) وو.(ترديې که يوکس غنم، کونځلې،يا شوده غصب کړی.او اوړه، تيل يا کچ اوباسی.نودې به د مغصوب ضامن وی.اوددې څيزونو به مالك وی.ځکه چې د غصب په وخت دا شيان موجود نه وو.نو په دې باندې د غصب فعل نه دې واقع شوې).او معدوم شئ ملك نه وی.نو عقد باطل شو.نو په اوره کيدلو باندې دوباره هبه کول پکار دی.د تجديد (دوباره هبه کولو) نه بغير به هبه نه منعقد کيږی.

د موهوب له په قبضه کښې د معين څيز هبه کولو کښې د قبضه جديد حکم

(**وَإِذَا كَانَتِ الْعَيْنُ فِي يَدِ الْمَوْهُوبِ لَهُ** کله چې عين شئ د موهوب له په قبضه کې وی.**مَلَكَهَا بِالْهِبَةِ** نو ددې په هبه کولو سره به مالك کيږی.**وَإِنْ لَمْ يُجَدِّدْ فِيهَا قَبْضًا**)اګرچه په دې باندې جديد (دوباره) قبضه اونکړی.

تشريح> القاعدة> ددې مسئلو قاعده داده.چه کله دوه قبضې د يو جنس وی.نوهر يو د بل نائب جوړيدې شی.او کله چې دواړه قبضې متغاير وی.نو اعلی د ادنی نائب کيدې شی.ادنی د اعلی نائب کيدې نشی.ددې مثال باندې داسې پوهه شئ.که زيد يوڅيز د غصب په ذريعه يا د عقد فاسد په ذريعه پخپله قبضه کې واخستلو.بيا مالك هم دده په لاس د بيع صحيح په طور باندې خرڅ کړو.نود جديد قبضې ضرورت نشته.ځکه چې دا دواړه قبضې ضمانتی دی.او که مالك دا هبه کړی.بيا هم د جديد قبضې ضرورت نشته.ځکه چې دا قبضه اعلی ده.نو قبضه به د هبه نائب کيږی.

اوکه دا شئ د وديعت يا عاريت په طور باندې د مخکې نه دده په قبضه کې وی.بيا ئې مالك ده ته هبه کړی.لکه چې په زيربحث مسئله کې هم دا صورت دې.نو په دې کې هم د جديد قبضې ضرورت نشته.ځکه چې دواړه قبضې امانتی دی.اوکه مالك ئې دده په لاس خرڅ کړی.نود جديد قبضې به ضرورت وی.ددې نه بغير به موهوب له ددې مالك نه وی.ځکه چې د بيع قبضه ضمانتی ده.چه دا اعلی ده.نو ددې نائب امانتی قبضه نشی کيدلې.ځکه چې دا ادنی ده.

(**وَإِذَا وَهَبَ الْأَبُ لِابْنِهِ الصَّغِيرِ هِبَةً** کله چې پلار خپل ماشوم بچی ته يو څيز هبه کړی **مَلَكَهَا الِابْنُ بِالْعَقْدِ**)نو په عقد کولو سره ځوئې د هغې مالك جوړيږی.

تشريح> که پلار خپل صغير بچی ته څه شئ هبه کړو.نو زوې د عقد هبه په ذريعه ددې مالك کيږی.

دليله> ځکه چې د صغير پلار د صغير د اړخه قبضه کوی.اودا شئ د پلار په قبضه کې موجود دې.نودا موجوده قبضه د هبه د قبضې نائب جوړيږی.بيا په دې قبضه کې څوك ګواه جوړول شرط نه دی.البته احتياط هم په دې کې دې.چه ګواهان مقرر کړی.چه د پلار د مرګ نه روسته يا د بچی د بالغ کيدلو نه روسته وارثان ددې انکار اونکړی.او که هغوی انکار اوکړی.نو چې ګواهانو سره ددې اثبات اوشی.

عدم الفرق في حکم الهبة باعتبار اليد> د پلار هبه کړې شوې شئ که په حقيقت کې د پلار په قبضه کې وی.يا پلار چا سره وديعت ايخودې وی.په دې کې هيڅ فرق نشته.ځکه چې د مودع قبضه حکماً د مودع قبضې پشان ده.

سوال> که مالك مودع ته مال د وديعت هبه کړو.نودا ستا په قول جائز ده.نوکه د مودع قبضه د مودع د قبضې پشان وی.نو په دې صورت کې هغه د خپل ځان لپاره قبضه کونکې نشو؟

جواب> د مودَع (بفتح الدال) قبضه د مودع د قبضې پشان کيدل هغه وخت دی.کله چې هغه د وديعت په ساتنه کې مودع لپاره عمل کونکې وی.اودا د تمليك بالهبه نه مخکې مخکې دی.او کله چې مودع دا هبه کړو.نو هغه (مودع) خپل ځان لپاره عمل کونکې شو.

صغير ته هبه شوی څيز باندې د پلار د قبضې حکم

(وَإِنْ وَهَبَ لَهُ أَجْنَبِي هِبَةً که صغير ته کوم اجنبی (پردی سړی) څه شئ هبه کړو. تَمَّتْ بِقَبْضِ الْأَبِ)نود پلار په قبضې سره هبه تام کيږی.

تشريح> که صغير بچی ته څه شئ هبه کړې شی.او دهغه ولی (يعنی د بچی د پلار وصی يا د بچی نيکه يا د نيکه وصی) په موهوب شئ باندې قبضه اوکړی.نودا جائز ده.

دليله> ځکه چې بچی باندې دې خلقو ته ولايت حاصل دې.ددې مطلب دادې.چه دا خلق ددې د بچی د پلار قائم مقام دی.

(وَإِذَا وَهَبَ لِلْيَتِيمِ هِبَةً که د يتيم لپاره څه شئ هبه کړې شو. فَقَبَضَهَا لَهُ وَلِيُّهُ او د هغه ولی په دې باندې قبضه اوکړله. جَازَ)نودا جائز ده.

تشريح> مسئله آسانه ده.

(وَإِنْ كَانَ فِي حِجْرِ أُمِّهِ اوکه مذکوره يتيم دمور په پرورش کې وی. فَقَبْضُهَا لَهُ جَائِزٌ)نو يتيم لپاره د مال قبضه کول جائز دی.

تشريح> او که ماشوم بچې د خپلې مور په کفالت کې وی.نو په موهوب شئ باندې د مور قبضه کول هم جائز ده.

دليله> ځکه چې کوم امور د صغير ذات يا دده د مال حفاظت طرف ته راجع دی.په هغې کې دده مور ته ولايت حاصل دې.او په هبه باندې قبضه کول هم د حفاظت د باب څنې دی.چه دمال نه بغير د بچی بقاء مشکل ده.

(وَكَذَا إِذَا كَانَ فِي حِجْرِ أَجْنَبِي يُرَبِّيهِ)دغه شان که هغه د يو اجنبی په غيره کې وی.چه دده پرورش کوی. فَقَبْضُهُ لَهُ جَائِزٌ)نود ده لپاره د مال قبضه کول جائز دی

دغه شان که مذکوره صغير د يو اجنبی سړی په غيږ کې پرورش حاصلوی.او په مذکوره خلور واړه کسانو(اولياؤ) کې هيڅ څوك موجود نه وی.نود اجنبی قبضه کول جائز دی.

دليله> ځکه چې دې اجنبی ته هم ولايت حاصل دې.تردې چې بل څوك اجنبی سړې دا بچې دده قبضې نه نشی اوبنکلې.

(وَإِنْ قَبَضَ الصَّبِي الْهِبَةَ بِنَفْسِهِ وَهُوَ يَعْقِلُ اوکه بچی پخپله هبه باندې قبضه اوکړله. جَازَ)نو جائز ده.

تشريح> که بچی ته څه شئ هبه کړې شو.او په هغې باندې بچی پخپله قبضه اوکړله.نودا استحساناً جائز دی.(په دې شرط چې بچې هوښيار وی).[1]

---

[1] **مذهب الشافعي**:- د امام شافعي رحمه الله په نيز د بچی قبضه کول جائز نه دی.اګرچه هغه عاقل وی.د قياس

دليله> وجه د استحسان داده.چه هبه باندې قبضه کول دده په حق کې خالص نفع ده.او ده ته د قبضې لياقت (او قابليت) حاصل دي.

الروايتان عن محمد> د امام محمد رحمه الله نه هم يو روايت دغه دې. دوئم روايت دادې.که د ولي په اجازت سره ئې قبضه اوکړله.نو جائز ده.گنې نه ده.

د دوو سړو خپل مشترکه کورد هبه کولوحکم

(وَإِذَاوَهَبَ اثْنَانِ مِنْ وَاحِدٍ دَارًا که هبه کړو.دوه سړو يوکس ته خپل مشترکه کور جَازَ)نوجائز دي.

تشريح> که دوه سړو يو کور يو سړی ته هبه کړو.نو هبه صحيح ده.

دليله> ځکه چې دواړو پوره کور موهوب له ته حواله کړې دې.او موهوب له په پوره باندې قبضه کړې ده.نو شيوع او نه موندې شو.نو هبه صحيح ده.

(وَإِنْ وَهَبَ وَاحِدٌ مِنْ اثْنَيْنِ اوکه يو کور يو سړی دوه کسانو ته هبه کړو. لَمْ تَصِحَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، [1] نو صحيح کيږي د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز،

تشريح> که يو سړي خپل کور دوه سړوته هبه کړي.نو د امام صاحب په نيز صحيح نه ده.دا د امام زفر رحمه الله مسلك هم دې.

دليله> دليل دا دې چه واهب هر يو کس ته نصف نصف کور هبه کړې دې.او نصف غير معين او غير مقسوم دي.نو په محتمل القسمة کې شيوع اوموندې شوه.کوم چې د هبهٔ د جواز لپاره مانع دې.که هم دا هبه په نا قابل ويش شئ کې وه.اوبه دوی دواړو کې يو قبوله کړې وه.نو هبه به صحيح کيدله.ددې نه معلومه شوه.چه گويا ده د هر يو لپاره جداجدا نصف برخه هبه کړو.او په دې وجه هم چې دوی دواړو کې هر يو لپاره نصف کې ملکيت ثابتيږي.نو تمليك به هم دغه شان د نصف نصف وی.ځکه چې ملکيت د تمليك حکم يعني ددې اثر دې.نو په دې اعتبار سره شيوع متحقق شو.

(وَقَالَا تَصِحُّ)صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه صحيح دې.

تشريح> د صاحبينو رحمهما الله په نيز صحيح ده.

دليلهما> ځکه چې تمليك متحد او عقد واحد دې.نو شيوع پاتې نشو.لکه ځنګه چې يو شئ دوه کسانو سره گاهږه ايخودل صحيح دی.

اجنبي له هبه کولو ځنې د رجوع بيان

وَإِذَاوَهَبَ لِأَجْنَبِيٍّ هِبَةً کله ئې چې هبه کړو، څه شئ يو اجنبی ته، فَلَهُ الرُّجُوعُ فِيهَا)نو ده ته د هبه کې د رجوع اختيار شته.

تشريح> دڅه شئ هبه کولو نه روسته واهب لپاره هغه ته د رجوع کولو،اود موهوب شئ واپس اخستلو حق شته دې.امام مالك رحمه الله او په ظاهر مذهب کې امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دې.[2]

تقاضا هم داده.

[1]) القول الراجح هو قول ابي حنيفة رحمه الله كذا في كنز (٣٠٩) وملتقى الأبحر(٣\٤٩٧) وردالمحتار(٤\٥٧٤) ومجمع الأنهر (٣\٤٩٩) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٢٢)ـ

[2]) **مذهب الشافعي**:- د امام شافعی رحمه الله په نيز د رجوع حق نشته.سوا د پلار نه.که هغه خپل اولاد ته څه شئ هبه

قوله: لاجنبي > د اجنبی نه مراد هغه کس دي.چه ذی رحم محرم نه وی.نو هغه سرې اووتلو.کوم چې ذی رحم محرم وی.او محرم نه وی.لکه د اکا (تره) او د ماما خوې، یا محرم وی.او ذو رحم نه وی.لکه رضاعی رور او خور،بیا دلته کې دوه قیده ضروری دی.چه هبه نې کړې.او وې سپاری.ځکه چې د سپارلو نه وړاندې رجوع نه وی.بلکه امتناع یعنی د هبې نه منع کیدل وی.چه ددې په جواز کې هیڅ اختلاف نشته. دوئم دا چې د عقد هبه په حالت کې د رجوع په موانعو کې هیڅ مانع مقترن نه وی.

دلائله > ① د ابوهریره رضی الله عنه حدیث دي (قال رسول الله ﷺ الرجل أحق بهبته مالم يثب منها)، نبی کریم ﷺ ارشاد فرمائیلي دي.چه واهب د موهوب شئ زیات حقدار دي.ترکومه پورې چې هغه ته ددې عوض نه وی ملاو شوې،،

② د ابن عباس رضی الله عنهما حدیث، دي.د یو طریق تخریج حافظ طبرانی په معجم کې او دوئم طریق دار قطنی په سنن کې کړې دې. (قال رسول الله ﷺ من وهب هبة فهو أحق بهبة مالم يثب منها فإن رجع في هبة فهو كالذي يقئ ثم يأكل قيئه) طریق د طبرانی ته د ابن ابی لیلی په وجه، او طریق د دارقطنی ته د ابراهیم بن ابی یحی اسلمی او د محمد بن عبیدالله عزرمی په وجه معلول وئیلی شوی دی.

جواب> دادې.که حدیث فی نفسه د حجت کیدلو قابل نه وی.نو شاهد ضرور کیدې شی.او ابن ابی لیلی احسن الحدیث هم دې.

ملحوظة > په مختصر القدوری کې نې چې دا اوفرمائیل.چه واهب ته درجوع کولو اختیار دې.دا د دنیاوی حکم بیان دې.پاتې شو کراهت،نودا به لازمی وی.نو د دیانت په طور رجوع کول مکروه تحریمی دی.ځکه د نبی کریم ﷺ ارشاد دې. {الْعَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ} (۱)

په مبسوط خواهرزاده کې نهه موانع ذکر دی.ځکه چې مرګ دوه صورتونه داخل دی.یو د واهب مرګ، اویو د موهوب له مرګ.او نهم مانع د یو جنس بل جنس طرف ته تبدیلول دی.

هغه امور کوم چې رجوع لپاره مانع دی؟

(إِلَّاأَنْ يُعَوِّضَهُ عَنْهَا) مګر دا چې د هغې عوض نې ورکړې وی.

تشریح > په هبه کې د رجوع کولو نه اووه امور مانع جوړیږی.چه دا صاحب د کنز په مجموعه (دمع خزقه) حروفو سره ښکاره کړی دی.او دا مجموع د شاعر ددې شعر نه اخستې شوې ده.~

ومانع عن الرجوع في الهبة　　　یاصاحبی حروف«دمع خزقه»

ددې مجموعې معنی داده.چه،،اوښکو زخمی کړلو،، خزق په معنی د طعن دې.نو شاعر د اوښکې نیزې سره تشبیه ورکړې ده.

تشریح > **المانع الاول** > د مجموعې د حرف ،،عین،، نه مراد عوض دې.کوم چې د هبې په بدله کې موهوب له واهب ته ورکړی.چه اوس واهب رجوع نشی کولې.

دلیله > ځکه چې مقصود حاصل شو.خو شرط دادې.چه هغه ددې اضافت هبة ارخ ته اوکړی.مثلاً موهوب له واهب ته اووائی.چه دا شئ د خپلې هبة عوض یا دهغې بدله یا دهغې په مقابله کې واخله.او واهب په دې باندې قبضه اوکړی.نو حق د رجوع به ساقطیږی.دغه شان که څوك اجنبی سرې د موهوب

کړی.نو واپس نې اخستلې شی.

۲) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه الجماعة إلا الترمذي (نصب الراية ٣٠٦\٤)_

له د اړخه د واهب د هبۀ عوض ورکړی.بیا هم حق درجوع ساقطیږی.

(أَوْيَزِيدَزِيَادَةًمُتَّصِلَةً)یا موهوب کي څه زیاتوالي متصل شوي وی

تشریح﴾ المانع الثاني﴿ په ذکرشوي مجموع کي د حرف، ،دال، ، نه په نفس موهوب څیزکي زیاتوالی اړخ ته اشاره ده.که په عین موهوب کي څه داسي، زیاتوالي متصل شو.چه هغې سره ددې قیمت زیات شو.مثلاً موهوب زمکه وه.موهوب له په دې کي عمارت جوړکړو.یا ئې وُنې اولګولې.یا موهوب له دې ته خوراك څکاك (یعنی څره ، ،بوریا ، ډیران وغیره او اوبه..) ورکړې.او ښه ئې تیاره (طاقتوره) کړله.نو په دې صورت کي واهب رجوع نشی کولې.

دلیله﴾ څکه که هغه د زیاتوالی نه بغیر رجوع کول اوغواړی.نودا ممکن نه ده.څکه چې تیاروالې (او طاقت) لرې کول دده د وَس خبره نه ده.اوکه سره د زیاتوالی رجوع کول غواړی.نودا هم نشی کیدی.څکه چې زیاتوالي په عقد هبه کي داخل نه دی.

(أَوْيَمُوتَ أَحَدُالْمُتَعَاقِدَيْنِ)یا متعاقدینو کي یوکس مړشي.

تشریح﴾ المانع الثالث﴿ په ذکرشوي مجموعه کي د حرف میم نه د احد المتعاقدین یعنی د واهب یا د موهوب له مرګ اړخ ته اشاره ده.چه د مرګ په صورت کي هم رجوع جائز نه ده.

دلیله﴾ څکه که موهوب له مړشو.نو ملك دده وارثانو اړخ ته منتقل شو.نو لکه څنګه چې دده په ژوند کي د ملك منتقل کیدلو نه روسته رجوع جائز نه ده.دغه شان به د مرګ نه روسته هم د ملك د انتقال په صورت کي رجوع جائز نه وی.

(أَوْتَخْرُجُ الْهِبَةُ مِنْ مِلْكِ الْمَوْهُوبِ لَهُ)یا هبه د موهوب له د ملك نه اوځي.

تشریح﴾ المانع الرابع﴿ په مجموع کي دحرف، ،خاء، ، نه مراد ، موهوب د موهوب له د ملك نه خارجول دی.مثلاً موهوب له دا خرڅ کړی.یا ئې بل چاته هبه کړی.نو واهب رجوع نشی کولي.

دلیله﴾ څکه چې داسي کول د واهب په مسلط کولو سره شوی دی.نو واهب دا نشی ماتولي. او د ملك جدید سبب پیدا کیدلو سره ملك هم جدید کیږی.مثلاً موهوب له چې کله موهوب خرڅ کړو.نود بیع په وجه مشتری ته ملك جدید حاصل شو.نو واهب هغه نشی ماتولي.

ذی رحم محرم ته د هبه کولو نه روسته د رجوع حکم

(وَإِنْ وَهَبَ هِبَةً لِذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ)اوکه خپل ذی رحم محرم ته ئې (څه څیز) هبه کړو. (فَلَارُجُوعَ فِيهَا)نو په دې کي رجوع نشی کولې.

تشریح﴾ المانع الخامس: په ذکرشوي مجموعه کي د حرف، ،قاف، ، نه مراد قرابت محرمیت دې.یعنی داسي قرابت(رشته داری) چې په دې سره نکاح حرامیږی.نو که خپل یو ذی رحم محرم ته ئې څه شئ هبه کړو.نو په دې کي رجوع نشی کولې.ائمه ثلاثه رحمهم الله هم ددې قائل دی.

دلائله﴾ ① د حضرت سمره بند جندب رضی الله عنه نه مرفوعاً دې.إِذَاكَانَتْ الْهِبَةُ لِذِی رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ.لَمْ يَرْجِعْ فِيهَا

(۱)چې کله هبه د ذی رحم محرم لپاره وی نو په دې کې رجوع نشی کولې

۲او په دې وجه هم (رجوع نشی کولې) چې د هبې نه مقصود صله رحمی وه.چه دا حاصله شوه.اود کوم عقد مقصد چې حاصل شي.د هغې فسخ جائز نه وی.

(وَكَذٰلِكَ مَا وَهَبَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ لِلْآخَرِ)ادغه شان هغه (هبه) ده.کوم چې زوجینو(ښځه او خاوند) کې یوکس بل ته هبه کړې وی.

المانع السادس:په ذکرشوې مجموعه کې د حرف،،زاء،،نه مراد د هبې په وخت د واهب او موهوب له په مینځ کې د زوجیت علاقه کیدل دی.که یوکس یوې اجنبیه (پردۍ) ښځې ته څه شئ هبه کړو.بیا هم هغې سره نکاح اوکړله.نو رجوع کولې شی.ځکه چې د هبې په وخت زوجیت (نکاح) نه وو.اوکه ښځې ته ئې څه شئ هبه کړو.بیا ئې هغه جدا (بائنه) کړله.نو رجوع نشی کولې.

دلیله> ځکه چې ددې هبې مقصد صله رحمی وه.او دا خبره هبه کولو سره حاصله شوې ده.آئمه ثلاثه ﷭ هم ددې قائل دی.

په ذکرشوې مجموعه کې د حرف،،هاء،،نه مراد د موهوب څیز، یا ددې د عامو منافعو هلاکیدل دی.چه د هلاکیدلو په صورت کې هم واهب رجوع نشی کولې.اود موهوب د هلاکت په سلسله کې به د موهوب له قول معتبر وی.یعنی که دوی دا دعوه اوکړی.چه هغه ضائع شو.نو د هغه تصدیق به کولې شی.او په موهوب له یا واهب کې د یو کس په مرګ سره هم رجوع ساقطیږی.

د موهوب له د اړخه د بل څه عوض ورکولو مسئله

(وَإِذَا قَالَ الْمَوْهُوبُ لَهُ لِلْوَاهِبِ کله چې موهوب له واهب ته اووئیل.خُذْ هٰذَا عِوَضًا عَنْ هِبَتِكَ چې دا خپلې هبې عوض واخله.أَوْبَدَلًا عَنْهَا أَوْفِي مُقَابَلَتِهَا یا د هغې بدله، یا د هغې په مقابله کې،فَقَبَضَهُ الْوَاهِبُ او واهب په دې باندې قبضه اوکړله.سَقَطَ الرُّجُوعُ)نو حق د رجوع ساقط شو.

تشریح> موهوب له واهب ته د هغه د هبې عوض ورکولو کې داسې لفظ ذکرکړو. چې د هغې نه واهب په دې پوهه شی.چه دا دده د هبې عوض دې.مثلاً موهوب له هغه ته اووئیل.(خذ هذا عوضا عن هبتك) یا ئې اووئیل.(جزاء هبتك) یا ئې اووئیل.(بدل هبتك) یائې اووئیل.(خذ هذا عوضا أي مقابلة هبتك) او واهب په دې باندې قبضه اوکړله.نو حق د رجوع به ساقطیږی.که دا عوض کم وی.اوکه زیات وی.د هبې جنس څخه وی.او که خلاف جنس څخه وی.

دلیله> د رجوع د حق ساقطیدلو وجه داده.چه د واهب مقصد کوم چې عوض حاصلول وو.هغه حاصل شو

(وَإِنْ عَوَّضَهُ أَجْنَبِيٌّ عَنِ الْمَوْهُوبِ لَهُ مُتَبَرِّعًا اوکه ددې عوض یو اجنبی د موهوب له د اړخه د سلوك (او احسان) په طور ورکړو.فَقَبَضَ الْوَاهِبُ الْعِوَضَ او واهب عوض واخستلو.سقط الرُّجُوعُ)نو حق د رجوع ساقط شو.

تشریح>. عوض لپاره دا ضروری نه ده.چه خامخا ئې موهوب له ورکړی. بلکه که دده د اړخه یو اجنبی

---

۱) من حدیث سمرة بن جندب رضي الله عنه اخرجه الحاکم في المستدرك (۲\۵۲) والدارقطني في سننه (۳\۴۴) والبیهقي في السنن الکبری (۶\۳۰۰) رقم ۱۲۰۲۶ـ

کس واهب ته دده د هبۀ عوض ورکړو.بیا به هم د رجوع حق ساقطیږي.

دلیله خکه چې عوض ورکول د تملیك عین لپاره نه دی.بلکه د رجوع حق ساقطولو لپاره دی.نودا به د اجنبي د اړخه هم صحیح کیږي.

فائده لکه د خلع او د صلح عوض د اجنبي د اړخه هم صحیح کیږي.مثلاً یو اجنبي د ښځې میړه ته اووئیل.چه ته دده ته په دې شرط باندې خلع ورکړه.چه زر درهم د خلع عوض په ما باندې دي.نو دا جائز دی.دغه شان یو اجنبي د مقتول ولي ته اووئیل.چه ته قاتل ته قصاص معاف کړه.په دې شرط چې مال صلح یا دیت ما باندې دې.نودا هم جائز دی.ددې تحقیق دادې.چه د هبۀ عوض ور کولو کې د موهوب له فائده دا وی.چه په دې سره د واهب حق رجوع ساقطیږي.اودا سقوط حق هیڅ شئ نه دې.نود اجنبي د اړخه به د عوض اداکول صحیح وی.لکه څنګه چې ښځې ته د بدل خلع په ذریعه د میړه د ملك ساقطیدلو فائده کیږي.اود اجنبي بدل خلع جائز ده.

(وَإِذَا اسْتُحِقَّ نِصْفُ الْهِبَةِ کله چې څوك حقدار راوڅي.د نصف هبۀ. رَجَعَ بِنِصْفِ الْعِوَضِ)نونصف به واپس اخلي.

تشریح که د عوض ور کولو نه روسته نصف موهوب د بل چا راوؤتلو.نو موهوب له خپل نیم عوض واهب نه واپس اخستلې شي.

دلیله څکه چې د نصف عوض په مقابله کې چې کومه هبه وه.هغه موهوب له لپاره صحیح سلامت پاتې نشوه.

(وَإِنْ اسْتُحِقَّ نِصْفُ الْعِوَضِ او که حقدار راوڅي. د نصف عوض، لَمْ يَرْجِعْ فِي الْهِبَةِ بِشَيْءٍ نود هبۀ نه به هیڅ څیز واپس نه اخلي. إِلَّا أَنْ يَرُدَّ مَا بَقِيَ مِنَ الْعِوَضِ خودا چې هغه باقي عوض واپس کړي. ثُمَّ يَرْجِعُ فِي كُلِّ الْهِبَةِ)بیا واپس خپله هبه واخلي.

تشریح کوم عوض چې واهب ته ملاؤ شوې دې په هغې کښې د یو دریمګړي کس د نصف عوض حق ثابت شو.او واهب مستحق ته نصف عوض ورکړو.نو په دې صورت کښې واهب ته دا اختیار نشته چې په خپل هبۀ کړی مال کښې حصه واپس کړي.بلکه کوم نصف عوض چې ده سره باقي دې نو هغه به موهوب له ته واپس کړي او خپله ټوله هبه واپس اخستې شي اویا په هغه نصف عوض باندې دې صبر اوکړي.مثلاً واهب د موهوب له نه د هبه په بدله کښې یو پکې واخستل چې د هغې قیمت اووه سوه روپئ وو.روسته د دې عوض یعنی د نیم پکې حقدار راؤوتل نو واهب ته دا حق نشته چې نیمه هبه واپس واخلي البته د دې ګنجائش شته چې باقي نیم پکې کوم چې د واهب سره دې چې هغه موهوب له طرف ته واپس کړي او پوره هبه واخلي

دلیله په شروع کښې که موهوب له نیم پکې هم د هبه په بدله کښې ورکړې وو.نو بیا به هم د هبه بدله وه اوس په مینځ ښې نیم پکې پاتې شو.نو بیا هم دا د هبې بدله ده د دې وجې نیم پکې واپس نشي اخستې خوهرکله چې هغه د پوره عوض په فکر کښې هبه اخستې ده او پوره عوض هغه سره پاتې نشو.نو د دې وجې اختیار ورکړې شو.چې د حقدار راؤوتلو نه پس چې کومه حصه باقي پاتې ده هغه هم موهوب له ته واپس کړي نو اوس هبه بغیر عوضه پاتې شوه.نو اوس پوره هبه واپس اخستې شي.

د قاضي دحکم یا خپل منځ کښې رضامندئ نه بغیر د رجوع حکم

(وَلَا يَصِحُّ الرُّجُوعُ فِي الْهِبَةِ إِلَّا بِتَرَاضِيهِمَا او هبه ته رجوع کول صحیح نه ده.مګر د دواړو په رضامندئ

سره، (أَوْبِحُكْمِ الْحَاكِمِ) يا د قاضي په فيصله كولو سره،

تشريح> د رجوع د جواز نه روسته د رجوع صحت بيانوي. دا ورانديې معلومه شوه. چې واهب لپاره پخپله هبه كي رجوع كول جائز دي. كه هغه رجوع اوكړي. نو د هغه رجوع به صحيح وي. خو صحت د رجوع به هغه وخت وي. كله چې رجوع كول د قاضي د فيصلې په ذريعه وي. يا د واهب او موهوب له پخپله مينځ كي رضامندئ سره وي. مطلب دادې. چه د واهب په رجوع كولو سره به هيڅ فائده نه حاصليږي. تركومه پورې چې موهوب له په دې سره راضي نشي. يا بيا واهب د حاكم په عدالت كي دديې معاملې رفع دفع اوكړي. (يعنى مقدمه اوچلوي). چه حاكم موهوب له ته د هبهٔ واپس كولو حكم اوكړي. ترديې كه واهب د قاضي د قضاء نه بغير يا پخپل مينځ كي د رضامندئ نه بغير هبه واپس كړله. نو هغه به غاصب ګنړلې شي.

دلائله> ① اوله وجه هبهٔ ته د رجوع جواز مختلف فيه دې. چه دديې تشريح تاج الشريعة وغيره شارحينو داسې كړې دې. چه زمونږ په نيز واهب لپاره د رجوع اختيار دې. په خلاف د امام شافعي رحمه الله وغيره چې ددوی په نيز دلته دديې اختيار نشته. (وإذا كان كذالك فكان ضعيفاً)

② دويمه وجه داده. چه د رجوع اصليت ثابتيدلو كي ضعف دې. په دې معنى چې دديې ثبوت خلاف قياس دې. ځكه چې دا په ملك غير كي تصرف دې. ځكه چې موهوب له د قبضې په ذريعه د هبهٔ مالك شوې دې. په لحاظ د رقبهٔ هم او په لحاظ د تصرف هم.

③ دريمه وجه داده. چه زمونږ په نيز رجوع كول اګرچه جائز ده. خود مقصود حاصلولو نه روسته جائز نه ده. اود واهب په مقصد حاصلولو او نه حاصلولو كي خفاء ده. ځكه كه هبهٔ سره دده مقصد ثواب يا اظهار د بخشش وو. نو هغه حاصل شو. په دې لحاظ سره رجوع نشى كولې. اوكه دده مقصد عوض حاصلول وي. نو دا حاصل نشو. نو د رجوع كولو حق پاتې شو.

نو په دې ذكر شوو دريو وجو په لحاظ ضروري ده. چه دوه خبرو كي په يوه خبره بانديې فيصله اوشي. يعنى يا خو واهب او موهوب له دواړه خپلو كي راضي وي. يا قاضي د واپس كولو حكم اوكړي. ددې نه بغير به رجوع كول صحيح نه وي. ترديې كه هبه يو غلام وي. چه په ده واهب رجوع اوكړله. او موهوب له د قاضي د حكم نه ورانديې هغه آزاد كړو. نو دده آزادول به نافذ كولي شي. اوكه موهوب له د واهب د رجوع د كاوه اود هبهٔ طلب كولو نه روسته دده (يعنى د غلام) د وركولو نه انكار اوكړو. نو هغه به ضامن نه وي. ځكه چې دې كي د موهوب له ملكيت قائم دې. دغه شان كه د قاضي د حكم كولو نه پس، واهب ته د وركولو نه ورانديې موهوب شئ ضائع شو. بيا به هم موهوب له ضامن نه وي. كله ئې چې دده د وركولو نه انكار نه وي كړې. ځكه چې رومبئ قبضه دده ضمانتي نه وه. نو په ضمانت كيدلو سره به نه بدليږي. ځكه چې موجوده قبضه هم هغه رومبئ قبضه راروانه ده. خو كه د قاضي د فيصلې نه روسته واهب دا طلب كړي. او موهوب له دا منع كړي. نو بيا به ضامن وي. ځكه چې اوس دده د اړخه تعدي اوموندې شوه.

په هلاك شوي هبه كښي د حقدار راوتلو مسئله

(وَإِذَا تَلِفَتِ الْعَيْنُ الْمَوْهُوبَةُ ثُمَّ اسْتَحَقَّهَا مُسْتَحِقٌّ كله چې هلاك شي. هبه كړې شوې شئ بيا دديې خوك حقدار راوځي. فَضَمِنَ الْمَوْهُوبُ لَهُ او هغه د موهوب له نه ضمان واخلي. لَمْ يَرْجِعْ عَلَى الْوَاهِبِ بِشَيْءٍ) نو موهوب له د واهب نه هيڅ واپس نشي اخستلې.

تشریح> که مال موهوبه هلاك شي.او څوك سرې خپل استحقاق ثابت كړي.او د موهوب له نه تاوان واخلي.نو موهوب له د خپل واهب نه هيځ څه واپس نشي اخستلې.

دليله> ځكه چې هبه د يو احسان معامله ده.نو په دې كې دا استحقاق نشي كيدلې.چه كوم شئ وركړې شوې دې.هغه موهوب له ته سلامت پاتې شي.بيا هغه په هبه قبلولو كې واهب لپاره عامل هم نه دې.تردې چې واهب د هغې ضامن شي.بلكه هغه خو خپل ځان لپاره عمل كونكې دې.

د عوض په شرط د هبه كولو مسئله

وَإِذَا وَهَبَ بِشَرْطِ الْعِوَضِ كه د عوض په شرط ئې هبه ئې كړو.اُعْتُبِرَ التَّقَابُضُ فِي الْعِوَضَيْنِ جَمِيعًا نو ضروري به وي.هم په دې مجلس كې دواړو عوضونو باندې قبضه كول،وَإِذَا تَقَابَضَا صَحَّ الْعَقْدُ او كله چه دواړه قبض اوكړي نو عقد صحيح شو وَكَانَ فِي حُكْمِ الْبَيْعِ او دا به د بيع په حكم كې شي يُرَدُّ بِالْعَيْبِ وَخِيَارِ الرُّؤْيَةِ وَيَجِبُ فِيهَا الشُّفْعَةُ.چه واپس كولې ئې شي د عيب او خيار رؤيت په صورت كښ او په دې كښ شفعه واجب ده.

تشریح> هبه په شرط د عوض زمونږ د آئمه ثلاثه رحمهم الله په نيز د عقد د ابتداء په اعتبار سره وي.اود انتهاء په اعتبار سره بيع وي.نود هبه كيدلو په لحاظ سره به عوضين باندې قبضه كول شرط وي.اوكه موهوب محتمل القسمة شئ وي.او مشاع وي.نو عوض به باطل وي.او د بيع كيدلو په لحاظ به هبه د خيار رؤيت او خيار عيب په بناء باندې واپس كولې شي.او په دې كې به د شفعة كونكې لپاره حق شفعه هم ثابت وي.(١)

دليله> دليل دادې.چه په دې كې دواړه جهتونه دې.د لفظ په اعتبار سره هبه ده. اود معنى په اعتبار سره بيع ده.نو حتى الامكان به دواړو جهتونو باندې عمل كولې شي.او دلته دا ممكن هم ده.ځكه چې د هبة د احكامو څنې دا خبره ده.چه د ملكيت حصول د قبضه كيدلو پورې مؤخر وي.اودا خبره كله كله په بيع فاسد كې هم موندلې شي.لكه چې عوض ور كولو سره هبه هم لازميږي.نو مونږ په هبه په شرط د عوض كې دواړو جهتونو باندې عمل كولو سره په ابتداء كې د هبة حكم اوساتلو.او هم په دې مجلس كې خپل مينځ كې د قبضه كيدلو نه روسته انتهاء كې دا بيع اوګرځوله.

عمري جائز او رقبى ناجائز ده

(وَالْعُمْرَى جَائِزَةٌ او عمرى جائز ده.لِلْمُعْمَرِ لَهُ حَالَ حَيَاتِهِ د معمرله لپاره دده د واړه عمر دپاره، وَلِوَرَثَتِهِ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ)او دده د وارثانو دپاره.دده دمرګ نه پس.

تشریح> عمرى د اعمار اسم دې. (يقال اعمرته الدار عمرى جعلتها لك عمرك أو حياتك أو ما عشت أو حييت أو بقيت) ما دا كور د واړه عمر د اوسيدلو لپاره وركړو.

دليله> د جواز وجه د نبى كريم ﷺ ارشاد دې. ،، العمرى جائزة،، (شيخين عن ابى هريرة رضي الله عنه)

صوره> د عمرى درې صورتونه دى. ① اودا چې داسې اووائى. (عمرتك هذه الدار فإذا مت فهي لورثتك أو لعقبك)،، مادا كور تا ته د واړه عمر لپاره دركړو.كله چې ته مرشې.نودا ستا د وارثانو اود روسته خلقو

(١)د امام زفر او امام شافعي په نيز د ابتداء او انتهاء دواړو اعتبار سره بيع ده.نو د هغوى په نيز په مجلس كښې د قبض كولو ضرورت نشته.

لپاره دي،،دا عمری خو بلا خلاف صحيح ده.
اودا د تخفي پشان دي.په دې صورت کې به د موهوب له د وفات نه روسته دا کور دده د وارثانو وی.اوکه وارث نه وی.نو په بيت المال کې به داخلېږي شي. عمری کونکی ته به دوباره نه ملاويږي.

دليل جواز صورة الاولي عن ابی سلمه عن جابر رضی الله عنه أنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول من أعمر رجلاً عمرى له و لعقبه فقد قطع قوله حقه فيها و هي لمن أعمر و لعقبه)، ،حضرت جابر رضی الله عنه فرمانی.چه ما د نبی کريم ﷺ نه واوريدل.چه فرمائيل يې:چه کوم سړي عمری اوکړي.د يو کس دپاره،اود هغه د روسته خلقو دپاره،نو هغه خپل حق ختم کړو.اوس به هغه د معمرله اود هغه د وارثانو لپاره وی،،

② دونم داچه مطلق داسې اووائي. (جعلتهالك عمرك هذالك عمرى) ددې نه علاوه هيڅ اونه وائي. دا هم صحيح ده.او ددې حکم هم د اول پشان دې.يعنی جائز دې.

دليل صورة الثانية عن ابن جريج عن أبي الزبير عن جابر رضی الله عنه قال أعمرت إمرأة بالمدينة حائطاً لها إبناً لها ثم توفى توفيت بعده و ترك ولداً و له إخوة بنون للعمرة فقال ولد المعمرة رجع الحائط إلينا و قال بنو المعمر بل كان لإبنيا حياته موته فاختصموا إلى طارق مولى عثمان فدعا جابراً رضی الله عنه فشهد على رسول الله ﷺ بالعمرى لصاحبها فقضى بذالك طارق)
،،حضرت جابر رضی الله عنه فرمانی.چه په مدينه کې يوې ښځې خپل خوی ته يو باغ عمری ورکړو.بيا دغه زوی مړ شو.د هغه نه روسته ښځه مړه شوه.او هغې اولاد پريښنولو .او رور،نو د ښځې اولاد اووئيل.چه باغ بيا زمونږ طرف ته راغئ.اود معمر خامنو اووئيل.چه باغ زمونږ د پلار وو.د هغه په ژوند او مرګ کې .بيا هغوی ددې مقدمه پيش کړله.طارق ته.کوم چې د حضرت عثمان رضی الله عنه مولی وو.هغوی حضرت جابر رضی الله عنه راوغوښتلو.او هغوی ګواهی ورکړله.د نبی کريم ﷺ په فرمان باندې.چه عمری د هغه چا ده.چا ته چې ورکړې شي.نو طارق هم په دې باندې فيصله ورکړله،،[۲] د احنافو او د امام شافعی د يو قول مطابق کوم چې اصح دې دا صورت هم جائز دې.

③ دريم داچه داسې اووائي. (جعلتهالك عمرك فإذا مت عادت إلى أوإلى ورثتي إن كنت مت)،،داکور ما تا ته د وارو عمر لپاره درکړو.کله چې ته مړشې.نو کور زما دې.يا زما د وارثانو دې،،
الاختلاف في حكم الصورة الثالثة ددې په صحت کې اختلاف دې.د بعضو په نيز دا باطل ده.او اصح دادې.چه دا عقد هم صحيح دې.او ددې حکم هم د اول پشان دې.

دليل حكم الصورة الثالثة عن ابي الزبير عن جابر رضی الله عنه،،أنه قال قال رسول الله ﷺ أمسكوا عليكم أموالكم ولا تفسدوها فإنه من أعمر عمرى فهي للذى أعمرلها حياً و ميتاً و لعقبه)،،حضرت جابر رضی الله عنه فرمانی.چه نبی کريم ﷺ ارشاد فرمائيلې دې.چه د خپلو مالونو حفاظت کوئ.او ضائع کوئ ئې مه.ځکه چې کوم سړي عمری ورکړی.هغه به هم د هغه لپاره وی.چا ته چې ورکړې شی.که ژوندې وی.او که مړ وی.اود هغه د وارثانو به وی،،

رقبی باطل ده اوکه نه؟ اقوال فقهاء

(وَالرُّقْبَى بَاطِلَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رحمهما الله ()). او رقبی باطل ده.د طرفينو رحمهما الله په نيز وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ:

[۱] القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في نتائج الأفكار(٥١٦\٧) وملتقى الأبحر(٥٠٨\٣) ومجمع الأنهر (٥٠٨\٣) والدرالمنتقى (٥٠٨\٤) نقلاً عن القول الراجح (٢٢٢\٢).

جَائِزَۃٌ)او امام ابویوسف رحمہ اللہ فرمائي.چه جائز ده.

تشریح﴾ رقبی داده.چه مالك داسې اووائي.، داری لك رقبی ،، ددې حکم دادې.چه د طرفينو رحمہما اللہ حسن بن زياد اود امام مالك رحمہ اللہ په نيز باطل ده.

دليلهما﴾ ① نبی کريم «أَجَازَ الْعُمْرٰى وَرَدَّ الرُّقْبٰى» [1] عمری جائز گرځولې ده. او رقبی ئې رد کړې ده.

② دا لفظ د مراقبه نه مشتق دې.چه ددې معنی ،، انتظارکول،، دی.گويا په دوی کې هر يو د بل د مرگ انتظار کونکی دی.نو په دې کې د تمليك تعليق بالخطر (يعنی متردد او مشکوك) دې.چه دا جائز نه ده.نو تعليق به باطل وی.

مذهب ابي يوسف﴾ اود امام ابويوسف، سفيان ثوری ، اسحاق،او د امام شافعی ، په نيز جائز ده.

دليله﴾ «قال رسول الله ﷺ العمری جائزۃ لأهلها والرقبی جائزۃ لأهلها» رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چې د خپل اهل دپاره عمری جائز ده او د دغه شان د خپل اهل دپاره رقبی جائز ده.

فائده﴾ صاحب د اعلاء السنن ليکلی دی.چه ذکرشوی تيرشوی نصوص په دې باره کې صريحی دی.چه د عمری پشان رقبه هم جائز ده.لکه څنگه چې امام ابويوسف او جمهور رحمہم اللہ هم ددې قائل دی.پاتې شو امام ابوحنيفه رحمہ اللہ ، نو ابن حزم رحمہ اللہ خو د سره دده اختلاف نه دې ذکر کړې.بلکه ددوی قول ئې هم د جمهورو پشان جواز گرځولې دې.خود امام ابوحنيفه رحمہ اللہ نه دا روايت صحيح دې.چه رقبی باطل ده.اوس که دده مطلب دادې.چه هبه خو على الاطلاق صحيح او نافذ ده.او واهب ارخ ته د رجوع شرط يا د موهوب له د مرگ نه روسته دده وارثانو ارخ ته د رجوع شرط باطل دې.بيا خو هيڅ کلام نشته.او که دده مطلب دادې.چه رقبی باطل ده.او هبه صحيح نه ده.نو ددې محمل دادې.چه په دې کې د موهوب له ملکيت د واهب په مرگ پورې بانديې معلق وی.په دې صورت کې حکم د بطلان کوم چې د امام ابوحنيفه رحمہ اللہ قول دې.اوحکم د جواز کوم چې په تير شوی رواياتو کې ذکر دې.په دې کې هيڅ تعارض نه پاتې کيږی.څکه چې رواياتو کې کوم حکم د جواز ذکر دې.دا هغه وخت دې.کله چې د موهوب له ملکيت منجز(يعنی متعين او جدا) وی.خو په دې کې د موهوب له د مرگ نه روسته واهب ارخ ته د واپس کولو شرط وی.او په قول د ابوحنيفه رحمہ اللہ کې د بطلان حکم هغه وخت دې.کله چې د موهوب له ملکيت ددې نه وراندې د واهب په مرگ بانديې معلق وی.نو هيڅ تعارض نشته.بيا خبره داده.چه د رقبی په تفسير کې اختلاف دې.لکه چې امام ابوداؤد په سنن کې د حضرت مجاهد رحمہ اللہ نه ددې تفسير داسې نقل کړې دې. (الرقبی أن يقول الإنسان هو للآخر مني ومنك) دغه شان حافظ طبرانی رحمہ اللہ په معجم اوسط کې د حضرت عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہما نه روايت کړې دې. (الرقبی أن تقول الإنسان هي للآخر مني ومنك) (ددې په سند کې يو راوی مختلف فيه دې.چه ده ته ابن معين ثقه ونيلی دی ،،کمافی مجمع الزوائد ،،) ښکاره ده.چه په دې معنی کې رقبی باطل ده.څکه چې دې کې د ملکيت تعليق په خطر(متردد او مشکوك) دې.

---

[1] قال الزيلعي رحمہ اللہ قلت غريب ومذهب احمد رحمہ اللہ كقول ابي يوسف رحمہ اللہ في جواز الرقبى قياساً على العمرى واستدل لهما ابن الجوزی رحمہ اللہ في التحقيق بأحاديث منها ما اخرج النسائی (أي في العمرى رقم ٣٤٩٣) وابن ماجه عن عطاء عن حبيب ...عن بن عمر رضی اللہ عنہما موقوفاً لاعمرى ولا رقبى في اعمر شيا او ارقبه فهو له في حياته ومماته، نصب الراية (٣١١\٤)

وَمَنْ وَهَبَ جَارِيَةً إِلَّا حَمْلَهَا اوچا چې يوه وينځه هبه کړه خو د هغې حمل ئې هبه نکړو صَحَّتِ الْهِبَةُ نو هبه صحيح ده وَبَطَلَ الْاِسْتِثْنَاءُ او استثناء باطله ده.

تشريح﴾ په بيع فاسده کښې دا مسئله تيره شوې وه که د يو څيز بيع اوکړې اود هغې د حمل استثناء اوکړې نوجائز نه ده .اودغه شان د هبې مسئله هم ده که د جاريه هبه اوکړې او د هغې د حمل استثناء اوکړې.خودومره فرق دې چې هلته بيع فاسده وه اودلته د هبې په باب کښې هبه صحيح ده او استثناء باطله ده.نو جاريه به د هغې د حمل سره موهوبه وي.

(وَالصَّدَقَةُ كَالْهِبَةِ اوصدقه پشان د هبه ده. لَاتَصِحُّ إِلَّا بِالْقَبْضِ) چې نه صحيح کيږي.مګر په قبضه سره.

تشريح﴾ صدقه د هبه پشان ده.چه د قبضې نه بغير نه صحيح کيږي.

دليله﴾ ځکه چې د هبه پشان صدقه هم يو تبرع او احسان دې.

(وَلَا تَجُوزُ فِي مُشَاعٍ يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ)نو جائز به نه وي.په قابل ويش مشترك شئ کې

تشريح﴾ مشترك شئ چې د ويش قابل نه وي.د هغې صدقه به جائز نه وي.

دليله﴾ دليل هم هغه دې.کوم چې د هبه په بيان کې تير شو.چه صدقه کونى د صدقې قصد کړې دې.د تقسيمولو التزام ئې نه دې کړې.اوس که د مشترك شئ صدقه جائز اوګرځولې شى.نو چا ته ئې چې صدقه کړې دې.هغه به شريك وي.اوشريك چې کله تقسيمول اوغواړي.نو منظورول به لازم وي.نو په ده باندې داسې خبره لازمه شوه.د کومې چې ده التزام نه دې کړې.

وَكَذَا إِذَا تَصَدَّقَ عَلَى فَقِيرَيْنِ بِشَيْءٍ جَازَ کله چې په دوو فقيرانو باندې د يو څيز صدقه اوکړې نو جائز دې

تشريح﴾ که يو کس په دوو فقيرانو باندې يو څيز صدقه کړو.نو دا صدقه جائز ده اوهرکله چې صدقه جائز شوه نو دواړه فقيران به ئې په خپل مينځ کښې تقسيم کړې.اوخپله خپله حصه به واخلي.

دليله﴾ په ذکرشوې صورت کښې صدقه ځکه جائز ده چه په صدقه کښې اول تمليك د الله تعالى وي.او الله تعالى يو اخې دې.نوپه صدقه کښې شرکت رانغلو.دا مسئله د صاحبينو په نيز خو جائز ده ځکه چې د هغوى په نيز يو څيز دوو کسانو ته هبه کول هم جائز دى.خو د امام ابوحنيفه په نيز هم جائز ده.

(وَلَا يصح الرجُوعِ فِي الصَّدَقَةِ بعد القبض)او نه صحيح کيږي رجوع په صدقه کښې پس د قبض کولو نه

تشريح﴾ په صدقه کې رجوع نشى کولې.ځکه چې صدقه کولو سره ثواب حاصلول مقصود وي.اوهغه حاصل شو.نودا د هغه هبه پشان شوه.د کوم عوض چې ورکړې شوې وي.

سوال﴾ ثواب حاصليدل به خو په آخرت کې کيږي.بيا و قد حصل وئيل څنګه صحيح شو؟

جواب﴾ د حصول نه مراد د ثواب حاصلولو وعده ده.او د ثواب د وعدې حاصلول قطعي دى. (لأن الله تعالى لايخلف الميعاد)

(وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِمَالِهِ چاچه نذر کړو.خپل مال د صدقه کولو، لَزِمَهُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِجِنْسِ مَا تَجِبُ

فِيهِ الزَّكَاةُ نو صدقه دې کړي .د هغه جنس نه په کوم کې چې زکاة واجبيږي.

تشريح ﴾ يوسړی د خپل مال صدقه کولو نذر اوکړو .يعني داسې ئې اووئيل. (لله علي أن أتصدق مالي) نو په ده به دهغه جنس مال صدقه کول لازم وی.په کوم کې چې زکاة واجبيږي.يعنی نقديت، د تجارت سامان، سائمه څاروی ، غله او عشری او ميوې، ددې نه علاوه د هيڅ مال صدقه لازم نه ده.

وَمَنْ نَذَرَأَنْ يَتَصَدَّقَ بِمِلْكِهِ او چا چه نذر کړو.د خپل ملکيت صدقه کولو ، لَزِمَهُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِالْجَمِيعِ) نو لازم به وی.په ده چې واړه مال صدقه کړي.

تشريح ﴾ اوکه دا نذر ئې اوکړو.چه زما ملك صدقه دې.نو په ده به د کل مال صدقه کول لازم وی.د زکاة د مال خصوصيت به نه وی.

دليله ﴾ څکه چې دمال په نسبت ملك عام دې.څکه چې سړې کله کله دغير مال هم مالك کيږي.لکه نکاح، قصاص، شراب، نو بيا ددې په عموم باندې عمل کول ضروری دی.

(وَيُقَالُ لَهُ او ده ته به وئيلې شی. أَمْسِكْ مِنْهُ مِقْدَارَ مَا تُنْفِقُهُ عَلَى نَفْسِكَ وَعِيَالِكَ إِلَى أَنْ تَكْتَسِبَ، چې ته خان سره اوساته دومره، څومره چې ته خرچ کړې پخپل ذات، او پخپلو بچو باندې د مال ګټبولو پورې، فَإِذَا اكْتَسَبَ مَالًا نو هرکله چې دې مال اوګټې.(مزدوری اوکړې). يَتَصَدَّقُ بِمِثْلِ مَا أَمْسَكَ نو صدقه دې کړي. هغومره، څومره چې ده ساتلي وو. لِنَفْسِكَ خپل خان دپاره

تشريح ﴾ هرکله چې د ذکر شوی حکم مطابق په ده باندې پوره مال صدقه کول لازم شو.نو اوس به خالي لاس خپل ژوند څنګه تيره وی ؟ هم دا به کيږي.چه د چا نه به قرض اخلي.خو ممکن ده چې قرض ملاؤ نشي.او که ملاؤ شي.نو کيدې شی.چه دا هغه ادانکړې شی.او په قرض کې مړ شی.په دې صورت به په ده باندې سخته ګناه وی.صاحب د کفاية رحمه الله فرمائي.چه د کوم وخته پورې دې مزدوری کوی.او مال حاصلوی.هغه وخته پورې دې دومره مال اوساتی.چه پخپل ذات او پخپل اهل وعيال باندې ئې خرچ کړي.بيا کله چې مال حاصل شي.نو هغومره دې صدقه کړي.څومره چې د خرچې لپاره باقي ساتلي وو.

فائده ﴾ د خان سره د ساتلو مقدار امام محمد رحمه الله نه په مبسوط کې ذکر کړې دې.نه جامع صغير کې ،البته مشائخو وئيلي دی.که دا سړې زميندار (دهقان) وی.نو د کال په اندازه دې مال اوساتی.څکه چې زميندار لپاره قوت هر کال نوې کيږي.اوکه دا سړې تاجر(او سوداګر) وی.نود يو مياشت خوراك دې اوساتی.اوکه دې پيشه ور او کاريګر وی.نو صرف د يوې ورځې خوراك دې اوساتی. (لأنه يتجدد له قوت كل يوم) (سُبْحَنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝ وَسَلَمٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَلَمِينَ ۝)

كِتَابُ الْوَقْفِ

ترجمه ﴾(دا) کتاب (د) وقف (په بيان کښې) دې.

الوقف لغة ﴾ فرمائيلي دی(صاحب دهدايه رحمه الله) وقف په لغت کښې بنديدل دی.ته وائې ما وقف کړې دی څاروی اوزه وقف کوم دا (څاروی) دواړه په يوه معنی دی.

لَا يَزُولُ مِلْكُ الْوَاقِفِ عَنِ الْوَقْفِ عند ابي حنيفة إِلَّا أَنْ يَحْكُمَ بِهِ الْحَاكِمُ أَوْ يُعَلِّقَهُ بِمَوْتِهِ فَيَقُولَ إِذَا مِتُّ فَقَدْ وَقَفْتُ دَارِي عَلَى كَذَا.

حل اللغة ﴿۱﴾ **يعلق**:معلق کوی ﴿۲﴾ **مجرد**:صرف

ترجمه و تشریح فرمائیلی دی امام ابوحنیفه رحمه الله نه زائله کیږی ملك د واقف د وقف څیزنه مګردا چه حکم اوکړی په دې (وقف) باندې حاکم اویا معلق ئې کړی په مرګ خپل پورې (واقف) چه اووائی کله چه زه مړ شم نوما وقف کړې دې کورخپل د فلانی کاردپاره

وَقَالَ أَبُويُوسُفَ (يَزُولُ مِلْكُهُ بِمُجَرَّدِ الْقَوْلِ.

ترجمه و تشریح اوفرمائی امام ابویوسف رحمه الله زائله کیږی ملك دده (واقف د وقف څیزنه) صرف په وینا دده (چه داسې اووائی. ماخپل دا څیزوقف کړې دې)

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَايَزُولُ حَتّٰى يَجْعَلَ لِلْوَقْفِ وَلِيًّا وَيُسَلِّمَهُ إِلَيْهِ)

ترجمه و تشریح اوفرمائی امام محمد رحمه الله نه زائله کیږی(ملك دواقف دوقف نه) تردې چه اوګرځوی دوقف څیزدپاره متولی اوحواله ئې کړی هغه (متولی) ته

صحة قضاء الحاكم صاحب د هدایه فرمائیلی دی چې(صاحب دقدوریؒ) په کتاب (قدوری) کښې چه نه زائله کیږی ملك دواقف (دوقف نه) مګردا چه حکم اوکړی په دې (وقف) باندې حاکم (دقاضی د حکم صورت به دا وی. چه زید یوڅیزوقف کړلو. اویوکس ئې پرې متولی مقررکړلو. اوددې وقف نه پس بیا د متولی نه ذ وقف د واپسئ مطالبه کوی. نوهغه د ورکولونه انکاراوکړی. اوجګړه قاضی ته لاړه شی. اوقاضی د وقف فیصله اوکړی) اویا ئې معلق کړې په مرګ خپل پورې (یعنی واقف داسې اووائی. چه دا څیزدې زما د مرګ نه پس وقف وی) اودا (خبره) په حکم د حاکم کښې صحیح ده. (یعنی وقف هله صحیح کیږی. چه حاکم د وقف حکم اوکړی) څکه چه دا (حکم دحاکم) فیصله ده په یوه مجتهد فیه مسئله کښې(څکه چه د امامانو په کښې اختلاف دې)

القول الصحيح في مسئلة التعليق بالموت هرچه په باره ده تعلیق کښې (چه وقف معلق کړی) په مرګ پورې، (نود دده دمرګ نه پس د وقف نه دده ملك زائله کیږی) نوصحیح قول دا دې. چه نه زائله کیږی مګردا چه صدقه به کولې شی په منافعو ددغه (وقف) همیشه دپاره (یعنی داامام ابوحنیفه رحمه الله نه چه نقل دی. چه یوسړې وقف په خپل مرګ پورې معلق کړی. نوچه کله دې مرشی. دغه څیزدده د ملکیت نه اووتلو. نوپه دې روایت کښې مشائخو اختلاف کړې دې. چا فرمائیلی دی. چه دا قول صحیح دې. اوچا فرمائیلی دی. نوچه دا قول صحیح نه دې. بلکه صحیح قول دا دې. چه په مرګ سره هم د واقف ملکیت د وقف نه نه زائله کیږی. البته دا ده چه ددغه وقف منافع به همیشه دپاره صدقه کولې شی) نواوګرځیدلو (دا وقف) پشان د وصیت د منافو همیشه دپاره (یعنی چه یوکس دا وصیت اوکړی. چه زما د مرګ نه پس به زما د فلانی کورکرایه همیشه دپاره زیدچه یواجنبی سړې وی. هغه اخلی) نولازمیږی (یعنی څنګه چه د چا دپاره دخپل څیزد منافعو وصیت صحیح کیږی. دغه شان دمرګ نه پس چه د وقف کوم منافع وی. دهغې وقف هم صحیح کیږی)

المراد من الحاكم اومراد د حاکم نه (کوم چه صاحب دقدوریؒ په متن کښې ذکرکړې دې) مولی (په تشدید د لام سره) دې (یعنی هغه کس چه بادشاه ورته د قضاء کارپه حواله کړې وی) اوهرچه محکم (په تشدید د کاف سره) دې. (یعنی هغه کس چه په یوه خاصه واقعه کښې ورته بادشاه د فریقینوپه رضا سره د فیصلې کولو اختیار ورکړې وی) نوپه دې محکم کښې اختلاف دمشائخودې(یعنی د بعضې مشائخو په نیزدده په فیصله باندې حکم نه لازمیږی. اود بعضې مشائخوپه نیزدده حکم نافذ دې. اود نفوذ قول زیات صحیح دې. دغه شان په خلاصه کتاب کښې دی)

وقف څيزدچا په ملکيت کښې داخليږي؟

(وَإِذَا صَحَّ الْوَقْفُ عَلَى اخْتِلَافِهِمْ خَرَجَ مِنْ مِلْكِ الْوَاقِفِ وَلَمْ يَدْخُلْ فِي مِلْكِ الْمَوْقُوفِ عَلَيْهِ)

ترجمه و تشريح< اوكله چه صحيح شو وقف بناء په اختلاف ددوى (يعني دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزنه صحيح كيږى د اصل د روايت په بناء اودصاحبينو رحمهما الله په نيزصحيح كيږى) نو اوځى (وقف) د ملكيت د واقف نه اونه داخليږى په ملك دموقوف عليه (چه په چا باندې وقف شوې وى)

دلائله< ① ځكه چه دا (وقف) كه چيرته داخل شى په ملك د موقوف عليه كښې نو موقوف به نه وى (دغه وقف څيز په ملك دده (موقوف عليه بلكه د ده دپاره به جائز وى چه دغه څيز دځپل ملكيت نه د خرڅولوهبه كولووغيره تصرفاتو سره اوباسى.نومثلاً كه موقوف عليه دغه وقف څيز په چا باندې خرڅ كړى.نوهغه به موقوف نه وى) بلكه نافذبه وى خرڅول دده (موقوف عليه) پشان د ټولو مملوك څيزونو دده (موقوف عليه يعني لكه څنګه چه دې خپل نور مملوك څيزونه خرڅولى شى.دغه شان به وقف څيزهم خرڅولې شى،خو موقوف عليه په وقف كښې دا تصرفات نشى كولې.نومعلومه شوه.چه وقف دده په ملكيت كښې نه دې داخل)

② اوبله دا چه دې (موقوف عليه) كه چيرته مالك شى ددې (وقف) نو نه منتقل كيږى دده (موقوف عليه نه بل چاته) په شرط د مالك اول (ځكه چه اولنى مالك دا شرط كړې وو.چه ددې منافع به فقراء او مستحقينو ته ملاويږى.اوهركله چه موقوف عليه دغه وقف څيز خرڅ كړلو.نوبيا مشترى دهغه څيز مالك شو.دفقراؤ په هغې كښې څه حق پاتې نشو) پشان دټول مملوك څيزونو دده (موقوف عليه،يعني كله چه د اول مالك شرط ته اوكتلې شى.چه هغه دا ونيلى وو.چه ددې څيزمنافع ما فقراؤ دپاره مخصوص كړى او وقف كړى دى.نوموقوف عليه دوقف شوى څيز داسې مالك نه جوړيږى.لكه څنګه چه د نورو څيزونو مالك وى .ځكه چه په نورو څيزونوكښې دې هرقسمه تصرف كولې شى.خوهركله چه په وقف كښې د خرڅول هبه كولو وغيره تصرف نشى كولې.نومعلومه شوه.چه وقف د موقوف عليه په ملكيت كښې نه داخليږى)

دمشاع زمكې په وقف كولوكښې اختلاف

(وَوَقْفُ الْمُشَاعِ جَائِزٌ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ)[1]

ترجمه و تشريح< فرمائى (صاحب د قدورى رحمه الله) او وقف د مشاع (يعني هغه زمكې چه تقسيم نې نه وى شوې.بلكه دبل چا د زمكې سره خلط وى) جائز دې په نيزدامام ابويوسف رحمه الله

دليله< ځكه چه تقسيم د تمام د قبض څنى دې. (يعني په يوڅيزباندې هله مكيت راځى.چه په هغې باندې قبضه راشى.اوپه مشاع كښې قبضه هله راځى .چه تقسيم اوشى) اوقبضه په نيزدده (امام ابويوسف رحمه الله) نه دې شرط نودغه شان به تتمه ددې (قبض چه تقسيم دې) هم نه وى شرط (يعني دامام ابويوسف رحمه الله په نيزپه يوڅيزباندې د ملكيت راتلو دپاره قبضه شرط نه ده.بلكه كه قبضه پرې نه وى شوې.اود متعاقدينو په مينځ كښې په قول سره ايجاب اوقبول اوشى .نودمشترى ملكيت ثابت شو.اوهركله چه قبض شرط نه دې.نوكوم چه په هغې باندې قبضه پوره كيږى.چه په يومشاع څيزكښې تقسيم دې.نوتقسيم هم شرط نشو. اوچه تقسيم شرط نه شو.نو واقف كښې يومشاع زمكه وقف كړى.دغه وقف به صحيح كيږى)

---

[1] القول الراجح هوهذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في مجمع الأنهر (۷۴۳/۱) والخانية (۳۰۳/۴) والهندية (۳۶۵/۲) وشرح عقود (ص، ۸۹) نقلاً عن القول الراجح (۵۲۲/۱).

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَايَجُوزُ

حل اللغة> ① **الشيوع**: ناقابل تقسيم

ترجمه و تشريح >اوفرمائی امام محمد رحمه الله جائزنه دي (وقف دمشاع ځيز)

دليله> ځکه چه اصل (په ملکيت کښې چه په يوځيزباندې ملکيت راځي) قبض دې په نيزدده (امام محمد رحمه الله) باندې شرط دې (يعنی که مشتري يوځيز واخستلو.خو په هغې باندې ئې قبضه نه وی کړې.نودده ملکيت ثابت نه دې) نودغه شان به شرط وی هغه ځيز چه تتمه ددې (قبض) ده (چه تقسيم دې.اوپه مشاع کښې تقسيم لانه وی شوې.نولکه څنګه چه دهغې خرڅول صحيح نه دی.دغه شان دهغې وقف هم صحيح نه دې)

صورة عدم شرطية القبض> اودا (جواز د وقف) په هغه ځيز کښې دې چه احتمال لري د تقسيم (لکه داسې زمکه وی.چه تقسيم کيدې شی.اوکله تقسيم شی.نود هرې يوې حصې نه فائده اخستې شی) اوهرچه هغه ځيزچه احتمال نه لری د تقسيم نو جائز دې (په هغې کښې وقف) سره د شيوع نه په نيزدامام محمد رحمه الله هم (يعنی امام ابويوسف رحمه الله خوپه هغه زمکه کښې دوقف د جواز قائل دې. چه مشاع وی.که تقسيم شوې وی اوکه نه وی.اوکه تقسيم کيدې شی اوکه نشی.اوامام محمد د هغه ځيزد وقف قائل نه دې.چه تقسيم شوې نه وی.خواحتمال د تقسيم لری. اوکه دتقسيم احتمال نه لری. (مثلاً يو مشينری وی.چه هغه نشی تقسيم کيدې.ځکه چه تقسيموی ئې اوځه پرزې يواځلی.اوځه بل نو د دوارو د کارنه اوځي.نوپه داسې ځيزکښې داامام محمد رحمه الله په نيزهم وقف جائزدې)

د وقف تمام کيدل

وَلَايَتِمُّ الْوَقْفُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ حَتَّى يَجْعَلَ آخِرَهُ بِجِهَةٍ لَاتَنْقَطِعُ أَبَدًا.

ترجمه و تشريح >فرمائی (صاحب دقدوری رحمه الله) اونه پوره کيږی وقف په نيزدامام ابوحنيفه اومحمد رحمه الله تردې چه مقررکړی په آخرد هغې (وقف) کښې داسې يومصرف چه نه ختميږی هميشه دپاره (اوهغه داسې مصرف نه وی.چه يوځل په کښې خرچ کړې شی.اوبيا په هغې کښې د خرچ کولوموقع نه وی.بلکه چه هميشه دپاره مصرف وی.مثلاً چه دا اووائی.دا مال دې د دينی مدارسو د طالبانوپه تعليم باندې خرچ کړې شي. نو هر کله چه دغه مال په دينی علم کښې اولګی.نودا داسې سلسله ده.چه کله هم نه ختميږی. بلکه د دوی شاګردان به پيدا شی.اوبيا به د هغوی شاګردان پيدا شی.اودغه شان به دا سلسله د علم خوريدو روانه وی.او واقف ته به ثواب رسی)

دليلهما> دطرفينو رحمهما الله دپاره دليل دا دې.چه موجب (حکم) د وقف زوال د ملك دې (چه دواقف د ملکيت نه وقف ختم شی) بغيرد تمليك (مالك جوړولودبل چا) نه (يعنی وقف د واقف د ملك نه اوځی. خودبل چا په ملکيت کښې هم نه داخليږی) اودا (زوال د ملك بغيرد تمليك نه) هميشه دپاره وی. (دا نه چه دځه وخت دپاره ترې د واقف ملك زائله شی.اوبيا ورته واپس شی) پشان د عتق (ځکه چه يوځل غلام آزاد شی.نود مولی ملك هميشه دپاره زائله شو.دوباره ئې په دغه غلام باندې ملکيت نشی راتلې) نوهرکله چه وی مصرف هغه (چه متعين کړی وی واقف دپاره د وقف) چه ګمان کيدې شی دختميدو دهغې (مصرف) نو نه پوره کيږی د هغې (ختميدونکی مصرف) نه مقتضا (دوقف ځکه چه د وقف مقصد خو دا وی.چه هميشه دپاره واقف ته د هغې ثواب رسی)اوددې وجې (چه مقتضا دوقف هميشوالې دې)دې وقت مقررکول(په وقف کښې) باطلونکې ددې (وقف دپاره ،مثلاً يوکس د لسو

کالو دپاره یو څیز وقف کړلو.نو دغه وقف نه صحیح کیږي.بلکه په دې موده مقررکولو سره وقف باطل شو لکه وخت مقررکول په بیع کښې (مثلاً که زید بکرته اووائي.چه ما په تاباندې دا څیز مثلاً د لسو ورځو دپاره خرڅ کړلو.نو دا توقیت صحیح نه دې.بیع نه صحیح کیږي)

وَقَالَ أَبُويُوسُفَ: إِذَاسَمَّى فِيهِ جِهَةً تَنْقَطِعُ جَازَوَصَارَبَعْدَهَالِلْفُقَرَاءِوَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِمْ.(١)

ترجمه و تشریح اوفرمائي امام ابویوسف رحمه الله کله چه یاد کړي په دې کښې یو مصرف چه ختمیږي (اوهغه مصرف همیشه دپاره نه وي.نوهم) جائزدې اوګرځي (دغه وقف څیز) پس ددغه (مصرف د ختمیدو نه) دپاره د فقیرانو اګرچه نه ئې وي یاد کړي دوي (یعنی فقیران، یعنی دا ئې نه وي وئیلې.چه کله دا مصرف ختم شي.نوبیا دې دا وقف مال په فقیرانو باندې خرڅ کولې شي، مثلاً داسې اووائي.چه زمونږ په جمات کښې په دې رمضان کښې خومره مسافرافطارکوي.نو په هغوی باندې دې خرڅ کړې شي.نو په دغه رمضان کښې به په روژه دارو باندې خرڅ کړې شي.اوچه کله کوژه شي.نوبیا به په عامو فقیرانو باندې خرڅ کولې شي)

دلیله دامام ابویوسف رحمه الله دپاره دلیل دا دې.چه مقصود (دوقف) نزدیکت حاصلول دې الله تعالی ته اودا (تقرب الی الله) پوره کیږي په دې (باندې چه وقف د داسې څیزدپاره اوکړي.چه هغه ختمیږي) ځکه چه نزدیکت (الله تعالی ته) کله وي په خرڅ کولوپه داسې مصرف کښې چه ختمیږي اوکله وي په خرڅ کولو کښې چه همیشه وي. (یعنی که په دائمي مصرف کښې خرڅ کړې شي.اوکه په غیردائمي په دواړو صورتونو کښې تقرب الی الله حاصلیږي.اګرچه په غیردائمي مصرف کښې دتقرب سلسله جاري نه وي) نوصحیح کیږي (وقف) په دواړو صورتونو کښې (که مصرف دائمي وي اوکه غیردائمي وي)

دغیرمنقول څیزدوقف جواز

(وَيَصِحُّ وَقْفُ الْعَقَارِ)

ترجمه و تشریح فرمائي (ابو الحسن قدوري رحمه الله) اوجائزده وقف د عقار (هغه زمکه چه دیوخائې نه بل خائې ته نقل کیدې نشي)

دلیله ځکه چه یوې ډلې دصحابه کرامو رضی الله عنهم نه وقف کړې وه دا (عقار) امام حاکم دحضرت زیدبن ارقم رضی الله عنه د خوی نه روایت کړې دې.چه زما د پلار په صفا غرباندې یوکور وو.په هغې کښې به نبی ﷺ دخپلو ملګرو سره جمع کیدل.اوهغوی ته به ئې داسلام دعوت ورکولو.هم په دې کور کښې حضرت عمرفاروق رضی الله عنه هم ایمان راوړې وو.اودې ته به دارالاسلام وئیلې شو.روستو دا کورزیدبن ارقم رضی الله عنه په خپلوخامنو باندې وقف کړلو.دغه شان امام طبراني نقل کړې دې.چه حضرت عثمان رضی الله عنه په پنځه دیرش زره روپۍ باندې بیررومه واخستلو.او وقف ئې کړلو. د حضرت زبیر رضی الله عنه د وقف ذکرپه صحیح بخاري کښې راغلې دې.دغه شان حضرت ابوبکرصدیق حضرت عمراوحضرت علي رضی الله عنهم خپلې زمکې وقف کړې وې.

دنقلي څیزونود وقف عدم صحت

(وَلَايَجُوزُوَقْفُ مَايُنْقَلُ وَيُحَوَّلُ)

ترجمه و تشریح اوجائزنه دې وقف دهغه څه چه نقل کیږي اواړولې شي.فرمائي (مصنف رحمه الله) اودا (قول

(١) القول الراجح هوهذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (١\٧٤٢) والبحرالرائق (٥\١٩٧) والخلاصة (٤\٤٢١) وردالمحتار(٣\٤٠١) نقلاً عن القول الراجح (١\٥٢٤)-

دعدم جواز مطلقا قول دامام ابوحنيفه رحمه الله دي.

(وَقَالَ أَبُويُوسُفَ: إِذَا وَقَفَ ضَيْعَةً بِبَقَرِهَا وَأَكَرَتِهَا وَهُمْ عَبِيدُهُ جَازَ)(۱)

حل اللغة ① **ضيعة**: پټي ② **بقر**: غويان ③ **الحراثة**: كركرونده، زميندارى

مسلك ابي يوسف اوفرمائى امام ابويوسف رحمه الله كله چه وقف كړى پټې سره د هغې دغويانواوكركونكوسره چه هغوى (كركونكى) غلامان وى، نوجانزدي (وقف)

دليله ځكه چه دا (ځيزونه) تابع دى د زمكې په حاصلولو د هغه څه كښې چه هغه مقصود دې، (يعنى چه زمكه وقف كړې شي. نودهغې وقف ځكه صحيح دي. چه دهغې نه فائدې اخستې شى. نودغه شان دا ځيزونه كوم چه ذكرشول. ددې نه بغيرد زمكې نه پيداوار نشي حاصليدې. نودا ځيزونه د زمكې تابع شول. اوچه دهغې تابع شول. نوزمكه ئې اصل شو. اود زمكې وقف جانزدي. دغه شان به د دې ځيزونووقف هم جانز وى)

داسونواو وسلود وقف كولوحكم

(وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَجُوزُ حَبْسُ الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ)

حل اللغة ① **الكراع**: دجنگ اس

ترجمه و تشريح اوفرمائى امام محمد رحمه الله جانزدې بندول د اسونو اود وسلې مطلب ددې (قول دامام محمد رحمه الله) وقف كول ددې (اسونواود وسلې) دى په لاردالله تعالى كښې، اودا (جوازدوقف په دې ځيزونوكښې) استحسان دې.

دلائله ① وجه داستحسان آثارمشهوره دى په دې (وقف د اسونواووسلې) كښې دهغې (آثارو) نه قول د نبى ﷺ دې لكه نبى كريم ﷺ چې فرمائيلى دى وَأَمَّا خَالِدٌ فَقَدْ حَبَسَ أَدْرُعَاوَأَفْرَاسًالَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى (۲). اوهرچه خالد رضي الله عنه دې نوهغه وقف كړى دى زرهې اواسونه په لاردالله تعالى كښې او(دغه شان حضرت طلحه رضي الله عنه وقف كړې وې زرهې خپلې په لار دالله تعالى كښې (۲) د دې حديث وضاحت دا دې چې د حضرت خالدبن وليد رضي الله عنه د وقف ذكردې. نوددې وضاحت دا دې. چه نبى ﷺ حضرت عمر رضي الله عنه د زكاة په راغوندولوباندې ماموركړلو، په هغه وخت كښې ابن جميل، خالدبن وليد اوعباس رضي الله عنهما د زكاة وركولونه انكاراوكړلو، كله چه نبى ﷺ ته ددوى دانكارخبر وركړې شو. نونبى ﷺ اوفرمائيل. ابن جميل ولې انكاراوكړلو. حالانكه دې غريب وو. الله تعالى مالداره كړلو. اودحضرت خالد بن وليد رضي الله عنه په باره كښې ئې اوفرمائيل. تاسويه هغه باندې ظلم كوئ. ځكه چه هغه خو خپل زرهې او سامان جنگ دالله تعالى په لاركښې وقف كړى دى. اودحضرت عباس رضي الله عنه په باره كښې ئې اوفرمائيل. د هغه زكاة زما په ذمه دې. بخارى اومسلم دا واقعه ذكركړې ده.

---

۱) القول الراجح هوهذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في الدرالمختار(۳\۴۰۸) وفتح القدير(۵\۴۳۰) والخانية (۴\۳۰۹) ورد المختار(۳\۴۰۸) نقلاً عن القول الراجح (۱\۵۲۴)-

۱) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه البخارى في الجهاد باب ۸۹ ومسلم في الزكاة رقم ۱۱ وأبوداود في الزكاة باب ۲۲ والنسائى في الزكاة باب ۱۵)_

۲) قال الزيلعي رحمه الله غريب جداً (نصب:۳\۷۳۸)_

دوقف د صحت نه پس د خرخولواوتمليك عدم صحت

(وَإِذَا صَحَّ الْوَقْفُ لَمْ يَجُزْ بَيْعُهُ وَلَا تَمْلِيكُهُ، إِلَّا أَنْ يَكُونَ مُشَاعًا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ فَيَطْلُبُ الشَّرِيكُ الْقِسْمَةَ فَيَصِحُّ مُقَاسَمَتُهُ)

حل اللغة ① **افراز**:جدا كول ② **مقاسمة**:تقسيم كول

ترجمه و تشريح فرمائی(ابو الحسن قدوری رحمه الله) اوكله چه صحيح شی وقف جائز نه دی خرڅول ددې (وقف) اونه بل څوك ددې مالك جوړول مګر دا چه وی (دغه وقف) مشاع (غيرتقسيم) په نيزدامام ابويوسف رحمه الله نوچه مطالبه اوكړی شريك د تقسيم نوصحيح كيږی تقسيم دهغه سره (يعنی كه يوكس داسې زمكه وقف كړه. چه په هغې كښې دبل چاحصه هم وه. خولاتقسيم نه وی شوې.اود وقف نه پس هغه مطالبه اوكړه.چه په دې زمكه كښې زما حصه ده.نودامام ابويوسف رحمه الله په نيزددغه غيرتقسيم زمكې نه هغه ته دهغه حصه بيلولې شی)

دليله هرچه منع كول د تمليك دی. (يعنی د وقف نه پس بل څوك ددغه څيزمالك نشی جوړيدې) دهغه وجې چه مونږ بيان كړه (چه دوقف حكم دا دې.چه ددې نه واقف ملك ختم شو.خودبل چا په ملك كښې نه داخليږی) او هر چه جواز د تقسيم دې نوځكه چه دا (تقسيم) تميز دې اوجداوالې (دحصو) دې. (اومنع خو تمليك دې.جدا كول نه دی.يعنی په دغه وقف شوې زمكه كښې د وقف نه روسته بل څوك مالك جوړول نه دی.بلكه د وقف نه وړاندې دغه بل كس ددغه زمكې مالك وو.البته دومره ده.چه وړاندې د وقف زمكې سره خلط وه.اواوس جدا كيږی)

دوقف د آبادئ حكم

(وَالْوَاجِبُ أَنْ يُبْتَدَأَ مِنْ ارْتِفَاعِ الْوَقْفِ بِعِمَارَتِهِ شَرَطَ ذَلِكَ الْوَاقِفُ أَوْلَمْ يَشْتَرِطْ)

حل اللغة ① **الارتفاع**:پورته كول ② **عمارة**:آبادې ③ **الغلة**:محاصل

ترجمه و تشريح فرمائی(صاحب دقدوری رحمه الله) اوواجب دی چه شروع وكړې (اول د حاصلاتو او آمدنئ د وقف نه) په آبادئ د هغې (وقف،برابره خبره ده) كه شرط كړې وی دا (آبادې) واقف اوكه نه ئې وی شرط كړې (يعنی كله چه واقف مثلاً يوه زمكه وقف كړی.نوپكارده چه اول دهغه زمكې د حفاظت انتظام اوكړې شی. اودهغې نه چارديواری تاؤ كړې شی.چه محفوظ شی.كه واقف دا شرط لګولې وی چه زه خپله زمكه وقف كوم.خوپه دې شرط چه ددې د حفاظت دپاره به انتظام كولې شی.اوكه دا ئې نه وی ونيلې.په دواړو صورتونوكښې به اول د وقف دحفاظت انتظام كولې شی)

دلائله ① ځكه چه غرض د واقف (د وقف كولونه) خرچ كول د منافعو(دوقف) دی هميشه دپاره،اونه پاتې كيږی (منافع د وقف زمكې) مګرپه آبادئ سره (چه دهغې نه چار ديوالی تاؤ شی.اومحفوظ شی) نوثابتيږی شرط د آبادی په اقتضاء النص سره (يعنی كله چه واقف وقف اوكړلو.نود وقف مقصد دا وی.چه ددې نه خلق هميشه دپاره فائده اخلی.نودا ضروری شوه.چه ددغه وقف د حفاظت انتظام دې هم اوشی.نوحفاظت ترې په اقتضاء النص سره ثابت شو)

② اوبله دا چه فائده په مقابله د تاوان كښې وی. (يعنی څوك چه فائده اخلی هغه به تاوان هم برداشت كوی.نوواقف چه دچا دپاره زمكه وقف كړې وی.هغه كسان چه فقيران دی.هغوی به ددې وقف د حفاظت انتظام كوی.مثلاً يوكس محكمه اوقاف ته خپله زمكه حواله كړله.چه دا ما وقف كړه.نواوس دا د اوقاف ذمه واری ده.چه ددغه زمكې دحفاظت انتظام اوكړی.اواوقاف پرې خپله خرچ اوكړی) او اوګرځيدلو (حكم ددې وقف) پشان د نفقه د غلام چه وصيت شوی وی په خدمت كولودهغه (غلام) ځكه

چه نفقه په موصی له وی په (عوض) د دې (خدمت یعنی چه یوکس دا وصیت اوکړی.چه زما د مرګ نه پس به زما دا غلام د فلانی خدمت کوی.نوددغه غلام نفقه په موصی له ده.ځکه چه فائده دې اخلی. نو تاوان به هم په ده راځی .دا نه چه خدمت دې د موصی له کوی.او روټئ دې د موصی خوری)

چه ځوك موقوف عليه وی د وقف آبادی به هم په هغه وی

(فَإِنْ وَقَفَ دَارًا عَلٰى سُكْنٰى وَلَدِهٖ فَالْعِمَارَةُ عَلٰى مَنْ لَهُ السُّكْنٰى)

ترجمه و تشریح ﴿فرمائی (ابو الحسن قدوری رحمه الله) که وقف ئې کړلو کورد استوګنې دپاره په خپل اولاد ،نوآبادې به لازم وی په هغه چا چه چادپاره استوګنه وی(یعنی چه دچا دپاره ئې په کورکښې اوسیدل وقف کړی وی.چه ما خپل کورد خپل اولاد د استوګنې دپاره وقف کړې دې.نوکه په دغه کورکښې څه مرمت وی .د هغې خرچه به هم هغه ځوك برداشت کوی.چه دچا دپاره وقف شوې وی.)

دليله﴿ ځکه منافع په مقابله د تاوان کښې وی. (یعنی ځوك چه فائده اخلی.نوهغه به تاوان هم برداشت کوی.دا نه چه اوسیږی دې په کښې موقوف علیه اوخرچ دې پرې واقف یا حکومت کوی) نو اوګرځیدلو(دا صورت د وقف) پشان د نفقه د غلام چه وصیت شوې وی په خدمت دهغه، (یعنی چه یوکس دا وصیت اوکړی.چه زما د مرګ نه پس به زما دا غلام د فلانی خدمت کوی.نوددغه غلام نفقه په موصی له ده.ځکه چه فائده دې اخلی. نو تاوان به هم په ده راځی.دا نه چه خدمت دې د موصی له کوی.او روټئ دې د موصی خوری.نودغه شان دلته د وقف په مسئله کښې هم چه دچا دپاره وقف شوې وی.دآبادئ خرچه به هم په هغه وی)

دموقوف عليه د تعميرنه انكاريا د تعميروس نه لرلو حكم

(فَإِنِ امْتَنَعَ ذٰلِكَ،أَوْكَانَ فَقِيرًا آجَرَهَا الْحَاكِمُ وَعَمَّرَهَا بِأُجْرَتِهَا،وَإِذَا عَمَّرَتْ رَدَّهَا إِلٰى مَنْ لَهُ السُّكْنٰى)

ترجمه و تشریح ﴿که انکاراوکړلو (موقوف علیه) د دې (آبادئ د وقف) نه اویا دا (چه انکارنه کوی.خو وی غریب (چه د آبادولوس نه لری.نوبه دې دواړو صورتونوکښې) په کرایه به ئې ورکړی حاکم اوآباد به ئې کړی په کرایه دهغې (وقف) اوکله چه ئې آباد کړی (اوکرایه ختمه شی.نوکرایه دار به ترې اوباسی) اوواپس به ئې کړی هغه چاته چه دچا دپاره (په کښې) استوګنه وی. (چه واقف دچا د استوګنې دپاره وقف کړې وی.هغه ته به ئې واپس کړی)

دليله﴿ ځکه چه په دې (کرایه ورکولو) کښې خیال ساتل د دواړو حقونودی. ،چه حق د واقف دې اوحق د صاحب د استوګنې دې. (دواقف حق په دې حیثیت دې) که آباد نکړی دغه (وقف ځینې نو ختمیږی (په کښې)استوګنه بیخی (یعنی که آبادی په کښې نه کوی.نودغه کور د اوسیدو قابل نه دې.نوچه د کوم مقصد دپاره واقف دغه کوروقف کړې وو.چه ده ته به ثواب ملاویږی. هغه مقصد پوره نشو.ځکه شار به پروت وی.ځوك به په کښې اوسیدې نشی.نوچه ځوك په کښې اوسیږی نه واقف ته به ثواب څه ملاؤ شی. اودمن له السکنی د حق په کښې په دې حیثیت خیال ساتل دی.چه مرمت په کښې اوشی.نواګرچه دځه میاشتو دپاره به په کرایه ورکړې شی.خوچه کله هغه پیسې ختمې شی.کومې چه ددې په مرمت لګیدلې وی.بیا به په کښې من له السکنی اوسیږی.اوکه مرمت ئې اونشی.نونه په کښې دې اوسیدې شی.اونه بل ځوك) اواوله خبره (چه حاکم په کرایه باندې کور ورکړی. اوپه دغه کرایه باندې په کورکښې آبادې اوکړی.دا ددې نه بهتره ده.چه دغه کوردغه شان ناقابل استعمال پروت وی.اوځوك په کښې اوسیدې نشی)

د وقف پرېوتلي عمارت اوخراب آلاتو مصرف

(وَمَا انْهَدَمَ مِنْ بِنَاءِ الْوَقْفِ وَآلَتِهِ) صَرَفَهُ الْحَاكِمُ فِي عِمَارَةِ الْوَقْفِ إِنِ احْتَاجَ إِلَيْهِ، وَإِنِ اسْتَغْنَى عَنْهُ أَمْسَكَهُ حَتَّى يَحْتَاجَ إِلَى عِمَارَتِهِ فَيَصْرِفَهُ فِيهَا،

حل اللغة> ① **انهدم**: نارېدلي وو

ترجمه و تشریح >فرمائي(ابو الحسن قدوری رحمه الله) اوهغه چه راوغورځيږي آبادي د وقف او (خراب شي) سامان ددې (وقف) نواوبه ئې لګوی حاکم په آبادئ د وقف کښې که چيرته ضرورت وی هغې (سامان ته، مثلاً د وقف کوردیوال راپريوتلو.نوښختې به ئې هم په دغه کورکښې اولګوی.اوواپس به پرې بل ديوال اوخيژوی.يا که دروازه وره دروازه وی.هغه خرابه شي.نوهغه به ترې اوباسي.اوهم په وقف کورکښې به ئې په بل ځائې کښې اولګوی) اوکه ضرورت نه وی (په وقف کوروغيره کښې) هغې (سامان) ته نواوبه ئې ساتي (په محفوظ ځائې کښې) تردې چه ضرورت شی آبادولودهغې ته نو اوبه ئې لګوی په هغې کښې

دليله> ځکه چه ضرورت دې آبادئ (د وقف) ته دې دپاره چه باقي پاتې شي (وقف كوروغيره) هميشه دپاره نو حاصل به شي مقصود د واقف (اومقصود د واقف دا وو.چه ماته هميشه ددې وقف ثواب راسي)

(وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَقْسِمَهُ بَيْنَ مُسْتَحِقِّي الْوَقْفِ)

ترجمه و تشریح >اوجائزنه ده چه تقسيم کړی هغه (زياتي اومات ګوډ سامان) په مينځ د مستحقينود وقف کښې،

دليله> ځکه چه دا (فالتو او زياتي سامان) يوه حصه د ذات د وقف دې.اونشته حق د پاره دهغه چا چه وقف شوی وی په هغوی باندې په دې (په ذات د وقف) کښې بلکه حق ددوی (مستحقينو) دې په منافعو (د وقف) کښې نوشو (دغه زياتي سامان) حق دالله تعالى (اوهرکله چه دالله تعالى حق شو) نونه به شي ورکولې دوی (فقيرانو) ته سوا د حق ددوی نه (يعنې دوی ته به د دوی حق ورکولې شي.چه منافع دی.او ذات د وقف چونکه ددوی حق نه دې.ځکه به دوی ته نشي ورکولې)

دواقف دوقف منافع يا تصرف ځان دپاره ګرځول

(وَإِذَا جَعَلَ الْوَاقِفُ غَلَّةَ الْوَقْفِ لِنَفْسِهِ أَوْجَعَلَ الْوِلَايَةَ إِلَيْهِ جَازَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ)

ترجمه و تشریح >فرمائي(ابو الحسن قدوری رحمه الله) اوکله چه اوګرځوی واقف منافع د وقف دځپل ځان دپاره اويا اوګرځوی ولايت (دوقف) دځپل ځان دپاره نو(دا) جائزدی په نيزدامام ابويوسف رحمه الله

تشریح صاحب الهدایة> صاحب د هدايه فرمائيلي دی چې ذکرکړې (صاحب د قدوری رحمه الله) دوه خبرې (يوه خبره) شرط کړی منافع دځپل ځان دپاره (يعنې وقف په دې شرط اوکړی.چه ددې منافع به هم زما وی) اودوې ګرځولو ولايت (دوقف) دځپل ځان دپاره (يعنې د وقف متولي به زه يم) هرچه اوله خبره ده (چه وقف دځپل ځان دپاره اوګرځوی) دا جائزده په نيزدامام ابويوسف رحمه الله

دليله> دامام ابويوسف رحمه الله دپاره هغه حديث دليل دې.چه روايت شوې دې.يقيناً نبی ﷺ به خوراك كول دځپلې صدقې نه (۱) اومراد ددې (صدقې) نه هغه صدقه موقوفه ده. (يعنې په دې حديث کښې چه

۱) اخرجه الخصاف في الوقف قاله صاحب ،، فيما قات الزيلعي منية الألمعي (ص،۱۰۵)۔

دا راغلي دى.چه نبى ﷺ به دخپلي صدقي نه خوراك كولو.ددې نه هغه صدقه مراد ده.چه نبى ﷺ به هغه وقف كړې وه) اونه دې جائز خوراك ددې (صدقي موقوفه) نه مګرپه شرط كولوسره(نوهركله چه دا ثابته شوه.چه نبى ﷺ دخپل وقف صدقې نه خوراك كړې دې.اودا خوراك به نې خامخا په دې وجه كړې وى.چه د وقف په وخت كښې به نې دا شرط لګولې وو.چه زه دا څيزصدقه كوم.خوددې نه به زه هم خوراك كوم.څكه كه چيرته دا شرط لګول اونه منلې شى.نود نبى ﷺ دپاره خودصدقې خوراك حرام وو) نودلالت كوى (عمل د نبى ﷺ په وقف كښې) په [illegible] ي(شرط) كه يو كس په وقف كښې [illegible] خپل خان دپاره د منافعوشرط اولګوى.بيا هم وقف صحيح دى.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَا يَجُوْزُ

ترجمه و تشريح ﴿اوامام محمد فرمائيلي دى چې جائز نه ده (يعنى چه داامام محمد رحمه الله په قول باندې نظر واچولې شى.نودا معلوميږى.چه دا وقف جائزنه دې) اودا (قول دعدم جواز) قول دهلال رازى رحمه الله دې (خوصحيح دا ده.چه دا هلال بن يحى الرائى دې دغه شان علامه عينى رحمه الله په بنايه كښې فرمائيلي دى) اوپه دې (عدم جواز) باندې قول كړې دې امام شافعى رحمه الله (يعنى داامام شافعى رحمه الله هم دا مذهب دې.چه داسې وقف جائز نه دې)

الرواية الثانية﴿ اوونيلې شوى دى چه اختلاف (په دې مسئله كښې) په مينځ ددوى دواړو (امام ابويوسف اومحمد رحمه الله) په مينځ كښې بناء دې په اختلاف باندې په شرط كولود قبض او جدا والى كښې (يعنى امام ابويوسف رحمه الله په وقف كښې دا نه شرط كوى.چه متولى دې وقف قبض كړى.اوكه مشاع وى.هغه دې جدا كړې شى.بلكه كه متولې قبض كړې نه وى.اوداسې زمكه وى.چه تقسيم شوې نه وى.هم نې وقف جائز دې. او داامام محمد رحمه الله په نيزپه وقف كښې دا دواړه څيزونه شرط دې.يعنى دا چه متولى وقف قبض كړى.اوكه وقف په مشاع كښې وى.چه هغه جدا شى.نوددغه اختلاف په بنياد په زيربحث مسئله كښې چونكه داامام ابويوسف رحمه الله په نيزد وقف قبض اوجدا كول شرط نه دې. نو دا وقف صحيح كيږى. او داامام محمد رحمه الله په نيزچونكه دغه دوا ړه څيزونه شرط دى.اوپه دې زيربحث مسئله كښې قبض او جداوالى نه راځى.څكه دا وقف جائز نه دې) او ونيلې شوى دى چه دا مستقله مسئله ده. (په بله مسئله باندې متفرع نه ده)

محل الاختلاف﴿ اوخلاف (په مينځ داامام ابويوسف رحمه الله اوامام محمد رحمه الله كښې) په هغه صورت كښې دې چه شرط كړى(واقف) بعضې (وقف)دخپل خان دپاره (چه ددې بعضې وقف منافع به زه اخلم) په ژوند خپل كښې اوپس د مرګ دده نه (به وى منافع ددغه وقف) د فقيرانو(مثلاً دده يوكوردې.هغه نې په لس زره روپۍ كرايه وركړې دې.اودې دا اووائى.دا كور ما وقف كړلو.خوپه دې شرط چه ددې نيمه كرايه به زه اخلم. اونيمه به فقيرانوته وركوم.اوچه كله زه مړ شم.نوبيا به ئې فقيران اخلى) اوپه هغه صورت كښې چه شرط كړى(ټول منافع د وقف) دخپل خان دپاره په ژوند خپل كښې اوپس د مرګ دده (واقف) نه (اوګرخوى منافع د وقف) د فقيرانو دپاره (نودا دواړه صورتونه) برابر دى. (يعنى په دواړو صورتونو كښې داامام ابويوسف اوامام محمد رحمه الله اختلاف شته.امام ابويوسف رحمه الله د جواز قائل دې.اوامام محمد رحمه الله دعدم جواز قائل دې)

دليله﴿ وجه د قول داامام محمد رحمه الله (چه دخان دپاره دحصې يا ټول وقف دمنافعوتخصيص نه صحيح كيږى) دا ده.چه وقف احسان دې په طريقه د تمليك (چه بل كس مالك جوړ كړى) په هغه طريقه كومه چه مونږوړاندې بيان كړې ده(چه داامام محمد رحمه الله په نيزپه وقف كښې متولى اومنتظم ته د وقف سپارل ضرورى دى.بغيرددې نه وقف نه صحيح كيږى) نوشرط كول دد(واقف) بعضې (وقف) يا ټول

«وقف» د خان دپاره «چه دا څيزما وقف کړلو.خوددي بعضي يا ټولي منافع به زه اخلم» باطلوی دي «وقف» لره ځکه چه مالك جوړول خپل «خان» دخپل طرف نه نه ثابتيږي. «چه يوکس دي سره يوځيز وی. او د هغي خپل ځان مالك کړی.ځکه چه دا خوتحصيل حاصل دي» نواوګرځيدلو «حکم ددي وقف» پشان د صدقه منفذه «چه دخپل مالك څه حصه يا ټول فقيرته صدقه ورکړی.خويه دي شرط چه ددي بعضي مال به زما وی.نولکه څنګه چه دغه صدقه نه صحيح کيږی.دغه شان دا وقف هم نه صحيح کيږی»

دجمات جوړونکی د جمات نه د ملکيت د زوال وخت

(وَإِذَابَنَى مَسْجِدًالَمْ يَزُلْ مِلْكُهُ عَنْهُ حَتَّى يُفْرِزَهُ عَنْ مِلْكِهِ بِطَرِيقِهِ وَيَأْذَنَ لِلنَّاسِ بِالصَّلَاةِ فِيهِ،فَإِذَا صَلَّى فِيهِ وَاحِدٌ زَالَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ عَنْ مِلْكِهِ)

ترجمه و تشريح>فصل: اوکله چه جوړکړی «يوکس» جمات نو نه ختميږی ملکيت دده «جوړونکی» ددي «جمات دزمکي» نه تردي چه جدا کړی دا «جمات» دملك خپل نه سره د لاري دهغي «جمات يعنی دجمات چه کومه لاره وی.هغه هم جدا کړی.چه دا ددي جمات لاره شوه» اوحکم اوکړی خلقوته د مونځ کولو په هغي «جمات» کښي کله چه مونځ اوکړی په هغي «جمات» کښي يوکس نواووتلو«دغه جمات» په نيزدامام ابوحنيفهؒ د ملکيت دده «جوړونکی» نه

دليله> هرچه «شرطيت د جداوالی دجمات د زمکي دنوري زمکي نه» دي.نوځکه چه دا «جمات» نه خالص کيږی دالله تعالی دپاره «چه دجمات حکم اخلی» مګريه دي «جداکولو» سره اوهرچه «شرطيت دمونځ کول دی» په دي «جمات» کښي ځکه چه ضروری دی حواله کول «دوقف» په نيزدامام ابوحنيفه اومحمدؒ او شرط کولي شي حواله کول موافق د ضرورت سره «دوقف يعنی د طرفينو ؒ په نيز په وقف کښي دا ضروری ده.چه واقف موقوف عليه ته وقف په داسي طريقه باندي حواله کړی.چه ددغه وقف نه کومه فائده اوکوم کاراخستي شي.دهغي قابل شي» اودا «ضرورت پوره کيدل» واقع کيږی په جمات کښي په مانځه سره «چه په جمات کښي مونځ اوشي.نودکوم څيزدپاره چه دا وقف شوی وو.نوهغه مقصد په کښي ادا شو»

(وَقَالَ أَبُويُوسُفَ:يَزُولُ مِلْكُهُ بِقَوْلِهِ جَعَلْتُه مَسْجِدًا)[1]

ترجمه و تشريح>اوفرمانيلی دي امام ابويوسفؒ چه زائله کيږی ملك دده «واقف دجمات نه صرف په قول دده چه ما اوګرځولودا «آبادی» جمات

دليله> ځکه چه سپارل «متولی اوموقوف عليه ته په وقف کښي» نه دی شرط په نيز دده «ابويوسفؒ» ځکه چه دا «وقف» ساقط کول د ملکيت د بنده دی «اوچه دبنده ملکيت تري ختم شي» نوګرځي خالص دالله تعالی دپاره «اودالله دپاره ګرځي» ځکه چه دبنده حق تري ختم شو.او اوګرځيدلو«وقف» پشان د آزادولو«دغلام يا د وينځي» اويقيناً مونږ بيان کړي دي ددي ورانديږ«په اول بيان د کتاب الوقف کښي چه دامام ابويوسفؒ په نيز په وقف کښي تسيم ضروری نه دي.بلکه لکه څنګه په اعتاق کښي صرف په دي وينا باندي ملکيت ختميږی.چه ته آزاد ئي.نودغه شان په وقف کښي د وقف څيزنه ملکيت هم صرف په قول باندي ختميږی.چه دا اووائی.ما دا څيزوقف کړلو.تسيلم ته ضرورت نشته .لکه څنګه چه دامام محمدؒ مذهب دي»

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبي يوسفؒ كذا في فتح القدير(۵\۴۲۴) وردالمحتار(۳\۳۹۳) والهندية (۲\۳۵۱) والبحرالرائق (۵\۱۹۷) نقلاً عن القول الراجح(۱\۵۲۲)-

د مسافرخانه سبیل او مقبره جوړولو حکم

(وَمَنْ بَنَى سِقَايَةً لِلْمُسْلِمِينَ أَوْ خَانًا يَسْكُنُهُ بَنُو السَّبِيلِ أَوْ رِبَاطًا أَوْ جَعَلَ أَرْضَهُ مَقْبَرَةً لَمْ يَزُلْ مِلْكُهُ عَنْ ذٰلِكَ حَتّٰى يَحْكُمَ بِهِ الْحَاكِمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ)

حل اللغة ① **سقاية**: سبیل ،هغه ځائې چه مفتې اوبه په کښې ورکولې شې ② **رباط**: چوکۍ چه اسلامی سرحد حفاظت په کښې کولې شي

ترجمه و تشریح فرمائي (ابو الحسن قدوری رحمه الله) اوچا چه جوړ کړلو سبیل دپاره (دڅکلو) دمسلمانانو اویا مسافرخانه چه اوسیږی په کښې مسافراویا چوکۍ (چه محافظین دملک په کښې اوسیږی) اویا ئې اوګرځوله زمکه خپله مقبره نو نه ختمیږی ملك دده (واقف) ددې (څیزونو) نه تردې چه حکم اوکړی په (وقفیت د) دې حاکم په نیزدامام ابوحنیفه رحمه الله (یعنی کله چه حاکم دا حکم جاری کړی.چه دا څیزدوقف دې،نوهله به وقف ګرځی،صرف ددې څیزونوپه جوړولودا وقف نه ګرځی)

دلیله څکه چه دا (څیزونه) نه دی خالی شوی دحق د بنده نه (بلکه دوقف نه پس هم واقف ددې نه فائده اخلی) ولې ته ګورې نه چه جائز دی ده (واقف) لره چه فائده واخلی ددې نه (اودفائدې اخستلو تفصیل دادې) چه اوسیږی به مسافرخانه کښې اوحصاریږی به چوکۍ کښې اوڅکاك کوی دسبیل نه اوبنخوی (مړی خپل) په مقبره کښې (نوددې تصرفاتود جواز نه دا معلومیږی.چه صرف ددې څیزونوپه جوړولواوخلقو ته ددې داستعمال اجازت ورکولوباندې دا وقف نه ګرځی.بلکه د یویل څیز ضرورت دې.اودهغې بیان دا دې.چه) شرط کولې به شی حکم دحاکم (چه هغه دا فیصله اوکړی.چه دا څیزوقف دې) یا دا چه اضافت اوکړی(واقف د وقف ددې څیزونو) د مرګ نه پس حالت ته (یعنی چه دا اووائی.زما د مرګ نه پس دا څیزونه وقف دی.نوبیا وقف صحیح دې) لکه څنګه چه په صورت د وقف کولوکښې دی په فقیرانو(یعنی چه یوسړې یوڅیزوقف کړی.اووقف په دې طریقه اوکړی.چه دا زما دمرګ نه پس دفقیرانودپاره وقف دې.نولکه څنګه چه دغه وقف صحیح کیږی.دغه شان ددې څیزونو وقف هم صحیح کیږی)

(وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ يَزُولُ مِلْكُهُ بِالْقَوْلِ)[1]

ترجمه و تشریح اوپه نیزدامام ابویوسف رحمه الله ختمیږی ملك دده (واقف ددې څیزونونه صرف په) قول سره (چه دا اووائی.ما دا څیزونه وقف کړی دی.نووقف صحیح شو.دقاضی فیصلې ته ضرورت نشته) لکه څنګه چه دا اصل د دوی (امام ا بویوسف) دې (په وقف کښې)

دلیله څکه چه سپارل (د وقف موقوف علیه) ته نه دې شرط (دوقف دصحت دپاره.بلکه چه صرف په قول سره یوڅیزوقف کړی.نو) وقف لازمیږی.

(وَقَالَ مُحَمَّدٌ إِذَا اسْتَقَى النَّاسُ مِنَ السِّقَايَةِ وَسَكَنُوا الْخَانَ وَالرِّبَاطَ وَدُفِنُوا فِي الْمَقْبَرَةِ زَالَ الْمِلْكُ)

حل اللغة ① **السقاية**: سبیل،د څکولو ځائې ② **خان**: مسافرخانه

ترجمه و تشریح اوپه نیزدامام محمد رحمه الله کله چه څکاك شروع کړی خلق د سبیل نه اواوسیدل شروع کړی په مسافرخانه کښې اوپه چوکۍ کښې اوبنخ کړی (مړی) په مقبره کښې نوختم شو ملك (دواقف ددې څیزونونه)

[1] القول الراجح هو قول أبي يوسف رحمه الله كذا في الخانية (٢٩٦\٤) والبحر الرائق (٢٥٣\٥) والهندية (٤٦٥\٢) نقلاً عن القول الراجح (٥٣٠\١)-

دليله څکه چه سپارل (موقوف عليه) ته شرط دې (په وقف کښې) په نيزددوي (امام محمد رحمه الله) اوشرط سپارل د نوعې دې اودا (سپارل دنوع) په هغه څه راځي.چه مونږ ذکر کړي دی. (چه خلق په مسافرخانه يا په چوکئ کښې اوسيدل اوکړی.اويا دسبيل نه اوبه اوڅکي.اويا په مقبره کښې مړي دفن کړي.يعني چه کوم څيزئې وقف کړي وی.چه هغه دکوم مقصد اوضرورت دپاره وی.چه هغه مقصد تري پوره شي.اګرچه يوځل وی اواګرچه يوکس ئې تري پوره کړي.نوبس وقف صحيح شو)

كِتَابُ الْغَصْبِ

ترجمه (دا) کتاب د غصب (د احکامو په بيان کي) دې.

تشريح د کتاب الوقف او کتاب الغصب په مينځ کښې مناسبت د تضاد او مقابلې دې څکه چې په وقف کښې موقوف عليه دپاره د وقف نه فائده اخستل جائز دی اوپه غصب کښې د غاصب دپاره د مغصوبې نه فائده اخستل ناجائز دی.اوجائز مقدم وی په ناجائز باندې نو څکه ئې وقف مقدم کړو په غصب باندې

الغصب لغة غصب په لغت کي يو شی (څيز) په زبردستئ اخستل دی.که دا شی (څيز) مال وی.او که غير مال وی.(يقال غصب زوجة فلان وخمر فلان)

الغصب شرعا په اصطلاح د شريعت کي د غصب جامع مانع تعريف دا دې.(هو ازالة اليد المحقة باثبات اليد المبطلة) ،، غصب د حقدار قبضه لرې کول او ناحق قبضه کول دی،،

د غصب شوی څيز د تاوان حکم

(وَمَنْ غَصَبَ شَيْئًا لَهُ مِثْلٌ فَهَلَكَ فِي يَدِهِ) چا چې غصب کړو.يو مثلی څيز، او هغه هلاک شو دده سره، (فَعَلَيْهِ ضَمَانُ مِثْلِهِ) نو په ده د هغې مثل واجب دې.

تشريح که مغصوب شی (څيز) هلاک شوې وی.او هغه مثلي وی.يعنی کيلی يا وزنی (مثلاً غنم، اوريشې، دراهم اودنانير وغيره) نو د مغصوب مثل واپس کول ضروری دی.

دليله د الله تعالی فرمان دې((فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ)) چا چې په تا ظلم اوکړو. او که ددې مثل منقطع شوې وی.يعنی هغه بازار کي نه موندلې کيږی.نو ددې قيمت واجب دې.

(وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا مِثْلَ لَهُ) اوکه مغصوب څيز داسې وی چې د هغې مثل نه وی (فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ) نو په ده باندې د هغې قيمت واجب دې

تشريح اوکه داسې څيز غصب کړی چې د هغې مثل نه وی لکه غوا ميخا ګډ وغيره نوکه اصل څيز کوم چې غصب شوې دې موجود نه وی هلاک شوې وی نو په غاصب باندې به د هغې قيمت واجب وی

دليله الله تعالی فرمائيلی دی ((فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ)) يعنی چاچې په تاسو ظلم کړی وی نو تاسو دهغې په مثل ظلم اوکړئ يعنی بدله واخلئ

الاستدلال چې په دې باندې قياس اوکړی شی نو کوم څيز چې غصب شوې وی که هغه موجود نه وی نو دهغې په مثل به د غاصب نه اخستلې شی.اويا د هغې قيمت بر ترې اخستې شی.

(وَعَلَى الْغَاصِبِ رَدُّ الْعَيْنِ الْمَغْصُوبَةِ) او غاصب باندې عين مغصوبه واپس کول ضروری دی.

تشریح> مذکوره حکم هغه وخت دي.کله چې مغصوب شی (څیز) هلاك شوي وی.او که هغه بعینه باقي وی.د هغې واپس کول ضروری دی.

دلائله> ① څکه د نبی کریم ﷺ ارشاد دي.(على اليد ما أخذت حتى تؤدي)[1]

② دغه شان د نبی کریم ﷺ ارشاد دي. (لا يأخذ أحدكم متاع أخيه جاداً ولا لاعباً وإذا أخذ أحدكم عصا أخيه فليردها)[2]

③ او په دې وجه هم چې د سړی قبضه یو مقصودی حق وی.چه په دې سره هرقسمه انتفاع کولې شی.او غاصب دا قبضه ختمه کړله.نو ددې قبضې اعاده په دې طریقه ضروری ده.چه هغه ته هم هغه شی (څیز) واپس کړی.

تشریح> **د مغصوبه څیز اصل حکم**> بیا په قول د مشائخو د غصب اصلی حکم دا دي.چه بعینه هم هغه شی (څیز) واپس کړي شی.پاتې شو قیمت واپس کول، نو دا د خلاصې موندلو لپاره ددې خلیفه دي.څکه چې دا ناقص اداکول دی.کامل ادا کول هم دا دی.چه عین شی (څیز) سره د مالیت نه واپس کړې شی.
او په قول د بعضو مشائخو د غصب اصلی حکم قیمت
واپس کول دی.او عین واپس کول خلاصې دي.

ثمرة الاختلاف> علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه ددې اختلاف ثمره (فائده) په بعضو احکامو کې ښکاره کیږی.مثلاً :

① که د عین موجود کیدو په حالت کې غاصب د تاوان نه بری کړی.نو دا صحیح ده. تردې که ددې نه روسته هلاك شی.نو ضمان نه واجبیږی.که موجب اصلی قیمت نه وې.نو ابراء به نه صحیح کیدله.(لأن الإبراء عن العين لا يصح)

② د مغصوب کفالت صحیح دې.معلومه شوه.چه اصلی موجب قیمت دي.ګنی ښکاره ده.چه د عین کفالت به نه صحیح کیدلو.

③ که د غاصب په ملك کې نصاب وی.او هغه څه شی (څیز) غصب کړې وی.نو هغه باندې زکاة نه واجبیږی.حالانکه د مغصوب د موجود کیدلو په حالت کې د قیمت وجوب د مغصوب په مقابله کې هغه نصاب کم وی.

(فَإِنْ ادَّعَى هَلَاكَهَا بيا که ده دعوه اوکړله.د هغې د ضائع کيدو، حَبَسَهُ الْحَاكِمُ نو قاضي دې هغه قيد کړی. حَتَّى يَعْلَمَ أَنَّهَا لَوْ كَانَتْ بَاقِيَةً لَأَظْهَرَهَا تردې چې معلومه شی که دا مغصوب څيز موجود وې نو خامخا به ئې ښکاره کړې وو ثُمَّ قَضَى عَلَيْهِ بِبَدَلِهَا) اوبيا به په هغه باندې د هغې مغصوبه څيز په

---

[1]) من حديث سمرة رضي الله عنه اخرجه ابوداود في البيوع باب ۸۸ رقم ۳۵۶۱ والترمذي في البيوع باب ۳۹ وابن ماجه في الصدقات باب ۵ رقم ۲۴۰۰ والنسائي في السنن الكبرى (۴۱۱\۳) رقم ۵۷۸۳ والبيهقي في السنن الكبرى (۱۴۶\۶) والدارمي في البيوع باب ۸۸ والحاكم في المستدرك (۴۷\۲) واحمد في المسند(۱۳\۵) وابن ابي شيبة في المصنف كتاب ۱۵)ـ

[2]) من حديث يزيد بن السائب رضي الله عنه اخرجه اخرجه ابوداود في الأدب با ۸۵ رقم ۵۰۰۳ والترمذي في الفتن باب ۳ رقم ۲۱۶۰ واحمد في المسند(۲۲۱\۴) والحاكم في المستدرك (۶۳۷\۳)ـ

مثل حکم اوکړي

تشریح> بیا د کوم ځائي نه چې غاصب دا غصب کړې وو.هم هلته کي واپس کول ضروري دی. ځکه چې د ځائي په مختلف کیدو سره قیمتونه مختلف کیږی.اوس که غاصب دعوه اوکړله.چه مغصوب مال هلاك شو.نو حاکم به دې قید کړی.تردې چې دا خبره ښکاره شی.که دا مال باقي وې. نو هغه به د قید د تکلیفونو نه د خلاصی لپاره ضرور ښکاره کړې وو.یا غاصب ددې په هلاکولو باندې بینه قائم کړي.که دا نه وی.نو قاضی به په دې غاصب باندې د مغصوب مال د عوض حکم ورکوی.

دلیله> وجه دا ده.چه په غاصب باندې بعینه مال واپس کول ضروری او واجب وو.او هلاکیدل عارضی امردې.نوهغه د ظاهر خلاف د عارضی امر مدعی شو.نو خالص دده قول به نه قبلیږی.

نظیره> لکه مثلاً یو اخستونکې (مشتری) چې په ده باندې د مبیع ثمن لازم دې.هغه د خپلې غریبۍ دعوه اوکړی.نو خالی دعوه نه قبلیږی.بلکه هغه قید کولې شی.بیا کله چې د مغصوب مال هلاکیدل معلوم شی.نو عین مغصوب واپس کول به دده د ذمې نه ساقط شی.او د هغې عوض واپس کول به ضروری وی.او عوض هم دغه قیمت دې.

غصب په کومو څیزونو کښې کیږی؟

وَالْغَصْبُ فِيمَا يُنْقَلُ وَيُحَوَّلُ، او غصب هم په هغې کي کیږی.چه هغه منتقل او محول (آخوا) کیدې شی.

تشریح> ددې قول اصل مقصد دا بیانول دی. چې د غصب تحقق صرف په منقوله څیزونو کي کیږی.کوم چې د یو ځائي نه بل ځائي کي ایخودل ممکن وی.او په غیر منقول کي غصب نه متحقق کیږی.صرف د منقول څیزونو د غصب تحقق بیانول مقصود نه دې.ځکه چې نه په دې کي څه خلاف دې.او نه څه اشتباه ده.خلاف او اشتباه خو په غیر منقول کي د غصب په نه متحقق کیدو کي ده.نو مذکوره ترکیب (و الغصب فیما ینقل و یحول) کي قصر او حصر معتبر دې.لکه څنګه چې تاج الشریعة صاحب د عنایه رحمه الله بلکه پخپله صاحب دهدایه رحمه الله هم دې ارخ (طرف) ته اشاره کړې ده.(حیث قال: لأن الغصب بحقیقته یتحقق فیه دون غیره) اوس پاتې شوه دا خبره چې په ترکیب کي اداتِ د حصر کوم دی؟ نو هغه غالباً لام جنس سره د مسند الیه تعریف دې.چه دا مسند باندې د مسند الیه د قصر فائده ورکوی.چه ددې تصریح په علم معانی کي موجود ده.(ومثلوه بنحو: التوکل علی الله، الکرم فی العرب، الأئمة من قریش) د قول مطلب دا دې.

(وَإِذَا غَصَبَ عَقَارًا که عقار (زمکه، عمارت وغیره) ئې غصب کړو. فَهَلَكَ فِي يَدِهِ او هغه دده په قبضه کي هلاك شو. لَمْ يَضْمَنْهُ)نو غاصب به ددې ضامن نه وی. عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ. دا د شیخینو رحمهما الله په نیز دی.

تشریح> دا مسئله په اصل مذکور باندې متفرع ده.په دې وجه د واؤ په ځائي ،،فاء،، سره ،،فإذا غصب،، ونیل پکار دی.لکه چې نورو عامو کتابونو کي په دې موقع باندې کلمه د فاء او په محیط کي کلمه د حتی راوړولې شوې ده.او د تعجب خبره دا ده.چه دلته په مختصرالقدوری کي کلمه د فاء وه.خو علامه مرغینانی رحمه الله په بدایه، او نهایه دواړو کي فاء په واؤ سره بدل کړو.

د شیخینو رحمهما الله مسلك> د شیخینو رحمهما الله په نیز د غصب تحقق صرف په منقول څیزونو کي کیږی.ځکه چې غصب په حقیقت کي اعیان منقوله کي کیږی.غیر منقوله کي نه کیږی.ځکه چې غصب د قبضې د

ازالې نه بغیرنشي کیدي.او د مالك د قبضې ازاله به هغه وخت کیږي.کله چې منقول منتقل کړې شي.حالانکه عقار کې نقل او تحویل نا ممکن دي.

دلیلهما> د شیخینو ﷫ دلیل دا دې.چه د غصب لپاره ازاله د یَد محققه او اثبات د یَد مبطله سره په عین مغصوب کي د غاصب تصرف هم ضروري دې.او دا خبره په زمکه کې غیر متصور ده.ځکه چې د مالك د ید (قبضې) د ازالې صورت هم دا دې.چه هغه د زمکې نه اوشکلې شي.او بنکاره ده.چه اوشکل صرف تصرف فی المال دې.تصرف فی المغصوب نه دې.نو دا داسې شوه.لکه چې د ښاروو د رمې نه ددې مالك لرې (جدا) کړي.چه په دې صورت کې که رمه هلاکه شي.نو غصب نه وی.پا تې شو مذکوره حدیث نو هغه په مدعا باندې دلالت نه کوي.ځکه چې په دې کي نبی کریم ﷺ د زمکې د غصب بدله (او سزا) په طوق سره بیان کړې ده.که ضمان واجبیدو.نو هغه به ئې بیان کړې وو.ځکه چې ضمان د دنیاوی احکامو ځنې دې.او په حدیث کې په زمکه باندې د غصب د لفظ اطلاق مجازاً دې.لکه چې حدیث «باع حراً» کې د حر (آزاد) د بیع لپاره لفظ د بیع وئیلې شوې دې.(والاالزم تحقق البیع فی الحر) ددې نه علاوه په صحیحینو کې د «غصب شبراً» په ځائې «أخذ شبراً» دې.

> وَقَالَ مُحَمَّدٌ:امام محمد ﷫ فرمائي.یَضْمَنُهُ.() چې ضامن به وی.

تشریح> **مسلک محمد**> په مذکوره مسئله کښې د امام محمد قول دې چې ضامن به وی.

دلیله> ځکه چې په یو حالت کې په یو محل باندې د دوه قبضو جمع کیدل ناممکن دی.نو دواړه وصفونه متحقق شو.یعنی ازاله د یَد محققه او اثبات د یَد مبطله، او هم دا غصب دې.نو د عقار حکم داسې شو.لکه مال منقول غصب کول،او د ودیعت انکار کول.چه په دې کې بالاتفاق ضامن کیږي.او په حدیث کې دی.چه کوم کس د چا د یو لیشت برابر زمکه غصب کړي.الله تعالی به د قیامت په ورځ د هغه په سټ کې د اووه زمکو طوق وروا چوی.(صحیحین)

الجواب عنه> د دې دلیل نه جواب دا دې چې په خلاف د منقول، چې مال منقول منتقل کول په دې مال کې یو فعل دې.او هم دا غصب وی.پاتې شوه د ودیعت د انکار مسئله، نو دا خو اول منو نه، بلکه که د یوکس سره ئې عقار ودیعت کیخودو.بیا هغه د ودیعت نه منکر شو.نو د زیات صحیح قول مطابق به بالاتفاق ضامن نه وی.لکه څنګه چې مبسوط کې ذکر دی.او که مونږ (مونږ) اومنو.نو بیا هم د ودیعت په صورت کې د ضمان وجوب ځکه دې.چه د کوم ساتنه (حفاظت) ده التزام کړې وو.هغه ئې پریخودو.او په انکار د ودیعت کې هم دا لازمیږي.په بزازیه کې د شیخینو ﷫ د قول تصحیح ده.خو په عینی، شرح کنز، منح، فتاوی ظهیریه وغیره کې دی.چه په باب د وقف کې فتوی د امام محمد ﷫ په قول ده.

د مغصوبه زمکې حکم

> (وَمَا نَقَصَهُ مِنْهُ بِفِعْلِهِ أَوْسُكْنَاهُ ضَمِنَهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا)او په عقار کې چې کوم څه دده په فعل یا اوسیدو سره ناقص شي.د هغې به ضامن وی.د ټولو په قول کې،

[1]) القول الراجح في هذه المسئلة تفصيل وهو إن كان الغاصب غصب أرضاً أو داراً موقوفاً فالفتوى في هذه الصورة على قول قول محمد ﷫ وإن كان الغاصب غصب أرضاً غير موقوفة فالقول المفتى به هو قول الشيخين ﷫ يفهم هذا الترجيح من الدرالمنتقى (٤\٨١) والبحرالرائق (٨\٢٠٢) ومجمع الأنهر (٤\٨١) والدر المختار (٥\١٣١) وحاشية الزيلعي (٣٤٣) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٦٠)-

تشریح> په مغصوبه عقار(زمکه یا کور وغیره) کي څه غاصب پخپل فعل سره ناقص کړو.یا هغه دده په اوسیدو سره ناقص شو.نو د امام ابوحنیفه، صاحبینو، او د امام شافعي ﷺ د ټولو په قول کي به ضامن وی.د امام محمد او د امام شافعي ﷫ په قول باندي خو وجوب د ضمان ښکاره دې.او هم دغه شان د شیخینو ﷫ په قول باندي هم.ځکه چي داهلاکول دی.اودهلاکولوپه وجه دعقار ضمان واجبیږی لکه (مثلاً) دعقار خاوره اونړه وی.او منتقل ئې کړی.نو ضامن کیږی.ځکه چي دا په عین عقار کي خپل فعل دې.

فائده> د نقصان معلومولو طریقه د نصیر بن یحي د قول مطابق دا ده.چه اودي کتلي شی.چه د استعمال نه وړاندي دا زمکه په څومره باندي په اجاره ملاویدله.او د استعمال نه روسته په څومره ملاویږی.نو کوم فرق چي وی.هم هغه نقصان دې.او د محمد بن مسلمه د قول مطابق د نقصان معلومولو طریقه دا ده.چه اودي کتلي شی.چه دا زمکه مخکي په څومره خرڅیدله.او اوس په څومره خرڅیږی.په دې کي چي کوم فرق(فرق) وی.هم هغه نقصان دې.(قیل رجع محمد إلى قول نصیر).

د غاصب په قبضه کښي د منقولي څيز د ضمان حکم

(وَإِذَاهَلَكَ المغصوبِ فِي يَدِالْغَاصِبِ بِفِعْلِهِ کله چي هلاك شومغصوب شي (څيز) د غاصب په قبضه کي ، دده په فعل سره أَوْبِغَيْرِفِعْلِهِ یا دده د فعل نه بغیر، فَعَلَيْهِ ضَمَانُ)نو دده به ضامن وی.

تشریح> که د غاصب په قبضه کي دده په فعل سره یا دده د فعل نه بغیر مال منقول هلاك شو.نو هغه به ددې ضامن وی.

دلیله> د تیرشوی غصب په ذریعه دا مال دده په ضمانت کي داخل شو.ځکه چي غصب ددې سبب دې.او کله چي ددې د واپسئ نه عاجز شو.نو ددې د قیمت واپسی واجب شوه.یا کوم خلق چي دا واني.چه قیمت واپس کول اصل دې.نو ددې سبب په وجه قیمت مقرر شو.او ددې په وجه مخکښي غصب ددې سبب وی.هغه قیمت به معتبر وی.کوم چي ددې غصب په ورځ وو.

(وَإِنْ نَقَصَ فِي يَدِهِ او که ناقص شو دده په قبضه کي ،فَعَلَيْهِ ضَمَانُ النُّقْصَانِ)نو په ده باندي تاوان د نقصان دې

تشریح> که دا مال منقول هلاك خو نشو.البته دده په قبضه کي عیبدار شو.نو د نقصان به ضامن وی.

دلیله> ځکه چي د غصب په وجه ددې مال واړه (ټول) اجزاء دده په ضمانت کي داخل شو.د کوم جزء چي بعینه واپس کول متعذر وی.د هغې د قیمت واپس کول به واجب وی.

د بل کس د اوبن، وزه (چيلئ) وغيره د نقصان حکم

وَمَنْ ذَبَحَ شَاةَ غَيْرِهِ اوکه د بل چا وزه (چیلئ) ئې ذبح کړله.فَمَالِكُهَا بِالْخِيَارِ، إِنْ شَاءَضَمَّنَهُ قِيمَتَهَا نومالك ته اختیار دې.که غواړی.ددې د قیمت دې ضامن کړی.وَسَلَّمَهَا إِلَيْهِ،او مذبوحه دې هغه ته ورکړی.وَإِنْ شَاءَضَمَّنَهُ نُقْصَانَهَا،او که غواړی.ددې د نقصان دې ضامن کړی.

تشریح> که یوکس د بل چا وزه (چیلئ) د هغه د اجازت نه بغیر ذبح کړله.نو مالك ته اختیار دې.که غواړی.هغه نه دې د وزه (چیلئ) د قیمت تاوان واخلی.او ذبح کړې شوې وزه (چیلئ) دې هغه ته ورکړی.اوکه غواړی.ذبح کړې شوې غوښه دې پخپله واخلی.او هغه نه دې نقصان واخلی.یعنی د مذبوحه او ژوندئ په قیمت کي چي کوم فرق(فرق) وی.هغه نقصان دې واخلی.

دلیله> د وزه (چیلئ) نه مختلف منافع حاصلیږي.مثلاً شوده (پئ) څکل، نسل زیاتول، غوښه خوړل وغیره، او د ذبح نه روسته څه منافع باقي دی.او څه فوت شو.په دې وجه به مالك ته دواړه اختیاره وي.لکه څنګه چې په کپړه کې غټه سوره کولوسره مالك ته د ضمان یا نقصان اختیار وي.

د بل څس په کپړې کښې د نقصان حکم

وَمَنْ خَرَقَ ثَوْبَ غَيْرِهِ خَرْقًا يَسِيرًا که یوکس د بل په کپړه کې معمولی شان سوره اوکړله.ضَمِنَ نُقْصَانَهُ نو هغه به د نقصان ضامن وي.

تشریح> که یوکس د بل په کپړه کې معمولی سوره اوکړله.نو عین مال چونکه په هرشان قائم دې.صرف په دې کې یو عیب راغې.په دې وجه به هغه د نقصان ضامن وي.
دلیله> څکه چې مال عین په هرشان قائم دې.صرف په دې کې نقصان پیدا شو. نو د نقصان به ضامن وي.

(وَإِنْ خَرَقَ خَرْقًا كَثِيرًا يُبْطِلُ عَامَّةَ مَنْفَعَتِهِ او که غټه سوره ئې اوکړله.چه په دې سره ددې اکثر منافع ختم شو. فَلِمَالِكِهِ أَنْ يُضَمِّنَهُ جَمِيعَ قِيمَتِهِ) نو مالك دده نه پوره قیمت تاوان اخستې شي.

تشریح>او که غټه سوره ئې اوکړله.چه هغې سره د کپړې اکثر منافع ختم شو.نو مالك ته به اختیار وي.چه هغه دده نه د پوره قیمت تاوان واخلي.
دلیله> څکه چې دې لحاظ سره دده دا فعل هلاکول دی.ګویا چې ده کپړه اوسوزوله. علامه مرغیناني رحمه الله فرمائیلي دی .چه د ابو الحسن قدوري رحمه الله دقول(فللمالکه أن یضمنه جمیع قیمته) مطلب دا دې.که غواړي.کپړه دې هم دده سره پریږدي.او قیمت دې واخلي.او که غواړي.کپړه دې واخلي.او د هغه نه دې د نقصان تاوان واخلي.څکه چې دا یو لحاظ سره عیب دار کول دی.چه عین کپړه سره د بعضو منافعو باقي ده.

د مغصوبه څیز د بدلیدو حکم

(وَإِذَا تَغَيَّرَتِ الْعَيْنُ الْمَغْصُوبَةُ بِفِعْلِ الْغَاصِبِ حَتَّى زَالَ اسْمُهَا وَعِظَمُ مَنَافِعِهَا کله چې متغیر شی.عین مغصوب د غاصب په فعل سره، تردې چې د هغې نوم او لوئې منفعت زائل شی.زَالَ مِلْكُ الْمَغْصُوبِ مِنْهُ عَنْهَا نو هغې سره د مغصوب منه ملك زائل کیږي.وَمَلَكَهَا الْغَاصِبُ او غاصب به ددې مالك وي.وَضَمِنَهَا،او ددې به ضامن وي.

تشریح>غاصب یو شی (څیز) غصب کړو.او هغه داسې متغیر کړو.چه د هغې نوم او د هغې اکثر مقاصد زائل شو.مثلاً مغصوب وزه (چیلئ) وه.هغه ئې ذبح کړله.او وورته ئې کړله.یا ئې پخه کړله.یا غنم وو.هغه ئې اوړه کړل.یا ئې په پټي کې تخم اوکرلو.یا اوسپنه وه.د هغې نه ئې توره جوړه کړله.یا پیتل وو.د هغې نه ئې لوخې جوړ کړو.یا ئې په داسې کې څه داسې تصرف اوکړو.چه د هغې په وجه هغه د غاصب ملك سره داسې ګډ (ملاو) شو.چه دهغې جدا کول ممتنع شو.مثلاً مغصوب د ساګون لرګې (یو قسم مضبوط لرګې لکه نختر) شهتیر وو. غاصب دهغې نه عمارت جوړ کړو.په پورتنو

صورتونو کي زمونږ په نیز غاصب ددې مالك کیږي. (۱)

دلیله دلیل دا دې.چه غاصب په مغصوب کي یو داسې قیمتی صنعت پیدا کړو.چه د هغې په وجه د مالك حق من وجه ختم شو.او په صنعت کي د غاصب حق ثابت دې.نو دی ته به په اصل باندې ترجیح ورکولې شی.خو چونکه دده حق من کل وجه باقی دې.په خلاف د اصل مالك، چې د هغه حق من وجه فوت شوې دې.آیا نه ګوري.چه ددې نوم بدل شو.او لوئي منفعت ئي ختم شو.او په دې صنعت کي د غاصب حق هر لحاظ سره قائم دې.نو ده ته به اصل حق باندې ترجیح وی.چه هغه په یوه وجه موجود نه دې.

غاصب لپاره د مغصوبه څیز د استعمال حکم

وَلَا يَحِلُّ لَهُ الْاِنْتِفَاعُ بِهَا خو په دې سره به انتفاع حلال نه وی. حَتّٰى يُؤَدِّيَ بَدَلَهَا،

وجه عدم جواز الانتفاع بیا زمونږ په نیز غاصب اګرچه د مغصوب مالك جوړیږي.خو د ضمان ادا کولو نه وړاندې به دده لپاره انتفاع حلال نه وی.د حسن بن زیاد او د امام زفر رحمهما الله په نیز انتفاع حلال ده.د قیاس تقاضه هم دا ده.او د امام صاحب رحمه الله نه د فقیه ابواللیث رحمه الله روایت هم دا دې.هم دا وجه ده.چه غاصب لپاره ملك مطلق ثابت شو.نو انتفاع به جائز وی.آیا نه ګوري.که غاصب دا شی (څیز) هبه یا خرڅ کړی.نو جائز دی. ځکه چې هغه په محظور (او ممنوع) وجه ددې مالك شو.نو دا هم داسې ده.لکه چې د بیع فاسد په طریقه مقبوضه څیز، چې ددې بیع صحیح وی.

فائده د خلاصة الفتاوی د کتاب الغصب په آخر کي د سمرقند د فتاوی نه نقل دی.چه یو سړی طعام غصب کړو.او هغه ئي په چوپلو هلاك کړو.او تیر ئي کړو.نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز ده په حلال طریقه تیر کړې دې.او د پاکیزه کیدو شرط ددوی په نیز د بدل وجوب دې.او د صاحبینو رحمهما الله په نیز بدل ادا کول دی.او فتوی د صاحبینو رحمهما الله په قول ده.

وجه الاستحسان وجه د استحسان د یو انصاری صحابی رضی الله عنه حدیث دې. (قال خرجنا مع رسول الله ﷺ في جنازة فرأيت رسول الله ﷺ وهو على القبر يوصي الحافر أوسع من قبل رجليه أوسع من قبل رأسه فلما رجع استقبله داعي امرأة فجاء وجيء بالطعام فوضع يده ثم وضع القوم فأكلوا فنظر آباؤنا رسول الله ﷺ يلوك لقمة في فيه ثم قال إني أجد لحم شاة أخذت بغير إذن أهلها فأرسلت المرأة يا رسول الله ﷺ إني أرسلت إلى البقيع ليشترى لي شاة فلم أجد فأرسلت إلى جار لي قد اشترى شاة أن أرسل إلي بثمنها فلم يوجد فأرسلت إلى امرأته فأرسلت بها إلي فقال ﷺ أطعميه الأسارى (۲)) ، یوانصاری صحابی رضی الله عنه فرمائی.چه مونږدنبی کریم ﷺ سره په یوه جنازه کي اووتلو.نوما اوکتل

۱) **مسلك شافعي رحمه الله** د امام شافعي رحمه الله په نیز په دې صورتونو کي د اصل مالك حق نه منقطع کیږي.دا یو روایت د امام ابویوسف رحمه الله نه هم دې.او هم دا د امام احمد رحمه الله قول دې.صرف دومره فرق(فرق) دې.که مالك اوړه اخستل اختیار کړی.نو د غاصب نه تاوان نشی اخستلې.ځکه چې دې سره سود لازمیږی.او د امام شافعي رحمه الله په نیز نقصان اخستلې شی.او د امام ابویوسف رحمه الله نه یو روایت دا هم دې.چه ددې نه به (نه به) د مالك شی (څیز) زائل کیږی.خو که غاصب مرشی.نو د اصل مالك په قرضه کي به دا شی (څیز) خرڅولې شی.مثلاً اوړه به خرڅولې شی.او دهغې په مثل به غنم اخستلې شی.او مالك ته به ورکولې شی.او د نورو قرضخواهانو په نسبت به مالك ددې زیات حقدار وی.

۲) من حديث أبي موسى الأشعري رضي الله عنه اخرجه الطبراني في معجمه الكبير كما ذكره الهيثمي في مجمع الزوائد

. چې قبر سره اودریدواو قبر کنستونکی ته ئې تعلیم ورکولو.پښنو (خپو) ارخ (طرف) ته لږ نور هم کلاؤ کړه.سر ارخ (طرف) ته نور هم کلاؤ کړه.کله چې دوی ﷺ راواپس شو.نو یوې ښځې ارخ (طرف) ته رابلونکې راغې.دوی ﷺ هلته تشریف یوړو. خوراك مخې ته راوړلې شو.نو مخکې نبی کریم ﷺ او بیا نورو خلقو لاسونه وراندې کړل.اوخوراك ئې پیل (شروع) کړو. زمونږ مشرانو هغوی اوکتل.چه هغوی هم یوه نوړئ چوپې.(اوهغه دحلق نه ښکته کیږی).بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.داسې معلومیږی چه داسې وزه (چیلئ) ده.چه دا ددې د مالك نه بغیر اخستې شوې ده.هغه ښځې یو کس راولیګلو.اې الله رسوله ﷺ ! ما بقیع ته د وزه (چیلئ) اخستلو لپاره لیګل اوکړو.نو وزه (چیلئ) ملاؤ نشوه.ما خپل ګاونډی ته یو کس اولیګلو.چه کوم وزه (چیلئ) تا اخستې ده.هغه هم په دغه قیمت ما ته راولیګه.هغه ګاونډی هم په کور کې نه وو.نو ما دغه ښځې ته یوکس اولیګلو.هغې وزه (چیلئ) ماته راولیګله.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.دا غوښه قیدیانو بانې اوخوروئ.،

(كَمَنْ غَصَبَ شَاةًلکه (مثلاً) یوکس یوه وزه غصب کړله.فَذَبَحَهَااو ذبح ئې کړله.وَشَوَاهَاهغه ئې وورته کړله.أَوْطَبَخَهَایا ئې پخه کړله.أَوْغصب حِنْطَةًیا ئې غنم غصب کړل.فَطَحَنَهَااو اوړه ئې کړل.أَوْ حَدِيدًایا ئې اوسپنه غصب کړله.فَاتَّخَذَهُ سَيْفًااو د هغې نه ئې توره جوړه کړله.أَوْصُفْرًایا ئې پیتل غصب کړل.فَعَمِلَهُ آنِيَةً)او لوخې ئې جوړ کړو.

تشریح> غاصب یو شئ غصب کړو.او هغه داسې متغیر کړو.چه د هغې نوم او د هغې اکثر مقاصد زائل شو. مثلاً مغصوب وزه وه.هغه ئې ذبح کړله.او وورته ئې کړله.یا ئې پخه کړله.یا غنم وو.هغه ئې اوړه کړل.یا ئې په پټي کې تخم اوکرلو.یا اوسپنه وه.د هغې نه ئې توره جوړه کړله.یا پیتل وو.د هغې نه ئې لوخې جوړ کړو.یا ئې په داسې کې څه داسې تصرف اوکړو.چه د هغې په وجه هغه د غاصب ملك سره داسې ګډ (ملاؤ) شو.چه دهغې جداکول ممتنع شو.مثلاً مغصوب د ساګون لرګې (یو قسم مضبوط لرګې لکه نختر) شهتیر وو. غاصب دهغې نه عمارت جوړ کړو.

د سرو او سپینو زرو د غصب کولو نه روسته د بدلیدو حکم

(وَإِنْ غَصَبَ فِضَّةً أَوْذَهَبًاکه سپین زر یا سره زر ئې غصب کړل.فَضَرَبَهَا دَرَاهِمَ أَوْدَنَانِيرَ أَوْآنِيَةًاو ددې نه ئې دراهم یا دنانیر یا لوخې جوړ کړو.لَمْ يَزُلْ مِلْكُ مَالِكِهَا عَنْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ[1])نو ددې د مالك ملك به نه زائل کیږی.د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز،

تشریح>که غاصب سپین زر یا سرهٔ زر غصب کړل.او ددې نه ئې دراهم یا دنانیر ئې جوړ کړل.یا ئې لوخې جوړ کړل.نو د امام ابوحنیفه او آئمه ثلاثه رحمهم الله په نیز به ددې نه د مالك ملك نه زائل کیږی.نو مالك به دا اخلی.او غاصب لپاره به څه هم نه وی.

دلیله>د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه مال عین په هرشان باقی دې.ځکه چې هم هغه نوم باقی دې.چه د صنعت نه روسته هم دې ته سرهٔ زر او سپین زر وئیلې شی.او ددې اصلی معنی یعنی ثمن کیدل او وزنی کیدل هم باقی دی.تردې چې په دې لحاظ سره چې دا موزونی دی.په دې کې سود جاری

........(۱۷۳\۴)_

[1]) القول الراجح هوقول ابي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (۲۶۴\۸) والكفاية (۲۶۴\۸) وملتقى الأبحر (۸۵\۴) والدرالمنتقى (۸۵\۴) نقلاً عن القول الراجح (۲۶۲\۲)-

كيږي.حاصل داچه سپينو او سروزرو سره متعلق څلور احكام (ثمنيت كيدل، ددې موزون كيدل، د سود جاري كيدل، د زكاة واجبيدل) هم په دې دلالت كوي.چه عين مال په هرشان باقي دې.

مسلك الصاحبين ﷭ صاحبين ﷭ فرمائي.چه غاصب به ددې مالك كيږي.او په ده به ددې د مثل تاوان لازم وي.

دليلهما: ﷭ څكه چې غاصب په دې كې يو معتبر صنعت يعنى نقصان پيدا كړو.چه دې په يوه وجه د مالك حق ختم كړو.څكه چې اوس د غاصب دفعل په وجه ددې نوم بدل شو.څكه چې د سوانچه كولو نه مخكې دې ته سپين زر او سرهٔ زر ونيلى شو.او اوس ورته دراهم او دنانير ونيلې شي.او بعض مقاصد هم ختم شو.چه د سكې نه بغير دا متعين كيدې شو.او اوس نشى متعين كيدې. دغه شان د سكې نه بغير دا د مضاربت او د شركت راس المال كيدلو قابل نه وو.او اوس ددې قابل شو.

الجواب عنه د صاحبينو ﷭ د قول (و التبر لا يصلح راس المال) جواب دې.چه د راس المال كيدلو صلاحيت د صنعت د احكامو څنې دې.چه دا د مال عين نه يو زياتى شى (څيز) دې.نو ددې هيڅ اعتبار نشته.او د (لأنه أحدث صنعة معتبرة) جواب دا دې.چه په سرو او سپينو زرو كې صنعت على الاطلاق قيمتى نه وي.نو صنعت معتبر نشو.څكه چې كله سرهٔ زر په مقابله د سرو زرو، او سپين زر په مقابله د سپينو زرو كې شي.نو ددې صنعت هيڅ قيمت نه وي.بلكه د سرو زرو په مقابله كې سرهٔ زر برابر كيدل پكار دي.گنى د زياتوالى په صورت كې به سود لازميږي.معلومه شوه.چه د صنعت هيڅ قيمت نشته.

په مغصوبه لرګو باندې د عمارت جوړولو حكم

(وَمَنْ غَصَبَ سَاجَةً كه يوكس بركې غصب كړل.فَبَنَى عَلَيْهَا او په دې ئې عمارت جوړ كړو.زَالَ مِلْكُ مَالِكِهَا عَنْهَا نو په دې سره به د مالك ملك زائل كيږي.وَلَزِمَ الْغَاصِبَ قِيمَتُهَا)او په غاصب به ددې قيمت لازم وي.

تشريح كه يوكس بركې (كړئ او لركى چې په آبادئ كې د چت لپاره استعمالولې شي.) غصب كړلې.او په دې ئې عمارت جوړ كړو.نو په دې سره به د مالك ملك زائل كيږي.او په غاصب به ددې قيمت لازم وي.

په مغصوبه زمكه كښې د عمارت او وُنو وغيره حكم

(وَمَنْ غَصَبَ أَرْضًا چاچه زمكه غصب كړله.فَغَرَسَ فِيهَا او په دې كې ئې وُنې اولګولې.أَوْبَنَى يا ئې عمارت جوړ كړو.قِيلَ لَهُ نو ده ته به ونيلې شي.اقْلَعْ الْبِنَاءَ وَالْغَرْسَ چې عمارت او وُنې لرې كړه.وَرُدَّهَا إِلَى مَالِكِهَا فَارِغَةً)او زمكه واپس كړه خپل مالك ته خالى

تشريح كه يوكس د بل چا زمكه غصب كړله.او په هغې كې ئې وُنې اولګولې.يا ئې عمارت جوړ كړو .نو هغه ته به ونيلې شي.چه خپل عمارت وُران كړه.او وُنې اوباسه.او خالى زمكه واپس كړه.

دلائله ① څكه د نبى كريم ﷺ ارشاد دې.(ليس لعرق ظالم حق) (1)

---

1) من حديث سعيد بن زيد﷛ أخرجه ابوداود في الخراج والإمارة باب ۳۷ رقم۳۰۷۳ والترمذى في الأحكام باب ۳۹ والنسائي في السنن الكبرى (۳\۴۰۵) رقم ۵۷۶۱ وأحمد في المسند(۵\۳۲۷)۔

②دوئم (دويم) دليل دا دې.چه د زمکې د مالك ملك باقي دې.ځکه چې زمکه څوك نشي هلاکولي.او په زمکه کې د غصب تحقق نه کيږي.حالانکه ملك لپاره څه نا څه سبب ضرور وی.چه هغه دلته کې موجود نه دې.نو کوم کس چې زمکه بوخت (مشغول) کړې ده.هغه ته به حکم ورکولې شی.چه زمکه خالي کړي.لکه مثلاً يوکس د بل په لوښي کې خپله غله واچوي.نو هغه ته به د لوښي خالي کولو حکم ورکولي شي.

فَإِنْ كَانَتِ الْأَرْضُ تَنْقُصُ بِقَلْعِ ذٰلِكَ اوس که په زمکه کې دده په وړانولو سره نقصان راځي. فَلِلْمَالِكِ أَنْ يَضْمَنَ لَهُ قِيمَةَ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ مَقْلُوعًا نو مالك ته به اختيار وی.چه هغه ورکړي غاصب ته، د وړان عمارت او د اوښکلی شوی ونو قيمت،

تشريح> بيا که په عمارت وړانولو يا په ونو اوښکلو کې زمکې ته نقصان رسيږي.نو مالك ته به اختيار وی.چه هغه غاصب ته د وړان شوی عمارت او د اوښکلې شوې ونو په حساب سره قيمت ورکړي.نو دا دواړه شيان (څيزونه) به د مالك شي.

دليله> ځکه چې داسې کولو کې د دواړو رعايت دې.او دواړو نه ضرر دفع کول دی.ځکه چې غاصب د عمارت وړانولو او د ونو اوښکلو نه منع کولو کې پخپله د هغه ضرر دې.ځکه چې هغه خو د هغه عين مال دې.او د هغې وړانولو او اوښکلو سره خالي زمکه مالك ته سپارلو کې د مالك ضرر دې.«وقد قال ﷺ لا ضرر ولا ضرار في الإسلام».

د قلعي مطلب> په کتاب کې چې دا ونيلي شوی دی.چه د اوښکلو شوو او وړانولو په حساب سره دې ورکړي.ددې مطلب دا دې.چه د داسې عمارت او ونو قيمت دې ورکړي.دکومو د وړانولو او اوښکلو چې حکم ورکړې شوې دې.ځکه چې د غاصب حق هم دومره دې.ځکه چې هغه لپاره په زمکه کې د برقرار ساتلو حکم نشته.اوس ددې طريقه دا ده.چه مخکې د زمکې قيمت د عمارت او ونو نه بغير اولګولي شي.بيا عمارت او ونو سره ددې د قيمت اندازه اوکړې شي.چه کوم فرق(فرق) راشي.هغه دې د زمکې مالك غاصب ته ورکړي.

د مغصوبه کپړې رنګ بدلول يا د څيز د نقصان حکم

(وَمَنْ غَصَبَ ثَوْبًا يوکس کپړه غصب کړله.فَصَبَغَهُ أَحْمَرَ او سور رنګ ئې ورکړو.أَوْ سَوِيقًا يا ئې ستوان غصب کړل.فَلَتَّهُ بِسَمْنٍ او په غوړو کې ئې ملاؤ کړل.فَصَاحِبُهُ بِالْخِيَارِ نو مالك ته اختيار دې.إِنْ شَاءَ ضَمَّنَهُ قِيمَةَ ثَوْبٍ أَبْيَضَ که غواړي.د سپينې کپړې قيمت وَمِثْلَ السَّوِيقِ وَسَلَّمَهُ لِلْغَاصِبِ،او هم هغه شان ستوان دې واخلي.او کپړه او ستوان دې غاصب ته ورکړي.وَإِنْ شَاءَ أَخَذَهُمَا اوکه غواړي.هم دا دې واخلي وَغَرِمَ مَا زَادَ الصَّبْغُ وَالسَّمْنُ فِيهِمَا)او کوم رنګ او غوړو سره چې زياتوالې راغلې دې. د هغې معاوضه دې ورکړي.

تشريح> که يوکس د بل چا کپړه غصب کړله.او سور رنګ ئې ورکړو.يا ئې ستوان غصب کړل.هغې کې ئې غوړي ملاؤ کړل.نو مالك ته اختيار دې.که غواړي.د سپينې کپړې د قيمت تاوان او د خپلو ستوانو په مثل ستوان دې واخلي.او دا کپړه او ستوان دې غاصب ته ورکړي.او که غواړي.دا

دواړه دي واخلي.په رنګ او غوړو سره چې کوم زياتوالې شوې دې.هغه دې ورکړي.د رنګ په مسئله کې د امام مالک رحمه الله په نيز هم دا حکم دې.(۱)

دليله> دليل هم هغه دې.کوم چې وړاندې بيان شوې دې.چه په مذکوره حکم کې د دواړو طرفونو رعايت دې.او د کپړې مالک ته اختيار ځکه ورکړې شو.چه اصل يعنی د کپړې مالک هم هغه دې.

په خلاف د زمکې والا مسئلې، ځکه چې د عمارت وړانولو نه روسته غاصب ته ملبه (متيريل) يعنی خښتې او لرګی وغيره ملاويږي.او رنګ د لرې کولو نه روسته بربادېږي.په دې وجه غاصب ته د رنګ لرې کولو حکم ورنکړې شو.چه د هغه حق فوت نشي.په خلاف ددې که د هوا په چپو سره کپړه اوچته شوه.او په رنګ کې پريوتله.او رنګينه شوه.نو اختيار به نه وي.ځکه چې دې صورت کې د رنګ والا هيڅ جرم نشته. ترڅو چې هغه ضامن اوګرځولې شي.نو کپړې والا به د رنګ قيمت ور کولوسره ددې مالک کيږي.

غصب سره متعلق متفرق مسئلې

وَمَنْ غَصَبَ عَيْنًا يوکس مال عين غصب کړو. فَغَيَّبَهَا او غائب ئې کړو. فَضَمَّنَهُ الْمَالِكُ قِيمَتَهَا او مالک د هغې د قيمت تاوان واخستلو. مَلَكَهَا الْغَاصِبُ بِالْقِيمَةِ نو غاصب به په قيمت سره د هغې مالک وي.

تشريح> که غاصب يوڅيز غصب کړو.او هغه ئې غائب کړو.او مالک ته ئې دهغې د قيمت تاوان ورکړو.نو زمونږ او د امام مالک رحمه الله په نيز به غاصب ددې مالک کيږي.(۲)

لکه يو مدبر غلام غصب کړي.او غائب ئې کړي.او د هغه د قيمت تاوان ورکړي.نو هغه بالاتفاق د هغه نه مالک کيږي.وجه دا ده.چه ملک مشروع دې.او غصب غير مشروع دې.او کوم امر چې غير مشروع وي.هغه د مشروع حاصليدو سبب نه جوړيږي.

دليله> دليل دا دې.چه مالک د مغصوب شي (څيز) د بدل يعنی ددې د قيمت په کمال طريقه مالک شو.او کوم سړي چې د بدل مالک کيږي.نو مبدل د هغه د ملک نه خارجيږي.او د صاحب بدل په ملکيت کې داخليږي.چه د بدل د مالک نقصان لازم نشي.البته ددې لپاره دا ضروري ده.چه په مبدل کې د يوملک نه بل ملک اړخ (طرف) ته د منتقل کيدو صلاحيت وي.او دلته کې دا شرط موجود دې.يعنی مبدل قابل د نقل دې.په خلاف د مدبر، چې هغه قابل د نقل نه دې ,,فافترقا،،

د مغصوبه څيز په قيمت کښې د مالک او غاصب د قول حکم

(وَالْقَوْلُ فِي الْقِيمَةِ قَوْلُ الْغَاصِبِ مَعَ يَمِينِهِ)او د قيمت په باره کې به قول د غاصب مقبول وي.دده په قسم سره، (إِلَّا أَنْ يُقِيمَ الْمَالِكُ الْبَيِّنَةَ بِأَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ)خو که مالک بينه قائم کړي.ددې نه د زياتو،

تشريح> که د مالک او غاصب په مينځ کې د قيمت په باره (باره) کې اختلاف وي.نو د غاصب قول به سره دده د قسم نه مقبول وي.

---

(۱) **مسلک الشافعي رحمه الله>** امام شافعي رحمه الله د کپړې په مسئله کې فرمائي.چه د کپړې مالک ته اختيار دې. چه خپله کپړه خان سره اوساتي.او غاصب ته اوواني.چه ترکومه پورې ممکن وي.خپل رنګ خلاص کړه.

(۲) **مسلک الشافعي رحمه الله>** د امام شافعي او امام احمد رحمهما الله په نيز نه مالک کيږي.دوی دا فرمائي.چه غصب خالص ظلم دې.چه دا د نعمت د ملک سبب نشي کيدې.

دليله ځکه چې مالك د زياتوالي مدعى دې.او غاصب دده منکر دې.او قول د منکر معتبر وی. سره د هغه د قسم نه.البته که مالك دده نه په زيات قيمت باندې ګواهان قائم کړی.نو دده بينه به مقبول وی.ځکه چې ده په حجت ملزمه سره ثابته کړله.

فائده که مالك د ګواهانو قائمولو نه عاجز شی.او د غاصب نه د قسم مطالبه اوکړی. حالانکه غاصب سره داسې ګواهان موجود دی.چه هغه د مغصوب د قيمت لپاره ګواهی ورکوی.نو د غاصب بينه به نه قبليږی. بلکه د هغه نه به (نه به) قسم اخستلې شی.ځکه چې دده بينه د زياتوالي نفی کوی.او کوم بينه چې په نفی باندې وی. هغه نه قبليږی.بيا بعضو مشائخو ونيلی دی.چه د قسم د اسقاط لپاره د غاصب ګواهان قبليدل پکار دی. لکه چې مودع که د وديعت دعوه اوکړی.نو د هغه قول قبليږی.او که هغه په دې باندې ګواهان قائم کړی.نو ګواهان هم قبلولې شی.قاضی ابوعلی نسفی رحمه الله فرمائی.چه دا مسئله مشکله شمارلې شوې ده.او بعضو مشائخو په دې دواړو کې فرق(فرق) کړې دې.او دا خصومت ختم شو.پاتې شو غاصب نو په ده باندې دلته کې قسم او قيمت دوه شيان (څيزونه) لازم دی.او په ګواهانو قائمولو .سره صرف قسم ساقط شوې دې.نو غاصب د مودع په معنی کې نه دې.

(فَإِذَا ظَهَرَتِ الْعَيْنُ بيا که عين مال ښکاره شو.وَقِيمَتُهَا أَكْثَرُ مِمَّا ضَمِنَ او حال دا چې دهغې قيمت دده نه زيات دې.کوم چې غاصب تاوان ورکړو.وَقَدْ ضَمِنَهَا بِقَوْلِ الْمَالِكِ او هغه دده ضامن د مالك په ونيلو.أَوْ بِبَيِّنَةٍ أَقَامَهَا أَوْ بِنُكُولِ الْغَاصِبِ عَنِ الْيَمِينِ يا دده بينه قائمولو، يا د قسم نه د غاصب انکار کولوسره شوې وو.فَلَا خِيَارَ لِلْمَالِكِ نو مالك لپاره به هيڅ اختيار نه وی.وَهُوَ لِلْغَاصِبِ او دا شی (څيز) به د غاصب وی.

تشريح بيا که دا مغصوب شی (څيز) په څه وخت کې ښکاره شو.او د هغې قيمت د هغه مقدار،نه زيات دې.دکوم چې غاصب تاوان ورکړې دې.او تاوان ئې هم د مالك د قول مطابق، يا دده د ګواهانو مطابق، يا د خپل قسم نه د انکار په سبب سره ورکړې دې.نو مغصوب شی (څيز) به د غاصب مملوك وی.او مالك ته به دده اختيار نه وی.

دليله ځکه چې مالك هم دده مقدارمدعی وو.او په دې راضی شوې وو.

(وَإِنْ كَانَ ضَمِنَهَا بِقَوْلِ الْغَاصِبِ مَعَ يَمِينِهِ اوکه مالك د غاصب قول سره د قسم باندې تاوان اخستې وی. فَالْمَالِكُ بِالْخِيَارِ،نو هغه ته به اختيار وی.إِنْ شَاءَ أَمْضَى الضَّمَانَ ،که غواړی.مذکوره تاوان دې جائز اوګرځوی.وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الْعَيْنَ وَرَدَّ الْعِوَضَ)او که غواړی.مال عين دې واخلی.اوعوض دې واپس کړی.

الضمان بقول الغاصب او که غاصب د خپل قول موافق قسم خوړلې وی.او تاوان ئې ورکړې وی.نو مالك ته به اختيار وی.که غواړی.مغصوب شی (څيز) دې واخلی.د هغې ضمان دې واپس کړی.اوکه غواړی.هم دا ضمان دې برقرار اوساتی.

دليله ځکه چې دې مقدار سره دده رضامندی نه وه پوره شوې.ځکه چې دې د زيات مدعی وو.او د زياتوالي نه بغير اخستل، صرف په دې وجه وو.چه دده سره ګواهان نه وو.نو رضامندی ثابته نشوه.

د مغصوبه څيز د زياتوالي حکم

(وَوَلَدُ الْمَغْصُوبَةِ وَنَمَاؤُهَا،د مغصوبه وينځې بچې او دده زياتيدل، وَثَمَرَةُ الْبُسْتَانِ الْمَغْصُوبِ أَمَانَةٌ اود مغصوب باغ ميوې امانت وی. فِي يَدِ الْغَاصِبِ غاصب سره.إِنْ هَلَكَ فِي يَدِهِ د که ضائع شی د هغه په

لاس کې فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ إِلَّا أَنْ يَتَعَدّٰى فِيهَا نو هغه باندې تاوان نشته.خو دا چې غاصب په دې کې تعدی (ذاتي عمل) اوکړی. أَوْ يَطْلُبَهَا مَالِكُهَا فَيَمْنَعُهَا إِيَّاهُ). يا د مالك په طلب كولو باندې دا منع کړی.

تشریح: كه يوه وينځه ئې غصب کړله.او د هغې نه بچې پيدا شو.نو د هغې بچې او كوم څه چې د وينځې منافع وی.دغه شان د مغصوب باغ ميوې د غاصب سره د امانت په طور وی.كه دده په قبضه کې وی.او هلاك شی.نو په غاصب به تاوان لازم نه وی.البته كه په دې کې د غاصب د اړخه زياتوالې اوموندې شی.يا د مالك په طلب كولو باندې دا هغه ته ورنكړی.نو ضامن به وی.امام مالك رحمه الله هم ددې قائل دې.([1])

المراد من نماء المغصوبة: د نماء مغصوبه نه مراد حسن او جمال وغيره دې.پاتې شو هغه منافع كوم چې د غاصب په استغلال (او كوشش) سره حاصل شی.نو هغه د مغصوب د قبيلې څخې نه دی.تردې چې هغې کې زياتوالې كولو سره ضامن شی.کنی (إلا أن يتعدى فيها) استثناء به مستقيم نه وی.ځكه چې دا په غاصب باندې مضمون نه وی.اګرچه دا هلاك کړی.ځکه چې دا منافع د مغصوب عوض دې.او زمونږ په نيز د مغصوب په منافعو باندې ضمان نه وی.نو هم دغه شان به ددې بدل هم مغصوب نه وی.

دليله: دليل دا دې.چه د غصب معنی ده.د غير په مال باندې خپله قبضه په دې طريقه اچول.چه د مالك قبضه زائل کړی.لكه څنګه چې په پيل د كتاب الغصب کې بيان شو.او دلته په زياتوالی باندې د مالك قبضه د مخکې نه د سره ثابت نه وه.تردې چې غاصب دا زائل کړی.نو مذكوره اختلاف د غصب په تعريف باندې مبنی شو.

د بچی پیدا کیدو په وجه مغصوبه وینځه کښې د نقصان حکم

(وَمَا نَقَصَتِ الْجَارِيَةُ بِالْوِلَادَةِ بالولادة فَهُوَ فِي ضَمَانِ الْغَاصِبِ،او كوم نقصان چې راشی په وينځه کې ، د بچی پيدا كيدو په وجه، نو دا به د غاصب په ضمان کې وی. فَإِنْ كَانَ فِي قِيمَةِ الْوَلَدِ وَفَاءٌ بِهِ نو كه د بچی په قيمت سره نقصان پوره شی. جُبِرَ النُّقْصَانُ بِالْوَلَدِ نو هم ددې نه به (نه به) پوره كولې شی. وَسَقَطَ ضَمَانُهُ عَنِ الْغَاصِبِ). او د غاصب نه به (نه به) دا تاوان ساقطيږی.

حل اللغة: وفاء: د واجب حقونو پوره كولو لائق مال، **جبر(ن) جبراً:** درست كول،

تشریح: يو سړی د يوكس وينځه غصب کړله.او د هغې بچې پيدا شو.نو د بچی پيدا كيدو په وجه چې ددې په قيمت کې كوم نقصان لازميږی.د هغې نقصان به په غاصب وی.خو دا نقصان به ددې په بچی سره پوره كولې شی.كه دده قيمت د نقصان برابر وو.اوكه كم وی.نو د قيمت برابر نقصان ضمان به ساقطيږی. مثلاً د مغصوبه وينځې قيمت سل روپئ وو.او د بچی پيدا كيدو نه روسته شپيته روپئ شو.نو كه ددې د بچی قيمت څلويښت روپئ وی.نو نقصان به پوره كولې شی.او وينځه به سره د بچی مالك ته وركولې شی.او په غاصب به هيڅ واجب نه وی.اوكه د بچی قيمت پنځويشت روپئ وی.نو په څلويښت روپو کې به پنځويشت، روپئ حسابولې شی.او په غاصب به د پنځلسو روپو ضمان لازم

---

[1]) امام شافعي او امام احمد رحمهما الله فرمائي.چه د مغصوب شی نه څه قسم زياتوالې حاصل شی.غاصب به دهغې ضامن وی.كه هغه زياتوالې متصل وی.لكه حسن او جمال وغيره يا هغه زياتوالې منفصل وی.لكه بچې وغيره،

وي.خو په قيمت سره نقصان هغه وخت پوره كولې شي.كله چې بچي ژوندې پيدا شي.ګنې غره(يعنې ديت سره به نقصان پوره كولې شي).([1])

دليله> دليل دا دې.چه دلته د زياتوالي او نقصان دوارو سبب متحد دې.او هغه د بچي پيدا كيدل دي. (د صاحبينو رحمهما الله په نيز) يا نطفه قانميدل دى.(د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز). او هركله چې د زياتوالي او د نقصان سبب يو شي (څيز) دې.نو د بچي پيدا كيدل به نقصان نه شمارلې كيږي.نو دا به موجب د ضمان هم نه وي.او دا داسې شوه.لكه چې غټه موټه (سربه) وينځه نې غصب كړله.او هغه كمزورې شوه.او ددې نه روسته بيا سربه شوه.يا ددې مخكې (مخامخ) غابنونه اووتل.روسته بيا راوختل.يا د مغصوب غلام لاس كټ كړې شو.او غاصب جرمانه واخستله.او لاس كټ شوې غلام نې سره د جرمانې واپس كړو.نو په دې درې وارو صورتونو كې نقصان پوره كيږي.

غاصب د مغصوب د منافعو نه ضامن كيږي

(وَلَا يَضْمَنُ الْغَاصِبُ مَنَافِعَ مَا غَصَبَهُ إِلَّا أَنْ يَنْقُصَ بِاسْتِعْمَالِهِ او نه ضامن كيږي غاصب، د هغه شي (څيز) د منافعو، كوم چې ده غصب كړې دې.خو دا چې ناقص شي.دده په استعمال سره، فَيَغْرَمُ النُّقْصَانَ)نو هغه به دَ نقصان تاوان وركوي.

تشريح> غاصب د مغصوب شي (څيز) واپس كولو پورې ددې د منافعو نه ضامن كيږي.كه ده دا منافع بالفعل حاصل كړې وي.اوكه مغصوب شي (څيز) نې بې كاره پريښودې (پريخودې) وي.مثلاً يوسړي د بل كس غلام غصب كړو.او هغه نې يوه مياشت پورې خان سره بند اوساتلو.تردې چې هغه د منافعو غاصب شو.يا نې ددې غلام نه خدمت واخستلو.تردې چې هغه د منافعو هلاكونكې شو.نو زمونږ په نيز به هغه ددې منافعو ضامن نه وي.د صدرالاسلام بزدوى رحمه الله په شرح كافى كې دى. (ليس على الغاصب فى ركوب الدابة وسكنى الدار أجر وهو مذهب علمائنا). البته كه دده په استعمال سره مغصوب كې څه نقصان راغې.نو د نقصان به ضامن وي. ([2])

دليله> دليل دا دې.چه كله غاصب د مغصوب ضامن شو.كه په قيمت سره وي.او كه په مثل سره وي.نو هله دا منافع پيدا شوى دى. نو دا منافع د غاصب په ملكيت باندې پيدا شوى دى.خكه چې هغه دده په امكان او تصرف او قدرت كې دده په فعل او عمل سره حاصل شوى دى.(والكسب للكاسب لقوله عليه السلام كل الناس أحق بكسبه) خكه چې ددې منافعو وجود د مالك په قبضه كې وو.خكه چې منافع اعيان نه دى.بلكه اعراض دى.چه دا باقى نه پاتې كيږي.نو د ضرورت دفع كولو په خاطر به غاصب ددې مالك كيږي.او دا ښكاره ده.چه انسان د خپل ملك نه ضامن كيږي.اوكه د مالك په ملك باندې ددې منافعو حدوث تسليم كړې شي.بيا هم هغه نشى ضامن كيدې.خكه چې منافع غصب كول يا هلاكول غير متصور دى.خكه چې ددې باقى پاتې كيدل نا ممكن دى.او په دې وجه هم چې منافع د اعيانو مثل نشى كيدې.خكه چې دا زر فناكيږي.او اعيان باقى پاتې كيږي.حالانكه د زياتې (او ظلم)

[1] **مذهب الشافعي**:-امام زفر، امام شافعي، او امام احمد رحمهم الله فرمائي. چې د بچي په ذريعه به نقصان نشى پوره كولې.

[2] **مذهب الشافعي**:-د امام شافعي او امام احمد رحمهما الله په نيز به د منافعو هم ضامن وي.نو دومره موده چې ددې شي (څيز) كوم اجر مثل جوړيږي.هغه به د غاصب په ذمه واجب وي.

ضمان په مماثلت باندې مبنی دې.قال الله تعالیٰ ﴿فَمَنِ اعْتَدٰی عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰی عَلَيْكُمْ﴾

د غير متقوم څيزونو د ضمان حکم

وَإِذَا أَسْتَلَفَ الْمُسْلِمُ خَمْرَ الذِّمِّيِّ أَوْ خِنْزِيرَهٗ کله چې هلاك كړى.مسلمان د ذمى شراب،يا دده خنزير ضَمِنَ قِيْمَتَهُمَا،نو ضامن به وى. وَإِنْ اسْتَهْلَكَهُمَا الْمُسْلِمُ لِمُسْلِمٍ اوكه دا شيان (څيزونه) ني هلاك كړل، يومسلمان د بل مسلمان، لَمْ يَضْمَنْ)نو ضامن به نه وى.

تشريح> ددې مسئلې څلور صورتونه دى: ① يو مسلمان د بل مسلمان شراب ضائع كول. ② د ذمى د يو مسلمان شراب ضائع كول.(په كتاب كې دا صورت ذكر نه دې). ③ د يو ذمى د بل ذمى شراب هلاكول. ④ مسلمان د ذمى شراب هلاكول.... په رومبو دوو صورتونو كې په هلاكونكى باندې بالاجماع ضمان نشته.او په آخرى دوو كې زمونږ په نيز ضمان واجب دې.په خلاف د امام شافعى .([1])

دليله> دليل دا دې.چه د ذميانو په حق كې د شرابو او د خنزير قيمتى كيدل باقى دى.څكه چې دا ددوى په حق كې داسې دى.لكه زمونږ په حق كې چې سركه او چيلې ده.او مونږ (مونږ) شرعاً هغوى لره د هغوى په دين باندې په پريخودو مامور يو.نو كوم خلق چې ددې د ماليت معتقد دى.د هغوى ابطال توره كيدې شى.حالانكه د ذمې په وجه توره د هغوى د ذمې نه پورته كړې شوې ده.نو حكم لازمول متعذر دى.او هركله چې ددوى په حق كې تقوم باقى پاتې شو.نو د متقوم مملوك هلاكيدل اومونډې شو.نو ضامن به وى.

كِتَابُ الْوَدِيْعَةِ

ترجمه> (دا) كتاب د وديعت (ايخودلو په بيان كې) دې.

تشريح> په كتاب الوديعت او كتاب الغصب كښې مناسبت د تقابل په اعتبار سره دې هغه دا چې په غصب كښې غاصب په زبردستئ سره د بل په مال قبضه كوى او په وديعت كښې د مودع په اعتماد سره د هغه مال ده سره امانت پروت وى.

الوديعة لغة: وديعة په وزن دَفعيلةٌ د مفعوله په معنى ده.ودع معنىٰ د مطلق ترك (پريښودلو) اووديعت ته وديعت څكه وائى.چه دا امين (امانتدار) سره پريخودلې شى.اود ودع معنى د محفوظ ساتلو هم ده...

يقال ودع وتودم الثوب، ،كپړه ني محفوظ كړله.

الوديعة شرعا> په اصطلاح د شرع كې ايداع دې ته وائى.چه دخپل مال په ساتنه كولو بل چاته قابو (او قدرت) وركړې شى.په دې شرط چې هغه ددې قابل وى.چه هغې باندې قبضه ثابته شى.كه تختيدونكې غلام وديعت كيخودلې شى.يا كوم شئ چې په درياب كې اوغورزيدلو،هغه ني وديعت كيخودلو.نودا صحيح نه ده.كوم شئ چې د بل كس په نګرانئ (او حفاظت) كې پريخودلې شى.هغې ته وديعت وائى.او ددې جمع ودائع ده.

الفرق بين الوديعة والامانة > په وديعت او امانت كې فرق دادې.چه امانت عام دې.او وديعت خاص دې.څكه چې وديعت كې په غير سره حفاظت كول قصداً مطلوب دى.او امانت كله كله د قصد نه بغير هم

---

[1] **مسلك الشافعي واحمد** ﷭> امام شافعى او امام احمد ﷭ فرمائى.كه يو مسلمان د ذمى دا شيان (څيزونه) هلاك كړل.نو په دې كې به هم ضامن نه وى.

کیږي.مثلاً هوا د یوکس کپړه اوچته کړله.اود بل کس په کور کي ني اوغورزوله.نودا کپړه د هغه سره امانت ده.او بله دا چي ودیعت د عقد په ذریعه کیږي.په امانت کي عقد ضروري نه دي.بیا په ودیعت کي ،،اعاده الی الوفاق،، سره ضمانت نه لازمیږي.په خلاف د امانت،چه په دې کي ضمان واجبیږي.خو صاحب د نتائج په دې باندې اوګد بحث کړې دې.د هغې خلاصه داده.چه په دې دواړو کي مباینت دې.

د ودیعت شرعي حیثیت

(الْوَدِيعَةُ أَمَانَةٌ فِي يَدِ الْمُودَعِ)ودیعت مودع سره امانت وی.إِذَا هَلَكَتْ فِي يَدِهِ)که هلاك شي دده سره.لَمْ يَضْمَنْهَا)نو ضامن نه وی.

تشریح> مودع سره مال د ودیعت امانت وی.که دده د فعل (او حرکت) نه بغیر ضائع شي.نو تاوان به نه وی. سفیان ثوری ، امام مالك،امام شافعی رحمهما الله وغیره اکثر اهل علم ددې قائل دی.

دلیله> د نبی کریم ﷺ ارشاد دې عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده «لَيْسَ عَلَى الْمُسْتَعِيرِ غَيْرِ الْمُغِلِّ ضَمَانٌ وَلَا عَلَى الْمُسْتَوْدَعِ غَيْرِ الْمُغِلِّ ضَمَانٌ»[1] چي غیرخائن مستعیر باندې ضمان نشته. او نه په غیر خائن مستودع باندې،

پخپله یا پخپل اهل وعیال سره د ودیعت حفاظت ضروري دي

(وَلِلْمُودَعِ أَنْ يَحْفَظَهَا بِنَفْسِهِ او مودع ته اختیار دې.چه د ودیعت ساتنه اوکړی.پخپله وَبِمَنْ فِي عِيَالِهِ) یا په ذریعه د هغه چا چي دده په عیال کي دی.

تشریح> که مودع د مال ودیعت حفاظت پخپله کوی.یا ني پخپل اهل وعیال کوی.په دواړو صورتونو سره جائز دې.امام مالك او امام احمد رحمهما الله هم ددې قائل دی.[2]

دلیله> ① ابن اسحاق په قوی سند سره ذکرکړې دې. (أنه ﷺ کانت عنده ودائع فلما أراد الهجرة أودعها عند أم أیمن وأمر علیاً رضي الله عنه أن یردها علی أهلها قال فأقام علی بن أبی طالب رضي الله عنه خمس لیال وأیامها حتی أدی عن النبی ﷺ الودائع ألتی کانت عنده للناس)

② ددې نه علاوه د ودیعت مالك ته دا خبره پخپله هم معلومه ده.چه زه د کوم کس سره ودیعت ایږدم.هغه د ودیعت په وجه نه هر وخت په کور کي کیناستلي شي.او نه ودیعت هر یو خائي ته د خان سره اوړلي شي.خامخا به ني د خپل کور والا خلقو سره پریږدی.ددې باوجود چي هرکله هغه ودیعت دده سره ایخودې دې.نو هغه پخپله په دې راضي شوې دې.

المراد من العیال> د عیال نه مراد هغه خلق دی.کوم چي دده سره اوسیږي.که حقیقتاً وی او که حکماً وی.که په نان نفقه کي شریك وی.اوکه نه وی.لکه مثلاً ښځه، اولاد، موراو پلار،خاص ګوانډی ، خپل غلام،وینځه وغیره،(خو په ښځه او ولد صغیر کي حقیقي اوسیدل ضروري نه دی).نو کوم اجنبي چي دده سره اوسیږي. هغه سره د ودیعت په ایخودلو به ضمان نه لازمیږي.بیا ذخیره کي دی.چه اهل وعیال سره د ودیعت ایخودلو جواز هغه وخت دې.کله چي هغه امانت دار وی.ګني جائز نه دې.په فتاوی

---

[1]) من حدیث عمروبن شعیب عن أبیه عن جده عن النبی ﷺ أخرجه الدارقطنی فی سننه (۳/۴۱)برقم ۱۶۸)۔

[2])مذهب الشافعي:-د امام شافعی او اشهب مالکی رحمهما الله په نیز اهل وعیال سره پریښودل جائز نه دی. که ودیعت ضائع شو.نو ضامن به وی.ځکه چي مالك دا شی صرف د مودع په حفاظت کي ورکړې وو.

ابو الليث کي هم دغه شان دی.په خزانة الفقه کي دی. (لا ضمان على المودع الا في ثلاثة أشياء التقصير في حفظها و خلطها بماله و منعها عن مالكها بعد الطلب)

د خپل اهل و عيال نه علاوه باندي د وديعت حفاظت کولو کښي د ضمان حکم

(فَإِنْ حَفِظَهَا بِغَيْرِهِمْ)نو که ددوی نه علاوه باندي ئې حفاظت اوکړو.(أَوْأَوْدَعَهَا غَيْرَهُمْ)يا ئې غير سره وديعت کيخودلو.(ضَمِنَ)نو ضامن به وی.

تشريح> که مودع مال وديعت د خپل عيال نه سوا د بل چا په حفاظت کي ورکړو.يا ئې د بل چا سره وديعت کيخودلو.نو ضامن به وی.

دليله> ځکه چې مالك د مستودع په قبضې سره راضی دې.دغير قبضې سره (راضی) نه دې.نود غير په قبضه کي ورکول، دمالك د رضا نه بغير شو.ممكن ده.

(إِلَّاأَنْ يَقَعَ فِي دَارِهِ حَرِيقٌ)خوکله ئې چې د حفاظت خانې په کرايه باندې اخستې وی.چه په دې صورت کي به دحفاظت ذاتی خانې سره حفاظت کونکې وی. البته که اور اولګی.دده په کورکي ، (فَيُسَلِّمَهَا إِلَى جَارِهِ)نو وردې کړی.خپل ګواندی ته، (أَوْيَكُونَ فِي سَفِينَةٍ)يا دې په کشتئ کي وی. (وهويَخَافُ الْغَرَقَ)او دده ته د ډوبيدلو خطره وی.(فَيُلْقِيَهَا إِلَى سَفِينَةٍأُخْرَى)نو په بله کشتئ کي دې اوغورزوی.

تشريح> د مخکنی قول (فإن حفظها بغيرهم ضمن) نه استثناء ده.مطلب دادې.چه د عيال نه د علاوه په ساتنه کي ور کولـو سره د ضمان وجوب هغه وخت دې.کله چې په قصد او اختيار سره وی.که د مجبورئ په حالت کي ئې ورکړو.نو ضامن به نه وی.مثلاً دده په کور کي اور اولګيدلو.په دې وجه دده خپل ګواندی ته ورکړو.يا دې په کشتئ کي سور وو.نود غرقيدلو د يرې ئې په بله کشتئ کي اوغورزولو.نو ضامن به نه وی.

دليله> ځکه چې داسې صورت کي د ساتنه هم دا طريقه متعين ده.چه مالك به يقيناً هم په دې سره راضی وی.بيا که مودع دا اووائی.چه د ذکرشوی صورت راپيښيدلو په وجه داسې کړی وو.نودا خبره به د ګواهانو نه بغير نشی منلې کيدلې.ځکه چې دده د ارخه غير ته ورکول اومونډلی شو.چه دا موجب د ضمان دې.او هغه په ذکر شوی قول سره د ضمان ساقطيدلو مدعی دې.نو ګواهانو سره ثابتول به ضروری وی.لکه مثلاً که هغه دا اووائی.چه ماته مودع له د ور کولو اجازت راکړې شوې وو.نودا خبره به د ګواهانو نه بغير نه قبليږی.

(وَإِنْ خَلَطَهَا الْمُودَعُ بِمَالِهِ حَتَّى لَاتَتَمَيَّزَ)که مودع مال وديعت خپل مال سره ملاؤ کړو.په داسې طريقه چې نشو جدا کيدلې.(ضَمِنَهَا)نو ضامن به وی.

تشريح> که مودع وديعت خپل مال سره ملاؤ کړو.نو ددې څلور صورتونه دی. ① خلط په طريقه د مجاورت سره دجدا کيدلو په آسانتيا ، يعنی په داسې طريقه ئې يو ځاې کړی.چه جدا کيدلې شی.لکه سپين دراهم د تورو دراهمو سره، يا دراهم د دنانيرو سره، يا غوزان د بادامو سره ملاؤ کړی.نو په دې صورت کي به بلا خلاف ضامن نه وی.

② خلط په طريقه د مجاورت سره د جدا کولو د مشکل کيدلو ، يعنی په داسې طريقه ملاؤ کړی.چه جدا کول متعذر شی.لکه غنم د اوربشو سره ملاؤ کړی.په دې صورت کي به بلا خلاف ضامن وی.

③ خلط د جنس خلاف جنس سره په طريقه د ملاوټ (او حل کولو)،لکه د کونځلو تيل د زيتون تيلو

سره ملاوول،په دې صورت کې به هم بلا خلاف ضامن وي.

④ خلط د جنس مع الجنس،لکه سپين دراهم د سپينو دراهمو سره ملاوول.يا تور دراهم د تورو دراهمو سره ملاوول، يا غنم د غنمو سره اواوربشي د اوربشو سره ملاوول،دا صورت مختلف فيه دي.د امام ابوحنيفه ، امام شافعي ،اود امام احمد رحمهم الله په نيز به ضامن وي. (¹)

دليله> د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دې.چه يو خاني كول هرلحاظ سره د وديعت استهلاك دي.ځکه چې ملاوول يو داسې فعل دې.چه ددې په موجودګۍ کې عين حق ته د مودع رسيدل محال (او ناممکن دی.اود بنده ګانو د اړخه استهلاك هم دادې.چه شئ عيب دار کړی. (وأما إنعدام المحل فبتخليق الله تعالى) پاتې شو تقسيمول نو ددې هيڅ اعتبار نشته.ځکه چې دا خود شرکت د احکامو څخې دی.نودا د شرکت موجب کيدلو نشي لائق کيدلې.يعنې هرکله چې په شرکت کيدلو باندې دا حکم کيږي.چه ويش کړې شی.نو ويش داسې شئ نشی کيدلې.چه دا شرکت واجب کړی.

مذهب الصاحبين> په ذکر شوی څلورم صورت کښې د صاحبينو رحمهما الله په نيز به ده ته اختيار وی.که غواړي.ضمان دې واخلي.او که غواړي .ملاؤ شوی کې دې شريك شي. (وقال مالك رحمه الله شاركه بلا خيار).

دليلهما> دليل دادې.چه مودع لپاره عين حق ته رسيدل صورتاً ممکن نه دی.خو معنًا ممکن دی.په دې طريقه چې مستودع سره ويش اوکړی.ځکه چې کوم شيان کيل يا وزن کيږي. هغې کې ويش سره بالاجماع جداوالي او تعيين کيږي.په دې وجه شريکينو کې هريو خپله برخه د رضا او قضاء نه بغير اخستلې شی.نو وديعت په يو لحاظ سره مستهلك شو.او يو لحاظ سره غيرمستهلك شو.نو که غواړي.د هلاك طرف ته دې مائل شی.ددې د مثل ضامن دې کړی.اوکه غواړي.قيام طرف ته دې مائل شی.او په ملاؤ شوی کې دې شريك شي.

ثمرة الاختلاف> د امام صاحب او صاحبينو رحمهم الله د ذکر شوی اختلاف ثمره (او نتيجه) ده.چه که مودع يوځاني کونکي برى کړو.نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د يوځاني کړې شوی د ويش هيڅ صورت نشته.ځکه چې د دوی په نيز مودع ته صرف د تاوان اختيار وو.کوم چې د مستودع په ذمه واجب وو.او هغه په برى کولو سره ساقط شو.اود صاحبينو رحمهما الله په نيز برى کولو سره صرف د تاوان اختيار ختم شو.نو په يوځاني کړې شوی مال کې شرکت کول متعين شو.

(فَإِنْ طَلَبَهَا صَاحِبُهَا فَحَبَسَهَا عَنْهُ)يا که مالك وديعت طلب کړو.او هغه منع کړو.(وَهُوَيَقْدِرُعَلَى تَسْلِيمِهَا ضَمِنَهَا)حالانکه هغه ورکولې شو.نو ضامن به وی.

تشريح> په مذکوره صورت کښې به مودع ضامن وی.

دليله> ځکه چې هغه منع کولو سره متعدی شو.اودا ځکه چې هرکله مالك وديعت طلب کړو.نو ددې نه روسته هغه ددې په ايخودلو باندې راضی پاتې نشو. نو په منع کولو سره به ضامن وی.

د مودع په مال کښې د وديعت پخپله بغير دده د حرکته د ملاويدلو مسئله

(وَإِنِ اخْتَلَطَتْ بِمَالِهِ مِنْ غَيْرِفِعْلِهِ)که وديعت د مودع په مال کې ملاؤ شو.دده د څه حرکت کولو نه بغير، (فَهُوَشَرِيكٌ لِصَاحِبِهَا)نو دې به د وديعت ايخودونکی انډيوال وی.

¹) القول الراجح هو قول الإمام الأعظم رحمه الله كذا في ملتقى الأبحر(٣\٤٧١) وكنز الدقائق (٣٠٤) والبحرالرائق (٧\٢٧٦) وردالمحتار(٤\٥٥٤) والهندية (٤\٣٤٧) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢١٤)۔

تشریح که د ودیعت مال د مودع د عمل نه بغیر دهغه په مال کښې ګډ شو لکه مال ودیعت په یو لوښي کښې وو. اوپه بل لوښی کښې د مودع خپل ذاتی مال وو. دواړه لوښي مات شول او مال د یو بل سره ګډ شو او تمیز نشو کیدې. نو په دې صورت کښې به دغه مال د صاحب مال او مودع په مینځ کښې مشترك وی او اود شراکت احکام به پرې جاری کیږی.

دلیله په مودع باندې ځکه څه ضمان نشته چې دده په عمل سره په کښې ګډون نه دې راغلی.

(فَإِنْ أَنْفَقَ الْمُودَعُ بَعْضَهَا مودع په ودیعت باندې څه خرچ اوکړو. ثُمَّ رَدَّ مِثْلَهُ که د هغې مثل ئې واخستلو. فَخَلَطَهَا بِالْبَاقِي او باقی کې ئې ملاؤ کړو. ضَمِنَ الْجَمِيعَ) نو د پوره به ضامن وی.

تشریح که مودع د مال ودیعت نه څه خرچ کړې خو بیا ئې هم هغه مقدار د خپل مال نه واپس د هغې سره ملاؤ کړې او بیا دا هلاك شو نو مودع ته به د پوره ودیعت تاوان ورکوی مثلاً د مودع (صاحب ودیعت) پنځه سوه روپئ وې مودع د هغې نه درې سوه اولګولې اوبیا ئې په کښې درې سوه کیخودې د دې نه پس دغه پنځه سوه ټولې هلاکې شوې نو په دې صورت کښې به په مودع باندې د ټولو پنځو سوو تاوان راځی.

دلیله چه یو ځانې کول هرلحاظ سره د ودیعت استهلاك دې. ځکه چې ملاوول یو داسې فعل دې. چه ددې په موجودګئ کې عین حق ته د مودع رسیدل محال (او ناممکن) دی. اود بنده ګانو د ارخه استهلاك هم دادې. چه شئ عیب دار کړی. نو په ده به ضمان واجب وی.

(وَإِذَا تَعَدَّى الْمُودَعُ فِي الْوَدِيعَةِ کله چې مودع په ودیعت کې تعدی (خپل څه حرکت) اوکړو. بِأَنْ كَانَتْ دَابَّةً په دې طریقه چې هغه حیوان (څاروې) وو. فَرَكِبَهَا په هغې سور شو. أَوْثَوْبًا فَلَبِسَهُ یا کپړه وه. هغه ئې واغوستله. أَوْعَبْدًا فَاسْتَخْدَمَهُ یا غلام وو. د هغه نه ئې خدمت واخستلو. أَوْأَوْدَعَهَا عِنْدَ غَيْرِهِ یا ئې دا د بل چا سره ودیعت کیخودلو. ثُمَّ أَزَالَ التَّعَدِّيَ بیا ئې تعدی (خپل تصرف) لرې کړو. فَرَدَّهَا إِلَى يَدِهِ او وانې خلی. خپل خان سره کیږدی. زَالَ الضَّمَانُ) نو ضمان ساقط شو.

تشریح که مودع په ودیعت کې څه قسمه تصرف اوکړو. مثلاً ودیعت کپړه وه. نودا ئې واغوستله. یا حیوان (څاروې) وو. په هغې سور شو. یا غلام وو. د هغه نه ئې خدمت واخستلو. ددې نه روسته ده تعدی ختمه کړله. نو ضمان به هم ختمیږی. (۱)

دلیله امر بالحفظ یعنی ایداع اوس هم باقی ده. ځکه چې د مودع قول، «إحفظ هذا المال»، مطلق دې. چه دا ټولو وختونو ته شامل دې. پاتې شو ارتفاع د حکم یعنی عدم ضمان نودا په دې وجه وو. چه ددې نقیض ثابت وو. او هرکله چې نقیض مرتفع شو. نو حکم د عقد بیا راواپس شو.

د مالك په ودیعت طلب غوښتو د مودع د انکار حکم

(فَإِنْ طَلَبَهَا صَاحِبُهَا که مالك ودیعت طلب کړو. فَجَحَدَهَا إِيَّاهَا او مودع ددې نه منکر شو. ضَمِنَهَا) نو ضامن به وی.

تشریح که مالك خپل ودیعت طلب کړو. او مودع انکار اوکړو. او وې ونیل. چه ما سره هیڅ ودیعت

---

(۱) **مسلك الشافعي:**- د امام شافعی رحمه الله په نیز د ضمان نه نه بری کیږی. ځکه چې هرکله مودع د تعدی (او تصرف) په وجه ضامن شو. نو عقد ودیعت مرتفع شو.

نشته.نو مستودع به ددې ضامن وی.تردې که ددې نه روسته ضائع شي.نو ده له به د ودیعت تاوان ورکول ضروری وی.

دلیله خکه چې کله مالك دده نه د ودیعت واپس کولو مطالبه اوکړله.نوده د امانت د حفاظت نه مودع معزول کړو.نو ددې نه روسته دې د ودیعت ځان سره ساتلو کي غاصب او منع کونکي شو.نو ضامن به وی.

فَإِنْ عَادَ إِلَى الِاعْتِرَافِ بیا که ده اقرار هم اوکړو.د عقد د ارتفاع په وجه.لَمْ يَبْرَأْ مِنَ الضَّمَانِ نو د تاوان نه به نه بری کیږی.

تشریح که مودع په اول کي د ایداع انکار اوکړو.او مالك ته ئي صفا اووئیل.چه تا ما سره ودیعت نه دې ایخودې.بیا ئې د ودیعت اقرار اوکړو.نو په دې صورت کي به مودع نه بری کیږی.بلکه تاوان به لازم وی.ترکومه ئې چې مالك ته اونه سپاری.

دلائله ① یو خو په دې وجه چې عقد د ودیعت ختم شو.ځکه چې د مالك د اړخه د واپسئ مطالبه کول، عقد د ودیعت اوچتول دی.اود مستودع انکار کول دده د اړخه هم فسخ د عقد ده.لکه د وکیل د وکالت نه انکار کول فسخ د وکالت ده.اود بائع او مشتری د بیع نه انکار کول فسخ د بیع وی.نود دواړو طرفونو نه د عقد ودیعت اوچتول پوره شو.

② دوئم ځکه چې ودیعت کي مستودع ته ددې خبرې اختیار وی.چه هغه د مودع په موجودګئ کي اود هغه په خبریدلو کي کله هم اوغواړی.خپل ځان معزول کړی.لکه چې وکیل ته د مؤکل په موجودګئ کي د خپل ځان معزول کولو اختیار وی.اوکله چې عقد ودیعت ختم شو.نو هغه به د تجدید نه بغیر نه واپس کیږی.بیا که ده د ودیعت اقرار اوکړو.بیا به هم هغه امین وی.ځکه چې نائب مالك ته واپس کول اونه موندې شو.ځکه چې د ودیعت فسخ کولو نه روسته هغه نائب پاتې نشو.

مودع ودیعت په سفر کښې اوړلې شي او که نه؟

(وَلِلْمُودَعِ أَنْ يُسَافِرَ بِالْوَدِيعَةِ مودع لپاره جائز دی.ودیعت په سفر کي اوړل.وَإِنْ كَانَ لَهَا حَمْلٌ وَمُؤْنَةٌ () اګرچه په دې کي د بار اوړلو خرچه او مشقت وی.

تشریح مودع لپاره ودیعت په سفر کي اوړل جائز دی.اګرچه ددې په اوچتولو کي د څاروی یا د اوچتونکي د اجرت ضرورت وی.په دې شرط چې مالك نه وی منع کړې.اود ودیعت ضائع کیدلو خطره نه وی.([1])

دلیله د مودع د اړخه د ودیعت د حفاظت امرکول مطلق دی.نو لکه څنګه چې دا زمانې سره مقید نه دې.هم دغه شان به یو خاص ځائې سره هم مقید نه وی.

مسلک الصاحبین د صاحبینو رحمهما الله په نیز که د بار اوړلو او د خرچې کولو حاجت وی.نو په سفر کي اوړل

---

[1]) القول الراجح هو قول الإمام رحمه الله كذا في ملتقى الأبحر(٣\٤٦٩) وردالمحتار(٤\٥٥٦) وخلاصة الفتاوى (٤\٢٨٥) والهندية (٤\٣٤٢) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢١٥)

[2]) **مسلک الشافعي**:-د امام شافعی رحمه الله په نیز دواړو صورتونو کي اوړل جائز نه دی.ځکه چې ددوی په نیز د ودیعت حفاظت په متعارف (د عام رواج مطابق) حفاظت باندې محمول دې. (و هو الحفظ في الأمصار) صاحبین رحمهما الله فرمائی.چه په فرض کړې شوی صورت کي په ده باندې د بار اوړلو اجرت لازم دې.او بنکاره هم داده.چه مودع به په دې سره نه راضي کیږی.

جائز نه دی.

دليلهما دليل دا دي. چې د مالك په ذمه به د واپسئ خرچه لازم وي. كله چې وديعت داسې شئ وي. كله چې په دې كې د بار اوړلو خرچه او مشقت وي. او ښكاره هم داده. چه مالك به په دې سره نه راضي كيږي. نو مطلق به د دې سره مقيد كولې شي.

الجواب عنه د دې نه جواب دا دې. چه دا خرچه دده په ملكيت كې په دې ارتيا سره لازم شوه. چه دده د ساتنه د حكم تعميل اوشي. نو د دې خرچې راوستلو به هيڅ پرواه نشي كولې.

د دوه سرو د مشترك امانت بيان

(وَإِذَا أَوْدَعَ رَجُلَانِ عِنْدَ رَجُلٍ وَدِيعَةً كه دوه سړو د يو كس سره وديعت كيخودلو. فَحَضَرَ أَحَدُهُمَا بيا په دوی كې يو كس راغئ. وَطَلَبَ نَصِيبَهُ مِنْهَا او خپله برخه ئې اوغوښتله. لَمْ يَدْفَعْ إِلَيْهِ شَيْئًا نو مودع به هغه ته هيڅ څه نه وركوی. عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ حَتَّى يَحْضُرَ الْآخَرُ(۱) ترد دې چې دوئم سړې راحاضر شي. د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز.

تشريح دوه سړو څه شئ د مودع سره وديعت كيخودلو. بيا يو سړې راغئ. او د خپلې برخې (حصې) واپس كولو مطالبه ئې اوكړله. نو كه دا شئ د ذوات القيم (د قيمت والا) څني وي. نو مودع لپاره دده برخه وركول بالاجماع جائز نه ده تر هغه وخته پورې چې دوئم سړې حاضر نشي. او كه دا شئ كيلي وي. د امام صاحب رحمه الله په نيز جائز نه دی.

دليله د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې. چه دې خپله برخه نه غواړي. بلكه د غائب برخه هم غواړي. ځكه چې دې مفرز (غيرويش شوې) غواړي. حالانكه دده حق مشاع (خور او ګډ) دې. جدا نه دې. او دده برخه به هغه وخت جدا كيږي. كله چې ويش اوشي. او مودع ته د تقسيمولو اختيار نشته.

(وَقَالَا صاحبين رحمهما الله فرمائي. يَدْفَعُ إِلَيْهِ نَصِيبَهُ) چې د هغه برخه به وركوی.

مسلك الصاحبين په مذكوره صورت كښې د صاحبينو رحمهما الله په نيز جائز دی.

دليلهما د صاحبينو رحمهما الله دليل دا دې. چه ده كوم څه مودع ته سپارلي وو. يعني نصف برخه دې د هغې مطالبه كوي. نو ده ته وركول پكار دی. لكه څنګه چې مشترك قرضه كې كيږي. مثلاً دوه سړو خپل مشترك غلام خرڅ كړو. نو په دوی كې كه يو سړې حاضر شي. نو مقروض نه د خپلې برخې (حصې) مطالبه كولې شي.

فائده په فوائد ظهيريه كې دی. چه دې مسئلې ته مسئلة حمامي وائي. د دې قصه داده. چه دوه سړو د حمام مالك ته هميانئ (بټوه) وديعت وركړله. او حمام كې داخل شو. بيا په دوی كې يو بهر راؤ وتلو. او هميانئ ئې واخستله. او لاړلو. د دې نه روسته دوئم كس راغئ. اود هميانئ مطالبه ئې اوكړله. (دا كيدې شي د دوی دواړو سازش وو). د حمام مالك حيران پاتې شو. چه اوس څه اوكړم. نو ده ته چا اوويل. چه د دې تدبير (چل) امام ابوحنيفه رحمه الله خودلې شي. دې د هغه په خدمت كې حاضر شو. او قصه ئې واوروله. امام ابوحنيفه رحمه الله اوفرمائيل. ته هغه ته دا مه وايه. چه ما هميانئ وركړې ده. بلكه داسې وايه. چه تركومه پورې ستا انديوال رانشي. هميانئ زه نه دركوم. ده هم داسې اوكړل. نو دغه كس مجبوراً د حمام مالك پريښولو.

---

۱) القول الراجح هو قول الإمام رحمه الله كذا في العناية (۷\۴۵۹) نقلاً عن القول الراجح (۲\۶۹۲)

د يوې دوه کسانو سره د امانت ايخودلو مسئله

(وَإِنْ أَوْدَعَ رَجُلٌ عِنْدَ رَجُلَيْنِ شَيْئًا او که يوکس د دوو سړو سره داسې شئ وديعت کيخودلو. مِمَّا يُقْسَمُ کوم چې تقسيميدلې شي. لَمْ يَجُزْ أَنْ يَدْفَعَهُ أَحَدُهُمَا إِلَى الْآخَرِ نو جائز نه دی. دا چې واړه شئ ورکړي په دوی کې يو کس بل ته. وَلَكِنَّهُمَا يَقْتَسِمَانِهِ بلکه دادې ويش کړي فَيَحْفَظُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفَهُ. بيا دې هر يو ددې د نصف ساتنه اوکړي. وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا يُقْسَمُ او که داخيز داسې دې. چه تقسيميدلې نشي جَازَ أَنْ يَحْفَظَ أَحَدُهُمَا بِإِذْنِ الْآخَرِ) نو په دوی کې يو د بل په اجازت سره ساتنه کولې شي

تشريح يوکس دوه سړو سره داسې شئ وديعت کيخودلو. کوم چې د ويش قابل دې. يعنی په دې کې حسي ويش سره څه عيب نه راځي. لکه مکيلي او موزوني شيان (څيزونه). نو په دوی کې يو کس لپاره دا جائز نه دی. چه هغه پوره شئ د بل په حفاظت کې ورکړي. بلکه دوی دواړه دې دا ويش کړي. اود نصف نصف حفاظت دې اوکړي. البته که دا شئ د ويش قابل نه وی. لکه غلام، سوارلۍ، يوه کپړه، تهال (کاسه) وغيره. نو په دې کې دا جائز دی. چه په دوی کې يوکس د دوئم په اجازت سره ددې حفاظت اوکړي. دا د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دی. اود دوه مرتهنينو (گانړه ايخودونکو) او د اخستلو د دوه وکيلانو حکم هم ددوی په نيز هم دغه دې. (وكذا المستبضعين والوصيين والعدلين) د رهن مثال لکه مثلاً زيد د دوه کسانو سره داسې شئ رهن کيخودلو. چه د ويش قابل وو. او په دوی کې يو کس هغه شئ بل ته اوسپارلو. نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به ددې برخي (حصې) ضامن وی. اوکه دا شئ ويش قابل نه وی. نو يو مرتهن د دوئم په اجازت سره ددې حفاظت کولې شي. د اخستلو د وکيل مثال لك مثلاً زيد دوه کسان د يو شئ اخستلو لپاره وکيل کړل. او دوی ته ئې داسې مال ثمن ورکړو. چه هغه د تقسيميدلو قابل دې. او په دوی کې يو وکيل هغه واړه مال دوئم وکيل ته ورکړو. اود هغه نه دغه مال ضائع شو. نو ورکونکي به د نصف ضامن وی.

دليله د امام صاحب رحمه الله دليل دادې. چه مودع ددوی دواړو ساتنه کولو سره راضي شوې دې. په دې امر نه دې راضي شوې. چه په دواړو کې هم يو سړې د پوره وديعت ساتنه اوکړي. وجه داده. چه هرکله د ساتنه فعل داسې شئ اړخ ته مضاف وی. کوم چې د تجزی صفت قبلوی. نو هغه جزء ته شامليږی. کل ته نه شامليږی. نو خپله برخه بل ته سپارل، د مالك د رضامندئ نه بغير شو. نو ورکونکي به ضامن وی. البته قابض به ضامن نه وی. ځکه چې د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز مودع المودع نه ضامن کيږی.
په خلاف د هغه وديعت کوم چې ناقابل ويش وی. چه په دوی کې هر يو ته بل ته د سپارلو اجازت دې. ځکه چې هرکله مودع دا دواړو سره وديعت ايخودې دې. او هغه پوهيږی. چه په شپه ورځ کې هروخت ددوی دواړو يوځاې اوسيدل ممکن نه دی. نودا ددې خبرې دليل دې. چه هغه ددوی په وار وار ساتنه کولو باندې راضي دې.

مسلك الصاحبين صاحبين رحمهما الله فرمائي. چه وديعت که د ويش قابل وی. اوکه نه وی. په دواړو صورتونو کې دوی کې هر يو مودع ته دا اختيار دې. چه د دوئم په اجازت سره ساتنه اوکړي.

دليلهما دليل ښکاره دې. چه مودع د دواړو امانت سره راضي دې. نو هر يو ته به اختيار وی. چه بل ته ئې اوسپاري او ضامن به نه وی. لکه څنګه چې په غيرقابل قسمت شئ کې دی.

د صاحب وديعت د قول خلاف ښځې ته په وديعت ورکولو د ضمان مسئله

(وَإِذَا قَالَ صَاحِبُ الْوَدِيعَةِ لِلْمُودَعِ کله چې صاحب وديعت مودع ته اووئيل. لَا تُسَلِّمْهُ إِلَى زَوْجَتِكَ چې دا

خپلې ښځې ته مه ورکوه. فَسَلَّمَهَا إِلَيْهَا هغه خپلې ښځې ته ورکړو. لَا يَضْمَنُ. نو ضامن به نه وي.

تشریح> مودِع (بکسر الدال)، مودَع (بفتح الدال) منع کړو. چه وديعت خپلې ښځې ته مه سپاره. مودَع ښځې ته اوسپارلو. نو هغه به ضامن وي. يعنی که د مودِع د منع کولو باوجود مودَع وديعت اوسپارلو. نو ددې به دوه صورتونه وي. ① يو دا چې هغه ته د وديعت سپارلو نه بغير خلاصې نه وو. ② او دوئم دا چې د وديعت سپارلو نه خلاصې وو. (يعنی د سپارلو هيڅ ضرورت نه وو). که هيڅ خلاصې نه وو. مثلاً وديعت د سوارلئ يو حيوان (څاروي) وو. د هغې باره کې مودِع اووئيل. چه خپل غلام ته ئې مه ورکوه. حالانکه د ونډې او اوبه وغيره ورکولو لپاره غلام ته د ورکولو نه بغير خلاصې نشته. يا دا وديعت څه داسې شئ دې. چه دهغې حفاظت به ښځو سره کولې شی. نو مودِع ښځې ته د ورکولو نه منع کړو. نو په داسې صورت کې به مودَع ضامن نه وي.

دليله> ځکه چې د مودِع د شرط لحاظ ساتلو سره د حفاظت عمل ناممکن دې. نو ذکر شوې شرط اگرچه دده په حق کې مفيد وي. خو لغوه به وي. اوکه وديعت داسې شئ وي. چه ددې د ورکولو نه بغير خلاصې وي. مثلاً د سپينو زرو گتمه ده. چه دا خپل ځان سره ساتلې شی. نو په داسې صورت کې به خلاف ورزی کولو سره ضامن وي. ځکه چې دا شرط مفيد هم دې. (ځکه چې د سړی بعض عيال (د کورخلق) د اعتماد قابل نه وي) او دده نگرانئ سره حفاظت کول ممکن هم دی.

(وَإِنْ قَالَ لَهُ که مودِع دده ته اووئيل. احْفَظْهَا فِي هَذَا الْبَيْتِ چې د وديعت ساتنه به دې اطاق کې کوه. فَحَفِظَهَا فِي بَيْتٍ آخَرَ مِنَ الدَّارِ او هغه د کور په بله اطاق کې ساتنه اوکړو. لَمْ يَضْمَنْ) نو ضامن به نه وي.

تشریح> اوکه صاحب وديعت مودَع ته اووئيل. چه وديعت په دې اطاق کې کيږده. مودَع ددې کور په بله اطاق کې کيخودلو. نو ضامن به نه وي. د استحسان په طور، د قياس په طور ضامن کيدل پکار دی.

دليله> ځکه چې کله کله دوه کمرې هم د ساتنه په لحاظ سره متفاوت وي. مثلاً د يوې کمرې شا کوڅې ارخ ته ده. چه په دې کې غل آسانتيا سره غار کولې شی. اود بلې کمرې شا د کور په مينځ کې ده. چه هغې کې دا خطره نشته. وجه د استحسان داده. چه لکه څنګه د مودِع دا وئيل، چه د کمرې په دې گوټ کې ئې کيږده. يا په دې صندوق کې کيږده. د غير مفيد کيدلو په وجه معتبر نه دی. دغه شان د کمرې په مسئله کې هم معتبر نه دی.

(وَإِنْ حَفِظَهَا فِي دَارٍ أُخْرَى اوکه په بل کور کې ئې ساتنه اوکړو. ضَمِنَ) نو ضامن به وي.

تشریح> اوکه مودَع د بل کوره په اطاق کې ساتنه اوکړو. نو په ضائع کولو سره به ضامن وي.

دليله> ځکه چې د ساتنه په حق کې دوه کورونه متفاوت وي. بعض کور زيات محفوظ وي. او بعض کم وي.

البته که په تحفظ کې برابر وي. يا دوئم د رومبی نه هم زيات محفوظ وي. او بيا ضائع شی. نو مودَع باندې به تاوان نه وي.

كِتَابُ الْعَارِيَةِ

ترجمه> (دا) کتاب د عاريت (په بيان کې) دې.

تشریح> ددې د مناسبت وجه خو د کتاب الودعة په پيل کې بيان شوې ده. چه په دې کې هر يو امانت دې.

د عاریت لغوی تحقیق لفظ د عاریت د یاء په تشدید سره افصح دې.او تخفیف هم جائز دې.لکه څنګه چې قاموس کې دی.علامه مرغینانی رحمه الله دا د عریه په معنی د عطیه منلې دې.چه په دې علامه بدرالدین عینی رحمه الله وغیره مناقشه کړې ده.چه په راروانو صفحاتو کې ذکر کولې شی.ان شاء الله.

فائده دعاریت ورکولو په محاسنو کې یو ښه صفت دا هم دې.چه مستعیر د خپل حاجت او ضرورت په وجه مضطر او مجبوره وی.اود الله تعالی ارشاد دې. (أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ) آیا څوک آوری.د بې قراره (ضرورت مند) کله چې هغه ده ته آواز اوکړی.نو معیر مستعیر ته عاریت ورکولو سره د هغه په فریاد اوریدلو او حاجت پوره کولو کې ګویا د الله تعالی نائب او په حکم د حدیث (تخلقوا باخلاق الله) متخلق باخلاق ربانی (د خدائی صفاتو مالک) شو.

د عاریت شرعی حیثیت

(اَلْعَارِيَةُ جَائِزَةٌ) عاریت جائز دې.

تشریح د عاریت شرعی حکم دادې.چه دا جائز دې.(په ورکولو کې ثواب او په اخستلو کې هم څه عیب نشته).

دلائل جوازه ① شیخ موفق په المغنی کې وئیلی دی.چه د عاریت په جواز او ددې په استحباب باندې د مسلمانانو اجماع ده.څکه چې دا یو قسم احسان دې. (أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ) ② حاکم د حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه په مختلفو الفاظو سره روایت کړې دې.چه (أن النبی ﷺ إستعار منه دروعا یوم حنین فقال أغصبا یا محمد! ﷺ قال بل عارية مضمونة) (۱)

د عاریت تعریف او اصطلاحی تحقیق

(وَهِيَ تَمْلِيكُ الْمَنَافِعِ بِغَيْرِ عِوَضٍ) او عاریت د منافعو مالک جوړول دی.د عوض نه بغیر،

تشریح **العارية شرعاً** په اصطلاح د شرع کې د عامو عالمانو په نیز د عوض نه بغیر د تملیک منافعو ته عاریت وائی.کوم کس چې مالک جوړوی.هغه ته معیر وائی.او کوم کس چې مالک جوړ کړې شی.هغه ته مستعیر، او کوم شئ چې د منفعت مالک جوړ کړې شی.هغه ته عاریت او مستعار وائی.د افواه اودی شعر دې.~ إنما نعمة قوم متعة وحياة المرء ثوب مستعار

فائده په تعریف کې د بلا عوض قید سره اجاره اووتله.چه په دې کې اګرچه د منافعو تملیک کیږی.خو بلاعوض نه کیږی.عاریت ورکول یو قسم نیکی او احسان دې.او عقد تبرع (نیکی) صرف ایجاب باندې موقول کیږی.په دې وجه فتاوی عالمګیری کې دی.چه د عاریت رکن صرف د معیر د ارخه ایجاب کیدل دی.پاتې شو د مستعیر د ارخه قبلول، نو زمونږ د اصحاب ثلاثه په نیز د احسان په رو سره شرط نه دې.بیا د ایجاب قولی کیدل ضروری دی.لکه چې خانیه کې دی.که یو کس عاریت اوغوښتلو.او معیر خاموش پاتې شو.نودا به عاریت نه وی.البته د قبول قولی کیدل هیڅ ضروری نه دی.فعلی هم کیدې شی.مثلاً معیر اووئیل.چه دا کپړه د عاریت په طور باندې واخله.مستعیر خپل

---

۱) من حديث أمية بن صفوان بن أمية عن ابيه صفوان بن أمية رضی الله عنه اخرجه ابوداود في البيوع باب ۸۸ رقم ۳۵۶۲ والنسائي في السنن الكبرى (۴۱۰/۳) رقم ۵۷۷۹ والبيهقي في السنن الكبرى (۱۴۷/۶) رقم ۱۱۴۷۸ وفي معرفة السنن والآثار رقم ۵۷۷۹۔

لاس ور وراندې كړو.او كپړه ئې واخستله.

عاريت په څومو الفاظو سره صحيح دي؟

(وَتَصِحُّ بِقَوْلِهِ أَعَرْتُكَ)او عاريت صحيح دي.په دې ونيلو چې ما تاته عاريت (ستا په غوښتلو) دركړو.لِأَنَّهُ صَرِيحٌ فِيهِ ځكه چې دا لفظ په دې كې صريح دي.(وَأَطْعَمْتُكَ هَـٰذِهِ الْأَرْضَ)او خوراك لپاره مې دا زمكه دركړله.لِأَنَّهُ مُسْتَعْمَلٌ فِيهِ ځكه چې دا لفظ هم په دې معنى كې مستعمل دي.

تشريح> مذكوره عاريت په لاندينو الفاظو سره صحيح كيږي. (أعرتك)ځكه چې دا لفظ عاريت لپاره صريح او حقيقت دي.(أطعمتك أرضي)

دليله> ځكه چې دا لفظ هم په دې معنى كې مستعمل دي.ځكه چې كله د لفظ،،اطعام،، اضافت غير ماكول العين طرف ته اوشي.نو هغې نه مجازاً حال باندې د محل اطلاق كولو سره د هغې پيداوار مراد اخستلې شي.دلته يو سوال په ذهن كې راتلې شي.هغه دا چه.

السوال> دا استعمال مجاز متعارف وى.او مجاز متعارف هم صريح وى.لكه څنګه چې اصول كې ذكر دى.نو په دواړو عبارتونو كې هيڅ فرق اونشو؟ ددې سوال جواب دادې.

الجواب>چه ذكر شوى دواړه لفظونه صريح دى.خو يو حقيقت دې. او دونم مجاز دې.ځكه د اصولو د عالمانو په نيز صريح هغه دې.چه د هغې مراد د خپل ذات نه واضح وى.نو دا حقيقت غيرمهجوره او مجاز متعارف دواړو ته شامل دې.

(وَمَنَحْتُكَ هَـٰذَا الثَّوْبَ او اومې بخښله تاته دا كپړه، وَحَمَلْتُكَ عَلَى هَـٰذِهِ الدَّابَّةِ او سور مې كړلې ته په دې خاروى باندې،

تشريح> په دې عبارتونو سره هم عاريت صحيح دې.

دليله> ځكه چې د ،،منحتك،، معنى ده. (أعطيتك،يقال منحه(ف،ض)منحاً الشئ)په معنى د عطاء كولو(اوبخلو)، ددې نه منحه او منيحه هم دى. دا د پيو والا هغه وزه يا اوښـې ته ونيلې شـى.كومـه چې چاته د پيو وركولو لپاره وركړې شى.او كله چې پئ ختم شى.نو مالك ته ئې واپس كرى.بيا په هره عطاء (وركړه او بخشش) كې ددې استعمال زيات شو.په دې وجه (حمل الأمير فلاناً)ونيلې شى.او ددې نه مراد تمليك وى.نو په منحت او حملت كې هر يو د تمليك منفعت او تمليك عين لپاره حقيقت دې.نو د نيت كيدلو په وخت به عاريت باندې محمول وى.چه دا متيقن دې.(خودا هغه وخت دى.كله ئې چې دې سره د هبې نيت نه وى كړې).

(وَأَخْدَمْتُكَ هَـٰذَا الْعَبْدَ)او د خدمت لپاره مې دركړو، تاته دا غلام،

تشريح> په اخدمتك عبدى ونيلو سره به هم عاريت وى.

دليله> ځكه چې دا د استخدام اجازت دې.تمليك نه دې.

(وَدَارِي لَكَ سُكْنَى)او زما كور ستا د اوسيدلو لپاره دې.

په(دارى لك سكنى) سره به هم عاريت وى.

دليله> ځكه چې لفظ د سكنى منفعت كې محكم دې. نو د ،،لك،، لام به په تمليك د منافعو محمول كولې شى.ځكه چې دا ددې محتمل دې.

(وَدَارِي لَكَ عُمْرِي سُكْنَى) او زما کور ستا د واره عمر اوسیدلو لپاره دي.

تشریح> په (داري لك عمري سكنى) ونيلو سره هم عاريت دي.

دليله> خکه چې ده د خپل کور سکونت (اوسيدل) دده لپاره تر عمره پورې اوګرځولو. خکه چې لفظ سکنی ونيل د لفظ "لك" تفسير دي. خکه چې دا څنګه هبې ته محتمل دي. دغه شان تمليك د منافعو ته هم محتمل دي. نو آخري کلمه يعنی د سکنی دلالت سره به هم په دې معنی باندې محمول کولې شي.

(وَلِلْمُعِيرِ أَنْ يَرْجِعَ فِي الْعَارِيَةِ مَتَى شَاءَ) او معير ته اختيار دي. چه واپس واخلی عاريت کله چې غواړي.

تشریح> معير چې کله اوغواړي. خپل شئ واپس اخستلې شي. عاريت مطلقه وي. او که موقته (نيته دار) وي.

دلائله> ① خکه د نبی کريم ﷺ ارشاد دي. {الْمِنْحَةُ مَرْدُودَةٌ وَالْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ}[1] چې ورکړې شوي شئ به واپس کولې شي. او غوښتلې شئ به واپس ورکولې شي.

② په دې وجه هم چې منافع څومره قدرې پيدا کيږي. هم هغه حساب سره لږ لږ په ملك کې راځي. نو کوم منافع چې اوس په وجود کې نه دي راغلي. هغې سره د تمليك قبضه نه ده متصل شوې. او د قبضې نه وړاندې رجوع کول صحيح نه دي.

عاريت امانت دي. او که مضمون؟

(وَالْعَارِيَةُ أَمَانَةٌ فِي يَدِ الْمُسْتَعِيرِ) او عاريت امانت دي په لاس د مستعير کښې إِنْ هَلَكَ مِنْ غَيْرِ تَعَدٍّ که د تعدي (دتصرف) نه بغير هلاك شي. لَمْ يَضْمَنِ الْمستعير نو ضامن به نه وي مستعير

تشریح> زمونږ په نيز دعاريت شئ امانت وي. اوس که هغه پخپل حال قائم وي. نو دا بلاخلاف واپس کول ضروري دي. او که هغه ضائع شو. نو کتلې به شي. چه د مستعير تعدی او زياتې کولو سره ضائع شوې دي. او که بغير د تعدی (او حرکت) نه هلاك شوې دي. که د مستعير د تعدی نه بغير ضائع شوې وي. نو په ده به ضمان لازم نه وي. قاضي ابن شبرمه د کوفې د قضاء په زمانه کې متواتر ديرش کاله پورې په دې مسئله باندې عمل کونکې پاتې شوې وو. امام مالك، سفيان ثوري، اوزاعی رحمهم الله هم ددې قائل دی. او هم دا د حضرت علی، ابن مسعود، عمر، جابر رضي الله عنهم، او د حسن، ابراهيم نخعی، شعبی، عمر بن عبدالعزيز رحمهم الله نه نقل دی. د امام مالك رحمه الله نه دا هم نقل دي. که عاريت حيوان (څاروي) وي. نو ضامن به نه وي. او که زيورات او کپړې وغيره وي. نو ضامن به وي.[2]

---

[1] من حديث أبي امامة رضي الله عنه اخرجه أبوداود في البيوع بب ٨٨ رقم ٣٥٦٣ والترمذي في الوصايا باب ٥ وابن ماجه في الصدقة باب ٥ واحمد في المسند (٣٦٧\٥) والدارقطني في سننه (٤٠\٣) رقم ١٦٥ والنسائي في السنن الكبرى (٤١١\٣) رقم ٥٧٨٢ـ

[2] **مسلك الشافعي:-** د امام شافعي او امام احمد رحمهما الله په نيز که عاريت هلاك شي. نو مستعير به ضامن وي. هم دا د عطاء او اسحاق قول دي. اودا د حضرت ابن عباس او حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه هم نقل دی. (د امام شافعي رحمه الله نه يو قول دا هم نقل دي. چه دا په معتاد (عام) استعمال سره هلاك شو. نو ضامن به نه وي. ګنې ضامن به وي. خو دا قول ددوی په نيز ضعيف دي)

دلائله ① عن علي رضي الله عنه قال ليس العارية مضمونة انما هو معروف الا ان يخالف فيضمن.[1]
② د مستعير د ارخه د ضمان د وجوب هيڅ سبب اونه موندې شو.ځکه چې سرې باندې ضمان دده د فعل نه بغير نه واجبيږي.اود مستعير د ارخه چې ښکاره کوم فعل اوموندې شو.هغه عقد عاريت او قبضه ده.چه په دې کې يو هم د ضمان سبب نشي کيدلې.د عقد موجب ضمان نه کيدل ځکه دی.چه په کوم لفظ سره عقد عاريت منعقد کيږي.په هغې کې د ضمان د التزام هيڅ ذکر نشته.ځکه چې عقد عاريت د تبرع په طريقه د منافعو مالك جوړول. يا دمنافعو مباح كول دي.(على اختلاف الاصلين) اود كوم لفظ وضع چې د منافعو د تمليك لپاره وي.هغې کې عين شئ سره هيڅ تعارض نه وی.تردې چې ددې په ضائع کيدلو سره ضمان لازم شي.اود قبضې موجب ضمان کيدل ځکه دی.چه دغير په مال باندې د هغه د اجازت نه بغير قبضه كول د ضمان د وجوب سبب نه وی.ځکه چې دې قبضې سره خو د مال عين صيانت او حفاظت دې.نودا دده دارخه يو قسم له احسان دې. ﴿مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ﴾ نو اجازت سره د قبضه کولو په صورت کې به په طريقه اولى د ضمان سبب نه وی.او په دې وجه هم چې (ماذون قبضه) دمالك په اجازت سره قبضه) تعدی (او زياتې) نه وی.ځکه چې دې سره د اصل مالك قبضه نه فوت کيږي.حالانکه ضمان په تعدی کولو باندې وی.قال الله تعالى ﴿مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ﴾

د عاريت شئ په کرايه باندې د ورکولو بيان

(وَلَيْسَ لِلْمُسْتَعِيرِ أَنْ يُؤَاجِرَ مَا اسْتَعَارَهُ) اوجائز نه دی.مستعير لپاره چې په کرايه باندې ورکړی.هغه شئ کوم چې ده په عاريت باندې اخستې دې.فَإِنْ آجَرَهُ که په کرايه ئې ورکړو.فَهَلَكَ او هلاك شو.ضَمِنَ) نو ضامن به وی.

تشريح مستعير د عاريت شئ عاريت باندې نشي ورکولی.
دليله ځکه چې اجاره د معاوضه کيدلو په بناء باندې د اعارې نه زيات دې.او اعاره د دې نه کمه ده.او شئ د ځان نه زيات ته نه متضمن کيږي.
الاشکال په دې باندې دا اشکال کيدې شی.چه هرکله مستعير د معير د ارخه دمنفعت مالك دې. نو اجاره باندې ورکول جائز کيدل پکار دی.چه دده تصرف هم باقى پاتې شی.اود معير د واپس اخستلو حق هم منقطع نشی.بلکه د واپس اخستلو حق باقی کيدل به د اجارې د نقض عذر جوړشی.
الجواب چه د اجارې جائز کيدلو دوه صورتونه دی. ① يا به لازم منعقد وی. ② يا به غير لازم منعقد وی.که غير لازم منعقد وی.نو قلب موضوع لازميږي.ځکه د اجارې وضع داده.چه دا لازم وی.اوکه لازم منعقد وی.نو معير ته زياتي ضرر لاحق (متعلق)کيږي.ځکه چې هغه د اجارې موده تيريدلو سره قبول واپس نشي اخستلي.هرکله چې دواړه صورتونه ناممکن دی.نو اجاره به جائز نه وی.تردې که دده د عاريت شئ اجاره باندې ورکړو.او هغه ضائع شو.نو مستعير ئې چې کله هم مستاجر ته ورسپاری.هم هغه وخت به ضامن وی.ځکه چې هرکله عاريت ورکولو کې اجاره باندې د ورکولو اختيار شامل نه دې.نوګويا مستعير هغه شئ غصب کړو.اود غصب حکم د ضمان وجوب دې.

[1] مصنف عبدالرزاق (۸/ ۱۷۹)۔

د مستعير لپاره د عاريت څيز په عاريت باندې د ورکولو حکم

وَلَهُ أَنْ يُعِيرَهُ او مستعير د عاريت شئ په عاريت باندې ورکولې شي. إِذَا كَانَ الْمُسْتَعَارُ مِمَّا لَا يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْمُسْتَعْمِلِ کله چې دا د مستعمل په بدلولو سره نه متغير کيږي.

تشريح﴾ کوم شيان چې په اختلاف د مستعمل سره نه مختلف کيږي. يعنې په دې کې څه فرق نه راځي. لکه په خاروی باندې بوج بار کول، د غلام نه خدمت اخستل، په زمکه کې زميندارۍ کول، په کور کې رهائش او اوسيدل اختيارول، وغيره. نو داسې شيان مستعير بل ته په عاريت ورکولې شي. امام مالک رحمه الله او په يو قول کې امام شافعي رحمه الله هم ددې قائل دې.(١)

دليله﴾ عقد عاريت د منافعو د تمليک نوم دې. ددې د اباحت نوم نه دې. لکه څنګه چې مونږ د ،، کتاب العاريه ،، په پيل کې ذکر کړې دی. چه کله معير مستعير د عاريت د منافعو مالک جوړ کړو. نو هغه بل کس مالک جوړولې شي. څکه چې شئ خپل مثل ته متضمن کيږي. لکه مثلاً که يو کس د خپل غلام د خدمت زيد لپاره وصيت اوکړو. نو خدمت لپاره ئې بل چاته ورکولې شي.

د کومو څيزونو عاريت قرض دې ؟

(وَعَارِيَّةُ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ وَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ قَرْضٌ)؛ د دراهمو، دنانيرو، او کيلي، او وزني او د عددي (د شمار) څيزونو عاريت ورکول قرض دې.

تشريح﴾ دراهم او دنانير، کيلي او وزني او عددي متقارب لکه غوزان او هګۍ، دغه شان مالوچ، وړۍ، کچه ريښم، او کافور وغيره شيان عاريت ورکول د قرض په حکم کې دی. يعنې ګويا د معير قول د ،، اقرضتك ،، په مرتبه کې دې. شيخ کاکي رحمه الله په حواله د شرح وجيز ذکر کړې دی. چې په دې باره کې د هيڅ چا اختلاف معلوم نه دې. سوا ددې نه کوم چې د بعض اصحاب شافعي رحمه الله نه نقل دی. چه دا اعاره فاسده ده. نو په يوه وجه کې به ضامن وی. لکه څنګه چې اعاره صحيحه کې ضامن کيږي. او يوه وجه کې به ضامن نه وی. څکه چې دا اعاره فاسده ده. خو په روضه کې دی. چې د غلې اعاره قطعي طور باندې اَود دراهمو او دنانيرو اعاره د صحيح قول مطابق جائز نه ده.

دلائله﴾ ① د ذکرشوی څيزونو د اعارې قرض کيدل څکه دی. چه اعاره کې د منافعو تمليک کيږي. حالانکه د ذکر شوی څيزونو نه انتفاع د عين د استهلاك نه بغير کيدې هم نشي. بلکه صرف په دې طور باندې کيدې شي. چه ددې عين په کار کې راوستلو او خرج کولو سره کړې شي. نو دا عاريت د ضرورت په وجه دې امر ته مقتضي دې. چه معير مستعير ته ددې څيزونو د عين مالك جوړ کړو. او دا خبره په دوه خبرو سره ممکن ده.(١) يوه دا چه هغه هبه کړو.(٢) دويمه دا چې قرض ئې ورکړو. او په دې دواړو کې کم تر قرض دې. نو هم دا به ثابت وی.

② د ذکرشوی څيزونو د اعارې نه د قرض کيدلو دوئم دليل دادې. چه د اعارې د حکم مقتضی داده. چه

---

١) د امام شافعي رحمه الله په دونم قول کې ددې اجازت نشته. امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دې. څکه چې ددوی په نيز اعاره کې د منافعو اباحت وی. اود کوم کس لپاره چې څه شئ مباح کړې شي. هغه ته ددې شئ د بل لپاره د مباح کولو اجازت نه وی. څکه چې منافع بالفعل د نه موجود کيدلو په وجه قابل دملك نه دی. او په اجاره کې چې کوم دا موجود منلې شوې دې. دا د ضرورت په وجه دې. او په عاريت کې دا ضرورت د مباح کولو په ذريعه ختميږي. (فلا يصار الى التمليك).

مستعیر د مستعار شئ نه نفع واخلی.اودا بعینه واپس کړی.اود استهلاك په وجه ددې په بعینه واپس کولو نه دې عاجز دې.نو ددې مثل واپس کول د عین شئ واپس کولو قائم مقام کړې شوې دې.او دغه قرض دې.

مستعیر لپاره د عاریت په زمکه کښې د عمارت جوړولو یا وونو لګولو حکم

(وَإِذَا اسْتَعَارَ أَرْضًا کله چې مستعار واخلی زمکه ، لِيَبْنِيَ فِيهَا چې په دې کې عمارت جوړ کړی.أَوْ لِيَغْرِسَ فِيهَا یا په دې کې وَنې (باغ) اولګوی.جَازَ نو دا جائز دی.وَلِلْمُعِيرِ أَنْ يَرْجِعَ فِيهَا او معیر ته اختیار دې.چه واپس واخلی.وَيُكَلِّفَهُ قَلْعَ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ)او مستعیر ته د عمارت ورانولو.اود وَنو کښ کولو حکم اوکړی.

تشریح: یوکس دکور جوړولو یا باغ لګولو لپاره زمکه عاریت باندې واخستله .او په دې کې نې عمارت جوړ کړو.یا باغ اولګولو.نودا جائز دی.خو معیر په ده باندې وَنې وغیره اوبنکلې شی. او خپله زمکه واپس اخستلې شی.اوس که هغه د عاریت هیڅ وخت معین کړې نه وو.نو په دې صورت کې معیر باندې د وَنو اوبنکلو هیڅ تاوان نه لازمیږی.ځکه چې مستعیر پخپله دهوکه خوړلې ده.چه د وخت د تعین نه بغیر راضی شوې دې.معیر دهوکه نه ده ورکړې.

دلیله: جواز په دې وجه دې. چې دا هم یو معلوم منفعت دې. چې په ذریعه د اجارت مملوك وی. نوهم دغه شان به اعارې سره هم وی.

فَإِنْ لَمْ يَكُنْ وَقَّتَ الْعَارِيَةَ نوکه معیر د عاریت څه وخت معین کړې نه وی.فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ نو په ده به هیڅ ضمان نه وی.

تشریح: یوکس دکور جوړولو یا باغ لګولو لپاره زمکه عاریت باندې واخستله .او په دې کې نې عمارت جوړ کړو.یا باغ اولګولو.نودا جائز دی.خو معیر په ده باندې وَنې وغیره اوبنکلې شی. او خپله زمکه واپس اخستلې شی.اوس که هغه د عاریت هیڅ وخت معین کړې نه وو.نو په دې صورت کې معیر باندې د وَنو اوبنکلو هیڅ تاوان نه لازمیږی.

دلیله: ځکه چې مستعیر پخپله دهوکه خوړلې ده.چه د وخت د تعین نه بغیر راضی شوې دې.معیر دهوکه نه ده ورکړې.

وَإِنْ كَانَ وَقَّتَ الْعَارِيَةَ اوکه هغه د عاریت څه وخت بیان کړو.وَرَجَعَ قَبْلَ الْوَقْتِ اود وخت نه وړاندې نې رجوع اوکړله.نو رجوع صحیح ده.خودا مکروه دی.(ضَمِنَ الْمُعِيرُ لِلْمُسْتَعِيرِ او معیر به ضامن وی دپاره د مستعیر مَا نَقَصَ الْبِنَاءَ وَالْغَرْسَ بِالْقَلْعِ)د هغه نقصان کوم چې په عمارت غورزولو او په وَنو اوبنکلو سره رسیدلې دې.

تشریح: نفس مسئله آسانه ده.

دلیله: ځکه چې مستعیر ته د معیر د ارخه دهوکه ورکړې شوې ده. چې دده لپاره نې وخت مقرر کړې دې. نو وعده پوره کول هم دا ښکاره دی. نو مستعیر به نقصان واپس اخلی. د خپل ذات نه د ضرر دفع کولو دپاره.

د عاریت څیز د واپس کولو د مزدورۍ مسئله

(وَأُجْرَةُ رَدِّ الْعَارِيَةِ عَلَى الْمُسْتَعِيرِ)اود عاریت واپس کولو مزدوری به د مستعیر په ذمه وی.

تشريح> د غوښتلې شئ واپس کولو مزدوري د مستعير په ذمه ده.او اجاره باندې د اخستې شوی شئ واپس کولو مزدوري د موجر په ذمه ده.اود عين مغصوبه شئ واپس کولو مزدوري د غاصب په ذمه ده.

دليله> د عاريت واپس کولو مزدوري د مستعير په ذمه کيدل ځکه دی.چه مستعير په دې باندې د خپلې ذاتی نفع لپاره قبضه کړې وه.اود واپس کولو د خرچې نوم اجرت دې.نودا اجرت به هم په ده باندې واجب وی.

(وَأُجْرَةُ رَدِّ الْعَيْنِ الْمُسْتَأْجَرَةِ عَلَى الْمُؤَجِّرِ)او په کرايه باندې د اخستې شوی شئ واپس کولو مزدوري په موجر ده.

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.

دليله> او په اجاره باندې داخستې شوی شئ مزدوري د موجر په ذمه کيدل ځکه دی.چه د مستاجر په ذمه عين مستاجر واپس کول واجب نه دی.بلکه صرف هم دا واجب دی.چه هغه موجر ته په دې باندې قابو ورکړی.او تخليه اوکړی.(يعنی خپل اختيار او قابو لرې کړی) ځکه چې د مستاجر د قبضې منفعت معنوی طور باندې موجر باندې لپاره صحيح سلامت دې.يعنی دده د قبضې منفعت په حقيقت کې موجر ته رسيدلې دې.چه د مستاجر په قبضه کولو سره موجر ته ددې کرايه ملاؤ شوه.نو د واپس کولو خرچه د مستاجر په ذمه نشی کيدلې.

سوال> د قبضې منفعت چې لکه څنګه موجر لپاره سلامت دې.هم دغه شان مستاجر لپاره هم سلامت دې.ځکه چې ده د عين مستاجره نه منافع حاصل کړی دی.نود منفعت په حصول کې دواړه برابر دی ؟

جواب> په ذکرشوې قبضې سره مستاجر او موجر دواړو ته نفع اورسيدله.خود موجر منفعت زيات قوی دې.ځکه چې هغه د مال عين مالك دې.او موجر ته چې کوم منفعت حاصل شوی دې.هغه مال دې.حقيقتاً هم او حکماً هم.په خلاف د مستاجر د منفعت،چه هغه من کل وجه مال نه دې.نود موجر د منفعت اعتبار به اولې وی.لکه څنګه چې شيخ محبوبی وغيره په اجارات د جامع صغير په متفرقو مسئلو کې دې ارخ ته اشاره کړې ده. (وفيه شئ وهو أن الأجرة لايلزم أن تكون عيناً البتة)

(وَأُجْرَةُ رَدِّ الْعَيْنِ الْمَغْصُوبَةِ عَلَى الْغَاصِبِ)) اود غصب کړې شوی شئ واپس کولو خرچه په غاصب ده.

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.

دليله> ځکه چې غاصب باندې واپس کول اود مالك په قبضه کې رسول واجب دی.د هغه نه د ضرر لرې کولو دپاره، نود واپس کولو خرچه به هم په ده باندې وی.

(وَأُجْرَةُ رَدِّ الْعَيْنِ الْمُودعةِ عَلَى المودع) اود امانت کيخودې شوی شئ واپس کولو خرچه په مودع باندې ده.

تشريح> که عمرو د زيد سره يو څيز امانت کيخودو.نو کله چې زيد عمر ته دغه څيز واپس کوی او په هغې باندې کومه خرچه راځی هغه به په عمرو باندې وی.

ځکه چې مودع خو هسې بغيرد څه عوضه د عمرو امانت کيخودې دې د دې څيز ضرورت خو مالك ته دې چې هغه خپل څيز د امين نه واپس واخلی.نو د دې خرچه به هم په هغه وی.

وَإِذَا اسْتَعَارَ دَابَّةً کله ئې چې حيوان (خاروی) عاريت باندې واخستلو. فَرَدَّهَا إِلَى إِصْطَبْلِ مَالِكِهَا او هغه ئې د هغې دمالك بار(د اودريدو ځائې) ته اورسولو. فَهَلَكَتْ او هغه هلاك شو. لَمْ يَضْمَنْ نو ضامن

به نه وي.

تشریح یوکس یو اس مستعار واخستلو.بیا ئې دا د مالك بارته اورسولو.او هغه هلاك شو.نو د استحسان په رو سره به ضامن نه وي.(۱)

وجه الاستحسان داده.چه د عاریت شیان د مالك کور ته د رسولو عام عادت دې.لکه چې د کور د استعمال شیان د عاریت اخستلو نه روسته د مالك کور ته رسولې شي.نودا اس ئې په متعارف طریقه اوسپارلو.اوکه دا اس ئې د مالك ته رسولې وو.نو مالك به بیا هم دا بار ته رسولو.نود مستعیر واپس کول صحیح شو.

شیخ تمر تاشي د ا بوسلمه نه نقل کړی دی.که د ښارود د ترلو ځائې دکور نه بهر وي.نو مستعیر به بری الذمه نه وي.ځکه دې صورت کې ښکاره هم داده.چه هلته به اس د محافظ نه بغیر وي.،،وقيل هذا عادتهم،،

كِتَابُ اللَّقِيطِ

ترجمه وتشريح (دا) کتاب د لقیط (په بیان کښې) دې.

الربط بما قبله لکه څنګه چې عاریت د هغې د مالك د اجازت څخه بغیر بل چاته نشي ورکولې دغه شان کوم کس چې د لقیط په راوچتلو کښې وړاندې والې اوکړو.نودهغه د اجازت څخه بغیر لقیط بل چاته نشي ورکولې.

اللقيط لغة لقیط په لغت کښې هغه ماشوم ته وائي.چه د زمکې نه پورته کړې شي .

اللقيط اصطلاحاً په شریعت کښې د لقیط تعریف دا دې.،،اللقيط إسم المولود طرحه أهله خوفاً من العيلة أو فراراً من تهمة الزنا،، یعنی لقیط هغه ماشوم ته وائي.چه چا د فقیرۍ د وجې یا د زنا د تهمت د ویرې په لاره کښې غورځولې وي.

وجه تسمية اللقيط لقیط نامدارکړې شو په دې لقیط سره په اعتبار د مستقبل سره ځکه چه دې په لارکښې غورځولې شوې دی اوڅوك به ئې راوچتوی.

حكم رفعه ① پورته کول د لقیط مستحب دی ځکه چه په دې کښې ژوندون د لقیط دې. خود استحباب دا حکم په هغه وخت کښې دی.که دې دا ګمان کوی.که زه ئې راوچت نکړم. نوبل څوك به په دې لاره باندې راشي.اوهغه به ئې اوچت کړي.

② اوکه غالب وي په ګمان د واجد کښې ضائع کیدل ددې لقیط نوواجب دی اوچتول ددې لقیط.مثلاً په داسې شاره لاره کښې پروت وی.چه هلته د چا د تیریدو احتمال نه وي.نوکه دې ئې دغه شان پریږدی.کیدې شی چه څه درنده راشي. مات ئې کړي.یا هم دغه شان د ولوږې تندې نه مر شي .

لقيط به آزاد وي اونفقه ئې به بيت المال ده

اَللَّقِيْطُ حُرٌّ

ترجمه وتشريح لقیط آزاد دې

---

۱) **مسلك الشافعي:**- قیاساً به ضامن وي.ځکه چې ده مالك ته واپس نکړو.بلکه ضائع ئې کړو.امام شافعی ، امام احمد رحمهما الله او صحیح قول کې امام مالك رحمه الله هم ددې قائل دې.

دلائله ① ځکه چه اصل په بنیادم کښې آزادی ده.
② اوبل دلیل دا دې په کوم ځائې دې موندې شوې دې هغه دارالاسلام دې.اوپه دارالاسلام کښې مسلمانان اوسیږی.او مسلمانان آزاد وی
③ بل دلیل دا دې چه حکم غالب ګمان لره وی. اوکله چه لقیط په دارالاسلام کښې بیا موندې شی. نو غالب ګمان هم دا وی.چه دې به د آزاد پلار بچې وی

وَنَفَقَتُهُ فِي بَيْتِ الْمَالِ

ترجمه وتشریح اونفقه (د تربیت اوخسمانة) دده (لقیط) به په بیت المال وی. (چه دده سره روپۍ نه وی پرتې)
دلیله دحضرت عمر رضي الله عنه او علی رضي الله عنه نه، (لکه امام مالک رحمه الله چه په خپله موطا کښې نقل کړی دی.چه یوسړی دحضرت عمر رضي الله عنه په دورخلافت کښې یوماشوم اوموندلو .نوهغه ئې راواخستلو .اوحضرت عمر رضي الله عنه ته راغلو.حضرت عمر رضي الله عنه ترې تپوس اوکړلو.تا دا ماشوم ولې د لارې نه راوچت کړلو.نوهغه ورته اووئیل.چه ما سره دده د ضائع کیدو ویره وه. نو عریفه یوبل کس وو.هغه حضرت عمر رضي الله عنه ته اووئیل.اې امیرالمومنین،دا یونیک سړې دې. نوحضرت عمر رضي الله عنه ورته اوفرمائیل.آو هم دغه شان ده .بیا حضرت عمر رضي الله عنه ده ته اووئیل.چه ته لاړ شه.دې آزاد دې.اوددهٔ ولاء به ستا وی.اوددهٔ د تربیت خرچه به په مونږ وی(یعنی مونږ به ئې د بیت المال نه برداشت کوو. (¹)
② دحضرت علی رضي الله عنه روایت عبدالرزاق رحمه الله په خپل مصنف کښې ذکرکړې دې.چه دوی فرمائیلی دی نفقه د لقیط په بیت المال ده. او ولاء ئې د مسلمانانو ده .کذا فی البنایه)
③اویله ددې وجې دده نفقه په بیت المال ده.چه لقیط مسلمان دې ځکه چه د مسلمانانو په وطن کښې بیا موندې شوې دې.نوظاهر هم دا وائی.چه دې به مسلمان وی اوعاجز دې د ګټې نه،اونشته مال دلقیط سره چه په هغې باندې دده تربیت اوشی او نشته خپلوان دده چه په هغوی باندې دده د تربیت ذمه واری وراچولې شی

د لقیط دحفاظت اونسب زیات حقدار

وإنِ الْتَقَطَهُ رَجُلٌ لَمْ يَكُنْ لِغَيْرِهِ أَنْ يَأْخُذَهُ مِنْ يَدِهٖ

ترجمه وتشریح که راوچت کړلو دې(لقیط لره) یوسړی نو نه کیږی (حق) د بل چا دپاره چه واخلی دې (لقیط لره) دده (ملتقط) د لاس څخه ، (بلکه ملتقط دده دحفاظت مستحق اوحقداردې)
دلیله ځکه چه ثابت شو حق دحفاظت (دلقیط) ملتقط لره،د وجې د وراندې والی دلاس د ملتقط. یعنی د بل چا نه دغه لقیط ته دملتقط لاس وراندې وررسیدلې دې

فَإِنِ ادَّعَى مُدَّعٍ أَنَّهُ ابْنُهُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ

ترجمه وتشریحکه دعوی اوکړله یو دعوی کونکی چه دې(لقیط) ځوئې د هغه (مدعی) دې. نو قول (معتبر) قول دهغه (مدعی) دې.
تشریح مطلب ددې چه دمدعی قول معتبردې.خودا په هغه صورت کښې چه دعوی نه کوی ملتقط د

١)أما الرواية عن عمر رضي الله عنه فأخرجها مالك في الموطا في الأقضية رقم ١٩ وأما الرواية عن علي رضي الله عنه فأخرجها عبدالرزاق في مصنفه (نصب:٣\٧٠٤)_

نسب دده لقیط.اوکه ملتقط په خپله د لقیط د نسب دعوی گر وی.چه دا زما خوئي دې.نوپه دې صورت کښې د خارجی مدعی دعوی معتبر نه ده.ځکه چه قانون دا دې .چه کله مدعیان دوه وی.نوترجیح به قابض لره وی.اوپه دې صورت کښې به هم ملتقط قابض وی.نودده دعوی به معتبر وی اودا چه دعوی دمدعی معتبر ده.اود لقیط نسب د مدعی نه ثابتیږی استحسان دې.

وجه الاستحسان > وجه د استحسان دا ده.چه دا دعوی دنسب اقراردې دماشوم دپاره په هغه څه چه نفع رسوی ماشوم ته.ځکه چه دا ماشوم مشرف کیږی په نسب چه نسب ئې معلوم شو اوده ته پیغور کولې شی په نشتوالی د نسب چه نسب ئې معلوم نه وی.خلق به ورته حرامی وائی.نوهرکله چه د نسب د دعوی په صحت کښې د ماشوم فائده ده.نودعوی به معتبره وی

القیاس في المسئلة > اوقیاس دا دې.چه قبول دې نکړې شی قول دده مدعی

وجه القیاس > ځکه چه دا قول د مدعی متضمن دې باطلولوحق د ملتقط لره یعنی کله چه دمدعی قول معتبرشی.نویوځونسب ثابت شو.دې سره ملتقط ته یو نقصان رسی.هغه دا چه د لقیط د حفاظت کوم حق ملتقط ته حاصل وو.هغه به ترې مدعی واخلی.ځکه چه لقیط خوبه بیا مدعی اخلی.اودغه شان به ملتقط د لقیط د ولاء نه هم محروم شی.نوچه دې ته اوکتې شی .قیاس دا وائی.چه دمدعی دعوی دې صحیح نشی

ددووخارجی کسانودنسب دعوی کول

وَإِنْ ادَّعَاهُ اثْنَانِ وَوَصَفَ أَحَدُهُمَا عَلَامَةً فِي جَسَدِهِ فَهُوَ أَوْلَى بِهِ

ترجمه وتشریح > اوکله چه دعوی اوکړی دوه (خاری کسان چه ملتقط نه وی) او بیان کړی یویه دوارو(مدعیانو) کښې څه نښه په بدن دده(لقیط) کښې. (چه مثلاً دده په پښه باندې توروداغ دې.اویل مدعی څه نښه اونه ښائی) نودې(چاچه نښه خودلې ده) زیات حقداردې.په دې (لقیط) باندې. (اود دغه کس دعوی به معتبره وی)

دلیله > ځکه چه ظاهری حالت چه دده دنښې خودلونه معلومیږی گواه دې د مدعی واصف د نښې د وجې د موافقت د نښې کلام دده لره. یعنی ده چه کومه نښه خودلې وه.په لقیط کښې هغه موجود وه. او د ده د کلام تصدیق اوشو

صورة عدم بیان الوصف > اوکه بیان نکړلویو د دواړوخارجی مدعیانو نه.نښه. بلکه صرف دعوی وی نودې لقیط خوئي ددې دواړومدعیانو دې.د وجې د برابری د دواړو نه په سبب د استحقاق ولد کښې، یعنی د هر یو دعوی د ثبوت نسب سبب دې.نوکه د یونه نسب ثابت کړو.اوبل محروم پریږدو.دا ترجیح بلا مرجح ده. کومه چه جائز نه ده.نوځکه به د دواړو دپاره د ولد فیصله کیږی.که پوره د سبب په موجب باندې عمل اونشی.چه په څه خو عمل اوشی

په اسلامی ښارکښې دلقیط موندل اود ذمی دعوی کول

وَإِذَا وُجِدَ فِي مِصْرٍ مِنْ أَمْصَارِ الْمُسْلِمِينَ أَوْفِي قَرْيَةٍ مِنْ قُرَاهُمْ فَادَّعَى ذِمِّيٌّ أَنَّهُ ابْنُهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وَكَانَ مُسْلِمًا

ترجمه وتشریح > اوکله چه اوموندې شی (لقیط) په یوښارکښې دمسلمانانونه،اویا په یوکلی کښې د کلو د دمسلمانانو نه،نودعوی اوکړله ذمی چه دا (لقیط) خوئي دده(ذمی) دې.نو ثابت شو نسب دده(لقیط) دهغه (ذمی) نه،اووی به (دغه لقیط) مسلمان،اودا(ثبوت دنسب دذمی نه) استحسان دې.

وجوه الاستحسان> ① د استحسان د وجې تفصيل دا دې.چه دعوی د چه دا زما خوني دې متضمن ده ثبوت د نسب لره.اودا ثبوت نسب فائده مند دې دپاره د ماشوم ځکه چه يوځويه دده نسب معلوم شي .نود حرامي د پيغور نه به خلاص شي.

② اوبله دا چه ذمي به نې تربيت او پرورش اوکړي

وجه كون الملتقط مسلماً> اودا ماشوم مسلمان دې.ځکه چه په دارالاسلام کښې موندلې شوې دې.نواسلام د ماشوم حق دې.اودې مسلمان شو.

الاشكال> اوباقي داچه هرکله دذمي نه دده نسب ثابت شو.نوپکاردا وه.چه دې هم غيرمسلم وی.

الجواب> ځکه چه ولد د پلارتابع وی.خوداسې نه ده.بلکه صحيح شوه دعوی د ذمي په هغه څه کښې چه فائده ورکوی لقيط ته ، چه ثبوت د نسب دې.نوپه ثبوت نسب کښې د ماشوم فائده وه.ځکه مو د ذمي دعوی صحيح اوګرځوله اونه به صحيح کيږی په هغه څه کښې چه ضرر رسوی لقيط ته چه کفردې.يعنې په کفرکښې دماشوم تاوان دې.ځکه دذمي دعوی په کفرکښې نه ثابتيږی

القياس في المسئلة> قياس دا دې. چه د ذمي نه دده نسب ثابت نشي.

دليل القياس> ځکه چه دې موندې شوې دې په دارالاسلام کښې،اوپه دارالاسلام کښې چه کوم ماشوم اوموندې شي.هغه به دمسلمان بچې ګنړلې شي.نواګرچه ثبوت د نسب خلاف القياس دې. خوبيا هم دذمي دعوی صحيح کيږی.اونسب ثابتيږی.نودا وجه د استحسان ده

د ذميانوپه علاقوکښې د لقيط موندل

وَاِنْ وُجِدَ فِيْ قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى اَهْلِ الذِّمَّةِ اَوْفِيْ بِيْعَةٍ اَوْكَنِيْسَةٍ كَانَ ذِمِّيًّا

حل اللغة> ① **بيعة**:د يهودو عبادتخانه ② **كنيسة**:د نصارو عبادتخانه

ترجمه وتشريح> اوکه اوموندې شو(لقيط) په يوکلی کښې د کلو د ذميانونه،اويا په عبادت خانه (يهوديانو) کښې اويا په ګرجه (دعيسايانو)کښې نووی به (دغه لقيط) ذمي،

دليله> دليل دا دې چې ظاهر هم دا وائي چې دا ماشوم به د ذمي وی ځکه چې د کافرانو په عبادت خانوکښې مسلمان څه کوی بلکه هم ذمي به راغلی وی اودلته به ترې پاتې شوې وی.

د لقيط په باره کښې د رقيت د دعوی عدم صحت صحيح نه ده

وَمَنْ ادَّعٰى اَنَّ اللَّقِيْطَ عَبْدُهٗ اوامته لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ وَكَانَ حُرًّا

ترجمه وتشريح> اوچا چه دعوی اوکړله چه لقيط غلام دده(مدعی) دې.يا وينزه د ده ده نونه به شي قبلولې (دعوی د مدعي) د ده، (مدعی) نه، اودې بۀ آزاد وی.

دليله> ځکه چه لقيط آزاددې په اعتبار د ظاهرسره، ځکه چه د مسلمانانوپه وطن کښې عام طور آزاد کسان اوسيږی

دغلام د لقيط د نسب دعول کول

وَاِنْ ادَّعٰى عَبْدٌ اَنَّهٗ اِبْنُهٗ ثَبَتَ نَسَبُهٗ مِنْهُ

ترجمه وتشريح>اوکه دعوی اوکړله غلام چه دې(لقيط) خوني دده(غلام) دې.نوثابتيږی نسب دده (لقيط) دده(غلام) نه،

دليله> ځکه چه دا(نسب) فائده ورکوی ده(لقيط) ته، (ځکه چه دنسب په وجه به لقيط ته عزت ملاؤ شي)

وَكَانَ حُرًّا

ترجمه وتشريح اووی به دا (لقيط) آزاد.

دليله خكه چه كله زيږول اوكړی د غلام دپاره آزاده ښځه يعنی دغلام ښځه آزاده وی.نو ښځه چه آزاده وی.او خاوند غلام وی.په دې صورت كښې بچې آزاد وی.اونه باطليږی حريت خكه چه په بنيادم كښې حريت اصل دې د شك په وجه. يعنی دا په يقين سره نه ده ثابته چه دا ماشوم ددې غلام بچې دی.لكه ځنګه چه غلام دعوی كوی.

الاشكال خوكه څوك دا اعتراض اوكړی.چه هركله په شك سره حريت نه باطليږی.نوپكاردا وه.چه دغلام نه ئې نسب ثابت شو.نودې دې غلام هم وی.خكه چه دغلام بچې غلام وی.

الجواب ددې جواب دا دې.چه دقياس تقاضا هم دغه ده.ځنګه چه معترض اووئيل. خو چونكه د نسب په ثبوت كښې د ماشوم فائده وه.نوخكه دغلام دعوی معتبرشوه.اودماشوم په عبديت كښې د ده نقصان وو.خكه چه حريت ئې په عبديت بدليږی.نوخكه دده دعوی معتبرنشوه

دلقيط سره دمال موندلوحكم

وَإِنْ وُجِدَ مَعَ اللَّقِيطِ مَالٌ مَشْدُودٌ عَلَيْهِ فَهُوَ لَهُ

حل اللغة ① مشدود:تړلې شوې

ترجمه وتشريح اوكه اوموندې شو د لقيط سره مال چه تړلې شوې وو دهغه سره نوهغه (مال) دده (لقيط) دپاره دې.

دليله .دوجې د معتبرګڼرلوظاهر لره يعنی په ظاهر په دغه مال باندې د لقيط سره موجود دې.نودده په قبضه كښې شو.خكه به دغه مال د لقيط وی

د لقيط دپاره په دغه مال باندې دنكاح كولوعدم جواز

وَلَا يَجُوزُ تَزْوِيجُ الْمُلْتَقِطِ

حل اللغة ① التزويج:واده كول

ترجمه وتشريح اوجائزنه دې واده كول د لقيط (چه ملتقط دلقيط نكاح چاسره اوكړی.كه لقيط هلك وی اوكه جينۍ وی)

دلائله ① دوجې د نشتوالی دسبب دولايت خكه چه چا ته په بل چا باندې ولايت حاصليږی. نوددې خو اسباب دی چه خپلولی ده. لكه پلاراونيكه ته چه په خپله لوريا نمسۍ باندې د قرابت په وجه باندې ولايت حاصل دې.نوكه پلاريا نيكه دخپلې لور يا نمسۍ نكاح چاسره اوكړی.دا به صحيح وی.خكه چه دوی ته په خپله لور او نمسۍ باندې ولايت حاصل دې

② اوملكيت دی. لكه مالك ته چه په خپله وينځه باندې د ملكيت په وجه ولايت حاصل دې.نوكه مالك دخپلې وينځې نكاح چاسره اوكړی.هغه به صحيح وی

دلقيط په مال كښې د ملتقط دپاره دتصرف حكم

وَلَا تَصَرُّفُهُ فِي مَالِ الْمُلْتَقِطِ

ترجمه وتشريح اونه (دې جائز) تصرف دده (واجد) په مال د لقيط كښې،

دليله دوجې دقياس نه په موريانديې، يعنی لكه ځنګه چه مورد بچی په مال كښې تصرف نشي

كولي.دغه شان به واجد هم نشي كولي خكه چې د چا په مال كښې تصرف كول عموما ددې دپاره كيږي.چه مال ني زيات شي اودا زيادت دمال حاصليږي په كامله رانې چه كوم كس په مال كښې تصرف كوي.پكارده ، هغه تجربه كار اوعاقل وي اوپه پوره شفقت يعني چه متصرف د چا په مال كښې تصرف كوي.چه په هغه باندې پوره شفقت لري.د هغه سره د خيانت اراده نه لري اوموجود په هر يوكښې ددې دواړو نه كه واجد دې اوكه مورده دا څيزونه كم دی خكه واجد اگرچه په ده كښې به مهارت اوتجربه اوعقل وي.خودده په زړه كښې د لقيط دپاره شفقت كامل نه دې.اود موريه زړه كښې اگرچه د بچي دپاره شفقت كامل دې.خودې سره د تجربې اوعقل اومهارت كمې دې.نوځكه د واجد اودمور تصرف په مال د صغيركښې جائزنه دې.

جوازتصرف الاب> اودپلار تصرف په مال دځپل بچي كښې خكه جائزدې.چه پلارسره مهارت هم شته. او دده په زړه كښې د بچي دپاره پوره شفقت هم شته

دلقيط دپاره د هبه دقبض كولوجواز

وَيَجُوزُأَنْ يَقْبِضَ بِهِ الْهِبَةَ

ترجمه وتشريح> اوجائز دی چه قبض كړي (واجد) دده(لقيط) دپاره هبه (يعنی كه څوك دغه لقيط ته څه څيزهبه كوي.نوواجد ني دهغه دپاره قبض كولي شي)

دلائله> خكه چه دا قبض كول دهبه ټوله فائده ده دلقيط دپاره څه نقصان په كښې نشته

② ددې وجې چه په دې هبه كښې صرف فائده ده مالك كيږی دهغې هبهٔ شوی ماشوم په خپله خوبه دې شرط چه عاقل وی.

لقيط ته په هنرخودلوكښې دلقيط مال لګول

وَيُسَلِّمُهُ فِي صِنَاعَةٍ

حل اللغة> ① الصناعة:كاريگری

ترجمه وتشريح> اوخرج كوی دې په كسب خودلوكښې لقيط ته، يعنی كه لقيط ته څه كار كسب ښائی.اوپه هغې باندې خرچ كيږی.نوواجد ته دا اختيار دې.چه په دې كښې د لقيط مال اولګوی

دليله> خكه چه دا خرچ كول په كسب اوهنرورزده كولوكښې خودلقيط دبهترئ اوپه مستقبل كښې دده دحالت دحفاظت خبره ده. (چه كله كسب زده كړی.نوچه صبا ته لوئې شی.دهغه كسب نه به فائده راخلي.اودبل محتاج به نه وی)

وَيُؤَاجِرُهُ

ترجمه وتشريح> اوپه مزدورئ باندې به لګيا كوی دې(لقيط لره)

دليله> دا په مزدورئ لګول لقيط راجع كيږی بهتروالی دلقيط ته، خكه چه د اول نه دكاركولواموخته شي.نوچه لوئې شي.بيا به ورته تكليف نه وی

كِتَابُ اللُّقَطَةِ

ترجمه وتشريح> (دا) كتاب (د) لقطه راپورته كولو د احكامو په بيان كښې) دې.

اَللُّقَطَةُ أَمَانَةٌ فِي يَدِ الْمُلْتَقِطِ إِذَا أَشْهَدَ الْمُلْتَقِطُ أَنَّهُ يَأْخُذُهَا لِيَحْفَظَهَا وَيَرُدُّهَا عَلَى صَاحِبِهَا

ترجمه وتشريح لقطه امانت دي په لاس د ملتقط كښې كله چه گواهي وركړي ملتقط چه دا (ملتقط) راخستې ده دا (لقطه دلارې نه) دې دپاره چه حفاظت اوكړي ددې (لقطه) اوواپس ئې كړي مالك خپل ته.

دليله ځكه چه اخستل په دې طريقه چه حفاظت ئې اوكړي.اوخپل مالك ته ئې واپس كړي اجازت شوې دې په دې كښې په اعتبارد شريعت يعنى كه څوك په دې طريقه د لارې نه څه څيز راخلي.نو شريعت ددې اجازت وركړې دې بلكه د لارې نه د دې راخستل غوره دی. په نيز عامو عالمانو ﷺ.

فَإِنْ كَانَتْ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ عَرَّفَهَا أَيَّامًا،

ترجمه كه وی (دغه لقطه) كمه د (ماليت د) لسو روپو نه، نو تشهيردې كوی دهغې څو ورځې. (يعنى اعلان دې كوی.چه ما يوڅيزموندې دې.كه دچا وی.ما سره دې)

تشريح صاحب د هدايه فرمائيلي دی د قدوری روايت چه دلسو روپود ماليت نه كم څيز وی. څو ورځې به ئې تشهيركوی داامام ابوحنيفه رحمه الله نه يوروايت دې ، نوداظاهر روايت نه دې.بلكه ظاهر روايت دا دې.كه قيمتي څيزوی اوكه كم قيمته په دوارو صورتونوكښې به يوكال تشهيركوی.لكه امام طحاوی رحمه الله هم دا فرمائيلي دی)

وَإِنْ كَانَتْ عَشَرَةً فَصَاعِدًا عَرَّفَهَا حَوْلًا كَامِلًا

ترجمه اوكه وی (دغه لقطه) زياته (دماليت د لسوروپونه) نوتشهير به ئې كوی پوره يوكال پورې ،

تشريح **دليله** حضرت ابی بن كعب رضي الله عنه فرمائي.چه ما يوه بټوه بيا موندله.چه په هغې كښې سل دينارد وو.هغه مې نبی ﷺ ته راوړله.نبی ﷺ راته اوفرمائيل .يوكاله پورې ددې تشهير كوه.ابی بن كعب رضي الله عنه فرمائي.ما يوكال دهغې تشهير اوكړلو.خوماته د هغې مالك معلوم نشو. بيا مې نبی ﷺ ته راوړله.تونبی ﷺ راته اوفرمائيل.چه يوكال ئې نورهم تشهير اوكړله. ابی رضي الله عنه فرمائي.چا ما بيا يوكال دهغې تشهيراوكړلو.خومالك ئې پيدا نشو.بيا نبی ﷺ ته ورغلم.نونبی ﷺ راته اوفرمائيل.ددې بټوه (هميانه) محفوظه ساته.اووې شماره،كه مالك ئې راغلو.نوهغه ته به ئې وركړې.اوكه رانغلو.نوته ترې فائده اخله)

القول المفتى به شمس الائمه سرخسی رحمه الله فرمائيلي دی چه هيڅ څيزد ددې مودو نه كومې چه وراندې ذكرشوې نه دی لازم.بلكه سپارلې به شی موده د تشهيراود اعلان رائې د ملتقط ته،هغه به تشهير او اعلان كوی تردې چه غالب شی په گمان د ملتقط چه مالك به ددې لقطه لټون نه كوی ددې دومره مودې نه پس، اوبيا به صدقه اوكړی په هغې لقطه باندې. اوثواب به ئې مالك ته اوبخی .

داعلان نه پس د لقطه صدقه كول

فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلَّا تَصَدَّقَ بِهَا

ترجمه كه راغلو مالك دهغې (لقطه پس د تشهيرنه.نوهغه ته به ئې وركړی) اوكه رانغلو. نوصدقه كوی به هغه (لقطه)

تشريح **دليله** كه په رسولو د ذات ددغه څيزكله چه كامياب شی په وندلو دمالك دهغې ، يعنى مستحق ته چه دهغه حق اورسی. نويوه طريقه ئې دا ده.چه مستحق اومومی.اوهغه ته خپل حق هم په هغه اصلي صورت كښې په كوم كښې چه ئې ترې اخستې وی اورسول د عوض كه د عين حق رسول ممكن نه وی.مثلاً كه هغه څيزهلاك شوې وی.يا دهغې مالك موجود نه وی اوهغه عوض ثواب دې په

امید د اجازت یعني صدقه کول په هغه وخت کښې پکار دی.چه دا امید کیدې شی.چه مالك ته کله پته اولګی.چه زما څیز ئې صدقه کړې دې.نوهغه اجازت ورکوی

د صدقه کولونه پس مالك پیدا کیدل

فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وهوقد تَصَدَّقَ بِهَا فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَمْضَى الصَّدَقَةَ

حل اللغة﴿① **امضی**:ثابت اوساتلو،برقرار اوساتلو

ترجمه﴿ که راغلهٔ مالك دهغې (لقطه) یعنی پس د دې نه چه صدقه کړې وو(ملتقط) هغه (لقطه) نودې (مالك) ته اختیار دې.که غواړی نوجاری دې اوساتی صدقه ،

تشریح﴿ **دلیله**﴿ ځکه چې شریعت ده.ته دلقطه د صدقه کولواجازت ورکړې دې نودې حاصل شوې اجازت په حکم دده (مالك.هرکله چه ورته د مالك د طرفه د صدقې کولواجازت نه دې . ملاؤ شوې نوموقوف به وی (دغه صدقه) په اجازت دده(مالك،که مالك د صدقه اجازت ورکړلو.نوصدقه صحیح شوه

الاشکال﴿ اوکه څوك دا اووائی.چه هرکله د تصدق صحت په اجازت دمالك باندې موقوف شو .نو پکارده چه کله مالك اجازت کوی.په هغه وخت محل موجود وی.یعنی دفقیرسره هغه لقطه موجوده وی.

الجواب﴿ د دې جواب دې چې ملك په لقطه باندې ثابتیږی د فقیردپاره وړاندې د اجازت د مالك نه،یعنی که مالك ته د صدقې د صحت اجازت هم نه وی کړې.بیا هم د فقیردپاره په لقطه باندې ملکیت ثابتیږی نو موقوف نه دې اجازت د مالك په قیام د محل د صدقې، بلکه که لقطه د فقیرسره موجود نه وی.هم د مالك اجازت صحیح کیږی.

الاشکال الثاني﴿ اوکه څوك اووائی.چه هرکله په لقطه باندې د فقیرملکیت ثابتیږی. نو چه کله ئې مالك پیدا شی. پکارداده.چه ده ته د فقیرنه دخپل څیزد اخستلو اختیارنه وی.ځکه چه په هغې باندې خو د فقیر ملکیت ثابت شوې دې.

الجواب﴿ ددې دا دې.چه ددې باوجود چه په لقطه د فقیر ملکیت ثابت شوې دې. خو اصل مالك ته د واپس اخستلو اختیارشته.ددې دپاره نظیردا دې.که یوکس بل ته څه څیز هبه کړی.نوپه دغه موهوبه باندې دموهوب له ملکیت ثابت شو.خوددې باوجودکه واهب په خپله هبه کښې رجوع کوی.نوکولې شی

وَإِنْ شَاءَ ضَمِنَ الْمُلْتَقِطَ لِأَنَّهُ سَلَّمَ مَالَهُ إِلَى غَيْرِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ

ترجمه وتشریح﴿ اوکه غواړی (مالك د لقطه) نو تاوانی دې کړی ملتقط (چه لقطه،یا دهغې چه څه قیمت وی هغه دې ترې واخلی)

دلیله﴿ ځکه چه ملتقط ورکړې دې مال دمالك بل ته بغیرداجازت دهغه نه،اوڅوك چه دبل چا څیزکښې تصرف اوکړی.اوبل چاته ئې ورکړی.په ورکونکی باندې تاوان لازمیږی

وجه جواز الصدقة﴿ البته دومره ده چه دا ورکول د ملتقط لقطه لره بل چاته دی په اباحت د شریعت یعنی شریعت ملتقط ته دا اجازت ورکړې دې.که ته دا لقطه د تشهیرد مودې نه پس چاته صدقه ورکوې.نو ورکولې ئې شی.نوهرکله چه شریعت اجازت ورکړې دې.نودې ګناهګار نشو. اوکه بالفرض شریعت اجازت نه وې ورکړې اوملتقط په لقطه کښې تصرف کړې وو.نوبیا به پرې د مالك دطرفه تاوان هم راتلهٔ، اوعندالله به ګناهګارهم وو.

الاشکال> اوکه ته دا وائي.چه هرکله ملتقط ته دشریعت دطرفه د تصدق اجازت شته. نو بیا په ده باندې ضمان ولې راځی.

الجواب> نود دې جواب دا دې.چه اودااجازت دتصدق د شریعت دطرفه منافی نه دې د تاوان سره بلکه د شریعت د طرفه به دتصرف اجازت وی.اوبیا به هم په مجاز له باندې تاوان واجبیږی دپاره د حق د بنده ځکه چه شریعت دمسلمان مال معصوم ګرځولې دې.نود ضرورت په وخت کښې که چاته په کښې د تصرف اجازت هم ورکړی.خودمالك ملکیت ترې نه ختموی .

نظیره> لکه څنګه چه یوسړې دومره اوږې وی. چه هلاکیږی.اوپه دغه وخت کښې ده ته دبل چا څیز دخوراك دپاره ملاؤ شی.نوشریعت ده ته دا اجازت ورکړې دې.چه د مالك نه بغیردې دغه دخوراك څیز اوخوری.اوددې اجازت باوجود که مالك دده نه دهغې قیمت غواړی. نودې به ورته دهغې قیمت ورکوی.نوګوره په دغه صورت کښې د شریعت دطرفه اباحت شته.خوتاوان هم شته.دغه شان په زیر بحث مسئله کښې اګرچه ملتقط ته د تصدق اجازت شته.خوکه مالك غواړی.نوضمان پرې هم راوستې شی.

دچیلۍ،غوا اواوښ د لقطه حکم

وَيَجُوزُ الْاِلْتِقَاطُ فِي الشَّاةِ وَالْبَقَرِ وَالْبَعِيرِ

حل اللغة> ① الشاة:ګډه ② البقر:غوا ③ البعیر:اوښ

ترجمه وتشریح> اوجائزدی رانیول په طور د لقطه د چیلۍ،غوا اواوښ،(1)

دلیله> دلیل دا دې.چه دا اوښ،غوا او اس لقطه ده.توهم کیدې شی د ضائع کیدوددې نو مستحب دی رانیول ددې غوا،اوښ اواس او د رانیولونه پس تشهیر ددې دپاره د حفاظت د مالونو د خلقو ځکه چه په دې طریقه کښې ددې مالونو حفاظت دې.اوکه داسې پریخودې شی. نو د دې د ضائع کیدو ډیراحتمالات دی.کیدې شی.چه د ولوږې دوجې مړ شی.کیدې شی.چه څه آسمانی آفات پرې راپریوځی.کیدې شی.چه دده نه مضبوط ځناور پرې راشی. اوهلاك ئې کړی

دقاضی داجازت نه بغیرپه لقطه باندې دخرچ کولوحکم

فَإِنْ أَنْفَقَ الْمُلْتَقِطُ عَلَيْهَا بِغَيْرِ إِذْنِ الْحَاكِمِ فَهُوَ مُتَبَرِّعٌ

حل اللغة> ① المتبرع:احسان کونکې ② القصور:کموالې

ترجمه وتشریح> که خرچ کړلو ملتقط په دې (لقطه) باندې بغیرد اجازت د حاکم نه،نودې احسان کونکې دې (کوم خرچ چه دې په لقطه باندې اوکړی.دمالك نه د هغې مطالبه نشی کولې)

دلیله> دوجې د کمزورۍ د ولایت دده ملتقط نه دذمې د مالك نه یعنی ملتقط سره دومره اختیار نشته . چه دې دمالك نه دخپلې خرچې مطالبه اوکړی

په لقطه باندې د خرچې باره کښې دقاضی فیصله

وَإِذَا رُفِعَ ذٰلِكَ إِلَى الْحَاكِمِ نَظَرَ فِيهِ، فَإِنْ كَانَ لِلْبَهِيمَةِ مَنْفَعَةٌ آجَرَهَا وَأَنْفَقَ عَلَيْهَا مِنْ أُجْرَتِهَا

حل اللغة> ① البهیمة:ځناور ② المنفعة:فائده

---

(1) **مسلك مالك والشافعي:-** امام مالك اوشافعی رحمهما الله فرمائی کله چه اوموموی اوښ اوغوا په صحراء کښې نوپریخودل (ددې) غوره دی (د رانیولونه)

ترجمه وتشریح﴾ اوکله چه یوړې شی دا (مقدمه د لقطه) قاضی ته نو ګوری به (یعنی سوچ به کوی قاضی) په دې (لقطه) کښې نوکه چیرته وی دځاروی نه څه فائده (مثلاً اس دې.نود اس نه فائده اخستې شی.چه د دې نه د بار راوړلوکاروا‌خستې شی.اومزدوری پرې اوکړې شی) نوبه مزدوریٔ به اولګوی.هغه (لقطه) اوخرچ به کوی په هغې لقطه باندې دمزدوریٔ دهغې نه یعنی هغه لقطه لکه مونږ چه په مثال کښې اس پیش کړلو.به په کار اولګوی.اوچه هغه کومه مزدوری کوی.هم په هغه مزدوریٔ کښې به په هغه اس باندې خرچ کوی.ګیاه به ورله ورکوی.داسې نور ضروریات به ئې پوره کوی

دلیله﴾ څکه چه په دې کښې چه هم په هغه لقطه باندې ګټه کوی.اودهغه ګټې نه په هغې باندې خرچ کوی باقی پاتې کول د ذات د لقطه دی په ملك د هغه مالك باندې.بغیرد راتلو د قرض نه په مالك باندې، (یعنی دمالك څیزبه هم محفوظ اوباقی پاتې شی.اودده په حفاظت اوخسمانه چه څه خرچه شوې وی.هغه به هم په مالك باندې قرض نشی.څکه چه خرچه خو هم دهغه د لقطه د مزدوریٔ اوګټې نه خرچ شوې ده

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهَا مَنْفَعَةٌ وَخَافَ أَنْ يَسْتَغْرِقَ النَّفَقَةُ قِيمَتَهَا بَاعَهَا الْحَاكِمُ وَأَمَرَ بِحِفْظِ ثَمَنِهَا

حل اللغة﴾ ① الاستغراق:راګیرول ② الابقاء:باقی پاتې کول

ترجمه وتشریح﴾ اوکه نه وی ددې (لقطه) څه فائده (فی الحال مثلاً وچه چیلیٔ وی) اوویریږی (قاضی) چه ختم به کړی خرچه قیمت ددې (لقطه،یعنی که ددې خسمانه کوی.اوخرچه پرې کوی.نوددې څه قیمت دې.هغه هومره روپیٔ به ددې په خرچه باندې اولږی) نوخرڅه به ئې کړی اوحکم به اوکړی (قاضی ملتقط ته) د حفاظت د قیمت د هغې(لقطه)

دلیله﴾ دشریعت دا حکم دې.چه لقطه خپل مالك ته واپس شی.خود واپس کیدو دوه صورتونه دی. یو صورت دا چه عین لقطه مالك ته واپس کړی.نودا صورت خو متعذر دې. څکه که ددې لقطه خسمانه کوی .نودهغې په خسمانه اوتربیت باندې دهغې دقیمت نه زیاتې پیسې لګی.نودویم صورت دا دې.چه په معنوی شکل کښې مالك ته خپل څیز واپس کړې شی.اومعنوی صورت دا دې.چه د هغه څیزقیمت ورته واپس کړې شی

وَإِنْ كَانَ الْأَصْلَحُ الْإِنْفَاقَ عَلَيْهَا أَذِنَ فِي ذَلِكَ وَجَعَلَ النَّفَقَةَ دَيْنًا عَلَى مَالِكِهَا

ت ت. اوکه چیرته وی زیاته فائده مند خرچه کول په دې(لقطه) باندې،نواجازت به ورکړی .قاضی) د دې خرچې کولو.ملتقط ته) اوابه ګرځوی خرچه قرض په مالك د هغې باندې .یعنی چه کله ئې مالك پیدا شی.نوبه لقطه باندې چه ملتقط څومره خرچه کړې وی.هغه به ورته مالك ورکړی)

دلیله﴾ څکه چه قاضی مقرر شوې دې دپاره د خیکړې کولوچه دې به مسلمانانوته فائده رسوی اوپه دې کښې چه لقطه خرڅه نکړې شی.بلکه دهغې خسمانه اوشی.اوملتقط ته دهغه خرچه واپس ورکړې شی فائده ده دواړو طرفونو ته ملتقط ته دا فائده ده.چه ده ته به خپله خرچه ملاوْ شی.اومالك ته به دا فائده اوشی.چه دهغه څیزبه د هلاکت نه بچ شی

تحدید مدة النفقة﴾ عالمانو ﷺفرمانیلی دی یقیناً حکم به کوی قاضی ملتقط ته دخرچ کولو دوه ورځې یا درې ورځې،په هغه اندازه چه امیدپه کښې ساتی چه پیدا به شی مالك ددې لقطه هرکله چه پیدا نشی مالك د لقطه نوحکم به اوکړی قاضی د خرڅولود هغې لقطه څکه چه جاری ساتل د خرچې په لقطه باندې ختمونکې دی قیمت دلقطه لره،یعنی که په دغه لقطه باندې خرچه جاری ساتی.نوخرچه به دومره زیاته شی .چه د لقطه کم قیمت دې.هغې ته به اورسی نونشته خیګړه د مالك په خرچ کولوکښې

په لقطه باندې

دخپلې خرچې اخستلو دپاره لقطه دخپل ځان سره ایسارول

﴿وَإِذَا حَضَرَ مَالِكُهَا فَلِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يَمْنَعَهَا مِنْهُ حَتَّى يَأْخُذَ النَّفَقَةَ﴾

ترجمه وتشريح کله چه حاضرشي یعني مالك «دلقطه» نودملتقط دپاره جائزدی چه منع کړی دا(لقطه) ده «مالك» نه تردې چه ورکړی ورته خرچه (کومه چه ملتقط په لقطه باندې لګولې وی)

دليله ځکه چه دالقطه ژوندې پاتې شوې ده په خرچه د ملتقط.که ده پرې خرچه نه کوله. خولقطه به هلاکه شوې وه نودا داسې شوه.لکه چه حاصل کړې مالك ملکیت په لقطه د ملتقط دطرفه ،نو مشابه شوه د مبیع سره. یعنی ترڅوپورې چه بائع ته د مبیع قیمت نه وی ملاو شوې.ده دپاره دا جائز دی.چه مبیع مشتری ته د ورکولونه ایساره کړی

دحرم اودحل د لقطه حکم

﴿وَلُقَطَةُ الْحِلِّ وَالْحَرَمِ سَوَاءٌ﴾

ترجمه وتشريح اولقطه د زمین حل اودحرم برابرده. «په حکم کښې» ([1])

دلائله ①دلیل قول د نبی ﷺ دې. اعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً ([2])چه معلوم کړه او وپيژنه کڅوره ددې (لقطې) او مزې ددې لقطې نوبیا اعلان کوه ددې لقطه یعنی دا خیزونه دې تاته یاد وی.نوکه څوك ئې نښنه ښائی.تاته به څه اشکال نه وی یوکال پورې ، نبی ﷺ په دې حدیث کښې د مطلق لقطه دپاره دیوکال مودة یاده کړې ده بغیرد فرق نه په مینځ د حل اوحرم په لقطه کښې. نو هر کله چه نبی ﷺ دحل اوحرم په لقطه کښې څه تفصیل اوفرق نه دې بیان کړې.مونږ ئې هم نه بیانوو

②اوبله دا چې یوکال تیرشی.اودهغې نه پس لقطه صدقه کړې شی.نودا هم یوقسم دلقطه حفاظت دې. ځکه چه دهغې لقطة د صدقة ثواب به ورته ملاؤ شی نومالك کیږی به ملتقط دلقطه دحرم لکه څنګه چه په نورولقطاتوکښې ملتقط دیوکال تشهیرنه پس دلقطه مالك جوړیږی.که فقیروی

﴿وَإِذَا حَضَرَ رَجُلٌ فَادَّعَى اللُّقَطَةَ لَمْ تُدْفَعْ إِلَيْهِ حَتَّى يُقِيمَ الْبَيِّنَةَ. فَإِنْ أَعْطَى عَلَامَتَهَا حَلَّ لِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يَدْفَعَهَا إِلَيْهِ وَلَا يُجْبَرُ عَلَى ذَلِكَ فِي الْقَضَاءِ﴾

ترجمه وتشريح اوکله چه حاضرشی یوسړې اودعوی ئې اوکړله د لقطه (چه دا زما ده) نو نه به شی ورکولې ده«مدعی» ته تردې چه ګواهان قائم کړی(اوهغوی دا ګواهی ورکړی.چه دا لقطه ددې مدعی ده) که هغه «مدعی» اوخودله څه نښنه (چه زما په څیزکښې دا نښنه ده.او واقعی هغه نښنه په لقطه کښې وی) نوجائزشو دپاره د ملتقط چه ورکړی هغه (لقطه) ده «مدعی» ته،اومجبوره کولې به شی په دې «ورکولود لقطه باندې» په قضا«دقاضی کښې» ، یعنی چه مدعی ګواهان قائم نکړی.صرف نښنه اوښائی

---

[1] **مسلك الشافعي**:- امام شافعی ﷫ فرمائی واجب دې تشهیرکول په لقطه د حرم کښې تردې چه راشی مالك ددې (لقطه،یعنی د اعلان اوتشهیردپاره دیوکال وغیره مودة مقرر نه ده.بلکه همیشه دپاره به د هغې تشهیرکوی.تردې چه مالك ئې راشی

[2] من حدیث زیدبن خالد الجهنی ﷜ أخرجه البخاری فی اللقطة باب ٤ رقم ٢٤٢٩ ومسلم فی اللقطةرقم ١ وأبوداود فی اللقطة باب ١ رقم ١٧٠٤ والترمذی فی الأحکام باب ٣٥ وابن ماجه فی اللقطة باب ١ رقم ٢٥٠٤ وأحمد فی المسند(١١٥\٤) والنسائی فی السنن الکبری (٤١٩\٣) رقم ٥٨١٤)_

نوکه ملتقط ورته لقطه ورکړې جائز ده. خوکه نه ورکوي.نوقاضي ئې په ورکولوباندې مجبوره کولې نشي) (۱)

دليله دليل دا دې چه قبضه حق مقصودي دې پشان د ملك، نو مستحق کيږي مدعي د قبضه مګرپه دليل سره،اوهغه دليل ګواهان دي.دوجې دقياس نه په ملك باندې، يعني لکه څنګه چه ملکيت د ګواهانونه بغيرنه ثابتيږي.دغه شان به قبضه هم بغيرد ګواهانونه نه صحيح کيږي .

الاشکال اوکه ته دا وائې چه هرکله بغيرد ګواهانوقائمولونه دمدعي قبضه نه صحيح کيږي. نوبيا دلقطه د نښنه خودلو فائده څه شوه؟

الجواب نودهغې جواب دا دې البته دومره ده چه جائز دی دملتقط دپاره ورکول دلقطه مدعي ته په وخت د صحيح کيدو د نښې، يعني چه مدعي کومه نښنه اوښائي.چه کوم څيزتا موندې دې. هغه زما دې. او د هغې دا نښنه ده.اوهغه نښنه صحيح وي.نودملتقط دپاره لقطه ورکول جائزشو دوجې دقول د نبي ﷺ نه، فَإِنْ جَاءَصَاحِبُهَاوَعَرَفَ عِفَاصَهَاوَعَدَدَهَافَادْفَعْهَا إِلَيْهِ(۲)چه که راغلومالك ددې (لقطه اوخودنه ئې اوکړله دهغې د کسوړئ (چه په فلانی قسم لوښی يا څيز کښې وه) او شمارنې اوکړلو دهغې (چه د لقطه مقدار دومره دې) نو ورنې کړه هغه معرف ته.

وَلَايَتَصَدَّقُ بِاللُّقَطَةِ عَلَى غَنِيٍّ

ترجمه وتشريح (هرکله چه د اعلان او تشهيرنه پس هم مالك پيدا نشي.نوپه دې صورت کښې اوصدقه کولې به نشي لقطه په غني باندې.

دليله څکه چه دکوم څيزحکم ورکړې شوې دې (يعني نبي ﷺ ئې حکم ورکړې دې) هغه صدقه کول دی.دوجې دقول دنبي ﷺ نه (په باره د لقطه کښې) که رانغلو يعني مالك ددې (لقطه داعلان او تشهير نه پس) نوصدقه دې اوکړي (ملتقط) په هغې(لقطه)

وَإِنْ كَانَ الْمُلْتَقِطُ غَنِيًّا لَمْ يَجُزْلَهُ أَنْ يَنْتَفِعَ بِهَا

ترجمه وتشريح اوکه چيرته وي ملتقط د مالدارنوخښتي نو جائز نه دی دده(ملتقط) دپاره چه فائده واخلي ددې (لقطه) نه،(۳)

دلائله ① دليل دا دې.چه دا لقطه مال د بل دې چه مالك غائبه دې نو نه مباح کيږي فائده اخستل په دې مال دغير مګرپه رضا د مالك دوجې داطلاق دنصوصو نه(چه هغې حرام کړې دې تعرض کول دبل مال ته مګرپه رضا دهغه لکه الله تعالى چه فرمائيلی دی. ﴿لَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّآ أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ﴾ نو عامه قاعده خودا ده.چه دبل چا مال دهغه داجازت نه بغيرجائزنه دې.البته په زيربحث مسئله کښې فقير د دې نه مستثنى دې) اواباحت (دمال د غير) دفقيردپاره راغلي دې. دوجې دهغه حديث نه چه مونږ ئې روايت کړې دې. (چه نبي ﷺ د لقطه په باره کښې فرمائيلی دی.چه

---

(۱) **مسلك مالك والشافعي**:- اوفرمائي امام مالك او شافعي رحمهما الله چه مجبوره کولې به شي.اونښنه دا ده.مثلاً چه نوم واخلي د وزن د روپو. چه د روپو وزن دومره دې.وزن ئې

(۲) من حديث ابي بن كعب رضي الله عنه أخرجه مسلم ل اللقطة رقم (۴۵۸۱)۔

(۳) **مسلك الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمائي جائزده چه مالدارملتقط دلقطه نه فائده واخلي

د اعلان نه پس د لقطه مالك پيدا نشي.نوهغه دې صدقه كړي. نو معلومه شوه.چه لقطه اباحت جائز دې. خود صدقه په حيثيت چه په چا باندې صدقه كيږي. هغه ته وركړې شي)

ويجوزان يتصدق بها اذا كان غنيا على ابيه وابنه وامه وزوجته اذا كانوا فقراء

ترجمه وتشريح> اوجائز ده چې ملتقط صدقه اوكړي په لقطه سره كه چرته غني وي په خپل پلار او خوئې او مور اوښځې خپلې خو په دې شرط چې هغوي فقيران وي.

دليله> څكه چې صدقه په دې مذكورو كسانو كښې په هرچا كيږي.ترڅو چې صدقه كافر ته هم وركول جائزدي البته زكاة خپلو اصولو او فروعو ته نشي وركولې دغه شان زكاة كافر ته هم نشي وركولې.[۱]

كِتَابُ الْخُنْثٰى

ترجمه> (دا) كتاب د خنثى (په بيان كې) دې.

تشريح> اصل خو دا دې.چه د انسان يوه آله (اندام مخصوصه) وي.چه يا د سړي وي او يا د ښځې وي.او د دواړو اندامونو(چه هم د سړي وي او هم د ښځې نو دا) جمع كيدل ډير نا آشنا دي.بهرحال كله كله داسې كيږي. په دې وجه ددې د بيان ضرورت پيښ شو.او چونكه دا نا آشنا دي.په دې وجه دا دټولو نه روستو بيان كړې شوې دي.

د خنثى تعريف او حكم

اِذَا كَانَ لِلْمَوْلُوْدِ فَرْجٌ وَذَكَرٌ فَهُوَ خُنْثٰى اوكله چې د بچي فرج او ذكر (د ښځې او سړي اندام مخصوصه) دواړه وي.نو هغه خنثى دې **فَإِنْ كَانَ يَبُوْلُ مِنَ الذَّكَرِ فَهُوَ غُلَامٌ** نوكه هغه ذكر سره بول (متيازې) كوي.نو هغه هلك دې **وَإِنْ كَانَ يَبُوْلُ مِنَ الْفَرْجِ فَهُوَ أُنْثٰى** اوكه فرج سره بول كوي.نوهغه ښځه ده

تشريح> يو ماشوم دې.چه دده دواړه قسمه آلې دي.د سړو پشان هم دې.او د ښځو پشان خانې ني هم شته.نو ده ته خنثى وائي.نو كه هغه ذكر سره بول كوي.نو هغه ته به هلك ونيلې شي.او د ښځو پشان اندام به عيب شمارلې كيږي.او كه د ښځو پشان شرمگاه سره بول كوي.نو هغه ته به جينئ ونيلې شي.او ذكر به داسې شمارلې كيږي.لكه چې د يوكس شپږ گوتې وي.چه په هغې كې يوه زياتې وي.

دلائله> ① دليل دا حديث دې چې «أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سُئِلَ عَنْهُ كَيْفَ يُوَرَّثُ؟ فَقَالَ مِنْ حَيْثُ يَبُوْلُ» [۲] د رسول الله ﷺ نه ددې په اره كې پوښتنه كړې شوې وه.چه داسې كس ته به ميراث څنگه وركولې شي.څكه چې د هلك حكم جدا دې.او د جينئ حكم جدا دې.اوس به دې كوم يو گنړلې شي.نو نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.چه د كوم خانې نه بول (متيازې) كوي.د هغې اعتبار اوكړئ.يعنى كه هغه ذكر سره بول كوي.نو د هلكانو ميراث به ملاويږي.او كه په فرج سره بول(متيازې) كوي.نو د جينكو ميراث به ملاويږي.

② دغه ډول د حضرت على رضي الله عنه نه هم دا نقل دي.او دا اثر عبدالرزاق رحمه الله پخپل تصنيف كې د فرائضو په بيان كې كړې دې.بيا چې هغه د كوم خانې نه بول كوي.ددې خبرې دليل دې.چه اصل اندام هم دا دې.او هم دا صحيح اندام دې.او دويم دعيب پشان دي.

[۲]) من حديث ابن عباس رضي الله عنه اخرجه ابن عدى فى الكامل والبيهقى فى السنن الكبرى (۶\۴۲۸) رقم ۱۲۵۱۸)۔

که خنثی په دواړو لارو متیازې کوی نو څه حکم دې ؟

وَإِنْ كَانَ يَبُولُ مِنْهُمَا اوکه دا ماشوم په دې دواړو سره بول(متیازې) کوی وَالْبَوْلُ يَسْبِقُ مِنْ أَحَدِهِمَا. او بول په دواړو لارو کښې د یوې نه وړاندې راوخی نُسِبَ إِلَى الْأَسْبَقِ مِنْهُمَا نو نسبت به کولې شی هغې ته چې وړاندې وی په دې دواړو کښې

تشریح> که دا ماشوم داسې وی.چه د ذکر سره هم بول(متیازې) کوی.او فرج سره هم کوی.نو دا به کتلې شی.چه بول مخکې د کوم خائې نه راوخی.دکوم خائې نه چې بول مخکې راوخی.نو هم د هغې حکم به په ده باندې جاری کولې شی.ګویا دا وړاندې کیدل د ترجیح د اسبابو څنې دی.

دلیله> ځکه چې بول(متیازې) به هغه اندام اړخ ته وړاندې والې کوی.کومه چې اصلی نالئ ده.او ددې نه روسته د متیازو د دویم خائې نه وتل، دا د مرض علامت دې.چه دې اړخ ته به توجه نشی ورکولې.او د کوم خائې نه چې بول(متیازې) مخکې راوتلې دی.د هغې هیڅ معارض نشته.نو هم دې ته به د متیازو اصلی نالئ وئیلې شی.

که دواړه اندامونه په مخکښې کیدو کښې برابر وی نو څه حکم دې ؟

وَإِنْ كَانَا فِي السَّبْقِ عَلَى السَّوَاءِ اوکه دا دواړه اندامونه په وړاندې والی کې برابر وی فَلَا يُعْتَبَرُ بِالْكَثْرَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د متیازو د زیاتوالی هیڅ اعتبار نشی کولې

تشریح> که دا ماشوم داسې وی.چه دده د دواړو اندامونو نه بول(متیازې) په یو خائې راوخی.نو اوس هیڅ وجه د ترجیح نشته.نو که بل څه علامت د ترجیح نه وی.نو ده ته به د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز خنثی مشکل وئیلې شی.

دلیله> امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائیلی دی.چه د متیازو په زیاتوالی او کموالی باندې به مدار نه ایخودې کیږی.ځکه چې د قلت او کثرت مدار په دې باندې نه دې.بلکه کله داسې هم کیږی.چه یو اندام کلاو دې.او دویم تنګ دې.نو کوم چې کلاو دې.د هغې سره به بول زیاتې راوخی.او د دویمې سره به کمې راوخی.او د سړی د ذکر سوړه تنګه وی.او د ښځې شرمګاه کلاو وی.نو بول به د ښځې د شرمګاه نه زیاتې راوخی. بهرحال که قلت او کثرت کې هم برابری او مساوات وی.نو اوس حضرات صاحبین رحمهما الله هم متفق دی.چه دا خنثی مشکل دې.ځکه چې دلته هیڅ مرجح نه دې موجود شوې.

وَقَالَا: يُنْسَبُ إِلَى أَكْثَرِهِمَا بَوْلًا او صاحبینو رحمهما الله فرمائیلی دی.چه ماشوم به دې دواړو اندامونو کې زیاتو متیازو والا اندام اړخ ته منسوب کولې شی

تشریح> **مسلک الصاحبین**> خو د صاحبینو رحمهما الله په نیز کله چې وړاندې کیدو کې برابری وی.نو بیا به ددې نه روستو د متیازو کم والی او زیاتوالی ته کتلې شی.یعنی دا به کتلې شی.چه زیاتې بول د ذکر نه راوخی.اوکه د فرج نه، د کوم خائې نه چې زیاتې بول(متیازې) راوخی.هم هغه حکم به په دې باندې جاری کولې شی.

دلیلهما> دلیل دا دی.چه ،،للاکثرحکم الکل،، مشهوره قاعده ده.نو د کثرت په وجه به ترجیح حاصل وی.او د کوم اندام نه چې زیاتې بول(متیازې) راوخی.هغه ددې خبرې دلیل دې.چه هم دغه اندام زیات قوی او مضبوط دې.او هم دا اصلی اندام دې.

خنثى چې بالغ شي نو په علامتونو ښکاره کيدو سره به حکم لګولې شي

وَإِذَا بَلَغَ الْخُنْثَى وَخَرَجَتْ لَهُ اللِّحْيَةُ أَوْ وَصَلَ إِلَى النِّسَاءِ فَهُوَ رَجُلٌ او کله چې خنثى بالغ شي.او دده ګيره راوخي.يا دې ښځو ارخ ته اورسيږي.نو دا سړې دې

تشريح> دا واړه تقرير هغه وخت دې.کله چې خنثى ماشوم وي.ګنى د بلوغ علامتونه به په عامه توګه (عام طور) باندې د ترجيح لپاره موجود وي.نو ددغه علامتونو مطابق به په ده باندې حکم جاري کولې شي.نوکه د بلوغ نه روستو دده ګيره راووتله.يا ښځو سره د وطى کولو قدرت حاصل شو.يا د سړو پشان ده ته احتلام اوشو.يا دده سينه دسړو د سينې پشان برابر ده.بهر ته نه ده راوتلې.

دليله> چونکه دا واړه د سړو علامتونه دي.نو دې به سړې شمارلې کيږي.

د ښځې علامتونه ښکاره شو نو د ښځې حکم به لګولې شي

وَلَوْ ظَهَرَ لَهُ ثَدْيٌ كَثَدْيِ الْمَرْأَةِ أَوْ نَزَلَ لَبَنٌ لَهُ فِي ثَدْيِهِ أَوْ حَاضَ أَوْ حَبِلَ أَوْ أَمْكَنَ الْوُصُولُ إِلَيْهِ مِنْ جِهَةِ الْفَرْجِ فَهُوَ امْرَأَةٌ او که د ښځې پشان ئې تهيونه راښکاره شو.يا دده په سينو کې شيدې راغلل.يا دې ته حيض راغې. يا ددې حمل اوشو. يا ددې شرمګاه ته رسيدل ممکن شو.نو دا ښځه ده وَإِنْ لَمْ يَظْهَرْ إِحْدَى هَذِهِ الْعَلَامَاتِ فَهُوَ خُنْثَى مُشْكِلٌ اوکه ددې علامتونو نه هيڅ يوښکاره نشو.نودا خنثى مشکل دې

حل اللغة > ① **ثدى:** سينه ② **حبل:** اميد ، حمل)

تشريح> اوکه څه داسې علامت ښکاره شو.چه دهغې په وجه ده ته ښځه ونيلې کيدې شي.نو ښځه به شمارلې شي.مثلاً دده تهيونه د ښځو د تهيونو پشان بهرته راوږرسيدل.يا دده په تهيونو کې شيدې راغلل. يا ده ته حيض راغې.يا ده ته حمل اوشو.يا دده په شرمګاه کې وطى کول ممکن شو.نو دا ښځه ده.

دليله> ځکه چې دا واړه کوم چې ذکر شو.د ښځو د علاماتو ځنې دي.اوکه د بلوغ نه روستو داسې څه راجع علامت ښکاره نشو.يا متعارض علامات ښکاره شو.مثلاً تهيونه ئې هم راوږرسيدل.او ګيره ئې هم راغلله. وغيره وغيره.نو اوس به ده ته بالاتفاق خنثى مشکل ونيلې شي.

د جماعت په مونځ کښې به خنثى کوم ځائې اودريږي؟

وَإِذَا وَقَفَ خَلْفَ الْإِمَامِ او کله چې خنثى د امام شاته اودريږي قَامَ بَيْنَ صَفِّ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ نود ښځو اوسړو په مينځ کښې به اودريږي.

تشريح> په جماعت سره د لمونځ کولو په وخت به خنثى کوم ځائې اودريږي؟ نو وې فرمائيل.چه ده له پکار دي.چه د سړو او د ښځو د صف په منځ کې اودريږي.

دليله> ځکه کيدې شي.چه دا ښځه وي.اوکه دا په واقع کې ښځه وي.نو دده د سړو په منځ کې د اودريدو په صورت کې کله چې امام ددې د امامت نيت کړې وي.نو دهغه سړو لمونځ به فاسديږي.کوم چې ددې ښي او چپه ارخ ته دي.او کوم چې ددې شاته دي. دده په مقابل کې . نو اګرچه دلته دا ښځه نه ده.خود ښځې کيدو احتمال شته. نو په احوط طريقه باندې به عمل کولې شي.او نه به د ښځو په صف کې اودريږي.ځکه کيدې شي.چه دا سړې وي. اوکه دا واقعى سړې وې.او د ښځو په صف کې ودريدلې وې.نو ددې سړې لمونځ به فاسد کيدو.نو احوط او اعتمادى طريقه هم دا ده.کومه چې بيان کړې شوه.

د خنثی مشکل د ختنې کولو مسئله

وَتَبْتَاعُ لَهُ أَمَةٌ تَخْتِنُهُ مِنْ مَالِهِ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ او دده لپاره یوه وینځه واخستلې شي.وینځه چه هغه دده ختنه اوکړي.که دده لپاره مال وي .

حل اللغة ① **تختن**: سنت کول، ختنه کول

تشريح اوکه د خنثی مشکل ختنه نه وي شوې.او که دا مراهق یا بالغ شوې دې.نو چونکه دده ختنه نه خوك سرې کولې شی.اونه ښځه. ځکه چې دا مکروه دی.ځکه کیدې شی.چه دا سړې وی.او کیدې شی چې دا ښځه وی.نوکه دده سره مال وی.نو یوه وینځه دې واخستلې شي. چې هغه دده ختنه اوکړي.

دليله ځکه چې دغه وینځه دده مملوکه ده.اوکه دا سړې وی.نو دده مملوکې لپاره دده ارخ ته کتل جائز دی.او که دا ښځه وی.نو دده مملوکه د ضرورت او عذر په وخت دده ارخ ته کتلې شي.

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ اوکه دده لپاره مال نه وي ابْتَاعَ لَهُ الْإِمَامُ أَمَةً مِنْ بَيْتِ الْمَالِ نو امام دې دده لپاره د بیت المال نه یوه وینځه واخلي

تشريح اوکه دده سره مال نه وی.نو بیا دې امام د بیت المال د مال نه یوه وینځه واخلي.چه هغه دده ختنه اوکړي.

دليله ځکه چې بیت المال د مسلمانانو د ضرورتونو لپاره دې

فَإِذَا خَتَنَتْهُ بَاعَهَا نوکله چې هغې دده ختنه اوکړله.نوامام دې دا واپس خرڅه کړی وَرَدَّ ثَمَنَهَا الى بَيْتِ الْمَالِ او ددې قیمت دې بیت المال ته ورکړي.

تشريح **دليله** ځکه چې اوس ددې وینځې نه استغناء شوې ده.او د بیت المال نه د وینځې اخستلو حکم ځکه دې.چه بیت المال د مسلمانانو د حاجتونو لپاره جوړ کړې شوې دې.

په میراث کښې د خنثی مشکل د حصې مسئله

وَإِنْ مَاتَ أَبُوهُ وَخَلَّفَ ابْنًا وَخُنْثَى اوکه د خنثی مشکل پلار مړ شو.او ده یو خوئې پریخودو.او یو خنثی (او یو دا خنثی مشکل) فَالْمَالُ بَيْنَهُمَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ عَلَى ثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به مال د دوی دواړو په منځ کې دریو برخو باندې تقسیمولې شی لِلِابْنِ سَهْمَانِ نو.د خوئی لپاره به دوې (دوه) برخې وی وَلِلْخُنْثَى سَهْمٌ او د خنثی لپاره به یوه برخه وی وَهُوَ أُنْثَى عِنْدَهُ فِي الْمِيرَاثِ إِلَّا أَنْ يَثْبُتَ غَيْرُ ذَلِكَ[1] او خنثی د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز په میراث کې ښځه ده.خو دا چې ددې نه علاوه واضح شی.

تشريح د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز اصل دا دې.چه خنثی مشکل به باب د میراث کې ښځه ګنړلې شوې ده.د صاحبینو رحمهما الله مسلك ددې خلاف دې.چه ددې تفصیل اوس په روستو عبارت کې راروان دې.نوکه یو سړې مړ شی.او دوې (دوه) وارثان پریږدی.یو خوئې او یو پخپل اولاد کې خنثی مشکل.نو چونکه دا (خنثی مشکل) دلته د ښځې په درجه کې دې.نو د ټولې ترکې به دری برخې کولې شی.د هغې سره به ۲\۳ هلك ته او ۱\۳ جینئ ته یعنی خنثی ته ورکولې شی.او دا حکم هغه

[1] القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(٥\٥١٥) والشريفية شرح (ص،١٢٦) ومجمع (٤\٤٧٠) والسراجية (٤٩) نقلاً عن القول الراجح (٢\٣٩٠)-

وخت دې.چه د خنثی اشکال نه وی ختم شوې.اوکه دده د راجح علاماتو په وجه سړې یا ښځه کیدل راجح شوی وی.نو بیا به دده هغه حکم وی.کوم چې دده کیدل راجح شوی دی.

دلیله داامام اعظم د دلیل حاصل دا دې.چه په پیل کې د مال د اثبات په وخت په یقیني امر باندې عمل کولې شی.او یقیني اقل مقدار دې.او د جینئ میراث کم وی.په دې وجه هم دا یقیني دې.او ددې نه په زیات کې شك دې.او د شك په وجه مال نه واجبیږی.لکه مثلاً که په نورو ذریعو سره د مال په وجوب کې شك پیدا شی.نو هلته هم اقل او یقیني (مال) اخستلې شی.مثلاً یو کس اوونیل.چه،،لفلان علی دراهم،، او څومره دراهم دی؟ د هغې د بیانولو نه وړاندې مړ شو.نو په ده به اقل مقدار واجب وی.او د جمعې اقل مقدار درې دی.نو درې دراهم به واجب وی.نو دغه ډول په مذکوره صورت کې هم ددې اصول لحاظ ساتلې شی.او اقل او یقیني به واجبولې شی.او هغه د مال ثلث دې.

د خنثی مشکل د میراث په اړه کښې د صاحبینو رحمهما الله نقطه نظر

وَقَالَا: لِلْخُنْثَى نِصْفُ مِيرَاثِ الذَّكَرِ وَنِصْفُ مِيرَاثِ الْأُنْثَى او صاحبینو رحمهما الله فرمائیلی دی.چه خنثی لپاره د سړی د میراث نصف او د ښځې د میراث نصف دې

تشریح حضرات صاحبینو رحمهما الله فرمائیلی دی.چه خنثی ته به هغه ملاویږی.کوم چې د سړی د میراث نصف دې.اود ښځې د میراث نصف وی.او دا په حقیقت کې د عامر بن شرحبیل رحمه الله قول دې. صاحبینو رحمهما الله ددوی د قول اتباع کړې ده.

الاختلاف في طريق التخريج البته بیا د تخریج په طریقه کې ډیر اختلاف دې.نو په ذکر شوی صورت امام ابویوسف رحمه الله فرمائی.چه په مذکوره صورت کې به ټوله ترکه اووه برخې کیږی.په دې کې درې د خنثی او څلور به د خوئی وی.چه ددې تفصیل او دهر یو دلیل په راروان عبارت کې بیانولې شی.بهرحال د امام ابویوسف رحمه الله قول د خنثی لپاره زیات د فائدې دې.څکه چې ۳۱۷ د ۵۱۱۲ نه زیات دې.(کمالایخفی)

دلیله د امام ابویوسف رحمه الله د دلیل حاصل دا دې.چه کله خوئی یواځې وی.نو هغه دپوره مال مستحق وی.اوکه خنثی یواځې وی.او بل هیڅ څوك وارث دده د پلار نه وی.نو دې د ۳۱۴ مستحق وی. څکه چې وړاندې اصول بیان کړې شوې دې.چه خنثی ته د جینئ دمیراث نصف او د هلك د میراث نصف ملاویږی.چه ددې مجموعه ۳۱۴ جوړیږی.څکه چې د هلك میراث واره دې.یعنی که څلورې برخې وی.نو ټولې برخې به دهلك وی.نو ددې نصف ۲۱۴ شو.او د جینئ میراث واره ۲۱۴ دې.چه ددې نصف ۱۱۴ دې.اوکله چې ۲۱۴ او ۱۱۴ جمع کړې شی.نو ددې مجموعه ۳۱۴ جوړیږی.نو د خنثی واره میراث ۳۱۴ دې.او د خوئی میراث څلور واره ټولې برخې دی.نو کله چې خوئې او خنثی دواړه جمع شی.نو مونږ په دې حساب سره ټوله ترکه ویش کړله.نو ددې مجموعه اووه شوه.نو مونږ اوونیل.چه هلك ته به ۴۱۷ او خنثی ته۳۱۷ ورکولې شی.دا د امام ابویوسف رحمه الله تخریج دې.او هم دا ددوی مذهب دې.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: اَلْمَالُ بَيْنَهُمَا عَلَى اثْنَي عَشَرَ سَهْمًا اوامام محمد رحمه الله فرمائیلی دی.چه مال به ددوی دواړو په منځ کې دولسو برخو باندې تقسیمولې شی لِلِابْنِ سَبْعَةٌ وَلِلْخُنْثَى خَمْسَةٌ د خوئی لپاره اووه او خنثی لپاره به پنځه وی

تشریح او په ذکر شوی صور کې به د ټولې ترکې ۱۲ برخې کولې شی.په دې کې به ۵ د خنثی وی.او ۷ به د خوئی وی.دا د امام محمد رحمه الله قول دې.

دلیله> دا د امام محمدؒ دلیل دي.ددي حاصل دا دي.چه خنثی ته د هلك د میراث نصف او د جینۍ د میراث نصف ملاویږي.نو مونږ داسي عدد واخستلو.چه په هغې صحیح غیرمنکسر ثلث او نصف راوخي.نو دټولو نه ووړوکي عدد ۶ مو واخستلو.نو اوس مونږ په دې کي غور اوکړو.که خنثی سړي وي.نو ده ته به په نصف ۶ کي درې ملاویدې.نو د دریو نصف محفوظ اوساتلې شو.اوکه دا جینۍ وه.نو دې ته به د ۶ ثلث یعنی دوې (دوه) ملاویدې.نو ددې نصف یعنی یو محفوظ اوساتلې شو.چه ددې مجموعه دوې (دوه) نیم شوه.او دویم ارخ ته درې نیم شوه.نو خنثی لپاره دوې (دوه) پوره شوې.البته په دریمه کي شك وو.چه ده ته ملاو شي اوکه ملاو نشي.چونکه دا هلك نه دې.نو ددې تقاضا دا وه.چه دا یو زیاتی ده ته ملاو نشي.ګني د دواړو برابری به لازم شي.او چونکه دا جینۍ هم نه ده.نو ده ته به د ټولې ترکې ثلث یعنی دوې (دوه) ملاویدل هم پکار نه دي.بلکه زیات ملاویدل پکار دي.نو مونږ ددې تنصیف اوکړو.او ددې نیمه برخه مو خنثی ته ورکړله.او دویمه نیمه مو هلك ته ورکړله.نو خنثی لپاره دوې (دوه) نیمه شوه.او هلك لپاره درې نیمې شوې.خو د دواړو په برخو کي کسر واقع کیږي.نو کسر چي لرې کړې شو.او اصل مخرج ۶ کي ضرب ورکړې شو. نو اوس مجموعه ۱۲ شو.او د هر وارث برخې ډبل شوې.نو خنثی لپاره پنځه شوې.او خونی لپاره اووه شوې.یعنی خنثی لپاره ۵\۱۲ او هلك لپاره ۷\۱۲ شوې.دا د امام محمدؒ د قول مطابق د مسئلې تخریج دې.او ددې دلیل دې.او د کسر د بسیط جوړولو طریقه او د حساب طریقې مونږ پخپل کتاب ،،درس سراجی،، کي تفصیل سره بیان کړی دی.

المثال الاول> یو مثال دا دې.

مړی .... (۶)

زوجه	حقیقي وورور	اخت علاتی خنثی
۳	۳	محروم

په مذکوه صورت کي د خالد وفات اوشو.او هغه ذکر شوی وارثان پریخودل.که خنثی سړې اوګنړلې شي.یعنی علاتی رور،نو هغه لپاره هیڅ نه پاتې کیږي.نو دې به رور ګنړلې شي.او محروم به وي.اودا واړه مال به ٦ برخې کولې شي. میره ته ۳ او او حقیقی خور ته به درې ورکولې شي.او که خنثی ته د علاتی رور درجه ورکړې شي.نو د ثلثین د تکمیل لپاره به دده لپاره سدس وي.او د ۷ سره به عول کولې شي.نو په ذکر شوی صورت کي رومبۍ طریقه د متیقن کیدو په وجه اختیارولې شي.

المثال الثاني> دویم مثال دا دې.

مړی .... (۶)

زوج	مور	اخت حقیقي خنثی
۳	۲	۱

په مذکوره صورت کي د زینب وفات اوشو.او ده مذکوره وارثان پر بخودل.چه په دې کي ټوله ترکه ۶ برخې کولې شي. میره ته ۳ ورکړې شوې.او مور ته ثلث (۲ حصې) او باقی یو دعصبه کیدو په وجه خنثی ته ورکړې شوې ده.یعنی دلته دې رور ګنړلې شوې دې.چونکه په دې صورت کي ده ته برخه کمه ملاویږي. خکه چي رور د اصحاب الفروض خنې نه دې.بلکه عصبه دې.اوکه دې اصحاب الفرائض خنې دې.خکه چي دده برخه به زیاتیږي.او د مسئلې صورت به بدلیږي.یعنی مسئله به داسي وي.

مړی .... (۸)

زوج	مور	اخت حقیقي خنثی

۳	۲	۳

یعنی میړه ته ۳ او مور ته ثلث یعنی ۲ او حقیقی خور ته نصف یعنی ۳، نومسئله به د ۸ ته عول کوی.
المثال الثالث دریم مثال دا دي.

مړي .... (۱۲).

اخت حقیقی خنثی	دوي (دوه) اخیافي ورونړه	زوجه
۵	۴	۳

په مذکوره صورت کي خنثی ته د رور درجه ورکړي شوي ده.او باقي پاتي مال ده ته ورکړي شوي دي.خکه چي بنځي لپاره څلورمه برخه ده.او د مور اولاد لپاره ثلث، او باقي به د عصبه کيدو په وجه د رور وی.او د مسئلي تخريج به د ۱۲ نه کيږی.او ۵\۱۲ کم دي د ۶\۱۲ نه، نو دا صورت اختيار کړي شو.گنی که دي خور فرض کړي شوي وی.نو ده ته به ۶\۱۲ ملاويدله.او دده برخه به زياتيدله.حالانکه ده ته اقل ورکول دی.نو دا صورت اختيار کړي شوي دي.گنی ده لره د خور گنړلو په صورت کي به د مسئلي صورت داسي وی.

مړي .... (۱۲).

اخت حقیقی خنثی	دوي (دوه) اخیافي ورونړه	زوجه
٦	۴	۳

وجه ښکاره ده.د مسئلو د تخريج اصول مونږ په درس سراجي کي بيان کړي دي.

كِتَابُ الْمَفْقُودِ

ترجمه و تشریح (دا) کتاب (په بيان د احکامو د) ورك شوی (کي) دي. (مفقود د فقود نه دي.په لغت کي د اضدادوخنی دي.خکه چي د دي معنی د ورکيدو هم ده.لکه چي وئيلی شی،،فقدت الشئ،،یعنی زما نه یو شی ورك شو.اوپه معنی د طلب هم راځي.وئيلی شی.،،فقدته،،یعنی ما ني لټون اوکړلو.

د مفقود مال لپاره محافظ مقررکول

(إذَا غَابَ الرَّجُلُ فَلَمْ يُعْرَفْ لَهُ مَوْضِعٌ وَلَا يُعْلَمُ أَحَيٌّ هُوَ أَمْ مَيِّتٌ نَصَبَ الْقَاضِي مَنْ يَحْفَظُ مَالَهُ وَيَقُومُ عَلَيْهِ

حل اللغة ① موضع:خاني ② يستوفي:تمام (پوره) تمام (پوره) اخستل

ترجمه و تشریح کله چي غائب شي سړي اومعلوم نه وی دده (سړی) خاني (چه په کوم خاني کي به وی) اوپته نه لګی چي ژوندي به وی اوکه مړ،نومقرربه کړی قاضی هغه څوك چي ساتنه کوی د مال دده(مفقود) اونګراني کوی دهغي. (مال) اوحاصلوی (د خلقونه) حقونه دده(مفقود)

دليله خکه چي قاضی مقررشوي دي مصلحت لټونکي دهريوعاجز لپاره چي هغه عاجز وی د مصلحت دخپل خان نه (يعنی چي يوکس دخپل خان مصلحت اوفائده په خپله نشی لټولي.نوقاضی دهغه مصلحت لټونکي دي) اوورك شوي کس هم په دي صفت دي. (خکه چي دي دخپل مال نه غائب دي.اودهغي ساتنه نشی کولي.او اوکرخيدلو(دا مفقود) پشان د ماشوم او دليونی، (خکه چي دا دواړه هم هغه چاته محتاج دی.چه د دوی دمال ساتنه اوکړی)اوپه مقرركولودمحافظ دمال دده(مفقود) لپاره اوپه مقرركولو) دنگران په دي (مال دمفقود)باندي مصلحت دي دده(مفقود ،خکه چي چيرته ددي محافظ مقررنکړي شی. نوضائع به شی)

يَسْتَوْفِي حُقُوقَهُ

ترجمه و تشريح اودا قول د ماتن چې وصول کړي حق د دده(مفقود) نشته څه پټوالي (بلکه دا خبره ښکاره ده) چې دي (محافظ) به قبض کوي (ټول) پيداوار(دمال دده،لکه په کرايه باندې ئې کور ورکړې وي.نودکرايه دارو سره به مياشت په مياشت کرايه اخلي) او پور هغه چې اقرارکوي په هغې باندې پور دار د قرضدارانو دده(مفقود ،يعنې په قرضدارو کې چې په چا باندې پور وي.اوهغه پرې اقرارکوي. نو دهغه سره به دده پور وصولوي) ځکه چې دا (قبض کول د پيداوارد مال دده او دقرضونو دده) دقبيلې د ساتنه څنې دي (يعنې دمفقود مال حفاظت چې څنګه کيږي.په هغې کې دا هم ده.چه دده د مال پيداوار او قرضونه وصول کړي)

(وَيُنْفِقُ عَلَى زَوْجَتِهِ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ مِنْ مَالِهِ)

ترجمه و تشريح .فرماني(ابو الحسين قدوري رحمه الله) اوخرچ کوي به په ښځه دده (مفقود) اواولاد دده (مفقود) دمال دده(مفقود) نه اونه دې دا حکم (دخرچ کولو) خاص په دوي (مذکورينو) پورې بلکه ګډ دې ټولو اقرباو د ولادت ته (يعنې چې دچا سره د ولادت په ذريعه خپلولي راغلي وي.هغه ټولوته ګډ دې.نوپه ولادت کې پلار ،نيکه داسې ورپسې پورته څه،اودغه ډول اولاد او داولاد اولاد داسې ورپسې څه واړه داخل دي)

القاعدة اواصل (اوقاعده په دې باب کې دا ده.چه) هرهغه څوك چې مستحق وي د خرچې په مال دده (مفقود) کې په حالت د موجودګئ دده(مفقود) کې (يعنې چې لا ورك شوې نه وو.اوپه هغه حالت کې د ده په مالك کې دچا نفقه واجب وه) بغيرد فيصلې د قاضي نه نوخرچ کولې به شي په هغه باندې دمال دده (مفقود) نه په وخت د غائب توب دهغه کې ،ځکه چې فيصله (دقاضي) په دغه صورت کې امداد دې (د دغه مستحقينوسره، لنډيز دا چې د مفقود د وجود په وخت کې په ده باندې دقاضي د فيصلې نه بغيردچا نفقه واجب وه.دده د فقد په حالت کې به دهغه نفقه هم واجب وي)

دمفقوداودهغه د ښځې په مينځ کې موده د تفريق

(وَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ)

ترجمه و تشريح فرماني (ابو الحسين قدوري رحمه الله) فرماني اوجدائي به نشي راوستلې په مينځ دده (مفقود) اود ښځې دده (مفقود) کې (١)

دلائله ① دليل قول دنبي صلى الله عليه وسلم دې.په اره د ښځې د مفقود کې چې الْمَفْقُودِ أَنَّهَا امْرَأَتُهُ حَتَّى يَأْتِيَهَا الْبَيَانُ دا (ښځه د مفقود) ښځه دهغه (مفقود) ده تردې چې راشي دې ته بيان (چه هغه وفات شوې دې.نود دمرګ خبر رسيدو نه روسته به دا آزاده وي) (٢)

② اوقول د حضرت علي رضي الله عنه په دې (ښځه د مفقود) کې چې دا (ښځه د مفقود) داسې ښځه ده چې امتحان کې اچولې شوې ده (په اره د فراق د خاوند خپل کې) نوصبر دې کوي (اوخپل ځان دې محفوظ

١) **مسلك مالك** اوفرماني امام مالك رحمه الله کله چې تيرشي څلورکلونه (اوبيا هم مفقود پيدا نشي) نو جدائي به راولي قاضي په مينځ دده (مفقود) اودده په ښځه کې ، (يعنې قاضي به ددوي نکاح فسخ کړي)اوعدت به تيروي (دا ښځه) عدت دوفات (چه څلورمياشتې اولس ورځې دي،اوچه دا موده تيره شي) بيا دې دا نکاح کوي چاسره چې ئې خوښه وي.

٢) من حديث مغيرة بن شعبة رضي الله عنه اخرجه الدارقطني في سننه (٣١٢\٣)_

ساتي.اود خاوند دعقد نکاح خیال دې کوی) تردې چې ښکاره شی مرګ (دخاوند) اويا طلاق (چه خاوند ورته طلاق ورکړې دې. (۱)

نوددې نه روسته دا آزاده ده.نودا قول د حضرت علی رضی الله عنه) واقع شوی دې تفسیر دهغه بیان (مجمل لپاره کوم چې ذکرشوی دې په (حدیث) مرفوع کې ، (چه إنها إمرأته حتى يأتيها البيان)

④اوبله دا چې نکاح پيژندلې شوې دې ثبوت ددې (نکاح په مینځ د خلقوکې چې دا د فلانی ښځه ده.اونکاح يو امرثابت اويقيني دې) او غائب كيدل (دخاوند) نوواجبوی بيلتون (يعنى چې يوسړې غائب وی.نودا ضروری نه ده.چه دده اودده دښځې په مينځ کې دې جدائی راوستې شی.لکه د مفقود نه علاوه که يوسړې په سفرباندې تلې وی.نودده دا غائب کيدل خو دا نه واجبوی.چه دده ښځه دې دده نه جدا کړې شی) اومرګ (دمفقود) په محل د احتمال کې دې(يعنی يوه احتمالی خبره ده.يقينی خبره نه ده)نو نه به شی زائله کولې نکاح (چه په يقين سره ثابته ده) په شک سره (چه مرګ د مفقود دې.ځکه چې قاعده دا ده.اليقين لايزول بالشك)

دمفقود د مرګ حکم ورکولوموده

(وَإِذَا تَمَّ لَهُ مِائَةٌ وَعِشْرُونَ سَنَةً مِنْ يَوْمِ وُلِدَ حَكَمْنَا بِمَوْتِهِ)

ترجمه و تشريح < فرمائی(ابو الحسين قدوری رحمه الله) او کله چې برابر شی دده (مفقود) شپږ شلې کاله عمر د ورځې د زيږيدل نه نو مونږ به حکم کوو په مرګ دده (چه دې مرشوی دې)

قول صاحب الهداية < صاحب ده هدايه فرمائيلی دی چې دا (قول) روايت دحسن دې د امام ابوحنيفه رحمه الله نه (چه کله د مفقود شپږ شلې کاله عمربرابرشی.نوهغه به مړ تصور کولې شی) اوپه ظاهر روايت کې دی چې اندازه کولې به شی (مرګ دده) په مرګ د همزولو دده (نوچه دده همزولی مړه شی.په هغوی کې څوک هم پاتې نشی.دې به هم مړ تصور کولې شی)

رواية ابي يوسف < په هغه روايت کې چې نقل شوې دې داامام ابويوسف رحمه الله نه (دا چې اندازه کولې به شی مرګ د مفقود) په سل کاله پورې (نوچه کله دده عمر سل کاله پوره شی.دې به مړ تصور کولې شی) اواندازه کړې دې بعضې عالمانو(مرګ دده) په لس کم سلو کالو پورې (چه لس کم لس کاله عمرئې برابر شی.دې به مړ تصور کولې شی) اوقياس سره زياته مناسبه خبره دا ده.چه اندازه کولې نشی (مرګ دده) په هيڅ شی پورې (بلکه چې کله ئې غالب ګمان راشی.چه هغه به مړ شوې وی.نوهغه به مړ تصور کولې شی) اوپه ښځه باندې) آسانه خبره دا ده.چه اندازه کړې شی(مرګ دده) په لس کم سل کالو پورې

(اعْتَدَّتْ امْرَأَتُهُ)

ترجمه و تشريح < اوکله چې حکم اوکړې شی د وفات دده (چه مفقود مړدې نوقاضی به دمفقود د ښځې او د هغه په مينځ کې جدائی راولی.اودتفريق نه پس) عدت به تيروی ښځه دده (مفقود) اوپه هدايه کښې ورسره دا اضافه هم شوې ده چې عدت د وفات (چه څلورمياشتې اولس ورځې دی) دَدَغه وخت نه (کله چې قاضی دهغه د مړ کيدو فيصله اوکړله.چه هغه به مړ شوې وی)

په موجوده وارثانوکې د مفقود دمال تقسيم

(وَقُسِمَ مَالُهُ بَيْنَ وَرَثَتِهِ الْمَوْجُودِينَ فِي ذَٰلِكَ الْوَقْتِ)

۲)أخرجه عبدالرزاق في مصنفه في كتاب الطلاق (نصب:۳\۷۱۹)_

ترجمه و تشریح ﴾ او تقسیمولې به شی مال دده (مفقود) په مینځ د وارثانو دده (مفقود) کې (کوم چې) موجود وی په هغه وخت کې (په کوم وخت کې چې قاضی هغه مړ اوګرځولو .نود قاضی دا مړ ګرځول داسې دی) لکه چې دې مړشو (کله چې قاضی دده د مرګ فیصله اوکړله) دسترګو وړاندې

دلیله ﴾ خکه چې حکمی (مرګ) قیاس کولې شی په حقیقی باندې (اوهرکله چې یوکس په حقیقت کې وفات شی .نوچه په کوم وخت کې وفات شی .په هغه وخت کې چې کوم وراثان موجود وی .هغوی به میراث اوړی .نودغه ډول دلته به هم صرف موجود وارثان میراث اوړی .که روستو پیدا شی .هغوی حقدار نه دی)

(وَمَنْ مَاتَ مِنهم قَبْلَ ذٰلِكَ لَمْ يَرِثْ مِنْهُ شيأ)

ترجمه و تشریح ﴾ اوڅوک چې مړ شو په دوی کښې وړاندې ددې (قاضی د فیصلې) نه نو هغه به میراث نه اوړی دده (مفقود) نه

دلیله ﴾ خکه چې حکم نه دې شوې د مرګ دهغه (مفقود ،اوچه یوسړې ژوندې وی .دهغه میراث نشی تقسیمولې) نودا داسې شوه لکه چې دده (مفقود) ژوند معلوم وی (چه هغه ژوندې دې .اودا معلومه ده چې کله د مفقود د ژوند علم وی .نودهغه نه میراث نشی اوړلې)

مفقود دبل چانه میراث نشی اوړې

(وَلَا يَرِثُ الْمَفْقُودُ مِنْ أَحَدٍ مَاتَ فِي حَالِ فَقْدِهِ)

ترجمه و تشریح ﴾ اونه به اوړی مفقود میراث دهیڅ چا نه چې هغه مړ شی په حالت د ورکوالی دده کې ،

دلیله ﴾ خکه چې باقی پاتې کیدل دده (مفقود) ژوندې په دغه وخت کې په استصحاب الحال سره دی. (استصحاب الحال عبارت دې د باقی پرینبولو د یوخیزنه په خپل حالت باندې خکه چې دهغه حالت په ختمیدو باندې څه دلیل موجود نه وی.) اودا (استصحاب الحال) صلاحیت نه لری چې حجت شی په استحقاق (دیوخیز) کې (یعنی دا استصحاب الحال زمونږ په نیزدا صلاحیت لری .چه دځان نه ضرر دفع کړی. خو د استحقاق صلاحیت نه لری .چه دیوخیزمستحق جوړ شی .هم دا وجه ده .چه مفقود دخپل مال لپاره ژوندې ګڼړلې شی .نوچه ژوندې ګڼړلې شی .میراث به ترې نشی اوړې .اودبل دمال لپاره مړ ګڼړلې شی .نوکه بل څوک وفات شی .دې ترې میراث نشی اوړې .خکه چې په ده کې د استحقاق صلاحیت نشته)

كِتَابُ الْإِبَاقِ

ترجمه و تشریح ﴾ (دا) کتاب دتختیدلی غلام (د احکامو په بیان کې) دې.

دعبدآبق باندې دخرچ شوې مال دمطالبه حکم

(اذا ابق المملوك فرده رجل عَلَى مَوْلَاهُ مِنْ مَسِيرَةِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا فَلَهُ عَلَيْهِ جُعْلُهُ وهو أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا، وَإِنْ رَدَّهُ لِأَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ فَبِحِسَابِهِ)

ترجمه و تشریح ﴾ فرمائی (ابو الحسین قدوری رحمه الله) کله چې اوتختی مملوك نو راواپس کړو هغه یو کس خپل مالك ته په مسافه د درې ورځونه یا زیات وی ددې (درې ورځو دمسافت) نه (یعنی په کوم ځائې کې چې نې عبد آبق نیولې وی .دهغه ځائې نه دې دمالك دځائې پورې د درې ورځو مسافه اومزل وی) نودده (عبدآبق نیونکی) لپاره په دده (مالك دغلام) باندې خرچه دده (عبدآبق) ده څلویښت روپۍ ، (یعنی که د درې ورځو په مسافه یا ددې نه زیاته فاصله وه .نومالك به دې رانیونکی ته څلویښت روپۍ

ورکوی، اوکه واپس نې کړلو (دغه عبدآبق خپل مالك ته) په کم مسافه ددې (مسافه د درې ورځو) نه، نو (خرچه به ورکوی) په حساب دهغې (څلویښت روپو به ورکوی. مثلاً که د یوې ورځې په مسافه باندې د لرې ځائې نه نې راوستې وی. نو څلویښت چې په دریو ویش کړې شی. څه سرپیره دیارلس روپۍ راځی. نو څه سرپیره دیارلس روپۍ خرچه به ورته ورکوی. دغه ډول که د یوې نیمې ورځې مسافه وی. نو شل روپۍ به ورکوی) اودا (حکم د څلویښتو روپو ورکولو) استحسان دې. (عالمانو ښه ګڼړلې دې. اودصحابه کرامو رضي الله عنهم پرې اتفاق دې)

دلیله دلیل دا دې. چه صحابه کرام رضي الله عنهم متفق شوی وو په وجوب د نفس خرچې (یعنی په دې باندې خوواړه متفق دی. چه کوم کس تخیتدلې غلام خپل مالك ته راولی. نو مالك به ورته پیسې ورکوی)(١) البته دومره ده چې په دوی (صحابو رضي الله عنهم) کې هغه څوك دی چې واجب کړې نې دی څلویښت روپۍ (چه مالك به آخذ ته څلویښت روپۍ ورکوی. لکه حضرت عمر رضي الله عنه شو) اوپه دوی کې هغه څوك دی چې واجب کړې نې دی کمې ددې (څلویښتو) نه، (لکه حضرت علی رضي الله عنه شو) نو مونږ واجب کړلې څلویښت روپۍ په مسافه د سفرکې (چه درې ورځې دی) اوکمې (روپۍ مو واجب کړې) په هغه (مسافت) کې چې کم وی د دې (مسافه دسفر) نه، لپاره د موافقت راوستلو په مینځ د آثاروکښې) اودجمعې راوستلو په مینځ ددې دواړه قسمه روایاتوکې (چه روایت د څلویښت روپو دې اوروایت د څلویښتو نه دکمو روپو دې)

دغلام قیمت د څلویښتو روپونه د کموالي صورت

(وَإِنْ كَانَتْ قِيمَتُهُ أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعِينَ قَضَى لَهُ بِقِيمَتِهِ إِلَّا دِرْهَمًا)

ترجمه و تشریح فرمانی (ابو الحسین قدوری رحمه الله) اوکه چیرته وی قیمت دده (غلام) کم د څلویښتو روپو نه، نو فیصله به کولې شی دده (واپس راوستونکی) لپاره په قیمت دهغه (چه څلویښت روپۍ دی) مګریوه روپۍ (به کمه ورکوی. یعنی دیوکم څلویښتو روپو قیمت به نې مقررکولې شی) صاحب دهدایه فرمائیلی دی چې دا (ورکول د یوکم څلویښت روپو) قول دامام محمد رحمه الله دې.

دلیله دلیل دا دې. چه مقصود مانل کول د بل کس دی په واپس کولو (دعبدآبق خپل مالك ته) دې لپاره چې ژوندې شی مال د مالك (یعنی عبدآبق دمالك په حق کې پشان د مړی دې. څکه چې لکه څنګه سړې د مړی نه فائده نشی اخستې. دغه ډول مالك دعبدآبق نه فائده نشی اخستې. نو دعدم فائدې په اعتبارسره دې دمالك لپاره پشان د مړ دې. خوچه دریمګړی واپس راوستلو. نو دا داسې شو. لکه چې ژوندې شو) نوکمولې به شی ترې یوه روپۍ دې لپاره چې اوسپارلې شی ده (مالك) ته څه معمولی غوندې څیز (چه یوه روپۍ ده) لپاره د ثابتولود فائدې (چه مالك ته هم څه فائده اورسی. اوکه دغلام قیمت څلویښت روپۍ وی. اومالك واپس راوستونکی ته هم څلویښت روپۍ ورکړی. نو په دې کې خومالك ته هډو څه فائده ملاؤ نشوه. بلکه دا خوداسې شوه. چه مالك یواجنبی غلام چې د څلویښتو روپو وو. هغه نې واخستلو)

---

١) فعن ابن مسعود رضي الله عنه وجوب اربعين أخرجه عبدالرزاق في مصنفه وكذا البيهقي في سننه الكبرى (٣٣٠\٦) وعن عمر رضي الله عنه وجوب دينار أو إثني عشر درهما أخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه (نصب:٣\٧١٤)۔

قول ابي يوسف> اوفرمائيلي دی امام ابویوسف رحمه الله دده ‹واپس راوستونکی› دپاره ،څلویښت روپۍ دی(¹)

‹اګرچه دغلام قیمت دڅلویښتونه کم وی›

دلیله> ځکه چې اندازه کول ‹دخرچې› په دې‹څلویښتو روپو پورې› ثابت شوی دی په نص سره ‹چه آثارد صحابو رضي الله عنهم دی› نونه به شی کمولې ددې ‹څلویښتو روپو› نه،اوددې امله ‹چه څلویښت روپۍ منصوص علیه دی› نه ده جائزه صلح ‹په مینځ د واپس کونکی اومالك کې › په زیاتی سره ‹ددې څلویښت روپو،یعنی کله چې د غلام راوستونکې کس د درې ورځود مسافه په لرې والی باندې تختیدلې غلام خپل مالك ته راولی.او د راوستونکی اومالك په مینځ کې دڅلویښتو روپونه په زیاته باندې فیصله اوشی .مثلاً مالك ورته وائی.چه زه به تا ته پنځه څلویښت روپۍ درکړم.نودا هم جائزنه ده.ځکه منصوص علیه څلویښت روپۍ دی.دهغې سره به زیادت نشی کولې›اوپه خلاف د صلح ‹په مینځ د واپس راوستونکی اومالك› په کمو ‹د څلویښتو روپو› باندې، ‹یعنی چې کوم کس غلام واپس راوستې وی. هغه دمالك سره په دې راضی شی.چه دڅلویښتو نه کمې روپۍ مثلاً دیرش به راوستونکی دغلام ته ورکړی.نودا جائزده› ځکه چې دا خودهغې ‹څلویښت روپو› نه کمې دی. ‹اوپه دې کې څه قباحت نشته›

د واپس راوستونکي دلاس نه دغلام تختیدلو حکم

(وَإِنْ أَبَقَ مِنَ الَّذِي رَدَّهُ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ ولاجُعل له)

ترجمه و تشریح> فرمائی‹ابو الحسین قدوری رحمه الله› اوکه اوتختیدلو ‹غلام› دهغه چانه چې واپس نې راوستې وو دې ‹غلام› نو نشته څه څیزپه ده ‹واپس راوستونکی› باندې،اونه دهغه دپاره مزدوری شته

دلیله> ځکه چې دا ‹عبدآبق› امانت دې په لاس د ده ‹واپس راوستونکی› کې ، ‹اولکه چې د مودع نه امانت ورك شی.یا اوتختی.په هغه باندې ضمان نه وی› خو داحکم ‹چه د واپس راوستونکی نه غلام اوتختی.نوپه ده باندې ضمان اوتاوان نشته› په هغه صورت کې دې چې دې ګواهان قائم کړی ‹یعنی کله چې تختیدلې غلام اونیسی.نودا چغه اووهی.چه دا غلام د چانه راتختیدلې دې.که دچا وی چې حواله نې کړم ورته.اودده دا اعلان دوو کسانو اوریدلې وی. او هغوی ګواهی ورکړی.چه آو ده زمونږ په مخ کې دا اعلان کړې وو› اویقیناً مونږ ذکرکړې ددې ‹ګواهانو قائمولو› په ‹کتاب› لقطه کې ، ‹اوکه د ده په اعلان کولوباندې ګواهان نه وی.نوددې نه خودا معلومه شوه.چه دې کس دا غلام دخپل ځان لپاره رانیولې دې.نودې غاصب شو.اوکله چې دغاصب په لاس کې مال مغصوبه هلاك شی .په هغه باندې ضمان وی.نوپه ده به هم ضمان وی›

(وَيَنْبَغِي إِذَا أَخَذَهُ أَنْ يُشْهِدَ أَنَّهُ يَأْخُذُهُ لِيَرُدَّهُ على صاحبه)

ترجمه و تشریح> فرمائی ‹ابو الحسین قدوری رحمه الله› اومناسب دی چې کله اونیسی دې ‹عبدآبق› چې ګواهان جوړ کړی په دې باندې دې ‹نیونکې› رانیسی دې لپاره دواپس کولوده ‹عبدآبق خپل مولی ته،دا دابو الحسین قدوری رحمه الله کلام دی.

دلیله> ځکه چې دګواهانوقائمول پرینبول نښانه ده چې ده ‹نیونکی› رانیولې دې دې‹عبدآبق› دخپل ځان دپاره، ‹ځکه که چیرته مالك ته د واپس کولوپه نیت نې رانیول.نوپکارده چې اعلان نې کړې وې›

¹) القول الراجح هوهذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في فتح القدير(٥\٤٤٦) و ردالمحتار(٣\٤٠٦) والدرالمختار(٣\٤٠٦) و رد المحتار(٣\٤٠٧) نقلاً عن القول الراجح (١\٥٠٩)-

الاستثناء> مکردا چې کله ګواهان قائم کړی په دې چې ده (مشتری) اخستې دې دا (عبدابق) لپاره دواپس کولونو(په دې صورت کې) کیږی دده (مشتری) لپاره خرچه (یعنی داخستلو دقیمت نه سوا چې د ده عبدآبق په واپس کولوباندې کومه خرچه شوې وی.مولی به ورته هغه ورکوی) اودې (مشتری) احسان کونکې دې په ورکولود پیسو(هغه چاته چې غلام نې ترې اخستې وی)

دعبد آبق د خرچه ذمه وار

(فَإِنْ كَانَ الْآبِقُ رَهْنًا فَالْجُعْلُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ)

ترجمه و تشریح> اوکه چیرته وی تختیدلې غلام ګانړه (د مرتهن سره.اودمرتهن نه اوتختیدلو. او یوکس مرتهن ته واپس راوستلونوپه دې صورت کښې) خرچه په مرتهن ده.

دلیله> ځکه چه ده(واپس راوستونکی) ژوندې کړلو مالیت دده(مرتهن) په رد کولو (دغلام) سره، (یعنی مرتهن دخپل قرض په بدله کښې د مقروض نه داغلام ګانړه کړې وو. نوچه مرتهن ته دغه غلام واپس کړې شو.نوګویا چه دهغه حق ژوندې شو.ځکه چه مرتهن ته خوبه خپل حق هله ملاویږی.چه کله دې راهن ته دهغه رهن واپس کړی) اودا (مالیت دعبد) حق د ده (مرتهن) دې.ځکه چه حاصلول د حق دده (مرتهن) د ده(غلام) نه دې. (چه مرتهن سره غلام موجود وی.نوهله به ورته راهن خپل قرض ورکوی) اوخرچه (کومه چه په عبدآبق باندې راغلی وی) په مقابله د ژوندی کولود مالیت ده. (یعنی دغلام خرچه به په هغه چاباندې راځی.چه دهغه مالیت ژوندې شوې وی.اوهغه مرتهن دې)نوړی به (خرچه) په ده(مرتهن) باندې،

كِتَابُ إِحْيَاءِ الْمَوَاتِ

ترجمه> (دا) کتاب د احیاء موات (یعنی د شاړې زمکې ابادولو د احکامو په بیان کې) دې.

تشریح> ① موات په اصل کې هغه حیوان ته وئیلې شی.چه هغه مړ شوې وی.بیا هغه زمکې ته چې د هغې هیڅ څوك مالك نه وی.او هغه نا قابل انتفاع وی.د څاروی مرګ سره تشبیه ورکولو سره موات (مړه یعنی شاړه زمکه) نوم ایخودلې شوې دې.او د احیاء نه مراد په اعتبار د عرف تصرف او انتفاع ده.مثلاً زمکه باندې نې عمارت جوړ کړو.یا نې په دې کې کرونده اوکړله، یا نې ونې اولګولې.

المناسبة بما قبله> لکه څنګه چې تختیدلې غلام د واپس راتلو نه وراندې د مرې پشان وی دغه شان زمکه چې د کرکروندې قابله نه وی نو دا د مرې پشان ده.د دې وجې د دواړو کتابونو په مینځ کښې یو مناسبت شو.

د ارض موات مصداق

الْمَوَاتُ مَا لَا يُنْتَفَعُ بِهِ مِنَ الْأَرْضِ موات هغه زمکه ده.چه هغې نه انتفاع اونکړې شی لِانْقِطَاعِ الْمَاءِ عَنْهُ د هغې نه د اوبو د منقطع کیدو په وجه. أَوْ لِغَلَبَةِ الْمَاءِ عَلَيْهِ یا هغې باندې د اوبو د غلبې په وجه أَوْ مَا أَشْبَهَ ذَٰلِكَ مِمَّا يَمْنَعُ الزِّرَاعَةَ یا کومه چې ددې مشابه وی.د هغه څیزونو څنې کوم چې کرونده منع کوی

حل اللغة> ① **الاراضي:** جمع د ارض، زمکه ② **الانتفاع:** فائده اخستل]

تشریح> دا د موات شرعی تعریف دې.چه موات هغه زمکې ته وئیلې شی.چه په څه وجه هغه قابل د انتفاع نه وی پاتې شوې.یا خو ددې د مالکیجن کیدو په وجه، یا د شګې د ډیروالی په وجه، یا د خالص بدلیدو په وجه، یا د اوبو منقطع کیدو په وجه، یا د اوبو د ډیر والی په وجه،

د ارض موات مصداق

فَمَا كَانَ مِنْهَا عَادِيًّا لَا مَالِكَ لَهُ نو كومه زمكه چې عادي وي.(پخوانئ شاړه او بې آباده) چې د هغې هيڅ څوك مالك نه وي **أَوْ كَانَ مَمْلُوكًا فِي الْإِسْلَامِ** يا هغه په اسلام كې قبضه كړې شوې وي **لَا يُعْرَفُ لَهُ مَالِكٌ بِعَيْنِهِ** چې دهغې څوك معين مالك معلوم نه وي **وَهُوَ بَعِيدٌ مِنْ الْقَرْيَةِ** او هغه د كلي نه دومره لرې وي **بِحَيْثُ إِذَا وَقَفَ إِنْسَانٌ مِنْ أَقْصَى الْعَامِرِ فَصَاحَ** چې كله څوك د آبادئ په آخر كې اودريږي.او آواز اوكړي **لَا يُسْمَعُ الصَّوْتُ فِيهِ فَهُوَ مَوَاتٌ** نو هغې كې آواز واؤ نه ريدې شي.نو هغه موات (مړه او شاړه) ده.

[**حل اللغة** ﴿ ①**القرية**: كلې ② **صاح**: آواز اوكړې ③ **الصوت**: آواز]

تشريح﴿ موات هغه زمكې ته وائي.چه د پخوا زمانې داسې وُرانه، شاړه،او د كروندې نا قابله پرته وي.او د هغې هيڅ څوك مالك نه وي.يا دارالاسلام د هغې مالك وي.خو څوك سړې د هغې مالك نه وي.او د آبادئ نه دومره لرې وي.كه څوك سړې د آبادئ آخرى برخه (حصه) كې اودريږي.او آواز اوكړي.نو دغه زمكې پورې آواز نه رسيږي.كه دا شرطونه موجود نه وي.نو هغې ته به موات نه وائي.او د هغې آبادول به صحيح نه وي.او كه دا آبادئ ته نژدې (نيزدې) وي.نو دا د شهر فناء (حريم او احاطه) ده.چه د كلي خلق ددې نه فائده اخلي.نو ددې آبادول به صحيح نه وي.

وجه النسبة الي عاد ﴿ عاد ارخ (طرف) ته منسوب دې.چه په دې سره د پخوانئ كيدو كنايه كولې شي.څكه چې عاد پخوا زمانه كې وو.نو عاد هغې ته ونيلې شوې دې.چه پخوانئ وُرانه وي.او ددې هيڅ څوك مالك معلوم نه وي.

القاعدة﴿ قاعده دا ده.چه مطلق كامل ارخ (طرف) ته منسوب (او مائل) وي.او مطلق موات هغه زمكه ده.كومه چې د هيڅ مسلمان او ذمى مملوك نه وي.نو كه يوه زمكه د يو مسلمان يا د يو ذمي وي.او هغه وُرانه وي.نو هغې ته به مرزګې (مرداره) (شاړه) نشي وئيلې.څكه چې كومه زمكه د مسلمان يا ذمى مملوك ده.د هغې د خرابوالى باوجود به د هغې نه د مسلمان ملكيت نه زائل كيږي.نو په حديث كې چې كوم لفظ د ميته استعمال شوې دې.د هغې سره به (نه به) كامل مراد وي.او د كامل كيدو لپاره ضروري ده.چه هغه د چا مملوك نه وي.په دې وجه امام محمد رحمه الله دا شرط اولګولو.كوم چې ذكر شو.

د شاړې زمكې آبادولو مالك جوړيدو لپاره د امام د اجازت مسئله

مَنْ أَحْيَاهُ بِإِذْنِ الْإِمَامِ چا چې آباده كړله وُرانه زمكه،د امام په اجازت سره **مَلَكَهُ**، نو هغه به ددې مالك وي **وَإِنْ أَحْيَاهُ بِغَيْرِ إِذْنِهِ** او كه دا نې د امام د اجازت نه بغير آباده كړې وي **لَمْ يَمْلِكْهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ**[1] نو ددې مالك به نه وي.د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز

[**حل اللغة** ﴿ ①**سبقت**: وراندې والې كړې وي ② **الحطب**: خاشى(خشاك) ③ **الصيد**: ښكار]

تشريح﴿ د امام صاحب رحمه الله په نيز كه احياءِ موات (شاړه زمكه آبادول) د امام په اجازت سره شوې وي.نو ابادونكې به ددې مالك وي.ګني سره به (نه به) وي.

[1] (القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في العناية (٩\٤) وردالمحتار (٥\٣٠٧) وملتقى الأبحر (٤\٢٢٩) والخانية (٤\٢٥٣) والدرالمنتقى (٤\٢٢٩)نقلاً عن القول الراجح (٢\٣٠٩)-

دلائله ① د نبی کریم ﷺ ارشاد دي ((لَيْسَ لِلْمَرْءِ إِلَّا مَا طَابَتْ نَفْسُ إِمَامِهِ)) (۱) سړی ته هغه شی (څیز) ملاویدي شی.په کوم سره چې دده امام راضی شی.، نو ددي نه د امام اجازت شرط کیدل معلومیږی.

② دویم دلیل دا چې دا زمکه هم د مال غنیمت څنې ده.او په مال غنیمت کې چاته هم دا حق نه وی.چه دا پخپله واخلی.بلکه د امام د طرفه په تقسیمولو باندې موقوف ده.او ددې مال غنیمت کیدل ښکاره دی.ځکه چې مسلمانانو ته دا زمکه حاصل شوې ده.په داسې حال کې چې دوی په اسونو سواره شوی وو.او چور (حمله) ئې کړې وه.

وَقَالَا يَمْلِكُهُ صاحبین فرمائی چه هغه به ددې مالک وی.

مسلک الصاحبين صاحبین رحمهما الله فرمائی.چه په هرصورت کې به هغه ددې مالک وی.

دلائلهما ① دلیل د نبی کریم ﷺ قول دي ((مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ))(۲) دا حدیث مطلق دي. چې په دې کې د امام د اجازت قید نشته.

② دویم عقلی دلیل دي.چه په مباح مال باندې څوك د وراندې قابض شی.نو هغه هم د هغه وی.لکه ښکار او خشاك،نو دلته کې به هم دغه ډول (دغه شان) وی.

فائده د امام صاحب رحمه الله قول مختار دي.اوکه آبادونکې ذمی وی.نو بالاتفاق د امام اجازت شرط دي.[سکب الانهرص۴۹۰ج۲]

وَيَمْلِكُ الذِّمِّيُّ بِالْإِحْيَاءِ او د زمکې آبادولو سره به ذمی ددې مالك کیږی كَمَا يَمْلِكُهُ الْمُسْلِمُ لکه ځنګه چې مسلمان ددې مالك کیږی

حل اللغة ① **استیلاء:** د کافرانوپه مالونو باندې غلبه حاصلول② **سائر:** ټول.

تشریح لکه ځنګه چې مسلمان د آبادې زمکې د آبادولو په وجه ددې مالك کیږی.دغه ډول (دغه شان) ذمی هم مالك کیږی.

دلیله ځکه چې آبادول د ملك سبب دي.نو لکه ځنګه چې دوی دواړه د ملك په نورو اسبابو کې برابر دی.دلته به هم برابر وی.تردې چې لکه ځنګه مونږ (مونږ) د کافرانو په مالونو د غلبې په وجه ددې مالك کیږو.نو کافران به هم د مسلمانانو په مالونو باندې د غالب کیدو په وجه ددې مالونو مالك کیږی.چه ددې تفصیل وړاندې تیرشوی دي.

مالك جوړیدو لپاره د نښانانو لګولو حکم

وَمَنْ حَجَّرَ أَرْضًا چا چې (د آبادولو لپاره علامت) په زمکه کې د کاڼرو حد اولګولو

تشریح که یوکس د نښاناتو او علامتونو لګولو نه روسته دریو کالو پورې زمکه هم هغه شان شاړه پریخودله. نو امام دې دا زمکه بل چا ته حواله کړی.

دلیله چه د زمکې د آبادولو ذریعه اوشی.او مسلمانانو ته د دې نه عشر یا خراج د زمکې دحیثیت مطابق ملاویږی.چه مسلمانانو ته نفع اورسیږی.او د کاڼرو په نښاناتو او علامتونو لګولو په وجه به ددې نه مالك کیږی.ځکه چې مالك کیږی.په احیاء (ژوندی کولو) سره.او احیاء ابادولو سره کیږی.په

(۱) قال الزیلعی رحمه الله رواه الطبرانی وفیه ضعف من حدیث معاذ رضي الله عنه وقد تقدم فی کتاب السیر(نصب ۴\۱۴\۶۰)ـ
(۲) من حدیث عائشة رضي الله عنها اخرجه البخاری فی الحرب والمزارعة باب ۱۵ ورواه احمد فی المسند(۶\۱۲۰)ـ

کانړو لګولو سره نه کیږي.بلکه دا خو يو علامت دي.چه خلقو ته خبرداري اوشي.چه دا موات دي.او بل څوك ددي احیاء (آبادي) اونکړي.نو دا زمکه چې ځنګه وه.هم هغه شان دده مملوك پاتې شوه؟ يعني داسې نه ده.لکه څنګه چې بعضو ونیلي دی.چه ملك وو.خو دا موقت وو.بلکه ملکيت خو اوسه پورې شوې هم نه دې.څکه چې د ملك سبب نه دې موجود شوې.او هغه احیاء ده.

وَلَمْ يَعْمُرْهَا ثَلَاثَ سِنِينَ او دا ئې آباده نکړله.تر دريو کالو پورې أَخَذَهَا الْإِمَامُ وَدَفَعَهَا إِلَى غَيْرِهِ نو امام به دا اخلي.او دا به دده نه علاوه ته ورکوي

تشريح > **الانتظار الي ثلاث سنين** > چا چې د احیاء (د زمکې آبادولو) لپاره نشان لګولې دې.د هغه به دريو کالو پورې انتظار کولې شی.ددې نه روسته به نه کیږي.

دليله > څکه ① چې قاضي ابويوسف رحمه الله په کتاب الخراج کې د سعيد بن المسيب رحمه الله نه د عمرفاروق رضي الله عنه دا فرمان نقل کړې دې.چه د کانړو نښې لګونکي لپاره د دريو کالو نه روسته هيڅ حق نشته.()

آبادئ ته د نيزدې زمکې د احیاء حکم

وَلَا يَجُوزُ إِحْيَاءُ مَا قَرُبَ مِنَ الْعَامِرِ او کومه زمکه چې آبادئ ته نژدې (نيزدې) وی.د هغې احیاء جائز نه ده وَيُتْرَكُ مَرْعًى لِأَهْلِ الْقَرْيَةِ وَمَطْرَحًا لِحَصَائِدِهِمْ او پريخودلې به شی.دا د کلي د خلقو چراګاه (ورشو) دپاره،او ددوی د کټ شوو فصلونو اچولو د خانې (درمن) لپاره

حل اللغة > ① **مرعى**: د څرخانې، چراګاه ② **مطرح**: درمن، ③ **حصائد**: کټ شوې فصلونه

تشريح > کومه زمکه چې آبادئ ته نژدې (نيزدې) وی.هغه به موات نه وی.په دې وجه به ددې احیاء جائز نه وی.بلکه دا زمکه به د کلي د خلقو لپاره چراګاه (ورشو) او د درمن (د کټ شوی فصل راجمع کولو) لپاره پرېښودې (پريخودې) شي.

دليله > څکه چې دې زمکې ته د کلي د خلقو حاجت دې.که حقيقي حاجت وی.لکه څنګه چې امام محمد رحمه الله فرمائيلي دی.یا دليل حاجت وی.لکه څنګه چې امام ابويوسف رحمه الله فرمائيلي دی.او دا واړه (تول) مخکې تير شو.نو لکه څنګه چې لاره او وياله (نهر) موات نه دې.او ددې احیاء جائز نه ده.هم دغه حال به دهغه زمکې وی.کومه چې آبادئ ته نژدې (نيزدې) وی.

د کوهي کنستلو،د چينې وغيره او ددې د احاطې بيان

وَمَنْ حَفَرَ بِئْرًا فِي بَرِّيَّةٍ او چا چې په ځنګل کې خاه (کوهي) اوکنستلو فَلَهُ حَرِيمُهَا نو هغه لپاره ددې حريم (احاطې) دې

حل اللغة > حريم د کوهي حريم (احاطه) ددې سره نژدې (نيزدې) هغه خانې دې.کوم چې د کوهي حقوقو او منافعو سره تعلق ساتي.او دې ته حريم څکه وائي.چه په بل کس باندې دا حرام دی.چه په دې کې خاه (کوهي) اوکني.یا بل څه تصرف اوکړي.

تشريح > احیاء (آبادول) د ملك د اسبابو څنې ده.او په کوهي کنستلو سره هم احیاء کيږي.,,کماهوظاهر،، بيا د امام صاحب رحمه الله په نيز دې کې د امام اجازت د تيرشوي (مسئلو) پشان شرط دې.د صاحبينو

¹ - اخرجه ابويوسف رحمه الله في كتاب الخراج(نصب ٤\١٠٦٠٤)۔

چنا په نیز شرط نه دي.،،کما مر،، نو کله چې یوکس په مړه (شاړه) زمکه کې (په اختلاف د دواړو اقوالو) څاه (کوهې) اوکنستلو،نو هغه لپاره به ددې حريم (احاطه) ملاویږي.چه دهغې په وجه به بل کس ته دا حق نه وي.چه دده په حريم کې څاه (کوهې) اوکنی.یا بل څه تصرف اوکړي.

د فصل اوبه کولو والا کوهې لپاره د احاطې اندازه

فَإِنْ كَانَتْ لِلْعَطَنِ که څاه (کوهې) (څاروو ته) د اوبو څښلو (څکلو) لپاره وي فَحَرِيمُهَا أَرْبَعُونَ ذِرَاعًا ،

حل اللغة > **عطن:** د کوهي ګېر چاپېره د اوښانو د کیناستلو ځائي، او د بیر عطن نه مراد هغه کوهې چې ددې مقصد صرف څاروو ته اوبه ورکول وي.فصلونو ته اوبه ورکول ددې مقصد نه وي.،،**ناضح**،، په حقیقت کې هغه کوهي ته وائي.کوم چې په عطن (د کوهی شاو خوا (ګیرچاپیره) احاطه) کې چرګاؤ کوي.بیا په هر اوښ کې ددې استعمال اوشو.اګرچه هغه پخپل خان باندې اوبه نه بار کوي.او په اوښه (چه د ارټ نه پرې اوبه راویستې شي) او ارټ کې به چونکه اوښ یا غوئي تړلې شو.او کار به ترې نه اخستلې شو.(لږه موده وړاندې ددې رواج وو.نن سهار (صبا) زمونږ په علاقو کې ددې رواج ختم شو.او د بجلئ ټیوب ویل ددې په ځائي اولګولی شو) په دې وجه داسې کوهی ته بیرناضح اوونیلی شو.د بیر ناضح نه مراد هغه څاه (کوهې) دې.د کوم نه چې پټی اوبه کولې شي.

تشریح> وړاندې دا خبره معلومه شوې وه.چه کوهی لپاره به حريم وي.اوس سوال پیدا شو.چه حريم به څومره وي؟ نو وې فرمائیل.که څاه (کوهې) ددې لپاره وي.چه ددې نه په لاس سره اوبه راوښکلې شي.او څاروو باندې څکولې شي.او ددې نه ګیر چاپیره به څاروی آرام کوي.نو د داسې کوهی حريم څلویښت ذراع (شرعی ګزه) دې.یعنی د هر طرفه څلویښت څلویښت ذراع،

دلیله> د نبی کریم ﷺ د فرمان دې مَنْ حَفَرَ بِئْرًا فَلَهُ مِمَّا حَوْلَهَا أَرْبَعُونَ ذِرَاعًا عَطَنًا لِمَاشِيَتِهِ[1] چا چې څاه (کوهې) اوکنستلو نو هغه لپاره ددې شاو خوا (ګیرچاپیره) څلویښت ذراعه ده.د خپلو څاروو کینولو لپاره

وَإِنْ كَانَتْ عَيْنًا او که چینه وی فَحَرِيمُهَا خَمْسُ مِائَةِ ذِرَاعٍ نو د هغې حريم پنځه سوه لاسه دې

تشریح> او که دا کوهی چینه دار وو نو په اتفاق سره د اصح قول مطابق د دې حريم هرطرف ته پنځه سوه ګزه دې.

دلیله> ځکه چې د دې اوبه خوریږي.نو څه کمې په کنبې نه راځي.

فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يَحْفِرَ بِئْرًا فِي حَرِيمِهَا نو کوم کس چې کوهې کنوی دده په حريم کنبې مُنِعَ مِنْهُ نو ددې نه به منع کولې شي

تشریح> د یو کس دپاره جائز نه دی چې دې د بل په حريم کنبې کوهې اوکنوی

دلیله> دلیل دا دې چې ممکن ده چې د حريم دننه د کوهی په کنستلو سره د دویم کوهی ګندګی په بل کوهی کنبې لاره شي.یا د بل کوهی اوبه دې کوهی ته راشي.دکومې په وجه چې اولنی ته نقصان دې.

---

[1]) من حدیث عبدالله بن مغفل ﷺ أخرجه ابن ماجه فی سننه فی الرهن باب ۲۲ رقم ۲۴۸۶) ورواه الدارمی فی البیوع باب ۸۲_

د درياب د اوبو لاره بدلولو سره ددغه زمکې د آبادئ حکم

وَمَا تَرَكَ الْفُرَاتُ أَوِالدِّجْلَةُ او کوم ځائې چې فرات يا دجله پريخودو وعَدَلَ عَنْهُ الْمَاءُ او هغې نه اوبه واوړيدې فَإِنْ كَانَ يَجُوزُ عَوْدُهُ إِلَيْهِ او دلته اوبه واپس راتګ (راتلل) ممکن دی لَمْ يَجُزْ إِحْيَاؤُهُ ددې احياء جائز نه ده

تشريح> درياب کله کله خپل ځائې پريږدی.لکه چې ګنګا، جمنا کې اکثر هم داسې کيږی. نو د فرات او دجله تخصيص نه دې.بلکه چې هريو درياب وی.نو په دې کې دريائې نيل، ګنګا، جمنا وغيره واړه (ټول) داخل دی.نو اوس به کتلې شی.چه دې ځائې کې بيا دوباره د اوبو د چپو راتلو امکان شته او که نشته؟ په رومبی صورت کې ددې احياء جائز نه ده.ځکه چې دا موات (شاړه) نه ده.دا اوس هم د وياله (نهر) په حکم کې ده.چه ددې احياء (آبادول) جائز نه ده.

او که دوباره د اوبو د چپو راتلو امکان نه وی.نو اوس دوې (دوه) صورتونه دی. ① يا به د يوې آبادئ حريم وی. ② يا به د آباد ځائې حريم نه وی.په رومبی صورت کې ددې احياء جائز نه ده.ځکه چې دا موات نه ده.او په دويم صورت کې ددې احياء جائز ده.ځکه چې اوس دا موات ده.چه ددې هيڅ څوک مالك نشته.ځکه چې د اوبو قبضه د ټولو قبضه ختمه وی.او دې وخت دا د امام په قبضه کې ده.نو دده په اجازت سره (د امام صاحب رحمه الله په نيز) او په دواړو صورتونو کې (د صاحبينو رحمهما الله په نيز) ددې احياء جائز وی.

د بل په زمکه کښې د نهر د احاطې بيان

وَمَنْ كَانَ لَهُ نَهْرٌ فِي أَرْضِ غَيْرِهِ او د کوم کس چې د بل په زمکه کې وياله (نهر) وی فَلَيْسَ لَهُ حَرِيمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِلَّا أَنْ يَكُونَ لَهُ بَيِّنَةٌ عَلَى ذَلِكَ، نو دده لپاره د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز حريم نشته.مګر دا چې هغه به دې باندې ګواهان قائم کړی

تشريح> د يوکس وياله (نهر) دې.چه ددې دواړو طرفونو کې د بل کس زمکه ده.نو د وياله (نهر) لپاره به حريم وی.او که نه؟ امام صاحب رحمه الله فرمائی.چه حريم به نه وی.د اختلاف په وخت به پوله هم د زمکې د مالك ملکيت وی.البته که د وياله (نهر) والا ګواهان قائم کړل.چه پوله زما ده.او زه ددې مالك يم.نو دده ګواهان به معتبر وی.

دليله> دا د امام صاحب رحمه الله دليل دې.لکه ځنګه چې زمونږ د ذکر شوی تفصيلاتو مطابق معلومه شوې ده.چه د حريم ثبوت خلاف قياس دې.خو که دا اووئيلې شی.چه په کوهی کې د حريم ثبوت په نص سره ثابت دې.نو ،،الحاق النهر بالبئر،، مشکل دې.او په کوهی کې د حريم ضرورت (ضرورت) زيات دې.او په وياله (نهر) کې کم دې.ځکه چې د وياله (نهر) نه بغير د حريم نه نفع اخستل ممکن ده.خو په کوهی کې د حريم نه بغير نفع اخستل ممکن نه ده.ځکه چې نهر کې خو اوبه چلول دی.او د کوهی نه راويستل دی.او د راويستلو لپاره څه ځائې پکار دې.که انسان ئې راؤباسی.هغه لپاره هم، اوکه اوبښ يا غوئې ئې راؤباسی.بيا هم، ځائې په دواړو صورتونو کې ضروری دې.نو ددې نه هم معلومه شوه.چه وياله (نهر) د کوهی سره لاحق کول متعذر او مشکل دی.

وَعِنْدَهُمَا: لَهُ مُسَنَّاةُ النَّهْرِ يَمْشِي عَلَيْهَا وَيُلْقِي عَلَيْهَا طِينَهُ او صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه دده لپاره به د وياله (نهر) پوله وی.چه ددې سربيره (دپاسه) هغه ګرځی.او په دې باندې د وياله (نهر) خټه اچوی.

حل اللغة > ① **مسناة النهر:** د وياله (نهر) پوله ② **طين:** خټه]

مسلك الصاحبين صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه حريم به وي.يعني كم از كم د وياله (نهر) پوله به وي.چه ددي لپاره تللي شي.او د وياله (نهر) كنستو په وخت ددي ختهٔ په دې سرييره (دپاسه) اچولې شي.
دليلهما د صاحبينو رحمهما الله دا دليل دی.چه د وياله (نهر) مالك ته به حريم ملاويږي.ځكه چې ښكاره حال هم دده لپاره شاهد دی.ځكه چې د حريم نه بغير د وياله (نهر) نه نفع نشي اخستې كيدې.ځكه چې د وياله (نهر) مالك ته د اوبو د ساتنه (حفاظت) لپاره په پوله باندې د تللو ضرورت (ضرورت) راپيښيږي.او په اوبو كې دننه تلل د عادت خلاف دی.او د وياله (نهر) ختهٔ راويستلو لپاره په پوله باندې د اچولو ضرورت (ضرورت) راپيښيږي.ګنی بل ځائې ته ختهٔ اوړلو، او اچولو كې ښكاره ضرر دی.نو لكه څنګه چې د ضرورت (ضرورت) په خاطر د كوهي لپاره حريم وي.نهر لپاره به هم حريم وي.

كِتَابُ الْمَأْذُونِ

ترجمه (دا) كتاب د ماذون (د احكامو په بيان كې) دی.
تشريح كتاب الماذون ئې د كتاب احياء الموات نه روسته ځكه ذكركړې دی.غلام ته چې تر كومې پورې د تجارت اجازت نه وی ملاو شوې نو د هغه مثال پشان ورك شوی څيز دی اوچې كله ورته اجازت ملاؤ شی نو هغه ته يو نوې ژوند ملاؤ شي.نو لكه څنګه چه مړې زمكې ته ژوند ملاويږی دغه شان غلام ته هم ژوند ملاويږی.دا يې مناسبت او ربط شو.
الاذن لغةً اذن په لغت كې په معنی د اعلام (خبرولو) دی.يعنې اطلاع كول، او وئيل.دٔ فقه په اكثرو كتابونو كې هم دا ذكر دی.
الاذن اصطلاحاً په اصطلاح د شرع كې اذن ،،فك حجر،، او،، اسقاط حق،، ته وائی.يعنی بچې د كم عمرئ په وجه او غلام د غلامئ په وجه د څه تصرف نه منع كړې شوې وو.هغوی ته د تصرف اجازت وركول.د،، فك حجر،، نه اطلاق د حجر مطلقاً مراد نه دی.بلكه صرف د تجارت د امورو اطلاق مراد دی.ځكه چې عبد ماذون لپاره تبرع او اعتاق او د تكفير بالمال (د مال په ذريعه د كفارې اداكولو) اجازت نه وی.په اسقاط د حق كې د حق نه مراد حق د آقا دی.ددې مطلب دا دی.چه كله آقا خپل غلام ته د تجارت اجازت وركړو.نو دده د كوم حق په وجه چې غلام د تصرف نه منع كړې شوې وو.هغه په اجازت وركولو سره دا حق ساقط كړو.په هدايه، عنايه، او كفايه وغيره ټولو كې هم دا ذكر دی.صاحب د تنوير او صاحب د اصلاح او ايضاح وئيلی دی.چه د حق نه مراد حق د منع دې.صرف د آقا حق مراد نه دی.ځكه چې په دې صورت كې به اذن صرف غلام ته ګډ (شامل) وی.صغير (ماشوم) ته نه شامليږی.حالانكه اذن غلام او صغير دواړو ته ګډ (شامل) دی.خو آفندی په تكمله كې په يو څو وجوهو سره د دې ترديد كړې دی.

د عبد ماذون تفصيلی احكام

(إِذَا أَذِنَ الْمَوْلَى لِعَبْدِهِ فِي التِّجَارَةِ إِذْنًا عَامًّا كله چې اجازت وركړو.آقا خپل غلام ته د تجارت عام اجازت، جَازَ تَصَرُّفُهُ فِي سَائِرِ التِّجَارَاتِ)نو جائز به وی.دده تصرف په ټولو تجارتونو كې ،

تشريح كه آقا خپل غلام ته عام اجازت وركړو.د يو معين شي (څيز) يا د خاص ډول (قسم) تجارت سره ئې مقيد نكړو.مثلاً داسې ئې اووئيل.چه ما تا ته د تجارت اجازت دركړو.نو غلام ته به د هرقسمه تجارت اجازت وی.يعنی دده لپاره اخستل، خرڅول، وكيل جوړول، رهن ايخودل، رهن

اخستل، اجرت باندې اخستل،مضاربت کول،د پور (قرض) يا امانت، يا د غصب اقرار كول،غرض دا چې واره (ټول) تصرفات جائز دی.

دليله> ځکه چې د آقا په قول(أذنت لك في التجارة...) کې لفظ د تجارت اسم جنس محلى باللام دې.نو دا عام شو.نو د تجارت ټولو انواعو او د تجارت لوازمو ته به ګډ (شامل) وی.

(وَلَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ او ده لپاره جائزدی.چه اخستل اوکړی سلم لپاره مال ورکړی.وَيَبِيعَ او خرڅول اوکړی (وَيَرْهَنَ وَيَسْتَرْهِنَ) او دې رهن هم اخستلي او ورکولي شي.

تشريح> د ترجمې نه مطلب ښکاره دې.

دليله> ځکه چې دا دواړه د تجارت د توابع څخې دی. ځکه چې دا ادا کول او وصولول دی.

د خاص څيز په اجازت سره د باقي اقسامو د اذن حکم

وإنْ أَذِنَ لَهُ فِي نَوْعٍ مِنْهَا دُونَ غَيْرِهِ که اجازت ني ورکړو ده ته د تجارت د يو خاص نوع،ددې نه د علاوه ني ورنکړو.فَهُوَ مَأْذُونٌ فِي جَمِيعِهَا)نو هغه به په ټولو اقسامو کې ماذون وی.

تشريح> كه آقا عبد ماذون ته د تجارت د يو خاص نوع اجازت ورکړو.بيا به هم ده ته زمونږ د آئمه ثلاثه رحمهم الله په نيز د تجارت د ټولو انواعو اجازت وی. [1]

دليله> دليل دا دې.چه اذن حجر لرې كول او حق ساقطول دی.چه ددې تحقيق په پيل (شروع) کې تير شوې دې.اوکله چې آقا خپل حق ساقط کړو.او حجر ني لرې کړو.نو د غلام مالکيت ښکاره شو.نو يو خاص نوع تجارت سره به اختصاص نه وی.

فإذا أَذِنَ لَهُ فِي شَيْءٍ بِعَيْنِهِ اوكه د يو معين شی (څيز) اخستلو اجازت ورکړی.فَلَيْسَ بِمَأْذُونٍ)نو هغه به ماذون نه وی.

تشريح> معنى دا ده.چه ده ته د لباس (اغوستلو) لپاره د کپړې اخستلو، يا د خپل اهل وعيال لپاره د غلې اخستلو حکم ورکړو.

دليله> او ددې وجه دا ده.که دې په دې سره هم ماذون شي.نو د خدمت اخستلو دروازه به بنده شي.

(وَإِقْرَارُ الْمَأْذُونِ بِالدُّيُونِ وَالْغُصُوبِ جَائِزٌ او د ماذون د قرضونو او د غصبونو اقرار کول جائز دې.

تشريح> که عبد ماذون د قرضونو او د غصب اقرار اوکړی.نو دده اقرار جائز دې.که قرضه نقده وی.يا د څه شی (څيز) قيمت وی.او آقا دده تصديق اوکړی.يا تكذيب اوکړی. [2]

دليله> ځکه چې اقرار د تجارت د توابع او لوازمو څخې دې.که اقرار صحيح نه وی.نو خلق به دده سره اخستل خرڅول او د معامله کولو نه پرهيز کوی.

---

[1] **مسلك الشافعي**:- د امام زفر او امام شافعي رحمهما الله په نيز به صرف په دې خاص نوع کې ماذون وی.د کوم ني چې اجازت ورکړې دې. علامه مرغيناني رحمه الله فرمانيلي دی.هم دا اختلاف په دې صورت کې دې.کله چې آقا دې د يو خاص ډول (قسم) د تجارت نه منع کړې وی.زمونږ (مونږ) په نيز به دې ممنوع نه وی.او د امام شافعي رحمه الله په نيز به ممنوع وی.

[2] **مسلك الأئمة**:- (د آئمه ثلاثه رحمهم الله په نيز د معاملې د قرضونو اقرار جائز دې.اود غصب او هلاکولو (کولو) اقرار په دې صورت کې جائز دې.کله چې آقا ددې تصديق اوکړی) دغه ډول (دغه شان) د ودائع او امانتونو اقرار هم جائز دې.

کوم امور چي د ماذون لپاره نا جائز دي

(وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ)او ماذون ته د نکاح کولو اختيار نشته.

تشريح> عبد ماذون ته دا اختيار نشته.چه هغه خپله نکاح اوکړي.
دليله> ځکه چي دا څه تجارت نه دي.او د طرفينو او آئمه ثلاثه رحمهم الله په نيز د عبد ماذون په مال تجارت کي چي کوم غلام يا وينځه وي.د هغوی نکاح هم نشي کولي.
مسلک امام ابويوسف رحمه الله> د امام ابويوسف رحمه الله په نيز د وينځي د واده اختيار شته.ځکه چي د وينځي په منافعو سره مال يعنی مهر حاصليږي.او اجازت نه مقصود مال حاصلول دی.نو داسي شوه.لکه وينځه په مزدوری باندي ورکول، چي دا جائز دي.
دلائلهما> د طرفينو رحمهما الله دليل دا دي.چه د اجازت مقصد مال حاصلول دی.دا منو.خو دا مطلقاً نه دی.چه هغه د مکاتب پشان ځنګه غواړي.مال حاصل کړي.بلکه مال حاصلول په داسي طريقه پکار دي.چه هغه د باب تجارت ځني وی.او د وينځي نکاح کول هيڅ تجارت نه دي.په دي وجه ده ته د غلام د واده اختيار نه وی.

(وَلَا أَنْ يُزَوِّجَ مَمَالِيكَهُ)او د خپلو مملوکو (وينځو او غلامانو) نکاح هم نشي کولي.

تشريح> عبد ماذون ته دا اختيار نشته.چه هغه خپله نکاح اوکړي.
دليله> ځکه چي دا څه تجارت نه دي.او د طرفينو او آئمه ثلاثه رحمهم الله په نيز د عبد ماذون په مال تجارت کي چي کوم غلام يا وينځه وی.د هغوی نکاح هم نشي کولي.

ماذون غلام لپاره د غلام مکاتب کولو حکم

(وَلَا يُكَاتِبُ)او سره به (نه به) مکاتب کوی.

تشريح> عبد ماذون ته دا اختيار نشته.چه هغه خپل غلام مکاتب کړي.
دليله> ځکه چي دا هيڅ تجارت نه دي.

(وَلَا يُعْتِقُ عَلَى مَالٍ)او سره به (نه به) آزادوی په مال باندي،

دليله> ځکه چي هرکله دي د کتابت مالک نه دي.نو د آزادولو به په طريقه اولي مالک نه وی.

(وَلَا يَهَبُ بِعِوَضٍ وَلَا بِغَيْرِ عِوَضٍ،

تشريح> د ترجمي نه مطلب واضح ده
دليله> ځکه چي دا واړه (تول) صريح احسانات دی.ابتداءً ، او انتهاءً ، يا صرف ابتداءً ، نو دا به د تجارت په اجازت کي داخل نه وی.

(إِلَّا أَنْ يُهْدِيَ الْيَسِيرَ مِنَ الطَّعَامِ)خو دا چي معمولي شان خوراك هديه کړي.أَوْ يُضَيِّفَ مَنْ يُطْعِمُهُ)يا د هغه کس ملمستيا اوکړي.چا چي په ده باندي خوراك کړي دي.

تشريح> د ،،ولايهب،، نه استثناء ده.او د ،،من الطعام،، قيد دي ارخ (طرف) ته اشاره کوی.چه د غير ماکولات هديه به بالکل جائز نه وی.([1])

---

[1]) **مسلک الائمة**:-د امام مالك او امام شافعي رحمهما الله په نيز دلته د آقا د اجازت نه بغير ددي اختيار هم نشته.او هم دغه ډول (دغه شان) ددوی په نيز د معمولي ملمستيا حکم دي.

دلائله ① دليل دا دي چې نبي کريم به د غلام دعوت قبلولو.
②خکه چې دا د تجارت د ضروریاتو څخه دي.د مالداره تاجرانو (سوداګرو) زړه مائل کولو دپاره.
(ولنا أن النبي ﷺ كان يجيب دعوة المملوك)..

په ماذون غلام باندې د پور (قرض) حکم

(وَدُيُوْنُهُ مُتَعَلِّقَةٌ بِرَقَبَتِهِ يُبَاعُ فِيهَا لِلْغُرَمَاءِ إِلَّا أَنْ يَفْدِيَهُ الْمَوْلٰى)او دده قرضې به دده سټ پورې متعلق وي.د قرضخواهانو لپاره ۵به په هغې کښې خرڅولې شي.خو که آقا دده فديه ورکړي.

تشريح په عبد ماذون چې کومې قرضې را واوړي.هغه به دده په سټ پورې متعلق وي.چه د هغې د خلاصولو لپاره به قاضي دې خرڅوي.البته که آقا ددې فديه ورکړي.يعنې دده ټولې قرضې ادا کړي.نو دې به نشي خرڅولې.([1])

دليله دليل دا دي.چه د غلام په ذمه قرضه واجبيدل، د آقا په حق کې هم وجوب ښکاره کوي.نو ددې وصولول به دده سټ سره متعلق وي.لکه د مال ضائع کولو تاوان بالاتفاق دده سټ سره متعلق کيږي.او ددې قياس علت جامعه د خلقو نه ضرر لرې کول دی.او دلته به هم د قرضخواهانو ضرر لرې کيږي.او وجه ددې دا ده.چه ددې قرضې سبب تجارت دې.او تجارت د اجازت لاندې داخل دې.

په قرضخواهانو باندې د ماذون د ثمن تقسيمولو مسئله

(وَيُقْسَمُ ثَمَنُهُ بَيْنَهُمْ بِالْحِصَصِ)او تقسيمولې به شي.دده ثمن د قرضخواهانو په منځ کې ، د برخو (حصو) مطابق،سټ (د غلام) سره

تشريح نفس مسئله آسانه ده.

دليله ددوی د حق متعلق کيدو په وجه، نو ترکه (ميراث) سره د تعلق پشان شو.

فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ مِنْ دُيُوْنِهِ بِيا که په قرضه کې څه باقي پاتې شوه.طُولِبَ بِهِ بَعْدَ الْحُرِّيَّةِ نو ددې مطالبه به د آزادئ نه روسته کيږي.

تشريح نفس مسئله آسانه ده.

دليله دده په ذمه کې د قرضې ثابتيدو، اود ادا کولو لپاره دده د سټ د ناکافي کيدو په وجه،

د عبد ماذون محجور کول او ددې شرائط

(فَإِنْ حُجِرَ عَلَيْهِ که آقا عبد ماذون محجور کړو. لَمْ يَصِرْ مَحْجُوْرًا عَلَيْهِ حَتّٰى يَظْهَرَ الْحَجْرُ بَيْنَ أَهْلِ السُّوقِ)نو هغه به نه محجور کيږي.ترڅو چې محجور کيدل، په بازار والا خلقو کې ښکاره شي.

تشريح که آقا عبد ماذون محجور کړو.نو هغه به محجور کيږي.په دې شرط چې هغه ته او دهغه اکثر بازار والا خلقو علم شوی وي.چه عبد ماذون سره معامله کونکو ته ضرر لازم نشي.

دليله که د علم حاصليدو نه بغير عبد ماذون محجور اوګرځولې شي.نو هغه چې د حجر نه روسته کوم تصرف کوی.د هغې د دين اداکول به د آزادئ نه روسته لازم وي.ګويا د معامله کونکو حق به مؤخر کولې شي.چه دې کې د هغوی نقصان دې.خکه چې هغوی دده سره معامله په دې اميد کړې

---

[1]) **مسلك الشافعي**:- د امام زفر او امام شافعي ﷫ په نيز به عبد ماذون دده په قرضو کې نشي خرڅولې.پاتې شوه دده مزدوری (او منافع)،نو هغه به بالاتفاق دده په قرضو کې خرڅولې شي.

وه.که ده قرضه ادا نکړي شوه.نو مونږ (مونږ) به ده د سټ یا مزدورۍ نه وصول کوو.او اوس به آقا دا ګواه قانموی.چه ما دې محجور کړې وو.نو هغوی صرف د آزادۍ نه روسته وصولولې شي.حالانکه ده د آزادیدو امید موهوم (او په شک کې) دې.

د آقا د مرګ یا ارتداد حکم

(فَاِنْ مَاتَ الْمَوْلٰی که آقا مړ شو.اَوْجُنَّ یا لیوني شو.اَوْلَحِقَ بِدَارِالْحَرْبِ مُرْتَدًّا یا مرتد شو. یا دار الحرب کې ملاؤ شو.صَارَالْمَاذُوْنُ مَحْجُوْرًاعَلَیْهِ)نو ماذون غلام به محجور ګرځیږی.

تشریح> که د عبد ماذون آقا مړشي.یا دائمي لیوني شي.یا مرتد شي.یا دار الحرب ته لاړشي. بیا به هم عبد ماذون محجور کیږي.که غلام ته ددې امورو علم شوې وی.او که نه وی شوې.

دلیله> وجه دا ده.چه اذن غیر لازم تصرف دې.نو ددې د بقاء به هم هغه حکم وی.کوم چې د ابتداء دې.نو لکه څنګه چې په ابتداء کې د اجازت اهلیت کیدل ضروری دی.دغه ډول (دغه شان په بقاء کې هم ددې کیدل ضروری دی.حالانکه د مرګ او د جنون په وجه د اجازت اهلیت ختميږی.او دار الحرب ته په تللو سره هم اهلیت ختم شو.څکه چې دا هم حکمی مرګ دې.تردې چې دده مال ده په وارثانو کې تقسیمولې شي.نو غلام به محجور ګرځیږی.

(وَلَوْاَبَقَ الْعَبْدُالْمَاذُوْنُ کله چې غلام اوتختیدو.صَارَمَحْجُوْرًاعَلَیْهِ)نو هغه به محجور ګرځیږی.

تشریح> که عبد ماذون اوتختي.نو د تختیدو په وجه به هم محجور ګرځیږی.که بازار والا خلقو ته ددې علم وی.اوکه نه وی.([1]

دلیله> دلیل دا دې.چه د غلام تختیدل دلالةً حجر دې.څکه چې آقا د خپل سرکش او نافرمان غلام د تصرفاتو نه په عامه توګه (عام طور) باندې نه راضی کیږی.هغه خو د هغه په ماذون کیدو سره هغه وخت راضی کیږی.چه هغه پخپلې مزدورۍ سره خپله قرضه ادا کولې شي.

د عبد ماذون د محجور کولو نه روسته د اقرار حکم

(وَاِذَاحُجِرَعَلَیْهِ کله چې آقا عبد ماذون محجور کړو.فَاِقْرَارُهٗ جَائِزٌفِیْمَافِیْ یَدِهٖ مِنَ الْمَالِ عِنْدَاَبِیْ حَنِیْفَةَ ()(نو دده اقرار جائز دې.په هغه مال کې کوم چې دده په قبضه کې دې.د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز.

تشریح> عبد ماذون د محجور کیدو نه روسته اقرار اوکړو.چه ما سره کوم څه دی.هغه د فلانی امانت دې.یا مغصوب دې.یا زما په ذمه پور (قرض) دې.

مسلک ابي حنيفة رحمه الله> د ا مام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دده اقرار استحساناً صحیح دې.نو هغه به پخپل مقبوضه مال سره دین وغیره ادا کوی.

دلیله> د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل (او وجه د استحسان) دا دې.چه د اقرار د صحت مدار د قبضې په حقیقت دې.په دې وجه هغه مال کوم چې آقا دده د اقرار نه مخکې دده د قبضې نه اونښکلې وی.د هغه مال په نسبت دده اقرار نه صحیح کیږی.

---

[1] **مسلک الائمة**:-د امام زفر او آئمه ثلاثه رحمهم الله په نیز نه محجور کیږی.څکه چې تختیدل په ابتداء کې د اذن منافی نه دې.نو په بقاء کې به هم د اذن منافی نه وی.

[2]) القول الراجح هو قول الإمام رحمه الله كذا في ردالمحتار(١١٧\٥) والبحرالرائق (١٧٨\٨) وملتقى الأبحر (٧٠\٤) ومجمع الأنهر(٧٠\٤) نقلاً عن القول الراجح (٢٥٥\٢)-

او بالفعل دده قبضه په حقیقت کې باقي ده.او د حجر په وجه حکماً ددې قبضې د باطلیدو شرط دا دې.چه مال دده د ضرورت (ضرورت) نه فارغ وي.او دده اقرار کول ددې خبرې دلیل دې.چه دده ضرورت (ضرورت) اوس هم باقي دې.

وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللّٰهُ: صاحبین رحمهما الله فرمائي. لَا يَصِحُّ إِقْرَارُهُ. چې دده اقرار جائز نه دې.

مسلك الصاحبین د صاحبینو مسلك دا دې.چه دده اقرار صحیح نه دې.

دلیلهما د قیاس تقاضه هم دا ده.دادې.چه اقرار صحیح کیدل.که د تجارت د اجازت په وجه وي.نو د حجر په وجه اجازت زائل شو.او که د قبضې په وجه وي.نو پخپلو منافعو چې د غلام کومه قبضه وه.هغه هم د حجر په وجه باطله شوه.ځکه چې د محجور قبضه شرعاً معتبر نه ده.نو اقرار به صحیح نه وي.

په عبد ماذون باندې د قرضو حکم

(وَإِذَا لَزِمَتْهُ دُيُونٌ يُحِيطُ بِمَالِهِ وَرَقَبَتِهِ کله چې لازم شي په ده باندې داسې قرضې چې هغه راګیر کړي.دده مال او سټ، لَمْ يَمْلِكِ الْمَوْلَى مَا فِي يَدِهِ. نو مالك به نه وي آقا ، د هغې کوم چې اوس دده په قبضه کې دي. فَإِنْ أَعْتَقَ عَبْدَهُ اوکه آقا ده خپل غلام آزاد کړو. لَمْ يَعْتِقْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. ([1]) نو آزاد به نه وي.د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز،

تشریح په عبد ماذون باندې دومره قرضې را واوړي.چه هغه دده مال او دده سټ راګیر کړي.نو په داسې صورت کې چې کوم مال دده سره وي.اقا د عبد ماذون په لاس کې چې څه وي د هغې نه مالك کیږي.نو که ده خپل غلام آزاد کړو د امام ابوحنیفه په نیز نه آزادیږي.

دلیله دلیل دا دې.چه آقا د خپل سوداګر غلام د منافعو مالك په طریقه د نیابت هغه وخت جوړیږي.کله چې دا منافع د غلام د ضرورت (ضرورت) نه فارغ وي.او کوم مال چې قرضو راګیر کړې وي.هغه دده په ضرورت (ضرورت) کې بوخت (مشغول) دې.نو آقا به په دې مال کې خلیفه نه وي.

وَقَالَا: صاحبین رحمهما الله فرمائي. يَمْلِكُ مَا فِي يَدِهِ چې آقا به مالك وي.دده د مقبوضه،

مسلك الصاحبین په مذکوره صورت کښې د صاحبینو په نیز آقا د هغه څه مالك دې کوم چې د عبد ماذون په لاس کښې دي.

دلیلهما دلیل دا دې.چه د عبد ماذون مزدورئ کې د آقا د ملك سبب اوموندې شو.او هغه دا چې آقا دده د رقبې (سټ) مالك دې.په دې وجه آقا ته دا اختیار وي.چه خپل عبد ماذون آزاد کړي.او دا دې.که د مورث (میت) قرضه محیط وي.نو وارث ته د ترکې د غلام آزادولو اختیار ځکه نه وي.چه د وارث ملك د مورث د بهترئ په لحاظ سره دې.او ترکه باندې د قرضې د محیط کیدو په صورت کې د مورث بهترې هم په دې کې ده.چه غلام آزاد نشي.پاتې شو ملك د آقا، نو هغه د عبد ماذون د بهترئ په لحاظ نه دې.تردې چې دا لازم شي.چه دده بهترې هم په دې کې ده.چه د پور (قرض) ادا کولو پورې اعتاق جائز نه وي. بلکه د آقا ملك خو پخپله حاصل دې.

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في العناية (٣٦٨\١٣) والكفاية (٢٣٠\٨) والبحرالرائق (١٤٠\٨) وكز (٣٤١) والدرالمختار(١١٧\٥) نقلاً عن القول الراجح (٢٥٦\٢)-

د محاباات (يعني په کم قيمت د ورکولو) مسئلي

(وَإِذَا بَاعَ عَبْدٌ مَأْذُونٌ مِنَ الْمَوْلَى شَيْئًا بِمِثْلِ قِيمَتِهِ که خرڅ کړو ماذون د آقا په لاس څه څيز، ددې د برابر قيمت باندې، جَازَ) نو جائز دی.

تشريح> که عبد ماذون د خپل آقا په لاس په برابر قيمت سره څه شی (څيز) خرڅ کړي.نو جائز دی.خو دا هغه وخت دی.کله چې غلام قرضدار وی.څه دغه وخت دده آقا دده په مزدورئ کې پشان د اجنبی وی.اوکه هغه قرضدار نه وی.نو بيا به په دوی دواړو کې اخستل او خرڅول نه وی.

دليله> ځکه چې غلام او کوم څه چې دده سره دی.هغه واړه (ټول) دده د آقا دی.

(وَإِنْ بَاعَ بِنُقْصَانٍ اوکه په نقصان ئې خرڅ کړو.لَمْ يَجُزْ) نو جائز نه ده.

اوکه عبد ماذون د خپل آقا په لاس نقصان سره خرڅ کړي.نو دا جائز نه دی.

دليله> ځکه چې دې حق کې د تهمت امکان دې.

فائده> کله چې په قيمت کې دومره کمې وی.چه هغه د ټولو اندازه لګونکو د اندازې نه کم وی.مثلاً د يو شی (څيز) قيمت بعض اندازه لګونکی لس روشيدې (پې) او بعض نهه روشيدې (پې) اندازه لګوی. نو نهه روشيدې (پې) پورې تاوان کول کم او معمولی دی.او د نهو نه کمول زيات تاوان دې.

د آقا د خپل عبد ماذون غلام په لاس د بيع حکم

(وَإِنْ بَاعَهُ الْمَوْلَى شَيْئًا بِمِثْلِ الْقِيمَةِ أَوْ أَقَلَّ اوکه آقا د ماذون په لاس برابر قيمت باندې يا په کم باندې څه شی (څيز) خرڅ کړو.جَازَ الْبَيْعُ) نو جائز دې.

تشريح> که آقا د خپل ماذون غلام په لاس څه شی (څيز) په پوره قيمت سره يا په نقصان خرڅ کړی.نو دا بالاجماع جائز دی.

دليله> ځکه چې هرکله په غلام قرضه ده.نو آقا دده د منافعو نه اجنبی دې.او په دې بيع کې هيڅ تهمت نشته.او په دې کې فائده هم ده.ځکه چې د غلام په منافعو کې به يو داسې شی (څيز) راشی.کوم چې مخکې نه وو.نو د قرضخواهانو به هيڅ نقصان نه وی.بيا آقا ددې نه وړاندې دده د منافعو نه ثمن نشی اخستلې.او اوس به هغه ته دا اختيار حاصل شی.

(فَإِنْ سَلَّمَ الْمَبِيعَ إِلَيْهِ قَبْلَ قَبْضِ الثَّمَنِ بيا که آقا مبيع هغه ته اوسپارلو.د ثمن وصولولو نه مخکې، بَطَلَ الثَّمَنُ) نو ثمن به باطل وی.

تشريح> اوس که آقا په ثمن باندې د قبضه کولو نه وړاندې مبيع هغه ته حواله کړو.نو هغه ثمن به ضائع شی.

دليله> ځکه چې د بيع نه روسته آقا د خپل قيمت وصولولو پورې مبيع منع کولې (او خان سره ساتلې) شی.اوس که د منع کولو حق ساقطيدو نه روسته هم د آقا حق باقی پاتې شی. نو په دې مال عين کې به نه وی.بلکه دين يعنی دهغې په ثمن کې به وی.حالانکه آقا ته دا حق نشته.چه پخپل غلام باندې قرضه واجب کړي.

(وَإِنْ أَمْسَكَهُ فِي يَدِهِ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الثَّمَنَ جَازَ) اوکه آقا دا د خپل خان سره منع کړو.تردې چې ثمن وصول کړي.نو دا جائز دی.

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.

دليله> ځکه چې بائع ته د مبيع منع کولو حق وي.په دې و جه هغه د نورو قرضخواهانو نه ددې مبيع زيات حقداروي.

(وَإِن أَعْتَقَ الْمَوْلَى العبدَالْمَأْذُونَ که آزاد کړو آقا عبد ماذون لره، وَعَلَيْهِ دُيُونٌ حالانکه دده په ذمه قرضې دي.فَعِتْقُهُ جَائِزٌ)نو دده آزادول جائز دي.

تشريح> آقا خپل ماذون قرضدار غلام آزادولې شي.چه په دې کې هيڅ اختلاف نشته.
دليله> ځکه چې په ده کې د آقا ملك باقي دې.(اختلاف خو دده په منافعو کې دې.کله چې په ده باندې قرضې محيط وي).

(وَالْمَوْلَى ضَامِنٌ لِقِيمَتِهِ لِلْغُرَمَاءِ)او آقا به ضامن وي.دده د قيمت، قرضخواهانو دپاره،

تشريح> اوس د آزدولو په صورت کې به آقا دده قرضخواهانو ته د غلام د قيمت تاوان ورکوي.
دليله> ځکه چې د هغوی حق دده د ذات سره متعلق دې.او آقا هغه لره آزاد کړو.

(وَمَا بَقِيَ مِنَ الدُّيُونِ يُطَالَبُ بِهِ بَعْدَ الْمُعْتَقِ)او کوم څه چې باقي پاتې شي.په قرضونو کې ،د هغې مطالبه به د آزادئ نه روسته کيږي.

تشريح> او که د پور (قرض) ادا کولو لپاره قيمت کافي نه وي.نو د باقي قرضې مطالبه به د غلام نه دده د آزادئ نه روسته کولې شي.
دليله> ځکه چې قرضه دده په ذمه باقي ده.او د آقا په ذمه د ضمان په طور صرف هم دومره لازم دي.څومره چې ده هلاك کړې دي.

(وَإِذَاوَلَدَتِ الْمَأْذُونَةُ لَهَا مِنْ مَوْلَاهَا)که ماذونه وينځې د خپل آقا نه بچې راوړو.فَذَلِكَ حَجْرٌعَلَيْهَا)نو دا په دې باندې حجر دي.

تشريح> يوه وينځه ماذونه وه.آقا هغې سره وطی اوکړله.او هغې نه بچې پيدا شو.آقا د بچی دعوه اوکړله.نو وينځه دده ام ولد شوه.اوس به هغه د استيلاد په وجه محجور التصرف ګرځيږي.خو دلالةً (۱)
دليله> ام ولد په عامه توګه (عام طور) باندې پرده کې اوسيږي.اود اخستلو او خرڅولو په سلسله کې مالك ددې په وتلو او د خلقو سره ميل ملاپ کولو باندې نه راضي کيږي.نو دا ددې د محجور کيدو دليل دې.البته که مالك د استيلاد نه روسته د تجارت د اذن صراحت اوکړي.نو حجر به نه ثابتيږي.ځکه چې صراحت د دلالت نه زيات قوي دي.

د بچي د تجارت حکم

(وَإِن أَذِنَ وَلِيُّ الصَّبِيِّ لِلصَّبِيِّ فِي التِّجَارَةِ که د بچي ولي بچي ته د تجارت اجازت ورکړو فَهُوَفِي الشِّرَاءِ وَالْبَيْعِ كَالْعَبْدِالْمَأْذُونِ هغه په اخستلو او خرڅولوکې د عبد ماذون پشان دې.إِذَاكَانَ يَعْقِلُ الْبَيْعَ وَالشِّرَاءَ کله چې په اخستلو او خرڅولو باندې پوهيږي

تشريح> که د بچي ولي بچي ته د تجارت اجازت ورکړو.نو دا بچې په اخستلواو خرڅولو کې د عبد

---

(۱) مسلك زفر والائمة:- د امام زفر او آئمه ثلاثه رحمهم الله په نيز به محجور نه وي.

ماذون پشان دي.په دې شرط چې دې په اختسلو او خرخولو باندې پوهيږي.(أن البيع للملك سالب والشراء له جالب) تردې چې دده تصرف به نافذ كيږي. (١)

دليله دليل دا دې.چه د بچي ماذون د طرفه اخستل او خرخول يو مشروع تصرف دې.چه دا شرعي ولايت سره د داسې سړي نه صادر شوي دې.چه هغه ددې كار لائق دې.څكه چې هغه عاقل او هوښيار دې.او دا تصرف پخپل محل كې دې.څكه چې مبيع مال متقوم دې.نو ددې نافذ كول ضروري دي.

كِتَابُ الْمُزَارِعَةِ

ترجمه (دا) كتاب د (زمكې په) كروندې (د ور كولو د احكامو په بيان كې) دې.

تشريح په كتاب الماذون او كتاب المزارعت كې مناسبت دا دې.چې لكه څنګه ماذون د بل په ملك كښې كار كوي دغه شان مزارع هم د بل په زمكه او ملك كښې كار كوي.

المزارعة لغة مزارعت په اعتبار د لغت د ،، زرع،، نه د مفاعلت (مصدر) دې.

المزارعة اصطلاحاً په شريعت كې مزارعت، د پيدا وار په بعضې برخه (حصه) باندې د زميندارۍ كولو عقد كول دي

د مزارعت لغوي او شرعي معنى

قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائيلي دي الْمُزَارَعَةُ بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ بَاطِلَةٌ) .چه په دريمه او خلورمه برخه (حصه) باندې مزارعت (زمكه په كرونده باندې وركول) باطل دې.

تشريح امام ابوحنيفه رحمه الله مزارعت (زمكه په كرونده باندې وركول) فاسد ګرځوي.د دريمې او خلورمې برخې (حصې) قيد لګول د عام رواج په وجه دي.

دلائله ① اول دليل دا دې چې په حديث كې مزارعت نه منع كړې شوي ده.(نهى النبيﷺ عن المخابرة)[٢] او مخابره او محاقله مزارعت ته وئيلې شي.

شارح د هدايه مولانا محمد يوسف تالوني مدظله العالي فرمائي. دلته د رافع بن خديج رضي الله عنه او د دوو سړو په جګړه باندې غور اونه فرمائيلو. ددوی په خواب كې نبی كريمﷺ د مزارعت نه منع فرمائيلې وه. ددې تفصيل د عروه ابن زبير رضي الله عنه په حديث كې دې.په [نصب الرايه ص: ١٨٠ج۴] باندې ددې حديث ډير خوابونه وركړې شوي دي.

② كه پيداوار وي.نو اجرت مجهول دې.څكه معلومه نه ده.چه څومره پيداوار كيږي.اوكه پيداوار نه وي.نو اجرت معدوم دې.او د اجرت جهالت يا د اجرت نه كيدل د اجارې مفسد دي.،، قلت ،، دا جهالت په وغيره په مضاربت كې موجود دې.بيا خو دې ته هم ناجائز وئيل پكار دي.او دا په ابتداء كې شركت دې.چه په دې كې مذكوره جهالت وغيره مفسد نه دې.

---

١) **مسلك الشافعي**:-د امام شافعي او امام مالك رحمهما الله او په دويم روايت كې د امام احمد رحمه الله په نيز به دده تصرف نه نافذ كيږي.

٧٠) من حديث إبن عمر رضي الله عنه أخرجه البخاري في الحرث باب ٨ ومسلم في المساقاة رقم ١ وأبوداود في البيوع باب ٣٤ والترمذي في الأحكام باب ٤١ وابن ماجه في الرهون باب ١٤ والدارمي في البيوع باب ٧١ وأحمد في مسند (١٧\٢)

وَقَالَا: هِيَ جَائِزَةٌ (۱) او صاحبین رحمهما الله فرمائي.چه جائز دی.

تشريح مسلک الصاحبين د صاحبينو رحمهما الله په نيز جائز دی.

دليلهما کله چې نبی کريم ﷺ خيبر فتح کړو.نو د هغه خائي يهود ئې د هغوی په زمکه باقي اوساتل.او دا فيصله ئې اوفرمائيله.چه کوم پيدا وار اوشي.د هغې نيم مسلمانانو ته ورکوئ.(۲) که مزارعت (زمکه په کرونده باندې ورکول) جائز نه وې.نو نبی کريم ﷺ به داسې ولې اختيارول.

② دويم دليل دادې.چه لکه څنګه مضاربت جائز دې.مزارعت هم جائز وی.څکه چې مضاربت کې د يوکس مال وی.او د بل کس کار وی.او هم دغه ډول (دغه شان) مزارعت کې هم کيږی.او دا په مضاربت باندې د قياس کولو وجه دا ده.چه خلقو ته ددې عقدونو حاجت دې.چه دا په دوی دواړو کې مشترك دی.نو قياس به صحيح وی.او دليل دحاجت دا دې.چه ډير وخته سړی سره مال وی.خو هغه ته د کار کولو چم (چل) نه ورځي.او دويم کس له د کار کولو چم (چل) ورځي.خو هغه سره مال نشته.نو که دواړه خپل مينځ کې يو ځائې نکړې شي.نو د يوکس به مال خالي پروت وی.او د بل کس هنر به بې کاره پاتې شي.نو ضرورت (ضرورت) دې.چه عقد د مزارعت جائز اوګرځولې شي.

الجواب عنه د دې ځواب دا دې چه دا مزارعت نه وو.بلکه خراج تقسيمول وو.او امام ته اختيار دې.چه په خراج موظف او مقاسمت کوم اخستل غواړی.اختيار کړی.او دا نبی کريم ﷺ په دوی باندې احسان اوفرمائيلو.ګنی ټوله زمکه ئې هم اخستلې شوه.او وخت نه مقررول ددې ښکاره دليل دې.چه دا خراج وو.مزارعت نه وو.

علامه محمد يوسف تالوئی فرمائي چې په خيبر کې د مجاهدينو حاصلول جاری کيدل ددې خبرې دليل دې.چه دا خراج نه وو.بلکه مزارعت وو.او په صحيحينو کې د ابن عمر رضی الله عنهما په روايت سره په دې کې د برخې (حصې) جاری کولو تصريح ده.

الفتوى ددې تفصيل ښکاره دې.د صاحبينو رحمهما الله په نيز د حديث نه کيدو په وجه د مقابل دليل په قياس سره تعبير کړې شوې دې.استصناع مثلاً يو کاريګر اووئيل.چه زما لپاره پيزار جوړ کړه.په دومره روپو باندې.نو دا جائز ده.حالانکه په دې کې د معدوم بيع ده.چه دا جائز نه ده.خوپه دې باندې د امت عادت جاری دې.چه ددې په وجه قياس پريښودې (پريخودې) شوې دې.دغه ډول (دغه شان) به په مزارعت کې هم وی.

(وَإِنْ كَانَتِ الْأَرْضُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ) او که وی زمکه او غوئي د يوکس (وَالْبَذْرُ وَالْعَمَلُ لِآخَرَ فَهِيَ بَاطِلَةٌ) او کار او تخم د دويم کس.نو دا باطل ده.

تشريح که د زيد د طرفه زمکه او غوئي وی.او د عمرو د طرفه تخم او کار وی.نو دا صورت باطل دې.هم دا ظاهرالرواية دې.

دلته مخکښې څلور خبرې په ذهن کښې کينوئ① مزارعت په شروع کښې عقد اجاره ده.او د انتهاء په اعتبار سره شرکت دې. ② کوم څيز چه خلاف قياس وی.هغه د شريعت مورد پورې وی.دويم په دې

---

(۱) القول الراجح هو هذا قول الصاحبين . رحمهما الله كذا في الكفاية (۳۸۶\۸) وخانية (۲۲۲\۴) والدالمختار (۱۹۳\۵) نقلاً عن القول الراجح (۲۸۵\۲)۔

۷۰) من حديث إبن عمر رضی الله عنهما أخرجه البخاری فی الحرث باب ۸ ومسلم فی المساقاة رقم ۱ وأبوداود فی البيوع باب ۳۴ والترمذی فی الأحكام باب ۴۱ وابن ماجه فی الرهون باب ۱۴ والدارمی فی البيوع باب ۷۱ وأحمد فی مسند (۱۷\۲)۔

باندې نشی قیاس کیدې. ③ د پیداوار د معلومې حصې په بدله کښې زمکه کرایه باندې اخستل جائز دی.د غویانو په اجاره باندې اخستل جائز نه دی. ④ په دوو مختلف جنس والا څیزونو کښې یو د بل تابع نشی جوړیدې.د جنس د اختلاف په صورت کښې تابع کول جائز دی.

دلائله ① هرکله چه دا خبرې په ذهن کښې کښناستې.نو اوس واورئ،چه په مذکوره صورت کښې د شرکت انعقاد نه دې شوې.ځکه چه د شرکت انعقاد د غوئی او کارکونکی د منفعت په مینځ کښې نه کیږی. حالانکه مزارعت په اعتبار د انتهاء شرکت دې.په دې وجه دا صورت فاسد دې.

② عامل دلته زمکه او غویان په کرایه باندې اخستی دی.او دواړه په کرایه باندې اخستل مقصود دی.او اجرت د پیداوار بعضې حصه ده.او دا جائز نه ده. چه غویان په کرایه باندې واخستلې شی.او اجرت د پیداوار بعضې حصه وی.په دې وجه به دا صورت جائز نه وی.

الاشکال که څوك دا سوال اوکړی چه کارکونکی زمکه په کرایه باندې اخستې ده.او غویان د زمکې تابع دی؟

الجواب نو جواب دا دې چه غویان د کارکونکی تابع کیدې شی.خو د زمکې تابع نشی کیدې.ځکه چه د تابع کیدو دپاره اتحاد د جنس پکار دې.او په منافعو د زمکې او په منافعو د غوئی کښې اختلاف جنس دې.ځکه چه د یو منفعت اثبات او د دویم کټ کول او شلول دی.بیا د یو منفعت د څاروی دمنفعت په وجه دې.او زمکې په بله وجه دې.په دې وجه معلومه شوه.چه دا دواړه مختلف جنسونه دی.چه په دې کښې تابع کیدل نشی کیدې.او هرکله چه نشی کیدې.نو شرکت په غوئی سره شو.او دا جائز نه ده.

او د قیاس تقاضا خو دا وه.چه مزارعت جائز نه وی.خو مونږ د نص په وجه قیاس پریخودو.او په نص مو عمل اوکړو.خو د نص مورد هغه نور صورتونه دی.دا صورت مورد دنص نه دې.په دې وجه به د اصولی قاعدې مطابق دا ناجائز ګرځولې شی.ځکه چه نورو صورتونو باندې دا نشی قیاس کیدې.د کارکونکی او غوئی منفعت یوشان دې.ځکه چه غوئې په زمکه باندې د کار کولو یوه آله ده.

مسلك ابي يوسف او د امام ابویوسف رحمه الله نه په نوادر کښې نقل دی.چه په متن کښې ذکرشوې صورت جائز دې.

دليله ددوی دلیل دا دې.چه لکه څنګه دا صورت وو.چه دا ټول څیزونه د زمکې والا د طرفه وی.علاوه د کار نه. او دا جائز دې.نو په دې کښې د بعضو شرط یواځې اولګولې شی.نو دا به هم جائز وی.او لکه څنګه چه د غویانو منفعت د کارکونکی د منفعت تابع ګرځولې شی.دغه شان به د غویانو منفعت د زمکې د منفعت تابع کولې شی.او دا صورت به جائز وی.

د دوو نورو فاسدو صورتونو ذکر

(وَلَا تَصِحُّ الْمُزَارَعَةُ إِلَّا عَلَىٰ مُدَّةٍ مَعْلُومَةٍ)او مزارعت صحیح نه دې.خو په معلومه موده باندې،

حل اللغة ① قفزان: د قفیز جمع د اتوهك یوه پیمانه

تشريح د مودې بیانولو نه بغیر مزارعت صحیح نه دې.چه ددې دلیل او تفصیلی بیان تیر شوې دې.

(وَأَنْ يَكُونَ الْخَارِجُ بَيْنَهُمَا مُشَاعًا)او دا چې پیداوار د دواړو په مینځ کې په طریقه د شیوع (او برخه «حصه» داریٔ) وی. (فَإِنْ شَرَطَا لِأَحَدِهِمَا قُفْزَانًا مُسَمَّاةً فَهِيَ بَاطِلَةٌ) نوکه دوی دواړو پخپلو کې یوکس لپاره د یو څو مقرر قفیزونو شرط اولګولو.نو مزارعت باطل دې.

تشريح چونکه مزارعت انتهاء کې شرکت دې.نو کوم شرط چې شرکت ختم کړی.دا شرط به مفسد د

مزارعت هم وی.د شرکت تقاضه دا ده.چه پیداوار په دوی دوارو کي مشترك وی.او دا اشتراك په طریقه د شیوع وی.نو که دا شرط اوکړې شو.چه په دوی کي یوکس ته مثلاً د لسو زنبیلو (کونټلو) رر کولو نه روسته چې کوم بچ پاتې شی.هغې کي د دوارو اشتراك دي.

دليله> دا صورت ځکه جائز نه دي چې شیوع اونه موندې شو.او شرکت ختم شو.نو په دې صورت کي به مزارعت فاسد وی.او دا بعینه هم هغه صورت دي.لکه چې مضاربت کي دا شرط کړې شوې وی.چه د نفعې سره به (نه به) یو زر د زید وی.او باقي به په دوارو کي مشترك وی.دا شرط مفسد د مضاربت دي.دغه ډول (دغه شان) مذکوره شرط هم مفسد د مزارعت دي.

د متعین حصې پیداوار ځان لپاره شرط کولو سره د مزارعت حکم

وَكَذَا إِذَا شَرَطَا مَا عَلَى الْمَاذِيَانَاتِ وَالسَّوَاقِي او هم دغه ډول (دغه شان) (مزارعت باطل دي) که دوی شرط کړې وی.د هغه پیداوار کوم چې په نالو او لختو باندې وی.

تشريح> که یوکس دا شرط اولګولو.چه کوم پیداوارد نالو (لختو) سره نژدې (نیزدې) وی.هغه به زما وی.او باقي به د دویم وی.یا د پتې ددې ګوټ پیداوار زما او د دویم ګوټ پیداوار به د دویم وی.نو دا شرطونه شرکت ختمونکی دی.په دې وجه به دې صورتونو کي مزارعت باطل وی.

دليله> ځکه چې هرکله دوی دوارو کي یو لپاره د معین ځائې د فصل شرط لګولې شوې وی. نو دا به د شرکت ختمولو ارخ (طرف) ته مفضی وی. ځکه کیدې شی.چه د زمکې ددې ځائې نه علاوه پیداوار اونشی.

(وَإِذَا صَحَّتِ الْمُزَارَعَةُ فَالْخَارِجُ بَيْنَهُمَا عَلَى الشَّرْطِ)او کله چې صحیح شو مزارعت نو پیداوار به د دوی په مینځ کښې د شرط مطابق وی د تخم والا نه د علاوه استحقاق د شرط په وجه سره وی. (وَإِنْ لَمْ تُخْرِجِ الْأَرْضُ شَيْئًا فَلَا شَيْءَ لِلْعَامِلِ)اوکه زمکې هیڅ پیداوار اونکړو.نو کارکونکي لپاره هیڅ نشته.

تشريح> کله چې عاقدینو عقد اوکړو.او دوارو د شرط مطابق عمل درآمد پیل (شروع) کړو.نو اوس به دوې (دوه) صورتونه وی پیداوار به کیږی. په دې صورت کي به د شرط مطابق ویش (تقسیم) کولې شی. ② یا به په څه وجه هیڅ (پیداوار) نه کیږی.ـ په دې صورت کي به کارکونکی ته هیڅ اجرت نه ملاویږی.

دليله> ځکه چې دده شرکت په پیداوار کي وو.او پیداوار اونشو.

د مزارعت فاسد کیدو په صورت کښې د پیداوار حکم

وَإِذَا فَسَدَتْ او هرکله چې مزارعت فاسد شو فَالْخَارِجُ لِصَاحِبِ الْبَذْرِ).نو پیداوار به دتخم والا ته ملاویږی.

تشريح> که مزارعت فاسد شی.نو واړه (ټول) پیداوار به هغه ته ملاویږی.د چا چې تخم وو.بیا به دویم ته د عامل کیدو په صورت کي د کار مثلی اجرت او دمالك کیدو په صورت کي د زمکې مثلی اجرت ملاویږی .

دليله> ځکه چې تخم دکوم کس نه دې.هغه ته چې د پیداوار نه کوم څه ملاویږی.هغه د شرط په وجه ملاویږی.او شرط فاسد دې.نو اوس به په تخم باندې مدار وی.

چه تخم د زمکې د مالك وي نو کارکونکي لپاره به اجرت مثل وي

(فَاِنْ كَانَ الْبَذْرُمِنْ قِبَلِ رَبِّ الْاَرْضِ اوکه تخم د زمکې دمالك د طرفه وي. فَلِلْعَامِلِ اَجْرُمِثْلِهٖ لَايُزَادُعَلٰى مِقْدَارِمَا شَرَطَ لَهٗ مِنَ الْخَارِجِ)نو عامل لپاره دده دمثل اجرت دي.چه دا به په هغه مقدار باندې نشي زياتولې.کوم چې عامل لپاره شرط کړې شوې وی.(١) (وَقَالَ مُحَمَّدٌ: او امام محمد رحمه الله فرمائيلي دی لَهٗ اَجْرُمِثْلِهٖ بَالِغًا مَا بَلَغَ). چه دده لپاره دده د مثل اجرت دې.په داسې حال کې چې دا رسيدونکې وی. ترکومه پورې چې رسيږی.

تشريح> مسئله واضحه ده.ددې نه وړاندې هم بيان شوې دې.صرف دومره خبره ده.چه په دواړو صورتونو کې د شيخينو رحمهما الله او د امام محمد رحمه الله په مينځ کې اختلاف دې.چه اجرت مثلی د شرط نه زياتول جائز دی اوکه نه؟ امام محمد رحمه الله د روميی قائل دې (يعنی زياتول جائز دی).او شيخين رحمهما الله د دويم (قائل دی.چه د اجرت مثلی سره به (نه به) نشی زياتولې).

دليلهما> د شيخينو رحمهما الله استدلال دا دې.چه هغه پخپل حق ساقطولو باندې پخپله راضی دې.ګنې هغه به د پيداوار په کم مقدار باندې نه راضی کيدو.

دليله> د امام محمد رحمه الله د استدلال حاصل دا دې.چه دلته د منافعو واپسی متعذر ده.نو ددې قيمت واپس کول ضروری دی.که (قيمت) کم وی.او که زيات وی.

(وَاِنْ كَانَ الْبَذْرُمِنْ قِبَلِ الْعَامِلِ او که تخم د عامل د طرفه وی. فَلِصَاحِبِ الْاَرْضِ اَجْرُمِثْلِهَا) نو د زمکې والا لپاره به دده د زمکې اجرت وی.

تشريح> نفس مسئله واضحه ده.

دليله> ځکه چې کارکونکی د عقد فاسد په ذريعه د زمکې منافع حاصل کړی دی.نو دزمکې منافع واپس کول ضروری دی. او دا متعذر دې.او دمنافعو هيڅ مثل نشته نو د منافعو قيمت به واجب وی.

په متعاقدينو کښې د يوکس د مزارعت نه د منع کيدو مسئله

(وَاِذَاعُقِدَتِ الْمُزَارَعَةُ او کله چې د مزارعت عقد اوشو فَامْتَنَعَ صَاحِبُ الْبَذْرِمِنَ الْعَمَلِ نو د تخم والا د کار نه منع شو لَمْ يُجْبَرْعَلَيْهِ) ..اوس به هغه په دې باندې نشی مجبوره کولې.

حل اللغة> ① **امتنع:** منع شو

تشريح> د مزارعت معامله د معاقدينو په مينځ کې اوشوه.اوس په دوی کې يوکس ددې دپوره کولو نه منع کيږی.نو قاضی به دې مجبوره کوی.او که نه؟ نو وې فرمائيل.که د تخم والا منع شی.نو هغه به نشی مجبوره کولې.

دليله> ځکه چې منافع خو روستو حاصليږی.او فی الحال د هغه نقصان دې.چه تخم به زمکه کې ملاوول وی.نو په دې به نشی مجبوره کولې.او دا بالکل داسې ده.لکه چې يوسړی يوکس اجير کړو.چه دده کور اوغورځوی.خو بيا د کور والا منع شو.نو حاکم هغه نشی مجبوره کولې.

(وَاِنْ امْتَنَعَ اوکه منع شو الَّذِیْ لَيْسَ مِنْ قِبَلِهِ الْبَذْرُهغه کس د چا د طرفه چې تخم نشته اَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ

---

(١) القول الراجح هو هذا قول الشيخين . رحمهما الله كذا في ملتقى (١٤\٤٤١) وردالمحتار (٥\١٩٦٦) ومجمع الأنهر (١٤\٤٤١) نقلا عن القول الراجح (٢\٢٨)-

عَلَى الْعَمَلِ).. نو حاکم به هغه په کار باندې مجبوروي.

تشریح> او که د کار نه هغه کس منع شي.د چا چې تخم نه دې.نو حاکم به هغه په کار باندې مجبوره کوي.

دلیله> ځکه چې د عقد پوره کولو په وجه هغه ته هیڅ نقصان نه رسیږي.او دده د طرفه عقد هم لازم دې.نو دا داجارې په درجه کې دې.لکه څنګه چې دا لازمیږي.مزارعت هم لازمیږي.

په متعاقدینو کښې د یوکس د مرګ حکم

(وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الْمُتَعَاقِدَيْنِ بَطَلَتِ الْمُزَارَعَةُ) اوکله چې متعاقدینو کې یوکس مړ شي.نو مزارعت به باطل وي اِعْتِبَارًا بِالْإِجَارَةِ په اجاره باندې قیاس کولو سره»

تشریح> که په اجاره کې عاقدینو کې یوکس مړ شي.اجاره فاسدیږي.نو کله چې مزارعت کې یوکس مړ شي.او فصل (تخم) نه دې کرلې شوې.نو مزارعت به هم باطل وي.

دلیله> ځکه چه عقود څومره هم دی هغه د متعاقدینو سره تعلق ساتي وارثانو ته نه منتقل کیږي.او عقد مزارعت هم یو عقد دې نو دا به هم وارثانو ته نه منتقل کیږي.بلکه د یو کس په مرګ سره به عقد باطلیږي.

د کچه فصل په منځ کښې د مزارعت د مودې ختمیدو مسئله

(وَإِذَا انْقَضَتْ مُدَّةُ الْمُزَارَعَةِ وَالزَّرْعُ لَمْ يُدْرِكْ او کله چې د مزارعت موده ختمه شوه.او فصل نه دې پوخ شوې. كَانَ عَلَى الْمُزَارِعِ أَجْرُ مِثْلِ نَصِيبِهِ مِنَ الْأَرْضِ إِلَى أَنْ يُسْتَحْصَدَ نو په زمیدار به دکټ کولوپورې په زمکه کې دخپلې برخې (حصې) په مثل اجرت وي. وَالنَّفَقَةُ عَلَى الزَّرْعِ عَلَيْهِمَا عَلَى مِقْدَارِ حُقُوقِهِمَا) او د فصل خرچ به په دوی دواړو د خپلو حقوقو په اندازه وي.

تشریح> موده د مزارعت ختمه شوه.او فصل کچه دې.نو داسې طریقه باندې عمل اوکړې شو.چه نه د زمکې مالك ته نقصان وي.او نه زمیدار ته.نو وې فرمائیل.چه د فصل پخیدو پورې به دا په زمکه کې ساتلې شي.خو دومره ورخو پورې چې د زمکې څومره کرایه جوړیږي.نو دا کرایه به عامل د خپلې برخې (حصې) په اندازه ادا کوي.مثلاً په نیمه باندې معامله شوې وه.او پنځه ویشت بیګه (تقریبا ۶۵ مرلې) زمکه ده.چه ددې دوو میاشتو پورې اجرت (۲۵۰۰) روشیدې(پې) دې.نو عامل به (۱۲۵۰) روشیدې(پې) د زمکې مالك ته ورکوی.خو عقد د مزارعت ختم شوې دې.او دا د دواړو مشترك مال دې.نو د خپلې برخې (حصې) په اندازه به د خرچې او کار دواړه ذمه دار وي.

دلیله> ځکه چې فصل د اجر مثل په بدله باقی ساتلو کې د دواړو طرفو نه د شفقت برابری ده.نو هم دې ارخ (طرف) ته به رجوع کولې شي. اوکار به په دواړو وي. ځکه چې عقد د مودې ختمیدو په وجه ختم شو.او بهرحال مشترك کې عمل دې.

الاشکال> که څوك دا سوال اوکړي که د زمکې مالك مړ شي.او فصل کچه وي.نو دلته خوکار د عامل په ذمه دې.نو دلته کار په دواړو ولې دې؟

الجواب> ځواب دا دې چې د زمکې د مالك د مرګ په صورت کې مزارعت باقی ساتلې شوې دې.او په مزارعتونو کې کار د عامل په ذمه وي.او دلته مزارعت فاسد شو.او دا مال مشترك باقی پاتې شو.چه ددې ساتنه (حفاظت) به په دواړو لازم وي.

د کټ کولو، درمن ته د راوړلو، د تربېز کولو وغيره د اجرت مسئله

وَأُجْرَةُ الْحَصَادِ وَالرِّفَاعِ وَالدِّيَاسِ وَالتَّذْرِيَةِ عَلَيْهِمَا بِالْحِصَصِ او هم دغه ډول (دغه شان) د کټ کولو، او درمن ته د راوړلو، او د غوبل کولو او بادولو اجرت به په دوی دواړو باندې د برخو (حصو) په اندازه وی..فَإِنْ شَرَطَاهُ فِي الْمُزَارَعَةِ عَلَى الْعَامِلِ فَسَدَتْ نو که ددې ټولو څيزونو شرط په مزارعت کې دوی دواړو په عامل باندې اوکړو.نو مزارعت فاسد دې.

حل اللغة> ① **الحصاد:** پرې کول ② **الرفاع:** درمن ته اوړل ③ **الدياس:** غوبل کول ④ **التذرية:** باد ورکول

تشريح> کله چې فصل پوخ شو.او تيار شو.نو د مزارعت مقصود پوره شو.نو مزارعت ختم شو.او هرکله چې مزارعت ختم شو.نو بيا کار او خرچه په دواړو باندې وی.نو د فصل کټ کولو اجرت به د دواړو په ذمه وی.او بيا دا درمن ته راوړل به هم د دواړو کار وی.که پخپله ئې راوړی.اوکه په مزدورانو ئې راوړی.او بيا د غوبل کولو اجرت به هم د دواړو په ذمه وی.نن صبا خو د غوبل کولو رواج ختم شو.بلکه مشين سره کټ کولې شی. (لکه تريشر) چې په دې کې بوسه جدا اوخی.او غله صفا جدا اوخی.بهرحال که غله صفا نه وی.او ددې د بادولو ضرورت (ضرورت) راپيښ شی.نو دا به هم ددوی دواړو په ذمه وی.او که په عقد کې دا شرط اولګولې شی.چه پرې کول وغيره واړه (ټول) کار د عامل په ذمه وی.نو دا شرط عقد مزارعت فاسدونکې دې.

دليله> ددې وجه دا ده.چه په فصل پخيدو سره عقد ختميږی.د مقصود حاصليدو په وجه، نو ددوی دواړو په مينځ کې مشترك مال باقی پاتې شو او هيڅ عقد نشته.. نو ددې عقد به په دوی دواړو باندې وی.

كِتَابُ الْمُسَاقَاةِ

ترجمه> (دا) کتاب د مساقات (په بيان کې) دې.

تشريح> تعريف المساقاة> ونې په ساتنه (حفاظت) (او ساتنه) ور کولو ته مساقات وائی.مثلاً باغ ئې اولګولو.او يوکس ته ئې حواله کړو.چه ته ددې ساتنه (حفاظت) کوه.او ددې اوبه خور کوه.بيا کله چې دا ميوې اوکړی.نو مونږ (مونږ) دواړه به په دې کې شريك يو.يا باغ د مخکې نه موجود دې.د فصل راتلو پورې ئې دا په ساتنه (حفاظت) باندې ورکړو.دې مساقات ته معاملت هم وائی.

الربط بما قبله> د مزارعت او مساقات په منځ کې مناسبت ښکاره دې.بيا د مساقات د جواز قائل دير عالمان دی.او د حديث نه هم ددې ثبوت شته.ددې باوجود مزارعت په دې وجه مخکې کړې شوې دې.چه ددې حاجت زيات دې.او په دې کې احکام فرعيه زيات دی.

په مساقات کښې د امام ابوحنيفه رحمه الله نقطه نظر

قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ الْمُسَاقَاةُ بِجُزْءٍ مِنَ الثَّمَرِ بَاطِلَةٌ امام ابوحنيفه رحمه الله اوفرمائيل.د ميوو په جزء (شائع) سره مساقات باطل دې. وَقَالَا جَائِزَةٌ إِذَا ذَكَرَ مُدَّةً مَعْلُومَةً او صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه کله معلومه موده ذکرکړې شی. وَسَمّٰى جُزْءًا مِنَ الثَّمَرِ مُشَاعًا (¹)او د ميوو يو جزء په طريقه د شيوع (شريکوالی) معين

¹) القول الراجح هوهذا قول الصاحبين . رحمهما الله كذافي مجمع الأنهر (٤\١٤٨) والهندية (٥\٢٧٨) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٨٦)-

کړي شي.(نو جائز دي.)

حل اللغة ﴿ ① **مشاع**:خوررور.ناقابل تقسیم.

تشریح﴿**مسلک ابي حنیفة**﴿ د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز که مساقات کي د میوو جزء شائع هم معین کړي شي.بیا هم باطل دي.یعنی امام ابوحنیفه رحمه الله مساقات باطل ګرځوي.[1]

مسلک الصاحبین﴿ او صاحبین رحمهما الله دا جائز ګرځوي.او هم دا مفتی به قول دي.خو د صاحبینو رحمهما الله په نیز ددي په جواز کي بعضي شرطونه دي.شرطونه هم هغه دي.کوم چي مزارعت کي ذکر شوي دي.

الشروط الاربعة الزائدة في المساقاة﴿ البته مساقات په څلورو څیزونو کي د مزارعت نه جدا دي① په مزارعت کي بعضو صورتونو کي د کار کولو نه د منع کیدو په وجه زبردستی نشی کولي.او په مساقات کي منع کیدونکی باندي زبردستی کولي شي.

② که په مساقات کي موده ختمه شی.نو د اجرت نه بغیر به میوي په ونو باندي ساتلي شي.او عامل به کار کوي.او ده به دکار جدا څه اجرت نه ملاویږي.په خلاف د مزارعت.

③ که په مساقات کي باغ دچا مستحق ثابت شی.نو عامل ته به اجرت مثلیه ورکولي شي.او په مزارعت کي به د فصل قیمت ورکولي شي.

④ مساقات کي استحساناً موده بیانول شرط نه دي.(درمختار)

علامه شامی رحمه الله فرماني.ددي وجه دا ده.چه د میوو پخیدو معلوم وخت دي.په خلاف د کروندي، البته که د فصل وخت هم معلوم وي.نو هغه هم د مودي بیانولو نه بغیر جائز دي.او فتوی هم په دي باندي ده.معلومه شوه.چه په دي اعتبار سره مزارعت او مساقات کي هیڅ توپیر(فرق) نشته.[شامی ص:۱۸۲ج۵]

په کجورو، ونو، انګورو.او سبزیانو کښي د مساقات حکم

وَتَجُوزُ الْمُسَاقَاةُ فِي النَّخْلِ وَالشَّجَرِ او مساقات جائز دي.په کجورو او نورو ونو کي ، وَالْكَرْمِ وَالرِّطَابِ وَأُصُولِ الْبَاذِنْجَانِ او په انګورو او سبزیانو کي او د باټنګرو په ونو کي

حل اللغة ﴿ ① **النخل**:قجوره② **الشجر**:وونه ③ **الکرم**: انګور④ **الرطاب**: سبزیاني.

⑤ **الباذنجان**: باټنګر

تشریح﴿ په باغونو کي که دکجورو ونې وي.یا د بل څه شي (څیز) وي.یا د انګورو وي.یا د سبزیانو او باټنګرو وغیره وي.په دي (ټولو) کي مساقات جائز دي.[2]

دلیله﴿ دلیل دا دي.چه د مساقات جواز د حاجت او ضرورت (ضرورت) په وجه دي.او حاجت لکه څنګه چي په دي دوارو کي دي.په باقي ونو او سبزیانو کي هم دي.او د امام شافعی رحمه الله د خیبر حدیث په دي دوارو کي خاص کول د فکر مقام دي.څکه چي هغوی به لکه څنګه په دي دوارو ونو کي معامله کوله.دغه ډول (دغه شان) به ئي په نورو ونو او سبزیانو کي هم کوله.اوکه اومنلي شي.چه ددوی معامله

---

[1] **مسلک الشافعي**:-امام شافعی فرمانی چه مزارعت جائز نه دي.او مساقات جائز دي.البته که مزارعت د مساقات تابع شی.نو د تابع کیدو په وجه مزارعت هم جائز دي.مثلاً یو باغ دي.چه ددي په دوو برخو (حصو) کي ونې دی.او په یوه برخه (حصه) کي خالي زمکه پرته ده.نو عامل ته د باغ سره دغه زمکه هم ورکړي.چه په دي کي فصل کره.نو جائز ده.ګنی مستقل مزارعت جائز نه دي.

[2] **مسلک الشافعي** رحمه الله:امام شافعی رحمه الله جدید قول دادي.چه مساقات صرف په انګورو اوکجوروکي جائزدي.

هم په دې دواړو کې وه.نو بیا سوال کیږي.چه ددې جواز علت څه وو؟ ځکه چې نصوصو کې اصل هم دا دې.چه دا معلول وي.خاص کر د امام شافعي رحمه الله په نیز.او هرکله چې دا نص معلول دې.نو دا علت به حاجت لپاره راوخی.او حاجت عام دې.په دې دواړو کې او ددې نه په علاوه کې هم.

عامل ته څه خیز ورکول پکار دی او دې - د څه خیز مستحق دې ؟

فَإِنْ دَفَعَ نَخْلًا فِيهِ ثَمَرَةٌ مُسَاقَاةً نوکه د مساقات په طور نې د کجوري داسې ونه وکرله.چه هغې کې میوه وی وَالثَّمَرُ تَزِيدُ بِالْعَمَلِ او کجوري په عمل (د عامل) سره غټیږی جَازَ نوجائز ده وَإِنْ كَانَتْ قَدْ انْتَهَتْ اوکه دا انتهاء ته رسیدلي دی لَمْ يَجُزْ نو جائز نه ده

حل اللغة ﴿ ① التناهي:ختمیدل

تشریح﴾ عامل ته د خپل کار میوه (منافع) ملاویږي.نو ضروری ده.چه پیداوار کې د عامل د عمل څه دخل وی.او دلته به دخل نه وی.نو عقد به فاسد وی.په باغ کې میوې راغلې.او خومره چې غټیدل وو. هغومره غټې شوې.او اوس د باغ مالك دا عامل ته حواله کول غواړي. نو جائز به نه وی.

دلیله﴾ ځکه چې عامل د کار په وجه مستحق کیږی او د پوره کیدو او پخیدو نه روسته د کار هیڅ اثر نشته . نو که دا مونږ (مونږ) جائز اوګرځوو نو دا د عمل نه بغیر استحقاق وی.حالاتکه شریعت دې سره نه دې وارد شوې

په فاسد مساقات کښې د عامل د اجرت مسئله

وَإِذَا فَسَدَتِ الْمُسَاقَاةُ او هرکله چې مساقات فاسد شی فَلِلْعَامِلِ أَجْرُ مِثْلِهِ نو عامل لپاره دده د مثل اجرت دې

تشریح﴾ لکه څنګه چې اجاره فاسده کې اجیر ته دده د اجرت مثل ملاویږي.دغه ډول (دغه شان) به مساقات فاسده کې هم عامل ته اجرت مثل ملاویږي.

دلیله﴾ ځکه چې مساقات د اجارې په معنی کې دې.او د مزارعت فاسده هم دا حکم دې.

په عاقدینو کښې د یوکس په مرګ سره د مساقات حکم

تَبْطُلُ الْمُسَاقَاةُ بِالْمَوْتِ او مساقات مرګ سره باطلیږي

تشریح﴾ لکه څنګه چې دعاقدینو په مرګ سره اجاره فاسدیږي.دغه ډول (دغه شان) به مساقات هم فاسدیږي.

دلیله﴾ ځکه چې مساقات یو عقد دې اوعقود په مرګ د متعاقدینو سره فاسدیږی.په دې کښې وارثانو ته اختیار نه منتقل کیږي.

د عقد مزارعت فسخ کولو عذرونه.

وَتُفْسَخُ بِالْأَعْذَارِ او مساقات فسخ کولې شی.د عذرونو په وجه، كَمَا تُفْسَخُ الْإِجَارَةُ لکه څنګه چې اجاره فسخ کیږي

تشریح﴾که یو عذر د عقد مانع وي.نو لکه څنګه چې (د عذر په وجه) عقد اجاره فسخ کولې شی. مساقات به هم فسخ کولې شی.مثلاً

① عامل غل وی.یره ده.چه ټولې میوې او د باغ لرګی به کورته یوسی.

۲ یا عامل دومره بیمار شو.چه کار نشي کولې.نو عقد مساقات فسخ کولې شي.

الاشکال خوك اووائي چې هرکله عامل دا کولې شي.چه مزدورانو باندې کار اوکړی.نو بیا عذر څنګه شو؟

الجواب مونږ (مونږ) خواب ورکوو چې عقد کې هغه ددې التزام نه دې کړې.نو دا به په هغه ضرر اچول وی.

كِتَابُ النِّكَاحِ

ترجمه (دا)کتاب د نکاح (داحکامو پر(په)بیان کښې) دې .

تشریح **النکاح من باب العبادات اوالمباحاة** په دې کې اختلاف دې چې نکاح آیا په باب دعبادات کې ګډ (شامل) دې یا مباحات کې ؟

۱ حضرات حنفیه او حنابله په نیزدا په عبادات کې شامل دی.

۲ حضرات شوافع دا په مباحات کې شمیری.

۳ دمالکیه نه دواړه قولونه منقول دی. یو دا چې نکاح (اقوات *کې نه ده ، (قوت) هغه شي (څیز) ته ونیلې شي چې دهغې نه بغیر ژوند تیرول مشکل وی او نکاح داسې شي (څیز) دې چې ددې نه بغیر ژوند مشکل دی ،

۴ دویم قول دادې نکاح دتفکهات دقبیل نه ده او دفواکه شان داوی که استعمال شي نو ډیره ښه ، که نه وی نو هیڅ حرج نشته.

حکم النکاح؟ بیا په دې کې اختلاف دې چې نکاح کول سنت دی یا واجب ؟ ۱ دجمهور علماء کرام مسلك دادې چې نکاح کول سنت دی ،

۲ اود داود ظاهری رحمه الله ، علامه ابن حزم رحمه الله اوامام احمد بن حنبل رحمه الله یو قول دادې چې نکاح کول واجب دی.

دا اختلاف دعامو حالاتو په اعتبار سره دې ، کله چې انسان ته په زنا وغیره کې داخته (مبتلا) کیدو ویره نه وی ، که ددې ویره وی نو (عندالتوقان) بیا دټولو لپاره نکاح کول واجب دی. البته حضرات شوافع په دې صورت کې هم دوجوب قائل نه دی ، بلکه هغوی ورته صرف مستحب وائی. چه کوم حضرات دوجوب نکاح قائل دی لکه څنګه چه د داود ظاهری رحمه الله وغیره مذهب دې

دلائل الوجوب ۱ هغوی دقران عظیم الشان آیت مبارك ﴿فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ﴾ نه استدلال کوی چې (فَانْكِحُوْا) دامر صیغه ده ،

۲ داشان په حدیث کې (تزوجوا الولود الودود فانی مکاثربکم الامم) کې واردشوی دی او په دې کې هم (تزوجو) دامر صیغه ده.داشان په بخاری شریف کې یو حدیث رازی ، ددې په آخر کې دی چې (فمن رغب عن سنتی فلیس منی) ، ددې نه هم وجوب ثابتیږی.

دلائل عدم الوجوب لیکن جمهور عالمان فرمانی چې دا دلائل دوجوب لپاره کافی نه دی ، آیت کریمه چې ﴿انْكِحُوْا﴾ دامر صیغه دې لیکن امر هر ځائې کې دوجوب لپاره نه راځی،د آیت کریمه سیاق وسباق هم په دې باندې دلالت کوی چې نکاح واجب نه ده،داشان (تزوجوا الولود الودود) ، کې دامر صیغه

خوده ليکن مخکې چې په (مکاثربکم الامم) سره کوم علت بيان فرمائيلې دې، دې نه متبادر هم دا کيږي چې وجوب لره بيانول مقصود نه دې.

او(من رغب عن سنتي فليس مني) دهغه سرې لپاره بيان فرمائيلې شوی دی چې د حضرت نبی کريم دسنتومبارك نه اعراض اوکړی، بياهم که يوسړې دسنت نه اعراض نه کوی اوهغه نکاح صرف په دې وجه نه کوی چې ده ته دنکاح کولو ضرورت (ضرورت) او حاجت نشته نو دا وعيددهغه لپاره نه دې.

دشام مشهور عالم شيخ عبدالفتاح ابوغده په يوکتاب د (العلماء العزاب الذين آثروا العلم على الزواج) نوم سره تحرير فرمائيلی دی ، په دې کې هغوی دهغه عالمانو مختصر حالات جمع کړی دی چې هغوی دعلمی مصروفياتو په وجه د ازواج ضرورت (ضرورت) محسوس نه کړو . اوپه دې کې هغوی تقريبًا د شپږديرشو (۳۶) عالمانو ذکر فرمائيلې دې چې په هغوی کې ابن تيميه رحمه الله او علامه نووی رحمه الله پشان اساطين علم نومونه ګډ (شامل) دی. ظاهره ده چې ددې اهل علم متعلق خودا نشی ونيلې کيدې چې هغوی يو واجب عمل پريښودو.

پخپله دامام بخاری رحمه الله دصنيع اوطرزنه معلوميږی چې هغه هغوی مطلقًا دنکاح دوجوب قائل نه دې خکه د(لوجکنا في) والآيت هغوی په(باب الترغيب في النكاح) لاندې ذکرکړې دې. دې خبرې طرفته داشارې کولو لپاره دا په وجوب باندې دال نه دې ، صرف دترغيب لپاره دې.

د نکاح د منعقد کيدوالفاظ

اَلنِّكَاحُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيْجَابِ وَالْقَبُوْلِ نکاح ترلې کيږی په ايجاب او قبول بِلَفْظَيْنِ يُعَبَّرُبِهِمَا عَنِ الْمَاضِي يعنی په داسې دووه لفظونو په کومو چې تعبير او کړې شی دَ ماضی نه ،

حل اللغة ① **ايجاب**: واجبول ② **الاخبار**: خبر ورکول

تشريح ايجاب هغه لفظ ته وائی.کوم چې د احد المتعاقدين نه اولاً صادر شی.خکه چې دا مخاطب باندې اثبات يا نفی کې خواب واجبوی.اوکوم لفظ چې د احد المتعاقدين نه ثانيا صادرشی.هغه ته قبول وائی. ماتن بلفظين اوفرمائيل.اودې ارخ (طرف) ته ئې اشاره اوفرمائيله.چه صرف د ليکلو په ايجاب اوقبول سره نکاح نه منعقد کيږی.هم دا قول د ائمه ثلاثه رحمهم الله دې.خکه چې ليکلې شوی ايجاب اوقبول ته نقوش وائی. لفظ ورته نه وائی.

د نکاح انعقاد

وَيَنْعَقِدُ بِلَفْظَيْنِ يُعَبَّرُ بِاَحَدِهِمَا عَنِ الْمَاضِي وَبِالْاٰخَرِ عَنِ الْمُسْتَقْبَلِ اوترلې کيږی په داسې دوو لفظونو.چه په دوی کې دَ يونه تعبير اوکړې شی په ماضی،او دَ بل نه په مستقبل،مِثْلَ اَنْ يَقُوْلَ زَوِّجْنِي فَيَقُوْلَ زَوَّجْتُكَ مثلاً خوك او فرمائی زوجنی بل او فرمائی زوجتك

تشريح په متن کې د مستقبل نه مراد د امر صيغه ده.حاصل داشو.چه نکاح د ماضی په صيغه اود امر په صيغه سره هم منعقد کيږی.مثلا سرې اوونيل، زما نکاح اوکړه،بنځه په خواب کې اووائی،مانکاح اوکړله.يا ددې په عکس.نو نکاح به منعقد شی.

دليله خکه چې رومبې قول ايجاب نه دې .بلکه د نکاح وکيل جوړول دی.او دويم قول،زوجتك، ايجاب او قبول دواړه دی.او په نکاح کې ،احد المتعاقدين.ايجاب او قبول دواړه کولې شی.د خپل طرفه د اصل کيدلو،اود بل دطرفه د وکيل کيدلو په وجه،د نکاح په باب کې يوسړې د ايجاب اوقبول

دوارو متولی جوریدلې شي. اګرچه د بیع په باب کې صحیح نه دی.وجه د توپیر(فرق) داده.چه په بیع کې حقوق واپس کیږی وکیل ارخ (طرف) ته،او په نکاح کې واپس کیږی موکل ارخ (طرف) ته.نو په بیع کې د ،احد المتعاقدین،د طرفینو متولی جوریدلو په صورت کې د یوکس مطالب او مطالب،مملوك اومتملك کیدل لازمیږی.اودا غیر معقول اومحال ده.اوچونکه په نکاح کې حقوق موکل ارخ (طرف) ته واپس کیږی.په دې وجه دا خرابی نه لازمیږی.

د نکاح شرائط.اود ګواهانو صفات

وَلَايَنْعَقِدُنِكَاحُ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا بِحُضُورِشَاهِدَيْنِ حُرَّيْنِ عَاقِلَيْنِ بَالِغَيْنِ مُسْلِمَيْنِ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ نه معقد کیږی نکاح د مسلمانانو مګر په حضور د دوو ګواهانو چې آزاد وی عاقلان وی بالغان وی مسلمانان وی دوی سری وی یا یو سړي او دوه ښځې وی

تشریح> ددې خائې نه مصنف رحمه الله د نکاح شرط بیانوی.فرمانی.چه په نکاح کې شهادت شرط دې.(۱)

دلیله> دلیل دا حدیث دې لَانِكَاحَ إِلَّا بِشُهُودٍ (۲)یعنی بغیر د ګواهانو نه منعقد کیږی.

صفات الشهود> ددې نه روسته صاحب د کتاب رحمه الله د ګواهانو یوڅو صفات بیان کړی دی.

① اول داچه د دوارو آزاد کیدل ضروری دی.ځکه چې د شهادت اهل به هغه کس وی.چاته چې د ولایت حق حاصل وی.اوچونکه غلام ته په خپل ذات باندې د ولایت حق حاصل نه وی.نو په غیر باندې به هم د ولایت حق حاصل نه وی.ولایت وانی. [تنفیذ القول علی الغیر] ته.

② دویم دا چې دواړه ګواهان عاقل بالغ وی.ځکه چې ددې دوارو څیزونو نه بغیر د ولایت حق نه حاصلیږی.نو د شهادت اهل به هم نه وی.

③ دریم داچه د مسلمانانو په نکاح کې دګواهانو مسلمان کیدل ضروری دی.دلیل دادې.چه د هیڅ مسلمان خلاف د کافرشهادت معتبر نه دې.د قرآن آیت [وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا] (النساء:۱۴۱) په وجه د احنافو رحمهم الله په نیز د ګواهانو سری کیدل ضروری نه دی.بلکه یو سړي او دوې (دوه) ښځې هم ګواهان جوریدلی شي.

عُدُولًا كَانُوا أَوْغَيْرَ عُدُولٍ که عادلان وی اوکه غیر عادلان وی.

تشریح> عدم شرطیة العدالة> د شاهدینو عدالت شرط نه دې.(۳)

دلائله> ① فاسق د اهل ولایت څنې دې.نود اهل شهادت څنې به هم وی.او فاسق په اهل ولایت کې کیدل ځکه دی.چه شریعت دې د مسلمان کیدلو په وجه په خپل ځان باندې د ولایت نه نه دې محروم کړې.نو په غیر باندې به هم د ولایت نه نشي محروم کیدلې.ځکه چې دا غیر هم د مسلمان کیدلو په وجه دده هم جنس دې.

---

۱) **مسلک مالک**:- امام مالک رحمه الله فرمانی.چه اعلان شرط دې شهادت شرط نه دې.

۲) غربه الزیلعی رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل عدة أحادیث فمنها حدیث عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا نکاح إلا بولی وشاهدی عدل،وماکان من نکاح علی غیرذلك فهو باطل فإن تشاجروا فالسلطان ولی من لا ولی له) أخرجه ابن حبان في صحیحه في النوع الثامن والتسعین من القسم الأول) نصب الرایة(۳/۲۱۳)۔

۳) **مسلک الشافعی**:- امام شافعی رحمه الله عدالت د ګواهانو لپاره شرط ګرځوی.

② د دويم دليل حاصل دادې.چه فاسق حاكم جوړيدلې شي.اود حاكم لپاره جائز دى.چه دې خوك قاضي جوړ كړى.او فاسق حاكم چې هركله بل څوك قاضي جوړولې شي.نو په خپله هم قاضي جوړيدلې شي.او هركله چې قاضي جوړيدلې شي.نو شاهد هم جوړيدلې شي.ځكه چې شهادت او قضاء دواړه د يو باب څخه دى.ځكه چې په دواړو كې د [تنفيذ الحكم على الغير] معنى موجود ده.

أَوْ مَحْدُودِينَ فِي الْقَذْفِ اويا د يو سړي او دوو ښځو ،كه عادلان وى او كه غير عادلان او يا په تهمت لګولو كې پرې حد جاري شوې وى.

حل اللغة ﴿ المحدود في القذف: محدود في القذف هغه څاته وائي چې په چا باندې د زنا الزام اولګوي او بيا په څلورو ګواهانوسره هغه ثابته نكړې شي او دهغې په سزا كې ورته اتيا كوړې وركړې شي.

تشريح﴿ جواز شهادة المحدود في القذف﴾ كوم كس ته چې حدقذف لګولې شوې وى.هغه هم چونكه د اهل ولايت څخه دې.نود اهل شهادت والو سره به (نه به) هم وى.خودا كس د تحمل شهادت(يعنى د شهادت اوچتولو) اهل دې.د شهادت ادا كولو اهل نه دې. يعنى د ،محدود في القذف، په موجودګئ كې نكاح منعقد كيږى.ځكه چې په نكاح كې تحمل شهادت كافي دې.خو كه كله د قضاء په مجلس كې د ګواهي وركولو ضرورت (ضرورت) راپيښ شي.نو دده ګواهي به نه قبليږى.د آيت [وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا[4]] په وجه، يعني ددوى ګواهي كله هم مه قبلوئ.

دا بالكل داسې ده.لكه چې د دوې (دوه) رندو يا د عاقدينو د دوې (دوه) ځامنو په موجودګئ كې نكاح منعقد كيږى.ځكه چې دوى د تحمل شهادت اهل دى.خود رندو ګواهي،اود عاقدينو د ځامنو ګواهي دپلار په حق كې نه قبليږى.خوكه خلاف ګواهي وركړى.نو د ځوى ګواهي به هم د پلار په خلاف قبليږى.

د ذميانو ګواهي

وَإِنْ تَزَوَّجَ مُسْلِمٌ ذِمِّيَّةً بِشَهَادَةِ ذِمِّيَّيْنِ جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رحمهما الله ([1]) كه چا مسلمان د يوې ذميه ښځې،نكاح او كړه په شهادت د دوو ذميانو نو جائز ده په نزد د امام ابوحنيفه او ابويوسف رحمهما الله ،

تشريح﴿ په تيره شوې مسئله كې د شاهدينو لپاره مسلمان كيدل شرط اوخودلې شو.دا مسئله هم په هغې متفرع ده.ذمى هغه كافر خلق دى.چه دوى په اسلامي ملك كې په فرمانبردارئ اوذمه دارئ سره اوسيږى.كه هندو وى.او كه يهودي يا نصراني وى.خو په متن كې د ذمى نه مراد اهل كتاب دى.كه يهودي وى اوكه نصراني وى.ځكه چې د مسلمان نكاح صرف كتابيه سره جائز ده. غيركتابيه سره جائز نه ده.

مسلك الشيخين﴿ د متن په مسئله كې اختلاف دې.شيخين رحمهما الله د جواز قائل دى.

دليلهما﴿ د شيخينو رحمهما الله د دليل حاصل دادې.چه په نكاح كې دوې (دوه) شيان (څيزونه) دى.يوخو داچه ملك بضع د ميره (خاوند) لپاره ثابتيږى. دويم داچه د ښځې لپاره په ميره (خاوند) باندې مال مهر واجبيږى.داخبره منلې شوې ده.چه شهادت د داسې شي (څيز) د پاره وى.چه هغه د احترام قابل وى.او بضع د احترام قابل ده.د مال په لزوم كې هيڅ احترام او عظمت نشته.تردې كه د نكاح په وخت كې د مال ذكر اونكړې شي.بيا هم نكاح منعقد كيږى.ددې تمهيد نه دا خبره ثابته شوه.چه په نكاح كې

[1]) القول الراجح هو قول الشخين رحمهما الله كذا في الخانية (١\١٥٦) وفتح القدير(٣\١١٤) وردالمحتار(٢\٢٩٧) والهندية (١\٢٦٧) نقلاً عن القول الراجح (١\٢٤٣)-

گواهي، ملك بضع على الزوجه، د ميره (خاوند) لپاره ثابتولو لپاره ده.په ميره (خاوند) باندې د مال واجبولو لپاره نه ده.نو معلومه شوه.چه داگواهي د مسلمان ميره (خاوند) په حق کې اود ذميه ښځې په خلاف ده.څکه چې د کافر گواهي د مسلمان په حق کې قبلولې شي.اگرچه په خلاف نه قبليږي.نود دوي (دوه) ذميانو په گواهۍ سره دا نکاح منعقد کيږي.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَا يَجُوْزُ اوامام محمد رحمه الله فرمائي چې جائز نه ده، إِلَّا أَنْ يَشْهَدَ شَاهِدَيْنِ مُسْلِمَيْنِ مگرکه دوه مسلمانانو گواهانو گواهي ورکړه.

مسلک محمد امام محمد د جواز قائل نه دی.

دليله د امام محمد دليل دادې.چه په نکاح کې د ايجاب اوقبول اوريدلو نوم شهادت دې.اود کافر شهادت د مسلمان په خلاف معتبر نه دې.نو گويا ذميانو د مسلمان کلام اوريدلې هم نه دې.حاصل داچه دې دواړه حضراتو سماع قياس کړه په عدم سماع باندې.او هرکله چې ايجاب اوقبول ئې اوريدلې نه دې.نو شهادت هم موجود نشو.نو نکاح به هم منعقد نه وي.

الجواب عنه د دې نه خواب دادې.چه سماع په عدم سماع باندې قياس کول، قياس مع الفارق دی.چه ددې هيڅ اعتبار نشته.والله اعلم بالصواب.

د محرمه کيدلو اسباب او ددې اقسام

لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ جائز نه دی لپاره دسړي أَنْ يَتَزَوَّجَ چې نکاح اوکړي بِأُمِّهٖ د مور خپلې سره وَلَا بِجَدَّاتِهٖ اونه د انا (نيا) خپلې سره مِنْ قِبَلِ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ د سړي او د ښځو دطرفه

تشريح هغه ښځې چې د هغوی سره نکاح حرام ده.په دوې (دوه) قسمه دی.يو هغه چې د هغوی سره هيڅ کله هم نکاح جائز نه ده.هميشه حرام ده.مثلاً مور، خور، وغيره. دويم هغه چې دوی سره بالفعل حرام وی.څه وخت کې حلال کيدلې هم شي.لکه د غير منکوحه، يا معتده وغيره.بيا د محرمه کيدلو اووه اسبابه دی. ① قرابت خاصه ② نکاحی رشته ③رضاعت ④ جمع کيدل ⑤ مالك کيدل ⑥کفر ⑦ په آزاده باندې وينځه په نکاح کې راوستل،په کتاب الله کې هم په دې ترتيب سره بيان شوی دی.لکه ارشاددې.فرمائي چه،مور دچا د خيټې نه چې پيدا شوې.دې سره نکاح حلال نه ده.دغه ډول (دغه شان) نياگانې(يعنی د مور او پلار مياندې)اود مور پلار اناگانې (نياگانې) وغيره حلال نه دی.

دليله دليل د قرآن پاك آيت دې. حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ الخ حرامې شوی دی په تاسو باندې مندې (مياندې) ستاسو او لونړه ستاسو

د لور حرمت

وَلَا بِبِنْتِهٖ او نه دَ خپلې لور سره، وَلَا بِبِنْتِ وَلَدِهٖ وَإِنْ سَفَلَتْ او نه دَ خپل اولاد دَ لور سره اگر که خکته وی، وَلَا بِأُخْتِهٖ وَلَا بِبَنَاتِ أُخْتِهٖ اونه دَ خپلې خور سره او نه دَ لونړو دَ خور سره وَلَا بِعَمَّتِهٖ وَلَا بِخَالَتِهٖ او نه دَ پلار دَ خور سره او نه دَ مور دَ خور سره لونړه يعنی نمسی، اود لونړو لونړه يعنی نمسی، وَلَا بَنَاتِ أَخِيْهِ اونه د وريرو سره

حل اللغة ① سلفت: لاندې ② خالة: د مور خور ③ عمة: د پلار خور]

تشريح لور کومه چې دده د نطفې نه پيدا شوې ده.دا هم ددې ذکر شوی آيت په وجه حرام ده.دغه ډول (دغه شان) د خامنو لونړه يعنی نمسی، اود لونړو لونړه يعنی نمسی، هم قطعاً حرام دی.ددوی حرمت په

اجماع سره ثابت دي.دغه ډول (دغه شان) خور، خورځي، وريرې، ترورياني(يعنی د مور پلار خوينديی) ټولې حرامې دی.

دليله> ددوی حرمت په دې ذکر شوی آيت کې بيان کړې شوې دې.آيت [حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَٰتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَٰتُكُمْ وَعَمَّٰتُكُمْ وَخَٰلَٰتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ] ،يعنی حرام شوی دی په تاسو باندې، ستاسو ميانديې، او لونړه،او خوينديې،اود پلار خور(يعنی ترور)اود مورخور(يعنی ترور)اود خوی لونړه،اود لور لونړه،

د خواښې حرمت

وَلَا بِأُمِّ امْرَأَتِهِ الَّتِي دَخَلَ بِهَا أَوْ لَمْ يَدْخُلْ او نه دَ خپلې ښځې دَ مور سره چې دَ دې دَ لور سره يې صحبت کړې وی او که نه،

تشريح> په دې عبارت کې د خواښې حکم بيان شوې دې.که ښځې سره نې دخول کړې وی. اوکه دخول نې نه وی کړې.په دواړه صورتونوکې د خواښې سره نکاح حرام ده.دليل دادې.چه په قرآن کې د خواښې حرمت د دخول د قيد نه مطلق ساتلې شوې دې.نودا حکم به په خپل اطلاق باندې باقی پاتې وی.

دويمه مسئله دا ذکر شوې ده.که د داسې ښځې سره نکاح اوشوه.چه د رومبی ميره (خاوند) نه نې يوه لور راوړلې ده.داسې جينۍ ته ربيبه وائی.دې ربيبې سره د نکاح په جواز کې دا تفصيل دې.چه د ښځې سره که دخول شوې وی.نود ربيبه سره نکاح حلال نه ده.او که دخول نې نه وی کړې.نو نکاح حلال ده.

دليله> دليل دا دې.چه په کلام پاک کې قيد د دخول موجود دې.لکه چې ارشاد دې. [وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ] ،اوددوی لونړه کومې چې ستاسو په پرورش کې دی.کومې چې پيدا شوی دی.ستاسو دهغه ښځو نه دچاسره چې تاسو صحبت کړې دې. اوکه تاسو ددوی سره صحبت نه وی کړې.نو په تاسو هيڅ ګناه نشته ددوی سره په نکاح کولوکې ،

وَلَا بِبِنْتِ امْرَأَتِهِ الَّتِي دَخَلَ بِهَا او نه دَ لور دَ خپلې هغې ښځې سره چې دَ هغې سره صحبت شوې وی،سواء کان فی حجره اوفی حجرغيره برابره ده که دده په تربيت کې وی اوکه دبل چا په تربيت کې وی.

تشريح> نفس مسئله آسانه ده.

دليله> دَ وجه دَ ثبوت دَ قيد دَ دخول نه په نص سره خواه دغه جينۍ دَ ده په پرورش کې وی او که دَ غير په پرورش کې وی،

الاشکال> په کلام پاک کې قيد د دخول موجود دې.دغه ډول (دغه شان) ،حجور، په معنی د غيږې او پرورش قيد هم موجود دې.ددې مطلب دادې.چه دا ربيبه که ستاسو په پرورش کې وی.بيا خو نکاح حرام ده. خوکه د دويم ميره (خاوند) نه علاوه د بل چا په پرورش کې وی.نونکاح حلال کيدل پکار دی. حالانکه حکم ددې په خلاف دې.

الجواب> په آيت کې د ،حجور، قيد قيد اتفاقی او قيد عادی دې.قيد احترازی نه دې.
يعنی عام عادت هغه دې.چه د داسې قسمه بچو پرورش دويم ميره (خاوند) کوی.او مور خپلو وړو ماشومانو سره راځی.وجه دا ده.چه هرکله قرآن د نکاح جواز بيان کړو.نو صرف د دخول په قيد باندې

ئې اکتفاء اوکړه.د،حجور، نفی ئې ذکر نه کړله.که دا قید ملحوظ وي.نود جواز په موقع باندې به هم ددې نفی شوې وه.

د پلار،نیکونو د منکوحې سره د نکاح حرمت

وَلَابِامْرَأَةِأَبِيهِوَأَجْدَادِهِاو نه دَ خپل پلار نیکونو دَ ښځو سره،

تشریح> ددې عبارت حاصل دادې.چه دپلار او نیکونو(د مور پلار،اود پلار پلار) منکوحه سره هم نکاح حلال نه ده. دغه ډول (دغه شان) د خوی اود نمسی ښځې سره هم نکاح جائز نه ده.

دلیله> د الله تعالی ارشاد دې وَلَاتَنْكِحُوامَانَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ یعنی تاسو د هغه زنانو سره نکاح مه کوئ کومو سره چې ستاسو پلرونو نکاح کړې وی..

وَلَا بِامْرَأَةِابْنِهِوَبَنِي أَوْلَادِهِاو نه دَ خوئی دَ ښځې سره اود نوسو دَ ښځو سره.

دلیله> دلیل د الله تعالی ارشاد دې {وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ} اوپه تاسو باندې ستاسو د خامنو ښځې حرامې دی هغه خامن کوم چې ستاسو د شاګانو نه وی

الاشکال> په آیت کې د ،اصلاب، د قید نه معلومیږی.چه د رضاعی خوی د ښځې سره نکاح حلال ده.حالانکه داسې نه ده.

الجواب> د ،اصلاب، قید د متبنی یعنی (په خوئی توب نیولې) اعتبار ساقطولو لپاره دې. د رضاعی خوی ښځې حلالولو لپاره نه دې. لنډیز (خلاصه) داچه د کوموخامنو ښځې ستاسو لپاره حرام دی.چه هغه ستاسو د شانه پیدا شوی وی.اوکوم چې ستاسو د شانه پیدا شوې نه دی.هغه دوې (دوه) قسمه دی. یو رضاعی، دویم متبنی خو د حدیث نه معلومیږی چه رضاعی خوئې د نسبی خوی پشان دې.ددې نه معلومه شوه.چه د ،اصلاب، په قیدسره صرف متبنی خارج شوې دې.لهذا د متبنی ښځه حلاله ده.

رضاعی مور اوخور سره د نکاح حرمت

وَلَابِأُمِّهِمِنَ الرَّضَاعَةِوَلَابِأُخْتِهِمِنَ الرَّضَاعَةِاو نه دَ خپلې رضاعی مور سره اونه رضاعی خور سره.

تشریح> مصنف رحمه الله په دې عبارت کې رضاعی محرمات بیان کړی دی.رضاعی مور چې یو ځاځکې شیدې(پئ) ئې هم څکولې وی.د رضاعی خور سره نکاح حرام ده.

دلائله① د الله تعالی ارشاد دې «وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ» اوکومو میندو چې تاسوله تې درکړې دې او دَ تې خویندې.

② د نبی کریم ﷺ ارشاد دې ((يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ)) [1] اودَ ارشاد نبوی په وجه سره چې دَ رضاعت په وجه حرام دی هغه کوم چې دَ نسب په وجه حرام دی

دوه خویندې په یوه نکاح کښې جمع کول

وَلَايَجْمَعُ بَيْنَ أُخْتَيْنِ بِنِكَاحٍ وَلَابِمِلْكِ يَمِينٍ وَطْئًا او سره به (نه به) جمع کوی دوې (دوه) خویندې په نکاح سره،او نه دَ ملك یمین په ذریعه په وطئ سره

[1]) من حديث إبن عباس رضي الله عنهما اخرجه البخاری في الشهادات باب ۷ رقم ۲٦٤٥ ومسلم في الرضاع رقم ۱۲)

تشریح > **قسمي الاجمع بين الاختين** > دوې (دوه) خويندې په نکاح کې جمع کول په دوې (دوه) قسمه دی.

① اول داچه دواړه خویندو سره په یوځاې یا وړاندې روسته نکاح اوکړی.نو دا نکاح درست نه ده.که دواړو سره په یو عقد کې نکاح شوی وی. نود دواړو نکاح باطل ده.اوکه وړاندې روسته شوې وی.نود اولې نکاح صحیح ده.اود دویمې باطل ده.

② دویم صورت دادې.چه په ملك کې کومې وینځې دی.دواړه خویندې دی.نو دواړه په ملك کې جمع کول جائز دی.خود دواړو سره وطی کول جائز نه دی.حاصل داشو.چه د دوې (دوه) خویندو د نکاح په طور جمع جائز نه ده.اود دوې (دوه) وینځو په ملك کې جمع کول د وطی په طریقه جمع کول جائز نه دی.خود دواړو مالك جوړیدلې شی.

دلائله > ① دلیل د الله تعالی قول دې. [وَأَنْ تَجْمَعُوا] یعنی، په تاسو باندې حرام شوی دی چې جمع کړئ دوې (دوه) خویندې په نکاح کې ،

② دویم نبی کریم ﷺ فرمانیلی دی. ،مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَجْمَعَنَّ مَاءَهُ فِي رَحِمِ أُخْتَيْنِ (۴) چه کوم کس په الله تعالی او په ورځ د آخرت باندې ایمان لری.نودې دې خپلې اوبه د دوې (دوه) خویندو په رحمونوکې هیڅ کله نه جمع کوی، په فیروز دیلمی کې حدیث دی.چه زه د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرشوم.عرض مې کړل.چه ما اسلام راوړلو.او زما په نکاح کې دوې (دوه) خویندې دی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.چه ته په دواړوکې یوه خوښه کړه.

د جمع بعض حرام صورتونه

وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا أَوْ خَالَتِهَا وَلَا ابْنَةِ أَخِيهَا وَلَا ابْنَةِ أُخْتِهَا او سره به (نه به) جمع کوی ښځه او دَ دې دَ پلار خور او یا دَ مور خور او یا وریره او یا خورزه

حل اللغة > ① **عمة**: د پلار خور ② **خالة**: د مور خور ③ **اخت**: خور]

تشریح > په دې عبارت کې مصنف رحمه الله په نکاح کې د جمع د حرام کیدلوخو صورتونه بیان کړی دی.مثلاً ښځه او ددې د پلار خور(تروږ) جمع کول حرام دی.دغه ډول (دغه شان) ښځه اوددې د مورخور(تروږ)،ښځه او ددې وریره، ښځه او ددې خورزه،جمع کول حرام دی.

دلیله > د نبی کریم ﷺ ارشاد دې. لَا تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا وَلَا عَلَى خَالَتِهَا وَلَا عَلَى ابْنَةِ أَخِيهَا وَلَا عَلَى ابْنَةِ أُخْتِهَا (۵)

---

٤) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل عدة احاديث فمنها حديث ام حبيبة رضي الله عنها قالت يارسول الله ﷺ أنكح أختي قال ﷺ اوتحبين ذلك قلت قلت نعم،لست لك بمخلية واحب من شركني في خيراختي قال ﷺ فانها لا تحل لي قلت فاني أخبرت انك تخطب درة بنت ابي سلمة قال لوانها لم تكن ربيبتي في حجري .... [بقيه حاشيه په راروان مخ]

[بقيه د تیرمخ] ما حلت لي انها ابنة أخي من الرضاعة أرضعتني واباها ثويبة فلا تعرضن علي بناتكن ولا إخواتكن الحديث اخرجه البخاري في النكاح باب ٢٠ رقم ٥٠٩٩ ومسلم في الرضاع رقم ١ وابوداود في النكاح باب ٦ رقم ٢٠٥٥ والترمذي في الرضاع باب ١ رقم ١١٤٧ والنسائي رقم ٣٠٩٦ وأحمد في المسند (٦/٤٤)۔

٥) من حديث ابي هريرة رضي الله عنه اخرجه ابوداود في النكاح باب ١٢ رقم ٢٠٦٥ والترمذي في النكاح باب ٣٠ رقم ١١٢٦ وابن ماجه في النكاح باب ٣١ والنسائي في النكاح باب ٤٧ ورواه ايضاً في السنن الكبرى (٣/٢٩٣) رقم ٥٤٢٤)۔

نکاح د نه شي کولې په ښځه باند د دې د پلار د خور او نه د مور د خور او نه د رور د لور او نه د خور د لورسره،

الاشکال> خو په دې باندې اشکال کیږي.هغه داچه په قرآن پاک کې د ټولو محرماتو بیانولو نه روسته [وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ] ذکر شوي دي.او قرآن د محرماتو په بیان کې ددې ښځو ذکر نه دې کړي.نودا واړه (ټول) صورتونه جائز کیدل پکار دی؟

الجواب> دا حدیث کوم چې د جمع په حرمت کې پیش شوي دي.حدیث مشهور دي.او په حدیث مشهور سره په کتاب الله باندې زیاتوالي کیدلې شي.

د جمع بین المراتین په حرمت کښې قاعده

وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ امْرَأَتَيْنِ لَوْ كَانَتْ إِحْدَاهُمَا رَجُلًا لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ بِالْأُخْرَىٰ او نه په جمع کوی داسې دوه ښځو لره چې که شي په دوی کې یو سړي نو جائز به ورلره نه وی چې نکاح او کړی د دغې بلې سره.

تشریح> صاحب د کتاب رحمه الله د ،جمع بین المراتین، په سلسله کې یوه قاعده ذکر کړې ده.قاعده داده.چه کومې دوې (دوه) ښځې په نکاح کې جمع کول وی.په دې کې هره یوه مذکر(نر) فرض کړې شي.چه ددې دواړو په خپل مینځ کې نکاح شرعاً درست ده.او که نه ده؟ که درست ده.نو دواړه جمع کولې شي.اوکه صحیح نه وی.نود داسې دوې (دوه) ښځو په نکاح کې جمع کول هم صحیح نه دی.مثلاً جینۍ او ددې د پلار خور(ترور)جمع کول حرام دی.ځکه که جینۍ مذکر فرض کړې شي. نو په دوی کې به د ترور او وراره رشته وی.او که ترور مذکر فرض کړې شي.نو په دوی کې به د اکا (تره) او خورزې رشته وی.او په دې دواړو صورتونوکې په خپلو کې نکاح ناجائز ده.نودا دواړه په نکاح کې جمع کول هم ناجائز دی.هم په دې باندې نور صورتونه هم قیاس کولې شي.

دلیله> دلیل دادې.چه داسې دوې (دوه) ښځې په نکاح کې جمع کول د قطع رحم سبب جوړیږي.په دې طریقه چې د نکاح نه روسته به دا دواړه په خپلو کې بنړې وی.او په بنو کې عداوت او دښمني په عامه توګه (عام طور) وی.او قطع رحمي حرام ده.نو کوم چې د حرام سبب وی. هغه به هم حرام وی.نو د داسې دوې (دوه) ښځو جمع کول هم حرام دی.هم دا علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی چه کوم د نکاح قرابت حرامکونکی وی.هم هغه د قطع رحم حرامونکې دې.په کومو صورتونوکې چې د نسبي قرابت په وجه چې ،جمع بین المراتین، حرام ده.په دغه صورتونوکې د رضاعت په وجه هم جمع بین المراتین حرام ده.دلیل هم هغه حدیث دې.کوم چې وړاندې تیر شو.یعنی [يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب]

ښځه او ددې د بنې لور په نکاح کښې جمع کول

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَجْمَعَ بَيْنَ امْرَأَةٍ وَابْنَةِ زَوْجٍ كَانَ لَهَا مِنْ قَبْلُ او په دې کې څه باك نشته چې جمع کړی ښځه او د دې د تیر میړه (خاوند) لور لره

تشریح> دا مسئله په ماقبل اصول باندې متفرع ده.مسئله داده.چه د ښځې او ددې د مخ کښیني میړه (خاوند) د رومبۍ ښځې نه چې کومه لور ده.دا په نکاح کې جمع کولې شي.مثلاً هنده د زید سره نکاح اوکړه.اود زید یوه لور د زید مخکښۍ ښځې فاطمه' نه هم ده.بیا هنده زید ته طلاق بائن ورکړو.اوس که خالد د زید لور زینب او هنده سره نکاح اوکړه.او جمع ئې کړل.نو هیڅ باك نشته.([1])

دلیله> ځکه چې د هنده او زینب په مینځ کې نه قرابت شته او نه رضاعت شته.

[1] **مسلك زفر:**- حضرت امام زفر رحمه الله فرمائي.چه جائز نه ده.

په زنا سره د حرمت مصاهرت ثبوت اوعدم ثبوت

وَمَنْ زَنٰى بِامْرَأَةٍ او چا چې د يوې ښځې سره زنا او کړه حَرُمَتْ عَلَيْهِ اُمُّهَا وَبِنْتُهَا نو د هغې مور او لور پرې حرامه شوه.

تشريح> په زنا سره حرمت مصاهرت ثابتيږي.نو په زاني باندې به د مزنيه اصول او فروع حرام وي.او په مزنيه باندې به د زاني اصول اوفروع حرام وي.يعنى نياګاني(دمور پلار ميانديې) مراد وغيره دي.اود فروع نه نوسى (د لونړو اوخامنو لورياني) وغيره مراد دى.(١)

دليله> د ليل دادې.چه د حرماتو په استحقاق کې ولد اصل دې.يعنى ولد که موتث وى.نو په ولد باندې د واطى پلار او خوې حرام وى.اوکه ولد مذکر وى.نو د موطوءه مور او لور به په دې ولد باندې حرام وى.بيا به دا حرمت متعدى وى.د ولد په طرفين يعنى د واطى او موطوءه په طرف،نود موطوءه اصول اوفروع به په واطى باندې،اود واطى اصول او فروع به په موطوءه باندې حرام وى.ځکه چې ولد د واطى او موطوءه په مينځ کې اتحاد او جزئيت پيداکړې دې.هم دغه وجه ده.چه ولد واحد په مکمله طريقه د واطى په اړخ (طرف) هم منسوب کولې شى.لکه ونيلې شى.چه دا د فلانى سړى خوې دې.او په مکمله طريقه باندې موطوءه اړخ (طرف) ته هم منسوب کولې شى.ونيلې شى.چه دا بچې د فلانۍ ښځې دې. نوددې ولد په واسطه سره واطى جزء شو د موطوءه،او موطوءه جزء شو د واطى.نود واطى اصول اوفروع به د موطوءه اصول اوفروع شمارلې شى.اود موطوءه اصول اوفروع به د واطى اصول اوفروع شمارلې شى.او استمتاع بالجزء حرام ده.نود واطى لپاره به د موطوءه مور او لور حرام وى.اوپه موطوءه باندې به د واطى پلار او خوې حرام وى.خو په دې باندې يو اشکال کيږى.هغه داچه هرکله دا ثابته شوه.چه موطوءه د ولد په واسطه سره د واطى جزء دې.نود يو بچى پيدا کيدلو نه روسته دوباره موطوءه دده لپاره حلال کيدل نه دى پکار،حالانکه حکم ددې خلاف دې؟

خواب> اصل هم دغه دې.چه استمتاع بالجزء حرام ده.خو دلته کې ضرورةً حرج د فع کولو لپاره اجازت ورکړې شوې دې.چه د نکاح مقصد توالد او تناسل فوت نشى.او دا بالکل داسې ده.لکه ځنګه چې حضرت آدم ﷺ باندې ددوى لونړه حرام وې.خو حواءعليهاالسلام ددې قاعدې نه د ضرورت (ضرورت) په وجه مستثنى کړې شوه.

د معتده ښځې خور سره د نکاح حکم

وَاِذَا طَلَّقَ الرجل امْرَأَةً طَلَاقًا بَائِنًا لَمْ يَجُزْ لَهُ اَنْ يَتَزَوَّجَ بِاُخْتِهَا حَتّٰى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا که خپلې ښځې له ئې طلاق ورکړه بائن يا رجعى نو د ده د پاره جائز نه دى د دې د خور سره نکاح کول تر دې چې عدت ئې تير شى.

حل اللغة > ① **طلاق بائن:** هغه طلاق چې د طلاق په کنائى الفاظو سره واقع شوې وى لکه ته زما نه جدا ئې او نيت ئې د طلاق وى

تشريح> مسئله داده.چه يوکس خپلې ښځې ته طلاق بائن (يا طلاق رجعى) ورکړو.نو اوس دا سړې ددې معتده خور سره دعدت په موده کې نکاح نشى کولې؟ (١)

---

(١) **مسلک الشافعي:** دشوافعو ﷫ مذهب دادې.چه په زنا سره حرمت مصاهرت نه ثابتيږى.نو ددوى په نيزبه دزانى اصول اوفروع دمزنيه لپاره حلال وى.اودمزنيه اصول اوفروع به دزانى لپاره حلال وى.

دليله> دليل دادي.چه د معتده نكاح باقي ده.لكه څنګه چې د منكوحه كيدلو په حالت كې وه.او ميره (خاوند) ته دا اختيار دي.چه د كور نه په وتلو باندي پابندي اولګوي.دغه ډول (دغه شان) كه په دوي (دوه) كاله كې دننه بچې پيدا شو.نود فراش كيدلو په وجه ددي سرى نه نسب هم ثابت وى.

د مولا خپلې وينځې سره،او ښځې خپل غلام سره د نكاح ممانعت

وَلَا يجوزللمولى ان يَتَزَوَّجَ أَمَتَهُ او مالك به دَ خپلې وينځې سره نكاح نه كوى، وَلَا الْمَرْأَةُ عَبْدَهَا او نه ښځه دَ خپل غلام سره.

تشريح> مولا به خپلې وينځې سره نكاح نه كوى.كه د وينځې د كل مالك وى.او كه د بعض مالك وى.دغه ډول (دغه شان) به ښځه د خپل غلام سره نكاح نه كوى.كه ښځه د پوره غلام مالكه وى.او كه د بعض غلام مالكه وى.په دواړه صورتونوكې نكاح ممنوع ده.كه مالك او مملوك يوځاى اوسيدل.او نكاح ئې اوكړه.نو باطل به وى.آئمه اربعه هم ددې قائل دى.

دليله> دليل دادي.چه نكاح د داسې منافعو او فوائدو په لحاظ سره مشروع شوې ده.چه هغه د دواړو ښځې ميره (خاوند) په مينځ كې مشترك وى.بعض منافع ښځې ته حاصليږى. مثلا د ښځې لپاره مهر، كسوه او نفقه واجبيږى.او په سړى باندې حكماً وطى هم واجبيږى.د ښځې د رضامندئ نه بغير سړى لپاره عزل جائز نه دې.د سړى د ،مقطوع الذكر، اود ،عنين، كيدلو په صورت كې ښځې ته خيار فسخ هم حاصل وى.او بعض منافع سړى ته حاصليږى.مثلاً د نكاح نه روسته د ښځې په نفس باندې قدرت حاصليدل.دښځې لپاره دَ سړى په كور كې قيام كول،د كور دننه كار كول،مثلاً خوراك پخول،كپړې وينځل،د بچو تربيت كول،بچو ته شيدې(پئ) وركول وغيره. لنډيز (خلاصه) داده.چه د نكاح په ذكر شوى دواړه صورتونوكې مالكيت او مملوكيت جمع كيدل لازميږى.حالانكه په دې دواړو كې منافات دي.ځكه چې مالكيت تقاضا كوى د قاهريت.او مملوكيت تقاضا كوى،د مقهوريت.او ددې دواړو په منافات كې هيڅ شبه نشته.نو هركله چې داسې ده.نو په شركت باندې به د ثمره حصول ممتنع وى.

الاشكال> په دې باندې يو اشكال كيږى.هغه داچه مملوكيت كه د مالكيت منافي دې.نو بيا د مملوك نكاح بالكل صحيح كيدل نه دى پكار.ځكه چې كله مملوك د آزادې ښځې سره نكاح اوكړى.نود ناكح كيدلو په وجه به مالكيت هم ثابتيږى.نوپه دې صورت كې هم د مالكيت او مملوكيت جمع كيدل لازميږى.

الجواب> د قياس تقاضا هم دغه ده.چه د مملوك نكاح مطلقاً درست نه وى.خود ضرورت (ضرورت) په وجه خلاف قياس جائز ګرځولې شوې ده.(عينى شرح هدايه)

د كتابيه ښځې سره نكاح

وَيَجُوزُتَزْوِيجُ الْكِتَابِيَّاتِ او جائز دې دَ كتابيه ښځو سره نكاح كول :

تشريح> كتابيات، د كتابيه جمع ده.ددې مذكر كتابى دې.كتابى هغه كس دې.چه په نبى باندې ايمان لرى.اود كتاب اقرار كوى.په آئمه اربعه كې د آزاد كتابيه سره نكاح كولوكې د هيڅ چا اختلاف نشته.دكتابيه وينځې سره په نكاح كولوكې اختلاف دې.چه ددې بيان روسته راروان دې.

---

[1] **مسلك الشافعي:**- امام شافعى رحمه الله فرمائى.كه دا ښځه په طلاق بائن يا د درې طلاقو په وجه په عدت كې ده.نو ددې د خورسره نكاح جائز ده.

دليله د ليل د الله تعالى قول دي، وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ ستاسو لپاره حلال کړې شو. د اهل کتابو ښځې هغه ښځې چې پاکدامنې وی، په آيت کې د ،عفت، قيد عادةً ذکر کړې شو. دجواز نکاح لپاره شرط نه دي.

مجوسيه اوصابيه ښځې سره د نکاح حکم

وَلَا يَجُوزُ تَزْوِيجُ الْمَجُوسِيَّاتِ او جائز نه دي نکاح کول دَ آتش پرستو ښځو سره وَلَا الْوَثَنِيَّاتِ اونه بت پرستې سره

حل اللغة ① **مجوسيات**: جمع د **مجوسية**: آتش پرسته، چه د هور عبادت کوی

تشريح د آتش پرستو ښځو سره نکاح کول په اتفاق سره ناجائز دی.

دليله دليل دادې نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی، سُنُّوا بِهِمْ سُنَّةَ أَهْلِ الْكِتَابِ غَيْرَ نَاكِحِي نِسَائِهِمْ وَلَا آكِلِي ذَبَائِحِهِمْ (١) چه د اهل کتابو سره کومه معامله کوئ. دمجوسو سره هم هغه معامله کوئ. سوا ددې نه چې د مجوسو ښځوسره نکاح مه کوئ. او ددوی ذبيحه مه خورئ. حاصل داچه دمجوسو ښځو سره نکاح مه کوئ. او ددوی ذبيحه مه خورئ. ددې نه علاوه په امان ورکولو، او جزيه اخستلوکې د اهل کتابو په شان معامله کوئ.

وَلَا الْوَثَنِيَّاتِ او دَ بت پرستو ښځو سره،

حل اللغة ① **الوثنيات**: جمع د **ثنية**: بت پرسته

تشريح د بت پرستو ښځې سره هم نکاح کول ناجائز دی.

دليله دليل د قرآن پاك آيت دې، وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ چه شرك کونکو ښځو سره نکاح مه کوئ،

وَيَجُوزُ تَزْوِيجُ الصَّابِئَاتِ إِنْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِنَبِيٍّ وَيُقِرُّونَ بِكِتَابٍ او جائز دې نکاح کول دَ صابيه ښځو سره که هغوی ايمان درلودی (لرلو) په يو نبی او منلو ئې څه کتاب لره. وَإِنْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْكَوَاكِبَ وَلَا كِتَابَ لَهُمْ لَمْ يَجُزْ مُنَاكَحَتُهُمْ او که عبادت ئې کولو دَ ستورو، او دَ دوی سره څه کتاب نهٔ وه نو جائز نه دی ورسره نکاح کول

حل اللغة **صابيات**: جمع د **صابية**: هغه ښځه چې په د اسلام نه سوا په نورو دينونو کې د يو دين نه بل دين ته اوړيدلې وی

تشريح د صابيه ښځو سره د نکاح په جواز او عدم جواز کې اختلاف دې. امام ابوحنيفه رحمه الله د جواز قائل دې. او صاحبين رحمهما الله د عدم جواز قائل دی. په حقيقت کې دا اختلاف د صابی په تعريف او تفسير کې دې. امام صاحب رحمه الله فرمائی. چه صابی هغه دې. چه په نبيانو عليهم السلام کې په يونبی باندې ايمان لرې. او د يو آسمانی کتاب اقرار کوی. دې وخت کې به صابی اهل کتاب شمارلې شی. اود اهل کتابو ښځوسره نکاح جائز ده. نو صابيه سره به هم نکاح جائز وی. صاحبين رحمهما الله فرمائی. چه صابی د ستورو

---

٦) ضربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل عن محمد بن حسن بن علي ان النبي ﷺ كتب إلى مجوس هجر يعرض عليهم الإسلام فمن أسلم قبل منه ومن لم يسلم ضربت عليه الجزية غيرناكحي نسائهم ولاآكلي ذبائحهم أخرجه ابن ابي شيبة في النكاح ومصنف ابن عبدالرزاق في كتاب أهل الكتاب (نصب الراية ٣/٢١٨)

عبادت کوی.اود هیڅ یو اسمانی کتاب اقرار نه کوی.نو دوی به د بت پرستو په حکم کې وی.لکه څنګه چې د بت پرستو سره نکاح جائز نه ده.دغه ډول (دغه شان) به صابیه ښځو سره هم نکاح جائز نه وی.

د احرام په حالت کښې نکاح

وَيَجُوزُ لِلْمُحْرِمِ وَالْمُحْرِمَةِ أَنْ يَتَزَوَّجَا فِي حَالَةِ الْإِحْرَامِ دَ مُحرم او مُحرمې دَ پاره په حالت دَ احرام کې نکاح کول جائز دی

تشریح د احرام والا ښځې سړی دپاره د احرام په حالت کې نکاح کول جائز دی. (۱)

دلیله دلیل د ابن عباس رضی الله عنه روایت دی.چه نبی کریم ﷺ د حضرت میمونه رضی الله عنها سره د محرم کیدلو په حالت کې نکاح اوکړه.او امام بخاری رحمه الله اضافه کړې ده.[وبنی بها وهو حلال وماتت بسرف] (۲) یعنی نبی کریم ﷺ د میمونه سره نکاح اوکړه.حالانکه نبی کریم ﷺ محرم وو.او ددې سره نې زفاف اوکړو.(د خپلې بی بی سره د واده شپه تیرول) حالانکه نبی کریم ﷺ حلال وو.اود میمونه رضی الله عنها انتقال په مقام سرف کې اوشو.بعض حضرات د لطیفه په طورباندې بیان کړی دی.چه د میمونه رضی الله عنها واده هم په مقام سرف کې اوشو.شب زفاف ئې هم په مقام سرف کې تیرکړو.اود حضرت میمونه رضی الله عنها انتقال هم په مقام سرف کې اوشو.ددې حدیث نه معلومیږی.چه نبی کریم ﷺ دمیمونه رضی الله عنها سره د احرام په حالت کې نکاح اوکړه.

د ولی نه بغیر د نکاح انعقاد

وَيَنْعَقِدُ نِكَاحُ الْمَرْأَةِ الْحُرَّةِ الْعَاقِلَةِ الْبَالِغَةِ بِرِضَاهَا او ترلې کیږی نکاح دَ آزادې عاقلې بالغې ښځې په رضا دَ دې سره وَإِنْ لَمْ يَعْقِدْ عَلَيْهَا وَلِيٌّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ بِكْرًا كَانَتْ أَوْ ثَيِّبًا اګر چې نه وی کړې ولی دَ دې،پیغله وی او که میره (خاوند) لیدلې وی،په نزد دَ امام ابوحنیفه رحمه الله .

حل اللغة ① **یرتفع**: پورته کیږی ② **الخلل**: رکاوټ

تشریح مسئله داده.چه دحرة، عاقله، بالغه نکاح ددې په رضامندئ، بغیر د اجازت د ولی نه د امام ابوحنیفه په نیز منعقد کیږی.

دلیله وجه د جواز داده.چه دې ښځې خالص په خپل حق کې تصرف کړې دی.څکه چې د بضع بدل هم ددې لپاره دی.اودا ښځه د تصرف اهل هم ده.څکه چې ممیز عقل لری.هم دا وجه ده.چه په مال کې هم د تصرف اختیار دې ښځې ته حاصل وی.څوکه څوک اشکال اوکړی.چه هرکله ښځه اختیارمنده ده.نو بیا د نکاح مطالبه د ولی نه ولې کیږی.د ښځو نه ولې نه کیږی؟ ددې څواب دادې.چه په داسې کولوسره به د ښځو اړخ (طرف) ته بې حیائی منسوب کولې شی.څکه چې ښځې د سړو مجلسونو اړخ (طرف) ته په وتلوکې حیا محسوسوی.که داسې کوی.نو خلق به دوی بې حیاګڼړی.

(۱) **مسلك الأئمة**:- امام شافعی رحمه الله ناجائز وائی.امام مالك او امام احمد رحمهما الله هم ددې قائل دی.

(۲) من حديث ابن عباس رضی الله عنهما اخرجه البخاری في الصيد باب ۱۲ ومسلم في النكاح رقم ۴۶ وأبوداود في المناسك باب ۲۱ والترمذی في الحج باب ۲۴ والنسائی في المناسك باب ۹۰ وابن ماجه في المناسك رقم ۱۹۶۵ والدارمی في المناسك باب ۲۱ واحمد في المسند(۱/۲۴۵).

وقالالا ينعقد الا بولي () او صاحبين فرمائي نه ترلي كيږي مگر په ولي سره.

تشريح> مسلك الصاحبين> د صاحبينو په نيز نه منعقد كيږي دغه شان امام مالك او امام شافعي رحمه الله فرمائي چه دښځو په الفاظ سره بالكل نه منعقد كيږي.

دليلهما> د صاحبينو رحمهما الله دليل دادي چه د نكاح نه د نكاح مقاصد مقصود وي.دا مقاصد ښځو ته سپارل، په دې كې خلل اچول دی.ځكه چې ښځې ناقصات العقل دی.په دې وجه ښځو ته به د نكاح اختيار نشي وركيدلې.

په بالغه ښځې باندې ولايت اجبار

ولايجوزللولي اجبارالبكرالبالغةالعاقلة او جائز نه دې ولي لره دَ عاقلې بالغې مجبوره كول په نكاح باندې،

تشريح> مسئله داده.چه زمونږ په نيز به باكره بالغه په نكاح باندې نشي مجبورولې.كه بغير ددې د رضامندئ نه نكاح اوكړې شوه.نو ددې په اجازت باندې به موقوف وي.كه رد ئې كړه.نو باطل به وي.او كه د ولي اجازت اخستلو په وخت كې خاموش پاتې شوه.نودا به ددې د طرفه اجازت شمارلې شي.([2])

دليله> دليل دادې.چه باكره بالغه آزاده ده.او په آزاد باندې هيڅ چاته ولايت د اجبار حاصل نه وي.نو په باكره بالغه باندې به هم هيڅ چاته د اجبار ولايت نه وي.خو كه څوك سوال اوكړي.چه صغيره هم آزاده ده.نو په دې باندې هم د اجبار ولايت نه دې پكار؟ نوددې ځواب دادې.چه په صغيره باندې د اجبار ولايت ددې د عقل د قصور په وجه دې.او په بالغ كيدلوسره عقل مكمل شو.نو په بالغه باندې د اجبار ولايت نه وي.او په صغيره باندې به وي.او ددې دليل چې په بلوغ باندې عقل كامل كيږي.د الله تعالى خطاب د بالغه ارخ (طرف) متوجه كيدل دی.چه تركومه پورې نابالغه وي.نود شريعت د احكامو مكلفه نه وي.او هركله چې بالغه شي.نو مكلف شي.او بالغه جينئ داسې ده.لكه بالغ هلك.يعنې لكه ځنګه چې په بالغ هلك باندې د اجبار ولايت نه وي.دغه ډول (دغه شان) په بالغه جينئ باندې هم د اجبار ولايت نه وي.اودا داسې ده.لكه ،تصرف في المال، يعنې لكه ځنګه چې باكره بالغه په خپل مال كې تصرف كولې شي.ددې پلار ته ددې په مال كې د تصرف اجازت نشته.دغه ډول (دغه شان) باكره بالغه به په خپل نفس كې هم د تصرف اختيارمنده وي.د پلار يا دبل ولي اجازت شرط نه دې.

د باكره بالغې د طرفه د رضامندئ د اظهار صورتونه

واذااستأذنهاالولي فسكتت اوضحكت اوبكت بغيرصوت فذلك اذن منها او هر كله چې اجازت طلب كړو د باكرې بالغې نه دَ دې ولي او داچوپ (چپ) پاتې شوه يا ئې او خندل يا ئې بغير آوازه اوژړل نو دا د دې د طرفه اجازت دې. وان ابت لم يزوجها او كه دې انكار اوكړو نو نه به ئې وادۀ كوي.

حل اللغة > ① **الضحك**:خندا ② **السكوت**: چپوالې، چوپوالې(خاموشي) ③ **صوت**: آواز ④ **بكت**: ژاړي]

[1]) القول الراجح هو قول ابي يوسف رحمه الله وهو المختار للفتوى في زماننا كذا يفهم من تحقيق صاحب القول الراجح وارجع للتفصيل إليه (٢٥١\١)

[2]) **مسلك الشافعي**:- د امام شافعي رحمه الله په نيز باكره بالغه په نكاح باندې مجبورول جائز دی.

تشريح ﴿ مسئله داده.چه دنكاح نه مخكي ولى د باكره بالغه نه اجازت اوغوښتلو.هغې چې واوريدل،نو خاموش شوه.يا ئې اوخندل.نودا خاموش پاتې كيدل.يا خندل به ددې د طرفه اجازت وى.دغه دول «دغه شان» ضحك «تبسم او مسكئ كيدل» هم د رضامندئ دليل دې.

دلائله ﴿ ① د نبى كريم ﷺ ارشاد اَلْبِكْرُ تُسْتَامَرُ فِي نَفْسِهَا فَإِنْ سَكَتَتْ فَقَدْ رَضِيَتْ (۱) دې.چه د باكره سره به «نه به» ددې د ذات په اړه «باره» كې رائې اخستلې شى.كه دا خاموش شوه.نودا به رضامندى وى.

② دليل عقلى دادې.چه پهچوپ «چپ» پاتې كيدلوكې او په خندلوكې د رضامندئ معنى غالب ده.خكه چې باكره د رغبت په ښكاره كولو شرميږى.خو په انكار كولو نه شرميږى. نوكه دا ناراضه وې.نو صفا صفا به ئې انكار كړې وې.خودا انكار نه كول،ددې د رضامندئ دليل دې.
البته د باكره بالغه ژړل به د رضامندئ دليل نه وى.بلكه د ناخوښئ دليل به وى.

الضحك علي وجه الاستهزاء ﴿ د بعض حضراتو رائې داده.كه باكره د استهزاء په اندازكې اوخندل.نودا خندا به د باكره رضامندى نشى شمارلې.خكه چې دا به د ولى د خبرې تمسخر «خندا» وى.اجازت به نه وى.اوكه باكره بغير د آوازه اوژړل.نودا به ددې دطرفه انكار نشى شمارلې.خكه چې ډيركرته د موريلار نه دجدايئ په خبر باندې بغيز د اختياره اوښكې روانيږى.په دې فتوى ده.بلكه كتلې شى.چه كله د خوشئ په خبر باندې هم اوښكې راوځى.نودا بغيرآوازه ژړا به انكار او رد نه ګنړلې كيږى.

د ثيبه ښځې د نكاح د اجازت د پاره كلام ضرورى دې

وَإِذَا اسْتَأْذَنَ الثَّيِّبَ فَلَابُدَّ مِنْ رِضَاهَا بِالْقَوْلِ كه دَ ثيبې نه يَ دَ نكاح اجازت طلب كړو نو دَ دې رضامندى په قول سره ضرورى ده.

تشريح ﴿ كه د «ثيبه» بالغه نه د نكاح په اړه «باره» كې اجازت اوغوښتلې شو.نو ددې دطرفه به د رضامندئ اظهارپه ژبه ضرورى وى.

دلائله ﴿ ① دليل د نبى كريم ﷺ ارشاد اَلثَّيِّبُ تُشَاوَرُ (۲) دې.تشاور،مشاورت د مفاعلت څني دې.اود مفاعلت خاصه ده.اشتراك،او مشوره وائى.طلب د رائې بالقول ته.يعنى په ژبه باندې د رائې طلب كول.نو هركله چې په،احد الجانبين،كې قول شته.نو په جانب آخر كې به هم قول وى.نود حديث تقاضا تكلم دې.اوهم دا اصل دې.

② دويم دليل عقلى دادې.چه كلام كول،د ثيبه په حق كې عيب نه شمارلې كيږى.اود سړوسره د اختلاط په وجه ددې حياء هم كمه شوه.نو ددې په حق كې د كلام كولو نه هيڅ مانع نشته.

په زنا يا په بل څه د وجه دجينئ بكارت زائل كيدلوحكم

وَإِذَا زَالَتْ بَكَارَتُهَا بِوَثْبَةٍ أَوْحَيْضَةٍ أَوْجِرَاحَةٍ أَوْتَعْنِيسٍ فَهِيَ فِي حُكْمِ الْأَبْكَارِ او هر كله چې زائله شى بكارت دَ باكرې په ټوپ وهلوسره او يا چې حيض يا په زخم كيدو يا بې نكاح يو مُده په كيناستو نو دَغه دَ باكرې په حكم كې ده،

۲) غربه الزيلعى رحمه الله بهذا اللفظ ثم ذكرعن أبي هريرة رضي الله عنه ان النبى ﷺ قال لا تنكح الأيم حتى تستامرولاتنكح البكر حتى تستاذن قالوا يارسول الله ﷺ وكيف إذنها ق ﷺ ان تسكت أخرجه البخارى في النكاح باب ٤١ ومسلم في النكاح رقم ٦٤ وأبوداود في النكاح باب ٢٣ رقم ٢٠٩٢ والترمذى في النكاح باب ١٧ رقم ١١١٠ والنسائى في النكاح باب ١١ رقم ١٨٧١ والدارمى في النكاح باب ١٣ واحمد في المسند(٤٣٤/٢ (نصب الراية ٢٤٣/٣)_

١٣) غربه الزيلعى بهذا اللفظ ثم قال وتقدم معناه قريبا (أي حديث ابى هريرة رضي الله عنه) (نصب الراية (٢٤٤/٣)_

حل اللغة ﴿ ① **وثبة:** توپ ② **جراحة:** زخم③ **تعنيس:** زياته موده بې واده پاتې كيدل

تشريح ﴿ مسئله داده.كه د يوې ښځې بكارت زائل شو.د توپونو په وجه،يا د حيض د كثرت په وجه،يا د څه زخم په وجه،يا زياته موده پاتې كيدلو په وجه،نو په دې ټولوصورتونوكې به دا جينۍ د باكره په حكم كې وى.يعنى د استيذان په وخت به ددې سكوت اذن وى.كلام كول به ضرورى نه وى.

دليله ﴿ دليل دادې.چه دا ښځه په حقيقت كې باكره ده.اود،باء كاف را، په ماده كې د اوليت معنى موجود ده.لكه ،باكوره ،رومبئ ميوه،او،بكره، رومبى صبا ، ته وائى.نو دې ښځې ته چې څوك هم رومبې اورسيږى.هغه به رومبې رسيدونكې شمارلې شى.نو دې ښځې ته به د باكره حكم وركولې شى.
دويم دليل دادې.چه دې ښځې ته د سړو سره د اختلاط او محارست موقع خو ملاؤ شوې نه ده.نودا به هم د حياء اود شرم په وجه په ژبه باندې اجازت نه وركوى.

وَإِن زَالَتْ بَكَارَتُهَا بِزِنًا فَهِيَ كَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله [1] اوكه دَ دې بكارت زائل شو په زنا سره نو هم داسې ده،په نزد دَ امام ابوحنيفه رحمه الله باندې

تشريح ﴿ اوكه د ښځې بكارت په زنا سره زائل شو.نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به داهم د باكره په حكم كې وى.

دليله ﴿ د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه خلق دا ښځه باكره ګڼړى.اوس كه كلام كوى.نو خلق به دا معيوبه ګرځوى.او ددې سره به ‹نه به› دا حياء كوى.اود كلام كولو سره به ‹نه به› منع كيږى.چه ددې په نتيجه كې به ددې مصلحتونه معطل پاتې شى.په دې وجه به دا باكره په حكم كې ساتلې شى.

وَقَالَا هِيَ فِي حُكْمِ الثَّيِّبِ او صاحبين وائى چې دا د ثيبه په حكم كښې ده

مسلك الصاحبين: د صاحبينو ‹دغه شان د امام شافعى رحمه الله› په نيز به د ثيبه په حكم كې وى.
نو ددې په سكوت باندې به اكتفاء نه كيږى.بلكه په ژبه باندې اجازت وركول به ضرورى وى.

دليلهما ﴿ ددې حضراتو دليل دادې.چه د،ث يا ب، په ماده كې دعود معنى پرته ده.مثلاً ،مثوبه، د نيك عمل جزاء ته وائى. نو اوس ګويا چې دوباره عمل ملاؤشو. دغه ډول ‹دغه شان› ،مثابه، د باربار واپس كيدلو ځائې ته وائى.په دې وجه مكې ته مثابه وائى.چه خلق باربار د حج اوعمره لپاره واپس ځى.دغه ډول ‹دغه شان› ،تثويب، اعلام بعد اعلام ته وائى.
د دليل حاصل داشو.چه د كومې ښځې بكارت په زناء سره زائل شى.هغه په حقيقت كې ثيبه ده.ځكه چې څوك دې ته په رومبى ځل اورسيدلو.دوباره هم دغه فعل دې.نو هركله چې دې ښځې سره به دوباره هم دغه فعل واقع كيږى.كوم چې يوځل په زنا سره شوې دې.نو هغه ثيبه ده.نو په دې باندې به د ثيبه احكام لګولې شى.

حكم ا لوطئ بالشبهة والنكاح الفاسد ﴿ البته كه د باكره سره ،وطى بشبه، اوشوله.يا په نكاح فاسد سره وطى اوشوه.نودا په اتفاق سره ثيبه شمارلې شى.ځكه چې شريعت په دې باندې د ثيبه احكام لګولې دى.اودا ئې ښكاره كړې ده.مثلاً عدت به واجب وى.مهر به واجب وى. او پاتې شوه زنا ،نو په دې كې پواره ‹ټول› مستحب دى.ترديې كه چرې ددې حال مشهور شو.او په زنا باندې څلورو ګواهانو ګواهى وركړه.نو بيا به داهم د ثيبه په حكم كې وى.او ددې په سكوت به اكتفاء نشى كولې.والله اعلم بالصواب

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(۱۷۰\۳) والخانية (۱۶۰\۱) ورد المحتار(۳۲۸\۲) والهندية (۲۹۰\۱) نقلاً عن القول الراجح (۲۵۴\۱)-

د نكاح په خبر د ښځې په خاموشۍ يا رد کولو کښې د ښځې او سړي اختلاف

وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ لِلْبِكْرِ بَلَغَكِ النِّكَاحُ فَسَكَتِّ کله چې میړه (خاوند) باکره ته او وې کله چې تاته دَ نکاح خبر در او رَسیدو نو ته خاموش شوې وَقَالَتْ رَدَدْتُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا او هغې او وې مارد کړې وه نو دَ ښځې قول به معتبر وی وَلَا يَمِينَ عَلَيْهَا او په هغې باندې قسم نشته.

تشریح> صورت د مسئلې دادې.چه یوسړی ښځې ته اووئیل.چه تاته کله د نکاح خبر ملاؤشو.نو تا چوپوالي(خاموشي) اختیارکړله.نو زماسره ستا نکاح لازم شوه.ښځې اوونیل. چه اطلاع ملاؤشوه.توما رد کړې وه.نو نکاح اونشوه.او ګواهان دې دواړو سره موجود نشته.نو د ښځې قول به معتبر وی.
دليله> دلیل دادې.سړې دعوی کوی.چه عقد د نکاح لازم شو.او زه د بضع مالك شوم.او ښځه ددې انکارکوی.او اصل عدم نکاح،او عدم تملك د بضع دې.نود سړی قول به د اصل خلاف وی.اود ښځې به د اصل موافق وی.او دچا قول چې د اصل خلاف وی.هغه مدعی وی. او دچا چې د اصل موافق وی. هغه مدعی علیه وی.اود مدعی یعنی سړی سره ګواهان نشته.نود مدعی علیه یعنی د ښځې قول به معتبر وی.
نظيره> اودا داسې ده.لکه مؤدع چاسره چې امانتونه ایخودلې شی.دې وائی.چه ما امانت اداکړې دې. او صاحب د ودیعت وائی.چه اداکړې دې نه دې.نو دلته کې به د مؤدع قول معتبر وی.ځکه چې مؤدع د ذمې د فراغت دعوی کوی.او صاحب د ودیعت د ذمې د مشغولیدلو دعوی کوی.او فراغت د ذمه اصل دې.اود ذمه مشغولیدل خلاف اصل وی.نو مؤدع مدع علیه شو.او صاحب د ودیعت مدعی شو.اود مدعی سره بینه نشته.نود مدعی علیه قول به معتبر وی.
مسلك زفر> د امام زفر رحمه الله په نیز به د سړی قول معتبر وی.
دليله> دلیل دا دې.چه سکوت اصل دې.ځکه چې سکوت نوم دې،دعدم کلام.او په هرڅیز کې عدم اصل دې.او ردکول عارض یعنی خلاف اصل دی.نو سړې مدعی علیه او ښځه مدعیه شوه.او مدعیه سره ګواه نشته.نود مدعی علیه یعنی د زوج قول به معتبر وی.
الجواب عنه> د دې نه خواب دادې.چه دخیارشرط په صورت کې د عقد بیع لزوم په دې وجه نه دې شوې.چه د سکوت د مدعی قول معتبر منلې شوې دې.بلکه د خیار د مودې په تیریدلو سره پخپله عقد بیع لازم شوې دې.

وَلَا يُسْتَحْلَفُ عِنْدَهُ فِي النِّكَاحِ اود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز به نکاح کې قسم نشی اخستلې.

تشریح> مذهب ابي حنيفة رحمه الله في المسئلة > نهه شیان داامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز داسې دی.چه هغې کې د منکر یعنی مدعی علیه نه قسم نشی اخستلې.یوه په هغې کښې نکاح ده یعنی سړی په یوې ښځې باندې دعوه اوکړله.چه ما ددې ښځې سره نکاح کړې ده.او ښځه ددې انکار کوی.یا ښځې د نکاح دعوه اوکړله.او سړې ددې منکر دې.
الاشياء الثمانية التي لا يستحلف فيها> اود نکاح نه علاوه اته دا دی :
① **رجعت>** یعنی سړی خپلې ښځې ته طلاق رجعی ورکړو.اود هغې عدت پوره شو.ددې نه روسته سړی دعوه اوکړله.چه د عدت په زمانه کې ده رجعت کړې وو.خو ښځه ددې منکره ده.
② **ايلاء رجعت>** یعنی د ایلاء موده تیریدلو نه روسته سړی دعوه اوکړله.چه ما د ایلاء په موده کې دې ته رجوع کړې ده.او ښځه ددې منکره ده.یا ښځې د رجوع کاوه دعوه اوکړله.او سړی ددې انکار اوکړو.

③ **رقيت** ﴿ يعني يوسړی د يو مجهول النسب سړی په اړه کي دعوه اوکړله.چه دا زما غلام دي.او مجهول النسب ددي انکاراوکړو.يا مجهول النسب دعوه اوکړله.چه زه دده غلام يم.اوهغه انکار اوکړو.
④ **استيلاد** ﴿ يعني يوې وينځې خپل مولا باندې دعوه اوکړله.چه ما دده د نطفې نه يو بچې راوړلې دې.او مولا ددې انکار اوکړو.دې صورت کې به عکس نه جاری کيږی.ځکه که مولا دعوه اوکړله.نود مولا په اقرار سره به استيلاد ثابتيږی.اود وينځې انکار ارخ ته به توجه نشي ورکولې.
⑤ **نسب** ﴿ يعني يوسړی په يو مجهول النسب باندې دعوه اوکړله.چه دا زما زوې دې.يا دا زما پلار دې.او مجهول النسب ددې انکار اوکړو.يا مجهول النسب ددې دعوه اوکړله.او دې سړی انکار اوکړو.
⑥ **ولاء** ﴿ يعني يو سړی د يو مجهول النسب سړی په اړه کي دعوه اوکړله.چه ما دا آزاد کړې دې. او زه دده مولا يم.خو مجهول النسب ددې انکار اوکړو.يا مجهول النسب ددې خبرې دعوه اوکړله.او دې سړی انکار اوکړو.
⑦ **حدود** ﴿ يعني يو سړی په بل کس باندې دداسې شئ دعوه اوکړله.چه هغه حد واجبوی.مثلاً د زنا، يا غلا دعوه ئې اوکړله.او هغه دوهم سړې ددې منکر دې.
⑧ **لعان** ﴿ يعني ښځې خپل ميړه باندې دعوه اوکړله.چه ده په ما باندې داسې تهمت لګولې دې.چه هغه لعان واجبوی.خو ميړه ددې انکار اوکړو.د لعان نه سوا واړه شپاړ قدوری کي ذکر دی.او لعان اګرچه قدوری کي مذکور نه دې.خو په جامع صغيرکي مذکور نه دې.
دليله ﴿ دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه د مدعی عليه د قسم نه انکار کول، بذل يعنی بهادرئ او زړه ورتيا سره د ور کاوه اراده ده.او بذل نه مقصود جګړه لرې کول دی.اود بذل په صورت کې هم جګړه لرې کولې شي.نو بذل سره به قسم واجب نه وی.

وَقَالَا:او صاحبين رحمهما الله فرمائي.يُسْتَحْلَفُ فِي ذٰلِكَ كُلِّهِ(1)

تشريح ﴿ **مذهب الصاحبين** رحمهما الله ﴾ صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه حدود او لعان نه علاوه کي به منکر يعنی مدعی عليه نه قسم اخستلې شي.حاصل داچه په حدود او لعان کي به بالاتفاق مدعی عليه يعنی منکر نه قسم نشي اخستلې.خوپه پاته اووه څيزونو کي اختلاف دې.يعنی د امام صاحب رحمه الله په نيز په دې اووه څيزونو کي به قسم نشي اخستلې.اود صاحبينو رحمهما الله په نيز به اخستلې شی.د حضرت امام صاحب رحمه الله په نيز د قسم نه اخستلو مطلب دادې.که مدعی سره بينه نه وی. نو مقدمه به خارجولې شي.او قاضی لپاره به دمدعی په حق کي فيصله ورکول جائز نه وی.
دليلهما ﴿ د مدعی عليه يعنی منکر د قسم نه انکار کول،يو قسم له د مدعی د دعوه اقرار کول دی.ځکه چې قسم خوړلو سره انکار کول ددې خبرې دليل دې.چه مدعی عليه د مدعی دعوه نه په انکار کولوکې بالکل دروغجن دې.ځکه که مدعی عليه د دعوه په انکار کي دروغجن نه وو. نو هغه به قسم خوړلو ته ضروروراندې شوې وو.غرض داچه د مدعی عليه د قسم خوړلو نه انکار کول، د مدعی د دعوه اقرار دې.يا د اقرار بدل او خليفه دې.او اقرار په ذکر شوی ټولو څيزونو کي جاری کيږی.نوانکار عن اليمين به هم په ټولو څيزونو کي جاری کيږی.او انکار عن اليمين به هغه وخت جاری کيږی.کله چې مدعی عليه نه قسم واخستلې شی.نو ثابته شوه.چه په ذکرشوی مسئلوکي به

---
(1) القول الراجح هو قول الصاحبين رحمهما الله كذا فی نتائج الأفكار(١٦٩١٧) والخانية٩٢، ٩٣) وردالمحتار(٤٧٣١٤) ومجمع الأنهر(٣٥١١٣)نقلاً عن القول الراجح (١٧١١٢)

مدعی علیه نه قسم اخستلې شي. مزید تفصیل به په هدایه راشي انشاء الله تعالی

د نکاح د الفاظو بیان

وَيَنْعَقِدُ النِّكَاحُ بِلَفْظِ النِّكَاحِ وَالتَّزْوِيجِ وَالتَّمْلِيكِ وَالْهِبَةِ وَالصَّدَقَةِ او ترلي کیږی په لفظ دَ نکاح، او تز ویج، او تملیك هبه او صدقې، سره

حل اللغة> ① **التزویج:** واده کول ② **التملیك:** مالك جوړول

تشریح> مصنف رحمه الله په دې عبارت کښې د نکاح الفاظ بیان کړی دی. په متن کښې ذکرشوی تولو الفاظوسره نکاح منعقد کیږی. صاحب د شرح وقایه رحمه الله قاعده بیان کړې ده. چه هرهغه لفظ چه د [تمسك عين في الحال] دپاره وضع شوې دې. په هغې سره نکاح منعقد کیږی. ([1])

دلیله> دلیل دا دې. چه تملیك وغیره لفظونه د نکاح په معنی کښې مجازاً مستعمل دی. د سببیت د علاقه په وجه. ځکه چه تملیك د ملك رقبه په واسطې سره د ملك متعه سبب دې. د متعه په محل کښې، مثلاً که څوك سړې د یوې وینځې د رقبه مالك شی. نود رقبه یعنی د ذات په ضمن کښې ددې د متعه هم مالك جوړیږی. او ملك متعه حاصلیږی. په لفظ د نکاح سره. نو ګویا لفظ د تملیك سبب شو. او لفظ د نکاح مسبب، او اصول دادی. چه سبب وئیل، او مسبب مراد اخستل مجازاً درست دی. اګرچه ددې په عکس درست نه دی. نو تملیك وغیره الفاظوسره نکاح مراد اخستلې شي.

په لفظ د بیع سره د نکاح انعقاد

وَلَا يَنْعَقِدُ بِلَفْظِ الْإِجَارَةِ وَالْإِعَارَةِ وَالْإِبَاحَةِ او نه ترلي کیږی په لفظ دَ اجارې او اعارې او اباحت سره

تشریح> د اجاره په لفظ سره د صحیح قول په بناء باندې نکاح نه منعقد کیږی.

دلیله> دلیل دادې. چه اجاره د ملك متعه سبب نه دې. نود سببیت علاقه د نه کیدلو په وجه طریق مجاز موجود نشو. دغه شان په لفظ د اباحت، اعلال، اعاره سره هم نکاح نه منعقد کیږی. هم دا وجه ده. چه دا الفاظ هم د ملك متعه سبب نه دی.

وَلَا يُسْتَحْلَفُ فِي النِّكَاحِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ([2]) اوقسم به نشی ورکولې په نکاح کښې په نیز دامام ابوحنیفه رحمه الله،

تشریح> په دې مسئله کې که زوج د ښځې په سکوت باندې بینه پیش کړل. نو نکاح به ثابت وی.

دلیله> ځکه چې مدعی خپله دعوی په حجت باندې منوره کړه. او که دده سره ګواهان نه وی. نود امام صاحب رحمه الله په نیز به په ښځه باندې یمین(قسم) نه راځی. اودا هم دهغه شپږونو ځنې یو دې. په کوم کې چې په مدعی علیه باندې د امام صاحب رحمه الله په نیز یمین نه راځی.

وقالا يستحلف فيه او صاحبین فرمائی چې په دې کښې به قسم ورکولې شي

تشریح> مسلك الصاحبين> د صاحبینو په نیز په دې باندې قسم راځی.

دلیلهما> فتوی د صاحبیو په قول ده. زیات تفصیل به انشاء الله په کتاب الدعوی کښې راشی.

---

[1] **مسلك الشافعي:**- امام شافعي رحمه الله فرمائی. چه صرف په دوه لفظونو(نکاح او تزویج) سره نکاح منعقد کیږی.

[2] القول الراجح هو قول الصاحبين رحمهما الله كذا في فتح القدير(۱۷۲\۳) وردالمحتار(۳۲۹\۲) والبحرالرائق (۲۰۶\۳) نقلا عن القول الراجح (۲۵۵\۱)-

فائده د فريقينو دلائلو نه روسته د مدعی او مدعی علیه تعریف او ددوی حکم په ذهن کې کینوئ. مدعی هغه کس ته وائی.دچا قول چې د اصل خلاف وی.او مدعا علیه هغه کس ته وائی.دچا قول چې د اصل موافق وی.د حدیث د بیان مطابق په مدعی باندې بینه(گواهان) واجبیږی.که د مدعی سره بینه نه وی.نو بیا به د مدعی علیه قول ،مع الیمین، معتبر وی.البته شپږ شیان (څیزونه) داسې دی.چه په هغې کې د امام ابوحنیفهؒ په نیز مدعی علیه باندې یمین نه راځی.اود صاحبین،امام شافعی،امام مالك،اود امام احمدؒ په نیز د مدعی علیه نه قسم اخستلې شی.هغه شپږ شیان (څیزونه) دا دی.

① نکاح ② رجعت ③ فی فی الایلاء ④ استیلاء ⑤ رق ⑥ ولاء.

حق د ولایت به چاته وی.او په چا به وی؟

وَيَجُوزُ نِكَاحُ الصَّغِيرِ وَالصَّغِيرَةِ إِذَا زَوَّجَهُمَا الْوَلِيُّ او جائز دی دَ وړوکی هلك او وړې جینئ نکاح هر کله چې کړې وی دَ دوی ولی بِكْرًا كَانَتِ الصَّغِيرَةُ أَوْ ثَيِّبًا وَالْوَلِيُّ هُوَ الْعَصَبَةُ دا صغیره باکره وی او که ثیبه وی او ولی عصبه وی.

تشریح> الولاية لمن؟> دلته یوه دا مسئله بیانوی چې د ولایت حق به چا ته وی؟ هر ولی ته د ولایت حق حاصل دې.پلار نیکه وی.او که ددوی نه علاوه وی.

② اود امام مالكؒ په نیز د ولایت حق صرف پلار ته حاصل وی.

③ اود امام شافعیؒ په نیز به پلار اونیکه ته حاصل وی.

الولاية علي من؟> دویمه مسئله په دې مقام کې دا ده چې د ولایت حق به په چا وی؟ ① نو په دې اړه (باره)کې د احنافو ﷭ مذهب دادې.چه د ولایت حق به په صغیره باندې وی.صغیره که باکره وی.او که ثیبه وی.

② اود شوافعو ﷭ مذهب دادې.چه ولایت به په باکره باندې وی.که صغیره وی.او که بالغه وی.حاصل داچه د احنافو ﷭ په نیز سبب د ولایت ،صغر، دې.اود شوافعو ﷭ په نیز ، بکر، دې.

الصور الاربعة> اوس څلور صورتونه پیدا شو.دوې (دوه) متفق علیه،او دوې (دوه) مختلف فیه.

الصور الاتفاقية> ① په متفق علیه کې یو صورت دادې باکره صغیره، په دې صورت کې د احنافو او شوافعو ﷭ دواړو په نیز به د ولایت حق حاصل وی.

② دویم ثیبه بالغه ده. په دې صورت کې به د دواړو په نیز د ولایت حق حاصل نه وی.

الصور الاختلافية> ① د مختلف فیه یو صورت دادې.باکره بالغه، په دې صورت یعنی په باکره بالغه باندې به د شوافعو ﷭ په نیز د ولایت حق حاصل وی.د احنافو ﷭ په نیز به حاصل نه وی.

② دویم صورت ثیبه صغیره ده. په دې صورت یعنی په ثیبه صغیره باندې به د احنافو ﷭ په نیز ولایت حاصل وی.خود شوافعو ﷭ په نیز به حاصل نه وی.

دليل الولاية لغير الاب> په صغیره باندې د غیر اب ولایت څکه حاصل دې چې نکاح متضمن وی.څه مصلحتونو ته.مثلاً تناسل، ازدواج، قضاء شهوت وغیره.او دا مصلحتونه د هغه دوې (دوه) کسانو په مینځ کې حاصلیدلې شی.چه په دوی کې هر یو د بل کفو وی.او د کفو په هره زمانه کې ملاویدل ضروری نه دی.په دې وجه مونږ (مونږ) د ماشوموالی په زمانه کې ولایت ثابت کړو.چه کفو محفوظ پاتې شی.څکه که د بالغ کیدلو انتظار اوکړې شی.نو داکفو فوت کیدلې هم شی.

دليل الولاية في لغير الاب والجد> قرابت د شفقت سبب دې.لکه په پلار اونیکه کې چې دې.پاتې شوه داخبره چې د پلار او نیکه نه په علاوه کې شفقت کم دې.نو ددې توپیر(فرق) به داسې کوو.چه پلار او

نیکه چې په دوی کې کامل شفقت وی.دوی ته ولایت د اجبار او ولایت د الزام د دواړو حق ورکړې شو.اود پلار نیکه نه علاوه په چا کې چې شفقت کم دې.دوی لپاره ولایت د اجبار ثابت دې.خو ولایت د الزام ثابت نه دې.نو هرکله چې قرابت سبب دې د شفقت.اود ولایت دارومدار په شفقت باندې دې.نوپه کوم کوم ځاې کې چې شفقت پیا مونډې شی.هم هلته کې به ولایت هم ثابت وی.که پلار نیکه وی.او که ددوی نه علاوه نورخوك نیز دې رشته دار وی.

الفرق بین ولایة الاجبار وولایة الالزام> په ولایتِ اجبار او ولایتِ الزام کې توپیر(فرق) دادې.چه چاته ولایت د اجبار حاصل دې.او ولایت د الزام ثابت نه دې.نو ددوی کړې شوې نکاح به لازم نه وی.بلکه د بالغ کیدلو نه روسته به صغیرته خیار بلوغ حاصل وی. اوچاته چې د ولایتِ اجبار سره ولایتِ الزام هم حاصل دې ددوی کړې شوې نکاح به لازم وی.د بالغ کیدلو نه روسته به خیار بلوغ حاصل نه وی.

دلیل الولایة علي الصغیرة وان کانت ثیبة؟> په صغیر او صغیره کې خاجت هم متحقق دې.او په پلار نیکه کې سنقت هم کامل دې.او پاتې شوه داخبره چې ممارست (تجربه) رائې پیدا کوی.مونږ (مونږ) وایو.چه بغیر د شهوت نه ممارست هم نه پیدا کوی.بغیرد شهوت نه جماع کول،او په دیوال کې ډغره وهل برابر دی.نوحکم به په صغیره باندې دائر کولې شی.نو هرکله چې صِغر موجود شی.نو ولایت به ثابت وی.

د پلار نیکه په نکاح باندې د خیار بلوغ حکم

> فَإِنْ زَوَّجَهُمَا الْأَبُ وَالْجَدُّ نو که نکاح او کړو دَ دې دواړو پلار یا نیکه، فَلَا خِيَارَ لَهُمَا بَعْدَ الْبُلُوغِ یعنی دَ صغیر او صغیرې،نو سره به (نه به) وی خیار دوی لره نو دَ بلوغ دَ دواړو نه ،

تشریح> په دې عبارت کې په ولایتِ اجبار باندې تفریع بیان کړې شوې ده.فرمائی.که د صغیر او صغیره نکاح پلار اوکړه.یا د پلار په غیرموجودګئ کې نیکه اوکړه.نودا نکاح به لازم وی.اود بالغ کیدلو نه روسته به صغیر او صغیره ته خیار بلوغ حاصل نه وی.

دلیله> دلیل دادې.چه پلار اونیکه دواړه کامل رائې او پوره شفقت لری.په دې وجه به د دواړو شوې نکاح لازم وی.لکه څنګه چې د بالغ کیدلو نه روسته پلار یا نیکه ددې دواړو په رضامندئ سره نکاح اوکړه.نودا نکاح به لازم وی.

د پلار نیکه نه علاوه د بل کس په نکاح د خیاربلوغ حکم

> وَإِنْ زَوَّجَهُمَا غَيْرُ الْأَبِ وَالْجَدِّ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْخِيَارُ اوکه نکاح اوکړو دَ صغیر او صغیرې دَ پلار نیکه نه علاوه بل چا نو هریو لره دَ دې دواړو نه خیار دې إِنْ شَاءَ أَقَامَ عَلَى النِّكَاحِ وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ

تشریح> **الخیاربعدالبلوغ اذا کان الولي غیرالاب والجد**> په دې عبارت کې په ولایتِ اجبار باندې تفریع بیان شوې ده.مسئله داده.که د صغیر او صغیرې نکاح د پلار نیکه نه علاوه بل چا اوکړه.نود بالغ کیدلو نه روسته به په صغیرنوکې هر یوته د خیار بلوغ په وجه د نکاح باقی پاتې کیدلو اود فسخ کولو اختیار وی.دا حکم د طرفینو رحمهما الله په نیز دې[1]

[1]) القول الراجح هو قول الطرفین رحمهما الله کذا في ردالمحتار(۳۳۱\۲) والعنایة علی هامش (۱۷۵\۳) والبحرالرائق (۲۱۲\۳) والهندیة (۲۸۶\۱) نقلاً عن القول الراجح (۲۵۷\۱)-

دلیلهما ﴿ دلیل دادې چه د پلار نیکه نه علاوه، مثلاً د وررور قرابت د پلار نیکه د قرابت نه ناقص دې. او نقصان د قرابت، د شفقت د نقصان دلیل دې. نود شفقت د نقصان په وجه دپلار نیکه نه علاوه د نورو ترلې شوې نکاح کې خلل واقع کیدل ممکن دی. اود شفقت د نقصان په وجه د نکاح په مقاصدو کې چې د خلل کوم امکان پیدا شوې دې. د خیار بلوغ په ذریعه ددې تلافی هم ممکن ده. نو ددې خلل د لرې کولو لپاره به صغیرینو ته خیار بلوغ حاصل وی. اود پلار نیکه نه علاوه د بل ترلې شوې نکاح به لازم نه وی. حاصل داچه د طرفینو رحمهما الله په نیز غیراب او غیرجد ته ولایت اجبار حاصل دې. خو ولایت الزام حاصل نه دې.

مسلک ابي یوسف ﴿ امام ابویوسف رحمه الله فرمائی. چه صغیرینو ته به خیار بلوغ حاصل نه وی.

دلیله ﴿ امام ابویوسف رحمه الله غیراب او غیرجد قیاس کوی په اب او جد باندې. یعنی لکه څنګه چې د پلار نیکه کړې شوې نکاح لازم وی. د بالغ کیدلو نه روسته دانشی فسخ کولې. دغه ډول (دغه شان) د غیراب اود غیرجد ترلې شوې نکاح به هم لازم وی. د بالغ کیدلو نه روسته به صغیرینو ته د فسخ کولو اختیار نه وی. د مقیس او مقیس علیه په مینځ کې جامع قرابت دې. حاصل داچه دابویوسف رحمه الله په نیز د پلار نیکه په شان غیر پلار اوغیرنیکه ته به هم، ولایت اجبار سره ولایت الزام حاصل وی.

د غلام، ماشوم، اود مجنون د ولایت حکم

وَلَا وِلَايَةَ لِعَبْدٍ وَلَا لِصَغِيْرٍ وَلَا لِمَجْنُوْنٍ او نشته ولایت دَ غلام دَ پاره او نهٔ دَ صغیر دَ پاره او نهٔ دَ مجنون دَ پاره،

حل اللغة ﴿ ① **ولایة:** اختیار، تصرف

تشریح ﴿ فرمائی. چه غلام، صغیر او مجنون(لیونی) ته د ولایت حق نشته.

دلائله ﴿ ① دلیل دادې. چه، ولایت متعدیه، د، ولایت قاصره، فرع ده. نو کوم کس ته چې په خپل ځان باندې ولایت حاصل نه وی. نو په بل باندې به په درجه اولی حاصل نه وی. اودې درې وارو ته په خپل ځان باندې دولایت حق نشته. نو په بل باندې به هم نه وی.

② دویم دلیل دادې. چه د ولایت دارومدار په شفقت باندې دې. او دې درې وارو ته که د نکاح امور اوسپارلې شی. نو په دوی کې هیڅ شفقت نشته. څکه چې ماشوم او دیوانه خود کفو حاصلولو نه عاجز دی. او پاتې شو غلام، نو دې د مولا په خدمت کې د بوخت (مشغول) کیدلو په وجه کفو نشی حاصلولې.

ولا ولَايَةَ لِكَافِرٍ عَلَى مُسْلِمَةٍ او نشته ولایت کافر لره په مسلمان باند، دَ دې وجهې نه چې دَ حق تعالی ارشاد دې،

تشریح ﴿ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی. چه کافر ته به هم د مسلمان په خلاف د ولایت حق نه وی.

دلیله ﴿ څکه چې الله تعالی فرمائیلی دی. چه، الله کافر ته د مسلمان په خلاف څه لاره نه ورکوی، اود سبیل نه مراد دلته کې شرعی تصرف دې. اوچونکه کافر ته په مسلمان باندې د ولایت حق نشته. په دې وجه د مسلمان خلاف دکافر ګواهی هم نه قبلیږی. او (نه به) کافر د مسلمان وراث جوړیږی. اونه به مسلمان د کافر وارث جوړیږی. البته کافر ته دخپل کافر خوی په نکاح کولو ولایت حاصل دې.

دعصباتو په عدم موجودګئ کښي د ولايت مستحقين

وقال أبو حنيفة رحمه الله امام ابوحنيفه فرمائي يجوز لغير العصبات من الأقارب التزويج او د غير عصباتو د پاره د اقاربو نه د نکاح کولو ولايت دي، مثل الاخت والام والخالة لکه خور مور او د مور خور يعني ترور

تشريح مسئله داده.چه د عصبياتو په عدم موجودګئ کي به ولايت دچا لپاره ثابت وي.په دې اړه (باره) کي اختلاف دي.د امام صاحب رحمه الله په نيز به د عصبياتو نه علاوه د نورو رشته دارانو لپاره ثابت وي.مثلاً ماما،ترورياني وغيره.د امام صاحب رحمه الله مذهب استحساناً دي.

دليله دليل دادي.چه د ولايت مدار په شفقت باندي دي.او شفقت به په هرهغه کس کي موجود وي.چه په هغه کي ،قرابت باعثه على الشفقت،موجود وي.نو په کوم کس کي چي داسي قرابت موجود شي.هغه ته به ولايت حاصل وي.که عصبه وي.او که غير عصبه وي.اود [النكاح الى العصبيات] حديث خواب دادي.چه د عصبياتو په موجودګئ کي به نکاح هم دوی ته سپارلي شي.خوددوی په عدم موجودګئ کي د غيرعصبياتو نفي نه ده شوي.

مسلك الصاحبين اود امام محمد رحمه الله په نيزد عصبياتو نه علاوه د نورو رشته دارانو لپاره ولايت ثابت نه دي.او قياس هم دا دي.د امام ابويوسف رحمه الله په قول کي اضطراب دي.خو مشهوره داده.چه د امام محمد رحمه الله سره دي.

دليلهما دليل په ماقبل کي روايت شوي حديث دي.يعني[النكاح الى العصبيات] او،الف لام، دجنس دي.نو مطلب به داوي.چه جنس نکاح سپارلي شوي ده.جنس عصبياتو ته.ددوی غير ته به دي کي هيڅ دخل نشته. دويم دليل عقلي دادي.چه ولايت د قرابت د ساتنه (حفاظت) لپاره وي.چه رشته دارئ اړخ (طرف) ته غيرکفو منسوب نکړي شي.اودا ساتنه (حفاظت) به عصبياتو ته په سپارلوسره کيږي.خکه چي د ولايت حق صرف عصبياتو ته دي.د عصبياتو نه علاوه ته نشته.

ومن لا ولي لها او د کومي ښځي چي خوك ولي نه وي، إذا زوجها مولاها الذي أعتقها جاز هر کله چي د دي نکاح اوکړه د دي مولى ،کوم چي دا ازاده کړي ده،نو جائز دي.

تشريح صاحب دقدوري رحمه الله بيان کړي دی.که د صغيره ولی نه وي.يعني د قرابت په وجه عصبه نه وي.او ددي نکاح مولا عتاقه اوکړه.نو ټيك ده.

دليله خکه چي دا آخری عصبه دي.او هرکله چي هيڅ خوك ولي نه وي.نه عصبه وي.او نه غير عصبه وي.نو په دي صورت کي ولايت امام او حاکم لپاره وي.د امام نه مراد خليفه اود حاکم نه مراد دده نائب دي.ياد حاکم نه مراد قاضي دي.خو قاضي ته به د نکاح ولايت هغه وخت حاصل وي.هرکله چي امام ده ته ددي اختيار ورکړي وي.خکه چي په حديث کښي راغلی دی السلطان ولي من لا ولي له[1] دچا هيڅ خوك ولي نه وي.دهغه ولي امام دي،

(1) من حديث عائشة رضي الله عنها اخرجه أبوداود في النكاح باب ١٩ رقم ٢٠٨٣ والترمذی في النكاح باب ١٤ رقم ١١٠ وابن ماجه في النكاح باب ١٥ رقم ١٨٧٩)۔

د ولی اقرب د غائب کېدو په صورت کښې حکم

وَاِذَاغَابَ الْوَلِيّ اوکله چې غائب وی ولی غَيْبَةً مُنْقَطِعَةً په غیبه منقطعه سره جَازَلِمَنْ هُوَاَبْعَدُ مِنْهُ نو جائز دی د هغه چا دپاره چې ابعد د هغه نه اَنْ يُزَوِّجَهَا چې په نکاح سره ورکړی دا جینئ

تشریح> مسئله دا ده که ولی اقرب مثلا پلار په غیبت منقطعه سره غائب شی نو ولی ابعد مثلا نیکه ده ته به په نکاح د ورکولو ولایت منتقل شی. اوولی ابعد به د کامل ولایت مالک شی. که د نکاح نه روسته ولی اقرب واپس راغلو نو نکاح به نه باطلیږی.

دلیله> ځکه چې په کوم وخت کښې ولی ابعد په نکاح سره جینئ ورکوله نو په هغه وخت کښې هغه د کامل ولایت مالک وو.

غیبت منقطعه

وَالْغَيْبَةُ الْمُنْقَطِعَةُ اَنْ يَكُوْنَ فِيْ بَلَدٍلَاتَصِلُ اِلَيْهِ الْقَوَافِلُ فِي السَّنَةِ اِلَّا مَرَّةً وَاحِدَةً دا دې چې هغه په داسې ښار کې وی چې قافلې ورته نه رسی په کال کې مګر یو وار،

تشریح> مصنف رحمه الله په دې عبارت کې د غیبت منقطعه تعریف کول غواړی. په دې اره (باره) کې د صاحب د قدوری رحمه الله مختار مذهب خودا دې. چه سړې داسې ښار ته لاړشی. چه هلته کې قافلې په کال کې یو ځل ځی.

القولان الآخران فيه> ① د بعض متاخرینومختار مذهب دادې. چه ادنی موده د سفر، یعنی د درې ورځو په مسافه (مسافت) باندې تللو سره به غیبت منقطعه متحقق کیږی. ځکه چې د سفر د مودې هیڅ انتهاء نشته. نود سفر د ادنی مودې اعتبار شوې دې.

② بعض حضرات چې په هغوی کې شمس الائمه سرخسی رحمه الله هم دې. ددوی رائې داده. که ولی داسې ځائې ته لاړ شی. چه ددۀ رائې که معلومیږی. نوکفو فوت کیږی. نوپه داسې صورت کې به غیبت منقطعه متحقق وی. دا قول فقهیه دلائلو سره زیات قریب دې. ځکه چې د کفو فوت کیدلو باوجود ددۀ ولایت باقی ساتلو کې هیڅ شفقت نشته دې. حالانکه د ولایت مدار په شفقت باندې دې. په دې وجه په جامع صغیر کې ونیلی شوی دی. چه ولی که په ښار کې پټ شو. او دده په اره (باره) کې هیڅ چاته علم نه وی. نودا به غیبت منقطعه وی. والله اعلم

په نکاح کښې د کفو احکام

وَالْكَفَاءَةُ فِي النِّكَاحِ مُعْتَبَرَةٌ همسری معتبره ده په نکاح کې فِي النَّسَبِ وَالدِّيْنِ وَالْمَالِ په نسب کښې په دین کښې په مال کښې وَهُوَاَنْ يَكُوْنَ مَالِكًالِلْمَهْرِوَالنَّفَقَةِ او په مال کښې برابری دا ده چې د مهر مالک وی او د نفقې مالک وی وَتُعْتَبَرُفِي الصَّنَائِعِ او معتبره ده برابری په پیشه کښې

تشریح> د کفاءت معنی ده همسری. برابری. کفو. مثال. مساوی بالکفاءة فی النکاح. داده چه میره (خاوند) د ښځې مساوی وی ددې په حسب کې. نسب کې. دین کې. عمر او جمال کې او غیره ذالك په نکاح کې د کفاءة اعتبار په دې وجه شوې دې چه د ولیانو د فسخ حق ساقط شی. او نکاح لازم شی. په نکاح کې د کفو په معتبر کیدلو باندې

دليله ﴿ أَلَا لَا يُزَوِّجُ النِّسَاءَ إِلَّا الْأَوْلِيَاءُ، وَلَا يُزَوَّجْنَ إِلَّا مِنَ الْأَكْفَاءِ[1] د نبي كريم ﷺ فرمان دې. خبردار د ښځو نکاح دې نه کوي. مګر اولياء. او نکاح دې نه کوي. مګر د برابر سره (يعنې په کفوکې)

په کفاءت کښې د نسب اعتبار

وَالْكَفَاءَةُ تُعْتَبَرُ فِي النَّسَبِ کفاءت معتبر دې په نسب کې .

تشريح ﴿ مصنف رحمه الله فرمائي. چه په نسب کې کفاءت معتبر دې.

دليله ﴿ ځکه چې نسب سره هم په خپل مينځ کې يوبل باندې فخر کولې شي. او کوم شي (څيز) چې داسې وي. چه په هغې سره خلق فخر کوي. په هغې کې د کفاءت اعتبار شوې دې. نو يوقريشي به دبل قريشي کفو وي. اود قريشي نه علاوه به يو عرب د بل عرب کفو وي.

دليل الدليل ﴿ په دې سلسله کې دليل د نبي کريم ﷺ فرمان دې. {قُرَيْشٌ بَعْضُهُمْ أَكْفَاءٌ لِبَعْضٍ بَطْنٌ بِبَطْنٍ، وَالْعَرَبُ بَعْضُهُمْ أَكْفَاءٌ لِبَعْضٍ قَبِيلَةٌ بِقَبِيلَةٍ، وَالْمَوَالِي بَعْضُهُمْ أَكْفَاءٌ لِبَعْضٍ رَجُلٌ بِرَجُلٍ}[2] چه، قريش خپل مينځ کې د يوبل کفو دی. يو بطن د بل بطن، او عرب خپل مينځ کښې د يوبل کفو دی. يوه قبيله د بلې قبيلې اوغير عرب (عجم) خپل مينځ کې د يوبل کفو دی. يو کس د بل کس، د بيان کړې حديث په وجه په قريشوکې په خپل مينځ کې په يوبل باندې فضيلت معتبر نه دې. نو هر قريشي به د بل قريشي کفو وي. ځکه چې دحديث، الائمه من قريش، په وجه په هرقريشي کې د خلافت صلاحيت او اهليت شته.

په کفاءت کښې د دين حيثيت

وَالدِّينِ او کفاءت معتبر دې په دين کې يعنې په ديانت کې هم او دا قول دَ شيخينو دې دا صحيح دې[3]

تشريح ﴿ مصنف رحمه الله فرمائي. چه په دين کې هم کفاءت معتبر دې. علامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دي. چه د دين نه مراد ديانت دې. يعنې تقوی، صلاح، حسب، او مکارم اخلاق.

دليله ﴿ ځکه چې دين دَاعلی مفاخره څنې دې او ښځې ته دَ ميره (خاوند) په فاسق کيدو عار ور کولې شي (کولې شي) زيات دَ دې نه چې دَ ميره (خاوند) په کمتر نسب ورکولې شي

وَالْمَالِ او کفاءت معتبر دې په مال کښې وَهُوَ أَنْ يَكُونَ مَالِكًا لِلْمَهْرِ وَالنَّفَقَةِ او کفاءت په مال کښې دا دې چې سړې د مهر او نفقې مالک وي

تشريح ﴿ اوس پاتې شوه داخبره چې په غنی، يعنې په صاحب نصاب کيدلوکې کفاءت معتبر دې او که نه؟ نود طرفينو رحمهما الله مذهب دادې. چه معتبر دې. نو که ښځه صاحب نصاب وي. نو سړې چې صرف د نفقه او مهر قدرت لري. ددې ښځې کفو نشي کيدلې.

دليلهما ﴿ ځکه چې خلق په مالداره کيدلو باندې فخر کوي. او په غريبۍ باندې شرم محسوسوي.

---

[1] من حديث جابربن عبدالله رضى الله عنهما أخرجه البيهقي في السنن الكبرى (٢١٥/٧) والدارقطني في سننه ٤٤/٣، ٢برقم ١١ في باب المهر)۔

[2] من حديث عبدالله بن عمر رضي الله عنهما أخرجه البيهقي في السنن الكبرى (٢١٧/٧)۔

[3] القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا في فتح القدير(١٩٢\٣) والعناية (١٩٢\٣) والخانية (١٦٣\١) والهندية (٢٩١\١) وردالمحتار(٣٤٧\٢) نقلاً عن القول الراجح (٢٦٢\١)۔

مسلك ابي يوسف خو ابويوسف رحمه الله په غنى كې د كفاءت اعتبار نه كوي.
دليله ځكه چې مالداري يو داسې شى (څيز) دې.چه دا نه ايساريږي.تلونكې راتلونكې شى (څيز) دې.مال سهار صبا) راځي.مابنام ځي.نود داسې ناپائيداره شى (څيز) اعتبار نه شى كيدلې.

په كاروباركښې د كفاءت حكم

وَتُعْتَبَرُ فِي الصَّنَائِعِ (ا)او كفاءت معتبر دې په پيشى (پيشو)كې

حل اللغة ① **الصنائع**:جمع د **صنعة**:پيشه كسب

تشريح په پيشه(كاروبار) كې كفاءت معتبر دې اوكه نه؟ په دې اړه (باره)كې د صاحبينو رحمهما الله مذهب دادې.چه معتبر دې.اود امام صاحب رحمه الله نه هم دا يو روايت دې چې په پيشه كښې كفاءت معتبر دې
دليله په پيشه كې د كفاءت معتبر كيدلو وجه داده.چه خلق په ښه پيشه باندې فخر كوي.او په ذليله پيشه باندې عار اوشرم محسوسوي.
الرواية الثانية د امام ابوحنيفه معتبر نه دې .او د امام ابويوسف رحمه الله نه هم يو روايت دادې.چه معتبر نه دې.خو كه پيشه بيخي سپكه(ذليله) وي.مثلاً د نئ توب پيشه،يا د جولاګرى، ياد رنګ سازئ پيشه. نو په دې صورت كې به كفاءت معتبر وي..
دليله پيشه لازم نه وي.د ادنى نه اعلى اړخ (طرف) ته منتقل كيدل ممكن وي.نو كوم شى (څيز) چې غير لازم وي.د هغې اعتبار نشى كيدلې.خو په دې باندې دا اشكال كيږي.چه فسق او فقر هم غير لازم دى.نو په ديانت اومالدارئ كې هم كفاءت معتبر كيدل پكار نه دى؟ والله اعلم بالصواب

د مهرمثل نه په كم باندې د بالغې ښځې خپله نكاح كول

وَإِذَا تَزَوَّجَتِ الْمَرْأَةُ وَنَقَصَتْ مِنْ مَهْرِ مِثْلِهَا فَلِلْأَوْلِيَاءِ الِاعْتِرَاضُ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله او هر كله چې وادۀ اوكړو ښځې او كم ئ كړو خپل مهر د مثل نه نو اولياء ته حق دې په ښځه د اعتراض كولو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد حَتَّى يُتِمَّ لَهَا مَهْرَ مِثْلِهَا أَوْ يُفَرِّقَهَا (٢)تر دې چې ميړه (خاوند) د دې مهر مثل پوره كړى او يا د دې نه جداشي

تشريح مسئله داده.چه يوې بالغې ښځې خپله نكاح د مهر مثل نه په كم باندې اوكړله.نود امام صاحب رحمه الله په نيز باندې اولياؤ ته د اعتراض حق حاصل دې.چه ميړه (خاوند) مهر مثل مكمل كړى.يا ني جدا كړى.ګنى قاضى به د مرافعه (قاضى ته فيصله اوړل) نه روسته تفريق كوي.
دليله دليل دادې.چه اولياء د خپل خاندانى ښځو په مهرونو باندې فخركوي.او په كمو مهرونو باندې شرم محسوسوي.نو په مهركې كمې كول،د كفو نه كيدلو مشابه شو.اود كفو نه كيدلو په صورت كې اولياء ته د اعتراض حق حاصل وي.نود مهر د كمې په صورت كې به هم د اعتراض حق حاصل وي.
مسلك الصاحبين د صاحبينو رحمهما الله په نيز اولياؤ ته د اعتراض حق نشته.علامه مرغينانى رحمه الله فرمائيلى دى.چه د مسئلې دا وضع په دې خبره باندې دلالت كوي.چه امام محمد رحمه الله په «نكاح بغير الولى» كې د خپل قول نه رجوع كړې وه.د امام محمد رحمه الله مذهب دا وو.چه نكاح بغير د ولى نه نه منعقد كيږي.بيا ني ددې نه رجوع كړې وه.او فرمائيلى ني وو.چه بغير د ولى نه نكاح منعقد كيږي.ددې وضع

---

[1]) القول الراجح هو قول الصاحبين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٣\١٩٣) والخانية (١\١٦٣) ومجمع الأنهر(١\٣٤٢) والهندية (١\٢٩٢) نقلاً عن القول الراجح (١\٢٦٤)-
[2]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (١\١٦٤) نقلاً عن القول الراجح (١\٢٦٦)-

نه رجوع داسې معلومه شوه.چه صاحبينو رحمهما الله (چه په کې امام محمد رحمه الله هم دې)اوفرمائيل.چه اولياؤ ته د اعتراض حق نشته.ددې مطلب داشو.چه نکاح منعقد شوه.او په متن کې چې کوم صورت بيان شوې دې.هغه دادې.چه د ولي نه بغير ښځې نکاح کړې ده.نود مسئلې دا وضع د امام محمد رحمه الله په رجوع باندې رښتونې ګواهي ده.

دليلهما﴿ دليل دادې.چه دلسو درهمو پورې مهر خود شريعت حق دې.او ددې نه زياتې د ښځې حق دې.نو ښځې په مهر مثل کې کمی اوکړه.نو خپل حق ئې ساقط کړو .او کوم کس چې خپل حق ساقط کړي.نو په ده باندې هيڅ اعتراض نه وي.دغه ډول (دغه شان) دلته کې هم هيڅ اعتراض کول نه دي پکار.

الجواب عنه﴿ او پاتې شو د نامداره کيدلو نه روسته ښرى كول،نو په دې كې اولياء شرم نه محسوسوى.ځکه چې دا خوهبه ده.په دې سره د اولياؤ پزه (پوزه) اوچتيږي.کښته (ښکته) کيږي نه.(يعنی عزت دې شرم نه دې.

پلار د صغيرې لوراوځوي نكاح د مهرمثل نه په كم اوپه زيات كولاې (كولي) شي

وَإِذَا زَوَّجَ الْأَبُ بِنْتَهُ الصَّغِيرَةَ وَنَقَصَ مِنْ مَهْرِ مِثْلِهَا أَوْ ابْنَهُ الصَّغِيرَ وَزَادَ فِي مَهْرِ امْرَأَتِهِ جَازَ ذَلِكَ عَلَيْهِمَا او هر کله چې نکاح اوکړي. پلار دَ خپلې وړې لور او کم ئې کړو دَ مهر مثل دَ دې نه يائې واده اوکړو دَ خپل وړوکي ځوئی او زيات ئې کړو دَ ده دَ ښځې مهر نو دا جائز دی دَ دې دواړو په حق کې **وَلَا يَجُوزُ ذَلِكَ لِغَيْرِ الْأَبِ وَالْجَدِّ** او نه دی جائز دا دَ پلار نيکه نه دَ علاوه دَ پاره

تشريح﴿ صورت د مسئلې دادې.چه پلار د خپلې صغيرې لور نکاح اوکړه.او ددې مهر ئې د مهرمثل نه کم مقرر کړو.يا پلار دخپل صغير ځوى نكاح اوكړه.او دده دښځې مهر ئې د مهرمثل نه زيات مقرركړو.اودا كمې زياتې معلوم نه دې.بلكه د غبن فاحش د قبيلې ځنې دی.نود امام صاحب رحمه الله په نيز به په صغير او صغيره دواړو باندې دا نكاح نافذ وى. (١) ځوكه د پلار نيكه نه علاوه بل چا داسې اوكړل.نو نكاح به صحيح نه وى

دليله﴿ دليل دادې.چه نظر او شفقت باطنى امر دې.په دې خو حكم لګول محال امر دې.نود شفقت په دليل اوعلامت به حكم لګولې شى.اود شفقت دليل دې قرب قرابت(يعنى نژدې (نيزدې) رشته دارى)نو مونږ (مونږ) وايو.چه په پلار اونيكه كې د شفقت دليل موجود دې. نوپه دې به د نكاح د جواز حكم لګولې شى.اود پلار نيكه نه علاوه كې چونكه دليل نظر يعنى قرب قرابت موجود نه دې.په دې وجه به ددوى په ترلې شوې نكاح باندې دجواز حكم نشى لګولې.

مسلک الصاحبين﴿ د صاحبينو رحمهما الله په نيز كه كمې زياتې د غبن فاحش په طور وى.نو جائز نه دى.اوكه د غبن يسير په طور دې.نو نكاح جائز ده. د صاحبينو رحمهما الله د قول لايجوز يو مطلب خودا كيدلې شى.چه اصل نكاح درست وى.خو كمې زياتې درست نه وى.دا به د مهرمثل ارخ (طرف) ته واپس كولې شى.صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلى دى.چه د صاحبينو رحمهما الله د قول مراد دادې.چه ددوى په نيز دده سره نكاح جائز نه ده.

دليلهما﴿ د صاحبينو رحمهما الله د دليل حاصل دادې.چه ولايت د شفقت شرط سره مقيد دې.نود شفقت په فوت كيدلو سره به ولايت باقى نه پاتې كيږى.نو اوس به مطلب داوى.چه پلار بغير د ولايت نه نكاح

---

(١) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الهندية (١\٢٩٤) و البحرالرائق (٣\٢٣٦) والخانية (١\١٦٦) وتبيين الحقائق (٢\١٣١) نقلا عن القول الراجح (١\٢٦٧)-

اوکړه.او بغیر د ولایت نه نکاح باطل وی.نودا نکاح به هم باطل وی.او پاتې شوه داخبره چې شفقت څنګه فوت شو.نو عرض دادې.چه د صغیره په مهر کې د معمول (رواج) نه زیات کمې کول.یا د صغیر د ښځې په مهرمثل کې غیرمعمولی زیاتوالې کول.څنګه شفقت دې؟

دمهر شرعي حيثيت

وَيَصِحُّ النِّكَاحُ اِذَا سُمِّيَ فِيهِ مَهْرًا او صحيح کيږی نکاح کله چې مقرر شوی وی په دې کښې مهر **وَيَصِحُّ النِّكَاحُ وَاِنْ لَمْ يُسَمِّ فِيهِ مَهْرًا** صحیح ده نکاح اګر چې په دې کې دَ مهر ذکر نه وی

تشريح> صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه نکاح صحیح کیږی.که مهر مقرر وی او دغه شان صحیح کیږی اګرچه په دې کې مهر ذکر نه وی.

دليله> دلیل دادې.چه نکاح عقد انضمام او عقد ازدواج ته وائی.اودا معنی زوجین سره پوره کیږی.نود نکاح د صحت لپاره دمهر ذکر کول ضروری نه دی.

وَاَقَلُّ الْمَهْرِ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ او دَ مهر کم مقدار لس درهمه دی.

تشريح> مصنف چې د نکاح د اراکانو اوشرائطو بیانولو نه فارغ شو.نو اوس د نکاح حکم بیانول غواړی.او حکم د نکاح وجوب د مهر دې.بعض وائی.چه مهر مال دې.او بعض وائی. چه مهر، صداق، دې. او صداق نوم دې. دهغه مال کوم چې په عقدنکاح کې ذکر کړې شی.

اقل المهر> د مهر لپاره د زیات مقدار هیڅ حد نشته.او اقل مقدار لس درهمه دی. ([1])

دلائله> ① دلیل د نبی کریم ﷺ حدیث دې.**لَا مَهْرَ اَقَلَّ مِنْ عَشَرَةٍ**([2]) چه، د لسو درهمو نه کم مهر نشته دې،

② دویم عقلی دلیل دادې.چه مهر د بضع شرافت ښکاره کولو لپاره د شریعت حق دې.نو دومره مقدار به مقررکولې شی.چه په هغې سره د محل شرافت،او شرافت د بضع ښکاره شی.موټر (موټی) اوکتل.چه نصاب د ،سرقه،لس درهمه دی.نو ګویا د لسو درهمو په غلا کولو باندې لاس کټ کولې شی.نو معلومه شوه.چه د انسان لپاره د یو اندام یعنی د لاس کم ازکم قیمت لس درهمه دی.نو هم په دې به قیاس کولې شی.اوپه نکاح کې به هم د ملك بضع قیمت کم ازکم لس درهمه مقرر کولې شی.

په مهرکښې د لس درهمو مقررولوحکم

فَاِنْ سَمَّى اَقَلَّ مِنْ عَشَرَةٍ فَلَهَا عَشَرَةٌ او که ذکر ئې کړو دَ لسو درهمو نه کم نو دَ ښځې دَ پاره به لس درهمه وی

---

[1] **المذاهب الاخرى**:- ① امام مالك رحمه الله فرمائی.چه د مهر اقل مقدار، ربع دینار یا درې درهمه، دی.② ابن شبرمه رحمه الله فرمائی.چه کم ازکم پنځه درهمه دی.③ ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی.چه د مهر اقل مقدار څلویښت درهمه دی.④ د سعید ابن جبیر رحمه الله په نیز لږترلږ (کم ازکم) پنځوس درهمه ضروری دی. ⑤ حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه کوم شی (څیز) په عقد بیع کې ثمن جوړیدلې شی.هغه په عقد نکاح کې مهر هم جوړیدلې شی.

[2] ۱۸) تقدم تخریجه من حدیث جابربن عبدالله رضي الله عنه _

تشريح> مسئله داده.چه د نکاح د انعقاد په وخت د لسو درهمو نه کم مهر ذکر کړې شو.نو په دې صورت کې به زمونږ په نيز د ښځې لپاره لس درهم وي.(١)

دليله> دليل دادې.چه د لسو درهمو نه د کم مهر ذکر کولو فساد ،د شريعت د حق په وجه دې.اود شريعت حق پوره کيږي.په لسو درهمو سره.نو لس درهمه به پوره کولې شي.د زياتو ضرورت (ضرورت) نشته.

د لس درهمونه زيات مهرکښې د مباشرت نه روسته طلاق
ياد مرګ په صورت کښې د مهرد وجوب حکم

وَمَنْ سَمّٰى مَهْرًا عَشَرَةً فَمَا زَادَ فَعَلَيْهِ الْمُسَمّٰى إِنْ دَخَلَ بِهَا أَوْمَاتَ عَنْهَا او چا چې مقرر کړو لس درهمه مهر او يا زيات نو په ده مسمى واجب ده که دخول يې د ښځې سره او کړو او يا ترې مړشو

تشريح> صورت د مسئلې دا دې.چه ميړه (خاوند) دښځې مهر لس د رهمو نه کم يا زيات مقرر کړو.بيا ددې نه روسته دخول موجود شو.ياد ،احد الزوجين، انتقال اوشو.نو په دې دواړه صورتونوکې به ميړه (خاوند) باندې کل مسمى واجب وي.

دليله> دليل دادې.چه د دخول په وجه مبدل يعنى د بضع سپارل متحقق شو.اود مبدل په سپارلو سره بدل واجبيږي.نو په ميړه (خاوند) به بدل يعنى مهر واجب وي.او د مرګ په وجه شئ خپل انتهاء ته رسيږي.ددې نه روسته هيڅ شى (څيز) باقي نه پاتې کيږي.او شئ چې خپل انتهاء ته اورسي.نو مقرر اوموکد کيږي.يعنى په دې کې هيڅ تبديلي نه راځي.نو نکاح د خپلو ټولو احکامو او واجباتو سره ثابت شوه.او حکم د نکاح مهر هم دې.نود مرګ په وجه به دا هم ثابت وي.

فَإِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ وَالْخَلْوَةِ فَلَهَا نِصْفُ الْمُسَمّٰى او که طلاق يې ورته ورکړل مخکې دَ دخول يا دَ خلوت نه نو دَ ښځې نيم مهر به وي.

تشريح> دويم صورت دادې.چه دې ښځې ته نې د دخول او خلوت نه مخکې طلاق ورکړو.نو په ميړه (خاوند) به د ښځې لپاره نصف مسمى واجب وي.

دليله> د الله تعالى ارشاد دې وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ الْآيَة يعنى که دجماع نه وړاندې تاسو طلاق ورکړو.او مهر دې مقرر کړې وی.نو په مقررشوی کې نصف ورکړه.د آيت نه معلوميږي.چه په ،طلاق قبل الدخول، سره نيم مهرواجبيږي.

په مهرسکوت يا د مهرنه کيدلو په شرط سره د نکاح کولوحکم

وَإِنْ تَزَوَّجَهَا وَلَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْرًا أَوْتَزَوَّجَهَا عَلٰى أَنْ لَا مَهْرَ لَهَا که دَ ښځې سره يې نکاح اوکړو او دې لره يې مهر ذکر نه کړو يا يې نکاح په دې شرط اوکړه چې دې لره به مهر نه وى فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا إِنْ دَخَلَ بِهَا أَوْمَاتَ عَنْهَا نو دَ ښځې دَ پاره به مهر مثل وى که دَ خول يې ورسره او کړو يا ترې مړشو

تشريح> مصنف رحمه الله دوې (دوه) صورتونه بيان کړى دى. ①اول داچه نکاح نې اوکړه.اود مهر په اره (باره) کې نې سکوت اوکړو.چه نه نې ذکر کړو.او نه نې نفى اوکړه. ② دويم صورت دادې.چه نکاح نې اوکړه.اود مهر نه کيدلو شرط نې اولګولو.په دې دواړه صورتونوکې به زمونږ په نيز مهرمثل واجب وى.په دې شرط چې ښځې سره نې دخول کړې وى.ياد ميړه (خاوند) انتقال اوشى. (١)

١) **مسلک زفر:**– د امام زفر رحمه الله په نيز به مهرمثل واجب وى.

دليله دليل دادې.چه مهر وجوباً د شريعت حق دې.آيت [أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ...] او آيت [قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ....] په وجه سره.د دواړه آياتونو تفصيل د اصول فقه په كتابونوكي موجود دې.اودې كتلې شي.

وَاِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا وَالْخَلْوَةِ فَلَهَا الْمُتْعَةُ اوكه قبل دَ دخول نه يې طلاق وركړل اوكه د خلوة نه وراندې ئې طلاق وركړو.نو ښځې لره متعه ده

تشريح او كه دې ښځې ته ئې طلاق قبل الدخول وركړو.نوددې ښځې لپاره به متعه واجب وي.

دليله دليل آيت دې. [لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَمَتِّعُوهُنَّ] په آيت كې ،او، په معنى د ،واو، دې.يعني په تاسو هيڅ گناه نشته.كه تاسو طلاق وركړو.ښځو ته،تركومه پورې چې تاسومَس كړې نه وي.او مقرركړې مو نه وي مهر، او متعه وركړئ دوی ته.

وجوب المتعة په مذكوره صورت كښې متعه وركول واجب دي (٢)

دليله په قرآن پاك كښې الله تعالى فرمانيلى دى وَمَتِّعُوْ، د امر صيغه ده.چه د وجوب لپاره راځى. دويم لفظ ،حَقًّا، دې.داهم په وجوب باندې دلالت كوی .دريم لفظ ، عَلَى، چې د الزام لپاره راځي.

د متعه حقيقت

وَهِيَ ثَلَاثَةُ أَثْوَابٍ مِنْ كِسْوَةِ مِثْلِهَا وَهِيَ دِرْعٌ وَخِمَارٌ وَمِلْحَفَةٌ او متعه درې كپړې دى دَ دغې شان ښځې دَ كپړو نه او دغه قميص دې لوپټه ده او پټو (څادر) دې

حل اللغة ① **درع**: لوپټه ② **خمار**:څادر،پړوني

تشريح د متعه حقيقت دا دې.چه دا درې كپړې دى.كرته، او پټو (څادر)

دليله ددې درې كپړو تعين او اندازه د حضرت عائشه او ابن عباس رضي الله عنهم نه منقول ده

النكتة د صاحب د قدوری رحمه الله د عبارت[من كسوة مثلها] نه اشاره دې ارخ (طرف) ته دې.چه په متعه كې به د ښځې د حال اعتبار كولې شي.په متعه واجبه كې د امام كرخى رحمه الله قول هم دادې.

دليله دليل دادې.چه متعه د مهرمثل قائم مقام ده.او په مهرمثل كې د ښځو حال معتبر دې.نوكوم چې ددې قائم مقام وی.په هغې كې به هم د ښځې د حال اعتبار كولې شي.

القول الصحيح صاحب د هدايه فرمانيلى دى چې صحيح قول دادې.چه د سړی د حال اعتبار به كولې شي.ددوی دليل د قرآن آيت [عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ] دې.چه الله تعالى د سړی د حال اعتبار كړې دې.د ښځې ئې نه دې كړې.متعه په درې قسمه ده.

① ادنى ② اوسط ③ اعلى. ادنى خو داده.چه دا درې واړه كپړې سوچه وی.اوسط داده.چه تسرى وی.تسر يود كپړه ده.چه د ريښمو نه كمتره وی.اود سوت نه ښه وی. او اعلى درجه متعه داده.چه دا درې واړه كپړې د ريښمو وی.

---

(١) **مسلك الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمانى.چه د مرگ،قبل الدخول، په صورت كې په ميړه (خاوند) باندې هيڅ نه واجبيږی.او اكثر شوافع رحمهم الله فرمانى.چه د دخول په صورت كې به مهرمثل واجب وی.لكه څنگه چې زمونږ (مونږ) مذهب دې.

(٢) **امام مالك** رحمه الله فرمانى چې په مذكوره صورت كښې متعه وركول مستحب دى

په خمر او خنزیر باندې نکاح کول او ددې حکم

وَإِنْ تَزَوَّجَهَا الْمُسْلِمُ عَلَى خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ که نکاح او کړه مسلمان په شرابو یا په خنزیر فَالنِّكَاحُ جَائِزٌ وَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا نو نکاح جائز ده او ښځې لره مهر مثل دې

تشریح> مسلمان سړی د یوې ښځې سره نکاح اوکړه.او مهر ئې مقرر کړو.شراب یا خنزیر.نو نکاح درست وی.او مهرمثل به واجب وی. (۱)

دلیله> دلیل دادې.چه میړه (خاوند) اووئیل.ما ستاسره په شرابو باندې نکاح اوکړه.نو ګویا میړه (خاوند) د خمر قبلولو شرط اولګولو.اود شرابو قبلولو شرط، شرط فاسد دې.او په ما قبل کې تیر شو.چه نکاح په شروط فاسده سره نه باطلیږی.بلکه پخپله شروط فاسده باطل وی.ځکه چې شرط فاسد د تسمیه پریښولو (پریخودلو) نه زیاته نه ده.او هرکله چې ترك د تسمیه مبطل د نکاح نه دې.نوشرط فاسد به په درجه اولی مبطل د نکاح نه وی.زیات نه زیات دا ونیلی شو.چه د شرابو اوخنزیر تسمیه صحیح نه ده.ځکه چې خمر اوخنزیر د مسلمان په حق کې مال متقوم نه دې.اود تسمیه نه صحیح کیدلو په صورت کې مهرمثل واجب وی.نو په دې صورت کې به هم مهرمثل واجب وی.

په رضامندئ سره د مهرمقررولوتفصیل

وَإِنْ تَزَوَّجَهَا وَلَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْرًا او که وادهئ او کړو د ښځې سره او مهر ئې ورته مقرر نه کړو ثُمَّ تَرَاضَيَا عَلَى تَسْمِيَةِ مَهْرٍ بیا راضي شو دواړه د مهر په تسمیه باندې فَهِيَ لَهَا إِنْ دَخَلَ بِهَا أَوْ مَاتَ عَنْهَا نو د هغې د پاره به دغه وی که دخول ئې ورسره اوکړو یا ترې مړشو

تشریح> صورت د مسئلې دادې.چه د نکاح په وخت کې مهر ذکر نکړې شو.بیا ښځې میړه (خاوند) یو مقدار مقررکړو.نو اوس که میړه (خاوند) د ښځې سره دخول اوکړو.یا مړ شو.نو په دواړه صورتونوکې به دا مقررشوی مقدار واجب وی.

دلیله> دلیل دا دې چې هم د داسې صورت په باره کښې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائیلی دی «لها مثل صداق نسائها لاوکس ولا شطط» د دې دپاره به د دې د خاندان د ښځو پشان مهر وی نه به په کښې کمی وی اونه به زیاتې وی.

وَإِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا والخلوة فَلَهَا الْمُتْعَةُ او که طلاقه ئې کړه مخکښې د دخول نه او مخکښې د خلوة نه نوهغې لره به متعه وی

تشریح> او که ،طلاق قبل الدخول، دې.یا قبل د خلوة صحیحه نه وی نود طرفینو رحمهما الله په نیز به ښځې لپاره متعه واجب وی

دلیله> دلیل دادې.چه د عقد نکاح په وخت که مهر ذکر نه کړې شی.نو مهرمثل به واجب وی.نو په دې صورت کې به هم د نکاح په وخت د مهر نه ذکر کولو په وجه مهرمثل واجب وی.روسته چې زوجینو په کوم مقدار باندې اتفاق کړې دې.نودا روسته متعین کړې مقدار په حقیقت کې تعین دې د هغه مقدار کوم چې د عقد په وجه واجب شوې وو.اود عقد په وجه مهرمثل واجب شوې وو.اود مهرمثل تنصیف نه کیږی.نو کوم چې ددې قائم مقام دې.یعنی ،مفروض بعد العقد، ددې به هم تنصیف نه کیږی.او هرکله چې تنصیف نشی کیدلې.نو متعه به واجب وی.

---

(۱) د امام مالك رحمه الله په نیز به نکاح فاسد وی.

د عقد نه روسته په مهر کښې زياتې کول

وَإِنْ زَادَ فِي الْمَهْرِ بَعْدَ الْعَقْدِ فَلَزِمَتْهُ الزِّيَادَةُ او که مهر ئې زيات کړو دَ عقد نه نو لازمه به وی په ميره (خاوند) دغه اضافه

تشريح> د عقدنکاح نه روسته په مقررشوی مهر باندې ميره (خاوند) زياتوالې اوکړو. او ښځې هم په دغه مجلس کې قبول کړو. نو زمونږ په نيز به دا زياتوالې په ميره (خاوند) باندې لازم وی.

دليله> دليل د قرآن آيت دې. [وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِيضَةِ] او ګناه نشته په تاسو په دې خبره کې چې مقرر کړئ تاسو دواړه په خپله رضامندئ باندې د مقرر شوی نه پس [د آيت په تفسير کې مولانا شبيراحمد رحمه الله ليکلی دی. که زوجين د مهرمقرر کولو نه روسته په څه خبره باندې راضی شی. مثلاً ښځه په خپله رضامندئ باندې څه کم کړی. يا دې په خپله رضامندئ سره د مهرمقرر نه څه زيات کړی. نودې اختيار مند دې. په دې کې هيڅ ګناه نشته. بهرحال که کموی او که زياتوی. په خپل مينځ کې رضامندی ضروری ده.[1]

وَتَسْقُطُ الزِّيَادَةُ بِالطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُولِ او ساقطيږی به په طلاقو قبل الدخول سره

تشريح> هرکله چې زمونږ په نيز په مهر کې زياتوالې کول درست دې. نود «طلاق قبل الدخول» په صورت کې به د اصل سره د زياتوالی تنصيف کيږی. خود زياتوالی به نه کيږی.

دليله> دليل دادې. چه تنصيف د «مفروض فی حالة العقد» سره مخصوص دې. نو کوم اصل مهر چې په حالت د عقد کې مقرر شوې وو. ددې تنصيف به کيږی. خوکوم چې روسته زيات شوې دې. ددې تنصيف به نه کيږی.

فَإِنْ حَطَّتْ مِنْ مَهْرِهَا صَحَّ الْحَطُّ او که ښځې ميره (خاوند) په څۀ مهر کم کړو نو دا کول صحيح دې

حل اللغة> ① **الحط**: کموالې]

تشريح> که ښځې د خپل مهر نه څه کم کړل. نو کمول درست دی.

دليله> ځکه چې مهر د ښځې حق دې. او کمول په حالت بقاء کې لاحق شو. کوم چې د ښځې په اختيار کې دی. لنديز (خلاصه) داشوه. چه په ابتداء د عقد کې د شريعت د حق په وجه، د لسو درهمو نه نشی کمولې. اود مهرمثل نه د اولياؤ د حق په وجه نشی کمولې. اود عقد نکاح نه روسته ترکومه پورې چې نکاح قائم وی. کمول به نافذ وی. د خپل حق په وجه. په دې شرط چې په مجلس کې سړې دا کمی قبوله هم کړی.

د خلوت صحيحه نه پس د طلاق په صورت کښې د مهرحکم

وَإِذَا خَلَا الرَّجُلُ بِامْرَأَتِهِ وَلَيْسَ هُنَاكَ مَانِعٌ مِنَ الْوَطْءِ ثُمَّ طَلَّقَهَا فَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ هر کله چه يواځې شو خاوند دَ ښځې خپلې سره او هلته څوك مانع نه وه دَ وطئ نه بيا ئې دَغه طلاقه کړه نو ښځې لره به پوره مهر وی

حل اللغة> ① **مانع**: رکاوټ

تشريح> مسئله داده. چه يوکس د خپلې ښځې سره خلوت صحيحه اوکړو. اود خلوت په وخت کښې د

[1] په زير بحث مسئله کې امام زفر رحمه الله فرمائی. چه زياتوالې صحيح نه دې. او امام شافعی رحمه الله هم ددې قائل دې.

وطی څه مانع هم نه وو.بیا خاوند خپلې ښځې ته طلاق ورکړو.نو زمونږ په نیز به د ښځې دپاره پوره مهر واجب وی. ([1])

دلیله دلیل دادې.چه ښځې د بضع منافع، یعنی مبدل د خاوند حواله کړې دې.ځکه چه ښځې تول موانع پورته کړی دی.اود ښځې په قدرت کښې صرف هم دومره وو.ددې نه زیاتی نه وو.نو هرکله چه ښځې مبدل اوسپارلو.نود ښځې حق بدل به هم ثابت وی.او هغه بدل مهر دې.نود ښځې دپاره به په دې صورت کښې کامل مهر واجب وی.او مونږ قیاس کوو. په بیع باندې هم. چه لکه څنګه بائع که د مبیع اومشتری په مینځ کښې تخلیه اوکړی.چه د مبیع په اخستلوکښې هیڅ مانع پاتې نشی.نود بائع د طرفه به دا د مبیع سپارل وی.او په مشتری به ثمن واجب وی.

تائیده د دې تائید د خلفائې راشدینو په فیصلو سره هم کیږی.فیصله داده.چه[أن من غلق بابا أوأرخى سترا فقد وجب المهرووجبت العدة] یعنی کوم کس چه دروازه بنده کړه. یا ئې پرده زوړنده کړه.نو مهر به واجب وی.اوعدت به هم واجب وی.(عینی شرح هدایه)

د خلوت فاسده صورتونه

وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا مَرِيضًا أَوْصَائِمًا فِي رَمَضَانَ که په دوی کې یو بیمار وو او یا ئې د رمضان روژه وه أَوْمُحْرِمًا بِحَجٍّ أَوْعُمْرَةٍ یا ئې د فرض حج احرام تړلې وو یا د نفل حج یا د عمرې أَوْكَانَتْ حَائِضًا فَلَيْسَتْ بِخَلْوَةٍ صَحِيحَةٍ یا وه ښځه حائضه نو داخلوت صحیح نه دې وَلَوْطَلَّقَهَا فَيَجِبُ نِصْفُ الْمَهْرِ اوکه دې ته طلاق ورکړی نو نیم مهر واجبیږی.

تشریح وراندې معلومه شوه.چه د خلوت دوې (دوه) قسمه دی.خلوت صحیحه اوخلوت فاسده.چه د یوکس لپاره د وطی څه مانع موجود وی.نو په داسې صورت کې چې کوم خلوت وی.دابه خلوت فاسده شمارلې شی.اوکه د وطی څه مانع موجود نه وی.نوپه داسې صورت کې چې کوم خلوت وی.دابه خلوت صحیحه شمارلې شی.

اقسام الموانع موانع په څلور قسمه دی.

① مانع حقیقی، د دې مثال ناروغی (ناروغی (بیماری)) ده.

② مانع طبعی، د دې مثال ارتقاء کیدل دی.یعنی د ښځې د شرم ګاه خوله بندیدل،یا دومره صغیره کیدل دی.چه د جماع قابله نه وی.

③ مانع شرعی، د مانع شرعی مثال د فرض حج احرام دې.ځکه چې شریعت په حالت احرام کښې صحبت کول حرام کړی دی

④ مانع حسی، د دې دا دې چه د زوجینو په مکان کې څوک دریم کس هم موجود وی.که بینا وی.اوکه نابینا(ړوند)،که بیدار وی.او که اوده کس وی.بالغ وی.اوکه ناپوهه ماشوم وی.

د مقطوع الذکر د خلوت نه پس.طلاق ورکولو سره د مهر حکم

وَإِذَاخَلَا الْمَجْبُوبُ بِامْرَأَتِهِ ثُمَّ طَلَّقَهَا فَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِعِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ، ([2]) او کله چې خلوت اوکړو مقطوع الذکر د خپلې ښځې سره بیا ئې طلاقه کړه نو دې لره واره (تول) مهر دې په نزد د ابوحنیفه رحمه الله

[1] مسلک الشافعی:- د امام شافعی رحمه الله په نیز به نصف مهر وی.

[2] القول الراجح هو قول ابی حنیفة رحمه الله كذا فی فتح القدير(٣\٢١٨) والكفاية (٣\٢١٨) والخانية (١\١٨٢) وردالمحتار(٢\٣٧٠) نقلا عن القول الراجح (١\٢٧١)-

حل اللغة ① **مجبوب**: مقطوع الذکر، چه ذکرئې کټ شوي وي

تشریح مسئله داده. چه دمقطوع الذکر خلوت صحیح دې. او که فاسد؟ امام صاحب رحمه الله فرمائي. که مقطوع الذکر خلوت اوکړو. او بیا ئې طلاق ورکړو. نود ښځې لپاره به کامل مهر واجب وي. اودا به خلوتِ صحیحه شمارلې شي.

دلیله دلیل دادې. چه په ښځه باندې تسلیم، یعني بضع سپارل د مورلو په حق کې واجب دي. اودا د ښځې په قدرت کې دی. او داکار ښځې اوکړو. نو په سړي به کامل مهر واجب وي. اودا خلوت به خلوتِ صحیحه وي.

مسلک الصاحبین صاحبین رحمهما الله فرمائي. چه دا خلوت فاسده دې. نوکه طلاق ئې ورکړو. نیم مهر به واجب وي.

دلیلهما دلیل دادې. چه مقطوع الذکر د بیمار په مقابله کې زیات عاجز دې. ځکه چې کله به جماع قادر کیدلې شي. خو مقطوع الذکر بالکل د ،عدم آله، په وجه به جماع قدرت نه لري. په خلاف د عنین. چه دده خلوت صحیح دې. ځکه چې حکم د آله په سلامتیا باندې لګولې شي. اود مقطوع الذکر دسره آله نشته. نو په عنین او مقطوع الذکر کې ښکاره توپیر (فرق) دې. نو ددوی په حکم کې به هم توپیر (فرق) وي. چه د عنین خلوت به خلوتِ صحیحه وي. اود مقطوع الذکر خلوت به خلوتِ فاسده وي. عنین هغه دې. چه دې د آله باوجود په مطلق جماع باندې قدرت نه لري. بعض وائي. (عنین هغه دې) چې ثیبه سره د جماع قدرت لرلې شي. د باکره سره نشي لرلې.

د متعه د استحباب او وجوب صورتونه او اختلاف

وَتُسْتَحَبُّ الْمُتْعَةُ لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ إِلَّا لِمُطَلَّقَةٍ وَاحِدَةٍ او مستحب ده متعه دَ هرې طلاقې شوې دَ پاره سوا دَ يوې مطلقې نه وَهِيَ الَّتِي طَلَّقَهَا الزَّوْجُ قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا وَقَدْ لَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْرًا او دَغه هغه ښځه ده کومې لره چې میړه (خاوند) دَ دخول نه مخکې طلاق ورکړی دی او مهر ئې ورته نه وی مقرر کړی

تشریح **الاشکال** د کلام په پیل (شروع) کې اشکال دادې. چه قدوري رحمه الله اووئیل. د هرمطلقه لپاره متعه مستحب ده. اوپه هره مطلقه کې ،مطلقه غیر مدخول بها غیر مسمی لها، هم ګډ (شامل) ده. نو ددې لپاره به هم متعه مستحب وي. حالانکه داسې نه ده. بلکه ددې لپاره متعه واجب ده. په استثناء کې چې کوم اشکال وو. ددې خواب خودا دې. چه د قدوري رحمه الله په نیز په مستثنی صورت کې متعه مستحب نه ده. ځکه چې قدوري رحمه الله په خپله شرح کې ذکر کړی دی. چه متعه په بعضو صورتونوکې واجب او په بعضوکې مستحب ده. نود ،مطلقه غیر مدخول بها غیرمسمی لها، لپاره واجب ده. اود هرمطلقه لپاره مستحب ده. علاوه د ،مطلقه غیر مدخول بها غیر مسمی لها، نه. ځکه چې ددې لپاره مستحب نه ده. بلکه واجب ده. نو اوس په مستثنی او مستثنی منه کې تغایر پیدا شو. نو، استثناء عن نفسه، به نه لازمیږي. اودا استثناء درسته ده. په پیل (شروع) د کلام کې چې کوم اشکال وو.

الجواب د هغې خواب دادې. چه د هرمطلقه لپاره مستحب ده. علاوه د ،مطاع غیر مدخول بها غیر مسمی لها، نه. ځکه چې ددې حکم وراندې تیرشوی دې. چه ددې لپاره متعه مستحب نه ده. بلکه واجب ده. نو هرکله چې دوی د هر مطلقه د عموم نه دا مطلقه خارج کړله. نو اوس د کلام په پیل (شروع) کې هیڅ اشکال باقي نه پاتې کیږي.

وجوب المتعة لغیرالمدخول بها ① اول داچه، مطلقه غیرمدخول بها غیر مسمی لها، وي. ددې لپاره متعه واجب ده. ② دویمه داچه، مطلقه مدخول بها غیرمسمی لها، وي.

③ دريمه داچه،مطلقه مدخول بها مسمى لها ، وى.ددې دوارو لپاره متعه مستحب ده.
④ څلورمه داچه،مطلقه غيرمدخول بها مسمى لها ، وى.ددې لپاره متعه نه واجب ده.اونه مستحب ده.هم داصورت په متن كښې مستثنى دې. (١)

دلائل﴾ ① دليل د ابن عمر رضي الله عنه قول دې. [لكل مطلقة متعة إلا ألتي فرض لها ولم يدخل بها فحسبها نصف المهر] يعنى د هرمطلقه لپاره متعه ده.مګرداچه ددې لپاره مهر مقرر شوې وى.او ددې سره دخول نه وى شوې.نو ددې لپاره نصف مهركافى دې.

② د دليل نه وړاندې دا په ذهن كې كينوئ.چه عقدنكاح د عوض نه خالى كيدې نشى.د [أَنْ تَبْتَغُوْا بِأَمْوَالِكُمْ] په وجه به يا عوض مسمى وى.يا به مهر مثل وى.دويمه خبره داچه خليفه اصل سره نشى جمع كيدلې.اونه د اصل د جزء سره جمع كيدلې شى.لكه چې تيمم د اودس سره نشى جمع كيدلې.اوس به د دليل حاصل داوى.چه د ،مطلقه غيرمدخول بها غير مسمى لها ، په حق كې متعه د مهرمثل خليفه ده.څكه چې د ،طلاق قبل الدخول، په وجه سره مهرمثل ساقط شو.اود عقدنكاح لپاره عوض ضرورى وى.نود مهرمثل خليفه يعنى متعه به واجب وى.او په باقى درې صورتونوكې به متعه څكه نشى واجب كيدلې.چه مونږ (مونږ) قاعده بيان كړله.چه خليفه نه د اصل سره جمع كيدلې شى.نه ددې د څه جزء سره جمع كيدلې شى.نو،مطلقه مدخول بها مسمى لها ،او،مطلقه مدخول بها غيرمسمى لها ، لپاره كه متعه واجب كړې شوه.نود خليفه به د اصل يعنى د كل مسمى يا د مهرمثل سره جمع كيدل لازميږى.او كه،مطلقه غيرمدخول بها مسمى لها ، لپاره متعه واجب كړې شوه. نود خليفه د جزء اواصل يعنى د نيم مهر سره جمع كيدل به لازم شى.اودا واړه (ټول) صورتونه د قاعدې خلاف دى.په دې وجه به په دې درې واړه صورتونوكې متعه واجب نه وى.

د نكاح شغار مفهوم اوحكم

وَإِذَا زَوَّجَ الرَّجُلُ بِنْتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الْآخَرُ بِنْتَهُ أَوْ أُخْتَهُ لِيَكُونَ أَحَدُ الْعَقْدَيْنِ عِوَضًا عَنِ الْآخَرِ هر كله چه وادا او كړو چا د خپلې لور په دې شرط چه هغه به خپله لور او يا خور ده ته وركوى چه شى يو د عقدينو نه عوض د بل فَالْعَقْدَانِ جَائِزَانِ، وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مَهْرُ مِثْلِهَا نو دواړه عقدونه جائز دى او په دوى كښې به د هرې يوې د پاره مهر مثل وى

تشريح﴾ صورت د مسئلې دادې.چه حامد د خپلې لور نكاح ماجد سره په دې شرط اوكړه.چه ماجد به د خپلې لور نكاح د حامد سره كوى.چه ،احد البضعين، د آخر دپاره مهر شى.يعنى د حامد د لور مهر به د ماجد د لور ملك بضع وى.اود ماجد د لور مهر به د حامد د لور ملك بضع وى.دې نكاح ته نكاح شغار وائى.شغار د ،شغور، نه ماخوذ دې.اود شغور معنى ده رفع او اخلاء، يعنى اوچتول او خالى كول.چه د رفع معنى واخستلې شى.نو وجه د تسميه به دا وى.چه زوجينو چونكه مهر د عقد نه اوچت كړلو.په دې وجه ددې نكاح نو شغار كيخودلې شو.او كه ددې ، معنى اخلاء ، وى. يعنى خالى كول.نو وجه د تسميه به داوى.چه دا نكاح چونكه د مهر نه خالى ده.په دې وجه دې نكاح ته نكاح شغار وئيلې شى.اود بعضو رائې داده.چه د شغار معنى ده، بعد ، يعنى لرې والې.په دې صورت كښې به وجه د

---

(١) **مسلك الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمائى.چه د هرمطلقه لپاره متعه واجب ده.خود ،مطلقه غيرمدخول بها مسمى لها ، لپاره دقول جديد مطابق متعه واجب نه ده.اود قول قديم مطابق ددې لپاره هم متعه واجب ده. او په ،مطلقه غيرمدخول بها مسمى لها ،كې دواړه متفق دى.چه متعه واجب نه ده.او په باقي دوې (دوه) صورتونوكې احناف رحمهم الله د استحباب قائل دى.اوشوافع رحمهم الله دوجوب قائل دى.

تسمیه داوی.چه ګویا زوجینو د مهر نفی اوکړه.نود حق نه لري شوی دی.په دې وجه ددې نوم نکاح شغار ایخودلی دې. نکاح شغار صحیح ده.خود دواړوښځو دپاره به مهر مثل واجب وی. (۱)

دلیله دلیل دادې.چه په دې دواړه عقدونوکښې داسې څیز مهر جوړشوې دې.کوم چه د مهر جوړولو صلاحیت نه لري.او قاعده ده.چه کوم څیز د مهر صلاحیت نه لري.که دا مهرجوړ کړې شي.نو عقد د نکاح به صحیح وی.او مهر مثل به واجب وی.مثلاً خمر اوخنزیر مهر جوړ کړې شي.نو نکاح به صحیح وی.او مهر مثل به واجب وی.دغه شان دلته کښې هم وی.

د قرآن تعلیم یا دښځې خدمت ګول مهرمقررګول

وَإِنْ تَزَوَّجَ حُرٌّ امْرَأَةً عَلَى خِدْمَةِ سَنَةٍ أَوْعَلَى تَعْلِيمِ الْقُرْآنِ فَلَهَا مَهْرُمِثْلِهَا (۲) که واده او کړه آزاد سړی د یوې ښځې سره د یو کال په خدمت باندې دې لره او یا په تعلیم ور کولو د قران نو دې لره مهر مثل خپل دې

تشریح مسئله داده.چه آزاد سړی د یوې ښځې سره نکاح اوکړه.او مهر ئې دا جوړکړو.چه زه به یوکال د ښځې خدمت کوم.یا ئې د قرآن تعلیم مهر جوړکړو.یعنی دا ئې اووئیل.چه زه به خپلې ښځې ته د قرآن پاک تعلیم ورکوم.زما د طرفه هم دا مهر دې.په دې دواړه صورتونوکښې به د شیخینو رحمهما الله په نیز مهر مثل واجب وی. (۳)

دلیله دلیل دادې.چه په عقد د نکاح کښې ابتغاء بالمال مشروع ده.د [أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ] په وجه. او د تعلیم د قرآن مال نه دې.نود قرآن د تعلیم په عوض به ابتغاء مشروع نه وی.اوهم دغه ډول (دغه شان) منافع زمونږ په اصل باندې مال نه دې.ځکه چې د تمول(مال) لپاره ضروری دی.چه په دوې (دوه) زمانوکې باقی پاتې شی.او منافع د خدمت په دوې (دوه) زمانوکې باقی نه پاتې کیږي.په دې وجه مونږ (مونږ) وایو.چه خدمت هم مال نه دې.نو په خدمت سره به هم ابتغاء مشروع نه وی.

دمجنونې په پلار،او بالغ ځوی کښې به مستحق د ولایت ځول وی!

وَإِذَا اجْتَمَعَ فِي الْمَجْنُونَةِ أَبُوهَا وَابْنُهَا فَالْوَلِيُّ فِي نِكَاحِهَا ابْنُهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رحمهما الله (۴) او هر کله چه جمع شي په مجنونه کښې د دې پلار او ځوئ نو د دې نکاح کونکې ولی د دې ځوئ دې،په نیز د امام ابوحنیفه،او ابی یوسف کښې،

حل اللغة ① المجنونة: لیونۍ

تشریح مسئله داده.چه یود مجنونه ښځې پلار دې.اود مخکښی خاوند نه ئې بالغ ځوې دې.نو ددې مجنونه ښځې د ولایت حق به چاته حاصل وی.نو د شیخینو رحمهما الله مذهب دا دې.چه د ولایت حق ځوی ته حاصل دې.

---

۱) مسلک الشافعي:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه دواړه عقدونه باطل دی.

۲) القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا في الخانية (١٧٤\١) وردالمحتار(٣٦٢\٢) والهندية (٣٠٢\١) نقلاً عن القول الراجح (٢٧٣\١)-

۳) مسلك الشافعي:- د امام شافعی رحمه الله مذهب دادې.چه تعلیم د قرآن اود آزاد اوغلام دواړو خدمت مهرجوړول صحیح دی.

۴) القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا فی فتح القدير(١٨٥\٣) والخانية (١٦٥\١) وردالمحتار(٣٤٣\٢) والبناية (٦١٥\٤) نقلاً عن القول الراجح (٢٥٩\١)_

دليلهما د شيخينو رحمهما الله دليل دادې.چه په عصبه کيدلو کښې خوې مقدم دې.لکه چه د خوی په موجودګۍ کښې پلار ته صرف شپږمه حصه ملاويږي.او خوې عصبه وی.اودا ولايت مبنی وی په عصبيت باندې.نو خوې به ولي وی.پلار به نه وی.اود شفقت د زياتوالي په باره کښې

وَقَالَ مُحَمَّدٌ رحمه الله أَبُوهَا او امام محمد رحمه الله فرمائي چه پلار ئې دې

مسلک محمد اود امام محمد رحمه الله مذهب دادې.چه د ولايت حق پلار ته حاصل دې.

دليله د امام محمد رحمه الله دليل دادې.چه په پلار کښې د خوی په مقابله شفقت زيات دې.او ددې ولايت مدار په شفقت باندې دې.نود شفقت د زياتوالي په وجه به پلار ته ولايت حاصل وی. خوی ته به حاصل نه وی.

الجواب عنه د دې نه جواب دادې.چه په ولايت کښې نفس شفقت معتبر دې.د شفقت زياتوالي معتبر نه وی.مثلاً د يوکس د موريلار(نيکه)دې.او تره ، وراره دی.نو په ولايت کښې به تره په وراره مقدم وی. حالاتکه په نيکه(د موريلار)کښې هم شفقت او محبت زيات وی.نو معلومه شوه.چه د شفقت د زياتوالي اعتبار نه کيږي.والله اعلم

د غلام او وينځې نکاح لپاره د مولا اجازت

لَايَجُوزُنِكَاحُ الْعَبْدِوَالْأَمَةِإِلَّا بِإِذْنِ مَوْلَاهُمَا جائز نه دې دَ غلام او وينځې نکاح مګر دَ دوی دَ آقا په اجازت

تشريح د دې عبارت خوبومطلب دادې.چه بغير د مولا د اذن نه دغلام اود وينځې نکاح نه منعقد کيږي.حافظ الدين هم ددې قائل دې.خوصحيح مطلب دادې.چه بغير د اذن د مولاته د غلام اود وينځې نکاح جائز اوصحيح ده.خوغير نافذ ده.ددې نفاذ به د مولا په اجازت باندې موقوف وی.که مولا اجازت ورکړو.نو نافذ به وی.اوکه اجازت ئې ورنکړو.نو نافذ به نه وی.دسعيد ابن المسيب، حسن،او ابراهيم نخعی هم دا قول دې.[1]

دليله خکه چې د وينځې د بضع منافع د مولا ملك دی.اود مولا په ملك کې دده د اجازت نه بغير هيڅ چانه د تصرف حق نشته.نود مولا داجازت نه بغير به د وينځې نکاح صحيح (نافذ) نه وی.

د مولا په اجازت د غلام په نکاح سره د مهر وجوب

وَإِذَاتَزَوَّجَ الْعَبْدُبِإِذْنِ مَوْلَاهُ هر کله چې نکاح او کړه غلام دَ خپل آقا په اجازت سره فَالْمَهْرُدَيْنٌ فِي رَقَبَتِهِ يُبَاعُ فِيهِ نو مهر به دَ غلام په رقبه کې دَين وی په کوم کې چې به دې خرڅولې شي

تشريح صورت د مسئلې دادې.که غلام د مولا په اجازت سره نکاح اوکړه.نومهر به په غلام باندې واجب وی.اوددې مهر ادا کولو لپاره به غلام خرڅولې شی.البته که ددې غلام په پوره ثمن سره پوره مهر ادانشو.نو دوباره به نشی خرڅولې.بلکه د باقی مهرمطالبه به د آزاديدلو نه روسته کولې شي.

دليله دليل دا دې.چه دمهر دين واجب شوې دې.د غلام په رقبه باندې،او هرهغه دين چې د غلام په رقبه باندې واجب وی.غلام به په هغه دين کې خرڅولې شی.نودا غلام به هم د مهر دين ادا کولو لپاره خرڅولې شی.اود نفس وجوب دليل دادې.چه سبب د وجوب،يعنې نکاح د اهل (عاقل،بالغ) نه صادر شوې ده.اوموانع د نکاح يعنی حق د مولا دده په اجازت سره منتفی شو.اود غلام په رقبه کې د واجبيدلو

---

[1] **مسلک مالک:** او پاتې شو غلام،نو امام مالك رحمه الله فرمائی.چه بغير د اذن د مولا نه د غلام نکاح جائز(نافذ) ده.

په وجه د مولا اجازت ورکول، د اصحاب دیون (قرضخواه) یعنی ښځې نه ضرر لرې کول دی. لکه څنګه چې د تجارت په دیون کې عبدماذون خرخولې شي. دغه دول (دغه شان) د ښځې مهر ادا کولو لپاره به هم غلام خرخولې شي.

د وینځې د نکاح نه روسته د مولا دخدمت حق

وَاِذَا زَوَّجَ الْمَوْلٰی اَمَتَهٗ اوهرکله چې مالك دَ خپلې وینځې نکاح او کړه فَلَیْسَ عَلَیْهِ اَنْ یُّبَوِّئَهَا بَیْتًا لِلزَّوْجِ نو په ده لازم نه دی چې میشته کړی دې لره دَ میړه (خاوند) په کور کې وَلٰکِنَّهَا تَخْدُمُ الْمَوْلٰی لیکن وینځه به دَ خپل آقا خدمت کوی وَیُقَالُ لِلزَّوْجِ مَتٰی ظَفِرْتَ بِهَا وَطِئْتَهَا او میړه (خاوند) ته به ئې وئیلې شی چې کله ته په دې قابو مومې وطئ کوه ئې

حل اللغة ① **یبوا**: اوسوی، ستوګنه ورکوی ② **ظفرت**: کامیاب شوې ته، چه موقع درته ملاویده

تشریح د، تبویه، معنی داده. چه وینځه میړه (خاوند) ته حواله کړې شي. اومولا د وینځې نه خدمت اخستل پریږدی. که وینځه میړه (خاوند) له ځې راځي. اود مولا خدمت هم کوی. نودا به تبویه نه وی.

صورت د مسئلې دادې. چه مولا د خپلې وینځې د یوکس سره نکاح اوکړله. نوپه مولا باندې وینځه ددې د میړه (خاوند) په کورکې اوسول، اوخپل دخدمت حق پرېښول (پریخودل) واجب نه دی. بلکه وینځه به د مولا خدمت کوی. او میړه (خاوند) ته به وئیلی شی. چه کله تاته موقع په لاس راځی. نو وینځې سره وطی کوه.

دلیله دلیل دادې. چه په خدمت اخستلوکې دمولا حق باقی دې. دنکاح په اجازت ورکولو سره د مولاحق نه ختمیږی. اود میړه (خاوند) په کور کې وینځه آبادولوسره د مولاحق باطلول دی. نو ددې تبویه په صورت کې د ادنی حق په وجه، د اعلی حق باطلول لازمیږی. او دا صحیح نه ده. نو په مولا باندې به تبویه هم واجب نه وی.

دشرط نه پوره کیدلو په صورت کښې د مهرمثل وجوب

وَاِنْ تَزَوَّجَ امْرَاَۃً عَلٰی اَلْفٍ عَلٰی اَنْ لَّا یُخْرِجَهَا مِنَ الْبَلْدَۃِ اَوْعَلٰی اَنْ لَّا یَتَزَوَّجَ عَلَیْهَا اُخْرٰی هر کله چې نکاح ئې او کړو دَ ښځې سره په زر درهمه په دې شرط چې دا به دَ ښار نه بهر نه بیائی یا دَ دې په موجود ګئ کې به دَ بلې ښځې سره نکاح نه کوی فَاِنْ وَفٰی بِالشَّرْطِ فَلَهَا الْمُسَمّٰی نو که میړه (خاوند) شرط پوره کړو نو دې لره به مسمی مهر وی

تشریح صورت د مسئلې دادې. که یوکس د یوې ښځې سره نکاح اوکړه. او زر روشیدې (پی) مهر ئې مقررکړو. په دې شرط چې دا به د ښار نه نه اوباسی. یا داچه ددې په موجودګئ کې به دویمې ښځې سره نکاح نه کوی. نو دا نکاح صحیح ده. اګرچه دسفر نه کولو، اود دویم واده نه کولوشرط، شرط فاسد دې. اوشرط فاسد څکه دې. چه په دې کې د امرمشروع نه منع لازمیږی. نوکه میړه (خاوند) شرط پوره کړو. نود ښځې لپاره به مسمی یعنی زر روشیدې (پی) وی.

دلیله څکه چې مسمی یعنی زر روشیدې (پی) د مهر جوړیدلو صلاحیت هم لری. اود ښځې په زر روپو باندې رضامندی هم پوره شوه. څکه چې په دې شرط کې د ښځې نفع ده. اوکه

وَاِنْ تَزَوَّجَ عَلَیْهَا اَوْاَخْرَجَهَا مِنَ الْبَلَدِ فَلَهَا مَهْرُمِثْلِهَا او که بل نکاح ئې پراو کړو یا ئې دَ ښار نه او ویستله نو دې لره به مهر مثل وی

تشريح> ميړه (خاوند) شرط پوره نکړو.نو اوس به دا کتلې شي.چه مهرمثل د مسمی نه کم دې.او که زيات يا برابر دې.که مهرمثل زيات وی.دمهرمسمی يعنی د زر روپو نه.نود ښځې لپاره به مهرمثل وی.

دليله> دليل دادې.چه ميړه (خاوند) داسې شی (څيز) ذکر کړی دې.چه په هغې کې د ښځې فائده ده.اوهم ددې نفع په وجه ښځه مهرمسمی د مهر مثل نه په کموالی راضی شوه.نوګويا د مهر نقصان ددې نفع په مقابله کې دې.نو ددې نفع د فوت کيدلو په صورت کې په زرو باندې د ښځې رضامندی معدوم شوې ده.نو ددې مهرمثل به مکمل کولې شی.

نظيره> او دا داسې شوه.لکه چې داسې ئې ونيلی وی.چه په زر روپو به زه ستا اکرام هم کوم.ياد زر روپو سره به څه هديه هم درکوم.نوکه دا د کرامت اوهديه شرط ئې پوره نکړو.نو مهرمثل به واجب وی.دغه ډول (دغه شان) دلته کې هم ده.اوکه مهرمثل د مسمی يعنی د زر روپو نه کم دې.يا برابر دې.نود شرط نه پوره کولو په صورت کې به هم مسمی يعنی زر روشيدې(پې) واجب وی.اودا شرط به د ميړه (خاوند) دطرفه تبرع(احسان) وی.

په غيرموصوف خاروی باندې نکاح کول

وَإِن تَزَوَّجَهَا عَلَىٰ حَيَوَانٍ غَيْرِ مَوْصُوفٍ که نکاح ئې او کړه دَ ښځې سره په غير موصوف خاروی باندې **صَحَّتِ التَّسْمِيَةُ وَلَهَا الْوَسَطُ مِنْهُ** نو دا مقرر کول صحيح دی او ښځې لره به منځنی (درميانه) حيوان (خاروې) وی **وَالزَّوْجُ مُخَيَّرٌ إِنْ شَاءَ أَعْطَاهَا ذَٰلِكَ وَإِنْ شَاءَ أَعْطَاهَا قِيمَتَهُ** او ميړه (خاوند) ته به اختيار وی چې که غواړی نو ښځې لره دهغه ورکړی او که غواړی نو قيمت دَ هغې دورکړی .

تشريح> مسئله داده.که يوسړی د يوې ښځې سره نکاح اوکړه.او مهر ئې داسې حيوان (خاروې) مقررکړو.چه ددې صفت بيان نکړې شو.نو زمونږ په نيز به تسميه صحيح وی.اوپه ميړه (خاوند) به واجب وی.چه دې ښځې ته منځنی (درميانه) حيوان (خاروې) ورکړی.او ميړه (خاوند) ته داهم اختيار شته.چه دې دمنځنی (درميانه) ډول (قسم) خاروی قيمت ورکړی.

مراد امام القدوری> صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلی دی.چه د قدوری ددې مسئلې مراد دادې.چه دخاروی جنس بيان کړې شو.خو وصف ئې بيان نکړې شو.مثلاً داچه نکاح ئې اوکړه.په اس باندې يا په خر باندې.نو دلته کې د خاروی جنس خو بيان شوې دې.خودا بيان نکړې شو.چه دا اس به ادنی درجې والا وی.اوکه د اعلی يا اوسط درجه والا.خو که د خاروی دسره جنس بيان نکړې شو.مثلاً په مطلق خاروی ئې نکاح اوکړه.نودا تسميه به صحيح نه وی.او مهرمثل به واجب وی.([1])

دليله> دليل دادې.چه نکاح معاوضه د مال په غيرمال ده.نومونږ (مونږ) نکاح په پيل (شروع) کې التزام دمال اوګرځولو.يعنی ميړه (خاوند) په خپل خان بغير دڅه عوضه مال لازموی.او التزام د مال په اصل جهالت سره هم نه فاسديږی.لکه مثلاً په ديت کې شريعت سل اوښان غير موصوف مقررکړی دی. او يوکس د بل کس لپاره د څه شی (څيز) اقرار اوکړو.نودا اقرار درست دې.

[1] **مسلک الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په دواړه صورتونوکې به مهرمثل واجب وی.که جنس بيان شوې وی.او که نه وی بيان شوې.

په غیر موصوف کپړه باندي نکاح کول

وَإِنْ تَزَوَّجَهَا عَلَى ثَوْبٍ غَيْرِ مَوْصُوفٍ که دَ ښځي سره ئې نکاح او کړو په غیر موصوف کپړې فَلَهَا مَهْرُ الْمِثْلِ نو ښځي لره به مهر مثل وی

تشریح> مسئله داده.که په نکاح کښې کپړې مهر مقرر کړې شی.خود کپړې وصف ذکر نکړې شی. مثلاً دا اووائی.چه په مهر کښې به کپړه ورکوم.خو ددې نوع بیان نکړی.نو په داسې صورت کښې به د آیمه اربعه په نیز مهرمثل واجب وی.وجه ددې داده.چه په دې صورت کښې نوع مجهول ده.

دلیله> ځکه چه د کپړې ډیر زیات اقسام دی.مثلاً د مالوچوکپړه، د کتان د ریښمو وغیره.نود مسمی د جهالت په وجه به مهرمثل واجب وی.

د نکاح متعه موقت حرمت

وَنِكَاحُ الْمُتْعَةِ وَالموقت بَاطِلٌ او نکاح دَ متعې او نکاح موقته باطلې دی.

تشریح> **تعریف المتعة**> متعه یوې ښځې ته [اتمتع بك كذا مدة بكذا من المال] ونیلو ته وائی.یعنی ،د مقرر مال په بدله کښې د مقررې مودې پورې نفع اخستل.تول آئمه د متعه د حرمت قائل دی.

دلیله> متعه د خیبر نه مخکښې حلال وه.خود خیبر په ورځ نبی کریم ﷺ د پاللی شوی خرو غوښه،او متعة النساء حرام کړله.بیا د فتح مکه په کال په یوم اوطاس کښې د درې ورځو دپاره حلال کړې شوه.بیا په څلورمه ورځ د قیامته پورې حرام کړې شوه.

بطلان نكاح الموقت> نکاح موقت دا ده.چه یوکس د دوه ګواهانو په موجودګئ کښې د یومعلوم مودې پورې نکاح اوکړی.مثلاً د لسو ورځو دپاره،یو کال دپاره وغیره وغیره.([1])

دلیله> دلیل دادې.چه په نکاح موقت کښې د متعه معنی موجود ده.ځکه چه د نکاح موقت مطلب هم دادې.چه څو ورځې به نفع اخلم.او په عقودو کښې د معانو اعتبار کیږی.د الفاظو نه کیږی.مثلا یوکس بل کس ته اووئیل.چه ته زما د مرګ نه پس زماوکیل ئې.نو دې به وصی شی.او که اووائی.چه ته زما دمرګ نه پس زماوصی ئې.نو وکیل به وی.یا تاسو به ونیلې وی.چه کفاله.بشرط براۃ اصیل، حواله وی.او حواله.بشرط عدم براۃ اصیل، کفاله وی.نو هرکله چه په عقودو کښې دمعانیو اعتبار کیږی.او په نکاح موقت کښې د متعه معنی اوموندې شوه.او قاعده ده.چه په کوم متعه صادق راشی.هغه باطل ده.نو نکاح موقت به هم باطل وی.

الفرق بين النكاح المتعة والموقت> په نکاح موقت او نکاح متعه کښې فرق په دوه طریقو سره دې.اول داچه په نکاح موقت کښې لفظ د تزوج ذکر وی.په متع کښې ذکر نه وی.دویم داچه په موقت کښې دشاهدینو شهادت وی.په متعه کښې نه وی.عام فقهاء د نکاح موقت د حرمت قائل دی.

عدم الفرق بين المدة الطويلة والقصيرة> علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې فرمائی.چه په نکاح موقت کښې کومه موده ذکر کیږی.که هغه اوږده وی او که کمه وی.په دواړو صورتونوکښې به د بطلان حکم وی.ځکه چه وخت محدود کول.متعه متعین کونکې دې اودا اوموندې شو.

د مولا د اجازت نه بغیر د غلام او وینځې نکاح

وَتَزْوِيجُ الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهُمَا مَوْقُوفٌ فَإِنْ اذن الْمَوْلَى جَازَ، وَإِنْ رَدَّهُ بَطَلَ دَ غلام او وینځې نکاح کول بغیر دَ اذن دَ مولی نه موقوف دې که اقاور ته اجازت ور کړو نو جائز دې او ردې کړو نو

[1] **مسلک زفر**:- امام زفر رحمه الله دجواز قائل دی.

باطل به شي وَكَذٰلِكَ اِنْ زَوَّجَ رَجُلٌ اِمْرَأَةً بِغَيْرِ رِضَاهَا اَوْرَجُلًا بِغَيْرِ رِضَاهُ دارنګ که چا (فضولي) دَ يوې ښځې نکاح بغير دَ هغې دَ رضانه او کړه يا دَ يو سړي بغير دَ هغه دَ رضا نه او دا زمونږ په نيز ده

تشريح> مسئله داده.چه د غلام او وينځې د مولا د اجازت نه بغير نکاح کول به موقوف وي.که مولا اجازت ورکړو.نو نافذ به وي.او که اجازت ئې ورنکړو.نو باطل به وي. دويم صورت دادې.چه يوسړى د بل کس نکاح بغير دده د اجازته اوکړه.ياد يوې ښځې نکاح ئې بغير ددې د اجازته اوکړه. نو زمونږ په نيز جائز ده.اود نکاح نفاذ به په اجازت باندې موقوف وي. زمونږ په نيز ضابطه داده.چه هرهغه عقد چې د فضولي نه صادرشي.او په مجلس کې څوك د ايجاب قبلولو والا موجود وي.که دا قبلونکې دويم فضولي وي.اوکه وکيل يا اصيل وي.نودا نکاح به په اجازت باندې موقوف وي. ([1])

دليله> دليل دادې.چه رکن د تصرف،يعني ايجاب اوقبول دده د اهل نه صادر شوې دې.يعني دعاقل بالغ نه، اومنسوب دې محل د عقد ارخ (طرف) ته.يعني داسې ښځې ارخ (طرف) ته منسوب دې.چه دا دمحرماتو څنې نه ده.او ددې عقد په منعقد کولو کې څه نقصان هم نشته.څکه چې دا عقد به موقوفاً منعقد وي.که مناسب اوګڼړي.نو نافذ به ئې کړي.ګڼي رد به ئې کړي.د امام شافعي رحمه الله دليل چې فضولي دحکم په اثبات باندې قادر نه وي.ددې څواب دادې.چه دلته کې حکم معدوم نه دې.بلکه د اجازته پورې موخر شوي دې.اوحکم د عقد،عقد نه موخر کيدلې شي.لکه څنګه چې په بيع، بشرط الخيار، کې کيږي.څکه چې ددې بيع لزوم او نفاذ د خيار د سقوطه پورې موخر شو. والله اعلم بالصواب

په نکاح کښې د وکالت حکم

وَيَجُوْزُ لِابْنِ الْعَمِّ اَنْ يُزَوِّجَ بِنْتَ عَمِّهٖ مِنْ نَفْسِهٖ جائز دي دَ اکا (تره) څوئي لره دا چې په نکاح کړي دَ خپل اکا (تره) لور دَ ځان سره

تشريح> صورت د مسئلې دادې.چه د تره (کاکا) خوې ولي جوړشو.اوخپله نکاح ئې د خپل اکا (تره) لور سره اوکړه.حالانکه دا جينئ صغيره ده.او دده نه علاوه بل څوك ولي هم نشته. مثلاً ده اووئيل.چه،ګواه اوسه،ما خپله نکاح فلانئ جينئ سره اوکړه. چې د فلانکي د خوى لورده، نو جائز ده. ([2])

دليله> که څوئې،پلار،تره نه وي نو د تره خوې عصبهٔ دې.ددې وجې هغه ولي جوړ شو.اود خپل ځان د طرفه اصيل شو.اوپه نکاح کښې يو سړې د دواړو طرفونه وکيل جوړيدې شي.نوکه هغه د دوؤ ګواهانو په وړاندې ((نکحت)) اووئيل نو د دواړو طرفونو نه ايجاب او قبول صحيح شو.او نکاح اوشوه.

وَاِنْ اَذِنَتِ الْمَرْأَةُ لِلرَّجُلِ اَنْ يُزَوِّجَهَا مِنْ نَفْسِهٖ فَعَقَدَ بِحَضْرَةِ شَاهِدَيْنِ جَازَ هر کله چې اجازت ورکړو يوې ښځې يو سړي ته چې دا ځانته په نکاح کړي نو دا دَ دوؤ ګواهانو په حضور نکاح اوکړه نو جائز دې

تشريح> دويم صورت دادې.چه يوې ښځې يو سړي وکيل جوړکړو.چه زما نکاح د خپل ځان سره اوکړه.وکيل د دوې (دوه) ګواهانو په موجودګئ کې عقد د نکاح اوکړو.نو دا صورت زمونږ په نيز جائز دې. ([3])

---

[1] مسلك الشافعي:- د امام شافعي رحمه الله مذهب دادې.چه د فضولي واړه (ټول) تصرفات باطل دي.

[2] مسلك الشافعي وزفر:- او امام شافعي رحمه الله هم دجواز قائل دې.خوامام زفر رحمه الله دې ته ناجائز وائي.

[3] مسلك زفر والشافعي:- د امام زفر اوامام شافعي رحمه الله په نيز ناجائز دې.

دليله دليل دادي.چه په نكاح كې وكيل صرف تعبيركوونكې او سفير وي.ذمه دار نه وي.او منافات په حقوقو كې وي.په تعبير كې نه وي.په حقوقو كې منافات دادي.چه يوكس مطالب او مطالب دواړه وي.مملك اومتملك دواړه وي.مخاصم اومخاصم دواړه وي.خو په تعبير كې منافات نشته.چه د ښځې د طرفه د مالك جوړولې والا الفاظ وائي.اود خپل طرفه د مالك جوړولو والا الفاظ وائي.

د جينۍ د پلار يا ولي د مهرضمانت اخستل

وَإِذَا ضَمِنَ الْوَلِيُّ الْمَهْرَ لِلْمَرَاةِ صَحَّ ضَمَانُهُ هر كله چې ضامن شو ولي دَ مهر نو دَ دهٔ ضامن كيدل صحيح دي

تشريح صورت د مسئلې دادي.چه ولي(پلار)د خپلې بالغې لور نكاح اوكړه.اود لور لپاره ددې د ميره (خاوند) دطرفه ضامن شو.نودا ضامن كيدل شرعاً درست دى.

دليله ځكه چې ولي د التزام مال اهل دي.اود كوم شي (څيز) اړخ (طرف) ته ئې چې التزام منسوب كړې دي.يعنى مهر،هغه قابل د التزام هم دي.ځكه چې مهر دين دي.او په دين كې كفاله اوضمان دواړه درست وي.نود ولي د بالغۀ لپاره د ميره (خاوند) دطرفه د مهرضامن كيدل صحيح دى.

وَلِلْمَرْاَةِ الْخِيَارُ فِي مُطَالَبَتِهَا زَوْجَهَا اَوْوَلِيَّهَا .دبا ښځې ته اختيار دي په مطالبه كولو كې دَ خپل ميره (خاوند) نه يا دَ خپل ولي نه

تشريح هركله چې ضمان درست دي.نو ښځې ته اختيار دي.چه دا د مهرمطالبه د خپل ميره (خاوند) نه اوكړي.يا د خپل ولي نه.

دليله ځكه چې په ټولوكفالوكې هم دغه طريقه ده.چه رب المال د مديون اووكيل دواړو نه مطالبه كولې شي.اوس كه ولي مهرښځې ته اداكړو.نوكتلې به شي.چه داضمان د ميره (خاوند) په حكم سره وو.اوكه نه وو.كه د ميره (خاوند) په حكم سره وو.نو ولي به ددې مال مهر ميره (خاوند) ته رجوع كولې شي.اوكه د حكم نه بغير وو.نو ولي ته به ميره (خاوند) اړخ (طرف) ته د رجوع حق نه وي.بلكه دا مهرادا كول به د ولي دطرفه تبرع(احسان) وي.د كفاله هم دغه طريقه ده.اود ضمان د صحت داحكم هغه وخت دي.چه كله ولي د زوجه صغيره د پاره ضامن وي.

په زوجينوكښې قبل الدخول د قاضي تفريق كول

وَإِذَا فَرَّقَ الْقَاضِي بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ فِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ قَبْلَ الدُّخُولِ هر كله چه تفريق او كړو قاضي دَ زوجينو په مينځ كې په نكاح فاسد كې مخكې دَ دخول نه فَلَا مَهْرَ لَهَا نو دَ ښځې دَ پاره مهر نه وي وَكَذَا بَعْدَ الْخَلْوَةِ او دَ غسې دَ خلوت نه نو (نه واجبيږي

تشريح صورت د مسئلې دادي.چه قاضي د فاسد نكاح په صورت كې د زوجينو په مينځ كې تفريق اوكړو.حالانكه د اوسه پورې ميره (خاوند) د ښځې سره جماع نه ده كړې.نو په دې صورت كې به مهرنه وي.نه به كل مهر وي.اونه به نصف وي.ددې په خلاف كه نكاح صحيح وي.نود ،طلاق قبل الدخول، په صورت كې به نصف مهر واجب وي.نكاح فاسد مثلاً ،نكاح بلا شاهدين، نكاح الاخت فى عدت الاخت فى الطلاق البائن،نكاح الخامسة فى عدة الرابعه او نكاح الامة على الحرة ، ده.په نكاح فاسد كې د ،تفريق قبل الدخول، په وجه د مهر.

دليله دعدم وجوب دليل دادي.چه په نكاح فاسد كې د نفس عقد په وجه مهرنه واجبيږي.ځكه چې عقد فاسد دي.البته د بضع منافعو وصولولو سره مهر واجبيږي.او ددې دليل چې د نفس عقد په وجه

مهر نه واجبیږي.د نبی کریم ﷺ ارشاد دي. [أيما امرأة نكحت بغير إذن وليها فنكاحها باطل فإن دخل بها فلها المهر بما استحل من فرجها] ،کومې ښځې چې د ولی د اجازت نه بغیر نکاح اوکړه.نو ددې نکاح باطل ده.نوکه دې ښځې سره ئې دخول کړې وی.نوددې لپاره به مهر وی.ددې دشرمګاه حلالوبه وجه، په دې حدیث کې رسول الله ﷺ بیان اوفرمائیل.چه په نکاح باطل کې د مهروجوب په دخول سره وی.په عقد اوخلوت سره نه وی.

٭اذادَخَلَ بِهَا نو که دخول ئې ورسره او کړو فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا وَلَا يُزَادُ عَلَى الْمُسَمّٰى نو دَ دې دَ پاره به مهر مثل وی کوم چې به په مسمی نه شی زیاتولې

تشریح> که په نکاح فاسدکې دښځې سره خلوت اوشو.بیا به هم د ښځې لپاره مهر نه وی.ځکه چې په نکاح صحیح کې دخلوت نه روسته مهر په دې وجه واجب وو.چه خلوت د وطی قائم مقام دې.او په نکاح فاسد کې چونکه شرعی مانع موجود دې.په دې وجه به دا خلوت فاسده وی.او خلوت فاسده د وطی قائم مقام نه وی.نو په نکاح فاسد کې به دخلوت نه روسته مهر واجب نه وی.خوکه دښځې سره دخول اوشو.نو ددې لپاره به مهرمثل وی.اودا مهرمثل به زمونږ په نیز د مسمی نه زیات نه وی. ( )[1]

دلیله> دلیل دادې.چه د بضعې منافع کوم چې وصول شوی دی.هغه مال نه دې.البته د نکاح په وخت چې کله مهرذکر کړې شو.نود بضع دغه منافع متقوم شو.نو هرکله چې په مهرمثل باندې تسمیه زیاته شوه.نو زیاتوالې به واجب نه وی.ځکه چې د مهرمثل نه د زیاتوالی تسمیه صحیح نه وی. اوکه تسمیه د مهرمثل نه کم وی.نود مسمی سره به (نه به) زیاتی واجب نه وی.ځکه چې د مهرمسمی نه د زیاتوالی لپاره تسمیه موجود نه ده.او دویمه خبره داده.چه هرکله مسمی د مهرمثل نه کم ده.نوګویا ښځه پخپل حق کمولو باندې راضی شوه.او په ښځه هیڅ اعتراض نشته

وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ او په دې باندې عدت دې وَيَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا مِنْهُ او ثابتیږی دَ دې دَ بچی نسب دده نه.

تشریح> په نکاح فاسده کښې به د تفریق نه پس په دې باندې عدت واجب وی او د نکاح فاسد په نتیجه کې که بچې پیداشو.نو دده نسب به ثابت وی.

دلیله> دلیل دادې.چه دنسب په ثابتولوکې احتیاط کولې شی.ځکه که د بچی نسب ثابت نشی.او دده څوك معلوم پلار او پرورش کونکې نه وی.نودا به ضائع شی.او دیرکرته مرګ واقع کیږی.نو ددې باوجود چې نکاح فاسد ،من وجه،ثابت ده.خود بچی ژوندی ساتلو لپاره به په ده باندې نسب مرتب کولې شی.

په مهرمثل کښې د ښځې د خاندان اعتبار کول

وَمَهْرُ مِثْلِهَا يُعْتَبَرُ بِأَخَوَاتِهَا وَعَمَّاتِهَا وَبَنَاتِ عَمِّهَا او دَ ښځې دَ مهر مثل اعتبار به ددې دَ خویندو تروړانو او ترونو دَ لونړو سره وی

حل اللغة > ① **اخوات**:جمع د اخت،خور ② **عمات**:جمع د **عمة**، د پلار خور

تشریح> مسئله داده.چه دښځې په مهرمثل کې ددې د خاندان د ښځو اعتبارکیږی.کومې ښځې چې ددې دپلار اړخ (طرف) ته منسوب دی.مثلاً خویندې،تروریانې، اود اکا (ترة) لونړه.ابن ابی لیلی په

[1] **مسلك زفر**:- د امام زفر رحمه الله رائې داده.چه مطلقاً به مهرمثل واجب وی.که دمسمی نه کم وی.او که زیات وی.

مهرمثل کې دښځې د مور، او کومې ښځې چې ددې د مور ارخ (طرف) ته منسوب دی. د هغوی اعتبار کوی. مثلاً د مورخویندې (ترورياني). د ابن ابی ليلی دليل دادې. چه مهر د ښځو د بضع قيمت دې. نود ښځې د طرفه چې کوم قرابتونه دی. په مهرمثل کې به هم دهغې اعتبار کولې شی.

دليله> دليل ① د ابن مسعود رضی الله عنه قول دې. [لها مهرمثل نسائها وهن اقارب الأب] (۱) يعنی دښځو لپاره ددې د ښځو مهرمثل دې. او هغوی دپلار قرابت دار دی. په دې قول باندې دنساء اضافت د ښځې ارخ (طرف) ته شوې دې. يعنی ددې ښځې لنډيز (خلاصه) دا چې ښځې منسوب کړې شوی دی. دې ښځې ارخ (طرف) ته. او په نسب کې پلار معتبر دې. مور معتبر نه ده.

وَلَا يُعْتَبَرُ بِأُمِّهَا وَخَالَتِهَا إِذَا لَمْ تَكُوْنَا مِنْ قَبِيْلَتِهَا او دَ مهر مثل اعتبار به نه شی کولې دَدې دَ مور دَ خورپه مهرسره هرکله چې ددې دَ خاندان نه نه وی په دې وجه چې مونږ (مونږ) بيان کړو

تشريح> د مهرمثل په پيژندلوکې به ددې ښځې دپلار قرابت دارو ښځو اعتبارکولې شی. په نسب کې چونکه د پلار اعتبارکولې په دې وجه د وينځې خوې خليفه جوړول درست دی.

دليله> دليل وړاندې تير شو. يعنی د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قول دې.

وَيُعْتَبَرُ فِيْ مَهْرِ الْمِثْلِ أَنْ يَتَسَاوَى الْمَرْأَتَانِ فِي السِّنِّ وَالْجَمَالِ وَالْمَالِ وَالْعَقْلِ وَالدِّيْنِ وَالْبَلَدِ وَالْعَصْرِ او اعتبار به کولې شی (کولې شی) په مهر مثل کې د دې چې دواړه ښځې مساوی وی په عمر کې او په ښاست کې او په مال او عقل او دين کې او په ښار کې او په زمانه کې

تشريح> صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی. چه په مهرمثل کې به ددې هم اعتبار کيږی. چه کله دوې (دوه) ښځې په عمرکې ، په جمال کې ،په مال کې ، په عقل او دين کې ، په ښار او زمانه کې برابر وی.

دليله> ځکه چې مهر مثل ددې اوصافو په اختلاف سره مختلف کيږی. دغه دول (دغه شان) د ښاراود زمانه په اختلاف سره هم مهرمثل مختلف کيږی. بعض فقهاؤبکارت کې هم د مساوات اعتبار کړې دې. ځکه چې دبکارت او ثيوبت په وجه سره هم مهرمثل مختلف کيږی. لکه چې د باکره د بضع قيمت زيات وی. اود ثيبه د بضع قيمت کم وی. حاصل داچه مهرمثل د بضع قيمت دې. اود شئ قيمت معلوميږی ددې مثل ته په کتلوسره. نو کومې ښځې چې په مهرمثل کې معتبر دی. دوی په دې ذکرشوی څيزونوکې ددې ښځې برابر کيدل پکاردی. او په متن کې د سن نه د نکاح د وخت سن مراد دې. والله اعلم

د وينځې سره دنکاح جواز اوعدم جواز

يَجُوْزُ تَزْوِيْجُ الْأَمَةِ مُسْلِمَةً كَانَتْ أَوْ كِتَابِيَّةً او جائز دې دَ وينځې سره واده کول مسلمانه وی او که کتابيه وی،

تشريح> د وينځې سره نکاح کول جائز دی. که هغه مسلمانه وی. اوکه کتابيه وی. (۲)

دليله> دليل دادې. چه دوينځې سره د نکاح جواز مطلق دې. په دې وجه چه د نکاح تقاضا مطلق ده. مثلاً [فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ] او [وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ] په دې آيتونوکښې

(۱) من الرابن عباس رضی الله عنه اخرجه ابوداود في النكاح باب ۳۱ رقم ۲۱۱۴ والترمذی في النكاح باب ۴۳ رقم ۱۱۴۵ والنسائي في النكاح باب ۶۸ رقم ۳۱۴۵ وابن ماجه في النكاح باب ۱۸ رقم ۱۸۹۱ـ

(۲) **مسلک الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله مذهب دادې. چه کتابيه وينځې سره نکاح جائز نه ده. امام مالک رحمه الله هم ددې قائل دې. او په يو روايت کښې امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دې.

مطلق ښځو سره د نکاح جواز عام خودلې شوې دې.ازادې سره وي.او که د وینځې سره وي.

د آزادې په موجودګئ کښې . وینځې سره د نکاح حکم

وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَ أَمَةً عَلَى حُرَّةٍ او نکاح د نه کوی دَ وینځې سره په حُره باندې

تشریح ﴿ که د رومبې نه آزاده ښځه په نکاح کښې موجود ده.نود وینځې سره نکاح ناجائزده.

دلائله ﴿ ① دلیل د نبی کریم ﷺ قول دې. لَا تُنْكَحُ الْأَمَةُ عَلَى الْحُرَّةِ(۱) چه د آزادې ښځې په موجودګئ کښې وینځې سره نکاح مه کوئ.په دې حدیث کښې عموم دې.خاوند که آزاد وی. او که غلام وی.راضی وی اوکه ناراضه.

② دویم دلیل عقلی دادې.چه د رقیت په وجه ځنګه سزاګانې نیمې وی.دغه شان نعمتونه هم نیمګړی وی.مثلاً آزاد ته د زنا په حدکښې چه څومره کوړې لګولې شی.رقیق ته به د دې نیمې لګولې شی.دغه حال د نعمتونو هم دې.

د وینځې په موجودګئ کښې آزادې ښځې سره د نکاح حکم

وَيَجُوزُ تَزْوِيجُ الْحُرَّةِ عَلَيْهَا او جائز دې په وینځه دَ حُرې نکاح ،

تشریح ﴿ دا مسئله د مخکنې صورت عکس دې.یعنی که د مخکښې نه وینځه په نکاح کښې موجود ده.نو آزادې ښځې سره نکاح کول جائز دی.په دې کښې هیڅ قباحت نشته.او آئمه اربعه په دې باندې متفق دی.چه د وینځې نکاح به هم باطل نه وی.

دلائله ﴿ ① د نبی کریم ﷺ ارشاد دې وَتُنْكَحُ الْحُرَّةُ عَلَى الْأَمَةِ(۲)نکاح کولې شی دَ حرې سره په وینځه باندې② دویم عقلی دلیل دادې.چه حره د محللات ځنې ده.په ټولو حالتونو کښې،د انفراد په حالت کښې هم،اود انضمام په حالت کښې هم.ځکه چه د حره په حق کښې څه داسې څیز موجود نشو.چه دا حل محلیت (محل لره حلالول) نیم کړی.په خلاف د وینځې،چه ددې په حق کښې منصف یعنی رقیت موجود دې.

تعدد ازواج

وَلِلْحُرِّ أَنْ يَتَزَوَّجَ أَرْبَعًا مِنَ الْحَرَائِرِ وَالْإِمَاءِ آزاد سړې په آزادو ښځو او وینځو کښې دَ څلورو سره نکاح کولې شی. وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ دَ دې نه دَ زیاتو سره نهٔ شی کولې.

حل اللغة ﴿ ①**الحرائر**:جمع د **حرة**: آزاده ښځه

تشریح ﴿ آزاد سړې په یووخت کښې څلورو ښځو سره نکاح کولې شی. که څلور واړه آزادې وی.او که څلور واړه وینځې وی.او که بعض آزادې وی.او بعض وینځې وی.

دلیله ﴿ دالله تعالی ارشاد دې فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ دا آیت د تعداد(شمیر) په بیان کښې نص دې.اود تعداد صراحت زیاتوالی دپاره مانع وی.نود څلورو نه زیاتې ښځې به د یو آزاد سړی دپاره حلال نه وی.ددې حضراتو په نیز په آیت کښې لفظ د ،واؤ، د ،او، په معنی کښې دې.چه د تخییر دپاره دې.اوس به مطلب داوی.چه په دې تعداد کښې هر یو عدد اختیار کړه.دوه یا درې یا څلور، ټول ټیک دی.

۹) من حديث عائشة ؓ أخرجه الدارقطني في سننه (۳۹/۴)۔
۱۰) تقدم تخريجه في الحديث السابق آنفا۔

د غلام دپاره تعدد ازواج

وَلَايَتَزَوَّجُ العبدُ أَكْثَرَمِنَ اثْنَتَيْنِ او جائز نه دی غلام لره دَ دوو نه دَ زیاتو سره نکاح کول

تشریح> په دې عبارت کښې د غلام دپاره د ازواجو د تعداد حُکم بیان شوې دې.د غلام دپاره د دوو ښځو سره نکاح جائز ده.زیاتو سره اجازت نشته. (۱)

دلیله> دلیل دادې.چه په دې خبره د ټولو اتفاق دې.چه رقیت په نعمتونو کښې تنصیف کوی.اود ښځو حلال کیدل هم د الله د طرفه نعمت دې.نو په دې نعمت کښې به هم تنصیف وی.نو هرکله چه د آزاد دپاره په یو وخت کښې څلور ښځې حلالې دی.نو ددې نصف،یعنی دوه ښځې به غلام دپاره حلال وی.اوکه غور اوکړې شی.نو واقعی په شریعت کښې نعمتونه ،متفاوت الأحوال، دی. لکه د نبوت منصب د ټولو نه اشرف وو. نود نبی کریم ﷺ دپاره نهه بیبیانې حلال کړې شوې.اود آزاد حال د غلام نه اشرف دې.نود آزاد دپاره څلور ،اود غلام دپاره دوه حلال کړې شوې.چه د حریت شرف ښکاره کړې شی.

فَإِنْ طَلَّقَ الْحُرُّاِحْدَى الْأَرْبَعِ طَلَاقًا بَائِنًا لَمْ يَجُزْلَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ رَابِعَةً نو که طلاقه کړه حُرُ یوه په څلورو کښې په طلاق بائن سره جائز نه دی ورته نکاح کول دَ څلورمې سره حَتَّى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا تر څو پورې چه د هغې عدت نه وی تیرشوې.

تشریح> ددې نه پس مصنف دا مسئله بیان کړې ده.چه آزاد سړی که خپلو څلور بیبیانو کښې کومې یوې ته طلاق بائن ورکړو.نو ترکومه پورې چه دا مطلقه بائنه خپل عدت پوره نکړی.د هغه وخته پورې به دا سړې څلورمې ښځې سره واده نه کوی.ګنې دده په نکاح کښې پنځمه ښځه جمع شی. (۲)

دلیله> ترڅوچې د طلاقې شوې عدت پوره نه وی نو تر هغه وخته پورې دا من وجه د خاوند په نکاح کښې ده اودا مسئله ده چې کله څلور بیبیانې موجود وی نو د پنځمې سره نکاح جائز نه ده.

د مالک په اجازت سره د وینځې نکاح کولو نه پس په آزادیدلو خیارفسخ

وَإِذَازوجَ الامةَ مَوْلَاهَا کله چې په نکاح ورکړه وینځه مالک د هغې ثُمَّ أُعْتِقَتْ بیا دَغه آزاده شی فَلَهَا الْخِيَارُحُرًّاكَانَ زَوْجُهَا أَوْعَبْدًا نو دَ دې دَ پاره خیار دې دَ دې خاوند آزاد وی او که غلام

تشریح> صورت د مسئلې دادې.چه وینځې د خپل مولا په اجازت سره نکاح اوکړله.بیا دا وینځه آزده کړې شوه.نو ددې وینځې خاوند که آزاد وو.اوکه غلام په دواړه صورتونو کښې به ددې دپاره ختیارعتق ثابت وی.که غواړی نکاح دې باقی اوساتی.او که غواړی فسخ دې کړی

دلیله> دلیل د عائشه رضي الله عنها حدیث دې.یعنی حضرت عائشه رضي الله عنها چه هرکله خپله وینځه حضرت بریره رضي الله عنها آزاده کړله.نو بریره رضي الله عنها ته نبی کریم ﷺ اوفرمائیل. {مَلَكْتِ بُضْعَكِ فَاخْتَارِي(۳) په دې حدیث کښې نبی کریم ﷺ د خیار ثابتولو علت ملك بضع ګرځولې دې.او په دې باره کښې ئې هیڅ فرق نه دې کړې.چه د بریره رضي الله عنها خاوند آزاد دې.او که غلام دې.نودا حدیث به د خپل اطلاق په وجه دواړو ته شامل وی.یعنی که خاوند آزاد وی.او که غلام وی.په دواړه صورتونو کښې به معتقه وینځې ته خیارعتق

---

۱) **مسلک مالک**:- امام مالک رحمه الله د آزاد پشان غلام دپاره هم د څلور اجازت ورکوی.
۲) **مسلک الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمائی.چه څلورمې سره نکاح کولې شی.
۲۲) من حدیث عائشة رضي الله عنها اخرجه الدارقطني في سننه (۳/۲۹۰) رقم ۱۷۰_

حاصل وي.

وَكَذَا الْمُكَاتَبَةُ دغه شان مكاتبه مالكه ده.

تشريح> هم دا حكم د مكاتبه وينځې دې.چه دځپلې وينځې نكاح كولې شي.خو ځپله نكاح د مولا د اجازت نه بغير نشي كولې.

د مولا د اجازت نه بغير د وينځې نكاح كولونه پس آزاديدل اود نكاح حكم

وَإِنْ تَزَوَّجَتْ أَمَةٌ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهَا او كه وينځې نكاح او كړه بغير دَ اجازت دَ مولى خپل نه ثُمَّ أُعْتِقَتْ صَحَّ النِّكَاحُ بيا آزاده شوه نو نكاح يې صحيح ده

تشريح> په عبارت كښې دوه خبرې دي.يوه داچه وينځې بغير د مولا د اجازت نه نكاح اوكړله.بيا دا وينځه آزاده كړې شوه.نودا نكاح به صحيح(نافذ) وي.دويمه داچه ددې وينځې دپاره به خيارعتق حاصل نه وي.

دليله> د نكاح د صحت دليل دادې.چه مقتضى د نكاح موجود دې.ځكه چه ركن د نكاح (ايجاب اوقبول)ددې د اهل نه صادر شوې دې.ځكه چه وينځه دعاقله بالغه كيدلو په وجه د تعبيركونكو د اهل ځنې ده. او مانع د نكاح منتفى شو.ځكه چه نفاذ د نكاح د مولا د حق په وجه ممنوع وو.اوحق د مولا په آزاديدلو سره زائل شو.نو هركله چه مقتضى موجود او مانع منتفى دې.نونكاح صحيح شوه.

وَلَا خِيَارَ لَهَا او دې لره به خيار نه وي

تشريح> اود دې اختيار نشته.

دليله> د خيار دعدم ثبوت وجه داده.چه نكاح د وينځې د آزاديدلو نه پس نافذ شوې ده.نو په آزادولو سره دملك زياتوالې نه دې متحقق شوې.نو هركله چه دخيارعلت موجود نشو.نو ددې معتقه وينځې دپاره به خيار هم ثابت نه وي.اودا داسې ده.لكه د آزاديدلو نه پس كه دې پخپله خپله نكاح كوله.نودې ته به خيارحاصل نه وي.دغه شان به دلته كښې هم حاصل نه وي.

په عقد واحد كښې حلالې اوحرامې ښځې سره د نكاح حكم

وَمَنْ تَزَوَّجَ امْرَأَتَيْنِ فِي عُقْدَةٍ وَاحِدَةٍ او چا چه نكاح كړې دوه ښځې په يو عقد كښې وَإِحْدَاهُمَا لَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا صَحَّ نِكَاحُ الَّتِي يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا او حال دا وَ چه په دغوكښې دَ يوې نكاح دَ دهٔ دَ پاره حلال نه وه نو دَ هغې نكاح به صحيح وي كومه چه دَ دهٔ دَ پاره حلاله ده وَبَطَلَ نِكَاحُ الْأُخْرَى اود بلې نكاح به باطل وي.

تشريح> يو سړى په عقد واحدكښې دوه ښځو سره نكاح اوكړه.په دې دواړو كښې يوه دده دپاره حلال ده.او يوه د نسب د قرابت،يا د رضاعت،يا په بله څه وجه حرام ده.نوددې حكم دادې.چه كومه حلال وي.دهغې نكاح به درست وي.او كومه چه حرام وي.دهغې به باطل وي.

دليله> دليل دادې.چه بطلان په قدر د مبطل وي.او مبطل صرف په يوه كښې دې.په دويمه كښې نه دې.نو په كومه كښې چه مبطل د نكاح موجود وي.دهغې نكاح به باطل وي.او په كومه كښې چه مبطل د نكاح موجود نه وي.دهغې به درست وي.

په ښځه کښې دعيب دصورت حکم

وَإِذَاكَانَ بِالزَّوْجَةِ عَيْبٌ اوکه په ښځه کښې څه عيب وی فَلَاخِيَارَلِزَوْجِهَا .نو د هغې خاوند ته د نکاح فسخ کولو اختيار نشته

تشريح﴾ مسئله دا ده.که په ښځه کښې څه عيب وی.نوزمونږ په نيزخاوند ته د نکاح فسخ کولو اختيارنشته [1]

دليله﴾ دليل دا دې.چه د مرګ په وجه د وطی فوت کيدل د نکاح دفسخ سبب نه دې.که په ښځه خاوند کښې يومړ شی.نومهرنه ساقطيږی.نوکه ددې عيبونوپه وجه په وطی کښې خلل پيدا شی.نوبه خامخا به نکاح نه فسخ کيږی.

په خاوند دجنون.برص اوجذام په صورت کښې دښځې داختيارحکم

وَإِذَاكَانَ بِالزَّوْجِ جُنُونٌ اوکله چه خاوند ته جنون وی أَوْجُذَامٌ يا جذام وی اَوبَرَصٌ يا برګي وی. فَلَاخِيَارَلَهَاعِنْدَأَبِي حَنِيفَةَوَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَااللّٰهُ [2] نود امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمهما الله په نيز ښځې ته (د نکاح فسخ کولو) اختيارنشته.

تشريح﴾ مسئله دا ده.که خاوندليوني يا پرې برص مرض وی.يامجذوم وی.نودشيخينو رحمهما الله په نيزښځې ته دنکاح فسخ کولواختيارنشته.

دليلهما﴾ دليل دا دې.چه اصل خودا دې.چه ښځې ته اختيارنه وی.ځکه که ښځې ته د نکاح فسخ کولواختيار ورکړې شی.نوبه دې صورت کښې دخاوندحق باطليږی.

وَقَالَ مُحَمَّدٌلَهَاالْخِيَارُ اوامام محمد فرمائيلي دی د دې دپاره اختيار شته

تشريح﴾ **مسلک محمد**﴾ امام محمد رحمه الله فرمائي.چه ښځې ته دنکاح فسخ کولواختيارشته.

دليله﴾ دليل قياس دې.يعنی امام محمد رحمه الله دخاوند دا مرض دده په مقطوع الذکراوعنين باندې قياس کوی.او د دواړو په مينځ کښې علت مشترکه د ښځې نه ضرر لرې کول دی. يعنی لکه ځنګه چه دمقطوع الذکراوعنين په صورت کښې دښځې نه ضرر لرې کولوپه وجه ښځې ته اختيارورکړې شوې دې.نودغه شان که خاوند په دې مرضونوکښې اخته وی.نو دښځې نه د ضرر لرې کولوپه وجه دې دې ته اختيارورکړې شی.ددې په خلاف کښې که د جذام وغيره مرضونه په ښځه کښې موجود شی.نوسړی ته اختيارنه دې ورکړې شوې.ځکه چه سړې د طلاق وغيره په ذريعه دخپل ځان نه د ضررپه لرې کولوباندې قادر دې.نوځکه ده ته د نکاح فسخ کولوداختيارضرورت نشته.

پاتې شود مقطوع الذکراوعنين په صورت کښې چه ښځې ته کوم اختيارملاؤ شوې دې.نوددې وجه دا ده.چه دا دواړه د نکاح مقصود اصلي يعنی وطی فوت کوی.اوبرص وغيره عيوب بيخي دا مقصود نه

---

[1] **مسلک الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه د پنځوعيبونو په وجه نکاح فسخ کولې شی.هغه پنځه عيبونه دا دی.① جذام ②برص يعنی هغه سپين والې چه د بدن په بعضې حصه باندې ښکاره شی.اوپه بعضې نه.اوکله کله په ټول بدن باندې ښکارېږي. ③ليونتوب يعنی دعقل زوال.④رتق يعنی چه دښځې د متيازود لارې نه سوا بله لاره نه وی. ⑤قرن يعنی چه دښځې شرمګاه د هډوکی وغيره دوجې دومره تنګه وی.چه په هغې کښې دسړی د عضوتناسل داخليدو لاره نه وی.

[2]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة وأبي يوسف رحمهما الله كذا في الخانية (١\١٨٩) وفتح القدير(٤\١٣٥) والكفاية (٤\١٣٥) ورد المحتار(٢\٦٤٨) والهندية (١\٥٢٦)نقلاً عن القول الراجح (١\٣٦٨)-

فوت کوی.نوبه مقیس یعنی لیونتوب وغیره ښځه عیبونه په مقیس علیه یعنی مقطوع الذکر اوعنین باندې قیاس کول کښې فرق شو.نو یوبل باندې قیاس کول صحیح نه دی.والله اعلم بالصواب

عنین ته د یوکال مهلت ورکول

وَإِذَا كَانَ الزَّوْجُ عِنِّينًا اوکه خاوند نامرد وی أَجَّلَهُ الْحَاكِمُ حَوْلًا نو حاکم به ده ته د یوکال مهلت ورکوی. فَإِنْ وَصَلَ فِي هٰذِهِ الْمُدَّةِ نوکه دې ښځې ته اورسیدو(صحبت نې اوکړې شو).په دې موده کښې فَلَا خِيَارَ لَهَا نود دې دپاره اختیار نشته

تشریح صورت د مسئلې دا دې.چه خاوند نامرده وی.اوښځه دهغه نه د جداوالی مطالبه کوی.نوحاکم به ورته دعلاج دپاره د یوکال مهلت ورکړی.اودیوکال ابتداء به دهغه وخت نه شروع کیږی.دکله نه چه ښځې دقاضی په عدالت کښې مقدمه درج کړې وی.اوپه دې باندې فتوی ده.نوکه په یوکال کښې دعلاج په ذریعه یا دالله تعالی په فضل دښځې سره په وطی کولوباندې قادرشو.نوالحمدالله په دې کښې څه کلام نشته.اوکه دکال نه پس هم نامرده وو.نوقاضی به دښځې په مطالبه سره د دوارو په مینځ کښې بیلتون راولی.

دلائل ① امام محمد رحمه الله په کتاب الآثار کښې روایت کړې دې. (عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه أن امرأة أتته فقالت لزوجها لا يصل إليها فأجله حولاً فلما إنقضى الحول فلم يصل إليها خيرها فاختارت نفسها ففرق عمر رضی الله عنه بينهما وجعلها تطليقة واحدة) یعنی یوه ښځه حضرت عمر رضی الله عنه ته راغله.اوعرض نې اوکړلو.چه زما خاوند ماته نه نزدې کیږی.یعنی جماع راسره نه کوی.نونبی ﷺ ورته د یوکال مهلت ورکړلو.هرکله چه یوکال تیرشو.اوهغه کس خپلې ښځې ته نشو تلې.نوحضرت عمر رضی الله عنه دغه ښځې ته اختیار ورکړلو.نوهغه ښځې خپل ځان مختاره کړلو.نوحضرت عمر رضی الله عنه په دغه دواړو کښې تفریق اوکړلو.اودغه تفریق نې طلاق بائن اوګرځولو.(عینی شرح هدایه)

② دحضرت علی رضی الله عنه نه روایت دې.چه (يؤجل العنين سنة فإن وصل إليها وإلا فرق بينهما) یعنی سړی ته به یوکال مهلت ورکولې شی.نوکه خاوند ښځې ته ورغلو یعنی وطی نې ورسره اوکړله.(نو ډیره ښه ده) ګنی د دوارو په مینځ کښې به تفریق کوی.(عینی شرح هدایه) (۱)

③ عقلی دلیل دا دې.چه په وطی کښې د ښځې حق ثابت دې.اود خاوند وطی نه کول ددې وجې هم کیدې شی.چه څه وختی عارض راغلې وی.چه په علاج کولوسره لرې کیدې شی.اودا هم کیدې شی.چه په اصلی خلقت کښې خلل وی.چه دهغې په وجه په جماع باندې قادرنه وی.اونه ترې جماع کیدې شی.نوددې خبرې معلومولودپاره چه دا بیماری اصلی ده.که عارضی ده.یوه مودۀ پکار ده.اومونږ دا موده دمهلت ورکولویوکال مقرر کړله.ځکه چه په یوکال کښې څلور فصلونه وی.سپرلې،خزان ګرمی اویخنی.

وَإِلَّا فَرَّقَ بَيْنَهُمَا ګنی حاکم به دې دواړو کښې تفریق اوکړی. إِنْ طَلَبَتِ الْمَرْأَةُ ذٰلِكَ په دې شرط چه ښځه ددې مطالبه اوکړی.

---

٦٣) اما الرواية عن عمر رضی الله عنه فاخرجه عبدالرزاق في مصنفه وابن ماجه في مصنفه والدارقطني في سننه (۳۰۵\۳ رقم۲۲۱) وأما الرواية عن علي رضی الله عنه فاخرجه ابن أبي شيبة وأما الرواية عن ابن مسعود رضی الله عنه فاخرجه أيضاً ابن أبي شيبة(نصب الراية۳\۳٦۹)۔

تشریح > **حکم عدم القدرة علی الجماع بعد سنة** > هرکله چه یوکال تیرشي.اوبیا هم دې په جماع کولوقادرنشي.نودامعلومه به شي.چه دا عجزد اصلي آفت د وجې دې.چه دهغې نه شفا موندل ناممکن دی.نودې کس امساك بالمعروف فوت کړلو.نوپه ده به د جدا کولوپه ذریعه تسریح بالاحسان واجب وی.خوچه هرکله دا کس د تسریح بالاحسان نه منع شو.نوقاضي به دده قائم مقام شي.اوپه دواړوکښې به تفریق اوکړی.چه دښځې نه ظلم لرې کړې شي.ځکه چه دقاضي منصب دخلقونه ظلم لرې کولودپاره دې.

فرقت به طلاق بائنه وی

وَالْفُرْقَةُ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ اودا فرقت به یو طلاق بائن وی

تشریح > مسئله دا ده.① چه د نامرده اودهغه دښځې په مینځ کښې چه قاضي کوم تفریق کړې وی.هغه طلاق بائن دې.امام مالك رحمه الله هم ددې قائل دې. ([1])

دلیله > دلیل دا دې.چه دقاضي فعل به خاوندته منسوب کولې شي.لکه چه خاوند ورته په خپله طلاق ورکړې دې.

وَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ اود ښځې دپاره به ددې پوره مهر واجب وی **إِنْ كَانَ قَدْ خَلَا بِهَا** که خاوند ددې سره خلوت کړې وی

تشریح > که دې نامرده سړی دښځې سره خلوت کړې وی.نودده دښځې دپاره پوره مهرواجب دې.

دلیله > دلیل دا دې.چه نامرده سړی خلوت صحیح کړې وی.نوچه ښځې د آله د وجود سره مبدل (بضع) ورته اوسپارله.نوپه خاوند باندې دهغې بدل (مهر) واجب شو.

اوکه خلوت ئې نه وی کړې.نونیم مهرواجب دې.اوچونکه دامام شافعي رحمه الله په نیزد قاضي دا تفریق فسخ دنکاح ده.نوځکه د ښځې دپاره نه مهرشته.اونه نفقه.

دخاوند د مقطوع الذکرپه صورت کښې سمدستي تفریق کول

وَإِنْ كَانَ مَجْبُوبًا اوکه خاوند مقطوع الذکر وی **فَرَّقَ بَيْنَهُمَا فِي الْحَالِ** نو په دواړوکښې به فی الحال (فوراً) تفریق کولې شي **وَلَمْ يُؤَجِّلْهُ** اوهغه ته به مهلت نه شي ورکولې

تشریح > مسئله که خاوند مقطوع الذکروی.نوقاضي به فی الحال د دواړو په مینځ کښې تفریق اوکړی.خوپه دې شرط چه ښځه دتفریق مطالبه کوی.

دلیله > ځکه چه د مقطوع الذکرنه د وطی کول ممکن نه دی.نوځکه ده ته په مهلت ورکولوکښې څه فائده نشته.

وَالْخَصِيُّ يُؤَجَّلُ او خصي ته به هم مهلت ورکولې شي. **كَمَا يُؤَجَّلُ الْعِنِّينُ** لکه څنګه چه عنین ته ورکولې شي

حل اللغة > ① **خصي**: چه هګۍ ترې ویستلې شوې وی

تشریح > آخته (چه اګۍ ئې وتلې شوی وی) ته به هم مهلت ورکولې شي.لکه څنګه چه نامرده ته ورکولې شي.

دلیله > ځکه چه دده نه هم دوطی کولوامید کیدې شي.یعنی آله تناسل موجود ده.کیدې شي.چه په څه

[1] **مسلك الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرماني.چه دا فرقت فسخ دنکاح ده.

وخت کښې په کښې د وطی کولو طاقت پیدا شي.

كه ښځه مسلمانه شي اوخاوند يې كفرباني شي

وَإِذَا أَسْلَمَتِ الْمَرْأَةُ وَزَوْجُهَا كَافِرٌ او هر كله چه ښځه مسلمانه شوه او خاوند يې كافر وه عُرِضَ عَلَيْهِ الْقَاضِي الْإِسْلَامَ فَإِنْ أَسْلَمَ فَهِيَ امْرَأَتُهُ نو قاضی به ورته اسلام وړاندي کړی که هغه اسلام راوړو نو دغه يې ښځه ده وَإِنْ أَبَى عن الاسلام فَرَّقَ الْقَاضِي بَيْنَهُمَا او كه انكاريې و كړو د اسلام قبلولو نه نو قاضی به دواړه جدا کړی

تشریح> صورت د مسئلې دادې.چه ښځه مسلمانه شوه.او ددې خاوند کافر دې.که کتابی وی.او که غیرکتابی وی.نو اوس به قاضی په خاوند باندې اسلام پیش کوی.که د قاضی په اسلام پیش کولو باندې خاوند مسلمان شو.نو دا ښځه دده ښځه ده.او نکاح به هم هغه شان قائمه وی.او که خاوند د اسلام راوړلونه انکار اوکړو.نو قاضی به په دواړوکښې تفریق کوی.

دلیله> په خاوند باندې د اسلام پیش کولو وجه دا ده چې د مسلمان نکاح د کافر سره جائز نه ده.د دې وجې دا دواړه په نکاح کښې نشي پاتې کیدې.

وَكَانَ ذَٰلِكَ طَلَاقًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رحمهما الله او وی به دا طلاق په نزد دَ طرفینو رحمهما الله

تشریح> دا تفریق د طرفینو په نیز د طلاق بائن په درجه کښې دې

دلیلهما> د خاوند دایمان نه راوړو په وجه تفریق رالو.او د خاوند د رفه تفریق د طلاق په درجه کښې دې.نو د دې وجې تفریق به د طلاق بائن په درجه کښې وی.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ هُوَ الْفُرْقَةُ بِغَيْرِ طَلَاقٍ او امام ابویوسف رحمه الله وائی چه دا نې جدائی شوه بغیر د طلاق نه

تشریح> **مسلک ابي یوسف**> او د امام ابویوسف په نیز د فرقت او فسخ په درجه کښې دې.

دلیله> په دې تفریق کښې ښځه خاوند دواړه شریک دی.نو دا طلاق نشو بلکه د نکاح فسخ ده.صحیح قول د طرفینو دې.

وَإِنْ أَسْلَمَ الزَّوْجُ وَتَحْتَهُ مَجُوسِيَّةٌ او كه اسلام راوړو خاوند او ښځه يې مجوسی وه عَرَضَ عَلَيْهَا الْقَاضِي الْإِسْلَامَ فَإِنْ أَسْلَمَتْ پیش به کړي قاضی په دې باندې اسلام که مسلمانه شوه فَهِيَ امْرَأَتُهُ نو وی به دَ ده ښځه وَإِنْ أَبَتْ فَرَّقَ الْقَاضِي بَيْنَهُمَا او كه انكار يې او كړو جدائی به راولی قاضی دَ دوی به مینځ کښې وَلَمْ تَكُنِ الْفُرْقَةُ طَلَاقًا ()او دا فراقت به طلاق نه وی دَ دوی په مینځ کښې

تشریح> دویم صورت دادې.چه خاوند مسلمان شو.او دده په نکاح کښې مجوسیه ده.نو قاضی به په مجوسیه ښځه باندې اسلام پیش کوی.که دې اسلام راوړلو.نودا دده ښځه ده.نکاح به هم هغه شان باقي وی.او که د اسلام راوړلو نه نې انکار اوکړلو.نو قاضی به په دواړوکښې تفریق کوی.اودا فرقت به طلاق نه وی.بلکه فسخ د نکاح به وی. اودا تفریق د طرفینو رحمهما الله په نیز طلاق دې.فسخ نه ده.

دلیلهما> د طرفینو رحمهما الله دلیل اوپه دواړو صورتونوکښې وجه د فرق داده.چه د ،اباء عن الاسلام، په وجه خاوند د امساك بالمعروف نه منع شو.حالانکه په اسلام قبلولوسره دې په امساك بالمعروف باندې

---

[1] القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في الخانية (٢٦٨\٢) ومجمع الأنهر(٣٧١\١) والدرالمختار (٤٢٣\٢) الهندية (٣٣٨\١) نقلاً عن القول الراجح (٢٩٨\١)-

قادر وو.اود شریعت اصول دی.که خاوند د امساك بالمعروف نه منع شي.نو قاضي به ،تسریح بالاحسان،کښي دخاوند قائم مقام وي.او تسریح نوم دي.د طلاق.نود قاضي دا تفریق به طلاق وي.لکه څنګه چه د ،مقطوع الذکر،اود ،عنین، په صورت کښي د ښځې په مطالبه باندې قاضي تفریق کوي.اودا تفریق طلاق وي.دغه شان دلته کښي د سړي د طرفه تفریق طلاق دې.

مسلك ابي يوسف امام ابویوسف‌رحمه‌الله فرمائي.چه په دوارو صورتونو کښي به تفریق طلاق نه وي.(برابره خبره ده.که خاوند د اسلام راوړلو نه انکار اوکړي.او که ښځه انکار اوکړي)بلکه فسخ د نکاح به وي. ددې تفریق په فسخ منلو کښي فائده داده.چه د تفریق نه پس به هم په شمیر د طلاق کښي کمي نه راځي. تردې که د آخر د مسلمانیدلو نه پس ئې په دویم ځلی نکاح اوکړله.نو خاوند به د درې طلاقو مالك وي.او دچا په نیز چه فرقت طلاق دې.د هغوي په نیز د دویم ځلی نکاح نه پس به د دوه طلاقونو مالك وي.د فرقت په وجه سره به یوکم شي.

دلیله څکه چه دوي فرمائیلي وو.چه تفریق په دواړه صورتونو کښي طلاق نه دې.بکله فسخ ده.د امام ابویوسف‌رحمه‌الله د قول وجه داده.چه فرقت په داسې سبب سره واقع شو.چه په هغې کښي زوجین دواړه شریك دی.یعني په دې دواړو کښي د هریو دطرفه متحقق دې.مطلب داچه یو مسلمان شو.اوبل د اسلام راوړلو نه انکار اوکړلو.نو هله فرقت واقع شو.اوهر هغه فرقت چه په داسې سبب سره وو.چه په هغې کښي ښځه اوسړې دواړه شریك وي.طلاق نه وي.مثلاً ،احد الزوجین، د بل مالك شو.نو په دې وجه چه کوم فرقت وي.هغه به طلاق نه وي.بلکه فسخ د نکاح به وي.

فَإِنْ كَانَ قَدْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ که چرې دخول ئې ورسره کړې وو نو ښځې لره به کامل مهر وي

تشریح د ښځې د اسلام راوړلو نه د انکار کولو په وجه چه هرکله قاضي تفریق اوکړو. نو که دخول ئې کړې وو.نود ښځې دپاره به پوره مهرواجب وي.

دلیله څکه چه د دخول په وجه مهرموکد شو.

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ دَخَلَ بِهَا او که دخول ئې ورسره نه وه کړې فَلَا مَهْرَ لَهَا او که دخول ئې نه وی کړې.نود ښځې دپاره به مهر نه وي.

تشریح، دلیله څکه چه فرقت د ښځې د طرفه واقع شو.اوعدم دخول په وجه مهرموکد شوې هم نه دې.نودا د ردت او،مطاوعت ابن زوج، مشابه شو.یعني ښځه مرتده شوه .،العیاذ بالله، یائې د خپل خاوند خوي ته پخپل خان باندې قدرت ورکړلو.نوکه دا ،بعد الدخول، وي.نود ښځې دپاره به کامل مهروي.څکه چه د دخول په وجه مهرموکد شوې دې.او که قبل الدخول وي.نوددې دپاره به مهرنه وي.والله اعلم

که په دارحرب کښي ښځه مسلمانه شي.اوخاوند کافر وي

وَإِذَا أَسْلَمَتِ الْمَرْأَةُ فِي دَارِ الْحَرْبِ او هر کله چه اسلام راوړو ښځې په دار الحرب کښي لَمْ تَقَعِ الْفُرْقَةُ عَلَيْهَا حَتَّى تَحِيضَ ثَلَاثَ حِيَضٍ نو فرقت نه واقع کیږي په دې باندې تر دې چه درې حیضونه ئې راشي فَإِذَا حَاضَتْ بَانَتْ مِنْ زَوْجِهَا بیا چې کله حائضه شي نو د خپل خاوند نه بائنه شي

تشریح صورت د مسئلې دادې.چه په دارحرب کښي یوه ښځه مسلمانه شوه.اوددې خاوند کافردې.اودده په نکاح کښي مجوسیه ښځه ده.نو دزوجینو په مینځ کښي تفریق نشي کولې.تردې پورې چه دا ښځه درې حیضه تیرکړي.او که د ذوات الحیض څنې نه وي.نوچه درې میاشتې تیرې

کړي.بيا د درې حيضه يا درې مياشتې تيريدلو نه پس به فرقت واقع شي.اودا ښځه به دخپل خاوند نه بائنه شي.داخبره په ذهن کښې ساتئ.چه دفرقت واقع کيدلونه پس دې بيادعدت دپاره نوردرې حيضه يادرې مياشتې تيرې کړي.(عينی شرح هدايه)

دليله> اسلام راوړل د فرقت سبب نشي کيدلې.لکه څنګه چه په مخکښې مسئله کښې معلومه شوه.اوچونکه په دارحرب کښې مسلمانانو ته ولايت هم حاصل نه دې.په دې وجه په دارحرب کښې کافر باندې اسلام پيش کول هم محال دی.اود فساد لرې کولودپاره فرقت کيدل هم ضروری دی.(فساد دادې.چه مسلمانه دکافر په نکاح کښې وی)نوهرکله چه د فرقت سبب،يعنی اباء عن الاسلام مقدر منل متعذر شو.نومونږ د فرقت شرط(يعنی درې حيضه تيريدل،که د ذوات الحيض څنې وی.يا درې مياشتې تيريدل،که د ذوات الحيض څنې نه وی)د فرقت د سبب قائم مقام جوړکړلو.

نظيره> لکه دکوهی په کنستلوکښې.صورت دادې.چه يوسړی په عامه لاره کښې ،ياد غير په ملک کښې کوهی اوکنستلو.بيا په دې کښې سړې يا څاروې پريوتلو.او مړشو.نو کنستونکې ضامن دې.څکه چه په کوهی کښې د غورزيدلو علت،د غورزيدونکی دروندوالې اوبوجهـ دې.خو دروندوالې سبب نه جوړيږی.څکه چه دا امرطبعی دې.په دې کښې هيڅ تعدی نشته.اود غورزيدلو سبب مشی(تلل) دی.خو مشی سبب جوړول هم محال دی.څکه چه په لاره کښې تلل مباح دی.نود غورزيدلو شرط(کوهی کنستل) به دسبب قائم مقام جوړولې شی.اوصاحب شرط، يعنی کوهی کنستونکې به ضامن ګرځولې شی.دغه شان دلته کښې هم د فرقت شرط د فرقت دسبب قائم مقام دې.

وَإِذَا أَسْلَمَ زَوْجُ الْكِتَابِيَّةِ هر کله چه دَ کتابيه خاوند اسلام راوړو فَهُمَا عَلَى نِكَاحِهِمَا نو دغه دواړه به پخپل نکاح وی

تشريح> اوکه دکتابيه خاوند مسلمان شو.نودا دواړه به په خپله زړه نکاح باندې باقی پاتې وی.

دليله> څکه چه د مسلمان سړی اودکتابيه ښځې په مينځ کښې ابتداءً نکاح صحيح ده.نو بقاء به په درجه اولی صحيح وی.څکه چه بقاء د ابتداء نه آسانه ده.

په زوجينوکښې د يوکس يا د دواړو د ګرفتارئ په صورت کښې دجدائی حکم

وَإِذَا خَرَجَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ إِلَيْنَا مِنْ دَارِ الْحَرْبِ مُسْلِمًا هر کله چه يو دَ زوجينو دَ دارالحرب زمونږطرف ته رااوځی مسلمان شوی وَقَعَتِ الْبَيْنُونَةُ بَيْنَهُمَا نو په دوی کښې بينونت واقع شو

تشريح> په دې عبارت کښې د مسئلې يو صورت بيان شوې دې
که ،احد الزوجين،مسلمان شو.اود دارحرب نه داراسلام ته راغلو.نو په دې دواړوکښې بينونت واقع شي. (۱)

وَلَوْ سُبِيَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ اوکه ګر فتار کړې شو يو دَ زوجينو نه وَقَعَتِ الْبَيْنُونَةُ بَيْنَهُمَا نو په دوی کښې به بينونت واقع شی

تشريح> په دې عبارت کښې دويم صورت بيان شوې دې . چه ،احد الزوجين، ګرفتار کړې شو.نو په دې صورت کښې به بالاتفاق بينونت واقع شی.

وَإِنْ سُبِيَا مَعًا او که دواړه يو ځای ګرفتار کړې شو لَمْ تَقَعْ نو بينونت به واقع نه وی

تشريح> دريم صورت دادې.چه زوجين دواړه ګرفتار کړې شو.نو په دې صورت کښې بينونت نه واقع

---

۱ د امام شافعی رحمه الله په نيز په دې صورت کښې بينونت نه واقع کيږی.

کیږي. (١) حاصل د کلام دادې چه د بینونت سبب زمونږ په نیز د زوجینو په مینځ کښې حقیقتاً اوحکماً تباین دارین دې.گرفتاری نه ده. (٢)

دلیله> دلیل دادې چه تباین د دارینو حقیقتاً اوحکماً د مصلحتونو د انتظام منافی دې.اوکوم څیز چه د مصلحتونو د انتظام منافی وی.هغه نکاح قطع کوی.لکه محرمیت شو.نو تباین د دارینو به نکاح قطع کوی.حقیقتاً تباین د دارینو دادې چه په دې دواړوکښې شخصی تباعد اوموندې شی.یعنی یو به دارحرب کښې وی.او بل په داراسلام کښې وی.اود تباین حکمی نه مراد دادې چه کوم کور ته یوکس داخل شی. دهغې نه ئې د واپس کیدلو اراده نه وی.بلکه د اوسیدلو او ایساریدلو اراده ئې وی.تر دې پورې د مذهب اثبات دې.

د مهاجري ښځې داراسلام ته په راتللونکاح کول

وَإِذَا خَرَجَتِ الْمَرْأَةُ إِلَيْنَا مُهَاجِرَةً هر کله چه راأووتله ښځه زمونږ طرف ته هجرت کوونکې جَازَ لَهَا أَنْ تَتَزَوَّجَ فِي الْحَالِ نو جائزدی د هغې دپاره في الحال چه هغه نکاح او کړی فَلَا عِدَّةَ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله (٣) او په دې عدت نشته په نزد دَ امام ابوحنیفه رحمه الله

تشریح> صورت د مسئلې دادې چه یوې ښځې د دارحرب نه داراسلام طرف ته هجرت اوکړو.او راغله.برابره خبره ده.چه دا ښځه مسلمانه وی.اوکه ذمیه وی.اود واپس کیدلو اراده هم نه لری.نودې مهاجرې ښځې سره د امام صاحب رحمه الله په نیزنکاح جائز ده.او په دې باندې عدت واجب نه دې.

دلیله> دلیل دادې.چه عدت د تیرې نکاح اثر دې.چه دا د ملك نکاح د احترام ښکاره کولودپاره واجبیږی.اوحال دادې.چه د حربی سړی د نکاح د ملك هیڅ احترام نه وی.نو په دې مهاجرې باندې به هم عدت واجب نه وی.اوچونکه د حربی د ملك نکاح هیڅ احترام نه وی.په دې وجه به بالاتفاق په دې ښځه باندې عدت واجب نه وی.کومه چه گرفتاره شوې ده.

مسلك الصاحبين> د صاحبینو رحمهما الله په نیز په دې باندې عدت واجب دې.

دلیلهما> دلیل دادې.چه په داراسلام کښې داخلیدلونه پس فرقت واقع شوې دې.اوهر هغه فرقت چه په داراسلام کښې واقع شی.په هغې باندې د اسلام احکام لازمیږی.اوعدت هم د اسلام د احکاموځنې دې.نو په دې مهاجرې ښځې باندې به عدت واجب وی.خوکه حربی په دارحرب کښې خپلې ښځې ته طلاق ورکړو.بیا دې ښځې داراسلام طرف ته هجرت اوکړو.نو بالاتفاق به په دې باندې عدت واجب نه وی.

فَإِنْ كَانَتْ حَامِلًا او که دغه ښځه حامله وی لَمْ تَتَزَوَّجْ حَتَّى تَضَعَ حَمْلَهَا (٤) نو نکاح به نه کوی تر دې چه حمل ئې پیداشی

---

١) **مسلك الشافعي:-** په دې دریم صورت کښې د امام شافعی رحمه الله په نیز بینونت نه واقع کیږی.

٢) د امام شافعی رحمه الله په نیز د بینونت سبب گرفتاری ده.تباین دارین نه دې.امام مالك او امام محمد رحمهما الله هم ددې قائل دی.

٣) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (١\١٦٩) وردالمحتار(٢\٤٢٥) والهندية (١\٣٣٨) وملتقى الأبحر(١\٣٧٢) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٠٠)-

٤) القول الراجح هو ظاهر الرواية كذا في فتح القدير(٣\٢٩٦) والعناية (٣\٢٩٦) وردالمحتار(٢\٤٢٥) ومجمع الأنهر(١\٣٧٢) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٠١)-

تشريح﴿ مسلك محمد﴾ كه دامهاجره ښځه كه حامله وي.نود وضع حمل نه به وړاندې نكاح نه كوي.دا قول امام محمدرحمه الله د امام ابوحنيفه‌رحمه الله نه روايت كړې دې.

دليل الامام﴾ دليل داده .چه حمل دغير نه ثابت النسب دې.نود كوم نسب په حق كښې چه فراش ښكاره شو.نود نكاح نه د منع په حق كښې به هم احتياطاً فراش كيدل ښكاره شي.يعني دا مهاجره حامله د خپل كافرخاوند صحيح فراش دې.نو ددې سره وطي نشي كولې.اوچونكه احتياطاً د نكاح نه د منع په حق كښې هم فراش كيدل ښكاره شو.نو ددې سره نكاح هم نشي كولې.

رواية ابي يوسف﴾ او دويم قول چه دا امام ابويوسف‌رحمه الله اوحسن بن زياد د امام صاحب‌رحمه الله نه روايت كړې دې.هغه دادې.چه دې مهاجرې حاملې سره نكاح درست ده.خود وضع حمل نه به وړاندې وطي نه كوي..

د ارتداد په صورت كښې د زوجين په مينځ كښې جدائي

وَإِذَاارْتَدَّأَحَدُالزَّوْجَيْنِ عَنِ الْإِسْلَامِ او هر كله چه احد الزوجين مرتد شو (يعني د اسلام نه اوګرځيدو) **وَقَعَتِ الْبَيْنُونَةُ بَيْنَهُمَا** نو جدا والي واقع شو په مينځ د دواړو كښې **بِغَيْرِطَلَاقٍ** بغير د طلاقه

تشريح﴾ صورت د مسئلې دادې.كه ،احد الزوجين، د اسلام نه مرتد شو..العياذ بالله،نو په دواړو كښې به في الحال فرقت واقع شي.برابره خبره ده.كه خاوند د ښځې سره دخول كړې وي.او كه دخول ئې نه وي كړې.دا دَ امام ابوحنيفه‌رحمه الله او د ابويوسف رحمهما الله په نزد دي.(¹)

دليل ابي يوسف﴾ دامام ابويوسف‌رحمه الله دليل هغه دې.كوم چه په ،اباء عن الاسلام،كښې تيرشو.يعني فرقت په داسې سبب سره واقع شو.چه په هغې كښې زوجين شريك دې.اوطلاق ضرف د خاوند دطرفه وي.د ښځې په دې كښې څه دخل نه وي.نود ارتداد په وجه چه كوم تفريق وي.هغه به طلاق نه وي.بلكه فسخ د نكاح به وي.

مسلك محمد﴾ د ردت په وجه چه كوم فرقت اوشو.د شيخينو رحمهما الله په نيز دا فرقت طلاق نه دې. بلكه فسخ ده.اود امام محمدرحمه الله په نيز كه ردت د خاوند دطرفه وي.نودا فرقت به طلاق وي. ګنې نه به وي.

دليله﴾ امام محمدرحمه الله مرتد كيدل،د خاوند په ،اباء عن الاسلام، باندې قياس كوي.يعني كه ښځه مسلمانه شوه.اوخاوند د اسلام راوړلو نه انكار اوكړلو.نودا به دخاوند دطرفه طلاق وي.دغه شان د خاوند مرتد كيدل به هم د خاوند د طرفه طلاق وي.اود مقيس اومقيس عليه په مينځ كښې جامع هم دغه دې.كوم چه مونږ بيان كړلو.يعني لكه څنګه چه خاوند د اسلام راوړلوته انكار كولو په وجه د امساك بالمعروف نه منع شو.حالانكه دې په دې قادر وو.نو قاضي به په ،تسريح بالاحسان، كښې دده قائم مقام وي.او تفريق به كوي.اودا تفريق به طلاق وي.دغه شان د ردت په وجه خاوند د ،امساك بالمعروف، نه منع شو.نو قاضي به په ،تسريح بالاحسان،كښې دده قائم مقام وي.

الفرق بينهما عندابي حنيفة﴾ امام‌ابوحنيفه‌رحمه الله په،اباء عن الاسلام، او ارتداد كښې فرق كړې دې.څكه چه د خاوند د ،اباء عن الاسلام ، په وجه چه كوم فرقت دې.هغه ئې طلاق ګرځولې دې.اود ارتداد په وجه چه كوم فرقت دې.هغه ئې طلاق نه دې ګرځولې.په دې دواړو كښې وجه دفرق داده.چه ردت د نكاح منافي دې.څكه چه ردت د نفس اود مال د عصمت(حفاظت) منافي دې.څكه چه د مرتد ځان اومال

¹) القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا في فتح القدير(۲۹۷\۳) والكفاية (۲۹۷\۳) والدرالمختار (۴۲۵\۲) والبحرالرائق (۳۷۳\۳) والدرالمنتقى (۳۷۲\۱) نقلا عن القول الراجح (۳۰۲\۱)۔

مباح دي.كه دي چا قتل كړلو.نو په قاتل به قصاص يا ديت واجب نه وي.اود مرتد ملك اونكاح باطليږي.او پاتې شو طلاق،نودا دنكاح منافي نه دي. ځكه چه طلاق د نكاح د تحقق نه پس نكاح اوچتونكې دي.هم دا وجه ده.كه خاوند د طلاق نه پس نكاح كول اوغواړي.نو نكاح كولې شي.نو حاصل داچه طلاق د نكاح منافي نه دي.او مرتد كيدل د نكاح منافي دي.نو ردت طلاق ګرځول محال دي.

فَإِنْ كَانَ الزَّوْجُ هُوَ الْمُرْتَدُّ نو كه خاوند مرتد وو وَقَدْ دَخَلَ بِهَا او يقينا ده دخول كړې وو په هغې باندې فَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ نو ښځې لره به ټول مهر وي كه دخول ئې ورسره كړې وو

تشريح كه زوج مرتد وي او ارتداد د دخول نه پس شوې وي نو په دې صورت كښې به د ښځې دپاره كامل مهر وي

دليله ځكه چې د صحبت په وجه مهر مؤكد شوې دې كوم چې په هيڅ صورت كښې نشي ساقط كيدې.

وَإِنْ لَمْ يَدْخُلْ بِهَا اوكه دخول ئې ورسره نه وو كړې فَلَهَا نِصْفُ الْمَهْرِ او كه دخول ئې نه وي كړې ورسره نو د دې دپاره نيم مهر دې

تشريح اوكه د ارتداد نه وړاندې ئې دخول نه وي كړې نو په دې صورت كښې به نيم مهر وي

دليله په دې صورت كښې به ورته نيم مهر ځكه ملاويږي چې دا فرقت د دخول نه وړاندې د طلاق سره مشابه شو.اوپه دغه صورت كښې نيم مهر دې نودغه شان به دلته هم نيم مهر وي.

وَإِنْ كَانَتْ هِيَ الْمُرْتَدَّةُ او كه مرتده ښځه وه فَإِنْ كَانَ قَبْلَ الدُّخُولِ كه چرته د دخول نه وړاندې وي فَلَا مَهْرَ لَهَا نو د دې دپاره مهر نشته

تشريح اوكه ښځه مرتده شوې وي نوكه د ارتداد نه وړاندې دخول نه وو شوې نو دې دپاره مهر نشته.

دليله هركله چې ښځه مرتده شوه نو د فرقت سبب د دې د طرفه موجود شوې دې او هغې مال هم نه دې وركړې نو ځكه به ورته نيم مهر هم نه ملاويږي.

وَإِنْ كَانَتِ الرِّدَّةُ بَعْدَ الدُّخُولِ اوكه ردت د دخول نه پس وو فَلَهَا الْمَهْرُ نو دَ دې دَ پاره به ټول مهر وي

تشريح اوكه ارتداد د دخول نه پس وي نو په دې صورت كښې دې دپاره پوره مهر دې.

دليله چونكه په دې صورت كښې دې مال حواله كړې دې نو ځكه به ورته پوره مهر ملاويږي.

د زوجينو د يوځائې مرتد كيدلو نه پس يا يوځائې مسلمانيدل

وَإِذَا ارْتَدَّا مَعًا ثُمَّ أَسْلَمَا مَعًا او كله چه دواړه يو ځائې مرتد شو بيا دواړه يو ځائې مسلمانان شو فَهُمَا عَلَى نِكَاحِهِمَا نو دواړه پخپل نكاح دي استحسانا

تشريح زوجين يوځائې مرتد شول.بيا يوځائې مسلمانان شول.نودا دواړه به په خپله نكاح باقي پاتې وي.د نكاح د تجديد ضرورت به نه وي.دا قول استحسانا دې

دليله دليل (اودا وجه د استحسان ده)حديث دې.حاصل داچه د بنوحنيفه(چه دا د مسيلمه كذاب د قوم يوه وړه شان قبيله ده)خلق د زكاة د انكار كولو په وجه مرتدشو.بيا خليفة المسلمين حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه دوی طرف ته د صحابه كرامو رضي الله عنهم يولښكر اوليګلو.نو دوی ټول مسلمانان شول.خوصحابو رضي الله عنهم دوی ته د نكاح د تجديد حكم ورنكړو.په دې باندې دټولو صحابو رضي الله عنهم اتفاق وو.نود صحابو رضي الله عنهم اجماع شوه.اود اجماع په وجه قياس پريخودلې شي.

الاشکال> خو که څوك اشکال اوکړي.چه ددوی ارتداد په یو وخت نه وو.نوپه دې واقعه سره استدلال څنګه صحیح کیږي؟

الجواب> جواب دادې.چه د تقدم او تاخر په باره کښې تاریخ مجهول شو.نوهم دا به ونیلې شي.چه په یو وخت کښې مرتد شوي وو.

د مرتد مسلمانې یا کافرې سره نکاح کول

وَلَايَجُوزُاَنْ يَتَزَوَّجَ الْمُرْتَدُّ مُسْلِمَةً وَلَامُرْتَدَّةً وَلَاكَافِرَةً او جائز نه دی دا چه نکاح او کړي مرتد دَ مسلمانې سره او نه دَ مرتدې سره او نه دَ کافرې سره

تشريح> صورت د مسئلې دادې.چه دمرتد دپاره اجازت نشته.چه دې مسلمانې ښځې، یاکافرې ښځې، یا مرتده ښځې سره نکاح اوکړي.

دليله> دلیل دادې.چه مرتد د نفس ردت په وجه واجب القتل دې. ځکه چه د نبی کریم ﷺ قول دی.[من غیّر دینه فاقتلوه] یعنی کوم کس چه خپل دین بدل کړلو.دا قتل کړئ.

وَكَذٰلِكَ الْمُرْتَدَّةُ لَايَتَزَوَّجُهَا مُسْلِمٌ وَلَاكَافِرٌ وَلامرتد دغه شان دَ مرتدې سره به نه مسلمان نکاح کوی او نه کافراونه مرتد

تشريح> اودغه شان مرتده سره به نه مسلمان نکاح کوی.نه کافراو نه مرتد.

دلائله> ① دلیل دادې.چه مرتده محبوس کولې شي.چه داغور اوفکر اوکړي.اوخپل شبهات لرې کړي.اود خاوند خدمت به دا دغور اوفکر نه غافله کړي.په دې وجه ددې په حق کښې نکاح مشروع نه کړې شوه.

② دویم دلیل دادې.چه د نکاح مصالح ددوی دواړو په مینځ کښې نه حاصلیږي.اونکاح لذاته نه ده مشروع شوې.بلکه د نکاح د مصلحتونو دپاره مشروع شوې ده.د نکاح مصلحتونه مثلاً سکنی، ازدواج، توالد اوتناسل وغیره.

په ښځه خاوند کښې که یوکس مسلمان وی.نو د بچې د دین حکم

واذاكَانَ اَحَدُالزَّوْجَيْنِ مُسْلِمًا هرکله چې که یو په زوجینو کښې مسلمان وی فَالْوَلَدُعَلٰى دِيْنِهٖ نو بچې دَ ده په دین وی وَكَذٰلِكَ اِنْ اَسْلَمَ اَحَدُهُمَا او دارنګ که په دوی کښې یو مسلمان شو وَلَهُ وَلَدٌصَغِيْرٌ او دده ورکې بچې وو صَارَوَلَدُهُ مُسْلِمًا بِاِسْلَامِهٖ نو بچې به دَ ده اسلام په وجه سره مسلمان وی

تشريح> صورت د مسئلې دادې.که .احد الزوجین.مسلمان وی.نو بچې به په دین اسلام باندې وی.په دې باندې د ائمه اربعه ﷺ اجماع ده.ددې صورت دادې.چه زوجین کافران دی.بیا ښځه مسلمانه شوه.یا سړې مسلمان شو.ددې نه پس په آخر باندې د اسلام پیش کولونه وړاندې بچې پیدا شو.نو اوس به داماشوم په دین کښې د مسلمان تابع وی.په دې شرط چه ماشوم او په.احد الزوجین، کښې چه کوم یوکس مسلمان دې.دواړه په یوکور کښې وی.اوکه په کورونوکښې تباین وی.په دې طریقه چه مسلمان پلار په داراسلام کښې وی.او بچې په دارحرب کښې وی.یا ددې په عکس وی.نو بچې به د خپل پلار د اسلام په وجه مسلمان نشی شمارلې.دویم صورت دادې.چه احد الزوجین مسلمانان شو.او دده یوصغیر بچې دې.نودا بچې به د احدالزوجین د اسلام په وجه مسلمان وی.

دليله> دلیل دادې.چه دا ماشوم د مسلمان تابع جوړولوکښې په ده باندې شفقت دې.په دنیاکښې هم، او په آخرت کښې هم.په دنیاکښې خودا چه دده سره به دکافرانو پشان سلوك نشی کولې.اود مرګ نه

پس به د مسلمانانو په قبرستان کښې دفن کولې شي.او په اخرت کښې داچه د جهنم د عذاب نه به نجات بیا مومي.

وَلَوْكَانَ أَحَدُالابوين كِتَابِيًّا وَالْآخَرُ مَجُوسِيًّا او كه په دوی كښې يو كتابی وو او بل مجوسی وو فَالْوَلَدُ كِتَابِيٌّ نو بچي كتابی دي

تشريح> او كه په زوجينو كښې يوكس كتابی او بل كس مجوسي يا بت پرست وی.نو بچې به د كتابی تابع وی.تردې چه دده ذبيحه به حلال وی.اود مسلمان سره به دده نكاح جائز وی. (۱)

دليله> دليل دادې.چه بچې د كتابی په تابع جوړولو كښې هم په بچی باندې يوقسم شفقت دې.ځكه چه مجوسی كيدل،د كتابی كيدلو نه زيات بدتر دی.لكه چه په دنياكښې د كتابی ذبيحه حلاله ده.اود كتابيه سره د مسلمان نكاح درست ده.اوپه آخرت كښې به د اهل كتابو عذاب دمجوسو نه كم وی.

د متن تعريف

وَإِذَاتَزَوَّجَ الْكَافِرُ بِغَيْرِشُهُودٍ او هر كله چه نكاح او كړه كافر د ګواهانو نه په غير أَوْفِي عِدَّةِ كَافِرٍ يا د كافر په عدت كښې وَذَٰلِكَ فِي دِينِهِمْ جَائِزٌ او دا د دوی په دين كښې جائز وه ثُمَّ أَسْلَمَا بيا دواړه مسلمانان شول أُقِرَّا عَلَيْهِ نو په دغې نكاح به ساتلې شي

تشريح> يوكافر د كافرې ښځې سره بغير د ګواهانو نه نكاح اوكړله.يا د يوكافر په عدت كښې وه.دهغې سره ئې نكاح اوكړله.اودا ددوی په دين كښې جائز هم دی.بيا دواړه مسلمانان شو.نوپه دې باره كښې د امام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دادې.چه دواړه به په تيرشوی مذهب باندې باقي ساتلې شي. (۲)

دليله> د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه دحرمت په وجه به حرمت د نكاح د شارع د حق په اعتبار سره ثابتيږی. يا به د ښځې حق په اعتبارسره.اودا دواړه صورتونه ممكن نه دی.د شارع حق جوړول، او ثابتول ځوځكه ممكن نه دی.چه كافران د شرع د حقوقومخاطب نه دی.اود خاوند حق جوړول،او عدت واجبول ځكه ممكن نه دی.چه خاوند دعدت د وجوب اعتقاد نه لري.

مسلك الصاحبين> صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه په ړومبی صورت يعنی بغير د ګواهانو نه د نكاح په صورت كښې هغه حكم دې.كوم چه امام صاحب رحمه الله فرمائيلې دې.اوپه دويم صورت كښې يعنی د كافرې معتده سره نكاح كولو په صورت كښې هغه حكم دې.كوم چه امام زفر رحمه الله فرمائيلې دی.

دليلهما> د صاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه د معتق الغير د نكاح حرمت متفق عليه دې.اوحرمت د نكاح ،بغير شهود ،مختلف فيه دې.ځكه چه امام مالك او ابن ابی ليلی د نكاح بغيرشهود د جواز قائل دی.اوكافرانو ذميانو زمونږ د متفق عليه احكامو التزام كړې دې.خود مختلف فيه احكامو التزام ئې

---

(۱) **مسلك الشافعي:**- حضرت امام شافعی رحمه الله بچې د كتابی په تابع جوړولوكښې زمونږ مخالف دې.كه پلار كتابی وی.اومور مجوسيه وی.نود امام شافعی رحمه الله اصح قول دادې.چه بچي به مجوسی وی.امام محمد رحمه الله هم ددې قائل دې.او دويم قول دادې.چه بچي به د پلار تابع وی.او كتابی به وی.امام مالك رحمه الله هم ددې قائل دې.اوكه مور كتابيه وی.او پلار مجوسی وی.نود امام شافعی رحمه الله صرف يو قول دې.چه بچې به د پلار تابع وی.او مجوسی به وی.نه به دده ذبيحه حلاله وی.او نه به دده سره د مسلمان نكاح درست وی.

(۲) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في رد المحتار(۲\۴۱۹) والهندية (۱\۳۳۷) نقلاً عن القول الراجح (۱\۲۹۶)

نه دي کړي.نود معتدة الغير نکاح حرمت چونکه متفق عليه دې.په دې وجه کافران ذميان په دې حکم کښې د مسلمانانو تابع دي.اوچونکه د معتدة الغير سره د مسلمانانونکاح فاسد ده.په دې وجه دکافرانو ذميانو نکاح به هم فاسد وي.اوپه مسلمانيدلو،يا د مرافعه نه پس به واجب التفريق وي.اود نکاح بغير شهود حرمت چونکه مختلف فيه دې.په دې وجه کافران ذميان به په دې حکم کښې د مسلمانانو تابع نه وي.بلکه ددوی د مذهب مطابق به معتدة الغير سره نکاح درست وي.اود اسلام قبلولو نه پس به په هم هغه تيره شوې نکاح باندې باقي ساتلې شي.

د مجوسي خپلې مور بالور سره د نکاح کولو نه پس ايمان راوړل

فَإِنْ تَزَوَّجَ الْمَجُوسِيُّ أُمَّهُ أَوْ ابْنَتَهُ نو هر کله چه مجوسی دَ خپلې موريا لور سره نکاح او کړه ثُمَّ أَسْلَمَا بياې اسلام راوړو فُرِّقَ بَيْنَهُمَا نو په دوی کښې به تفريق کولې شي

تشريح صورت د مسئلې دادې.که يو آتش پرست دخپلې مور،يا لور يا په محارم ابديه کښې نې دکومې يوې کسې سره نکاح اوکړله.بيا دواړه مسلمانان شو.نوپه دې باره کښې د امام صاحب رحمه الله قول صحيح دادې.چه دا نکاح صحيح وه.

دليله د امام صاحب رحمه الله دليل دادې.چه د آتش پرست محارم الابديه سره نکاح خو په اصل کښې صحيح وه.او دصحت وجه هم داده.کومه چه وړاندې تيره شوه.چه حرمت به د شريعت د حق په وجه وي.يا د خاوند د حق په وجه.د شريعت دحق په وجه خوځکه نشي کيدلې.چه کافران د شريعت د حقوقو دسره مخاطب نه دی.نوګويا خطاب ددوی په حق کښې دسره نازل شوې نه دې.ځکه چه دوی د مبلغ تکذيب کوی.اود رسول ﷺ درسالت انکار کوی.او پاتې شوه داخبره چه مونږ ته په کافرانو باندې ولايت د الزام حاصل وی.نودا په دې وجه نشي کيدلې.چه ولايت د الزام يا د توري په ذريعه حاصليږي.يا د محاجه په ذريعه.اودا دواړه ځيزونه د عقدذمه په وجه منقطع شو.نومونږ ته په دوی باندې ولايت د الزام نشي حاصليدلې.بهرحال د شريعت دحق په وجه حرمت نه ثابتيږي.اود خاوند د حق په وجه ځکه نشي کيدلې.چه آتش پرست خاوند دسره ددې د حرمت اعتقاد نه لري.نود حرمت د ثبوت دوه صورتونه وو.او دواړه ممکن نه دی.په دې وجه مونږ وايو.چه ابتداءً د محارم ابديه سره د آتش پرست نکاح درست ده.

مسلک الصاحبين اود عراق مشائخو په قول باطل وه.هم دا دصاحبينو رحمهما الله قول دې.خو په دې باندې تول متفق دی.چه دمسلمانيدلونه پس به په دواړوکښې تفريق کولې شي.

دليلهما دصاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه د محرمات ابديه نکاح پخپله دکافرانوپه مينځ کښې د باطليدلو حکم لري.لکه ځنګه چه مونږ په معتدة الغيرکښې ذکرکړی دی.يعني په رومبۍ مسئله کښې اوونيلې شو.چه د بل کس د معتدة نکاح حرمت متفق عليه دې.نوکافران ذميان به هم ددې التزام کونکي وی.

دغه شان د مسلمانانو اجماع ده.چه دمحارم ابديه سره نکاح باطل ده.نو ذميان به هم ددې تابع وی.البته د عقد ذمه په وجه دوی سره تعارض نشوکيدلې.خوهرکله چه دوی دواړه مسلمانان شول.نو اوس به د اسلام په حکم کښې داخل وی.او اسلام چونکه د،محارم الابديه، دنکاح منافي دې.ځکه د اسلام راوړلو په وجه به تعارض واجب وی.نو حاکم به په دواړوکښې تفريق کوی.

د دوه ښځو په صورت کښې دعدل وجوب

وَإِذَا كَانَ لِلرَّجُلِ امْرَأَتَانِ حُرَّتَانِ هر کله چه دَ چا په نکاح کښې دوه ښځې وی ازادې فَعَلَيْهِ أَنْ يَعْدِلَ بَيْنَهُمَا فِي الْقَسْمِ بِكْرَيْنِ كَانَتَا أَوْ ثَيِّبَيْنِ نو په ده واجب دی چه دَ دوی په مينځ کښې په وار

کښې برابرې کوی .دواړه پېغلې وی یا کونډې وی اَوْاِحْدٰهُمَا بِکْرًا وَّالْاُخْرٰی ثَیِّبًا او یا یوه پېغله وی او بله کونډه وی

تشریح ﴿ صورت د مسئلې دادې.چه دیوکس دوه یا زیاتې آزادې بیبیانې وی.که دواړه باکره وی.او که دواړه ثیبه وی.یا یوه باکره وی.او بله ثیبه وی.نو په دوی کښې په انصاف سره تقسیم کول واجب دی.په دلیل کښې

دلائله ﴿ ① د نبی کریم ﷺ ارشاد دې مَنْ کَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ وَمَالَ اِلٰی اِحْدٰهُمَا فِی الْقَسْمِ جَاءَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ(۱)چه دَ نبی کریم ﷺ ارشاد دې دَ چا چه دوه ښځې وی او هغه په دوی کښې یوې طرف ته مائل شی نو دَ قیامت په ورځ به په داسې حال کښې راحی چه دَ دهٔ نیمه حصه به مفلوجه وی

② د حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دې أَنَّ النَّبِیَّ عَلَیْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ کَانَ یَعْدِلُ فِی الْقَسْمِ بَیْنَ نِسَائِهِ(۲)دَ حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ به دَ خپلو بیبیانو په مینځ کښې په وار کښې برابرې کولو

③ اونبی کریم ﷺ به خپلو دعاګانو کښې فرمائیل وَکَانَ یَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ هٰذَا قَسْمِی فِیْمَا اَمْلِكُ: فَلَا تُؤَاخِذْنِی فِیْمَا لَا اَمْلِكُ(۳)او فرمائیل به ئې یا الله داخما تقسیم دې په هغې کار کښې چه زهٔ به ئې مالك یم نو خما مؤاخذه مه کوې په هغې کښې چه زهٔ ئې مالك نه یم

الاستدلال ﴿ دا احادیث مطلق دی په دې کښې د باکره او ثیبه څه فرق نشته.

په آزاده او وینځه ښځه کښې تقسیم

وَاِنْ کَانَتْ اِحْدٰهُمَا حُرَّةً وَّالْاُخْرٰی اَمَةً او که یوه په دغو کښې آزاده وه او بله وینځه وه فَلِلْحُرَّةِ الثُّلُثَانِ نو دَ آزادې دَ پاره به دوه ثلثه وی دَ وارنه وَلِلْاَمَةِ الثُّلُثُ او دَ وینځې دَ پاره یو ثلث

تشریح ﴿ که د یوکس په نکاح کښې یوه آزاده ښځه وی.او یوه وینځه وی.نو په تقسیم کښې به په دریوکښې دوه حصې د آزادې وی.او یوه حصه به د وینځې وی.

دلائله ﴿ ① علامه ابن الهمام رحمه الله په فتح القدیر کښې لیکلی دی. چه هم دا فیصله صدیق اکبر اوحضرت علی رضی الله عنه کړې ده.(۴)

② دلیل عقلی دادې.چه د وینځې حلت د آزادې ښځې د حلت نه کم وی.نو په حقوقوکښې هم نقصان ښکاره کول ضروری دی.

---

۲۵) من حدیث أبی هریرة رضی الله عنه اخرجه أبوداود فی النکاح باب ۳۸ رقم ۲۱۳۳ والترمذی فی النکاح باب ٤۱ رقم ۱۱٤۱)_

۲) من حدیث ابی هریرة رضی الله تعالی عنه اخرجه أبوداود فی النکاح باب ۳۸ رقم ۲۱۳ والترمذی فی النکاح باب ٤۱ رقم ۱۱٤۱)

۲٦) اخرجه أبوداود فی النکاح باب ۳۸ رقم ۲۱۳٤ والترمذی فی النکاح باب ٤۱ رقم ۱۱٤۰ والنسائی فی عشرة النساء باب میل الرجل إلی بعض نسائه دون بعض)

٤) عن علی رضی الله عنه اخرجه ابن أبی شیبة وعبدالرزاق فی مصنفیهما والدارقطنی ثم البیهقی فی سننهما (نصب الرایة ۳ / ۲۸۳) .

د سفر په صورت ښځې په ښځو کښې د قرعه اندازئ استحباب

وَلَاحَقَّ لَهُنَّ فِي الْقَسْمِ فِي حَالَةِ السَّفَرِ او هيڅ حق نشته ښځو لره د وار په سفر کښې يُسَافِرُ الزَّوْجُ بِمَنْ شَاءَ مِنْهُنَّ نو خاوند به سفر کوي په دوی کښې د چا سره چه غواړی وَالْأَوْلَى أَنْ يَقْرَعَ بَيْنَهُنَّ او غوره دا ده چه خسنړی ورته اوکړی فَيُسَافِرُ بِمَنْ خَرَجَتْ قُرْعَتُهَا نو سفر دې کوی د هغې سره د کومې چه خسنړې او خيژي

تشريح> مسئله داده.که ديوکس ګڼړې بيبيانې وی.نود سفر په حالت کښې ددوی دپاره په تقسيم کښې هيڅ حق نشته.په دوی کښې چه د کومې سره غواړی.سفر کولې شي.غوره داده.چه په دوی کښې قرعه اندازی اوکړی.چه دکوم يوکس د نوم قرعه راوځی.هغې سره دې سفر اوکړی..(١)

الاشكال> په حديث کښې خو راځی چې نبی کريم ﷺ خو به د سفر په موقع قرعه اندازی کوله چې د چا نوم به په کښې راوختلو نو هغه به ئې ځان سره بوتله (٢)

الجواب> نبی کريم ﷺ چې کومه خسنړه اچوله هغه صرف ددوی د زړه خوشحالولو دپاره وو.نودا قرعه اندازی به استحباباً وی.وجوباً به نه وی.دويمه خبره داده.چه په نبی کريم ﷺ باندې قسم(نمبر مقررکول) دسره واجب نه وو.لکه چه د الله تعالی ارشاد دې. [تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ] يعنی په دوی کښې چه تاسو(ﷺ) خوک غواړئ.د ځان نه ئې جدا ساتئ.او خوک چه غواړې.نيزدې ئې ساته.(بيان القرآن) ددې آيت نه معلوميږی.چه نبی کريم ﷺ د قسم(نمبر) پابند نه وو.حافظ عبد العظيم منذری ذکر کړی دی.چه نبی کريم ﷺ سوده، جويريه، ام حبيبه، صفيه،او ميمونه ﷺ جدا اوساتلې.او عائشه ﷺ او نورې بيبيانې ئې نيزدې اوساتلې.نو هرکله چه په نبی کريم ﷺ باندې قسم د سره واجب نه دې.نو قرعه اندازی به څنګه واجب وی.

وَإِذَا رَضِيَتْ إِحْدَى الزَّوْجَاتِ بِتَرْكِ قَسْمِهَا لِصَاحِبَتِهَا جَازَ اوکه راضی شوه يوه بی بی په ښځو کښې په پريخودو د خپل وار خپلې بنې ته نو دا جائز دی

تشريح> که په منکوحاتوکښې يوې کسې خپل نمبر خپلې يوې بنې ته ورکړو.نودا شرعاً جائز دی.

دليله> دليل دادې.چه د حضرت سوده ﷺ نه روايت دې.چه رسول الله ﷺ سوده بنت زمعه ته طلاق ورکړو.هرکله چه نبی کريم ﷺ د مونځ دپاره اووتلو.نوحضرت سوده ﷺ ددوی ﷺ کپړه اونيوله.او وې ونيل.چه په خدائې ماته د سړو هيڅ حاجت نشته.خو زما مراد دادې.چه زما حشر ستا په بيبيانوکښې وی.او درخواست ئې اوکړو.چه ای د الله رسوله ﷺ ! تاسو سوده ﷺ ته رجعت اوکړئ.او سوده ﷺ به د خپل نمبر ورځ د عائشه ﷺ دپاره مقرر کړی.

وَلَهَا أَنْ تَرْجِعَ فِي ذَلِكَ او دې بی بی ته دا اختيار دې چه خپل وار کښې رجوع او کړی

---

١) **مسلك الشافعي:-** دامام شافعي ﷫ مذهب دادې.چه قرعه اندازی کول واجب دی.تردې که بغير د قرعه اندازئ ئې د يوې کسې سره سفر اوکړو.نود سفر دا موده به محبوسه وی.يعنی هم دومره موده به د هغه ښځې سره قيام کوی.چه د هغې سره ئې سفر نه وی کړې.

٢) من حديث عائشة ﷞ اخرجه البخاری فی الهبة باب ١٥ ومسلم فی فضائل الصحابة رقم ٨٨ وابوداود فی النكاح باب ٣٨ رقم ٢١٣٨ وابن ماجه فی النكاح باب ٤٧ والأحكام باب ٢٠ والدارمی فی الجهاد باب ٣٠ واحمد فی المسند (٦ / ١١٤)

تشريح> كومې ښځې چه د خپل نمبر ورځ خپلې بنې ته ورکړه.هغې له دا جائز دی.چه خپل حق واپس واخلي.

دليله> ځکه چه دې خپل داسې حق ساقط کړو.چه تر اوسه پورې واجب نه وو.نودا به ساقط کيږي هم نه.نودا رجوع به دخپل نمبر نه منع کول وی.د يوساقط شوی څيز واپس اخستل به نه وی.

كِتَابُ الرَّضَاعِ

ترجمه> دا کتاب په بيان د رضاعت کښې دې.

تعريف الرضاعة لغة> رضاع بفتح الراء اصل دې.اوبکسرالراء يولغت دې.په فصيح لغت کښې د باب سمع نه دې.اواهل نجد وائی.چه د باب ضرب نه دې.رضاعت په لغت کښې د سينې نه پئ رولو ته وائی.

تعريف الرضاعة شرعاً> اوپه شريعت کښې د رضيع د ښځې د سينې نه په خاص خاص وخت کښې پئ رودلوته وائی.د ښځې د سينې قيد لګولوسره د څناورد سينې نه احتراز راغلو.اود نوکه د چيلئ وغيره پئ اوڅکی.نوپه دې سره رضاعت نه ثابتيږی.اود مخصوص وخت نه د رضاع موده مراد ده.ددې په تحديد کښې د عالمانواختلاف دې.کوم چه به انشاء الله وړاندې بيانولې شي.

په رضاعت سره د حرمت ثبوت

قَلِيلُ الرَّضَاعِ وَكَثِيرُهُ إِذَا حَصَلَ فِي مُدَّةِ الرَّضَاعِ دَ رضاعت قليل او کثير هر کله چه دا حاصل شی په موده دَ رضاعت کښې تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ نو تحريم به ورپورې متعلق شی

تشريح> **قدر الرضاع الثابت للحرمة**> په مطلق پئ ورکولو يا رودلوسره حرمت رضاعت ثابتيږی.که کم وی اوکه زيات وی.خوپه دې شرط چه د رضاعت په موده کښې وی.حسن بصری ،سعيدبن المسيب،وکيع،عبدالله بن مبارک او زيات جمهورفقهاء ددې قائلين دی. (١)

دليله> دليل دالله تعالى ارشاد دې. ﴿وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي﴾ يعنی اوحرام کړې شوی دی په تاسو ستاسوميانې چاچه تاسوته پئ درکړی وی.اود نبی ﷺ حديث چه [يحرم من الرضاع مايحرم من النسب] يعنی په رضاعت هغه څه حراميږی.څه چه په نسب حراميږی.آيت اوحديث دواړه مطلق دی.د قليل اوکثيرڅه تفصيل په کښې نشته.نوپه مطلق رضاع سره به حرمت ثابتيږی.

ثبوت الرضاعة إذا كانت في مدتها> صاحب د هدايه رحمه الله په هدايه کښې فرمائيلی.چه د رضاعت حکم به په هغه وخت کښې ثابتيږی.چه رضاعت په مودهٔ د رضاعت کښې شوې وی.ددې تفصيل به روستوراشی.

د رضاعت په موده کښې اختلاف

مُدَّةُ الرَّضَاعِ ثَلَاثُونَ شَهْرًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ موده دَ رضاعت ديرش مياشتې ده دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد

تشريح> **مدة الرضاع**> دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزمودهٔ د رضاعت دوه نيم کاله دی.

(١) **مسلک الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمائی.چه په پنځه خله پئ رودلوسره رضاعت ثابتيږی.په دې طريقه چه ماشوم په دې کښې په هريوباندې مورشی.اوپه ظاهرروايت کښې امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دې.اودامام احمد رحمه الله نه دويم روايت ددرې خله پيو څکلو منقول دې.

دلائله ① دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل هغه آيت دي.كوم چه صاحبينو رحمهما الله بيان كړلو.وجه د استدلال دا ده.چه الله تعالى د حمل اوفصال دواړو دپاره يوه موده ذكركړي ده.نودا موده به په دواړوكښې د هريودپاره وي.دا چه په دواړو به تقسيمولې شي.

الإستدلال نودغه شان په آيت كښې به هم د حمل اوفصال هريودپاره پوره ديرش مياشتې وي.دا نه چه دا موده په دوو تقسيم كړې شي. البته دومره ده.چه په دې دواړوكښې د يوې مودې (حمل كمونكي دليل موجود دي.اوهغه دليل د حضرت عائشې رضي الله عنها قول دي.چه [الولد لايبقى في بطن أمه أكثرمن سنتين ولوبقدر فلكة مغزل] يعنى ماشوم د مور په خيټه كښې د دوو كالونه زيات نه پاتې كيږي.اګركه هغه د ،ودك دغټې خاپې په مقدار ولې نه وي.(فتح القدير،الكفايه) نود الله تعالى دويم قول چه فصال دي.هغه به خپل ظاهر پاتې شو.اوهغه ديرش مياشتې دي.نوثابته شوه.چه د پيو وركولو موده دوه نيم كاله دي.

② دويم عقلي دليل دا دي.چه د پيو د مودې پوره كيدو نه پس د ماشوم دپاره دومره موده ضروري ده.چه دې په كښې د پيو نه علاوه دبل څيز په خوراك عادت شي.اود پيو په ځاې هغه دده د بدن د غټولوكار شروع كړي.نوامام ابوحنيفه رحمه الله دغه موده د حمل د ادنى مودې نه اخستې ده.ځكه چه دا موده د خوراك بدلونكي ده.ځكه چه د رضيع خوراك د جنين د خوراك نه جدا وي.ځكه چه د جنين خوراك هغه څه وو.كوم چه دده د مور خوراك وو.بيا د پيدا كيدو نه پس د ده خوراك خالص پئ شو.دغه شان د رضيع خوراك د فطيم د خوراك نه جدا وي.ځكه چه د رضيع خوراك صرف پئ وي.اود فطيم خوراك كله پئ اوكله نور څيزونه.حاصل دا چه د خوراك بدلول ضروري دي.اودخوراك بدلولودپاره كمه موده شپږ مياشتې دي.نوماشوم چه هم په نور خوراك بلدولې شي.دې دپاره زياتې شپږ مياشتې ضروري دي.

وعندهما سنتان[1] او د صاحبينو رحمهما الله په نيز دوه كاله دي

تشريح مسلك الصاحبين دصاحبينو په نيزدوه كاله دي.دا د امام شافعي امام مالك اوامام احمد رحمهم الله قول دي.

دلائلهما دصاحبينو رحمهما الله دليل د الله تعالى ارشاد چه ﴿وَحَمْلُهُ وَفِصٰلُهُ﴾ دي.په دې كښې د حمل اوپيو نه پريكولوموده ديرش مياشتې خودلې شوې دي.اوادنى موده د حمل شپږمياشتې ده.نود پئ وركولوموده دوه كاله پاتې شوه.لهذا د رضاعت موده دوه كاله شول.

② دويم دليل د نبى صلى الله عليه وسلم حديث دي.چه د دوو كالونه پس رضاعت نشته.اوپه يوبل روايت كښې دي.[لا رضاع إلا في الحولين] رضاعت نشته مګرپه دوو كالوكښې.اوداين عدى رحمه الله په روايت كښې دي.چه [لايحرم من الرضاع إلا ماكان في الحولين] يعنى نه ثابتيږي.مګرپه هغه پئ وركولوچه په دووكالوودننه وي.

الجواب عن دلائلهما علامه مرغيناني رحمه الله د صاحبينو رحمهما الله د پيش كړي حديث نه جواب وركړي دي [لا رضاع بعد حولين] چه په دې حديث كښې د رضاعت نفي نه ده.بلكه د اجرت نفى ده.مطلب دا كه مطلقه ښځه خپل ماشوم ته پئ وركوي.نودا تر دوو كالوپورې د اجرت مستحقه ده.چه د ماشوم د پلار يعنى

[1] القول الراجح هو قول الصاحبين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٣\٣٠٩) والدرالمختار(٢\٤٣٧) ومجمع الأنهر(١\٣٧٥) والبحرالرائق (٣\٣٨٩) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٠٣)-

خپل سابقه خاوند نه اجرت واخلي.اوپه اتفاق سره مطلقه د دووکالونه پس د اجرت اخستلومستحقه نه ده.اوهم په دې استحقاق اجرت باندې هغه نص محمول دې.کوم چه د حولين په قيد سره مقيد دې.يعنى ﴿وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ﴾ دليل دا دې.چه د دې نه پس الله تعالى فرمائيلى دى. ﴿فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا﴾ يعنى كه دواړه غواړى.نوپې په خپل مينځ كښې په رضا سره پرې كولې شى.په دې آيت كښې د پيۆ پريكول په خپل مينځ كښې په رضا مندئ پورې تړلې دى.نوكه د دووكالونه پس د پيۆ وركول حرام وو.نو په خپل مينځ كښې په رضامندئ پورې به ئې ولې معلق كولو.نوثابته شوه.چه په آيت كښې د رضاعت د مودې بيان نه دې.بلكه په پلاريانديې د بچي د پئ وركولود استحقاق اجرت بيان دې.نود صاحبينو ﷫ دا آيت اوحديث د خپلې مدعى په تائيد كښې پيش كول صحيح نه دى.

درضاعت د مودې نه پس د حرمت رضاعت نه ثابتيدل

وَإِذَا مَضَتْ مُدَّةُ الرَّضَاعِ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِالرَّضَاعِ تَحْرِيْمٌ او هر كله چه دَ رضاعت موده تيره شوه نو په دې سره به تحريم متعلق نه وى

حل اللغة > ① **تحريم**:حراموِل]

تشريح > **عدم ثبوت الحرمة بعدالمدة** > مسئله دا ده.كه د رضاعت د مودې تيريدونه ماشوم ته پئ وركړى. نوپه دې رضاعت سره حرمت نه ثابتيږى.

دلائله > ① دليل د نبى ﷺ حديث دې. {لَا رَضَاعَ بَعْدَ الْفِصَالِ [1]}چه د پئ پريكولو نه پس رضاعت نشته.

② عقلى دليل دا دې.چه د رضاعت د مودې نه پس رضاعت ځكه حرمت نه ثابتوى.چه د پيۆ په ذريعه د ماشوم لويدنه كيږى.اودا لويدنه د رضاعت په موده كښې كيږى.د رضاعت د مودې نه پس په پيۆ د ماشوم لويدنه نه كيږى.بلكه ددې لوندنې ذريعه نور خوراكونه وى.نوهركله چه د حرمت حكم د لويدلويه وجه وو.اود رضاعت د مودې نه پس په پيۆ لويدنه نه كيږى.نود رضاعت د مودې نه پس به په رضاعت حرمت نه ثابتيږى.

په رضاعت سره حرمت نسب

وَيَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ اوحراميږى په رضاعت سره هغه ټولې رشتې كومې چه حراميږى په نسب سره إِلَّا أُمَّ أُخْتِهِ مِنَ الرَّضَاعِ فَإِنَّهُ يَجُوزُ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا مگر مورد رضاعى خور چه دَ دې سره نكاح جائز دې

تشريح > د رضاعت درې صورتونه دى.اولنې صورت[الا أم أخته من الرضاع]سره بيانوى. خودا عبارت درې واړه صورتونوته شامل دې.① ځكه كه د رضاعت تعلق به د اخت او ام دواړو سره وى په دې صورت كښې به مطلب دا وى.چه د رضاعى خور د رضاعى مورسره نكاح جائزده.ددې صورت به دا وى.چه خالد او زينب دواړو د هندې پئ اورودل.بيا زينت د ام سلمې پئ اورول.نواوس د خالد نكاح د ام سلمې سره كيږى.ددې باوجود چه ام سلمه د خالد د رضاعى خور زينت رضاعى مور ده② اوكه صرف د اخت سره وى د دې صورت مطلب به دا وى.چه د رضاعى خور د نسبى مورسره نكاح

---

[1] – من حديث على ﷜ اخرجه الطبرانى فى معجمه الصغير ورواه البيهقى فى السنن الكبرى (٧ / ٥٢٤) .

جائزده.ددې صورت به دا وی.چه زید اود ساجدې د یوې اجنبی ښځې پې اوروله. خو زید د ساجدې د خپلې سکه مور پې نه دی رودلې.نواوس په دې صورت کښې د زید دخپلې رضاعی خور ساجدې د نسبی مور سره نکاح کیږی. ③اوکه صرف د ام سره وی. په دې صورت کښې به مطلب دا وی.چه د نسبی خور د رضاعی مورسره نکاح جائزده.ددې صورت به دا وی.چه د زید نسبی خورده.اود هغې رضاعی مور ده.خو زید د خپلې نسبی خور د رضاعی مور پې نه دی رودلی.په دې صورت کښې د زیددخپلې نسبی خور د رضاعی مورسره نکاح کیږی.

وَلَا يَجُوْزُاَنْ يَتَزَوَّجَ اُمَّ اُخْتِهٖ مِنَ النَّسَبِ حال دا دې چه دَ خپلې نسبی خور دَ مورسره نکاح جائز نه دې

تشریح> حرمة النكاح في الصور المذكورة في النسب> البته د هلك د نسبی خورد نسبی مورسره نکاح جائزنه ده.

دلیله> څکه چه دنسبی خور نسبی مورخو به یا دده هم سکه مور وی.اویا به دده میرنۍ مور وی.یعنی د ده د پلار موطوء به وی.اوکه د دواړو پلار یواو میاندې جدا وی.نوپه دې دواړو صورتونوکښې د نسبی مورسره نکاح ناجائزده.البته د رضاع په صورت کښې نکاح جائزده.اوپه دې کښې څه قباحت نشته.

د مسئلې دویم صورت

وَاُخْتَ ابْنِهٖ مِنَ الرَّضَاعِ او دَ خپل رضاعی خوئی دَ خور سره يجوزان يتزوجهاجائز دی چې نکاح اوکړی

تشریح> إستثناء الصورة الثانية> دویم صورت د کوم چه د ذکرشوې قاعدې نه استثناء شوې ده.صاحب دقدوری رحمه الله ددې دویم صورت بیانوی.خوپه دې دویم صورت کښې هم درې احتمالات دی.① د رضاعی خوئی رضاعی خور② د رضاعی خوئی نسبی خور③ د نسبی خوئی رضاعی خور.په دې درې واړه احتمالاتوکښې نکاح کول جائزده.په اولنی صورت کښې چه کوم درې صورتونه بیان شوی دی.چه په هغې قیاس اوشی.نوپه دې دویم صورت کښې هم هغه درې صورتونه اواحتمالات راویستل څه گران نه دی.

وَلَا يَجُوْزُاَنْ يتزوج اُخْتَ ابْنِهٖ مِنَ النَّسَبِ او دا جائز نه دی چه نکاح اوکړی د وړور د لور سره چې د نسب نه وی

تشریح> عدم جوازالنكاح في الصورة المذكورة من النسب> خوکه په دې دواړوکښې نسبی رشته وی. یعنی د نسبی خوئی د نسبی خورسره نکاح کول جائزنه ده.

دلیله> وجه دا ده.که دده د نسبی خوئی خورده د نطفې نه پیدا وی.نودا دده لورشوه.اود لور سره نکاح جائزنه ده.اوکه دده د نطفې نه پیدا نه وی.بلکه دخوئی صرف د مور د طرفه خور وی.نودا پرکتۍ شوه.اود پرکتۍ په مورکښې دخول اوکړې شی.نونکاح ورسره حرامیږی.هم دا صورت علامه مرغینانی رحمه الله بیان کړې دې.چه کله که د خوئی د خور د مورسره وطی اوکړی.نوهغه خور په دې پلار باندې حرامه شوه.بهرحال چه څه هم وی.خوپه دې دواړو صورتونوکښې (که لور وی اوکه پرکتۍ وی) ددې نسبی خوئی دخورسره نکاح جائزنه ده.اوکه د رضاعت په باب کښې په دې دواړو صورتونوکښې یوصورت هم موجود شو.نونکاح جائزده.

د رضاعي پلارد بنځي اود رضاعي ځوی دبنځي سره د نکاح حرمت

وَلَايَجُوزُأَنْ يَتَزَوَّجَ امْرَأَةَ ابْنِهِ مِنَ الرَّضَاعِ اوجائز نه دي چې د خپل رضاعي ځوئي دبنځې سره نکاح جائز اوکړي كَمَا لَا يَجُوزُ ذٰلِكَ مِنَ النَّسَبِ لکه څنګه چې جائز نه دي دا په نسب کښې

تشريح> حرمة النكاح مع إمرأة إبنه الرضاعي> د رضاعي ځوئي د بنځې سره نکاح حرامه ده.

دليله> دليل د نبی ﷺ حديث دې.چه [يحرم من الرضاع مايحرم من النسب]

د مرضعې د لوردهغې په خاوند باندې حرمت

وَلَبَنُ الْفَحْلِ يَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحْرِيمُ او د سړی د پيو سره متعلق کيږی حرمت وَهُوَ أَنْ تُرْضِعَ الْمَرْأَةُ صَبِيَّةً او هغه دا ده چه ښځه چا بچی ته پئ ورکړی فَتَحْرُمُ هٰذِهِ الصَّبِيَّةُ عَلَى زَوْجِهَا وَعَلَى آبَائِهِ وَأَبْنَائِهِ نو حراميږی د ابچې د مرضعې په خاوند او د دې په پلار انو باند او په ځامنو باند وَيَصِيرُ الزَّوْجُ الَّذِي نَزَلَ لَهَا مِنْهُ اللَّبَنُ أَبًا لِلْمُرْضَعَةِ او شی به د غه خاوند دکوم نه چه دغه پئ راغلی دی پلار د پاره د تی خورونکی

حل اللغة > ① الفحل:خوان]

تشريح> الحرمة بسبب لبن الفحل> په لبن الفحل کښې اضافت د څيزخپل سبب ته دې.څکه چه د پيو سبب سړې دې.اوپه لبن فحل سره د تحريم صورت دا دې.چه مرضعې يوې ماشومې ته پئ ورکړل.نود دغه مرضعې په خاوند باندې دا ماشومه حرامه شوه.اودهغې ددې خاوند په پلار نيکه،اوپه ځوئي اونمسی باندې دا ماشومه حرامه شوه.اود مرضعې دا خاوند چه دهغه په سبب ددې مرضعې دا پئ راغلی دی.د دغه ماشومې رضاعي پلار شو.

دلائله> ① دليل دا حديث دې.① چه [يحرم من الرضاع مايحرم من النسب] اود نسب په وجه حرمت په سړی اوبنځې دواړو د طرفه وی.نودغه شان به د رضاعت په وجه هم د دواړوطرفونو نه وی. ②دويم دليل د حضرت عائشې رضي الله عنها حديث دې. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی.چه افلح بن ابی قيس راغلو.نوافلح اووئيل.چه ته زما نه پرده کوې.حالانکه زه ستا تره يم.حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی.ما ورته اوئيل.څنګه؟ نوهغه اووئيل.چه زما د رور ښځې تاته پئ درکړې دی.حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی.ماورته اووئيل.ماته ښځې پئ راکړې دی.سړی نه دی راکړې.په دې کښې رسول الله ﷺ تشريف راوړلو.نوماورته ټوله واقعه بيان کړه.نبی ﷺ اوفرمائيل.لِيَلِجْ عَلَيْكِ أَفْلَحُ فَإِنَّهُ عَمُّكِ مِنَ الرَّضَاعَةِ ()افلح ستا تره دې.دې به بغير پردې تاته تشريف راوړی.په دې حديث کښې نبی ﷺ افلح ته د حضرت عائشې رضي الله عنها رضاعي تره ونيلې دې. او رضاعي تره ددې نه بغيرنشي کيدې.چه د مرضعې خاوند د حضرت عائشې رضي الله عنها رضاعي پلار وی. نوهرکله چه رضاعي تره سره تحريم ثابتيږی.نود رضاعي پلار سره خوبه خامخا ثابتيږی.

[1]) أخرجه البخاری فی النكاح باب ۱۱۷ ومسلم فی الرضاع رقم ۷ وأبوداود فی النكاح باب ۷ والترمذی فی الرضاع باب ۲ والنسائی فی النكاح باب ۵۲ وابن ماجه فی النكاح باب ۳۸ والدارمی فی النكاح باب ۴۸ ومالك فی الرضاع رقم ۲ وأحمد فی المسند (۶ / ۱۹۴)

③ عقلي دليل دا ذكر كوي چه خاوند دَ مرضعې نه دَ پيوراكوزيدلو سبب دې نو په موضع دَ حرمت كښې به احتياطاً دَ دهٔ طرف ته ئې نسبت كولې شي نو حرمت به پرې ثابتيږي.

د رضاعي رور د خورسره دنكاح جواز

وَيَجُوزُأَنْ يَتَزَوَّجَ الرَّجُلُ بِأُخْتِ أَخِيهِ مِنَ الرَّضَاعِ او جائز دی چه نكاح اوكړی سړې دَ خپل رضاعی رور دَ خور سره

تشريح﴿ مسئله دا ده.چه خالد د ماجد د موريې اورودل.نوماجد د خالد د نسبي خورسره نكاح كولې شي. حالانكه دا جينئ د ماجد د رضاعي رور خالد نسبي خورده.

دليله﴿ دليل دا دې.چه د نسبي رور د نسبي خورسره نكاح جائزده.

كَمَا يَجُوزُ لكه څنګه چې جائز ده چې أَنْ يَتَزَوَّجَ بِأُخْتِ أَخِيهِ مِنَ النَّسَبِ چې نكاح اوكړی د خپل نسبي ورور خور سره وَذٰلِكَ مِثْلُ الْأَخِ مِنَ الْأَبِ إِذَا كَانَتْ لَهُ أُخْتٌ مِنْ أُمِّهِ او دا مثلاً پلار شريك رور هر كله چه دَ ده مور شريكه خور وی جَازَ لِأَخِيهِ مِنْ أَبِيهِ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا نو دَ پلار شريك رور دَ پاره دَ دې سره نكاح كول جائز دی

تشريح﴿ ددې صورت به دا وی.چه د شاهد دوه (خالد اوبكر)خامن دی.اود دواړو ميندې جدا جدا دی.(د خالد مور كلثوم وی اود بكر مور عائشه وی) نودا دواړه علاتي (ميرني) رونړه (چه پلار ئې يو وی) شول.اوس شاهد په دغه دووښځوكښې يوې (كلثوم) ته طلاق وركړلو.هغې دعدت تيرولونه پس د بل خاوند سره نكاح اوكړله.اودهغې نه ئې لور(زينب) پيدا شوه.نودغه جينئ (زينب) دشاهد په دوو خامنو كښې د يو (خالد) خورده.اودبل (بكر)په حق كښې اجنبي ده.نود كوم (بكر)په حق كښې چه اجنبي ده.دهغه سره ددې جينئ (زينب) نكاح صحيح كيږي.حالانكه د دغه جينئ خاوند (خالد) ددې (زينب) د نسبي رورر(بكر) رور دې.(څكه چه د دواړو پلاريو دې)

په يوه سينه د جمع كيدو په وجه ثبوت د حرمت

وَكُلُّ صَبِيَّيْنِ اجْتَمَعَا عَلَى ثَدْيٍ وَاحِدٍ او هر هغه دوه بچی چه دَ يوې ښځې په تی جمع شوی وی په دغو كښې لَمْ يَجُزْ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَزَوَّجَ الْأُخْرَ دَ يو دَ پاره جائز نه دی چه دَ بل سره نكاح او كړی

حل اللغة﴿ ① **ثدي**: سينه،تې]

تشريح﴿ دواړوماشومانويعنى هلك اوجينئ د يوې ښځې پئ اورودلو،په يوځل يا وراندې روسته،نودا دواړه به رضاعي وررور اوخور وی.اوددوی به په خپل مينځ كښې نكاح صحيح نه وی.لكه څنګه چه نسبي وررور خور په خپل مينځ كښې نكاح نشي كولې.په ،باب الحرمة، كښې هم دا ضابطه ده.

د مرضعه دپاره د مرضعه د بچوسره د نكاح حرمت

وَلَا يَجُوزُ اَنْ يَتَزَوَّجَ الْمُرْضَعَةَ أَحَدٌ مِنْ وَلَدِ الَّتِي أَرْضَعَتْ او جائز نه ده چې په نكاح وركړی مرضعه هغه بچې ته كوم لره چه پئ ور كړې وی وَلَا يَتَزَوَّجُ الصَّبِيُّ الْمُرْضَعُ أُخْتَ زَوْجِ الْمُرْضَعَةِ اونكاح به نه كوی هغه ماشوم چه پئ ورته وركړې شوې وی.د رضاعي مورد خاوند خور سره

تشريح﴿ **الاحتمالان في اعراب المرضعة**﴿ په المرضعة كښې دتركيب په اعتبارسره دوه احتمالات دی.

① اول دا چه مرضعه بفتح الضاد اسم مفعول وی.اود [يتزوج] د فاعل په وجه مرفوع وی.او [أحداً]

منصوب وي. د مفعوليت په بناء.په دې صورت کښې به ترجمه دا وي.په دې صورت کښې مطلب دا دې.چه صبيه ماشومه به د پئ ورکونکې مرضعې په بچوکښې چاسره نکاح نه کوي.

② دويم احتمال دا دې.چه [مرضعة] په صيغه اسم مفعول منصوب وي.او[أحد] د فاعليت په بناء مرفوع وي.په دې صورت کښې به ترجمه دا وي.چه د پئ ورکونکې دائنرې په بچوکښې به د چا د مرضعه ماشوم سره نکاح نه کيږي.حاصل د دواړو يو دې.د مسئلې صورت ښکاره دې.د وضاحت محتاج نه دې.

په اوبوکښې ګډ شوو پيو د حرمت رضاعت حکم

وَإِذَا اخْتَلَطَ اللَّبَنُ بِالْمَاءِ او هرکله چه خلط شو پئ دَ اوبو سره وَاللَّبَنُ هُوَالْغَالِبُ او پئ غالب وو يَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحْرِيمُ نو په دې سره تحريم متعلق وی فَإِنْ غَلَبَ الْمَاءُ او که اوبه غالبې وې لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ نو په دې پورې به تحريم متعلق نه وی

حل اللغة ﴿ ① **اللبن**: پئ ② **الماء**: اوبه ③ **التحريم**:حراموالې]

تشريح﴿ **ثبوت الرضاعة باللبن الغالب المخلوط مع الماء**﴿مسئله دا ده.که د مرضعې پئ د اوبوسره ګډ شي. او بيا دغه پئ يوماشوم اوڅکي.نوپه دې کښې دوه صورتونه دی.يودا چه پئ غالب وی.اواوبه مغلوبې.په دې صورت کښې حرمت رضاعت ثابتيږی.

ثبوت الرضاعة باللبن المغلوب﴿اوبل صورت دا دې.چه پئ مغلوب اواوبه زياتې وی.په دې صورت کښې زمونږ د احنافو ﷺ په نيزحرمت رضاعت نه ثابتيږی [1]

دليله﴿ دليل دا دې.چه پئ مغلوب دی.نودا د حکم په اعتبارسره غيرموجود شو.اود مغلوب حکم د غالب په مقابله کښې نه ښکاره کيږی.مثلاً يوکس قسم اوخوړلو.چه پئ به نه څکي.اوبيا ئې په اوبوکښې ګډ شوي پئ اوڅکل.اوهغه پئ مغلوب وو.نودې نه حانثيږی.لکه چه احنافو ﷺ دا مسئله په مسئله د يمين باندې قياس کړې ده.

ضعف الدليل﴿ خو دا دليل مغلوب دې.څکه چه دقسم بناء په عرف باندې وی.اوبه عرف کښې مغلوب پيو ته پئ نشي وئيلې.نودې وجې نه نه حانثيږی.اوحرمت د رضاعت موقوف دې.په وجود د پيو اوهغه موجود دی.نوحرمت به هم ثابت وی.خلاصه دا چه دا قياس قياس مع الفارق دې.

الدليل القوى﴿ددې نه قوی دليل دا دې.چه د رضاعت په باب کښې حرمت ثابتيږی.په دې وجه چه پئ دماشوم دپاره غذا جوړيږی.اود دغه پيو په ذريعه د هډوکواوغوښې پالنه کيږی.اوچه پئ مغلوب وی.نودا ذريعه د هډوکې اوغوښې د پالنه اونشونما نه ګرځی.اوچه ذريعه د نشونما اوپالنې نشوه.نوحرمت رضاعت هم ثابت نشو.(عينی شرح عنايه)

د خوراک سره په ګډ شوو پيو باندې درضاعت حکم

وَإِذَا اخْتَلَطَ بِالطَّعَامِ که ملاؤ شو پئ دَ خوراک سره لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ وَإِنْ كَانَ اللَّبَنُ غَالِبًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ [1] نو په دې پورې به تحريم متعلق نه وی اګر که وی پئ غالب په نزد دَ امام صاحب،

[1] مسلك الشافعي:- امام شافعي ﷫ فرمائی.که په اوبوکښې ګډ شوی پئ پنځوګوټوته رسی.نوحرمت ثابتيږی.اګرکه اوبه زياتې او پئ کم وی.

تشریح> حکم ثبوت الرضاعة باللبن المخلوط مع الطعام> صورت د مسئلې دا دې.که پئ دخوراك دخيزسره يوځائې شو.اوهغه پئ په اوربانديې پشيدلې نه وی. نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزپرې حرمت نه ثابتيږی.که پئ غالب وی اوکه مغلوب.د مغلوبيت په صورت کښې خوخبره ښکاره ده.اوکه غالب وی.نوچونکه دا د خوراك دخيزسره ګډشوی اوپخ شوی دی.نودا د خوراك د خيزتابع شو.نودې پيو ته اوس مطلق پئ نشی وئيلې.

دليله> دليل دا دې.چه مقصود يعنی غذا حاصلولوکښې خوراك اصل دې اوپئ تابع دی. نو په مقصود يعنی غذا کښې پئ مغلوب شو.اګرچه په حقيقت کښې غالب دی.نوځکه ورپورې تحريم نه متعلق کيږی.

وَقَالَا يَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحْرِيمُ او صاحبين فرمائی چې په دې پورې تحريم متعلق کيږی

تشريح> مسلك الصاحبين> صاحبين رحمهما الله فرمائی.که پئ غالب وی.نوحرمت رضاعت پرې ثابتيږی.ګنی نه ثابتيږی.صاحب دهدايه په هدايه کښې فرمائيلی دی چه د صاحبينو رحمهما الله قول په دې صورت کښې دې چه لَه دې لره اُور مسه نه کړی تر دې چه که په اور پوخ شو نو په دې پورې به تحريم متعلق نه وی د ټولو په قول باندې

دليلهما> په اصل مسئله کښې د صاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.چه اعتبارغالب لره دې.لکه پئ چه د اوبوسره ګډشی.نو غالب لره اعتبار وی.خوپه دې شرط چه دغه بل خيزپئ دخپل حالت نه بدل کړې نه وی..

په دوائې کښې ګډ شوو پيو حرمت رضاعت

وَإِذَا اخْتَلَطَ بِالدَّوَاءِ وَاللَّبَنُ غَالِبٌ،او که ملاؤ شو پئ د دوايئ سره او پئ غالب وو تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ نو متعلق به وی ور سره تحريم

حل اللغة > ① **اختلط**:ګډ شو ② **الدواء**: دوائی

تشريح> الصورتان في ثبوت الحرمة باللبن المخلوط مع الدواء> ①که د دوائې سره پئ ګډ کړې شی.نوکه پئ غالب وو.په دې صورت کښې پرې حرمت رضاعت ثابتيږی.

دليله> دليل دا دې.چه په غذا حاصلولوکښې پئ مقصود دی.دوائی خوصرف د پئ رسولوتقويت پيدا کوی. ②اوکه پئ مغلوب اودوائی غالبه وی.نوحرمت رضاعت پرې نه ثابتيږی.

د مړې ښځې په پيو سره حرمت رضاعت

وَإِذَا حُلِبَ اللَّبَنُ مِنَ الْمَرْأَةِ بَعْدَ مَوْتِهَا هر کله چه ئې او لوشل د ښځې پئ روسته د دې د مرګ نه فَأُوجِرَبِهِ الصَّبِيُّ نو بيا ئې د بچی په خولې کښې او څښول تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ نو په دې سره حرمت متعلق وی رحمه الله

حل اللغة > ① **حلب**:لوشل]

تشريح> حکم ثبوت الحرمة بلبن المرأة الميت> صورت د مسئلې دا دې.چه يوه ښځه مړه شوه.اود مرګ نه پس دهغې پيئ اولوشلې شو.اويوماشوم ته ورکړې شو.نودااحنافو رحمهم الله په نيز په دې باندې حرمت

[1] القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٣\٣١٦) والعناية (٣\٣١٦) والخانية (١\١٩١) وردالمختار(٢\٤٤) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٠٥)۔

رضاعت ثابتيږي.دا دامام مالك اوامام احمد رحمهماالله قول هم دي (١)

دليله> دليل دا دي.چه په حرمت رضاعت کښې دحرمت سبب شبه د جزئيت دي.يعنی د پيو په وجه د ماشوم په غوښه اوهډوکی کښې زيادت راځي.نوځکه مونږوايو.چه د پئ ځکلوپه صورت کښې شبه د جزئيت موجود ده.اوهرکله چه د حرمت رضاعت سبب شبه د جزئيت ده.نوددي مرې ښځي په پيو ځکلوبه حرمت ثابتيږي.

د چيلئ دپيو سره د ښځي د پيو ګډېدل

وَاِذَااخْتَلَطَ لبن المراة بِلَبَنِ شَاةٍ وَلبن المراة هُوَالْغَالِبُ.او هر کله چه ملاوشو پئ دَ بيزي دَ پيو سره او د ښځي پئ غالب وو تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيْمُ نو تحريم به ور پوري متعلق وی وَاِنْ غَلَبَ لَبَنُ الشَّاةِ او که غالب وو پئ د چيلئ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيْمُ نو به دې پوري تحريم نه متعلق کيږي.

تشريح> که د ښځي او ګډ ب پئ ګډ شو او يوې ماشومي اوځکل نو که د ښځي پئ د ګډې د پيو نه زيات وو.نو حرمت پرې واقع کيږي.اوکه د ګډې پئ د ښځي په پيو باندې زيات وو.نو حرمت پرې نه واقع کيږي.

دليله> دليل دا دي چې د اکثر دپاره حکم د کل وی.نوچې زياته حصه د پيؤ ده.تحريم به ورپوري متعلق کيږي.

د يو ماشوم د دوو ښځو ګډ شوي پئ ځکل

وَاِذَااخْتَلَطَ لَبَنُ امْرَأتَيْنِ هرکله چه دَ دوو ښځو پئ مخلوط شو يَتَعَلَّقَ التَّحْرِيْمُ بِاَکْثَرِهِمَا عِنْدَ اَبِي يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ نو تحريم به متعلق وی په دوی کښې دَاغلبي سره دَ امام ابويوسف رحمه الله په نزد

تشريح> مسلک ابي يوسف> صورت د مسئلې دا دې.چه د دوؤ ښځويئ ګډ شي. او يو ماشوم هغه اوځکی.نوامام ابويوسف رحمه الله فرمائي.چه د کومې پئ غالب وی.هغې سره به حرمت ثابتيږي.دا قول دامام شافعي هم دي

دليله> دامام ابی يوسف رحمه الله دليل دا دې.چه دواړه پئ ګډ شو.نوپشان د يوځيزشو.نوپه دې د رضاعت حکم مبني کولوکښې به اقل د اکثرتابع کولې شي.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ تَعَلَّقَ بِهِمَا التَّحْرِيْمُ (٢) امام محمد رحمه الله او زفر وئيلی دی چه تحريم به دَ دې دواړو سره متعلق وی

تشريح> مسلک محمد> په زير بحث مسئله کښې امام محمد رحمه الله فرمائي. چه د دواړو سره حرمت ثابتيږي.اودامام ابوحنيفه رحمه الله نه دوه روايتونه منقول دی.په يوروايت کښې دامام ابويوسف رحمه الله سره دي.اوپه بل روايت کښې دامام محمد سره دي.

دليله> دامام محمد دليل دا دې.چه هيڅ کله يوځيزپه خپل جنس نه غالب کيږي. ځکه چه غلبه په هغه وخت کښې متحقق کيږي.چه مغلوب ځيزمعدوم شي.اوچه يوځيزدخپل جنس سره ملاؤ شي.نومعدوم کيږی نه.بلکه په هغې کښې زيادت راځي.ځکه چه د دواړو مقصود يو دي.نوچه يوځيزپه خپل جنس

---

(١) **مسلک الشافعي:**- اوامام شافعي رحمه الله فرمائي.چه حرمت رضاعت پرې نه ثابتيږي.

(٢) القول الراجح هو قول محمد رحمه الله كذا في فتح القدير(٢١٧\٢) وردمختار(٤٤٤\٣) والهندية (٣٤٤\١) والبحرالرائق (٣٩٨\٣) نقلاً عن القول الراجح (٣٠٧\١)-

كښې ګډ شي.نو په دې كښې به يود بل تابع نه وي.اوچه كله يود بل تابع نه وي. نو تحريم د دواړو سره متعلق كيږي.د يوسره به نه متعلق كيږي.

دباكرې په پيو د حرمت رضاعت ثبوت

وَإِذَا نَزَلَ لِلْبِكْرِ لَبَنٌ هر كله چه دَ باكرې پئ راكوز شو فَأَرْضَعَتْ صَبِيًّا نو يو بچى او خوړل يَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحْرِيمُ په دې باندې حرمت رضاعت ثابتيږي.

تشريح> **ثبوت الحرمة بلبن الباكرة>** كه دباكرې پئ پيدا شو.اوباكرې دغه پئ يوماشوم ته وركړلو.نود عالمانو رحمهم الله په اتفاق سره په دې باندې حرمت رضاعت ثابتيږي.

دلائله> ① ځكه چه نص مطلق(وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ) دې.په باكره اوثيبه كښې څه فرق نه كوي.② دويم دليل دا دې.چه د باكرې پئ هم د نشونما سبب دې.نو په دې كښې شبه د بعضيت پيدا شوه.اوچه شبه د جزئيت په كښې پيدا شوه.نواحتياط هم په دې كښې دې.چه حرمت رضاعت پرې ثابت شي.

رواية عدم ثبوت الحرمة عن محمد> البته داامام محمد نه يوروايت دا هم دې.چه د باكرې په پيو سره حرمت رضاعت نه ثابتيږي.ځكه چه د باكرې پئ نادرالوقوع دي.نودا د سړي د پيو سره مشابه شو.اود سړي په پيو حرمت نه ثابتيږي.دغه شان به په دې پيو هم نه ثابتيږي.

د سړي په پيو د رضاعت عدم ثبوت

وَإِذَا نَزَلَ لِلرَّجُلِ لَبَنٌ فَأَرْضَعَ بِهِ صَبِيًّا هر كله چه دَ سړي پئ راكوز شواو چا بچى له ئې وركړل لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ نو په دې سره تحريم نه متعلق كيږي

تشريح> **عدم ثبوت الرضاعة بلبن الرجل>** كه د سړي د سينې نه پئ راووتل.اوهغه يوماشوم ته وركړل.نود ځلورواړه امامانو په نيزبه دې حرمت رضاعت نه ثابتيږي.

دليله> ځكه چه دا په حقيقت كښې پئ نه دي.لكه څنګه چه د كب وينه په حقيقت كښې وينه نه وي.نو په دې باندې نشونما هم كيږي.اودا خبره چه د سړي پئ په حقيقت كښې پئ نه دي.ددې دليل دا دې.چه پئ د هغه چا كيدې شي.چه دهغه نه ولادت متصور كيدې شي.اود سړي نه ولادت نه متصور كيږي.نودده پئ هم پئ نه دي.اوچه دده پئ، پئ نه دي.نوحرمت رضاعت پرې هم نه ثابتيږي.

د څناور په پيو سره عدم تحريم

وَإِذَا شَرِبَ صَبِيَّانِ مِنْ لَبَنِ شَاةٍ او هر كله چه دوو بچو دَ يوې بيزې پئ او سكل فَلَا رَضَاعَ بَيْنَهُمَا نو د دوى دواړو په مينځ كښې رضاعت نه ثابتيږي

تشريح> صورت د مسئلې ښكاره دې.

دليله> ځكه چه دَ بنى آدم او څاروى په منځ كښې څه جزئيت نشته او حرمت دَ جزئيت په اعتبار سره وى.

الملحوظة> په دې مقام كښې صاحب د اشرف الهدايه مولانا جميل احمد صاحب يوه واقعه ذكر كړې ده چه محمد بن اسماعيل بخاري رحمه الله به فرمائيل.چه په دې باندې حرمت ثابتيږي. حضرت امام بخاري رحمه الله داامام ابوحفص الكبير رحمه الله په زمانه كښې بخارا ته تشريف اوړې وو.اوفتاوى وركول ئې شروع كړل.شيخ امام بخاري رحمه الله ته اوفرمائيل.چه دا ګار مه كوه.خو امام بخاري رحمه الله د شيخ نصيحت قبول نكړلو.تردې چه يوځل ترې د دې په باره كښې استفتاء طلب شوه.كه دوو ماشومانود يوې چيلۍ پئ اوڅكل.نوڅه حكم دې.حضرت امام بخاري رحمه الله د ثبوت حرمت فتوى وركړله.ددې نه پس خلق

راجع شول.اوامام بخاری ئې د بخارا نه اوويستل.خو په شرح د بخاری کشف الباری کښې ددې واقعه په سختو الفاظو سره ترديد شوې دې چه د امام بخاري رحمه الله غوندې جليل القدر محدث ته د يوې داسې واقعه نسبت کول انصاف نه دې هغوی په تفصيل سره د دې ترديد کړې دې.والله اعلم بالصواب

د بالغې ښځې ماشومې ښځې ته پئ ورکول اوپه خاوند باندې دواړه حرامېدل

وَإِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ صَغِيرَةً وَكَبِيرَةً او هر کله چه سړی د ورې او لوئ سره نکاح او کړه فَأَرْضَعَتِ الْكَبِيرَةُ الصَّغِيرَةَ او هغې لوئ ورې له تې ور کړو حُرِّمَتَا عَلَى الزَّوْجِ نو دواړه په خاوند حرامې شوې

تشريح> حرمة الزوجة الكبيرة بإرضاعها الزوجة الصغيرة>صورت د مسئلې دا دې.چه د يوکس (زيد) په نکاح کښې يوه غټه (زينب) اوبل وړه (خالده) پئ رودونکې ماشومه ده.کبيرې دغې ماشومې (رضيعې) ته خپل پئ ورکړل.نودې خاوند باندې به دواړه حرامې شي.امام شافعي اوامام مالک رحمهما الله هم ددې قائلين دی.

دليله> دکبيرې په حق کښې خوحرمت موبده ځکه ثابت شو.چه هغه دخپل خاوند رضاعی خواښې شوه.اود صغيرې په باره کښې لږ غوندې تفصيل دې.هغه دا چه ددې خاوند(زيد) د کبيرې سره وطی شوې وی.او دهغه وطی نه ددې کبيرې ماشوم پيدا شی.اوبيا دغه کبيره د خپل خاوند ښځې ته پئ ورکړی.نوپه دې صورت کښې دا ماشومه په دې خاوند باندې په حرمت مؤبده سره حرامه شوه.ځکه چه دا دده رضاعی لور شوه.اودې ئې رضاعی پلار شو.

دليله الاجتماعي> بهرحال د صغيرې اوکبيرې دواړو دحرمت وجه دا ده.چه دا دواړه رضاعی موراولور شوې.اود رضاعی مور اولور په نکاح کښې جمع کول داسې حرام دی.لکه څنګه چه د نسبی موراولور په نکاح کښې جمع کول حرام دی.

فَإِنْ كَانَ لَمْ يَدْخُلْ بِالْكَبِيرَةِ فَلَا مَهْرَ لَهَا بيا که دخول ئې د لوئ سره نه وه کړې نو مهر ورته نشته

تشريح> په دې عبارت سره د مهرحکم بيانوی.که خاوند په کبيره باندې دخول نه وی کړې.نوبه خاوند باندې دهغې مهرنه لازميږی.که هغې په پئ ورکولوکښې د نکاح د فسخ کولواراده کړې وی اوکه نه.

دليله> دليل دا دې.چه قبل الدخول بيلتون راشی.نوکه دا بيلتون د ښځې د طرفه راغلې وی.نودا د نيم مهرمستحق نه ده.اوچونکه په دې صورت کښې صغيرې ته پئ کبيرې ورکړې دی.اوبيلتون د دې په وجه راغلې دې.نوځکه دا مستحقه د نيم مهر هم نه ده.

وجوب جميع المهربعدالدخول>اوکه خاوند په دې کبيره باندې دخول کړې وی.نوددې دپاره پوره مهر واجب دې.خودا ده.چه په خاوند به د عدت خرچه نه وی.ځکه چه جنايت د کبيرې د طرفه شوې دې.

وَلِلصَّغِيرَةِ نِصْفُ الْمَهْرِ او د ورې د پاره به نيم مهر وی

تشريح> حکم وجوب نصف المهر للصغيرة>پاتې شوه دا خبره چه د صغيرې دپاره به مهر وی.اوکه نه. ① نو داحنافو رحمهم الله د صغيرې دپاره نيم مهرواجب دې.(١)

دلائله> دليل دا دې.① چه د صغيرې دطرفه بيلتون نه دې واقع شوې.اوکه څوک دا اعتراض اوکړی.چه پئ څکل خود صغيرې فعل دې.اوهم د دې فعل په وجه بيلتون واقع شو.نومونږ جواب ورکوو.چه مونږدا منو.چه پئ څکل د صغيرې فعل دې.اوهم په دې فعل باندې بيلتون واقع شو.خودا ده.چه د صغيرې فعل ددې د حق په ساقط کولوکښې معتبر نه دې.ځکه چه دا د شريعت په

---

(١) امام مالک رحمه الله فرمائی.چه مهر واجب نه دې.

احکامو مکلفه نه ده.نوځکه به ددې په فعل د شریعت حکم نه مرتب کیږي.اودا داسې شوه.لکه چه صغیره خپل مورث قتل کړي.نو ددې قتل په وجه دا د خپل میراث نه نه محرومه کیږي .اګرچه قتل ددې فعل دې.او شریعت د مورث قاتل د میراث نه محرومه کړې دې.ځکه چه د صغیرفعل د خپل حق په ساقطولو کښې معتبر نه وي.

وَيَرْجِعُ بِهِ الزَّوْجُ عَلَى الْكَبِيرَةِ إِنْ كَانَتْ تَعَمَّدَتْ بِهِ الْفَسَادَ او اخلی به نیم مهر خاوند د کبیرې نه که دې اراده کړې وه د فساد د نکاح وَإِنْ لَمْ تَتَعَمَّدْ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهَا او که اراده ئې نه وه کړې نو په کبیره به هیڅ نه وي اګر که دا پوهه وه چه صغیره د هغه ښځه ده

تشریح> خاوند چه کوم نیم مهر صغیرې ته ورکړی.که کبیرې په پئ ورکولوکښې د نکاح د فسخ کولواراده وه.چه زه دې ته پئ ورکړم.نوددې نکاح به ورسره ختمه شي.نوخاوند به په کبیره باندې د هغه نیم مهررجوع کوي.کوم چه ده صغیرې ته ادا کړی وي.اوکه دنکاح د فسخې اراده ئې نه وي.بلکه د صغیرې نه لوږه او هلاکت لرې کولواراده ئې وي.نوبه دې صورت کښې به په کبیره باندې د نیم مهررجوع نه کوي.اګرچه کبیرې ته دا علم وي.چه صغیره دده ښځه ده.

د رضاعت د ثبوت دپاره د ګواهانو اعتبار

وَلَا تُقْبَلُ فِي الرَّضَاعِ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مُنْفَرِدَاتٍ او نه به شي قبلولې په رضاعت کښې یواځې د ښځو ګواهي وَإِنَّمَا تَثْبُتُ بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ بلکه د رضاعت ثبوت د دوو سړو یا یو سړي او دوو ښځو په ګواهي سره به وي

تشریح> **الشهادة لثبوت الرضاعة**> صورت د مسئلې دادې.چه رضاعت به د کومو کسانو په شهادت سره ثابتیږي. نود رضاعت د ثبوت دپاره صرف د ښځوګواهي نه کافي کیږي.یا به دوه سړي اویا یو سړې اودوه ښځې وي [1]

دلیل> دلیل دا دې.چه د نکاح په باب کښې ثبوت د حرمت د ملك د زوال نه جدا کیږي نه.یعنی دا نشي کیدې چه د رضاعت په وجه حرمت نکاح ثابته شي.اوملك نکاح باقي وي.ځکه چه د حرمت مؤبده سره بقاء ممکن نه ده.نوهرکله چه د رضاعت په سبب حرمت ثابت شي.نونکاح به هم سړې به ګواهي ورکوي.اویا یو سړي اودوه ښځې.

كِتَابُ الطَّلَاقِ

ترجمه> دا باب د طلاق پر(په)بیان کښې دې .(او) دا باب د سنت طلاق پر(په)بیان کښې دې .

تشریح> **الربط بما قبله**> مصنف رحمه الله چې د نکاح داحکامونه فارغ شو.نواوس د طلاق قسمونه اواحکام بیانوي. چونکه نکاح په وجود کې مقدم وي.اوطلاق لاحق وي.نوځکه ئې په ذکرکې هم اول د نکاح او وریسې د طلاق بیان اوکړلو.اوطلاق ئې د رضاعت نه روسته ځکه ذکرکړل.چه په دې کې هریود حرمت موجب دې.خودومره ده چې رضاعت د حرمت مؤبده موجب دې.اوطلاق دغیرمؤبده.نوچونکه د رضاعت حرمت اشد وو.هغه ئې ځکه مقدم کړلو.اود طلاق حرمت اخف وو.نودا ئې په هغې پسې ذکرکړلو.

---

[1] **مسلك مالك**:- امام مالك رحمه الله په نیز ددې ښځې په ګواهئ رضاعت ثابتیږي.خوپه دې شرط چه د عدالت په صفت موصوف وي.

معنى الطلاق لغة وشرعا < په لويديخ (مغرب) كتاب كي دى.چه طلاق مصدر دي د تطليق په معنى.لكه څنګه چي سلام د تسليم په معنى كي دي.اوكلام د تكليم په معنى كي .په لغت كي طلاق مطلق قيد پورته كولو او ختمولو ته وائي.اود شريعت په اصطلاح كي د نكاح قيد په مخصوص الفاظوسره پورته كولو اوختمولوته وائي.

أقسام الطلاق < بيا طلاق په دوي (دوه) قسمه دي.① طلاق سني ②اوطلاق بدعي.بيا طلاق سني په دوي (دوه) قسمه دي.① سني من حيث العدد ②اوسني من حيث الوقت.بيا د سني من حيث العدد دوي (دوه) قسمونه دى.① حسن ②اواحسن.اود طلاق بدعي هم دوي (دوه) قسمونه دى.① بدعي من حيث العدد ②اوبدعى من حيث الوقت.علامه مرغيناني رحمه الله په مختلفوطريقوددي ټولو انواعو او قسمونو احكامو ذكر كړى دى.

د احسن طلاق تعريف

الطَّلَاقُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَوْجُهٍ: احسن الطلاق، وطلاق السنة، وطلاق البدعة طلاق په دري قسمه دى أحسن الطلاق ، طلاق سنت اوطلاق بدعى فَأَحْسَنُ أَنْ يُطَلِّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ تَطْلِيقَةً وَاحِدَةً فِي طُهْرٍ وَاحِدٍ لَمْ يُجَامِعْهَا فِيهِ نو احسن طلاق دا دى چي طلاق وركړى سړي خپلي ښځي ته يو طلاق په داسي طهر كي چي په دي كي ئې ورسره وطى نه وى كړى وَيَتْرُكُهَا حَتَّى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا بيا ئې پريږدى تردي چي عدت ئې تير شي

تشريح < **تعريف الطلاق الأحسن** < صاحب دقدورى رحمه الله د طلاق د قسمونوبيانولونه روسته د طلاق احسن تعريف كوى.نوفرمائي.چه طلاق احسن دا دي.چه سړي خپلي ښځي ته په داسي طهركي طلاق وركړى .چه دد ورسره صحبت نه وى كړي.اوبيا ئې پريږدى.تردي چي عدت ئې پوره شي

دلائله < ① دليل دا دي.چه صحابه كرام رضي الله عنهم به دا خبره خوښوله.چه ديوطلاق نه زيات ورنكړي شي. تر دي چي عدت تيرشي.[1]اودا دعوى په نيزبهترو.

② دويم عقلى دليل دا دي.چه دا طلاق پښيمانتيا لري كولوته هم نزدي دي.اوښځي ته هم كم تكليف رسي.دپښيمانتيا نه خوخكه لري دي.چه د يوطلاق نه روسته كه دى اوغواړي. نويه عدت كي ورته رجوع كولي شي.چه رجوع ورته اوكړى.صرف تجديد دنكاح به اوكړى.حلالې ته هم څه ضرورت (ضرورت) نشته.اوداسي كاركول چي په هغي كي د تدارك ګنجائش موجود وى. دالله تعالى په نيزهم ښه دي.الله تعالى فرمائيلى دى. ﴿لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا﴾ اوپه ښځه باندي ضرر هم كم څكه دي.چه په دي صورت كي په ښځه باندي عدت نه اوږديږى.اوچه د يوطلاق نه زيات وركړى.نوبعضي وخت عدت اوږديږى. هغه داسي چي طلاق وركړى اورجوع ورته اوكړى.بيا طلاق وركړى اورجوع ورته اوكړى.

دطلاق حسن اوسنت تعريف

وَطَلَاقُ السُّنَّةِ او طلاق سنت دي أَنْ تُطَلِّقَ الْمَدْخُولَ بِهَا ثَلَاثًا فِي ثَلَاثَةِ أَطْهَارٍ او هغه دا دى چي مدخول بها ته دري طلاقه وركړي شى په دري طهر ونو كي

---

[1] – من أثر ابرهيم النخعي رحمه الله اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه (نصب الراية ۳ / ۲۹۲) .

تشریح> وجه إطلاق السنة علي الطلاق> طلاق في نفسه عبادت نه دي.چه په دې باندې ثواب ملاؤ شي.نوبيا د مسنون معنى دا شوه.چه دا طلاق په سنت سره ثابت دي.اوددې مرتکب مستحق د ملامتيا نه دي.

تعريف الطلاق السنة> د طلاق سنت تعريف دا دې.چه ميره (خاوند) خپلې ښځې ته په درې طهرونوکې درې طلاق ورکړي. ([1])

دلائله> ① دليل دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حديث دې. دوى فرمائي.چه ماخپلې بى بى ته په حالت حيض کې يوطلاق ورکړلو.اوبيا مې اراده اوکړله.چه په حالت د طهرکې ورته دوې (دوه) طلاقه ورکړم.ددې خبرې پته نبى ﷺ ته اولګيدله.نونبى ﷺ راته اوفرمائيل.إنَّ مِنَ السُّنَّةِ أَنْ تَسْتَقْبِلَ الطُّهْرَاسْتِقْبَالًا فَتُطَلِّقَهَا لِكُلِّ قُرْءٍ تَطْلِيقَةً([2]) اې ابن عمر الله تعالى تاته ددې طريقې حکم نه دې کړې.تاسنت طريقه پريخودله.سنت دا دې.چه تاانتظارکړې وو.تردې چې په طهرکې دې طلاق ورکړې وو.تاسنت طريقه پريخودله.بيا راته نبى ﷺ حکم اوکړلو.نوماورته رجوع اوکړه.بيا نې راته حکم اوکړلو. چې کله طهر راشي.نوبيا ورته طلاق ورکړه.اويا نې خان سره اوساته.دوى فرمائي.ماعرض اوکړلو.يارسول الله که زه دې ته درې طلاقه ورکړم.نوآيا زما لپاره دې ته رجوع کول حلال دى؟نونبى ﷺ اوفرمائيل.نه هغه خوبائينه شوه.اوګناه شوه.دا حديث دارقطنى نقل کړې دې.ددې نه معلومه شوه.چه جدا جدا ② عقلى دليل دا دې.(چه طلاق خوفي نفسه قبيح خيزدې.ځکه چې عقد د نکاح په کې کټ کولې شى.خوبيا هم دا جائزشو.ځکه) چې طلاق ته چې کوم حاجت پيښيږى.هغه باطنى خيزدې.(بعضې وخت د طبيعتونواختلاف وى.يابل څه وجه وى.چه دهغې ښکاره کول سرې مناسب نه ګنړى)اوپه هغې باندې پوهيدل ګران وى.نوحکم به ددې په دليل لګولې شي. (يعنى چې کله د طلاق ورکولوته حاجت پيښ شى.اوپه دغه حاجت پپنيدوباندې دليل هم خرګندشى) او دليل (دحاجت دطلاق) نوې والې د رغبت دې يعنى د طهرپه زمانه کې د طلاق ورکولواقدام (دا د ددې خبرې دليل دې.چه دده طلاق ورکولوته حاجت پيښ شوې دې.ځکه چې په طهرکې د ښځې سره جماع کول هم جائزوى.دغه ډول (دغه شان) طبيعت ترې هم نفرت نه کوى.خودې باوجود چې دې په طهرکې ښځې ته طلاق ورکوى. نو معلوميږى.چه داسې څه خبره په مينځ کې شته.چه دهغې د وجې دې مجبوره دې.چه ښځې ته طلاق ورکړي)اوکله چې هم د حاجت په دليل کې تکرار راشي.نولکه چې د طلاق تکرارته به هم حاجت وى.اوچه د طلاق حاجت پريخودوکې تکرار وى.نوپه طلاق کې تکرار به هم مباح وى.نوځکه زمونږ رائې ده.چه جدا جدا په درې طهرونوکې درې طلاقونه ورکول مباح دى بدعت نه دې.

طلاق بدعت

وَطَلَاقُ الْبِدْعَةِ أَنْ يُطَلِّقَهَا ثَلَاثًا بِكَلِمَةٍ وَاحِدَةٍ او طلاق بدعت دادې چې طلاق ور کړى ښځې ته درې په يو لفظ سره أَوْثَلَاثًا فِي طُهْرٍوَاحِدٍ يا درې په يو طهر کې فَإِذَافَعَلَ ذٰلِكَ وَقَعَ الطَّلَاقُ کله چې ئې دا او کړل نو طلاق به واقع شى .وبانت امراته منه او بائنه شوه ښځه دده په ده باندې وَكَانَ عَاصِيًا او وى به ګناه ګار

[1]) امام مالك رحمه الله فرمائي.چه دا طلاق بدعت دې.

[2]) من حديث ابن عمر رضى الله تعالى عنهما أخرجه الدارقطني في سننه (٤ / ٣١) رقم ٨٤) .

تشریح ﴿الطلاق البدعي﴾ طلاق بدعت دا دې چه په یوځل درې طلاقه ورکړې. یا په یو طهر کې درې طلاقه ورکړې. زمونږ په نیزدا طلاق ورکول حرام دی. خوکه چا ورکړلو. نوطلاق واقع کیږې. اوحرمت غلیظه پرې ثابتیږې. اوطلاق ورکونکې ګناهګار دې.[1]

دلیله ﴿دلیل دا دې چه په طلاق کې اصل ممانعت دې. ځکه چې په طلاق سره هغه عقدنکاح ماتیږی. کوم سره چې د بردینې اودنیاوی مصلحتونه تړلې شوی دی. دینې مصلحت خو دا دې چه د نکاح په وجه شرمګاه د زنانه بچ شي. اوزنا داسې یوقبیح فعل دې چه په ټولودینونوکې حرام ګرځولې شوې ده. اودنیاوی مصلحتونه ئې دا دی. چه د ښځې لپاره د سکنی اونفقې بندوبست د میره (خاوند) په ذمه شي. او میره (خاوند) د اولاد مالك شي. داسې نوردیرمصلحتونه دی. نوچه دې ته ګورې پکاردا وه. چه طلاق په شریعت کې ناجائز وو. خوچونکه د ښځې نه د خان خلاصولوپه ضرورت (ضرورت) طلاق مباح کړې شو. اود درې طلاقوجمع کولوځه ضرورت (ضرورت) نشته. ځکه چې دا مقصود د دې نه په کم عدد سره هم حاصلیږې. نوځکه زمونږ په نیز د درې طلاقو جمع کول حرام دی.

په طلاق کښې د سنت تقسیم

وَالسُّنَّةُ فِي الطَّلَاقِ مِنْ وَجْهَيْنِ او سنت په طلاق کې په دوې (دوه) طریقې سره دی سُنَّةٌ فِي الْوَقْتِ سنت فی الوقت وَسُنَّةٌ فِي الْعَدَدِ او سنت فی العدد فَالسُّنَّةُ فِي الْعَدَدِ يَسْتَوِي فِيهَا الْمَدْخُولُ بِهَا وَغَيْرُ الْمَدْخُولِ بِهَا نو په سنت فی العدد کې خومدخول بها او غیر مدخول بها برابر دی

تشریح ﴿تقسیم الطلاق السنة إلى قسمين﴾ مصنف رحمه الله د سنت طلاق ویش (تقسیم) کوی. چه سنت طلاق په دوې (دوه) قسمه دې. ① سنت في العدد ② اوسنت في الوقت.

① سنت في العدد دا دې. چه په یوطهرکې ورته یوطلاق ورکړې. لکه څنګه چې د باب په اول کې تیرشوی دی. په دې کې مدخول بها اوغیرمدخول بها دواړه برابر دی.

وَالسُّنَّةُ فِي الْوَقْتِ تَثْبُتُ فِي حَقِّ الْمَدْخُولِ بِهَا خَاصَّةً او سنت فی الوقت په خاص طور سره دَ مدخول بها په حق کې ثابت دې وَهُوَ أَنْ يُطَلِّقَهَا وَاحِدَةً فِي طُهْرٍ لَمْ يُجَامِعْهَا فِيهِ او هغه دا ده چې ښځې لره په داسې طهر کې یو طلاق ورکړی چې جماع ئې پکې ور سره نه وی کړی

تشریح ﴿اوسنت في الوقت خاص کرد مدخول بها په حق کې ثابتیږې. سنت في الوقت دا دې. چه سړې ښځې ته په داسې طهرکې طلاق ورکړې. چه هغه د جماع نه خالی وی.

دلیله ﴿دلیل دا دې چه د طلاق مشروعیت د حاجت د وجې دې. اوخیال به ساتلې شی د دلیل حاجت ، اودلیل دحاجت د تجدد اورغبت په زمانه کې طلاق ورکول دی. اود تجدد اورغبت وخت هغه طهر وی. کوم چې د جماع نه خالی وی. اوپاتې شوه د حیض زمانه، نودا د نفرت زمانه ده. اوپه طهرکې په یوځل جماع کولوسره رغبت کمیږی. نوپه حالت د حیض اوهغه طهرچه جماع په کې شوې وی. دلیل دحاجت موجود نه دې. دې لپاره چې دا قائم مقام د حاجت اوګرځولې شي. اوطلاق مشروع اوګرځولې شي. نوځکه مونږ (مونږ) وایو. چه سنت في الوقت صرف دا دې. چه طلاق په داسې طهرکې ورکړې شي. چه هغه د جماع نه خالی وی. اوپه حالت د حیض کې هم طلاق نه وی ورکړې شوې.

وَغَيْرُ الْمَدْخُولِ بِهَا أَنْ يُطَلِّقَهَا فِي حَالِ الطُّهْرِ وَالْحَيْضِ او غیر مدخول بها له دې طلاق ور کوی په

[1] امام شافعی رحمه الله فرمائی. چه هرطلاق مباح دې.

حالت دَ طهر کي او په حالت د حيض کي

تشريح> جواز طلاق غيرالمدخول بها في الحيض> پاتي شوه غيرمدخول بها نو هغې ته په حالت دطهراوحيض دواړو کي طلاق ورکولې شي (١)

دليله> دليل دا دي.چه په غيرمدخول بها کي رغبت ښه پوره وی.دحيض په وجه نه کميږی.ترڅوچه تري مقصود حاصل کړې شوې نه وی.نوپه حالت دحيض کي غيرمدخول بها ته طلاق ورکول به د حاجت د وجې وی.د هغې نه د نفرت په وجه به نه وی.اوپه مدخول بها کي د طهرد وجې څکه چي دحيض نه روسته طهرراشي.نود سړی رغبت اوشوق تازه شي.نوځکه هغه طهرچه هغه د جماع نه خالي وی.په هغې کي مدخول بها ته طلاق ورکول مباح دی.

الإشكال> دلته يواشكال دې.هغه دا چي مصنف رحمه الله فرماني.چه غيرمدخول بها ته په حالت د حيض کي طلاق ورکول صحيح دی.حالانکه په حديث د ابن عمررضي الله عنهما کي دی.چه [إنما السنة أن تستقبل الطهر] يعني سنت دا دی.چه د طهرانتظاراوکړې.اودا حديث دخپل اطلاق په وجه مدخول بها اوغيرمدخول بها ټولوته ګډ (شامل) دې.

الجواب> ځواب هم په دې حديث کي يوروايت دې.چه [فتلك العدة التي أمرالله تعالى أن يطلق لها النساء] يعني دا هغه عدت دې.چه په دې باندې الله تعالى حکم کړې دې.چه په دې وخت کي ښځو ته طلاق ورکړې شي.اوعدت صرف د مدخول بها لپاره وی.دغيرمدخول بها لپاره نه وی.نومعلومه شوه.چه دا حديث صرف د مدخول بها سره خاص دې.ددې حديث په وجه اعتراض نشي کولې.

د حيض نه راتلوپه صورت کښې د سنت طلاق طريقه

وَإِذَا كَانَتِ الْمَرْأَةُ لَا تَحِيضُ مِنْ صِغَرٍ أَوْ كِبَرٍ، کله چي ښځي ته حيض نه راتلو دَ ورکوټوالي يا دَ زوړوالي په وجه **فَأَرَادَ أَنْ يُطَلِّقَهَا لِلسُّنَّةِ** او دې له طلاق ورکول او غواړی دَ سنت په وخت کي **طَلَّقَهَا وَاحِدَةً** نو يو طلاق دې ورکړی **فَإِذَا مَضَى شَهْرٌ طَلَّقَهَا أُخْرَى** نو کله چي مياشت تيره شي نو بل دې ورکړی **فَإِذَا مَضَى شَهْرٌ طَلَّقَهَا أُخْرَى** نو کله چي مياشت تيره شي نو بل دې ورکړی

تشريح> عدة عدم الحيض> مسئله دا ده.که د يوې ښځي د ماشوموالي يا د زوړوالي د وجې حيض نه راځي.اوددې ميړه (خاوند) په سنت طريقه دې ته طلاق ورکول غواړی.نودرې طلاقه دې په درې مياشتوکي ورکړی.

عام الحيض> د حيض کال (يعني چي په کوم کال حيض پيل (شروع) کيږی) ① دمختارمذهب په بناء نهم کال دې. ② اوچا وئيلي دی اتم کال دې ③ اوچا اووم کال وئيلي دې.اوسن اياس (يعني د کوم عمر کي چي حيض بنديږی.اوبيا نه راځي)د اظهرقول په بناء ۵۵ کاله دی.(فتح القدير،کفايه)

دليله> دليل دا دې.چه هره يوه مياشت د صغيرې اوکبيرې دواړو په حق کي د حيض قائم مقام ده.ځکه چي الله تعالى فرمانيلي دی. ﴿وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِنْ نِسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ﴾ مطلب دا دې.که په تاسوکي ددې دواړه قسم ښځود عدت حکم مشتبه شي. نود دوی حکم دا دې.چه درې مياشتې دې تيرې کړی.ددې آيت نه معلومه شوه.چه د ښځو حيض راځي. نو درې

---

(١) **مسلک زفر:-** امام زفر رحمه الله فرماني.چه په حالت د حيض کښې ورته طلاق ورکول هم مکروه تحريمي دی. حضرت امام زفر رحمه الله غيرمدخول بها په مدخول بها باندې قياس کوی.

حيض نې عدت دې.اوكه حيض نه وي.نودرې مياشتې به نې عدت وي.نومعلومه شوه.چه مياشت د حيض قائم مقام ده.

وَيَجُوْزُاَنْ يُطَلِّقَهَا اوجائز ده چې دې ته طلاق وركړى وَلَايَفْصِلَ بَيْنَ وَطْيِهَا وَطَلَاقِهَا بِزَمَانٍ اود دې د وطى او طلاق په مينځ كښې په څه زمانه سره جدا والې اونكړى.

تشريح> د كومې ښځې چې د ماشوموالى د وجې حيض نه راځى يا آئسه وى او حيض ئې نه راځى كه دې سره وطى اوكړى او سمدستى طلاق وركول غواړى نو دا جائز ده او د ذوات الحيض پشان دې ته ضرورت نشته چې د صحبت كولو نه پس ئې حيض راشي او بيا طهر راشي نو په دغه طهر كښې به ورته طلاق وركوى.

دليله> د راروان طهر انتظار خو د دې دپاره كولې شى چې د حيض په وجه رحم پاك شى او د دې ښځې خو حيض راځى نه اود بچى پيدا كيدو احتمال هډو شته نه نو د دې وجې د صحبت نه پس سمدستى طلاق وركولې شى.

حاملې ښځې ته د مباشرت نه روسته طلاق وركول

وَطَلَاقُ الْحَامِلِ يَجُوْزُعَقِيْبَ الْجِمَاعِ حاملې له طلاق ور كول جائز دى دَ جماع نه روسته

تشريح> مسئله، د حاملې ښځې د طلاق او وطى په مينځ كې فصل ضرورى نه دې.بلكه حاملې ښځې ته د جماع نه روسته هم طلاق وركول جائزدى.

دليله> وجه دا ده.چه دحاملې ښځې سره په وطى كولو سره عدت نه مشبه كيږى.ځكه چې په حامله كې د عدت طريقه وضع د حمل متعين ده.

د حاملې د طلاق سنت طريقه

وَيُطَلِّقُهَا لِلسُّنَّةِ ثَلَاثًا او حاملې ته به په سنت وخت كې درې طلاقه ور كړى يَفْصِلُ بَيْنَ كُلِّ تَطْلِيْقَتَيْنِ بِشَهْرٍ عِنْدَ اَبِىْ حَنِيْفَةَ وَاَبِىْ يُوْسُفَ رحمهما الله[1] فصل به كوى دَ هرو دوؤ طلاقو په مينځ كې په مياشت سره په نزد دَ شيخينو

تشريح> ① مسئله دا ده.چه آئسې اوصغيرې ته په داسې حال كې طلاق وركول چې د طلاق اووطى په مينځ كې فصل اونشى.نودا جائزدې.هم دا دامام مالك امام شافعى اوامام احمد رحمه الله قول هم دې.

دليلهما> دليل دا دې.چه د طلاق اباحت د حاجت په وجه دې.او مياشت د حاجت دليل دې.لكه څنګه چې د آئسه اوصغيره په حق كې مياشت دليل د حاجت ده.ځكه چې په مياشت كې په فطرت سليمه كې شوق اورغبت پيدا كيږى.نوثابته شوه.چه مياشت د حامله په حق كې هم دليل د حاجت دې.او وراندې تيرشوى دى.چه حكم د حاجت په دليل باندې مرتب كيږى.په حقيقى حاجت باندې نه.اوچونكه د حامله په حق كې دليل د حاجت (مياشت) موجود دې.نوددې په حق كې به هم په درې مياشتوكې جدا جدا د طلاق حكم مرتب كړې شى.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَايُطَلِّقُهَا لِلسُّنَّةِ اِلَّا وَاحِدَةً امام محمد رحمه الله وائى چه د سنت په وخت به طلاق نه وركوى

[1]) القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا في فتح القدير(۳\۳۳۸) والعناية (۳\۳۳۷) والدرالمختار (۲\۴۵۴) والهندية (۱\۳۴۹) والبحرالرائق (۳\۳۶۲) نقلاً عن القول الراجح (۱\۳۱۰)-

مګر يو طلاق.

مسلک محمد﴿ امام محمدؒ فرمائي.چه د حاملې ښځې لپاره سنت طلاق صرف يو طلاق دې.هم دا قول د امام زفر،امام مالك امام شافعي اوامام احمد ؒ هم دې.

دليله﴿ دليل دا دې.چه اصل په طلاق کې ممانعت دې.اوشريعت په دې وارد شوې دې.چه طلاق د عدت په فصلونوباندې متفرق کړې شي.يعنې په ذوات الحيض کې دې درې طلاقونه په دريو طهرونوباندې متفرق واقع کړې شي.اوچونکه شريعت په دې باندې هم وارد شوې دې.چه مياشت د حيض قائم مقام ده.د انسې اوصغيرې په حق کې .نوطلاقونه چې په مياشتومتفرق کولې شي.په دې کې به آئسه اوصغيره په ذوات الحيض پورې ملحق کولې شي.اودحاملې په حق کې مياشت د عدت په فصلونوکې نه ده.بلکه د طهرپه پوره مودة کې په سنت طريقه صرف يوطلاق ورکولې شي.دغه دول (دغه شان) که حاملې ښځې ته په سنت طريقه باندې طلاق ورکول غواړي.نوددې طلاق به په دريومياشتو نشي متفرق کولې.بلکه په مسنون طريقه به د حمل په ټوله مودة کې صرف يوطلاق ورکوي.

الجواب عنه﴿ د دې ځواب دا دې.چه حامله ښځه په هغه ښځه قياس کول چې طهرنې اوږد شوې وي.خلاف قياس دې.ځکه چې په دې دواړوکې توپير(فرق) دې.فرق دا دې.چه د ممتدة الطهر په حق کې دليل د حاجت طهر يعنې تجديد دطهردې.اوددې په اره (باره) کې په هره زمانه کې اميد کيدې شي.ځکه چې ممکن ده.چه په دې د حيض وينه راشي.اوددې نه روسته بيا طهرموجود شي.اودحمل سره دطهرتجديد اميد نشي کيدې.ځکه چې د حاملې ښځې د حمل د وضع نه وړاندې حيض نه راځي.نوهرکله چې په دې دواړوکې دومره توپير(فرق) دې.نود يوبه بل باندې قياس کول قياس مع الفارق دې.

په حالت دحيض کښې طلاق ورکول

وَإِذَاطَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فِي حَالَ الْحَيْضِ وَقَعَ الطَّلَاقُ او که طلاقه کړه يو سړي خپله ښځه په حالت د حيض کې نو واقع شو طلاق

تشريح﴿ مسئله،که يوسړي په حالت د حيض کې خپلې ښځې ته طلاق ورکړلو.نو طلاق واقع شو.اوپه اجماع سره طلاق ورکونکې ګناهګاردې.

دليله﴿ دطلاق د واقع کيدو دليل دا دې.چه په حالت د حيض کې طلاق ممنوع لغيره دې.(يعنې د طلاق نه منع خو په طلاق کې د څه وجې نه ده.بلکه د يوبل خارجي شي (څيز) د وجې ده)اوهغه غيره د عدت اوږديدل دي.يعنې په حيض کې د طلاق ورکولوپه وجه به عدت اوږدشي.ځکه چې په کوم حيض کې چې طلاق ورکړې.هغه په عدت کې نشي شمارلې.اودغه شان چې په دې پسې کوم طهروي.هغه په کې هم نشي شمارلې.حاصل دا چې په حالت د حيض کې نهې د طلاق نه نهې لغيره ده.اونهې لغيره سره مشروع لذاته باقي پاتې کيږې.ددې وجې مونږ (مونږ) وايو.چه په حالت د حيض کې د طلاق في نفسه مشروعيت نه ختميږي.

وَيُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا او مستحب دی ورته چې ښځې ته مراجعت او کړی

حل اللغة ﴿ ① **الرجعة**:رجوع کول]

تشريح﴿ صاحب دقدوريؒ فرمائي.چه ددې سړي لپاره خپلې ښځې ته رجوع کول مستحب دی.

دليله دليل دا دي.چه حضرت عبدالله بن عمررضی الله عنهما خپلې ښځې ته په حالت د حيض کې طلاق ورکړې وو.نوحضرت عمر رضی الله عنه د نبي ﷺ نه په دې اره (باره) کې پوښتنه (تپوس) اوکړه نبي ﷺ ورته اوفرمائيل. {فَلْيُرَاجِعْهَا} (١)خپل خوئي ته اووايه چه ښځې ته رجوع اوړکړي.

الاستدلال ددې حديث نه دوې (دوه) خبرې معلومې شوې.① يوه دا چې په حالت د حيض کې طلاق واقع کيږي.ځکه که په حالت د حيض کې طلاق نه واقع کيدلو.نوحضرت عبدالله بن عمررضی الله عنهما ته چې نبي د رجوع حکم کړې وو.د دې بيا څه مطلب وو؟ ②دويمه خبره دا چې په دې حديث کې په رجوع کولو ياندې اماده کړې شوې دې.

د دويم طلاق د طهارت نه روسته خاوندته د رجوع کولواختيار

فَإِذَاطَهُرَتْ وَحَاضَتْ وَطَهُرَتْ بيا چې کله دغه پاکه شي او حائضه شي او بيا پاکه شي فَهُوَمُخَيَّرٌ نو ده ته اختيار دې فَإِنْ شَاءَطَلَّقَهَا وَإِنْ شَاءَأَمْسَكَهَا نو که غواړي طلاق دې ورکړي او که غواړي او دې ساتي

تشريح صورت د مسئلې دا دې.چه په کوم حيض کې ښځې ته طلاق ورکړي.نوهغه حيض د ختميدو نه روسته چې طهرراشي.اوورپسې بل حيض راشي.اود دويم حيض نه پاکه شي.نو ددې نه روسته ميره (خاوند) ته دا اختيار حاصل دې.که دا ايساروي.اوکه طلاق ورته ورکوي.

دليله عقلي وجه دا ده.چه د دوو طلاقو په مينځ کې په کامل حيض سره فصل کول مسنون دې.اودلته چونکه هم په حيض کې طلاق واقع شوې دې.اوبيا هغې ته رجوع شوې ده.اوس که په دې پسې چې کوم طهرراځي.په هغې کې طلاق ورکړې شي.نود دوو طلاقونوپه مينځ کې کامل حيض فاصل نشو.بلکه د حيض څه برخه (حصه) فاصله شوه.نودا اول حيض به په دويم حيض باندې کامل کولې شي.اوپه حيض کې چونکه ويش (تقسيم) نشي کيدې. نو ښځه به دويم حيض هم پوره تيروي.نوهرکله چې دويم حيض پوره شي.اوپه هغې پسې کوم طهر راشي.هغه د سنت طلاق وخت دې.او په دغه طهرکې په مسنون طريقه ورکول ممکن دي.

د چا طلاق واقع کيږي اودچا نه

وَيَقَعُ طَلَاقُ كُلِّ زَوْجٍ إِذَاكَانَ عَاقِلًا بَالِغًا (فصل) واقع کيږي طلاق دَ هر ميره (خاوند) کله چې دې بالغ او عاقل وي وَلَايَقَعُ طَلَاقُ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ وَالنَّائِمِ او نه واقع کيږي طلاق دَ صبي (ماشوم) او مجنون او د اوده

تشريح په دې ځائې کې دا مسئله بيان شوې ده.چه د چا طلاق واقع کيږي اوکه د چا نه واقع کيږي. فرمائي.که ميره (خاوند) عاقل بالغ وي.اوده خپلې ښځې ته طلاق ورکړلو.نوطلاق واقع کيږي.اوکه ماشوم يا ليونې يا اوده وي.نوطلاق نه واقع کيږي.

دلائله ① ځکه چې نبي ﷺ فرمائيلي دي.كُلُّ طَلَاقٍ جَائِزٌ إِلَّا طَلَاقَ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ (١) هريوطلاق واقع کيږي سوا د ماشوم او ليونې د طلاقه.

---

١ ـ من حديث ابن عمر رضی الله عنهما اخرجه البخاری فی الطلاق باب ١ رقم ٥٢٥١ ومسلم فی الطلاق رقم ١ وابوداود فی الطلاق باب ٤ رقم ٢١٧٩ والترمذی فی الطلاق باب ١ رقم ١١٧٥ والنسائی فی الطلاق رقم ٣١٧٥ وابن ماجه ی الطلاق باب ٢ رقم ٢٠١٩).

② دويم دليل دا دي.چه د تصرف اهليت په عقل مميزباندي راځي.(يعني دغه چاتصرف قبليږي.چه په چا کي عقل وی.اود ښه اوبد تميزکولي شي)اوماشوم اوليونی دواړو کي عقل مميز نشته.نومعلومه شوه.چه په دوی دواړوکي د طلاق اهليت نشته.اوچه د طلاق اهليت په کي نشته.نود دوی طلاق به واقع کيږی هم نه.اوځوك چي اوده وی.نوپه دة کي اختيارنشته.حالانکه په تصرف کي اختيارشرط دي.

د غلام په ښځه د مالك طلاق نه واقع کيږی

وَإِذَاتَزَوَّجَ الْعَبْدُبِإِذْنِ مَوْلَاهُ وَطَلَّقَهَا کله چي غلام دَ يوې ښځي سره نکاح اوکړه په اجازت دَ مولی خپل او طلاقه يې کړه وَقَعَ طَلَاقُهُ واقع شو طلاق دَ دة وَلَايَقَعُ طَلَاقُ مَوْلَاهُ عَلَى امْرَأَتِهِ او دَ دة په ښځه دَ دة د مولی طلاق نه واقع کيږی

تشريح> صورت د مسئلي ښکاره دي.(وضاحت ته ضرورت(ضرورت) نشته)
دليله> ځکه چي ملك دَ نکاح دَ غلام حق دي نو دَ دي ساقط کول به دَدة حق وی نه چي دَ مولی دَ دة.

صريحی اوکنائی طلاق

والطَّلَاقُ عَلَى ضَرْبَيْنِ: صَرِيحٌ،وَكِنَايَةٌ طلاق په دوي (دوه) قسمه دي.صريح او کنايه. فَالصَّرِيحُ قَوْلُهُ: أَنْتِ طَالِقٌ وَمُطَلَّقَةٌ وَطَلَّقْتُكِ نو طلاق صريح لکه دده قول [أنت طالق،او مطلقة، او طلقتك] فَهَذَا يَقَعُ بِهِ الطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ نو(دا داسي الفاظ دی) چي په دي سره طلاق رجعي واقع کيږی.

تشريح> په عبارت کي طلاق په معنی د تطليق دي.بهرحال د طلاق دوي (دوه) قسمونه دی.صريحی او کنايه.صريحی دي ته وائی.چه د هغي مراد بغيرد بيان نه ښکاره وی.اوکنايه هغي ته وائی.چه د هغي مراد د بيان نه بغيرښکاره نه وی.صريحی طلاق دا دي.چه خپلي ښځي ته اووائی.[أنت طالق، أنت مطلقة،يا طلقتك] په دي الفاظو سره طلاق رجعي واقع کيږی.
دليله> دليل دا دي.چه دا الفاظ د طلاق په معنی کي استعماليږی.په بله معنی کي نه استعماليږی.نودا الفاظ د طلاق صريحي په معنی کي دی.اود طلاق صريحی نه روسته د دي آيت مطابق ﴿وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ﴾ رجعت ثابتيږی. اوطلاق صريحی د نيت محتاج هم نه وی.ځکه چي د طلاق په معنی کي دا الفاظ د زيات استعمال د وجي صريحی دی.حاصل دا چي نيت وی د مبهم د تعين دپاره.اود دي الفاظو په دلالت کي څه ابهام نشته.نودا الفاظ په خپله معنی باندي په دلالت کولوکي د نيت محتاج نه دی.

په [انت طالق،طلقتك، يا مطلقة] سره طلاق ورکول

وَلَايَقَعُ بِهِ إِلَّاوَاحِدَةٌ وَإِنْ نَوَى أَكْثَرَمِنْ ذَٰلِكَ او نه واقع کيږی.(په ذکر شوی دريو واړه لفظونوکي په هر يو) مګر يو(طلاق) اګرچه ددي نه نی د زياتی نيت کړي وی

تشريح> د [لايقع به إلا واحدة] تعلق د وراندينی عبارت [فهذا يقع به الطلاق الرجعي] سره دي.① اوس

---

۳۷) غريبه الزيلعي ﷫ ثم اخرج من حديث ابي هريرة﷜ قال قال رسول الله ﷺ كل طلاق جائزإلا طلاق ا لمعتوه المغلوب على عقله أخرجه الترمذي في الطلاق باب ۱۵ رقم ۱۱۹۱)۔

حاصل د مسئلې دا شو.چه په دې الفاظو [أنت طالق، مطلقة، طلقتك] سره به طلاق رجعي واقع کیږي.اوپه دې درې واړه الفاظوکې به په هريوسره صرف يو طلاق واقع کیږي.اګرچه د يو نه د زياتو نيت ئې کړی وی.دا خو زمونږ مذهب دې. (١)

دليله> دليل دا دې.چه لفظ د طالق لغت فرد دې.ځکه چې دا د يوې ښځې صفت دې.هم دا وجه ده چې د دوو لپاره طالقان اود دريو لپاره طوالق ونيلی شي.اوهرهغه لفظ چې لغت فرد وی.هغه د عدد احتمال نه لري.ځکه چې عدد د فرد ضد دې.اويوځيز د خپل ضد احتمال نه لري.نوپه [أنت طالق] سره به د دوو يا د دريوطلاقونو نيت کول صحيح نه وی.

وَلَا يَفْتَقِرُ بِهٰذِهِ الْاَلْفَاظِ إِلَى النِّيَّةِ اوپه دې الفاظو کښې دا (صريح طلاق) د نيت محتاج نه وی.

تشريح> دا وراندې چې کوم الفاظ ذکرشو.دا د طلاق په معنی کښې صريحی دی.د نيت څه ضرورت نشته بس چې په دې الفاظو سره ئې طلاق ورکړو.طلاقع واقع شو که نيت ئې کړې وی اوکه نه وی.

دليله>دليل دا دې.چه دا الفاظ د طلاق په معنی کې استعماليږی.په بله معنی کې نه استعماليږی.نودا الفاظ د طلاق صريحی په معنی کې دی.اود طلاق صريحی نه روسته د دې آيت مطابق ﴿**وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ**﴾ رجعت ثابتيږی. اوطلاق صريحی د نيت محتاج هم نه وی.ځکه چې د طلاق په معنی کې دا الفاظ د زيات استعمال د وجې صريحی دی.حاصل دا چې نيت وی د مبهم د تعين دپاره.اود دې الفاظو په دلالت کې څه ابهام نشته.نودا الفاظ په خپله معنی باندې په دلالت کولوکې د نيت محتاج نه دی.

د طلاق د مختلفوالفاظو ذکر

وَقَوْلُهُ أَنْتِ الطَّلَاقُ أَوْأَنْتِ طَالِقٌ الطَّلَاقَ أَوْأَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا،اوکه وې ونيل.[أنت الطلاق،ياأنت طالق الطلاق،ياأنت طالق طلاقا] **فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ**نوکه دده هيڅ نيت نه وی. **فَهِيَ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ** نو دا يو (طلاق) رجعی دې.**وَإِنْ نَوَى بِهِ ثَلَاثًا فَثَلَاثٌ** اوکه د دريو نيت ئې پرې کړې وی.نو درې دی

تشريح> په عبارت کې د طلاق درې الفاظ ذکردی.په دې درې واړه صورتونوکې که ئې د څه نيت نه وی کړې.يا ئې د يويا د دوو طلاقو نيت کړې وی.نوطلاق رجعی به واقع کيږی.اوکه د دريونيت ئې کړې وی.نودرې به واقع کيږی.

دليل لفظ الثاني والثالث> په دويم لفظ چې [أنت طالق الطلاق] اوپه دريم لفظ [أنت طالق طلاقا] باندې د طلاق واقع کيدل ښکاره دی.ځکه که دې کس صرف صيغه د صفت [طالق] ذکرکړې وه.نوهم به يوطلاق واقع کيدلو.خوچه ده ورسره هم ذکرکړلوحالانکه مصدر د صفت تاکيد کوی.نوپه دې صورت کې خوبه خامخا طلاق واقع کيږی.

دليل لفظ الاول> اوپه اولنی لفظ يعنی [أنت طلاق] باندې طلاق ځکه واقع کيږی.چه بعضې وخت ذکرد مصدر اوشی.اومراد ترې اسم وی.لکه په [رجل عدل] کې د عدل نه مراد عادل دې.دغه ډول (دغه

---

(١) **مسلک الشافعي**:- دامام شافعي رحمه الله مذهب دا دې.چه د څومره طلاقونو نيت ئې کړی وی.که دوې (دوه) وی اوکه درې.هم هغه هومره به واقع کيږی.هم دا قول دامام مالك اوامام زفراو په يو قول کې دامام احمد رحمه الله هم دې.

شان، دلته د طلاق مصدر نه طالق مراد اخستلې شي.نو [أنت الطلاق] د [أنت طالق] پشان شو. اوچونکه په [أنت طالق] باندې طلاق واقع کيږي.نوپه [أنت الطلاق] باندې به هم واقع کيږي.

دکنايه طلاق بيان

وَالضَّرْبُ الثَّانِي الْكِنَايَاتُ وَلَا يَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ إِلَّا بِالنِّيَّةِ أَوْ بِدَلَالَةِ حَالٍ او دوِل (قسم) ثاني هغه کنايات دي.چه ددې په ذريعه طلاق نه واقع کيږي.خو په نيت سره.يا دلالت حال سره

تشريح> مصنف رحمه الله چې کله د طلاق د اولني دوِل (قسم) يعني صريحي طلاق نه فارغ شو. نو اوس په دويم دوِل (قسم) يعني کنايه طلاق باندې پيل (شروع) کوي.کنايه هغه دې.چه دهغې مراد پټ اومخفي وي.اودکنايه حکم دا دې.چه په دې به عمل واجب نه وي.البته دا چې نيت موجود وي.ياد نيت قائم مقام يعني دلالت حال وي.

دليله> دليل دا دې.چه دکنايه الفاظ صرف د طلاق لپاره نه دي مقرر.بلکه په طلاق اوغيرطلاق دواړو احتمال لري.نوپه نيت سره يوه معنى متعين کول ضروري شو.يا کم ازکم د معنى د تعين لپاره دلالت ضروري دې.

دکناياتو قسمونه

وَهِيَ عَلَى ضَرْبَيْنِ اوکنايات په دوې (دوه) قسمه دي **مِنْهَا ثَلَاثَةُ أَلْفَاظٍ يَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ** په دې کې درې الفاظ داسې دي.چه په دې سره طلاق رجعي واقع کيږي **وَلَا يَقَعُ بِهَا إِلَّا وَاحِدَةٌ** او په دې کې به صرف يو واقع کيږي **وَهِيَ قَوْلُهُ: اعْتَدِّي وَاسْتَبْرِئِي رَحِمَكِ وَأَنْتِ وَاحِدَةٌ** او هغه دده قول،اعتدی و استبرئی رحمك، او انت واحدة، دي

تشريح> فرماني.چه د کناياتو دوې (دوه) قسمونه دي.① يوهغه چې په هغې باندې يوطلاق رجعي واقع کيږي. ②اوبل هغه چې په هغې باندې يوطلاق بائن واقع کيږي.

دليل الكلمة الاولي> داولني دوِل (قسم) درې الفاظ دي. [① إعتدی② إستبرئ رحمك ③ أنت واحدة] په دې درې واړه الفاظوکې هريود دوو دوو معانيواحتمال لري.نوپه نيت يا دلالت سره د يوې معنى تعين کيدې شي. رومبې کلمه [إعتدی] کې دوې (دوه) احتماله دي.هغه داسې چې يوه معنى ئې ده.ته شمارکړه ورځې د عدت خپلې.اودويمه معنى دا ده.چه ته دالله نعمتونه شمارکړه.نوکه ميړه (خاوند) د رومبۍ معنى نيت کړې وي.نودده په نيت سره به رومبۍ معنى متعين شي.اودا معنى د طلاق د وراندېوالي تقاضا کوي.ځکه چې د عدت تيرولو حکم دطلاق واقع کيدو نه وراندې نه کيږي.نودا به منل ضروري شي.چه طلاق وراندې واقع شوې دې.

دليل الكلمة الثانية> اودويمه کلمه [إستبرئ رحمك] دا هم د دوو معانيواحتمال لري.يوه معنى دا چې عدت تيرکړه.اود عدت تيرولو نه مقصود دا دې.چه رحم پاك کړه.نولکه چې د عدت مقصود ئې ښکاره ذکرکړلو .نو [إستبرئ رحمك] د [إعتدی] په درجه کې شو.اودويمه معنى دا ده.چه دحيض نه خپل رحم پاك کړه.چه په سنت طريقه درته طلاق درکړې شم.په دې صورت کې هم که د رومبۍ معنى نيت اوکړې.نو رومبۍ معنى به متعين شي.اودا معنى دا تقاضا کوي.چه طلاق وراندې واقع شوې دې.

دليل الكلمة الثالثة> اوپاتې شوه دريمه کلمه د [أنت واحدة] نوپه دې کې هم د دوو معانيواحتمال دې.يوه دا چې واحدة د محذوف مصدر صفت اوګرځولې شي.يعنى [تطليقة واحدة] اودويمه معنى دا ده.چه

ميره (خاوند) ددې تعريف کوي.چه ته زما په نيزيه زمانه کې بيمثاله نې.يا ته زما په قوم کې بيمثاله نې.يعنې ستاپشان بله ښځه نشته.نوپه دې صورت کې نې هم که د رومبې معنى نيت کړې وى.نولکه چې ده [أنت تطليقة واحدة] اوونيل.اوپه دې کلام سره به طلاق رجعي واقع کيږي.نوپه [أنت واحدة] سره به هم يوطلاق رجعي واقع کيږي.

دکنايه د الفاظو قسمونه

وَبَقِيَّةُ الْكِنَايَاتِ إِذَا نَوَى بِهَا الطَّلَاقَ او باقي کنايات کله چې په دې سره د طلاق نيت اوکړي. كَانَتْ وَاحِدَةً بَائِنَةً نو يو بائن به وى وَإِنْ نَوَى ثَلَاثًا اوکه د دريو نيت نې اوکړو كَانَتْ ثَلَاثًا نو درې به وى وَإِنْ نَوَى ثِنْتَيْنِ كَانَتْ وَاحِدَةً اوکه د دوې (دوه) نيت نې اوکړو.نو يو بائن به وى

تشريح> دلته مصنف رحمه الله دکناياتو دويم دول (قسم) بيان کوي.يعنې د ذکرشوو درې الفاظونه علاوه چې باقي کوم الفاظ دى.په هغې باندې يوطلاق بائن واقع کيږي.که د يونيت نې کړې وى.اودوې (دوه) که د دوو اودرې که دريونيت نې کړې وى.

وَهٰذِهِ مِثْلُ قَوْلِهِ: أَنْتِ بَائِنٌ وَبَتَّةٌ وَبَتْلَةٌ اودا مثلاً دده قول، انت بائن، وبتة، وبتلة ....الخ، ته بائنه نې.ته قطع شوې نې وَحَرَامٌ وَحَبْلُكِ عَلٰى غَارِبِكِ.ته حرام نې.او ستا رسئ ستا په سټ کې ده.وَالْحَقِي بِأَهْلِكِ اوته خپل کور والا خلقو سره ملاؤ شه.وَخَلِيَّةٌ وَبَرِيَّةٌ او ته خالي نې او ته برى نې.وَوَهَبْتُكِ لِأَهْلِكِ وَسَرَّحْتُكِ او ماته ستا کور والا ته هبه کړې.او ما ته پريخودلې وَفَارَقْتُكِ او ما ستا سره مفارقت اوکړو.وَأَنْتِ حُرَّةٌ اوته آزاده يې وَتَقَنَّعِي وَتَخَمَّرِي وَاسْتَتِرِي.ته په مخ واچوه.ته لوپټه واچوه.ته پرده اوکړه.وَاعْزُبِي وَابْتَغِي الْأَزْوَاجَ ته لرې شه.ته اوخه، او ته ځان له خاوندان اولټوه

تشريح> په عبارت کې چې د کنايه کوم الفاظ ذکرشوى دى.په ټولو کې د طلاق اوغيرطلاق دواړو احتمال شته.نود يومتعين کولو لپاره نيت ضروري دې.اودهريولفظ نه دوې (دوه) معانى راويستل څه ګران نه دى.مثلاً آخرى کلمه [وابتغي الأزواج] ددې يوه معنى دا ده.چه ته همسيال ښځې اولټوه.چه زړه دې خوشحاله شي.دويمه معنى دا ده.چه ته خاوندان اولټوه.ځکه چې ته زما نه بائنه شوې نې.على هذا القياس

دليله> ځکه چه دا الفاظ د طلاق او غير طلاق احتمال لرى. نو نيت ضروري دې.

په طلاق کښې د حالاتو او کناياتو بيان

فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ نِيَّةُ الطَّلَاقِ که چرته د ده نيت د طلاق نه وى لَمْ يَقَعْ بِهٰذِهِ الْأَلْفَاظِ طَلَاقٌ نو نه واقع کيږى په دې الفاظ سره طلاق إِلَّا أَنْ يَكُونَا فِي مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ فرمائى.مګر داچه مذاکره د طلاق په حالت کښې وى فَيَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ فِي الْقَضَاءِ نو په دې الفاظو سره به طلاق واقع کيږى قضاءً وَلَا يَقَعُ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللّٰهِ تَعَالٰى إِلَّا أَنْ يَنْوِيَهُ او فيما بينه وبين الله به نه واقع کيږى.خودا چه د طلاق نيت اوکړى.(نو بيا به واقع کيږى)

تشريح> په وړاندېنئ مسئله کښې تيرشو.چه د کنايه په الفاظوکښې د طلاق د نيت نه بغيرطلاق نه واقع کيږى.البته دا چه د طلاق د خبروکولوپه دوران کښې وى.دقدورى د عبارت خلاصه دا ده.چه د کنايه په الفاظود نيت نه بغيرطلاق نه واقع کيږى.البته که ښځه اوخاوند دواړه د طلاق خبرې

کوي.اوهم په دغه وخت کښي خاوند د کنايه په څه لفظ سره مخاطبه کړله.نوپه دې صورت کښي د طلاق نيت ضروری نه دي.بلکه د نيت نه بغيرقضاءً طلاق واقع کيږي.اګرچه ديانةً د الله اوبنده په مينځ کښي طلاق نه واقع کيږي.

وَاِنْ لَمْ يَكُوْنَا فِيْ مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ اوکه چرته دواړه په حالت د مذاکره د طلاق کښي نه وو وَكَانَا فِيْ غَضَبٍ أَوْخُصُوْمَةٍ اودواړه په غصه کښي وو يا په جګړه کښي وو وَقَعَ الطَّلَاقُ بِكُلِّ لَفْظَةٍ نو واقع کيږی طلاق په هر هغه لفظ سره لَايَقْصِدُ بِهَا السَّبُّ وَالشَّتِيْمَةُ چې نشي قصد کولې په هغې سره کنځل او سپيرتوب وَلَمْ يَقَعْ اونه واقع کيږی طلاق بِمَا يَقْصِدُ بِهَا السَّبُّ وَالشَّتِيْمَةُ په هغه الفاظو سره چې قصد کولې شی په هغې سره کنځل او سپيرتوب الاان ينويه مګر دا چې نيت ني کړې وی

تشريح> تسامح صاحب القدوری> علامه مرغيناني رحمه الله په هدايه کښي فرمائيلي دی.چه امام قدوری رحمه الله د کنايه په الفاظوکښې ټول د نيت په ضرورت کښي برابر کړل. حالانکه دا حکم مطلق نه دې.بلکه صرف په هغه الفاظوکښي دې.چه هغه د رد صلاحيت نه لري.

اقسام الاحوال> ددې تفصيل دا دې.چه حالات دري دی.① حالت مطلقه يعني د رضا حالت
② حالت مذاکره طلاق مثلاً ښځه د خاوند نه د طلاق سوال کوی.يا تربې بل څوک د طلاق سوال کوی.
③ حالت د غصې يعنی د دواړوطرفونونه د غصې خبرې کيږی.

اقسام الکنايات> دغه شان د کنایاتوهم دري قسمونه دی.① دکنايه هغه الفاظ چه هغه رد اوجواب دواړه کيدې شی.يعنی د ښځې دطرفه چه دطلاق کوم سوال شوې وی.دهغې جواب هم کيدې شی.اورد هم.
② دويم هغه الفاظ چه هغه جواب خوکيدې شی.اورد نشی کيدې.
③دريم هغه الفاظ کوم چه رد اوجواب هم کيدې شی.او کنزلې (بد رد ونيل) هم.

حکم حالة الرضا> [۱]چه په حالت د رضا کښي په دې الفاظوکښي هيڅ يولفظ د نيت نه بغيرطلاق نه واقع کيږي.اوکه خاوندد طلاق دَ نيت نه انکارکوی.نودده خبره به معتبره وی.

دليله> ځکه چه دا ټول الفاظ د طلاق اوغيرطلاق دواړو احتمال لري.نوديوې معنی د متعين کولودپاره نيت ضروری دې.

حکم حالة مذاکرة الطلاق> [۲]په حالت د مذاکره د طلاق کښي د خاوند دا قول چه [لم أنوالطلاق] ماد طلاق نيت نه ووکړې.نوپه دې الفاظوکښي چه کوم جواب کيدې شی.اورد کيدې نشی.په هغې کښي به ئي قضاءً تصديق نشی کولې.اودا اته الفاظ دی.① خليه② برية③ بائن④ بتة ⑤ حرام⑥ إعتدی⑦ أمرك بيدك⑧إختاری.

دليله> دليل دا دې چه کله ښځې د طلاق سوال اوکړلو.اوخاوند ورته په دې اته الفاظوکښي يواوونيل. نو ظاهره هم دا ده.چه ددې نه مراد هم طلاق دې.اوحاکم په ظاهرباندې دعمل کولوپابند دې په باطن نه.

الاستثناء> البته هغه الفاظ کوم چه رد اوجواب دواړه کيدې شی.نوپه هغې کښي به د خاوند د قول [لم أنوالطلاق] تصديق کولې شی.اوهغه اووهٔ الفاظ دی.

①إذهبي②أخرجي③قومي④ تقنعي⑤تخمري⑥إغربي⑦إستبرئي .دليل دا دې. چه دا الفاظ د طلاق نه سوا د نورومعانيواحتمال هم لری.

حکم حالة الغضب > په حالت دغصه کښې د کنايه په ټولوالفاظوکښې به دده د قول چه [لم أنوالطلاق] تصديق کولې شي.

دليله > ځکه چه په دې الفاظوکښې د رد احتمال دې يا د کنځلو.خوکوم الفاظ چه صرف طلاق کيدې شي.رد اوکنځل نشي کيدې.نوپه هغې کښې به د خاوند د قول چه [لم أنوالطلاق] تصديق نشي کولې.اوهغه درې الفاظ دی.[① إعتدی② إختاری③ أمرك بيدك] دليل دا دې.چه غصه په طلاق مراد اخستلوباندې دلالت کوی.نود ده تصديق به په دې کښې نشي کولې.چه زما نيت د طلاق نه وو.

طلاق په شدت يا زيادت سره موصوف کول

وَإِذَاوَصَفَ الطَّلَاقَ بِضَرْبٍ مِنَ الشِّدَّةِ أَوِالزِّيَادَةِ كَانَ بَائِنًا اوکله نې چه طلاق په وصف زيادت او شدت سره متصف کړو.نو بائن به وی مِثْلُ أَنْ يَقُولَ :أَنْتِ طَالِقٌ بَائِنٌ مثلاً وې ونيل.[أنت طالق بائن،] أَنْتِ طَالِقٌ أَشَدَّ الطَّلَاقِ اويا نې ښځې ته اوونيل.[أنت طالق أشد الطلاق او أَفْحَشَ الطَّلَاقِ،او هم دغه شان (طلاق بائن به واقع کيږی) کله چه اووائی.[أنت طالق أفحش الطلاق] اوطَلَاقَ الشَّيْطَانِ أَوْطَلَاقَ الْبِدْعَةِ .او اووائی.،طلاق الشيطان، يا ،طلاق البدعة أَوْكَالْجَبَلِ أَوْمَلَاءِالْبَيْتِ يا پشان د رسۍ يا د زمکې په ډکوالی

تشريح > ①مسئله که طلاق د شدت يا زيادت په صفت سره متصف کړی. مثلاً چه اووائی.[أنت طالق بائن] الخ نوپه دې صورت کښې به طلاق بائن واقع کيږی (۱) نو په دې ټولو صورتونوکښې به يوطلاق بائن واقع کيږی اوکه د دريو نيت ئې کړې وو.نودرې به واقع کيږی.

ښځې ياد هغې يواندام ته د طلاق نسبت کول

وَإِذَاأَضَافَ الطَّلَاقَ إِلَى جُمْلَتِهَا او کله چه (سړی) طلاق منسوب کړو.کُل ښځې طرف ته أَوْإِلَى مَا يُعَبَّرُ بِهِ عَنِ الْجُمْلَةِ يا هغه جزء طرف ته په کوم سره چه کُل تعبير کولې شي وَقَعَ الطَّلَاقُ نو طلاق به واقع کيږی مِثْلَ أَنْ يَقُولَ أَنْتِ طَالِقٌ اودا مثلاً اووائی.،انت طالق، أَوْرَقَبَتُكِ طَالِقٌ أَوْعُنُقُكِ طَالِقٌ أَوْ رُوحُكِ أَوْبَدَنُكِ أَوْجَسَدُكِ أَوْفَرْجُكِ أَوْوَجْهُكِ.يا اووائی.ستا سټ طلاق والا دې.يا ستا عُنق (مرۍ) طلاق والا دې.يا ستا سر طلاق والا دې.يا ستا روح، يا ستا بدن، يا ستا جسد(جسم) يا ستا شرمګاه يا ستا مخ (طلاق والا دې).

تشريح > صاحب دقدوری رحمه الله يوه ضابطه ذکرکړې ده.هغه دا که دطلاق نسبت ټولې ښځې يا د هغې داسې يواندام ته اوکړې شی.چه د هغې په ټول بدن برې اطلاق کيدې شي.نوپه دې بائندې طلاق واقع کيږی.

دليله > ځکه چه په دې صورت کښې طلاق خپل محل يعنی ښځې طرف ته منسوب شوې دې.ځکه چې ضمير د مخاطب په کښې استعمال شوې دې اومخاطبه ئې ښځه ده.دغه شان که د ښځې يو جزء ته طلاق منسوب کړی نو هم دا حکم دې.مثلا رقبتك طالق وغيره شو.ځکه چه په دې اندامونوکښې په هريواندام سره دټول بدن نه تعبيرکولې شي.نودښځې ددې اندامونوته نسبت کول داسې دی.لکه چه ښځې ته نسبت اوشی

---

(۱) **مسلك الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه که د دخول نه پس وی.نوطلاق رجعی واقع کيږی.

وکذلك ان طلق جزاء شائعامنها مثل ان يقول نصفك اوثلثك طالق دغه شان حکم دي يعنی طلاق واقع کيږی چې يو شائع جزء ته نسبت اوکړی لکه چې اووائی ستا نيم بدن يا ستا دريمې حصې ته طلاق دي

تشريح> چې د بدن يو داسې حصې ته نسبت د طلاق اوشی چې هغه په ټول بدن کښې خور وی معين نه وی لکه نيم بدن يا دريمه شوه په دې کښې دا پته نه لګی د چې بدن کومه حصه ځکه چې مطلق بدن ئې ياد کړې دې نو طلاق واقع کيږی.

دليله> دليل دا دې.چه جزء شائع دټولو تصرفاتو(بيع اوشراء وغيره) محل دې.اوچونکه طلاق هم يوتصرف دې.ددې به هم محل وی.خوچونکه طلاق تقسيم اوتجزی نه قبلوی.يعنی داسې نشی کيدې.چه طلاق دې د بدن په يوه حصه واقع شی.اوپه څه دې واقع نشی.نوځکه د ضرورت په وجه به په ټول بدن کښې واقع کيږی.

جزء معين ته طلاق منسوب کول

ولوقال:يدك طالق اورجلك طالق او که وې وئيل.،يدك طالق، يا رجلك طالق لم يقع الطلاق نو طلاق به نه واقع کيږی

تشريح> که دطلاق نسبت د بدن هغه معين جز ته اوشی په کوم سره چې د ښځې د ټول بدن نه تعبير نشی کولې نو هيڅ طلاق نه واقع کيږی.

دليله> ځکه چې په دې صورت کښې طلاق غير محل ته منسوب شوې دې نو طلاق به لغو وی صاحب د هدائې فرمائيلی دی چې طلاق د قيد ختمول دی او قيد په هغه وخت کښې ختميږی چې د وراندې نه قيد وی اوپه لاس وغيره کښې قيد نشته نوکه دې ته طلاق منسوب شی نو نه به واقع کيږی.

وان طلقها نصف تطليقة اوثلث تطليقة اوکه طلاق ئې ورکړو(ښځې ته) د يو طلاق نصف، يا دريم (حصه).كانت تطليقة واحدة نودا به يو طلاق وی

تشريح> مسئله دا ده.که يوکس خپلې ښځې ته نيم طلاق يا دريمه حصه طلاق ورکړلو.نودا به پوره طلاق شمارلې شی.اوښځه به په يوطلاق طلاقيږی.

دليله> طلاق تجزی نه قبلوی.يعنی نه تقسيميږی.اوقاعده دا ده.چه د بعضې [مالايتجزئ] ذکر د کل د ذکرپشان دې.نولکه د نيم يا دريمې حصې طلاق ذکرد ټول طلاق ذکردې.نو ځکه به په دې ټولو الفاظو پوره يوطلاق واقع کيږی.

په زورد طلاق ورکولوحکم

وطلاق المكره والسكران واقع او طلاق دَ مکره اود بې هوشه واقع دې

تشريح> **حکم طلاق المکره**> مکره د کاف په فتح سره هغه کس ته وائی.چاته چه د بادشاه دطرفه د ده د بدن يا يواندام ته د تکليف رسولودهمکی ملاؤ شوې وی.ياورته د داسې کس نه دهمکی ملاؤ شوې وی.چه دهغه نه د دغه ضرر رسول متصور(اوممکن) وی.

مسئله دا ده.که يوکس مجبوره کړې شی.چه ته خپلې ښځې ته طلاق ورکړه.اودې طلاق ورکړی. نودده طلاق واقع کيږی. [1]

---

[1] دامام شافعي رحمه الله په نيزنه واقع کيږی.امام مالك اوامام احمد رحمهما الله هم ددې قائلين دی.

دليله دليل دا دې.چه مجبور كس خپلې بي بي ته د طلاق وركولواراده كړې ده.اوپه ده كښې دخپلې ارادې نافذ كولواهليت هم شته.نودا په قصد سره طلاق وركول به د خپلې مقتضا اوحكم نه خالي نه وي.

دې دپاره چه دعلت نه د حكم روستووالې رانشي.اوچه د مجبوركړې شوى كس حاجت پوره شي.چه د كوم خيزنه ويرولې شوې دې.دهغې نه ورته خلاصې ملاؤ شي.اوخوك چه مجبوره كړې شوې وى.دې په هغه كس باندې قياس كولې شي.څوك چه په خپله خوښه طلاق وركړى.(اودهغه طلاق واقع كيږى.نودده به هم واقع كيږى)

تعريف السكران په عبارت كښې د سكران نه مراد هغه كس دې.چه د نشې په آخرى حالت كښې وى.تردې چه په زمكه اوآسمان كښې هم فرق نشي كولې.

حكم طلاق السكران مسئله دا ده.كه يوكس په حالت د نشه كښې خپلې ښځې ته طلاق وركړلو. نوزمونږ طلاق واقع كيږى. ([1])

دليله دليل دا دې.چه ددې كس عقل په داسې سبب سره زائله شوې دې.چه هغه معصيت اوګناه ده.يعنې د شرابووغيره څكل.نودې كس ته د زورنې وركولوډپاره دده عقل حكماً باقي پريخودې شو.اوهركله چه حكماً دده عقل باقي پريخودې شو.نوچه دې طلاق وركړى.هغه به واقع كيږى.

هم دا وجه ده.كه يوكس شراب اوڅكل.بيا دهغې د وجې دهغه په سرباندې درد شو.اود سرد درد په وجه ئې عقل زائله شو.اوده خپلې ښځې ته طلاق وركړلو.نوموږ هم دا وايو.چه دده وركړې شوې طلاق نه واقع كيږى.څكه چه په دې صورت كښې د عقل زوال د ګناه د وجې نه نه دې شوې.بلكه د سرد درد په وجه شوې دې.

وَيَقَعُ الطَّلَاقُ اوواقع كيږى طلاق د مكره او د سكران إِذَاقَالَ چې دې اووائى نَوَيْتُ بِهِ الطَّلَاقَ ما په دې سره د طلاق نيت كړې وو.

تشريح دعامو فقهاؤ په نيز د مكره او سكران صريح طلاق بغير د نيت نه هم واقع كيږى د دې وجې دا عبارت د كاتبانو نه په سهوه سره ليكلې شوې دې البته په بعضې نسخو كښې دا عبارت داسې دې «ويقع الطلاق بالكنايات اذا قال نويت به الطلاق» او د دې عبارت مطلب دا دې چې په كنائى الفاظو سره طلاق واقع كيږى چې د طلاق نيت ئې هم كړې وى دا عبارت اګرچې د مضمون په لحاظ سره صحيح دې خو دلته په دې ځائې كښې بې محله دې ([2])

دګونګا د طلاق حكم

وَيَقَعُ طَلَاقُ الْأَخْرَسِ بِالْإِشَارَةِ اود ګونګې طلاق به واقع وى په اشاره سره

حل اللغة ① اخرس: ګونګاه]

تشريح مسئله دا ده.چه د ګونګا طلاق په اشاره سره واقع كيږى.

دليله دليل دا دې.چه د ګونګا اشاره معروفه اومشهوره ده.نودا به په دلالت كښې دعبارت پشان وى.نو دده په اشاره به دده نكاح،طلاق ،عتاق خرڅول اواخستل ټول صحيح وى.برابره ده كه دغه ګونګا په ليكلو قادر وى اوكه نه وى.

[1] **مسلك الكرخي والطحاوي:**- دامام كرخى اوامام طحاوى رحمهما الله خوښ مذهب دا دې.چه طلاق نه واقع كيږى.دا دامام شافعى رحمه الله قول هم دې.

[2] الجوهرة النيرة (۱۰۹/۲)-

طلاق په نكاح پورې معلق كول

وَإِذَاأَضَافَ الطَّلَاقَ إِلَى النِّكَاحِ اوكله ني چه طلاق منسوب كړو.نكاح طرف ته وَقَعَ عَقِيبَ النِّكَاحِ نو طلاق به د نكاح نه پس واقع كيږي مِثْلُ أَنْ يَقُولَ مثلاً يو(اجنبي يعني پردئ) ښځي ته اووائي إِنْ تَزَوَّجْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ كه ما دتا سره نكاح اوكړله.نو ته مطلقه ئې أَوْقَالَ كُلُّ امْرَأَةٍ أَتَزَوَّجُهَا فَهِيَ طَالِقٌ يا(وې ونيل) هر هغه ښځه چه زه د هغې سره نكاح اوكړم.هغه طالقه ده

تشريح> مسئله دا ده.كه يوكس طلاق په نكاح پورې معلق كړلو.مثلاً يوې پردئ ښځي ته ئې اوونيل.[إن تزوجتك فأنت طالق] يا ئې داسې اوونيل.[كل إمرأة أتزوجها فهي طالق] ① نوزمونږ په نيزپه دې صورت كښې د نكاح نه پس طلاق واقع كيږي (١)

دليله> دليل دا دې.چه په يوځيزپورې معلق كول دحالف دطرفه تصرف يمين دې.ځكه چه شرط اوجزاء دواړه موجود دی.اوهم ددې نوم تعليق دې.پاتې شوه دا خبره چه د تعليق په وخت كښې دحالف ملك نشته.ددې جواب دا دې.چه دتعليق په وخت كښې د ملك وجود شرط نه دې.بلكه دجزاء د وجود په وخت كښې دملك وجود شرط دې.اودلته د جزاء دوجود په وخت كښې يقيناً ملك موجود دې.نود طلاق واقع كيدل يعنې ترتب دجزاء به هم وی.اود شرط د وجود نه وړاندې د يمين اثرمنع ده.يعنې دمحلوف نه بچ كيدل.اودا منع د متصرف يعنې حالف پورې قائمه ده.نوپه دې وخت كښې د طلاق دمحل څه حاجت نشته.بلكه د حالف ذمه واری كافی ده

په شرط پورې دطلاق معلق كول

وَإِذَاأَضَافَهُ إِلَى شَرْطٍ اوكله ني چه طلاق د شرط طرف ته منسوب كړو وَقَعَ عَقِيبَ الشَّرْطِ نو طلاق به د شرط نه پس واقع كيږي مِثْلُ أَنْ يَقُولَ لِامْرَأَتِهِ مثلاً خپلې ښځې ته اووائی إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ كه ته خپل كور ته داخله شوې نو ته طالقه ئې

تشريح> مسئله دا ده.كه يوكس د خپلې ښځې طلاق په دخول دار پورې معلق كړلو.مثلاً وې ونيل.[إن دخلت الدار فأنت طالق]كه ته كورته داخله شوې.نو ته دې طلاقه يې، نود شرط په وجود يعنې د دخول دار نه پس به طلاق واقع كيږي.اودا حكم بالاتفاق دې.

دليله> ځكه چې فی الحال ملك موجود دې.اوپه آئنده كښې هم غالب گمان دا دې.چه ملك به موجود وی. ځكه چه په هرثابت شوی ځيزكښې اصل دا دې.چه هغه هميشه دپاره وی. خاص كرنكاح ځكه چه دا د ټول ژوند دپاره وی.نود ملك د زوال يووهمی احتمال ته به توجه نشي وركولې.نوهركله چه دا ثابته شوه.چه فی الحال هم ملك موجود دې.اوپه آئنده كښې به هم دغالب گمان په اعتبارسره ملك موجود وی.نودده كلام معلق زمونږ په نيزيمين صحيح وی.نو طلاق به واقع كيږي.

قاعده كليه

وَلَا يَصِحُّ إِضَافَةُ الطَّلَاقِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْحَالِفُ مَالِكًا اود طلاق نسبت كول صحيح نه دی.مگر داچه قسم خوړونكې (بالفعل) مالك وی أَوْيُضِيفَهُ إِلَى مِلْكِهٖ يا طلاق ملك طرف ته منسوب كړي

(١) امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه طلاق نه واقع كيږي.

تشریح> په دې عبارت کښې صاحب دکتاب یوه قاعده ذکرکړې ده.هغه دا چه شرط طرف ته د طلاق منسوب کول به په هغه وخت کښې صحیح وی.چه حالف د محلوف علیه بالفعل مالك وی.مثلاً خپلې ښځې ته اووائی.[إن دخلت الدار فأنت طالق] یا طلاق خپل ملك ته منسوب کړی.مثلاً اووائی.[إن نکحتك فأنت طالق]

دلیله> دلیل دا دې.چه د جزاء د وقوع وجود ضروری دې.ددې دپاره چه د جزاء واقع کیدوپه ذریعه مخاطب سره ویره شی.اودیمین معنی متحقق شی.دیمین معنی قوت دې.اودقوت ظهورپه دې دوو کارونوکښې په یوسره کیږی.یعنی چه حالف بالفعل مالك وی.یا ملك طرف ته منسوب شوې وی.اود ملك سبب طرف ته منسوب کول داسې دی.لکه ملك طرف ته منسوب کول.مثلاً د [إن اشتریتك فأنت حر،یا إن ملکتك فأنت حر] په منزله دی.(عنایه)

پردئ ته د [إن دخلت الدار فأنت طالق] وئیلوحکم

فَإِنْ قَالَ لِأَجْنَبِيَّةٍ نوکه وې ونیل.یوې اجنبیه (پردئ ښځې) ته إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ که ته کورته داخله شوې.نو ته طالقه ئې ثُمَّ تَزَوَّجَهَا فَدَخَلَتِ الدَّارَ بیا ئې د هغې سره نکاح اوکړله.بیا کورته داخله شوه لَمْ تَطْلُقْ نو طلاق به نه واقع کیږی

تشریح> صورت د مسئلې دا دې.چه یوسړی پردئ ښځې ته اووئیل.[إن دخلت الدار فأنت طالق] بیا ئې د هغې سره نکاح اوکړله.اودنکاح نه پس هغه کورته داخله شوه.نوپه دې صورت کښې طلاق نه واقع کیږی.

دلیله> دلیل دا دې.چه حالف نه د طلاق مالك دې.اونه ئې طلاق ملك اود ملك سبب ته منسوب کړې دې.حالانکه د طلاق داضافت دپاره په دې دواړوکښې د یو وجود ضروری دې.

د شرط الفاظ

وَأَلْفَاظُ الشَّرْطِ إِنْ وَإِذَا وَإِذَامَا وَكُلُّ وَكُلَّمَا وَمَتَى وَمَتَى مَا او الفاظ د شرط،ان، اذا، اذا ما، کل، کلما، متی، اومتی ما، دی

تشریح> صاحب د قدوریؒ د کلمات شرط نه په الفاظود شرط سره تعبیراوکړلو.په حروفو سره ئې ترې تعبیر اونکړلو.ځکه چه په دې کلماتوکښې زیات اسماء دی.حروف نه دی.نوځکه ئې د حروفوپه ځائې په الفاظو سره تعبیراوکړلو.چه اسماء اوحروفوتولوته شامل شی.اوکلمه د [إن] په کلماتود شرط کښې اصل ده.او باقی ټول ددې فرع دی.

کون کلمة ان للشرط> کلمه د [إن] صرف د شرط دپاره ده.اوپه باب د شرط کښې هم دا اصل ده.ځکه چه په کلمه د [إن] کښې د وخت وغیره معنی نشته.اوددې نه سوا باقی ټول کلمات د کلمه [إن] سره لاحق دی.د [إن] کلمې لره د متضمن کولوپه وجه

کون کلمة ان للشرط> اوکلمه د [کل] په حقیقت کښې شرط نه دې.ځکه چه کلمه د [کل] سره چه څه متصل دې.هغه اسم دې.اوشرط هغه وی.چه هغې پورې جزاء متعلق وی.اوجزاء د فعل پورې متعلق کیږی. اسم سره نه.خوکلمه د [کل] د شرط سره لاحقه کړې شوې ده.ځکه چه فعل ددې اسم سره متصل

دي.کوم اسم چه د کلمه [کل] د اسم سره ملاؤ شوي دي.يعنی فعل دهغه اسم دپاره لازم دي.کوم اسم چه د کلمه کل سره متصل دي.مثلاً ستا وينا چه [کل عبدٍاشتريته فهوحر]شو.

د شرط په وجود سره دیمین ختمیدل

فَفِي هٰذِهِ الْأَلْفَاظِ إِذَاوُجِدَ الشَّرْطُ په دې الفاظوکښې چه کله شرط اوموندې شو انْحَلَّتِ الْيَمِيْنُ نو قسم منحل (کلاؤ) شو.او ختم شو ووقع الطلاق او واقع کيږی طلاق

تشريح دکلمه [کلما] نه سوا د شرط د باقی ټولو الفاظوحکم دا دې.چه شرط موجود شی.نويمين به منحل شی.اوختم به شی.

دليله دليل دا دې.چه د [کلما] نه سوا باقی د شرط ټول الفاظ دعموم اوتکرارتقاضا نه کوی.نوچه يوځل فعل موجود شی.شرط پوره کيږی.اوبغيرشرطه يمين باقی نه پاتې کيږی

إِلَّافِي كلمة كُلَّمَا.خو په کلمه د.کلما.کښې فَـإِنَّ الطلاق يتكرربتكـررالشرط ځکه چې په تکرار دشرط سره تکرار د طلاق راځی حتى يقع ثلاث تطليقات ترد ې چې درې طلاقه واقع کيږی.

تشريح **استثناء كلمة كلما** اوباتې شوه کلمه د [کلما] نوچونکه دا په افعالوکښې دتعميم اوتکرارتقاضا کوی.لکه چه دالله ﷻ ارشاد دې [كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ] اود تعميم دپاره تکرارلازم وی.نوځکه په کلمه د [كُلَّمَا]کښې د شرط موجوديدو نه پس هم يمين باقی پاتې کيږی.نوکه يوکس دا اووئيل «کلما تزوجت امرة فهی طالق» نو په هر ځل به طلاق واقع کيږی.

د[كلما دخلت الدار فانت طالق] حكم

فَإِنْ تَزَوَّجَهَا بَعْدَذٰلِكَ نوکه ددې نه پس ئې دغه ښځې سره نکاح اوکړله. وَتَكَرَّرَالشَّرْطُ او شرط مکرر اوموندې شو لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ نو هيڅ څيز به نه واقع کيږی

تشريح دا مسئله په کلمه د [كُلَّمَا] متفرع ده.که سړی ښځې ته اووئيل.[كلما دخلت الدار فانت طالق] اوښځه پرله پسې درې ځله کورته داخله شوه.نودرې طلاقه واقع کيږی.نوکه د دويم د حلاله نه پس دا دوباره د اولنی خاوند په نکاح کښې راغله.اوشرط مکرر موجود شو.يعنی دا ښځه بيا کورته داخله شوه.نوطلاق نه واقع کيږی.

دليله دليل دا دې.چه دا خاوند په سابقه نکاح کښې دکومودرې طلاقومالك وو.هغه پوره شول.نوجزاء باقی پاتې نشوه.ځکه چه جزاء دهغه ملك درې طلاقه وو.نوچه جزاء منتفی شوه.قسم هم منتفی شو.ځکه چه قسم د شرط اوجزاء د ذکرنوم دې.اوهرکله چه قسم ختم شو.نودخول دارنه پس د طلاق واقع کيدوڅه معنی ده؟ ددې وجې مونږوايو.چه په دې صورت کښې طلاق نه واقع کيږی.

ديمين نه پس د ملك زوال هغه نه ختموی

وَزَوَالُ الْمِلْكِ بَعْدَالْيَمِيْنِ لَايُبْطِلُهَا اود ملك زائل کيدل د قسم نه پس قسم نه باطلوی

تشريح صاحب دقدوری رحمه الله يواصول ذکرکړې دې.هغه داکه د قسم نه پس د سړی ملك زائله شی.نوقسم نه باطليږی. ددې صورت دا دې.چه سړی خپلې ښځې ته اووئيل.[ان دخلت الدار فانت طالق] بيا د دخول نه وړاندې ښځه بائنه شوه.دملك په زوال سره به يمين نه باطليږی.

دليله> دليل دا دې چه د يمين بقاء په شرط اوجزاء سره وي.اومفروض دا دى چه شرط موجود شوې نه دې. نو چونکه شرط باقي دې.اودمحل د بقاء د وجې به جزاء هم باقي وي.نوهرکله چه شرط اوجزاء دواړه باقي وي.نويمين به هم باقي وي.

فَإِنْ وُجِدَ الشَّرْطُ فِي مِلْكِهِ نو که د سړي په ملك کښې شرط اوموندې شو **انْحَلَّتِ الْيَمِينُ وَوَقَعَ الطَّلَاقُ** نو قسم نازل (واقع) شو.او طلاق واقع شو

تشريح> که شرط په ملك کښې واقع شي.مثلاً دا کس چه دې ښځې سره دوباره نکاح اوکړي. اوبيا شرط موجود شي نو په دې اول صورت کښې به طلاق واقع کيږي.اويمين به پوره شي.

دليله> طلاق خو به ځکه واقع کيږي.چه شرط (دخول دار) په ملك کښې موجود شو.نود طلاق جزاء کومه چه دې سره متعلق ده.هغه به هم واقع کيږي.اوديمين پوره کيدل ددې دپاره دى.چه په کلام کښې د [اِن] کوم لفظ دې.هغه په تکرارباندې دلالت نه کوي.نوچه يوځل شرط موجود شي.يمين به پوره شي.

وَإِنْ وُجِدَ فِي غَيْرِ الْمِلْكِ اوکه په غير ملك کښې شرط اوموندې شو **انْحَلَّتِ الْيَمِينُ لِوُجُودِ الشَّرْطِ** نو يمين نازل شو.د شرط موجود کيدلو په وجه **وَلَمْ يَقَعْ شَيْءٌ** او هيڅ (طلاق) به نه واقع کيږي.(د محل معدوم کيدلو په وجه.)

تشريح> اوکه شرط په غير ملك کښې موجود شو.نو يمين پوره شو.او طلاق واقع نشو.

دليله> ځکه چه شرط موجود شوې دې.خوطلاق نه دې واقع شوې.ځکه چه محل د طلاق معدوم دې.

په شرط کښې د زوجينو اختلاف حکم

وَإِذَا اخْتَلَفَا فِي وُجُودِ الشَّرْطِ اوکه دواړو(ښځې خاوند) په شرط کښې اختلاف اوکړو **فَالْقَوْلُ قَوْلُ الزَّوْجِ فِيهِ إِلَّا أَنْ تُقِيمَ الْمَرْأَةُ الْبَيِّنَةَ** نود خاوند قول به (معتبر) وي.خودا چه ښځه ګواهان قائم کړي.(نوبيا به د ښځې ګواه قبلولې شي).

تشريح> صورت د مسئلې دا دې.چه دښځې اوخاوند د شرط په وجود کښې اختلاف شي.مثلاً سړې وائي.چه شرط نه دې موجود شوې اوطلاق نه دې واقع شوې.اوښځه وائي.چه شرط موجود شوې دې.اوطلاق واقع شوې دې.په دې صورت کښې که ښځې سره ګواهان موجود نه وي.نودخاوند قول به معتبروي.اوکه ښځې سره ګواهان موجود وي.نوګواهي به قبلولې شي.

دلائله> ① دليل دا دې.چه د خاوند قول د اصل موافق دې.ځکه چه اصل عدم شرط دې.اوچه د چا قول داصل سره موافق وي.هغه نه مدعى عليه وائي.نوښځه مدعى اوخاوند مدعى عليه شو.اوبه حديث کښې دى.که مدعى سره ګواهان موجود نه وي.نود مدعى عليه قول به معتبروي.

② دويم دليل دا دې.چه خاوند د وقوع طلاق اوزوال ملك منکردې.اوښځه ددې دواړو خيزونومدعيه ده.او چه ګواهان نه وي.نودمنکرقول معتبروي.نوځکه په دې مسئله کښې که ښځې سره ګواهان موجود نه وي.نود خاوند قول به معتبروي.

داسې شرط چه هم د ښځې نه معلوميږي

فَإِنْ كَانَ الشَّرْطُ لَا يُعْلَمُ إِلَّا مِنْ جِهَتِهَا بيا که شرط (داسې خيز وي) چه نه معلوميږي.خود ښځې د طرفه **فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا فِي حَقِّ نَفْسِهَا** نود ښځې قول به ددې د ذات په حق کښې (معتبر) وي **مِثْلُ أَنْ**

يَقُولُ: إِنْ حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ مثلاً دا اووائي. كه ته حائضه شوې.نو ته طالقه ئې فَقَالَتْ: قَدْ حِضْتُ طَلُقَتْ هغې اووئيل. زه حائضه يم.نودا طلاقه شوه

تشريح> مسئله كه شرط د داسې څيزوي.چه هغه صرف د ښځې نه معلوميږي.نوپه داسې صورت كښې به دخپل ذات په حق كښې د ښځې قول معتبروي.دبل په حق كښې به نه معتبر نه وي.دا قول دامام شافعي امام مالك اوامام احمد(رحمهم الله) هم دې.مثلاً خاوند خپلې ښځې ته اووئيل.[إن حضت فأنت طالق] او ښځې اووئيل.چه زما حيض راغلې دې.نودا به مطلقه وي.اودا استحسان دې.

دليله> داستحسان دليل دا دې.چه ښځې د خپل ذات په حق كښې امانتدارې وي.ځكه چه ښځې دهغه څيزپه ظاهركولوكښې اماندارې وي.كوم چه په رحمونوكښې وي.اوددې د صحيح ښكاره كولوحكم ورته هم شوې دې.دالله ﷻ ارشاد دې. ﴿وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيْ أَرْحَامِهِنَّ﴾ اوددې وجې هم ښځه امانت داره ده.چه حيض داسې شرط دې.چه ددې علم صرف دې ته كيدې شي.بل چاته نشي.اوقاعده دا ده.چه دامين قول دهغه د خپل ځان په حق كښې قابل قبول وي.نوددې وجې به د ښځې قول چه په مابانديې حيض راغلې دې.دا به قبولې شي.

داسې شرط چه هم د ښځې نه معلوميږي

فَإِنْ كَانَ الشَّرْطُ لَا يُعْلَمُ إِلَّا مِنْ جِهَتِهَا بيا كه شرط (داسې څيز وي) چه نه معلوميږي.خود ښځې د طرفه فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا فِي حَقِّ نَفْسِهَا نود ښځې قول به ددې د ذلت په حق كښې (معتبر) وي وان قَالَ لَهَا اوكه چرته اووائي هغې ته إِذَا حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَفُلَانَةُ كله چې ته حائضه شوې.نو ته او فلانئ (ښځه) طالقه دې فَقَالَتْ: قَدْ حِضْتُ طَلُقَتْ هِيَ هغې اووئيل. زه حائضه يم.نودا پخپله طالقه شوه وَلَمْ تَطْلُقْ فُلَانَةُ او فلانئ (ښځه) به طالقه نه وي

تشريح> دا مسئله او سابقه مسئله يو شان ده صرف دومره ده چې دې كښې ورسره د بنې ذكر هم شته.نو كله چې تا اووائي زه حائضه شوې يم.د دې قول به د دې په حق كښې معتبر وي يعنى دا به طلاقيږي.خو د دې د بنې په كښې به معتبر نه وي.اوهغه بنه نه طلاقيږي.

وَإِذَا قَالَ لَهَا اوكله ئې چه ښځې ته اووئيل إِذَا حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ چه كله ته حائضه شې.نو ته طالقه ئې فَرَأَتِ الدَّمَ بيا هغې وينه اوكتله لَمْ يَقَعِ الطَّلَاقُ حَتَّى يَسْتَمِرَّ الدَّمُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ نو طلاق به نه واقع كيږي.تردې چه درې ورځو پورې برابر جارى پاتې شي

تشريح> كه خاوند خپلې ښځې ته اووئيل.[إن حضت فأنت طالق] اوښځې وينه اوليدله.نوصرف په وينې ليدو سره طلاق نه واقع كيږي.ترڅوچه په دې درې ورځې تيرې شوې نه وي.

دليله> دليل دا دې.چه زمونږ په نيزد حيض كمه مودهٔ درې ورځې اودرې شپې دى.اوكومه وينه چه ددې مودې نه په كم وخت كښې اودريږي.نوهغه به حيض نه وي.بلكه استحاضه به وي.

فَإِذَا تَمَّتْ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ نو كله چه درې ورځې پوره شى حَكَمْنَا بِوُقُوعِ الطَّلَاقِ مِنْ حِيْنِ حَاضَتْ نود هغه وخت نه به هغه حائضه وي.د هغه وخت نه به د طلاق حكم وركوو

تشريح> كله چې درې ورځې پوره شى نو د كوم وخت نه چې دا حائضه شوې ده د هغه وخت نه به د طلاق حكم په دې كولې شى.

دليله› خکه چې د وينې راتلو په تسلسل سره معلومه شوه چې دا وينه د رحم نه ده او حيض دې استحاض نه دې.

په [إذا حضت حيضة] سره د طلاق واقع کيدو حکم

وَإِن قَالَ لَهَا او که ښځې ته ئې اووئيل إِذَا حِضْتِ حَيْضَةً فَأَنْتِ طَالِقٌ چه کله ته حائضه شې.يو حيض سره.نو ته طالقه ئې لَمْ تَطْلُقْ حَتَّى تَطْهُرَ مِنْ حَيْضَتِهَا نودا (ښځه) به طالقه نه وى.تردې چه ددې حيض نه پاکه شى

تشريح› مسئله دا ده.چه يوکس خپلې ښځې ته اووائى.[إذاحضت حيضة فأنت طالق] نودا ښځه به مطلقه نه وى.ترڅوچه د حيض نه پاکه شوې نه وى.

دليله› دليل دا دې.چه حيضة په تاء سره حيض کامل ته وائى.اود حيض کمال به دهغې په ختميدوسره حاصليږى.اوختميدل په طهرسره راځى.ددې وجې مونږ وايو.چه دطهرپه شروع کيدو به طلاق واقع کيږى. ددې نه وړاندې نه.هم ددې وجې نه په حديث استبراء کښې هم حيضة په حيض کامل باندې حمل شوې دې.دحديث استبراء نه مراددا حديث دې.[لاتوطأ الحبالى حتى يضعن حملهن ولا الحبالى حتى يستبرأن بحيضة، رواه ابوداؤدفى سننه] (^١)نبى ﷺ فرمائيلى دى.چه حامله ښځوسره به وطى نشى کولې.تردې چه هغوى خپل حمل اوزيږوى.اووطى به نشى کولې غيرحامله ښځوسره تردې چه يوکامل حيض سره ئې استبراء د رحم راشى.په دې حديث کښې د حيضة نه مراد کامل حيض دې.(عنايه شرح هدايه)

د وينزې اواصيلې د طلاق شمار

طَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ اودَ وينځې طلاق دوه دى وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ اوعدت ئې دوه حيضه دى حُرًّا كَانَ زَوْجُهَا أَوْعَبْدًا خاوند يې ازاد وي او که غلام وى وَطَلَاقُ الْحُرَّةِ ثَلَاثٌ حُرًّا كَانَ زَوْجُهَا أَوْعَبْدًا د آزاد ې ښځې طلاق درې دى خاوند ئې آزاد وى اوکه غلام وى

تشريح› د طلاق په باب کښې د ښځو اعتبار دې.يعنى د وينزې دوه طلاقه دى.که ددې خاوند آزاد وى اوکه غلام.اود اصيلې درې طلاقه دى.که خاوند ئې آزاد وى اوکه غلام.حاصل دا چه وينزه به په دوه طلاقه مغلظه کيږى اواصيلې په دريو.(^٢)

دلائله› ① د نبى ﷺ ارشاد دې.{طَلَاقُ الْأَمَةِ ثِنْتَانِ وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ}(^٣) په حديث کښې په [الأمة] کښې الف لام دپاره د جنس دى.نومعنى دا شوه.چه د جنس وينزې طلاق دوه دى.اوددې عدت دوه حيضه دى. (اګرکه خاوند ئې آزاد وى)ددې حديث نه معلومه شوه.چه د طلاق په شمارکښې ښځې

---

^١ – من حديث ابى سعيد الخدرى رضي الله عنه اخرجه ابوداود فى سننه فى النكاح باب ٤٣ رقم ٢١٥٧) .

^٢) مسلک الشافعي:– امام شافعى رحمه الله فرمائى.چه د طلاق په شمارکښې به سړو لره اعتباروى.يعنى سړې که آزاد وى.نودې به خپلې بى بى ته درې طلاقه ورکوى.که ښځه ئې آزاده وى اوکه وينزه،اوکه سړې غلام وى.نودې خپلې ښځې ته د طلاق ورکولو مجاز دې.چه خپلې ښځې ته به دوه طلاقه ورکوى.که ښځه ئې آزاده وى اوکه وينزه وى.دا مذهب دامام مالک اوامام احمد رحمهما الله هم دې.

^٣) من حديث عائشة رضي الله عنها اخرجه ابوداود فى الطلاق باب ٦ رقم ٢١٨٩ والترمذى فى الطلاق باب ٧ رقم ١١٨٢ وابن ماجه فى الطلاق باب ٣٠ رقم ٢٠٨٠ والحاكم فى المستدرک (٢ / ٢٥) .

معتبر دی.سړی نه دی.

③ عقلي دليل دا دی.چه ښځه دنکاح محل دی.نودا ددی په حق کښې نعمت دی.ځکه چه دا د نان نفقې او استوګنې وغیره مستحقه شی.اود نعمتونو په نیم کولو کښې د غلامی اثر دی. نود قیاس تقاضا خو دا وه.چه وینځې ته صرف یونیم طلاق ورکول کافی وو.کوم چه د آزادی ښځې د طلاق نیمه ده.خوچونکه طلاق تقسیم نه قبلوی.نوځکه دا نیم طلاق پوره کړې شو.اودوه طلاقونه مقرر کړې شول.

غیرمدخول بها ښځې ته د طلاق ورکولوحکم

وَإِذَا طَلَّقَ رَجُلٌ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا او کله چه سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړو.ددې سره د دخول نه وړاندې وَقَعْنَ عَلَيْهَا نو په دې به ټول واقع کیږی

تشریح> چونکه نکاح ددخول دپاره وی.نوځکه طلاق بعدالدخول اصل دی.اوقبل الدخول خلاف اصل دی. امام قدوری رحمه الله اصل اول بیان کړلو.اوخلاف الاصل وروستو بیانوی.

حکم الطلاق قبل الدخول> مسئله دا ده.که یوکس خپلې ښځې ته د قبل الدخول نه وړاندې [أنت طالق ثلاثاً] اوونیل.نودرې واړه طلاقه واقع کیږی.

دلیله> دلیل دا دی.چه وړاندې تیرشوی دی.کله چه وصف دطلاق د عدد سره یوځائې شی.نوطلاق به په عدد سره واقع کیږی.ځکه چه واقع کیدل د طلاق په اصل کښې په محذوف مصدره سره کیږی.اودا عدد د هغې صفت وی.نود [أنت طالق ثلاثاً] معنی دا شوه. چه [أنت طالق طلاقاً ثلاثاً] نوپه [أنت طالق] سره به جدا طلاق نه واقع کیږی.بلکه [طلاقاً ثلاثاً] سره به په یوخل درې طلاقه واقع کیږی.

غیرمدخول بها ته درې طلاقه جدا جدا ورکول

وإِنْ فَرَّقَ الطَّلَاقَ بَانَتْ بِالْأُولَى نوکه ده طلاق متفرق کړو.نو په رومبی سره به بائنه وی. وَلَمْ تَقَعِ الثَّانِيَةُ وَالثَّالِثَةُ او دویم او دریم طلاق به نه واقع کیږی

تشریح> مسئله دا ده.که درې طلاقه ئې جدا جدا کړل.مثلاً وئې ونیل.چه [أنت طالق طالق طالق] ئې اوونیل. نوپه اولنی لفظ سره به ښځه بائنه شی.اوپه دویم اودریم سره طلاق نه واقع کیږی.ځکه چه ددې دواړو د واقع کیدو دپاره ښځه محل پاتې نشو.نودا دواړه لغو شول.

دلیله> د دلیل نه وړاندې دا خبره ښه په ذهن کښې کینوئ.چه که درې طلاقه جدا جدا کړې شی.اودکلام په آخرکښې استثناء وغیره داسې څیزوی.چه هغه د کلام اول بدلوی.نوپه دې صورت کښې به په غیرمدخول بها باندې هم درې طلاقه په یووخت واقع کیږی.

ددې مقدمې نه پس د دلیل حاصل دا دی.چه [أنت طالق طالق طالق] کښې هریوطلاق جدا جدا واقع کول د طلاق دی.ځکه چه د کلام په آخرکښې داسې څه څیزنشته.چه اول د کلام بدل کړی.اوپه کوم چه اول د کلام موقوف وی.نواولنې طلاق به فی الحال واقع شی.اوددې نه پس دویم اودریم چونکه په داسې حالت کښې واقع کیږی.چه ښځه په اولنی طلاق سره بائنه شوې ده.اوداسې بائنه چه عدت پرې هم واجب نه دی.نودا محل د طلاق پاتې نشوه.

غیرمدخول بها ته یوطلاق ورکول اوعدد نه وړاندې دهغې مره کیدل

وَكَذَا إِذَا قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَوَاحِدَةً اوهم دغه شان که وې ونیل ښځې ته.انت طالق واحدة و واحدة وَقَعَتْ عليها وَاحِدَةٌ نو یو به واقع کیږی.

تشريح> که خاوند خپلې غیرمدخول بها ښځې ته اووئیل. [أنت طالق واحدة أو واحدة]نو په دې صورت کښې يو طلاق بائن واقع کیږی.

دليله> وراندې دلیل تیرشوې دې.چه دا په اولنی واحدة سره بائنه شوه.نودویم واحدة لغو شو.

غیرمدخول بها ته یوطلاق ورکول اوعدد نه وراندې دهغې مره کیدل

وَان قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قبل وَاحِدَةً اوکه اووائی هغې ته انت طالق واحدة و واحدة وَقَعَتْ عليها وَاحِدَةٌ نو يو طلاق واقع کیږی.

تشريح> که خاوند خپلې غیرمدخول بها ښځې ته اووئیل. [أنت طالق واحدة أو واحدة]نو په دې صورت کښې يو طلاق بائن واقع کیږی.

دليله> وراندې دلیل تیرشوې دې.چه دا په اولنی واحدة سره بائنه شوه.نودویم واحدة لغو شو.

په [أنت طلاق واحدة مع واحدة] باندې وقوع دطلاق

وَان قَالَ: لَهَا أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً بعد واحدة اومَعَ وَاحِدَةٍ أَوْمَعَهَا وَاحِدَةٌ وقعت ثِنْتَانِ() اوکه وې وئیل.تاته يو طلاق دې پس د يو طلاق نه او سره د يو طلاق نه یا د هغې سره يو بل نو دوه به واقع کیږی

تشريح> مسئله دا ده.که يوکس اووئیل.① [أنت طالق واحدة مع واحدة] ②یا [أنت طالق واحدة معها واحدة]نودوه طلاقه واقع کیږی. ([2])

دليله> دلیل دا دې.چه کلمه د «مع» د اقتران اواتصال دپاره ده.نوحاصل دا شو.چه دواړه طلاقه په يوځائې واقع شول.

وَان قَالَ لَهَا أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قَبْلَهَا وَاحِدَةٌ تَقَعُ ثِنْتَانِ اوکه وې وئیل دې ته ..انت طالق واحدة قبلها واحدة، نو دوه به واقع وی

تشريح> دا صورتونه په دوو اصولوباندې موقوف دی.کوم چه مصنف رحمه الله په کتاب کښې ذکرکړی دی.

الاصل الاول> اول دا چه ظرف یعنی لفظ د قبل اوبعد په هاء کنایه سره مقید کړې شی.نوظرف به د روستوکلام دپاره صفت وی.اوکه هاء کنایه سره مقید نه وی.نود وراندینی کلام صفت به وی.(دلته د صفت نه معنوی صفت مراد دې.نحو صفت مراد نه دې)

ددې اصل وضاحت به په دې دوو مثالونه سره اوشی.① [جاءني زيد قبله عمرو] ②او[جاءني زيد قبل عمرو]په اولنی مثال کښې قبلیت د (مابعد یعنی عمرصفت دې.مطلب دا چه عمرنه وراندې راغلې وو.او زيد روسته.اوپه دویم مثال کښې قبلیت د ماقبل یعنی زيد صفت دې.یعنی زيد وراندې راغلې وو.اوعمر روسته.

---

[1]) القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٣٧٢\٢) وردالمحتار(٤٦٩\٢) والهندية (٣٧٣\١) نقلاً عن القول الراجح (٣٢٥\١)-

[2]) مسلك ابي يوسف:- داامام ابويوسف رحمه الله نه يوروایت دا دې.چه د [معها واحدة] په صورت کښې به يو واقع کیږی.

الاصل الثاني‹ دويم اصل دا دي.چه [إيقاع في الماضي إيقاع في الحال] وي.يعنې كه ماضي زماني ته د طلاق نسبت اوشي.اوواقع كړې شي.نوپه زمانه حال كښې به واقع كيږي.په ماضي كښې نه.څكه چه ماضي ته د طلاق نسبت كول اوهغه واقع كول د انسان په وس كښې نه دي.يعنې دا ناممكن ده.چه يوكس نن اووائي.[أنت طالق أمس] اوهغه طلاق په تيرشوې صبا كښې واقع شي.ددې دوارو اصولونه علاوه يوه بله خبره په ذهن كښې واچوئ.هغه دا چه غيرمدخول بها ښځه په يوطلاق سره بائنه كيږي.اوپه دې به عدت واجب نه وي.اونه د يوطلاق نه پس هغه محل د طلاق پاتې كيږي.

①اوس كه يوكس خپلې غيرمدخول بها ښځې ته اووئيل.چه [أنت طالق واحدة قبل واحدة] تاته دې يوطلاق وي.چه دهغې نه پس يوبل هم وي.نوپه دې صورت كښې به لفظ د قبل د وړاندينې كلام صفت وي.اومعنى به دا وي.چه اول واحده اول اودويم واحدة وروسته دې.نو هركله چه اولنې واحده واقع شو . نو غيرمدخول بها ښځه بائنه شوه.اود دويم واحدة دپاره محل باقي پاتې نشو.ددې وجې دويم واحدة عبث شو.نوثابته شوه.چه يوطلاق واقع شو.

②اوكه ونې وئيل.چه [أنت طالق واحدة بعدها واحدة] تاته دې د يوطلاق نه پس يوطلاق وي.په دې صورت كښې لفظ د بعد د ماقبل صفت دې.معنى دا شوه.چه تاته دې يوطلاق وي.چه دهغې نه پس بل طلاق وي.يعنې په اولنى واحدة باندې غيرمدخول بها بائنه شوه.اوددې نه پس د دويم واحدة دپاره د محل نه پاتې كيدو دوجې هغه طلاق عبث شو.نوپه دې صورت كښې هم يوطلاق واقع كيږي.

③اوكه ونې وئيل.چه [أنت طالق واحدة قبلها واحدة] نوپه دې صورت كښې به لفظ د ،قبل،د ما بعد صفت وي.يعنې تاته يوطلاق دې چه د هغې نه پس يووي.دا كلام تقاضا كوي.چه اولنې طلاق دې په ماضي كښې اودويم دې في الحال واقع شي.اوچونكه [إيقاع في الماضي إيقاع في الحال] وي.نودواړه طلاقونه به په زمانه حال په يوځائې واقع شي.اوغيرمدخول بها ښځې ته په يوځل دوه طلاقه وركولې شي.نوځكه به په دې صورت كښې دوه طلاقه واقع شي.

وان قَالَ وَاحِدَةً بَعْدَهَا وَاحِدَةٌ اوكه وې وئيل انت طالق واحدة بعدها واحدة،نو دوه به واقع كيږي

تشريح‹ اوكه ونې وئيل.[أنت طالق واحدة بعد واحدة] يعنې تاته دې يوطلاق وي پس د يو نه. نو دوه طلاقه به واقع كيږي

دليل‹ په دې صورت كښې لفظ د ،بعد،د ماقبل دپاره صفت دې.اودا كلام تقاضا كوي.چه اولنې طلاق په زمانه حال اودويم په زمانه ماضى كښې واقع شي.اوبنكاره ده چه د اولنې د واقع كيدو نه وړاندې زمانه ماضي ده.نولكه چه دويم طلاق په زمانه ماضى كښې واقع كيږي.اوچونكه [إيقاع في الماضي إيقاع في الحال] وي.نودا دواړه طلاقه به په زمانه حال كښې واقع وي.ددې وجې په دې صورت كښې هم په غيرمدخول بها باندې دوه طلاقه واقع كيږي.

دغه شوو صورتونوكښې د مدخول بها حكم

وَانْ قَالَ لَهَا اوكه غيرمدخول بها ته ئې اووئيل إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَوَاحِدَةً كه ته كور ته داخل شوې.نو تاته يو يو طلاق دې.او يو فَدَخَلَتْ الدار وَقَعَتْ عَلَيْهَا وَاحِدَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله نوداخله شوه كور ته .نو په دې به د امام صاحب رحمه الله په نيز يو واقع كيږي،

تشریح> صورت د مسئلې دا دې.که ذکرشوې صورتونه د شرط پورې معلق کړې شی.اویوبه بل پاندې د واو په ذریعه عطف کړی.نوددې دوه صورتونه دی.① شرط به یا مقدم وی②اویا به موخروی.

①مثلاً [أنت طالق واحدة وواحدة إن دخلت الدار]نې اوونیل.بیابنځه کورته داخله شوه.نوبه اتفاق سره دوه طلاقه واقع شول. ②اوکه شرط مقدم وی.اومثلاً داسې اووائی.چه [إن دخلت الدار فأنت طالق واحدة وواحدة] اوغیرمدخول بها کورته ورداخله شوه.نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزیوواقع کیږی.

دلیله> دلیل دا دې.چه واو مطلقاً جمع د اتصال اوترتیب احتمال لری.نوکه داتصال د معنی خیال اوساتلې شی.نوپکارده چه دوه واقع شی.اوکه د ترتیب دمعنی خیال اوساتلې شی.نو پکارده چه یوواقع شی.لکه څنګه چه په [أنت طالق واحدة وواحدة] طلاق منجزکښې صرف یوواقع کیږی.نومعلومه شوه.چه دیونه د زیاتی طلاق په واقع کیدو کښې شك دې.اودشك په وجه طلاق نه واقع کیږی.نوځکه به د یونه زیات نه واقع کیږی.

وَقَالَا: تَقَعُ ثِنْتَانِ [1] او صاحبین رحمهما الله فرمائی.چه دوه به واقع کیږی

مسلك الصاحبين> اودصاحبینو رحمهما الله په نیزبه دې صورت کښې دوه واقع کیږی.

دليلهما> دلیل دا دې.چه واود مطلق جمعې دپاره راځی.نودواړه طلاقه به معلق شی.اوبه یوځل به واقع شی.لکه څنګه چه په [إن دخلت الدار فأنت طالق ثنتين] صورت کښې دوه واقع کیږی.ځکه چه واو حرف په ذریعه باندې جمع داسې ده.لکه څنګه چه دجمعې په ذریعه ده.اولکه څنګه چه د شرط د تاخیرپه صورت کښې په اتفاق سره دوه طلاقه واقع کیږی.دغه شان به د تقدیم په صورت کښې هم دوه واقع کیږی.

الجواب عنه> صاحبینو رحمهما الله دتقدیم شرط صورت په تاخیرشرط باندې قیاس کړې دې.خو مونږ وایو.چه دا قیاس صحیح نه دې.ځکه چه د شرط دتاخیرپه صورت کښې شرط دکلام اول بدلوی.نواول دکلام به په شرط باندې موقوف وی.چه شرط څنګه موجود شی.نودوه طلاقونه به په یوځل واقع کیږی.اودتقدیم په صورت کښې د کلام د اول بدلونکې څه څیزنشته.نواول د کلام په آخرد کلام موقوف نشو.نوځکه به دواړه طلاقونه په ترتیب سره واقع کیږی.اوښځه چونکه غیرمدخول بها ده.نواولنی طلاق سره هغه بائنه شوه.اودویم به نه واقع کیږی.

د [أنت طالق في مكة] په لفظ سره د طلاق حکم

وَإِنْ قَالَ: لَهَا أَنْتِ طَالِقٌ بِمَكَّةَ اوکه هغې ته نې ووئیل.ته طلاق والا نې.مکې سره. فَهِيَ طَالِقٌ فِي الْحَالِ فِي كُلِّ الْبِلَادِ نودا به فی الحال په ټولو ښارونو کښې طلاق والا وی وَكَذَلِكَ إِنْ قَالَ: لَهَا أَنْتِ طَالِقٌ فِي الدَّارِ اوهم دغه شان که وې وئیل. [أنت طالق في الدار]

تشریح> مسئله یوکس خپلې ښځې ته اوونیل. [أنت طالق بمكة یا فی مکة یا أنت طالق في الدار] نو طلاق به فی الحال واقع وی.اودا ښځه به د دنیا په ټوول ښارونو او په ټوله زمکه کښې مطلقه وی.

دليله> ځکه چه طلاق په یوځائې پورې خاص نه وی.بلکه چه کله هم واقع کیږی.نو په هرځائې کښې

---

[1]) القول الراجح هو قول الصاحبين رحمهما الله كذا في فتح القدير(۳\۲۹۶) وردالمحتار(۲\۴۹۶) والبناية (۵\۱۰۲) نقلاً عن القول الراجح (۱\۳۲۷)-

واقع کیږي.اوکه دې سرې د [بمکة أو فی مکة] نه [أذا أتیت مکة] اراده کړې وه.نویعنی د طلاق واقع کیدو دپاره ئې مکې ته د تلو اراده چه یو پټ څیز دې ددې اراده کړې وه.کوم چه د ظاهر نه خلاف دې.نو وړاندې تیرشوې دی.چه د خلاف ظاهر خبرې دیانة تصدیق کولې شی.قضاء نشی کولې.

د [أنت طالق إذا دخلت مکة] په لفظ سره د طلاق حکم

وَاِنْ قَالَ: لَهَا أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا دَخَلْتِ مَكَّةَ اوکه هغې ته ئې وونیل. [أنت طالق إذا دخلت مکة] لَمْ تُطَلَّقْ حَتّٰى تَدْخُلَ مَكَّةَ نو طلاق به نه واقع کیږي.تردې چه مکې ته داخله شي

تشریح﴾ اوکه وې وئیل. [أنت طالق إذا دخلت مکة] نوطلاق نه واقع کیږي.تردې چه مکة ته داخله شي.

دلیله﴾ ځکه چه طلاق د مکة په داخلیدو پورې معلق شوې دې.اوکه [فی دخولك الدار] ئې وئیلي وي.

وَاِنْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ غَدًا اوکه وې وئیل.چه ته صباله طلاق شوې ئې وَقَعَ عَلَيْهَا الطَّلَاقُ بِطُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِي نو صباله د فجرثاني په راختلو به (فوراً) په دې باندې طلاق واقع کیږي

تشریح﴾ د دنیا په هره ژبه کښې ورځ دپاره یولفظ استعمالیږي.اود دنیا په ژبوکښې عربي یوه ژبه ده.چه د نورو ټولوژبو په مقابله کښې وسعت لري(ذخیره الفاظ په کښې ډیرزیات دی)په عربۍ کښې د ورځ دپاره د [نهار] لفظ استمالیږي.مثلاً [یوم القیامة] د قیامت ورځ، [یوم العید] د اختر ورځ،د یوم جمع ایام ده.دا لفظ د قرآن مجید په ډیرو آیاتونوکښې راغلي دي.کله چه د ورځ لفظ په ژبه باندې راشي.نویه ذهن کښې د ورځې په باره کښې د اول نه تر آخره پورې د ټولواجزاؤ تصور راپورته شي.دي نه معلومیږي.چه د ورځ نه مراد څه خاص لمحه یا وخت (ګنټه ،منټ ،سیکن وغیره مراد نه دی.ورځ (یوم ،نهار اطلاق د صبا راختو نه تر نمر پریوتو پورې په ټولو اجزاؤ او لمحاتو باندې مستحق (ثابت) دې.لکه ایام بیض، ایام تشریق،ایام صیام نه ښکاره دی.په سورة القدر کښې د [مطلع الفجر] نه د ورځ اولنې جزء اولمحه مراد ده.اوپه ﴿ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ﴾ کښې د ورځ آخری جزء اولمحه مراد ده.

دا پیژندل پکار دی.چه لفظ د [أمس] د تیرې شوې ورځ اولفظ د [غداً] د راروانې ورځې دپاره استعمالیږي. لفظ د [غد] په قرآن پاك کښې ذکردې.مثلاً ﴿وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾او ﴿وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا﴾ په دواړه آیاتونوکښې د راروانې ورځې دپاره د [غد] لفظ استعمال شوې دې.

د قدورئ په متن کښې چه کومه مسئله بیان شوې ده.په دې کښې هم د [أنت طالق غدا] ذکردې.یعنی چه یوکس خپلې ښځې ته اووئیل.چه په راتلونکی صبا کښې دې ته طلاقه ئې.نو راروان صبا به کله مستحق د ثبوت وی.نودهغه صبا تحقق اوثبوت به د صبا د راختو په اولنی جزء اواولنۍ لمحې سره وی.یعنی چه کله راروان صبا راوخیژی.نوصبا (غد) به ثابت شی.نود صبا د راختوسره سمدستی به د دغه متکلم قول چه [أنت طالق غدا] په ښځه باندې مستحق (ثابت) شی.اوطلاق به واقع شی.

دلیله﴾ ځکه چه د [غدا] لفظ د راروان صبا دپاره موصوف دې.

د اختیاربیان

وَاِنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: اِخْتَارِي نفسك يَنْوِي بِذٰلِكَ الطَّلَاقَ اوکله ئې چه خپلې ښځې ته اووئیل، اختاری، په داسې حال کښې چه ددې نه ئې د طلاق نیت کړې دې أَوْقَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَكِ یا ئې دې ته

اوونیل.طلقی نفسك، فَلَهَا أَنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا مَادَامَتْ فِي مَجْلِسِهَا ذَٰلِكَ نود ښځې دپاره جائز دي.چه دا
خپل خان ته طلاق ورکړي.ترکومه پورې چه دا په دې مجلس کښې موجود ده فَإِنْ قَامَتْ مِنْهُ أَوْ أَخَذَتْ
فِي عَمَلٍ آخَرَ نوکه ددې مجلس نه پاسیدله.یا په بل څه کارکښې لګیا شوه خَرَجَ الْأَمْرُ مِنْ يَدِهَا نو
اختیار ددې د لاس نه اووتلو

تشریح صورت د مسئلې ښکاره دې.اود منقول دلیل حاصل دادې.چه د قیاس تقاضا خودا ده.چه په
دې لفظ د [اختاری] سره د نیت باوجود طلاق واقع نشي.ځکه چه خاوند په دې لفظ سره د طلاق واقع
کولو مالك نه دې.که ده چرته [اخترتك من نفسی یا اخترت نفسی منك] اوونیل.نوطلاق نه واقع کیږي. او
انسان چه په خپله د یوڅیز مالك نه وي.نوبل په څه دهغې مالك کړي.

دلیل د صحابو رضي الله عنهم داجماع په وجه قیاس پریخودې شوې دې.ځکه چه د حضرت
عمر،عثمان،علي،ابن مسعود،ابن عمر،جابر،زیدبن ثابت،اوعائشې رضي الله عنهم نه منقول دي.چه کله سړي
ښځې ته اختیار ورکړلو .نو دښځې دپاره ترهغه وخته پورې اختیارشته.ترڅوچه هغه د خپل مجلس نه
پاسیدلې نه وي.اوچه کله پاسیدله.نواختیارئې ختم شو.اوددې خلاف منقول نه دې.نوځکه دا د اجماع
قائم مقام شو.په اجماع سره د ښځې دپاره خیارثابت شو.اودا هم ثابت شوه.چه دا خیارد مجلس سره
خاص دې (۱)

صورتې تبدیل المجلس البته د مجلس په بدلیدوکښې دوه صورتونه دي.① یودا چه دمجلس نه
پاسي.اولاړشي. ② دویم دا چه هم په مجلس کښې ناست وي.اوبل کارشروع کړي.مثلاً د خوراك
څکاك مجلس شروع وي.اوهم په دغه مجلس کښې دخوراك څکاك د فراغت نه پس دمناظرې مجلس
شروع شي.نودا هم د مجلس بدلیدل دي.[اللهم اغفرلکاتبه ولوالدیه ولمن سعی فیه]

د [اختاری] په جواب کښې د ښځې ځان مختاره کول

وَإِنْ اخْتَارَتْ نَفْسَهَا فِي قَوْلِهِ اخْتَارِي نوکه دغه ښځې خپل ځان مختاره کړلو. د ده د قول اختاری په
صورت کښې كَانَتْ وَاحِدَةً بَائِنَةً نو یوبائنه به شي.

تشریح مسئله دا ده.چه د خاوند د [اختاری] لفظ وئیلو نه پس ښځې هم په دغه مجلس کښې ځان
مختاره کړلو.نویه یوطلاق سره به بائنه شي.هم دا قول د حضرت علي رضي الله عنه دې.

دلائله ① د صحابو رضي الله عنهم داجماع په وجه استحساناً دا جائزشو.

② دویم دلیل دا دې.چه خاوندته دا اختیار حاصل دې.چه هغه دخپلې ښځې نکاح قائمه کړي.یا هغه
جدا کړي.نوهغه په دې اختیارکښې خپله ښځه خپل قائم مقام هم جوړولې شي.

وقوع البائن په [اختاری] لفظ سره ښځه په یوطلاق بائنه کیږي.

دلیله ځکه چه دښځې خپل ځان مختاره کول په په هغه وخت کښې ثابتیږي.چه دنفس سره دښځې
اختصاص ثابت شي.یعنی د خاوند ملك زائل شي.اوښځه دخپل ځان مالکه شي.او ښکاره ده.چه دا
خبره په طلاق بائن سره حاصلیږي.

---

۴۲) قال الزیلعی رحمه الله فیه عن ابن مسعود وجابر،وعمر،وعثمان وعبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهم ثم ذکرروابالمم رضي الله عنه
(نصب الرایة ۳/۳۱۵)

وَلَايَكُونُ ثَلَاثًا اودرې به پرې نه واقع کیږی وَاِنْ نَوَى الزَّوْجُ ذٰلِكَ اګرچه خاوند ددې نیت کړې وی.

عدم وقوع الثلاث > که خاوند د درې طلاقو نیت کړې وی.نودرې طلاقه نه واقع کیږی.

دلیله > ځکه چه اختیارنه تقسیمیږی.البته بینونت غلیظه اوخفیفه ته تقسیم کیدې شی.ددې وجې په [انت بائن] کښې د درې طلاقونیت صحیح دې. خود اختیارپه صورت کښې د درې طلاقو نیت صحیح نه دې.

د زوجینوپه کلام کښې د نفس د لفظ حیثیت

وَلَابُدَّ مِنْ ذِكْرِ النَّفْسِ فِی كَلَامِهٖ اَوْفِی كَلَامِهَا اود نفس ذکر ضروری دې.د خاوند په کلام کښې،یا د ښځې په کلام کښې

تشریح > مسئله دا ده.چه د اختیارپه لفظ سره په طلاق واقع کولوکښې دا ضروری ده.چه د ښځې یا خاوند په کلام کښې لفظ د نفس یا کوم چه ددې قائم مقام وی.هغه ذکروی.[دنفس قائم مقام لفظ د اختارة اوتطليقة] دی.نوکه خاوند [اختاری] اووئیل.اوښځې [اخترت] اووئیل.نوطلاق نه واقع کیږی.

دلائله > ① دلیل دا دې.چه د [اختار] په لفظ سره د طلاق واقع کیدل د صحابوﷺ په اجماع سره ثابت دې.اود صحابوﷺ اجماع په هغه صورت کښې ده.چه د ښځې خاوند نه د یوپه کلام کښې لفظ د ،نفس، یا ددې قائم مقام ذکروی.نواجماع چه څنګه واقع شوې وی.دهغې پورې به خاص وی.ځکه چه دا اجماع خلاف القیاس ده.

②دویم دلیل دا دې.چه دلته د خاوند قول [اختاری] مبهم دې.اود ښځې قول کوم چه ددې تفسیردې.نوهغه هم مبهم دې.اویومبهم د بل مبهم تفسیرنشی واقع کیدې.نوددې وجې به هم دا کلام باطل وی.اوکه ته دا اعتراض اوکړې.چه خاوند دطلاق نیت اوکړلو.اوطلاق ئې متعین کړلو.نوجواب دا دې.چه دواړو طرفونوته ابهام موجود وی.نوتعین نشی کیدې.

دمشیت بیان

وَاِن طلقت نفسها فی قوله اوکه دې خپل خان ته د خاوند په دې قول سره طلاق ورکړو طَلِّقِی نَفْسَكِ چې ته خپل خان ته طلاق ورکړه فَهِیَ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ نو دا به یو رجعی وی،وَاِنْ طَلَّقَتْ نَفْسَهَا ثَلَاثًا وَقَدْ اَرَادَ الزَّوْجُ ذٰلِكَ اوکه دې خپل خان ته درې (طلاقه) ورکړل.حالانکه خاوند ددې اراده هم کړې ده وَقَعْنَ عَلَيْهَا نو په دې به (درې واړه) واقع کیږی

تشریح > که سړی خپلې ښځې ته [طلقی نفسك] اووئیل.اوسړی څه نیت نه وی کړې.یا ئې د یوطلاق نیت کړې وی.بیا ښځې په جواب کښې اووئیل.[طلقت نفسی] نویوطلاق واقع کیږی.اوکه ښځې په خان باندې درې طلاقه واقع کړلو.اوخاوند هم د دریونیت کړې وی.نوپه دې باندې (درې) واقع کیږی.

دلیل الصورتین > د دې دواړو صورتونودلیل دا دې.چه د [طلقی نفسك] معنی دا ده.چه [افعلی فعل الطلاق] یعنی صیغه دامر مصدر لره متضمن ده.اومصدر اسم جنس دې.په ادنی یعنی فرد حقیقی باندې صادقیږی.اود کل یعنی فرد حکمی احتمال لری.دا حکم د ټولواسماء اجناس دې.هم دا وجه ده.چه په [طلقی] کښې د دریونیت صحیح کیږی.اوکه نیت ئې نه وی کړې.نوفرد حقیقی یعنی

یوطرف ته به راجع وی.اودا یوطلاق به رجعی وی.ددې دلیل دا دې چه ښځې ته صریحی طلاق حواله شوې دې.اوپه صریحی طلاق سره طلاق رجعی واقع کیږی.

د [طلقی نفسك متی شئت] حکم

وَإِنْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَكِ مَتَى شِئْتِ اوکه ښځې ته ئې اوونیل.چه ته خپل نفس ته طلاق ورکړه.کوم وخت چه ته غواړې فَلَهَا أَنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا فِي الْمَجْلِسِ وَبَعْدَهُ نو ښځې ته اختیار دې.چه خپل نفس ته طلاق ورکړی.په مجلس کښې،اود مجلس نه پس.

تشریح > مسئله دا ده.که خاوند خپلې ښځې ته اوونیل.چه [طلقی نفسك متی شئت] نوښځې ته اختیاردې.که په مجلس کښې څان ته طلاق ورکوی اوکه د مجلس نه پس.

دلیله > دلیل دا دې.چه کلمه د متی ټولو وختونوته عامه ده.نودا داسې شوه.لکه چه خاوند خپلې ښځې ته اووائی.چه [طلقی نفسك فی أی وقت شئت] د وخت دعموم دوجې ښځې ته په هروخت کښې اختیارحاصل دې.که په مجلس کښې طلاق ورکوی اوکه دمجلس نه پس.

وَإِذَا قَالَ لِرَجُلٍ: طَلِّقِ امْرَأَتِي اوکله چه اووائی.یو کس ته. زما ښځې ته طلاق ورکړه فَلَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فِي الْمَجْلِسِ وَبَعْدَهُ نو هغه ته اختیار دې.چه دې هغې ته په مجلس کښې اود مجلس نه پس طلاق ورکړی

تشریح > دویمه مسئله دا ده.چه یوسړی بل کس ته اوونیل.[طلق امرأتی]نودغه وکیل ته اختیاردې.چه دده ښځې ته په دغه مجلس کښې طلاق ورکوی اوکه د مجلس نه پس.

دلیله > دلیل دا دې.چه دې کس دخپل ښځې طلاق ورکولوپاره بل کس وکیل جوړ کړلو.اودهغه نه ئې مدد اوغوښتلو.اووکالت نه لازمونکې وی.اونه په مجلس پورې منحصروی.نوځکه د طلاق وکیل ته اختیاردې.که په مجلس کښې طلاق ورکوی اوکه پس.اوخاوندته درجوع کولواختیارحاصل دې.ددې په خلاف که خاوند خپلې ښځې ته [طلقی نفسك] اوونیل.نودښځې دا اختیارد مجلس پورې خاص دې.اوخاوند ته د خپل قول نه د رجوع کولوحق هم نشته.

وجه الفرق > وجه دفرق دا ده.چه دخاوند قول [طلقی نفسك] تملیك دې.څکه چه ښځه دخپل څان دپاره عمل کوی. اووکیل هغه وی.چه د بل دپاره عمل کوی.اودا وراندې تیرشوی دی.چه د تملیك په ټولو صورتونو کښې خاوند ته د رجوع کولواختیارنشته.اوتملیك دمجلس پورې خاص وی.

وَإِنْ قَالَ طَلِّقْهَا إِنْ شِئْتَ اوکه سړی یو بل سړی ته اوونیل.چه ته دې (زما ښځې) ته طلاق ورکړه.که ته غواړې فَلَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فِي الْمَجْلِسِ خَاصَّةً نو دده دپاره جائز دی.چه هغه دې ته خاص طور باندې په مجلس کښې طلاق ورکړی

تشریح > دریمه مسئله دا ده.چه سړې بل کس ته اووائی.که ته غواړې نوزما ښځې ته طلاق ورکړه.

① نوپه دې صورت کښې هغه لره صرف په دغه مجلس کښې د طلاق ورکولواختیاردې.

مسلك زفر > امام زفر رحمه الله فرمائی.چه دا قول [طلق امرأتی ان شئت] اواولنې قول [طلق امرأتی] دواړه په حکم کښې برابردی.

دلیله > دلیل دا دې.چه قول ثانی [طلقها ان شئت] داسې تملیك دې.چه په دې کښې دتعلیق معنی موجود ده.نودتملیك اعتبارچه کولې شی.نودا اختیاربه د مجلس پورې خاص وی.اودتعلیق (یمین) د معنی

اعتبارچه کولې شي.نودا تصرف به لازم وی.اوخاوندته به دخپل قول نه د رجوع کولواختيارحاصل نه وی.

وَاِنْ قَالَ لَهَا اوکه خاوند هغې ته اووئيل اِنْ كُنْتِ تُحِبِّيْنِيْ که چرته ته ما سره محبت کوې اَوْ تُبْغِضِيْنِيْ يا ته ما سره بغض کوې فَاَنْتِ طَالِقٌ نو ته دې طلاقه يې فَقَالَتْ اَنَا اُحِبُّكَ نو هغه اووائي زه تا سره محبت کوم اَوْاُبْغِضُكَ يا تا سره بغض کوم وَقَعَ الطَّلَاقُ طلاق واقع شو وَاِنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهَا اګرچې په زړه د هغې کښې خِلَافُ مَاظَهَرَتْ خلاف دهغه څه کوم چې هغې ظاهر کړې وی.

تشريح> نفس مسئله آسانه ده

دليله> طلاق ځکه واقع کيږی.چې په زړه کښې دننه څه وی په هغې به فيصله نه کيږی.بلکه څه چې په ژبه وی په هغې به فيصله کيږی.مشهوره قاعده ده چې شريعت ظاهر ته ګوری.

په مرض الموت کښې د طلاق ورکولوحکم

وَاِنْ طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فِيْ مَرَضِ مَوْتِهِ طَلَاقًا بَائِنًا او که چا طلاق ورکړو.سړی خپلې ښځې ته په مرض د وفات خپل کښې،طلاق بائن فَمَاتَ فَهِيَ فِي الْعِدَّةِ بيا مړشو.په داسې حال کښې چه دا(ښځه ده) په عدت کښې ده وَرِثَتْ مِنْهُ،نو(ښځه به) ميراث اوړی د هغه نه وَاِنْ مَاتَ بَعْدَ انْقِضَاءِ عِدَّتِهَا اوکه دې مړشو.روسته د تيريدلو د عدت دښځې نه فَلَامِيْرَاثَ لَهَا نو ددې (ښځې) دپاره به ميراث نه وی

تشريح> صورت دمسئلې دا دې.چه خاوند خپلې ښځې ته په مرض الموت کښې طلاق بائن ورکړی بغير د ښځې د رضامندئ نه.بيا دا خاوند مړشي.حالانکه دده دا ښځه لاپه عدت کښې وی.اودميراث مستحقه وی.نودا ښځه به دخپل خاوند نه ميراث اوړی.

القيودات في المسئلة> په دې مسئله کښې څوقيودات دی.دا اوګورئ.① دا چه مرګ دعدت سره مقيد دې.ځکه که د عدت پوره کيدو نه پس مړ شوې وی.نوپه دې صورت کښې به هم وارثه نه وی. ② دا چه د ميراث داستحقاق قيد ئې اولګولو.ځکه که دا ښځه کتابيه وی.يا وينځه وی.نوپه دې صورت کښې به هم ميراث نه اوړی.

③ دا چه طلاق ئې دښځې دعدم رضا پورې مقيد کړلو.ځکه که طلاق ئې ددې په رضا سره ورکړې وی.نوبيا هم دا دميراث مستحقه نه ده.

④دا چه طلاق بائن ئې په مرض الموت باندې مقيد کړلو.ځکه که دې سړی په حالت دمرض کښې طلاق ورکړلو.اوبيا روغ شو.اوبيا مړ شو.نوپه دې صورت کښې ښځه دميراث مستحقه نه ده

⑤ داچه طلاق بائن ئې ورکړې وی.ځکه که طلاق رجعی ئې ورته ورکړې وی.نودا ښځه د نکاح د وجې دميراث حقداره نه ده دفرارد وجې .ځکه چه په طلاق رجعی کښې دعدت په دوران کښې نکاح من کل وجوه باقی وی.

صاحب دعنايه فرمائي.چه دخاوند په خپل مرض الوفات کښې طلاق ورکول،دې ته طلاق فار وائي. او د فار حکم لکه څنګه چه دسړی د طرفه ثابتيږی.دغه شان دښځې دطرفه هم ثابتيږی.مثلاً چه ښځه په خپل مرض الموت کښې مرتده شي.والعياذبالله نوخاوند به ميراث اوړی.

حاصل دا چې که خاوند په زمانه دعدت کښې مړ شي.نوښځه به وارثه وي.اوکه د عدت تیریدو نه پس مړ شي.نوښځه به وارثه نه وي. (١)

دلائلها ① دفارد ښځې دمیراث اوړل دصحابو رضی الله عنهم په اجماع سره ثابت دی.تفصیل دا دې.چه حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه خپلې ښځې تماضرته په خپل مرض الوفات کښې طلاق بائن ورکړلو .او د عبدالرحمن به عوف وفات اوشو.حالانکه ددوی بی بی تماضربه خپل عدت کښې وه.نوحضرت عثمان رضی الله عنه تماضر دحضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه دمیراث وارثه جوړه کړه.حالانکه دا کار دصحابو رضی الله عنهم په وجود کښې شوې وو.خوهیڅ چا پرې انکاراونکړلو.نوځکه دا اجماع سکوتی شوه.دحضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دې. (ان امرأة الفار ترث) بیشکه د فاربښځه به میراث اوړی.ددې نه علاوه دحضرت عمر،عثمان،علي ،ابن مسعود رضی الله عنهم نه هم دا مروی دی.اودهیڅ یوصحابی نه ددې خلاف منقول نه دې.نواجماع سکوتی متحقق شوه. اودا کوم چه د حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما نه روایت کولې شی.چه که معامله ماته راغلې وه.نومابه تماضرد میراث حقداره نه وه جوړه کړې.څه نقصان نه رسوی.ځکه چه په کوم وخت کښې چه اجماع منعقد کیدله .نوپه هغه وخت کښې حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما ماشوم وو.اودا خبره د روستووخت ده.اوروستنې اختلاف د وړاندینئ اجماع سره معارض نشی کیدې.

② دلیل عقلی دا دې.چه په مرض الوفات کښې دښځې بښځه توب د میراث اوړلوسبب دې.ځکه چه د خاوند په وفات سره د ښځې حق د هغه په میراث پورې متعلق کیږی.نوچه په دې حالت کښې خاوند ښځې ته طلاق ورکړی.نودې دښځې دحق وراثت باطلول غواړی.نودده دا غلطه اراده به هم ده ته واپس کولې شی.په دې طریقه چه د طلاق عمل به دعدت دتیریدو زمانې پورې اوړد کړې شی.چه ښځه دمیراث دمحرومتیا نه بچ شی.

په طلاق کښې د انشاء الله وئیلو حکم

وَإِذَا قَالَ لِامْرَأَتِهِ او کله نې چه اوونیل.خپلې ښځې ته أَنْتِ طَالِقٌ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى مُتَّصِلًا انت طالق انشاء الله تعالى،متصل لَمْ يَقَعِ الطَّلَاقُ عليها نو طلاق به نه واقع کیږی.

تشریح د استثناء معنی ده.[تکلم بالباقی بعدالثنیاء] یعنی د استثناء نه پس په باقی کلام تکلم کول.چونکه تعلیق د کل کلام دپاره مانع وو.اواستثناء دبعضې کلام دپاره.نوتعلیق اقوی شود استثناء نه. اواقوی مقدم وی په قوی باندې.نوځکه نې تعلیق وړاندې بیان کړلو.اواستثناء پس.

صورت د مسئلې سرې خپلې ښځې ته اوونیل.[انت طالق ان شاء الله تعالى] اولفظ دانشاء الله نې د [انت طالق] سره متصل اوونیل.نوطلاق نه واقع کیږی.

دلیله دلیل دا دې.چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمانیلی دی.مَنْ حَلَفَ بِطَلَاقٍ أَوْعَتَاقٍ وَقَالَ:إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى مُتَّصِلًا بِهِ فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ(٢) کوم کس چه په طلاق سره قسم اوخوړلو.اویا په آزادولو کښې. او بیا نې وریسې سمدستی اوونیل.انشاء الله نودې نه حانثیږی.یعنی دده قسم نه ماتیږی.چه طلاق یا عتاق

---

(١) **مسلک الشافعي**:- دامام شافعي رحمه الله په نیزبه په دواړوصورتونوکښې وارثه وی.که مرګ نې په عدت کښې وی.اوکه د عدت تیریدو نه پس وی.

(٤٧) غربه الزیلعی رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل عن ابن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال من حلف علی یمین فقال إن شاء الله فلا حنث علیه

واقع شي.

د [أنت طالق ثلاثا إلا واحدة] حکم

وَإِنْ قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا إِلَّا وَاحِدَةً، اوکه وې ونيل.ته په دريو طلاقو طلاقه ئې.مگر په يو طَلَّقَتْ ثِنْتَيْنِ نو په دوه طلاقو سره به طلاقه وی وَإِنْ قَالَ ثَلَاثًا إِلَّا اثْنَتَيْنِ اوکه وې ونيل. ته په دريو طلاقو طالقه ئې.سوا د دوو نه طَلَّقَتْ وَاحِدَةً نو په يو سره به مطلقه وی

تشريح﴾ صورت دمسئلې دا دې.که يوکس خپلې ښځې ته اووئيل.[أنت طالق ثلاثاً إلا واحدة] نوپه دې صورت کښې دوه طلاقه واقع کيږی.اوکه ونې وئيل.چه [أنت طالق ثلاثاً إلا اثنتين] نوپه دې صورت کښې يوطلاق واقع کيږی.

مصنف رحمه الله دوه مثالونه ذکرکړل،دې طرفته داشارې کولودپاره چه استثناء د قليل او کثير دواړو جائز ده. اگرچه امام فراء نحوی ددې اجازت نه دې ورکړې.

القاعدة﴾ داستثناء اصل دا دې.چه داستثناء نه پس کوم مقدارباقی پاتې شی.دهغې تکلم کول استثناء ده.حاصل دا چه د مستثنی منه کوم مقدارچه باقی پاتې شی.په هغې باندې تکلم کولوته استثناء وائی.نود يوکس دا وينا چه دفلانی په ما باندې يوه روپۍ ده.اودا چه دفلانی په ما باندې لس روپۍ سوا د نهو نه دی.په دې دواړو قولونوکښې څه فرق نشته. نوحاصل دا چه د بعضی دکل نه استثناء کول جائزدی.اودکل د کل نه استثناء کول جائز نه دی.ځکه چه دکل نه د کل استثناء کولونه پس باقی څه نه پاتې کيږی.چه په هغې باندې تکلم کونکې شی.اوداستثناء د صحت دپاره دا هم ضروری دی.چه استثناء د اصل کلام سره متصله وی.

بهرحال هرکله چه دا اصول معلوم شو.نوپه اولنی صورت کښې د مستثنی منه نه پس باقی مانده دوه دی.نو دوه طلاقه به واقع کيږی.اوپه دويم صورت کښې د مستثنی منه نه پس باقی يو دې.نويوطلاق به واقع کيږی.

د سړي د خپلې ښځې دځه حصې مالک جوړيدل اوددې په عکس کښې تفريق

وَإِذَا مَلَكَ الزَّوْجُ امْرَأَتَهُ اوکله چه خاوند د خپلې ښځې مالک شو أَوْ شِقْصًا مِنْهَا يا ددې د يوې حصې، أَوْ مَلَكَتِ الْمَرْأَةُ زَوْجَهَا أَوْ شِقْصًا مِنْهُ يا ښځه د خپل خاوند مالکه شوه.يا دده د يوې حصې (مالکه شوه). وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ نو فرقت واقع کيږی

حل اللغة﴾ ① **شقص**: حصه ② **الفرقة**: جدائی]

تشريح﴾ مسئله،که سړې دخپلې ښځې د اخستلو يا ورارثت يا هبې يا صدقې په ذريعه مالک شو.يا ددې د څه حصې مالک جوړ شو.يا په ذکر شوو وجوهوکښې په څه وجه ښځه د خاوند مالکه جوړه شی.نوپه دواړو صورتونوکښې به د دواړو په مينځ کښې بيلتون واقع کيږی.يعنی نکاح به پورته کيږی.

دليله﴾ ځکه چه په ملک نکاح اوملک يمين کښې منافات دې.ددې تفصيل دا دې.که ښځه د خاوند مالکه شی.نود مالکيت اومملوکيت اجتماع راغله.ځکه چه ملک نکاح تقاضا کوی.چه ښځه دې مملوکه وی.اوملک يمين تقاضا کوی.چه ښځه دې مالکه وی.اود ملکين اجتماع ناممکن ده.نوځکه به بيلتون واقع کيږی.

اوکه خاوند د خپلې ښځې مالک جوړ شو.نووجه د فرقت دا ده.چه ملک نکاح د ضرورت په وجه ثابتيږی.ځکه چه هرملک نکاح اثبات دې په آزاده ښځه باندې.اوپه آزاده ښځه باندې اثبات د ملکيت خلاف قياس دې.اوچه کوم څيز خلاف قياس ثابت شی.نوهغه د ضرورت په وجه ثابتيږی.نوثابته

شوه.چه ملك نكاح د ضرورت په وجه ثابتیږی.اوچه ملك یمین وی.نوځه ضرورت پاتې نشو.نوچه ملك یمین ثابت شو.نوملك نكاح زائل شو.

بَابُ الرَّجْعَةِ

تشریح> چونكه رجعت طبعاً د طلاق نه پس وی.نوځكه ئې په ذكركولوكښې هم روستوكړلو.چه وضع د طبع سره موافق شی.

رجعت د راء په زور اوزیردواړو سره جائزدي.خوپه زور سره لوستل زیات فصیح دی. (رجع یرجع) د باب ضرب یضرب څنې دي.معنی ئې واپس كیدل دی.

شروط الرجعة> په شریعت كښې رجعت وائی.دنكاح ملك برابرباقی ساتل.اودرجعت دپاره څوشرطونه دی.هغه هم زده كړئ.

① په صریحی لفظ سره طلاق وركول یا په بعضې كنائی الفاظوسره،دكوم ذكرچه وړاندې تیرشوې دي.یعنی (اعتدی،إستبرئ رحمك،أنت واحدة)

②چه د طلاق په عوض كښې مال نه وی.

③درې طلاقه نه وی واقع شوې.

④ښځه مدخول بها وی.

⑤عدت موجود وی.

ثبوتها> درجعت ثبوت دكتاب لله سنت اواجماع درې واړو نه شوې دي.ځكه ددې په مشروعیت كښې د چا خلاف نشته.① دكتاب الله نه د ثبوت مثال دالله تعالی ارشاد ﴿وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ﴾

② اود حدیث نه ئې د ثبوت مثال دنبی ﷺ ارشاد (مرابنك فليراجعها) اونبی ﷺ حضرت سودهؓ ته رجعت كړې وو.

③اودرجعت په صحت باندې اجماع هم منعقده ده.(عینی شرح هدایه)

د یویا دوه طلاق رجعی نه پس خاوند ته د رجوع اختیار

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ تَطْلِيقَةً رَجْعِيَّةً أَوْ تَطْلِيقَتَيْنِ اوكله چه سړی خپلې ښځې ته یوطلاق رجعی یادوه طلاقه وركړل فَلَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا فِي عِدَّتِهَا رَضِيَتْ بِذَلِكَ أَوْلَمْ تَرْضَ نو سړی ته اختیار دې.چه په عدت كښې ښځې سره مراجعت اوكړی.(كه) په دې باندې ښځه راضی وی اوكه نه وی

تشریح> مسئله دا ده.چه كله یوكس خپلې مدخول بها ښځې ته یو یا دوه طلاق رجعی وركړی.نوسړی ته اختیاردې.چه دې ته په عدت كښې رجعت اوكړی.كه ښځه پرې راضي وی اوكه نه وی.

دلیله> دلیل دالله تعالی ارشاد دې. ﴿فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْفَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ﴾ یعنی كله چه د ښځوعدت ختمیدوته نزدې شی.نوتاسوته اختیار دې.كه رجعت خوښوئ.نودضرر رسولونه بغیردوی ځان سره اوساتئ.اوكه د جدا كولواراده لرئ.نوبغیرد ضرر رسولونه دوی جدا كړئ.په دې آیت كښې مطلقاً د رجعت ذكردې.چه ښځې د رضا اوعدم رضا بیان په كښې نشته.ددې وجې د رجعت حكم مطلق پریښودې شو.

قولی اوفعلی رجوع

وَالرَّجْعَةُ أَنْ يَقُولَ رَاجَعْتُكِ أَوْرَاجَعْتُ امْرَأَتِي او رجعت دادې.چه ښځې ته خطاب اوكړی.او دا

اووانی.چه ما تاسره رجعت اوکړو.یاد خلقو په وړاندې اووانی.چه ما خپلې ښځې سره رجعت اوکړو

تشریح رجعت دا دې.چه خپلې ښځې ته خطاب کوی.اوورته اووانی.چه ماتاته رجوع اوکړله.یا ګواهان مخاطب کړی.اوورته اووانی.چه ماخپلې ښځې ته رجوع اوکړله.برابره ده که دغه ښځه په دغه وخت کښې موجوده وی اوکه یا ورته څوک خبر ورکړی.

دلیله اودا طریقه په رجعت کښې صریح ده.اوپه څلورو وارو امامانوکښې په دې مسئله کښې څه اختلاف نشته.

عدم شرطية الشهادة اوقول صحیح دا دې.چه دچا په نیزهم ګواه شرط نه دې.البته د ګواه مقرر کولوفائده دا ده.که ښځه دا دعوی اوکړی.چه ده ماته رجوع نه ده کړې.نوداسرې د ګواهانوپه ذریعه دا ثابتولې شی.الحاصل دا رجعت دا قول بغیراختلافه صریحی دې.

أَوْيَطَأَهَا أَوْيُقَبِّلَهَا أَوْيَلْمِسَهَا بِشَهْوَةٍ أَوْيَنْظُرَإِلَى فَرْجِهَا بِشَهْوَةٍ یاددې سره صحبت اوکړی.یا ددې نه کوکې واخلی.یا په شهوت سره دې ته لاس یوسی.یا ددې شرمګاه طرف ته په شهوت سره اوګوری

حل اللغة ① **یطاء**: وطی کوی ② **یقبل**: ښکلوی ③ **یلمس**: مس کوی]

تشریح درجعت عملی صورت دا دې. چه دې ښځې سره وطی اوکړی.یا نې ښکل کړی.یا دې ښځې ته په شهوت سره لاس وراوړی.یا نې مس کړی.یا په شهوت سره ددې شرمګاه ته اوګوری.یعنی دننه ګول خانې ته،اوعلامه عینی د ښکلولو سره هم د شهوت قید لګولې دې.په مبسوط ،ذهیر او خلاصه کښې خونې دا قید په صراحت سره ذکر کړې دې.شیخ محقق ابن همام رحمه الله فرمائیلی دی.چه فعل هم د رجعت دلیل دې.خورجعت به په داسې افعالوسره کیږی.کوم چه دنکاح سره خاص وی.په دې کښې دا دلیل مفید دې.چه په ښکلولوکښې دشهوت قید نه دی لګول پکار،لکه څنګه چه د کتاب په عبارت کښې ښکاره ده.څکه چه ښکلول مطلقاً داسې فعل دې.چه دنکاح سره خاص دې.په خلاف د مس کولواوکتلو،څکه چه دا کارونه د نکاح سره خاص نه دی.البته په هغه صورت کښې چه په شهوت سره وی. ([1])

دلیله زمونږ په نیزد رجعت معنی ده.نکاح د وړاندې پشان باقی ساتل.لکه څنګه چه مونږ وړاندې بیان کړی دی.اوروستوپه هم انشاء الله ددې وضاحت اوکړو.

په رجوع باندې دوه ګواهان قائمول

وَيُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يُشْهِدَ عَلَى الرَّجْعَةِ شَاهِدَيْنِ او مستحب دی.چه په رجعت باندې دوه ګواهان جوړکړی وَإِنْ لَمْ يُشْهِدْ نوکه ګواهان نې مقررنکړل صَحَّتِ الرَّجْعَةُ نو بیاهم رجعت صحیح دې

تشریح صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی. په رجعت باندې دوه ګواهان قائمول مستحب دی.یعنی چه دې مسلمانانوسرو ته اووانی.چه تاسوګواه شی:چه ماخپلې بی بی ته رجوع اوکړله.اوکه ګواهان جوړ نکړی.نوهم رجعت ثابتیږی. ([2])

---

[1] ، **مسلک الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.که سرې په ژبه باندې ونیلې شی.نوبغیردکولو نه صرف په حرکت سره رجعت نه ثابتیږی.البته د ګونګاه رجعت کوم چه په اشاره سره وی.نوهغه صحیح دې.

[2] ، **مسلک الشافعي**:- دامام شافعی رحمه الله په نیزبغیرد دوو ګواهانونه رجعت نه ثابتیږی.اوهم دا دامام مالک رحمه الله صحیح قول دې.صاحب دفتح القدیربیان کړې دې.چه دمالکیانوپه کتابونوکښې ذکردی.چه

دلائله> ① دليل دا دي.چه درجعت په باره کښې چه څومره نصوص منقول دی.هغه ټول د ګواهانو مقرر کولونه خالي دی.مثلاً (۱) فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ (۲) ﴿الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ﴾ (۳) ﴿وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ﴾ ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا﴾ اونبی ﷺ ② فرمائيلي دی. (مراينك فليراجعها)اوکه په رجعت باندې دشهادت د وجوب اضافه اوشو.نوپه دې دې نصوص مطلقو کښې به زيادت راشي.اودا جائزنه دی.

② عقلي دليل دا دی.چه رجعت د نکاح باقي کولونوم دي.اودنکاح باقي ساتلودپاره شهادت شرط نه دی. نودرجعت دپاره به هم شهادت شرط نه وی.لکه څنګه چه په ايلاء کولوکښې شهادت شرط نه دی. ځکه چه دا هم د نکاح دحالت باقي والي دی.البته د زيادت احتياط دپاره په رجعت کښې شهادت مستحب دی.چه د عدت تيريدونه پس د لاعلمۍ د وجې په خلقوکښې بدګماني پيدا نشي.چه فلانی خپلې ښځې ته طلاق ورکړې وو.اوبيا د عدت تيريدونه پس ئې هم خان سره ساتې.

دعدت تيريدونه پس په عدت کښې د رجوع کولوحکم

وَإِذَا انْقَضَتِ الْعِدَّةُ اوکه عدت تير شو فَقَالَ الزَّوْجُ قَدْ كُنْتُ رَاجَعْتُهَا فِي الْعِدَّةِ نوسړی اووئيل.ما ددې په عدت کښې رجوع کړې وه فَصَدَّقَتْهُ نو ښځې ددې تصديق اوکړو فَهِيَ رَجْعَةٌ نودا رجعت دی وَإِنْ كَذَّبَتْهُ اوکه ښځې ددې تکذيب اوکړو فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا نود ښځې قول به (معتبر) وی وَلَا يَمِينَ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په ښځه باندې قسم نشته

تشريح> مسئله دا ده.که خاوند ښځې ته اووئيل.چه ماتاته په عدت کښې رجوع کړې وه.اوښځې ئې تصديق اوکړلو.نودا رجعت دی.اوکه ښځې ئې تکذيب اوکړلو.نودهغې قول به معتبر وی.

دليله> ځکه چه خاوند دداسې خيزدعوی اوکړله.چه دې هغه في الحال پيدا کولې نشي.نودې به په هغې کښې متهم وی.اوچه په کوم صورت کښې ئې ښځه تصديق اوکړی.نوپه هغه صورت کښې چونکه په ده باندې تهمت نشته.نوځکه ئې قول معتبردی.

د سړی د رجوع اودښځې دعدت تيريدودموی ګول

وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ قَدْ رَاجَعْتُكِ اوکه خاوند اووئيل.چه ما تاسره رجعت کړې دی فَقَالَتْ مُجِيبَةً لَهُ نوښځې ده ته په جواب ورکولو کښې اوفرمائيل قَدِ انْقَضَتْ عِدَّتِي چه زما عدت خو تيرشوې دی لَمْ تَصِحَّ الرَّجْعَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ (۱) د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز رجعت صحيح نه دی

تشريح> صورت دمسئلې دا دی.چه خاوند خپلې ښځې ته اووئيل.ماتاته په عدت کښې رجوع کړې ده.اوښځې ورته سمدستی اووئيل.زما خوعدت تيرشوې هم دی.① نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزرجعت نه ثابتيږی.دا دامام شافعی اوامام احمد رحمه الله قول هم دی

دليله> دليل دادی.چه درجعت قول د عدت ختميدونه پس واقع شوی دی.کوم چه دهغې په رحم کښې

بغيرد دووګواهانونه هم رجعت صحيح کيږی.خوګواهان جوړول مستحب دی.دغه شان په شرح طحاوی کښې هم دی.

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الهندية (۱\۴۷۰) وفتح القدير (۴\۲۰) والدرالمختار (۲\۵۷۷) نقلاً عن القول الراجح (۱\۳۳۸)

دي.اوکوم ځيزچه په رحم کښې وی.دهغې خبر ورکونکې امين وی.دالله تعالی ارشاد دی﴿وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ﴾ يعنی دښځودپاره حلال نه دی.چه پټ کړی هغه ځيزکوم چه الله تعالی د دوی په رحمونوکښې پيدا کړې دی.بهرحال هرکله چه ښځې دعدت تيريدوخبر ورکړلو.نودا خبرورکول په دې دلالت کوی.چه دعدت تيريدل د خبرورکولونه وړاندې دی.

اوس پاتې شوه دا خبره چه څومره وړاندې دې.نوجواب دا دې.چه د عدت ختميدوپه حالاتوکښې دټولونه نزد.دخاوند قول دې.نود ښځې خبرورکول به دخاوند دخبرورکولونه چه (راجعتك) نه وړاندې وی.نوحاصل دا شو.چه عدت وړاندې تيرشوی دې.اورجعت روستو شوی.اوکوم رجعت چه د عدت تيريدونه پس وی.هغه صحيح نه وی.نوځکه امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.چه دا رجعت صحيح نه دې.

مسلك الصاحبين﴾ صاحبينو رحمهما الله فرمائيلی دی.چه رجعت صحيح کيږی.

دليلهما﴾ دليل دا دې.چه رجعت د عدت په زمانه کښې موجود شوی دې.ځکه چه په استصحاب حال باندې عمل کولوباندې په ظاهره عدت باقی دې.ترڅوچه دې دعدت تيريدوخبرنه وی ورکړې.نومعلومه شوه.چه د رجعت قول وړاندې دې.اود عدت تيريدو قول روستودې.اودعدت په زمانه کښې رجعت کول صحيح دی.ددې وجې مونږ وايو.چه رجعت صحيح دې.اوچونکه درجعت قول د عدت ختميدود قول نه وړاندې دې.ددې وجې که خاوندخپلې ښځې ته اووئيل.چه ما تاته طلاق درکړې دې.اوښځې ورته اووئيل.چه زما عدت خوتيرشوی دې.نوپه دې صورت کښې طلاق واقع کيږی.ځکه چه طلاق قول دعدت ختميدود خبرورکولو نه وړاندې واقع شوی دې.

الجواب عنه﴾ د طلاق مسئله هم د رجعت د مسئلې پشان مختلف فيه ده.نوپه دې باندې قياس کول به ځکه صحيح شی.اوکه دا اومنلې شی.چه د طلاق مسئله متفق عليه ده.نوجواب دا دې.چه دعدت تيريدونه پس به د خاوند په اقرارباندې طلاق واقع شی.خودعدت نه پس دخاوند په اقرار باندې رجعت نه ثابتيږی.ځکه چه په دې کښې دبل په حق کښې دتصرف کولوتهمت پيدا کيږی.نومعلومه شوه.چه په دې دواړومسئلوکښې فارق موجود دې.اوقياس مع الفارق صحيح نه وی.نوځکه امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.چه دا رجعت صحيح نه دې.

دعدت تيريدونه پس د وينځې د خاوند د رجعت دعوی او د مالك تصديق اود وينځې تکذيب

وَإِذَا قَالَ زَوْجُ الْأَمَةِ بَعْدَ انْقِضَاءِ عِدَّتِهَا او هرکله چه د وينځې خاوند ددې د عدت تيريدلو نه پس اووئيل قَدْ كُنْتُ رَاجَعْتُهَا چه مادې ته (په عدت کښې) رجوع کړې ده وَصَدَّقَهُ الْمَوْلَى او مولا ددې تصديق اوکړو وَكَذَّبَتْهُ الْأَمَةُ او وينځې دا دروغ کړله فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ (۱) امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به د وينځې قول (معتبر) وی

تشريح﴾ که د وينځې خاونددعدت تيريدو نه پس اووئيل.چه ما تاته په عدت کښې رجوع کړې ده.نوددې څلور صورتونه دی.① مولی اووينځه دواړه دده تصديق کوی. ②يا ئې دواړه تکذيب کوی. ③مولی ئې تصديق کوی اوښځه ئې تکذيب④مولی ئې تکذيب کوی اوښځه ئې تصديق کوی.
په اول صورت کښې په اتفاق سره رجعت صحيح دې.اوپه دويم صورت کښې په اتفاق سره رجعت

---

(۱) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الهندية (۱\۴۷۱) والدرالمختار(۲\۵۷۸) نقلاً عن القول الراجح (۱\۳۴۰)-

صحیح نه دي.البته دا چه خاوند گواهان پیش کړي.اوپه دریم صورت کښي که دخاوند سره گواهان نه وي. نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزد وینځي قول معتبردي.اوامام شافعي امام مالك اوامام احمد رحمهم الله هم ددي قائلین دي.

مسلک الصاحبین ﴿ اودصاحبینو رحمهما الله په نیزد مولی قول معتبردي.

دلیلهما ﴿ دلیل دا دي.چه دعدت تیریدونه پس دبضع منافع د مولی مملوك دي.نودخاوندپاره د بضع دمنافعواقرارکول خالص دخپل حق اقرار کول دي.نودابه نشي رد کولي.اودا داسي شوه.چه دوینځي په نکاح کښي د مولی قول معتبردي.یعني چه مولی دا اقراراوکړي.چه ما خپله وینځه فلانی کس ته په نکاح ورکړي ده.نوپه دي اقرارکښي دمولی قول معتبردي.نودغه شان په دي صورت کښي به هم د مولی قول معتبروي.

دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزد رجعت حکم د عدت په بقاء اودعدت په تیریدو باندي مبني دي.(یعني که عدت باقي وي.نورجعت به ثابت وي.اوکه عدت باقي نه وي.نورجعت نه ثابتیږي)اودعدت په بقاء اوعدم بقاء کښي دبنځي قول معتبردي.نوکوم څیزچه په عدت باندي مبني وي.یعني رجعت نوپه هغې کښي به هم د ښځي قول معتبروي.

اوڅلورم صورت دا دي.دکوم چه مصنف رحمه الله په (ولوکان علی القلب) سره تعبیرکړي دي.یعني چه وینځي د خاوند تصدیق اوکړلو.اومولی ئي تکذیب اوکړلو.نوپه دي صورت کښي دصاحبینو رحمهما الله په نیز د مولی قول معتبردي.دلیل دا چه دبضع منافع دمولی حق دي.اوخاوندپه مولی باندي ددي مدعی دي. اوصورت د مسئلي دا دي.چه دمدعی سره گواهان موجود نه دي.نودمنکر یعني مولی قول به معتبروي.

دلیل الروایة الصحیحة ﴿ دامام ابوحنیفه رحمه الله نه هم صحیح روایت دا دي.چه دمولی قول معتبردي.دلیل دا دي.چه فی الحال دا وینځه په داسي حالت کښي ده.چه د عدت ورځي تیري شوي دي.اود وینځي نه د مولی دپاره د فائدي حاصلولوپاره د ملك په ظاهره ثابت شوي دي.نوکه د وینزي اودهغې دخاوند په اقرارسره رجعت ثابت کړي شي.نودمولی ملك تمتع به باطل شي.حالانکه صرف دیوکس په اقرارکولوسره دبل چا حق نه باطلیږي.نودلته به هم د وینځي قول د مولی دحق باطلولو وجي قابل قبول نه وي.

د رجوع دحق ختمیدووخت

> وَإِذَاانْقَطَعَ الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ لِعَشَرَةِ أَيَّامٍ اوهرکله چه د دریم حیض نه وینه بنده شوه.په پوره لس ورځو باندي لَمْ انْقَطَعَتِ الرَّجْعَةُ وَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا وَإِنْ لَمْ تَغْتَسِلْ نو رجعت نه منقطع کیږي تردي چي غسل اوکړي وَإِنْ انْقَطَعَ الدَّمُ لِأَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ أَيَّامٍ اود لس ورځو نه په کمو کښي (وینه) منقطع شوي لَمْ تَنْقَطِعِ الرَّجْعَةُ حَتَّى تَغْتَسِلَ نو رجعت به منقطع نه وي.تردي چه بنځه غسل اوکړي أَوْيَمْضِيَ عَلَيْهَا وَقْتُ صَلَاةٍ كَامِلٍ او یا تیر شي په ده باندي د پوره کامل مونځ وخت أَوْتَيَمَّمَ وَتُصَلِّي عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ یا په دي باندي د مونځ پوره وخت تیرشي په نیز د امام ابوحنیفه

تشریح ﴿ صورت دمسئلي دا دي.چه په پوره لسمه ورخ دحیض وینه اودریدله.نوعدت تیرشو.اگرچه بنځي لاغسل نه وي کړي.اوکه دلسو ورځونه په کمه مودا باندي وینه اودریدله.نوعدت نه ختمیږي.تردي چه هغه بنځه غسل اوکړي.اویا پري د یوکامل مونځ وخت تیرشي.

دلیله ﴿ دلیل دا دي.چه رجعت منقطع کیدل موقوف دي.دعدت په تیریدوپوري.اودعدت تیریدل

موقوف دی. ددریم حیض په دریدو پوري.اود دریم حیض تیریدل موقوف دی دطهارت په حاصلولو پوري.نوکه دویني اودریدل په پوره لسمه ورځ وی.نوصرف د ویني په اودریدو به عدت ختمیږی.خکه چه په لسوروځوباندې حیض نه زیاتیږی.نوچه ځنګه لس ورځې پوره شی.نودویني په اودریدو به دابنځه د حیض نه فارغه شی.اوددې عدت به هم تیرشی.اود رجعت حکم به هم منقطع شی.برابره ده که دې ښځې غسل کړې وی اوکه نه.

دلیلهما> دلیل دا دې.چه په حقیقت کښې تیمم ککړکونکې دې.خوشریعت د ضرورت په وجه ددې د مطهریت اعتبارکړې دې.ضرورت دا دې.که څو ورځې په اوبوباندې قدرت نه وی.اودشریعت د طرفه دتیمم اجازت هم نه وی.نودده په ذمه به فرائض اوواجبات په خوچنده شی.اودهغې ادا کول به دده دپاره ګران شی.نوددې ضرورت د وجې تیمم جائزاوګرځولې شو.اوضرورت ادا کول د مونځ دی.اوضرورت د مانځه دوخت په داخلیدوسره متحقق کیږی.دهغې نه وړاندې نه،نومعلومه شوه.چه دتیمم نه پس نې مونځ اوکړلو.نوطهارت به حاصل شی.ګنی نه حاصلیږی.ددې وجې مونږوایو.که دتیمم نه پس نې مونځ اوکړلو.نودطهارت دحاصلیدو په وجه به درجعت حکم منقطع شی.اوکه مونځ نې اونکړلو.نودطهارت دعدم حصول د وجې به درجعت حکم نه منقطع کیږی.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ: إِذَا تَيَمَّمَتِ الْمَرْأَةُ او امام محمد رحمه الله فرمائی.چه کله ښځه تیمم اوکړی اِنْقَطَعَتْ الرَّجْعَةُ ([1])نو عدت او رجعت منقطع شو.وَاِنْ لَمْ تُصَلِّ اګرچه مونځ نې نه وی کړې.

تشریح> امام محمد رحمه الله فرمائی.که تیمم اوکړی.نوصرف په تیمم کولوسره رجعت ختم شو.امام زفراوامام احمد رحمهما الله هم ددې قائلین دی.اودا قیاس هم دې.

دلیله> دلیل دا دې.چه اوبه نه وی.نوتیمم طهارت مطلقه دې.هم دا وجه ده.چه په تیمم باندې هغه ټول احکامات جائز کیږی.کوم چه په غسل باندې جائزکیږی.لکه جمات ته داخلیدل، دقرآن پاك تلاوت کول،قرآن ته ګوتې وراوړل،مونځ کول،سجده دتلاوت کول،نوتیمم دغسل په مرتبه کښې شو.نوچه کوم حکم د غسل وو.هم هغه حکم به د تیمم هم وی.

الجواب عنه>د دې نه جواب دا دې.چه په تیمم باندې ددې احکامو ثبوت د مونځ ادا کولود ضرورت دوجې دې.په مانځه کښې د قرات کول ددې وجې ضرورت دی.چه قراءت د مانځه رکن دې.اودجمات څکه چه دا د مانځه ځائې دې.اوسجده دتلاوت ددې وجې چه دا د قراءت د توابعوځنی ده.څکه چه ممکن دد.چه قاری په مانځه کښې د سجدې د آیت تلاوت اوکړی.اوقران ته د ګوتو وراوړلو ضرورت ددې وجې دې.که په دومره مقدارباندې نې قراءت نه وی کړې.چه مونځ پرې جائزکیږی.اوقراءت ترې هیرشی.نودا کس به قرآن راخلی اوبیرته به کوی به نې .اودقران قراءت ته به محتاج وی.اوښکاره خبره ده.چه دا کارمحصف مس کولونه بغیرنه کیږی.

الاشکال> بعضې حضراتود شیخینو رحمهما الله په دلیل باندې اشکال کړې دې.اشکال دا دې.چه تیمم طهارت ضروریه دې.اوضرورت پیښیږی.د مانځه د وخت په داخلیدوباندې،ددې نه وړاندې نه،اودا خبره هم په اصولوکښې ثابته شوې ده.چه (الثابت بالضرورة لايتعدى موضعه) یعنی کوم څیزچه د ضرورت په وجه ثابت شی.نوهغه به دځپل ضرورت د ځائې نه تجاوز نه کوی.نوددې اصولوتقاضا څو دا ده.چه په تیمم سره د رجعت حکم منقطع نشی.اګرچه هغه ښځه د تیمم نه پس مونځ هم

---

[1]) القول الراجح هو قول محمد رحمه الله كذا في فتح القدير(٤\٢٣٢) والكفاية (٤\٢٣٢) والدرالمنتقى (١\٤٣٥) ورد المحتار(٢\٥٧٩) والبحرالرائق (٤\٥٣) نقلا عن القول الراجح (١\٣٤٠)-

اوکړی.ترڅوچه ئې غسل نه وی کړې.اود مونځ وخت پرې نه وی تیرشوې.

الجواب جواب بیشکه چه (الثابت بالضرورة لایتعدی عن موضعه) اصول دی.خودا هم اصول دی.چه (الضروری متی ماثبت،ثبت لجمیع لوازمه) یعنی چه کوم څیز د ضرورت د وجې ثابت شی.نوهغه چه کله ثابتیږی. د خپلو ټولو لوازماتو سره به ثابتیږی.اود مونځ ادا کولو په وخت کښې د طهارت د ثبوت د لوازماتوځنی د حیض منقطع کیدل دی.اوعدت د مودې د لوازماتوځنی د رجعت منقطع کیدل دی.اوقاعده ده.چه (لازم،لازم، لازم) یعنی دلازم لازم لازمیږی.نوځکه به د مونځ ادا کولو په وخت کښې دطهارت د ثبوت دپاره د انقطاع رجعت حکم ثابتیږی.(عنایه ،عینی شرح هدایه)

په غسل کښې د بدن بعضې حصې ته اوبه نه رسول

وَإِنِ اغْتَسَلَتْ وَنَسِيَتْ شَيْئًا مِنْ بَدَنِهَا لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءُ او که ښځې غسل اوکړو.حالانکه په خپل بدن کښې څه داسې حصه هیره کړله.چه دې ته اوبه نه دی رسیدلی فَإِنْ كَانَ عُضْوًا فَمَا فَوْقَهُ نوکه دا حصه یو اندام وی.یا ددې نه زیات وی لَمْ تَنْقَطِعِ الرَّجْعَةُ نو رجعت به نه مقطع کیږی وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ اوکه د یو اندام نه کم پاتې شوې وی انْقَطَعَتْ الرجعةنو رجعت به منقطع وی

تشریح صورت د مسئلې دا دې.چه د لسو ورځونه په کمه موده باندې د وینې په اودریدو ښځې غسل اوکړلو.خوپه بدن کښې ترې داسې یوه حصه باقی پاتې شوې وی.چه هغې ته اوبه رسول ضروری وی.نوکه هغه جزء یواندام یا ددې نه زیات وی.نورجعت نه منقطع کیږی.یعنی دغسل نه کیدو په وجه به عدت باقی وی.نوکه په داسې حالت کښې مراجعت اوکړی.هغه به صحیح وی.اوکه هغه جزء د یواندام نه کم وی.نورجعت به منقطع شی.یعنی په داسې حالت کښې رجعت نه ثابتیږی. صاحب دهدایه‎رحمه الله فرمائی.چه دا حکم استحساناً دې.

وجه الاستحسان وجه د استحسان دا ده.اوهم دا د پوره اندام اود اندام د کمې حصې په مینځ کښې وجه دفرق ده.چه د یواندام نه کم د خپل کموالی د وجې ډیرزروچیږی.نودغه حصې ته د اوبونه رسیدو یقین نشی کولی.ځکه چه کیدې شی.دغه حصه ئې وینځلې وی.خوزروچه شوې وی.نوځکه مونږ په احتیاط باندې عمل کوو.اووایو.چه د رجعت حکم منقطع شو.اود احتیاط په وجه دا حکم دې.چه دا ښځه دې په داسې حالت کښې بل خاوند سره نکاح نه کوی.اوکه وې کړله.نوحلاله به نه وی.ځکه چه کیدې شی.دغه حصې ته په حقیقت کښې اوبه نه وی رسیدلې.اوحدث باقی پاتې کیدو په وجه عدت باقی وی.نوپه داسې حالت کښې به دا نکاح د غیرد معتده سره وی.اودا جائزنه ده.(چه یوه ښځه دچا په عدت کښې ناسته وی.اوهغې سره بل څوک نکاح اوکړی)

په طلاق رجعی سره طلاقې شوې دپاره زیب اوزینت

وَالْمُطَلَّقَةُ الرَّجْعِيَّةُ تَتَشَوَّفُ وَتَتَزَيَّنُ او مطلقه رجعیه به (د خپل خاوند میک اپ) ډول کوی او(ځان به) ښائسته کوی

حل اللغة ① **تتشوف:** ځان ښائسته کوی ② **تتزین:** زیب وزینت کوی]

تشریح صاحب دقدوری‎رحمه الله فرمائی.چه کومې ښځې ته طلاق رجعی ورکړې شوې وی.نو هغې دپاره مستحب دی.چه خپل ځان ښائسته کوی.یعنی خپل مخ اوانګی ښائسته ساتی.

دلیله دلیل دا دې.چه مطلقه رجعیه دخپل خاوند دپاره حلاله ده.ځکه چه په دواړوکښې نکاح قائمه ده.هم دا وجه ده.چه دطلاق رجعی په دوران کښې د نکاح ټول احکام میراث وغیره ټول باقی وی.هم

ددې وجې که يوکس اوونيل. (کل امرأة لی طالق) نوپه دې حکم کښې دا مطلقه هم داخله ده.اوپه دې به طلاق واقع کيږی.

الاشکال﴿ په دې باندې اشکال کيږی.چه هرکله نکاح موجود ده.نوپکارده چه دې سره سفرجائزوې.لکه څنګه د منکوحه غيرمطلقه سره سفر کول جائزدې.حالانکه تاسود سفرد جواز قائل نه ئې.

الجواب﴿ جواب دا دې.چه د مطلقه رجعيه سره د سفرممانعت په نص سره ثابت دې.ارشاد دې.

(لاتخرجوهن من بيوتهن) يعنی مطلقات رجعيه د دوی د کورونو نه مه اوباسئ:ودا آيت د مطلقه رجعيه په باره کښې نازل شوې دې.نوددې آيت په وجه د مطلقه رجعيه سره سفرکولوممانعت شوې دې.
خوکه يوکس اعتراض اوکړی.چه نفس سفرئې د رجعت دليل ولې نه دې ګرځولې.نوددې جواب دا دې.چه اخراج من البيت يعنی دمطلقه رجعيه دکور نه ويستل منهی عنه دی.او رجعت مندوب اليها دی.اوپه دې دواړو کښې منافات دې.اودکومودووځيزونوپه مينځ کښې چه منافات وی.په هغې کښې يو د بل دپاره دليل نشی جوړيدې.نوځکه نفس مسافرت د رجعت دليل نشی جوړيدې.

وَيُسْتَحَبُّ لِزَوْجِهَا أَنْ لَايَدْخُلَ عَلَيْهَا او ددې د خاوند دپاره مستحب دی.چه دې له (نيزدې) نه راځی حَتَّى يُؤْذِنَهَا أَوْيُسْمِعَهَا خَفْقَ نَعْلَيْهِ تردې چه دا خبرکړی.يا دې ته د خپل پيزار کشار واوروی

حل اللغة﴿ ① **خفق:** کشار

تشريح﴿ فرمائی.چه رجعت مستحب دې.اوښائست خاوندلره په رجعت کولوباندې اماده کونکې دې.اوخان ښائسته کول مشروع دی.اودمطلقه رجعيه دخاوند دپاره دا مستحب دی.چه هغه بغيرد خبرورکولونه هغې ته نه ورځی.خودا حکم په هغه وخت کښې دې.چه دده اراده د رجعت کولونه وی.

دليله﴿ دليل دا دې.چه بعضې وخت ښځه په کور کښې بربنډه وی.نوچه بغيرد خبرورکولونه کورته داخل شی.نو بعضې وخت دخاوند نظربه داسې اندام باندې پريوتې شی.چه په هغې باندې رجعت ثابتيږی.اوچونکه د دې کس اراده د رجعت کولونه ده.نودې به ورته طلاق ورکوی.اود طلاق ورکولوپه صورت کښې خامخا په ښځه باندې عدت اوږديږی.ددې وجې حکم ورکړې شوې دې.چه خاونددې د خبرورکولونه بغيرنه ورځی. يا دې د پيزار په کشاری خبر ورکوی.

په طلاق رجعی د وطی عدم حرمت

وَالطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ لَايُحَرِّمُ الْوَطْئَ او طلاق رجعی وطی نه حراموی

تشريح﴿ په دې حکم کښې اختلاف دې.چه طلاق رجعی د ښځې سره وطی حراموی که نه؟نود احنافو ﷭ په نيزطلاق رجعی دښځې سره وطی کول نه حراموی (۱)

دليله﴿ دليل دا دې.چه دطلاق رجعی نه پس هم زوجيت قائم دې.اوهم دا وجه ده.چه د ښځې د رضا نه بغير خاوندته د رجعت کولواختيارشته.اوکه زوجيت ختم شوې وو.نودا ښځه به پردئ وه.او پردئ ښځې ته دهغې درضا نه بغيررجعت کول صحيح نه دې.

په دری طلاقه بائنې سره دعدت نه پس تجديدنکاح

وَإِذَاكَانَ الطَّلَاقُ بَائِنًا دُونَ الثَّلَاثِ او چه کله ددرې نه کم طلاق بائن وی فَلَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا فِي عِدَّتِهَا وَبَعْدَ انْقِضَاءِ عِدَّتِهَا نو خاوند ته اختيار دې.چه دې ښځې سره په عدت کښې اود عدت تيريدلو

(۱) **مسلک الشافعي:**- دامام شافعی ﷫ په نيزباندې حراموی.اوهم دا دامام احمد ﷫ نه يوروايت دې.

نه پس نکاح اوکړی

تشریح> مصنف رحمه الله په وړاندینې دهغه صورتونوبیان اوکړل.چه په هغې کښې د طلاق رجعی تدارک کیدې شو.اواوس په دې ځائې کښې دهغه صورتونوبیان کوی.چه دهغې په ذریعه دطلاق رجعی نه سوا د نورو طلاقونوتدارک کیدې شی.

① اولنې صورت دا دې.چه مطلقه په یوطلاق سره بائنه وی یا په دوو طلاقوسره،نوخاوندته اختیاردې.چه هغه خپلې معتدې سره په عدت کښې نکاح اوکړی یا دعدت نه پس ورسره نکاح اوکړی.دواړه صورتونه صحیح دی.

دلیله> دلیل دا دې.چه محل (چه ښځه د آدم علیه السلام په اولاد کښې ده.اوپه محرماتوکښې نه ده)حلالوالی باقی دې.ځکه چه د حلت زوال په دریم طلاق پورې معلق کړې دې.دالله تعالی د ارشاد ﴿فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ﴾ د وجې.اومعلق په شرط پورې د شرط د وجود نه وړاندې معدوم وی.نود دریم طلاق د وجود نه وړاندې به د حلت زوال معدوم وی.نوچه دمحل حلالوالی ثابت شو.نود خاوند دپاره په عدت کښې نکاح کول هم حلال دی.

دطلاق مغلظ نه پس د زوج اول دپاره بغیردحلالې نه د نکاح حرمت

وَإِنْ كَانَ الطَّلَاقُ ثَلَاثًا فِي الْحُرَّةِ اوکه په آزاده ښځه کښې درې طلاقه دی أَوْ ثِنْتَيْنِ فِي الْأَمَةِ یا په وینځه کښې دوه دی لَمْ تَحِلَّ لَهُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ نِكَاحًا صَحِيحًا نود خاوند دپاره حلال نه دی.تردې چه دویم خاوند سره نکاح صحیحه اوکړی وَيَدْخُلَ بِهَا او ددې سره دا دخول هم اوکړی ثُمَّ يُطَلِّقَهَا بیا دې ته طلاق ورکړی أَوْ يَمُوتَ عَنْهَا یا(دا پریږدی او) مړی شی

تشریح> مسئله دا ده.که یوکس خپلې اصیلی ښځې ته درې طلاقه ورکړل.یا نې وینځې ته دوه طلاقه ورکړل.نودا دده دپاره حلاله پاتې نشوه.تردې چه هغه د بل خاوند سره صحیح نکاح اوکړی.اوهغه پرې دخول هم اوکړی.اوبیا ورته یا طلاق ورکړی.یا هغه مړ شی.

دلیله> دلیل دقرآن پاك آیت ﴿فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ﴾ دې. او په دې آیت کښې د زیاتومفسرینو رحمهم الله په نیزدریم طلاق مراد دې.اودوینځې په حق کښې دوه طلاقه داسې دی.لکه ځنګه چه د آزادې دپاره درې طلاقه دی.یعنی لکه ځنګه چه د آزدې په حق کښې د درې طلاقوسره حرمت غلیظه ثابتیږی.دغه شان د وینځې په حق کښې په دوو طلاقو سره حرمت غلیظه ثابتیږی.

دلیل دا دې.چه د رقیت په وجه عذاب نیم پاتې کیږی.دالله تعالی ارشاد دې. ﴿فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ﴾ یعنی که وینځې زنا اوکړی.نوپه دوی باندې به دهغه عذاب یعنی سزا په نیمه باندې وی.کومه چه په آزدو ښځو وی.نولکه ځنګه چه رقیت د عذاب اوسزا نیمولو سبب دې.دغه شان د نعمت نیمولو سبب هم دې.اودمحل حلالوالی نعمت دې.نود وینځې دپاره پکار دا وه.چه په یونیم طلاق باندې حرمت غلیظه ثابتیدل.خوچونکه طلاق تقسیم نه قبلوی.نوځکه هغه نیم به هم پوره حسابیږی.اود وینځې مالك به د دوو طلاقو مالك وی.

په تحلیل کښې د مراهق هلك حکم

وَالصَّبِيُّ الْمُرَاهِقُ فِي التَّحْلِيلِ كَالْبَالِغِ اوکوم ماشوم چه قریب البلوغ وی.دا په حلاله کولوکښې د بالغ پشان دې.

حل اللغة ① **الصبي:** ماشوم ② **المراهق:** قريب البلوغ ، يعنى بلوغ ته نزدې شوې وى]

تشريح فرمائي.چه مراهق هلك چه مطلقه ثلاثه د اول خاوند دپاره حلالوى.نودا د بالغ پشان دې. (١)

دليله دليل دا دې.چه په صحيح نكاح كښې دخول موجود شو.اود تحليل دپاره په نص يعنى ﴿حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ﴾ كښې هم دا شرط دې.

تفسير المراهق په جامع صغير كښې امام محمد رحمه الله دمراهق تفسير دا كړې دې.هغه هلك چه لا تراوسه پورې بلوغ ته نه وى رسيدلې.حالانكه دده پشان هلك جماع كولې شي.
صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلى دى.كه مراهق د يوې ښځې سره جماع اوكړله.نوپه هغې باندې غسل واجبږى.اوكه هغه د يوكس مطلقه ثلاثه وه.نودمراهق دجماع نه پس اولنى خاوند دپاره حلاليږى.خوپه دې شرط چه دمراهق دطرفه ورته طلاق وركړې شى.اودا ښځه عدت پوره كړى.

دتحليل دپاره د مولى خپله وينځه وطى كول

وَوَطْءُ الْمَوْلٰى أَمَتَهُ لَا يُحِلُّهَا چه د مولا خپلې وينځې سره وطى كول دانښى حلالولې

تشريح صورت د مسئلې دا دې.چه يوخاوند خپلې ښځې ته (كومه چه د بل وينځه وى) طلاق وركړلو .اوعدت تيريدونه پس خپل مولى هغې سره وطى اوكړله.نودا ښځه داولنى خاونددپاره حلاله نه ده.

دليله دليل دا دې.چه په آيت ﴿حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ﴾ كښې دحرمت غايت انتهاء د زوج ده. اومولى ته زوج نشى وئيلې.ددې وجې د مولى وطى د زوج اول دپاره حلت نشى پيدا كولې.په يوروايت كښې بيان شوى دى.يوځل دحضرت عثمان رضى الله عنه نه ددې په باره كښې تپوس اوشو.چه د يومولى خپلې وينځې سره وطى كول د اولنى خاوند دپاره حلت ثابتولې شى كه نه؟اود حضرت عثمان رضى الله عنه سره حضرت زيد بن ثابت اوحضرت على رضى الله عنه هم وو.نوحضرت عثمان اوزيدبن ثابت رضى الله عنه ددې اجازت وركړلو.اودا ئې اووئيل.چه مولى هم د زوج پشان دې.نوحضرت على رضى الله عنه ددې دواړو حضراتوپه خبره باندې خفه شو.او پاسيدلو. او خفگان اظهارنې داسې اوكړلو. (ليس بزوج) يعنى مولى زوج نه دې.

وَإِذَا تَزَوَّجَهَا بِشَرْطِ التَّحْلِيلِ اوكه يوه ښځه د تحليل په نيت سره په نكاح واخستله فَالنِّكَاحُ مَكْرُوهٌ نو(دا) نكاح مكروه ده. فَإِنْ طَلَّقَهَا بَعْدَ وَطْئِهَا حَلَّتْ لِلْأَوَّلِ كه طلاق ئې وركړو پس د وطى نه نو داول خاوند دپاره حلاله ده.

حل اللغة ① **التحليل:** حلالول]

تشريح اوكه يوكس د هغه ښځې سره دتحليل په شرط باندې نكاح اوكړله.چه دهغې په حق كښې حرمت غليظه ثابت شوې وى.مثلاً وئې وئيل. (تزوجتك على أن أحللك) يعنى چه ماتاسره نكاح اوكړله.په دې شرط چه تا د اول خاوند دپاره حلاله كړم.نودا نكاح مكروه ده.

دليله دليل د نبى صلى الله عليه وسلم قول دې. لَعَنَ اللّٰهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهٗ(١) چه الله تعالى دې لعنت اوكړى.په

---

١ **مسلك مالك:-** دمراهق په مسئله كښې امام مالك رحمه الله زمونږ مخالفت كوى.يعنى امام مالك رحمه الله فرمائي.چه د مراهق حلاله معتبر نه ده.ځكه چه دهغوى په نيز په حلاله كښې صرف ادخال كافى نه دې.بلكه انزال شرط دې. او انزال د مراهق نه متصور نه دې.نوددې وجې په حلاله كښې مراهق هلك د بالغ په حكم كښې نه دې.

حلاله کونکی اود چا دپاره چه حلاله کولې شي.اوحديث محمل هم دا دي.ددې وجې که دتحليل شرط نې په زړه کښې پټ کړې وی.اوپه ژبه باندې څه اونه وائي.نومستحق د لعنت به نه وی.

په بوبا دوو طلاقوسره مطلقه د زوج ثاني نه اول له واپس کيدل

وَإِذَاطَلَّقَ الرجل الْحُرَّةَ تَطْلِيقَةً أَوْتَطْلِيقَتَيْنِ اوکله چه يوسړی آزادې ښځې ته يوځل دوه طلاقه ورکړل وَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا او ددې عدت تيرشو وَتَزَوَّجَتْ بِزَوْجٍ آخَرَ او دې ښځې يو بل خاوند سره نکاح اوکړله. فدخل بهاهغه دخول اوکړو په هغې باندې ثُمَّ عَادَتْ إِلَى الْأَوَّلِ بيا دا ښځه رومبی خاوند ته واپس راغله عَادَتْ بِثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ (نو دا ښځه به) درې طلاقو سره واپس کيږی. وَيَهْدِمُ الزَّوْجُ الثَّانِي مَا دُونَ الثَّلَاثِ كَمَا يَهْدِمُ الثَّلَاثَ او دويم خاوند به د درې (طلاقو) نه کم داسې ختم کړی.لکه څنګه چه درې ختم (کړې شوی) عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللَّهُ په نيز د شيخينو رحمهما الله

حل اللغة ﴿ ① **يهدم**: نوړوی]

تشريح﴾ مسئله دا ده.چه يوکس خپلې آزادې ښځې ته يو يا دوه طلاقه ورکړل.اوعدت تيريدونه پس هغې د بل خاوند سره نکاح اوکړله.اودهغه د طلاق اوعدت تيريدونه پس دې د اولنی خاوند سره نکاح اوکړله.نودا ښځې به خپل اولنی خاوند ته په درې طلاقوسره واپس کيږی.يعنی اولنی خاوند به د ابتداء نه د درې طلاقو مالك وی.څکه چه د دويم خاوند درې طلاقه د اولنی خاوند يو اودوه طلاقه داسې ختموی.لکه څنګه چه درې طلاقه ختموی.دا د شيخينو رحمهما الله مذهب دې.

دليلهما﴾ دشيخينو رحمهما الله دليل د نبی ﷺ ارشاد دې. (لعن الله المحلل والمحلل له) په دې حديث باندې طريقه داستدلال دا ده.چه محدثينو رحمهم الله دا حديث په (باب ماجاء في الزوج الثاني) کښې راوړی دې.نود محلل نه به مراد دويم خاوند وی.لکه چه نبی ﷺ د دويم خاوند نوم محلل کيخودلو.اود محلل معنی ده حلت ثابتونکې.اوس پاتې شوه دا خبره چه د دويم خاوند په وجه چه کوم حلت ثابتيږی.نوهغه سابقه حلت دې اوکه نوې حلت.سابقه حلت خوکيدې نشی.څکه چه بيا خو تحصيل د حاصل راځی.نونوې حلت متعين شو.اودا هم ضروری ده.چه حل جديد داول نه سوا وی.اوحل اول ناقص شوې وو.نودويم حلت به کامل وی.اوکامل حلت وی چه د درې طلاقو مالك وی.نوثابته شوه.چه اولنې خاوند د ابتداء نه د درې طلاقو مالك دې.برابره ده که اولنی خاوند ورته درې طلاقه ورکړي وی اوکه ددې نه کم.دواړه برابر دی.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ: لَا يَهْدِمُ الزوج الثاني مَا دُونَ الثَّلَاثِ (۲) او امام محمد رحمه الله فرمائی.چه (دويم خاوند) د دريو نه کم نشی منهدم کولې

تشريح﴾ **مسلك محمد**﴾ امام محمد رحمه الله فرمائی.چه زوج ثانی د درې طلاقونه کم نه ختموی.بلکه اولنې خاوندبه په دريوکښې چه څو پاتې وی.دهغې مالك وی.يعنی که اول نې يوطلاق ورکړې وی.نواوس به د باقی دوو مالك وی. اوکه اول نې دوه طلاقه ورکړې وی.نواوس به دباقی يومالك وی.هم دا قول

(۵۰) من حديث ابن مسعود رضي الله عنه اخرجه الترمذی فی النكاح باب ۲۷ رقم ۱۱۲۰ والنسائی فی الطلاق باب ۱۳ رقم ۳۱۹۸)

(۲) القول الراجح هو قول محمد رحمه الله كذا فی فتح القدير(۳۷\۴) وردالمحتار(۵۸۹\۲) والعناية علی هامش الفتح (۳۶\۴) نقلاً عن القول الراجح (۳۳۳\۱)۔

دامام زفراوامام شافعي رحمهما الله هم دي.

دليله> دليل دا دي.چه دالله تعالى په قول ﴿فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ﴾ كښې د ﴿فَلَا تَحِلُّ﴾نه حرمت غليظه مراد دې.اوددې حرمت غليظه غايت اونهايت د دويم خاوند سره نكاح كول دى.ځكه چه كلمه د (حَتَّىٰ) د غايت دپاره وضع شوې ده.اومغيادغايت سره ختميږى. نو ثابته شوه.چه د دويم خاوند سره نكاح كول حرمت غليظه ختموى.اود حرمت غليظه د ثبوت نه وړاندې دحرمت ختمولوڅه معنى نشته.نود درې طلاقو نه د كمو په صورت كښې د زوج ثانى وطى كول غير معتبر دى.ځكه چه په دې صورت كښې حرمت غليظه نه دى ثابت.اوكله چه په دې صورت كښې حرمت غليظه ثابت نشو.نوددويم خاوند وطى كول ددې دپاره غايت نشى جوړيدې.نوثابته شوه.چه د دويم خاوند د درې طلاقو نه كم نشى ختمولې.اوچه د دريو نه كم نه ختميږى.نواولنې خاوند به د دويم خاوند سره د نكاح اوطلاق نه پس د درې طلاقو مالك نه وى.بلكه په اولنۍ نكاح كښې چه څوطلاقه باقي پاتې شوى وو.دهغې مالك به وى.كه يو وى اوكه دوه.

د مطلقه ثلاثه د دويم خاوند نه د طلاق اوعدت نه پس داولنې دپاره حلاليدل

وَإِذَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا او كه سړى (خپلې آزادې ښځې ته) درې طلاقه وركړل فَقَالَتْ قَدِ انْقَضَتْ عِدَّتِي بيا ښځه موده پس) ده اوويل چه زما عدت تيرشوې دې وَتَزَوَّجْتُ بِزَوْجٍ آخَرَ او ما (دويم خاوند سره) نكاح اوكړه وَدَخَلَ بِيَ الزَّوْجُ الثَّانِي او دويم خاوند ما سره دخول هم كړې دې وَطَلَّقَنِي او ده ماته طلاق راكړې دې وَانْقَضَتْ عِدَّتِي او زماعدت تيرشوې دې وَالْمُدَّةُ تَحْتَمِلُ ذَٰلِكَ او حال داچه مدت ددې ټولو خبرو احتمال هم لرى جَازَ لِلزَّوْجِ الْأَوَّلِ أَنْ يُصَدِّقَهَا نود رومبى خاوند دپاره جائزدى.چه ددې تصديق اوكړى إِذَا كَانَ فِي غَالِبِ ظَنِّهِ أَنَّهَا صَادِقَةٌ چه دده غالب ګمان دا وى.چه دا ښځه رشتونې ده

تشريح> صورت د مسئلې دا دې.چه يوكس خپلې آزادې ښځې ته درې طلاقه وركړل.څه موده پس ښځې اوويل.چه زما عدت تيرشوې دې.اوما د دويم خاوند سره نكاح هم كړې ده.اوهغه راته طلاق راكړې دې. اودهغه نه مې عدت هم تيرشوې دې.اودا ښځه چه كوم خيزونه يادوى.په دغه موده كښې د دې د واقع كيدوامكان هم وى.نوداولنى خاوند دپاره دا جائزدى.چه ددې ښځې تصديق اوكړى.خوچه غالب ګمان دا وى.چه دا ښځه رښتينې ده.

دليله> دليل دا دې.چه نكاح معامله ده.يا امرديني دې.معامله خو ځكه ده.چه بضع په وخت د دخول كښې متقومه وى.اوامرديني ځكه دې.چه د نكاح سره حلت متعلق وى.اوپه دې دواړوكښې د مسلمان قول قبلولې شى.

په ديانت كښې د يومسلمان قول ددې وجې قبلولې شى.چه صحابه كرام رضي الله عنهم به د يوعادل خبر قبلولو. غير د اشتراط عدد نه(يعنى د يونه د زياتوكسانوشرط به كښې نه وو)

اومعاملات په دوه قسمه دى.يوهغه چه په هغې كښې د الزام معنى نه وى.لكه وكالت په دې كښې د يوكس خبر معتبر وى.كه عادل وى كه فاسق كه ماشوم وى كه بالغ،كه مسلمان وى اوكه كافر،كه آزاد وى كه غلام،كه مذكروى اوكه مؤنث،نه عدد شرط دې اونه عدالت،دويم هغه دى.چه په هغې كښې د الزام معنى موجوده وى.لكه حقوق العباد،په دې كښې عدد ،عدالت اولفظ د شهادت ضرورى دى.

بهرحال په دې مسئله كښې د يوې ښځې خبرقابل انكار نه دې.بيا چه موده هم ددې احتمال لرى.

داولنى خاوند نه طلاق اوعدت		حيض	طهر	حيض	طهر	حيض	مجموعه
		۳	۱۵	۳	۱۵	۳	۳۹

د دويم خاوند نه طلاق اوعدت	طهر ۱۵	حيض ۳	طهر ۱۵	حيض ۳	طهر ۱۵	حيض ۳	مجموعه ۵۴

كِتَابُ الْإِيْلَاءِ

تشريح﴾ الايلاء لغة﴾ آلى يولي ايلاءً قسم خوړل

الايلاء شرعًا﴾ اوپه شريعت كښې ايلاء وائي.دڅلورويا ددې نه د زياتې مودې پورې خپلې منكوحې سره د جماع نه كولوقسم خوړل.

شرطها﴾ اوددې شرط دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزد طلاق اهليت دې.اودصاحبينو رحمهما الله په نيزد كفاره اهليت دې.

ركنها﴾ اوددې ركن (والله لا أقربك أربعة أشهر) ونيل دي.

حكمها﴾ اوددې حكم په موده دايلاء كښې ښځې ته په نزديكت باندې د كفارې لزوم اود ايلاء د مودې تيريدو په صورت كښې طلاق بائن واقع كيدل دي.

دايلاء دوه صورتونه

> **وَإِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِامْرَأَتِهِ** اوكه خاوند خپلې ښځې ته اوونيل **وَاللّٰهِ لَا أَقْرَبُكَ** چه والله زه به تاسره نيزديكت اونكړم **أَوْلَا أَقْرَبُكَ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ** يا وې ونيل.چه والله زه به تاسره څلورمياشتې نيزديكت اونكړم **فَهُوَ مُوْلٍ** نودا سړې به ايلاء كونكې وي

تشريح﴾ صورت د مسئلې اوددې دليل واضح دې.خودا خبره دې ښكاره وي.چه دايلاء دوه صورتونه دي.① يودخاوند قول چه (والله لا أقربك أبدا) په دې صورت كښې دا سړې په اتفاق سره ايلاء كونكې دې. ②دويم صورت دا چه اووائي. (والله لا أقربك أربعة أشهر) په دې صورت كښې دې زمونږ په نيز ايلاء كونكې دې. [1]

دليله﴾ څكه د الله تعالى ارشاد دې {لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ} الآية كوم خلق چه خپلوښځو سره ايلاء كوي.د هغوى دپاره څلور مياشتې انتظار دې.

په څلورومياشتوكښې په وطي كولوحنث اودكفارې وجوب

> **فَإِنْ وَطِئَهَا فِي الْأَرْبَعَةِ الْأَشْهُرِ** نوكه په څلور مياشتوكښې ئې ښځې سره وطي اوكړله **حَنِثَ فِي يَمِيْنِهِ** نو پخپل قسم به حانث وي **وَلَزِمَتْهُ الْكَفَّارَةُ** او په ده به كفاره لازم وي **وَسَقَطَ الْإِيْلَاءُ** او ايلاء به ساقط شي.

تشريح﴾ صورت د مسئلې دا دې.كه خاوند په دې څلورومياشتوكښې دننه دننه ښځې سره وطي اوكړله. نوسړې په خپل قسم كښې حانث شو.اوپه ده باندې كفاره لازمه ده.

دليله﴾ دليل دا دې.چه كفاره په قسم كښې دحانث كيدوموجب دې.اوايلاء قسم دې.په دې كښې حانث شوې دې.نوكفاره به پرې هم لازمه وي.

> **وَإِنْ لَمْ يَقْرَبْهَا حَتّٰى مَضَتْ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ** او كه دې ښځې سره ئې قربت اونكړو.تردې چه څلورمياشتې

---

[1] **مسلك الائمة**- اودامام شافعي امام مالك اوامام احمد رحمهم الله په نيزايلاء كونكې نه دې.ترڅوچه ئې د څلور مياشتونه د زياتې مودې قسم نه وي خوړلې.

تیري شوي بَانَتْ بِتَطْلِيْقَةٍ وَاحِدَةٍ نو په ده به یوطلاق سره بائنه شي

تشریح ﴾ که خاوند په موده دایلاء کښې ښځې سره وطی اونکړې شوه.تردي چه موده د ایلاء یعنی څلورمیاشتې تیرې شوې.نودا ښځه په یوطلاق سره بائنه شوه. (١)

دلائله ﴾ ① دلیل دا دې.چه خاوند ښځې دجماع حق بند کړلو.اوپه دې ئې ظلم اوکړلو.نو شریعت ده ته دده د ظلم بدله په دې طریقه ورکوی.چه د ایلاء د مودې تیریدونه پس ده نه د نکاح نعمت زائله کوی.د دې دپاره چه ښځه د متعلقه ضرر نه خلاصې بیا مومی.اوښکاره ده.چه د طلاق رجعی په ذریعه ښځه نشي خلاصیدې.نودا به طلاق بائن وی.

صاحب دهدایه رحمه الله په هدایه کښې فرمائیلی دی.چه زمونږ مذهب یعني دایلاء د مودې تیریدو نه پس د طلاق بائن واقع کیدل دحضرت عثمان،علي،عبدالله بن مسعود ،عبدالله بن عباس،عبدالله بن عمر ،زید بن ثابت رضي الله عنهم نه منقول دې. (٢)

② عقلی دلیل دا دې.چه دجاهلیت په زمانه کښې ایلاء طلاق بائن علی الفوروو.یعنی د ایلاء نه سمدستی روستو به دا خاوند همیشه دپاره دخپلې ښځې سره وطی نشوه کولې.نوشریعت دا حکم د ایلاء د مودې تیریدو پورې روستو کړلو.نوپه دې حکم کښې د تاجیل نه سوا بل څه تصرف نشته.نولکه څنګه به دایلاء په وجه په زمانه جاهلیت کښې طلاق بائن واقع کیدل.نودغه شان به اوس هم صرف طلاق بائن واقع کیږی.البته دومره فرض ضرور شته.چه ورنداني به سمدستي بینونت وو.اواوس علی التراخی دې.اولکه څنګه چه دجاهلیت په زمانه کښې تفریق د قاضی په تفریق باندې موقوف نه وو.دغه شان به داسلام نه پس هم د قاضی په تفریق باندې موقوف نه وی.

دڅلورومیاشتوقسم خوړل اوددې مودې په تیریدود قسم ختمیدل

فَإِنْ كَانَ حَلَفَ عَلَى أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ نوکه په څلور میاشتو ئې قسم خوړلې وو فَقَدْ سَقَطَتِ الْيَمِيْنُ نو قسم ساقط شو

تشریح ﴾ صورت د مسئلې دا دې.چه څلورمیاشتې تیرې شی.اودې خپلې ښځې ته نزدې نشی.نوکه دڅلورومیاشتونه نزدې کیدوقسم ئې خوړلې وی. نوپه دې صورت کښې د څلورومیاشتوپه تیریدو باندې قسم ساقط شو.

دلیله ﴾ څکه چه په دې صورت کښې قسم د څلورومیاشتوپه مودې پورې موقت شوې دې.نوچه دا موده تیره شی.قسم ساقط شو.

وَإِنْ كَانَ حَلَفَ عَلَى الْأَبَدِ اوکه ده ابدی (همیشه دپاره) قسم خوړلې وی فَالْيَمِيْنُ بَاقِيَةٌ نو قسم باقی دې

تشریح ﴾ که د ټول عمر نه نزدې کیدو قسم ئې خوړلې وی.مثلاً وئیلې ئې وی. (والله لاأقربك أبداً یا والله

---

(١) **مسلك الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمائی.چه دایلاء موده تیره شی.نوددې نه پس دقاضی په تفریق سره به دا بائنه ګرځی.یعنی د قاضی په فیصله باندې به دایلاء د مودې نه پس دایلاء حکم موقوف وی.نوکه خاوند د ایلاء کولواودبیلتون نه انکار اوکړلو .او ښځې دقاضی نه د بیلتون مطالبه اوکړله.نودقاضی تفریق به طلاق رجعی وی.اوپه مبسوط کښې دی.چه طلاق بائن به وی.

(٢) أما رواية عثمان وزيد بن ثابت رضي الله عنهما ففي مصنف عبدالرزاق وأما رواية ابن عباس وابن عمر رضي الله عنهما ففي مصنف ابن أبي شيبة وأما رواية ابن مسعود رضي الله عنه ففي مصنف عبدالرزاق (نقلتها من نصب الراية بالإختصار(٣\٢٤٤)_

لاالی یک) د (أبدا) لفظ ئې په کښې نه وی ذکر کړې.نو په دې صورت کښې که څلورمیاشتې تیرې شوې.اوخاوند ورته نزدې نشو.نودا ښځه به په یوطلاق بائن سره بائنه شی.اوقسم به باقی وی.

دلیله> دلیل دا دې.چه په دې صورت کښې قسم په څه وخت پورې مقید نه دې.نوقسم به همیشه دپاره وی.اوموجب دحنث چه نزدیکت دې.هغه نه دې موجود شوې.نوددې وجې خاوند حانث هم نه دې.څکه چه قسم نه ختمیږی.نوقسم به په خپل ځائې باندې باقی وی.

فَإِنْ عَادَفَتَزَوَّجَهَا نوکه ده د بائنه کیدلونه پس بیا دې ښځې سره نکاح اوکړله عَادَالْإِيلَاءُ،فَإِنْ وَطِئَهَا نو ایلاء هم واپس شوه.که وطی ئې اوکړله وَإِلَّاوَقَعَتْ بِمُضِيِّ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ تَطْلِيقَةٌ أُخْرَىٰ (نو قسم مات شو کنی په څلورو میاشتو تیریدلو به دویم طلاق وی

تشریح> که د بینونت اوعدت تیریدونه پس دې مولی (خاوند) بیا دې ښځې سره نکاح اوکړله.نوایلاء به هم واپس کیږی.نوکه ده د ایلاء په دې موده کښې وطی اوکړله.نوقسم مات شو.اوکفاره پرې لازمه شوه.اوکه وطی ئې اونکړله.نود څلورومیاشتوتیریدو نه پس به دویم طلاق واقع شی.

دلیله> څکه چه یمین په وخت پورې مقید نه دې.نوځکه اوس هم باقی دې.اودنکاح کولوپه وجه د ښځې حق ثابت شو.نوظلم متحقق شو.نود طلاق بائن په ذریعه دا ظلم لرې کیدې شی.اود دویمې ایلاء د مودې شروع به په نکاح کښې د راتلود وخت نه شروع کیږی.څوکه د دویمې نکاح ابتداء د ایلاء د مودې تیریدونه پس وی.نود دویمې ایلاء شروع به د طلاق د وخت نه کیږی.د نکاح د وخت نه به نه کیږی.(عنایه)

فَإِنْ تَزَوَّجَهَا ثَالِثًا بیا که په دریم ځل ئې ددې سره نکاح اوکړله عَادَالْإِيلَاءُ نو ایلاء به واپس کیږی وَوَقَعَتْ علیها بِمُضِيِّ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ تَطْلِيقَةٌ أُخْرَىٰ او په څلور میاشتو تیریدلو باندې به په دې دریم طلاق واقع کیږی.

تشریح> بیا که په دریم ځل ئې دې سره نکاح اوکړله.نوایلاء به واپس کیږی.اود څلورو میاشتو په تیریدو به دریم طلاق واقع کیږی.خوپه دې شرط چه په دې موده کښې ئې دښځې سره وطی نه وی کړې.

دلیله> دلیل وړاندې تیرشوې دې.چه قسم چونکه د وخت نه مطلق (آزاد) دې.نوباقی دې.اوپه نکاح کولوسره د ښځې حق ثابت شو.نوظلم متحقق شو.(عنایه)

فَإِنْ تَزَوَّجَهَا بَعْدَ زَوْجٍ آخَرَ بیا که د دویم خاوند نه پس ئې دې خاوند سره نکاح اوکړله لَمْ يَقَعْ بِذَٰلِكَ الْإِيلَاءِ طَلَاقٌ

تشریح> مصنف رحمه الله فرمائی.کله چه په درې طلاقوسره د دې ښځې دپاره حرمت غلیظه ثابت شی.اودې ښځې دبل خاوند سره نکاح اوکړله.اووطی هم اوشوه.بیا دویم خاوند دې ښځې ته طلاق ورکړلو.اوعدت هم تیر شو. نوکه اولنی خاوند یعنی مولی ددې ښځې سره نکاح اوکړله.نوددې ایلاء په وجه به څه طلاق نه واقع کیږی.

دلیله> څکه چه دا ایلاء صرف د اولنی ملك سره متعلق وه.څکه چه ایلاء د طلاق په مرتبه کښې ده.

وَالْيَمِينُ بَاقِيَةٌ او قسم اوسه پورې باقی دې.

تشریح> په مذکوره مسئله کښې یمین باقی دې

دلیله> څکه چې قسم مطلق دې مقید نه دې په یو وخت پورې اوحنث هم نه دې راغلې

فَإِنْ وَطِئَهَا بیا که دې ښځې سره ئې وطي اوکړله **كَفَّرَعَنْ يَمِيْنِهٖ** نود خپل قسم کفاره دې اداکړي.

تشریح په مذکوره صورت کښې که وطي ئې اوکړه نو دخپل قسم کفاره به ورکړي.

دليله دليل دا دې چې کفاره هله واجبيږي.چه يمين باندې وفا اونشي.اودلته هم يمين مات شو.نو کفاره لازمه شوه.

د څلورومياشتو نه د کمې مودې قسم خوړونکې مولي نه دې

فَإِنْ حَلَفَ عَلٰى أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ نو که د څلور مياشتو نه په کم ئې قسم اوخوړلو **لَمْ يَكُنْ مُوْلِيًا** نو ايلاء کونکې به نه وي.

تشریح صورت د مسئلې دا دې.که يوکس دڅلورومياشتونه د کمې مودې خپلې ښځې ته دنزديکت نه قسم اوخوړلو.نودا کس ايلاء کونکې نه دې.مثلاً اووائي. (والله لا أقربك شهرا يا والله لا أقربك شهرين يا والله لا أقربك ثلاثة أشهر)

دلائله ① دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما فتوی ده هغوی به هم په دې فتوی ورکوله.

② عقلي دليل دا دې.چه کوم کس د څلورومياشتو نه په کمه موده کښې د نزديکت نه قسم اوخوړلو.نومثلاً قسم ئې اوخوړلو.چه په الله قسم زه به خپلې ښځې سره يومياشت قربت نه وطي نه کوم.نواوس ددې کس د يوې مياشتې نه د زياتې مودې يعنی دويمه او دريمه مياشت کښې وطي کول اود قربت نه منع کيدل بغيرد مانع نه شو.ځکه چه په روستنودرې مياشتوکښې د قربت نه قسم نه دې خوړلې شوې.اوداسې قسم چه د څلورومياشتونه په کمه موده باندې منعقد وي.نود څلورو مياشتو په تيريدو په هغې باندې د طلاق حکم نه ثابتيږي.لکه څنګه چه يوکس د څلورومياشتويا ددې نه زياته موده خپلې ښځې ته نزدې نشي.نوپه دې صورت کښې د څلورومياشتو په تيريدو طلاق نه واقع کيږي. (عنايه)

دحج روژې وغيره قسم کونکې مولي دې

وَإِنْ حَلَفَ بِحَجٍّ أَوْبِصَوْمٍ أَوْبِصَدَقَةٍ أَوْعِتْقٍ أَوْطَلَاقٍ که يوکس دحج يا روژې يا صدقې يا د آزادولو يا د طلاق قسم اوخوړلو **فَهُوَمُوْلٍ** نودې ايلاء کونکې شو

تشریح وړاندې په ايلاء کښې په الله د قسم خوړلوبيان ذکروو.اوس دلته د الله تعالی نه سوا په بل څيزسره ديمين شروع کوي.يعنی د شرط اوجزاء دواړو ذکرکولوسره د يمين صورتونه بيانوي.

صاحب دقدوري رحمه الله فرمائي.که دحج قسم ئې اوخوړلو.يعنی داسې ئې اووئيل. (ان قربتك فعلي حج البيت) يا ئې دروژې قسم اوخوړلو.يعنی وې وئيل. (ان قربتك فعلي صوم سنة) يا ئې دصدقې قسم اوخوړلو.او وې وئيل. (ان قربتك فعلي صدقة عشرة دراهم) يا ئې د آزادولوقسم اوخوړلو.مثلاً وئې وئيل. (ان قربتك فعلي عتق رقبة) يا ئې د طلاق قسم اوخوړول مثلا وې وئيل (ان قربتك فضرتك طالق) نوپه دې ټولوصورتونوکښې دا سړی ايلاء کونکې دې.

دليله دليل دا دې.چه د شرط اوجزاء ذکرکولوپه وجه د وطي اوقربت نه منع کيدل ثابت شو.اودا جزاګانې يعنی حج روزه وغيره د شرط د ارتکاب نه منع کونکې دی.ځکه چه ددې جزاګانوپه کولوکښې مشقت دې. ځکه چه کله شرط ادا کړي.نوجزاء به خامخا واقع کيږي.اودجزاء په واقع

کیدوکښې مشقت دې.نوځکه جزاء مانع د شرط ده.نوپه دې تولوصورتونوکښې د ښځې سره د وطی کولونه مانع متحقق دې.اودښځې سره د وطی کولونه د مانع نوم ایلاء ده.نوپه دې تولوصورتونوکښې به ایلاء متحقق وی.نوکه د څلورومیاشتو مودهٔ بغیرد وطی نه تیره شوه.نوپه ښځه باندې یوطلاق بائن واقع کیږی.

د مطلقه رجعیه اومطلقه بائنه د ایلاء حکم

وَاِنْ اٰلٰی مِنَ الْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ اوکه خپلې مطلقه رجعیه سره ئې ایلاء اوکړله کَانَ مُولِيًا نو ایلاء کونکې به وی وَاِنْ اٰلٰی مِنَ الْبَائِنَةِ او که مطلقه بائنه سره ئې ایلاء اوکړله لَمْ يَكُنْ مُولِيًا نوایلاء کونکې به نه وی

تشریح﴿ صورت د مسئلې دا دې.که یوکس د مطلقه رجعیه نه ایلاء اوکړله.نودا سړې د څلورواړه امامانواود جمهوروعالمانو ﷫ په نیزایلاء کونکې دې. اوکه دمطلقه بائنه نه ئې ایلاء اوکړله.نوپه اتفاق سره ایلاء کونکې نه دې.

دلیله﴿ دلیل دا دې.چه زوجیت (ښځه توب) په مطلقه رجعیه کښې موجود دې.اوپه مطلقه بائنه کښې رجعیت موجود نه دې.اودایلاء محل هغه ښځه وی.چه زمونږ ښځه وی.ځکه چه الله تعالی فرمائیلی دی. ﴿لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ﴾ اود بائنه کیدونه پس زوجه نه پاتې کیږی.نوځکه مطلقه بائنه محل دایلاء نه دې.خوکه ددې مطلقه بائنې سره ئې وطی اوکړله.نود یمین په وجه به پرې کفاره لازمیږی.اوددې په خلاف مطلقه رجعیه ده.ځکه چه هغه د ایلاء محل دې.ځکه چه د طلاق رجعی نه پس زوجیت باقی وی.هم دا وجه ده.چه زمونږ په نیزد معتده رجعیه سره وطی کول جائزدی.البته دا که د ایلاء د مودې یعنی څلورو میاشتونه وړاندې د معتده رجعیه عدت پوره شو.نوایلاء به ساقطه شی.ځکه چه دعدت تیریدو په وجه محل د ایلاء فوت شو.

د وینځې ایلاء

وَمُدَّةُ اِيْلَاءِ الْاَمَةِ شَهْرَانِ اود وینځې د ایلاء موده دوه میاشتې ده

تشریح﴿ فرمانی. که دیوکس وینځې وی.نودهغې د ایلاء موده دوه میاشتې دی.برابره ده که آزاد وی اوکه غلام،هم دا قول دحضرت عمر ﷛ دې. (۱)

دلیله﴿ دلیل دا دې.چه د ایلاء موده (څلورمیاشتې) د بائنې دپاره مقرر شوی دی.نود رقیت په وجه به نیمه مودهٔ پاتې شی.لکه څنګه چه د وینځې طلاق اودهغې عدت دآزادې ښځې د طلاق اوعدت په نیمه دې.

دجماع نه دعجزپه صورت کښې دایلاء احکام

وَاِنْ كَانَ الْمُوْلِيْ مَرِيْضًا لَا يَقْدِرُ عَلَى الْجِمَاعِ اوکه ایلاء کونکې داسې بیمار دې.چه ده ته په جماع باندې قدرت نشته اَوْكَانَتِ الْمَرْاَةُ مَرِيْضَةً یا دا ښځه داسې بیماره وی اَوْكَانَتْ رَتْقَاءَ یا د متیازو د لارې نه علاوه بله څه لاره نه وی اَوْصَغِيْرَةً لَا تُجَامَعُ یا داسې وړه ماشومه وی.چه دې سره جماع نشی

---

(۱) **مسلک الائمة**:- دامام مالک ﷫ مذهب دا دې.چه د غلام د ایلاء موده دوه میاشتې دی.که دده ښځه وینځه وی اوکه آزاده. اوامام شافعی اوامام احمد ﷯ فرمانی.چه د آزاد سړی اوآزاده ښځه اووینځه تول برابردی.اودتولو موده د ایلاء څلورمیاشتې دی.

کيدې اوکَانَتْ بَيْنَهُمَا مَسَافَةٌ لَا يَقْدِرُ أَنْ يَصِلَ إِلَيْهَا فِي مُدَّةِ الْإِيلَاءِ يا د ښځې اوسرې په مينځ کښې دومره لرې والې وې.چه د ايلاء په موده کښې ښځې ته د رسيدلو قدرت نه لرې فَفَيْؤُهُ أَنْ يَقُولَ بِلِسَانِهِ فِئْتُ إِلَيْهَا فِي مُدَّةِ الْإِيلَاءِ نو (په دې صورتونو کښې) د سړې رجوع کول دادې.چه د ايلاء په موده کښې پخپله ژبه اووائي.ما دې ښځې طرف ته رجوع اوکړله فَإِنْ قَالَ ذٰلِكَ سَقَطَ الْإِيلَاءُ نوکه داسې ئې اووئيل.نو ايلاء ساقط شوه

حل اللغة < **رتقاء:** هغه زنانه چه د متيازو د لارې نه ئې سوا بله لاره نه وي ② **لعان:** ژبه]

تشريح < **صور صحة الرجوع بالقول** < صورت د مسئلې دا دې.①که ايلاء کونکې داسې بيمار وي.چه دې په جماع کولوباندې قادرنه وي. ②يا ښځه داسې بيمار

③ يا ښځه رتقاء وي.يعنې د متيازود لارې نه سوه بله لار نه وي.

④ يا داسې وړه ماشومه وي.چه دجماع قابله نه وي.

⑤ يا د ښځې خاوند په مينځ کښې دومره لرې والې وي.چه په څلورومياشتوکښې ورته خاوند نشي رسيدلې.نوپه دې ټولوصورتونوکښې خاوند ته د رجوع بالقول اختيار دې.نوکه خاوند په موده د ايلاء کښې (فئت إليها) اووئيل.(يعنې ما ورته رجوع اوکړله)نو ايلاء ساقطيږي.(^۱)

دليله < دليل دا دې.چه هرکله دې کس د قدرت باوجود جماع اونکړله.نودده د طرفه ظلم متحقق شو.خکه چه دې کس د ښځې دجماع حق بند کړلو.نودده د طرفه به رجوع په هغه وخت کښې ثابتيږي.چه د ښځې حق د جماع په ذريعه باندې ادا کړي.نومعلومه شوه.چه دد دې کس رجوع به د جماع په ذريعه ثابتيږي.د قول په ذريعه به نه ثابتيږي.

وَلَوْصَحَّ فِي الْمُدَّةِ اوکه دې د ايلاء په موده کښې صحيح شو (يعنې په جماع کولو باندې قادر شو) بَطَلَ ذٰلِكَ الْفَيْءُ نودا زبانې رجوع کول باطل شو وَصَارَ فَيْؤُهُ بِالْجِمَاعِ او دده رجوع کول په جماع سره شو

تشريح < چه په حالت د مرض کښې ئې ايلاء کړې وي.اوبيا په موده د ايلاء کښې په جماع قادر شي. نواوس به دده رجوع په رجوع بالجماع سره معتبر وي.برابره ده که دده رجوع بالقول کړې وي اوکه نه وي. که رجوع بالقول ئې نه وي کړې.نوبيا خوپه جماع سره رجوع کول ښکاره خبره ده.اوکه رجوع بالقول ئې کړې وي.نودصحت نه پس دغه رجوع باطله شوه.

دليله < دليل دا دې.چه دخليفه په ذريعه د مقصود حاصلولو نه وړاندې دې په اصل باندې قادر

شو.نودا داسې شوه.لکه چه يوکس تيمم کړې وي.اود مانځه په دوران کښې په اوبوقادرشي.نودده مونځ باطليږي.اوپه اودس سره پرې مونځ ادا کول واجبيږي.

د (أنت علي حرام) حکم

وَإِذَا قَالَ لِامْرَأَتِهِ اوکه خپلې ښځې ته ئې اووئيل أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ ته په ماباندې حرام ئې سُئِلَ عَنْ

^۱ **مسلک الشافعي:**- دامام شافعي رحمه الله مذهب دا دې.چه په ايلاء کښې رجوع صرف په جماع سره کيږي.مطلب دا چه امام شافعي رحمه الله په ايلاء کښې صرف د رجوع بالجماع قائل دې.د رجوع بالقول قائل نه دې.داحنافو رحمهم الله په مشائخوکښې دامام طحاوي رحمه الله رائې هم دا ده.

نیتہ نو ده ده نیت به معلومولې شي **فإن قال أردت الكذب** نوکه ده اووئیل.چه ما د دروغ ونیلو اراده کړې وه **فهو كما قال** نوداسې به وي.لکه دې چه څنګه واني

تشریح﴿ صورت د مسئلې دا دې.که یوکس خپلې ښځې ته اوونیل.چه (أنت علی حرام) نود ده نه به د ده د نیت پوښتنه کولې شي.ځکه چه دده دا کلام د څومعانیواحتمال لري.اویوه معنی د بلې معنی نه غوره نه ده.نودیوې معنی د متعین کولودپاره به د قائل نیت معلومولې شي.

نوکه دې کس دا اوونیل.چه ما د دروغو اراده کړې وه.نودا به هغه شان وي.څنګه چه هغه واني.یعنی نه به طلاق واقع کیږي اونه به ایلاء وي.

دلیله﴿ دلیل دا دې.چه دې کس د حقیقي معنی اراده کړې ده.ځکه چه دا ښځه د ده دپاره حلاله وه.بیا دده قول چه (أنت علی حرام) داسې خبر دې.چه د واقع مطابق نه دې.نودا به دروغ اوکذب وي.اوچونکه دکلام دحقیقي معنی نیت کول شرعاً معتبر وي.نوځکه به دلته هم د دې سړي نیت معتبر وي.

الاشکال﴿ خوبه دې دلیل به اشکال کیږي.هغه دا که دروغ د ده د کلام (أنت علی حرام) حقیقي معنی وي. نو پکار دا ده.چه بغیرنیته معتبر وو.ځکه چه حقیقت د نیت محتاج نه وي.

الجواب﴿ جواب دا دې.چه کذب اودروغ حقیقت اولی دې.اویمین حقیقت ثانیه دې.اوچه لفظ په ګڼو معانیو کښې مشترك وي.نوپه دې صورت کښې د یوې معنی متعین کولودپاره نیت ضروری وي.(فتح القدیر)

وإن قال أردت به الطلاق اوکه ده اوونیل.چه ما د طلاق نیت کړې وو **فهي تطليقة بائنة** نو یو بائنه طلاق به واقع کیږي **إلا أن ينوي الثلاث** خو که ده د درې طلاقو نیت کړې وو.(نو بیا به بائنه وي)

تشریح﴿ اوکه دې کس په خپلې دې وینا چه (أنت علی حرام) سره طلاق اراده کړې وي.اودطلاق د شمارنیت ئې نه وي کړې.یا ئې د یو یا د دوو طلاقو نیت کړې وي.نوپه دې درې واړه صورتونوکښې به یوطلاق بائنه کیږي.اوکه د درې طلاقو نیت ئې کړې وي.نوبه دې به درې طلاق واقع کیږي.

دلیله﴿ دلیل دا دې.چه (أنت علی حرام)دکنایاتوپه الفاظوکښې دې.او وراندې د کنایاتو په الفاظوباندې بحث تیرشوې دې.هغه دې هلته اوکتلې شي.

وإن قال أردت الظهار اوکه ده اوونیل.چه ما د ظهار قصد کړې وو **فهو ظهار** نودا به ظهار وي

تشریح﴿ اوکه دې کس اونیل.چه زما په دې سره ظهارمراد وو.نود شیخینو رحمهما الله په نیزبه دا ظهاروي.

دلیلهما﴿ دلیل دا دې.چه قائل په خپل کلام (أنت علی حرام) کښې د حرمت مطلق ذکرکړې دې.اولفظ د حرمت د څوالفاظوانواعو احتمال لري.دحرمت بالطلاق هم او د حرمت بالظهارهم،خلاصه دا چه ظهارهم د حرمت یوه نوع ده.نوظهارد مطلق حرمت د محتملاتوځنې دې.اوقاعده دا ده.چه څوك د خپل کلام په محتملاتوکښې د کوم محتمل نیت کوي.دده تصدیق به کولې شي.نوځکه به دلته د خاوند یعنی قائل د طرفه د ظهارنیت معتبر وي.

مسلك محمد﴿ دامام محمد رحمه الله په نیزبه ظهارنه وي.

دلیله﴿ دلیل دا دې.چه ظهاروانی محله (حلاله ښځه) د محرمه (چا سره چه همیشه دپاره نکاح کول حرام وي) سره تشبیه ورکولوته واني.اوپه ظهارکښې هم تشبیه ورکول رکن دې.اودلته چونکه حرف تشبیه موجود نه دې.ددې وجې دا ظهارنه دې.

وَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ بِهِ التَّحْرِيمَ اوكه ده ووئيل چه ما (ددې بنځې) حرام كول مراد وو أَوْلَمْ أُرِدْ بِهِ شَيْئًا يا وې وئيل چه ما هيڅ هم مراد نه دی اخستې فَهِيَ يَمِينٌ يَصِيرُ بِهِ مُولِيًا نودا قسم دې.ددې په وجه به ايلاء كونكې وی

تشريح> صورة ارادة التحريم> اوكه ده ووئيل چه ما دبنځې دحرامولو نيت كړې وو.يا دا چه ما د څه نيت هم نه وو كړې.نودا به يمين وی.اوددې په وجه به دې ايلاء كونكې شی.نوكه ده په څلورمياشتوكښې دننه دننه وطی اوكړله.نوكفاره به پرې لازمه شی.اوكه وطی ئې اونكړله.نوتردې چه څلورمياشتې تيرې شوې.نود ايلاء په وجه به بائنه شی.

دليله> دتحريم مراد اخستلوپه صورت كښې دليل دا دې.چه حلال حرامولوكښې اصل دا دې.چه هغه زمونږ په نيزيمين دې.څكه چه دالله تعالى ارشاد دې.[يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ] ترجمه او وجه د استدلال وړاندې تيرشوی دی.

صورة عدم ارادة شئ> اوكه دڅه نيت ئې نه وی كړې.نودا به يمين وی.څكه چه په يمين سره كوم حرمت ثابتيږی.هغه د ادنی درجې وی.څكه چه په ايلاء كښې دكفاره نه وړاندې وطی كول حلال دی.اوپه ظهار كښې داسې نه دی.اوپه ايلاء كښې في الحال وطی نه واجبيږی. بلكه چه څلور مياشتې تيرې شی.نوددې نه پس حرمت ثابتيږی. اوپه ظهاركښې فی الحال حرمت ثابتيږی.اودغه شان حرمت بالايلاء ادنی دی د حرمت بالطلاق نه.

دليله> څكه كه طلاق ترې مراد واخلی.نوطلاق بائن به واقع شی.اووطی به حرامه شی.او ايلاء وطی نه حراموی.نوهركله چه حرمت يمين ادنی دې.نود متيقن په وجه به هم هغه متعين وی.انشاءالله په كتاب الايمان كښې به تفصيل سره كلام اوكړې شی.

اوپه مشائخو ﷺ كښې بعضې حضرات د (أنت علی حرام) لفظ كښې بغيرد نيت نه طلاق طرف ته اړوی.اودليل عرف ګرځوی.څكه چه زمونږ په زمانه كښې خلق د(أنت علی حرام) نه هم طلاق مراد اخلی.فقيه ابوالليث ﷺ هم دا خبره اختياركړې ده.والله اعلم

كِتَابُ الْخُلْعِ

ترجمه> (دا) كتاب (په احكامود) خلع (كښې) دې.

تشريح> التعريف اللغوی> لغوی تحقيق دا دې.چه خلع نوم دې د دوی د دې قول چه (خالعت المرأة زوجها، او اختلعت منه بمالها) خلع د خاء په ضمه او فتح دواړوسره راځی.معنى ئې ده نزع،يعنی جدا كول او ويستل.لكه چه دالله تعالى ارشاد دې. (فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ) يعنی خپلې دواړه پنړې اوباسه،خوخلع د خاء په فتح د نزع حقيقی دپاره استعماليږی.اوخلع په ضمه سره د نزع مجازی دپاره،

التعريف الاصطلاحی- په شريعت كښې خلع وائی د بنځې نه په لفظ د خلع سره د ملك نكاح په مقابله كښې مال اخستل،اودخلع شرط هغه دې.كوم چه د طلاق شرط دې.اوددې حكم طلاق بائن واقع كيدل دی. اوددې صفت دامام ابوحنيفه ﷺ په نيزد دخاوند د طرفه خلع يمين دې.اودبنځې دطرفه معاوضه ده.نود سړی دطرفه به د يمين د احكامو خيال ساتلې شی.اودبنځې دطرفه به د معاوضه داحكامو،اودصاحبينو ﷺ په نيزخلع د دواړو طرفونه يمين دې.

وجوه تاخير الخلع عن الايلاء خلع ئي د ايلاء نه د دوو وجوهو له كبله روستو كړله.① يو ددې وجې چه په ايلاء كښې مال نه وى. نودا طلاق ته زياته نزدې وى.ددې په خلاف خلع څكه چه په هغې كښې د جينئ دطرفه د معاوضه معنى موجود وى. ②دويم ددې وجې چه د ايلاء بناء د خاوند دطرفه په نشوزاو نافرمانئ باندې وى.اودخلع بناء د ښځې دطرفه په نشوز او نافرمانئ باندې وى.نودكوم څيز تعلق چه د سړى سره دې.يعنى ايلاء هغه ئې وړاندې بيان كړلو.اودكوم څيز تعلق چه د ښځې سره دې.يعنى خلع نودا به روستو بيانولي شى.(عنايه) ③ دريمه وجه دا كيدې شى.چه ايلاء په منزله د مفرد ده.اوخلع د ښځې دطرفه مال وى. نوځكه دا په منزله د مركب شوه.اوچونكه مفرد مقدم وى په مركب باندې،نوځكه ئې ايلاء وړاندې اوخلع روستو بيان كړه.

مشروعية الخلع اود خلع مشروعيت دكتاب الله،سنت ،اجماع امت او دليل عقلى څلورو واړو نه ثابت دې. ① كتاب الله مثلاً دالله تعالى ارشاد دې. ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِۦ﴾ يعنى په دې دواړو باندې څه ګناه نشته.چه ښځه فديه وركړى.(دخپل خان) ②اوسنت رسول دا دې. (ان جميلة كانت تحت ثابت بن قيس بن شماس فجائت إلى رسول الله ﷺ وقالت لا أرغب على ثابت فى دين ولا خلق ولكنى أخشى الكفر فى الإسلام لشدة بغضى إياه فقال الطَّيِّلا أتردين عليه حديقته فقالت نعم،وزيادة فقال الطَّيِّلا أما الزيادة فلا) يعنى جميله ښځه د ثابت بن قيس بن شماس په نكاح كښې وه.هغه رسول الله ﷺ ته راغله.اوونې وئيل.چه زه ثابت بن قيس ﷺ ته د دين اواخلاقو په اعتبارسره بد نه وايم.البته زه د نفاق مع الاسلام نه ويريږم.څكه چه زما دده نه ډيرزيات نفرت دې.نبى ﷺ ورته اوورفرمائيل.ته به دده ته باغ واپس كړې.هغې اووئيل.آوجى،اوزياتى به هم وركړم.نبى ﷺ اوفرمائيل.دزياتى څه ضرورت نشته.ددې آيت اوحديث نه معلومه شوه.چه ښځه د خپل خان آزادولوپاره دخپل طرفه عوض وركولې شى.اوهم ددې نوم خلع دې. ③اودخلع په مشروعيت باندې اجماع هم ده.اوعقلى دليل دا دې.چه ملك نكاح قياس كړې شوې دې په ملك قصاص باندې،يعنى لكه څنګه چه ملك قصاص مال نه دې.خوددې عوض اخستل جائزدى.دغه شان نكاح هم اګرچه مال نه دې.خوددې عوض اخستل جائزدى.اوچه عوض واخلى اوطلاق وركړى.د دې نوم خلع دې.

د ګورنه جوړيدو په صورت كښې خلع كول

﴿وَإِذَا تَشَاقَّ الزَّوْجَانِ﴾ اوكله چه ښځه خاوند خپل منځ كښې جګړه اوكړى ﴿وَخَافَا أَنْ لَا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ﴾ او دواړوته دايره وى.چه د الله تعالى حدودبه قائم اونه ساتى ﴿فَلَا بَأْسَ أَنْ تَفْتَدِيَ نَفْسَهَا مِنْهُ بِمَالٍ يَخْلَعُهَا بِهِ﴾ نو هيڅ باك نشته.چه ښځه ده ته د خپل خان فديه وركړى.په داسې مال سره چه د هغې په ذريعه خاوند دې ته خلع وركړى

حل اللغة ① **تشاق:** مخالفت كوى د يوبل ② **تفتدى:** فديه وركوى]

تشريح صورت د مسئلې دا دې.كه ښځه خاوند په خپل مينځ كښې جګړې كوى.اودا محسوس كړى.چه اوس دالله تعالى حدود يعنى حقوق زوجيت نشى ادا كيدې.نوپه دې كښې څه قباحت نشته.چه ښځه دخپل خان خلاصولوپاره خاوند ته فديه وركړى.اوخاوند د دغه مال په بدله كښې د خلع په ذريعه دې ته طلاق وركړى.

دليله دليل دالله تعالى ارشاد دې. ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِۦ﴾ د آيت مطلب دا دې.چه په سړى باندې ګناه نشته په فديه اخستلوكښې اوپه ښځه باندې ګناه نشته د فديه په وركولوكښې،

حقيقة الفدية ﴿ د فديه ورکول په حقيقت کښې خپل خان د قيد نه د خلاصولو دپاره وي.څکه چه ښځې دخپلوخاوندانوسره د قيد په درجه کښې وي.څکه چه نبی ﷺ د ښځونوم (اسارى) ذکرکړې دې.ارشاد دې. (اتقوا الله في النساء فإنهن عندكم عوان) يعني دښځويه باره کښې دالله تعالى نه ويره اوکړئ.څکه چه دوی تاسوسره قيدياني دی.(ترمذي منقول ازعيني شرح هدايه) اوجارالله زمخشري بيان کړې دې.چه دا آيت ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ د ثابت اودهغوی د بی بی ﷺ په باره کښې نازل شوې وو.اودا پهاسلام کښې د ټولونه اولنئ خلع وه.دا حديث په باب الخلع کښې په تفصيل سره بيان کړې شوې دې.عيني د ثابت دښځې درې نومونه ذکر کړې دی.① حبيبه ② حميله ③ جميله.

فَإِذَا فَعَلَ ذَٰلِكَ نو هرکله چه خاوند اوښځې داسې اوکړل **وَقَعَ بِالْخُلْعِ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ** نود خلع په وجه به يو طلاق بائن واقع شي **وَلَزِمَهَا الْمَالُ** او په ښځه به مال لازم وی څکه نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی.

تشريح ﴿ کله چه ښځې خاوند دا کاراوکړلو.يعنی ښځې فديه ورکړله.اوخاوندخلع اوکړله.نوددې په وجه په ښځه يوطلاق بائن واقع شو.اوپه ښځه باندې مال واجب شو.

دلائله ﴿ ① دليل د نبی ﷺ ارشاد دې.چه (الخلع تطليقة بائنة)[1] چه خلع ورکول يو طلاق بائن دې

② دويم دليل دا دې.چه نکاح د مکمل اوپوره کيدو نه پس د فسخ احتمال نه لری.اودعدم کفاءت، خيارعتق اوخياربلوغ په وجه فسخ قبل التمام ده.بعدالتمام نه ده.نوددې درې وارو ځيزونو وجې نکاح د پوره کيدو نه بندېږی.فسخ نه ده.اوپاتې شوه خلع نودا د عقد دتمام نه پس وی.اونکاح د تمام نه پس د فسخ احتمال نه لری.نوځکه خلع ته د نکاح فسخ نشی وئيلې.البته د نکاح د تمام نه پس دقطع في الحال احتمال لری.ددې وجې زمونږ درخواست دې.چه دخلع نه دې رفع د قيد اوقطع د نکاح مراد واخستې شی.اورفع د قيد اوقطع نکاح نوم دې دطلاق،نوثابته شوه چه خلع طلاق دې فسخ د نکاح نه ده.

③ لفظ د خلع د طلاق احتمال لری.که يوکس خپلې ښځې ته اووئيل. (خالعتك يا خلعتك) اودطلاق نيت ئې کړی وی.نويوطلاق بائن واقع کيږی.خلاصه دا چه لفظ دخلع د کنايات طلاق څنی دې.اودکنايه په الفاظو سره طلاق بائن واقع کيږی.سوا د درې کلماتونه،چه (أنت واحدة،إعتدى،إستبرئ رحمك)

د سړی دطرفه د ظلم په صورت کښې د خلع اخستلوکراهت

وَإِنْ كَانَ النُّشُوزُ مِنْ قِبَلِهِ اوکه نافرماني د خاوند د طرفه وی **كُرِهَ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْهَا عِوَضًا** نود خاوند دپاره مکروه دی.چه د ښځې نه عوض واخلی

تشريح ﴿ نشوز دښځې دخپل خاوند نافرمانی کول اونفرت کول دی.زجاج فرمائيلی دی.چه نشوز دواړو طرفونونه کيږی.يعنی په زوجينوکښې دهريوکس بل لره نه خوښول ښکاره کول،
صورت د مسئلې دا دې.که نشوزاوناخوښی د سړی دطرفه وی.نودسړی دپاره دښځې نه د بدل خلع په طور د څه ځيزاخستل مکروه دی.

دلائله ﴿ ① دليل دالله تعالى ارشاد دې. ﴿وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا﴾ اوکه تاسو يوې بی بی په ځائې د بلې بی بی بدلولواراده

---

[1] من حديث ابن عباس ﷺ أخرجه الدارقطني والبيهقي في سننهما (نصب الراية ۳۴۷\۳)۔

لري.حالانكه تاسويې ته ډير مهرورکړې وي.نوپه دې کښې ترې څه مه اخلئ.آيا تاسودا اخلئ په تهمت لګولو او ښكاره ګناه کولوسره،

الاقوال في تعريف القنطار ① (قِنْطَار) د غوئې د څرمن دډکوالي په برابرې سره زريا سپين زر دى.

②اوبعضو وئيلي دى.چه اويا زره ديناره،

③اوبعضووئيلي دى.چه يوزردوه سوه اوقيه،اويوه اوقيه څلويښت درهم وى.

④اوزمخشري وئيلي دى.چه (قِنْطَار) ډيرمال ته وائي.بهرحال په دې آيت کښې دښځې نه د څه څيز د اخستلوکراهت ښکاره موجود دې.نوځکه دښځې نه عوض اخستل مکروه اوګرځولې شو.البته که خاوند واخستل، نو دكراهت باوجود جائزدى.ځكه چه په (فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ) کښې نهي لغيره ده.اودنهي لغيره د وجې مشروعيت ذاتي نه منتفي کيږي.لکه د جمعې په ورځ د اذان په وخت کښې خرڅول اخستل مشروع لذاته اوممنوع لغيره دى.

②دويم دليل دا دې.چه دې کس د سابقه ښځې په ځائې بله ښځه راوستله.نواولنئ نې په ويره کښې واچوله. نوځکه اوس ددې نه د مال په اخستلوسره دا په زياتى وحشت کښې اچول نه دى پكار.

دناشزې ښځې نه د مهرنه د زياتې وصولئ کراهت

وَإِنْ كَانَ النُّشُوزُ مِنْ قِبَلِهَا اوکه نافرمانى د ښځې د طرفه وى كُرِهَ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَاهَا نو مونږ د خاوند دپاره مكروه ګنړو.چه د ښځې نه د هغې نه زيات واخلى.کوم نې چه دې له ورکړى دى)

تشريح مسئله دا ده.كه ښځه ناشزه وى.نود مهرد مقدارپورې اخستل دخاوند دپاره بغيركراهته جائزدى.

دليله دعدم كراهت دليل هغه آيت دې.کوم چه وړاندې تيرشو.يعنى (فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ) اودا آيت د خپل اطلاق په وجه قليل اوكثير مهر اوغيرمهرټولو ته شامل دى.

رواية الكراهة البته د مهرد مقدار نه زياتى اخستل ورله د مبسوط د روايت مطابق مكروه دى.

دليله دمهرپه مقدارباندې د زيادت دكراهت دليل دا دې.چه دثابت بن قيس بن شماس رضي الله عنه بى بى ته نبي ﷺ ارشاد فرمائيلي وو. (وأما الزيادة فلا) يعنى نبي ﷺ د زيادت نفى كړې ده.نوهركله چه اباحت منتفي شو.اوكراهت ثابت شو.دا حديث په تفصيل سره د باب په اول کښې ذكرشوې دې.

د مهرنه د زياتې وصولئ حکم

فَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ كه ده دا كار اوكړو اوكه (دمهر نه نې) زيات واخستل جَازَ فِي الْقَضَاءِ نو قضاءً جائز دى

تشريح مسئله دا ده.كه ښځه ناشزه اونافرمانه وى.اوپه دې صورت کښې ترې خاوند د مهرد مقدار نه زياتى حصه واخستله.نوقضاء جائزده.

دليله دليل دا دې.چه د (فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ)آيت متقتضى دوه څيزونه دى.

① شرعاً جواز② اباحت.يعنى،اوپه اباحت اوجوازکښې فرق دا دې.چه دااباحت ضد كراهت دې.اودجواز ضد حرمت دې.نوكوم څيزچه مباح وى.هغه به جائزخامخا وى.خود جائزدپاره مباح كيدل

ضروری نه دی.مثلا دجمعې په ورځ د اذان په وخت کښې خرځول اواخستل جائزدی.خومباح نه دی.بلکه مکروه دی.نومعلومه شوه.چه جواز اوکراهت دواړه جمع کیدې شي.

طريقة الاستدلال اوس به طريقه د استدلال دا وی.چه داباحت په حق کښې د معارض یعنی د نبی ﷺ ارشاد چه (دما الزيادة فلا) په وجه آيت معمول بها پاتې نشو.اوچونکه د جواز په حق کښې څه معارض نشته.نوځکه د جواز په حق کښې به په آيت باندې عمل باقي وی.ځکه چه د اباحت نفی د جوازد نفی سره مستلزمه نه ده. نو ثابته شوه.چه دمهرنه زياتی اخستل د خاوند دپاره جائز خو دی.خومباح نه بلکه مکروه دی.

د طلاق په عوض کښې مال اخستل

وَإِنْ طَلَّقَهَا عَلَى مَالٍ فَقَبِلَتْ اوکه دې ته خاوند په مال باندې طلاق ورکړو.بيادې قبول کړو وَقَعَ الطَّلَاقُ وَلَزِمَهَا الْمَالُ نو طلاق واقع شو.او په ښځه به مال لازم وی وَكَانَ الطَّلَاقُ بَائِنًا اودا به طلاق بائنه وی.

تشريح صورت د مسئلې دا دې.که خاوند ښځې ته په مال باندې طلاق ورکړلو.مثلاً دا ئې ورته اوونيل. (أنت طالق بألف درهم يا أنت طالق على ألف درهم) اوښځې دا قبول کړلو.نوطلاق به واقع شی. او دښځې په ذمه به دا لازم وی.

دلائله ① دليل دا دې.چه دا تصرف معاوضه دې.اوتصرف معاوضه موقوف وی په اهليت د متعاقدين اوپه صلاحيت دمحل باندې،اودا ټول موجود دی.دخاوند تصرف خوځکه ثابت دې.چه ده ته فی الحال دطلاق يا دمعلق طلاق ورکولو مستقل اختيارحاصل دې.اودلته ده طلاق د ښځې په قبلولوپورې معلق کړې دې.نوددې قبلول به شرط وی.اوکه قبول نې کړلو.نوطلاق به واقع وی.اوپه دې به مال لازم وی.کنی نه به وی لازم.اودښځې اهليت ځکه ثابت دې.چه دا په خپل ځان باندې د مال د لازمولومالکه ده.ځکه چه دې ته په خپل ځان باندې پوره پوره ولايت حاصل دې.اومحل ځکه صالح دې.چه ملك نکاح داسې خيزدې.چه ددې عوض اختستل جائزدی.اګرچه مال نه دې.لکه څنګه چه قصاص اګرچه مال نه دې.خوعوض اختستل ئې جائزدې.اود دواړو په مينځ کښې جامع د اهل التزام د طرفه د التزام وجود دې.

② دويم دليل دا دې.چه دا طلاق على مال معاوضةً مال بالنفس دې.يعنی ښځې دخپل ځان د خلاصی دپاره خاوند ته مال ورکول منظور کړلو.اوخاوند يوبدل يعنی دمال مالك شو.نوځکه ښځه د دويم بدل يعنی نفس مالکه کيږی.چه مساوات پيدا شي.اوښځه دخپل ځان مالکه په طلاق بائن سره ګرځی.په طلاق رجعی نه ګرځی. ځکه چه په طلاق رجعی کښې دخاوندحق نه ختميږی.نوثابته شوه.چه په طلاق على المال باندې طلاق بائن واقع کيږی

دمسلمان په حرام څيزباندې د خلع حکم

وَإِنْ بَطَلَ الْعِوَضُ فِي الْخُلْعِ مِثْلَ أَنْ يُخَالِعَ الْمَرْأَةَ الْمُسْلِمُ عَلَى خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ أَوْ مَيْتَةٍ اوکه په خلع کښې عوض باطل وی.لکه مسلمان په شراب، يا خنزير، يا مردارباندې خلع اوکړی فَلَا شَيْءَ عَلَى الزَّوْجِ د خاوند دپاره به هيڅ عوض نه وی وَالْفُرْقَةُ بَائِنَةٌ اودا فرقت به بائنه وی

تشریح> مسئله دا ده.چه که په خلع کښې عوض باطل وی.مثلاً مسلمان سړې خپلې ښځې سره په شرابو،یا خنزیریا مرداره باندې خلع اوکړی.نوخاوند دپاره په ښځه باندې څه څیزد خلع د بدل په طور واجب نه دی.اوپه ښځه به طلاق بائن واقع کیږی.

وَإِنْ بَطَلَ الْعِوَضُ فِي الطَّلَاقِ اوکه په طلاق کښې عوض باطل شو كَـانَ رَجْعِيًّا نو طلاق رجعی به وی

تشریح> اوکه مدخول بها ته ئې په عوض باندې طلاق ورکړلو.اودا طلاق دریم طلاق نه وی.اوپه دې صورت کښې عوض باطل وی.نوپه ښځه به طلاق رجعی واقع کیږی.اودخاوند په ښځه باندې څه نه واجبیږی.په دواړوصورتونوکښې طلاق واقع کیدل ددې وجې دی.چه دښځې طلاق دهغې په قبلولوپورې معلق کړې شوې دې.اوهغې قبول کړلو.نوطلاق واقع شو.

دلیله> ځکه چې دلته صریحی طلاق استعمال شوې دې که چرته د دې په بدله کښې مال وو نو طلاق بائنه به واقع شوې وو.خو عوض مال شو د دې وجې طلاق صریحی باقی پاتې شو.نو رجعی به واقع کیږی.

دمهرصالح د خلع صالح دې

وَمَا جَازَ أَنْ يَكُونَ مَهْرًا فِي النِّكَاحِ جَازَ أَنْ يَكُونَ بَدَلًا فِي الْخُلْعِ چه کوم څیز مهر کیدې شی.(هغه بالاجماع) د خلع عوض کیدې شی

تشریح> په دې عبارت کښې مصنف رحمه الله یوه ضابطه بیانوی.هغه ضابطه دا ده.چه کوم څیز په عقد نکاح کښې مهر جوړیدې شی.هغه په عقد خلع کښې بدل خلع جوړیدې شی.

دلیله> دلیل دا دې.چه دعقد نکاح په وخت کښې ملك بضع متقوم دې.اوپه حالت د خلع کښې غیرمتقوم دې.نوکوم څیزچه د بضع متقوم عوض جوړیدې شی.هغه د بضع غیر متقوم عوض خامخا جوړیدې شی.

البته ددې په عکس نشی کیدې.یعنی کوم څیزچه په خلع کښې بدل جوړیدې شی.دا ضروری نه ده.چه هغه دې په نکاح کښې مهرهم جوړ شی.ځکه چه بعضې څیزونه داسې دی.چه هغه بدل خلع جوړیدې شی خو مهر نشی جوړیدې.مثلاً د یودرهم نه واخله ترلسو پورې په خلع کښې بدل خلع جوړیدې شی.خو مهرنشی جوړیدې.دغه شان که اووانی.کوم بچې چه د چیلۍ په خیټه کښې دې.هغه بدل خلع دې.نودا صحیح ده.لیکن که دا اووانی.چه دا مهردې .. نو دا صحیح نه ده.

د(خالعنی علی ما فی یدی) خلع کول

فَإِنْ قَالَتْ نو که ښځې خپل خاوند ته اووئیل خَالِعْنِي عَلَى مَا فِي يَدِي ماته خلع راکړه.په هغه څیز،څه چه زما په لاس کښې دی فَخَالَعَهَا وَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهَا شَيْءٌ بیا خاوند ښځې ته خلع ورکړله.حالانکه د ښځې په لاس کښې هیڅ نه وو فَلَا شَيْءَ لَهُ عَلَيْهَا نو په ښځه به هیڅ څیز واجب نه وی

تشریح> صورت د مسئلې ښکاره دې.

دلیله> دلیل دا دې.چه د ښځې کلام چه (ما فی یدی) کښې لفظ د ،،ما،، عام دې.کوم چه مال اوغیرمال تولوته شامل دې.نوځکه داسې نه ده.چه ښځې دمال ذکرکړې وی.اوخاوند ته ئې دهوکه ورکړې وی. اوهرکله چه دهوکه ورکونکې نه ده.نود څه څیزضامنه به هم نه وی.

د (خالعني على ما في يدي من مال) حكم

وَإِنْ قَالَتْ او كه ښځې اوونيل خَالِعْنِي عَلَى مَا فِي يَدِي مِنْ مَالٍ ما ته خلع راكړه.په هغه مال باندې.كوم چه زما په لاس كښې دي فَخَالَعَهَا نو خاوند دې ته خلع وركړله فَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهَا شَيْءٌ حالانكه دښځې په لاس كښې هيڅ نه وو رَدَّتْ عَلَيْهِ مَهْرَهَا نو ښځه دې ده ته خپل مهر واپس كړي

تشريح> مسئله دا ده.چه ښځې خاوند ته اوونيل. (خالعني على ما في يدي من مال) نوخاوند ورسره په هغې باندې خلع اوكړله.بيا معلومه شوه.چه دهغې په لاس كښې څه هم نه وو.نوپه دې صورت كښې په ښځه باندې دمهرمقدارواپس كول واجب دي.

دليله> دليل دا دې.چه ښځې د مال ذكركړې دې.نوخاوند بغيرد عوض د ملك نكاح په زائله كولوباندې راضي نه دې.

صور العوض> اودعوض څلورصورتونه دي.① مسمى②دهغې قيمت، ③د بضع قيمت، ④د مهرهغه مقداركوم چه ښځې دخپل خاوند نه اخستې دې.اولني درې احتمالات خوباطل شو.ځكه چه مسمى يعنى (مافي يدي من مال) كښې اود مسمى قيمت په دواړو كښې هريومجهول دې.اوداسې هم ونيلې شي.چه مسمى مجهول ده.نوددې قيمت به په خامخا مجهول وي.اود بضع قيمت يعنى مهرمثل ددې وجې واجب نه دې. چه په حالت دخروج كښې د ملك بضع څه قيمت نه وي.نوهركله چه درې احتمالات باطل شول.نوڅلورم احتمال يعنى د مهرمقدار واجبول متعين شو.چه د خاوند ضرر لرې كړې شي.

د(خالعني على ما في يدي من دراهم يا من الدراهم) كښې دخلع حكم

وَلَوْقَالَتْ خَالِعْنِي عَلَى مَا فِي يَدِي مِنْ دَرَاهِمَ أَوْمِنْ الدَّرَاهِمَ اوكه ښځې اوونيل.ماته خلع راكړه.په هغه دراهمو چه زما په لاس كښې دي فَفَعَلَ نو خاوند داسې اوكړل فَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهَا شَيْءٌ .(خو) د ښځې په لاس كښې هيڅ نه وو فَعَلَيْهَا ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ نو په ښځه به درې درهمه واجب وي

تشريح> مسئله دا ده.چه ښځې خاوند ته اوونيل. (خالعني على ما في يدي من دراهم يا من الدراهم) اوخاوند هم دغه شان اوكړلو.بيا معلومه شوه.چه دښځې په لاس كښې څه نشته.نوپه دې صورت كښې په ښځه باندې درې درهم واجب دي.

دليله> دليل دا دې.چه ښځې د دراهم صيغه دجمع استعمال كړله.اواقل دجمع درې دي.اوپه (من دراهم) كښې من بيانيه دې.تبعيضيه نه دې.لكه څنګه چه په (فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ) كښې من دبيان دپاره دې.اود (من) په باره كښې بعضې حضراتويوه قاعده ذكركړې ده.هغه دا چه په كوم ځائې كښې د (من) د لفظ نه بغيركلام صحيح كيږي.نوپه هغه ځائې كښې به (من)د تبعيض دپاره وي.لكه (أخذت من الدراهم) اوپه هرهغه ځائې كښې چه د(من) نه بغيركلام صحيح نه وي.نوپه دغه ځائې كښې به لفظ د (من)د بيان دپاره وي.دتبعيض دپاره به نه وي.نوجمع په خپل حال باندې باقي پاتې شوه.اوچونكه اقل دجمع درې دي.نودرې دراهم به واجب وي.

د(طلقني ثلاثا بألف)حكم

وَإِنْ قَالَتْ طَلِّقْنِي ثَلَاثًا بِأَلْفٍ اوكه ښځې اوونيل.ماته درې طلاقه د يو زر په بدله كښې راكړه فَطَلَّقَهَا

وَاحِدَةٌ نو خاوند دي ته يو طلاق ورکړو فَعَلَيهَا ثُلُثُ الْأَلْفِ نو په ښځې به د يو زر دريمه واجب وي

تشريح> مسئله دا ده.که ښځې خاوندته اوونيل. (طلقني ثلاثاً بألف) اوخاوند ورته يوطلاق ورکړلو.نوپه ښځه باندې يوطلاق بائن واقع کيږي.اوپه ده باندې د زرو روپو دريمه حصه واجب ده.اوامام شافعي رحمه الله هم ددې قائل دي.

دليله> دليل دا دې.چه هرکله ښځې د يوزر روپوپه عوض د درې طلاقو مطالبه اوکړله.نودا داسې شوه.چه دې د زرو روپو په دريمه حصه د يوطلاق مطالبه اوکړله.اوددې دليل دا دې.چه کلمه د ،،با،، په عوض باندې داخليږي.نوځکه به (الف)يعنې زر روپۍ عوض وي.اودرې طلاقه به معوض وي.اوقاعده دا ده.چه عوض په معوض باندې تقسيميږي.نويو زر روپۍ به په درې طلاقو تقسيميږي.

وقوع الطلاق البائن> اوطلاق بائن به ځکه واقع کيږي.چه دا طلاق على مال دې.اوپه طلاق على مال باندې طلاق بائن واقع کيږي.نوځکه به طلاق بائن واقع کيږي.

د(طلقني على ألف) حکم

وَإِنْ قَالَتْ اوکه ښځې اوونيل طَلِّقْنِي ثَلَاثاً عَلَى أَلْفٍ ماته په يو زرباندې درې طلاقه راکړه فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةٌ نوخاوند دي ته يو طلاق ورکړو فَلَا شَيْءَ عَلَيهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ (١)نود ابوحنيفه رحمه الله په نيز به په ښځه باندې هيڅ واجب نه وي.

تشريح> صورت د مسئلې دا دې.چه ښځې خاوندته اوونيل. (طلقني ثلاثاً على ألف) اوخاوند ورته يوطلاق ورکړلو نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزيږې يوطلاق رجعي واقع کيږي.اوپه ښځه باندې څه نه واجبيږي.امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دي.

دليله> دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه په دې مقام کښې کلمه د ،على،، دشرط دپاره ده.ځکه چه کلمه د ،على،، موضوع ده داستعلاء دپاره،لکه (زيد على السطح) اوکه په استعلاء باندې ئې حمل کول متعذر شي.نودالزام په معنى به حمل کولې شي.لکه (عليه دين) اوکه د الزام معنى هم متعذره شي.نود شرط په معنى به حمل کولې شي.ځکه چه د شرط اوجزاء په مينځ کښې مناسبت دې.هغه داسې لکه څنګه چه دلازم او ملزوم په مينځ کښې لزوم وي.نودغه شان د شرط او جزاء په مينځ کښې هم لزوم دې.لکه چه حرف دعلى په شرط کښې حقيقت دې.

مسلک الصاحبين> صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه د يوزر روپو په دريمه حصه به يوطلاق بائن واقع کيږي.

دليله> دليل دا دې.چه طلاق على مال دښځې دطرفه عقد معاوضه ده.اوپه معاوضاتوکښې کلمه د (على) د (باء)په مرتبه کښې وي.يعنې په عقدمعاوضه کښې کوم حکم د باء دکلمه دې.هم هغه حکم د على دکلمه دې.نوچه (طلقني ثلاثاً بألف) په صورت کښې که خاوند يوطلاق واقع کړي.نو د زرو روپو په دريمه حصه يوطلاق بائن واقع کيږي.نودغه شان به د(طلقني ثلاثاً على ألف درهم)کښې ديوزر روپو په دريمه کښې يوطلاق بائن واقع کيږي.

---

(١) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٤\٧١) والكفاية (٤\٧٠) وردالمحتار(٢\٦١١) والهندية (١\٤٩٦) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٤٦)_

د مبارات حکم

وَالْمُبَارَاةُ كَالْخُلْعِ والخلع والمباراة يُسْقِطَانِ كُلَّ حَقٍّ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الزَّوْجَيْنِ عَلَى الْآخَرِ مِمَّا يَتَعَلَّقُ بِالنِّكَاحِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله (۱) چه د ښځې خاوند يو بل برى كول دخلع پشان دى.د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په هغه حقوق كښې كوم چه د نكاح متعلق دى.مبارات او خلع دواړه هريو داسې حق ساقطوى.چه د ښځې خاوند په يو بل باندې دى

تشريح> صورت دمسئلې دا دې.چه په ښځه خاوند كښې د يوبل لره برى كول دخلع پشان دى.يعنى په مبارات اوخلع كښې هريو داسې دى.چه ښځه اوخاوند هريودهغه حق نه برى كوى.كوم چه د نكاح سره متعلق وى.لكه مهراود تيرو شوو ورځو نفقه،البته په خلع اومبارات كښې د عدت نفقه اوسكنى نه ساقطيږى.خوكه ښځې د عدت په نفقه باندې خلع اوكړله.نونفقه به ساقطيږى.خوسكنى نه ساقطيږى. ځكه چه سكنى د شريعت حق دې.اودشريعت حق د چا په ساقط كولوسره نه ساقطيږى.دا ذكرشوې تفصيل داامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دې.

دليله> داامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه دخلع معنى جدا كيدل اوبيليدل دى.اوددې نه خلعة النعل ده.يعنى دپښو نه پڼې ويستل اوخلع العمل يعنى د كاركونكى د كار نه جدا كيدل،نومعلومه شوه.چه خلع هم د مبارات پشان مطلق ده.نوپه نكاح اوددې په احكامو اوحقوقو كښې به ددې دواړو په اطلاق باندې عمل كولې شى.يعنى د خلع په وجه به نكاح اودنكاح احكام اودنكاح حقوق ټول ساقطيږى.كه زوجينوبيان كړى وى اوكه نه وى.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَا تُسْقِطَانِ إِلَّا مَا سَمَّيَاهُ اوامام محمد فرمائى چې نه ساقطوى دواړه مگر هغه كوم چې مونږ بيان كړل

تشريح> **مسلک محمد**> اوامام محمد رحمه الله فرمائيلى دى.چه په خلع اومبارات كښې به هم هغه حقوق ساقطيږى.كوم چه زوجينو بيان كړى وى.اوچه كوم نې نه وى بيان كړې.هغه به نه ساقطيږى. اودامام ابويوسف رحمه الله قول په خلع كښې دامام محمد رحمه الله دقول پشان دې.اودمبارات په صورت كښې د امام ابوحنيفه رحمه الله د قول پشان دې.

دليله: دامام محمد رحمه الله دليل دا دې.چه په خلع اومبارات كښې هريوعقدمعاوضه دې.اوپه معاوضاتوكښې هم هغه څيزمعتبر وى.دكوم چه ذكرشوې وى.نوپه خلع اومبارات كښې به صرف هغه حقوق ساقط وى.دكوموچه زوجينوبيان كړې وى.اوچه دكوموذكرئې نه وى كړې.هغه به نه ساقطيږى.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ الْمُبَارَاةُ تُسْقِطُ وَالْخُلْعُ لَا تُسْقِطُ اوامام ابويوسف وائى چې مباراة د يو بل حقوق ساقطوى او خلع ئې نه ساقطوى

تشريح> نفس مسئله آسانه ده

دليل ابي يوسف> دامام ابويوسف رحمه الله دليل دا دې.چه مبارات دباب مفاعلت نه دې.ماخوذ د براءت نه دې.اومفاعلت د دواړوطرفونو نه د فعل تقاضا كوى.نومبارات به ددې خبرې تقاضا كوى.چه په زوجينوكښې هريودبل نه برى شى.

اولفظ د براءت مطلق دې.هرحق ته شامل دې.كه د نكاح وى اوكه دغيرنكاح وى.خومونږ داد نكاح

---

(۱) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٤\٧٦) ومنحة الخالق(٤\٨٨) والبحر الرائق (٤\٨٨) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٥٠)ـ

سره مقيد كړلو.او دليل ددې غرض دې.يعنې غرض اومقصد دهغه جګړې ختمول دى.كومه چه دنكاح په وجه پيدا شوې ده.نوځكه به براءت دهغه حقوقوسره متعلق وى.كوم چه په نكاح سره ثابتيږى.اوپاتې شوه خلع نودهغې غرض انخلاء يعنې بيليدل دى.اودا معنى حاصليږى د نكاح په ماتيدوباندې.نود نكاح داحكامونه سوا د نورو احكامود منقطع كيدو څه ضرورت پاتې نشو.

ثمرة الاختلاف> ددې اختلاف ثمره به په دې مثال كښې ښكاره كيږى.چه دښځې مهر يوزر روپۍ دى.اوبيا ښځې خپل خاوند سره په سل روپۍ باندې خلع اوكړله.نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزجائزدى.چه ښځه دخپل خاوندنه څه واخلى.ځكه چه خلع په وجه مهرساقط شو.اودصاحبينو رحمهما الله په نيزښځه دخپل خاوند نه د خلور سوه روپو رجوع كولې شى.چه د فرقت قبل الدخول په وجه ښځې ته نصف مهر ملاؤ شى.اوصرف دومره ساقط شى.كوم چه زوجينو بيان كړې وى.يعنى سل درهم،

اوكه ښځې په يوزر روپوباندې قبضه اوكړله.اوبيا دغه ښځې په سلو روپو باندې خلع اوكړله.نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزد خاوند دپاره د سلو روپو نه سوا بل څه نشته.اودصاحبينو رحمهما الله په نيزبه خاوند دښځې نه د دومره روپو رجوع كوى.چه هغه دمهرنيم مقدارته رسيږى.يعنى خلور سوه درهمه به د ښځې نه نور زياتى واخلى.د ثمره اختلاف نه پس دلائل اوګورئ.

بَابُ الظِّهَار

ترجمه> (دا) باب دظهار(په بيان كښې) دې.

تعريف الظهارلغة> ظهاردباب مفاعلت نه دې.لغوى معنى ئې د خاوند خپل ښځې ته (أنت على كظهرأمى) وئيل دى.

تعريف الظهارشرعاً> اوپه شريعت كښې ظهاروانى.دمنكوحه دهغه ښځې سره تشبيه وركول چه هغه په ده باندې هميشه دپاره حرامه وى.اود ظهارشرط دا دې.چه مظاهرعاقل،بالغ اومسلمان وى.اوچه ښځه په (نسائنا) كښې وى.يعنى چه منكوحه وى.اودظهار ركن د سړى خپلې ښځې ته (أنت على كظهرأمى) يا ددې قائم مقام څه لفظ وئيل دى.اوددې سبب نشوز دې.ځكه چه آيت د ظهار دخوله په باره كښې نازل شوې وو.په داسې حال كښې چه هغه ناشزه وه.اوددې حكم دا دې.چه وطى اودواعى دوطى حراموى سره د بقاء دنكاح نه،تردې چه كفاره ادا كړى.

المناسبة بين الظهار والخلع> په ظهاراوخلع كښې مناسبت دا دې.چه په دې دواړو كښې هريود نشوزاوسركشۍ په وجه كيږى. اوخلع ئې په ظهارباندې ځكه مقدم كړله.چه په خلع كښې تحريم زيات دې.ځكه چه د خلع په صورت كښې نكاح منقطع شى.اوتحريم ثابت شى.اود ظهارپه صورت كښې نكاح باقى وى.اوحرمت ثابت شى.

وقوعه في عهدالنبي> په عهد رسالت كښې اوس بن صامت رضي الله عنه خپلې ښځې ته د غصه په حالت كښې وئيلى وو.چه ته په ما باندې داسې ئې.لكه زما د مور شا چه په ما باندې حرامه ده.ددې نه پس دواړه پښيمانه شول.حضرت خوله د حال معلوموا وتحقيق كولودپاره په دربار رسالت كښې حاضره شوه.تردغه وخته پورې دظهارپه باره كښې څه حكم نه وو نازل شوې.نونبى ﷺ د قوم معمول قابل عمل اوګنړلو.اوورته ئې اوفرمائيل.اوس ستا اوستاد خاوندپه مينځ كښې د جمع كيدو څه صورت پاتې نشو.چه هغې دا واوريدله.چه ژړا ئې شروع كړله.اودخپل خاوند په سرئې ګلې شروع كړلې.اوورته ئې وئيل.يارسول الله ﷺ زما ځوانى دخاوند په كوركښې تيره شوه.اواوس چه بوډۍ شوم.نوده ظهاراوكړلو.اوچه جدا شوم.نوكورپه مې تباه شى.اوواړه واړه ماشومان به مې پريشان اوړى راوړى.ددې

نه پس نې آسمان طرف ته سرپورته کړلو.او وې وئيل.اې الله زما بې آسره هم ته وارث نې.زما فرياد واوره.په دغه وخت کښې د سورۀ مجادله اولنى آياتونه نازل شول.په کوموکښې چه ظهارته طلاق نه وو وئيلې شوې.اووئيلې شوې وو.چه دچا نه پيدا شوې نه وى.هغه څنګه مور جوړيدې شى.او دداسې لغوياتود بندولودپاره داحکم اوکړې شو.چه ترڅوپورې خاوند کفاره نه وى ادا کړې.ترهغه وخته پورې به ښځې ته نه نزدې کيږى.(بيان القرآن)

د (أنت على كظهر أمي) حكم

وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ لِامْرَأَتِهِ أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي او كله چه سړى خپلې ښځې ته (أنت على كظهر أمي) اووئيل فَقَدْ حُرِّمَتْ عَلَيْهِ نودا ښځه په ده باندې حرام شوه لَا يَحِلُّ لَهُ وَطْؤُهَا دده دپاره دې سره وطى کول حلال نه دى وَلَا مَسُّهَا وَلَا تَقْبِيلُهَا حَتَّى يُكَفِّرَ عَنْ ظِهَارِهِ او نه دا مس کول (لاس اوړل) او نه دده ښکلول حلال دى.ترڅو چه د خپل ظهار کفاره ورکړى

حل اللغة ﴿ ① **مس**:يو څيز ته لاس وراوړل ② **تقبيل**: ښکلول]

تشريح﴿ مسئله دا ده.که يوکس خپلې ښځې ته اووئيل. (أنت على كظهر أمي) نوپه ده باندې ښځه حرامه شوه. اوس نه دې ددې سره وطى کولې شى.اونه ورله مس کول او بوسه اخستل حلال دى.ترڅو چه خاوند دخپل ظهارکفاره ورکړى.

دليله﴿ دليل آيت [وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ] دې.يعنى چه کوم خلق دخپلو ښيانونو سره ظهاراوکړى. اوبيا دخپلوکړو تلافى کول غواړى.نوددوى په ذمه يوغلام يا وينځه آزادول دى.وړاندې ددې چه ښځه خاوند په خپل مينځ کښې يوځاى شى.په دې باندې تاسوته نصيحت کولې شى.اوالله تعالى ستاسويه ټولوعملونو پوره خبر دې.(حکيم الامت)

په دې آيت کښې تصريح کړې شوې ده.که دظهارنه پس د رجوع کولواراده لرى.نواول دې غلام آزاد کړى.يعنى کفاره دې ورکړى.نوبيا به جماع اودهغې متعلقات ورته حلال شى.

دکفاره نه وړاندې د وطى کولوحکم

فَإِنْ وَطِئَهَا قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ بيا که د کفاره ورکولو نه وړاندې ښځې سره وطى اوکړى اسْتَغْفَرَ اللَّهَ تَعَالَى نود الله تعالى نه استغفار اوکړى وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ غَيْرُ الْكَفَّارَةِ الْأُولَى او سوا د رومبې کفارې نه به په ده بل څه څيز واجب نه وى وَلَا يَعُودُ حَتَّى يُكَفِّرَ اود وطى اعاده به نه کوى.چه ترکومه پورې کفاره ورنکړى

حل اللغة ﴿ ① **يعاود**: بلديږى]

تشريح﴿ مسئله دا ده.که مظاهردکفاره ورکولونه وړاندې دښځې سره وطى اوکړله.نودا کس دې استغفاروائى.① اوپه ده باندې د اولنى کفاره نه سوا بله کفاره واجب نه ده.اواوس دې وطى نه کوى.ترڅو چه کفاره ورکړى.هم دا قول د جمهوروفقهاؤ اوامام مالك امام شافعى اوامام احمد ﷭ هم دې

دليله﴿ دليل دا روايت دې. (أن سلمة بن صخر البياضي قال لرسول الله ﷺ ظاهرت من إمرأتي ثم أبصرت خلخالها

لها في ليلة قمراء فواقعتها فقال رسول الله ﷺ إستغفر ربك ولا تعد حتى تكفر) (۱) يعنى سلمه بن صخربياضى رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړلو.چه ما دخپلې ښځې نه ظهار کړې وو.بيا مې د سپوږمۍ په شپه کښې په هغې باندې پانزيب اوليدلو.نودهغې سره مې جماع اوکړله.نو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل.دخپل رب نه بخښنه غواړه.اودا حرکت بيا مکوه.تردې چه کفاره ورکړې.

الاستدلال> ددې حديث نه معلومه شوه.چه نبی ﷺ د استغفار حکم ورکړلو.که داستغفار نه سوا بل څه حکم واجب وو.نبی ﷺ به ورته دهغې حکم خامخا کولو.دا حديث ابن عباس رضي الله عنهما په دې الفاظو سره بيان کړې دې. (أن رجلاً ظاهر من إمرأته فوقع عليها قبل أن يكفر فقال له رسول الله ﷺ ماحملك على هذا قال رأيت خلخالها في ضوء القمر رواه أصحاب السنن الأربعة) اودابن ماجه الفاظ دا دى. (فضحك رسول الله ﷺ وأمره أن لا يقربها حتى يكفر)

وَالْعَوْدُ الَّذِيْ يَجِبُ بِهِ الْكَفَّارَةُ او هغه رجوع چې په هغې باندې کفاره واجبيږى هُوَ أَنْ يَعْزِمَ عَلَى وَطْئِهَا هغه دا ده چې د دې د وطى کولو قصد اوکړى.

تشريح> په آيت کښې چې د کومې کفارې ذکر دې نو دا په هغه صورت کښې ده چې ظهار کونکې خپلې بی بی ته د واپس کيدو اراده لرى اوکه اراده نه لرى بلکه جدا والې غواړى نو بيا کفاره نشته.

دليله> د عدم وجوب کفارې دليل د الله تعالى قول دې «ثم يعودون لما قالوا» د دې آيت نه معلومه شوه چې د رجوع کولو په صورت کښې به کفاره لازم وى.

د (أنت على كبطن أمي يا كفخذها يا كفرجها) حكم

وَإِذَا قَالَ أَنْتِ عَلَيَّ كَبَطْنِ أُمِّي اوکه وې ونيل. ته په ما باندې زما د مور د خيټې پشان يې أَوْ كَفَخِذِهَا يا ددې د پنډۍ پشان يې أَوْ كَفَرْجِهَا يا ددې د شرمګاه پشان يې فَهُوَ مُظَاهِرٌ نودا به صرف ظهار کونکې وى

حل اللغة > ① **بطن:** خيټه ② **فخذ:** پتون،ورونږ]

تشريح> مسئله که خاوند خپلې ښځې ته اووئيل. (أنت على كظهر أمي يا كفخذ أمي يا كفرج أمي) په دې تولو صورتونوکښې دا کس ظهارکونکې دې.

دليله> دليل دا دې.چه ظهاروائى.دخپلې منکوحه دهغه چا سره تشبيه ورکول چه هميشه دپاره وړباندې حرامه وى.اودا معنى په هرهغه اندام کښې متحقق کيږى.کوم ته چه کتل حرام وى. او کومو اندامونوته چه کتل جائزوى.لکه لاس،پښې،ويښته،نوکونه،وغيره،دې سره تشبيه ورکولوسره ظهارنه کيږى.اوامام شافعى امام مالك اوامام احمد رحمهم الله فرمائيلى دى.که خاوند خپلې ښځې ته اووئيل. (أنت على كيد أمي يا كرجل أمي يا كعنق أمي)نودا کس ظهارکونکې دې.اوکه ددې د ويښتو،نوك سره يې تشبيه ورکړله.نوددې حضراتو په نيزدا هم ظهارنه دې.

محرمه سره د تشبيه ورکولوحکم

وَكَذٰلِكَ إِنْ شَبَّهَهَا بِمَنْ لَا يَحِلُّ لَهُ النَّظَرُ إِلَيْهَا عَلَى التَّأْبِيْدِ مِنْ مَحَارِمِهِ مِثْلُ أُخْتِهِ أَوْ عَمَّتِهِ أَوْ أُمِّهِ مِنْ

---

۵۵) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه ابوداود فى الطلاق باب ۷۱۲ رقم ۲۲۲۲ والترمذى فى الطلاق باب ۱۰ رقم ۱۱۹۹ والنسائى فى الطلاق باب الظهار رقم ۳۲۳٤ وابن ماجه فى الطلاق باب ۲۶ رقم ۲۰۶۵۵)۔

الرَّضَاعَةِ اوهم دغه شان (به ظهار وی) كه ښځي ته پخپلو محارموكښي داسي ښځي سره تشبيه وركړي. چه دي ته (په شهوت سره) كتل هميشه حرام وی. لكه خپله خور، يا خپله ترور، يا رضاعی مور

حل اللغة ﴿ ① **التابيد:** هميشه دپاره ② **محارم:** جمع د محرم هغه خوك چه نكاح ورسره نه كيږی]

تشريح ﴿ مسئله دا ده. كه خاوند دخپلي ښځي تشبيه په خپلو محرماتوكښي داسي ښځي سره وركړله. چه دده هغي ته په شهوت سره كتل هميشه دپاره حرام وی. لكه خور، ترور، وغيره، نودا كس به ظهاركونكي وی. دليل دا دي. چه دا ښځي دهميشه دپاره د محرميت د وجي د مور پشان دی.

د (رأسك على كظهر أمي إلخ) حكم

وَكَذَٰلِكَ إِنْ قَالَ رَأْسُكِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي اوهم دغه شان كه وي ونيل. چه ستا سر په ما باندي زما د مور د شا پشان دي أَوْ فَرْجُكِ أَوْ وَجْهُكِ أَوْ رَقَبَتُكِ أَوْ نِصْفُكِ أَوْ ثُلُثُكِ يا ستا شرمگاه يا ستا مخ يا ستا سټ يا ستا نصف (بدن) يا ستا دريمه حصه

حل اللغة ﴿ ① **فرج:** د ښځي شرمگاه ② **ظهر:** شا ③ **وجه:** مخ ④ **رقبة:** څټ]

تشريح ﴿ مسئله كه خاوند خپلي ښځي ته اوونيل. (رأسك على كظهر أمي يا فرجك على كظهر أمي يا وجهك على كظهر أمي يا رقبتك على كظهر أمي يا نصفك على كظهر أمي يا ثلثك على كظهر أمي) نو به دي ټولو صورتونوكښي ظهار ثابتيږی.

دليله ﴿ دليل دا دي. چه په دي اندامونوكښي په هريو اندام سره دټول بدن نه تعبيركولي شي. نو د ښځي ددي اندامونوسره تشبيه وركول داسي دی. لكه چه د ښځي سره تشبيه وركول، ددي وجي دا كس ظهاركونكي دی. اوحكم اول په جزء شائع كښي ثابتيږی. اوبيا ټول بدن ته سرايت كوی. نودغه شان به دلته هم حكم اولاً وبالذات د ښځي نصف يا ثلث كښي ثابتيږی. اوبيا به ټول بدن ته سرايت كوی.

ښځي ته د (أنت على مثل أمي يا كأمي) ونيل

وَإِنْ قَالَ أَنْتِ عَلَيَّ مِثْلُ أُمِّي اوكه خاوند اوونيل. چه ته په ما باندي د زما د مور مثل ئي يا زما د مور پشان ئي. يُرْجَعُ إِلَىٰ نِيَّتِهِ نو دده نيت طرف ته به رجوع كولي شي. فَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ بِهِ الْكَرَامَةَ نوكه دا اوونيل. چه ما د كرامت اراده كړي ده فَهُوَ كَمَا قَالَ نودا داسي ده. لكه چه دا اوونيل

تشريح ﴿ صورت د مسئلي دا دي. كه يوكس خپلي ښځي ته اوونيل. چه (أنت على مثل أمي يا كأمي) نو د دي كس نه به دده د نيت تپوس اوكړي شي. كه دده نيت د ظهار وی. يعني چه څنگه نيت وی. هم هغه شان حكم به ثابت شي. هم دا قول دامام شافعي رحمه الله دي. اونيت ددي دپاره معلومولي شي. چه دا كلام دتشبيه د څو صورتونو احتمال لری. نود يو صورت متعين كولودپاره دنيت وجود ضروری دي. نوكه دي كس اوونيل. چه زما مراد خو دا وو. چه ته په عزت اواكرام كښي زما په نيز زما د مورپشان ئي. نودا به هم داسي وی. څنگه چه هغه ونيلي وی. يعني دده كلام به دده په نيت باندي حمل كولي شي. اوپه دي كس به څه واجب نه وی.

دليله ﴿ دليل دا دي. چه دتشبيه په ذريعه په كلام كښي تعظيم اوتكريم ډيرزيات مروج دي. لكه څنگه چه خلق يولوئي بزرگ اووينی. نوورته وائی. تاسو زما د پلار په مرتبه كښي ئي. ددي كلام نه ددي سړی مراد دا وی. چه زما په زړه كښي ستاسو مقام د پلارپشان دي. حاصل دا چه دي سړی په خپل كلام كښي د محتمل نيت كړي دي. ددي وجي به دده نيت صحيح وی.

وَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ الظِّهَارَ فَهُوَ ظِهَارٌ اوکه ده اووئیل.چه ما د ظهار اراده کړي ده.نودا ظهار دي

تشریح> اوکه ده اووئیل.چه ما په دې کلام سره د ظهار اراده کړې وه.نودده دا کلام به هم ظهاروی.

دلیله> دلیل دا دې. چه دې کس په خپل دې (أنت علی مثل أمی)سره دخپلې ښخې د خپلې ټولې مور سره تشبیه ورکړله. نو هرکله چه دمورد یواندام سره په تشبیه ورکولوباندې ظهارثابتیږی.د ټول بدن په تشبیه ورکولوسره خو به په خامخا ظهار ثابتیږی.اوچونکه په (أنت علی مثل أمی) کښې په اندام سره تشبیه ورکول موجود دی.خوصریح نه دی.نوځکه به نیت ته محتاج وی.

وَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ الطَّلَاقَ اوکه ده اووئیل.چه ما د طلاق اراده کړې ده فَهُوَ طَلَاقٌ بَائِنٌ نودا طلاق بائن دې

تشریح> اوکه خاوندااووئیل.چه ما په دې کلام سره د طلاق اراده کړې وه.نوطلاق بائن به واقع کیږی.

دلیله> دلیل دا دې. چه دا کلام یعنی (أنت علی مثل أمی)په حرمت کښې د مور سره تشبیه ورکول دی.لکه چه خاوند خپلې ښځې ته (أنت علی حرام) اووئیل.اودطلاق نیت ئې کړې وی.اوورانديې تیرشوی دی.چه (أنت علی حرام) د کنایه د الفاظوځنې دی.اوبه لفظ د کنایه سره طلاق بائن واقع کیږی.خوبه دې شرط چه نیت ئې کړې وی.ددې وجې به په دې صورت کښې که د طلاق نیت ئې کړې وی.نوطلاق بائن واقع کیږی.

وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ اوکه دده هیڅ نیت نه وی فَلَيْسَ بِشَيْءٍ نود ابوحنیفه او ابویوسف رحمهما الله په نیز دا کلام هیڅ نه دې

تشریح> **مسلک الشیخین>** اوکه دې کس د څه نیت نه وی کړې.نود شیخینو رحمهما الله په نیزدا کلام لغو دې.(۱) امام شافعی رحمه الله هم ددې قائل دې.

دلیلهما> دلیل دا دې.چه دا کلام مجمل دې.اومتکلم خپل مراد نه دې بیان کړې.نوځکه ددې مصداق نشی متعین کولې.ځکه که دا کلام د طلاق اوظهاراحتمال لری.نوبه دې کښې د کرامت احتمال هم موجود دې.(چه ته زما په نیزلکه د مور معززه ئې)

مسلک محمد> امام محمد رحمه الله فرمائیلی دی.چه د نیت د نشتوالی په صورت کښې به دا کلام ظهاروی.اوامام شافعی امام مالک اوامام احمد رحمهم الله ددې قائلین دی.

دلیله> دلیل دا دې.چه هرکله د مورد یواندام سره تشبیه ورکولوباندې ظهار ثابتیږی.نود ټول بدن په تشبیه ورکولوسره خوبه ظهاربه طریق اولی ثابتیږی.

ظهارصرف د ښځې نه کیږی

وَلَا يَكُونُ الظِّهَارُ إِلَّا مِنَ الزَّوْجَةِ،حَتَّى لَوْظَاهَرَمِنْ أَمَتِهِ چه ظهار (د هیڅ ښځې سره) نه کیږی.بغیر د بی بی نه.تردې که خپلې وینځې سره ئې ظهار اوکړو لَمْ يَكُنْ مُظَاهِرًا نو ظهارکونکې به نه وی

تشریح> امام محمد رحمه الله په جامع صغیرکښې فرمائیلی دی.چه ظهارصرف د ښځې نه کیږی. ددې نه

---

(۱) القول الراجح هو قول الشیخین رحمهما الله كذا في فتح القدير(٤\٩١) والخانية (٢\٢٦٤) والدرالمختار(٢\٦٢٦) والهندية (١\٥٠٧) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٥١)_

سوا د نوروښځونه نه کيږي.تردې که يوکس دخپلې وينځې نه ظهار اوکړلو. نودا کس ظهارکونکې نه دې.

دلائله ① دادې چه الله تعالى لفظ د (نسائهم) ذکرکړې دې.او(نسائهم)د خپلوښځودپاره استعمالیږی. د مملوکه وينځې دپاره نه استعماليږی.نوپه دې سره به ظهارهم صحيح نه وی. دلته دې دا خبره يادوی. چه د(نسا) تفسيرپه زوجاتواو بيبانوسره د آيت مقصدته د کتلوپه وجه کړې شوې دې.ګنی (نسا) د (امرأة) من غيرلفظه جمع ده.کوم چه خپلې ښځې اوپردئ ټولو ته شامل دې.(عينی شرح هدايه ②دوينځې حلت ددې د مملوکيت تابع دې.نودا به دمنکوحه سره نشی لاحق کولې. ③دريم دا چه ظهارپه زمانه دجاهليت کښې طلاق وو.نوبيا دا د ظهارموجوده حکم يعنی وختی تحريم بالکفاره طرف ته راواړولې شو.نوچاته چه طلاق ورکولې شی.دهغې نه ظهارهم کولې شی.اود مملوکه وينځې دپاره ظهارنشته.نوځکه ددې نه ظهارهم نشی کيدې.

بحث د (أنتن علی کظهرأمی) حکم

وَمَنْ قَالَ لِنِسَائِهِ أَنْتُنَّ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي اوکوم کس چه خپلوښځو ته اووئيل.تاسو په ما باندې زما د مور د خيتې پشان يئ.كَانَ مُظَاهِرًا مِنْ جَمَاعَتِهِنَّ جَمِيعًا نودا (سړې) به ددې ټولو سره ظهار کونکې شی

تشريح صورت د مسئلې دا دې.چه يوکس خپلوګڼروښځو ته اووئيل(أنتن علی کظهرأمی) نودا کس په اتفاق سره د ټولو نه ظهارکونکې دې.

دليله دليل دا دې.چه دې کس خپلوټولوښځوته ظهارمنسوب کړلو.نودټولونه به ظهار ثابتيږی.لکه څنګه چه ټولوښځو ته طلاق منسوب کړی.اواووائی. (أنتن طوالق) نوپه ټولوباندې طلاق واقع کيږی.

دظهارکفاره

وَكَفَّارَةُ الظِّهَارِ عِتْقُ رَقَبَةٍ او کفاره د ظهار د يو غلام آزادول دی فَإِنْ لَمْ يَجِدْ بيا که غلام بيا نه مومی فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ نو دوه مياشتې دې پرله پسې روژې اونيسی فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ بيا که دا طاقت نه وی فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا نو شپيتو مسکينانو ته دې خوراك ورکړی

حل اللغة ① **متتابعين**: پرله پسې]

تشريح ابو الحسين قدوری رحمه الله د ظهاردکفاره ترتيب بيانوی.اوفرمائی.چه يوغلام دې آزاد کړی.که ددې قدرت نې نه وی.نوشپيته روژې دې اونيسی.اوکه ددې قدرت نې هم نه وی.نوشپيتو مسکينانوته دې خوراك ورکړی.

دليله دليل قرآنی نص دې.[وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ] ترجمه ديوغلام يا وينځې آزادول دی. وړاندې د دې نه چه دواړه (ښځه خاوند) يوبل سره ملاو شی.په دې باندې تاسوته نصيحت کولې شی.الله تعالى ته ستاسود ټولواعمالوپوره خبردې.نوبيا چه څوك (غلام يا وينځه) نه مومی.نودده په ذمه پرله پسې (لګاتار) دوه مياشتې روژې نيول دی.وړاندې د دې نه چه دواړه ښځه او خاوند خپلو کښې ملاو شی.نود چا نه چه دا هم نه کيږی.نودده په ذمه شپيتو مسکينانوته خوراك ورکول دی.دا حکم ددې

دپاره (بیان کړې شو)چه په الله اودهغه په رسول باندې ایمان راوړئ.(مرشدتهانوی) دا نص مفید د ترتیب دې.ځکه چه الله تعالی د فاء دکلمې سره بیان کړې دې.اوفاء د ترتیب دپاره راځی.دتخییردپاره نه راځی.

دظهارد کفاره ادا کولو وخت

وَكُلُّ ذٰلِكَ قَبْلَ الْمَسِيْسِ او هریو امر ددې سره د وطی کولو نه وړاندې دې

حل اللغة ← ① **مسیس:** مس کول،ګوتې وراوړل]

تشریح ← فرمائی.چه دظهار کفاره ادا کول که په اعتاق وی.اوکه په صیام وی.اوکه په اطعام وی.هریو د وطی ادا کولونه وړاندې ادا کول ضروری دی.

دلیله ← ځکه چه په اعتاق او صیام کښې خوصراحةً نص (مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا) موجوددې.اوپاتې شو اطعام نوددې هم قبل الوطی کیدل ضروری دی.ځکه چه کفاره ظهارحرمت ختمونکې ده.نوځکه ضروری ده.چه کفاره په وطی باندې مقدم وی.چه وطی حلاله شی.

د غلام آزادولو تفصیل

وَيُجْزِئُ فِي ذٰلِكَ عِتْقُ الرَّقَبَةِ الْمُسْلِمَةِ وَالْكَافِرَةِ وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثٰى وَالصَّغِيْرِ وَالْكَبِيْرِ او په آزادولو کښې کافی ده، د رقبه آزادول.(که) کافر وی.او که مسلمان وی.نر وی اوکه ماده وی.او نابالغ وی. اوکه بالغ

تشریح ← ابو الحسین قدوری رحمه الله فرمائی.چه په کفاره ظهارکښې مطلقاً رقبه آزادول کافی دی.که کافروی اوکه مسلمان،که نروی اوکه ښځه که نابالغ وی اوکه بالغ.([1])

دلیله ← دلیل دادې.چه د رقبه اطلاق په دې ټولوباندې کیږی.په څه صفت باندې مقید نه دې.ځکه چه رقبه وائی.هغه ذات ته چه مملوك وی.اومن کل وجه مرقوق وی

هغه غلام چه آزادول ئې کافی نه وی

وَلَا يُجْزِئُ الْعَمْيَاءُ او(داسې رقبه آزادول) کافی نه دی.چه ړوند وی وَلَا مَقْطُوْعَةُ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ یا دده دواړه لاسونه یا دواړه خپې کټ شوی وی

حل اللغة ← ① **العمیاء:** ړنده

تشریح ← په کفاره د ظهارکښې نابینا یا وینځه آزادول جائز نه دی.اونه دهغه آزادول صحیح دی.چه دواړه لاسونه ئې کټ شوی وی.یا ئې دواړه پښې کټ شوی وی.

صاحب دعنایه رحمه الله یوه ضابطه بیان کړې ده.هغه دا که یوکس داسې رقبه آزاده کړی.چه کامل الرق وی.اود آزادونکی په ملك کښې وی.اودا آزادول د کفاره د نیت سره متصل وی.اوددې جنس منفعت چه په هغې باندې هغه قائمه وی.هغه باقی وی.اودا آزادول بغیربدله وی.نودا آزادول جائزدی.نوکه داسې نه وی.نو ناجائز ده.نود مدبر آزادول جائز نه دې،ځکه چه دې کامل الرق نه دې.

اوکه د کفاره د نیت نه بغیرئې آزاد کړی.یا روستو نیت اوکړی.نوپه دې صورت کښې هم جائز نه ده.اوکه داسې رقبه آزاده کړی.چه دشغې جنس منفعت فوت شوې وی.مثلاً دده دواړه لاسونه یا دواړه پښې کټ شوی وی.یا نابینا وی.نو د داسې رقبه آزادول جائز نه دې.

---

[1] امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په کفاره کښې د رقبه کافره آزادول جائزنه دی.اوهم دا قول دامام مالك اوامام احمد رحمه الله دې.

وَيَجُوزُ الْأَصَمُّ او کوڼ غلام آزادول جائز دی

حل اللغة ① **الاصم**: کوڼ [

تشریح دکوڼ غلام او وینځې په باره کښې علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې فرمائی.چه د قیاس تقاضا خوداده.چه ددې آزادول جائزنشی.اوهم دا نادر روایت دې.ځکه چه د کوڼ ته هم جنس منفعت فوت شوې دې.خواستحساناً د دې آزادول جائز ګرځولې شوی دی.ځکه چه اصل منفعت باقی دې.ځکه که چغه ورته اووهلی شی.نوهغه اوریدې شی.اوکه په داسې حالت کښې وی.چه بیخی اوریدل نشی کولې.نودې پیدائش کوڼ دې.اوګونګا هم دې.نود داسې غلام آزادول کافی نه دی.
پاتې شوه دا خبره چه جنس منفعت فوت شی.نوپه کفاره کښې ددې آزادول ولې مانع دی.نوددې دلیل دا دې.چه د جنس منفعت فوت کیدو په وجه دا کس دهلاك شوی په مرتبه کښې شو.ځکه چه دانسان قیام دده د منافعو سره وابسته وی.

وَمَقْطُوعُ إِحْدَى الْيَدَيْنِ وَإِحْدَى الرِّجْلَيْنِ مِنْ خِلَافٍ اوهغه غلام چې یولاس ئې کرې وی یا یوه پښه ئې کټ شوې وې ادل بدل

تشریح نفس مسئله آسانه ده.

دلیله ځکه چې دده په منفعت کښې خلل نشته.ځکه چه جنس منفعت زائل نشو.بلکه مختل شوې دې.په خلاف ددې چه کله یو لاس او یوه خپه دواړه د یوطرف نه کټ شوی وی.نو(دا) جائز نه دی.ځکه چه د تللو جنس منفعت فوت شوې دې.ځکه چه په دې باندې تلل متعذردی

دمقطوع الابهامین حکم

وَلَا يَجُوزُ مَقْطُوعُ إِبْهَامَيِ الْيَدَيْنِ او جائز نه دی.(آزادول د هغه کس) چه د دواړه لاسونو دواړه متې ګوتې ئې کټ وی

حل اللغة ① **ابهامي**: تثنیه د **ابهام**: قته ګوته

تشریح مسئله،که دیوغلام د دواړو لاسونودواړه متې ګوتې کټ شوې وی.نوپه کفاره دظهارکښې ددې آزادول جائز نه دی.

دلیله دلیل دا دې.چه ددواړو لاسونودواړه متپه ګوتې کټ کیدو سره دده د نیولوطاقت زائله شو.نود نیولود طاقت ختمیدو په وجه جنس منفعت فوت شو.اووړاندې تیرشوی دی.چه د جنس منفعت فوت کیدل د کفاره دپاره مانع دې.ددې وجې ددې غلام یا وینځې آزادول جائز نه دی.

وَلَا يَجُوزُ الْمَجْنُونُ الَّذِي لَا يَعْقِلُ او دغه شان داسې مجنون رقبه (آزادول) جائز نه‌دی.چه دده عقل نه وی

تشریح اود لیونی غلام یا وینځې آزادول چه عقل په کښې نه وی جائز نه دی.

دلیله دلیل دا دې.چه داندامونونه نفع اخستل د عقل نه بغیرنه کیږی.نودا هم فائت المنفعت شو.

وَلَا يُجْزِءُ عِتْقُ الْمُدَبَّرِ وَأُمِّ الْوَلَدِ او مدبر او ام ولد آزادول کافی نه دی

تشریح اودمدبراوام ولده په کفاره کښې آزادول کافی نه دی.

دلیله دلیل دا دې.چه په قرآن کریم کښې تحریررقبة دی.اورقبه مطلق دې.اومطلق چه کله ذکرشی.نودهغې نه فرد کامل مراد وی.اومدبراوام ولد رقبه کامله نه ده.نوځکه مدبر د تدبیر په وجه مستحق د حریت دې.اوام ولد داستیلاد په وجه د آزادئ مستحق ده.نومعلومه شوه.چه په دې

دواړوکښې د رقیت معنی ناقص ده.

په کفاره ظهارکښې د مکاتب آزادولو حکم

وَالْمُكَاتَبُ الَّذِي أَدَّى بَعْضَ الْمَالِ او هغه مکاتب چه ده څه مال ادا کړې وی

تشریح مصنف رحمه الله فرمائی.چه هغه مکاتب چه د کتابت څه بدل ئې ادا کړې وی.په کفاره دظهارکښې دهغه آزادول هم کافی نه دی.

دلیله دلیل دا دې.چه دده آزادول په عوض دی.اوعوض دقربت او عبادت معنی باطلوی.① هم دا ظاهرروایت دې.اوامام زفر،شافعی مالك او په یوروایت کښې امام احمد رحمه الله هم ددې قائلین دی

دبدل کتابت نه ادا کونکی مکاتب آزادولوحکم

فَإِنْ أَعْتَقَ مُكَاتَبًا لَمْ يُؤَدِّ شَيْئًا اوکه داسې مکاتب ئې آزاد کړو.چه ده هیڅ مال کتابت ادا کړې نه وو جَازَ نوجائز دې

تشریح مسئله دا ده.که په کفاره د ظهارکښې مظاهرداسې مکاتب آزاد کړلو.چه هغه تراوسه پورې په بدل کتابت کښې څه ادا کړی نه دی.نو دا جائز دی.اودغه شان دامام محمد رحمه الله نه هم دا یوروایت دې ([1])

دلیله دلیل دا دې.چه مکاتب من کل وجه رقیق اوغلام دې.مونږ وړاندې بیان کړی دی.چه کتابت د فسخ احتمال لری.اومکاتب ددې وجې هم رقیق دې.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی. (المكاتب عبد ما بقى عليه درهم)بهرحال مکاتب من کل وجه رقیق دې.نوپه کفاره دظهارکښې به دده آزادول هم صحیح وی.ددې په خلاف که مکاتب په بدل کتابت کښې څه هم ادا کړل.نوپه ده سره د آزادیدو نه وړاندې کفاره نه ادا کیږی.ځکه چه کفاره عبادت دې.اوعبادت خالص دالله تعالی دپاره وی.اوهرکله چه مکاتب په بدل کتابت کښې څه ادا کړل.نودا عبادت خالص دالله تعالی دپاره پاتې نشو.نوځکه د داسې مکاتب آزادول په کفاره د ظهارکښې نه کافی کیږی.

پلار یا ځوئې په اخستلو کښې دکفاره ظهارادا کولونیت کول

فَإِنِ اشْتَرَى أَبَاهُ أَوِ ابْنَهُ يَنْوِي بِالشِّرَاءِ الْكَفَّارَةَ اوکه خپل پلار یا ځوئې ئې واخستلو.په داسې حال کښې چه په اخستلو سره ئې دکفاره نیت کړې دې جَازَ عَنْهَا نودا کفارې د ظهار (طرف) نه جائز دې

تشریح مسئله دا ده.که په یوکس باندې کفاره ظهاروی.اوده خپل پلاریا ځوئې واخستل. اودهغوی د آزادولو په وخت کښې د کفاره نیت اوکړی.نوکفاره ادا کیږی. ([2])

دمالدارېږی نصف مشترك غلام آزادول

وَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدٍ مُشْتَرَكٍ عَنِ الْكَفَّارَةِ نوکه د مشترك غلام نیم آزاد کړو د کفاره نه حالانکه دا

[1] امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه د داسې مکاتب په کفاره ظهار کښې ادا کول کافی نه دی. اوهم دا قول دامام زفرامام مالك دې.اودامام احمد رحمه الله نه هم یو روایت دا دې.

[2] **مسلك الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه کفاره ظهارنه ادا کیږی.هم دا قول دامام شافعی، امام مالك امام احمد اودامام زفر رحمه الله هم دې.اوکه په کفاره د یمین کښې دا خبره راشی. نوپه هغې کښې هم دا اختلاف دې.کوم چه به انشاء الله په کتاب الایمان کښې بیانوو.

کس مالدار دی وَضَمِنَ قِيمَةَ بَاقِيهِ اود باقي غلام د قيمت ضامن شو فَأَعتَقَه نو هغه آزاد کړو لَمْ يَجُزْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله (١) نود ابوحنيفه رحمه الله په نيز جائز نه دی

تشريح> صورت د مسئلې دا دې چه په کوم سړی باندې کفاره ظهار واجب وه.اوده په کفاره کښې داسې غلام نصف آزاد کړلو.کوم چه دده او دده د ملګری په مينځ کښې مشترك وو.حالانکه دا آزادونکې مالدار وی.اودې دخپل شريك دپاره د باقي غلام د قيمت ضامن شو.نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به دې سره کفاره ظهارنه ادا کيږی.

دليله> اود امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې. چه دده د شريك حصه دده په ملك باندې ناقص پاتې شوه بيا راتاو شو.د ضمانت په ذريعه د آزادونکی په ملك کښې راغې او داسې کيدل د کفارهٔ ظهار نمانع دی.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ اود صاحبينو رحمهما الله په نيز جائز دی.يُجْزِيهِ إِنْ كَانَ الْمُعْتِقُ مُوسِرًا جائز کيږی خو په دې شرط چې آزادونکې مالدار وی وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا لَمْ يَجُزْ او که غريب وی نو جائز نه دی

تشريح> مسلك الصاحبين> دصاحبينو رحمهما الله په نيز ادا کيږی.او که آزادونکې غريب وو.نو په اتفاق سره کفاره نه ادا کيږی.

دليلهما> د دليل حاصل دا دې.چه دنيم غلام آزادولو نه چه دده خپل شريك ته دباقي نيم ضمان ورکړلو.نودې د هغه دحصة هم مالك شو.نوداکس په کفاره دظهار کښې د پوره غلام آزادونکې شو.په داسې حال کښې چه دې د ټول غلام مالك وو.اودټول غلام په آزادولو سره کفاره ادا کيږی.نو په دې صورت کښې هم کفاره ادا شوه.

دلته دا خبره ياد ساتئ چه د صاحبينو رحمهما الله په نيز اعتاق تجزی نه قبلوی. امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزاعتاق تجزی قبلوی.يعنی که غلام لږ لږ آزاد کړی.نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزچه څومره نې آزاد کړې وی.هم هغه هومره آزاديږی.خوصاحبينو رحمهما الله په نيز که دغلام نيمه حصه يا کم يا زيات آزاد کړی.نو ټول غلام آزاديږی. ځکه چه د دوی په نيزد بعضې حصې په آزادولو سره ټول غلام آزاديږی.

خپله نيمه حصه په کفاره کښې آزادول اوبيا نورآزادول

وَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدِهِ عَنْ كَفَّارَتِهِ اوکه خپل نيم غلام نې آزاد کړو.په خپله کفاره کښې ثُمَّ أَعْتَقَ بَاقِيهِ عَنْهَا جَازَ بيا نې باقي هم آزاد کړو.نوجائز دې

تشريح> مسئله دا ده.که يوکس خپل نيم غلام په کفاره کښې آزاد کړلو.اوبيا نې باقي نيم هم آزاد کړلو.نودا جائزدی.يعنی کفاره ادا کيږی.

دا جوازد استحسان دوجې دې.ګنی د قياس مطابق داامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدا نه جائز کيږی.لکه ځنګه چه په عبد مشترك کښې دعدم جواز حکم دې.ځکه چه په نصف آخر کښې نقصان راغلو.

وجه الاستحسان> وجه د استحسان دا ده.چه دې کس دوه خله کلام اوکړلو.اوغلام نې آزاد کړلو.اوکوم نقصان چه په نصف آخر کښې واقع شوې دې.نوهغه دده په ملك کښې د پاتې کيدو باوجود په کفاره کښې د ادا کولو په وجه راغلې دې.اوداسې قسم نقصان د کفاره ادا کولو دپاره مانع نه وی.لکه ځنګه چه يوکس د قربانۍ دپاره چيلۍ په زمکه پرخولې وی. او د چيلۍ په سترګه کښې چاړه لاړه شی.نودا

---

(١) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٤\١٠٠) والكفاية (٤\١٠١) والدرالمختار (٣\٦٢١) والبحرالرائق (٤\١٠٤) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٥٥)-

نقصان د قربانۍ نه مانع نه دي.

مسلک الصاحبین> صاحبینو رحمهما الله په نیز چونکه آزادول تجزی نه قبلوی.نوچه هرکله نیم غلام آزاد شو.هم په هغه وخت کښې پوره غلام آزاد شو.نودصاحبینو رحمهما الله په نیزدا غلام په دوه ځله کلام کولوسره آزاد شوې نه دي.بلکه په یوکلام سره آزاد شوې دي.

خپل نیم غلام آزادولو نه پس جماع کول اوبیا باقی غلام آزادول

وَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدِهِ عَنْ كَفَّارَتِهِ اوکه خپل نیم غلام ئې د خپلې کفارې نه آزادکړو ثُمَّ جَامَعَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنْهَا بیا دې ښځې سره جماع اوکړله.د کومې سره ئې چه ظهار کړې وو ثُمَّ أَعْتَقَ بَاقِيَهُ بیائې باقی غلام آزاد کړو لَمْ يَجُزْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله نود ابوحنیفه رحمه الله په نیز جائز نه دي

تشریح> که یوکس خپل نصف غلام په کفاره کښې آزاد کړلو.اوبیا ئې هغه ښځې سره جماع اوکړله.د کومې نه چه ئې ظهارکړې وو.اوبیا ئې باقی نصف آزاد کړلو.① نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزدا آزادول کافي نه دي.

دلیله> دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه ددوی په نیزآزادی تقسیم کیدې شي.نودنصف آزادول دټول آزادول نه دی.اود اعتاق شرط دا دې.چه دغلام آزادول دجماع نه مخکښې وی.ځکه چه د الله تعالی ارشاد دې. ﴿فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا﴾ اودلته نیم آزادول دجماع نه پس دی. ددې وجې آزادول د ټول غلام آزادی ده.(اودلته د ټول غلام آزادی موجود شوې نه ده نوجائزنه ده)

مسلک الصاحبین> دصاحبینو رحمهما الله په نیز جائزدی.ځکه چه غلام آزادی دجماع نه وړاندې موجود شوې ده.نوځکه جائزده.

په غلام آزادولوباندې دعدم قدرت په صورت کښې روژې نیول

فَإِنْ لَمْ يَجِدِ الْمُظَاهِرُ مَا يُعْتِقُ اوکه ظهارکونکی داسې څیز بیا نه مونده.چه آزاد ئې کړی فَكَفَّارَتُهُ صَوْمُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ لَيْسَ فِيهِمَا شَهْرُ رَمَضَانَ وَلَا يَوْمُ الْفِطْرِ وَلَا يَوْمُ النَّحْرِ وَلَا أَيَّامُ التَّشْرِيقِ نو ددې کفاره پرله پسې دوه میاشتې روژې دی.چه په دې کښې د رمضان میاشت نه وی.اود وړوکی اختر،او غټ اختر ورځ او تشریق نه وی

حل اللغة > ① **متتابعین:** پرله پسې

تشریح> مسئله که دظهارکونکی په غلام آزادولو قدرت نه وی.یا داچه غلام نه وی.یا دا چه غلام وی.خوده دآزادولو وس نه وی.نوپه داسې صورت کښې به دوه میاشتې پرله پسې روژې نیسي.خوپه دې شرط چه ددې دوو میاشتو په مینځ کښې د رمضان میاشت نه وی.اود وړوکی اختراود لوی اختر اودغه شان ددې (لوې اختر) نه پس درې ورځې دتشریق نه وی.دوه میاشتې روژې که د میاشت په حساب سره ئې نیسي. نوپه هرصورت کښې جائزدی.که میاشت د دیرشتو ورځو وی.اوکه د یوکم دیرشو.اوکه د میاشت د مینځ نه روژه نیول شروع کړی.نوشپیته روژې به پوره کوی.اوکه د ۵۹ روژو نیولونه پس ئې افطار اوکړلو. نوپه ده به د سرنه دوباره روژې نیول ضروری وی.

دلیله> تتابع یعنی پرله پسې روژې نیول خو ددې وجې ضروری دی.چه په قرآن پاک کښې ددې صراحت موجود دې.ارشاد دې.[فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا] اورمضان نه کیدل ددې وجې ضروری ده. که په رمضان کښې د ظهار روژې موجود شي. نودا غلط څیزبناظلوی.کوم چه الله تعالیٰ فرض کړې دي.ځکه چه په رمضان کښې کومه روژه هم اونیولې شي.هغه هم د رمضان نه شمارېږي.

بل واجب نه نه حسابیږي.
اودا خکه ضروري دی.چه دظهاررورژي په‌منهی عنها ورځوکښي نه وي.چه په دي پنځو ورځو کښي د روژي نیولو نه نبی ﷺ منع کړي ده.دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما حدیث دي. (أن رسول الله ﷺ قال ألا تصوموا هذه الأيام فإنها أيام أكل وشرب وبعال) یعني رسول الله ﷺ فرمائیلي دي.چه تاسوپه دي ورځوکښي کښي روژي مه نیسئ.خکه چه دا د خوراك څکاك او جماع ورځي دي. (طبراني ازعیني شرح هدایه) نوپه دي ورځوکښي د روژو نیول د ظهارنائب نه دي.کومي چه کامل واجب شوي دي.

د شپي یا د ورځي په جماع کولودتسلسل د ختمیدوحکم

فَإِنْ جَامَعَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنْهَا فِي خِلَالِ الشَّهْرَيْنِ لَيْلًا عَامِدًا أَوْنَهَارًا نَاسِيًا بیا که په دي دوه میاشتو کښي دننه ئي دي ښځي سره وطی اوکړله.د کومي سره ئي چه ظهار کړي وو.(که) په شپه کښي په قصد سره وي.اوکه د ورځي په هیره وي اِسْتَأْنَفَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ (١) نو د امام ابوحنیفه او امام محمد رحمهما الله په نیزیه دسره (دوباره)روژه نیسي

حل اللغة ﴿ ① **خلال**: په مینځ کښي ② **استانف**: د سرنه شروع کول]

تشریح﴿صورت د مسئلي دا دي.که د روژو په ذریعه کفاره ظهارادا کونکی که په دوومیاشتوکښي دننه د هغه ښځي سره وطی اوکړله.دکومي نه چه ئي ظهارکړي وي.برابره ده که دا وطی د شپي په قصد سره وي.اوکه د ورځي په هیره سره وي.① نودطرفینو رحمهما الله په نیزیه د سر نه روژي نیسي.امام مالك اوامام احمد رحمهما الله هم ددي قائلین دي.
متن کښي ئي جماع دهغه ښځي سره مقید کړي ده.دچانه چه ئي ظهارکړي وي.خکه که د بلي ښځي سره ئي جماع کړي وي.نوکه دا جماع ماتونکي د روژي وي.مثلاً د ورځي په قصد بانديِ وطی اوکړي.نود تتابع د منقطع کیدو به په اتفاق سره د سرنه روژي نیول واجب دي.اوکه مفسد د روژي نه وي.مثلاً دورځي په هیره سره جماع اوکړي.یا د شپي اتفاقاً وطی اوکړي.نوپه دي صورت کښي د تتابع د نه ماتیدو په وجه په اتفاق سره دسرنه شروع کول نشته.اودغه شان دکومي ښځي نه چه ئي ظهارکړي وي.که په ورځ کښي ئي په قصد سره جماع اوکړله.نوپه اتفاق سره دسرنه شروع کول لازم دي.نومعلومه شوه.چه اختلاف په هغه وطی کښي دي.چه مفسد د روژي نه وي.
مسلك ابي یوسف﴿ امام ابویوسف رحمه الله فرمائي.چه د سرنه د روژو نیولوضرورت نشته.امام شافعي رحمه الله هم ددي قائل دي.
دلیله﴿دلیل دا دي.چه د ورځي په هیره اوپه شپه کښي په قصد سره جماع کول مفسد د روژي نه دي.نودا جماع د روژو دتتابع نه مانع نه ده.نودظهار په روژو کښي چه کوم د پرله پسي والي شرط وو.هغه موجود شو.نوخکه په دي صورت کښي استیناف لازم نه دي.

وَإِنْ أَفْطَرَ مِنْهَا يَوْمًا بِعُذْرٍ أَوْبِغَيْرِ عُذْرٍ اِسْتَأْنَفَ اوکه ده په دي دوو میاشتوکښي یوه ورځ افطار اوکړلو، .که په عذرسره وي اوکه بغیرعذر نودسرنه به ئي روژي نیسي

تشریح﴿ اوکه ده په دي دوو میاشتوکښي د یوي روژي افطار اوکړلو.که په عذرسره وي.اوکه بغیرعذره وي.نودا کس به د سرنه دوباره روژي نیسي.

(١) القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في مجمع الأنهر(١\٤٦٠) والبحرالرائق (٤\١٠٦) وردالمحتار (٢\٦٣١) والهندية (١\٥١٢) نقلاً عن القول الراجح (١\٣٥٩)۔

دليله خکه چه تتابع اوپرله پسې والې فوت شو.حالانکه دا کس په پرله پسې روژې نيولواندي قادر دی.

ملحوظة ياد ساتئ:که دې کس پرله پسې دوه مياشتې روژې نيولې.اوبيا په آخري ورځ په غلام آزادولوقادر شو. نوکه د نمر پريوتو نه وړاندې وړاندې قادر شو.په ده دغلام آزادول واجب شو.اوروژې ئې نفل شوې.خکه چه دا کس په بدل باندې د مقصود ادا کولونه وړاندې په اصل باندې قادر شو.اوکه د نمر پريوتونه پس قادر شو.نوهم روژې به په کفاره کښې شمارلې شي.غلام آزادول به لازم نه وي.

دغلام په کفاره کښې صرف د روژو نيول

وَإِنْ ظَاهَرَ الْعَبْدُ اوکه غلام خپلې ښځې سره ظهار اوکړو لَمْ يُجْزِهِ فِي الْكَفَّارَةِ إِلَّا الصَّوْمُ نو(ده له) په کفاره کښې (هيڅ څيز) جائز نه دې.سوا د روژې نيولو نه

تشريح که غلام دخپلې ښځې نه ظهار اوکړلو.نوده ده کفاره به ضرف په روژو سره ادا کيږي.

دليله خکه چه دغلام په ملك کښې څه څيز نه وي.خکه دې په مال سره د کفارۀ ادا کولواهل نه دې.

وَإِنْ أَعْتَقَ الْمَوْلَى عنه أَوْأَطْعَمَ عَنْهُ اوکه د غلام د طرفه دده مولا رقبه آزاده کړله.يا ئې دده د طرفه خوراك ورکړو لَمْ يُجْزِهِ نو بيا هم کافي نه ده

تشريح اوکه دده مولى دده د طرفه غلام آزاد کړلو.يا ئې روټئ ورکړله.نوهم به کافي نه وي.

دليله خکه چه دا غلام دمالك کيدو اهل نه دې. نو دمالك په مالك جوړولوسره به مالك نه جوړيږي.

ملحوظة دا خبره دې ښکاره وي.که مولى خپل غلام د کفاراتود روژو نيولونه منع کوي. نودې ئې منع کولې شي. سوا د ظهارد کفاره نه خکه چه د ظهاردکفارې سره د ښځې حق متعلق دې.(فتح القدير)

د روژو نيولونه عاجزکيدل

وَإِن لَّمْ يَسْتَطِعِ الْمُظَاهِرُ الصِّيَامَ اوکه ظهارکونکی ته د روژې نيولو طاقت نه وی أَطْعَمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا نو شپيتو مسکينانو ته دې خوراك ورکړي

تشريح مسئله دا ده.که ظهارکونکي د روژې طاقت نه لرې.نوده ته پکار دی.چه شپيتو مسکينانوته روټئ ورکړي.

دليله دليل دالله تعالى قول دې.﴿فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا﴾

وَيُطْعِمُ كُلَّ مِسْكِينٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ أَوْ قِيمَةَ ذَٰلِكَ اوهر مسکين ته نيم صاع د غنمو يا يو صاع د کجورو يا اوربشويا ددې قيمت ورکړي

حل اللغة ① **نصف:** نيم ② **تمر:** قجوره ③ **بر:** غنم ④ **شعير:** اوربشې]

تشريح اود روټئ ورکولوصورت دا دې.چه هرمسکين ته دې نيم صاع غنم،يا اوړه يا ستوان يا يوصاع قجورې يا جوار،اويا ددې قيمت ورکړي.خودا يادلرئ.چه په قيمت کښې صرف هغه څيزونه ورکولې شي.کوم چه منصوص عليه نه وي. مثلاً يوکلو وريژې دنيم صاع غنمود قيمت سره برابردي.نودنيم صاع غنموپه قيمت کښې يوکلووريژې ورکولې شي.

اوپه کوموڅيزونوچه نص وارد شوې دې.دهغې قيمت ادا کول جائز نه دی.چه دهغې مقدار په قيمت کښې کم وي.اګرچه په مقدارکښې زيات يا دهغې برابر ولې نه وي.مثلاً يوکس نيم صاع ښه قجورې ورکړې.حالانکه دا قجورې د نصف صاع غنمود قيمت برابروي.يا زياتې وي.نوجائزنه دی.خکه چه نص په يوصاع غنمو باندې وارد شوې دې.

دغه شان که دنصف صاع غنمونه نې کم ورکړل.په داسې حال کښې چه یوصاع قجورې یا یوصاع جوارو ته رسیدې شی.نودا هم جائزنه ده.ځکه چه په نص کښې دنصف صاع غنمو صراحت موجود دې.نوضابطه دا شوه.چه د طعام یومنصوص علیه جنس دبل منصوص علیه جنس بدل واقع کیدې نشي.اګرچه په قیمت کښې زیات ولې نه وی. (الکفایه،عنایه)

دلائله ① خوله بنت ثعلبه ﷺ فرمائی.چه زه د اوس بن صامت په نکاح کښې ووم.اوهغه دخپل بوډاتوپ په وجه سخت مزاجه شوې وو.نوما هغه سره په داسې کارکښې بحث اوکړلو.دکوم چه هغه ماته حکم کړې وو.نوهغه ماته (أنت على كظهر أمي) اوونیل.اوبیا اووتل.په خپلوخپلوانوکښې کیناستلو.بیا واپس راغلو.ما سره کیناستلو.اوزما د راضی کولوکوشش ئې کولو.ما ورته اوونیل.زما دې په هغه ذات قسم وی.چه دخوله روح دچا په قبضه کښې دې.ماته ګوتې مه راوړه.اوچه څه په خوله راتله.هغه مې ورته اوونیل.تردې چه په دې باره کښې الله اودهغه پیغمبر ﷺ څه فیصله اوکړی.نوهغه په ما باندې راپریوتلو.نوما هغه داسې لرې کړلو.لکه څنګه چه بوډا سړې لرې کولې شی.اوزه اووتم خپلوګاوندیانوکره لاړم.اوبیا ماجامې واغوستې.رسول الله ﷺ ته ورغلم.اودا پوره واقعه مې ورته بیان کړه.نبی ﷺ راته اوفرمائیل.ستا خاوند دې.اوستاد تره خونې دې.غریب بوډا شوې دې.ته هغه سره ښه سلوک کوه.نوما دهغه د سخت مزاجۍ ګیله الله تعالی ته اوکړله.نوپه رسول الله ﷺ باندې هغه حالت شروع شو.کوم چه به په هغوی باندې د وحی په حالت کښې شروع کیدلو.(یعنی په نبی ﷺ باندې وحی شروع شوه) کله چه ترې دغه حالت ختم شو.نو وې فرمائیل.الله تعالی ستا اوستا د خاوند په باره کښې یوتفصیلی بیان راولیږلو.اوبیا نبی ﷺ دا آیاتونه بیان کړل. ﴿قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ﴾

بیا نبی ﷺ اوفرمائیل.هغه ته د یوې رقبه آزادولوحکم اوکړه.ماورته عرض اوکړلوهغه د دې طاقت نه لری.نوهغوی راته اوفرمائیل.چه ښه دوه میاشتې دې پرله پسې روژې اونیسی. ماورته عرض اوکړلو.چه هغه ددې طاقت هم نه لری.بیا نبی ﷺ اوفرمائیل.ښه هغه ته حکم اوکړله.چه شپیتو مسکینانوته روټۍ ورکړی.ما ورته عرض اوکړلو.یارسول الله ﷺ دهغه سره څه هم نشته.(چه دا ئې واورېدلو) نونبی ﷺ اوفرمائیل.زه به هغه سره د یو عرق مدد اوکړم. ماورته اوونیل.زه به ورسره هم د یوعرق مدد اوکړم.نبی ﷺ اوفرمائیل ورکړه ورته.اودهغې د خیرات کولوحکم ئې ورکړلو.(عنایه) (۱)

② دویم عقلی دلیل دا دې.چه معتبردهرمسکین د یوې ورځې حاجت پوره کول دی.نودا په مقدارکښې په صدقة الفطرباندې قیاس کولې شی.خود لږ فرق سره،هغه دا چه په ظهار کښې عدد اومقدار دواړه معتبردی.یعنی مسکین ته به دنصف صاع نه کم نشی ورکولې.اونه به ورته زیات ورکولې شی.ځکه چه دشپیتوعدد ضروری دې.اوپه صدقة الفطر کښې مقدارمعتبردې عدد نه دې.نویوفطرانه څومسکینانوته اوڅوفطرانه یومسکین ته ورکولې شی.

دوه وخته مسکینانوله روټۍ ورکول وسره دکفارې ادا کیدل

فَإِنْ غَدَّاهُمْ نوکه (ظهارکونکی) شپیتو مسکینانو ته په صباکښې خوراک ورکړو **وَعَشَّاهُمْ** بیا ئې

۵۷) قال الزيلعي رحمه الله هكذا وقع في الهداية وصوابه وسلمة بن صخر والحديث غريب وعندالطبراني في معجمه في حديث اوس بن الصامت ﷺ قال فاطعم ستين مسكيناً للاثين صاعاً قال لا املك ذلك إلا أن تعينني فاعانه النبي بخمسة عشرصاعا واعانه الناس حتى بلغ (نصب الراية ۳۵۸\۳)ـ

د مابنام خوراك ورکړو جَازَ قَلِيلًا كَانَ مَا أَكَلُوا أَوْ كَثِيرًا نو جائز دي.که دوی کم خوړلي وی.او که زيات ئي خوړلي وی

تشريح> مسئله دا ده.که ظهارکونکي شپېتومسکينانوته دوه وخته په مړه خيټه روټئ ورکړله.نوکفاره دظهاربه ادا شي.برابره ده.که هغوی کم خوراك کړي وی.اوکه زيات،اوکه دوه ورځې ئې يووخت شپيتومسکينانوته روټئ ورکړله.نوبه دي باندې کفاره نه ادا کيږی.ځکه چه معتبرد يوې ورځې ضرورت پوره کول دی.اودا د صبا اومابنام په روټئ ورکولوسره حاصليږی.

دامام ابوحنيفه رحمه الله نه دا هم نقل دی.که شپيتو مسکينانوته ئي د صبا روټئ ورکړله.اونوروشپيتو ته ئي مابنام روټئ ورکړله.نوبه دي باندې هم کفاره نه ادا کيږی. (۱)

يومسکين ته شپيته ورځې روټئ ورکول

وَإِنْ أَطْعَمَ مِسْكِينًا وَاحِدًا سِتِّينَ يَوْمًا اوکه ده يو مسکين ته شپيتو ورځو پورې خوراك ورکړو أَجْزَأَهُ نودا به کافي وی وَإِنْ أَعْطَاهُ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ لَمْ يُجْزِهِ إِلَّا عَنْ يَوْمِهِ اوکه ده په يوه ورځ کښې ورکړو.نو صرف د يوې ورځې (کفارې) دپاره به کافي وی

تشريح> صورت د مسئلې دا دې.که يومسکين ته ئې شپيته ورځې روټئ ورکړله.نوکفاره ادا کيږی.اوکه په يوه ورځ ئې ورکړله.نوصرف ديوې ورځې دپاره کافي کيږی.

دليله> دکفارې نه مقصود دحاجت لرې کول دی.اوحاجت هره ورځ نوې پيدا کيږی.نوبه بله ورځ هم دغه مسکين ته ورکول داسې شو.لکه چه هم دويم مسکين ته ئي ورکړله.نوشپيته ورځې يومسکين ته خوراك ورکول د شپيتو مسکينانوپشان شوه.نوځکه په دې صورت کښې کفاره ادا کيږی.

په (هذاالإباحة) سره دمسئلې دويم صورت بيانوی.يعنی که يومسکين ته ئي په ورځ کښې په طريقه د اباحت شپيته ځل روټئ ورکړله.نودا په اتفاق سره جائز نه دی.ځکه چه واجب خوپه شپيتو مسکينانو په جدا جدا ورځ کښې خوراك کول دی.اوهغه موجود نشو.نه حقيقتاً اونه حکماً حقيقتاً خو ددې وجې موجود نشو.چه هغه يومسکين دې.اوحکماً ددې وجې چه يوسړی ته په يوه ورځ کښې شپيته ځله د روټئ حاجت نه وی.

وجه التمليك> اوپاتې شوه دا خبره چه يومسکين په يوه ورځ کښې شپيته ځله د کفارې د مقدارمالك جوړول نوبه دې باره کښې اختلاف دی.نوبعضې حضراتوفرمائيلی دی.چه دا صورت هم ناجائزدی.ځکه چه معتبرحاجت لرې کول دی.اودبعضو رائې ده.چه جائزدی.ځکه چه د يوځيزمالك جوړولو ضرورت په يوه ورځ کښې نوې نوې پيدا کيدې شي.

د روټئ ورکولوپه مينځ کښې ښځې سره جماع کول

وَإِنْ قَرُبَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنْهَا فِي خِلَالِ الْإِطْعَامِ اوکه د خوراك ورکولو په مينځ کښې ئې دې ښځې سره وطې اوکړله.دکوم سره ئي چه ظهار کړی وو لَمْ يَسْتَأْنِفْ نو استيناف به نه کوی

تشريح> مسئله دا ده.که ظهارکونکی کس د روټئ ورکولوپه مينځ کښې دهغه ښځې سره جماع اوکړله.

---

[1] **مسلك الشافعي**:- امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه په کفاره کښې دصبا اومابنام روټئ ورکول کافي نه دی.بلکه مالك جوړول ضروری دی.يعنی چه دا ورته اووائي.چه دا روټئ ما ستا په ملکيت کښې کړه.خوښه دې ده.که خوړې ئې اوکه اوړې ئې.لکه څنګه چه په زکاة اوصدقة الفطرکښې دی.

د کومې نه چه ئې ظهار کړې وی.نود سرنه د روټۍ ورکولوضرورت نشته.

دليله> دليل دا دې.چه الله تعالى دا شرط بيان کړې دې.چه خوراك ورکول د وطى نه وړاندې وی.لکه څنګه چه په عتاق اوصوم کښې دا شرط بيان شوې دې.البته دومره خبره ده.چه دا کس به د روټۍ ورکولونه وړاندې د وطى کولونه منع کولې شي.څکه چه کيدې شي.دا کس د روټۍ ورکولوپوره کولونه وړاندې د غلام په آزادولويا په روژو نيولوقادر شي.نوپه داسې صورت کښې که ده د روټۍ ورکولوپه مينځ کښې وطى کړې وی.نود اعتاق اوصوم د وطى نه پس واقع کيدل راځي.حالانکه دا خبره په نص قرآنى سره ممنوع ده.ددې خيرهم په دې کښې دې.چه د خوراك ورکولونه وړاندې وطى نه کوی.

ددوو ظهارونه دوه غلامان بغيرد تعين نه آزادول

وَمَنْ وَجَبَتْ عَلَيْهِ كَفَّارَتَا ظِهَارٍ اوپه کوم کس چه د ظهار دوه کفارې واجب وی فَأَعْتَقَ رَقَبَتَيْنِ نوده دوه غلامان آزاد کړل لَا يَنْوِي لِإِحْدَاهُمَا بِعَيْنِهَا حالانکه په دې دواړو کښې ئې د يو متعين نيت نه دې کړې جَازَ عَنْهُمَا نودا د دواړو د طرفه جائز دې وَكَذَا إِذَا صَامَ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ اوهم دغه شان چه کله ئې څلور مياشتې روژې اونيولې أَوْ أَطْعَمَ مِائَةً وَعِشْرِينَ مِسْكِينًا جَازَ يا ئې شپږشلو مسکينانو ته خوراك ورکړو .نوجائز دې

تشريح> صورت د مسئلې اودليل ښکاره دې.

د دووکفارونه يوغلام آزادول

وَإِنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً وَاحِدَةً عنهما أَوْ صَامَ شَهْرَيْنِ اوکه ده د دوه ظهارونو دطرفه يوه رقبه آزادکړله.يا ئې دوه مياشتې روژې اونيولې كَانَ لَهُ أَنْ يَجْعَلَ ذَٰلِكَ عَنْ أَيِّهِمَا شَاءَ نوده ته اختيار دې.چه دا کفاره او ګرځوی.په دواړو(ظهارونو) کښې د کوم يو د طرفه چه غواړی

تشريح> په عبارت کښې دوه مسئلې زيربحث دی.يوه دا چه په يوکس باندې د ظهاردوه کفارۀ وې.اوده د دواړو دطرفه يوغلام آزاد کړلو.يا ئې دوه مياشتې پرلـه پسې روژې اونيولې.نودې کس تـه دا اختيارحاصل دې.چه په دې دواړوکفاروکښې چه دکومې نه غواړی.تعين دې اوکړی.

دويم جلد ختم شو

....